الفوائد

رسالت

د نفسونو تزکیه
د زړونو علم او د الله محبت

تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری

حفظه الله تعالی

٣

پښتو ترجمه

ابو سلمان حضرت محمد غفرله

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پېښور

Maktaba-Tul-Ishaat.com


Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

الفوائد

رساله

د نفسونو تزکیه
د زړونو علم او د الله محبت

تالیف

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری
حفظه الله تعالیٰ



پښتو ترجمه
ابو سلمان حضرت محمد غفرله

مکتبه محمدیه
بیرون کنج گیټ منګل مارکیټ پېښور

دَ تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی

عربی تالیف —— الفوائد : فی تزکیة النفوس وعلم القلوب والرغبة الی علام الغیوب

مؤلف —— الشیخ ابو محمد امین الله حفظه الله

پښتو ترجمه —— دَ نفسونو تزکیه، دَ زړونو علم او دَ الله دَ محبت په حقله فوائد

مترجم —— ابو سلمان حضرت محمد غفر له

فن —— تزکیة النفس

طباعت تاریخ —— ٤/ ذوالقعدة ١٤٣٦ هـ ٢٠١٥/٨/٢٢ء

ناشر —— مکتبه محمدیه

مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ منګل مارکیټ پیښور

زیر انتظام ولی الله : 0301 8828402

ارشد سلمان وہاب پرنٹرز لاہور

Maktaba Tul Ishaat.com



دَ نفسونو تزکیه ، دَ زړونو علم
او دَ اللّٰه د محبت په حقله فوائد

۱ ـ فائده : وعظونه

ابوهریره ﷺ فرمائی : ایمان یو پاکیزه شے دے۔ څوك چه زنا کوی نو ایمان ترے جدا کیږی، بیا چه خپل ځان ملامته کړی او رجوع وکړی نو ایمان ورته واپس شی۔
[ابن ابی شیبه : ۷]

ابن عمر ﷺ فرمائی : ایمان او حیاء دواړه لازم ملزوم دی، کله چه یو پورته کیږی، هغه بل هم پورته کیږی۔
[حواله سابقه ، او دا مرفوعًا هم روایت شوے، مشکاة : ۲]

ابن عمر ﷺ ته یو تن راغے، ویل دلته څهٔ خلك دی چه ما باندے د کفر ګواهی کوی، ورته ئے وفرمایل : تهٔ کلمهٔ توحید ووایه کنه چه هغویٔ دروغژن کړے۔ [ابن ابی شیبه : ۱۰]

حیا د ایمان نه ده او ایمان به په جنت کښے وی۔ او پوچ ګوئی د ظلم نه ده او ظلم به په جهنم کښے وی۔
[حواله سابقه : ۱٤ ، ورواه احمد : ۲/ ۵۰۱ ، وغیرهما ، حدیث صحیح]

حذیفه ﷛ فرمائي : زړونه څلور قسمه دي : (۱) آوریدلے زړهٔ، نو دا د منافق زړهٔ دے۔ (۲) بند زړهٔ : نو دا د کافر زړهٔ دے۔ (۳) خالي زړهٔ، چه په هغے کښے ډیوه بله وي، نو دا د مؤمن زړهٔ دے۔ (٤) هغه زړهٔ چه په هغے کښے ایمان او منافقت دواړه وي، نو ددے مثال لکه د هغه زخم دے چه په هغے کښے ډیره وینه زوه وي۔ دارنګ ددے مثال لکه د هغه وُنے دے چه هغے لره ګنده او پاکے اوبهٔ خړوبه کوي، نو په دے کښے چه هره یوه اوبهٔ زیاته شي نو هغه غالبه کیږي۔

[ابن ابی شیبه : ۱۷]

حذیفه ﷛ فرمائي : قسم په الله ! یو سړے د سبا په وخت ښهٔ لیدونکے وي بیا په داسے حال کښے بیګاه کړي چه د سترګے په کاکئ باندے نهٔ ګوري۔

[ابن ابی شیبه : ۱۹]

سلمان ﷛ یو سړي ته وویل : که ستا اندامونه ټوټے ټوټے شي نو ایمان ته به ونهٔ رسیږے۔

[حواله سابقه : ۲۲]

چالره چه خپله نیکي خوشحاله کړي او ګناه ئے خفه کړي نو دا مؤمن دے۔

[قالته عائشة رضی الله عنها ، وروی مرفوعًا]

مؤمن سړے ډیر ډیر آزمایلے کیږي او کافر ددے برعکس وي، د مؤمن مثال لکه کچه فصل دے۔ [حواله سابقه : ۲۹]

د مؤمن مثال لکه د شاتو مچئ دے چه صرف پاك شے خوري او پاك شے اچوي۔

[رواه ابن حبان : ۳۰ ، وابن ابی شیبة ، وهو فی الصحیحة : ۱/ ٦۲۲]

ایمان په ځان ښائسته کولو او آرزوګانو کولو نهٔ دے، ایمان خو داسے شے دے چه په زړهٔ کښے قرارے ومومي او عمل ئے رشتینے کړي۔

[قاله الحسن ، وروی عنه بإسناد فیه کلام ، المصدر نفسه : ۳۱ ، ۹۳ ، ابن ابی شیبة]

طلق بن حبیب ﷛ فرمائي : تقویٰ د الله نه د ثواب په امید او د الله له خوا په رڼړا باندے د الله په طاعت باندے د عمل کولو، او د الله له خوا په رڼړا سره د الله د خوف په وجه د الله نافرماني پریښودلو ته وائي۔

[ابن ابی شیبة : ۳۳]

عبد الله بن عمرو ﷛ فرمائي : په خلکو به داسے زمانه راشي چه دوئ به په جوماتونو کښے راجمع کیږي مونځ به کوي او په دوئ کښے به مؤمن نهٔ وي۔

[المصدر نفسه : ۳۳ ، ورواه الحاکم : ٤/ ٤٤۲]

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو درداء ﷺ به داسې دعا کوله :
[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَسْأَلُكَ إِيْمَانًا دَائِمًا وَّعِلْمًا نَّافِعًا وَهَدْيًا قَيِّمًا]
(اې الله ! زۀ تانه هميشه ايمان، نفعمن علم او سَم سيرت غوارم)۔
[ابن ابی شيبة : ۳۵]

عمر فاروق، معاذ او علقمه وغيره (رضی الله عنهم) به فرمايل : ايمان د الله په ذکر او حمد او ثناء سره زياتيږي۔ [المصدر نفسه : ۳٤]

د ايمان مضبوطه کړۍ داده چه د الله لپاره چاسره مينه ولرل شي او د الله لپاره چا سره بغض ولرل شي۔ [المصدر نفسه : ۳٦، مرفوع وهو موقوف]

حياء او بې خُلۀ کيدل دواړه د ايمان څانګې دی۔ [المصدر نفسه : ۲۹، ورواه الترمذی]

پاکی د ايمان برخه ده۔ [حواله سابقه : ٤١]

يو سړې هيڅ کله پوره مؤمن کيدې نشي تر څو چه په خوش طبعۍ کښې دروغ پرې نۀ دی، او تر څو چه جګړې پرې نۀ دی اګرکه دې په حقه وی۔
[أخرجه أبو عبيد : ٦٤، وأحمد : ۲/ ۳٥۲، ومکحول لم يسمع من أبی هريرة]

ابن مسعود ﷺ فرمائی : [أُغْدُ عَالِمًا أَوْ مُتَعَلِّمًا وَلَا تَغْدُ بَيْنَ ذٰلِكَ]
(ښودونکې جوړ شه يا زده کونکې او دريم کس مۀ جوړيږه)۔
[کتاب العلم لأبی خيثمة، ص : ۱۰۹]

عيسی عليه السلام فرمائی : څوك چه زده کړه کوی، عمل پرې کوی او بل ته ښودنه کوی نو دا کس د آسمانونو او زمکې په بادشاهۍ کښې لوئې سړې بلل کيږی۔
[کتاب العلم، ص : ۱۱۱]

ابن مسعود ﷺ فرمائی : څوك چه په هره مسئله کښې فتویٰ ورکوی، ليونې دې۔
[حواله سابقه]

او نبی کريم ﷺ فرمائی : [فَضْلُ الْعِلْمِ أَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ]
(زياتی علم ماته د زياتی عبادت نه خوښ دې، او ستاسو بهترين دين د حرامو نه ځان ساتل دی)۔ [رواه الحاکم والطبرانی وأبو خيثمة، ص : ۱۱۲]

حذيفه ﷺ فرمائی : د سړی لپاره دا علم کافی دې چه د الله نه يريږی او سړی لپاره دا دروغ هم بس دې چه [أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ إِلَيْهِ] وائی او دغه کار بيا هم کوی۔
[رواه أبو خيثمة، ص : ۱۱۲]

ابنِ مسعود رضي الله عنه فرمائی : کـه ستا وس رسی چه ته د الله له خوا مُلهَم (الهام کړے شوے انسان) جوړ شے نو دا کار وکړه۔ [رواه أبو خيثمة، ص : ١١٤]

څـه خـلـك بـه سلمان رضي الله عنه تـه راتـلـل او د هـغـهٔ خبرے بـه ئے آوریدے، نو هغهٔ به فرمایل : دا کار ستاسو لپاره بهتر او ما دپاره بدتر دے۔ [حوالۂ سابقه، ص: ١٢٤]

اعمش رحمه الله فرمائی : ما ابراهیم نخعیؒ هیڅ کله نهٔ دے لیدلے چه په خپله رائے سره ئے څهٔ ویلی وی۔ [حواله سابقه، ص : ١١٨]

ابرهیم نخعیؒ فرمائی : خلکو به دا کار بدګانړهٔ چه یو کس خپل ظاهری حالت د پټ حالت نه دیر ښهٔ راښکاره کړی۔

[حواله سابقه، ص : ١١٨، کلام نفيس جدًا]

مکحولؒ فرمائی : یو ځل ابو هریره رضي الله عنه تر صبا پورے حدیث بیان کړو۔

[حواله سابقه، : ١١٩]

او مکحولؒ فرمائی : که چرے د خلکو سره په ګډون کولو او هغوئ سره په ناسته کښے خیر نهٔ وی نو بیا تنهائی د بچ کیدو ښه ذریعه ده۔ [١١٩/٤]

مسروقؒ فرمائی : د یو سړی دا علم بس دے چه د الله نه یریږی، او د یو سړی دا ناپوهی بس دے چه خپل علم ته غاوره وی۔ [المصدر نفسه : ١٢٠]

او فرمائی : مونږ چه به د رسول الله ﷺ د صحابو نه څهٔ شے وپوښتلو نو د هغے علم به په قرآن کښے موجود وو، خو زمونږ علم به د هغے نه کوتاه وو۔ [١٢٠/٤]

د زیاد بن لبید رضي الله عنه په حدیث کښے راغلی: [نَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِأُهُ أَبْنَائَنَا]

(مونږ خپله قرآن وایو او خپلو بچو ته ئے هم ورزده کوو)۔

[حديث صحيح، وهو فى المشكاة : ١٢١]

حدیث کښے دی : [مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَيُلْهِمْهُ رُشْدَهُ]

(چاتـه چـه الله د خیر اراده وکړی نو په دین کښے ورله پوهه ورکړی او په زړهٔ کښے ورته هدایت واچوی)۔ [حديث صحيح رواه أبو خيثمة وغيره، ص : ١٢٢]

سلمان رضي الله عنه یو سړی ته حکم وکړو چه د دَجلے نهر نه ښنبل وکړی، بیا ئے ورته وفرمایل : څهٔ دے خیال دے چه څومره دے کم کړو؟ هغهٔ ویل : هیڅ شے نهٔ۔ وے فرمایل : دغسے د علم مثال دے، دا به اخلے او ددے نه هیڅ کمولے نشے، دے وجے نه هغه علم زده کوه چه هغه تاله نفع درکوی۔

[حواله سابقه : ١٢٣]

Maktaba Tul Ishaat.com

مسروقؒ فرمائي : زهٔ د رسول الله ﷺ صحابو - رضي الله عنهم - سره کيناستم نو هغوئ لکه د حوضونو غونته وو، يو حوض يو مسافر خړوبه کوي، بل حوض دوه مسافر خړوبه کوي، او دريم حوض لس مسافر خړوبه کوي، او څلورم حوض داسې دے که د ټولے زمکے والا پرے ډيره واچوي نو خامخا به ئے خړوبه کړي. او عبد الله بن مسعود د همدے حوض نه دے.

[حواله سابقه : ۱۲۳]

عبد الله بن مسعود فرمائي : که د عمر بن خطاب رضي الله عنه علم د تلے په يو چابړي کښے او د ټولے زمکے والا علم په بل چابړي کښے واچول شي نو د عمر بن خطاب رضي الله عنه علم به پرے درون شي.

[۱۲۳/٤]

او فرمائي : رضي الله عنه د علم په لسو برخو کښے نهه برخے علم څان سره يوړو.

ثابت بنانيؒ فرمائي : ماته دا خبره رارسيدلے چه عافيت لس برخے دے، نهه برخے په خاموشئ کښے دے او يوه برخه خلکو نه په تيښته کښے ده. او عبادت لس برخے دے. نهه برخے د کار روزګار په تالاش کښے دے او يوه برخه په عبادت کښے دے.

[تنبيه الغافلين : ۲/ ٤۹۲]

۲ - فائده

درے شيان خپلو کښے يو بل سره لازم دي او يود بل نه نهٔ جدا کيږي، که يو ختم شي، هغه بل هم ختميږي : (۱) عقل. (۲) حياء (۳) او دين. لکه په يو اثر کښے راغلي چه جبريل عليه السلام، آدم عليه السلام ته دا شيان راوړل او ورته ئے وفرمايل : دے کښے يو غوره کړه، نو هغهٔ عقل غوره کړو. نو حياء او دين ته وويل شو چه تاسو لاړ شئ. هغے دواړو وويل : مونږ به هغه ځائے کښے يو چرته چه عقل وي.

[روضة العقلاء]

۳ - فائده

يو سړي په تابعينوؒ کښے د يو سړي صفت وکړو، نو هغهٔ ورته وفرمايل : اے د الله بنده ! تهٔ زما صفت ولے کوے ؟ آيا تا په ما د غصے په وخت تجربه کړے چه زهٔ دے صبرناك موندلے يم؟ هغهٔ ويل : نه. ويل : په سفر کښے دے په ما تجربه کړے چه ښائسته اخلاقو والا دے موندلے يم ؟ ويل :

نه۔ ویل : د امانت په وخت دے په ما تجربه کړے چه امانتدار دے موندلے یم ؟ ویل : نه۔ ویل : په تا تعجب دے ! هیڅ لپاره مناسب نهٔ دی چه په دے درے حالتونو کښے د تجربه کولو نه بغیر د چا صفت وکړی۔

[تنبیه الغافلین : ۱/۲۲۳]

علامه سید سابقؒ او علامه غزالیؒ فرمائی : د عمر ﷺ خواته یو ګواه ګواهی وکړه۔ ورته ئے وفرمایل : ماته هغه څوك راوله چه تا پیژنم۔ نو هغه ګواه ورته یو سړے راواستهٔ او هغهٔ ددے ګواه ښهٔ صفت وکړو۔ عمر فاروق ﷺ ورته وفرمایل : تهٔ ددے سړی نزدے ګاونډی ئے چه ددهٔ وتل ننوتل پیژنے ؟ هغهٔ ویل : نه۔ ویلے : سفر کښے ورسره ملګرے شوے ئے چه ددے نه دے د هغهٔ ښائسته اخلاق معلوم کړی وی ؟ ویل : نه۔ ویلے : په روپئ او اشرفئ دے ددهٔ سره معامله کړے ده چه دے سره د سړی پرهیزګاری معلومیږی ؟ هغهٔ ویل : نه۔ عمر فاروق ﷺ ورته وفرمایل : زما په خیال تا دا په جومات کښے ولاړ لیدلے دے چه په خوند خوند قرآن لولی او کله سر ښکته کړی او کله پورته۔ هغهٔ ویلے: هو ! عمر ﷺ ورته وویل : څه تهٔ دا ګواه نهٔ پیژنے، هغه ګواه ته ئے وویل : ماته هغه څوك راوله چه تا پیژنی۔(ډیره عجیبه خبره ده)۔

[فقه السنة : ۲ ، احیاء العلوم : ۲/ ۷۹۹]

٤ – قیمتی فائده

د عقل په باره کښے

په انسان باندے د الله تعالیٰ ډیر لوئے احسان دے چه عقل ئے ورته ورکړے۔ چه په دے سره د څناورنه جدا دے۔ دے وجے نه مونږ ددے شرافت، اقسام او راښکونکی شیان او دا خبره ذکر کوو چه د تولو نه زیات عقلمند څوك دے ؟

نو عقل یو قدرمن نعمت دے چه په دے سره سعادت، ایمان، معرفت او ټول کمالات ملاویږی۔ څوك چه ددے نه خلاص شی نو هغه ښکته وغورزیدهٔ او ډیر رذیل انسان جوړ شهٔ۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ [أنفال: ۲۲]

(بیشکه په تولو ژنده سرو کښے د الله په نیز بدترین هغه خلك دی چه کاڼهٔ او چاړا ګان دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

د عقل نه کار نهٔ اخلي)۔

نـو څـوك چه د خپـل عقل نه فائده نهٔ اخلي نو دا په ټول مخلوق كښې بدترين ځناور دے۔ او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تُؤْمِنَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ وَيَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ [يونس: ۱۰۰] (او هيڅ يـو نفس لپاره دا نشي كيدے چه د الله د حكم نه بغير ايمان راوړى او الله پليتي په هغه خلكو اچوى چه د عقل نه كار نهٔ اخلي)۔

نو څوك چه د عقل نه كار نهٔ اخلي هغه د پليتئ، رذالت، كفر او رسوايئ ځايونه دى لكه ډيران د ګندګيو ځائے دے او په پاكه زمكه خلك جوماتونه جوړوى۔

په يو حديث كښې دى : [إِنَّ اللهَ يُحِبُّ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ - وَفِيْ رِوَايَةٍ : يُحِبُّ مَعَالِيَ الْأُمُوْرِ - وَيُبْغِضُ سَفْسَافَهَا] (الله تعالىٰ ښائسته اخلاق (او اوچت كارونه) خوښوى او پريوتى كارونه بدے ګڼرى)۔

[رواه فى الجامع وهو فى روضة العقلاء]

او همدے ته عقل وائي ځكه د عقل معنىٰ ده تړل او بندول، نو څوك چه خپل اخلاق ښهٔ كړى او خپل ځان د رزيلو كارونو نه وساتي نو دا عاقل دے۔

عـطاء بـن ابى رباحؒ نه پوښتنه و شوه : انسان ته كوم بهترين شے وركړے شوے؟ وے فرمايل : د الله عز وجل له خوا په خبره پو هيدل۔ [روضة العقلاء : ۱۸]

يو شاعر وائي :

وَأَفْضَلُ قَسْمِ اللهِ لِلْمَرْءِ عَقْلُهُ * فَلَيْسَ مِنَ الْخَيْرَاتِ شَيْءٌ يُقَارِبُه
إِذَا أَكْمَلَ الرَّحْمٰنُ لِلْمَرْءِ عَقْلَهُ * فَقَدْ كَمُلَتْ أَخْلَاقُهُ وَمَآرِبُهُ
يَعِيْشُ الْفَتٰى فِى النَّاسِ بِالْعَقْلِ إِنَّهُ * عَلَى الْعَقْلِ يَجْرِىْ عِلْمُهُ وَتَجَارِبُهُ
يُزِيْنُ الْفَتٰى فِى النَّاسِ جَوْدَةُ عَقْلِهِ * وَإِنْ كَانَ مَحْظُوْرًا عَلَيْهِ مَكَاسِبُهُ

(الله چه انسان له كومه برخه وركړے په هغے كښې بهترينه برخه د هغهٔ عقل دے، په نيكيو كښې هيڅ يو شے ديته نهٔ رسي۔ * كله چه رحمن ذات د انسان عقل پوره كړى نو ددهٔ اخلاق او مقصدونه پوره شول۔ * ځوان سړے په خلكو كښې په خپل عقل سره ژوند تيروى، په همدے عقل باندے ددهٔ علم او تجربے روانے وى۔ * د عقل كره والے ځوان سړى لره په خلكو كښې ښائسته كوى، اګركه كار كسب پرے بند شوے وى)۔

عبد الله بن المباركؒ نه چا پوښتنه وكړه : سړى ته چه څهٔ وركړے كيږى په هغے كښې بهترين شے كوم يو دے ؟ وے فرمايل : فطرى عقل۔ عرض وشو : كه چرے دا نهٔ وى ؟ وے فرمايل : بيا ښائسته ادب۔ عرض وشو : كه دا نهٔ وى ؟ وے فرمايل : داسے شفقت كونكے ورور ورله پكار دے

چه ښے مشورے ورکوی۔ عرض وشو : که دا هم نۀ وی ؟ وے فرمایل : نو بیا اوږده خاموشی۔ ویلے : که دا هم نۀ وي ؟ وے فرمایل : بیا ورله نغد مرگ پکار دے۔
[روضة العقلاء : ۱۷]

د آدم علیه السلام په قصه کښے راځی : په دۀ باندے دین، حیاء او عقل درے واړه نازل شول او دۀ ته وویل شول چه په دے کښے یو غوره کړه، نو هغۀ عقل غوره کړو، نو دین او حیاء ته وویل شول : تاسو دواړه پورته شئ، هغوئ ویلے : مونږ د عقل نه نشو جدا کیدے۔

نو عقل د حیاء او دین سره لازم دے او دا دواړه ددۀ سره لازم دی۔ دا وجه ده چه انبیاء کرام علیهم السلام په ټول عالَم کښے زیات عقلمن دی، بیا نیکان او متقین خلك۔ بلکه هر هغه څوك چه دین ته نزدے وی نو ددۀ عقل به د نورو په نسبت زیات قوی او کامل وی۔ او په ټولو خلکو کښے به تاته ناپوهه او په عقل نیمگړے هغه څوك ښکاره شی چه د دین نه لرے وی۔ داوجه ده، ښځے د دین په لحاظ نیمگړے دی، ځکه د دوئ عقلونه ناقص دی۔ لکه په حدیث کښے دی : [مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِيْنٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ اِحْدَاكُنَّ ......]
(ما د ښځو نه سیوا د عقل او دین په لحاظ نیمگړے عقل والا بل څوك نۀ دی لیدلی چه هغوئ د هوښیار سړی عقل هم ختموی)۔

نو دلته ئے د عقل او دین نقصان یوځائے ذکر کړے ځکه دا دواړه یو بل سره لازم دی۔ او د عقل دا نیمگړتیا ئے د اور سبب گرځولے، لکه فرمائی : [وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ اَهْلِهَا النِّسَاءُ] (او ما د اور زیاتره وسیدونکی ښځے موندلے)۔

بیا عقل په دوه قسمه دے :

۱ – مطبوع او موهوب (فطری او د الله له خوا بنده ته ببنل شوے)۔

۲ – مسموع او مکسوب (چه بنده آوریدلے او حاصل کړے وی، خو آوریدے او گټل شوے هغه وخته پورے نفع نۀ ورکوی ترڅو چه ورسره مطبوع عقل نۀ وی۔

او عقل راښکونکی شیان ډیر دی : هغه داچه ډیر به نۀ غمژن کیږی، ډیره پرواه به د څۀ شئ نۀ کوی، ډیر آزمائش کښے به نۀ وی او نۀ به په ډیره فراخئ کښے وی۔

ابن حبانؒ فرمائی : د عقل آفت کبر، تباه کونکے مصیبت، د حد نه زیاته خوشحالی ده، ځکه کله چه په چا پرله پسے مصیبتونه راځی نو ددۀ عقل به ختم کړی، او کله چه پرے پرله پسے فراخي وی نو دے به کبرجن کړی۔ او فرمائی : د غم او خفگان همیش والے عقل کموی۔ اِهـ

زۀ وایم : په کائناتو او په قرآن او د خلکو په واقعاتو کښے سوچ او فکر کولو سره عقل

Maktaba Tul Ishaat.com

زياتيږي۔

په حديث کښې دي : [لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيْرِ] (د تدبير پشان عقل نشته)۔

بل حديث کښې دي : [وَالتَّـوَدُّدُ اِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ] (خلکو سره د مينې محبت تعلق لرل نيمائي عقل دے)۔

بل حديث کښې دي : [يَنْبَغِيْ لِلْعَاقِلِ أَنْ لَا يَكُوْنَ ظَاعِنًا إِلَّا لِثَلَاثَةٍ : تَزَوُّدٍ لِمَعَادٍ، أَوْ مَرَمَّةٍ لِمَعَاشٍ، أَوْ لَذَّةٍ فِيْ غَيْرِ مُحَرَّمٍ ...... الحديث]

(عقلمن له پکار دي چه صرف درے شيانو لپاره سفر کوي: د آخرت توښے، کار کسب جوړولو، او جائز خوند حاصلولو لپاره)۔

[رواه ابن حبان وأبو نعيم في الحلية بإسناد ضعيف]

د عاقل سړے نښه داده چه دا د پوښتنے نه بغير خبره نۀ شروع کوي او د قبلولو نه بغير ډيرے جګړے نۀ کوي، او د احتياط کولو نه بغير په تادئ جواب نۀ ورکوي۔

[روضة العقلاء]

ابو حاتمؒ فرمائي : په عاقل باندے لازم دي چه د درے شيانو نه ځان وساتي، ځکه چه دے سره عقل ډير زر خرابيږي په نسبت د اوچو خشاکو چه اورئے سيزي : (۱) ډيره خندا (۲) ډيرے آرزوګانے او (۳) بے احتياطي او تادي کول۔

علماؤ ويلي دي : که عقل مور پلار لرلے نو دا به صبر او احتياط وے۔

او د عقل آفت کبر دے۔ يو شاعر وائي :

إِنَّ الْمَكَارِمَ أَبْوَابٌ مُصَفَّفَةٌ ❋ فَالْعَقْلُ أَوَّلُهَا وَالصَّمْتُ ثَانِيْهَا ❋ وَالْعِلْمُ ثَالِثُهَا، وَالْحِلْمُ رَابِعُهَا، وَالْجُوْدُ خَامِسُهَا ❋ وَالصِّدْقُ سَادِسُهَا، وَالصَّبْرُ سَابِعُهَا ❋ وَالشُّكْرُ ثَامِنُهَا، وَاللِّيْنُ تَاسِعُهَا، وَالصِّدْقُ عَاشِرُهَا ❋

(بيشکه عزتمن خويونه ډيرے مرتبے او دروازے دي چه عقل ددے اوله ده، خاموشي ئے دويمه ده، علم ئے دريمه، بردباري ئے څلورمه، سَخائے پنځمه، رشتيائے شپږمه، صبر ئے اوومه، شکر ئے اتمه، نرمي ئے نهمه او صبر ئے لسمه ده)۔

عقلمن له پکار دي چه د ښائسته سيرت او اوږدے خاموشئ خاوند وي ځکه چه دا د انبياء کرامو اخلاق وو، او ددے الټه صفتونه د بد اخلاقه خلکو صفت دے۔

ابو مالك غزيؒ وائي : هوښيارانو سره کينئ که هغه دوستان وي او که دشمنان، ځکه عقلونه، عقلونو لره قلمي کوي او عقلمن نه خپل عيبونه پټ نۀ وي، ځکه چانه چه خپل عيبونه پټ

شي نو هغهٔ نه به د بل چا خوبئ پټيږي.

او د ټولو خلکو نه زيات عقلمن هغه څوك دے چه خپل عيب ډير ښهٔ ويني او د بل چا د عيب نه ړوند وي، او باقي شے غوره کونکے او په فاني کښې بے رغبته وي. او په خلکو کښې د ټولو نه عقلمن هغه څوك دے چه خپل رب ډير ښهٔ پيژني او د هغهٔ ډير زيات طاعت کونکے وي. عقل د وُنے مثال لري چه ددے زيلے په انجامونو کښې فکر کول، تنه ئے صبر، څانګے ئے علم، او پانړے ئے ښائسته اخلاق، ميوه ئے حکمت، او ماده ئے د الله له خوا توفيق، او شروع او انتهاء ئے هغهٔ طرفته ده. [محبة الله لابن القيم، ص: ٥٩]

عمر بن خطاب ﷺ فرمائي: عقلمن دانهٔ دے چه خير او شر پيژني، عقلمن هغه دے چه په دوه شرونو کښې بهتر شر وپيژني. [حواله سابقه، ص: ٧٦]

علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي: جناتِ عدن ته هغه خلك مخکښې تلي دي چه د هغوئ مونځونه، روژے، حج او عمرے زياتے نهٔ وے، ليکن هغوئ د الله له خوا وعظونه وپيژندل چه د هغے په وجه د هغوئ زړونه وويريدل او الله طرفته د هغوئ نفسونه مطمئن شول او اندامونو کښې ئے خشوع راغله، چه دوئ په دنيا او آخرت کښې د خلکو په نيز او د الله سره په اوچته مرتبه او پاکيزه درجه باندے کامياب شول.

عائشه رضي الله عنها فرمائي: هغه څوك کامياب شو چه الله ورله عقل ورکړو. [محبة الله، ص: ٦٠]

او کله چه الله تعالىٰ آدم عليه السلام راکوز کړو نو جبريل ورته درے شيان راوړل: دين، حياء او عقل. او ورته ئے وفرمايل: الله تاته ددے درے شيانو ترمينځه اختيار درکوي. دے کښې يو غوره کړه، نو هغهٔ عقل غوره کړو. نو حياء او دين ته ووېل شو: تاسو دواړه وخيژئ. هغے دواړو ووېل: مونږ به هغه ځائے کښې يو چرته چه عقل وي.

او دا درے شيان ډيره لويه عطيه ده چه يو مسلمان ته ورکولے شي، چه ددے لپاره الله درے دشمنان مقرر کړي: خواهش، شيطان، او د ګناه حکم کونکے نفس. دوئ کښې جنګ جاري دے کله يو غالبه کيږي کله بل. او مدد صرف د الله له خوا دے. چه غالبه او حکمتونو والا دے. [محبة الله، ص: ٦١]

حسن بصريؒ فرمائي: د سړي دين هغه وخته پورے نهٔ پوره کيږي تر څو ئے چه عقل پورے شوے نهٔ وي، او الله چه په کوم انسان کښې عقل اېښے دے نو خامخا به دهٔ لره ددے په ذريعه يو ورځ خلاصے ورکوي. [محبة الله، ص: ٦١]

Maktaba Tul Ishaat.com

ځینے علماء وائی : عبد الله بن مبارکؒ نه پوښتنه وشوه : د اسلام نه پس انسان له کوم یو بهترین شے ورکړے شوے ؟ هغهٔ ویل : عقل ...... (دا مخکښے تیر شو)

وهب بن منبهؒ فرمائی : دوه سړی به په نیکئ کښے برابر وی حالانکه د دوئ ترمینځه به په غوره والی کښے لکه د مشرق او مغرب لرے والے وی، او دا د عقل په وجه۔ انسان په هیڅ داسے شئ باندے د الله عبادت نهٔ دے کړے چه هغه د عقل نه افضل وی۔

۵ - فائده : وعظونه او نصیحتونه

د ځینے هوښیارانو وینا ده : څوك چه د مور پلار نافرمانی کوی، خپل اولاد نه به خوشحالی ونهٔ وینی۔ او څوك چه په کارونو کښے مشوره نهٔ کوی، خپل حاجت ته به ونهٔ رسی۔ او څوك چه خپل کور والا سره نرمی نهٔ کوی، ددهٔ د ژوند خوند ختم دے۔

[تنبیه الغافلین : ۱/ ۱٤۰ ، مجرّب]

فضیل بن عیاض فرمائی : پوره ځوانمرد هغه دے چه مور پلار سره نیکی کوی، خپلولی پالی، د خپلو ورونو عزت کوی، خپلے بی بی ، خادمانو او بچو سره ښائسته اخلاق کوی، د خپل دین حفاظت کوی، د خپل مال اصلاح کوی، خپل زیاتی مال خرچ کوی، د خپلے ژبے ساتنه کوی، خپل کور کښے ناست وی، او فضول خلکو سره نهٔ کینی۔

[تنبیه : ۱/ ۱٤۰] ډیر مفید کلام دے۔

لقمانؒ خپل ځوئے ته وفرمایل : زړهٔ د حکمت په خبره داسے ژوندے کیږی څنګه چه زمکه په شیبو شیبو باران سره ژوندئ کیږی۔د[ایقاظ ، ص : ٥۰]

په تورات کښے راغلی : زهٔ په هیڅ بنده کښے حکمت نهٔ اچوم مګر زهٔ غواړم چه هغهٔ ته مغفرت وکړم، دے وجے نه دا زده کړه، په دے عمل وکړه او خلکو لپاره ئے خرچ کړه، دے لپاره چه تهٔ په دے سره په دنیا او آخرت دواړو کښے زما کرامت حاصل کړے۔

[ایقاظ ، : ١٥ ، وورد معناه فی حدیث صحیح ، سیأتی فی فائدة مستقلة]

شعبیؒ فرمائی : که یو سړے د شام د آخر سر نه د یمن آخر سره پوره د یوے داسے کلمے لپاره سفر وکړی چه په خپل راتلونکی عمر کښے د هغے نه نفع واخلی، نو زما په خیال ددهٔ سفر بیکاره نهٔ دے۔ [ایقاظ : ٦]

ځینے علماء فرمائي : څوك چه په علم سره یواځے والے اختیار کړی نو دے د خلوت نه نفرت نهٔ کوی، او څوك چه په کتابونو باندے تسلی کوی نو ددهٔ نه تسلی نهٔ ده فوت شوے، او دا زړونه داسے سترې کیږی لکه څنګه چه بدنونه سترې کیږی، دے وجے نه تاسو ددے لپاره ناشنا ناشنا حکمتونه لټوئ۔ [حواله بالا]

په خبرو اترو کښے دا بے ادبی ده چه تهٔ د خپل ملګری خبره کټ کړے یا هغهٔ خبرے شروع کړے وی او تهٔ ئے آخر سرته رسوے، تهٔ دهٔ ته دا وربنائے چه تاته دا خبره د هغهٔ نه زیاته یاده ده۔
[ایقاظ، ص: ۷]

بعض سلف ؒ فرمائي : څوك چه په الله باندے د خپل ځان لپاره په وکیل جوړیدو راضی وی نو هر خیر طرفته به لاره بیامومی۔

وَكَلْتُ اِلَى الْمَعْشُوْقِ أَمْرِیْ كُلَّهٗ ❁ فَاِنْ شَاءَ أَحْيَانِیْ وَاِنْ شَاءَ أَتْلَفَا

(ما خپل معشوق ته خپل ټول کار سپارلے، که هغه غواړی مابه ژوندے وساتی او که غواړی تباه به مے کړی)۔ [روح المعانی : ۲۹/ ۱۰۷]

٦ - فائده

د خواهش تابعداری څهٔ معنیٰ ؟

کتاب او سنت او د نیکانو په اقوالو کښے د خواهش او د خواهش د تابعدارئ بدی راغلے۔ علامه ابن جوزیؒ په همدے نوم یو کتاب هم لیکلے۔ نو د خواهش د تابعدارئ څهٔ معنیٰ ده ؟ آیا په دے کښے خوندور خوراکونه او مشروبات خوړل څښل، او د پیغلو جینکو د نکاح نه خوندونه اخستل، او قِسما قِسم عمده لباسونه اچول داخل دی او که نه ؟ او که دا شیان د خواهش په تابعدارئ کښے داخل وی نو ددے حل څهٔ دے ؟

نو مونږ وایو : چه الله سبحانه وتعالیٰ دا حکم نهٔ دے کړے چه انسان دے فطری تقاضا او غوښتنے مړے کړی او بشری میلانونه دے د خپل ځان نه ختم کړی، ځکه دا کار د سره کیدے نشی بلکه دا تکلیف ما لا یطاق دے۔ حارث محاسبی وائی : الله خلکو ته ددے حکم کړے چه دوئ د خپلو خواهشاتو سره مجاهده وکړی۔ دا حکم ئے نهٔ دے کړے چه په نفس کښے دے طبعی شهوت او خواهش نهٔ وی۔ [الرعایة، ص: ۲۰۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

امام **شاطبيؒ** فرمائي : په کومو اوصافو باندې چه انسان پيدا شوې لکه د خوراك څښاك خواهش، نو ددې د ختمولو حکم نۀ دې شوې او نۀ د هغه طبعي شيانو ختمولو حکم شوې کوم چه په انسان کښې کېښودل شوي دي، ځکه دا خو تکليف مالا يطاق دې. لکه څنګه چه انسان نه دا نۀ غوښتل کيږي چه خپله بدرنګي ښائسته کړي يا په دې کښې چه کوم کمې دې هغه پوره کړي، ځکه چه دا د انسان په وس کښې نۀ دي. شريعت نۀ ددې مطالبه کوي او نۀ ددې نه منع کوي. اسلام ددې لپاره مونږ ته نۀ دې راغلې چه مونږه ژوند شاته وارتوو او هغه ميلانونه ختم کړو چه هغه مونږ محبوبو او خوښو شيانو ته چه په مونږ کښې الله پيدا کړي دي راغواړي. اسلام خو ددې لپاره راغلې چه مونږ ته هغه منهج او لاره واضحه کړي چه په هغې باندې مونږ روان شو او هغه شيان په همدې لاره حاصل کړو د کومو نه چه زمونږ په دې ژوند کښې خلاصې نشته. اسلام مونږ ته دا دعوت راکوي چه په هغه لاره روان شو چه مونږ نه ئې غواړي او خوښوي ئې. دا رانه نۀ غواړي چه مونږ د خپلو طبعي خواهشاتو نه ووځو او ددې نه محروم شو. الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللهِ الَّتِىْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِىَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ [اعراف:۳۲] (ورته ووايه ! د الله هغه ډول ډول ښکلا چا حرام کړې چه هغۀ خپلو بندګانو لپاره راوښکلې او پاکيزه رزقونه، ورته ووايه ! دا په دنيا کښې مومنانو لپاره دي او په ورځ د قيامت به خالص د دوئ لپاره وي).

نو دا محبوب شيان د شريعت مطابق استعمال کول بذاتِ خود د الله خوښ او هغۀ لره خوشحالونکي او د الله په طاعت باندې مدد کونکي دي. لکه د حلالونه چاله طعام ورکول صدقه ده. نبي ﷺ فرمائي : [مَا أَطْعَمْتَ زَوْجَتَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ ، وَمَا أَطْعَمْتَ وَلَدَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ ، وَمَا أَطْعَمْتَ خَادِمَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ ، وَمَا أَطْعَمْتَ نَفْسَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ]

(کوم خوراك چه بي بي له ورکوې هغه ستا لپاره صدقه ده، کوم چه اولاد له ورکوې هغه درله صدقه ده، کوم چه خپل خادم له ورکوې هغه درله صدقه ده، اوکوم چه خپله خورې هغه هم صدقه ده). [احمد : ٤/ ۱۳۱]

بل حديث کښې دي : [وَفِىْ بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! يَأْتِىْ أَحَدُنَا شَهْوَتَهٗ وَيَكُوْنُ لَهٗ فِيْهَا أَجْرٌ ؟ قَالَ : أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِى الْحَرَامِ أَلَيْسَ يَكُوْنُ عَلَيْهِ وِزْرٌ ؟ فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِى الْحَلَالِ لَهٗ أَجْرٌ] [رواه مسلم]

(کور والا سره کور والې هم ستاسو لپاره صدقه ده، خلکو عرض وکړو : اې د الله رسوله ! په

مونږ کښې یو تن خپل شهوت پوره کوی نو په دې کښې هم دهٔ لپاره اجر شته ؟ وې فرمایل : په دې مې خبر کړئ که دا ئې په حرامو کښې ایښې وې نو آیا دهٔ به گناه کیدلې اوکه نه ؟ نو دغه شان کله ئې چه په حلال ځائې کښې کیښودلو نو دهٔ لپاره اجر دې)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾ [مائده:۸۷] (اې ایمان والو ! کوم پاکیزه خوراکونه چه الله تاسو له حلال کړی دی هغه مهٔ حراموئ او زیاتې مهٔ کوئ بیشکه الله زیاتې کونکی نهٔ خوښوی)۔

او نبی ﷺ هغه درې کسانو ته فرمائیلی وو :

[لٰكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي] [متفق علیه] (زهٔ خو روژه هم نیسم او کوژه کیږم هم، مونځ هم کوم او اوده کیږم هم او د ښځو سره نکاح هم کوم (دا زما طریقه ده) ځوك چه زما د طریقې نه مخ اړوی، د هغهٔ ما سره هیڅ تعلق نشته)۔ [الموافقات للشاطبی : ۲/ ۷٦]

امام قرطبیؒ فرمائی : په دې آیتِ کریمه کښې رد دې په غالیانو زاهدانو او بیکاره صوفیانو باندې، ځکه په دوئ کښې هرې ډلې حقه لاره پریښې او د سمې لارې نه آوړیدلی دی۔ امام طبریؒ فرمائی : هیڅ یو مسلمان له جائز نهٔ دی چه کوم شیان الله تعالیٰ د خپلو مومنانو بندگانو لپاره حلال کړی دی، هغه په خپل ځان باندې حرام کړی، که هغه خوراکونه وی که لباسونه اوکه نکاحونه وی۔ صرف په دې وجه چه که دا حلال وگڼړی نو په ځینې مشقت او تکلیف کښې به پریوځی۔ دا وجه ده، نبی اکرم ﷺ عثمان بن مظعون رضی الله عنه ته د ځان خصی کولو اجازت ورنهٔ کړو۔ نو ثابته شوه چه الله کوم شیان د خپلو بندگانو لپاره حلال کړی، د هغې په پریښودلو کښې هیڅ فضیلت نشته۔ او فضیلت او نیکی خو په دې کښې ده چه انسان هغه کار وکړی چه هغې ته الله تعالیٰ خپل بندگان رابللی او رسول الله ﷺ په هغې عمل کړې او د خپل امت لپاره ئې جاری کړی، او د هغهٔ په طریقه باندې د هغهٔ ملگری خلفاء راشدین رضی الله عنهم روان شوی۔ ځکه په ټولو طریقو کښې بهترینه طریقه د محمد رسول الله ﷺ طریقه ده۔ هر کله چه خبره داسې ده نو بیا هغه خلك په خطا روان دی چه هغوئ د مالوچو او کتان طاقت لرلو باوجود په دې باندې زیګ او سخت لباس غوره کوی۔ دارنګه سخت خوراك غوره کوی او غوښه وغیره صرف په دې وجه نهٔ خوری چه بیا به ئې ښځو ته حاجت پیښیږی۔ طبریؒ فرمائی : که ځوك دا گمان وکړی چه خیر په دې کښې دې چه انسان زیګ لباس واچوی او زیګ خوراك وخوری، ځکه چه په دې کښې په نفس باندې مشقت دې او ددې دوارو نه حه کوم قیمت زیاتی

Maktaba Tul Ishaat.com

پاتې شي هغه به انسان حاجت منو خلکو له ورکړي. نو دا ګمان غلط دے. وجه داده چه انسان له اول د خپل نفس اصلاح پکار ده او د الله په طاعت او عبادت کښې ددهٔ مدد کول پکار دي، او نفس لپاره دا ډيره ضرري ده چه ردي خوراکونه ونهٔ خوري، ځکه دے سره ددهٔ عقل خرابيږي او ددهٔ هغه آلات کمزوري کيږي چه الله تعالىٰ د خپل طاعت لپاره پيدا کړي. يو سړے حسن بصريؒ ته راغے، ويلے: زما يو ګاونډي دے چه فالوده نهٔ خوري. ورته ئے وفرمايل: وجه څهٔ ده؟ هغهٔ ويل: هغه وائي چه بيا ددے څوك شکر نشي ادا کولے. حسن بصريؒ ورته وويل: دغه سړے يخے اوبهٔ څکي؟ هغهٔ ويل: هو! وے فرمايل: ستا ګاونډے جاهل دے، ځکه دَ يخو اوبو چه کوم نعمت الله تعالىٰ په هغهٔ کړے دے، هغه د فالودے د نعمت نه زيات دے.
[تفسير قرطبي: ٦/ ٢٦٢]

بيا امام قرطبيؒ وړاندے ليکي: پاتے شو د خوندورو شيانو خواهش او قسما قِسم خوندورو شيانو غوښتلو سره د نفس مقابله کول، نو ددے نه د نفس په بندولو کښې د خلکو مذهبونه مختلف دي. د ځينو په نيز ددے نه نفس اړول او د خواهشاتو د پيروئ نه نفس بندول ډير لائق دي، دے دپاره چه د نفس واګے نيول ورته آسان شي او ددے عناد هغهٔ لپاره سپك شي. ځکه چه کله انسان نفس ته د هغے غوښتنه ورکوي نو دے د هغے د خواهش تابعداري کوي او د هغے انقياد کوي. د ابو حازمؒ په باره کښې راځي: کله به چه دا په يوه داسے ميوه باندے تيريدهٔ چه هغے ته به ئے زړهٔ کيدهٔ، نو ويل به ئے ستا د وعدے ځائے جنت دے. او نور خلك وائي: نفس له د هغے خوندور شے ورکول ډير غوره دي ځکه په دے کښې نفس تازه کيږي او آرام مومي ولے چه خپل مراد بيامومي. او نور خلك وائي: بلکه په دے کښې کوتاهي کول غوره دي، ځکه کله چه نفس دا خوښ شے ورکړے شي او بل ځل ترے منع کړے شي نو په دے کښې دواړه خبرے راجمع شوے، او دا په غير د عيب نه انصافي خبره ده. [تفسير قرطبي: ٢٦٣]

٧ - فائده

په [تفسير السراج المنير: ١/ ٣٨٩] کښې دي: په پخوانو کتابونو کښې نقل شوي دي چه موسىٰ عليه السلام ته وحي وشوه: هغه کس څومره بے حياء دے چه په غير د عمل کولو نه زما په جنت کښې طمع لري. زهٔ په خپل رحمت سره په هغه کس څنګه سخا وکړم چه هغه زما په

طاعت سره بخل کوی ؟

شهر بن حوشبؒ وائی : عمل نه بغیر جنت غوښتل د ګناهونو نه یوه ګناه ده۔ او په غیر د هیڅ یو سبب نه د سفارش انتظار کول یو قِسم دهوکه ده۔ او د هغه چانه د رحمت امید ساتل چه د هغهٔ خبره نهٔ منل کیږی کم عقلی او ناپوهی ده۔

حسن بصریؒ نه نقل دی : الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ وفرمائی : تاسو زما په عفوے سره په صراط پُل ورتیر شئ او زما په رحمت سره جنت ته ننوځئ، او په خپلو عملونو سره دا خپلو کښیے تقسیم کړئ۔

رابعه بصریهؒ نه نقل دی چه هغې به دا شعر وایهٔ :

تَرْجُو النَّجَاةَ وَلَمْ تَسْلُكْ مَسَالِكَهَا ❊ إِنَّ السَّفِينَةَ لَا تَجْرِىْ عَلَى الْيُبْسِ

سعید بن مسیبؒ فرمائی : عمر بن خطاب رضی الله عنه خلکو لپاره د حکمت اتلس (۱۸) کلمات مقرر کړی دی :

۱ – څوك چه ستا په باره کښیے د الله نافرمانی وکړی، هغهٔ له تهٔ دومره سزا نشیے ورکولے څومره چه تهٔ د هغهٔ په باره کښیے د الله فرمان برداری وکړیے۔

۲ – د خپل ورور معامله په ښیے طریقے سره ساته تردیے چه د هغهٔ له خوا تاته هغه شے راشی چه هغه په تا غالبه شی۔

۳ – د یو مسلمان نه که یوه خبره راوځی نو تر څو پورے چه تهٔ هغه په خیر باندے اړولے شے په هغهٔ باندے د شر ګمان مهٔ کوه۔

٤ – څوك چه خپل ځان تورونو (تهمتونو) ته وړاندے کړی نو که چا په دهٔ بد ګمانی وکړه نو صرف خپل ځان‌دے ملامته کړی۔

٥ – څوك چه خپل راز پټ ساتی، اختیار به ئے په خپل لاس کښیے وی۔

٦ – تاله پکار دی چه د رشتینے ملګرو سره وسیږے، ځکه دوئ په فراخئ کښیے زینت او په مصیبت کښیے پکار راتلونکی دی۔

۷ – رشتیا وایه اګرکه مړ دے کړی۔

۸ – هغهٔ څهٔ ته ځان مهٔ وړاندے کوه چه مناسب نهٔ وی۔

۹ – څهٔ چه نهٔ وی شوی د هغې پوښتنه مهٔ کوه، ځکه په شوو کارونو کښیے د ناشوو نه مصروفیت دے۔

۱۰ – هغه چانه خپل حاجت مهٔ غواړه چه هغه تا لپاره ددے پوره کول نهٔ خوښوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

١١ – په دروغژن قسَم کښې بيباکي مهٔ کوه ګنې الله به دې تباه کړي۔
١٢ – بدکارو سره مهٔ ملګرې کيږه ګنې د هغوئ نه به بدکاري ياده کړې۔
١٣ – خپل دشمن نه لرې اوسه۔
١٤ – د خپـل دوسـت نـه پـه ويره کښې اوسه، مګر که هغه امانتدار وي او امانتدار صرف هغه څوك دې چه الله نه يريږي۔
١٥ – قبرونو باندې تيريدو په وخت خشوع ښکاره کوه۔
١٦ – د طاعت او عبادت په وخت ذلت ښکاره کوه۔
١٧ – د ګناه په وخت د بچاؤ لاره ګوره۔
١٨ – په خپلو کارونو کښې هغه چا سره مشوره کوه چه الله نه يريږي۔ حُکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اِنَّمَا يَخۡشَى اللّٰهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمٰٓؤُا﴾ [فاطر: ٢٨]
(د الله په بندګانو کښې د الله نه صرف علماء يريږي)۔
[كذا في الكنز: ٨/ ٢٣٥، حياة الصحابة: ٣/ ٤٧٩]
که څوك سوچ وکړي نو ډير نفعمن وعظونه دي۔

* * * * * * *

۸ ـ فائده

مؤمن لپاره بیان شوی مثالونه

چه دا د مات شوی زړهٔ ټکور او د زخم مرهم او پټئ ده، خو د هغه چا لپاره چه ددے اراده لری او خپل ځان د الله په توفیق سره ددے اهل گرځوی۔
او دا هغه ناشنا مثالونه دی چه په کتاب او سنت او د سلفو په اقوالو کښے د مؤمن لپاره بیان شوی دی۔
څوك چه ددے مصداق وی نو هغه دے د خپل مولیٰ حمد او ثنا ووائی چه ددے ئے اهل جوړ کړو۔ اوکه دا په کښے نهٔ وی او ددے د ښائست نه خالی وی نو هغه دے نهٔ خفه کیږی ځکه علاج ممکن دے او رب شفقت کونکے مهربان دے۔
۱ ـ اولنے مثال : د مؤمن ایمان لکه د خیمے دے چه ددے پنځه ارکان او ستنے وی، څلور ترے چار چاپیره وی او بنیادی ستن ئے مینځنئ وی۔ که مینځنئ ستن وغورزیږی نو بیا ترے نفع نشی اخستے او د وسیدو قابله نهٔ پاتے کیږی۔ اوکه یو گوټ ئے راوغورزیږی نو دا بیا ناقصه ده خو بیا هم ترے څهٔ ناڅهٔ نفع اخستلے شی۔ اوکه چرے څلور واړه طرفه ئے راوغورزیږی او مینځنئ ستن ولاړه وی نو بیا هم ترے نفع نشی اخستلے۔
نو خیمه اسلام دے۔ او ددے ارکان او ستنے توحید، مونځ، روژه، زکاة او حج دے۔ نو د چا توحید چه وغورزیدهٔ نو ددهٔ د خیمے هیڅ قیمت پاتے نشو اونهٔ به ددے نه نفع واخلی۔ او څوك چه د اسلام په دغه څلورو ارکانو او ستنو کښے یو رکن او ستن پریدی، نو خیمه خو باقی ده مگر نیمگړے۔ اوکه څلور واړه ارکان ئے پریښودل نو بیا هم ترے فائده نشی اخستے۔ دغه شان اسلام د ټولو اعمالو په پریښودلو سره باقی نهٔ پاتے کیږی، لکه چه دا د محققینو اهل سنت مذهب دے، چه ددے وضاحت مونږ په خپل ځائے کښے کړے۔
که چرے په دے مثال تا سوچ او فکر وکړو نو په دے کښے به خپله شفا ومومے او د خواهش پرستو خلکو رد به ویپژنے لکه خوارج، معتزله او هغه جاهلان خلك چه د اهل سنت والجماعت د مذهب دعویٰ لری۔ دارنگه په دے کښے به په مشرکانو باندے رد ومومے چه دوئ

Maktaba Tul Ishaat.com

توحید ته هډو ګوري هم نهٔ، سره ددې چه د اسلام دعویٰ لري.

بیا دا خبره هم قابلِ غور ده: چه خیمه کله وړه وي اوکله غټه. کله سخته او مضبوطه وي چه باران ترې نهٔ وځي. او کله نرۍ وي، چه باران ترې څاڅي. او خیمې لپاره دا ضروري ده چه دا به د هواګانو او سیلابونو نه ساتلې شي. په داسې ځائې کښې به نهٔ وهلې کیږي چه هلته په آسانۍ سره غورزیدلې شي یا ورته اوبهٔ راتللې شي. نو دغه شان د ځینو مومنانو ایمان قوي وي او د ځینو کمزورې. د ایمان حفاظت د فتنو او د هغه ځایونو نه ضروري دی چه په هغې کښې امتحانات او آزمائشونه وي. والله المستعان.

دارنګ څوك چه قصدًا د خیمې یو موګې وباسي نو دې سره به ټوله خیمه خوزیږي او غورزیدو ته به مائله کیږي او ددې د ودرولو فائده به ضائع کیږي. نو څوك چه قصدًا مونځ پریدي نو ددهٔ ایمان داسې وخوزیږي چه غورزیدو ته نزدې شي. په حدیث شریف کښې دي:

[مَنْ تَرَكَ صَلاَةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ] [بخاري]

(چاچه مازیګر مونځ پرېښ دهٔ نو ددهٔ عمل برباد شهٔ).

که چرې تهٔ په دې مثال فکر وکړې نو د حدیث معنیٰ به په آسانۍ سره وپیژنې، هغه داچه څوك قصدًا مونځ پریدي نو ددهٔ د ایمان خیمه وخوزیده او غورزیدو ته نزدې شوه، چه د خیمې په ودرولو کښې ددهٔ کوشش ضائع شو، ځکه دې خپله د خیمې د خوزولو او غورزولو سبب وګرځیدهٔ.

او دا ټول مثال د ابن عمر رضی الله عنهما د هغه حدیث نه راوتې دې چه هغه بخاري او مسلم روایت کړې، چه نبي اکرم ﷺ فرمائي: [بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيْتَاءِ الزَّكَاةِ، وَ الْحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ]

(د اسلام بنیاد په پنځو شیانو ولاړ دې: ددې خبرې اقرار کول چه الله نه سیوا بل هیڅوك معبود نشته او محمد (ﷺ) د الله رسول دې او مونځ پابندي کول، زکاة ورکول، حج کول او رمضان روژې نیول).

[صحیح بخاری، الإیمان، حدیث: ۸، صحیح مسلم، الإیمان، حدیث: ۱٦]

بیا په دې ځان پوهه کړه: چه د هرې خیمې لپاره طنابونه پکار دي چه هغې سره دا مضبوطیږي، نو دغه شان د ایمان ددې پنځو ارکانو لپاره نور واجب او مستحب عملونه هم ضروري دي، ځکه د الله لپاره چاسره دوستي، دشمني. مینه او بغض لرل، صله رحمي کول او داسې نور.

او ستنے کله د لړگی وی او کله د وسپنے، کله درنے وی او کله سپکے۔ نو دغه شان مونځ، روژه، زکاة او حج کله د خشوع، خضوع، سنت او آدابو په ښائسته طریقه سره ادا کولے شی، او کله په دے طریقه سره نهٔ وی۔

په دے مثال باندے سوچ وکړه، ددے نه به تاته د علم دروازے پرانستے شی۔

۲ ۔ دویم مثال :

د مؤمن د ایمان مثال لکه د پاکیزه وُنے دے۔ د کاملے وُنے لپاره دا راتلونکی شیان پکار دی :

(۱) مضبوطے جرړے (۲) پخه سته (۳) دنگے څانگے (٤) پخے میوے (٥) مزیداره خوشبوئے (٦) او دابه په پاکه زمکه راختلے وی، ولے که دا په ښوره ناکه زمکه ولاړه وی نو پوره وده نهٔ کوی او نهٔ پوره میوه ورکوی۔ (۷) بیا وخت په وخت ددے وُنے خړوبه کول ضروری دی، گنے دا به وچه شی او راوبه وځی۔ (۸) دارنگ ددے د جرړو نه کانړی او ضرری شیان لرے کول ضروری دی، گنے دا به خرابه کړی یا به ئے پوره ودے کولو ته نهٔ پریدی۔

نو دغه شان د ایمان لپاره هم دا شیان پکار دی : (۱) په الله تعالیٰ او د هغهٔ په آیتونو یقین لرل (۲) په عقیده او عمل کښے اخلاص کول (۳) نیک عملونه کول (٤) ښائسته اخلاق لرل (٥) او دا هم ضروری ده چه د مومن نفس به پاکیزه او نرم او د ښو خویونو لپاره تیار وی۔ او مؤمن به دا وُنه د وحی په اوبو سره، دارنگ د الله د کتاب په آوریدلو، د هغے په درس او تدریس او په ښائسته وعظونو آوریدو سره خړوبه کوی۔

او دا هم ورله ضروری دی چه خپل ځان به د شرك، بدعت، خواهشاتو، او بدو اخلاقو نه صفا کوی او ددے نه به همیشه لپاره توبه وباسی او د فتنو او مفسداتو نه به ئے ساتی۔

بیا په وُنه کښے ځینے څانگے غټے او دنگے وی چه د وُنے د ستے سره برابرېږی، او ځینے درمیانه او ځینے وړے وړے وی، او ځینے د پاڼړو پشان وی۔

نو دغه شان اعمال هم ځینے لوئے لوئے وی چه د ایمان د بنیاد سره مشابه وی چه ددے په پریښودو سره عرفًا دا فیصله کیږی چه دا کس مومن نهٔ دے۔ لکه یو کس د وُنے نه غټه څانگه پریکړی نو خلك وائی: دهٔ خو وُنه پریکړه او ددے بیخ بنیاد ئے ووېستهٔ او دا ئے خرابه کړه۔ نو دغه شان څوك چه مونځ وغیره پریدی نو ددهٔ په باره کښے ویلے کیږی چه دهٔ کفر یا شرك وکړو، ځکه چه دهٔ د خپل ایمان یوه لویه څانگه پریکړه۔

او څوك چه درمیانه څانگه پریکړی نو څوك دا نهٔ وائی چه دهٔ وُنه پریکړه، بلکه وائی : وُنه ئے نیمگړے کړه۔ او څوك چه وړه څانگه پریکړی او یا پاڼړے راوشکوی نو ددهٔ په حقله څوك نهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

وائي چه دهٔ وُنه پریکړه یا ئې نیمګړې کړه، بلکه وائي : دهٔ د وُنې رونق او ښائست ختم کړو. دا وُنه ده خو شینوالې ئې نشته او ډیر رونق ئې نشته. دغه شان څوك چه په خپل ایمان کښې ځینې مستحب کارونه پریدي نو ددهٔ په حقله څوك دا نهٔ وائي چه دے کافر یا فاسق شو بلکه وائي: ددهٔ په ایمان او مخ کښې پوره نور او تازګي نشته، او دے سره ددهٔ د ایمان نور کمیږي.

نو څوك چه په دے مثال سوچ وکړي نو ډیر علم به ومومي او د خوارجو او معتزلو په کم عقلئ به پوهه شي. او دهٔ ته به دا معلومه شي چه مستحبات پریښودلو سره هم د انسان په ایمان باندے اثر کیږي. دارنګه دا به وپیژني چه د عمل په پریښودو – اګرکه فرض عمل وي – بنده نهٔ کافر کیږي په دے شرط چه انکار ئې ترے نهٔ وي کړے. او دا به وپیژني چه د سلفو علم ډیر ژور وو. او دا شان نورے عظیمے فائدے.

او دا مثال الله عز وجل په خپل کتاب کښې په سورة ابراهیم کښې ذکر کړے دے : ﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ تُؤْتِيْ أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا﴾ الآية [ابراهيم: ٢٤ ، ٢٥] (آیا تهٔ نهٔ ګورې چه الله څنګه د کلمې طیبې مثال بیان کړے لکه د پاکیزه وُنې چه ددې ویخ مضبوط دے او څانګې ئې بره آسمان طرفته دي، د خپل رب په حکم سره هر وخت میوے ورکوي).

او نبی اکرم ﷺ فرمائي : [إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً هِيَ مَثَلُ الْمُسْلِمِ ، حَدِّثُوْنِيْ مَا هِيَ ؟] ثُمَّ قَالَ : [هِيَ النَّخْلَةُ] [رواه البخاری]

(په وُنو کښې یوه وُنه ده چه هغه د مسلمان مثال دے، ماته وښایئ چه هغه کومه یوه ده؟ بیائې خپله وفرمایل : دا د کهجورے وُنه ده).

بیا دلته ئې چه د کهجورے وُنې سره د مومن او مسلمان تشبیه ورکړے نو په دے کښې لوئے حکمتونه دي :

۱ – **اول حکمت** : دادے چه د کهجورے د وُنې میوه تول کال پاتے کیږي دا نهٔ ختمیږي. نو دغه شان د مؤمن د نفس نه هر وخت ښائسته اعمال او اخلاق په سفر او حضر، شپه او ورځ هر وخت کښې راوځي. اے الله ! مونږ دا شان جوړ کړه.

تهٔ به مؤمن وینے چه یا به په عبادت کښې وي، یا په خدمت کښې، یا په علم زده کولو، یا په علم ښودلو، یا جهاد، یا مخلوق ته په نفع رسولو کښې.

۲ – **حکمت** : د کهجورے تول اجزاء نفع ورکوي. نو دغه شان مومن هم په خپلو تولو اجزاؤ سره هر وخت نفع ورکونکے وي. په یو حدیث کښې دي : [إِنَّ مَثَلَ الْمُؤْمِنِ مَثَلُ النَّخْلَةِ مَا أَتَاكَ مِنْهَا نَفَعَكَ]

(د مؤمن مثال لکه د کهجورې د بوټي دے چه د هغې هر جزء که ته ئ حاصل کړې نو نفع درکوي)۔
[رواه البزار بإسناد صحيح، كما في الفتح : ١/ ١٢٠]
په يو بل حديث کښې دي : [مَثَلُ الْمُؤْمِنِ مَثَلَ النَّخْلَةِ مَا أَخَذْتَ مِنْهَا مِنْ شَيْءٍ نَفَعَكَ]
(د مؤمن مثال لکه د کهجوري بوټي دے، چه کوم شے ترے ته راواخلے نفع درکوي)۔
[السلسلة الصحيحة، رقم : ٢٢٨٥]

۳ - حکمت : کهجوره يوه ده خو ميوے ئے جدا جدا خوندونه او رنګونه او فائدے لري۔ تردے چه ويل شوي دي چه په دے کښې يو سل شل (۱۲۰) قِسمه دي۔ نو دغه شان د مؤمن مسلمان نه مختلف عملونه راوځي۔ ددهٔ د زړهٔ نه د رحمٰن ذات محبت، د ژبے نه ئے د قرآن تلاوت، د بدن او اندامونو نه ئے داسے عمل رنه راوځي چه رحمٰن ذات خوشحالوي او د الله بندګانو ته ترے نفع ملاويږي۔ رسول الله ﷺ او صحابه کرام – رضي الله عنهم – به د نيکئ او ښيګړے په ټولو کارونو کښې حاضر وو۔

٤ - حکمت : په کهجوره کښې بدني صحت، جنسي قوت، خوند او غذاء وي۔ نو دغه شان د مومن په اعمالو کښې عجيب قوتونه دي چه قرآني آيتونه، نبوي احاديث او سلفيؒ آثار ديته اشاره کوي۔ لکه يو حديث کښې دي : (الله تعالیٰ چه کله غرونه پيدا کړل نو ملائکو تعجب وکړو او عرض ئے وکړو : اے زمونږ ربه ! ستا په مخلوق کښې د غرونو نه سخت بل شے شته ؟ الله وفرمايل : وسپنه ده۔ بيا ئے وفرمايل : اور دے، بيا ئے وفرمايل : اوبهٔ دي، بيا ئے وفرمايل : هواء ده۔ بيا ئے وفرمايل : د انسان دا عمل دے چه پټه سره صدقه وکړي ...... الحديث)۔
[سنن الترمذي]

نو وګوره د مومن د عمل قوت ته۔

علي ﷺ فرمائي : څوك مال نه بغير عزت، طاقت نه بغير مخوريزي او ملګرو نه بغير قوت غواړي، هغهٔ له پکار دي چه د الله د نافرمانئ د ذلت نه دے د هغهٔ د طاعت عزت ته راووځي۔ او دا مخکښے تير شو۔

٥ - حکمت : د کهجورے د وُنے څانګه آسمان طرفته وي۔ نو دغه شان د مؤمن اعمال آسمان طرفته خيژي .... بيا دا وُنه په اوه اويا (۷۷) څانګو مشتمله ده۔ دا ډيره ګنړه کوره، پرقيدونکے او ډولي وُنه ده، په دے باندے باغ ډولي ښکاري او ددے نه انسانان، مارغان او حيوانات نفع اخلي۔ الله تعالیٰ دے مونږ په خپل رحمت سره داسے جوړ کړي۔

۳ - دريم مثال : د مؤمن مثال لکه د شاتو مچئ دے چه خوراك کوي نو پاك شے خوري، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

ارتوي، نو پاك شے ارتوي۔ او دا د يو مرفوع حديث الفاظ هم دي كوم چه ابو رزين العقيلي رضي الله عنه نقل كړي دي۔[الصحيحة، رقم: ۳۵۵]

٤ - **ځلورم مثال**: د عبد الله بن عمرو ﷺ په حديث كښے دي: (د مومن مثال لكه د شاتو مچۍ دے، كه خوراك كوي نو پاكيزه خوراكه، كه ارتوي نو پاك شے ارتوي، كه په نرۍ لرګۍ كيني نو هغه نۀ ماتوي۔ او د مومن مثال لكه د ويلى كړو سرو زرو دے كه پوكے وركړے سور كيږي اوكه تلے ئے نو نۀ كميږي)۔

[أخرجه البيهقي، كما في كنز العمال]

په پورتنو دوه مثالونو كښے ګنړ باريكات دي:

١ - شاتو مچۍ په ټولو حيواناتو كښے د پليتۍ نه ځان ډير لرے ساتي، د هغه د پاكيزه شيانو او خوشبويانو سره مينه كوي۔ او دا په ټولو حيواناتو كښے ډير زيركه او ډير زيات خپله لاره پيژندونكے دے، تردے چه علماء وائي: دا د زرو ميلونه زيات سفر كوي او بيا په آسانئ سره خپل كورته راواپس كيږي۔ او دا د خپل كورنه دفاع كوي او د هغے نه حشرات شړي او څوك چه دے له په بد نيت خواله ورځي نو دا پرے چك لګوي۔

او دا په خپل ګبين سره خلكو ته نفع وركوي او په دے كښے د خلكو لپاره شفاء ده، او دا كورونو، ونو، ميوو او ګلانو ته نقصان نۀ رسوي۔ او دا د خپل امير تابعداره وي۔ او ددے لپاره نور ډير خواص شته چه په خپل ځائے كښے بيانيږي۔

او دا ټول كارونه په يو كامل مومن كښے موجود دي۔ ځكه دا به ډير زيات د حرامو او شبهاتو نه لرے وسي۔ صرف پاكيزه خوراك به خوري، صرف پاكيزه وينا به كوي۔ ﴿ وَهُدُوٓا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوٓا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴾ [حج: ٢٤] (پاكيزه وينا طرفته د دوئ لار ښوونه شوے او د ستائيلے شوي ذات لارے طرفته د دوئ هدايت شوے)۔ ﴿ طِبْتُمْ ﴾ [زمر: ۷۳] (تاسو پاكيزه وئ)۔ ﴿ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ ﴾ [نحل: ۳۲] (دا هغه خلك دي چه ملائك ترے د پاكيزګۍ په حالت كښے ساه اخلي)۔

او مومن هم زيركه وي چه حقه لاره پيژني۔ او ددۀ نه هميشه لپاره پاكيزه اعمال او اقوال راوځي۔ ﴿ وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ﴾ [كهف: ٤٦] (او غوره باقي پاتے كيدونكي اعمال ستا د رب په نيز د ثواب په توګه او د اميد ساتو په توګه ډير غوره دي)۔

او مومن هم هيڅ يو مسلمان ته چه هغه ضرري نۀ وي، ضرر نۀ وركوي۔ [اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَيَدِهٖ] (پوره مسلمان هغه دے چه نور مسلمانان د هغۀ د ژبے او د لاس د

ضرر نه په امن وي)۔
او مومن تابع او فرمانبردار وي، لکه روستو راځي: که چرے دا دیو کانړي دپاسه اچولے شي نو کيني، که تابع کولے شي نو تابع کيږي۔
او سره ددے دا ډير حساس وي خپل دشمنان پيژني او هغوئ سره د الله لپاره دشمني ساتي او هغوئ سره په ژبه او توره او وسلے سره جنګ کوي او خپلے خواته هغه څوك نۀ پريدي چه څوك پرے دين خرابوي او اسلامي کور پرے ورانوي۔
او د مومن په ويناګانو کښے د خلکو لپاره شفا وي، ددے په وجه الله تعالیٰ ډير خلکو ته هدايت کوي، ځکه دا د الله د کتاب او د هغۀ د نبي (ﷺ) د سنت نه او يا د سلفو د کلام نه راوتے وي او په اخلاص او للهيت باندے بنا وي۔
۲ – بله باريکي په دے مثال کښے داده: چه په دے کښے ئے د ويلی کړو سرو زرو سره د مومن تشبيه ورکړے، که دے له پوکے ورکړے شي نو سرۀ کيږي او که وزن کړے شي نو نۀ کميږي۔ په دے تشبيه کښے ښکاره حکمتونه دادي:
۱ – يو دا چه سرۀ زر د ټولو مالونو بنياد، د دنيا او آخرت ښائست دے، دا په دوايانو کښے نفع ورکوي، او په دے باندے د بادشاهانو تاجونه لږي، دا په ويلی کولو سره صفا کولے شي او څومره چه ويلی کيږي نو صفا کيږي، او زرګرئے دے دپاره ويلی کوي چه صفا شي، نۀ ددے لپاره چه ظلم پرے وکړي۔ او د تعجب خبره داده چه کوم شے ويلی کولے شي نو هغه په سوزولو سره کميږي، خو سرۀ زر داسے نۀ دي۔ او بنيادي طور سره سرۀ زر په کانونو او خاوره کښے وي، او د مال سره ګډ وي، او کله ئے چه زرګر ويلی کوي نو د هغے نه خاوره او شګه لرے شي، او د سرو دپاره مړل هم ضروري دي۔ او په سرو کښے ګڼرے فائدے دي چه دا په دوايانو کښے هم استعمالولے شي۔
نو دغه شان مومن هم دے: (۱) دا د کائناتو اصل دے (۲) او دا د جهان ډول او زينت دے۔ کله چه دا ورك شي نو جهان ورك شي، او کله چه دا موجود وي، قيامت به نۀ قائميږي او نۀ به کائنات ختميږي۔ او دا ټول ددۀ په سبب ولاړ وي۔ (۳) او د مومن زړۀ د الله عز وجل د نُور او عظمت لپاره ځائے دے (٤) او په امتحان او آزمائشونو سره د مؤمن نور، رڼړا او تازګي او د خالق سره مينه محبت زياتيږي۔ او الله تعالیٰ چه په دۀ باندے امتحان راولي نو دے لپاره چه صفا ئے کړي، نۀ ددے لپاره چه ظلم پرے وکړي۔ په آزمائش سره په دۀ کښے خير او ښيګړه، دعاء، عاجزي، خپل رب ته انابت او خضوع زياتيږي۔ او مومن پټ وي خو کله چه پرے آزمائش وکړے شي نو خلکو ته د هغۀ مرتبه او چرچه راښکاره شي، عزت ئے مشهور شي۔ په

Maktaba Tul Ishaat.com

آزمائشونو سره د مومن او منافق ترمينځه فرق راښکاره کيږي، لکه څنګه چه ويلی کولو سره سرهٔ زر د ګيلټو نه جدا کيږي، دارنګ سرهٔ کبريت او ماس جدا کيږي۔ (کبريت : ګوګړ، يو قِسم پاره ده)۔

او مومن لپاره ابتلاء او امتحان ضروري دے : ﴿ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ﴾ [عنکبوت: ٢] (آيا د خلکو دا ګمان دے چه دوئ به داسے پرېښودے شي چه د ايمان دعویٰ به ئے کړے وي او په دوئ به امتحان نهٔ راځي)۔

٥ - **پنځم مثال** : د مومن مثال لکه د هغه کور دے چه د بهر نه په ظاهره کښے وران دے خو کله چه تهٔ ورته ننوځے نو ډير ډولی درته ښکاره شي۔ او د بدکار سړي مثال لکه د سرو زرو د هغه کړو دے چه اوچتے او چونه دارے وي، چه څوك ئے ووينی نو تعجب کوي خو ددهٔ ډډ د ګندګئ نه ډك وي۔ (دا حديث دے چه امام بيهقيؒ د ابو هريره رضی الله عنه نه مرفوعًا نقل کړے۔[وهو فی الکنز : ١٤٩ ، رقم : ٧٣٦]

نو دا ډير عجيب مثال دے چه ددے نه د حکمت چينے راوځي :

١ - څکه مومن د خپل باطن د اصلاح په کارونو کښے زيات وخت لګوی په نسبت سره لباس ښائسته کولو ته۔

٢ - او دا په ظاهره کښے زوړ شکل والا، خيرنو جامو والا وي خو کله چه تهٔ ورسره کينے نو تهٔ به ئے ومومے چه ددهٔ خبرے خوږے دي، نيك عمله دے او پوره خير خواه دے۔

٣ - او ضروري ده چه انسان څوك سپك ونهٔ ګنړي ترڅو پورے ئے چه په هغهٔ باندے تجربه نهٔ وي کړې يائے ورسره ګاوند نهٔ وي راغلے يائے ورسره سفر نهٔ وي کړے، څکه کيدے شي چه دے ئے د جامو د زوړ والی او د مخ د زيړ والی په وجه سپك ګنړي او هغه د الله تعالی په نيز لوئے سړے وي۔ لکه نبی ﷺ فرمائي : [اَلتَّقْوٰی هٰهُنَا، التَّقْوٰی هٰهُنَا، وَأَشَارَ إِلٰی صَدْرِهٖ]

(تقوئ دلته وي، تقوئ دلته وي او نبی ﷺ خپلے سينے ته اشاره وکړه)۔ [صحيح مسلم]

٤ - او کله چه زړهٔ د انسان د ايمان او محبت نه ډك نهٔ وي نو ښکاره ډول له هيڅ اعتبار نشته، لکه چه د يو انسان زړهٔ د شرك، د دنيا د محبت او د تقليد نه ډك وي، ځان لوئے سړے ګنړي۔

دے وجے نه مومن له مناسب دي چه په ښکاره صورتونو باندے دهوکه ونهٔ خوري، بلکه دهٔ له پکار دي چه د ظاهري لباس او ويښتو د ډولی کولو په نسبت ددهٔ اهتمام د باطن د جوړوالی سره زيات وي۔

٦ - **شپږم مثال** : په صحيح حديث کښے راغلی دي چه ابو عنبه خولانی ؓ فرمائي، رسول الله

ﷺ وفرمایل: [إِنَّ لِلَّهِ آنِيَةً مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ، وَآنِيَةُ رَبِّكُمْ قُلُوْبُ عِبَادِهِ الصَّالِحِيْنَ، وَأَحَبُّهَا إِلَيْهِ أَلْيَنُهَا وَأَرَقُّهَا] [الصحيحة: ۱٦۹۱]

(په زمکے والو کښې د الله تعالیٰ څۀ لوښې شته دے، او ستا د رب لوښې د هغۀ د نیکانو بندګانو زړونه دي، او الله تعالیٰ ته په دے کښې د ټولو نه زیات خوښ هغه زړونه دي چه هغه نرم او نرې وي)۔

۱ – د لوښې نه بنده هله نفع اخلي چه لوښے په خپل طبعي حالت کښې پروت وي۔ اوکه الټه پروت وي نو بیا پکښې هیڅ شے نۀ پریوځي۔

۲ – او دا هم ضروري ده چه د ګندګیو، خیرو او خاورو نه به پاك وي، ګنې که په دے کښې قیمتي شے پریوزي لکه شات او ګبین او ګُج، نو بیا په دے کښې څوك رغبت نۀ لري ځکه پاك شے د خیرن سره ګډ شوے دے۔

۳ – بیا لوښے هره ورځ د خالي کیدو نه پس وینځلے کیږي دے دپاره چه دوباره په دے کښې نفعمن شیان واچول شي، او دغسے ټول عمر دا کار کیږي۔

٤ – او کله چه لوښے مات شي نو بیا خلك دا په بل لوښي سره بدلوي چه هغه ددے نه ښۀ وي، یائے د سپینو او سرو زرو په تارونو سره تړي۔

٥ – او په لوښو کښې فرق دے، ځینے فراخه وي چه ټنونه پکښې ځائیږي، ځینو کښې یو من دوه منه راځي، او ځینو کښې کیلو دوه کیلو راځي، او ځینو کښې صرف یو څاڅکے دوه څاڅکي راځي۔

٦ – انسان دا غواړي چه په هغه لوښو کښې څښل وکړي چه هغه د شیشے وي یا سپینو زرو پشان پاك او صفا وي۔

نو دا مثال په دے راتلونکي شیانو تطبیقیږي:

۱ – ستا لپاره ضروري ده چه ستا زړۀ د ټولو شبهاتو او خواهشاتو، کینے، حسد او خیانت نه روغ وي۔ ګنې بیا د ایمان او د الله د محبت لپاره ځائے نۀ جوړیږي۔

۲ – او زړۀ لپاره ضروري ده چه دا په توبه، استغفار او نیکیو سره هره ورځ صفا کړے شي۔

۳ – اوکله چه زړۀ په څۀ غفلت او خواهش کښې پریوزي نو زر دے خپل رب ته په توبے، تضرع او عاجزئ سره رجوع وکړي۔ او دا یقین دے لري چه که ددۀ خالق ددۀ کار سم نۀ کړو نو دا به خامخا تباه او برباد شي۔

٤ – او د زړونو فرق او تفاوت هم معلوم دے، ځکه مومن همیشه ددے کوشش کوي چه ددۀ زړۀ د الله د معرفت او پیژندګلو لپاره فراخه وي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۵ – دارنګ ددهٔ همیشه دا کوشش وی چه زړهٔ ئے نرم وی۔ او زمونږ په دے زمانه کښے د زړونو نرموالے ډیر کم دے خصوصًا په عجمو کښے۔

۷ ـ اووم مثال : جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (د هغه مومن مثال چه قرآن لولی لکه د سمترے دے چه خوند ئے هم مزیدار دے او رنګ ئے هم مزیدار دے، او د هغه مومن مثال چه قرآن نهٔ لولی لکه د کهجورے پشان دے چه خوند لری خو خوشبوئے نهٔ کوی۔ اود هغه منافق مثال چه قرآن لولی لکه د کشمالی دے چه بوئے لری خو خوند ئے تریخ دے۔ او د هغه منافق مثال چه قرآن ئے نهٔ وی لوستلے لکه د مره غونی دے چه خوند ئے هم تریخ او بوئے هم تریخ دے۔[بخاری]

نو دا مثال مومن لره یو طرفته خوشحالوی او بل طرفته ئے غمژن او خفه کوی۔

(۱) ځکه په سنګتره کښے ډیرے بدنی فائدے دی۔ (۲) ددے خوشبوئے مزیداره وی۔ (۳) په دے کښے تازګی او رونق وی۔ (٤) دا قیمتی شے دے۔

نو مومن هم داسے دے : (۱) ددهٔ اخلاق ډولی وی او ددهٔ نفع بل چاته رسیږی۔ کله چه تهٔ ددهٔ سره ملګرے شے نو دا به وموے چه نرم خویه او په دین عمل کونکے دے۔ او کله چه ورسره کینے نو د ښائسته اخلاقو، نفعمن کیدو او د خدمت په وجه به دے ورسره مینه پیدا شی، ددهٔ د خُلے نه به د الله عز وجل او د حکمت خبرے راوځی چه ددے نه خلك نفع اخلی۔ او مومن د خپل مخ د رڼرا او د غاښونو د پړق او د ښائسته وضع قطع په وجه سره د کتونکو په سترګو کښے ځلیږی۔ او مومن د الله په نیز قیمتی دے نو ځکه ئے د خلکو په نیز هم قیمتی جوړ کړے۔ الله تعالیٰ دے مونږ په خپل فضل سره داسے جوړ کړی۔

۸ ـ اتم مثال : ابو هریره ﷺ فرمائی، رسول الله ﷺ وفرمایل : (د نیك ملګری مثال لکه د مشکو خرڅونکی سړی دے چه یا خو به تاله څهٔ درکړی او یا به ئے ترے تهٔ په پیسو واخلے او یابه ترے تهٔ خوږ بوئے محسوسوے۔ او د خراب ملګری مثال لکه د لو هار دے چه یا به دے جامے وسیزی او یا به ترے بدبوئے محسوسوے)۔ [بخاری]

نو مومن په هر حالت کښے خلکو ته نفع رسوی خاصکر قرآن او سنت والا۔ ځکه دا داعی وی تاته په خپل حکمت سره نفع درکوی، یابه ترے تهٔ پوښتنه وکړے نو هغه به تاته نفعمن حکمتونه بیان کړی۔ او یابه هغه د بل چا سره خبرے کوی نو تهٔ به د هغهٔ د پاکیزه کلماتو نه نفع حاصله کړے۔ او په دے حدیث کښے چه جامے ذکر دی نو جامے د دین مثال دے، او ددے دواړو ترمینځه د مشابهت ګنړے وجے دی۔ یو دا چه جامه ډول او زینت وی، د ګرمئ یخنئ نه پړے

انسان بچ کیږی، او ترڅو پورې چه پوره جامه وانهٔ غوندی نو د هغې څینې برخه اغوستلو سره انسان ته هیڅ فائده نهٔ رسی، لکه انسان قمیص واچوی او پرتوګ وباسی نو دا ناپوهی او کم عقلی ده۔ نو دغه شان دین هم ډول او زینت دے، او دا د الله د عذاب نه د بچاؤ ذریعه ده، او په پوره اسلام کښې ننوتل ضروری دی، او څوك چه نیك عمل کوی او عقیده ئې خرابه ده نو ګویا دهٔ قمیص اچولے خو پرتوګ ئې وښکلے دے۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٩- فائده

درې قسمه ګناهونه

که تا په دې سوچ او فکر وکړو او خپل ځان دې پرې وتللو نو د غم نه به ډك شې :
او هغه دا چه :
ګناهونه په درې قِسمه دی : (١) داسې کبائر (لوئې ګناهونه) چه انسان د اسلامی دین نه وباسی لکه کفر، شرك، مرتد کیدل، شریعتِ مطهره غورزول او ددې په ځائې وضعی قوانین نافذول او داسې نور۔
(٢) کبائر او ښکاره ګناهونه لکه زنا، لواطت، شراب خوری، مور پلار نافرمانی، جادو، چا باندې تور لګول، د خلکو مالونه په باطله طریقه خوړل، غیبت، چغلی، کنځل، مونځ پریښودل یا د اسلام نور ارکان پریښودل او داسې نور۔
نو په دې دوه قسمه ګناهونو کښې ډیر خلك مبتلا دی، والعیاذ بالله۔
خو عام مسلمانان ددې نه د بچ کیدو کوشش کوی او ددې ضررونه پیژنی او څومره چه کیدې شی هغې نه ډډه کوی۔
(٣) خو دلته درې قِسم داسې لوئې لوئې ګناهونه شته دې چه هغې ته د ملتزمینو مؤمنانو هم خیال نشته دې پاتې لا عوام مسلمانان۔ حالانکه هغه ډیر زیات ضرر رسونکی ګناهونه دی او ډیرې خرابې نتیجې لری۔ او هغه دا راتلونکی ګناهونه دی :
١ – خپل رب عز وجل هیرول۔
٢ – هغهٔ طرفته کمه توجه کول۔
٣ – هغهٔ طرفته کم رغبت او مینه لرل۔
٤ – بې شرمی اختیارول او هغهٔ نه حیاء نهٔ کول۔
٥ – هغهٔ ته خشوع نهٔ کول او یا ډیره کمه خشوع کول۔
٦ – هغهٔ نه نهٔ ویریدل۔
٧ – د هغهٔ تعظیم او احترام نهٔ کول۔
٨ – د هغهٔ شیانو تعظیم کول او لوئې ګنړل چه هغه الله سبحانه سپك ګرځولی دی۔

۹ – هغهٔ سره په ادب نهٔ چلیدل۔
۱۰ – د الله په جانب کښې کم غیرت کول۔
۱۱ – د الله سبحانه وتعالیٰ د حرام کړو څیزونو د ارتکاب کولو په وخت نهٔ غصه کیدل او ددې هیڅ پرواه نهٔ لرل۔
۱۲ – په هغه ویناګانو او اعمالو کښې ډیر مشغولیدل چه د انسان د شان سره مناسب نهٔ وی۔ او په لغویاتو کښې ډیر ننوتل۔
۱۳ – د الله سره مینه نهٔ کول چه دا ډیره عامه بیماری ده۔
۱۴ – د الله سبحانه وتعالیٰ نه بې پروائی اختیارول۔
۱۵ – په اقوالو او اعمالو کښې د اخلاص اهتمام نهٔ کول۔
۱۶ – د آسمانونو او د زمکې په بادشاهت کښې سوچ او فکر نهٔ کول۔
او داسې مرضونه چه زیاتره خلك ئې د سره مرضونه نهٔ ګڼړی۔
اوس د الله عز وجل د کتاب نه ددې دلائل واوره :
۱ – الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللهَ فَأَنْسٰهُمْ أَنْفُسَهُمْ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ ﴾ [حشر: ۱۹] (او د هغه خلکو غوندې مهٔ جوړیږئ چه الله ئې هیر کړو نو الله د هغوئ نه خپل ځانونه هیر کړل او همدا خلك پوره نافرمانه دی)۔
نو الله تعالیٰ دوئ ته پوره فاسقان وویل۔
۲ – او فرمائی : ﴿ وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَى بِجَانِبِهِ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ كَانَ يَؤُوسًا ﴾ [اسراء: ۸۳] (او کله چه مونږ په انسان باندې نعمت وکړو نو مخ واړوی او خپل اړخ لرې کړی، او کله چه ورته تکلیف ورسی نو بیا ډیر نا امیده وی)۔
او فرمائی : ﴿ وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنْسَانِ أَعْرَضَ وَنَا بِجَانِبِهِ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُو دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴾ [فصلت: ۵۱] (او کله چه مونږ په انسان باندې نعمت وکړو نو مخ واړوی او خپل اړخ لرې کړی او کله چه ورته تکلیف ورسی نو بیا پلنې پلنې دعاګانې غواړی)
او فرمائی : ﴿ مَرَّ كَأَنْ لَمْ يَدْعُنَا إِلٰى ضُرٍّ مَّسَّهُ ﴾ (نو داسې وګرځی چه ګویا مونږه ئې بیخی خپل هغه تکلیف ته چه ورته رسیدلې وو، نهٔ یو رابللی) [یونس : ۱۲]
۳ – او فرمائی : ﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَإِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴾ [شرح: ۷] (نو کله چه تهٔ وزګار شې نو بیا ځان ستړې کړه او خپل رب ته رغبت کوه)۔
او فرمائی : ﴿ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسٰرِعُونَ فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خٰشِعِينَ ﴾ [انبیاء:

Maktaba Tul Ishaat.com

۰۹۱] (بیشکه دویٔ به په تولو نیکیو کښې وړاندې والې کولو او مونږ به ئې په رغبت او ویرې سره رابللو او دویٔ مونږ ته عاجزي کونکي وو).

او فرمائي: ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا ﴾ [کهف: ۲۸] (او د هغه چا خبره مهٔ منه چه د هغهٔ زړهٔ مونږ د خپل یاد نه غافله کړے).

او فرمائي: ﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا ﴾ [طه: ۱۲٤] (او چا چه زما د ذکر نه اعراض وکړو نو ددهٔ ژوند به تنګ وی).

٤ – او فرمائي: ﴿ يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللهِ وَهُوَ مَعَهُمْ إِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ﴾ [نساء: ۱۰۸] (دویٔ د خلکو نه پټیږی او د الله نه حیاء نهٔ کوی حالانکه هغه د دویٔ سره وی کله چه دویٔ په هغه خبرو باندې شپه تیروی چه هغه ئې نهٔ خوښوی).

او فرمائي: ﴿ يٰٓأَيُّهَا الْإِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ الَّذِىْ خَلَقَكَ فَسَوّٰكَ فَعَدَلَكَ ﴾ [انفطار: ٦، ۷] (اے انسانه! تهٔ په خپل عزتمن رب باندې چا دهوکه کړے ئې هغه ذات چه تهٔ ئې پیدا کړے او برابرئې کړے او اندامونه ئې درله سم سم جوړ کړل).

او فرمائي: ﴿ لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللهِ وَ تِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴾ [حشر: ۲۱] (که چرې دا قرآن مونږ په غرهٔ باندې رالیږلے وے نو تابه دا لیدلے وو چه عاجزي کونکے به وو او د الله د ویرې د وجې نه به ټق چاودلے وو، او د امثالونه مونږ خلکو لپاره بیانوو دې لپاره چه دویٔ فکر وکړی).

نو په دې آیتِ کریمه کښې انسان ته زجر او رټنه ده چه دا ډیره کمه خشوع کوی او د الله نه ئې ویره کمه ده.

۷ – او فرمائي: ﴿ مَا لَكُمْ لَا تَرْجُوْنَ لِلّٰهِ وَقَارًا وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴾ [نوح: ۱۳، ۱٤] (په تاسو څهٔ شوی دی چه تاسو د الله لپاره ډیر کم وقار په زړونو کښې لرئ حالانکه هغهٔ تاسو حالت په حالت پیدا کړئ). یعنی تاسو د الله لپاره د عظمت عقیده نهٔ لرئ.

او فرمائي: ﴿ وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا ﴾ [هود: ۹۲] (او تاسو الله د خپلو شاګانو نه شاته وګرځاوهٔ).

ظهری: هغه شئ ته وائي چه په هغې باندې څوك باك نهٔ کوی. (تسهیل).

۸ – او فرمائي: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهُ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴾ [آل عمران: ۱٤]

او فرمائی : ﴿لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ﴾ [حجر: ۸۸] (خپلے سترگے هغه ډول ډال ته مهٔ اوږدوه کوم چه ما د دوئ پشان خلکو ته په هغے سره فائده وکړے)۔

۹ – او فرمائی : ﴿وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ [حج: ۳۲]

(او څوك چه د الله د دین د عزتمنو شیانو قدر کوی نو دا د زړونو اخلاص دے)۔

او فرمائی : ﴿يَـاَيُّهَا الَّـذِيْـنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْآ اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ﴾ [حجرات: ۲] (او تاسو خپل آوازونه د نبی په آواز مهٔ وچتوئ او مهٔ هغهٔ ته داسے په زوره آوازونه کوئ څنگه چه تاسو خپلو کښے یو بل ته په زوره آوازونه کوئ هسے نهٔ چه ستاسو عملونه برباد شی او تاسو ته پته هم نهٔ وی)۔

او فرمائی : ﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ مَا حَرَّمَ اللهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ﴾ [توبه: ۲۹] (هغه خلکو سره جنگ کوئ چه هغوئ په الله او په ورځ د آخرت ایمان نهٔ لری او نهٔ هغه شیان حرام گڼری کوم چه الله او د هغهٔ رسول حرام کړی وی او نهٔ د حق دین تابعداری کوی)۔

نو دا د الله عز وجل سره د بے ادبئ معامله کول دی، والعیاذ بالله۔

۱۰ – او فرمائی : ﴿اَلْمُنَافِقُوْنَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ أَيْدِيَهُمْ نَسُوا اللهَ فَنَسِيَهُمْ إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ﴾ [توبه: ۶۷] (منافقان خپلو کښے د یو بل ملگری دی چه د بدئ حکم کوی او د نیکئ نه بندول کوی او خپل لاسونه د (هر خیر نه) راکاږی، دوئ الله له هیر کړے دے نو هغهٔ دوئ له هیر کړل، واقعی چه منافقان هم دوئ نافرمانه دی)۔

نو ددے نه معلومه شوه چه منافقان د خپل رب لپاره هیڅ غیرت نهٔ کوی۔

۱۱ – او فرمائی : ﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ أُولُوْا بَقِيَّةٍ يَّنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيْلًا مِّمَّنْ أَنْجَيْنَا مِنْهُمْ وَاتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مَا أُتْرِفُوْا فِيْهِ وَكَانُوْا مُجْرِمِيْنَ﴾ [هود: ۱۱۶]

نو دا د الله د حرام کړو شیانو د عزت ماتیدو په وخت نهٔ غصه کیدل دی۔

۱۲ – او فرمائی : ﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ﴾ [مومنون: ۳] (او مومنان هغه خلك دی چه دوئ د لغویاتو نه مخ اړوی)۔

﴿وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ اَعْرَضُوْا عَنْهُ﴾ [قصص: ۵۵]

(اوکله چه دوئ لغوه خبره واوری نو مخ ترے واړوی)۔

او فرمائی : ﴿فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ﴾ [طور: ۱۱:۱۲]

(نو په دے ورځ تباهی ده هغه دروغژن گڼرونکو لپاره چه دوئ په بکواس کښے لوبے کوی)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۳ - او فرمائی: ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ ﴾ [بقره: ۱۲۵] (او کوم خلك چه مومنان دی هغوئ د الله سره سخته مینه کونکی دی).

او فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ﴾ [مائده: ٥٤] (اے ایمان والو! په تاسو کښے چه څوك د خپل دین نه واوړیدهٔ نو زر دے چه الله به داسے خلك راولی چه الله به د هغوئ سره مینه کوی او هغوئ به د الله سره مینه کوی).

نو په دے کښے اشاره ده چه د الله محبت پریښودل د منافقت لپاره لوئے سبب دے۔ والعیاذ بالله۔

۱٤ - او فرمائی: ﴿ أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَىٰ فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّىٰ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴾ [عبس: ٥-۷] (پاتے شو هغه څوك چه بے پروائی اختیاروی نو تهٔ هغهٔ ته خپل ځان پیش کوے حالانکه په تا باندے هیڅ ملامتیا نشته که هغه ځان پاك نهٔ کړی).

او فرمائی: ﴿ كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَىٰ أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَىٰ ﴾ [علق: ٦، ۷] (خبردار! بیشکه انسان خامخا سرکشی کوی په دے وجه چه خپل ځان وینی چه بے پرواه دے).

او فرمائی: ﴿ وَأَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ ﴾ [لیل: ۸-۱۰] (پاتے شو هغه څوك چه هغهٔ بخل وکړو او بے پرواه شو او ښه خبره ئے دروغژنه وګڼړله نو خامخا به مونږ دے په سخته لاره روان کړو).

۱٥ - او فرمائی: ﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ﴾ [هود: ۱٥] (څوك چه په خپل عمل سره دنیا او ددے ښائست غواړی نو مونږ به په دے کښے ورته د دوئ د عملونو بدله پوره پوره ورکړو او دوئ له به په دے کښے کمے نهٔ کیږی).

او فرمائی: ﴿ يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ [نساء: ۱٤۲] (خلکو ته ځان ښائی او د الله ذکر نهٔ کوی مګر لږ شان).

او فرمائی: ﴿ وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾ [کهف: ۱۱۰] (او د خپل رب په عبادت کښے دے هیڅوك برخه دار نهٔ جوړوی).

۱٦ - او فرمائی: ﴿ قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ [یونس: ۱۰۱] (ورته ووایه! په آسمانونو او زمکه کښے څهٔ شئ دے او کوم خلك چه ایمان نهٔ لری نو هغوئ ته آیتونه او ویره ورکونکی څهٔ فائده ورکولے شی؟).

او فرمائی: ﴿ وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴾ [یوسف: ۱۰٥] (او څومره ډیره آیتونه دی په آسمانونو او زمکه کښے چه دوئ په هغے ورتیریږی حالانکه دوئ د هغے نه مخ اړونکی دی).

او فرمائي: ﴿ وَهُمْ عَنْ اٰيَاتِهَا مُعْرِضُوْنَ ﴾[انبياء: ۳۲] (او دوئ د آسمانونو د نښو نه مخ اړونکي دي).
دے آيتِ کريمه کښے ئے په آسمانونو او زمکه کښے سوچ او فکر نهٔ کول د کافرو خوئے خصلت ښودلے.
او نبي اکرم ﷺ فرمائي: [وَيْلٌ لِمَنْ قَرَاهَا - اي الآيَاتِ الْعَشْرِ مِنْ آخِرِ آلِ عِمْرَانَ - وَلَمْ يَتَفَكَّرْ فِيْهَا] (هغه چا لپاره تباهي ده چه - د سورتِ آل عمران دا لس آخري - آيتونه ولولي او په دے کښے سوچ او فکر ونهٔ کړي). [رواه أحمد وغيره]
او د همدے ګناهونو نه دا راتلونکي ګناهونه دي:
۱۷ - د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) او د مومنانو لپاره نصيحت او خير خواهي نهٔ لټول.
۱۸ - د يقين کمزورتيا.
۱۹ - په ګپ شپ او بيهوده خبرو کښے خپل قيمتي وختونه بربادول.
۲۰ - توبے طرفته جلتي نهٔ کول، څکه په توبه کښے تاخير کول ګناه ده.
حسن بصريؒ فرمائي: څوک چه الله طرفته تادي کوي، دا کس الله تعالیٰ د هغه چا پشان نهٔ ګرځوي چه هغه د الله نه روستو روستو کيږي.

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰ ـ ناشنا فائده

مزدوجات (جوړه جوړه شیان) پیژندل

یعنی هغه دوه دوه شیان پیژندل چه الله رب العزت په خپل عزتمن کتاب کښې شریك په یوځائې ذکر کړی۔ ددې په پیژندو کښې ډیر لوئې علم پروت دې، او ددې مضمون په ځان کښې راوستل لویه کامیابی ده۔

او مزدوجات هغه دوه دوه خویونه دی چه قرآن کریم د هغې دواړو ترمینځه جمع والې راوستې او هغه دواړه شریك ذکر کوی۔ ځکه چه ترڅو پورې هغه بل نهٔ وی ذکر شوې نو دا نهٔ پوره کیږی، او چه هغه بل نهٔ وی ذکر شوې نو په دې یو سره پوره نفع نهٔ حاصلیږی۔ او دا مزدوجات ډیر زیات دی، مونږ د عمل او دعوت لپاره ددې نه حسبِ توفیق یو څو ذکر کوو۔ او هغه دادی :

(۱) الله تعالیٰ ایمان او تقویٰ یو ځائې ذکر کړی دی۔(۲) دارنگ ایمان او علم ئې یو ځائې کړې۔(۳) دارنگ علم او خشیت (٤) علم او خشوع (٥) ایمان او خوف (٦) صبر او مونځ (۷) صبر او شکر (۸) صبر او عمل صالح (۹) ذکر او شکر (۱۰) توکل او توبه (۱۱) عبادت او توکل (۱۲) توکل او انابت (۱۳) توکل او ایمان (۱٤) طاعت او توکل (۱٥) توبه او استغفار (۱٦) توبه او عمل صالح (۱۷) ایمان او هجرت او جهاد (۱۸) جهاد او هجرت (۱۹) ایمان او جهاد (۲۰) هجرت او نصرت (۲۱) امر بالمعروف او نهی عن المنکر (۲۲) ذکر او فکر (۲۳) توحید او رسالت (۲٤) توکل او په حق باندې د انسان کیدل (۲٥) ایمان بالآخرة او قرآن (۲٦) او کله ددې دواړو سره مونځ هم یوځائې کوی (۲۷) زکاة او مونځ (۲۸) ایمان او یقین (۲۹) صبر او یقین (۳۰) سنت او هدایت (۳۱) الله نه غفلت او منافقت (۳۲) کبر او د هر خیر نه محرومتیا (۳۳) د الله د امر تعظیم کول او د الله په بندگانو شفقت کول (۳٤) او په سورة نور کښې ئې طاعت، خشیت او تقویٰ جمع کړی (۳٥) رزق او عبادت : ﴿ فَابْتَغُوا عِنْدَ اللهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوهُ وَاشْكُرُوا لَهُ ﴾ [عنکبوت: ۱۷] (نو د الله سره رزق تلاش کړئ او د هغهٔ عبادت وکړئ او هغهٔ لپاره شکر وکړئ)۔(۳٦) د سورة عنکبوت په شروع کښې ئې د ایمان او آزمائش ترمینځه یوځائې والې راوستې (۳۷) په سورتِ یوسف او قصص کښې ئې د احسان، علم او حکمت ترمینځه جمع والې

راوستے (۳۸) د عنکبوت په آخر کښے ئے مجاهده او هدایت یو ځائے کړی (۳۹) د الله او د رسول (ﷺ) طاعت ئے په څلویښتو (۴۰) ځایونو کښے یو ځائے ذکر کړے (۴۰) حج او عمره ئے جمع کړی (۴۱) روژه او تقویٰ ئے یو ځائے کړی (۴۲) عبادت او تقویٰ ئے یو ځائے کړی: ﴿ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [بقره: ۲۱]

نو که ته په دے یو ځائے کړو شیانو کښے سوچ او فکر وکړے نو عجیب علم به ومومے۔

۱۱ - فائده : د اسلام درے قِسمونه

په (رستم مردان کښے په تاریخ : ۱۴۳۰/۴/۲۷) هـ کښے زما خطبه وه، د هغے په دوران کښے الله تعالیٰ زما په زړهٔ کښے دا خبره واچوله چه : د اسلام درے درجے دی :

۱ – هغه اسلام چه انسان صرف د کفر نه راوباسی : او هغه دا چه سړے د توحید او رسالت گواهی وکړی، مونځ، روژه، زکاة او حج ادا کوی او په دهٔ کښے هیڅ یو ایمان ماتوونکے شے موجود نهٔ وی۔

۲ – دویم هغه اسلام چه انسان د شهواتو (خواهشاتو) نه وباسی یعنی د ټولو گناهونو او نافرمانیو نه۔ او په دے معنیٰ سره اسلام او ایمان یو شے دے، ځکه چه دا طاعاتو او عباداتو لپاره مغناطیس دے او د گناهونو او نافرمانیو لپاره کسوټے دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ﴾ [مریم: ۵۹، ۶۰] (نو د دوئ نه پس داسے نا لائقه خلك راغلل چه مونځ ئے برباد کهٔ او د خواهشاتو پسے ولگیدل نو زر دے چه دوئ به د خپلے سرکشئ (د بدلے) سره مخامخ شی مگر هغه څوك چه توبه ئے کړه او ایمان ئے راوړهٔ او نیك عمل ئے وکړو)۔

نو معلومه شوه چه ایمان خواهشاتو لره دیکه کوی۔

۳ – داسے اسلام چه انسان د غفلتونو نه راوباسی : او په دے معنیٰ سره اسلام د احسان سره مرادف (هَم معنیٰ لفظ) دے۔ او احسان دادے چه ته د الله داسے عبادت وکړے گویا ته هغه وینے اوکه دا استحضار ئے نهٔ وی نو دا سوچ کول چه هغه خو مے وینی۔ او د غفلتونو نه مراد هر هغه شے دے بنده د خپل رب نه غافله جوړوی۔ کله چه د بنده اسلام کامل شی او د احسان درجے ته ورسی نو په هر یو شئ کښے دهٔ ته د الله تعالیٰ قدرت او حکمت ښکاری او په دے وخت کښے خپل رب رایادوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حسن بصريؒ فرمائي : د سړي کامل والے په څلورو شيانو راځي : (۱) چه په خپلو اخلاقو بانديے قادر وي. (۲) چه خبريے په تول سره کوي. (۳) چه په کوم شيئ سره معامله کوي نو د خپلے معاملے مالك وي. (٤) چه دومره خوراك کوي چه ضرر ورته نهٔ ورکوي.
[مفيد الهموم، ص: ۱۲٦]

۱۲ـ فائده : د دوستئ لائق مومنان

مؤمنانو سره دوستي او کافرانو سره دشمني کول واجب دي. او د الله تعالیٰ ولايت او دوستي صرف په همديے سره ملاويږي. لکه د عبد الله بن عباس رضي الله عنه په هغه حديث کښيے راغلي کوم چه مسند احمد کښيے روايت شويے ديے، او دا په اولني جلد کښيے د عمل صالح په شرطونو کښيے تير شويے.

خو کوم مؤمنان د دوستئ او محبت لائق دي ؟

نو په قرآن کښيے راغلي دي چه د دوستئ لائق هغه څوك دي چه دا څلور صفات په کښيے وي :

۱ – شرعي ايمان.

۲ – مونځونه په خپلو وختونو او شرطونو بانديے کول.

۳ – مستحقينو ته زكاة ورکول.

٤ – رب العالمين لپاره خضوع، خشوع او رکوع کول.

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِيْنَ آمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُوْنَ ﴾ [مائده: ٥٥]

(بيشکه ستاسو دوست الله او د هغهٔ رسول او هغه مومنان دي چه د مانځه پابندي کوي، زکاة ورکوي او دوئ رکوع کونکي وي).

او دا خلك د الله ډله ده او همدا کامياب خلك ديے. ايے الله ! مونږ هم په دوئ کښيے وګرزوه.

* * * * * *

۱۳ - فائده

مصیبتونه او د هغې علاج

زمونږ په دې زمانه کښې په مسلمانانو باندې پرله پسې مصیبتونه او آزمائشونه راغلل نو ددې مرضونو او فتنو علاج او دوائی څۀ ده ؟
نو مخکښې په (۱۵/۱) کښې مونږ ځینې علاجونه ذکر کړی، او دلته وایو چه : د مصیبتونو او فتنو علاج په هغه شرعي کارونو سره کیږی چه هغه په کتاب او سنت کښې ذکر شوی، ځوك چه په دې عمل وکړی هغه به نجات ومومی، او ځوك چه دا پریدی نو دا په خطره او تباهی کښې ولویدۀ۔
۱ - په الله او په ورځ د آخرت باندې قوی ایمان لرل : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴾ [حج: ۳۸]
(بیشکه الله د ایمان والو نه دفاع کوی، بیشکه الله هر خیانتګر او ناشکره نۀ خوښوی)۔
نو ستا د ایمان په اندازه به الله تعالیٰ تانه مصیبتونه او باطل پرست خلك لرې کوی۔ په یو صحیح حدیث کښې راغلی : [إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَحْمِي أَحَدُكُمْ مَرِيضَهُ مِنَ الْمَاءِ] (الله تعالیٰ چه کله یو بنده سره مینه شروع کړی نو هغه د دنیا نه داسې ساتی لکه په تاسو کښې یو کس چه خپل بیمار د اوبو نه ساتی)۔ [مسند أحمد]
۲ - تقویٰ : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [طلاق:۲، ۳] (څوك چه د الله نه ویریدۀ نو هغۀ لپاره به لاره وباسی او د هغه ځائے نه به ورله روزی ورکړی چه ګمان به ئے هم نۀ وی)۔
او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا ﴾ [انفال: ۲۹] (که چرې تاسو د الله نه ویریدئ نو تاسو لپاره به فرق کونکے شے مقرر کړی)۔
نو د (مخرج) او د (فرقان) په الفاظو کښې د غمونو، خفګانونو او مصیبتونو نه نجات ته اشاره ده او دا داسې حقه خبره ده چه هیڅ شك په کښې نشته۔
۳ - په الله باندې توکل او ځان سپارل : دا د مصیبتونو نه د بچ کیدو مضبوطه قلعه او د توکل کونکو لپاره قوی وسله ده۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ

Maktaba Tul Ishaat.com

جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴾ [طلاق: ٣] (څوك چه په الله توكل وكړي نو هغه ورله بس دے بيشكه الله خپل كار پوره كونكے دے يقينًا الله د هر يو شئ لپاره اندازه ټاكلے).

او الله فرمائي : ﴿ وَقَالَ مُوسٰى يَا قَوْمِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوْا إِنْ كُنْتُمْ مُسْلِمِيْنَ فَقَالُوْا عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا ﴾ [يونس: ٨٤، ٨٥] (او موسىٰ عليه السلام ووېل : اے زما قومه ! كه چرے تاسو په الله ايمان لرئ نو بيا په هغهٔ توكل وكړئ كه مسلمانان يئ، هغوئ ووېل : مونږ خاص په الله توكل كړے).

نو په دے آيتِ كريمه كښے موسىٰ عليه السلام د فرعون او د هغهٔ د لښكر د ظلم او زياتي په خلاف خپلو ملگروته د توكل حكم كړے.

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴾ [نحل: ٩٩] (د شيطان چال په هغه چا نهٔ چليږي چه هغوئ ايمان لري او په خپل رب ځان سپاري).

دلته الله سبحانه وتعالىٰ د هغه مومنانو نه د شيطان غلبه نفي كړے چه هغوئ خپل رب توكل كوي !

په يو حديث كښے دي : [مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَكُوْنَ أَقْوَى النَّاسِ فَلْيَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ]

(څوك چه په دے خوشحاليږي چه د ټولو خلكو نه زيات قوي جوړ شي نو هغه دے په الله ځان وسپاري). [رواه الحاكم في المستدرك] (داحديث سخت ضعيف دے، عبد الرحيم بن زيد العمي متروك و أبو المقدام هشام بن زياد ضعيف جدًا)

٤ – څلورم : صبر :

٥ – پنځم : ډير ډير مونځونه كول : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ [بقره: ١٥٣] (او تاسو د صبر او مانځه په ذريعه الله نه مدد غواړئ بيشكه چه الله د صبر كونكو ملگرے دے).

او نبي اكرم ﷺ فرمائي : [اَلظَّفْرُ مَعَ الصَّبْرِ]. او پوره حديث داسے دے : [اَلْفَرَجُ مَعَ الْكَرْبِ، وَالظَّفْرُ مَعَ الصَّبْرِ، وَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا] (د غم نه پس فراخي وي، د صبر نه پس كاميابي وي او د سختئ نه پس آساني وي).

[ذكره الشيخ في الصحيحة عن أنس مرفوعًا بإسناد صحيح]

او د نبي اكرم ﷺ دا عادت وو چه كله به څهٔ خبرے پريشانه كړو نو زر به ئے مانځه ته توجه وكړه. [سنن أبي داود]

او په يو حديث كښے دي : [وَكَانُوْا - أَيِ الْأَنْبِيَاءَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ - إِذَا فَزِعُوْا، فَزِعُوْا إِلَى الصَّلَاةِ]

(او انبياء كرام (عليهم السلام) به چه كله گهبراؤ شو نو زر به مانځه ته متوجه شول).

[ذكره الشيخ في الصحيحة]

د صبر او د مانځه فائدې خو د شمار نه بهر دي۔ د تولو نه کمه فائده ددې دواړو داده چه دې سره د الله مدد ملاويږي۔ والله المستعان.

٦ – شپږم: صدقه کول: الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرٰى ﴾ [ليل: ٥، ٦:]

نو په ورکړه کښې انسان ته د نيکئ لارې آسانيږي۔

په يو حديث کښې دي: [بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَايَا لَا يَتَخَطَّاهَا] **(په صدقې ورکولو کښې تادي کوئ ځکه مصيبتونه په دې نشي راختې)۔**

[رواه الطبراني في الأوسط . **ددې ګنړ سندونه دي چه د هغې په مجموعې سره دا حديث حسن درجې ته رسيږي۔** انظر المرعاة)۔

٧ – اووم: د مسلمانانو حاجتونه پوره کول او په سختيو کښې اخته خلکو باندې آساني راوستل: نبي اکرم ﷺ فرمائي:

[مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعَسِّرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَاكَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ ...... الحديث]

[رواه مسلم، كما في المشكاة: ١، كتاب العلم]

(کوم سړې چه ددنيا د سختيو او تنګيو نه د يو مسلمان يوه سختي او تنګي لرې کړي نو الله تعالىٰ به دقيامت په ورځ د هغۀ سختي اوتنګي لرې کړي، اوچاچه د يو تنګ دست سره آساني وکړه، الله به په دنيا او آخرت کښې د هغۀ سره آساني وکړي۔ او چا چه په يو مسلمان باندې پرده واچوله (د هغه عيب ئې پټ کړو) الله تعالىٰ به دنيا او آخرت کښې په هغه پرده واچوي۔ او الله تعالىٰ هغه وخته پورې ديو سړي مدد کوي څو پورې چه هغه د خپل مسلمان ورور په مدد کښې وي)۔

نو کله چه الله تعالىٰ ستا په مدد کښې وي نو بيابه ستا حاجتونه څنګه نۀ پوره کيږي؟ او تا نه به مصيبتونه څنګه نۀ لرې کيږي؟

٨ – اتم: په دې تولو کښې ډير قوي سبب: شرعي دعاګانې او نبوي ذکرونه دي: چه د مصيبتونو، دردونو او فتنو په لرې کولو کښې دا د تولو نه لويه وسله ده۔ ددې فضائل او فوائد ((حديثو په کتابونو)) کښې وګوره: يو څو ذکرونه او دعاګانې دادي:

١ – د يونس عليه السلام دعاء: دې سره چه څوك دعا وغواړي نو خامخا قبليږي، ځکه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

تعالىٰ فرمائي : ﴿ كَذٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ الْمُؤْمِنِيْن ﴾ [يونس: ١٠٣] (او دغه شان مونږ مومنانو له هم خلاصے ورکوو)۔

او نبي اکرم ﷺ فرمائي : (د يونس عليه السلام په دعاء سره چه هر يو مسلمان سړے په هر يو مصيبت کښې دعا وغواړي نو خامخا ئے الله قبلوي (او هغه داده) : [لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِيْنَ]

[رواه أبوداود والترمذي وغيرهما ، بإسناد صحيح]

٢ – [حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا]

دا دعاء هم قبليږي او الله پرے ډير شرونه او فتنے ختموي۔

٣ – [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ]

(بدئ نه اړول او د نيکئ توفيق ورکول صرف په الله سره دی)۔

٤ – معوذتين (آخري دوه سورتونه) لوستل : ځکه چه په دے دواړو باندے چه د کومو شرونو او مصيبتونو نه پناه ملاويږي نو هغه په بل شئ سره نۀ ملاويږي۔

نو په دے ذکرونو باندے يقين وکړه، رازونه به درباندے راپرانستے شي۔

* * * * * *

۱٤ - جليل القدر فائده

د انسانانو دا عادت دے چه کله دوئ ته بدني بيماري ولړي نو دے طرفته ډيره توجه کوي او ډير زر علاج کوي او ددے د ښئ کيدو ډير زيات غم ورسره وي، قِسما قِسم دوايانے استعمالوي، ګولئ خوري، ستنے وهي او د هر هغه شئ نه پرهيز کوي چه ډاکټر پرے بند کړے وي۔ حالانکه زياتره خلك روحاني بيمار دي او زړونه ئے ناجوړه دي او ددے علاج نهٔ کوي بلکه دا خبره ئے په خوا او خاطر کښے هم نهٔ راځي۔ سره ددے چه بدني بيماري دومره ضرر نهٔ ورکوي، بلکه کله په دے کښے فوائد هم وي۔ پاتے شو د زړونو بيماري نو دا تباه کن بيماري وي۔ زمونږ په دے زمانه کښے ډير مرضونه دي او وخت په وخت زياتيږي، او دا داسے خطرناك مرضونه دي چه ددے نه نور مرضونهٔ پيدا کيږي، که چرے الله د انسان حفاظت ونهٔ فرمائي نو تباه به ئے کړي۔

او هغه تباه کونکي مرضونه دادي : (۱) خشوع ختميدل يا ډير زيات کميدل۔ (۲) ناپوهي او په دين باندے نهٔ پوهيدل۔ (۳) کبر، فخر او ځان لوئے ګنړل۔ (٤) د الله سبحانه نه غافله کيدل۔ (۵) په بے فائدو شيانو کښے اخته کيدل۔ (٦) د يقين کمزورتيا او دا په کښے د تولو نه لويه بيماري ده۔ (۷) دنيا او ددے محبت او ښائست ته ورکړيدل۔

د ابو هريره ﷺ په حديث کښے راغلي چه رسول الله ﷺ فرمائي : [يُصِيْبُ أُمَّتِيْ دَاءُ الأُمَمِ فَقَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَمَا دَاءُ الْأُمَمِ؟ قَالَ: الْأَشَرُ، وَالْبَطَرُ، وَالتَّكَاثُرُ، وَ التَّنَاجُشُ فِي الدُّنْيَا وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ حَتّٰى يَكُوْنَ الْبَغْيُ]

(زما امت ته به د نورو امتونو بيماري ولړي۔ خلکو عرض وکړو : اے د الله رسوله! د نورو امتونو بيماري څهٔ ده؟ وے فرمايل : کبر او نخره، يو بل سره په مالونو ډيرولو کښے مقابله کول، په دنيا کښے د يو بل سره په زياتوالي باندے مقابله کول، يو بل سره حسد او کينه ساتل تردے چه په يو بل ظلم زياتے شروع کړي)۔ [الصحيحة : ٦٨٠]

❋❋❋❋❋❋

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵ - فائده : هدایت پیژندل

انسان ته نجات او خلاصے نهٔ ملاویږي مګر په دے سره، دے وجے نه ددے پیژندنه او دا په ځان کښے راوستنه ضروري ده. نو مونږ وایو : دلته یو څو مُهم شیان دي :

(۱) د هدایت معنیٰ (۲) د هدایت مرتبے (۳) د هدایت حاصلولو اسباب (٤) د هدایت موانع (٥) د هدایت فضائل او دیته د بندګانو حاجت او ضرورت.

د هدایت لغوی معنیٰ : امام راغبؒ فرمائی : هدایت، چاته په نرمئ سره لار ښودلو ته وائي. جرجانيؒ فرمائی : هدایت، چاته داسے لاره ښودل چه مقصد ته رسوونکی وی. او مناويؒ دواړه خبرے جمع کړی، دے وائي : هدایت په نرمئ سره چاته د مقصد لاره ښودل. کفويؒ فرمائی : هدایت چاته داسے لاره ښودلو ته وائي چه هغے باندے روانیدو سره انسان مقصد ته رسیدے شی، برابره خبره ده چه په دے باندے روانیدو سره مقصد ته ورسی اوکه نه.

علامه ابن قیمؒ فرمائی : هدایت بیان او لارښوونے او بیا توفیق او الهام ته وائي. او دا د بیان او ښودنے نه روسته وی، او بیان او لارښوونه صرف د رسولانو په ذریعه سره کیږی، نو کله چه بیان او لارښوونه او پیژندنه وشی نو ددے نه پس د هدایت توفیق راځي.

[فتح الباری : ۱/ ۲۱۱]

ابن کثیرؒ فرمائی : هدایت ارشاد او توفیق ته وائي او دا د ثبوت په معنیٰ سره وی.

د هدایت شرعي معنیٰ کومه چه دِ قرآن نه اخستے شویده : نو مونږ وایو چه مهتدی (هدایت موندونکے) هغه څوك دے چه په الله رب العزت ایمان لری او هغهٔ سره هیڅوك نهٔ شریکوی، حق او صواب وپیژنی او بیائے په خپل وخت کښے رایادوی، بیا ورته ددے توفیق ملاؤ شی او څنګه چه مناسب وی هغه ادا کړی او عمل پرے وکړی، او بیا په دے برابر ولاړ وی او په دے همیشه والے کوی، او همیشه لپاره د الله رب العزت د رضامندئ په تالاش کوی، د هغهٔ طاعت کوی او نافرمانی ئے نهٔ کوی. او کله چه ترے څهٔ ګناه صادره شی نو ددے نه توبه کړی او رجوع وکړی. او مهتدی هغه څوك دے چه د خپلو کارونو د هدایت ځایونه ورته ښودل کیږی او راجح او مرجوح کښے فرق پیژنی.

لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُونَ﴾ [انعام: ۸۲] (هغه کسان چه ایمان ئے راوړو او خپل ایمان ئے د ظلم سره ګډ نهٔ کړو نو دے خلکو

لپاره امن دے او دوئ هدايت والا دی).
او فرمائی : ﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا﴾ [بقره: ١٣٧]
(كه چرے دے خلكو په هغه شيانو ايمان راوړو په كومو باندے چه تاسو - اے صحابو ! - ايمان راوړے نو يقينًا چه دوئ هدايت والا دی).
او فرمائی : ﴿أُولَـٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ﴾ [بقرة:٥] (دا - په غيبو ايمان لرونكی - خلك د خپل رب له خوا په هدايت دی).
او فرمائی : ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ [فاتحه: ٦] (اے الله ! مونږ په سمه لار روان كړے).
او فرمائی : ﴿فَهَدَى اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ﴾ [بقره: ٢١٣] (نو الله ايمان والو ته په خپل توفيق سره هغه حق وښودلو په كوم كښے چه خلكو اختلاف كړے وو).
او فرمائی : ﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَـٰكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ﴾ [قصص: ٥٦] (بيشكه ته چه چاته غواړے هدايت ورته نشے كولے، ليكن الله چه چاته غواړی هدايت ورته كوی).
او فرمائی : ﴿الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللهُ﴾ [زمر: ٨] (هغه خلك چه وينا آوری او په دے كښے د ښائسته خبرو پسے روانيږی، دے خلكو ته الله هدايت كړے).
او فرمائی : ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ﴾ [طه: ٨٢] (او بيشكه زهٔ ډير زيات ښښونكے يم د هغه چا لپاره چه توبه كړی او ايمان لری او نيك عمل كوی او بيا په هدايت روان وی).
او فرمائی : ﴿يَهْدِي بِهِ اللهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا﴾ [مائده: ١٦] (الله ددے په وجه هغه چاته د سلامتيا لارے ښائی څوك چه د هغهٔ په رضامندئ پسے روان وی او په خپل توفيق سره دوئ د تيارو نه رڼړا طرفته راوباسی او دوئ ته خان طرفته برابره لاره ښائی).
﴿ثُمَّ اجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ﴾ [طه: ١٢٢] (بيائے غوره كړو او توفيق د توبے ئے ورته وركړو او هدايت ئے وكړو).
او فرمائی : ﴿وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ﴾ [حج: ٢٤] (او دوئ ته پاكيزه خبره ښودلے شوے وه او د ستائيلے شوی عزتمن ذات لارے طرفته د دوئ راهنمائی شوے وه).
نو په دے آيتونو كښے هغه معنے ته اشارات موجود دی كومه چه مونږ ذكر كړه.
او په دے معنیٰ سره هريو انسان، په هر وخت او لحظه او په هريو عمل كښے هدايت ته محتاج دے تردے چه انبياء عليهم السلام هم ديته محتاج دی نو نور به ولے نهٔ وی محتاج.

Maktaba Tul Ishaat.com

*** د هدايت مرتبې :**

د هدايت مرتبې ډيرې زياتې دی، ځينې دادي :

١ – په حواسو ظاهره ؤ سره هدايت :

او په دے هدايت کښے انسان او حيوانات دواړه شريك دی. الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ قَالَ رَبُّنَا الَّذِیٓ اَعۡطٰی کُلَّ شَیۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ﴾ [طٰه: ٥٠] (زمونږ رب هغه ذات دے چه هر يو شئ ته ئے د هغهٔ پيدائش ورکړو او بيائے ورته هدايت وکړو).

نو الله هر يو شئ ته هدايت کړے يعنی حواسِ خمسه ئے ورته ورکړی چه په دے سره د نفع او ضرر، موافق او مخالف شيان پيژنی. او الله فرمائی : ﴿ هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ النُّجُوۡمَ لِتَهۡتَدُوۡا بِهَا فِیۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ وَ الۡبَحۡرِ ﴾ [انعام: ٩٧] (الله هغه ذات دے چه ستوری ئے ستاسو لپاره پيدا کړی دی دے لپاره چه تاسو د هغے په ذريعه د وچے او لمدے په تيارو کښے لاره ومومئ).

او فرمائی : ﴿ اَوۡ اَجِدُ عَلَی النَّارِ هُدًی ﴾ [طٰه: ١٠] (يابه زهٔ د اور په خوا کښے لاره ښودونکے بيامومم).

نو دیته د حواسو هدايت وائی.

٢ – د عقل هدايت : نو الله تعالىٰ ملائکو، انسانانو او پيريانو ته هدايت کړے او د دوئ په نفسونو کښے ئے عقل ايښے چه په دے سره دوئ د چارپايانو نه بيل شوی دی. او په همدے سره دوئ د نفع او ضرر ډير شيان پيژنی، او په همدے عقل سره دوئ په حيواناتو حکومت کوی. او په همدے سره دوئ حق او باطل پيژنی. خو يواځے دا هدايت د انسان په هدايت کښے کافی نهٔ دے ترڅو چه دے سره د هدايت نور راتلونکی قِسمونه ملګری نشی.

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَهَدَیۡنٰهُ النَّجۡدَیۡنِ ﴾ [بلد: ١٠] (او مونږ دهٔ ته دوه وچتے لارے وښودلے).

مطلب دا چه آيا مونږ تاته بيان نهٔ وو کړے او د خير او شر لارے مو درته نهٔ وے ښودلے چه ستا په فطرتِ سليمه کښے مو ددے دواړو ترمينځه د جدائی ماده ايښے وه او دومره عقل او فکر مو درکړے وو چه د هغے په ذريعه تا د خير خوبئ او د شر خرابئ معلومولے شوے.

[التفسير المنير :٣٠/ ٢٥٠]

زياتره مفسرينو دا هدايت فطری او عقلی ګرځولے لکه فتح البيان او ايسر التفاسير کښے راغلی. امام بقاعیؒ هم په [نظم الدرر] کښے په دے آيت کښے د هدايت نه مراد عقل اخستے.

او همدے هدايت ته په دے راتلونکی آيتِ کريمه کښے هم اشاره ده : الله فرمائی :

﴿ وَلَقَدۡ ذَرَاۡنَا لِجَهَنَّمَ کَثِیۡرًا مِّنَ الۡجِنِّ وَالۡاِنۡسِ لَهُمۡ قُلُوۡبٌ لَّا یَفۡقَهُوۡنَ بِهَا وَلَهُمۡ اَعۡیُنٌ لَّا یُبۡصِرُوۡنَ بِهَا وَلَهُمۡ اٰذَانٌ لَّا یَسۡمَعُوۡنَ بِهَا اُولٰٓئِکَ کَالۡاَنۡعَامِ بَلۡ هُمۡ اَضَلُّ اُولٰٓئِکَ هُمُ الۡغٰفِلُوۡنَ ﴾ [اعراف: ١٧٠]

نو دلته ئې دوئ د چارپایانو نه هم زیات بې لارې وګرځول هر کله چه دوئ د خپلو عقلونو نه فائده وانۀ خسته او د هغې په ذریعه ئې هدایت اختیار نۀ کړو.

۳ – د **فطرت سلیمه** په ذریعه هدایت :

څکه چه الله عز وجل بندګان په خپل معرفت او توحید پیدا کړی، یعنی په دوئ کښې د حق قبلولو استعداد او صلاحیت ئې اچولې. لکه په مخکښې آیتِ کریمه کښې دې طرفته اشاره وه :

﴿ وَهَدَيْنَٰهُ ٱلنَّجْدَيْنِ ﴾ [بلد: ۱۰]

دارنګه په دې آیتِ کریمه کښې : ﴿ اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴾ [طه: ۵۰] (هر یو شئ له ئې پیدائش ورکړو او بیائې ورته هدایت وکړو).

۴ – د رسولانو په رالیږلو او د کتابونو په نازلولو سره **هدایت** :

الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته د رسولانو په رالیږلو او د کتابونو په نازولو سره د صراطِ مستقیم وضاحت کړې او خلکو ته ئې هدایت کړې. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [بقره: ۳۸] (نو که راشی تاسو ته زما له خوا هدایت نو څوک چه زما د هدایت پسې روان شو نو په هغۀ به نۀ ویره وی او نۀ به غمژن شی).

دلته د (هدایت) نه مراد کتابونه او رسولان دی.

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ هُدًى لِّلنَّاسِ ﴾ [بقره: ۱۸۵] (دا قرآن خلکو لپاره هدایت کونکې دې).

او فرمائی : ﴿ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ ﴾ [اسراء: ۹] (بیشکه دا قرآن هغه لاره ښائی چه هغه نیغه وی).

او الله فرمائی : ﴿ اِنَّا هَدَيْنٰهُ السَّبِيْلَ اِمَّا شَاكِرًا وَّ اِمَّا كَفُوْرًا ﴾ [دهر:۳] (بیشکه مونږ انسان ته لاره وښودله، یابه دې شکر کونکې وی او یا ناشکره).

یعنی مونږ دۀ لپاره رسولان راولیږل او کتابونه مو نازل کړل او دۀ په نفس او اطرافو کښې مو دلائل قائم کړل او دۀ له مو دومره بصیرت ورکړو چه په هغې سره دې د رشتینې او دروغژن ترمینځه، د خالق او د مخلوق د کلام ترمینځه او د حق او باطل وغیره ترمینځه فرق کولې شی.

[نظم الدرر : ۸/ ۲٦۵]

د هدایت په ټولو اقسامو کښې دا هدایت ضروری دې، ولې چه څوک حقیقی هدایت ته رسیږی نو صرف د رسولانو او د الله د نازل کړو مبارکو کتابونو په ذریعه.

۵ – د **عقلي دلائلو** قائمولو په ذریعه هدایت :

هغه عقلی دلائل چه د هغې په ذریعه حق پیژندلې شی او حقائق پرې معلومولې شی او الله او د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ معرفت او عظمت او کمال ته پرېے انسان رسیدلے شي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَهَدَيْنَهُ النَّجْدَيْنِ﴾ [بلد: ١٠] یعنې د عقلي دلائلو او د پرانستي کتاب (کائناتو) په ذریعه ورته مونږ هدایت وکړو۔ او دا هدایت هم هر چا لپاره عام دے په دے کښے د هیڅ خصوصیت نشته، دے لپاره چه په الله باندے د خلکو عذر او بهانه پاتے نشي۔ دا وجه ده، الله رب العزت عقلي دلائل ډیر زیات ذکر کړي او هغه ئے په قِسما قِسم طریقو باندے ویشلي، دے لپاره چه خلك خبر کړے شي او د هغوئ بهانه پاتے نشي۔ ولے چه د الله دلیل او حجت په هر چا باندے غالبه دے۔ که هغه وغواړي نو هر چاته به هدایت وکړي۔

او الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴾ [نحل: ١٦] (او په ستورو سره دوئ لاره مومي)۔

او دا د عقل او د نظر هدایت دے۔

او الله فرمائي: ﴿قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ﴾ [انعام: ١٠٤] (یقینًا تاسو ته ستاسو د رب له خوا د عقل مندئ خبرے رارسیدلي، نو څوك چه عقل مندي اختیار کړي نو فائده ئے د ځان ده او څوك ړوند شو نو وبال ئے د ځان دے او زهٔ ستاسو ساتونکے نهٔ یم)۔

٦ – د توفیق ورکولو او مقصد ته رسولو هدایت:

او دا هدایت مومنانو پورے خاص دے، کافرانو او مجرمانو لپاره نهٔ دے ځکه الله تعالیٰ دا هدایت دوئ ته نهٔ کوي۔ دوئ ته ئے عام هدایت کړے یعنې لاره ښودل۔

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ اجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ [نحل: ١٢] (ابراهیم علیه السلام الله غوره کړے او په سمه لاره باندے د روانیدو توفیق ئے ورکړے)۔

او زمونږ د نبي اکرم ﷺ په باره کښے الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُّسْتَقِيْمًا ﴾ [فتح: ٢] (او دے لپاره چه تاته نیغه لاره وښائي)۔

او الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى ﴾ [محمد: ١٧] (او کومو خلکو چه هدایت قبول کړے د هغوئ هدایت زیاتوي)۔

او فرمائي: ﴿ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللهِ يَهْدِ قَلْبَهُ ﴾ [تغابن: ١١] (او څوك چه په الله ایمان لري، الله د هغهٔ زړهٔ ته هدایت کوي)۔ او دے ته د الله تعالیٰ په دے وینا کښے اشاره ده: ﴿ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ ﴾ [نساء: ٢٦] (او تاسو ته د هغه خلکو لاره ښائي کوم چه تاسو نه مخکښے تیر شوي)۔

دارنګه په دے قول د الله تعالیٰ کښے: ﴿اِهْدِنَــــا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴾ [فاتحه:٦] (مونږ له په نیغه لار د روانیدو توفیق راکړه)۔

٧ – د زړونو د نرمیدو او د الله د ویرې په وجه د غوني زیګ کیدو هدایت :

او دا هدایت خواصِ مومنانو لپاره دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِيۡنُ جُلُوۡدُهُمۡ وَقُلُوۡبُهُمۡ اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهۡدِيۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ ﴾ [زمر: ٢٣] (الله د تولو نه ښه کلام نازل کړے، یعني یو کتاب چه دَ هغے آیتونه په معنو کښ د یو بل سره یو شان دی، چه دا بار بار لوستلے کیږی، چه ددے په آوریدو سره د هغه خلقو غونے زیګ کیږی چه هغوئ د خپل رب نه یریږی، بیا د هغوئ څرمنے او د هغوئ زړونه نرم شی او د الله یاد طرفته مائله شی، دا قرآن د الله هدایت دے، هغه ددے په ذریعه چاله چه غواړی نیغه لاره ښائی، او چاله چه الله ګمراه کړی هغهٔ ته څوك هدایت نشی کولے)۔

نو په دے آیتِ کریمه کښے الله تعالیٰ اشاره وفرمایله چه دا هدایت مومنانو پورے خاص دے، الله چه کومو بندګانو ته غواړی دا هدایت ورته ورکوی۔

او الله تعالیٰ د زړونو د سختئ په حقله فرمائی :

﴿ فَوَيۡلٌ لِّلۡقٰسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مِّنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ فِيۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ﴾ [زمر: ٢٢] (نو تباهی ده هغه خلکو لپاره چه د هغوئ زړونه د الله د ذکر نه سخت دی، دا خلك په ښکاره ګمراهئ کښے پراتهٔ دی)۔

٨ – د انابت او الله ته د رجوع کولو هدایت :

او انابت دیته وائی چه انسان هر ځائے کښے چه حق وینی او چاسره چه وی، قبلوی ئے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَيَهۡدِيۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ اَنَابَ ﴾ [رعد: ٢٧] (او الله هغه چاته هدایت کوی څوك چه هغهٔ طرفته رجوع او انابت کوی)۔

او فرمائی : ﴿ الَّذِيۡنَ يَسۡتَمِعُوۡنَ الۡقَوۡلَ فَيَتَّبِعُوۡنَ اَحۡسَنَهٗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ هَدٰهُمُ اللّٰهُ ﴾ [زمر: ٨]

او فرمائی : ﴿ وَيَهۡدِيۡۤ اِلَيۡهِ مَنۡ يُّنِيۡبُ ﴾ [شوری: ١٣]

٩ – د کامل ایمان نه پس د مصیبتونو او حوادثو نازلیدو په وخت هدایت :

او دا په تقدیر باندے د راضی کیدو او په نعمتونو باندے د شکر کولو هدایت دے۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ مَاۤ اَصَابَ مِنۡ مُّصِيۡبَةٍ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ وَمَنۡ يُّؤۡمِنۡ م بِاللّٰهِ يَهۡدِ قَلۡبَهٗ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيۡمٌ ﴾ [تغابن: ١١] (هر مصیبت چه رسی نو دا د الله په حکم سره، او څوك چه په الله ایمان لری، الله د هغهٔ زړهٔ ته هدایت کوی او الله په هر شئ خبردار دے)۔

ابن عباس ﷺ فرمائی : (زړهٔ ته د هدایت کولو نه مراد دادے چه) ددهٔ په زړهٔ کښے یقین واچوی چه دے دا وپیژنی چه کوم شے دهٔ ته ورسیدهٔ هغه ددهٔ نه نهٔ خطا کیدهٔ۔ او کوم شے چه ددهٔ نه خطا

Maktaba Tul Ishaat.com

شو هغه دهٔ ته نهٔ رسيدهٔ. يعنى د الله قضا او قدر ته تسليم شى.

كلبىّ وائى : هغه دا چه كله دهٔ ته مصيبت ورسى نو صبر كوى او كله چه ورته نعمت ورسى نو شكر كوى او كله چه پرے ظلم وشى نو معافى كوى.

ځينے وائى : په ايمان ئے مضبوطوى. ابو عثمان حيرىّ فرمائى : د چا ايمان چه صحيح شى نو دهٔ زړهٔ ته به د سنت د تابعدارئ هدايت كيږى.

زهٔ وايم : د قرآنى نظم د سياق نه معلوميږى چه : ددے هدايت نه مراد په دغه تنگ وخت كښے د الله او د رسول (ﷺ) طاعت دے، او داسے هدايت دے چه په دے سره په دے وخت كښے انسان په الله توكل كوى، په هغهٔ اعتماد او بهروسه لرى، جزع فزع او بے صبرى نهٔ كوى، دارنگه د توحيد هدايت ترے مراد دے. لكه په سياق كښے د فكر كولو نه معلوميږى.

او دا لوئے هدايت دے او د كامل ايمان جزاء ده هغه دا چه بنده د مصيبتونو نازليدو په وخت په خپلو ټولو اقوالو او افعالو كښے هدايت موندونكے وى. الله تعالىٰ دے مونږ ته دا هدايت رانصيب كړى. [انظر : تيسير الكريم الرحمن، والسراج المنير]

۱۰ – **هغه هدايت** چه انسان ئے په خپله مجاهده او كوشش سره حاصلوى :

الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَاِنَّ اللهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [عنكبوت: ٦٩] (او كوم خلك چه زمونږ په باره كښے كوشش كوى نو خامخا به ورته مونږ خپلے لارے وښايو او بيشكه الله خامخا د نيك عمله خلكو ملگرے دے).

او ديته د الله د معرفت او احسان هدايت ويلے شى.

۱۱ – **جنت ته د رسيدو هدايت** :

الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ هَدَانَا لِهٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِىَ لَوْلَآ اَنْ هَدَانَا اللهُ ﴾ [اعراف: ٤٣] (الله لره ثنا صفت دے چه مونږه ئے دلته راورسولو او كه چرے الله مونږ دلته نهٔ وے رارسولے مونږ دلته رارسيدونكى نهٔ وو).

او فرمائى : ﴿ يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهِمُ الْاَنْهٰرُ ﴾ [يونس: ۹] (د دوئ رب دوئ لره د دوئ د ايمان په وجه داسے باغونو ته رسوى چه د هغے لاندے به ويالے بهيږى).

* * * * * *

١٦ - ناشنا فائده : ايماني تخم

او هغه دا چه تخم ډير شيان غواړي لکه زمکه کنستل، هغه صفا کول، وخت په وخت د هغے اوبهٔ خور کول. دارنګه د انسان د خوراکه پورے هغه د څناورو، مارغانو او غلو نه ساتل.

دغه شان يو انسان په يو مکتب او اداره او دفتر کښے نوکر لرېدلے وی نو هغه د وختونو پابندی کوی، او اګر که چهټئ ته ئے زړهٔ کيږی خو د مکتب او ادارے د نظام نه بغير چهټی نهٔ کوی. او دغسے نور ځايونه واخله. دارنګه طبيب هله طبيب جوړيږی چه هغه شيان مطالعه کړی چه هغه په علمِ طب کښے ضروری وی. دغسے باقی کارونه او پيشے هم واخله چه دا انسان ته هله حاصليږی چه د هغے په مقتضياتو (غوښتنو او تقاضو) باندے خپل ځان موصوف کړی.

نو دغه شان په رشتينے ايمان موصوف کيدل هم هله راځی چه د هغے بے شماره مقتضياتو او غوښتنو باندے - کوم چه الله عز وجل په خپل قرآن کريم کښے ذکر کړی - انسان موصوف شی، او هغه په ځان کښے راولی.

نو که چرے تهٔ ايمان غوارے او دا خوښوے چه تهٔ د هغے اهل جوړ شے، د هغے خوند او مزه وڅکے او د هغے ميوے حاصلے کړے، نو تاله پکار دی چه د ايمان په مقتضياتو ځان موصوف کړے. او دا مقتضيات ډير زيات دی، قرآن کريم کښے د هغے نه نوی (٩٠) مقتضيات او اسباب ذکر شوی. په دے فائده کښے ئے مونږ تاله راجمع کوو. که په دے باندے تهٔ فکر وکړے نو دا به خامخا تاله د الله په مشيت سره نفع درکړی.

او دا ايمانی مقتضيات (او غوښتنے) چه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښے ذکر کوی نو په دے وينا سره ئے ذکر کوی : ﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا ﴾ (اے ايمان والو !).

عبد الله بن مسعود ﷺ ته وويل شو چه مونږ ته څهٔ وعظ وکړه ! ويے فرمايل : کله چه د الله نه واورے چه : ﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا ﴾ وائی نو بيا ورته په توجه سره غوږ نيسه ځکه دا به يو خير وی چه د هغے حکم به کيږی او يا به يو شر وی چه د هغے نه به منع کيږی.

او الله تعالیٰ خپلو مومنانو بندګانو ته نوی (٩٠) ځله آواز کړے. او دا ډير لوئے شرافت دے ! ديته د مدح او د صفت خطابونه وائی، مؤمن له پکار دی چه خپل ځان او بل په دے خوشحاله کړی، او په دے مقتضياتو دے خپل ځان موصوف کړی. الله تعالیٰ دے مونږ له په دے د عمل کولو توفيق راکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

*** ايماني مقتضيات او غوختنې :**

١ – **اولنۍ ايماني** غوښتنه : د رسول الله ﷺ د بې ادبۍ کولو نه الله منع فرمايلې، او هغهٔ سره د ښائسته ادب کولو سلوك کول ئې واجب گرځولي. الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا ﴾ [بقره: ١٠٤] (اے ايمان والو ! تاسو د راعنا کلمه مهٔ وايئ بلکه د انظرنا کلمه وايئ).

ددے آيتِ کريمه ډير عنوانونه دي :

(١) د (رَاعِنَا) د لفظ منع والے او د (انْظُرْنَا) په لفظ ويلو باندے امر.

(٢) رسول الله ﷺ سره د بے ادبئ د سلوك نه منع دي او په ښائسته ادب سره د هغهٔ سره سلوك کول واجب دي.

(٣) کافرانو سره د هغوئ په اقوالو او افعالو کښے د مشابهت کولو نه منع.

او دا ټول کارونه د ايمان تقاضے او غوښتنے دي.

٢ – د مصيبتونو او حوادثو نازليدو په وخت په صبر او مانځه سره د الله مدد غوښتل :

مومن به په دے وخت کښے اول خپل رب ته د صبر او مانځه په ذريعه توجه کوي، او بيا به دينه پس مشروع اسباب تالاش کوي. ډير خلك د خپل ايمان د کمزورۍ په وجه چه کله په څهٔ مصيبت يا حادثه کښے مبتلا شي، نو بل چاته توجه کوي او په بل چا توکل کوي. حالانکه دا د ايمان خلاف خبره ده.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ [بقره: ١٥٣] (اے ايمان والو ! تاسو د صبر او مانځه په ذريعه د الله نه مدد وغواړئ، بيشکه الله د صبر کونکے ملګرے دے).

٣ – مؤمن پاکيزه خوراك څکاك کوي او د خپل رب شکر کوي او دا ددهٔ د ايمان غوښتنه ده. ددے په خلاف کافر او منافق د حلالو او حرامو تميز نهٔ کوي او نهٔ د خپل رب شکر کوي. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ إِنْ كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴾ [بقره: ١٧٢] (اے ايمان والو ! تاسو د هغه پاکيزه شيانو نه خوراك کوئ کوم چه مونږ درکړي دي او الله له شکر کوئ که چرے تاسو خاص د هغهٔ عبادت کوئ).

نو د خپل ايمان حالت ته دے وګوره، آيا تا په دے باندے راپورته کوي !

٤ – قصاص، ديت، عفو قائمول، قصاص نافذول او قصاص لپاره د قاتل خپل ځان حواله کول. که دا نهٔ وي نو بيا ايمان چرته دے ؟

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَـا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ ﴾ [بقره: ١٧٨] (اے ايمان والو ! په تاسو باندے بدله اخستل فرض کړے شوی دی).

٥ – هغه روژه نيول چه تقوىٰ او پرهيزگاری پيدا کړی. نو څوك چه روژه نۀ نيسی مومن نۀ دے، بلکه دا خو يا فاسق دے يا منافق يا کافر دے. او څوك چه روژه نيسی خو د لغوياتو او بيهوده کارونو نه ئے حفاظت نۀ کوی نو ددۀ ايمان کمزورے دے يا نشته. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ [بقره: ١٨٣] (اے ايمان والو ! په تاسو باندے روژے نيول فرض شوی لکه څنګه چه ستاسو نه په مخکنو خلکو باندے فرض شوے وے، دے لپاره چه تاسو کښے تقوىٰ پيدا شی).

او دا د ويرے خبره ده.

٦ – په پوره اسلام کښے ننوتل او د شيطان د قدمونو پيروی نۀ کول. چه دا منکرات، ګناهونه او په دين کښے بدعات راويستل دی : نو څوك چه د ايمان دعوىٰ لری او بيا سره د وس او قدرت نه د اسلام د احکامو پيروی نۀ کوی نو دے بے ايمانه دے. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾ [بقره: ٢٠٨]

(اے ايمان والو ! په اسلام کښے پوره پوره ننوځئ او د شيطان د منډونو پسے مۀ ځئ بيشکه دا ستاسو لپاره ښکاره دشمن دے).

٧ – د الله په لاره کښے د موقع تيريدو نه مخکښے خرچ او انفاق کول : يعنی ايمان دوه شيان غواړی : يو د الله د رضامندئ په کارونو کښے مالونه لګول، دويم : د موقع او فرصت تيريدو نه مخکښے خرچ او انفاق کول. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَـا أَيُّهَـا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴾ [بقره: ٢٥٤] (اے ايمان والو ! د هغے مالونو نه خرچ کوئ کوم چه مونږ تاسو له درکړی مخکښے ددے نه چه داسے ورځ راشی چه نۀ به په هغے کښے اخستل خرڅول وی اونۀ دوستی او سفارش، او کافران هم دوئ ظالمان دی).

٨ – د احسان زباتنے، تنګولو او رياکارئ او هر هغه شئ نه ځان ساتل چه هغه په انفاق او صدقاتو کښے د انسان ايمان خرابوی. مؤمن سړے به د خپلو اعمالو حفاظت کوی دے لپاره چه دا چرته برباد نشی او دا ددۀ د ايمان تقاضا ده. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ يَـآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ [بقره: ٢٦٤]

(اے ايمان والو ! تاسو خپلے صدقے زباتنے او تکليف ورکولو سره مۀ بربادوئ لکه د هغه کس غونته چه هغه خپل مالونه خلکو ته د ځان ښودنے لپاره لګوی او په الله او په ورځ روستنئ

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے ایمان نۀ لری)۔

۹ – د پاکیزه مالونو نه صدقه کول، نۀ د خبیث او گنده مالونو نه: مؤمن چونکه په الله باندے قوی ایمان لری، دے وجے نه خپل غوره مالونه خرچ کوی، ځکه د الله سره ئے مینه وی، د هغۀ عظمت ئے په زړۀ کښے وی، هغۀ لپاره خیر خواهی لری او د هغۀ قدر او عزت کوی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ﴾ [بقره: ۲٦۷] (اے ایمان والو! د هغه پاکیزه مالونو نه چه تاسو گټلی دی خرچ کوئ او د هغه څۀ نه چه مونږ تاسو لپاره د زمکے نه راوښکلے دی، او د خبیث مال قصد مۀ کوئ چه د هغے نه خرچ کوئ)۔

۱۰ – تقویٰ اختیارول او سود پریښودل: مومن چونکه په الله باندے قوی ایمان لری نو د هغۀ نه یریږی او د الله په بندگانو باندے د ظلم کولو نه ډډه کوی، چه ددے نه سود کول هم دی ځکه چه دا ظلم دے او د الله په بندگانو شفقت نۀ کول دی او دا د ایمان خلاف کار دے۔ ولے چه د مومن ایمان ددے نه انکار کوی چه حرام او گناهونه وکړی، او ددۀ ایمان د طاعاتو او نقصان پوره کولو مغناطیس وی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾ [بقره: ۲۷۸] (اے ایمان والو! الله نه ویریږئ او پاتے سود پریدئ که چرے تاسو مومنان یئ)۔

۱۱ – قرضونه (پردی حقونه) لیکل او په هغے گواهان قائمول: دے لپاره چه د بندگانو حقونه ضائع نشی او یا په حرامو کښے انسان پرے نۀ وځی، ځکه د مومن ایمان د ځان سره حرام او گناهونه نۀ پریدی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ﴾ الآية [بقره: ۲۸۲]

(اے ایمان والو! کله چه تاسو د یو بے نیټے پورے د قرض معامله وکړه نو هغه ولیکئ او ستاسو تر مینځه دے لیکونکے په انصاف سره لیکنه کوی)۔

۱۲ – د یهودو او نصاراؤ خبره نۀ منل: دے دپاره چه ایمان ورله خراب نۀ کړی ولے چه دوئ د ایمان دشمنان دی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ﴾ [آل عمران: ۱۰۰] (اے ایمان والو! که چرے تاسو د کتابیانو د یو ډلے خبره ومنئ نو تاسو به د خپلو ایمانونو نه روسته کافر جوړ کړی)۔

نو څوك چه په الله باندے صحیح ایمان لری نو هغۀ لپاره ضروری ده چه هغه به یهود او نصاراؤ سره بغض لری او د هغوئ خلاف به خامخا کوی۔ نو اوس تۀ د خپلے زمانے د خلکو په حالاتو ته سوچ وکړه !!

۱۳ – چه بنده د الله نه داسے یره وکړی څنګه چه د هغهٔ نه د یریدو حق وی، په خپل دین او اسلام باندے تر مرګه پورے قائم پاتے شی۔ څکه قوی ایمان بنده د تقویٰ او ویرے په اعلیٰ قِسمونو باندے راپاروی او ددے خاوند په اسلام باندے حریص وی تردے چه الله عز وجل له ورشی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ [آل عمران: ۱۰۲] (اے ایمان والو! الله نه داسے یره وکړئ څنګه چه د هغهٔ نه د یرے کولو حق دے، او مهٔ مرئ مګر په داسے حال کښے چه تاسو مسلمانان یئ)۔

او د تقویٰ حق دادے چه انسان د خپلے ژبے حفاظت وکړی، خپل کوشش د الله په عبادت کښے صرف کړی، د هغهٔ داسے عبادت وکړے شی چه نافرمانی ئے ونهٔ کړے شی، داسے ذکرئے وشی چه هیر نهٔ کړے شی او داسے شکرئے وشی چه ناشکری ئے ونهٔ کړے شی۔

۱٤ – د ایمان والو نه سیوا د غیرو خلکو سره را زداری نهٔ کول: څکه مومن د خپل ایمان د قوت په وجه د الله د دشمنانو سره دشمنی کوی نو بیا دوئ څنګه راز داران جوړ کړی؟ مومن به هوښیار وی د الله د دشمنانو مکرونه او چالونه او اسلام او مسلمانانو سره د دوئ بغض او کینه به پیژنی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ﴾ [آل عمران: ۱۱۸]

(اے ایمان والو! تاسو د خپلو مومنانو نه سیوا بل څوك رازداران مهٔ جوړوئ، هغوئ ستاسو په فساد کښے کوتاهی نهٔ کوی، هغوئ ستاسو په مشقت کښے غورزیدل خوښوی، یقینًا چه بغض او کینه د دوئ د خُلو نه راښکاره شوے او څهٔ چه د دوئ سینو پټ کړی دی هغه ددے نه هم زیات دی)۔

۱۵ – د دوچند سود خوړلو نه ډډه کول او تقویٰ اختیارول: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [آل عمران: ۱۳۰]

(اے ایمان والو! تاسو چند درچند سود مهٔ خورئ او الله نه یره کوئ ددے دپاره چه کامیاب شئ)۔

۱٦ – د کافرانو خبره نهٔ منل: ولے چه دا ګمراهی او تاوان دے۔ مومن سرے به د الله د دشمنانو سره دشمنی کوی نو بیا د هغوئ خبره کله منلے شی؟ او په هغوئ باندے څنګه ښهٔ ګمان کولے شی؟ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۱٤۹] (اے ایمان والو! که چرے تاسو د کافرانو خلکو خبره ومنئ نو هغوئ به تاسو په خپلو پوندو باندے بیرته راواپس کړی او تاسو به تاوانیان جوړ شئ)۔

۱۷ – کافرانو او منافقانو سره د هغوئ په اقوالو، عقائدو او چال چلن کښے ځان نهٔ مشابه کول

Maktaba Tul Ishaat.com

خصوصًا د تقدير په مسئله کښې. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوْا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا لِيَجْعَلَ اللهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ وَاللهُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ] [آل عمران: ۱۵٦]

۱۸ – صبر کول، بل ته د صبر حکم کول، په اسلامي سرحداتو باندې پهره کول او د کاميابۍ په اميد تقوىٰ اختيارول: مومن چونکه په الله او د هغهٔ په وعدو باندې مضبوط يقين لري دې وجې نه په مصيبتونو باندې صبر کوي، دارنګه د کومو شيانو امر چه ورته شوې په هغې باندې صبر کوي، او د کومو شيانو نه چه منع شوې د هغې نه صبر کوي. او د الله په دشمنانو باندې په صبر کولو کښې غالبه کيږي. دارنګه دشمن ته نزدې د اسلامي سرحداتو حفاظت کوي، دارنګه د زړهٔ د سرحد حفاظت هم کوي دې دپاره چه شيطان ئې خراب نهٔ کړي، نو د ايمان حفاظت کوي او د الله نه يريږي.

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ [آل عمران: ۲۰۰] (اې ايمان والو! صبر کوئ او په کافرو باندې په صبر کښې غالبه شئ او د اسلامي سرحداتو حفاظت کوئ او الله نه يريږئ دې دپاره چه کامياب شئ).

۱۹ – ښځې په ميراث کښې نهٔ وړل او نهٔ د هغوئ نه مهرونو نه بندول. ځکه مومن به د خپلو ښځو سره د معروف مطابق ښهٔ سلوك کوي او د هغوئ په ځينې تکليف به صبر کوي. او مؤمن د خپل ايمان د قوت په وجه په هيڅ ظلم نهٔ کوي خصوصًا په ښځو باندې، ولې چه ددهٔ زړهٔ نرم وي او د الله په بندګانو باندې شفقت لري. الله تعالىٰ فرمائي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوْهُنَّ﴾ [نساء: ۱۹] (اې ايمان والو! تاسو له حلال نهٔ دي چه تاسو په زوره باندې ښځې په ميراث کښې وړئ او مهٔ ښځې منع کوئ، دې دپاره چه تاسو ځينې هغه مالونه حاصل کړئ کوم چه تاسو هغوئ ته ورکړي).

۲۰ – په باطله او ناروا طريقو سره خپلو کښې مالونه نهٔ خوړل او د ځانونو وژلو نه ځان ساتل: الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَأْكُلُوْا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوْا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا﴾ [نساء: ۲۹]

۲۱ – د نشې او غفلت په حالت کښې مانځه ته نهٔ نزدې کيدل او د جنابت په حالت کښې په جومات کښې درنګ نهٔ تيرول، مګر که عذر وي نو بيا معذور لپاره تيمم کول مشروع دي. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ﴾ [نساء:

٤٣] (اے ایمان والو ! د نشے په حالت کښے مانځه ته مهٔ نزدے کیږئ تردے چه تاسو په هغه شئ پوهه شئ کوم چه وایئ)۔

ولے چه مونځ د رحمٰن ذات سره سرګوشی کول دی، او مومن چونکه د خپل رب سره ادب کوی نو دے الله سره په ښائسته طریقے سره سرګوشی کوی او هغهٔ ته پوره توجه کوی۔ په غفلت او ناپوهئ سره هغهٔ سره سرګوشی نهٔ کوی، دے لپاره چه هغهٔ سره چرته د بے ادبئ معامله رانشی۔

۲۲ – د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خبره منل، دارنګه د واك او اختیار والو خبره منل هر کله چه د دوئ طاعت د الله او د هغهٔ د رسول د امر د لاندے وی۔ او په کوم شئ کښے چه اختلاف پیدا شی د هغے فیصلے د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سنت ته وړاندے کول :

نو کوم خلك چه د اختلاف پیدا کیدو په وخت قرآن او سنت ته رجوع نهٔ کوی نو دا په الله او په ورځ د آخرت ایمان نهٔ لری اګرکه ددے دعویٰ کوی۔ ایمان خو د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) طاعت او فرمانبرداری غواړی، او د اختلاف پیدا کیدو په وخت د هغهٔ کتاب ته او د هغهٔ د نبی سنت ته د فیصلے وړلو غوښتنه کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ [نساء: ٥٩]

نو اوس خپل ایمان ته وګوره چه دے کار ته په حرکت کښے راځی اوکه نه ؟ او د خلکو حالات وګوره !

۲۳ – دشمنانو ته بیدار وسیدل او د الله په لار کښے جهاد کول، برابره خبره ده که جهاد فرض عین وی اوکه فرض کفایه۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُوا جَمِيعًا ﴾ [نساء: ٧١] (اے ایمان والو ! خپله ویره ونیسئ نو ډلے ډلے جهاد لپاره ووځئ یا په یو ځائے باندے)۔

او د دشمن نه د یریدو معنیٰ هغه اسباب تیارول دی په کومو سره چه د دوئ مقابله کیږی۔

۲٤ – تحقیق او تاکید کول، دے دپاره چه د بے احتیاطئ د وجے مسلمان ونهٔ وژنی ولے چه مسلمان وژل ډیر لوئے جرم دے۔ ځکه مومن د خپل ایمان د قوت د وجے د الله د حدونو لحاظ ساتی او د هغے حفاظت کوی او د الله په شریعت کښے بیباکی نهٔ کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ﴾ [نساء: ٩٤] (اے ایمان والو ! کله چه تاسو د الله په لاره کښے سفر کوئ نو ښهٔ تحقیق کوئ او څوك چه تاسو ته سلام واچوی نو هغهٔ ته مهٔ وایئ چه تهٔ مؤمن نهٔ ئے)۔

زمونږ په دے زمانه کښے دا قِسم خلك څومره ډیر دی ! صرف په دروغژنو ګمانونو او بیکاره

Maktaba Tul Ishaat.com

تورونو سره د مومنانو په وژلو کښې باك نۀ كوى !! (والعياذ بالله).
٢٥ – په انصاف باندے کلك ودريدل او په گواهئ وغيره كښې د عدل او انصاف نه كار اخستل اگركه دا گواهي په خپل ځان او رشته دارو باندے وى. مومن د الله د حكم لحاظ ساتى، د الله د حكم په مقابله كښې د خپل ځان او د خپلو خپلوانو لحاظ نۀ كوى او نۀ د خپل خواهش تابعدارى كوى. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُوْنُوْا قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ إِنْ يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيْرًا فَاللهُ أَوْلٰى بِهِمَا فَلاَ تَتَّبِعُوا الْهَوٰى أَنْ تَعْدِلُوْا وَإِنْ تَلْوُوْا أَوْ تُعْرِضُوْا فَإِنَّ اللهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا﴾ [نساء: ١٣٥]
نو ژبه كږول او حق پټول او د هغے نه مخ اړول د ايمان والو خوئے نۀ دے.
٢٦ – د ايمان د زياتوالى او ددے دحفاظت كوشش كول او ددے د ضد – يعنى كفر – نه ځان ساتل. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا آمِنُوْا بِاللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتَابِ الَّذِىْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَالْكِتَابِ الَّذِىْ أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللهِ وَمَلاَئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلًا بَعِيْدًا﴾ [نساء:١٣٦]
٢٧ – مومنانو نه علاوه كافران په دوستئ سره نۀ نيول : الله تعالىٰ فرمائى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَاتَتَّخِذُوا الْكَافِرِيْنَ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ أَتُرِيْدُوْنَ أَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُبِيْنًا﴾ [نساء: ١٤٤] (اے ايمان والو ! تاسو د مومنانو نه علاوه كافران په دوستئ مه نيسئ، آيا تاسو دا غواړئ چه د الله لپاره په خپلو ځانونو باندے ښكاره دليل قائم كړئ).
او دا آواز الله تعالىٰ څو ځله كړے، ځكه د كافرانو د دوستئ نه ايمان انكار كوى او ددے سره نۀ جمع كيږى.
٢٨ – تهول لوظونه او معاهدے پوره كول : برابره خبره ده كه الله سره وى اوكه د هغۀ بندگانو سره. ځكه مومن سړے به غدار او خيانتگر نۀ وى. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ أُحِلَّتْ﴾ [مائده: ١] (اے ايمان والو ! لوظونه پوره كړئ).
٢٩ – د الله د شعائرو (د دين د نښو نښانو) تعظيم او ادب كول، د نيكئ او تقوىٰ په كارونو كښې د يو بل مدد كول، او د گناه او زياتى په كارونو كښې د مدد كولو نه ځان ساتل:
مؤمن د خپل ايمان د قوت او طاقت په وجه د الله د ټولو شعائرو تعظيم كوى. د نيكئ او تقوىٰ په كارونو كښې يو بل سره مدد كوى، او د گناه په كارونو كښې د هيچا مدد نۀ كوى هر كله چه ورته پته وى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللهِ وَلَاالشَّهْرَ الْحَرَامَ﴾ [مائده: ٢] (اے ايمان والو! د الله د عزتمنو شيانو بيعزتى مۀ كوئ اومۀ د عزتمنے مياشتے).
بيا فرمائى : ﴿وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ [مائده: ٢] (او يو د بل

سره د نیکئ او پرهیزګارئ په کارونو کښے مدد کوئ او د ګناه او زیاتی په کارونو کښے یو د بل مدد مهٔ کوئ)۔

٣٠ – په مانځه وغیره کښے د الله رب العزت د مناجات او سرګوشئ لپاره خپل ځان ښهٔ پاك او صفا ساتل: مومن سړے چونکه د الله مخامخ ودرېږی نو دے وجے نه د پاکئ او صفایئ خیال ساتی۔ ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾ الآية [مائده: ٦] (اے ایمان والو! کله چه تاسو مانځه ته د ودریدو اراده وکړئ نو خپل مخونه ووینځئ ......)۔

٣١ – الله لپاره انصاف کول او د انصاف ګواهی ورکول، او د چا د بغض په وجه عدل او انصاف نهٔ پریښودل: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ﴾ [مائده: ٨] (اے ایمان والو! تاسو الله لپاره په انصاف سره ګواهی کونکی وسیږئ او د یو قوم بغض او کینه دے تاسو په عدل نهٔ کولو باعث نهٔ کړی، بلکه عدل کوئ ځکه چه دا پرهیزګارئ ته زیات نزدے دے)۔

٣٢ – درے کارونه کول: نعمتونه یادول او د هغے شکریه کول، الله نه یریدل او په هغهٔ توکل کول: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ [مائده: ١١] (اے ایمان والو! تاسو په خپلو ځانونو د الله نعمت رایاد کړئ کله چه څهٔ خلکو اراده وکړه چه ستاسو طرفته خپل لاسونه اوږدهٔ کړی نو هغهٔ د هغوئ لاسونه ستاسو نه بند کړل، او الله نه یریږئ او خاص په الله دے مومنان ځانونه وسپاری)۔

دا آیتِ کریمه ټولو مومنانو ته شامل دے ځکه دا ټول د شیطانانو او نورو دشمنانو ګوابنښ سره مخامخ دی۔

٣٣ – پرهیزګاری او الله ته قرب او نزدیکت تالاش کول او د الله په لاره کښے جهاد کول:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [مائده: ٣٥] (اے ایمان والو! الله نه یریږئ او هغهٔ طرفته قرب او نزدیکت تالاش کړئ او د هغهٔ په لاره کښے جهاد وکړئ دے دپاره چه کامیاب شئ)۔

٣٤ – یهود او نصاراؤ سره دوستی نهٔ کول: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾ [مائده: ٥١] (اے ایمان والو! تاسو یهود او نصاریٰ په دوستئ مهٔ نیسئ، دوئ یو د بل دوستان دی)۔

٣٥ – د مرتد کیدو او ددے د اسبابو نه ځان (والعیاذ بالله) او هغه اسباب اختیارول چه هغه د انسان ایمان باقی پریدی، او دا پنځه اسباب دی: (١) الله عز وجل سره مینه کول (٢) ایمان والو

Maktaba Tul Ishaat.com

سره نرمي كول (۳) كافرانو سره سختي كول (٤) الله په لاره كښې جهاد كول (٥) په دين كښې د چا د ملامتيا نه نۀ ويريدل.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَآءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ [مائده: ٥٤]

او يواځې دا آيتِ كريمه هم د يو مومن د خير خواهئ لپاره كافي ده.

٣٦ - څوك چه د الله په آيتونو او د هغۀ په دين پورې توقې كوي نو مومن د دوئ سره مينه محبت نۀ كوي بلكه د دوئ نه ډډه كوي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا﴾ [مائده: ٥٧] (اے ايمان والو! تاسو هغه خلكو سره دوستي مۀ كوئ چه هغوئ ستاسو دين لوبې توقې گرځولي دي).

دے وجې نه څوك چه د الله په شعائرو پورې توقې مسخرې كوي نو مومن به د دوئ نه ډير زيات ډډه كوي او د دوئ نه به نفرت كوي او بغض به ورسره ساتي.

٣٧ - مومن به غُلُو او زياتې نۀ كوي چه پاكيزه شيان په ځان حرام او بند كړي: ځكه چه مومن به د افراط او تفريط نه ځان ساتي او ددې دواړو ترمينځه به په يوه مينځنئ لاره روان وي.

الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ [مائده: ٨٧] (اے ايمان والو! تاسو هغه پاكيزه شيان مۀ حراموئ چه الله تاسو لپاره حلال كړي دي او زياتې مۀ كوئ ځكه الله زياتې كونكي نۀ خوښوي).

٣٨ - د شرابو، جوارئ، آستانو او په غشو سره د خپل قِسمت معلومولو نه ځان ساتل: ځكه چه دا پليت شيطاني كارونه دي، او ايمان ددې قِسمه پليتيو او گندگيو نه انكار كوي.

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾ [مائده: ٩٠]

دا شيان د انسان خوبيانې ختموي او بدئ او فتنې پيدا كوي. قوي مومن چونكه په الله باندې مضبوط ايمان لري او د هغۀ د ذكر او عبادت سره مينه لري، دے وجې نه هغه ددې شيانو نه ځان ساتي، دے دپاره چه د الله د ذكر نه محرومه نشي او د الله تعالىٰ په نافرمانئ كښې پرې نۀ وځي.

٣٩ - كله د عبادت په وخت ځينې نفعمن شيان راښكاره شي نو په دې كښې په مومن باندې آزمائش وي، الله دا معلوموي چه څوك د هغۀ نه په غيبو كښې يريږي او څوك نۀ يريږي. الله

تعالیٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللهُ بِشَيْءٍ مِنَ الصَّيْدِ تَنَالُهُ أَيْدِيكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللهُ مَنْ يَخَافُهُ بِالْغَيْبِ﴾ الآية [مائده: ۹٤] (اے ایمان والو ! د یو ښکار په ذریعه چه هغے ته ستاسو لاسونه او نیزے رسیږي، الله په تاسو خامخا آزمائش کوي، دے دپاره چه الله خلکو ته ښکاره کړي چه څوك ددهٔ نه پټني شا یریږي)۔

٤٠ – د عبادت د احوالو تعظیم او احترام کول: خصوصًا د احرام د حالت چه په دے کښے به محرم انسان د وچے د ښکار نه ځان ساتي اوکه چرے دا ښکار ئے وکړو نو ددے جزاء به ورکوي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ وَمَنْ قَتَلَهُ مِنْكُمْ مُتَعَمِّدًا فَجَزَاءٌ مِثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ [مائده: ۹۵] (اے ایمان والو ! د احرام په حالت کښے تاسو ښکار مهٔ وژنئ او څوك چه په تاسو کښے قصدًا ښکار ووژني نو کوم ښکار ئے چه وژلے دے د هغے مثل به د چارپایه نه ورکوي)۔

٤١ – شغه سوالونو نه ځان ساتل چه په هغے کښے نهٔ دیني فائده وي او دنیوي۔ مومن سړے چونکه په خپل طاعت او عبادت کښے په کوشش کښے لګیا وي نو د لغوه او فسادي کارونو نه ډډه کوي۔ هغهٔ ته دا فرصت نهٔ ملاویږي چه په بے فائدے او لغوه کارونو کښے مشغول شي۔
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ﴾ الآية [مائده: ۱۰۱]
(اے ایمان والو ! تاسو د داسے شیانو په باره کښے پوښتنے مهٔ کوئ چه که هغه تاسو ته ښکاره شي نو خفه به مو کړي)۔

٤٢ – مومن سړه به د خپل ځان د اصلاح او د هغے د تزکیئے او پاکولو غم وي۔ او کله چه ددهٔ ځان جوړ شي نو بیا که (د دعوت او بیان نه پس) نور خلك ګمراه کیږي نو دهٔ ته هیڅ ضرر نهٔ ورکوي ځکه یو نفس د بل نفس بار نهٔ وړي۔

ډیر خلك داسے دي چه د خپلو ځانونو د اصلاح کوشش نهٔ کوي بلکه د خلکو په عزتونو پسے لړیدلي وي، هیڅ بے هیڅه هغوئ کافر کوي او د مرتد کیدو فیصلے ئے کوي (والعیاذ بالله)۔
الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ إِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ [مائده: ۱۰۵] (اے ایمان والو ! په تاسو باندے د خپلو ځانونو اصلاح ضروري ده، ستاسو په هدایت باندے د روانیدو نه پس که څوك بے لارے شي نو تاسو ته دا ضرر نهٔ درکوي، خاص الله ته ستاسو د ټولو واپسي ده نو هغه به تاسو په هغه عملونو باندے خبر درکړي کوم چه تاسو کول)۔

٤٣ – د وصیت کولو په وخت د ګواه نیولو اهتمام کول: دے دپاره چه د خلکو مالونه ضائع نشي۔ ځکه مومن سړے به د خپل ایمان حفاظت کوي، د خپلو مالونو او د وارث وغیره د مالونو

Maktaba Tul Ishaat.com

حفاظت به کوي، د خپلې ژبې حفاظت به کوي، د خپل شرمګاه او نورو اندامونو حفاظت به کوي.او د جنت وعده هم هغه چا سره ده چه الله ته رجوع کونکې او حفاظت کونکې وي.

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِنْكُمْ أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُم ﴾ الآية [مائده: ١٠٦]

٤٤ – په جنګ کښې د کافرانو د لښکر نه نهٔ تښتيدل، او مومنان د دوئ د جنګ لپاره راجمع کول : ځکه مومن د خپل ايماني غيرت او قوت په وجه د کافرو نه نهٔ تښتي. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ﴾ الآية [انفال: ١٥] (اے ايمان والو ! کله چه تاسو په جنګ کښې دکافرانو سره مخامخ شئ نو هغوئ ته حپيے سا'کانے مهٔ وراړوئ).

په دے آيتِ کريمه کښې ورسره دا هم دي چه که مومن يواځې وي يا يو جنګي چال جوړوي، روسته لاړ شي او بيا پرے بيرته حمله کوي، يا خپل نورو ملګرو ته ځان رسوي چه هغوئ په بل ځائے کښې وي نو دا ټول کارونه د کافرانو نه تيښته نهٔ حسابيږي.

٤٥ – د زړهٔ په صدق سره د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) طاعت کول، نهٔ دا چه سرے د منافقانو پشان په خُلهٔ دعویٰ کوي. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنْتُمْ تَسْمَعُونَ وَلَاتَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَايَسْمَعُونَ ﴾ الآيات [انفال: ٢٠، ٢١]

(اے ايمان والو ! د الله او د هغهٔ د رسول خبره منئ او د هغهٔ نه مهٔ اوړئ په داسے حال کښې چه تاسو خبره اورئ، او هغه خلکو غوندے مهٔ جوړيږئ چه هغوئ وويل : مونږ خبره واوريده حالانکه دوئ ئے نهٔ اوري).

٤٦ – په ټولو حالاتو کښې د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) د حکمونو قبولوالے کول، او د هغه فتنے نه ځان ساتل چه يواځې به نافرمان ته نهٔ رسيږي. الله تعالیٰ فرمائي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ [انفال: ٢٤، ٢٥]

نو مومن د خپل ايماني قوت په وجه د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) حکم قبلوي برابره ده که د خوشحالئ حالت وي او که نابرداشته حالت، او دا حکم که د عبادت په باره کښې وي او که د معاملې په باره کښې.

٤٧ – د خيانت نه ځان ساتل – که دا خيانت د الله سره وي او که د هغهٔ د رسول (ﷺ) سره او که د خلکو د امانتونو سره وي، ددے ټولو نه ځان ساتي – او د مال او اولاد د فتنے نه هم ډډه کوي. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ﴾

[انفال: ۲۹] (اے ایمان والو ! د الله او د رسول سره خیانت مهٔ کوئ او مهٔ د خپلو امانتونو سره خیانت کوئ او یاد لرئ چه ستاسو مالونه او اولاد آزمائش دے او بیشکه الله سره لوئے اجر دے)۔

٤٨ – په تقوىٰ او پرهیزګارئ کښې د مومن سخت رغبت لرل دارنګه ددے په دینی او دنیوی میوو حاصلولو کښې مینه کول : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ﴾ [انفال:٤٥] (اے ایمان والو ! که چرے تاسو د الله نه یره کوئ نو تاسو له به د حق او باطل ترمینځه د فرق کولو طاقت درکړی او تاسو نه به ستاسو بدئ ورژوی او ببښنه به درته وکړی او الله د لوئے فضل خاوند دے)۔

٤٩ – په جهاد کښې چه کوم قوانین او احکام رب العزت مقرر کړی، د هغے لحاظ ساتل او پابندی کول : څوك چه د دغه قوانینو لحاظ نهٔ ساتی او ددے نه بغیر جنګ کوی نو دوئ به په دنیا او آخرت کښې تاوان پورته کوی۔

او دا قوانین ډیر زیات دی، ځینے دادی : په جنګ کښې ثابت قدم وسیدل۔ الله ډیر ډیر یادول۔ د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خبره منل او جنګ جګړے نه کول۔ صبر کول۔ ریاء، کبر، او فخر نهٔ کول اونهٔ د الله د لارے نه څوك اړول۔ ځکه چه جهاد د الله د کلمے د اوچتوالی سبب دے، او ددے سبب نهٔ دے چه انسان دے په دے سره څوك د الله د لارے نه واړوی لکه چه دا کار خوارج کوی۔

الله تعالىٰ فرمائی : ﴿وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَاتَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ وَاللهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ﴾ [انفال:٤٦، ٤٧] (او د الله او د هغه د رسول طاعت کوئ، او خپل مینځ کښې اختلاف مهٔ کوئ، ورنه تاسو به بزدله شئ او ستاسو هوا (دبدبه) به لاړه شی، او د صبر نه کار اخلئ، بیشکه الله د صبر کونکو ملګرے دے ○۔ او تاسو د هغه خلقو پشان مهٔ کیږئ چه د خپلو کورونو نه په تکبر سره او خلقو ته ریاکارئ کولو سره را ووتل او د هغوی دا حال وو چه دوی به خلق د الله د لارے نه منع کول، او الله د دوی د کارونو نه پوره خبر دار دے)۔

٥٠ – کله چه پلرونه او ورونه په ایمان باندے کفر غوره کړی نو د دوئ سره دوستی پریښودل : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ [توبه:۲۳]

(اے ایمان والو ! که ستاسو پلاران او ستاسو ورونه د ایمان په ځائے کفر خوښوی نو دوی دوستان مهٔ نیسئ که ستاسو نه څوك دوی دوستان ونیسی همدا بهٔ ظالمان وی)۔

٥١ – مسجدِ حرام نه مشرکان لرے کول ځکه چه دوئ نجس او پلیت دی او مسجدِ حرام پاك

Maktaba Tul Ishaat.com

ځائے او د ایمان مرکز دے نو دیته د کافرانو او بُت پرستو ننه ایستل جائز نهٔ دی، بلکه ایمان خو د هغه اهلِ کتابو سره د جنګ کولو تقاضا کوی چه هغوئ حق دین نهٔ قبلوی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ [توبه:۲۸]

(اے ایمان والو ! بیشکه مشرکان ناپاك دی، پدے وجه ددے کال نه روستو دِے دوی مسجد حرام ته نهٔ رانزدے کیږی او که تاسو د غریبیٔ نه یریږئ نو که الله وغواړی نو په خپل فضل او کرم سره به په جلتیٔ تاسو دولتمن کړی، یقیناً الله ښه پو هه، ډیرو حکمتونو والا دے).

نو مومن به د الله د حدونو لحاظ ساتی او په الله به توکل کوی.

٥٢ – علماءِ سوء (ناکاره مُلیان) او هغه پیران پیژندل چه دوئ د الله د لارے نه خلك اړوی او سرهٔ او سپین زر جمع کوی او د الله په لاره کښے ئے نهٔ خرچ کوی : مومن به د خپل ایمانی قوت په وجه بصیرت او هوښیارتیا والا وی او رشتینے او دروغژن به پیژنی : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [توبه:٣٤]

(اے ایمان والو ! ډیر مُلایان او د ګیرجو والا د خلقو مالونه په ناجائزه طریقه خوری او د الله د لارے نه خلك منع کوی، او هغه کسان چه سره او سپین جمع کوی او هغه د الله په لاره کښ نهٔ خرچ کوی نو تهٔ دوی ته د دردناك عذاب زیرے ورکړه).

٥٣ – جهاد لپاره وتل هر کله چه بادشاه او امیر انسان له دعوت ورکړی او یا فرضِ عین شی : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ ﴾ [توبه:۳۸]

(اے ایمان والو! په تاسو څه شویدی کله چه تاسو ته ووئیل شی چه د الله په لاره کښ د جهاد دپاره ووځئ نو زمکے ته درانهٔ شئ).

٥٤ – د تقویٰ او د رشتینے خلکو ملګرتیا اختیارول او د دوئ پشانته کیدو کوشش کول، او په خپل قول او عمل، نیت او دعویٰ کښے د رشتیاؤ نه کار اخستل : ﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ ﴾ [توبه:۱۱۹]

(اے ایمان والو! د الله نه ویریږئ او د رشتیا ویونکو سره شئ).

رشتینے کس هغه چاته وائی چه کله ورته د الله حکم راشی نو ددے د وجے دنیا پریدی.

٥٥ – ګاونډی کافرانو سره جنګ کول، دوئ سره سختی کول او دوئ سره سخت جنګ کول : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُم مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾

[توبه:۱۲۳]

(اے ایمان والو! ستاسو خواؤ شاته چه کوم کافران دی د هغوی سره جنګ وکړئ او تاسو لره د هغوی سره په سلوك کښې سختی کول پکار دی، او پوهه شئ چه بیشکه الله د تقویٰ والو سره دے)۔

((نزدے کافرانو سره جنګ کوئ)) دا خطاب اسلامی خلافت ته دے، نهٔ په انفرادی توګه یو یو کس ته۔ بنهٔ سوچ کول پکار دی !!

٥٦ – رکوع، سجده، عبادت کول، د خیر ښیګړے کارونه کول او د الله په دین کښے حق کوشش کول: د مومن سری خوئے به دا وی چه دے به په هر قِسم عباداتو او نیکو عملونو سره خپل ځان الله تعالیٰ ته نزدے کوی ځکه چه دے د الله قدر او مرتبه پیژنی: ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ وَجَاهِدُوْا فِي اللهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ﴾ [حج:۷۷، ۷۸]

(اے ایمان والو! تاسو خپل رب دپاره رکوع وکړئ اوسجده وکړئ، او دَ هغهٔ عبادت وکړئ، او ښهٔ کارونه کوئ دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ ○ او دَ الله په لاره کښې چه څنګه کوشش کول پکار وی هغه شان کوشش کوئ)۔

٥٧ – د شیطان د پیروئ نه ځان ساتل: ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ﴾ [نور:۲۱]

(اے ایمان والو! دَ شیطان په نقشِ قدم پسے مهٔ ځئ)۔

٥٨ – د مسلمانانو کورونو ته بے اجازته نهٔ داخلیدل: مومن به د نورو مسلمانانو د عزتونو خیال ساتی: ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴾ [نور:۲۷]

(اے ایمان والو! دَ خپلو کورونو نه سیوا نورو کورونو ته مهٔ ننوځئ ترڅو چه اطمینان حاصل کړئ او دغه کور والو ته سلام وکړئ، دا کار ستاسو لپاره زیات بهتر دے، دے لپاره چه تاسو نصیحت حاصل کړئ)۔

٥٩ – په دریے وختونو کښے د وینځو، غلامانو او ماشومانو اجازت اخستل: ﴿ وَمِنْ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ﴾ [نور:۵۸]

(او دَ ماسخوتن مانځه نه پس، دا ستاسو دَ پردے دریے وختونه دی)۔

او دا ځکه چه د دوئ نظر په شرمګاهونو باندے پریے نهٔ وځی۔ ددے وختونو نه علاوه په نورو وختونو کښے بغیر د اجازت نه ننوتو کښے باك نشته ځکه په دے کښے تکلیف دے او الله په خپلو بندګانو مهربان دے۔

٦٠ – نعمتونه رایادول خصوصًا مسلمانانو نه د کافرانو لښکرے دفع کول: ﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

Maktaba Tul Ishaat.com

اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّ جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا ﴾ [احزاب:۹]

(اے ایمان والو ! تاسو په خپلو ځانونو باندے د الله رایاد کړئ، هر کله چه د کافرانو فوجونه په تاسو باندے راغلل، نو مونږ په دوئ باندے هوا، او داسے لښکرے را ولیږلے چه هغه تاسو نهٔ لیدلے)۔

٦١ – الله ډیر ډیر یادول او صبا بیګاه د هغهٔ تسبیح او پاکی بیانول : ایمان هم دے ته وائی چه انسان همیشه الله یادوی۔ او منافقت صرف هم دا دے چه انسان د الله نه غافله شی۔ نو څوك چه په خپل رب ایمان لری هغه به د هغهٔ د عظمت او محبت استحضار کوی او الله به ډیر ډیر یادوی۔ او ذکر د ایمان د زیاتیدو سبب دے او په دے کښے د سلو نه زیاتے فائدے دی۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِیْرًا وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِیْلًا ﴾ [احزاب:٤١] (اے ایمان والو ! الله ښهٔ یادوئ او صبا او بیګاه د هغهٔ تسبیح بیانوئ)۔

٦٢ – مؤمن به هیچا ته ضرر نهٔ ورکوی ځکه الله تعالیٰ دوئ سره احسان کړے۔ مومنان چه کله خپلو ښځو له د کوروالی نه مخکښے طلاق ورکړی نو د دوئ نه ئے عدت ساقط کړے، دارنګه دوئ لپاره ئے طلاق جائز کړی، او طلاقے شوے ښځے لپاره ئے متعه ورکول ضروری ګرځولی، دے لپاره چه د ښځے زرهٔ مات نشی او خپلو کښے د دوئ ترمینځه مینه محبت باقی پاتے وی۔ ﴿ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَیْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا فَمَتِّعُوْهُنَّ وَ سَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا جَمِیْلًا ﴾ [احزاب:٤٩]

(اے ایمان والو ! کله چه تاسو مسلمانو ښځو سره وادهٔ کوئ، بیا دوئ له دَ لاس وروړلو نه مخکښے طلاق ورکړئ، نو په دوئ باندے ستاسو د طرفه هیڅ عدت واجب نهٔ دے چه د هغے تاسو شمار کوئ، دے وجے نه تاسو دوئ له څهٔ ورکړئ، او په ښے طریقے سره ئے پریدئ)۔

٦٣ – رسول الله ﷺ سره د انتهائی ادب او احترام سلوك کول او هغهٔ ته معمولی شان تکلیف هم نهٔ ورکول۔ او د همدے ادب تقاضا داده چه په امت باندے د هغوئ د بیبیانو سره نکاح کول حرام دی۔ نو مومن سرے چونکه د رسول الله ﷺ سخت ادب کوی، دے وجے نه د هغوئ د بیبیانو هم داسے ادب او احترام کوی لکه د خپلو میندو بلکه ددے نه هم زیات : ﴿ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ النَّبِیِّ اِلَّآ اَنْ یُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰی طَعَامٍ غَیْرَ نٰظِرِیْنَ اِنٰهُ وَلٰكِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِیْنَ لِحَدِیْثٍ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ فَیَسْتَحْیٖ مِنْكُمْ وَاللّٰهُ لَا یَسْتَحْیٖ مِنَ الْحَقِّ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْئَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَآ اَنْ تَنْكِحُوْٓا اَزْوَاجَهٗ مِنْ بَعْدِهٖٓ اَبَدًا اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِیْمًا ﴾ [احزاب:٥٣]

(اے ایمان والو ! د نبی کورونو ته مهٔ داخلیږئ مګر دا چه تاسو ته د خوراك لپاره د داخلیدو

اجازت درکړے شي، لیکن تاسو (د مخکښیے نه) ددے دَ پخیدو انتظار مۀ کوئ، بلکه کله چه تاسو وبللے شئ نو داخلیږئ، او کله چه خوراك وکړئ نو خوریږئ، اوخپلو کښ په خبرو اترو کښ دلچسپی مۀ اخلئ، بیشکه ستاسو دا حرکت نبی له تکلیف ورکوی، لیکن هغه تاسو نه حیا کوی، او الله د حقے خبرے بیانولو نه حیا نۀ کوی، اوکله چه تاسو ددے (امهات المؤمنین) نه څۀ سامان غواړئ نو دَ پردے نه اخوا ئے غواړئ، داسے کولو سره به ستاسو او د هغوئ زړونه زیات پاکیزه پاتے کیږی، او تاسو له جائز نۀ دی چه د الله رسول ته ضرر ورسوئ، اونۀ دا جائز دی چه د هغۀ نه پس هیڅ کله تاسو د هغۀ د ښځو سره وادۀ وکړئ، ستاسو دا کار کول د الله په نیز دَ لوئے گناه خبره ده)۔

٦٤ – رسول الله ﷺ باندے درود اوسلام ډیر ډیر ویل : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾ [احزاب:٥٦]

(اے ایمان والو ! تاسو هم په هغۀ درود او سلام لیږئ)۔

٦٥ – رسول الله ﷺ او نورو مومنانو له د تکلیف او ضرر ورکولو نه په کلکه ځان ساتل او یهودیانو سره ځان نۀ مشابه کول : ﴿يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا﴾ [احزاب: ٦٩]

(اے ایمان والو ! تاسو د هغه چا پشان مۀ جوړیږئ چه هغوئ موسیٰ له تکلیفونه ورکړی وو، نو الله تعالیٰ ددے خلقو د ویلے شوے خبرے نه د هغۀ بیزاری ښکاره کړه، او هغه د الله په نیز د ډیر وچت مقام والا وو)۔

٦٦ – تقویٰ اختیارول او سمه برابره نیغه وینا کول : مومن چونکه روغ زړۀ والا وی دے وجے نه دا سمے خبرے کوی، کږے خبرے نۀ کوی۔ او منافق چونکه کوږ زړۀ والا وی نو دے خلکو ته په ژبے او وینا سره ضرر ورکوی۔ ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴾ [احزاب: ٧٠، ٧١]

(اے ایمان والو ! الله نه یریږئ او سمه خبره کوئ هغه به ستاسو د کارونو اصلاح کوی او ستاسو گناهونه به ښښی، او څوك چه د الله او د هغۀ د رسول خبره منی، هغه یقیناً په لویه کامیابئ باندے کامیاب شو)۔

٦٧ – د الله عز وجل د دین، د هغۀ د رسول (ﷺ)، د هغۀ د کتاب او د هغۀ د نبی (ﷺ) د سنت نصرت او مدد کول : نو څوك چه سره د قدرت او طاقت نه د هغۀ د دین سره مدد نۀ کوی نو دا مومن نۀ دے (والعیاذ بالله)۔ ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

[محمد: ۷] (اے ایمان والو ! که چرے تاسو د الله (د دین) مدد کوئ نو هغه به ستاسو مدد وکړی، اوتاسو له به ثابت قدمی درکړی)۔

۶۸ – د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) طاعت کول او د عملونو په ښائسته کولو کښې کوشش کول او د هغې د باطلوالی نه او ددے د خرابوونکو شیانو نه لکه ارتداد، ریاء، منافقت، لوئے گناهونه او د رسول الله ﷺ مخالفت نه ډډه کول: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓا۟ أَعْمَـٰلَكُمْ ﴾ [محمد: ۳۳]

(اے ایمان والو ! د الله خبره ومنئ او د رسول خبره ومنئ، او خپل عملونه مهٔ بیکاره کوئ)۔

۶۹ – د الله او رسول (ﷺ) نه د مخکښې کیدو نه ځان ساتل۔ او هغه داسے چه د کتاب او سنت نه رائے گانے مخکښې کړی، او په فتوو کښې ددے دواړو مخالفت وکړی، په آسماء او صفاتو کښې تاویل کول او د الله د حدونو نه تجاوز کول: ځکه چه دا ټول کارونه د ایمان منافی دی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىِ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ [حجرات: ۱]

(اے ایمان والو ! تاسو د الله او د هغهٔ د رسول دَ حکم نه مهٔ مخکښې کیږئ او الله نه یریږئ، بیشکه الله ښهٔ آوریدونکے، ډیر پو هه دے)۔

۷۰ – د رسول الله ﷺ په مجلس کښې د هغوئ په آواز باندے خپل آواز وچتول، او هغهٔ ته په زوره آواز کول: او په دے کښې هر قِسم بے ادبی داخله ده چه مومن به ددے نه ځان ساتی، دے دپاره چه نیك عمل ئے برباد نشی۔ مومن د خپل ایمان سره د محبت په وجه د هر هغه شئ نه ځان ساتی چه هغه ددهٔ ایمان خراب، باطل او برباد جوړوی: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَرْفَعُوٓا۟ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِىِّ وَلَا تَجْهَرُوا۟ لَهُۥ بِٱلْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَـٰلُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ [حجرات: ۲]

(اے ایمان والو ! د نبی د آواز نه خپل آواز مهٔ پورته کوئ، او دَ هغهٔ په مخ کښې په وچت آواز داسے خبره مهٔ کوئ څنګه چه په تاسو کښې ځینے د ځینو نورو مخامخ خپل آواز پورته کوی، ګنے ستاسو عملونه به ضایع شی، او تاسو ته به پته هم نهٔ وی)۔

که څوك فکر وکړی نو دا ډیر لوئے خطاب دے۔

۷۱ – د خلکو د خبرونو په قبلولو کښې تاکید او تثبت کول: مومن چونکه بصیرت والا او روښانه عقل لری، دے وجے نه دے د هر خبر مطابق فیصله نهٔ کوی بلکه اول تاکید او تثبت کوی بیا فیصله کوی، ولے چه دے د خپل رب نه یریږی او د خپل ایمان او د خپل رب سره مینه لری، او کفر، فسوق او نافرمانی بده ګنړی نو ځکه تاکید کوی چه هسے نهٔ صبا له خپیمانه شی۔

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْٓا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًاۢ بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴾ [حجرات :٦]

۷۲ – مومنانو پورے د توقو مسخرو نه، هغوئ په بدو نومونو او لقبونو سره د ویشتلو نه او د هغوئ د ښکاره او پټو عیبونو ذکر کولو او غیبتونو نه ځان ساتی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ﴾ [حجرات: ۱۱]

(اے ایمان والو ! یوه ډله دے بلے ډلے پورے توقے نۀ کوی، کیدے شی چه چا پورے توقے کیږی هغه دَ توقو کونکو نه غوره وی، او نۀ دے ښځے نورو ښځو پورے توقے کوی، کیدے شی چه چا پورے توقے کیږی، هغه دَ توقو کونکو نه بهتر وی، او تاسو په خپلو مسلمانانو ورونو باندے طعن مۀ لګوئ، او یو بل ته خراب لقبونه مۀ ورکوئ)۔

مومن چونکه د خپل ایمان سره مینه کونکے وی نو ځکه دے د نورو مومنانو سره مینه کوی، دوئ پورے توقے مسخرے نۀ کوی، نۀ پرے عیب وائی بلکه د دوئ قدر او عزت کوی او کومه کمی کوتاهی چه په دے باره کښے ترے صادرېږی نو د هغے نه الله ته توبه کوی۔

۷۳ – په الله او په مومنانو باندے د بدګمانئ نه ځان ساتل : د مومن زړۀ صفا وی نو ځکه په نورو مومنانو باندے هم د خیر ګمان کوی۔ او د منافق زړۀ چونکه خبیث وی نو ځکه په مومنانو باندے بدګمانی کوی او خپل ځان په هغوئ قیاس کوی۔ او زمونږ په زمانه کښے د دین نه د وتونکو ((خوارجو)) صفت دا دے چه دوئ په اهلِ ایمان باندے بدګمانی کوی او د هغوئ په مرتد کیدو باندے خر دماغه فتوے لګوی، او د دے فتوو لګولو سبب ئے صرف او صرف بدګمانی او فاسد قیاس وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ ﴾ [حجرات: ۱۲]

(اے ایمان والو ! تاسو دَ بدګمانئ دَ ډیرو خبرو نه پرهیز وکړئ، بیشکه ځینے بدګمانی ګناه ده)۔

۷۴ – د جاسوسئ او غیبت نه ځان ساتل : او دا دواړه کارونه د بدګمانئ پوره کونکے برخے دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا﴾ [حجرات: ۱۲]

(او بل چا پسے سوے مۀ رنړا کوئ، او په تاسو کښ دے څوك د هیچا غیبت نۀ کوی)۔

د دے آیتِ کریمه په مخالفت کښے ډیر خلك پریوتی دی خاصکر خوارج (والعیاذ بالله)۔ او دا کارونه دلالت کوی چه د دوئ زړونه د خباثت او مومنانو سره د بغض او کینے د ګندګئ نه ډك دی، او دا کارونه د ایمان نه لرے دی، دے وجے نه دا خلك د ایمان نه ډیر زیات لری دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٧٥ – تقویٰ، ایمان بالرسول ﷺ او د هغهٔ د سنتو پیروي غوره کول :

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَءَامِنُوا بِرَسُولِهِۦ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِن رَّحْمَتِهِۦ وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ بِهِۦ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ [حديد:٢٨]

(اے ایمان والو ! الله نه یریږئ او دَ هغهٔ په رسول ایمان ولرئ، نو هغه به تاسو له د خپل رحمت دوه برخے درکړي، او تاسو له به یوه رڼا درکړي، چه ددے په مدد سره به تاسو ورانديے ځئ، او تاسو ته به بخښنه وکړي، او الله ډیر زیات بښونکے، بیحده رحم کونکے دے).

مومن به یواځے دعویٰ کونکے نهٔ وي بلکه دے به تقویٰ، ایمان او تابعدارئ والا وي.

٧٦ – خپل ځان د ګناه او ذ زیاتي او د رسول الله ﷺ په مخالفت کښے د سرګوشئ او جرګو کولو نه ساتل، او د نیکئ او د تقویٰ د سرګوشئ او جرګو التزام کول : د مومن سړي مجلس به د ګناهونو او مخالفتونو نه ډك نهٔ وي : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِذَا تَنَـٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَـٰجَوْا بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَـٰجَوْا بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَٱتَّقُوا ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ [مجادلة:٩]

(اے ایمان والو ! کله چه تاسو خپلو کښ جرګے کوئ، نو د ګناه او ظلم او زیاتي او د رسول الله دَ نافرمانئ لپاره جرګے مهٔ کوئ، بلکه د نیکئ او تقویٰ لپاره جرګے کوئ، او الله نه یریږئ چه هغهٔ ته به تاسو ټول راجمع کړے شئ).

مومن به د الله مخے ته د ودریدو نه یریږي نو ځکه دے به صرف د خیر خبره کوي او صرف د خیر امر به کوي.

٧٧ – په مجلسونو کښے چه کله د فراخئ پیدا کولو حکم وشي یا د ودریدو حکم وشي نو فراخي پیدا کول او ودریدل : مومن د خپلے تواضع او خشوع په وجه په خپلو ورونو تکبر نهٔ کوي او نهٔ په خپلو امیرانو باندے ځان وچت ګڼري، بلکه د هغوئ امر قبلوي. که چرے دهٔ ته حکم کیږي چه تهٔ روسته لاړ شه نو روسته ځي او که د څوکئ حکم ورته کیږي نو څوکئ کوي :

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِى ٱلْمَجَـٰلِسِ فَٱفْسَحُوا يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُوا فَٱنشُزُوا يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلْعِلْمَ دَرَجَـٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ [مجادلة:١١]

(اے ایمان والو ! کله چه تاسو ته وویل شي چه په خپلو مجلسونو کښ (نورو له) ځائے ورکړئ، نو هغوئ له ځائے ورکړئ، الله به تاسو له فراخي پیدا کړي، او کله چه وویل شي چه پاسیږئ نو پاسئ، الله به تاسو کښ دَ ایمان والو او دَ علم والو درجے پورته کړي، او الله ستاسو د عملونو نه په پوره توګه خبر دے).

٧٨ – د رسول الله ﷺ سره د سرګوشئ او پټو خبرو کولو نه مخکښے صدقه ورکول : او دا

حکم دے لپاره وو چه منافقان ئے چرته تنګ نهٔ کړی، دارنګه دے دپاره چه په په علم او دین کښے رغبت کونکے اوبے رغبته معلوم کړی۔ بیا دا حکم منسوخ شو او د حکم اثر پاتے شو۔ دارنګه د ایمان تقاضا د مانځه پابندی، زکاة ورکول او د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) طاعت کول دی:
﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا نَـٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَةً ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا۟ بَيْنَ يَدَىْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَـٰتٍ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا۟ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ﴾ [مجادلة:۱۲، ۱۳]

(اے ایمان والو! کله چه تاسو رسول الله سره سرګوشی کول غواړئ، نو د خپلے سرګوشئ نه مخکښے صدقه ورکړئ، دا شے ستاسو لپاره غوره دے او ستاسو زړونو لره زیات پاکونکے دے، او که صدقے دپاره مال نهٔ وی، نو بیشکه الله ډیر زیات بښونکے، بیحده رحم کونکے دے آیا تاسو ددے خبرے نه ویریدئ چه دَ سرګوشئ نه مخکښے تاسو صدقے ورکړئ، نو کله چه تاسو داسے وکړل، او الله ستاسو ګناه معاف کړه، نو مونځ ودروئ، زکاة ورکړئ، او د الله او د هغهٔ د رسول خبره ومنئ)۔

۷۹ – تقویٰ اختیارول، خپل نفس سره حساب کول او د آخرت لپاره توښه لیږل۔ او د خپل رب سبحانه د نسیان او هیرولو نه ډډه کول: مومن به د خپل نفس سره حساب کوی او د خپل رب نه به یریږی هغه به نهٔ هیروی بلکه په ژبے او زړهٔ او عمل سره به ئے یاد ساتی: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ﴾ [حشر:۱۸، ۱۹]

(اے ایمان والو! الله نه یریږئ او هر یو انسان دے وګوری چه دهٔ دَ صبا (یعنی قیامت ورځے) لپاره څهٔ تیاری کړے، او الله نه یریږئ بیشکه الله ستاسو د عملونو نه پوره خبردار دے او تاسو د هغه خلقو پشان مهٔ جوړیږئ چه هغوئ الله هیر کړو، نو الله د هغوئ نه خپل ځانونه هیر کړل (دوئ ئے د خپلو ځانونو د طرفه غافل کړل) همدا خلق فاسقان دی)۔

۸۰ – د الله تعالیٰ د دشمنانو سره د دوستئ نه ځان ساتل: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ﴾ [ممتحنه:۱]

(اے ایمان والو! تاسو زما دشمنان او خپل دشمنان دوستان مهٔ جوړوئ، تاسو دوئ ته د دوستئ لاس اوږدوئ)۔

۸۱ – کفارو ته د امتحان نه پس مومنے ښځے نه واپس کول: څکه چه مومن به د کافر لاندے نهٔ وی: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَـٰتُ مُهَـٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَـٰنِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَـٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ﴾ الآية۔ [ممتحنه:۱۰]

Maktaba Tul Ishaat.com

(اے ایمان والو ! کله چه ستاسو خواته مومنے ښځے هجرت وکړی راشی، نو تاسو هغه وازمایئ، الله د دوئ په ایمان ښۀ پوهه دے، نو که تاسو ته معلومه شی چه دوئ مومنانے دی، نو دوئ کافرانو خواته مۀ ورلیږئ، دا مسلمانے ښځے کافرانو له حلالے نۀ دی).

مومن به په مومنانو ښځو غیرت کوی او داسے به نۀ وی لکه زمونږ د زمانے طواغیت چه مومنے ښځے د کافرانو جیلونو ته سپاری. د دوئ سره هیڅ حیا، غیرت او دین نشته.

٨٢ – د هغه خلکو سره د دوستئ نه ځان بچ کول چه په هغوئ باندے الله غضب کړے او د آخرت نه نا امیده شوی دی : مومن به د دوئ سره مینه محبت نۀ کوی : ﴿ يَـاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوْا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴾ [ممتحنه:١٣]

(اے ایمان والو ! هغه قوم سره دوستی مۀ کوئ چه د هغوئ نه الله ناراضه دے، دا خلق د آخرت راتلو نه داسے نا امیده دی لکه څنګه چه کافران خلق په قبر کښ دَ ښخ شوو مړو د ژوندی کیدو نه نا امیده دی).

٨٣ – د وینا مطابق عمل کول : مومن به داسے نۀ وی چه بل ته د نیکئ حکم کوی او خپل ځان ترے هیر وی. دغه شان مومن به د خپل ځان تزکیه هم نۀ کوی چه دا کارئے کړے او دا کارئے کړے بلکه په خپل عمل به یریږی او دا به پټ ساتی. دارنګه مومن به د داسے عملونو مطالبه هم نۀ کوی چه الله تعالیٰ واجب کړی نۀ وی. اوکله ئے چه واجب کړی نو مومن به د هغے کولو طرفته تادی کوی : ﴿ يَـاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ ﴾ [صف:٢]

(اے ایمان والو ! تاسو داسے خبره ولے کوئ چه په هغے باندے خپله عمل نۀ کوئ).

٨٤ – د آخرت د تجارت سره مینه کول چه هغه په الله او په رسول ایمان لرل او جهاد کول دی : ﴿ يَـاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴾ الآية. [صف:١٠، ١١]

(اے ایمان والو ! آیا زۀ تاسو ته داسے تجارت وښایم چه هغه تاسو د دردناك عذاب نه خلاص کړی په الله او دَ هغۀ په رسول به ایمان راوړئ، او دَ الله په لاره کښ به په خپلو مالونو او د خپلو ځانونو په ذریعه جهاد کوئ، که چرے تاسو پو هیږئ نو دا ستاسو لپاره بهتره ده).

٨٥ – د الله د دین مدد کول : ﴿ يَـاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْآ اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ﴾ الآية [صف:١٤]

(اے ایمان والو ! د الله مدد ګار جوړ شئ، څنګه چه عیسیٰ ځوئے د مریم حوارینو ته وویل چه الله طرفته دَ دعوت ورکولو په لار کښ به زما مدد څوك وکړی، حوارینو وویل : مونږ د الله د دین

مدد کونکی یو)۔

۸۶ – کله چه د جُمعې د مانځه لپاره آذان وویل شي نو د الله ذکر طرفته سعې او توجه کول او هر هغه کار پریښودل چه په دې لاره کښې خنډ واقع کیږي : مومن به هر قِسم نیکۍ ته تادي کونکے وي او سه خطبې او مونځونو کښې به سستي ښکاره کونکے نهٔ وي : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ الۡجُمُعَةِ فَاسۡعَوۡا إِلَىٰ ذِكۡرِ اللهِ وَذَرُوا الۡبَيۡعَ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٌ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴾ [جمعه:۹]

(اے ایمان والو ! دَ جُمعې په ورځ چه کله د مانځه لپاره اذان وکړے شي، نو تاسو د الله دَ یادولو لپاره تادۍ سره ځئ، او اخستل خرڅول پریدئ، که چرې تاسو پو هیږئ نو دا کار کول ستاسو لپاره زیات بهتر دی)۔

۸۷ – مال او اولاد سره د مشغولتیا په وجه د الله رب العزت د ذکر نه غافله کیدو نه ځان ساتل ځکه چه د الله په ذکر پریښودو کښې پوره تاوان دے۔ دارنګه مومن به د وخت تیریدو نه مخکښې خپل مالونه خرچ کوي او نیك عملونه به کوي : ځکه مومن په خپل دین کښې ډیر زیرکه وي، دے ژور نظر لري۔ خپل دین او د مرګ نه راتلونکو احوالو لپاره توښه تیاروي : ﴿يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ اللهِ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُولَـٰٓئِكَ هُمُ الۡخَـٰسِرُونَ وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقۡنَـٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ أَحَدَكُمُ الۡمَوۡتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّـٰلِحِينَ وَلَن يُؤَخِّرَ اللهُ نَفۡسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَاللهُ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴾ [منافقون:۹-۱۱]

(او اے خلقو ! مونږ چه تاسو له کومه روزي درکړے هغې نه خرچ کوئ مخکښې ددے نه چه په تاسو کښې یو تن له مرګ راشي، نو هغه به وائي: اے زما ربه ! تا دَ څهٔ مودے لپاره زما مرګ ولے روستو نهٔ کړو، دے دپاره چه ما خیرات کړے وے او دَ نیکانو خلقو نه جوړ شوے وے ○ او کله چه د یو کس د مرګ وخت راشي نو الله هغهٔ له هیڅ کله مهلت نهٔ ورکوي، او تاسو چه څهٔ کوئ، الله ددے پوره خبر لري)۔

۸۸ – د ښځو او بچو دشمني پیژندل او په دے باره کښې بیدار وسیدل، او په دے حقله په ځان کښې د معافۍ، اعراض او ښښنے صفت پیدا کول : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوٓا إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوًّا لَّكُمۡ فَاحۡذَرُوهُمۡ وَإِن تَعۡفُوا وَتَصۡفَحُوا وَتَغۡفِرُوا فَإِنَّ اللهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴾ [تغابن:۱٤]

(اے ایمان والو ! بیشکه ستاسو دَ ښځو او ستاسو دَ اولاد نه بعضِ ستاسو دشمنان دی، نو تاسو د دوئ نه بچ وسیږئ، اوکه چرے تاسو معافي کوئ او مخ اړوئ او ښښنه کوئ نو بیشکه الله ډیر زیات ښښونکے، بیحده رحم کونکے دے)۔

مومن به د خپل وس مطابق د خپل رب نه یریږي او د بخل نه به ځان بچ کوي ځکه چه دا د

Maktaba Tul Ishaat.com

ایمان سره منافی شے دے : ﴿ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [تغابن:۱۶]
(او څوك چه دَ خپل نفس دَ بُخل نه بچ کړے شی، همدا خلق کامیابی موندونکی دی).

۸۹ – د طلاقو او عدت وغیره په مسائلو کښے د الله د حدودو لحاظ ساتل او همدے ته تقویٰ ویل کیږی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ﴾ الآيات [طلاق:۱]
(اے نبی ! کله چه تاسو ښځو له طلاق ورکوئ نو د هغوئ د عدت په شروع کښ طلاق ورکوئ، او عدت شمارئ، او په دے باره کښ د الله نه یریږئ چه هغه ستاسو رب دے).
دا وجه ده، د تقویٰ لفظ ئے په دے سورت کښے بلوبار ذکر کړے څکه زیاتره خلك په دے احکامو کښے د الله د حدونو پرواه نهٔ کوی.

۹۰ – خپل ځان او خپل اهل او بچی د اور نه ساتل : او هغه داسے چه دوئ ته ایمان او خیر او د الله او د رسول (ﷺ) طاعت او په دے باندے عمل کول او په دے سره دوئ ته حکم کول ور وښودلے شی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا ﴾ [تحریم:۶]
(اے ایمان والو ! خپل ځانونه او خپل بال بچ د اور نه بچ کړئ).
مومن خپل ځان او خپل بال بچ بیکاره نهٔ ساتی بلکه د خپل ځان او د دوئ په باره کښے د اور نه یریږی۔ دے وجے نه دوئ ته د هر قِسم نیکئ او ایمان او د الله د طاعت حکم کوی، دے دپاره چه اور ته داخل نشی۔

۹۱ – توبة النصوح (خالصه توبه کول) او د مغفرت او جنت ته تلو په امید په دے کښے تادی کول : مومن سړے به الله ته ډیر زیات توبه او رجوع کونکے وی ولے چه ایمان یو مغناطیس دے چه فائدے راکاږی او ضررونه لرے کوی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾ [تحریم:۸]
(اے ایمان والو! تاسو د خپل رب په حضور کښ په رشتینے زړهٔ سره توبه کړئ، امید دے چه ستاسو رب ستاسو گناهونه معاف کړی، او تاسو داسے جنتونو ته داخل کړی چه دَ هغے لاندے به نهرونه بهیږی، په کومه ورځ چه الله او دَ هغهٔ سره ایمان راوړونکی خلق نهٔ رسوا کوی، د دوئ رڼړا به د دوئ مخے ته او د دوئ ښی اړخ ته منډے وهی، دا خلق به وائی اے زمونږ ربه ! زمونږ لپاره زمونږ رڼړا پوره کړه، او مونږ اوبښه، بیشکه چه تهٔ په هر شئ باندے قادر ئے).
نو په دے کښے اشاره ده چه څوك الله تعالیٰ ته توبه نهٔ وباسی نو همدا به رسوا کیږی او ددهٔ نور او رڼړا به مړه کیږی (والعیاذ بالله).

نو اے مسلمانانو ! د وخت تیریدو نه مخکښے مخکښے خپل رب ته په توبے سره واپس شئ !!

۹۲ – الله عز وجل نه خوف او ویره کول : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ [آلِ عمران : ۱۷۵]

۹۳ – په الله باندے توکل کول : ﴿ وَعَلَى اللهِ فَتَوَكَّلُوْا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ [مائده : ۲۳]

لنډه داچه : دا قِسم ایمانی غوښتنے او تقاضا د الله په کتاب کښے ډیرے زیاتے دی۔ او ددے قاعده داده چه هر هغه ځائے چه په هغے کښے عمل د ایمان پورے تړل شوے وی نو دغه عمل د ایمان مقتضی او غوښتونکے دے، لکه دا وینا د الله عز وجل : ﴿ وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ وَّلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَّكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللهُ فِيْ أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ [بقره:۲۲۸]

(او طلاقے شوے ښځے به درے حیضو تیریدو پورے انتظار کوی که هغوی په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری)۔

او دا وینا د الله عز وجل : ﴿ وَّلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ [نور:۲]

(اوکه چرے تاسو په الله او دَ آخرت په ورځ ایمان لرئ)۔

او دا وینا د الله تعالیٰ : ﴿ فَاتَّقُوا اللهَ وَأَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيْعُوا اللهَ وَرَسُوْلَهٗ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ [انفال:۱]

(نو د الله نه یریږئ او خپل مینځ کښ تعلقات صحیح ساتئ، او که ایمان والا یئ نو د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ)۔

او ددے پشان نور آیتونه۔ دا ټول د ایمان مقتضیات او غوښتونکی دی۔ او دا مونږ چه کوم مقتضیات ذکر کړل همدا د الله عز وجل په کتاب باندے د عمل کونکو لپاره کافی دی۔

الله تعالیٰ دے مونږ ټولو له د عمل، اخلاص او د اتباع توفیق راکړی۔ آمین !

[انتهت هذه الفائدة يوم الخميس : ۱٦/ رمضان : ۱٤۳٤ هـ مكة المكرمة جبل النور، الغسالة]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۶ ـ مزيداره فائده

حياتِ طيبه (پاكيزه ژوند) او ددے اسباب پيژندل

دا خبره هر چاته معلومه ده چه هر انسان، تردے پورے چه ليونی هم، ددے لپاره كوشش كوی چه حياتِ طيبه (مزيدار ژوند) حاصل كړی، خو زياتره خلكو ددے لپاره داسے لارے اختيار كړی چه هغه ته انسان نهٔ رسوی :

۱ - چا د مالونو جمع كولو لاره اختيار كړے، او دا خلك زيات دی۔ خو په دے طريقے حياتِ طيبه نهٔ حاصليږی بلكه په دے لاره باندے زياتره تلونكی خلك په وحشت، تيارهٔ، حيرانتيا او افسوس كښے پراتهٔ دی۔ هو ! ددے په ذريعه ځينے غرضونه او دنيوی خوندونه حاصليږی۔

۲ - چا د رياست او مشرئ لاره اختيار كړے : او دا خيال ئے دے چه مزيدار ژوند په همدے سره ملاويږی حالانكه دا تنګه زندګی ده۔

۳ - چا د سياحت او چكرو لګولو، غفلت او بيكارتيا لاره اختيار كړے : او دا هم د وحشت، آفسوس او خپيمانتيا لاره ده۔

٤ - څوك په ښائسته ښځه يا په دويمه او څلورمه ښځه كښے مزيدار ژوند لټوی۔ حالانكه زمونږ په دے زمانه دا د قيديانو ژوند دے ځكه دے به د هغوئ په خدمت كښے قيدی وی او ټول عمر به ئے د دوئ ترمينځه په فيصلو كښے تير شی۔

د مزيدار ژوند لپاره صحيح لاره هغه ده چه زمونږ رب عز وجل په خپل كتاب كښے ذكر كړے او هغه د ايمان او عمل صالح لاره ده۔ الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ [نحل:۹۷]

(څوك چه نيك كار كوی، نارينه وی كه زنانه، په داسے حال كښې چه هغه مؤمن وی نو هغه ته به مونږ پاك او غوره ژوند وركړو او د هغوی د عملونو نه زياته ښائسته بدله به دوی ته وركړو)۔

نو همدا اصل سبب او كاميابه نسخه ده۔ كه تهٔ دا غواړے نو د خپل ايمان صحيح كولو، زياتولو او روښانه كولو كوشش وكړه۔ او په خپلو ټولو كارونو كښے د نيك عمل نه كار اخله۔ الله تعالىٰ دے مونږ ټولو له دا را نصيب كړی۔ آمين !

علماؤ او مفسرينو د ((حياتِ طيبه)) ګڼړ تفسيرونه كړی چه هغه مونږ ذكر كوو او بيا چه كوم

غوره تفسير دے هغه د الله په توفيق سره بيانوو :

١ – ابن عباس – رضي الله عنهما – فرمائي : حياتِ طيبه حلال رزق دے۔ او همدا تفسير د سعيد بن جبيرؒ، عطاءؒ او ضحاكؒ نه نقل دے۔

٢ – قناعت دے : (او دا د علي، ابن عباس رضي الله عنهم او حسن بصريؒ وغيره نه نقل دی)۔

٣ – د نيكيو توفيق ملاويدل : ځكه چه دا د الله رضامندئ ته رسول كوي۔ (ضحاكؒ)۔

٤ – مجاهدؒ فرمائي :دا جنت دے۔ حسن بصريؒ فرمائي : ژوند خو صرف په جنت كښے مزيدار جوړيږي۔

٥ – ځينے وائي : نيك بختيا ته وائي۔

٦ – ابو بكر وراقؒ وائي : د طاعت خوند ته وائي۔

٧ – سهلؒ وائي : چه د بنده نه ددهٔ تدبير ووځي او ددهٔ تدبير الله ته وسپارل شي۔

٨ – جعفر صادقؒ وائي : الله پيژندل او د الله مخامخ په رشتينے مقام كښے ودريدل۔

٩ – ځينے وائي : د مخلوق نه بے پروائي اختيارول او الله ته محتاجي۔

١٠ – ځينے وائي : په تقدير باندے رضا ته وائي۔

دا ټول تفسيرونه امام قرطبيؒ په خپل تفسير كښے ذكر كړي۔

[تفسير القرطبي : ١٠/١٧٤]

١١ – د دنيا نيكيو او ښيګړو ته وائي چه په دے ټولو كښے لويه نيكي په هغه تقدير رضا كيدل دي كوم چه دوئ لپاره مقرر شوے۔ او د انجام ښائسته اميد ته وائي۔

١٢ – ځينے وائي : عافيت او صحت ته وائي۔

١٣ – او په نفسونو كښے د اسلام عزت دے۔ او دا باريك مقام دے چه په دے كښے د احوالو اختلاف د رازونو په اختلاف پورے اړه لري۔ [ذكره ابن عاشور]

زهٔ وايم : كه الله تعالىٰ دا هر څهٔ د ايمان او نيك عمل خاوند لپاره راجمع كړي نو ددے نه هيڅ مانع نشته، او دا هر څهٔ په حياتِ طيبه كښے داخل دی۔

خو ماته چه د الله عز وجل د كتاب نه كوم شے ښكاري – والله اعلم – هغه دادے چه :

حياتِ طيبه څلور شيان دي :

١ – د الله كتاب لوستل، د هغے درس او تدريس كول، د هغے سره تعلق ساتل، په هغے ځان پوهول، په هغے كښے سوچ او فكر كول او د هغے نه اسرار او اشارات راويستل، نو دا اصل كښے حياتِ طيبه دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا صرف د قرآن علماؤ ته ملاویدے شي. او څوك چه په دے تجربه وکړي نو هغۀ ته ددے معلومات کیدے شي. پاتے شو نور خلك نو دا نۀ پیژنی. په دے باندے دلیل د الله تعالیٰ دا قول دے: ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ ﴾ [نحل:٩٨]

(کله چه تۀ قرآن لولے نو په الله سره د رټلے شوی شیطان نه پناه غواړه).

ځکه الله تعالیٰ دا د حیاتِ طیبه ذکر کولو نه پس ذکر کړے. د قرآن کریم د رازونو نه یو راز دا دے چه دا د مبهمو جملو په خپله په سیاق کښے تفسیر کوی. د قرآن کریم سیاق پیژندل یو ډیر زیات مهم علم دے، ډیر کم خلق دے ته توجه کوی.

دارنګه: ددے دلیل دا قول د الله تعالیٰ دے: ﴿ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي ﴾ [طه:١٢٤] (څوك چه زما د ذکر - یعنی زما د قرآن - نه مخ واړوی) ﴿ فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا ﴾ [طه:١٢٤] (نو ددۀ ژوند به تنګ وی). نو څوك چه ددے نه مخ نۀ اړوی نو ددۀ ژوند به مزیدار وی. او دا واضحه خبره ده. نو که تۀ حیاتِ طیبه غواړے نو قرآن لازم ونیسه.

مونږ خپله په دے تجربه کړے په خپل ځان کښے هم او په بل چا کښے هم نو دا مونږ دغسے موندلے. او قرآن کریم دا په واضحه توګه بیان کړے، لکه فرمائی: ﴿ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللهِ أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ﴾ [رعد:٢٨]

(یعنی کوم خلق چه ایمان والا وی او د هغوی زړونو ته د الله په یاد سره اطمینان حاصلیږی، خبر شئ چه د الله په یاد سره زړونو ته اطمینان ملاویږی).

او حیاتِ طیبه د زړونو اطمینان دے. والحمد لله.

٢ - **دویم**: دا چه انسان د شیطان د وسوسو او د هغۀ د غداریانو نه محفوظ پاتے شی، او بنده د هغۀ دشمنی او وسوسے وپیژنی نو دا حیاتِ طیبه دے. او بل طرفته چالره چه شیطان قید کړی او په دهوکه کښے ئے واچوی او څۀ ئے چه خوښه شی هغه پرے کوی نو ددۀ ژوند د قیدیانو غونتنه دے بلکه ددے نه هم تنګ دے.

٣ - **دریم** دا چه: بنده ته الله ایمان، ددے علمونه، ددے زیاتوالے او رڼړا ورنصیب کړی او د ایمان حقائق وپیژنی او دا وڅکی او محسوس ئے کړی نو دا حیاتِ طیبه دے، دے سره بیا هیڅ ژوند په دے دنیا کښے برابر نۀ دے، ځکه د ایمان خوند د ټولو خوندورو شیانو نه زیات دے. او دا خبره مونږ په همدے کتاب کښے د ایمان په فوائدو کښے ذکر کړے. هلته ئے وګوره.

٤ - **څلورم** دا چه: الله بنده له په ټولو احوالو کښے توکل ورنصیب کړی: ځکه د توکل سره ژوند حیاتِ طیبه دے، د طاقتورو ژوند دے، د مالدارو ژوند دے، د خوشحالئ او امن ژوند دے. او

په الله توکل نۀ کول تنګ ژوند دے۔

خلکو سره یا خو د فقر او نیستئ غم وی، شیطان ئے د فقر نه یروی نو بیا ددۀ ژوند په پریشانئ کښے وی حالانکه ددے علاج توکل دے۔ او یا خو دوئ سره د دشمنانو ویره وی۔ یا ورسره د صحت او تندرستئ د ختمیدو او د بیماریو د راتلو ویره وی۔ یا ورسره د خپلوانو د مرینے ویره وی، یا ورسره د مالونو او سرمایئے ختمیدو ویره وی۔ او یا ورسره د بدے خاتمے او ایمان زائله کیدو ویره وی۔ او یا ورسره د قبر او حشر د عذاب ویره وی۔ او ددے ټولو علاج توکل دے۔

نو په الله باندے توکل کول یو لوئے نعمت دے چاته چه دا ورنصیب کړے شی نو دا په حیاتِ طیبه او مزیدار ژوند کښے دے۔ الله تعالیٰ دے مونږ ته په خپل خاص فضل او کرم سره ددے نه پوره پوره برخه رانصیب کړی۔ آمین !

او دے ښخلورو شیانو ته قرآن اشاره کړے، د حیاتِ طیبه ذکر کولو نه پس فرمائی : ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّهُ لَيْسَ لَهُ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ إِنَّمَا سُلْطَانُهُ عَلَى الَّذِينَ يَتَوَلَّوْنَهُ وَالَّذِينَ هُمْ بِهِ مُشْرِكُونَ ﴾ [نحل:۹۸-۱۰۰]

(پس کله چه تۀ قرآن لولے نو په الله سره د رټلے شوی شیطان نه پناه غواړه ○ بیشکه په ایمان والو او په خپل رب باندے بهروسه کونکو باندے د هغۀ هیڅ زور نۀ چلیږی ○ د هغه زور صرف په هغه خلقو چلیږی چه هغه خپل دوست نیسی او کوم خلق چه د الله سره شریکان جوړوی)۔

په دے آیتونو کښے سوچ وکړه، تۀ به ددے لاندے رازونه ووینے۔

ډیرو مفسرینو باندے ددے دوه آیتونو ترمینځه مناسبت مشکل شوے۔ یو ددے آیت : ﴿ من عمل صالحا ﴾ او بل ددے آیت ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ ﴾

نو دوئ مختلفے خبرے کړی۔[انظر تفسیر ابن عاشور]

حالانکه ددے دواړو ترمینځه وجه د مناسبت هغه ده کومه چه مونږ ذکر کړه۔ او دا په دے کمزوری بنده باندے د الله تعالیٰ نعمت دے۔ او الله خپل فضل چاته چه وغواړی ورکوی۔

د مخکنئ فائدے وضاحت :

* تنګ ژوند پیژندل :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا قَالَ كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَى ﴾ [طه:۱۲۴-۱۲۶]

Maktaba Tul Ishaat.com

(او څوك چه زما دَ ياد نه مخ اړوي هغه به په دنيا کښې تنګ حالے وي، او دَ قيامت په ورځ به ئے مونږ ړوند راپاسوو ○ هغه به وائي : زما ربه ! تا ولے زهٔ ړوند راپاسولم، حالانکه په دنيا کښې خو زهٔ ښهٔ ليدونکے ووم ○ الله به ووائي : دغه شان ستا خواته زما آيتونه راغلي وو نو تا هغه هير کړي وو، او دغسے تهٔ نن هيرولے شے)۔

نو څومره چه بنده د الله د ذکر نه اعراض کوي نو هغومره به ددهٔ ژوند تنګ وي۔

نو څوك چه د ايمان نه اعراض کوي، هغه به په دنيا او آخرت کښې په سخت تنګ ژوند کښې وي۔ او څوك چه د عمل نه اعراض کوي هغه به هم داسے وي۔ او څوك چه سره د ايمان نه د قرآن لوستلو، په هغے کښې د سوچ او فکر کولو نه اعراض کوي نو د هغهٔ ژوند به د دغه مخکنو په نسبت لږ تنګ وي۔

تنګ ژوند چاته وائي ؟

۱ – امام قرطبيؒ فرمائي : ددے مطلب دا چه الله د دين سره تسليم، قناعت او په الله او په خپل قِسمت باندے توکل اچولے، نو ددے خاوند په آسانئ او سَخا سره د الله د ورکړي مال نه خرچ کوي او مزيدار ژوند تيروي لکه څنګه چه الله فرمائي : ﴿ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [نحل:۹۷] (خامخا به مونږ دهٔ له مزيدار ژوند ورکړو) او د دين نه اعراض کونکي باندے داسے حرص مسلط شوے وي چه هغه ئے د دنيا زياتوالي پسے لګولے دے او هغه بخل پرے لګيدلے چه ددے په وجه د خرچ کولو نه خپل لاس راکاږي نو ددهٔ ژوند تنګ وي او حالت ئے تيارهٔ وي لکه ځينو ويلي دي : څوك د خپل رب د ذکر نه مخ واړوي نو خامخا په دهٔ باندے ددهٔ وخت تيارهٔ شي او روزي پرے ګډه وډه شي او دے په تنګ ژوندون کښې پروت وي۔

۲ – عکرمهؒ فرمائي : تنګ ژوند حرامو ته وائي۔

۳ – حسن بصريؒ فرمائي : زقوم او ازغي دارے ونے ته وائي۔

٤ – ابو سعيد خدري او ابن مسعود – رضي الله عنهما – فرمائي : عذابِ قبر ته وائي۔ [ذکره القرطبي]

۵ – سعيد بن جبيرؒ فرمائي : الله چه کله د بنده نه قناعت او توکل واخلي نو دا تنګ ژوند دے۔

زما په زړهٔ کښې دا خبره تيريږي چه : حياتِ طيبه هغه ژوندے چه هغے ته قرآن کريم په دے وينا سره اشاره کړے : ﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ الَّذِيْنَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمَاتِ اللهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ [يونس:٦٢ـ ٦٤]

(خبر شئ ! بيشکه د الله دوستانو ته به نهٔ څه يره رسيږي او نهٔ کوم غم ○ هغه کسان چه ايمان

ئې راوړې او الله نه يريدلي وو ۞ د دوي لپاره د دنيا په ژوند کښې زيرې دې او په آخرت کښې هم، د الله په وعدو کښې تبديلي نۀ راځي، همدا د تولو نه لويه کاميابي ده)۔

نو حياتِ طيبه همدې زيرې ته وائي۔ او ددې زيرې ګڼړ تفسيرونه شوي : (۱) هغه ښۀ خوبونه چه مسلمان ئې په خپله ويني او يا ئې ورله خلك ويني۔ (۲) د خلکو په زړونو کښې د چا لپاره محبت اچول کيدل۔ يعنې الله تعالىٰ ددې کس محبت د خلکو په زړونو کښې اچوي، لکه الله تعالى فرمائي : ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ وُدًّا﴾ [مريم:۹٦]

(بيشکه کومو خلقو چه ايمان راوړو او دوي نيك عمل وکړو، رحمٰن به د دوي محبت د تولو په زړونو کښې کينوي)۔

(۳) او ما د حياتِ طيبه تفسير په ((ايماني فوائدو)) سره کړے، او دا سل فائدے دي چه د الفوائد (۱/ ۱۷۹) په اولني جلد کښې ذکر شوي، دارنګه د ((تقوىٰ فوائد)) چه هلته په (۱/ ۱٦٥) کښې ذکر شوي۔ هغه کتل پکار دي ځکه چه کله دا بنده ته حاصلې شي نو دا بغير د شك نه حياتِ طيبه دے۔ د مثال په توګه مونږ د هغې نه يو څو فائدے ذکر کوو :

تقوىٰ د هدايت سبب دے، د الله د معيت او ملګرتيا سبب دے، ددې په وجه د هرې تنګئ نه خلاصے ملاويږي، ددې په وجه انسان ته د هغه ځائے نه رزق ملاويږي چه د انسان ګمان هم نۀ وي۔ ددې په وجه په انسان باندې کارونه آسانيږي۔ د برکتونو، بصيرت، غيبي نصرت او فراست دروازے خلاصيږي۔ د همدې تقوىٰ په وجه د زړۀ نور حاصليږي۔ د الله رحمت نازليږي او د دنيوي عذاب نه نجات ملاويږي۔ او د تقوىٰ لباس خو بهترين لباس دے چه چاله ئې الله ورکړي۔ دغسې نورې فائدے شوے۔ چه هلته ملاويږي۔

مقصد دا چه حياتِ طيبه زيرې ته وائي، او زيرے د ايمان او د تقوىٰ فائدو ته وائي چه هغه د يو نيم سلو (۱۵۰) نه زياتے فائدے دي۔

خو دا خبره هم ياد لرل پکار دي : چه حياتِ طيبه کښې هم د ايمان او عمل صالح د تفاوت په وجه خپلې خپلې درجے او مرتبے دي۔ نو ځينے خلکو ته اعلىٰ درجه حياتِ طيبه ملاويږي هر کله چه د ايمان او د تقوىٰ په لباس باندې ښايسته شوے وي۔ او ځينو ته ددې نه ښکته درجے والا حياتِ طيبه ملاويږي۔ او دغسے په مخه روان اوسه۔ ځکه الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴾ [جاثية:۲۱]

(آيا کوم خلق چه ګناهونه کوي دوئ به مونږ د هغه خلقو غونته جوړ کړو چه هغوئ ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

راوړے او نیك عملونه ئے کړی، ددے دواړو ډلو ژوند او مرګ به یو شان وی، دا خلق ډیره خرابه فیصله کوی)۔

او فرمائی : ﴿ اَمۡ نَجۡعَلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالۡمُفۡسِدِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ اَمۡ نَجۡعَلُ الۡمُتَّقِيۡنَ كَالۡفُجَّارِ ﴾ [ص:۲۸]

(آیا مونږ به ایمان او نیك عمل کونکی د هغه خلقو پشان جوړوو چه هغوئ په زمکه فساد خورونکی دی، یا مونږ به د الله نه یریدونکی د فاجرانو پشان جوړوو)۔

په دے کښے ښهٔ سوچ او فکر پکار دے !

نو اے لوستونکیه ! تهٔ په ایمان او عملِ صالح او ددے په صفا کولو کښے کوشش وکړه، دے لپاره چه تاته حیاتِ طیبه او مزیدار ژوند حاصل شی۔ الله تعالیٰ نه مونږ ټول ددے ژوند توفیق غواړو۔ والله المستعان۔

❋ ❋ ❋ ❋ ❋

۱۷ – فائده

د حکمت حاصلولو طریقه او ددے منافع پیژندل

حکمت، د علم مضبوطیا او ددے علم مطابق کارونو کولو ته وائی۔ حکمت د حُکم نه وتے دے چه دا منع ته وائی ځکه چه دے سره ددے خاوند په غلطئ او گمراهئ کښے د غورزیدو نه منع کیږی۔ او ډیر کرته حُکم ذکر شی او مراد ترینه حکمت وی لکه د الله تعالیٰ په دے وینا کښے: ﴿ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا﴾ [مریم:۱۲]

(او مونږ د وړوکوالی نه هغهٔ ته د فیصلو کولو صلاحیت ورکړے وو) او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ﴾ [یوسف:۲۲] (او کله چه هغه ځوانئ ته ورسید نو مونږ هغهٔ ته علم او حکمت ورکړو) او فرمائی: ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰۤى اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّ عِلْمًا ﴾ [قصص:۱٤]

(او هر کله چه موسیٰ خپلے پوره ځوانئ ته ورسیدهٔ او د هغهٔ جسمانی تربیت مکمل شو نو مونږ هغهٔ له حکمت او علم ورکړو)۔

او دا په قرآن کریم کښے بار بار راغلے۔

*** د حکمت مصداقات:**

۱ – قتادهؒ وائی: حکمت سنت ته وائی۔

۲ – مالکؒ او ابن زیدؒ وائی: دین پیژندنه، په تفسیر کښے مهارت او هغه فهم چه هغه د الله تعالیٰ له خوا طبیعت او رڼا ده۔

۳ – حکم او فیصلے ته وائی۔[ذکره القرطبی]

٤ – ابن عاشورؒ وائی: حکمت دیته وائی چه انسان هر شے د خپل انسانی طاقت مطابق په خپل اصلی شکل سره وپیژنی او یو حقیقت د بل حقیقت سره مشتبه نشی او په اسبابو او علتونو کښے غلطی ونهٔ کړی۔

او حکمت د دین په نظر کښے څلور شیان دی:

۱ – الله تعالیٰ په لائق پیژندلو سره پیژندل، چه دیته حقه عقیده پیژندل وائی۔

۲ – د کوم شئ په پیژندلو سره چه د انسانیت کمال راوځی، او دا د اخلاقو علم دے۔

۳ – د خاندان تهذیب او تدبیر کول۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٤ - د امت اصلاح او برابروالے کول، چه دیته سیاستِ مدنیه وائی۔

٥ - او الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې حکمت په ګڼرو ځایونو کښې ذکر کړے چه ددے نه مراد هغه شے دے چه په هغې سره د نفسونو صلاح او جوړوالے راځی چه دا نبوت، هدایت او ارشاد دے۔

٦ - د عربو په استعمالاتو کښې د حکمت اطلاق په هغه اقوالو باندے کیږی چه په هغې کښې د نفس بیداری، د خیر وصیت او د سعادت او شقاوت په تجربو باندے خبر ورکړے شوے وی، دارنګه د ټولو آدابو په باره کښې جامع کلمات په کښې وی۔ او حکیم هغه چاته وائی چه په دے ټولو یا ځینو علمونو کښې پوره مهارت لری، چه دے د خپل حکمت په برکت سره په غلطئ او ګمراهئ کښې د خپل حکمت په اندازه د غورزیدو نه بچ کیږی۔

[انظر : التنویر والتحریر ، لابن عاشور : ۲/ ۵۳۱]

۷ - مجاهدؒ وائی : حکمت د قرآن پوهے ته وائی۔

۸ - مقاتلؒ وائی : د قرآن مواعظ او په دے کښې ذکر شوی احکامو ته وائی۔

۹ - قتیبهؒ وائی : علم او عمل ته وائی او یو انسان تر هغه وخته پورے حکیم نشی جوړیدے ترڅو ئے چه دا دواړه جمع کړی نهٔ وی۔

۱۰ - ابو بکر بن دریدؒ وائی : حکمت هر هغه خبره ده چه تاته نصیحت وکړی یا دے عزتمن شئ ته راوبلی او یا دے د یو قبیح او بد کار نه بچ کړی۔

[انظر : معالم التنزیل : ۱/ ۱۱۷]

۱۱ - عبد الرحمن ناصر السعدیؒ فرمائی : نفعمن علمونو، حقو معارفو، برابر عقلونو، سنجیده زړونو او په اقوالو او افعالو کښې حق ته رسیدو ته حکمت وائی۔

۱۲ - بیا فرمائی : حکمت دیته وائی چه سړے هر یو شے په خپل ځائے کښې کیدی، هر کار له خپله مرتبه ورکړی او د مخکښې کیدو په ځائے کښې مخکښې شی او د روسته کیدو په ځائے کښې روستو شی۔

۱۳ - په قرآن کښې پوهه او په قول او عمل کښې حق ته رسیدل حکمت دے، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ [بقره:۲۶۹]

(او چا له چه حکمت ورکړے شو، هغه ته ډیر خیر ورکړے شو)۔

۱٤ - بنائسته وعظونو ته وائی، لکه په دے قول د الله تعالیٰ کښې : ﴿ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمًا ﴾ [نساء:٥٤]

(مونږ خو آل ابراهیم ته هم کتاب او حکمت ورکړے وو، او هغوئ ته مو یوه لویه بادشاهی هم

ورکړې وه)۔
۱۵ – نرمي او آساني کول۔ سختي او شدلتوب نهٔ اختیارول۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ اُدْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ ﴾ [نحل:۱۲۵]
(تهٔ د خپل رب لارې طرف ته په حکمت او ښائسته نصیحت سره رابله)۔
۱۶ – محکمو کارونو او بهترینو اخلاقو ته حکمت وائي، الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ ذَٰلِكَ مِمَّا أَوْحَىٰ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ﴾ [اسراء:۳۹]
(دا ټول بد کارونه ستا د رب په نیز نا خوښه دي ○ دا ټول د حکمت هغه خبرې دي چه تا ته ستا رب د وحی په ذریعه درکړیدي)۔
۱۷ – فهم او د شریعت موافق عقلي دلیل ته حکمت وائي، لکه په دې قول د الله تعالیٰ کښې : ﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ ﴾
۱۸ – وعظ ته وائي، لکه په دې قول د الله تعالیٰ کښې : ﴿ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴾ [قمر:۵]
(دا د الله بلیغ حکمت دې، خو مختلفو طریقو سره ویرول دوئ له هیڅ فائده نهٔ ورکوی)
۱۹ – کفويّ وائي : د علماؤ په نیز حکمت دیته وائي چه انساني نفس د نظري علمونو حاصلولو او د پوره ملکې ګټلو دپاره په غوره کارونو کښې د خپل طاقت مطابقت استعمال کړې شي۔
۲۰ – هغه نفعمن علم ته وائي چه په دې سره انسان د خپل نفس ګټه او تاوان وپیژني، چه دې ته په دې قول د الله تعالیٰ کښې اشاره شوې: ﴿ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ﴾ [بقره:۲۶۹]
۲۱ – ځینې وائي حق پیژندل او په خیر باندې عمل کول حکمت دې او همدا شرعي تکالیف دي۔
۲۲ – حافظ ابن حجرؒ فرمائي : حکمت حقې وینا ته وائي۔ او ځینې وائي : د الله په خبره ځان پوهولو ته وائي۔ او ځینې وائي : هغه شې دې چه عقل د هغې د درست والي ګواهي ورکوي۔ ځینې وائي : هغه نور (رنړا) ته وائي چه د هغې په وجه انسان د الهام او د وسوسې ترمینځه فرق کولې شي۔ ځینې وائي : په تادئ سره حق جواب ورکولو ته وائي۔ بیا فرمائي : امام نوويّ فرمائیلي دي : په بصیرت سره د الله پیژندلو، د نفس تهذیب، عمل لپاره د حق تحقیق کول او ددې د ضد نه ځان بچ کولو ته حکمت وائي۔ او حکیم هغه څوك دې چه دا کارونه جمع کړي۔
[فتح الباری : ۷/ ۱۲۶]
۲۳ – ځینې وائي : نفس، شیطان او ریاضتونو پیژندو ته وائي۔ [انظر : نضرة النعیم : ۵/ ۱۶۷۹]
۲۴ – ابو العالیهؒ وائي : حکمت، الله نه یریدو ته وائي۔ [الدر المنثور]

Maktaba Tul Ishaat.com

زۀ وايم : **حکمت** درې قِسمه دې :

(۱) په علم کښې حکمت : او دا د علم پوخوالې، په هغې ځان پوهول او قرآن مجيد په رشتينې پوهې سره پيژندلو ته وائي، او په دې کښې عمل ضروري دې.

(۲) په وينا کښې حکمت : او دا لکه د ابن دريدؒ د وينا مطابق : هر هغه خبره ده چه تاته نصيحت وکړي يا دې عزتمن شئ ته راوبلي او يا دې د يو قبيح او بد کار نه بچ کړي.

[انظر : معالم التنزيل : ۱/ ۱۱۷]

(۳) په دعوت کښې حکمت : او دا د اشخاصو، اوقاتو او د هغه مسائلو پيژندو ته وائي چه يو داعي ئې خلکو ته وړاندې کوي. دارنګه په وينا کښې نرمه او آسانه لهجه استعمالولو او کله نا کله د حالاتو مطابق د داعي غصه کيدلو ته وائي.

او دا کارونه نۀ حاصليږي مګر کله چه الله انسان ته رشتينې التجاء او زاري وکړي. دارنګه هغه کارونه اختيار کړي کوم چه مونږ روستو ذکر کوو.

د حکمت حاصلولو طريقه :

ددې لپاره مهم اسباب دادي :

۱ - **اخلاص** : ځکه څوك چه الله لپاره په خپلو اعمالو کښې اخلاص وکړي نو الله عز وجل په خپل فضل او کرم سره حکمت ورکوي.

د مکحولؒ نه نقل دي هغه فرمائي : څوك چه الله لپاره څلويښت ورځې اخلاص وکړي نو ددۀ د زړۀ نه به ددۀ په ژبه باندې د حکمت چينې رابنکاره شي.

[وتقدم : ۲/ ۳۲۷، وانظر المدارج، وروى ذلك في الترغيب للمنذري مرفوعًا بإسناد فيه كلام]

ولې چه اخلاص د علمونو او حکمتونو چابي ده. الله تعالىٰ دې مونږ ته ددې نه لويه برخه رانصيب کړي. آمين !

ابن عباس - رضى الله عنهما - د الله تعالىٰ ددې وينا ﴿ وَلَٰكِن كُونُوا رَبَّانِيِّينَ ﴾ (ليکن تاسو الله والا جوړ شئ) په باره کښې فرمائي : تاسو فقهاء او حکماء جوړ شئ.

۲ - **خشيت** : څوك چه د خپل رب نه خشيت لري نو الله به پرې د علمونو او حکمتونو دروازې پرانيزي. علماء فرمائي : د حکمت بنياد، الله نه يره کول دي. ابو العاليهؒ فرمائي : ﴿ يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ ﴾ (چاته چه وغواړي حکمت ورکوي) يعني خشيت ورکوي، ځکه خشيت د هر حکمت بنياد دې.

[رواه السيوطى فى الدر، وفيه عن مطر الوراق : بلغنا : أن الحكمة خشية الله والعلم به]

۳ – **زهد او بے رغبتي** : څوك چه په دے رزیله دنیا کښے بے رغبته دے نو دا خامخ حکمت والا دے بلکه د زهد په وجه په انسان باندے عجیبه رازونه او حکمتونه راکهلاویږي۔ لکه د ابو هریره رضي الله عنه په حدیث کښے دي، رسول الله ﷺ فرمائي :

[إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يُعْطَى زُهْدًا فِي الدُّنْيَا وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوْا مِنْهُ فَإِنَّهُ يُلَقَّى الْحِكْمَةَ]

(کله چه تاسو یو سړے ولیدۀ چه په دنیا کښے ورته بے رغبتي او کمے خبرے ورکړے شي نو هغۀ ته ځان ورنزدے کړئ ځکه دۀ ته د حکمت القاء کیږي)۔

[رواه البیهقي في الشعب ٤٦٣١ ، وفیه ابن لهیعة ، وحدیثه حسن في الشواهد ، وأخرجه الطبراني في الأوسط من غیر طریقه : ١٨٨٥]

٤ – **یواځے والے** او خلکو نه تیښته : عمر بن عبد العزیزؒ فرمائي : کله چه تاسو یو سړے وویني چه اوږده خاموشي اختیاروي او خلکو نه تښتي نو هغۀ ته ورنزدے شئ ځکه په هغۀ باندے د حکمت القاء کیږي۔ [کما في حسن السمت للسیوطي ص : ٢٥]

د خلکو ملاقات د زړۀ د خرابي او فساد او د حکمت د ضائع کیدو سبب دے۔

٥ – **دبے فائدے شیانو نه چپوالے** : او دا ډیر ضروري کار دے چه مونږ ترے ډیر ځله غافله یو۔

وهب بن منبهؒ فرمائي : د طبیبانو په دے اتفاق دے چه د طب بنیاد په پرهیز ولاړ دے۔ احمد بن خالدؒ د خپل والد نه نقل کوي چه د چپوالي کمه فائده سلامتیا ده، او د خبرو ادنیٰ ضرر خپیمانتیا ده۔ او د بے مناسبه شیانو نه چپوالے لوئے حکمت دے۔ [کما في المصدر نفسه : ٣٢]

لقمان حکیمؒ فرمائي : خاموشي حکمت دے او کونکي ئے کم دي۔ نو داؤد علیه السلام لقمان ته وفرمایل : تاته حکیم په همدے وجه وویل شو۔ [کذا في حسن السمت : ١٦]

لقمان حکیمؒ ته چا وویل : تۀ دے مرتبے ته څنګه رسیدلے ئے ؟ هغۀ وبل : په کم ګړیدو او په بے فائدے شیانو پریښودو۔ [کما في المشکاة : ٢]

وهیب بن الوردؒ فرمائي : پخوا به دا خبره کیده چه : حکمت لس برخے دے، نهه برخے په خاموشئ کښے دي او لسمه د خلکو نه په جدا وسیدو کښے ده۔

[انظر الصمت لابن أبي الدنیا : ٣٦]

یونس بن عبیدؒ فرمائي : دوه خویونه دي چه کله دا جوړ شي نو ددے په وجه د انسان ټول عملونه جوړیږي (١) مونځ۔ (٢) ژبه۔ [انظر : حاشیة الصمت]

ابن ابي الدنیا فرمائي : لقمان حکیمؒ ته چا وویل : ستا حکمت څۀ شے دے ؟ وے فرمایل : د هغه شئ پوښتنه نۀ کوم چه د هغے نه بے غمه شوے یم، او د هغه شئ تکلف نۀ کوم چه ما سره

Maktaba Tul Ishaat.com

مناسب نهٔ وی۔

او دهٔ ته عرض وکړے شو : آیا تهٔ د فلانئ قبیلے غلام نهٔ وے ؟ هغهٔ ویل : ولے نه۔ ورته وویل شو : نو بیا دے مرتبے ته څنګه ورسیدے ؟ ویل : په رشتینے خبرو او کوم شیان چه ما سره مناسب نهٔ وی د هغے نه په اوږدے خاموشئ سره۔

[الصمت لابن أبی الدنیا ص : ۱۱۵]

یحیی بن معاذ رازیؒ فرمائی : په زړونو باندے د آسمان نه حکمتونه نازلیږی او په هغه زړهٔ کښے نهٔ وسیږی چه په هغے کښے څلور خویونه وی : (۱) دنیا ته میلان (۲) د صبا غم کول (۳) ورور سره حسد کول (٤) او د خپل ځان شرافت تالاش کول۔ [تنبیه الغافلین]

په تفسیر قرطبیؒ کښے دی : حکمت وائی : څوك چه ما تالاش کوی او د تالاش باوجود ما بیانهٔ مومی نو ما دے په دوه ځایونو کښے تالاش کړی (۱) دهٔ ته چه څهٔ معلوم وی، په هغے کښے دے په ښائسته شئ باندے عمل وکړی (۲) او کوم بدترین شے چه دهٔ معلوم دے د هغے نه دے ډډه وکړی۔ [قرطبی : ۱۳/ ۳٦٥]

٦ – په خیر کښے فکر کول : څکه فکر سره حکمت خرویه کیږی او یو سړے تر هغے پورے حکیم او پوهه نشی جوړیدے تر څو چه خپل ځان لپاره داسے اوقات مقرر نهٔ کړی چه په هغے کښے فکر کوی۔

په تفسیر سراج المنیر [۱] کښے دی : فکر سره حکمت مال کیږی، ویره پیدا کوی او زړهٔ نرموی۔

۷ – تجربه : دے سره په بنده باندے حکمتونه پرانستے کیږی۔ حدیث کښے دی : [لَا حَلِيْمَ اِلَّا ذُوْ عَثْرَةٍ وَلاَ حَكِيْمَ اِلَّا ذُوْ تَجْرِبَةٍ] (هر صبرناك خویدو والا او هر حکیم تجربے والا وی)۔

[ترمذی، مشکاة : ۲، وذکره فی الفتح موقوفًا علی معاویة : ۱۰/ ٥٤٦، نضرة النعیم : ٥/ ۱۷۰۱]

۸ – د حکیمانو علماؤ مجلسونو ته حاضریدل :

لقمان خپل ځوئے ته وویل : اے ځویه ! علماؤ سره کینه او د هغوئ مخے ته زنګونان راماتوه څکه الله د حکمت په رنړا سره زړونه داسے ژوندی کوی څنګه چه زمکه په تیز باران سره ژوندئ کوی۔ [رواه مالك فی الموطأ]

ابن مسعود ﷺ فرمائی : هغه څومره ښهٔ مجلس دے چه په هغے کښے حکمت خوریږی او د رحمت امید پکښے لرے شی۔ [مسند الدارمی : ۲۹۳]

۹ – د ټولو نه لوئے حکمت د الله عز وجل کتابِ دے، چه دا سراسر حکمت دے خو چه څوك پکښے سوچ وکړی، بار بارئے لولی او پوره توجه ورته کوی او ایمان پرے لری۔ بلکه خلك چه د

حکمت کومے خبرے کوی دا تولے په دے کښے پرتے دی۔ کعبؓ فرمائی : تاسو قرآن سره تعلق ولرئ! ځکه دا د عقل پوهه، د حکمت رنړا، د علم چینے او د الله تازه راغلے کتاب دے ...... الحدیث۔ [ذکره الدارمی : ۲/ ۳۱۲، رقم : ۳۳۲۷]

۱۰ – بهترین حکمت د الله تعالیٰ د امر طاعت کول دی : داؤد علیه السلام فرمائی:

[اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّیْ تَعَالَیْتَ فَوْقَ عَرْشِكَ وَجَعَلْتَ خَشْیَتَكَ عَلٰی مَنْ فِی السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ فَأَقْرَبُ خَلْقِكَ مِنْكَ مَنْزِلَةً أَشَدُّهُمْ لَكَ خَشْیَةً ، وَمَا عِلْمُ مَنْ لَمْ یَخْشَكَ ، وَمَا حِكْمَةُ مَنْ لَمْ یُطِعْ أَمْرَكَ] (اے الله ! ته زما رب ئے۔ د خپل عرش دپاسه ئے او تا خپله ویره په زمکے او آسمان والو کښے اچولے، نو تاته د تولو نه زیات نزدے هغه څوك دے چه تانه ډیر زیات یریږی۔ او د هغه چا به څهٔ علم وی چه تانه نهٔ یریږی، او د هغه چا به څهٔ حکمت وی چه ستا خبره نهٔ منی !!)۔

[رواه الدارمی : ۱/ ۸۲]

۱۱ – عروهٔ بن الزبیر فرمائی : پخوا به دا خبره ویل کیده چه : نرمی د حکمت بنیاد دے۔ [الدر المنثور]

۱۲ – او د حکمت د حاصلولو زیاته نزدے لاره د سنت پابندی کول او د تواضع او خشوع پابندی کول دی او په قرآن او سنت کښے فکر او سوچ کول دی۔

۱۳ – دارنګه په هر هغه شئ کښے چه انسان ئے کوی یا پریدی، الله تعالیٰ ته التجاء او افتقار ښکاره کول دی۔ مثلاً: کله چه ته یوه خطبه یا محاضره ورکوے نو خپل رب ته التجاء او زاری وکړه او د هغهٔ نه توفیق غواړه، دے دپاره چه ددے د شر نه دے وساتی او ددے خیر درته درکړی۔

۱۴ – او ما خپله په دے کښے په دے ځینے کارونو تجربه کړے، او ورسره یو بل شے هم شته چه هغه راز پټ ساتل دی، ځکه یو سړے تر هغه وخته پورے حکیم نشی جوړیدے چه خپل راز پټ ونهٔ ساتی، تردے پورے چه ځینے وخت یو عالم په خپله خطبه او تقریر کښے په مراجعو باندے حواله نهٔ ورکوی ځکه خبره په دے وخت کښے ډیر اثر لری او په دے باندے تجربه شوے۔

۱۵ – د حکمت په حاصلولو کښے د تولو نه لوئے سبب احسان دے : او هغه دا چه ته د الله داسے بندګی کوے لکه ګویاکه ته هغه وینے، اوکه دا تصور دے نهٔ وی نو کم نه کم دا تصور خو کوه چه الله ما وینی او په دے خوئے خصلت باندے همیشه والے وکړه نو ته به ناشنا حکمتونه ووینے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ آتَیْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذٰلِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ﴾ [یوسف:۲۲]

(او کله چه هغه ځوانئ ته ورسید نو مونږ هغهٔ ته علم او حکمت ورکړو، او مونږ نیه عمل کونکو ته داسے بدله ورکوو)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا کارونه الله ماته په زړهٔ کښې اچولي۔ نو الله لره همیشه حمد او شکر دے په دنیا او آخرت دواړو کښې۔

یاد لره چه **حکمت** په دوه قِسمه دے :

۱ – په **سوال** غوښتلے شوے حکمت : او هغه دا چه تهٔ د کتابونو نه د حکمت کلمات رانقل کړې او خپل ځان په دغه خبرو باندے متصف نهٔ کړې۔ نو ددے حکمت اثر ډیر کم وی۔

۲ – **حقیقي حکمت** : او هغه دا چه ستا د خلے نه دا په دا سے حال کښې وځی چه تهٔ په دے باندے متصف ئے بلکه په دے حکمت باندے ستا موصوف کیدل تانه دا خبرے راوباسی، ځکه قانون دادے چه هر لوښی نه هغه شے چنړکاویږی څهٔ چه په کښې پراتهٔ وی۔ ﴿ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ﴾ [اسراء:۸٤]

(تهٔ ووایه هر شخص د خپلے طریقے مطابق عمل کوی)۔

د حکمت منافع :

د حکمت منافع ډیر زیات دی، ځینے د هغے دادی :

(۱) حکمت د تهذ[illegible] النفس سب دے (۲) د الله نه د ویرے سبب دے (۳) [illegible] عمل صالح سبب دے (٤) په دے سره د بندګانو لاربنوونه کیږی (٥) دا بنده سره د الله د محبت سبب دے (٦) بهترینه هدیه او تحفه ده چه انسان ئے خپل ملګری له ورکوی (۷) په زړهٔ کښې رنړا ده (۸) په ښارونو او مجلسونو کښې سرداری ده (۹) پوخ علم دے (۱۰) حق، سنت او خیر طرفته دعوت دے۔

دغه شان نورے فائدے هم شته۔

اے الله ! مونږ تانه دعا غواړو چه تهٔ مونږ ربانین، حکماء، علماء او فقهاء جوړ کړې ! آمین۔

❋ ❋ ❋ ❋ ❋ ❋

۱۸ - فائده

په حکمت کښې دې مينې کيدو اسباب

پخوا به خلکو په حکمت کښې مينه لرله او ددې لپاره به ئې سفرونه کول او ددې حاصلولو لپاره به ئې سختې تنګې تيرولې. او اوس زمونږ او ستاسو په دې دور کښې حکمت يو ضائع شې ګرځيدلې چه ډير کم خلك په دې کښې رغبت او مينه کوی. ددې بازار کوته شوې. ددې درې وجې کيدې شي :

۱ - د خلکو په نفسونو باندې د دنيا محبت غلبه کړې، ولې چه کله د دنيا محبت په زړهٔ کښې ځائې ونيسي نو بيا د زړهٔ نه هر خير وباسي او هر شر ورته راځي.

۲ - زړهٔ سخت والې : ولې چه کله زړهٔ سخت شي نو بيا په دې باندې حکمت اثر نهٔ کوی او نهٔ په حکمت کښې څوك رغبت لری او نهٔ ورته وعظ او نصيحت فائده ورکوی، لکه سخته زمکه چه باران ورته فائده نهٔ ورکوی اګرکه په دې باندې څو ورځې باران وورېږی.

۳ - ډير خلك د خپلو نفسونو د تزکيئې او پاکوالی رغبت نه لری او نهٔ دا خبره پيژنی نو ځکه د حکمت بازار کوته شوې او خلکو ترې مخ اړولې. والله المستعان.

۱۹ - فائده

په څلورو شيانو باندې د مغفرت وعده

څوك چه څلور شيان راوړی نو الله هغهٔ سره د مغفرت او ببښنې وعده کړې، او د الله مغفرت ډيره لويه قيمتي سرمايه ده :

(۱) توبه (۲) ايمان (۳) عمل صالح (٤) اهتداء.

لکه الله تعالىٰ فرمائی : ﴿ وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰی ﴾ [طه:۸۲]

(او بيشکه زهٔ ډير زيات ببښونکے يم هغه چا دپاره چه توبه کوی او ايمان راوړی او نيك عمل کوی، بيا په نيغه لار روان وی).

Maktaba Tul Ishaat.com

اولنۍ درې شیان خو معلوم دي، لیکن (اهتداء) چاته وائي ؟ نو ځینې وائي :(۱) په دغه درې څیزونو باندې استقامت کولو ته وائي- (۲) او ځینې وائي : سنت مضبوط نیولو ته وائي- (۳) ځینې وائي : دا خبره پیژندل چه ددهٔ د عمل لپاره ثواب شته دې- او ځینو نور تفسیرونه کړي.

زما په فکر د اهتداء نه مراد الله تعالیٰ په خپلو اسماء او صفاتو سره پیژندل او همیشه لپاره د هغهٔ په ذکر کښې لګیدلو ته وائي-

یا دې نه مراد د ایمان زیاتوالې دې چه انسان ددې په زیاتوالي کښې کوشش شروع کړي- لکه الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى ﴾ [مریم: ۷٦]

یعنې الله به د مومنانو ایمان زیاتوي- لکه چه دا تفسیر امام بخاريؒ په خپل صحیح کښې کړې- او په دې باندې قرآني سیاق هم دلالت کوي، هغه دا چه هر کله موسیٰ علیه السلام په دغه درې کارونو باندې راتګ وکړو نو د خپل رب په رضامندئ کښې ئې کوشش شروع کړو : ﴿ وَعَجِلْتُ اِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴾ [طه:۸٤]

(ما تاته په راتلو کښې جلتي دې لپاره وکړه چه تهٔ خوشحاله شې)-

نو څوك چه د خپلو ګناهونو نه توبه کړي او د خپل رب خبره رشتینې وګڼړي او نیك عمل شروع کړي نو دا خبره ضروري ده چه دې به د ایمان د زیاتیدو کوشش کوي، او په قِسما قِسم عملونو، په کائناتو او په اسماء او صفاتو کښې په سوچ او فکر کولو سره به د الله د رضامندئ کوشش کوي-

او ددې څلور واړه شیانو حاصلیدو نه پس به درته الله په هر هغه عمل صالح باندې مغفرت کوي چه تهٔ په هغې باندې راتګ کوې- لکه څنګه چه په قرآن او سنت کښې د مغفرت ګڼړ اسباب ذکر شوي، خو ددې کارونو نه پس-

په دې کښې فکر وکړه ولې چه دا مهمه خبره ده-

******

۲۰ - قیمتی فائده

د کور نه چه انسان فائده اخلی نو د هغې جوړول، دروازه ایښودل، چت ئے جوړول، د هغې لیوول ضروری دی. که دا کارونه ونهٔ کړی نو انسان ته په دے کښې بیا امن او سکون نهٔ وی. ﴿وَاللّٰهُ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ بُيُوْتِكُمْ سَكَنًا﴾ [نحل:۸۰] (او الله ستاسو کورونه ستاسو لپاره د وسیدو ځائے جوړ کړے).

نو دا ناشنا مثال دے د نفس د جوړولو. نو عاقل انسان له ضروری دی چه خپل نفس جوړ کړی گنې د خپل نفس نه به نفع وانهٔ خلی او نهٔ به تر بل څوك نفع واخلی، بلکه د خنزیر او شری څناور نه به هم زیات بیکاره او پلیت وی. او د پلیتیو ځائے اور دے ﴿وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ﴾ [انفال:۳۷]

(او خبیثان یو بل دپاسه وگرځوی او دا ټول یو ډهیرے کړی بیا دوی جهنم ته گوزار کړی).

امام مالك رحمه الله فرمائی: په چا کښې چه د ځان لپاره خیر نهٔ وی، په هغهٔ کښې د خلکو لپاره هم خیر نشته. [حیاة الحیوان : ۲]

نو د نفس آبادول، ددے کمال، په بازار کښې ددے چلیدل او د الله عز وجل په نیز ددے عظمت چه راځی نو دا په یو څو کارونو سره راځی:

۱ - چه انسان د خپل رب حمد او شکر کونکے جوړ شی.

۲ - چه انسان د خپل رب ذکر کونکے عبادت کونکے جوړ شی او هیڅ کله د هغهٔ نه غفلت نهٔ کوی.

۳ - چه هغهٔ طرفته محتاج، په خپلو ورو او لویو ټولو حالاتو کښې د هغهٔ نه مدد غوښتونکے جوړ شی.

٤ - د هغهٔ نه د هدایت طلبگار جوړ شی او هدایت قبلونکے شی.

۵ - په خپلو ټولو اعمالو، احوالو او اقوالو کښې د رسول الله ﷺ متبع جوړ شی.

٦ - د خاتمے د خرابوالی نه په ویره کښې وی، او په الله عز وجل پورے د مغضوب علیهم او ضالینو د لارے نه پناه غوښتونکے وی.

۷ - په خپلو عباداتو او اعمالو کښې مخلص او د الله په مخلوق رحم کونکے وی.

نو دا هغه انسان دے چه دهٔ خپل نفس آباد کړے، او هغه ئے کامل کړے او د هغې تزکیه ئے کړے او هغه ئے صفا کړے. دے به د خپل نفس نه خپله هم فائده اخلی او ددهٔ د نفس نه به نور خلك هم فائده اخلی ان شاء الله. نو څوك چه دا صفات په خپل ځان کښې راولی او په دے همیش والے وکړی نو دا به د الله په مدد او توفیق سره کامل انسان وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

او دغه پورتنو شیانو ته سورتِ فاتحې په ډېر ښائسته انداز او مزیدار وضاحت سره اشاره کړې چه د هغې نه ددې شیانو راویستل د فکر کونکی لپاره آسان دی. والله المستعان.
(او دا د یوې محاضرې خلاصه وه چه ما په رشید گړهۍ مسجد کښې ورکړې وه. سنه : ۱٤۳۰/۱/۱٤ هـ).

۲۱ - فائده او راز

د عقیدې او ایمان مثال

ما د عقیدې او ایمان په مثال کښې فکر کولو نو ماته ددې مثال داسې ښکاره شو لکه یو عظیم الشان سړې چه په جومات یا کور کښې موجود وی او تهٔ هغه وینې او دا عقیده لرې چه هغه دلته موجود دې. خو تهٔ د هغهٔ خدمت نهٔ کوې، نهٔ ورسره خبرې کوې، نهٔ ترې نفع اخلې، نهٔ ترې خبرې آورې اونهٔ هغهٔ سره مینه لرې. صرف د هغهٔ دلته وجود منې. او تانه علاوه یو بل کس د هغهٔ خدمت کوی، د هغهٔ مرتبه پیژني، هغهٔ سره مینه کوی، د هغهٔ خبره منی، هغهٔ نه یریږی، د هغهٔ په مجلس کښې ادب کوی او د هغهٔ نه حیاء کوی. نو ستا مثال د دغه اولنی (عقیده لرونکی) کس پشان دې. او د دغه بل سړی مثال د مؤمن دې. نو څوك چه د الله په جود اقرار کوی او هغه د عالَم مدبر گنړی خو هغهٔ ته توجه نهٔ کوی، هغهٔ نه نهٔ یریږی او د هغهٔ نه حیاء نهٔ کوی ...... نو دا کس عقیده لرونکے دے خو مؤمن نهٔ دے. او څوك چه د هغهٔ وجود منی خو په دې باندې اکتفاء نهٔ کوی بلکه هغه د الله نه حیاء کوی، هغهٔ نه یریږی، د هغهٔ ذکر کوی، د هغهٔ خبره منی، د هغهٔ قدر او ادب کوی او هغهٔ سره مینه محبت کوی نو دا مؤمن دے.
نو اوس دې هر عاقل خپل حالت معلوم کړی چه آیا دے صرف د اعتقاد په حالت کښې دے اوکه د ایمان په حالت کښې ؟ والله الموفق وهو المستعان.
ابن خیرهٔ - چه د علی ﷺ په ملگرو کښې دے - فرمائی : د گناه جزاء داده چه دې سره په عبادت کښې سستی، په ژوند کښې تنگسیا او په خوند کښې گرانوالے راځی. کله چه دې د حلال خوند سره مخامخ شی نو یو څوك راشی او په دهٔ باندې دا خراب کړی.
[تفسیر ابن کثیر : ۳/ ۵۳۳]
[فی مکة المسجد الحرام، ذو الحجة : ۱٤۲۹هـ]

۲۲ - ډيره لويه فائده

د الله نه په اميد ساتلو، په هغهٔ باندے په ښهٔ ګمان لرلو او بيا هغهٔ سره په محبت کولو او هغهٔ طرفته په نزدے کيدو باندے باعث څهٔ شے دے؟

ځينے خلك وائى : خوف او يره رايادول باعث دے۔

صحيح خبره داده چه باعث د هغهٔ رحمت، ښيګړه، احسان رايادول، او دا چه هغه د بنده اعمال قبلوى، ددے اهتمام کوى او د هغهٔ په نيز د بنده عملونه د قدر وړ دى۔

په راتلونکو دلائلو کښے فکر وکړه، تهٔ به ددے عجيب اثر ووينے ان شاء الله تعالىٰ :

الله تعالىٰ فرمائى : ﴿فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ﴾ [آل عمران:۱۹۵]

(نو د دوى رب د دوى دعا قبوله کړه چه زهٔ ستاسو نه د هيچا نيك عمل نهٔ ضائع کوم برابره ده چه هغه سړے وى او که ښځه، تاسو ټول خپل مينځ کښں برابر يئ)۔

نو دا رښتينے وعده ده چه هغه نيك عملونه هيڅ کله نهٔ بربادوى۔

او فرمائى : ﴿وَأَنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [آل عمران:۱۷۱]

او فرمائى : ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾ [بقره:۱۴۳]

(او الله داسے نهٔ دے چه ستاسو مخکنے ايمان (او عمل) ضائع کړى، يقيناً الله په خلقو ډير شفقت او رحمت والا دے)۔

د دوئ نه آفتونه لرے کوى او نفعے ورته راکاړى۔ د الله تعالىٰ په نومونو کښے يو نوم (الشكور) او (الشاكر) دے۔ د الله په صفت کښے د شکر معنىٰ داده چه هغه د نيك عمل کونکى عمل نهٔ ضائع کوى۔

په (التسهيل) کښے دى : شکور دا معنىٰ چه هغه بندګانو له د هغوئ د عملونو ډيره ښه بدله ورکونکے دے۔ او ځينے وائى : شکور دا معنىٰ چه هغه د خپلو بندګانو صفت کوى۔

او الله تعالىٰ فرمائى : ﴿إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ﴾ [اعراف:۱۷۰]

(يقيناً الله د نيکانو اجر نهٔ ضائع کوى)

او فرمائى : ﴿وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ﴾ [يوسف : ۵۶]

(مونږ به د داسے نيکانو خلق اجر نهٔ ضائع کوو)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او فرمائي : ﴿ إِنَّ اللهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴾ [توبه:١٢٠]

(بیشکه الله د نیکي کونکو اجر نهٔ ضائع کوي).

او د الله تعالىٰ په نومونو کښې یو نوم رحمٰن او رحیم دے. په سورتِ فاتحه کښې الله دا څلور خلـه تـکرار کړے. او په باقي قرآن کریم کښې د درے سوه (٣٠٠) کرته نه زیات ذکر شوے، په دے کښې دیته اشاره ده چه الله رب العزت د خپلو بندګانو سره داسے تعلق او سلوك کوي لکه د شفقت کونکي مهربانه پلار. نهٔ د ظالم او بدله اخستونکي پشان.

او نبي کریم ﷺ فرمائي : [لَوْ تَعْلَمُوْنَ قَدْرَ رَحْمَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ لَاتَّكَلْتُمْ وَمَا عَمِلْتُمْ مِنْ عَمَلٍ، وَلَوْ عَلِمْتُمْ قَدْرَ غَضَبِهِ مَا نَفَعَكُمْ شَيْءٌ] (که چرے تاسو د الله د رحمت اندازه وپیژنئ نو خامخا به تاسو توکل وکړئ او عملونه به پریدئ، او که چرے تاسو د هغهٔ د غضب اندازه وپیژنئ نو تاسو له به هیڅ شئ فائده درنهٔ کړي).

[الصحيحة : ٢١٦٧ ، عن ابن عمر رضى الله عنه]

او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴾ [حجر:٥٦]

(ابراهیم وویل، د ګمراهانو نه سیوا د خپل رب د رحمت نه څوك نا امیده کیدے شي).

او فرمائي : ﴿ وَلَاتَيْأَسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللهِ إِنَّهُ لَايَيْأَسُ مِنْ رَّوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ ﴾ [يوسف:١٨٧]

(او د الله د رحمت نه مهٔ نا اُمیده کیږئ، یقیناً د الله د رحمت نه صرف کافران نا امیده کیږي).

او نبي اکرم ﷺ فرمائي : [دَعَوْتُ لِأُمَّتِيْ ، قَالَ: فَمَا ذَا أُجِبْتَ؟ قَالَ: أُجِبْتُ بِالَّذِيْ لَوِ اطَّلَعَ عَلَيْهِ كَثِيْرٌ مِنْهُمْ طَلْعَةً تَرَكُوا الصَّلَاةَ ، قَالَ: أَفَلَا أُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: بَلٰى ...... الحديث]

(ما خپل امت لپاره دعا وغوښته، عرض وشو : ستاسو څهٔ قبولتیا وشوه ؟ وے فرمایل : زما په داسے شئ قبول والے وشو که چرے په هغے باندے ډیر خلك خبر شو نو مونځ به پریدی. راوي وائي : آیا زهٔ په دے سره خلکو ته زیرے ورنهٔ کړم ؟ وے فرمایل : ولے نه).

[رواه أحمد : ٥/ ١٧٠ ، عن أبى ذر مرفوعًا ، وابن ماجه وغيرهما ، بإسناد صحيح]

او د نبي اکرم ﷺ په دے وینا کښې فکر وکړه : [سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ] (الله د هغه چا قبولتیا کوي څوك چه د هغهٔ صفتونه کوي).

نو الله یو مهربانه ذات دے، هغه د هیچا سعي او کوشش نهٔ بربادوي.

﴿ وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴾ [اسراء:١٩]

(او څوك چه آخرت خوښوي او ددے لپاره ددے مناسب کوشش کوي پداسے حال کښې چه هغه مؤمن وي نو د دوي د کوششونو بدله به دوي ته پوره ورکړے کیږي).

او د نبي ﷺ دا وينا اميد پيدا کوي او په الله باندې د ښهٔ گمان باعث گرځي: [وَمَنْ كُتِبَ لَهُ حَسَنَةٌ أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ] (او چاله چه يوه نيکي هم وليکلې شي نو الله به ددې په وجه دې جنت ته ننباسي). [رواه الطبراني في الكبير، وتقدم في: ١]

نو په يوې نيکئ باندې د جنت وعده شوې، او دا رشتينې وعده ده.

په يو بل حديث کښې دي: [لَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيْمَانٍ]

(د چا په زړهٔ کښې چه د ذرې هومره ايمان وي، هغه به اور ته نهٔ داخليږي). [صحيح مسلم]

سليمان بن يسار فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې: (د خير لپاره درې سوه شپيتهٔ خويونه دي، کله چه الله په خپل يو بنده باندې د خير اراده وکړي نو په هغهٔ کښې د هغې نه يو خوئې واچوي چه د هغې په وجه ئې جنت ته ننباسي. نو ابو بکر رضي الله عنه عرض وکړو: اې د الله رسوله! آيا په ما کښې د هغې نه کوم خوئې شته دې؟ وې فرمايل: هو! د ټولو نه درکښې يو خوئې شته دې). [مكارم الأخلاق، لابن أبي الدنيا]

۲۳ - قيمتي فائده

او دا فائده د مخکنئ فائدې وضاحت کونکې ده

عبد الله بن عباس ﷺ – چه واقعي د قرآنِ کريم ترجمان دې – فرمائي:

په سورهٔ نساء کښې آتهٔ (۸) آيتونه دي چه ددې امت لپاره د هر هغه شئ نه غوره دي چه په هغې نمر راخيژي او ډوبيږي:

۱ - ﴿يُرِيْدُ اللهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَاللهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ﴾ [نساء:٢٦]

(الله غواړي چه تاسو لپاره (احکام) بيانِ کړي او د هغه (ښو) خلقو په لاره مو روان کړي چه هغوی تاسو نه مخکښې وو، او تاسو سره ښيگړه وکړي، او الله ډير علم والا، لويو حکمتونو والا دې).

۲ - ﴿وَاللهُ يُرِيْدُ أَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا﴾ [نساء:٢٧]

(او الله غواړي چه تاسو سره ښيگړه وکړي او کوم خلق چه د خپلو خواهشاتو تابعداري کوي هغوی غواړي چه تاسو (د نيغې لارې نه) ډير لرې لاړ شئ).

په دې آيتِ کريمه کښې د توبې نه مراد دادې چه الله بنده په خپل طاعت کښې استعمال کړي.

۳ - ﴿يُرِيْدُ اللهُ أَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيْفًا﴾ [نساء:٢٨]

Maktaba Tul Ishaat.com

(الله تاسو نه بوج سپکول غواړي او انسان کمزور پيدا کړے شوے)۔

٤ - ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيْمًا ﴾ [نساء:٣١]

(د کومو شيانو نه چه تاسو منع شوي يئ، نو ستاسو واړهٔ ګناهونه به ختم کړو او تاسو ته به د عزت او تکريم والا مقام درکړو)۔

٥ - ﴿ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ [نساء:٤٨]

(بيشکه الله دا خبره نهٔ معاف کوي چه هغهٔ سره شريك جوړ کړے شي، او ددے نه سيوا ګناهونه چا لره چه غواړي معاف کوي)۔

٦ - ﴿ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضَاعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ [نساء:٤٠]

(يقيناً الله د يوے ذرے برابر هم ظلم نهٔ کوي او که چرے دا نيکي وي نو دا دوچنده کوي او د خپل طرفه لوئے اجر ورکوي)۔

٧ - ﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءً ا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ [نساء:١١٠]

(او څوك چه يوه ګناه وکړي يا په خپل ځان ظلم وکړي بيا د الله نه بښنه وغواړي نو الله به ډيره بښنه کونکے او انتهائي رحم کونکے ومومي)۔

٨ - ﴿ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا ﴾ [نساء:١٤٧]

(که تاسو شکر ادا کوئ او ايمان راوړئ نو الله تاسو له په عذاب درکولو څهٔ کوي، او الله ډير قدر کونکے او ډير علم والا دے)۔ [انظر السراج المنير : ١/ ٤٦٤]

٩ - او ابن مسعود ﷺ ورسره دا دوه آيتونه زيات کړي :

﴿ لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِنْ نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوْفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ أَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ [نساء:١١٤]

(د دوي په ډيرو جرګو کښې هيڅ خير نشته سيوا د هغه چا (د جرګے) نه چه په يوه صدقه يا نيك کار يا د خلقو ترمينځ اصلاح حکم کوي او څوك چه د الله د رضا طلب کولو لپاره داسے کوي نو مونږ به دوي ته لوئې اجر ورکړو)۔

﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ أُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ أُجُوْرَهُمْ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ [نساء:١٥٢] (او کومو خلقو چه په الله او د هغه په رسولانو ايمان راوړو او د دوي ترمينځ ئے فرق ونکړو، دا کسان نزدے ده چه الله به دوي ته پوره اجر ورکړي او الله ډير بښنه کونکے او بے حد رحم کونکے دے)۔ [في تفسير قوله تعالىٰ : وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ]

[وهذه فائدة عزيزة لمن تدبرها ، فيها بشارات عظيمة ، جعلنا الله تعالىٰ من أهلها]

۲۴ - نفعمنه فائده : د سنت نبوي د اتباع فوائد

چه هر هغه نارينه او زنانه مومن ته فائده ورکوي چه هغه په دنيا او آخرت کښې د نجات اراده لري. او هغه : (۱) د اتباع السنة فوائد (۲) په دے باره کښے د سلفوؒ اقوال (۳) او د اتباع سنت د پريښودو اسباب دي.

۱ - نو دا خبره ياد لره چه په هر نارينه او زنانه مؤمن باندے واجب دي چه د خپل ژوند په ټولو ديني او دنيوي کارونو کښے د نبوي سنت اتباع کوي، ځکه د دنيا او آخرت دواړو خير او ښيګړه په همدے کښے ده. بلکه رسول الله ﷺ هيڅ داسے شے نۀ دے پريښے چه هغه امت ته نفع ورکوي مګر هغه ئے خامخا دوئ ته بيان کړے، او هيڅ داسے شے نشته چه امت ته ضرر ورکوي مګر د هغے نه ئے دوئ خامخا منع کړي. نو نبي اکرم ﷺ د امت ډيره زياته خير خواهي کړے او په دوئ باندے ئے ډير زيات شفقت کړے، د دوئ په خير او ښيګړه باندے ئے ډير زيات حرص کړے. همدا وجه ده، د نبي کريم ﷺ سنت د امت په حق کښے سراسر فائده فائده ده. مونږ ددے نه ځينے فائدے ذکر کوو :

د سنت نبوي د اتباع فوائد :

۱ - د نبوي سنت په پيروئ کښے د الله تعالىٰ د امر عملي کول دي چه په دے کښے د انسان پوره سعادت او نيک بختيا ده. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ [انفال: ۱]

او الله تعالىٰ په خپل کتاب کښے د پنځلس ځلو (۱۵) نه زيات د خپل رسول (ﷺ) د پيروئ امر کړے.

او د څلويښتو ځلو (۴۰) نه زيات ئے د هغۀ د طاعت ترغيب ورکړے. او د څلويښتو (۴۰) ځلو نه زيات ئے د هغۀ د نافرمانئ نه خلك منع کړي.

۲ - د سنتِ نبوي په تابعدارئ کښے د نبي کريم ﷺ د امر عملي کول دي، ځکه نبي کريم ﷺ په ګڼرو حديثونو کښے د خپل سنت د پيروئ امر فرمايلے. لکه فرمائي : [عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ]

(تاسو زما سنت او د هدايت والا خلفاء راشدينو سنت راټينګ کړئ).

او په دے موضوع نور احاديث او دلائل روستو راروان دي.

۳ - د سنتِ نبوي په تابعدارئ کښے د صحابه کرامو او د سلفِ صالحينو - رضي الله عنهم -

Maktaba Tul Ishaat.com

د امرونو اتباع هم ده، لکه د دوئ اقوال روستو راځي. هغوئ به خپله په هر غټ او وړوکي شئ کښې د نبي کريم ﷺ اتباع کوله.

ابو بکر صديق رضي الله عنه فرمائي : [أَطِيْعُوْنِيْ مَا أَطَعْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ، فَإِذَا عَصَيْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَلَا طَاعَةَ لِيْ عَلَيْكُمْ] (څو پورې چه ما د الله او د رسول (ﷺ) پيروي کوله نو تاسو زما پيروي کوئ او کله چه مانه د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) خلاف وشي نو بيا په تاسو باندې زما خبره منل نشته). [ذكره ابن كثير في البداية]

٤ – د سنتِ نبوي تابعداري بنده سره د الله د محبت او الله سره د بنده د محبت سبب دے چه دا د دواړو ترمينځه د تعلق ذريعه ده.

٥ – د سنتِ نبوي تابعداري د الله د مغفرت ذريعه ده چه دا د مؤمن بنده لپاره د ټولو نه قيمتي شے دے.

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [آل عمران:۳۱]

(ته ووايه چه که تاسو د الله سره محبت کوئ نو زما اتباع وکړئ، الله به تاسو سره محبت وکړي، او ستاسو گناهونه به معاف کړي او الله ډير معاف کونکے او رحم کونکے دے).

٦ – د سنتِ نبوي تابعداري د ټولو خيرونو او ښيگړو سبب دے.

٧ – په ايمان او حق او هدايت باندې د مضبوطيا ذريعه ده. الله تعالى فرمائي : ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيْتًا ﴾ [نساء:٦٦]

(او که دے خلقو هغه څه کړي وے د کوم چه دوي ته نصيحت کيږي نو دوي لپاره به زيات غوره وے او دوي لره په دين باندې ثابت قدم ساتلو لپاره به زيات مؤثر وے).

٨ – دا د اجر عظيم سبب دے. الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُمْ مِّنْ لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ [نساء:٦٧]

٩ – د نيغې لارے موندو سبب دے. الله تعالى فرمائي : ﴿ وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴾ [نساء:٦٨]

او فرمائي : ﴿ وَإِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ﴾ [نور:٥٤]

(او که چرے تاسو ددهٔ خبره ومنئ په سمه لاره به شئ).

او ډير بهترين شے چه بنده ته ورکولے شي، هدايت دے.

١٠ – د انبياؤ، صديقينو، شهداؤ او صالحينو سره د ملگرتيا سبب دے چه دا ملگرتيا ډير لوئے نعمت دے. الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴾ [نساء:٦٩، ٧٠]

(او کوم خلق چه د الله او د رسول اطاعت کوی نو دوی به (په جنت کښې) د هغه خلقو سره وی چه هغوی باندے الله انعام کړے، یعنی انبیاء او صدیقین او شهیدان او صالحینو سره، او دا خلق به ډیر ښائسته ملګری وی، دا به د الله (په دوی باندے خاص) فضل وی او الله (په خلقو) ښهٔ پو هه دے).

۱۱ – د ایمان د زیاتیدو او قوی کیدو سبب دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ ﴾ [حدید:۸] (او رسول تاسو دیته رابلی چه تاسو په خپل رب ایمان ولرئ).

نو رسول الله ﷺ په خپلو ټولو اقوالو او افعالو کښې ایمان بالله ته دعوت ورکوی۔ نو د سنتِ نبوی پیروی کول د ایمان د زیاتیدو لوئے سبب دے۔ لکه دا خبره په اول جلد کښې تیره شوے۔

۱۲ – د سنتِ نبوی پیروی کول د کفر او ارتداد نه نجات دے۔ والحمد لله۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَأَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ آيَاتُ اللهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهُ ﴾ [آل عمران:۱۰۱]

(او تاسو کفر څنګه قبلوئ ؟ حال دا چه د الله آیتونه ستاسو مخے ته اوستلے کیږی او د الله رسول ستاسو په مینځ کښې موجود دے).

علماء فرمائی: او په تاسو کښې د هغهٔ د رسول د وفات نه پس د هغهٔ سنت دے او تر څو پورے چه د رسول اکرم ﷺ سنت باقی وی هغه به باقی وی۔ [کما فی الشفاء لعیاض : ۱]

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْ أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾ [نساء:۶۵]

(پس ستا په رب مے ډِے قسم وی چه دا خلق مؤمنان نشی کیدے ترڅو چه دوی تا لره په خپلو اختلافی کارونو کښې خپل فیصله کونکے ونهٔ منی بیا ستا د فیصلے په باره کښې په خپلو زړونو کښې هیڅ تکلیف محسوس نکړی، او په پوره طریقے سره هغه تسلیم کړی).

نو څوک چه په خپلو ټولو اصولو او فروعو کښے او په خپلو دینی او دنیوی کارونو کښے رسول الله ﷺ فیصله کُن جوړ کړی نو دا مؤمن دے چه د کفر نه ئے نجات موندلے دے، ګنے نو ددے آیتِ کریمه د وجے مومن نهٔ دے۔

۱۳ – د سنتِ نبوی پیروی کول د نفعمن علمونو حاصلولو ذریعه ده۔

۱۴ – د ناشنا حکمتونو ذریعه ده۔

۱۵ – د ګمراه نفسونو تزکیه ده۔

۱۶ – د قرآنی آیتونو پیژندو ذریعه ده چه دا ډیر لوئے نعمت دے۔ دارنګه د آفاقی او تاریخی آیتونو ذریعه ده۔ او دا ټول شیان د دغه نبی کریم ﷺ او د هغهٔ د اتباع په سبب ملاویږی۔ نو

Maktaba Tul Ishaat.com

خوك چه د هغوئ د اتباع نه مخ اړوي هغوئ سره نهٔ علم شته، نهٔ حكمت، نهٔ د نفس تزكيه او نهٔ حقائق پيژندنه لكه چه همدا خبره په واقع او مشاهده كښې راغلې.

الله تعالى فرمائى : ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْعَلَيْهِمْ آيَاتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [آل عمران:١٦٤]

(د الله په مؤمنانو دا احسان دے چه هغه د هغوی نه پاره د هغوی نه يو رسول راوليږهٔ چه د هغهٔ آيتونه هغوی ته تلاوت كوی او هغوی پاكوی، او هغوی ته د كتاب او حكمت تعليم وركوی، او ددهٔ نه مخكښې دا خلق په ښكاره گمراهئ كښې وو).

۱۷ – د سنتِ نبوی تابعداری د گمراهئ نه نجات دے، لكه پورتنے آيت او نور آيتونه ديته اشاره كوی.

۱۸ – په تمامو حالاتو بلكه مصيبتونو كښې د رسول الله ﷺ خبرے ته لبيك ويل د اجر عظيم سبب دے چه ددے قدر او مرتبه صرف الله پيژنی. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾ [آل عمران:١٧٢]

(هغه خلق چه د سخت زخمونو رسيدونه روستو ئے هم د الله او د هغه د رسول خبره ومنله، د هغوی نه چه كومو خلقو ښه كار كړے او د تقوىٰ لاره ئے اختيار كړے، د هغوی لپاره لوئى اجر دے).

۱۹ – د سنتِ نبوی پيروی كول د الله رضا تالاش كول او ددے د حاصلولو ذريعه ده. او د الله رضامندی په دنيا او آخرت كښې د هر يو شئ نه ډير لوئے قيمتی او بهترين شے دے. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللهِ ﴾ [آل عمران:١٧٤]

(او دا – د الله او رسول ﷺ خبره منونكی – د الله په رضامندئ پسے روان شو).

۲۰ – جنت صرف د نبی كريم ﷺ په طاعت سره ملاويږی. الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهَارُ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ [النساء: ١٣]

۲۱ – ټول رحمتونه د هغهٔ په پيروئ كښې دی. الله تعالىٰ فرمائى : ﴿ وَأَطِيْعُوا اللهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴾ [آل عمران:١٣٢]

(او د الله او د رسول اطاعت كوئ دے لپاره چه په تاسو رحم وكړے شی).

﴿ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ ﴾ [توبه : ٦١](او دا ستاسو د ايمان والو لپاره رحمت دے).

﴿ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴾ [انبياء:١٠٧] (او مونږ تهٔ د جهانو والو لپاره رحمت ليږلے ئے).

﴿ لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ الآية [آل عمران: ١٦٤] (او الله په ايمان والو رحم كړے)

او فرمائي: ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ ﴾ [اعراف:١٥٦، ١٥٧]

(او زما رحمت هر شي ته فراخه دے، پس زۀ به دا د هغه خلقو دپاره وليکم چه د تقوىٰ لاره اختياروي او زکاة ورکوي او زما په آيتونو ايمان راوړي، هغه کسانو لپاره چه زما د رسول نبي امي اتباع کوي، چه د هغه ذکر دوي په خپل تورات او انجيل کښې ليکلے شوے مونده کوي).

او فرمائي: ﴿ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ [نور: ٥٦]

(او د رسول خبره ومنئ چه رحم درباندے وشي).

٢٢ - څوك چه د هغۀ په تابعدارئ باندے هميش ؤالے کوي نو دا په رشتيا د الله شکر کونکے دے.

٢٣ - او الله تعالىٰ به دۀ له په دے تابعدارئ باندے ښائسته بدله ورکوي. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِنْ مَاتَ أَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَنْقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَضُرَّ اللهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللهُ الشَّاكِرِينَ ﴾ [آل عمران:١٤٤] (او محمد صرف يو رسول دے چه دۀ نه مخکښې ډير رسولان تير شوي نو آيا که هغه مړ شي يا قتل شي نو تاسو به په پوندو باندے (د دين) نه واپس کيږئ او څوك چه د دين نه په خپلو پوندو واوړيدو نو د الله به هيڅ نقصان ونکړي او نزدے ده چه الله به شکر کونکو ته ښائسته بدله ورکړي)

بيا فرمائي: ﴿وَسَنَجْزِي الشَّاكِرِينَ ﴾ [آل عمران:١٤٥]

(او مونږ به خامخا شکر کونکو له ښه بدله ورکوو).

دلته د شکر کونکو نه مراد د هغۀ په طاعت باندے ټينګ وسيدونکي ذي.

٢٤ - په ټولو کارونو کښے د هغۀ په طاعت کښے خير او ښيګړه ده.

٢٥ - او ددے انجام هم ډير مزيدار دے. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾ [نساء:٥٩]

(بيا که په کومه معامله کښې ستاسو اختلاف راشي نو هغه الله او د هغه رسول طرف ته واپس کړئ که تاسو په الله او په ورځ د آخرت ايمان لرئ، پدے کښې خير دے، او د انجام په اعتبار سره همدا ښۀ دے).

٢٦ - د نبي ﷺ په طاعت کښے د الله مغفرت پروت دے. الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللهَ تَوَّابًا رَحِيمًا ﴾ [نساء:٦٤]

(او که دا خلق کله چه دوئ په خپلو ځانونو ظلم وکړو ستا خو اته راغلي وے، بيا ئے د الله نه ښښنه طلب کړے وے، او رسول د هغوی لپاره ښښنه غوښتلے وے نو الله به ئے توبه قبلونکے او ډير

Maktaba Tul Ishaat.com

رحم کونکے موندلے وے)۔

او رسول الله ﷺ د هر هغه چا لپاره په ډیرو کارونو کښے ښښنه غوښتلے چه هغوئ د هغهٔ په طاعت باندے عمل کوی۔ لکه نبی ﷺ فرمائی: [اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُحَلِّقِيْنَ ... الحديث]

(اے الله! په حج او عمره کښے سر خریونکو باندے رحم وکړے)۔

۲۷ – حق تړول د نبی کریم ﷺ په سنت کښے رابند دے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ هُوَ الَّذِیْ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰی وَدِیْنِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهٗ عَلَی الدِّیْنِ كُلِّهٖ وَكَفٰی بِاللهِ شَهِیْدًا ﴾ [محمد:۲۸]

په بل آیت کښے: ﴿ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴾ [صف:۹] دے۔ (اگرکه مشرکان ئے بد گنړی)۔

نو رسول الله ﷺ امت ته تړول حق راوړے نو څوك چه د هغهٔ نافرمانی کوی ے له شکه په باطل روان دے۔

او الله فرمائی: ﴿ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ بِالْحَقِّ بَشِیْرًا وَّنَذِیْرًا ﴾ [بقره:۱۱۹]

(بیشکه مونږ تهٔ په حق سره زیرے ورکونکے او یرونکے رالیږلے ئے)۔

۲۸ – عزت تړول د هغهٔ په تابعداریٔ کښے دے دارنګه د ذلت او رسوایئ نه خلاصے د هغهٔ په اتباع کښے دے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴾ [منافقون:۸]

(حالانکه عزت خو صرف الله لپاره دے، او دَ هغهٔ دَ رسول لپاره دے، او دَ مومنانو لپاره دے، لیکن منافقان دا خبره نهٔ پیژنی)

او فرمائی: ﴿ لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَیْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰیٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰی ﴾ [طه:۱۳٤]

او نبی کریم ﷺ فرمائی: [وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلٰی مَنْ خَالَفَ أَمْرِیْ]

(او الله ذلت او خواری په هر هغه چا باندے ایښے ده څوك چه زما د امر خلاف ګوی)۔

[ذکره البخاری معلقا فی باب الجهاد]

او الله فرمائی: ﴿ یَوْمَ لَا یُخْزِی اللهُ النَّبِیَّ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ﴾ [تحریم:۸]

۲۹ – د سنتِ نبوی پیروی کول الله ته د رسیدو لویه ذریعه ده بلکه دے نه علاوه ددے لپاره بل سبب هډو شته دے نهٔ۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَّ دَاعِیًا اِلَی اللهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِیْرًا ﴾ [احزاب:٤٦]

(او الله طرفته د هغهٔ په حکم سره دعوت ورکونکے او رڼا کوونکے ډیوه ئے)۔

نو رسول الله ﷺ الله ته او د هغهٔ رضامندیٔ ته د رسیدو دعوت ورکوی۔

۳۰ – نور او رڼا چه چاته ملاویږی نو صرف د نبی اکرم ﷺ په تابعداریٔ سره۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَسِرَاجًا مُّنِیْرًا ﴾ (او بله ډیوه)۔

او فرمائی: ﴿ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ یُؤْتِكُمْ كِفْلَیْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَیَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْلَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [حديد:۲۸]

(اے ایمان والو ! الله نه یریږئ او دَ هغهٔ په رسول ایمان ولرئ، نو هغه به تاسو له د خپل رحمت دوه برخے درکړی، او تاسو له به یوه رنړا درکړی، چه ددے په مدد سره به تاسو وړاندے ځئ، او تاسو ته به ببننه وکړی، او الله ډیر زیات ببنونکے، بیحده رحم کونکے دے).

دے آیتِ کریمه کښے الله تعالیٰ د نبی ﷺ په تابعداریٔ کښے درے فائدے ذکر کړی : (۱) د الله د رحمت دوه اندې (۲) رنړا چه انسان پرے ژوند تیروی (۳) مغفرت.

۳۱ – څوك چه د نبی ﷺ د سنت پیروی کوی نو دا به د الله د حساب او ملامتیا نه خلاص وی. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَلَنَسْأَلَنَّ الَّذِيْنَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْأَلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ [اعراف:٦]

(مونږ به یقیناً د هغه خلقو نه تپوس وکړو چه هغوئ ته رسولان لیږلے شوی او یقیناً د رسولانو نه به هم تپوس وکړو).

او فرمائی : ﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ [قصص:٦٥]

(او په کومه ورځ چه الله دوئ ته آواز وکړی او تپوس وکړی چه تاسو (په دنیا کښ) رسولانو له څهٔ جواب ورکړے وو).

او فرمائی : ﴿ يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ ﴾ الآية [مائده : ۱۰۹]

۳۲ – د قیامت په ورځ به عملونه تلل کیږی او کله چه دا د نبی کریم ﷺ د اتباع نه خالی وی نو ددے به هیڅ قیمت نهٔ وی، لکه الله تعالیٰ په دے آیتِ کریمه کښے دیته اشاره کړے : ﴿ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوْا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُوْنَ ﴾ [اعراف:۸، ۹]

(بیا به مونږ دوی ته د خپل علم په بنیاد هرڅه وښایو، او مونږ هیڅ کله هم غائب نهٔ وو. او په هغه ورځ د اعمالو تلل حق دی، پس د چا د اعمالو تله چه درنه شی نو همدا کسان کامیابی موندونکی دی ○ او د چا د اعمالو تله چه سپکه پورته شی نو همدا کسان تاوان پورته کونکی دی، او دا به پدے وجه وی چه دوی زمونږ د آیتونو سره زیاتے کولو).

ددے نه مخکښے ئے دا فرمائیلی : ﴿ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ﴾ [اعراف:۳]

(کوم شے چه تاسو ته ستاسو د رب له خوا نازل شوے، د هغے تابعداری وکړئ، او د الله نه سوئ د نورو دوستانو او مددګارانو تابعداری ونکړئ).

او امام بخاریؒ د خپل صحیح په آخر کښے دیته اشاره کړے لکه فرمائی : [بَابُ إِنَّ أَعْمَالَ بَنِيْ

Maktaba Tul Ishaat.com

آدَمَ يُوْزَنُ] (ددې خبرې بيان چه د انسانانو عملونه به تلل کيږي)۔

۳۳ – الله تعالیٰ د خپل رسول (ﷺ) په ذريعه د خلکو آزمائش کوي، نو څوك چه د هغهٔ خبره مني هغه کامياب، او څوك چه نافرماني کوي هغه ناکام۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللهُ ﴾ [بقره:۱٤۳]

(او هغه قبله چه هغې طرف ته به تا مخ کولو، مونږ پدې وجه مقرر کړې وه چه وګورو چه څوك د رسول تابعداري کوي او څوك په خپلو پوندو اوړي، او دا قبلول ډير ګران وو مګر په هغه خلقو باندې چه الله هغوی ته هدايت کړې وو)۔

او فرمائي : ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّأَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾ [حجرات:۳]

(بيشکه کوم خلق چه د رسول الله په خوا کښې خپل آوازونه ښکته ساتي، همدا هغه خلق دي چه دَ دوئ زړونه الله د تقویٰ لپاره آزمائيلي دي، دوئ لپاره د الله مغفرت او لوئې اجر دذې)۔

په حديث کښې دي : [بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيْ بِكَ]

(ما تهٔ دې له ليږلې ئې چه زهٔ په تا آزمائش وکړم او ستا په ذريعه په نورو آزمائش وکړم)۔

[صحيح مسلم]

۳٤ – الله تعالیٰ نه په دعاګانو غوښتلو کښې د نبي کريم ﷺ تابعداري هغهٔ ته وسيله کيږي۔

﴿ رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ ﴾ [آل عمران:۵۳]

(اې ربه زمونږ! تا چه څه نازل کړيدي، په هغې مونږ ايمان راوړې، او ستا د رسول تابعداري مو کړې، پس ته مونږ د حق په ګواهي ورکونکو کښې وليکه)۔

۳۵ – کافران خلك به پهٔ دې افسوس کوي چه ولې مونږ ددې نبي ﷺ تابعداري نهٔ کوله۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْأَرْضُ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللهَ حَدِيْثًا ﴾ [نساء : ٤۲]

او فرمائي : ﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُوْلِ سَبِيْلًا يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِيْ لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا لَقَدْ أَضَلَّنِيْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِيْ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِلْإِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴾ [فرقان:۲۷-۲۹]

(او په کومه ورځ چه به ظالم انسان (دَ افسوس په وجه) په خپلو دواړو لاسونو باندې چك لګوي، وائي به : هائې افسوس! زهٔ دَ رسول په لاره تلې وې ○ هائې افسوس! کاش ما فلانې خپل دوست نهٔ وې نيولې ○ چه هغهٔ، زما خواته دَ قرآن راتللو نه پس د هغې دَ قبلولو نه رهٔ واړولم، او د

شیطان کار دَ انسان رسوا کول دی)۔
او فرمائی: ﴿ يَقُولُونَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا وَقَالُوْا رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَ نَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴾ [احزاب:٦٦، ٦٧]

(نو دوئ به وائی: هائے افسوس! مونږ د الله اطاعت کړے وے او د رسول خبره مو منلے وے ○ او وائی به اے زمونږ ربه! مونږ د خپلو سردارانو او د خپلو مشرانو پیروی کړے نو هغوئ مونږ نه نیغه لاره ورکه کړه)۔

نو څوك چه د نبی اکرم ﷺ پیروی کوی هغوی به افسوس نهٔ کوی بلکه په خوشحاله ژوند کښې به مزے کوی۔

۳۶ – د نبی کریم ﷺ د پیروئ په وجه سړے د تیارو نه پوره رڼا ته راوځی۔ الله تعالیٰ فرمائی:
﴿ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ ﴾
(دے لپاره چه تهٔ خلك د تیارو نه رڼا طرفته وباسے)۔

۳۷ – تهوله کامیابی د نبی کریم ﷺ د حقونو په ادا کولو کښې ده: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِىْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [اعراف: ۱۵۷]
نو دا څلور حقونه شو۔

۳۸ – د نبی کریم ﷺ طاعت کول ایمانی تقاضا ده۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَاَطِيْعُوا اللهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾ [انفال: ۱]

۳۹ – د زړهٔ ژوندون، ظاهری ژوندون او حقیقی ژوندون صرف د رسول الله ﷺ په خبره منلو کښې دے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴾ [انفال: ۲۴]

(اے ایمان والو! کله چه الله او د هغه رسول تاسو یو داسے کار طرف ته راوبلی چه ستاسو دپاره د ژوند په شان وی، نو د هغوی په آواز لبیك وایئ، او پوهه شئ چه الله د انسان او د هغه د زړهٔ ترمینځ پرده جوړیږی او تاسو به بیشکه د هغهٔ حضور ته راجمع کولے شئ)۔

۴۰ – د ایمان تقاضا داده چه مومن سړے به د نبی کریم ﷺ د سنت نه په خپل ځان کښې رغبت او مینه نهٔ لری، او نهٔ به د هغهٔ د نفس نه په خپل نفس کښې مینه لری۔ الله تعالیٰ فرمائی:
﴿ اَلنَّبِىُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ ﴾ [احزاب:٦]

(نبی په مومنانو باندے د دوئ د خپلو ځانونو نه زیات حقدار دے)۔
او نبی ﷺ فرمائی: [لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِّمَا جِئْتُ بِهٖ]

Maktaba Tul Ishaat.com

(په تاسو کښې څوك تر هغې مومن كيدے نشي چه د هغهٔ خواهش زما د راوړی دین تابع نشی)۔ [المشکاة : ۱]

٤١ – د نبی کریم ﷺ دعا د نورو خلکو د دعا پشان نهٔ ده بلکه دا قبلیدونکے ده۔ ﴿ لا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ﴾ [نور:٦٣]

(اے مسلمانانو! دَ رسول رابلل تاسو خپلو کښې دَ یو بل رابللو پشان مهٔ ګرځوئ)۔

او نبی کریم ﷺ د هغه چا لپاره په ګنړو حدیثونو کښے د رحمت او نجات او کامیابئ دعا کړے څوك چه د هغهٔ د سنت پیروی کوی، لکه چه ددے بیان به راشی ان شاء الله۔

٤٢ – د نبی کریم ﷺ اقتداء کول ددے نښه ده چه د انسان په زړهٔ کښے د رب عظمت او په آخرت ایمان پروت دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِىْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللهَ كَثِيْرًا ﴾ [احزاب:٢١]

(واقعی چه تاسو مسلمانانو لپاره د رسول الله ﷺ قول او عمل یوه بهترینه نمونه ده، هغه چا لپاره چه هغه په الله او په ورځ د آخرت یقین لری، او الله ډیر یادوی)۔

په دے آیتِ کریمه کښے فکر وکړه ځکه دے نه معلومیږی چه الله ته انسان صرف د نبی کریم ﷺ په ذریعه رسیدے شی۔

٤٣ – جنت ته د داخلیدو لوئے سبب دے۔

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ [النساء: ١٣]

٤٤ – هغه انسان مومن دے چه د رسول الله ﷺ په تابعدارئ سره د هغهٔ رضامندی تالاش کوی : ﴿ والله ورسولہ احق ان يرضوہ ان كنتم مؤمنين ﴾ [توبه : ٦٢]

٤٥ – د رسول الله ﷺ طاعت کول د ایمان د خویونو نه یو خوئے او د مؤمن د خصلتونو نه یو خصلت دے : ﴿ وَيُطِيْعُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ [توبه : ٧١]

(او دوئ د الله او رسول (ﷺ) خبره منی)۔

٤٦ – د نبی کریم ﷺ طاعت کول لویه کامیابی ده۔ ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴾ [نور:٥٢]

(او کوم خلق دَ الله او دَ هغهٔ د رسول اطاعت کوی، او الله نه یریږی، او دَ هغهٔ خیال ساتلو سره دَ تقوٰی لاره اختیاروی، نو همدا خلق کامیابیدونکی دی)۔

٤٧ – د رسول الله ﷺ په طاعت کولو سره د ایمان حفاظت راځی : ﴿ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْئاً ﴾ [حجرات:١٤] (اوکه چرے تاسو د الله او د هغهٔ د رسول خبره منئ، نو الله

به ستاسو په عملونو کښې هيڅ کمے ونۀ کړي)۔

٤٨ – هغه انسان ډير اخلاقي دے چه د رسول الله ﷺ طاعت کوي ځکه چه رسول الله ﷺ د اخلاقو په لويه پيمانه باندے وو۔

﴿ وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴾ [قلم:٤] (او يقيناً ته د لويو اخلاقو خاوند ئے)۔

پاتے شو د نبي کريم ﷺ د نافرمانئ ضررونه :

نو دا شمير نه بهر دي خو مونږ دلته يو څو ذکر کوو، دے لپاره چه مومن د هغے نه ځان وساتي او چرته په تباهئ کښے ونه غورزيږي۔

د نبي کريم ﷺ د نافرمانئ ضررونه :

١ – د نبي ﷺ نافرماني اور ته د ننوتو سبب دے : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴾ [نساء:١٤]

(او څوك چه د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي او د هغه د (مقرر کړي) حدودو نه تيروتل کوي، هغه به په اور کښې داخل کړي چه په هغے کښې به هميشه وي او د هغه لپاره به رسوا کونکے عذاب وي)۔

٢ – دا د سپکاوي سبب دے : لکه پورتني آيت کښے اشاره پرته ده۔

٣ – څوك چه د نبي ﷺ نافرماني کوي هغه به د قيامت په ورځ دا آرمان کوي چه کاش دے خاورے وے : ﴿ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ﴾ [نساء : ٤٢]

٤ – د نبي کريم ﷺ د سنت نه مخ اړول پوره منافقت دے۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ﴾ [نساء:٦١]

(او کله چه دوي ته وئيلے کيږي چه د الله نازل شوي کتاب او رسول خوا ته راشئ، نو ته به منافقان وينے چه ستا نه به اعراض کوي)۔

٥ – د رسول الله ﷺ مخالفت کول د ټولو مصيبتونو سبب دے۔ الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَكَيْفَ اِذَا اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ﴾ [نساء:٦٢]

(بيا دا څنګه خبره ده چه کله دوي ته د دوي د عملونو په وجه څه مصيبت پيوسته کيږي)

٦ – الله تعالىٰ رسول الله ﷺ ددے لپاره راليږلے چه د الله په حکم سره د هغۀ تابعداري وشي، دے وجے نه د هغوئ مخالفت کول د الله د مرتبے نه ناخبرتيا او هغۀ ته د ناپوهئ نسبت کول دي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٧ – دا د يهودو عادت وو چه يو رسول به دوئ ته د دوئ د خواهش خلاف خبرے راوړے نو دوئ به د هغهٔ تکذيب او مخالفت وکړو. الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴾ [بقره:٨٧]

(آيا داسے نهٔ ده چه کله به هم يو رسول داسے حکم راوړو چه ستاسو د نفسونو د خواهش مطابق به نهٔ وو نو تاسو به د تکبر نه کار واخستو، بيا تاسو (د انبياؤ) يوه ډله دروغجنه کړه او بله ډله مو قتل کړه).

او زمونږ د زمانے متعصبين هم د نبی کريم ﷺ د سنت سره داسے کوی.

٨ – د نبی کريم ﷺ مخالفت د ذلت، شرمندګئ او رسوايئ سبب دے : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴾ [طه:١٣٤]

(اوکه چرے مونږ دَ خپل رسول راليږلو نه مخکښے په يو عذاب سره دوئ هلاك کړی وے نو ويل به ئے : اے زمونږه ربه ! تا مونږ ته يو رسول ولے نهٔ راليږهٔ دے دپاره چه مونږ دَ ذليله کيدو او رسوا کيدو نه مخکښے ستا دَ آيتونو پيروی کړے وے).

٩ – هغه چا لپاره سخت عذاب دے چه د رسول الله ﷺ نافرمانی کوی : ﴿ فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴾ [مزمل:١٦] (نو مونږ هغه په سختو رانيولو سره را ونيولو).

﴿ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴾ [حاقه:١٠] (نو الله دوئ په انتهائی سختے نيوکے سره را ونيول).

١٠ – الله تعالیٰ به د رسول الله ﷺ په باره کښے د خلکو نه پوښتنه کوی : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [اعراف:٦]

او فرمائی : ﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [قصص:٦٥]

(او په کومه ورځ چه الله دوئ ته آواز وکړی او تپوس وکړی چه تاسو (په دنيا کښ) رسولانو له څهٔ جواب ورکړے وو).

١١ – د نبی کريم ﷺ مخالفت کول ارتداد دے : ﴿ إِلَّا لِنَعْلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ مِمَّن يَنقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ ﴾ [بقره:١٤٣]

(چه وګورو چه څوك د رسول تابعداری کوی او څوك په خپلو پوندو باندے اوړی).

او فرمائی : ﴿ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ [آل عمران: ٣٢]

(نو الله د کافرانو سره محبت نهٔ ساتی).

١٢ – چاته چه د نبی ﷺ سنت ښکاره شو او بيا هم ترينه اعراض کوی نو الله داسے خلکو ته

هدايت نه کوي۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ كَيْفَ يَهْدِي اللهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ إِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْآ أَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِيْنَ ﴾ [آل عمران : ۸٦]

او داسې خلك په مقلدينو کښې ډير زيات دي !!

۱۳ – د نبي ﷺ په مخالفت کښې بهانې لټول د يهودو عادت دے : الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ اَلَّذِيْنَ قَالُوْآ إِنَّ اللهَ عَهِدَ إِلَيْنَآ أَنْ لَا نُؤْمِنَ لِرَسُوْلٍ حَتّٰى يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ ﴾ [آل عمران : ۱۸۳]

۱٤ – د نبي ﷺ مخالفت کول د الله د نصرت نه د محرومتيا، د توفيق نهٔ ملاويدو او د سخت عذاب سبب دے : الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾ [نساء: ۱۱۵]

نو ﴿ نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى ﴾ شرمندګئ ته اشاره ده۔

او الله تعالی فرمائي : ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللهَ فَإِنَّ اللهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ [حشر:٤]

(د دوئ دا انجام ځکه شو چه دوئ د الله او د هغهٔ د رسول مخالفت وکړو، او څوك چه د الله مخالفت کوي نو بيشکه الله سخت عذاب ورکونکے دے)۔

۱۵ – د نبي ﷺ خلاف کونکے خائن ګڼلے کيږي : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللهَ وَالرَّسُوْلَ وَتَخُوْنُوْا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴾ [انفال:۲۷]

(اے ايمان والو! د الله او د رسول سره خيانت مهٔ کوئ او مهٔ سره د پوهے په خپلو امانتونو کښې خيانت کوئ)۔

دا د ابو لبابه ﷺ په باره کښې نازل شوے وو هر کله چه هغهٔ بنو قريظه ؤ ته د نهٔ راکوزيدو مشوره ورکړے وه۔

۱٦ – نبي ﷺ له تکليف ورکول د دردناك عذاب سبب دے۔ الله تعالیٰ فرمائي : ﴿وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ أُذُنٌ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾ [توبه:٦١]

(او په دے منافقانو کښې بعض داسے دي چه نبي ته ضرر رسوي او وائي چه دا نرم غوږے دے (د هر چا آوري) ته ووايه چه هغه ستاسو د خير خبرے آوري، په الله يقين لري، او د مؤمنانو په خبرو بهروسه لري، او ستاسو نه د ايمان والو لپاره دا سراسر رحمت دے، او کوم خلق چه د الله رسول ته ضرر ورکوي د هغوي لپاره دردناك عذاب دے)۔

او د نبي ﷺ د سنت خلاف کول هغهٔ له تکليف ورکول دي، لکه يو سړي قبلې طرفته لاړے توکلے وے نو رسول الله ﷺ وفرمايل : [إِنَّهُ آذَى اللهَ وَرَسُوْلَهُ] (دهٔ الله او رسول له تکليف ورکړو)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[رواه ابوداود]

۱۷ – د نبي ﷺ په مخالفت سره خامخا عمل بربادیږي: الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَاتُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَکُمْ ﴾ [محمد:۳۳]

(د الله خبره ومنئ او د رسول خبره ومنئ، او خپل عملونه مهٔ بیکاره کوئ).

یعني د رسول الله ﷺ په مخالفت سره خپل عملونه مهٔ بربادوئ.

۱۸ – څوك چه د بل چا په طاعت سره د نبي ﷺ طاعت پریدي نو دا به په سخت مصیبت کښې پریوزي. ﴿ لَو یُطِیْعُکُمْ فِیْ کَثِیْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ لَعَنِتُّمْ ﴾ [حجرات:۷]

(که چرې هغه په ډیرو کارونو کښ ستاسو خبره ومني نو تاسو به په ګرانئ کښ پریوزئ).

۱۹ – د منافقانو صفت دادې چه کله دوئ د نبي ﷺ سنت ته راوبلل شي نو سرونه وخوځوي او کبر شروع کړي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا یَسْتَغْفِرْ لَکُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَیْتَهُمْ یَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَکْبِرُوْنَ ﴾ [منافقون:۵]

(او کله چه دوئ ته وویل شي چه راشئ رسول الله تاسو له ببښنه وغواړي، نو دوئ خپل سرونه کاږهٔ کړي، او تهٔ به دوئ وینې چه دوئ به تکبر کولو سره مخ اړوي).

۲۰ – د نبي ﷺ خلاف کول اور ته د ننوتو سبب دې. ﴿ وَمَنْ یَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَیَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ یُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا ﴾ [نساء:۱٤]

(او څوك چه د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي او د هغه د (مقرر کړي) حدودو نه تیروتل کوي، هغه به په اور کښ داخل کړي چه په هغې کښ به همیشه وي).

۲۱ – څوك چه د رسول الله ﷺ نه علاوه د بل چا محبت د رسول الله ﷺ په محبت وړاندې کوي نو عذاب ددهٔ په انتظار دې: ﴿ وَمَسٰکِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَیْکُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِیْ سَبِیْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰی یَاْتِیَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ﴾ [توبه:۲٤]

(او داسې کورونه چه تاسو ئې خوښوئ، تاسو ته د الله او د هغه د رسول او د الله په لاره کښ د جهاد کولو نه زیات محبوب وي نو انتظار کوئ تردې پورې چه الله خپله فیصله راولي).

علامه قرطبيؒ فرمائي: معلومه شوه چه د الله او د رسول (ﷺ) محبت په هر محبوب شئ باندې وړاندې دې.

۲۲ – د رسول الله ﷺ نافرماني کول ښکاره ګمراهي ده. ﴿ وَمَنْ یَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِیْنًا ﴾ [احزاب:۳٦]

(او څوك چه د الله او د هغهٔ د رسول نافرماني کوي هغه په ښکاره ګمراهئ آخته شو).

۲۳ – د نبي ﷺ په مخالفت کښې پوره ذلت پروت دے: ﴿ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ﴾ [مجادلة:٥]

(هغوئ ذليله شوي دي لکه څنګه چه هغه خلق ذليله شوي وو چه هغوئ د دوئ نه مخکښې وو).

او فرمائي: ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِى الْاَذَلِّيْنَ ﴾ [مجادلة:۲۰]

(بيشکه کوم خلق چه د الله او د هغهٔ د رسول خِلاف کوي همدا خلق دَ ذليل ترينو خلقو نه دي).

۲٤ – د نبي کريم ﷺ د امر خلاف کول فتنه ده، چه د دے نه مراد د زړهٔ سختيا، مرتد کيدل، د نيکئ توفيق نهٔ ملاويدل او د بادشاه ظلم زياتے دے.

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴾ [النور: ٦٣]

* نبوي احاديث او سلفي آثار:

د اتباع سنت او په نفسونو کښې د دے د عظمت په باره کښې خو ګڼړ نبوي احاديث او سلفي آثار راغلي. مونږ د دے نه د نصيحت او عبرت په توګه يو څو ذکر کوو، څکه نصيحت مومنانو ته فائده ورکوي:

۱ – ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: [كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبٰى. قِيْلَ: وَمَنْ أَبٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: مَنْ أَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ أَبٰى]

(زما هر امتي به جنت ته ننوځي سيوا د هغه چا نه چه (جنت ته ننوتو نه) انکار وکړي، عرض وشو: يا رسول الله! داسے څوك به هم وي چه انکار کوي؟ وے فرمايل: څوك چه زما خبره مني هغه به جنت ته ځي او څوك چه زما نافرماني کوي هغهٔ جنت ته د ننوتو نه انکار وکړو).

[صحيح بخاري: ۲/ ۱۰۸۱، مشکاة: ۱]

نو رسول الله ﷺ خپل طاعت جنت ته د ننوتو ذريعه او خپله نافرماني جهنم ته د تلو سبب جوړ کړو.

۲ – عرباض بن ساريه رضي الله عنه فرمائي: [وَعَظَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ وَذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! كَأَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا قَالَ: أُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ تَأَمَّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ مِنْ بَعْدِيْ عَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ]

(رسول الله ﷺ مونږ ته ډير مؤثر انداز کښې نصيحت وکړو چه زمونږ زړونو کښې ويره پيدا

Maktaba Tul Ishaat.com

شوه او د سترګو نه مو اوښکې روانې شوې، مونږ عرض وکړو یا رسول الله ! (داسې معلومیږي چه) دا درخصتونکي آخري نصیحت دې نو مونږ ته وصیت وفرمائې، نبي کریم ﷺ وفرمایل : زۀ تاسو ته نصیحت کوم چه الله نه یریږئ او تاسو ته دمسلمان امیر (د حکم) آوریدو او په ځائې راوړلو وصیت کوم اګرکه هغه (امیر) حبشي غلام وي تاسو کښې چه څوك مانه پس ژوندي پاتې شي هغه به ډیر اختلافات بیامومي، داسې حالت کښې په تاسو لازم دي چه زما اوزما دهدایت موندونکو خلفائې راشدینو طریقه لازم ونیسئ، او هغه غاښونو سره مضبوطه ونیسئ او تاسو (په دین کښې) د نوو نوو خبرو پیدا کولو نه بچ اوسئ ځکه چه هر نوې خبره بدعت دې او هر بدعت ګمراهي ده)۔

[رواه أبوداود : ٤٦٠٧ ، والترمذي : ٢٦٧٦ ، وابن ماجه وهو في المشكاة : ١ ، و إسناده صحيح]

دې حدیث کښې د ژامې په غاښونو باندې د سنت نیولو ذکر دې ځکه چه ددې دشمنان ډیر دي او دا ډیر د قدر وړ شې دې۔ او دا د فتنو او اختلافاتو نه د خلاصي لپاره لوئې سبب دې۔ والحمد لله۔ لکه د (فَعَلَيْكُمْ) لفظ نه معلومیږي۔

۳ – ابو موسی اشعري ﷺ وائي : نبي اکرم ﷺ ارشاد فرمایلې :

(زما او د هغه وحي مثال چه الله پرې زۀ رالیږلې یم د هغه سړي پشان دې چه څۀ خلکو ته راشي او ورته ووائي : اې زما قومه ! ما د دشمن لښکر په خپلو دې سترګو ولیدۀ او زۀ تاسو ته ښکاره ویره درکونکې یم نو تاسو خپل ځان خلاص کړئ۔ نو یوه ډله ددۀ خبره ومني او شپې د شپې په خپله مخه روانه شي او د دشمن نه خلاصې ومومي۔ او دویمې ډله دغه کس دروغژن وګڼړي او تر صبا پورې په خپلو ځایونو کښې ووسیږي نو صباله په دوئ دغه لښکر حمله وکړي او دوئ تباه او برباد کړي۔ نو دا د هغه چا مثال دې چه زما خبره ومني او زما د راوړي دین پیروي شروع کړي، او د هغه چا مثال دې چه هغه زما نافرماني وکړي او زما راوړې حق دروغژن وګڼړي)۔ [صحیح بخاري : ۲/ ۱۰۸۱]

نو د رسول الله ﷺ د سنت په پیروئ کښې نجات او خلاصې دې او ددې په مخالفت کښې تباهي او تاوان دې۔

٤ – ابن عونؒ فرمائي : درې شیان زۀ خپل ځان او خپلو ورونو لپاره خوښوم : یو سنت چه دوئ ئې زده کړي او ددې په باره کښې پوښتنې کوي۔ دویم : قرآن چه ځان پرې پوهه کړي او ددې په حقله پوښتنې کوي۔ دریم : د خیر نه سیوا خلك د هر څۀ نه پریدي۔

[صحیح بخاري : ۲/ ۱۰۸۰]

٥ – ابو حيانؒ وائي :

أَمَا إِنَّهُ لَوْلَا ثَلَاثٌ أُحِبُّهَا * تَمَنَّيْتُ أَنْ لَا أَكُوْنَ مِنَ الْأَحْيَاءِ
فَمِنْهَا رَجَائِيْ أَنْ أَفُوْزَ بِتَوْبَةٍ * تُكَفِّرُ لِيْ ذَنْبًا وَتَنْجَحُ لِيْ سَعْيًا
وَمِنْهُنَّ صَوْنِي النَّفْسَ عَنْ كُلِّ جَاهِلٍ * لَئِيْمٍ فَلَا أَمْشِيْ إِلٰى بَابِهِ مَشْيًا
وَمِنْهُنَّ أَخْذِيْ بِالْحَدِيْثِ إِذَا الْوَرٰى * نَسُوْا سُنَّةَ الْمُخْتَارِ وَاتَّبَعُوا الرَّأْيَا
أَتَتْرُكُ نَصًّا لِلرَّسُوْلِ وَتَقْتَدِيْ * بِشَخْصٍ لَقَدْ بَدَّلْتَ بِالرُّشْدِ الْغَيَّا

[نفحة العرب ص : ٢٤٤]

٦ – ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي: [مَثَلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا اَضَاءَتْ مَاحَوْلَهَا جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهٰذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِيْ تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيْهَا وَجَعَلَ يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهٗ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيْهَا فَاَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِوَاَنْتُمْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا]

(زما مثال دهغے سړي په شان دے چه هغه اور بل کړو هرکله چه اور گير چاپيره رڼرا خوره کړه نو پتنگان او نور هغه ځناور چه اور کښې غورځيږي شروع شو چه اور کښې غورځيږي، او اور بلونکي سړي هغه منع کول شروع کړل، ليکن هغوئ نه منع کيږي بلکه د هغه په کوششونو غالب راځي او اور کښې غورځيږي، دغسے زه هم ستاسو بډے نيسم او تاسو اور کښې غورځيدو نه منع کوم او تاسو اور کښې غورزيږئ)۔

[بخاري، مسلم، مشكاة:١]

دے حديث نه معلومه شوه چه څوك د رسول الله ﷺ د سنت پيروي کوي نو دا به د اوره خلاصے مومي، او څوك چه د هغهٔ خلاف کوي نو دا به اور والا وي۔

٧ – ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : [بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ]

(اسلام شروع شوے هم ناشنا وو او بيرته به هم دغسے د ناشنا والي په حالت کښے واپس کيږي، نو غرباؤ لپاره خوشحالي ده)۔

[صحيح مسلم، المشكاة : ١/ ٣٠]

غرباء چاته واني ؟

١ – دا هغه خلك دي چه دوئ زما هغه سنت روغوي كوم چه مانه پس خلكو خراب كړے۔

[رواه الترمذي، كما في المشكاة : ١/ ٣٠]

٢ – بل روايت كښے دي : [وَهُمُ الَّذِيْنَ يُصْلِحُوْنَ إِذَا فَسَدَ النَّاسُ]

Maktaba Tul Ishaat.com

(غرباء هغه خلك دي چه كله عام خلك خراب شي نو دوئ اصلاح والا وي).

۳ – د ابن عمر ﷺ په حديث كښې دي، نبي ﷺ فرمائي: [هُمُ الْفَرَّارُوْنَ بِدِيْنِهِمْ يَجْتَمِعُوْنَ اِلٰى عِيْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]

(دا هغه خلك دي چه خپل دين د فتنو نه تښتوي، دوئ به د قيامت په ورځ عيسى عليه السلام ته راټوليږي).

[كتاب الزهد للإمام أحمد: ۹۸، ۱۸۷، عن ابن عمر موقوفًا ومرفوعًا]

٤ – په يو صحيح حديث كښې دي: [نَاسٌ قَلِيْلٌ صَالِحُوْنَ فِيْ نَاسِ كَثِيْرٍ سُوْءٍ، مَنْ يَعْصِيْهِمْ أَكْثَرُ مِمَّنْ يُطِيْعُهُمْ]

(په ډيرو بدعمله خلكو كښې لږ نيك عمله خلك دي، چه د دوئ مخالفين د دوئ د موافقينو نه زيات دي).

[رواه الهروى فى ذم الكلام، كما فى الصحيحة: ٤/ ۱۵۳]

٦ – دا هغه خلك دي چه د مختلفو قبيلو نه راجمع شوي دي، خپلو كښې ئې هيڅ خپلولي نشته خو د الله د ذكر او يا د هغۀ د اسلامي دين د اقامت لپاره راټول شوي وي.

[رواه ابن ماجه ص: ۲۳، ضعيف ابن ماجه، وإسناده صحيح، وانظر الترغيب والترهيب للمنذرى]

۷ – دا ((اهلِ حديث)) دي: لكه چه دا خبره د يو ديرش (۳۱) لوئې لوئې علماؤ نه نقل ده.

[انظر: تاريخ اهل الحديث للدهلويؒ]

۸ – عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (نكاح زما سنت دے نو څوك چه زما په سنت عمل نۀ كوي د هغۀ ما سره هيڅ تعلق نشته، او تاسو نكاح كوئ ځكه زۀ به ستاسو په زياتوالي سره په نورو امتونو فخر كوم. او څوك چه طاقت والا وي هغه دے نكاح وكړي او څوك چه نكاح نۀ مومي نو هغه دے روژے نيسي ځكه روژو سره به دۀ شهوت كنټروليږي).

[رواه ابن ماجه: ۱۸٤٦، وهو فى الصحيحة: ۲۳۸۳]

۹ – انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: (اے څويه! كه تۀ دا كولے شے چه په داسے حال كښې بيګاه صبا كړے چه ستا په زړۀ كښې د هيچا لپاره څۀ خيرے نۀ وي نو دا كار وكړه، دا زما سنت دے او څوك چه زما سنت سره مينه كوي هغه ماسره مينه كوي. او څوك چه ما سره مينه كوي هغه به ماسره په جنت كښې وي).

په بل روايت كښې دي: (څوك چه زما سنت ژوندے كړي نو هغۀ زۀ ژوندے كړمه، او چاچه زۀ

ژوندے کړے یم هغه به ما سره په جنت کښے وی)۔

[رواه الترمذی فی کتاب العلم، وهو فی المشکاة: ۱/ ۳۰]

(ددے په سند کښے علی بن زید بن جدعان راوی دے، دا د مسلم او د سنن اربعه ؤ راوی دے، خو جمهورو ورته ضعیف ویلی)۔

۹ – ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [تَرَكْتُ فِيكُمْ شَيْئَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابُ اللّٰهِ وَسُنَّتِىْ وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتّٰى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ]

(ما په تاسو کښے دوه شیان پریښی دی، تر څو پورے چه تاسو دا دواړه مضبوط نیولی وی هیچرے به ګمراه نشئ: یو د الله کتاب او بل زما سنت، او دا دواړه به هیڅ کله سره جدا نشی تردے چه دا دواړه ماته د حوضِ کوثر سره راشی)۔

[رواه الحاکم وصححه، وصححه الألبانی فی کتاب الحدیث، ص: ۳۳، ورواه مالك فی الموطأ مرسلا وهو فی المشکاة: ۱/ ۳۱]

که په دے حدیث باندے فکر وکړے نو ډیر خیر به په کښے ومومے!

۱۰ – عوف بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: [سَتَفْتَرِقُ أُمَّتِىْ عَلٰى بِضْعٍ وَّسَبْعِيْنَ فِرْقَةً أَعْظَمُهَا فِتْنَةً عَلٰى أُمَّتِىْ قَوْمٌ يَقِيْسُوْنَ الْأُمُوْرَ بِرَأْيِهِمْ فَيُحَرِّمُوْنَ الْحَلَالَ وَيُحَلِّلُوْنَ الْحَرَامَ]

[رواه الحاکم فی المستدرك: ٤/ ٥٤٣٠، وابن بطة فی الإبانة: ۱/ ۳۷٤، وصححه الحاکم والهیثمی فی المجمع: ۱/ ۱۷۹]

دے حدیث کښے فکر وکړه چه ددے نه مراد څوك دی؟

۱۱ – عمر بن خطاب ﷺ فرمائی: [إِيَّاكُمْ وَأَصْحَابَ الرَّأْيِ، فَإِنَّهُمْ أَعْدَاءُ السُّنَنِ أَعْيَتْهُمُ الْأَحَادِيْثُ أَنْ يَّحْفَظُوْهَا فَقَالُوْا بِالرَّأْيِ فَضَلُّوْا وَأَضَلُّوْا] (ځان وساتئ د (تقلید د) اصحاب الرأی نه، ځکه دوئ د حدیثو د شمنان دی۔ حدیث نشی یادولے نو په رائے باندے قول کوی، نو ځان ئے هم ګمراه کړو او خلق ئے هم ګمراه کړل۔ (یعنی څوك چه دوئ پسے روان دی)۔

[اللالکائی ۱/ ۱۲۳، والفقیه والمتفقه للبغدادی: ۱/ ۱۸۰، وابن عدی فی الجامع: ٤٧٦]

۱۲ – علی ﷺ فرمائی: [لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلٰى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَمْسَحُ عَلٰى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ]

(علی ﷺ فرمائی: که چرے د دین بنیاد په رائے (او عقل) باندے وے نو د موزے لاندینے طرف به ددے د پورتنی طرف نه په مسح کولو باندے ډیر لائق وے (لیکن لاندے طرف ئے په مسح کولو سره لائق نۀ دے ځکه) ما رسول الله ﷺ لیدلے دے چه هغوئ د خپلو موزو په پاسنی طرف باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

مسح کوله)۔
[رواه ابوداود : ۱٦۳ ، وهو فی المشكاة : ۱/ ، بإسناد صحيح]

۱۳ – ابن مسعود ﷺ فرمائی :
[اِنَّكُمْ سَتَجِدُوْنَ اَقْوَامًا يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ يَدْعُوْنَكُمْ اِلٰى كِتَابِ اللّٰهِ وَقَدْ نَبَذُوْهُ وَرَاءَ ظُهُوْرِهِمْ فَعَلَيْكُمْ بِالْعِلْمِ وَاِيَّاكُمْ وَالْبِدَعَ وَاِيَّاكُم وَالتَّنَطُّعَ وَاِيَّاكُمْ وَالتَّعَمُّقَ وَعَلَيْكُمْ بِالْعَتِيْقِ]

(تاسو به خامخا داسے خلك ومومئ چه د هغویٔ به دا خيال وی چه هغویٔ ګنے تاسو د الله كتاب ته رابلی حالانكه خپله هغویٔ دغه كتاب د خپلو شاګانو نه شاته غورزولے، دے وجے نه تاسو باندے علم لازم دے او ځان د بدعتونو، تكلفاتو او بے ځايه سختيو نه وساتیٔ او پخوانے دين او طريقه راتينګه كړیٔ)۔
[رواه الدارمی : ۱/ ٦٦ ، واللالكائی : ۱/ ۸۷]

كه فكر وكړے نو ددے اثر مصداق به تاته مقلدين ښكاره شی۔ (په الله پورے پناه) !!

۱٤ – ابو بكر صديق ﷺ فرمائی : زهٔ هيڅ كله هغه شے نهٔ پريدم چه په هغے به رسول الله ﷺ عمل كولو، زهٔ به هم په هغے عمل كوم او كه زهٔ د نبی ﷺ د امر نه څهٔ شے پريدم نو زما سره د خپل زړهٔ د كږيدو خطره ده)۔ [رواه ابن بطة فی الإبانة : ۱/ ۲٤٦]

ابن بطهٔ فرمائی : اے ورونو ! دا ابو بكر صديق دے چه كه بالفرض دے د نبی ﷺ يو امر پريدی نو په خپل ځان باندے ددے كوږوالی نه يريږی، نو ستاسو په داسے زمانه باندے څهٔ خيال دے چه د هغے خلك په خپل نبی او د هغهٔ په اوامرو پورے توقے كوی او د هغهٔ په مخالفت باندے فخر كوی او د هغهٔ په سنت پورے مسخرے كوی ! د خويدو نه په الله پورے بچاؤ او د بد عمل نه نجات غواړو۔

۱۵ – عمر بن عبد العزيزؒ فرمائی : رسول الله ﷺ چه يوه طريقه جاری كړی وی، زهٔ د هغے سره د بل هيچا طريقه نهٔ وينم۔ [اعلام الموقعين : ۲/ ۲۸۲]

۱٦ – ابو قلابهٔ فرمائی : كله چه تهٔ يو سړی ته سنت بيان كړے او هغه ووائی : دا پريده او د الله كتاب را واخله، نو پو هه شه چه دا سړے ګمراه دے)۔ [طبقات ابن سعد : ۷/ ۱۸٤]

دے سره امام ذهبیؒ دا خبره يو ځائے كوی او فرمائی : او كله چه تهٔ بدعتی متكلم (علمِ كلام) والا ووينے چه هغه وائی : قرآن او اخبار آحاد پريده او د عقل خبرے كوه۔ نو پو هه شه چه دا سړے ابو جهل دے۔ او كله چه تهٔ يو توحيدی سالك (پيریٔ مريدیٔ والا) وومومے چه هغه وائی : نقل او عقل دواړه پريده، د ذوق او وَجد خبرے كوه۔ نو پو هه شه چه ابليس د انسان په شكل راښكاره

شوے او په دے سرې کښې ننوتے دے. نو که دده نه لرے وے نو ترے وتښتنه، ورنه راځیملوه، په سینه ورته کینه، آیت الکرسی پرے ووایه او مرئ ورله خفه کړه.

[سیر اعلام النبلاء : ٤/ ٤٧٢]

امام شافعیؒ فرمائی : ابن ابی ذئبؒ چه کله دا حدیث بیان کړو. [مَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ] نو ابو حنیفه بن سماك ورته وویل : ابو الحارث ! آیا ته په دے حدیث عمل کوے ؟ نو هغهٔ ورله په سینه ګوذار ورکړو او یوه تیزه چغه ئے ووهله او ردے بدے ئے ورته وویلے او وے فرمایل : زهٔ تاته د رسول الله ﷺ حدیث بیانوم او ته وائے : ته پرے عمل کوے! هو ! زهٔ پرے عمل کوم او دا په ما او په هر هغه چا باندے فرض دی چه دا حدیث واوری. بیشکه الله په ټولو خلکو کښې محمد ﷺ غوره کړو او د دوئ په وجه ئے خلکو ته هدایت وکړو، او خلکو لپاره ئے دده په ژبه هغه څهٔ غوره کړل کوم ئے چه دده او خلکو لپاره غوره کړل. نو په خلکو لازم دی چه په خوشحالئ او خفګان هر حالت کښې د هغهٔ پیروی وکړی، مسلمان لپاره دد ے نه سیوا بله چاره نشته. راوی وائی : دغسے لګیا وو تردے چه ما دا آرزو وکړه چه اوس خاموش شی.

[الرسالة : ٤٨٠ ، رقم : ١٢٣٤]

امام شافعیؒ فرمائی : د ټولو مسلمانانو په دے خبره اجماع او اتفاق دے چه چاته د رسول الله ﷺ سنت ښکاره شو نو هغهٔ لپاره حلال نهٔ دی چه د چا د خبرے د وجے دغه سنت پریدی.

[إعلام الموقعين : ٢/ ٢٨٢]

امام حمیدیؒ فرمائی : یو ورځ امام شافعیؒ یو حدیث بیان کړو نو ما عرض وکړو : آیا ته په دے عمل کوے ؟ وے فرمایل : ستا څهٔ خیال دے چه زهٔ ګنے ګیرجے نه راووتم یا دے په ما باندے زنار ولیدهٔ چه زهٔ د رسول الله ﷺ حدیث واورم او په هغے دے عمل نهٔ کوم ؟

[حلية الاولياء : ٩/ ١٠٦ ، سير أعلام النبلاء : ١٠/ ٣٤]

او یو ځل د امام شافعیؒ نه د یوے مسئلے پوښتنه وشوه، نو وے فرمایل : په دے حقله د نبی ﷺ نه دومره دومره حدیثونه راغلی، نو پوښتنه کونکی عرض وکړو : اے ابو عبد الله ! ته په دے عمل کوے ؟ امام شافعیؒ وریپیده او ولړزیدهٔ او وے فرمایل : اے سړیه ! دا کوم آسمان دے چه په ما به سورے وکړی او دا کومه زمکه ده چه ما به پورته کړی هر کله چه زهٔ د رسول الله ﷺ حدیث روایت کړم او بیا په هغے عمل نهٔ کوم ؟ هو ! په سر سترګو !

[صفوة الصفوة : ٢/ ٢٥٦]

امام احمد بن حنبلؒ فرمائی : [مَنْ رَدَّ حَدِيْثَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَهُوَ عَلٰى شَفَا هَلَكَةٍ]

Maktaba Tul Ishaat.com

(ځوك چه د رسول الله ﷺ حديث رد كړي نو دا د تباهئ د كندے په غاړه ودرېدهٔ).

[رواه في الإبانة : ۱/ ۲٦۰ ، طبقات الحنابلة : ۲/ ۱۵]

علامه بربهاريؒ وائي : [وَإِذَا سَمِعْتَ الرَّجُلَ يَطْعَنُ فِي الآثَارِ أَوْ يَرُدُّ الآثَارَ أَوْ يُرِيْدُ غَيْرَ الآثَارِ فَاتَّهِمْهُ عَلَى الْإِسْلَامِ وَلَا تَشُكَّ أَنَّهُ مُبْتَدِعٌ صَاحِبُ هَوًى]

(كله چه ته د يو سړي نه واورے چه په آحاديثو باندے اعتراض كوي، يا حديثونه رد كوي، يا د حديث نه سيوا (د علماؤ رائے ګانے او قياسونه) غواړي نو ددهٔ په مسلمانئ باندے تهمت ولګوه، او دا يقين ولرله چه دا واقعي بدعتي او خواهش پرست دے).

[شرح السنة، ص : ۵۱]

ابو القاسم اصبهانيؒ فرمائي : د سلفو اهلِ سنت فرمائي : كله چه يو سړي په حديثونو اعتراض وكړي نو پكار ده چه ددهٔ په مسلمانئ تهمت وكړے شي).

[الحجة في بيان المحجة : ۲/ ٤۲۸]

*** تعجيل عقوبة من لم يعظم السنة :**

د سنت بے قدري كونكي ته ډير زر عذاب رسيږي :

په دے باره كښے ډير زيات دلائل، آثار او عجائب دي چه مونږ د هغے نه ځينے ذكر كوو :

۱ – ابن عباس – رضي الله عنهما – فرمائي : نبي ﷺ ارشاد فرمايلے : [لَا تَطْرُقُوا النِّسَاءَ لَيْلًا، قَالَ : وَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَافِلًا فَانْسَاقَ رَجُلَانِ إِلَى أَهْلِهِمَا وَكِلَاهُمَا وَجَدَ مَعَ امْرَأَتِهِ رَجُلًا]

(تاسو خپلو كورونو ته د شپے ورونه مهٔ ځكوئ. راوي وائي : رسول الله ﷺ د سفر نه را واپس كيدو نو هغوئ سره دوه كسان خپلو كورونو ته پټ غوندے د شپے راغلل، نو دواړو د خپلو ښځو سره سړے وموندلو).

[رواه الدارمي : ٤٤٤]

نو دے دواړو كسانو ته دا خفګان د رسول الله ﷺ د مخالفت په وجه ورسيدهٔ. كه دے دواړو د خلاف ورزي نهٔ وے كړے نو د الله په مدد سره به دوئ ددے كار سره نهٔ وے مخامخ شوي.

۲ – سلمه بن اكوع ﷺ وائي : يو سړي د رسول الله ﷺ په خوا كښے په خپل ګس لاس سره خوراك كولو، نبي ﷺ ورته وفرمايل : ښي لاس سره خوراك كوه ! هغهٔ ويل : زهٔ ددے وس نهٔ لرم. (د كبر د وجے نه ددے نه منع شو) نبي ﷺ ورته ښيرے وكړے : چه ته دے ددے طاقت ونهٔ لرے. راوي وائي : دغه سړي دغه لاس خپلے خُلے ته پورته نهٔ كړے شو. (لاس ئے شل شو).

[صحيح مسلم: ۲۰۲۱، رياض الصالحين]

نو وګوره چه رحمة للعالمين هغه چاته ښيرے کوی څوك چه د هغهٔ د سنت خلاف ورزی کوی!

۳ - ابو هريره ﷺ وائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: (يو ځل يو سړے په دوه څادرو کښے په کبر روان وو چه ناګهانه الله په زمکه ننه ايستهٔ نو هغه تر قيامته پورے په زمکه کښے ډوبيدونکے روان دے. نو ابو هريره ته يو ځوان ووئيل چه دغه ځوان په يوه جوړه کښے وو او ابو هريره د دغه ځوان نوم هم اغستے وو، ويلے: اے ابو هريره! آيا دغه ځوان چه په زمکه ډوب کړے شو داسے روان وو؟ نو دغه ځوان راوځويدهٔ او د خپل لاس دپاسه راوغورزيدهٔ او نزدے وه چه دغه لاس ئے مات شوے وے. نو ابو هريره رضی الله عنه ځلے او پوزے ته اشاره وکړه او وے فرمايل: ﴿إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ﴾ [حجر: ۹۵] (بيشکه مونږ ستا د مسخرے کونکو لپاره کافی يو).

نو د مسخرے کونکی سزا او د الله په کتاب باندے د ابو هريره پوهے ته فکر وکړه!

٤ - عبد الرحمن بن حرملة وائی: يو سړے سعيد بن مسيبؒ ته راغے چه د حج او يا عمرے رخصتی ئے ترے اغسته. ورته ئے وفرمايل: د مونځ کولو نه مخکښے مه ځه ځکه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی: [لَا يَخْرُجُ بَعْدَ النِّدَاءِ مِنَ الْمَسْجِدِ إِلَّا مُنَافِقٌ إِلَّا رَجُلٌ أَخْرَجَتْهُ حَاجَةٌ وَهُوَ يُرِيدُ الرَّجْعَةَ إِلَى الْمَسْجِدِ] (د اذان نه پس د جومات نه وتونکے منافق دے مګر هغه سړے چه حاجت وښکلے وی او بيرته جومات ته د واپس کيدو اراده لری).

نو هغه سړی ووئيل: زما ملګری په خوړ کښے ناست دی. راوی وائی: دغه سړے د جومات نه ووتهٔ نو سعيد بن مسيبؒ دغسے د هغهٔ پوښتنه کوله ترڅو چه هغهٔ ته خبر ورکړے شو چه دغه کس د سورلئ نه پريوتے دے او خپه ئے ماته شوے ده. [ذکره الدارمی: ٤٤٦]

٥ - ابو يحيى الساجيؒ فرمائی: يو ځل مونږ د بصرے په کوڅو کښے روان وو چه د يو محدث کور ته تللو، نو ما مزل تيز کړو او ددے خلکو سره يو بيباکه سړے وو هغهٔ ووئيل: خپلے خپے د ملائکو د وزرو نه پورته کړئ هسے نهٔ چه ماتے ئے کړئ، د توقو په انداز کښے ئے دا خبره وکړه. نو دغه کس دغسے په خپل ځائے کښے ناست پاتے شو او دواړه خپے ئے اوچے شوے او راپريوتهٔ.

[ذکره النووی فی بستان العارفين، ص: ۹۲]

ابو عبد الله محمد بن اسماعيل التيمیؒ فرمائی: ما دا قيصه لوستلے ده: چه يو بدعتی د نبی کريم ﷺ دا وينا واوريده: (کله چه په تاسو کښے څوك د خوبه راويښ شی نو خپل لاس دے په لوښی کښے تر هغے پورے نهٔ غوپه کوی ترڅو ئے چه درے ځلے وينځلے نهٔ وی ځکه دهٔ ته معلومه نهٔ ده چه دے لاس چرته شپه تيره کړے) نو دغه بدعتی - د مسخرے په توګه - ووئيل: ماته پته

Maktaba Tul Ishaat.com

ده چه زما لاس په بستره کښې چرته شپه تیره کړې !! نو دغه کس په داسې حال کښې صبا کړ
چه خپل لاس ئې د څنګلې پورې په دُبره کښې ننه ایستې وو.

تیمیؒ وائي : انسان له پکار دی چه په سنت پورې او په هغه شیانو پورې چه د هغې بنا صرف په نقل باندې وي، دې پورې د مسخرو نه ځان وساتي ځکه دې سړی ته وګوره چه ددهٔ سپیرهٔ کار کومې درجې ته ورسیدهٔ. [بستان العارفین، ص : ۹٤]

قاضی ابو الطیبؒ فرمائي : مونږ په جامع المنصور کښې د فکر او نظر په مجلس کښې ناست وو چه دې کښې یو خراساني ځوان راغې او د مُصرّاة د مسئلې په باره کښې ئې پوښتنه وکړه، نو د دلیل مطالبه ئې وکړه تردې چه د هغهٔ په مخ کښې د ابو هریره رضی الله عنه هغه حدیث پیش کړې شو کوم په دې باره کښې راغلې، نو دغه ځوان وویل - او هغه حنفي وو - په دې باره کښې د ابو هریره حدیث قبول نهٔ دې. نو دهٔ لا دا خبره پوره کړې نهٔ وه چه په دهٔ باندې د جامع مسجد د چت نه یو لوئې مار راوغورزیدهٔ او ددې نه خلکو توپ کړې او دغه ځوان ترې وتښتیدهٔ او دغه مار دغه ځوان پسې شوې وو، او دغه ځوان ته وویل شو چه : توبه کړه توبه کړه ! نو هغهٔ وویل : ما توبه وښکله نو بیا دغه مار داسې غائب شو چه هیڅ پته ئې ونهٔ لږیده.

[ذکره الذهبی فی سیر أعلام النبلاء : ۲/ ٦١٨، وقال :إسناده أئمة، وذکره ابن تیمیة فی الفتاوی والکشمیری فی العرف الشذی فی کتاب البیوع]

امام ابوداودؒ د څینې صحابو نه نقل کړی چه یو ځوان اراده وکړه چه د نبی اکرم ﷺ او د هغوئ د سترې په مینځ کښې تیر شي، نو نبی ﷺ دغه ځوان بار بار منع کړو خو هغه منع نشو، نو نبی ﷺ ورته ښیرې وکړې او هغه شل شو. [ابوداود : ٦٠٥، بإسناد فیه کلام]

(ددې روایت په سند کښې لږه کمزوري شته).

او مونږ خپله لیدلي او په دې مو ډیر کرته تجربه کړې چه چا د سنت مقابله کړې نو په ګنړو شرمندګیو کښې پریوتي دي : (۱) څینې لیوني شوي دي (۲) څینې په زنا کښې پریوتي دي حالانکه هغوئ د جومات امامان وو. (۳) د چانه لور تښتیدلې (٤) په چا باندې ګاډي اوړ اغستې (٥) او چاته ډیر زیات مالي تاوان رسیدلې. او دا هرڅهٔ د سنت د مخالفت په وجه.

ددې ډیر مثالونه دي ځوك چه په دې تجربه کوي نو دغسې به ئې ومومي. او څوك چه د خلکو په حالاتو کښې فکر وکړي نو په دې کښې شك نهٔ کوي.

ابو قتاده رضی الله عنه فرمائي : مونږ د عمران بن حصین - رضی الله عنهما - سره وو او په مونږ کښې بُشیر بن کعب هم وو، نو مونږ ته عمران حدیث بیان کړو، چه نبی ﷺ فرمائي : حیاء سراسر

خیر دے۔ نو په دے کښے بُشیر بن کعب ووئیل: مونږ خو په ځینے کتابونو، یائے داسے ووئیل چه د حکمت په کتابونو کښے مومو چه ځینے حیاء آرام او الله لپاره وقار وی، او ځینے کمزوری وی۔ نو دے خبرے سره عمران بن حصین غصه شو تردے چه سترګے ئے سرے شوے، او وے فرمایل: زۀ دے تا په داسے حال کښے ونۀ وینم چه زۀ درته د رسول الله ﷺ له خوا حدیث بیانوم او تۀ پرے اعتراضونه کوے!

[صحیح بخاری، ٦١١٧، صحیح مسلم: ٦١، واللفظ له]

په بل روایت کښے دی: تر څو پورے چه زۀ تا پیژنم خبرے به درسره نۀ کوم۔

[الفقيه والمتفقه: ١/ ١٤٧]

عبد الله بن مغفل ﷺ وائی: رسول الله ﷺ د ټیکرکو ویشتو نه منع فرمایلے او فرمایلی ئے دی چه دے سره ښکار نۀ وژل کیږی او نۀ دشمن ته تکلیف ورکوی، البته دا کولے شی چه سترګه وباسی او غاښ مات کړی۔ نو یو سړی عبد الله بن مغفل ته ووئیل: په دے کښے څۀ باك دے؟ هغۀ ورته ووئیل: زۀ درته د رسول الله ﷺ خبره کوم او تۀ دا خبره کوے! قسم په الله! زۀ به تاسره هیڅ کله خبرے ونۀ کړم۔

[بخاری: ٥٤٧٩، مسلم: ١٩٥٤، وهذا اللفظ لابن بطة فی الإبانة: ١/ ٩٦]

ابو المخارقؒ وائی: عباده بن الصامت ﷺ حدیث بیان کړو چه نبی اکرم ﷺ په یوه روپئ باندے دوه روپئ خرڅول منع کړی دی، نو یو سړی ووئیل: چه لاس په لاس وی نو ماته په دے کښے څۀ باك نۀ ښکاری۔ نو عباده بن صامت ووئیل: زۀ وایم چه رسول الله ﷺ داسے فرمایلی او تۀ وائے: ماته په دے کښے څۀ باك نۀ ښکاری؟ قسم په الله! په ما او تا باندے به یو چت هیڅ کله سورے ونۀ کړی۔ [رواه ابن ماجه: ٨١، والدارمی: ٤٤٣، وهو حدیث صحیح]

سالم بن عبد الله بن عمر فرمائی: ابن عمر ﷺ وفرمایل: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمائی: تاسو د الله وینځے د الله د جوماتونو نه مۀ منع کوئ هر کله چه تاسو نه اجازت وغواړی۔ نو په دے کښے د عبد الله بن عمر یو ځوئے چه بلال نومیدۀ ووئیل: قسم په الله! مونږ به ئے خامخا منع کوو۔ راوی وائی: عبد الله پرے رامخامخ شۀ او داسے ئے بدے ردے ئے ورته ووئیلے چه بل چاته داسے بدے ردے وئیل ما د هغۀ نه نۀ وے آوریدلے۔ او وے فرمایل: زۀ تاته د رسول الله ﷺ له خوا حدیث بیانوم او تۀ وائے: قسم په الله مونږ به ئے خامخا منع کوو۔ [صحیح مسلم: ٤٤٢]

د مسند احمد په روایت کښے دی: تر مرګه پورے ئے ورسره خبرے ونۀ کړے۔

[مسند احمد، کما فی المشکاة: ١]

Maktaba Tul Ishaat.com

عطاء بن یسارؒ فرمائی : یو سړی د سرو یا سپینو زرو یوه ټکړه ددې د وزن نه په زیاته برخې سره خرڅه کړه نو ابودرداء ﷺ ورتـه وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه ددې قِسم سودا نـه ئې مـنـع کـړې مگر که خپلو کښې سره یو شان وی. نو هغه سړی ووېل : زهٔ په دې قِسم سودا کښې څهٔ باك نـهٔ وینـم. ابودرداء وفرمایل : ددې فلانی نه به ما څوك معذوره وګنړی، زهٔ ورته د رسول الله ﷺ حدیث بیانوم او دې ماته خپله رائې پیش کوی. زهٔ به تاسره په داسې زمکه شریك ونهٔ وسیږم چه تهٔ په هغې کښې وسیږې. [رواه ابن بطة : ۱/ ۹٤]

اعرجؒ وائی : ما د ابو سعید خدری ﷺ نـه واوریدل چه یو سړی ته ئې وفرمایل : آیا تهٔ مانه آورې چه زهٔ تاته د رسول الله ﷺ نه حدیث بیانوم چه هغوئ فرمایلی : تاسو یوه اشرفئ په بله اشرفئ او یوه روپئ په بله روپئ مهٔ خرڅوئ مگر که دواړه یو شان وی، او ددې نه نقد په نسیه باندې هم مـهٔ خـرڅوئ. بیا تهٔ داسې فتویٰ ورکوې څنګه چه دې ورکړه ! قسَم په الله ! زهٔ به تاسره څو پورې چه ژوندې یم د جومات نه سیوا په بل ځائے کښې راجمع نشم. [رواه ابن بطة : ۱/ ۹٥]

قتادةؒ وائی : ابن سیرینؒ یـو سړی ته د نبی کریم ﷺ یو حدیث بیان کړو نو یو سړی ووېل : فلانی خو دا خبره کوی. ابن سیرینؒ وفرمایل : زهٔ تاته د رسول الله ﷺ حدیث بیانوم او تهٔ وائې: فلانی فلانی داسې وائی. زهٔ به تاسره هیڅ کله خبرې ونهٔ کړم.

[رواه الدارمی : ۱/ ٤٤١]

ابو السائبؒ فرمائی : مونږ د وکیع بن جراحؒ سره وو نو هغهٔ وفرمایل : چه رسول الله ﷺ اِشعار کړې دې (مِنیٰ ته تلونکی څناورئې په مُلا کښې معمولی شان زخمی کړی دی) نو د هغهٔ سره یو سړې ناست وو چه رائې او قیاسونو والا وو، هغهٔ ووېل : ابو حنیفةؒ وائی : دا مُثله ده (یعنی شکل خرابول دی) او د ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی چه هغه وائی: دا مُثله ده. راوی وائی : ما وکیعؒ ولیدهٔ چه سخت غـصـه شـو او وې فـرمـایـل : زهٔ تـاتـه وایم چه رسول الله ﷺ وائی او تهٔ وائې ابراهیم نـخـعـی داسې وائی. تهٔ ددې ډیر لائق ئې چه تر هغه وخته پورې جیل ته واچولې شې ترڅو پورې چه دې توبه کړې نهٔ وی.

[رواه الترمذی کتاب الحج : ۱/ ۱۸۱]

خرزاذ عـابدؒ وائی : ابو معاویة الضریرؒ د هارون الرشیدؒ په مجلس کښې دا حدیث بیان کړو چه : آدم او موسیٰ علیهـمـا السلام یـو بل سره حجت بازی وکړه. نو د قریشو د مشرانو نه یو مشر ووېـل : دا دواړه چـرتـه مـلاؤ شـوی وو؟ نو هارون الرشیدؒ غصه شو او وې فرمایل: توره او څرمنه راوړئ، دا زندیق دې پـه حـدیث بـانـدې اعتـراضـونـه کوی. نو ابو معاویةؒ ورته دغسې لګیا وو

سرولو ئې او فرمايل ئې چه: امير المؤمنين! بس يوه يې ارادې خبره ئې د خُلې نه اوخته او پوهه نشو، تردې چه د هارون الرشيدؒ غصه سړه شوه.

[تاريخ بغداد: ١٤/ ٧/ سير اعلام النبلاء: ٩/ ٢٨٨]

مومن له پكار دي چه په سنتِ نبوی باندې داسې غيرت وكړي! الله دې هارون الرشيدؒ باندې رحم وكړي او ښېښه دې ورته وكړي!

عبد الله بن ديلميؒ وائى: ماته دا خبره رارسيدلې چه د دين اولنى ختميدل سنت پرېښودل دى، د دين نه به يو يو سنت داسې ختميږي لكه څنګه چه رسۍ نه يو يو تار وځي.

[رواه الدارمی: ١/ ٥٨، واللالكائى: ١/ ٩٣]

ابو حفص عمر بن مسلمة الحدادؒ فرمائى: چاچه هر وخت خپل افعال او احوال په قرآن او سنت ونۀ تلل او په خپلو خيالاتو ئې بدګمانى ونۀ كړه نو هغه د سړو په دفتر كښې مۀ شماره.

[الرسالة القشيرية: ١٧]

محمد بن عبد الوهاب رحمه الله په خپله رساله (نواقض الاسلام) كښې فرمائى: څوك چه د رسول الله ﷺ د راوړي دين نه يو شې بدې وګڼري - اګركه عمل پرې هم كوي - كافر دې. او دليل ئې دا قول د الله تعالى دې: ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَرِهُوا مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ﴾ [محمد:٩]

(دا په دې وجه چه دوئ هغه شې بدې وګڼړلو كوم چه الله رالیږلې نو الله د دوئ عملونه برباد كړل).

او څوك چه د رسول الله ﷺ په دين كښې په يو شئ پورې يا د الله په ثواب يا عذاب پورې توقې وكړي نو دا كافر دې. الله تعالىٰ فرمائى: ﴿قُلْ أَبِاللّٰهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ﴾ [توبه:٦٥:٦٦]

(تۀ ووايه: آيا تاسو د الله او د هغۀ په آيتونو او د هغۀ په رسول پورې توقې كولې، اوس (د دروغو عذر مۀ پيش كوئ، تاسو د ايمان راوړو نه روستو بيرته كافر شوی يئ).

امام ابن بطةؒ د خپلې زمانې د خلكو نه د سنت نبوى د مخالفت شكايت كړې.

[انظر كتابه: الإبانة، ص: ٢٥٩، وانظر تعظيم السنة وموقف السلف ممن عارضها، للشيخ عبد القيوم السحيبانى، المدينة المنورة]

طلحه بن الشحاجؒ فرمائى: عبيد الله بن معمر القرشي چه د فارس علاقې د لښكر امير وو، عبد الله بن عمر ﷺ ته وليكل: اوس مونږ قرارې موندلې، د دشمن نه نۀ يريږو او په مونږ باندې اووۀ كاله تير شو او بچي مو پكښې وشو نو زمونږ مونځ څو ركعاته دې؟ نو عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ورته وليكل: ستاسو مونځ دوه ركعاته دې. هغۀ بيا خط راوليږۀ. نو ابن عمر

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ ورته وليکل: ما خو تاته د رسول الله ﷺ سنت ليکلے. او ما د هغهٔ نه واوريدل چه فرمايل ئے : چاچه زما سنت ونيوهٔ هغه مانه دے او چاچه زما د سنت نه مخ واړاوهٔ هغه مانه نهٔ دے.
[ذكره البغدادى فى الفقيه والمتفقه : ١/ ١٤٤]

عمر بن خطاب ﷺ فتویٰ ورکړه چه څوك جمره عقبه وولی او ذبح او حلق وکړی نو هغهٔ لپاره د ښځو او خوشبوئے نه سيوا هر شے روا شو. نو عائشے رضی الله عنها وفرمايل : ما رسول الله ﷺ د احرام تړلو او ايله کولو په وخت خوشبويه کړے دے هر کله ئے چه جمره عقبه وويشتله او طواف زيارت ئے لانهٔ وو کړے. نو سالمؒ وويل : د رسول الله ﷺ سنت د پيرویٔ ډير لائق دے.
[الفقيه والمتفقه : ١/ ١٤٤]

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : نبی ﷺ حج تمتع کړے، نو عروه بن الزبير وويل : ابو بکر او عمر - رضی الله عنهما - خو د تمتع نه منع کړے. نو ابن عباس ﷺ ووېل : عُرينه (عروه) څهٔ غواړی دا څهٔ وائی ؟ هغه ويل : دا وائی: ابو بکر او عمر رضی الله عنهما د حج تمتع نه خلك منع کړی. نو ابن عباس رضی الله عنهما وفرمايل : زما په خيال دا خلك تباه کيږی، زهٔ وايم : رسول الله ﷺ داسے فرمائی او تاسو وايئ : ابو بکر او عمر (رضی الله عنهما) ترے منع کړے!

په بل روايت کښے دی : همدے خبرے تاسو تباه کړئ! قسَم په الله ! زما په خيال تاسو له به عذاب درکوی، ولے چه زهٔ تاسو ته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او تاسو ماته ابو بکر او عمر (رضی الله عنهما) پيش کوئ.

نو عروهؒ وويل : قسَم په الله ! دے دواړو تانه د رسول الله ﷺ سنت ډير ښهٔ پيژندهٔ او ډيره پيروی ئے کوله.

خطيبؒ فرمائی : زهٔ وايم : د عروه دا خبره صحيح ده چه ابو بکر او عمر رضی الله عنهما ښهٔ پوهيدل خو دومره خبره ده چه د رسول الله ﷺ د ثابت شده سنت په پريښودو باندے د هيچا تقليد پکار نهٔ دے. [الفقيه والمتفقه : ١/ ١٤٥]

ابو سعيد خدری ﷺ نه روايت دے، يو سړی وويل : مسح ښه ده خو زهٔ مسح نهٔ کوم څکه زما زړهٔ ئے نه منی. نو دهٔ ته د رسول الله ﷺ څهٔ صحابو وفرمايل : قسَم په الله ! ستا لپاره دا اختيار نشته ترڅو پورے چه ستا په نفس کښے د نبی ﷺ د وينا په حقله څهٔ تنگی پاتے نشی او تهٔ پوره تسليم نشے. [الفقيه والمتفقه : ١/ ١٤٦]

اسحاق بن طباعؒ وائی : يو سړے امام مالكؒ ته راغے او د يوے مسئلے پوښتنه ئے ترے وکړه نو هغهٔ ورته وفرمايل چه رسول الله ﷺ داسے فرمايلی دی. نو هغه سړی وويل : په دے مے خبر کړه

که چرے داسے داسے وشی ؟ امام مالك ورته دا آيت ولوستلو : ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ ﴾ (هغه خلك دے ویریږی چه هغوئ د نبی ﷺ د حکم خلاف کوی)۔ [الفقيه]

په صحیح بخاری کښے راځی، زبیر بن عربی وائی : یو سړی د ابن عمر – رضی الله عنهما – نه د حجرِ اسود ښکلولو په حقله پوښتنه وکړه۔ ابن عمر ورته وفرمایل : ما رسول الله ﷺ لیدلے چه دے له ئے لاس وروړلو او ښکلولو ئے۔ هغه سړی وویل : ستا څهٔ خیال دے که چرے ماسره تیل وکړے شی۔ ستا څهٔ خیال دے که چرے زهٔ کمزورے شم۔ ابن عمر – رضی الله عنهما – ورته وفرمایل : ((ستا څهٔ خیال)) دے یمن ته وغورزوه۔ ما رسول الله ﷺ لیدلے چه دا ئے ښکلولو او دے له ئے لاس وروړلو۔

[صحیح بخاری کتاب الحج : ۱/ ۲۱۸]

دارنګه امام بخاریؒ د عمران بن حصین – رضی الله عنهما – نه روایت کوی چه مونږ د رسول الله ﷺ په زمانه کښے حجِ تمتع وکړه او په دے زمانه کښے قرآن نازلیدهٔ۔ بیا روسته یو سړی په خپلے رائے سره هغه خبره وکړه کومه ئے چه خوښه وه۔ دا عمر ﷺ یادوی۔

[صحیح بخاری : ۱/ ۲۱۳]

دارنګه د مروان بن الحکم نه ئے روایت نقل کړے دا وائی : زهٔ علی او عثمان رضی الله عنهما ته حاضر شوم چه عثمان ﷺ په یو سفر کښے د حج او عمرے جمع کولو نه منع کوله نو کله چه علی رضی الله عنه دا ولیدل نو ددے دواړو احرام ئے وتاړهٔ او داسے ئے وویل : [لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ] او وے فرمایل : زهٔ د نبی ﷺ سنت د چا د وینا د وجے پریښودے نشم۔

[صحیح بخاری : ۱/ ۲۱۲]

عبد الله بن حسنؒ به ربیعهؒ سره ډیر کیناستهٔ۔ راوی وائی : یو ځل دے دواړو د سنتونو تذکره کوله نو په مجلس کښے ناست یو سړی وویل : په دے باندے عمل نشته ! نو عبد اللهؒ وفرمایل : په دے مے خبر کړه که چرے جاهلان خلك ډیر شی نو هم دوئ حاکمان شی نو آیا د سنت په خلاف به د دوئ خبره دلیل وی؟ ربیعهؒ وائی : زهٔ ګواهی کوم چه دا د انبیاء کرامو د نمسو خبره ده۔ [الفقيه : ۱/ ۱٤٦]

عبد الرحمن بن حرملهؒ وائی : سعید بن مسیبؒ یو سړے ولیدهٔ چه هغهٔ د سهار د آذان نه پس مونځ کولو نو رکعتونه ئے ډیر کړل۔ نو سعید بن مسیبؒ په کوت کانړی وویشتهٔ او بیا ئے وفرمایل : که په تاسو کښے څوك خپله نهٔ پوهیږی نو هغه دے د بل نه پوښتنه وکړی ځکه د سهار د آذان نه پس صرف دوهٔ رکعته دی۔ دا ئے وویل او واپس شو۔ هغه سړی ورته وویل : اے ابو

Maktaba Tul Ishaat.com

محمد ! آیا تا سره دا خطره ده چه الله به ماله په ډیر مونځ عذاب راکړي ؟ سعید بن مسیبؒ ورته وفرمایل : ما سره دا ویره ده چه الله به تاله د سنت په پریښودو عذاب درکړي.

[الفقیه والمتفقه : ۱/ ۱٤۷ ، وفی المصنف لعبد الرزاق نحوه : ۳/ ۵۲ ، عن سعید بن المسیب]

علي ﷺ نه نقل دي، یو سړي د اختر په ورځ په عیدګاه کښې د اختر د مانځه نه مخکښې نفل کول نو هغه ئې منع کړو، نو هغه سړي ووېل : آیا الله به ما له په مونځ کولو عذاب راکوي ؟ علي ﷺ ورته وفرمایل : نه. خو د سنت په خلاف درله عذاب درکوي. [ضیاء النور]

مالك بن انسؒ فرمائي : په کوم قوم کښې چه احادیث کم شي نو په دوئ کښې بدعات ډیرېږي، او کله چه علماء کم شي نو په خلکو کښې ناپوهي زیاتیږي.

[الفقیه والمتفقه : ۱/ ۱٤۷]

اوزاعيؒ ته دا خبره رارسیدلې چه عمر بن خطاب ﷺ وفرمایل : اے خلکو ! د سنت راتلو نه پس په ګمراهئ کښې د هیڅا لپاره عذر نشته چه هغه ئې هدایت ګڼړلې وي. او نهٔ د هغه چا عذر شته چه یو هدایت ئې ګمراهي ګڼړلې وي او پریښې ئې وي. کارونه واضحه شوي او دلیل مضبوط شوے او عذر ختم شوے دے.

[حواله سابقه : ۱/ ۱٤۷]

ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې : تاسو په اور باندے د پخ شوي شئ خوړلو نه پس اودس کوئ اګرکه د پنیر ټکړه ولې نهٔ وي. نو ابن عباس رضی الله عنهما ووېل : آیا مونږ به د ګرمو اوبو نه چه په اور باندے جوشیدلې وي اودس کوو ؟ آیا مونږ به د تیلو نه چه په اور باندے ګرم شوي وي اودس کوو ؟ نو ابو هریره ﷺ وفرمایل : اے ورارهٔ ! کله چه تا واوریدل چه د رسول الله ﷺ له طرفه حدیث بیانیږي نو د هغے لپاره مثالونه مهٔ بیانوه.

[رواه ابن ماجه والبغدادی فی الفقیه : ۱/ ۱٤۸ ، واللفظ للخطیب]

ایوبؒ وائي : حکم بن عتیبہؒ د زهريؒ نه د ام ولدے د عدت په باره کښې پوښتنه وکړه او زهٔ حاضر ووم. نو هغهٔ وفرمایل : سنت دادی چه څلور میاشتے او لس ورځے به تیروي. نو حکمؒ ووېل : دا خبره خو زمونږ ملګري نهٔ کوي. ایوبؒ وائي : زهريؒ غصه شهٔ او وے فرمایل : د رسول الله ﷺ خبره تاسو ته راشي بیا تاسو په خپلې رائے سره په هغے اعتراضونه کوئ. بیا ئې د بریرے رضی الله عنها حدیث پیش کړو.

[الفقیه : ۱/ ۱٤۹]

امام شافعيؒ فرمائي : هغه څوك ګمراه شو چه د رسول الله ﷺ خبره ئې د هغه چا د خبرے

لپاره پرېښودہ چه هغه د رسول الله ﷺ نه روستو راغلے !
[حواله سابقه : ۱/ ۱٤۹]

نعیم بن حمادؒ فرمائي : چا چه يو معروف حديث پرېښودۀ او عمل ئې پرے ونۀ کړو او ددے د غورزولو رائے ئې جوړه شوه نو دا بدعتي دے۔

مخلد بن حسينؒ وائي : ماته اوزاعيؒ وويل : اے ابو محمد ! کله چه تاته د رسول الله ﷺ له خوا حديث راورسي نو ددے نه سيوا د بل شي خيال مۀ لره، او ددے نه سيوا بله خبره مۀ کوه، ځکه محمد ﷺ خو صرف د خپل رب له طرفه خبره رارسونکے دے۔ [حواله سابقه : ۱/ ۱٤۹]

سفيانؒ فرمائي : د دين تسمه پيروي کول دي۔ [حواله سابقه : ۱/ ۱۵۰]

امام شافعيؒ فرمائي : کله چه زۀ د رسول الله ﷺ نه حديث روايت کړم او بيا پرے عمل ونۀ کړم نو زۀ تاسو ګواه کوم چه زما عقل به تلے وي او دواړه لاسونه ئې اوږدۀ کړل۔
[حواله سابقه]

او فرمائي : کله چه تاسو زما په کتاب کښې د رسول الله ﷺ د سنت خلاف خبره ووينئ نو د رسول الله ﷺ سنت واخلئ او زما خبره پرېدئ۔

جنيدؒ فرمائي : په خلکو باندے ټولې لارے بندے دي، مګر په هغه چا باندے چه د رسول الله ﷺ پسے روان وي او د هغۀ د سنت پيروي کوي او د هغۀ طريقه راټينګوي۔ چه ددے کس لپاره د خير ټولې لارے پرانستے دي۔
[الفقيه والمتفقه : ۱/ ۱۵۰]

أَهْلُ الْحَدِيْثِ هُمُوْ أَهْلُ النَّبِيْ وَإِنْ لَّمْ ❋ يَصْحَبُوْا نَفْسَهٗ أَنْفَاسَهٗ صَحِبُوْا

(اهلِ حديث په رشتيا سره د نبي ﷺ خپل خلك دي، اګر که دوئ د نبي ﷺ د ذات سره ملګري شوي نۀ دي خو د هغوئ د احاديثو سره ملګري دي)۔
[قواعد التحديث، ص : ٤۷،]

ځينې علماؤ د الله تعالیٰ ددے وينا په حقله ﴿يَوْمَ نَدْعُوْ كُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ﴾ [اسراء:۷۱]
(په کومه ورځ چه به مونږ هره ډله د خپل امام سره راوغواړو)
فرمايلي دي :

د ((اهلِ حديثو)) د ټولو نه زيات او ځانګړے فضيلت دادے چه د دوئ امام صرف نبي کريم ﷺ دے۔

[تدري الراوي، ص : ۱۷۰، قواعد التحديث : ٤۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعیؒ فرمائی : [إِذَا رَأَيْتُ صَاحِبَ حَدِيْثٍ ، فَكَأَنِّيْ رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ .
(کله چه زهٔ یو اهلِ حدیث ووینم نو داسې زړهٔ مې پرې سازیږی لکه چه ما د رسول الله ﷺ یو صحابی لیدلے وی)۔
دارنګه فرمائی : [أَهْلُ الْحَدِيْثِ فِيْ كُلِّ زَمَانٍ كَالصَّحَابَةِ فِيْ زَمَانِهِمْ]
(په هره زمانه کښې اهلِ حدیث داسې دی لکه صحابه کرام په خپله زمانه کښې)۔
[قواعد التحديث : ٤٩]
ابو بکر بن عیاشؒ فرمائی : [أَهْلُ الْحَدِيْثِ فِيْ كُلِّ زَمَانٍ كَأَهْلِ الإِسْلَامِ مَعَ أَهْلِ الأَدْيَانِ]
(اهلِ حدیث په هره زمانه کښې د نورو خلکو په نسبت داسې په حقه دی لکه په غیر مذهبو کښې چه مسلمانان په حقه دی)۔
او دا ډیره رشتینې او حقه خبره ده۔ [قواعد التحديث : ٥٠]
عمر بن خطاب ﷺ فرمائی : [سَيَأْتِيْ قَوْمٌ يَجَادِلُوْنَكُمْ بِشُبْهَاتِ الْقُرْآنِ فَخُذُوْهُمْ بِالسُّنَنِ فَإِنَّ أَصْحَابَ السُّنَنِ أَعْلَمُ بِكِتَابِ اللهِ مِنْهُمْ]
(داسې خلك راروان دې چه تاسو سره به د قرآنی شبهاتو په ذریعه جګړې کوی، نو تاسو هغوئ په احادیثو سره راونیسئ ځکه د سنت خاوندان (اهلِ حدیث) د هر چانه د الله په کتاب ښهٔ پوهیږی)۔
[ذکره الشعران فی مقدمة میزانه وجمال الدین القاسمی فی قواعده، ص : ٥٤]
امام شعبیؒ او عبد الرحمن بن مهدیؒ دواړو به په رائې (او قیاسونو) باندې د عمل کولو نه خلك منع کول او دا شعر به ئې ویلو :

لَا تَرْغَبَنَّ عَنِ الْحَدِيْثِ وَأَهْلِهِ ❁ فَالرَّأْيُ لَيْلٌ وَالْحَدِيْثُ نَهَارُ

(د حدیث او اهلِ حدیثو نه مخ مهٔ اړوه ځکه رائې تیارهٔ ده او حدیث ورځ)۔
عبد العزیز بن رفیعؒ وائی : د عطاءؒ نه د یوې مسئلې پوښتنه وشوه، نو هغهٔ وفرمایل : ماته معلومه نهٔ ده۔ نو هغهٔ ته وویل شو : آیا په خپلې رائې سره په دې کښې څهٔ خبره نهٔ کوې ؟ عطاءؒ وفرمایل : ماله شرم راځی چه خلك دې په زمکه باندې زما په رائې عبادت کوی۔
[رواه الدارمی : ١/ ٤٥]
ډیره عجیبه خبره ده چه دا د امام عطاء رحمه الله په ژور علم دلالت کوی!!
امام احمدؒ فرمائی : څوك چه د رائې کتابونه ډیر ګوری نو هغه به تهٔ وینې چه د هغهٔ په زړهٔ کښې به خامخا فساد وی۔

حدیث کښې دي: عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي:

[سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ مُجَابٍ: الزَّائِدُ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللّٰهِ، وَالْمُتَسَلِّطُ عَلٰى أُمَّتِيْ بِالْجَبَرُوْتِ، لِيُذِلَّ مَنْ أَعَزَّ اللّٰهُ وَيُعِزَّ مَنْ أَذَلَّ اللّٰهُ، وَالْمُسْتَحِلُّ حُرْمَةَ اللّٰهِ أَوِ الْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِيْ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ، وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ]

[رواه ابن حبان و الطبراني والحاكم، وقال المنذري في الترغيب: لا أعلم له علة وسنده صحيح، وهو في المشكاة: ۱]

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي: په تاسو کښې يو تن تر هغې مؤمن کيدے نشي ترڅو چه د هغهٔ خواهش زما د راوړی دين تابع جوړ نشي۔

[رواه البغوي في شرح السنة، قال النووي في أربعينه: هذا حديث صحيح]

امام شافعيؒ به فرمايل: رسول الله ﷺ زمونږ په سترګو کښې ډير زيات قدرمن دے ددے نه چه مونږ دے د هغهٔ د فيصلے نه سيوا بل شے خوښ وګنړو۔

امام محمد کوفيؒ فرمائي: ما شافعيؒ وليدهٔ چه په مکه کښې ئې خلکو ته فتوے ورکولے او امام احمدؒ او اسحاق بن راهويهؒ مے وليدهٔ چه دواړه حاضر وو۔ نو امام شافعيؒ وفرمايل: رسول الله ﷺ فرمائي: مونږ لپاره عقيل (بن ابی طالب) هيڅ شے نهٔ دے پريښے۔ نو اسحاقؒ وفرمايل: مونږ د حسن بصريؒ او ابراهيم نخعيؒ نه روايت کړے چه دے دواړو دا رائے نهٔ لرله، دغسے عطاء او مجاهدؒ۔ نو امام شافعيؒ اسحاقؒ ته وفرمايل: که ستا په ځائے بل چا دا خبره کړے وے نو ما به د هغهٔ غوږ مروړلے وے! زهٔ وايم: رسول الله ﷺ فرمائي او تهٔ وائے: عطاء، مجاهد او حسن داسے وائي؟ تاته دا پته نشته چه د رسول الله ﷺ د خبرے سره د بل هيچا خبره دليل نهٔ دے؟

[قواعد التحديث للقاسمي: ٥٤]

په حديث کښې دي: (چا چه مانه پس زما د سنتونو نه يو سنت ژوندے کړو نو د هغهٔ لپاره د هغه چا د اجر پشان اجر دے څوک چه په دے عمل کوي، او د دوئ د اجرونو نه به هيڅ شے نهٔ کميږي، او چا چه يوه داسے نوے خبره پيدا کړه چه الله او رسول (ﷺ) ئې نهٔ خوښوي، نو ددهٔ به دومره ګناه کيږي څومره چه په دے باندے د عمل کونکی کيږي، په دے سره به ددهٔ په ګناه کښې څهٔ کمے نهٔ راځي)۔

[رواه الترمذي عن عمرو بن عوف وابن ماجه، وهو في المشكاة: ۱]

د ابو ثعلبه ﷺ په حديث کښې دي، رسول الله ﷺ فرمائي:

(تاسو د نيکئ حکم کوئ او د بدئ نه منع کوئ ترڅو چه تاسو داسے بخل ووينئ چه د هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

تابعداري کيدے شي او داسے خواهش چه د هغے پيروي کيدے شي او داسے دنيا چه خلك ئے غوره کوي او د هر رائے والا په خپلے رائے باندے فخر کول، نو تهٔ د خپل ځان غم کوه او د عوامو غم پريده ځکه ستاسو مخے ته داسے ورځے دي چه په دے کښے په خپل دين باندے مضبوط پاتے کيدونکے داسے مثال لري لکه سکروټه نيونکے، په دے کښے د نيك عمل کونکي ثواب د هغه پنځوسو کسانو پشان دے چه هغوئ ددهٔ پشان عمل کوي، صحابو عرض وکړو: دا پنځوس کسان مونږ نه مراد دي اوکه د دغه وخت د خلکو نه ؟ نبي ﷺ وفرمايل: بلکه ستاسو د پنځوسو کسانو د ثواب پشان). [رواه أبوداود]

ضحاكؒ فرمائي : په دنيا کښے د سنت مثال داسے دے لکه په آخرت کښے د جنت. څوك چه په آخرت کښے جنت ته ننواتهٔ نو هغه بيغمه شو، دغه شان څوك په دنيا کښے سنت راتينگ کړي نو هغه به په حفاظت کښے شي. [القرطبی : ۱۳/ ۳٦٥]

*** د رسول الله ﷺ سنت سواد اعظم دے :**

نعمان بن بشير ﷺ وائي : رسول الله ﷺ ددے منبر دپاسه وفرمايل : څوك چه د لږ شئ شکر نهٔ کوي هغه د ډير شئ هم شکر نهٔ کوي. او څوك چه د خلکو شکريه نهٔ ادا کوي هغه د الله شکريه هم نهٔ ادا کوي. د الله نعمت خلکو ته بيانول شکر دے او ددے نهٔ بيانول ناشکري ده. اتفاق رحمت دے او اختلاف عذاب دے.

راوي وائي : ابو امامة الباهلي ﷺ وفرمايل : په تاسو باندے سوادِ اعظم لازم دے. يو سړي عرض وکړو : سوادِ اعظم څهٔ شے دے ؟ نو ابو امامه رضي الله عنه په زوره وفرمايل : د سورتِ نور دا آيتِ کريمه : ﴿ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ﴾ [نور: ٥٤]

(نو که تاسو مخ اړوئ نو په رسول باندے تبليغ کول لازم دي چه ددے ذمه داري دَ هغهٔ په سر اچولے شوے).

امام هيثميؒ وائي : ددے حديث راويان ثقات دي.

[أخرجه عبد الله بن احمد والبزار والطبراني، مجمع الزوائد : ٥/ ٢١٨]

امام ابن قيم رحمه الله په [القصيدة النونية] کښے فرمائي :

يَا مَنْ يُرِيدُ نَجَاتَهُ يَوْمَ الْحِسَابِ * مِنَ الْجَحِيمِ وَمَرْقَدِ النِّيرَانِ
اِتْبَعْ رَسُوْلَ اللهِ فِي الأَقْوَالِ وَالأَعْمَالِ * لا تَخْرُجْ عَنِ الْقُرْآنِ
وَخُذِ الصَّحِيحَيْنِ اللَّذَيْنِ هُمَا * لِعَقْدِ الدِّيْنِ وَاسِطَتَانِ
وَأَقْرَأْهُمَا بَعْدَ التَّجَرُّدِ مِنْ هَوَى * وَتَعَصُّبٍ وَحَمِيَّةِ الشَّيْطَانِ

وَاجْعَلْهُمَا حَكَمًا وَلَا تَحْكُمْ عَلَى * مَا فِيهِمَا أَصْلًا بِقَوْلِ فُلَانِ
وَاجْعَلْ مَقَالَتَهُ كَبَعْضِ مَقَالَةِ * الْأَشْيَاخِ تَنْصُرُهَا بِكُلِّ أَوَانِ
وَانْصُرْ مَقَالَتَهُ كَنَصْرِكَ لِلَّذِي * قَلَّدْتَهُ مِنْ غَيْرِ مَا بُرْهَانِ
قَدِّرْ رَسُوْلَ اللهِ عِنْدَكَ وَحْدَهُ * وَالْقَوْلُ مِنْهُ إِلَيْكَ ذُوْ تِبْيَانِ
مَاذَا تَرٰى فَرْضًا عَلَيْكَ مُعَيَّنًا * إِنْ كُنْتَ ذَا عَقْلٍ وَذَا إِيْمَانِ
عَرْضَ الَّذِيْ قَالُوْا عَلٰى أَقْوَالِهِ * أَوْ عَكْسَ ذَاكَ فَذَانِكَ الْأَمْرَانِ
هِيَ مَفْرَقُ الطُّرُقَاتِ بَيْنَ طَرِيْقِنَا * وَطَرِيْقِ أَهْلِ الزَّيْغِ وَالْعُدْوَانِ
قَدِّرْ مَقَالَاتِ الْعِبَادِ جَمِيْعِهِمْ * عَدَمًا وَرَاجِعْ مَطْلَعَ الْإِيْمَانِ
وَاجْعَلْ جُلُوْسَكَ بَيْنَ صَحْبِ مُحَمَّدٍ * وَتَلَقَّ مَعْهُمْ مِنْهُ بِالْإِحْسَانِ
وَتَلَقَّ عَنْهُمْ مَا تَلَقَّوْهُ هُمُوْ عَنْهُ * مِنَ الْإِيْمَانِ وَالْعِرْفَانِ
أَفَلَيْسَ فِيْ هٰذَا بَلَاغٌ مُسَافِرٍ * يَبْغِي الْإِلٰهَ وَجَنَّةَ الْحَيَوَانِ
لَوْلَا التَّنَافُسُ بَيْنَ هٰذَا الْخَلْقِ مَا * كَانَ التَّفَرُّقُ قَطُّ فِي الْحُسْبَانِ
فَالرَّبُّ رَبٌّ وَاحِدٌ وَكِتَابُهُ حَقٌّ * وَفَهْمُ الْحَقِّ مِنْهُ دَانِ
وَرَسُوْلُهُ قَدْ أَوْضَحَ الْحَقَّ الْمُبِيْنَ * بِغَايَةِ الْإِيْضَاحِ وَالتِّبْيَانِ
مَا ثَمَّ أَوْضَحُ مِنْ عِبَارَتِهِ فَلَا * يَحْتَاجُ سَامِعُهَا إِلٰى تِبْيَانِ
وَانْصَحْ مِنْهُ فَوْقَ كُلِّ نَصِيْحَةٍ * وَالْعِلْمُ مَأْخُوْذٌ عَنِ الرَّحْمٰنِ
فَلِأَيِّ شَيْءٍ يَعْدِلُ الْبَاغِي الْهُدٰى * عَنْ قَوْلِهِ لَوْلَا عَمَى الْخُذْلَانِ
فَالنَّقْلُ عَنْهُ مُصَدَّقٌ وَالْقَوْلُ مِنْ ذِيْ * عِصْمَةٍ مَا عِنْدَنَا قَوْلَانِ
وَالْعَكْسُ عَنْهُ سِوَاهُ فِي الْأَمْرَيْنِ يَا * مَنْ يَهْتَدِيْ هَلْ يَسْتَوِي النَّقْلَانِ؟
تَاللهِ قَدْ لَاحَ الصَّبَاحُ لِمَنْ لَهُ * عَيْنَانِ نَحْوَ الْفَجْرِ نَاظِرَتَانِ
وَأَخُو الْعَمَايَةِ فِيْ عَمَايَتِهِ يَقُوْلُ اللَّيْلُ * بَعْدُ أَيَسْتَوِي الرَّجُلَانِ ؟
تَاللهِ قَدْ رُفِعَتْ لَهُ الْأَعْلَامُ إِنْ * كُنْتَ الْمُشَمِّرَ نِلْتَ دَارَ أَمَانِ

امام شافعیؒ فرمائي :

كُلُّ الْعُلُوْمِ سِوَى الْقُرْآنِ مَشْغَلَةٌ * إِلَّا الْحَدِيْثَ وَإِلَّا الْفِقْهَ فِي الدِّيْنِ
اَلْعِلْمُ مَا كَانَ فِيْهِ حَدَّثَنَا * وَمَا سِوَاهُ فَوَسْوَاسُ الشَّيَاطِيْنِ

(د قرآن، حديث او په دين كښې د فقهې نه سيوا نور ټول علمونه هسې مشغله ده. علم خو ديته وائي چه په هغې كښې ((حدثنا)) وي، ددې نه سيوا نور هر څۀ شيطاني وسوسه ده).

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو الظهيرؒ فرمائي :

إِذَا رَأَيْــتَ أَنْ تَتَــوَخَّــى الْهُــدٰى وَأَنْ تَــأْتِــىَ الْحَقَّ مِنْ بَابِــهِ
فَــدَعْ كُــلَّ قَــوْلٍ وَمَــنْ قَــالَــهُ لِــقَــوْلِ الــنَّبِيِّ وَأَصْحَــابِــهِ
فَلَــمْ تَــنْــجُ مِــنْ مُحْدَثَــاتِ الْاُمُوْرِ بِــغَيْــرِ الْــحَدِيْــثِ وَأَرْبَــابِــهِ

(كله چه ته د هدايت اراده لرې او حق ته په سمه طريقه راتلل غواړې۔ نو د نبي كريم ﷺ او د هغهٔ د صحابو رضي الله عنهم د خبرې لپاره هره وينا او د هغې ويونكې پريده۔ ځكه چه ته د بدعاتو او بدعتيانو نه د حديث نه بغير په بل شئ نشې خلاصيدې)۔

[انظر قواعد التحديث للقاسمي، ص: ٤٠٤]

شاه ولي الله دهلويؒ د هغه چا په كفر باندې فتوىٰ وركړې چه د يو امام د پيروئ او د هغهٔ د تقليد په وجه د سنت خلاف كوي۔ [التفهيمات الالهية : ٢]

او په [حجة الله البالغة] كښې فرمائي : كه چرې مونږ ته د هغه معصوم رسول ﷺ له طرفه يو حديث راورسيږي چه الله په مونږ باندې د هغهٔ طاعت فرض كړې او ددې سند برابر وي او دا د دغه امام د مذهب خلاف وي او بيا مونږ د دغه نبي حديث پريدو او د دغه گمان پسې روان شو، نو زمونږ نه به غټ ظالمان بل څوك وي ؟ او په قيامت كښې به مونږ د الله مخې ته څهٔ عذر پيش كوو ؟

د ربيعه بن كعب الاسلمي ﷺ په حديث كښې دي : چه دهٔ به د نبي ﷺ خدمت كولو نو يو ځل دهٔ ته رسول الله ﷺ وفرمايل : ربيعه ! وادهٔ نهٔ كوې ؟ ربيعه جواب وركړو : نه يا رسول الله ! زهٔ نهٔ غواړم چه وادهٔ وكړم ځكه ما سره د ښځې ساتلو څهٔ اسباب نشته او بله دا چه زهٔ دا نهٔ غواړم چه تاسنه په بل شئ سره ځان مشغوله كړم۔ ربيعه وائي : نو مانه رسول الله ﷺ مخ واړولو۔ نو ما خپل ځان سره سوچ وكړو او ومې ويل چه قسم په الله ! رسول الله ﷺ مانه د دنيا او آخرت په كارونو باندې ښهٔ پو هيږي۔ قسم په الله ! كه بل ځل ماته ووائي چه وادهٔ نهٔ كوې ؟ نو خامخا به ورته وايمه چه ولې نه يا رسول الله ! تاسو چه څهٔ غواړئ ماته حكم وكړئ۔ نو كله چه رسول الله ﷺ ورته دوباره وفرمايل : اې ربيعه ! وادهٔ نهٔ كوې ؟ ربيعه وائي : ما ويل: ولې نه۔ ماته چه څهٔ غواړې حكم كوئ۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د انصارو فلاني قوم ته ورشه او هغوئ ته ووايه چه رسول الله ﷺ زهٔ تاسو ته راليږلې يم چه تاسو ماله فلانئ جينئ په نكاح راكړئ۔ ربيعه وائي : زهٔ هغوئ ته ورغلم او ورته مې وويل : زهٔ تاسو ته رسول الله ﷺ راليږلې يم چه تاسو ماله فلانئ جينئ په نكاح راكړئ۔ هغه خلكو وويل : مونږ رسول الله ﷺ او د هغهٔ اَستاذي ته

هرکلے وایو۔ قسم په الله ! د رسول الله ﷺ استاذیے به خامخا د خپل حاجت سره واپس کیږي۔ نو هغوئ ماله دغه جینئ په نکاح راکړه او زۀ ئے غوره کړم او مانه ئے ګواهان هم ونۀ غوښتل۔ زۀ رسول الله ﷺ ته د خفګان په حالت کښے واپس شوم او عرض مے وکړو: اے د الله رسوله ! زۀ عزتمنو خلکو ته ورغلم، هغوئ ماله ښځه په نکاح راکړه او زما عزت ئے وکړو او مانه ئے ګواهان ونۀ غوښتل او ما سره مهر نشته۔ نو رسول الله بریده بن الحصیب ﷺ ته چه د اسلم قبیلے مشر وو، وفرمایل : اے بریده ! ددۀ لپاره د د کهجورو د هډوکی هومره سرۀ زر راجمع کړه۔ (هر کله ئے چه ورله دا راجمع کړل) نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دا دغه خلکو ته یوسه او ورته ووایه : دا د دغه جینئ مهر شو۔ هغه خلکو وویل : ډیر زیات مزیدار دے۔ بیا زۀ د خفګان په حالت کښے واپس شوم او رسول الله ﷺ ته مے شکایت وکړو چه زما د ولیمے وس نۀ کیږي۔ نو نبی ﷺ بریده بن الحصیب ته حکم وکړو نو هغوئ ماله ګډ راجمع کړو۔ او وے فرمایل : عائشے رضی الله عنها ته ورشه او ورته ووایه چه د خوراك پچئ راولیږي۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا دغه خلکو ته یوسه چه اوړۀ ترے واغړی او روټئ ترے پخه کړي۔ هغه خلکو وویل : روټئ نه تاسو خلاص وسئ او ګډ تاسو سنبال کړئ۔ نو دا کار مونږ وکړو او ما ولیمے ته رسول الله ﷺ راوغوښتۀ۔

[رواه احمد والطبرانی مفصلا، و هو فی حیاة الصحابة : ۲/ ٦٦٩، وأبطال الإسلام : ٥/ ۲۰٦۳]

نو فکر وکړه ! ښکه صحابه کرامو په هر شئ کښے د رسول الله ﷺ پیروی کوله !!

* د سنت پریخودو اسباب :

د سنت پریښودو ګڼړ اسباب دی :

۱ – د جهل او ناپوهئ غلبه ځکه څوك چه په یو شئ نۀ پوهیږي په هغے به عمل ښکه وکړي۔

۲ – د غربیانو (یورپ والو) نه متاثره کیدل۔

۳ – د ملامتګر د ملامتیا نه یریدل۔

٤ – رسم او رواج له ترجیح ورکول۔

٥ – د خواهش پیروی۔

٦ – تقلید : ځکه ددے په سبب اویا (۷۰) فیصده دین برباد شوے۔

۷ – د سنت پرواه نۀ ساتل، او دا ډیر زیات دے۔

اوس مونږ د (فتح الباری) نه د اتباع السنة په باره کښے آثار ذکر کوو چه دا آثار شیخ عبد المحسن العباد حفظه الله راجمع کړي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

* **اتباع السنة** : (د سنتو پیروي) :

١ - امام بخاريؒ په خپل ((صحیح)) کښې د انس بن مالك ﷺ نه د هغه درے کسانو قیصه نقل کړے چه په هغوئ کښې یو کس ووئیل : اوس به زه همیشه توله شپه مونځ کوم، دویم ووئیل : زه به دورځې همیشه روژه نیسم او هیڅ کله به ئې نه ماتوم، دریم ووئیل : زه به دښځونه جدا اوسم او هیڅ کله به نکاح نه کوم۔ نبی کریم ﷺ چه راغے ورته ئې وفرمایل:

[اَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا اَمَا وَاللهِ اِنِّيْ لَاَخْشَاكُمْ لِلهِ وَاَتْقَاكُمْ لَهُ لٰكِنِّيْ اَصُوْمُ وَاُفْطِرُ وَاُصَلِّيْ وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ]

(تاسو داسے داسے وئیلي دي، خبردار ! زه تاسو نه زیات د الله نه ویریدونکے یم اوستاسو نه زیات تقویٰ اختیارونکے یم، لیکن ددے باوجود زه روژه هم نیسم، ماتوم ئې هم، دشپے مونځ هم کوم اوده کیږم هم، اوښځو سره نکاح هم کوم (دا زما طریقه ده نو) کوم سړے چه زما دطریقے نه مخ اړوی، هغه ځما نه نه دے (یعني زما دجماعت نه خارج دے) (بخاري، مسلم)۔

حافظ ابن حجرؒ ددے په شرح کښې فرمائي : د سنت نه مراد طریقه ده او هغه معنیٰ ترے نهٔ ده مراد چه د فرضو مقابل ده۔ او مطلب دا چه چا زما طریقه پریښوده او د بل چا طریقه ئې راونیوه نو ددهٔ ما سره هیڅ تعلق نشته۔

[صحیح بخاری مع الفتح : ٩/ ١٠٤]

٢ - سنت هر هغه شيء ته وائي چه د نبی اکرم ﷺ نه راغلے وی۔ او د فقهاؤ په عرف کښې هغه شيء ته وائي چه د واجب نه علاوه وی۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د بریرے رضي الله عنها په دے حدیث کښې ئې احکامو ته سنن ویلی اګرکه په دے کښے ځینے واجب دي۔ او د واجبو نه علاوه ته سنت ویل نوے اصطلاح ده۔

[فتح الباری : ٩/ ٤١٦]

٣ - د عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷺ د هغه حدیث په باره کښې چه د سَلَم په حقله راغلے ابن حجرؒ فرمائي : (د ابن ابی اوفیٰ په حدیث کښې دا مسئله ده چه د اهلِ ذمه سره لین دین کول او دوئ سره ورکړه راکړه کول جائز دي، دارنګه ددے نه معلومه شوه چه دوه جګړه کونکی به سنت ته رجوع کوی، دارنګه په دے کښے د نبی ﷺ په یو شيء باندے خاموشي اختیارول دلیل ګرځول شوی، دارنګه ددے نه معلومه شوه چه کله په یو سنت سره یو حکم ثابت شو نو دا به مستقل حکم وی، که ددے اصل نه چرته بل اصل خلاف راشي نو دے اول اصل ته هیڅ ضرر نهٔ ورکوی۔ [الفتح : ٤/ ٤٣٢]

٤ – د اسلم العدويّ په حديث کښې دي چه: عمر بن خطاب ﷺ حجرِ اسود ته خطاب وکړو: قسَم په الله! ماته ښه معلومه ده چه ته يو کاڼړے يے نهٔ نفع ورکولے شے نهٔ ضرر، که چرے ما رسول الله ﷺ ستا په ښکلولو نهٔ وے ليدلے نو مابه ته نهٔ وے ښکل کړے. بيائے ښکل کړو او وے فرمايل: مونږ (په دے طواف کښې) پهلواني ولے کوو؟ په دے سره خو مونږ مشرکانو ته د خپل ځانونو طاقت ښودلو او اوس خو الله هغوئ تباه کړی دی. بيا ئے وفرمايل: اصل خبره داده چه دا يو داسے شے دے چه نبي ﷺ کړے او مونږ نهٔ غواړو چه دا پريدو.

[صحيح بخاري مع الفتح]

او د ابن عمر رضي الله عنهما حديث دے: (د کوم وخت راسے چه ما ددے دواړو کوټونو (حجرِ اسود او رکنِ يماني) په ښکلولو باندے نبي ﷺ ليدلے دے نو ددے ښکلول ما په هيڅ وخت کښې نهٔ دي پريښي، نهٔ په سختئ کښې او نهٔ په نرمئ کښې).

ددے دواړو حديثونو په تشريح کښې حافظ ابن حجرؒ فرمائي: عمر ﷺ اراده کړے وه چه په طواف کښې رَمل پريدي ځکه هغهٔ ته ددے سبب معلوم وو چه اوس هغه ختم شوے نو د سبب د ختميدو په وجه ئے ددے د پريښودو اراده وکړه. خو بيا ئے ددے ارادے نه رجوع وکړه ځکه کيدے شي چه ددے بل داسے حکمت وي چه په هغے باندے هغه خبر شوے نهٔ وي نو ځکه هغهٔ ته دا ښکاره شوه چه د حکمت په ځائے د نبي ﷺ اتباع ډيره بهتره ده. بله دا چه: ددے کونکے چه کله دا کوي نو هغه سبب به ورته ياديږي د کوم په وجه چه دا کار شوے وو نو د اسلام او مسلمانانو د عزتمن کيدو نعمت به ورته ياديږي.

[صحيح بخاري مع الفتح: ۳/ ٤٧١]

٥ – سعيد بن سيارؒ وائي: زهٔ د عبد الله بن عمر – رضي الله عنهما – سره د مکے په لاره روان ووم. او کله چه ما سره د صبا راختو انديښنه پيدا شوه نو زهٔ کوز شوم او وتر مے وکړل او بيا هغهٔ سره پيوسته شوم. نو ماته عبد الله بن عمر وويل: چرته وے؟ ما ويل: د صبا راختو انديښنه راسره پيدا شوه نو زهٔ د سورلئ نه کوز شوم او وتر مے وکړل. نو ابن عمر راته وفرمايل: د رسول الله ﷺ اقتداء دے خوښه نهٔ ده؟ ما ويلے: ولے نه قسَم په الله! وے فرمايل: رسول الله ﷺ خو به د سورلئ دپاسه وتر کول.

[صحيح بخاري مع الفتح: ۲/ ٤٨٨]

٦ – امام بخاريؒ د اسماعيل بن اميهٔ نه روايت کوي دا وائي: ما زهريؒ ته وويل: عطاءؒ خو وائي چه د طواف د دوه رکعتونو نه فرض مونځ کافي کيږي. نو هغهٔ وفرمايل: په سنت باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل کول بهتر دی، ځکه نبي ﷺ هيڅ کله اووه گردشه طواف نۀ دے کړے مگر د هغے نه پس ئے دوه رکعته کړی دی۔

دارنگه امام بخاريؒ د عمرو بن دينارؒ نه روايت کوی، دا وائی: مونږ د ابن عمر – رضی الله عنهما – نه پوښتنه وکړه: آيا په عمره کښے سړے د صفا او مروۀ ترمينځه د سعی کولو نه وړاندے خپلے ښځے سره کوروالے کولے شی؟ هغۀ وفرمايل: رسول الله ﷺ چه (مکے ته) راغے نو د بيت الله نه ئے اووه چکره طواف وکړو، بيا ئے د مقامِ ابراهيم شاته دوه رکعته وکړل او د صفا او مروۀ ترمينځه ئے سعی وکړه، او وے فرمايل: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [احزاب:۲۱] (بيشکه ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ په ذات کښے بهترينه نمونه پرته ده)۔

[صحيح بخاری مع الفتح: ۳/ ٤٨٤]

۷ – حفص بن عاصمؒ وائی: ابن عمر – رضی الله عنهما – سفر وکړو او وے فرمايل: زۀ د نبي ﷺ سره ملگرے شوے يم نو هغه ما په سفر کښے (د فرضو نه روستو او مخکښے) سنتو باندے نۀ دے ليدلے۔ او الله عز وجل فرمائی: (لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ) [احزاب:۲۱]

[صحيح بخاری مع الفتح: ۲/ ٥٧٧]

۸ – عبد الله بن عباس ﷺ د معاويه ﷺ سره شريك طواف کولو، نو معاويه به د بيت الله شريف ټول گوټونه ښکلول او ويل به ئے: په بيت الله کښے هيڅ يو شے پريښودل شوے نۀ دے۔ نو ابن عباس ورته وفرمايل: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [احزاب:۲۱] نو هغۀ وويل: رشتيا دے وويل۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: ځينے اهلِ علمو ويلی دی: د حجرِ اسود او رکن يمانی ښکلول په سنت کښے راغلی، او د نورو گوټونو ښکلولو دليل قياس دے۔

او چا چه دا ويلی دی چه (د بيت الله نه هيڅ يو شے پريښودل شوے نۀ دے) ددے جواب امام شافعيؒ داسے ورکړے چه مونږ ددے دوارو گوټونو پريښودل په دے وجه نۀ دی اختيار کړی چه گنے بيت الله شريف پريدو، دا څنگه پريښودلے شی حالانکه دے خو د هغے نه طواف کوی۔ خو ليکن مونږ په کولو او پريښودلو دواړو کښے د سنت تابعداری کوو۔ که چرے دا دواړه گوټونه نۀ ښکلول ددے پريښودل حساب شی نو بيا خو ددے دوارو گوټونو ترمينځه برخه هم پريښودل لازميږی، حالانکه ددے قائل نشته۔

[فتح الباری: ۳/ ٤٧٤]

۹ – امام دارميؒ په خپل سنن کښے په خپل سند سره د عمرو بن يحيىؒ نه روايت کوی، دا وائی

: زما پلار حدیث بیانوی چه : مونږ به د سهار مانځه نه مخکښې د عبد الله بن مسعود ﷛ په دروازه کیناستو او کله به چه هغه راووتهٔ نو هغهٔ سره به مونږ جومات ته روان شو۔ دے کښې ابو موسیٰ اشعری ﷛ راغے او ویے فرمایل : ابو عبد الرحمن خو لا تاسو ته راوتے نهٔ دے ؟ مونږ ویل : نه۔ نو هغه هم مونږ سره کیناستهٔ کله چه ابن مسعود راووتهٔ نو مونږ هغهٔ ته تول ورپاسیدو۔ نو ابو موسیٰ اشعری ورته وویل : ابو عبد الرحمن ! لږ مخکښې ما په جومات کښې یو داسے کار ولیدهٔ چه ناشنا مے وګنړلو او الحمد لله مابه خیر لیدلے وی۔ ابن مسعود وفرمایل : هغه کوم شے دے ؟ ویلے : که ژوندے وے نو تهٔ به ئے هم وویني۔ هغه دا چه ما په جومات کښې څهٔ خلك ولیدل چه د حلقو په شکل د مانځه په انتظار ناست دی، په هره حلقه کښې یو سړے دے او په لاسونو کښې ئے ګیټې دی او وائی : سل ځله الله اکبر ووایئ نو هغه خلك سل ځله الله اکبر ووائی۔ بیا وائی : سل ځله لا اله الا الله ووایئ نو هغوئ سل ځله لا اله الا الله ووائی۔ او وائی : سل ځله سبحان الله ووایئ نو هغوئ سل ځله سبحان الله ووائی۔ ابن مسعود ﷛ ابو موسیٰ ﷛ ته وفرمایل : تا هغوئ ته څهٔ وویل ؟ هغهٔ ویلے : ما هغوئ ته هیڅ ونهٔ ویل ستا د رائے ستا د حکم انتظار مے کولو۔ ابن مسعود ﷛ وفرمایل : آیا تا هغوئ ته دا امر نهٔ کولو چه خپل ګناهونه شماری او زهٔ هغوئ له دا ضمانت ورکوم چه د هغوئ د نیکیو نه به هیڅ یوه نیکی نهٔ ضائع کیږی۔ بیا لاړ او مونږ هم ورسره لاړو تردے چه په دغه حلقو کښې یوے حلقے ته راغے او په سر ورته ودریدهٔ او ویے فرمایل : دا تاسو څهٔ کار کوئ ؟ هغوئ ویل : اے ابو عبد الرحمن ! دا کانړی ذی په دے باندے مونږ تکبیر، تهلیل او تسبیح وایو۔ ورته ئے وفرمایل : بلکه تاسو خپل ګناهونه وشماریئ زهٔ تاسو له ذمه واری درکوم چه ستاسو د نیکیو نه به هیڅ یوه نیکی نهٔ ضائع کیږی۔ تعجب دے په تاسو باندے اے د محمد ﷺ امته ! څومره زر تاسو تباه شوئ۔ ستاسو د نبی ﷺ صحابه خو لا پوره موجود دی، او د نبی ﷺ جامے (کپړے) هم نهٔ دی زړے شوی، د هغهٔ لوښی لا نهٔ دی مات شوی۔ قسم په الله ! (ستاسو په ګمان) تاسو په داسے دین باندے روان شوئ چه هغه د محمد (ﷺ) د دین نه زیات هدایت والا دے۔ آیا تاسو د ګمراهئ دروازه خلاصوئ ؟

هغوئ ویل : ابو عبد الرحمن ! قسم په الله مونږ خو صرف د خیر اراده لرو۔ ورته ئے وفرمایل : ډیر د خیر اراده لرونکی خیر ته نهٔ رسیږی۔ رسول الله ﷺ خو مونږ ته حدیث بیان کړے چه څهٔ خلك به قرآن لولی او د مرئ نه به ئے ښکته نهٔ تیریږی۔ او قسم په الله ! زهٔ نه یم پوهه کیدے شی چه د دغه خلکو زیاتره خلك په تاسو کښې وی !

بیا ابن مسعود ﷛ د دغه خلکو نه روان شو۔ عمرو بن سلمهٔ وائی : چاچه دغه حلقے جوړے

Maktaba Tul Ishaat.com

کړې وې په دوئ کښې عام خلك مونږ وليدل چه د نهروان په ورځ د خوارجو په ملګرتيا کښې زمونږ په مقابله کښې جنګيدل.

[سنن الدارمی : ۱/ ٦۱ ، حدیث : ۲۱۰ ، سلسلة الاحاديث الصحيحة : ۲۰۰۵]

۱۰ - عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : [اِتَّبِعُوْا وَلَا تَبْتَدِعُوْا فَقَدْ كُفِيْتُمْ]

(تاسو اتباع کوئ او په دين کښې د ځانه بدعات مۀ جوړوئ ځکه تاسو نه مخکښې دين پوره شوې دې). [سنن الدارمی : ٦۱ ، ۲۱۱]

۱۱ - عمرو بن ميمونؒ وائی : ماته عبد الله بن مسعود ﷺ وفرمايل : تاته پته شته چه ((الجماعة)) چاته وائی ؟ ما ويل نه. وې فرمايل : زياتره خلکو جماعت پرېښې دې. جماعت ديته وائی چه د حق موافق وی اګرکه تۀ يواځې ئې.

[اعلام الموقعين : ۳/ ٤۰۹]

۱۲ - عبد الله بن مغفل ﷺ يو سړې وليدۀ چه تيکرکی ئې ويشتل نو ورته ئې وفرمايل : کانړی مۀ وله ځکه رسول الله ﷺ د کانړو ويشتو نه منع فرمايلې. يا ئې ورته داسې وفرمايل چه کانړی ويشتل به ئې بدې ګڼړل او فرمائی : (دې سره نۀ ښکار وژل کيږی، نۀ ورسره دشمن زخمی کيږی البته غاښ ماتولې او سترګه وباسلې شی) عبد الله بن مغفل وليدل چه هغه سړې ددې نه پس بيا هم کانړی ولی. نو هغۀ ته ئې وفرمايل : زۀ تاته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم چه هغوئ د ګيټو ويشتلو نه منع کړې، يائې ګيټې ويشتل بد ګڼړلی. قسَم په الله ! زۀ به تاسره دومره مودې پورې خبرې نۀ کوم.

[صحيح بخاری مع الفتح : ۹/ ٦۰۷]

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : حديث نه معلومه شوه چه څوك سنت پريدی هغۀ سره ورانول او خبرې بندول جائز دی، او دا په هغه حديث کښې نۀ داخليږی چه په هغې کښې د يو مسلمان سرۀ د درې ورځو نه زيات خبرې پرېښودو نه منع راغلې، ځکه د هغې مطلب دا چه خبرې ورسره د خپل حق د وجې پريدی. [فتح البارى : ۹/ ٦۰۷]

۱۳ - د عبد الله بن عمر ﷺ په حديث کښې دی، نبی ﷺ فرمائی : کله چه تاسو نه ستاسو ښځې د شپې جومات ته د تلو اجازه وغواړی نو اجازه ورته وکړئ.

د مسلم په روايت کښې دی : نو ابن عمر ﷺ ته ځوئې وويل : قسَم په الله ! مونږ به دوئ خامخا منع کوو. نو ابن عمر ﷺ خپل ځوئې ته سخت په قهر شو.

حافظ ابن حجرؒ ددې په تشريح کښې فرمائی : ابن عمر چه خپل ځوئې ته قهر شو، ددې نه

معلومه شوه چه څوك په خپلې رائے سره په سنت باندے او په خپل خواهش سره په عالِم باندے اعتراض کوی نو هغهٔ له ادب ورکول پکار دی۔ دارنگه خپل غټ بچی له هم ادب ورکول پکار دی هر کله چه هغه نامناسبه خبره وکړی۔ دارنگه ددے نه معلومه شوه چه د تعلق پرېښودو په ذریعه ادب ورکول جائز دی، څکه په مسند احمد کښې د مجاهدؒ په روایت کښې دی : (ابن عمر د خپل دغه څوئے سره تر مرگه خبرے ونهٔ کړے) که چرے دا روایت محفوظ وی نو کیدے شی چه په دے پلار او څوئے کښې یو کس ددے واقعے نه پس نزدے مړ شوے دے۔

[فتح الباری : ٢/ ٣٤٩]

١٤ – د معقل بن یسار ﷺ خور د یو سړی په نکاح کښې وه نو هغهٔ ورله طلاق ورکړو او بیا ئے د عدت تیریدو پورے پرېښوده، بیائے ورته پیغام راولیږهٔ۔ نو معقل بن یسار ددے کار نه په غیرت کښې راغے او وے ویل : سره د قدرت نه هغهٔ دغه خپله ښځه پرېښې ده او اوس بیا ورته پیغام رالیږی ؟ دے وجے نه معقل بن یسار ددے او د هغهٔ ترمینځه رکاوټ واقع شو۔ نو الله تعالیٰ دا آیتِ کریمه نازل کړو : ﴿ وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَّنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ ﴾ [البقرة : ٢٣٢] إلى آخر الآية ، (او کله چه تاسو ښځے طلاقے کړئ او هغوئ خپلې نیتے ته ورسیږی نو بیا تاسو هغوئ خپلو خاوندانو سره د نکاح کولو نه مهٔ بندوئ)۔

نو رسول الله ﷺ معقل بن یسار راوغوښتهٔ او دا آیتِ کریمه ئے ورته ولوستهٔ، نو هغهٔ خپل دغه ضد پرېښودهٔ او د الله حکم ته تابع شو۔

[صحیح بخاری مع الفتح : ٩/ ٤٨٢]

١٥ – ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : (نزدے ده چه په تاسو باندے د کاڼړو باران وشی، زهٔ درته وایم : رسول الله ﷺ داسے ویلی دی او تاسو وایئ : ابو بکر او عمر داسے وائی)۔

دا خبره ئے د هغه چا په جواب کښې وکړه چه هغوئ وویل : د ابو بکر او عمر – رضی الله عنهما – رائے د حجِ افراد وه او د ابن عباس رضی الله عنهما رائے د حجِ تمتع د وجوب وه۔

[مسند أحمد : ١/ ٣٣٧، زاد المعاد : ١/ ١٩٥ ، ٢٠٦ ، کتاب التوحید مع شرحه فتح المجید ٣٧٥]

١٦ – سالم بن عبد الله بن عمر وائی : عبد الملك بن مروان، حجاج ته ولیکل چه په حج کښې د ابن عمر ﷺ نه خلاف ونهٔ کړی۔ نو کله چه د عرفے ورځ شوه او نمر زائله شو، ابن عمر ﷺ راغے او زهٔ ورسره ووم او د حجاج د خیمے خواته ئے چغه کړه، حجاج ورته په داسے حال کښې ور ووتهٔ چه زیړ څادر ئے اچولے وو، ورته ئے وویل : ابو عبد الرحمن ! ولے ؟ ابن عمر ﷺ ورته وفرمایل : که چرے تهٔ د سنت اراده لرے نو کوچ کوه، خطبه لنډه کړه او په وقوف کښې تادی وکړه، نو حجاج ابن

Maktaba Tul Ishaat.com

عمر ته کتلي او کله چه ابن عمر دا وليدهٔ نو وے فرمايل : دے رشتيا وائي۔
[صحيح بخاري مع الفتح : ۳/ ٥۱۱]

او امام بخاريؒ تعليقًا د سالم نه روايت کوي چه کله حجاج بن يوسف په عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما باندے پړاؤ واچاوهٔ نو د عبد الله ئے پوښتنه وکړه چه مونږ به د عرفے په ورځ په وقوف کښے څنګه چل کوو؟ سالم وفرمايل : که چرے تهٔ سنت طريقه غواړے نو د عرفے په ورځ مونځ وختي وکړه۔ عبد الله بن عمر وفرمايل : دے رشتيا وائي، ځکه صحابو به په سنت کښے د ماسپخين او مازيګر مونځونه يوځائے کول۔ زهريؒ وائي : ما سالم ته ووئيل : آيا رسول الله ﷺ دا کار کړے؟ سالم وفرمايل : صحابه به په دے باره کښے صرف د نبي ﷺ سنت پسے روان وو۔
[صحيح بخاري مع الفتح : ۳/ ٥۱۳]

۱۷ - د ابو سعيد خدري ﷺ په حديث کښے دي چه (نبي ﷺ به د لوئے او غټ اختر په ورځ عيدګاه ته وتلو نو اولنے شے چه دوئ به پرے شروع کوله، دا به مونځ وو)۔

ابو سعيد وائي : د خلکو همدا طريقه وه تردے چه يو ځل زهٔ په واړهٔ يا غټ اختر کښے د مروان سره چه د مدينے امير وو، ووتم او کله چه مونږ عيدګاه ته راغلو نو څهٔ ګورو چه کثير بن الصلت منبر جوړ کړے۔ مروان اراده وکړه چه د مانځه نه مخکښے منبر ته وخيژي نو ما د هغهٔ جامه راښکله نو هغهٔ مانه بيرته راښکله او د منبر دپاسه کيناستهٔ او د مانځه نه مخکښے ئے خطبه ووئيله۔ ما ورته ووئيل : قسَم په الله! تاسو خو هر څهٔ بدل کړل۔ هغهٔ ووئيل : ابو سعيده! کومے خبرے چه تاته يادے دي د هغے وخت وس ختم شوے۔ نو ما ووئيل : قسَم په الله! کومے خبرے چه زهٔ پيژنم هغه د هغه خبرو نه غوره دي چه زهٔ ئے نهٔ پيژنم، مروان ووئيل : ما د مانځه نه مخکښے دا خطبه ځکه ووئيله چه د مانځه نه پس بيا مونږ ته څوك نهٔ کيني۔

حافظ ابن حجرؒ ددے حديث په شرح کښے فرمائي : دے حديث نه معلومه شوه چه کله اميران او بادشاهان خلك د سنت خلاف کار وکړي نو علماؤ له پکار دي چه په دوئ رد وکړي۔ دارنګه معلومه شوه چه کله د دغه عالم سره حاکم په دغه اولیٰ عمل باندے موافقت ونهٔ کړي نو عالم لپاره په خلافِ اولیٰ باندے عمل کول جائز دي، ځکه چه ابو سعيد خدري رضي الله عنه خطبے ته حاضر شو او واپس نشو۔ نو دا په دے خبره دلالت کوي چه په مونځ باندے شروع کول د خطبے د صحيح والي لپاره شرط نهٔ دي۔
[صحيح بخاري مع الفتح : ۲/ ٤٤۹]

۱۸ - امام بخاريؒ په خپل صحيح کښے د هزيل بن شرحبيلؒ نه روايت کوي چه : ابو موسی

اشعري ﷺ نه د لور، د وریرې او د خور د میراث په باره کښې پوښتنه وشوه. نو هغهٔ وفرمایل: لور لپاره نیمائی او د خور لپاره نیمائی ده (او وریره محرومه ده) او ابن مسعود ﷺ ته ورشه هغه به هم زما پیروی کوی.

سائل ابن مسعود ته ورغې او د ابو موسیٰ اشعری په خبره ئې خبر کړو، نو هغه وویل: که ما د هغهٔ پیروی وکړه نو زهٔ به په دې وخت کښې گمراه یم او د هدایت والو نه به نهٔ یم. زهٔ خو به په دې مسئله کښې هغه فیصله کوم، کومه چه نبی ﷺ کړې، هغه دا چه: د لور لپاره نیمائی او د وریرې لپاره شپږمه ده چه په دې سره به ثلثین پوره شي. او څهٔ چه پاتې شي هغه د خور رسیږی. سائل وائی: مونږ ابو موسی ته راغلو او هغهٔ ته مو د ابن مسعود خبره وکړه. نو هغهٔ وفرمایل: هر کله چه په تاسو کښې دا ښائسته عالم موجود دې نو بیا تاسو مانه پوښتنه مکوئ.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: د ابن مسعود ﷺ دا وینا چه (زهٔ به خامخا په دغه وخت کښې گمراه یم) دا خبره دویٔ د ابو موسی اشعری ﷺ ددې خبرې په جواب کښې کړې وه چه هغه به ددهٔ پیروی کوی، او ابن مسعود اشاره وکړه چه که دې د ابو موسیٰ پیروی کوی نو د صریح سنت خلاف راځی کوم چه ددهٔ سره دې. او که ددهٔ ددې سنت نه قصدًا خلاف وکړو نو گمراه کیږی.

دارنگه فرمائی: ابن بطالؒ فرمائی: ددې حدیث نه معلومه شوه چه کله جګړه اختلاف راشی نو فیصله به د نبی ﷺ په سنت کیږی، هغه به دلیل وی او هغې ته به رجوع کول واجب وی.

[صحیح بخاری مع الفتح: ۱۲/ ۱۷]

۱۹ – امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې د ابو سلمهٔ نه روایت کوی دا فرمائی: ما ابو هریره ولیدهٔ چه: ﴿إِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ﴾ [انشقاق:۱] سورت ئې ولوستهٔ او په دې کښې ئې سجده وکړه. ابو سلمهٔ وائی: ما عرض وکړو: اې ابو هریره! ما تهٔ په سجده ونهٔ لیدې؟ هغهٔ وفرمایل: که چرې ما نبی ﷺ په سجده کولو نهٔ وې لیدلې نو مابه هم نهٔ وې کړې.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: د ابو سلمهٔ دا خبره چه (آیا تهٔ ما په سجده کولو ونهٔ لیدلې؟) دا د ابو سلمهٔ له خوا استفهام انکاری دې چه د خلکو عمل خو ددې په خلاف را روان دې ..... ابن عبد البرؒ فرمائی: د نبی اکرم ﷺ او د هغهٔ نه پس د خلفاء راشدینو د عمل سره د بل چا د عمل څهٔ دعویٰ پکار ده؟

[صحیح بخاری مع الفتح: ۲/ ٥٥٦]

۲۰ – د ابو سعید خدری ﷺ حدیث: مونږ به د نبی ﷺ په زمانه کښې په سرسایه کښې د

Maktaba Tul Ishaat.com

خوراك نه يو صاع، يا د كهجورو نه يو صاع يا د وريشو نه يو صاع يا د وچكو (كشمش) نه يو صاع وركولو. او كله چه د معاويه ﷺ دور راغے او غنم راغلل نو معاويه ﷺ وويل: زما په فكر ددے نه يو مد ددے بل د دوو مدو سره برابريږى.

د مسلم په روايت كښے دى: ابو سعيد (د معاويه ﷺ دغه پورتنئ خبره) بده وګڼړله او وے فرمايل: زۀ به خامخا هغه صاع وركوم، چه هغه به ما د رسول الله ﷺ په زمانه كښے وركولو.

حافظ ابن حجرؒ ددے په تشريح كښے فرمائى: په دے حديث كښے د ابو سعيد خدرى ﷺ سخته اتباع او د حديث مضبوط نيول ذكر دى، او دا چه كله نص موجود وى نو اجتهاد ته به تلل نۀ كيږى. او معاويه ﷺ چه څۀ وكړل او خلكو د هغۀ موافقت وكړو، نو په دے كښے د اجتهاد د جواز دليل دے، دا ښۀ كار دے خو چه نص موجود وى نو بيا دے له هيڅ اعتبا نشته.

[فتح البارى: ۳/ ۳۷٤]

۲۱ - امام دارمىؒ په خپل سند سره د امام شعبىؒ نه روايت كوى، دا وائى: زۀ حاضر ووم چه قاضى شريحؒ ته د مراد قبيلے يو سړے راغے او عرض ئے وكړو: اے ابو اميه! د ګوتو ديت څومره دے؟ هغۀ وفرمايل: لس لس اوښان. هغه سړى وويل: سبحان الله! آيا دا دواړه ګوتے سره برابرے دى - غټے او كچے ګوتے ته ئے اشاره وكړه - ؟ نو شريحؒ وفرمايل: سبحان الله! آيا ستا غوږ او لاس سره برابر دى؟ څكه غوږونه خو ويښتو او پټكى پټ كړى وى او په دے كښے نيمائى ديت دے. او په لاس كښے هم نيمائى ديت دے. تعجب دے په تا باندے! سنت ستاسو د قياسونو نه وړاندے راغلے، دے وجے نه تۀ د سنت پيروى كوه، بدعتى كيږه مۀ، څكه تر څو چه تۀ په حديث روان ئے نو هيڅ كله به ګمراه نشے.

ابو بكر هذلىؒ وائى: ماته شعبىؒ وويل: كه چرے ستاسو احنف او دا ماشوم په څانګو كښے قتل كړے شى نو آيا ددے دواړو ديت به برابر وى؟ ما ويل: هو! وے فرمايل: بيا نو ستاسو قياس څۀ شو؟

[سنن الدارمى: ۱/ ٥۹، حديث: ۲۰٤، فتح البارى: ۱۲/ ۲۲٦]

۲۲ - حافظ ابن حجرؒ د ابن عمر - رضى الله عنهما - نه نقل كړى دى چه دوئ د احرام تړلو په وخت خوشبوئے لږول بدے ګڼړلى. دارنګه د عمر ﷺ نه ئے نقل كړى چه دوئ د احرام نه پس د خوشبوئے پاتے كيدل بدے ګڼړلى، او د عائشے رضى الله عنها ئے نقل كړى چه هغے په دے دواړو باندے رد كړے وو، او فرمائى چه د احرام په وخت كښے خوشبوئے لږول باك نۀ لرى، او په دے باره كښے ئے هغے د رسول الله ﷺ حديث روايت كړے.

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ابن عيينهٔ وائي : مونږ ته عمرو بن دينارؒ خبر راکړو چه سالمؒ د (خپل نيکهٔ) عمر ﷺ وينا چه د خوشبوئے په باره کښے ئے کړے وه، ذکر کړه او بيا ئے د عائشے رضی الله عنها حديث ذکر کړو۔ سالمؒ وائي : د رسول الله ﷺ سنت ددے ډير لائق دے چه د هغے تابعداری وکړے شي۔ [فتح الباری : ٣/ ٣٩٧]

٢٣ – عروه بن الزبيرؒ به فرمائي : [اَلسُّنَنَ السُّنَنَ ! فَإِنَّ السُّنَنَ قِوَامُ الدِّيْنِ]

(تاسو سنت لازم ونيسئ ځکه په سنتونو باندے دين ولاړ دے)۔

[فتح الباری : ١٣/ ٣٠١]

٢٤ – ثابت بنانيؒ فرمائي : انس ﷺ به يو کار کولو چه زهٔ د هغے په کولو باندے تاسو نهٔ وينم۔ ددے نه ددهٔ غرض دادے چه انس ﷺ به د رکوع نه پس اوږد قيام کولو دارنګه د دوه سجدو ترمينځه به ئے اوږده ناسته کوله۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د ثابت بنانيؒ په دے خبره کښے خبردارے دے چه ددهٔ مخاطبينو به د دوه سجدو ترمينځه اوږده ناسته نهٔ کوله۔ خو کله چه سنت ثابت شي نو ددے مخالفينو له هيڅ اعتبار نشته۔ [فتح الباری : ٢/ ٣٠١]

٢٥ – ابو عثمان النسابوريؒ فرمائي : چاچه په قول او عمل کښے په خپل ځان باندے سنت حاکم کړو، نو د حکمت خبرے به کوی۔ او چاچه په قول او عمل کښے په خپل ځان باندے خواهش حاکم کړو، نو د بدعت خبرے به کوی۔

[حلية الأولياء : ١٠/ ٢٤٤، الكلام على مسألة السماع لابن القيم، ص : ٢٧٨]

٢٦ – سهل بن عبد الله بن تستريؒ فرمائي : څوك چه په علم کښے څهٔ خبره پيدا کړی نو د قيامت په ورځ به خامخا ددهٔ نه پوښتنه کيږی، که چرے دا د سنت موافق وه، نو بچ به پاتے شي، ګنے نهٔ۔ [فتح الباری : ١٣/ ٢٩٠]

٢٧ – امام بخاريؒ په خپل صحيح کښے فرمائي : ابو الزنادؒ فرمائي : سنتونه او د حقے لارے زياتره د رائے په خلاف راځي چه مسلمانانو لپاره د هغے د اتباع نه خلاصے نشته۔ يو مثال ئے دادے چه حائضه ښځه به د روژو قضائي راوړی او د مانځه قضائي پرے نشته۔

حافظ ابن حجرؒ ددے په شرح کښے فرمائي : د ابو الزنادؒ دا خبره چه (زياتره سنتونه د رائے خلاف راځي) ګويا دے په دے خبره کښے د علي ﷺ دے وينا ته اشاره کوی چه : (که د دين بنياد په رائے باندے ولاړ وے نو بيا خو به د موزے لاندينے طرف د بره طرف نه زيات لائق وے)۔ چه دا حديث ابوداود او دارقطني روايت کړے او ددے راويان ثقات دی۔ او ددے مثالونه په شريعت کښے ډير زيات دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[صحیح بخاری مع الفتح : ٤/ ۱۹۱]

۲۸ – امام ترمذیؒ د یوسف بن عیسیؒ نه روایت کوی چه دهٔ وفرمایل : ما د وکیعؒ نه واوریدل چه هر کله ئے د هدایاؤ په اشعار کښې د ابن عباس ﷺ حدیث نقل کړو، نو فرمائی : په دے باره کښې د اهل الرأی (احنافو) خبرے ته مهٔ ګورئ ځکه چه اِشعار سُنت دے، او د اهل الرأی خبره بدعت دے۔

دارنګه په سنن ترمذیؒ کښې دا هم دی چه : ابو السائبؒ وائی : مونږ د وکیعؒ سره ناست وو نو هغهٔ وفرمایل : چه رسول الله ﷺ اِشعار کړے دے (مِنیٰ ته تلونکی ځناورئے په مُلا کښې معمولی شان زخمی کړی دی) نو د هغهٔ سره یو سړے ناست وو چه رائے او قیاسونو والا وو، هغهٔ وویل : ابو حنیفةؒ وائی : دا مُثله ده (یعنی شکل خرابول دی) او د ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی چه هغهٔ وائی: دا مُثله ده۔ راوی وائی : ما وکیعؒ ولیدهٔ چه سخت غصه شو او وے فرمایل : زهٔ تاته وایم چه رسول الله ﷺ وائی او تهٔ وائے ابراهیم نخعی داسے وائی۔ تهٔ ددے ډیر لائق ئے چه تر هغه وخته پورے جیل ته واچولے شے ترڅو پورے چه دے توبه کړی نهٔ وی۔

[رواه الترمذی کتاب الحج : ۱/ ۱۸۱ ، ۳/ ۲٤۱]

۲۹ – د حکم منزل چه واجب الاتباع دے، او د حکم مؤول چه زیات نه زیات جائز الاتباع دے، ددے دواړو ترمینځه فرق دادے : چه منزل حکم هغه دے چه الله په خپل رسول (ﷺ) باندے نازل کړے وی او په هغے سره ئے د خپلو بندګانو ترمینځه فیصله کړے وی، او دا د هغهٔ هغه حکم دے چه ددے نه سیوا ئے بل حکم نشته۔

او هر چه مؤول حکم دے : نو دا مجتهدینو هغه مختلف اقوال دی چه ددے اتباع واجب نهٔ ده او څوک چه ددے خلاف وکړی هغه نهٔ کافر دے او نهٔ فاسِق۔ ځکه ددے اقوالو صاحبانو دا نهٔ دی ویلی چه دا د الله او د هغهٔ د رسول حکم دے، بلکه دائے ویلی دی چه : دا مونږ په خپل اجتهاد سره وینا کړے که د چا خوښه وی قبول دے ئے کړی اوکه د چا خوښه شی نو نهٔ دے ئے قبلوی۔ هغویٔ دا په امت باندے نهٔ دی لازم کړی۔ بلکه امام ابو حنیفةؒ به فرمایل : دا زما رائے ده، که چا مونږ ته ددے نه غوره راوړه مونږ به ئے قبوله کړو۔ اوکه چرے دا د الله عین حکم وے نو بیا خو د ابو یوسفؒ او محمدؒ وغیره لپاره ددے مخالفت جائز نهٔ وو۔

دارنګه امام مالکؒ سره هارون الرشیدؒ مشوره وکړه چه په خلکو باندے د موطأ مسائل لازمے کړی، نو امام مالکؒ ددے نه منع کړو۔ او وے فرمایل : د رسول الله ﷺ صحابه بیلا بیلو ښارونو ته تلـ ، دی او د هر یو قوم سره داسے علم دے کوم چه د نورو سره نشته۔

دغه شان امام شافعیؒ خپل ملګری د خپل تقلید نه منع کوی او دوئ ته وصیت کوی چه کله ددهٔ خبره د حدیث خلاف راشي نو هغه به پریدی۔

دارنګه امام احمدؒ په هغه چا رد کوی چه هغه د هغهٔ فتوے لیکی او په خلکو کښې ئې خوروی، او فرمائی : مهٔ زما تقلید کوئ او د فلانی فلانی تقلید کوئ، بلکه د هغه ځائے نه اخستل کوئ د کوم ځائے نه چه هغوئ اخستل کړی۔

که چرے دے امامانو ته پته وے چه د دوئ اقوال واجب الاتباع دی نو دوئ به په خپلو ملګرو باندے ددے مخالفت حرام ګرځولے وے، او د دوئ ملګرو لپاره به په هیڅ یوه مسئله کښې جائز نهٔ وے چه د هغوئ د خبرے خلاف فتویٰ ئے ورکړے وے۔ دغه شان په دوئ کښې به یو کس داسے هم نهٔ وے چه هغه نن یوه خبره کوی او بیا ددے په خلاف فتویٰ ورکوی، چه ددهٔ په یوه مسئله کښې دوه قوله او درے قوله او ددے نه زیات قولونه روایت کیږی۔ نو د رائے او اجتهاد بهترین حالت دادے چه ددے پیروی جائز ومنل شي۔ حالانکه د منزل حکم خلاف کول د هیڅ یو مسلمان لپاره جائز نهٔ دی او نهٔ ددے نه وتلے شي۔ او هر چه مبدل حکم دے یعنی د الله د نازل کړی حکم نه سیوا په بل څهٔ باندے فیصله کول، نو ددے نافذول او په دے باندے عمل کول حلال نهٔ دی او نهٔ ددے پیروی کول جائز دی، او ددے خاوند د کفر، فسق او ظلم ترمینځه پروت دے۔

[کتاب الروح لابن القیم، ص : ۳۹۹]

۳۰ – ابن قیمؒ فرمائی : د رسولِ معصوم ﷺ د بریندے تابعداریٔ او د علماؤ د اقوالو غورزولو او لغوه کولو ترمینځه فرق دادے چه : بریندہ تابعداری داده چه تهٔ د رسول الله ﷺ په راوړی دین باندے د هیچا رائے او وینا وړاندے نهٔ کړے که هغه هر څوك وی، بلکه تهٔ اول د حدیث صحت ته وګورے او کله چه درته صحیح ثابت شي نو بیا په دویم ځل د هغے معنیٰ ته وګورے او کله چه درته دا واضحه شي نو بیا تهٔ ددے نه اعراض ونهٔ کړے۔ دے سره به تهٔ د علماؤ د مرتبو لحاظ ساتے، دوئ سره به مینه محبت لرے، د دوئ د عزت او امانت او د دین په ضبط او حفاظت کښې به د دوئ اعتقاد لرے۔ ولے چه دوئ د یو او دوه اجرونو او مغفرت ترمینځه روان دی، خو ددے دا مطلب نهٔ دے چه تهٔ به قرآن او حدیث بیکاره کوے او په دے باندے به په دغه امامانو کښې د یو امام خبره وړاندے کوے، په دے شبه باندے چه هغه په دے تانه ښهٔ پو هیږی۔ ولے که داسے شي نو بیا چا سره چه نص دے هغه په دے باندے تانه ښهٔ پو هیږی نو بیا تهٔ ددهٔ موافقت ولے نهٔ کوے که رشتینے ئے۔

نو څوك چه د علماؤ خبرے په نصوصو باندے پیش کړی او په هغے باندے ئے وتلی، او په دے

Maktaba Tul Ishaat.com

خبرو کښې چه کومې خبرې د نص خلاف وی د هغې خلاف وکړی نو دهٔ د هغوئ اقوال نهٔ دی غورزولی او نهٔ ئې د هغوئ حق وهلې، بلکه د هغوئ تابعداری ئې وکړه۔ ولې چه هغوئ تولو ددې خبرې حکم کړې۔ نو څوك چه په دې خبره کښې د دوئ پيروی کوی نو دا د هغوئ وصيت منونکې دې، او څوك چه د هغوئ ددې وصيت خلاف کوی نو هغوئ هيڅ کله د هغوئ پيروی کونکی نهٔ دی۔ ځکه هغوئ دا قاعده کليه ويلې ده چه که زمونږ خبره د نص خلاف راشی نو هغه وارتوئ، نو د حديث په خلاف جزئيه کښې د هغوئ وينا ارتول ډير آسان دی په نسبت سره کليئې ارتولو ته۔ ځکه چه هغوئ ددې کليه حکم کړې او ددې دعوت ئې ورکړې چه تاسو زمونږ په ويناګانو باندې نص له ترجيح ورکوئ۔

ددې ځائې نه ددې دوه خبرو ترمينځه **فرق معلوم** شو: (۱) يو د عالم په تولو خبرو کښې د هغهٔ تقليد کول (۲) دويم: د هغهٔ د فهم په مدد سره او د هغهٔ د علم په رڼړا سره ځان حق ته رسول۔ اولنې کس د هغهٔ وينا په غير د قرآن او سنت د دليل نه اخلی، بلکه ددې نه داسې رسئ جوړوی چه هغه ئې په خپل څټ کښې اچولی وی او ځان ئې پرې د څټ نه تړلې وی، ځکه خو ورته ((تقليد)) هم ويلې شی۔ او هر چه دا دويم کس دې چه د هغهٔ د فهم په مدد سره او د هغهٔ د علم نه د رڼړا حاصلولو په ذريعه خپل ځان رسول الله ﷺ ته رسوی، نو ددهٔ طريقه د اولنی کس نه جدا ده۔ ځکه دا دويم کس د هغوئ خبره ځکه منی چه رسول الله ﷺ ته ئې ورسوی، اوکله چه رسول الله ﷺ ته ورسی (حديث ورته ملاؤ شی) نو بيا په دې لاربنوونې سره د بل چانه بې پرواه شی۔ لکه يو سړې د قبلې معلومولو لپاره د ستوری رهنمائی حاصله کړی نو کله چه قبله معلومه کړی نو بيا ستوری پورې د نښتو هيڅ معنیٰ نشته۔ امام شافعیؒ فرمائی:

[أَجْمَعَ النَّاسُ عَلٰى أَنَّ مَنِ اسْتَبَانَ لَهُ سُنَّةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَدَعَهَا لِقَوْلِ أَحَدٍ]

(د تولو خلکو په دې اجماع او اتفاق دې چه چاته د رسول الله ﷺ سنت ښکاره شو نو ددهٔ لپاره دا جائز نهٔ دی چه د چا د وينا د وجې ئې پريدی)۔

[الروح، ص: ۳۹۵]

۳۱ – امام ابو حنيفهؒ فرمائی: [إِذَا صَحَّ الْحَدِيْثُ فَهُوَ مَذْهَبِیْ]

(کله حديث ثابت شی نو دا به زما مذهب وی)۔

[حاشية ابن عابدين: ۱/ ٦٧]

دارنګه فرمائی: [إِذَا قُلْتُ قَوْلًا يُخَالِفُ كِتَابَ اللّٰهِ وَخَبَرَ الرَّسُوْلِ ﷺ فَاتْرُكُوْا قَوْلِیْ]

(کله چه زهٔ يوه خبره وکړم او د الله کتاب او د رسول الله ﷺ حديث ددې خلاف وی نو بيا زما

خبره پریدئ)۔ [ایقاظ همم أولي الابصار للفلاني، ص: ٦٢]

۳۲ – خطیب بغدادیؒ په خپل سند سره د امام مالكؒ نه نقل کړي چه هغه فرمائي: (رسول الله ﷺ او د هغهٔ نه پس د واك او اختیار والو څهٔ سنتونه مقرر کړي چه په هغې عمل کول د الله د کتاب تصدیق دے او د هغهٔ د طاعت پوره والے دے او د الله په دین باندے مضبوطیا ده، څوك چه په دے عمل کوی هغه په هدایت دے، او څوك چه ددے نه مدد غواړي هغهٔ سره مدد کیږي، او څوك چه ددے خلاف کوی نو هغه د مومنانو د لارے نه سیوا په بله لار روان دے او کوم خوا چه آوړي الله به ئے هغه اخوا واړوی)۔

[شرف أصحاب الحديث للخطيب البغدادي، ص: ۷]

۳۳ – ابن الماجشونؒ وائي: ما د امام مالكؒ نه واوریدل چه فرمایل ئے: چا چه په اسلام کښے یو بدعت (نوے کار) جوړ کړو او دائے ښهٔ ګنړلو نو ددهٔ دا ګمان دے چه محمد (ﷺ) په پیغمبرئ کښے خیانت کړے، ځکه الله فرمائي: ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ [مائده:۳]

(نن ورځ ما تاسو له ستاسو دین پوره کړو)۔.

نو کوم شے چه په هغه زمانه کښے دین نهٔ وو، نو هغه نن هم دین نشي جوړیدے۔

[الاعتصام للشاطبي: ۱/ ۲۸]

۳٤ – ابن کثیرؒ د (صلاة وسطیٰ) په تعیین کښے فرمائي: په سنت کښے ثابت دی چه دا د مازیګر مونځ دے نو همدا معنیٰ اختستل ضروري دی۔ بیا ئے د امام شافعيؒ نه ذکر کړي چه کومه خبره ما کړي وي او د نبي ﷺ نه ددے خلاف ثابت شي نو د نبي ﷺ حدیث ډیر زیات لائق دے او زما خبره مهٔ منئ۔

دارنګه فرمائي: کله چه حدیث صحیح ثابت شي او ما یوه خبره (د هغې خلاف کړے وي) نو زهٔ د خپلے خبرے نه رجوع کونکے یم او په دغه حدیث باندے قائل یم۔

بیا حافظ ابن کثیرؒ فرمائي: دا د هغهٔ سرداري او امانت دے او همدا خبره د هغهٔ نورو امامانو ورونو هم کړے رحمهم الله۔

دا وجه ده، قاضي ماورديؒ دا فیصله کړے چه د امام شافعيؒ مذهب دادے چه صلاة وسطی مازیګر مانځه ته وائي۔ او دهٔ سره په دے طریقه باندے د شافعي مذهب د محدثینو یوے ډلے موافقت کړے۔ ولله الحمد والمنة۔

او ابن کثیرؒ د خپل دغه پورتني قول نه مخکښے ذکر کړي چه څینو خلکو د صلاة وسطیٰ په باره کښے ویلي چه: دا د ټولو مونځونو مجموعه ته وائي: نو ابن کثیرؒ فرمائي: د تعجب خبره

Maktaba Tul Ishaat.com

داده چه دا وينا شيخ ابو عمر بن عبد البر النمري چه د ما وراء النهر امام دے، غوره کړے، حالانکه دا ډير لوئے مصيبت دے، هغۀ، سره ددے چه ډيره اطلاع او حفظ لري هغه خبره ئے غوره کړے چه په هغے باندے نۀ د قرآن نه دليل شته، نۀ د سنت نه او نۀ د اثر نه۔

[تفسير ابن كثير : ۱/ ۲۹٤ ، عند تفسير قوله تعالى : حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطى]

۳۵ – امام شافعيؒ فرمائي : [إِذَا صَحَّ الْحَدِيْثُ فَهُوَ مَذْهَبِىْ] (کله چه حديث صحيح ثابت شي نو هغه به زما مذهب وي) او د هغۀ ځينے ملګري په بعض مسئلو کښے وائي چه په دے مسئله کښے حديث ثابت دے نو دا به د امام شافعيؒ مذهب شميرلے شي۔ لکه په حج کښے د اشتراط حديث شو، امام شافعيؒ ويلي دي چه که دا حديث صحيح شي نو زۀ به ددے قائل يم۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د امام شافعيؒ نه صحيح خبره دا نقل ده چه هغه په دے قائل دے، او همدا خبره امام ترمذيؒ د هغۀ نه نقل کړے او دا يو ځائے دے د هغه ځايونو نه چه امام شافعيؒ خپل قول په صحت د حديث پورے تړلے او ما دا په يو مستقل کتاب کښے راجمع کړي او په دغه حديثونو مے کلام کړے۔

[فتح الباري : ٤/ ۹ ، ۹/ ٦۱۱ ، طبقات الحنابلة : ۲/ ۵۱ ، تفسير ابن كثير : ۱/ ۲۳۱]

۳٦ – علامه ابن خزيمهؒ دوه رکعتونو نه د پاسيدو په وخت د رفع اليدين په باره کښے فرمائي : دا سنت دے اګرکه امام شافعيؒ نۀ دي ذکر کړي، ځکه ددے سند صحيح دے او امام شافعيؒ فرمايلي دي چه تاسو سنت واخلئ او زما خبره پريدئ۔

[فتح الباري : ۲/ ۲۲۲]

۳۷ – امام بيهقيؒ په (كتاب المعرفة) کښے د ربيعؒ نه نقل کړي چه امام شافعيؒ فرمائي : يو حديث روايت شوے چه په هغے کښے دادي چه : ښځے به د دواړو اخترونو مونځونو لپاره پريښودلے شي، نو که چرے دا ثابت وي نو زۀ هم ددے قائل يم۔

امام بيهقيؒ فرمائي : دا حديث ثابت دے او د ام عطيه رضى الله عنها نه بخاري او مسلم نقل کړے، نو په شوافعو باندے ددے قائل کيدل لازم دي۔

[فتح الباري : ۲/ ٤۷۰]

حافظ ابن حجرؒ فرمائي : امام بيهقيؒ د امام شافعيؒ نه نقل کړي چه هغه فرمائي : زۀ حلال سړے منع کوم چه په هيڅ حالت کښے زعفران ونۀ مږي اوکه زعفران ئے مږلي وي نو زۀ ورته حکم کوم چه وے وينځي۔ او زۀ په معصفر (زير رنګ) کښے اجازت ورکوم ځکه ماته څوک معلوم نۀ دے چه د هغۀ نه په دے باره کښے څۀ نقل وي البته علي ﷺ فرمائي : زۀ نبي ﷺ منع

کړے یم او زۀ داسے نۀ وایم چه تاسو ئے منع کړی یئ۔
امام بیهقیؒ فرمائی : دا د علی ﷺ نه علاوه د نورو نه هم نقل دی، بیا ئے د عبد الله بن عمرو حدیث روایت کړے چه هغه وائی : (زۀ نبی ﷺ ولیدم چه دوه معصفر جامے مے اغوستے وے، نو وے فرمایل : دا د کافرانو جامے دی نو دا مۀ آغونده)۔ [مسلم]
په بل روایت کښے دی : ما عرض وکړو : وے وینځم ؟ وے فرمایل : نه بلکه وے سیزه۔
امام بیهقیؒ فرمائی : که چرے دا حدیث امام شافعیؒ ته رسیدلے وے نو د هغۀ د عادت مطابق به هغه د سنت د تابعدارئ لپاره ددے قائل وے۔ او معصفر جامه د سلفو یو جماعت مکروه ګنړلے او په دے کښے بل جماعت رخصت ورکړے، او زمونږ په ملګرو کښے حلیمی هم ددے د کراهت قائل دے۔ او د سنت تابعداری ډیره لائقه ده۔
[فتح الباری : ١٠/ ٣٠٤]
٤٠ – امام احمدؒ فرمائی : [عَجِبْتُ لِقَوْمٍ عَرَفُوا الإِسْنَادَ وَصِحَّتَهُ، يَذْهَبُوْنَ إِلَى رَأْيِ سُفْيَانَ وَاللهُ يَقُوْلُ: ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ﴾ [النور: ٦٣] أَتَدْرِيْ مَا الْفِتْنَةُ ؟ الْفِتْنَةُ الشِّرْكُ ، لَعَلَّهُ إِذَا رَدَّ بَعْضَ قَوْلِهِ أَنْ يَقَعَ فِيْ قَلْبِهِ شَيْءٌ مِنَ الزَّيْغِ فَيَهْلِكَ]
(زۀ په هغه خلکو تعجب کوم چه هغوئ د یو حدیث سند او د هغے صحت وپیژنی او بیا هم هغوئ د سفیان ثوریؒ په رائے پسے روان وی، حالانکه الله تعالیٰ فرمائی: (کوم خلک چه د نبی ﷺ د خبرے خلاف کوی هغوئ دے ویریږی چه هسے نۀ په دنیا کښے ورته فتنه او په آخرت کښے ورته دردناك عذاب ورسی) تاته پته شته چه (فتنه) څۀ شے دے ؟ فتنه شرك ته وائی، کیدے شی چه څوك د نبی کریم ﷺ ځینے خبره وارتوی نو په زړۀ کښے لږ شان کوږوالے راشی او په دے سره تباه شی)۔
[رواه عنه الفضل بن زياد وأبو طالب ، فتح المجيد شرح كتاب التوحيد، ص : ٣٧٧]
٤١ –اصبغؒ وائی : د نبی کریم ﷺ او د هغۀ د مشرانو صحابو نه په حضر کښے مونږ ته په مضبوطو دلائلو سره ثابته شوے ده نو ددے په خلاف مونږ د امام مالكؒ خبره نشو منلے۔
[فتح الباری : ١/ ٣٠٦]
ابن خزیمةؒ فرمائی : په عالم باندے حرام دی چه په سنت باندے د خبریدو نه پس د هغے خلاف کوی۔ [فتح الباری : ٣/ ٩٥]
٤٣ – د جمهورو سلفو او خلفو په نیز د (هدی) اشعار مشروع او جائز دے ځکه په دے باره کښے سنت راغلے۔ او امام طحاویؒ (په اختلاف د علماؤ کښے) ذکر کړی چه امام ابوحنیفةؒ په نیز

Maktaba Tul Ishaat.com

دا مکروه دي، او ددهٔ نه سیوا نور ورته د اتباع د وجې مستحب وائي، تردې چه د امام ابو حنیفةؒ دوه ملګرو ابو یوسفؒ او محمدؒ ویلي دي چه دا ښهٔ کار دے۔ او امام مالكؒ وائي : اشعار هغه ښاورو پورې خاص دے چه کوپے لري۔ طحاويؒ فرمائي : د عائشې او ابن عباس رضی الله عنهم نه په اشعار کولو او پرېښودلو دواړو کښې تخییر راغلے نو ددې نه معلومیږي چه دا نسك (عبادت) نهٔ دے، خو مکروه هم نهٔ دے ولے چه دا نبی اکرم ﷺ کړے دے۔

[فتح الباري : ٣/ ٥٤٤]

٤٤ – ابو هريره ﷺ د خیبر په قصه کښې چه نبی ﷺ د هغوئ سره معامله کړې وه، په هغې کښې ابو هریره نبی ﷺ ته وائي : (مونږ د ښو کهجورو یو صاع په دوه بیکاره کهجورو باندې اخلو)۔ او نبی ﷺ هغهٔ ته وفرمایل : (دا کار مهٔ کوه، بلکه بیکاره کهجورې په روپو خرڅې کړه بیا په روپو باندې ښې کهجورې اخله)۔

امام بخاريؒ دا روایت په [باب الوكالة في الصرف والميزان] کښې راوړے۔

ابن بطالؒ وائي : لاس په لاس طعام خرڅول د صرف پشان دي یعنی په دے کښې چه په دے دواړو کښې تساوي او تقابض شرط دے۔ او وکالت ددے نه داسے معلومیږي چه نبی ﷺ د خیبر معامله کونکي ته فرمائي : (ردي کهجورې په روپو خرڅې کړه) روستو ددے نه چه هغهٔ د سنت، طریقے په خلاف خرڅې کړے وې، نو هغه ئے د سودي سودا نه منع کړو او د سنت مطابق سودا کولو حکم ئے ورته وکړو۔

[فتح الباري : ٤/ ٤٨١]

٤٥ – حافظ ابن عبد البرؒ وغیره د مانځه د اقامت نه پس د نفلو نه د منع کولو په باره کښې دلیل پیش کوي فرمائي : د جګړې په وخت دلیل سنت دے څوك چه دا پیش کړي هغه کامیاب دے، او د مانځه د اقامت په وخت نفل پرېښودل او د فرضو نه پس ددے ادا کول سنت ته زیات نزدے دي۔ ددے تائید ددے نه هم کیږي چه په اقامت کښې دا الفاظ ویلے کیږي چه [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] نو ددے معنیٰ داده چه هغه مانځه ته راشئ چه هغې لپاره اقامت کیږي، نو د ټولو نه زیات منونکي ددے امر هغه څوك دے چه ددے نه سیوا په بل شئ سره خپل ځان مشغول نهٔ کړي۔

[فتح الباري : ٢/ ١٥]

٤٦ – خطیب بغداديؒ د اهلِ حدیثو په فضیلت او د اتباع سنت په تیزئ او د رائے په بدئ کښې ډیره خبره لیکلے :

ابو بکر خطیب بغداديؒ فرمائي : که چرے د بدے رائے خاوند خپل ځان په نفعمن علمونو

باندې مشغول کړې وې، او د رب العالمين د رسول سنتونه ئې تالاش کړي وې، او د فقهاؤ او محدثينو په نقشِ قدم باندې روان شوې وې، نو په دې کښې به ئې د هر شئ نه بې پروائي مونده وې، او په حديث سره به د خپلې رائے بې پروائي حاصله کړې وې، ځکه حديث د توحيد په اصولو پيژندلو او د وعد او وعيد په طرقو باندې مشتمل دې، دارنګه د رب العالمين په صفاتو مشتمل دې چه هغه د ملحدينو مقالاتو نه اوچت دې، دارنګه په جنت او جهنم او په هغه څه مشتمل دې چه الله د متقينو او فاجرانو لپاره تيار کړي، او په هغه څۀ چه الله په زمکه او آسمان کښې کوم قِسما قِسم عجائب او عظيمې نښې پيدا کړي. دارنګه د ملائکو مقربينو په ذکر او د صف جوړونکو او تسبيح کونکو يادونه ده۔

او په حديث کښې د انبياؤ قيصې، د زاهدانو او اولياؤ اخبار، د بلغاؤ وعظونه او د فقهاؤ کلام، د عربو او عجمو بادشاهانو سيرت، د پخوانو امتونو قصې، او د رسول الله ﷺ د غزاګانو او فوجونو بيان، د نبي ﷺ احکام او فيصلې، د هغۀ خطبې او عظونه، د هغۀ معجزات او نښې، د هغۀ د بيبيانو، اولادو، سخرانو او ملګرو شماره او د هغوئ فضائل او خصوصيات، د هغوئ اخبار او مناقب او عمرونه او نسبونه ذکر دي۔

او په دې کښې د قرآن کريم تفسير، او د صحابو نه په نقل شوو احکامو کښې ويناګانې او د هر قول والا نوم او د روستو خلاف کونکو او فقهاء مجتهدينو تذکره ده۔

او الله تعالیٰ حديث والا د شريعت ارکان ګرځولي او د دوئ په ذريعه ئې هر قبيح بدعت نړولے نو دوئ د الله په مخلوق کښې امينان او د نبي ﷺ او د امت ترمينځه واسطه ده او د هغۀ د ملت په حفاظت کښې کوشش کونکي دي۔ د دوئ رڼاګانې بليدونکې او فضائل ئې خوارۀ او نښې ئې ښکاره او مذهبونه ئې ظاهر او حجتونه ئې غالب دي۔ او هره ډله چه کومه رائے او خواهش لري هغې ته رجوع کوي او په کومه رائے چه ولاړه وي هغه ورته ښه ښکاري، سيوا د ((اصحاب الحديث)) نه ځکه د دوئ سامان کتاب الله دے، او دليل ئې سنت دے، او رسول الله ﷺ ئې ډله ده، او همدۀ ته د دوئ نسبت دے۔ دوئ خواهشاتو ته ميلان نۀ کوي او رائے ګانو ته توجه نۀ کوي۔ دوئ صرف هغه شے قبلوي چه د رسول الله ﷺ نه روايت شوے دے، او دوئ په دے باندې عادلان امينان دي، د دين حفاظت کونکي او خزانچيان دي، د علم لوښي او حاملان دي۔ کله چه په حديث کښې اختلاف واقع شي نو صرف دوئ ته رجوع کيدے شي، نو په څۀ باندې چه دوئ فيصله وکړي هم هغه به قبليدے او آوريدے شي۔ په همدوئ کښې هر فقيه عالم دے، او اوچت شان والا امام دے او په قبيله کښې زاهد دے او په فضيلت باندې ځانګړے دے، او پوخ قاري دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

او ښائسته خطيب دے۔ او همدوئ عظيم جمهور دی، او د دوئ لاره برابره لار ده۔ هر بدعتی د دوئ په عقيده کښے خپل ځان راښکاره کوی او د دوئ د مذاهبو نه سيوا د بل څۀ په ښکاره کولو باندے جرأت نشی کولے۔ څوك چه دوئ سره د مکر معامله کوی الله د هغه څټ ماتوی، څوك چه د دوئ سره عناد لری الله ئے رسوا کوی۔ څوك چه دوئ ے مدده پرېږدی نو دوئ ته هيڅ ضرر نۀ رسی، او هغه څوك نشی کاميابيدے چه د دوئ نه جدا شی، څوك چه په خپل دين کښے احتياط کوی هغه د دوئ ارشاداتو ته محتاج دے، او څوك چه دوئ ته بد ے ګوری د هغۀ نظر ستړے دے۔ ﴿ وَإِنَّ اللهَ عَلٰى نَصرِهِمْ لَقَدِيْرُ نِ ﴾ [حج:۳۹] (او الله د دوئ په امداد باندے قادر دے)۔

[شرف أصحاب الحديث، ص: ۷ ومابعدها]

۴۷ – ابن العربی المالکیؒ وائی : مالکيانو ويلی دی چه غائبانه جنازه کول صرف د محمد (ﷺ) خصوصيت دے۔ مونږ وايو : په کوم شئ باندے چه محمد (ﷺ) عمل کړے د هغۀ امت به هم پرے عمل کوی، يعنی اصل داده چه خصوصيت نشته۔ مالکيه وائی : زمکه ورله راټاؤ شوے وه او د هغۀ په مخکښے جنازه حاضره شوے وه۔ مونږ وايو : زمونږ رب په دے قادر او زمونږ نبی ددے اهل دے، خو تاسو د حديث نه سيوا بله خبره ولے کوئ، او د خپل ځان نه حديث ولے جوړوئ، بلکه صرف ثابت حديثونه بيانوئ او ضعيف پريدئ ځکه دغه د هغه چا لار ده چه کوم شے نۀ برباديږی هغه بربادوی۔

[فتح الباری : ۳/ ۱۸۹، نيل الأوطار : ٤/ ٥٤]

۴۸ – ابن العربیؒ وائی : د اختر په ورځ که په عيدګاه کښے نفل شوی وے نو خامخا به نقل شوی وے، او چا چه ديته جائز ويلی نو هغۀ ته دا ښکاره شوے چه دا د مطلق مانځه وخت دے، او چا چه دا نفل پريښی دی نو دا دليل ورکوی چه نبی ﷺ دا کار نۀ دے کړے۔ او په هدايت باندے هغه څوك روان دے چه تابعداری ئے وکړه۔

[فتح الباری : ۲/ ٤٧٦]

۴۹ – حافظ ابن حجرؒ د هغه حديث په تشريح کښے فرمائی چه په هغے کښے د بيمارئ په حالت کښے په ناسته باندے صحابو ته د نبی ﷺ مونځ کول راغلی۔ فرمائی : ددے حديث نه معلومه شوه چه د معذور ناست امام امامتی ناست مقتدی دارنګه ولاړ مقتدی دواړو لپاره صحيح ده۔ د مشهور قول مطابق امام مالكؒ او د طحاویؒ د نقل مطابق محمد بن الحسنؒ په دے کښے خلاف کړے، او ددۀ نه نقل دی چه دا نبی ﷺ پورے خاص وه۔ د دلائلو او مناقشے نه پس حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ابو بکر بن العربیؒ وائی : زمونږ د مالکيانو لپاره د تحقيق په

وخت د نبي ﷺ د مرض د حديث نه هيڅ جواب نشته او د سنتو تابعداري ډيره غوره ده۔
[فتح الباري : ۲/ ۱۷۵]

۵۰ – امام قرطبيؒ فرمائي : ځوك چه د سنتونو په پريښودو هميش والے كوي نو دا ددهٔ د دين نقصان دے اوكه ددے د سپكوالي او ددے نه د اعراض په توګه ئے پريدي نو دا ددهٔ فسق دے، ځكه د نبي ﷺ نه په دے باره كښے وعيد راغلے هغه فرمائي : [مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ]
(چاچه زما د سنت نه مخ واړولو هغه مانه نهٔ دے)۔
مخكنو صحابه كرامو او تابعينو به د سنتو داسے اهتمام كولو څنګه ئے چه د فرائضو اهتمام كولو، او ددے دواړو د ثواب په غنيمت ګڼړلو كښے به ئے فرق نهٔ كولو۔ دا خو صرف فقهاء دي چه د سنتو او د فرضو ترمينځه په دے وجه فرق كوي چه ددے د راګرځولو او نهٔ راګرځولو واجب والے وښائي دارنګه په پريښودلو باندے عذاب او عدم عذاب وښائي۔
[فتح البارري : ۳/ ۲۶۵]

۵۱ – حافظ ابن حجرؒ فرمائي : ددے حديث په باره كښے چه : [أَبْغَضُ الرِّجَالِ إِلَى اللهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ] (په ټولو سړو كښے الله ته هغه سړے د ټولو نه زيات مبغوض دے چه هغه ډير زيات جګړه ماروي) علامه قرطبيؒ فرمائي : دا كوم كس چه الله ورسره بغض لري دا هغه كس دے چه په خپلے جګړے سره حق دفع كوي او په فاسدو طريقو او وهمي شبهو سره حق رد كوي۔ او په دے ټولو جګړو كښے زياته سخته جګړه د دين په اصولو كښے جګړه كول دي، لكه زياتره دا د هغه ((متكلمينو)) طريقه ده چه هغوئ د هغه دلائلو او طريقو نه اعراض كوي چه هغه قرآن كريم، سنت رسول او د امت سلفو بيان كړي، دوئ دا پريدي او هغه بدعتي او د ځانه جوړے شوو اصطلاحاتو او جدلي قوانينو او ځان نه ايجاد كړو طريقو پسے روان دي چه د هغے زياتره برخه په دروغژنو رائے ګانو او لفظي جګړو باندے اړه لري، چه ځوك دا واخلي نو ددے په سبب هغه په داسے شبهو كښے ونخلي چه د هغے نه بيا عاجزه وي او داسے شكونه ورته راځي چه هغے سره ددهٔ ايمان ځي، د دوئ په نيز ددے نه ښهٔ جداكيدونكے صرف جګړه مار دے نهٔ ډير علم لرونكے۔ ځكه ډير عالمان شته چه هغوئ ته د دغه شبهے فساد معلوم دے ليكن د هغے په حل كولو قدرت نهٔ لري، او ددے نه ډير جدا كيدونكي شته چه ددے د علم د حقيقت ادراك نشي كولے۔ بيا دے ((متكلمينو)) ډير داسے محال او نهٔ كيدونكي كارونه كړي دي چه هغه به ډير كم عقل او ماشومان هم خوښ ونهٔ ګڼړي۔ هغه دا چه دوئ د جواهرو او الوانو او احوالو په تحيز كښے بحث كړے، او ددے په وجه ئے د الله د صفاتو د تعلقاتو د كيفيت او ددے د شمارے او ددے د اتحاد او د

Maktaba Tul Ishaat.com

عین یا غیرِ ذات کیدو داسې بحثونه کړي چه ددې نه سلفِ صالحینو خاموشي اختیار کړې.
دارنګه په کلام کښې دوئ بحث کړې چه دا متحد دې که منقسم ؟ اوکهٔ منقسم دې نو بالنوع دې او که بالوصف ؟ او په ازل کښې ددې تعلق د مامور سره څنګه کیدې شي سره ددې چه حادث دې، بیا کـه مامور ختم شي نو آیا تعلق ختمیږي اوکه نه ؟ او زید ته د مانځه حکم کو‌ل دا بعینه عـمرو ته د زکاة حکم کول دي اوکه نه ؟ داسې نور ډیر ((**خرافات**)) دي چـه دوئ د ځانه جوړ کړي دي، چـه پـه دې باندې شریعت حکم نهٔ دې کړې، او ددې نه صحابه کرامو او دوئ پسې تابعینو او تبع تابعینو - رضي الله عنهم - خاموشي اختیار کړې. بلکه په دې کښې د ننوتو نه ئې منع کړې څـکـه هـغوئ ته معلومه وه چه دا د یو داسې شئ نه بحث کول دي چه ددې کیفیت په عقل سره نشي معلومیدې ځکه د عقلونو لپاره یو حد دې چه هغې سره هغه ودریږي. او د ذات د کیفیت نه او د صـفاتو د کیفیت نه بحث کولو کښې فرق نشته. او څوك چه په دې کښې توقف کوي نو هغـه دې په دې ځان پوهه کړي چه هر کله هغهٔ ته د خپل نفس د کیفیت پته نشته سره د وجود ددې نه، دارنګه د نفس د کیفیت د ادراك پته ورته نشته نو دې ددې نه سِوا د نورو شیانو د ادراك نـه ډیر عـاجز دې. د عـالـم د علم آخر سر دا دې چه ددې کائناتو د فاعل فیصله وکړي چه هغه د شریك او شبیـه نـه مـنزه دې او د کـمـال پـه صفتونو سره متصف دې. بیا که د هغهٔ نه د هغهٔ د اوصـافـو او آسـمـاؤ پـه بـاره کښې څـهٔ شې په نقل سره ثابت شي نو هغه به مونږ قبلوو او د هغې عـقیـده بـه لـرو او ددې نه سِوا د بل شئ نه به خاموشي اختیاروو، لکه چه همدا طریقه د سلفِ صالحینو وه. ددې نه سِوا په بله لاره کښې انسان د غلطئ نه نشي بچ کیدې.

او د **متکلمینو** پـه طـریـقـو کښې د ننـوتـو نـه پـه مـنع کولو کښې هغه څهٔ کافي دي چه هغه د مـخـکنو امامانو نه نقل دي لکه عمر بن عبد العزیزؒ، مالك بن انسؒ او شافعيؒ. او ځینو امامانو دا پـریـکـړه هـم کړې چه صحابه کرامو - رضي الله عنهم - په جوهر او عرض او ددې په متعلقه مباحثـو د مـتـکـلمینو کښې بحث نهٔ دې کړې، نو څوك چه د دوئ د طریقې نه اعراض کوي نو د هغهٔ دا ګمراهي بس دې !!

او فـرمائي : (علمِ) کلام ډیر مـتکـلمین **شك** تـه رسولي، او ځینې ئې بې دینئ ته رسولي، او ځینې ئې په عباداتو کښې سستئ ته رسولي. او ددې سبب د شارع د نصوصو نه اعراض کول او د شرع نـه سِـوا پـه بـل څهٔ کښې د شیانو حقائق تالاش کول دي. حالانکه عقل کښې دومره قوت نشته چه د شارع هغه حکمتونه را لاندې کړي کوم چه په شرع کښې دي.

د **متکلمینو** ډیـر امامانو د خپلې طریقې نه رجوع کړې، تردې چه د امام الحرمین نه نقل دي هغه

وائی : زهٔ د غټو چپو والا سمندر ته ولویدم او د حق په طلب کښې په هر هغه شئ کښې ورننوتم چه د هغې نه اهلِ علمو منع کړې وه، دې لپاره چه د تقلید نه وتښتم۔ اوس ما رجوع وکړه او زهٔ د سلفو مذهب او عقیده لرم۔ دا د هغهٔ د خبرې خلاصه ده۔

او د امام الحرمین نه دا هم نقل دی چه هغهٔ د مرګ په وخت ووئیل : اې ملګرو ! په کلام کښې مهٔ مشغولیږئ که چرې ماته پته وې چه دا به هغه شئ ته رسوی کوم ته ئې چه ورسولم نو زهٔ به ئیخ کله په دې نهٔ وې مشغول شوې۔

بیا امام قرطبیؒ فرمائی : که چرې په (علمِ) کلام کښې صرف دوه مسئلې هم وې چه دا دواړه د هغې بنیادی مسئلې دی نو ددې لپاره دا **مذمت او بدي** کافی وه۔

یوه مسئله : دا وینا د بعضو ده چه : اولنې واجب شې په مکلف باندې **شك کول** دی ځکه شك کولو سره د نظر واجب والې یا د نظر اراده کول لازم دی۔ او همدې ته امام الحرمین اشاره وکړه چه زهٔ سمندر ته پریوتم۔

دویمه مسئله : په دوئ کښې د یوې ډلې دا وینا : چاچه په هغه طریقو او په هغه بحثونو سره الله ونهٔ پیژندهٔ کومې طریقې او بحثونه چه دوئ لیکلی او ترتیب کړی، نو ددهٔ ایمان صحیح نهٔ دې۔ تردې چه ځینې متکلمینو باندې چا داعتراض وکړو چه ددې نه خو بیا معلومیږی چه ستا پلار او ستا مشران او ګاونډیان هم کافر وګنړئ ! نو هغهٔ ووئیل : چه د دوزخ والاؤ په زیاتیدو سره په ما باندې ولې قباحت وائې ؟

ځینې هغه خلکو چه هغوئ ددې مسئلو قائل نهٔ دی هغوئ ددې مسئلې په قائلینو باندې په دلیل نظری سره رد کړې، حالانکه دا ددهٔ خطائی ده، ځکه د دغه پورتنو دواړو مسئلو قائل شرعًا کافر دی، ځکه دوئ د الله په ذات کښې شك کول واجب ګرځولی، او بله دا چه ددهٔ په نیز د سلف صالحینو صحابه کرامو او تابعینو غټه برخه کافر ګرځی ولې چه هغوئ ددهٔ ددې خبرې په عموم کښې داخلیږی، حالانکه ددې خبرې د فساد معلوموالې د ضروریاتو د دین نه دې، که چرې دا ضروری خبره نشی نو بیا په شرعیاتو کښې بل هیڅ ضروری خبره نشته۔

امام قرطبیؒ ددې خبرې د اوریدولو عذر پیش کړې او وجه ئې دا ښودلې چه په دې زمانه کښې د ((کلام)) دا بدعت خور شوې، تردې چه ډیر غافله خلك په دې دهوکه شوی، نو د هغوئ لپاره خیر خواهي کول واجب دی۔ [والله یهدی من یشاء] اهـ

[فتح الباری : ۱۳/ ۳۴۹]

۵۲ – مالکیان د سیبي د جوتې نه د لو ښي په وینځلو کښې په خاورو کښې د لوغړن کولو قائل

Maktaba Tul Ishaat.com

نهٔ دی. په دوئ کښې علامه قرافیؒ وائی : په دې باره کښې صحیح حدیثونه راغلی نو په مالکیانو باندې تعجب دې چه دوئ ددې ولې قائل شوی نهٔ دی.

[فتح الباری : ۱/ ۲۷٦]

۵۳ - یو صحابی ته نبی کریم ﷺ وفرمایل : [شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ] (ستا بزه د غوښې بزه ده) حافظ ابن حجرؒ ددې حدیث په تشریح کښې فرمائی : ابن ابی جمرةؒ وائی : دې حدیث نه معلومه شوه چه اګرکه په یو عمل کښې ښهٔ نیت وکړې شی خو هر کله چه دا د شریعت موافق نهٔ دې نو صحیح نهٔ دې.

[فتح الباری : ۱۷۱۰]

۵٤ - امام نوویؒ د اوښانو د غوښې خوړلو نه پس د اودس کولو په باره کښې د علماؤ اختلاف ذکر کړې او فرمایلی ئې دی : احمد بن حنبلؒ او اسحاق بن راهویهؒ وائی : د نبی ﷺ نه په دې باره کښې دوه حدیثونه ثابت دی : یو د جابر او بل د براء حدیث. او دا مذهب د دلیل په لحاظ د تولو نه زیات قوی مذهب دې اګرکه جمهور ددې خلاف دی.

[شرح النووی علی مسلم : ٤/ ٤٩]

۵۵ - امام ابن قیمؒ ذکر کړی چه د ثلث نه ښکته د نارینه او زنانه دیت برابر دې او ددې نه پورته په کښې فرق دې، فرمائی : په دې کښې شك نشته چه حدیث په دې کښې ثابت دې. بیا ئې د نسائی حدیث راوړې چه په دې دلالت کوی، او د سعید بن المسیبؒ نه ئې نقل کړی چه دا سنت دې. بیا ابن قیمؒ فرمائی : اګرکه په دې کښې ابو حنیفهؒ، شافعیؒ، لیثؒ، ثوریؒ او یو بل خلاف کړې او ویلی ئې دی چه په لږ او ډیر هر څهٔ کښې ددې دواړو نیمائی دې. لیکن سنت (باندې عمل) زیات لائق دې.

[إعلام الموقعین : ۲/ ۱۵۰]

۵٦ - علامه ابن قیمؒ عنوان قائموی فرمائی : د الله په دین کښې د نصوصو خلاف فتوې ورکول حرام، او د نص ښکاره کیدو په وخت اجتهاد او تقلید ساقط دې او په دې باندې د علماؤ اجماع او اتفاق دې :

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ أَمْرًا أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ [احزاب : ۳٦] (او کله چه الله او د هغهٔ رسول په څهٔ معامله کښې فیصله وکړی، نو هیڅ یو مسلمان سړی او ښځې له په دې باره کښې د بلې کومې فیصلې قبلولو اختیار باقی نهٔ پاتې کیږی، او څوك چه د الله او د هغهٔ د رسول نافرمانی کوی هغه

په ښکاره ګمراهئ آخته شو)۔

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَآيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللهَ اِنَّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴾ [حجرات : ۱]

او فرمائی : ﴿ اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْآ اِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [النور : ۵۱]

او فرمائی : ﴿ إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللهُ وَلَا تَكُنْ لِلْخَائِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴾ [النساء : ۱۰۵] (يقيناً مونږ قرآن په حق سره نازل کړے، دے لپاره چه ته د خلقو ترمينځ د درکړے شوی بصيرت مطابق فيصله وکړے او ته د خيانت کونکو د طرف نه دفاع کونکے مۀ جوړيږه)۔

او فرمائی : ﴿ اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَآءَ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴾ [اعراف : ۳] (کومے شے چه تاسو ته ستاسو د رب له خوا نازل شوے دهغے تابعداری وکړئ، او د الله نه سوئی نورو دوستانو او مددګارانو تابعداری ونکړئ، تاسو ډير کم نصيحت قبلوئ)۔

او فرمائی : ﴿ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ذٰلِكُمْ وَصّٰكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [انعام : ۱۵۳]

او فرمائی : ﴿ اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلّٰهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِيْنَ ﴾ [انعام : ۵۷]

او فرمائی : ﴿ لَهٗ غَيْبُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَبْصِرْ بِهٖ وَأَسْمِعْ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖ أَحَدًا ﴾ [الكهف : ۲۶]

او فرمائی : ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ ﴾ [المائدة : ٤٤]

اوفرمائی : ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظَّالِمُوْنَ ﴾ [المائدة : ٤٧]

نو دومره تاکيد ئے وکړو او په يو ځائے کښے ئے دومره خبره مضبوطه کړه، ولے چه د الله د قانون نه سيوا په بل قانون باندے فيصله کول ډير لوئے فساد، عام ضرر او امت ته شامله بيماری ده۔ او الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطَانًا وَّأَنْ تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾ [اعراف : ۳۳]

(ووايه چه زما رب ټول ښکاره او پټے بدکاريانے او ګناه او ناحقه سرکشی حرامه کړے، او دا (ئے هم حرام کړی) چه تاسو د الله سره داسے شے شريك کړئ چه الله د هغے په عبادت هيڅ دليل نۀ دے راليږلے او دا هم چه تاسو د الله په باره کښ داسے خبرے وکړئ چه د هغے تاسو ته علم نشته)۔

او الله تعالیٰ په هغه چا باندے رد کړے چه د هغۀ په دين کښے په بے علمئ سره جګړے کوی،

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه فرمائی : ﴿ هَاأَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُم بِهِ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَاللهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ ﴾ [آل عمران : ٦٦]

((کم عقلو !) تاسو جګړه وکړه د هغه څه په باره کښې چه تاسو ته د هغې علم وو لیکن د کوم په باره کښې چه تاسو سره هیڅ علم نشته نو په هغې کښې ولې جګړې (او غلط بحثونه) کوئ او الله پو هیږی او تاسو نۀ پو هیږئ).

او الله هغه څوك منع کړے چه هغه وائی : دا شے حلال او دا شے حرام دے، حالانکه دا الله او رسول ښکاره حرام کړے نۀ وی، او الله خبر ورکړے چه دا کار کونکے په الله باندے دروغ جوړونکے دے، لکه فرمائی : ﴿ وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هٰذَا حَلَالٌ وَهٰذَا حَرَامٌ لِتَفْتَرُوْا عَلَى اللهِ الْكَذِبَ إِنَّ الَّذِيْنَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ لَا يُفْلِحُوْنَ مَتَاعٌ قَلِيْلٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾ [النحل : ١١٦، ١١٧]

(او د کومو څیزونو په باره کښې چه تاسو په خپلو ژبو سره دروغ وایئ چه دا حلال دے او دا حرام، نو داسے مۀ وایئ، دے لپاره چه د الله په باره کښې د دروغو نه کار اخلئ، بیشکه کوم خلق چه د الله په باره کښې دروغ وائی هغوی نۀ کامیابیږی. دوی ته به ډیره کمه فائده رسیږی، او د دوی لپاره دردناك عذاب دے).

په دے مضمون باندے ډیر آیتونه شته دے.

پاتے شو احادیث : نو په بخاری او مسلم کښے د ابن عباس ﷺ په حدیث کښے راغلی چه هلال بن امیه د نبی ﷺ په مجلس کښے خپله ښځه په شریك بن سحماء نومے سړی باندے تورنه کړه، بیائے د لعان حدیث ذکر کړو. او نبی ﷺ وفرمایل : (تاسو په دغه ښځه باندے نظر لرئ، که چرے هغے تور سترګے، ډکو کناټو والا او پیړو پونډو والا ماشوم وزیګولو نو دا به د شریك بن سحماء بچے وی، اوکه چرے دا دا صفت والائے وزیګولو نو دا به د هلال بن امیه بچے وی) نو هغه ښځے د دغه بد صفت والا ماشوم وزیګاوۀ، نو نبی ﷺ وفرمایل : (که چرے د الله کتاب مخکښے نۀ وے راغلے نو مابه دے ښځے سره کار لرلے وے) د کتاب الله نه د نبی ﷺ مقصد دا آیتِ کریمه دے : ﴿ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهٰدٰتٍ بِاللهِ ﴾ [النور : ٨]

(او ښځے نه دا خبره عذاب لرے کوی چه هغه په الله قسَم وخوری او څلور ځله ګواهی وکړی چه بیشکه خاوند دروغژن دے).

او د کار لرلو نه مراد دادے چه په هغے باندے به ئے حد جاری کړے وے ځکه د هغے بچے د دغه تورن شوی سړی سره مشابه وو، لیکن د الله کتاب فیصله وکړه او ددے نه پس ئے هره خبره وغورزوله او د اجتهاد لپاره ئے هیڅ موقعه پرے نۀ ښوده.

امام شافعیؒ په خپل سند سره د ابو یزیدؒ نه نقل کوی، دا وائی : عمر بن خطاب ﷺ د زهره قبیلے یو شیخ ته چه هغه زمونږ په کور کښے وسیدهٔ څوك راولیږهٔ، نو زهٔ د هغهٔ سره عمر ﷺ ته لاړم، نو د هغهٔ نه ئے د جاهلیت د زیګونونو نه د یو ماشوم په باره کښے پوښتنه وکړه، نو هغهٔ ووئیل : بستره د فلانی ده، او نطفه د فلانی۔ نو عمر ﷺ وفرمایل : تا رشتیا ووئیل، لیکن رسول الله ﷺ فیصله د بسترے لپاره کړے۔

امام شافعیؒ په خپل سند سره د مخلد بن خفاف نه نقل کوی، دا وائی : ما یو غلام واغستهٔ او هغهٔ نه مے د غلے (آمدنئ) مطالبه وکړه، بیا زهٔ د هغهٔ نه په یو عیب باندے خبر شوم، نو ما په دے کښے عمر بن عبد العزیزؒ ته جګړه یوړه، نو هغهٔ زما لپاره د هغهٔ د واپس کولو فیصله وکړه، او په ما باندے ئے د هغهٔ د غلے واپس کولو فیصله وکړه۔ نو زهٔ عروهٔ ته راغلم او ددے خبر مے هغهٔ ته ورکړهٔ، نو هغهٔ ووئیل : زهٔ عمر بن عبد العزیزؒ ته بیګاه له واپس ورځم او دا خبر ورته ورکوم چه عائشے رضی الله عنها ماله خبر راکړے چه رسول الله ﷺ په داسے مسئله کښے دا فیصله کړے چه خراج په ضمان سره دے (یعنی نفع به د هغه چا وی چه تاوان ئے شوے وی)۔ نو زهٔ په تادئ باندے عمرؒ ته لاړم او هغهٔ ته مے د عروهٔ خبره وکړه چه هغهٔ ته عائشے رضی الله عنها د رسول الله ﷺ نه دا خبر ورکړے۔ نو عمرؒ ووئیل : کومه فیصله چه ما کړے د هغے نه دا فیصله څومره ډیره آسانه ده، اے الله ! تاته پته ده چه په دے کښے ما صرف د حق اراده کړے، او په دے کښے ماته د رسول الله ﷺ سنت راورسیدهٔ نو زهٔ اوس د عمر فیصله رد کوم او د رسول الله ﷺ فیصله نافذوم۔ نو عروهٔ هغهٔ ته ورغے نو هغهٔ ماله فیصله وکړه چه زهٔ د هغه کس نه خراج واخلم چه په هغے سره ئے په ما باندے د هغهٔ لپاره فیصله کړے۔

امام شافعیؒ فرمائی : ماته د مدینے والو نه یو اعتمادی سړی د ابن ابی ذئبؒ د طرفه خبر راکړے چه هغه وائی : سعد بن ابراهیم د یو سړی په خلاف د ربیعه بن ابی عبد الرحمن په رائے سره فیصله وکړه، نو ما هغهٔ ته خبر ورکړو چه نبی ﷺ خو په دے باره کښے ستا د فیصلے خلاف فیصله کړے۔ نو سعد ربیعه ته ووئیل : دا ابن ابی ذئب دے چه زما په نیز ثقه دے، دهٔ ماته د نبی ﷺ نه ستا د فیصلے په خلاف باندے خبر راکړو۔ نو ربیعه ورته ووئیل : تا اجتهاد کړے او ستا فیصله نافذه ده۔ نو سعد ووئیل : د تعجب خبره ده ! آیا زهٔ به د سعد بن ام سعد فیصله نافذووم او د رسول الله ﷺ فیصله به رد کوم ؟ نه ! بلکه زهٔ د ام سعد د ځوئے فیصله رد کوم او د رسول الله ﷺ فیصله نافذووم۔ نو سعد د فیصلے کتاب راوغوښتهٔ او هغه ئے وشلولو، او د چا خلاف چه فیصله شوے وه د هغهٔ په حق کښے ئے فیصله وکړه۔ نو مقلدین په دے کښے مونږ بواخے ګنړو او

Maktaba Tul Ishaat.com

الله دویٔ یواځې کړځوی۔

ابوالنضر هاشم بن قاسمؒ په خپل سند سره د هشام بن یحیی مخزومی نه روایت کوی چه د ثقیف قبیلې یو سړے عمر بن خطاب ﷛ ته ورغے او د هغهٔ نه ئې پوښتنه وکړه چه یوه ښځه په داسې حال کښې حائضه شی چه هغې د اختر په ورځ طواف زیارت کړے، آیا هغه کورته واپس کیدے شی؟ نو عمر ﷛ ورته وفرمایل: نه۔ نو هغه ثقفی سړی ورته وویل: رسول الله ﷺ خو په دے قِسم ښځه کښې ماته ستا د فتوے خلاف فتویٰ راکړے۔ نو هغهٔ ته عمر ﷛ ورپاسیدهٔ او په دُره باندے ئې وهلو او ویل ئې: تهٔ ما نه ولے په یو داسې شئ کښې فتویٰ غواړے چه په هغې کښې رسول الله ﷺ فتویٰ ورکړے۔ امام ابوداودؒ ددے پشان روایت نقل کړے۔

عتاب بن منصور وائی: عمر بن عبد العزیزؒ وفرمایل: رسول الله ﷺ چه یو سنت جاری کړے وی نو زهٔ د بل هیچا سنت د هغهٔ د سنت سره نهٔ منم۔ (مصنف ابن ابی شیبه)۔

امام شافعیؒ فرمائی: د ټول خلکو په دے اجماع ده چه چاته د رسول الله ﷺ سنت ښکاره شو نو هغه د چا د رائې د وجې پریښودل حرام دی۔

او د هغهٔ نه په تواتر سره نقل دی چه هغه فرمائی: کله چه حدیث صحیح ثابت شی نو زما خبره په دیوال وولیٔ۔ او د هغهٔ نه دا هم ثابته ده چه وے فرمایل: کله چه زهٔ د رسول الله ﷺ نه حدیث نقل کړم نو د رسول الله ﷺ د سنت سره د بل هیچا خبره هیڅ حیثیت نهٔ لری۔

اسرائیل په خپل سند سره د ابن مسعود ﷛ نه روایت کوی چه یو سړی د هغهٔ نه پوښتنه وکړه چه: یو سړے یوے ښځې سره نکاح وکړی او بیا ئې د هغې مور ولیده او هغه ئې خوښه شوه، نو خپله ښځه ئې ددے لپاره طلاقه کړه چه د هغې مور په نکاح واخلی؟ نو ابن مسعود ورته ووېل: څهٔ باك نلری، نو هغه سړی هغه په نکاح واخسته۔ او ابن مسعود په بیت المال باندے مقرر وو، هغهٔ به د بیت المال کباړ خرڅولو ډیر به ئې ورکولو او لږ به ئې اخستلو، تردے چه مدینے ته راغے، نو ددے مسئلې پوښتنه ئې د رسول الله ﷺ د ملګرو نه وکړه۔ نو هغویٔ وفرمایل: دغه ښځه د دغه سړی لپاره حلاله نهٔ ده، او نهٔ سپین زر په سپینو زرو باندے د برابریٔ نه سیوا خرڅول جائز دی۔ نو کله چه ابن مسعود ﷛ لاړ نو هغه کس ته ورغے خو هغه ئې ونهٔ موندلو خو د هغهٔ قوم ئې وموندهٔ نو وے فرمایل: ستاسو سړی ته چه ما کومه فتویٰ ورکړے وه هغه حلال نهٔ ده۔ او صرافانو ته راغے او وے فرمایل: اے د صرافانو ټولګیه! ما چه تاسو سره کومه سودا کوله هغه حلاله نهٔ ده، ځکه سپین زر به په سپینو زرو باندے د دواړو د وزن د برابریٔ په صورت کښې خرڅولے شی۔

په صحیح مسلم کښې د سلیمان بن یسار نه نقل دی چه ابو هریره، ابن عباس او ابو سلمه بن عبد الرحمن د هغه ښځې په باره کښې مذاکره وکړه چه د هغې خاوند وفات شی او هغه حامله وی او د خاوند د وفات په وخت زیګون وکړی، نو ابن عباس ﷺ وفرمایل: روستنئ نیټه به په عدت کښې تیروی. ابو سلمهؒ وفرمایل: د زیګون سره سم د عدت نه وځی. نو ابو هریره ﷺ وفرمایل: او زهٔ د خپل ورارهٔ سره یم، نو دوئ ام سلمې رضی الله عنها ته څوك ولیږهٔ نو هغې وفرمایل: سبیعې د خپل خاوند د وفات نه لږ روسته زیګون وکړو نو رسول الله ﷺ هغې ته حکم وکړو چه نکاح وکړی.

او مخکښې تیر شو چه عمر، ابو موسی او ابن عباس رضی الله عنهم د خپلو اجتهاداتو نه سنت طرفته رجوع کړې وه.

شداد بن حکیم د زفر بن هذیلؒ نه نقل کړی چه دا فرمائی: مونږ خو رائے باندې هغه وخت عمل کوو هر کله چه راته حدیث ملاؤ نشی او کله چه حدیث ملاؤ شی نو بیا مونږ رائے پریدو او د حدیث تابعداری کوو.

محمد بن اسحاق بن خزیمهؒ چه دهٔ ته امام الائمة ویل کیږی فرمائی: کله چه د رسول الله ﷺ نه حدیث ثابت شی نو بیا ددې سره د بل هیچا خبره نهٔ چلیږی.

د امام الائمة ابن خزیمهؒ ملګری وو چه ددهٔ مذهب ته منسوب وو، او دا په خپله مقلد نهٔ وو بلکه مستقل امام وو، لکه امام بیهقیؒ په خپل مدخل کښې د یحیی بن محمد العنبریؒ نه نقل کړی چه دا فرمائی: د اصحاب الحدیث پنځه طبقات دی: مالکیه، شافعیه، حنبلیه، رهویه او خزیمیه د ابن خزیمه ملګری.

امام شافعیؒ فرمائی: کله چه یو ثقه د بل ثقه نه حدیث بیان کړی تردې چه رسول الله ﷺ پورې ورسی نو دا ثابت دې او د رسول الله ﷺ حدیث به هیڅ کله نشی پریښودې مګر که د رسول الله ﷺ نه بل داسې حدیث راشی چه هغه ددې اول خلاف وی.

او امام شافعیؒ په هغه کتاب کښې چه په هغې کښې ئې د امام مالكؒ سره اختلاف کړې، فرمائی: ترڅو چه کتاب او سنت موجود وی نو چا چه دا واوریدل د هغهٔ عذر به قبول نهٔ وی مګر کله چه په دې دواړو باندې رائے وکړی.

امام شافعیؒ فرمائی: ماته یو کس وویل: ماته یو داسې عمل وښایه چه عمر ﷺ کړې وی او بیا ئې ددې نه د نبوی حدیث د وجې نه بل شئ ته رجوع کړې وی. ما ورته وویل: ماته سفیان د زهری نه او هغهٔ د ابن المسیبؒ نه حدیث بیان کړې چه: عمر ﷺ به فرمایل: دیت د عاقله و

Maktaba Tul Ishaat.com

لپاره دے او ښځه د خپل خاوند د دیت نه میراث نشي وړلے، تردے چه دۀ ته ضحاك بن سفیان رضی الله عنه خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ دۀ خط لیکلے وو چه د ضبابی ښځے ته د هغۀ د دیت نه میراث ورکړه۔ نو عمر رضی الله عنه د خپلے فتوے نه رجوع وکړه۔

او مونږ ته سفیان بن عیینه د عمرو او ابن طاوس نه خبر راکړو چه عمر رضی الله عنه فرمائی: داسے کس شته چه د نبی ﷺ نه ئے د مور په خیټه کښے د ماشوم د دیت په باره کښے څۀ آوریدلی وی؟ نو دے کښے حمل بن مالك بن نابغه ودریدۀ او وے ویل: زما دوه وینځے وے نو په دے دواړو کښے یوے بله په بیلچه باندے ووهله نو هغے مړ بچے وارتولو، نو رسول الله ﷺ په دے کښے د یو غلام ورکولو فیصله وکړه۔ نو عمر رضی الله عنه وفرمایل: که چرے مونږ په دے کښے دا حدیث نۀ وے آوریدلے نو مونږ به ددے نه سیوا بله فیصله کولے۔ یائے داسے وفرمایل: نزدے وو مونږ چه په دے کښے مونږ په خپلے رائے سره فیصله کړے وے۔ نو د حدیث د وجے نه عمر رضی الله عنه خپل اجتهاد پریښودۀ۔

او همدا په هر مسلمان باندے واجبه ده، ځکه رائے او اجتهاد خو د مضطر او لاچارۍ دپاره مباح دے لکه څنګه چه ددۀ لپاره مرداره او وینه د ضرورت په وخت جائز ده۔ ﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [البقرة: ١٧٣]

(که څوك د ډیرے مجبورۍ په حالت کښې کله چه د الله نافرمان او د حد نه تیروتونکے نۀ وی (استعمال ئے کړی) نو په دۀ باندے هیڅ ګناه نشته، یقیناً الله بخنه کونکے او رحم کونکے دے)۔

دارنګه قیاس ته هم د ضرورت په وخت رجوع کیږی۔

امام احمدؒ فرمائی: ما د امام شافعیؒ نه د قیاس په باره کښے پوښتنه وکړه، وے فرمایل: د ضرورت په وخت۔ [ذکره البیهقی فی مدخله]

زید بن ثابت رضی الله عنه دا رائے لرله چه د حائضے لپاره دا جائز نۀ دی چه د طوافِ وداع کولو نه مخکښے واپس کور ته لاړه شی، او په دے باره کښے دۀ او عبد الله بن عباس رضی الله عنهما مناظره وکړه، نو ابن عباس ورته وفرمایل: که زما نۀ منے نو فلانئ انصاریه بی بی نه پوښتنه وکړه چه آیا رسول الله ﷺ دیته ددے حکم کړے دے؟ نو زید بن ثابت رضی الله عنه د خپلے رائے نه واپس شو او په خندا کښے ئے وفرمایل: داسے راته ښکاری چه تۀ رشتیا وائے۔

[ذکره البخاری فی صحیحه بنحوه]

ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: مونږ به د مخابرے سودا کوله او په دے کښے به مو څۀ باك نۀ ګڼړلو تردے چه رافع بن خدیج رضی الله عنه وویل چه رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمایلے۔ نو مونږ ددے حدیث د وجے دا پریښودله۔

عمرو بن دینار د سالم بن عبد الله نه روایت کوی چه عمر بن خطاب رضی الله عنه د بیت الله شریف د زیارت نه وړاندے او د جمرے نه پس د خوشبوئے لګولو نه منع فرمایلے۔ نو عائشے رضی الله عنها وفرمایل: (ما رسول الله ﷺ د خپل احرام د تړلو په وخت د احرام تړلو نه مخکښے، دا رنګ کله ئے چه احرام پرانستلو او د بیت الله طواف ئے لانۀ وو کړے په خپل لاس سره خوشبویه کړے وو۔ او د رسول الله ﷺ د سنت تابعداری ډیره لائقه ده۔

امام شافعیؒ فرمائی: سالم د خپل نیکۀ ویناد عائشے رضی الله عنها د روایت په وجه پریښوده۔

زۀ وایم: دا کار د تقلیدی فرقے خلاف دے۔

اصمؒ وائی: مونږ ته ربیع بن سلیمانؒ خبر راکړو، وائی: زۀ به تاله داسے جمله درکړم چه هغه به تاته ډیره فائده ورسوی ان شاء الله: هغه دا چه د رسول الله ﷺ حدیث هیڅ کله مۀ پریده مګر که خپله د رسول الله ﷺ له طرفه ددے حدیث په خلاف بل حدیث راشی نو بیا به تۀ د حدیثونو د اختلاف په وخت په هغه څۀ باندے عمل کوے کوم چه درته ما وویلو۔

اصمؒ وائی: ما د ربیعؒ نه واوریدل هغه وائی: ما د امام شافعیؒ نه واوریدل چه فرمایل ئے: کله چه تاسو زما په کتاب کښے د رسول الله ﷺ د سنت خلاف خبره ووینئ نو د رسول الله ﷺ سنت اخلئ او زما خبره پریدئ۔

ابو محمد الجارودیؒ فرمائی: ما د ربیعؒ نه واوریدل او هغه وائی ما د امام شافعیؒ نه واوریدل چه فرمایل ئے: کله چه تاسو زما خبره د سنت په خلاف ومومئ نو تاسو سنت واخلئ او زما خبره پریدئ ځکه زۀ هم ددے قائل یم۔

احمد بن علی بن ماهان رازیؒ وائی: ما د ربیعؒ نه واوریدل چه فرمایل ئے: ما د امام شافعیؒ نه آوریدلی دی چه هغۀ فرمایل: هر هغه مسئله چه په هغے کښے ما خبرے اترے کړی او په هغے کښے زما د خبرے په خلاف د رسول الله ﷺ نه د محدثینو په نیز حدیث ثابت شو، نو زۀ د هغے نه په ژوند او مرینے دواړو حالت کښے رجوع کونکے یم۔

امام حاکمؒ وائی: ما د اصمؒ نه واوریدل هغۀ د ربیعؒ نه او هغۀ د امام شافعیؒ نه آوریدلی چه هغۀ یو حدیث روایت کړو نو یو سړی ورته وویل: ابو عبد الله! په دے حدیث تۀ عمل کوے؟ نو هغۀ وفرمایل: کله چه زۀ د رسول الله ﷺ نه یو صحیح حدیث روایت کړم او بیا په هغے عمل نۀ کوم نو تاسو ګواه شئ چه زما عقل به خراب شوے وی، او په خپل لاس سره ئے د دوئ سرونو ته اشاره وکړه۔

حمیدیؒ وائی: یو سړی د امام شافعیؒ نه د یوے مسئلے په باره کښے پوښتنه وکړه او هغۀ ورته

Maktaba Tul Ishaat.com

فتویٰ ورکړه، او وې فرمايل چه نبی ﷺ داسې داسې فرمايلي۔ نو هغه سړي ووېل: آيا ته په دې عمل کوې ؟ امام شافعيؒ ورته وفرمايل : آيا تا زما په ملا کښې زنار وليده ؟ آيا تا زه د گيرجې نه راوتونکې وليدم ؟ زه وايم : نبی ﷺ داسې فرمايلي او ته وائې چه ته په دې عمل کوې او که نه ؟ زه به د نبی ﷺ نه حديث نقل کړم او بيا به پرې عمل نه کوم ؟

امام حاکمؒ په خپل سند سره د ربيع بن سليمانؒ نه نقل کوي، دا وائي: امام شافعيؒ نه ما اوريدل چه د هغه نه يو سړي د يوې مسئلې په حقله پوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمايل : د نبی ﷺ نه داسې داسې حديث نقل شوې. نو هغه پوښتنه کونکي ورته ووېل : اې ابو عبد الله ! آيا ته په دې عمل کوې ؟ نو امام شافعيؒ وريپيدو او رنگ ئې زيړ شو او وې فرمايل : غرق شې ! کومه زمکه به ما پورته کړي او کوم آسمان به په ما سورې وکړي، هرکله چه زه د رسول الله ﷺ نه يو حديث روايت کړم او بيا په هغې عمل نه کوم. هو ! د سر په دواړو سترگو، هو ! د سر په دواړو سترگو۔

ربيعؒ دا هم وائي : ما د امام شافعيؒ نه واوريدل چه فرمايل ئې : په هر يو سړي باندې خامخا د رسول الله ﷺ څه نا څه حديث پټ پاتې کيږي، دې وجې نه کله چه زه يوه خبره وکړم يا يو داسې قاعده کيدم چه په هغې کښې د رسول الله ﷺ د حديث خلاف راغلې وي، نو خبره به هغه معتبره وي کومه چه رسول الله ﷺ کړې ده او همدا به زما خبره هم وي۔ او امام شافعيؒ شروع شو چه بار بار ئې دا خبره کوله۔

ربيعؒ وائي : امام شافعيؒ وفرمايل : ما هيڅوك داسې نه دې ليدلې چه هغه ته خلك عالم وائي يا خپل ځان علم طرفته منسوب کوي، او بيا په دې خبره کښې خلاف کوي چه الله تعالیٰ د خپل نبي د امر اتباع او د هغه فيصلې ته تسليميدل فرض کړي دي، ځکه الله تعالیٰ د نبی ﷺ نه پس د نبی ﷺ نه سيوا د بل چا تابعداري نه ده فرض کړې، او د يو سړي خبره به هله منل لازم دي چه هغه ئې د قرآن نه وکړي يا د رسول الله ﷺ د حديث نه۔ او ددې نه سيوا نورې ټولې خبرې ددې دواړو تابع دي۔ او الله تعالیٰ په مونږ باندې او زمونږ نه په روستنو خلکو او زمونږ نه په مخکنو خلکو باندې دا خبره فرض کړې چه د رسول الله ﷺ حديث به قبلوي۔ په دې کښې صرف يوې فرقې خلاف کړې چه زه به روستو د هغې وينا ذکر کړم ان شاء الله۔

[إعلام الموقعين : ٢/ ٢٦٠، وما بعدها]

٥٧ - علامه ابن کثيرؒ د الله تعالیٰ ددې وينا په تفسير کښې چه : ﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ﴾ [النور : ٦٣] (نو هغه خلك دې ويريږي چه هغوئ د نبی ﷺ د خبرې خلاف کوي)۔

ددې په تفسير کښې فرمائي چه : د رسول الله ﷺ امر د هغهٔ لاره، واضحه طريقه، سنت او

شریعت دے چه تمام اقوال او اعمال به د هغهٔ په اقوالو او اعمالو باندے تللے شي نو که ددے سره موافق وو هغه به قبلولے شي او که ددے خلاف وو هغه به رد کولے شي اګرکه ددے ویونکے او عمل کونکے هر څوك وي۔ لکه چه دا د رسول الله ﷺ په یو صحیح حدیث کښے ثابته شوے خبره ده، هغه فرمائي : [مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ] [مسلم]

(چاچه یو داسے کار وکړو چه په هغے باندے مونږ امر نهٔ وو کړے نو دا مردود دے)۔

نو د آیتِ کریمه مطلب دا چه : هغه څوك دے ویرېږي چه په ظاهر او باطن کښے د رسول الله ﷺ د شریعت خلاف کوي چه دوئ ته به فتنه ورسیږي یعني زړونو ته به ئے کفر، منافقت یا بدعت ورسیږي، او یا به ورته دردناك عذاب ورسیږي، یعني په دنیا کښے به ووژل شي یا به پرے حد جاري شي او یا به جیل ته واچول شي وغیره۔

[تفسیر ابن کثیر : ۳/ ۳۰۷]

۵۸ - په زکاة کښے د سامان اخستلو په مسئله کښے امام بخاريؒ د حنفیهؒ موافقت کړے، سره ددے چه امام بخاريؒ د دوئ ډیر زیات خلاف کړے، خو امام بخاريؒ دا کار د دلیل د وجے کړے۔ دا خبره ابن رُشید کړے۔ [فتح الباري : ۳/ ۳۱۲]

۵۹ - حافظ ابن حجرؒ فرمائي : اصل داده چه انسان د لهو او لعب نه ځان وساتي، دے وجے نه په کوم وخت او کیفیت سره چه شریعت راغلے بس په همغے به بس والے کیدلے شي، دے لپاره چه د اصل مخالفت کم کړے شي۔

[فتح الباري : ۲/ ٤٤٣]

۶۰ - د مونځونو نه پس چه درے دیرش ځله تکبیر، تحمید او تسبیح ویلے کیږي، حافظ ابن حجرؒ ددے حدیث په تشریح کښے فرمائي : ددے نه دا خبره راوځي چه په اذکارو کښے د مخصوص عدد لحاظ ساتل معتبر دي، ګنے بیا خو به دوئ ته ویل شوي وے چه تاسو په دے کښے درے دیرش ځله لا اله الا الله هم زیاته کړئ۔

بیا ئے په دے اذکارو کښے د کمي او زیاتي کولو په باره کښے د بعض علماؤ خبره ذکر کړے فرمائي : امام قرافيؒ په قواعدو کښے تردے ځایه پورے خبره رسولے چه فرمائي : دا هم مکروه بدعت دے چه انسان په مستحباتو کښے زیاتے وکړي چه د هغے حد بندي شریعت کړے وي، ځکه د لوئے خلکو شان دادے چه کله دوئ په یو شئ کښے حد بندي وکړي نو ددے نه به ورتیریدل نهٔ کیږي، او څوك چه ددے نه ورتیرېږي نو هغه بے ادبه شمارل کیږي۔

[فتح الباري : ۲/ ۳۳۰]

Maktaba Tul Ishaat.com

٦١ - په استسقاء کښې د څادر اړولو په باره کښې حافظ ابن حجرؒ ددې د حکمت ذکر کولو نه پس فرمائي : بعضِ وائي : نبي ﷺ څادر ځکه واړولو چه د دعاء لپاره د لاسونو اوچتولو په وخت دا په اوګه باندې ښهٔ مضبوط وي، نو بيابه دا په هر حال کښې سنت نهٔ وي۔ ددې جواب دادې چه د يو طرف نه بل طرفته څادر اړول په ځټ باندې ددې د مضبوطوالي تقاضا نهٔ کوي۔ دې وجې نه اولنۍ معنیٰ بهتره ده ځکه اتباع کول د پريښودلو نه غوره دي صرف په دې وجه چه کيدې شي چه دا هغهٔ پورې خاص وي۔

[فتح الباري : ۲/ ٤۹۹]

٦٢ - حافظ ابن حجرؒ فرمائي : او زهٔ د هغه چا نه تعجب کوم چه هغه خپله خُلهٔ په دې خبره پرانيزي چه نذر مکروه نهٔ دې، سره ددې چه ددې نه په ډاګه منع راغلې، نو ددې کمه درجه داده چه دا په کراهتِ تنزيهي سره مکروه شي۔

[فتح الباري : ۱۱/ ٥۷۸]

٦٣ - د ابن عمر ﷺ په دې حديث : [أمرت أن أقاتل الناس......] کښې د مانعينو د زکاة په باره کښې د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما ترمينځه مناظره (بحث او مباحثه) شوې۔ نو حافظ ابن حجرؒ فرمائي : په دې قصه کښې ددې خبرې دليل دې چه کله نا کله په بعضِ غټو صحابه کرامو باندې هم سنت پټ پاتې کيږي او په دوئ کښې يو يو کس په دې خبريږي۔ دا وجه ده، رائے ګاني اګرکه هر څومره قوي ولې نهٔ وي، د سنت په مخالفت کښې ورله هيڅ اعتبار نشته، او دا به نهٔ ويل کيږي چه دا سنت څنګه په دې فلاني باندې پټ پاتې شو !

[فتح الباري : ۱/ ۷٦]

٦٤ - حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د جُمعې د مانځه د وخت نه چه مخکښې خلکو کوم ذکر او درود ايجاد کړې چه ددې په ذريعه جُمعې مانځه ته خلك رابلي، نو دا صرف په ځينو ښارونو کښې دې۔ او د سلفِ صالحينو اتباع ډيره غوره ده۔

[فتح الباري : ۲/ ۳۹٤]

٦٥ - حافظ ابن حجرؒ د سلفو د طريقې په ټينګ رانيولو او د خلفو د ايجاد کړو شيانو په پريښودو کښې ډيرې ښې جملې ويلې هغه فرمائي :

امام شافعيؒ فرمائي : بدعت دوه قِسمه دې : يو محمود او بل مذموم۔ نو کوم شې چه د سنت موافق وي هغه محمود دې او کوم چه ددې خلاف وي هغه مذموم۔

[أخرج أبو نعيم بمعناه من طريق إبراهيم بن الجنيد عن الشافعي]

دارنګه امام بیهقیؒ د امام شافعیؒ نه نقل کړی چه : ایجاد شوی شیان دوه قِسمه دی : هغه چه د کتاب یا د سنت، یا د اثر یا د اجماع خلاف وی نو دا د ګمراهئ بدعت دے۔ او کوم ایجاد شوے خیر چه د دغه شیانو خلاف نهٔ وی نو دا ایجاد شوے شے بد نهٔ دے۔

[أخرجه البيهقي في مناقبه عن الشافعي]

بیا حافظ فرمائی : سلفو – یعنی ابو حنیفهؒ، ابو یوسفؒ او شافعیؒ – په علمِ کلام باندے سخت رد کړے، او د متکلمینو په بدئ کښے د دوئ وینا مشهوره ده۔ او ددے سبب دادے چه متکلمینو په هغه شئ کښے خبرے اترے کړی چه نبی ﷺ او د هغهٔ صحابه کرام ددے نه خاموش پاتے شوی۔ او د امام مالکؒ نه ثابته ده چه د نبی ﷺ او د ابو بکر او عمر (رضی الله عنهما) په زمانه کښے هیڅ قِسمِ بدعت نهٔ وو – یعنی د خوارجو، روافضو او قدریه ؤ بدعت ......

بیا فرمائی : [فَالسَّعِيْدُ مَنْ تَمَسَّكَ بِمَا كَانَ عَلَيْهِ السَّلَفُ وَاجْتَنَبَ مَا أَحْدَثَهُ الْخَلَفُ]

(نو نیك بخته هغه څوك دے چه د سلفو طریقه راټینګه کړی او د خلفو د ایجاد کړے طریقے نه ځان وساتی)۔ [فتح الباری : ۱۳/ ۲۵۳]

[من رسائل الشيخ عبد المحسن العباد]

****

Maktaba Tul Ishaat.com

د رسول الله ﷺ د اقوالو نه یوه خوشبویه برخه

۱ – معاذ بن جبل ﷺ وائی : ما عرض وکړو : یا رسول الله ! ماته وصیت وکړه ! وے فرمایل :
[أُعْبُدِ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، وَاعْدُدْ نَفْسَكَ فِي الْمَوْتَىٰ، وَاذْكُرِ اللهَ عِنْدَ كُلِّ حَجَرٍ وَعِنْدَ كُلِّ شَجَرٍ، وَإِذَا عَمِلْتَ سَيِّئَةً فَاعْمَلْ بِجَنْبِهَا حَسَنَةً، السِّرُّ بِالسِّرِّ وَالْعَلَانِيَةُ بِالْعَلَانِيَةِ]

(د الله داسے بندګی کوه ګویا تهٔ هغه وینے، او خپل ځان په مړو کښے شماره، او د هر کانړی بوټی سره د الله ذکر کوه، او کله چه ګناه وکړے نو د هغے خواته نیکی کوه، د پټے په مقابله کښے پټه او د ښکاره په مقابله کښے ښکاره نیکی)۔

[الصحیحة :۱٤۷۵]

دا ډیر قیمتی نصیحت دے چه هیڅ یو نصیحت دیته نهٔ رسی۔

۲ – ضحاك بن قیس ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل :

[إِنَّ اللهَ يَقُولُ : أَنَا خَيْرُ الشَّرِيكَيْنِ فَمَنْ أَشْرَكَ بِيْ أَحَدًا فَهُوَ لِشَرِيكِيْ، يَاأَيُّهَا النَّاسُ ! أَخْلِصُوا الْأَعْمَالَ لِلّٰهِ فَإِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَايَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا خَلُصَ لَهُ وَلَا تَقُولُوْا: هٰذَا لِلّٰهِ وَلِلرَّحِمِ، فَإِنَّهُ لِلرَّحِمِ وَلَيْسَ لِلّٰهِ مِنْهُ شَيْءٌ، وَلَا تَقُولُوْا: هٰذَا لِلّٰهِ وَلِوُجُوْهِكُمْ، فَإِنَّهُ لِوُجُوْهِكُمْ وَلَيْسَ لِلّٰهِ مِنْهُ شَيْءٌ]

[الصحیحة : ۲۷٦٤]

(بیشکه الله عز وجل فرمائی. زهٔ په دوه برخه دارو کښے غوره برخه داریم، څوك چه ماسره په یو عمل کښے یوتن شریك کړی نو هغه زما د شریك لپاره دے، اے خلکو ! تاسو خپل عملونه صرف د الله لپاره خالص کړئ ځکه الله عز وجل صرف هغه عمل قبلوی کوم چه هغهٔ لپاره خالص شوے وی، او تاسو داسے مهٔ وایئ چه دا د الله لپاره دے او دا د خپلولئ لپاره، ځکه دا د خپلولئ لپاره دے او د الله لپاره ددے نه هیڅ یوه برخه نهٔ ده، او تاسو داسے مهٔ وایئ چه دا د الله لپاره دے او ستاسو د مخونو لپاره، ځکه دا ستاسو د مخونو لپاره دے او د الله لپاره ددے هیڅ برخه نهٔ ده)۔

۳ – سلمه بن اکوع ﷺ وائی : کله به چه مونږ یو سړے ولیدهٔ چه په خپل ورور به ئے لعنت وایهٔ نو مونږ به دا ګنړله چه دهٔ د غټو ګناهونو یوے دروازے ته راتګ کړے۔

[رواه الطبرانی فی الأوسط بإسناد صحیح، کما فی المجمع :۸/ ۷۲، وهو فی السلسلة : ۲٦٤۹]

انس ﷺ فرمائی : یو بودا سړے د نبی ﷺ سره د ملاویدو لپاره راغے، نو خلکو دهٔ لپاره په

ځانې فراخولو کښې روسته والے وکړو، نو نبي ﷺ وفرمايل :
[لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ يَرْحَمْ صَغِيْرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيْرَنَا]
(د هغه كس مونږ سره هيڅ تعلق نشته چه هغه زمونږ په ماشوم رحم او زمونږ د مشر عزت نهٔ كوی). [رواه الترمذى وهو فى الأدب المفرد للبخارى]

٤ – ابن مسعود ﷺ نه ددے آيتِ كريمه په باره كښې نقل دی : ﴿وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً﴾ [حديد:۲۷] (او مونږ ددهٔ د تابعدارو په زړونو كښې رحمت او شفقت اېښے وو).

ابن مسعود ﷺ فرمائي : ماته نبي ﷺ وفرمايل : اے عبد الله بن مسعود! ما وويل : حاضر يم يا رسول الله ! درے ځله ئے دا آواز وكړو. وے فرمايل : تاته پته شته چه د ايمان كومه كړئ ډيره مضبوطه ده ؟ ما وويل : الله او رسول ښهٔ پوهيږی ! وے فرمايل : د ايمان په كړيو كښے مضبوطه كړئ د الله لپاره دوستی كول دی او د هغهٔ لپاره دشمنی كول. اے عبد الله بن مسعود ! ما وويل : لبيك يا رسول الله ! درے ځله ئے دا آواز وكړو. وے فرمايل : تاته معلومه ده چه په خلكو كښے غوره كس څوك دے ؟ ما وويل : الله او رسول ښهٔ پوهيږی ! وے فرمايل : په خلكو كښے بهترين هغه څوك دے چه په دوئ كښے د تولو نه بهترين عمل والا وی، هر كله چه په خپل دين باندے پوهه لری. اے عبد الله بن مسعود ! ما وويل : لبيك يا رسول الله وسعديك ! درے ځله ئے دا آواز وكړو. وے فرمايل : تاته پته شته چه په خلكو كښے څوك ډير زيات پوهه دے ؟ ما وويل : الله او رسول ښهٔ پوهيږی ! وے فرمايل : په دوئ كښے ډير پوهه هغه كس دے چه د خلكو د اختلاف په وخت د هر څانه زيات حق پيژنی، اگركه ددهٔ په عمل كښے كمی كوتاهی ولے نهٔ وی، اگركه دے په خپل كناتی باندے ولے نهٔ خوئيږی ...... الحديث.

[رواه الحاكم فى تفسير سورة الحديد، وصححه وقال الهيثمى : رجاله رجال الصحيح، ما خلا بكير بن معروف وثقه أحمد. وقال معلق المستدرك : والحديث حسن : ۷/ ۲٦۱]

نو په دے حديث كښے بصيرت او حق پيژندو طرفته ډير زيات ترغيب دے، اگركه په عمل كښے ئے څهٔ كمی كوتاهی ولے نهٔ وی. اوكه چرے دے سره ئے په غير د كوتاهئ نه نيك عمل هم وی نو بيا دے څهٔ خيال دے ؟ [اَللّٰهُمَّ ارزُقْنَا]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۵ - فائده : عجیبه وعظونه

فضيل بن عياضؒ ته په مکه کښې يوه ډله راغله، وړته ئې وفرمايل: تاسو د کوم ځائے ئې؟ هغوئ ويل: د خراسان. ويلې: د الله نه يريږئ که بيا د هر ځائے سره تعلق لرئ، او په دے خبره پوهه شئ چه که يو بنده پوره نيك عمله وي او بيا د هغهٔ لپاره يوه چرګه وي او هغے سره بدي کوي نو دا تن د محسنينو نه نهٔ دے شمار. (عجيبه خبره ده).

ابو محمدؒ وائي: د ټولو نه زيات ناپوهه هغه تن دے چه تجارت ئې وپيژندهٔ او د هغے ګټه او ځائے وپيژندهٔ او بيا د هغے نه غافله شو يا ئې ناراستي وکړه، تردے چه تجارتونه او ګټې ختمے شوے او بيا په خپلو لاسونو چکونه لګوي، او خپيمانه وي خو خپيمانتيا ورله فائده نهٔ ورکوي.

نو دغه شان چا چه د رب کمال، د اعمالو مرتبے، احسان، اشفاق، وجل محبت، انابت، خشوع، خوف، خشيت، توکل، يقين، اخلاص، اخبات، تزکيه او د ايمان باقي مقامات وپيژندل او بيا ددے نه غفلت يا سستي کوي او ددے په حصول کښې کوشش نهٔ کوي، نو آيا ددے کس نه زيات تاواني او ناپوهه شته؟ بيا ددے هر څهٔ باوجود دے د علم او عقل دعوئ لري او خلکو ته فتوے او وعظ نصيحت کوي؟ او اے عزتمن لوستونکيه! تهٔ فکر وکړه هسے نهٔ تهٔ په دے خلکو کښې داخل ئې؟ او اے ددے حروفو ليکونکيه! فکر وکړه چه تهٔ خو به چرته ددے ناپوهانو نه نهٔ ئې؟ يا الله ببښنه وکړے! يَا غَفُوْرُ يَا رَحِيْمُ وَيَا بَرُّ يَا رَحِيْمُ!

۲ - زهٔ وايم: د تعجب او د خندا خبره خو داده چه مشرکان د خالق منونکي وو او د هغهٔ د رب العالمين کيدو او رازق کيدو قائل وو او دائې منل چه ژوندي کول او وژل هغه کوي، او دائې هم منله چه د دوئ تندي د هغهٔ په لاس کښې دي څنګه ئې چه خوښوي تصرف او واك په کښې چلوي، او د دوئ زړونه د هغهٔ په لاس کښې دي، او هغه په هر شئ قدرت لرونکے او په هر شئ خبر ذات دے او داسے نور. بيا هم هغوئ د هغهٔ د توحيد قائل نهٔ وو بلکه هغهٔ سره به ئې بل څوك برخه دار منلو او د بل چا بندګي به ئې کوله، هغهٔ نه سيوا بل چاته به ئې توجه کوله او بل څوك به ئې رابللو. هغوئ د خپل فقر او عاجزئ اعتراف کولو او دائې منله چه په سختو مصيبتونو کښې د الله نه سيوا بل څوك د دوئ نه ضرر نشي لرے کولے. نو د دوئ معامله څومره عَجيبه ده! دوئ څنګه دا دواړه عقيدے په خپلو دماغو کښې راجمع کړے وے حالانکه دا دواړه ضدين دي!

خو ددے نه زيات د تعجب وړ د عامو مسلمانانو معامله ده: هغه دا چه دوئ دا اقرار کوي چه

خالق حق دے، هغه يواځے په تمام عالَم كښے تصرف كونكے دے او هر يو شے د هغهٔ په لاس كښے دے ...... او دوئ د هغهٔ لپاره د عبادت اقرار كوى او د شرك د بدئ اعتراف كوى، او د خالق د توحيد اعلان ئے كړے او سره ددے نه د دوئ په زياتره خلكو كښے به تهٔ د الله سره محبت نهٔ وينے، نهٔ به تعظيم، نهٔ خوف، نهٔ خپل رب او معبود ته شوق او رغبت وينے، حالانكه هغه د دوئ نه زيات بے پرواه او دوئ هغهٔ ته ډير زيات محتاج دی۔ تهٔ به نهٔ وينے چه دوئ خپل رب ته خشيت كړے وی د خپل رب لپاره ئے وقار ساتلے وی، څهٔ ښائسته طاعت ئے كړے وی، څهٔ حياء او ادب ئے كړے وی۔ گويا كه دوئ په ژبه اقرار كړے خو دا خبره ئے لا زړونو ته نهٔ ده كوزه شوے ! يا دا چه دوئ صرف گمان قدرے كړے او يقين ئے لا نهٔ دے راغلے !

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَمَنْ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللهُ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ فَذٰلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمُ الْحَقُّ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنّٰى تُصْرَفُونَ ﴾ [يونس:۳۱، ۳۲]

(تهٔ پوښتنه وكړه چه تاسو ته د آسمان او زمكے نه روزی څوك دركوی، يا د غوږونو او سترگو مالك څوك دے، او څوك ژوندے د مړی نه او مړے د ژوندی نه راوباسی، او څوك د ټولو كارونو پروگرام كوی، دوی به جواب كښ همدا وائی چه الله۔ نو ووايه چه بيا تاسو د شرك نه ولے نهٔ بچ كيږئ۔ پس هغه الله ستاسو حقيقی پالونكے دے، نو بيا اوس د حق نه روستو سيوا د گمراهئ نه بل څه پاتے كيږی، بيا تاسو د حق نه كوم طرف ته اړولے شئ)۔

نو د الله په دے وينا كښے فكر وكړه ﴿ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ (آيا تاسو نهٔ يريږئ)۔

نو څوك چه د الله د ربوبيت اقرار كوی او د الله عز وجل نه نهٔ يريږی نو ددهٔ اقرار كوتاه او نيمگړے دے۔ او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللهِ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنّٰى تُؤْفَكُونَ ﴾ [فاطر:۳]

(اے خلقو ! تاسو په خپلو ځانونو باندے د الله نعمت راياد كړئ، آيا د الله نه سيوا بل څوك پيدا كونكے شته چه تاسو له د آسمان او زمكے نه رزق دركړی، هغهٔ نه سيوا هيڅوك د عبادت لائق نشته، نو ستاسو په عقل څهٔ تسه شوے)...........الله اكبر ! څومره عالمان، طالبان او اميان په دے مصيبت كښے پريوتی ! وينا كوی خو عمل نهٔ كوی بلكه سره باك نهٔ لری۔ د الله نه داسے بے پرواه دی لكه څنگه چه كافر بے پرواه دی۔ سبحان الله ! په دے كښے د الله څومره حكمتونه دی !

﴿حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴾ [قمر:۵] (دا د الله بليغ حكمت دے، خو مختلفو طريقو سره ويرول دوئ له هيڅ فائده نهٔ وركوی)۔ [اللهم اجعلنا من أهلك يا رب العالمين !]

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۶ - فائده

موسیٰ علیه السلام د خپل ځان نه ښکته کس - چه خضر علیه السلام دے - ونهٔ موندلو تردے چه ددهٔ نه سیوا د هر چانه ئے ځان وزګار کړو. نو دغه شان بنده د خپل مولیٰ قرب او نزدیکت او محبت نشي موندلے تر څو پورے چه د هغهٔ نه سیوا د هر یو شئ نه خپل ځان وزګار کړي. [حیاة الحیوان : ۱/ ۳۸۵]

۲۷ - فائده

علم ښائسته کونکی شیان

علم یو رنړا ده خو په زیاتره علماؤ کښے دا رنړا نشي موندلے. په دے کښے حکمت دادے چه دوئ هغه کارونه نهٔ کوی چه هغے سره علم ښائسته کیږي. دے وجے نه ضروري ده چه د علم ښائسته کونکی شیان ذکر کړو. هر عالم او طالبِ علم له ضروري دی چه خپل ځان په دے سره ډولی کړي، ځکه چه دا به ورته په دنیا او آخرت کښے فائده ورکړي، او په دے سره عالم د خلکو په سترګو کښے ډولی او منوّر ګرځي او د الله حبیب او دوست جوړیږي، ځکه چه الله پاکیزه خلك خوښوي.

علم ښائسته کونکی شیان ډیر دی چه زهٔ دا اول په اجمالي توګه ذکر کوم، بیا به ئے تفصیلي دلائل ذکر کوم ان شاء الله تعالیٰ :

* **علم خائسته کونکي شیان :**

۱ - ایمان.

۲ - په دنیا کښے بے رغبتي.

۳ - خپل ظاهري شکل او صورت (لباس او ویښتهٔ) برابرول.

٤ - سکینه او وقار اختیارول.

٥ - خاموشي اختیارول.

٦ - خشوع او خضوع کول.

٧ – ښائسته اخلاق چلول۔

٨ – تبسم او مسکا کول۔

٩ – علم ددې د اهل خلکو ترمينځه خورول، نۀ په دنيا دارو کښې۔

١٠ – ادب اختيارول۔

١١ – ذکر، عبادت، دعاء او خاصکر اوږدې سجدې کول۔

١٢ – د الله د ويرې نه ژړا کول۔

١٣ – لهوياتو، لغوياتو او د ډير مزاح نه ځان ساتل۔

١٤ – تول ګناهونه پريښودل، واړۀ وی که غټ۔

١٥ –د خپلې ښځې نه په مباح شهوت اخستو کښې کمې کول۔

١٦ – ډيرډير مسواك کول او د الله عز وجل کتاب لوستل۔

١٧ – هميشه په اوداسۀ او پاکئ کښې ګرځيدل۔

١٨ – دعاء النور ډيره ډيره لوستل : [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا ...... الحديث]

١٩ – پردو ښځو ته نۀ کتل ځکه دوئ ته په کتلو سره نور ختميږی۔

٢٠ – د قيامت د ورځې نه يريدل۔

٢١ – د منافقت نه يريدل۔

٢٢ – په وړوکی او غټ شئ کښې د سنت تابعداری کول۔

٢٣ – د ټولو نه غټ شے تقویٰ ده : ﴿ إِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا ﴾ [انفال:٢٩] (که چرې تاسو د الله نه ويرېږئ نو تاسو له به د حق او د باطل ترمينځه فرق کونکے شے درکړی)۔

٢٨ – فائده : د محبت اسباب

په اولنی جلد کښې مونږ ذکر کړی وو چه د محبت اسباب ډير دی، اوس مونږ نور هغه اسباب ذکر کوو چه الله مونږ ته ددې القاء کړې۔

١ – نو يو سبب جمال او ښکلا ده۔

٢ – قدرت او بهادری ده۔

٣ – علم او حکمت دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٤ – تاسره احسان او ښیګړه کول دی۔
٥ – تانه علاوه بل چا سره احسان او ښیګړه کول۔
٦ – یو سړے د ښائسته خوئے، خیر او عدل ار انصاف والا کیدل۔
٧ – همیش والے او پائیداری۔
٨ – بادشاهی او مالداری۔
٩ – تاسره د هغهٔ محبت۔
١٠ – کله ئے چه تهٔ راوغواړی هغه خبره منی۔

نو دا ټول کارونه او ددے په چندونو باندے زمونږ رب العالمین کښې موجود دی، نو هم هغه د محبت او تعظیم مستحق دے، ځکه جمال او ټول قِسمونه د کمال د هغهٔ دی لکه علم، قدرت، حکمت، احسان، عدل، بقاء، بادشاهی، مالداری، شرافت، او خپلو بندګانو سره د هَغهٔ مینه۔

* * * * * *

۲۹ - نفعمنه فائده : الله طرفته تيخته

او هغه دا چه الله رب العزت مونږ ته په خپل كتاب كښے امر كړے چه زما طرفته تيښته وكړئ، نو مونږ به هغهٔ طرفته څنګه تښتو ؟ او په دے باره كښے به كومه لاره اختيارو و ؟ دے لپاره چه مونږ د هغهٔ په خبره عمل كونكى جوړ شو ؟

نو ياد ساته چه الله سبحانه وتعالىٰ فرمايلى دى : ﴿ وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِاَيْدٍ وَّاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ اِنِّيْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ [ذاريات:٤٧-٥١]

(او مونږ آسمان په خپلو لاسونو جوړ كړے، او مونږ خامخا لوئے طاقت والا يو ○ او مونږ زمكه خوره كړے، نو مونږ ډير ښهٔ خورونكى يو ○ او مونږ د هر يو شئ جوړے پيدا كړى، دے دپاره چه تاسو نصيحت حاصل كړئ ○ نو اے خلقو ! تاسو ټول د الله په دربار كښ پناه واخلئ زهٔ بيشكه دَ هغهٔ له اړخه ستاسو لپاره صفا صفا ويرونكے يم ○ او تاسو د الله سره بل كوم معبود مهٔ جوړوئ، زهٔ بيشكه دَ هغهٔ له خوا ستاسو لپاره صفا صفا ويرونكے يم).

آيتِ كريمه نه معلومه شوه چه په مخلوقاتو كښے هر يو شے انسان لپاره جيل او د تنګسيا سبب دے چه ددے نه الله تعالىٰ ته تيښته پكار ده او هغه د پناه ځائے دے او سكون او اطمينان هغهٔ ته حاصليږى ځكه انسان د جيلونو او دشمنانو او هر هغه شئ او ځائے نه تښتى چه انسان په هغے كښے تنګيږى، دارنګه خپل حبيب او خوښ شئ او داسے ځائے طرفته تښتى چه په هغے كښے ددهٔ زړهٔ ته سكون او آرام رسى لكه دا شے په مشاهده كښے راځى او همدا خبره الله د انسان په فطرت كښے ايښے هم ده. په آيتِ كريمه كښے د (فرار) په كلمه كښے همدے معنىٰ ته اشاره ده.

د الله سره د ټولو نه لويه دشمنى داده چه انسان د هغهٔ په الوهيت او عبادت كښے څوك شريك كړى. ﴿ وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ ﴾ [ذاريات:٥١] (او الله سره بل معبود مهٔ جوړوئ).

نو څوك چه د خپل ځان نجات غواړى هغهٔ لپاره ضرورى ده چه :

١ - خپل عبادت خالص هغهٔ لپاره وګرځوى.

٢ - او څوك چه الله سبحانه طرفته نهٔ تښتى نو د هغهٔ په تباهئ كښے شك نشته.

٣ - او څوك چه شرك نهٔ پريدى نو هغه به خامخا تباه كيږى، لكه په ﴿ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ [ذاريات:٥١] جمله كښے ديته اشاره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا الله سبحانه طرفته تیښته په یو څو طریقو سره ده چه په دے کښے هره یوه طریقه بنده لپاره، که د نجات اراده لري، ضروري ده :

١ - کفر او ټولو ګناهونو نه په توبه کولو سره هغهٔ طرفته تښتیدل۔

٢ - کفر نه ایمان طرفته تښتیدل۔

٣ - د شیطان د طاعت نه د الله طاعت طرفته تښتیدل۔

٤ - د ناپوهئ نه علم طرفته تښتیدل۔

٥ - د هغهٔ د امر د اتباع او د هغهٔ په طاعت باندے د عمل کولو په ذریعه د هغهٔ د عذاب نه د هغهٔ رحمت طرفته تښتیدل۔

٦ - د شرك نه توحید طرفته تښتیدل۔

٧ - الله نه سیوا د بل هر چانه تښتیدل او د الله په طاعت او په هغهٔ باندے په ایمان راوړلو کښے داخلیدل۔

حسین بن فضیل وائي : الله نه سیوا د بل هر چانه ځان وساتئ ځکه څوك چه الله نه سیوا بل چاته وتښتیدهٔ نو د هغهٔ نه نشي خلاصیدے۔

٨ - په عقیده، معرفت او بصیرت کښے د جهل نه علم حاصلولو طرفته تښتیدل۔

٩ - په قصد او نفعمن کوشش کښے د عمل د ناپوهئ نه عمل صالح طرفته تښتیدل۔

١٠ - د سستئ او ناراستئ نه کوشش طرفته تښتیدل۔ د کوشش نه مراد دادے چه انسان په عمل کښے رشتینوالے اختیار کړي او د سستئ د ګډون نه ئے بچ وساتي، او د نن صبا د وعدو او سپکاوی نه ئے وساتي۔

١١ - د اعتماد او د امید د وجے د تنګئ نه فراخئ طرفته تښتیدل۔ هغه داسے چه د انسان سینه د غمونو او خفګانونو او ویرو نه ډکه وي که دا دهٔ د نفس سره تعلق لري یا د اهل او عیال او مال سره تعلق لري، ددے تنګئ نه د سینے فراخئ طرفته تښتیدل، یعني په الله باندے توکل، په هغهٔ ښهٔ ګمان او د هغهٔ نه د خیر توقع او امید لرلو طرفته تلل۔

لنډه دا چه : ددے صفاتو خاوند صرف په الله سره آرام مومي او صرف په هغهٔ سره خوشحالیږي، او د الله نه سیوا که بل هر شے ترے فوت شي په هغے غم نهٔ کوي، صرف الله ته خپل احتیاج ښکاره کوي، او صرف د الله د رضامندئ په موافقت سره خوشحالیږي، او صرف په هغه شئ آرمان کوي چه د الله د حق نه ترے پاتے شي، او صرف ددے نه یریږي چه چرے د الله د سترګے نه پریے نهٔ وځي او چرے الله ترے پرده ونهٔ کړي۔ نو دهٔ هر څهٔ په الله باندے وي او الله لپاره

وي او الله سره وي، دده مزل همیشه الله طرفته وي. دهٔ ته دده مقصد راپورته شوے وي نو هغے طرفته ئے بدیے وهلے وي. دهٔ ته د نفس برخے آوازونه کوي چه مونږ طرفته راشه او دے وائي : زهٔ خو صرف هغه څوك غواړم چه کله ماته هغه حاصل شي نو ماته هر شے حاصل شو، او که چرے هغه راته فوت شو نو هر شے راته فوت دے، دے د الله په اخلاص سره د مخلوق د ځان ښودئ نه وتے وي او د مخلوق سره چه معامله کوي نو د خپلے برخے نه وتلے وي، او د الله د حکم سره د خپلے برخے نه خالي وي چه دده دا برخه د هغهٔ د امر سره ټکراؤ شوے ده، او که چرے ټکراؤ شوے نهٔ وي نو بیا دده داسے برخه چه د الله د امر په پوره کولو کښے مدد کوي نو په دے کښے باك نشته.

۱۲ - د الله نه د غافله کیدو نه د هغهٔ ذکر طرفته تښتي.

۱۳ - هغهٔ ته د کم رغبت کولو نه کامل رغبت طرفته تښتي.

۱٤ - د هغهٔ د مکر او تدبیر نه د دے خطرے کیدو نه د هغهٔ ویرے طرفته تښتي.

۱۵ - د هغهٔ د پریښودو نه هغهٔ طرفته هجرت کولو ته تښتي.

۱٦ - د غرور نه خشیت او خشوع طرفته تښتي.

۱۷ - د هغهٔ نه د اعراض کولو نه هغهٔ ته مخامخ کیدو طرفته تښتي.

۱۸ - د گناه نه طاعت طرفته تښتي.

۱۹ - د لهو او لعب نه عبادت او په عمل کښے کوشش طرفته تښتي.

۲۰ - د خواهش تابعدارئ نه د امر تابعدارئ طرفته تښتي.

۲۱ - د هر هغه شئ نه چه د الله نه ئے اړوي هغهٔ طرفته تښتي.

د (فرار) په کلمه کښے دوه شیان دي (۱) ویره (۲) او غوښتنه. یعني د یو شئ نه پریدل او د بل تالاش کول.

۲۲ - بلکه د اعمالو د رسومو نه ددے اصولو ته تیښته پکار ده : یعني د اعمالو د ظاهري شکل نه د هغے حقائقو ته خو سره د حفاظت نه په ظاهري شکلونو ددے، ځکه رسوم د جسمونو حیثیت لري او حقائق د ارواحو پشان دي.

۲۳ - د خپل نفس د برخو نه ددے نه د ځان فارغولو طرفته تښتي. او دا خبره صرف هغه څوك پیژني چه د الله د معرفت، د هغهٔ د مراد، په بنده باندے د هغهٔ د حق او د بنده د خپل نفس پیژندو او د خپلو عملونو او ددے د آفتونو پیژندو اهتمام کوي.

او ډیر کرته د یو قوم اوچت مقاصد د نورو خلکو لپاره د نفس برخے گڼړل کیږي چه دوئ د هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

نه په الله پورې ښښنه غواړي او ددې نه هغهٔ طرفته ورتښتي، دا د خپلو ځانونو او د خپلو مطلبونو ترمينځه خنډ او رکاوټ ګڼړي. خو دا شې د زياتره خلکو لپاره نهٔ ښائيږي ځکه دوئ د الله بندګي د خپل نفس په برخو (او حقونو) باندې کوي او په دې باندې ئې کوي چه دوئ خپل مرادونه د هغهٔ نه پوره کړي. او پاتې شو د الله داسې عبادت کول چه هغه ئې د خپل بنده نه غواړي نو دا د نورو خلکو مرتبه ده.

٢٤ - بيا په آخره کښې ددې نه تښتي چه خپل ذهن ته دا تيښته حاضره کړي، بلکه خپله تيښته په الله سره ګڼړي او د الله له خوا ئې ګڼړي او الله طرفته ئې ګڼړي. والله اعلم.

[مدارج السالکين لابن القيم رحمه الله، بزيادة]

۳۰ - فائده : او حکمت

د دنيا معامله ټوله د تعجب ده، خو ليکن زهٔ د هغه انسان نه تعجب کوم چه په څلورو شيانو کښې په دهوکه کښې پروت دې :

۱ - **اول** : زهٔ د هغه انسان نه تعجب کوم چه هغهٔ سره فضول (زياتي) دنيا ده چه دا څنګه دا زياتي دنيا د خپلې فقيرئ او حاجت د ورځې لپاره نهٔ ليږي.

۲ - **دويم** : زهٔ د چليدونکې ژبې نه تعجب کوم چه دا څنګه خپلې خبرې کوي او د الله د ذکر او د هغهٔ د کتاب لوستلو نه اعراض کوي.

۳ - **دريم** : د هغه چا نه تعجب کوم چه هغه روغ موټ او وزګار دې، زهٔ ئې هميشه کوژه وينم، دې ولې په هره مياشت کښې درې روژې وغيره نهٔ نيسي، او دې د روژې په انجام باندې ولې فکر نهٔ کوي هر کله چه روژه ددهٔ مخې ته راشي.

٤ - **څلورم** : د هغه چانه تعجب کوم چه خپله بستره برابره کړي او تر سهاره پورې اودهٔ وي، دې د دوه رکعته تهجدو په فضيلت کښې ولې فکر نهٔ کوي چه د شپې په يو ساعت کښې پاسي.

۵ - **پنځم** : په هغه کس تعجب کوم چه په الله باندې زړورتيا کوي او هغه کارونه کوي چه الله ترې منع کړې حالانکه دهٔ ته علم وي چه د قيامت په ورځ به هغهٔ ته پيش کيږي، نو دې د خپل کار په انجام کښې ولې فکر نهٔ کوي چه ددې نه منع شي.

[تنبيه الغافلين : ۲/ ۵۱۷]

* اوځه هم د پنځو کسانو نه تعجب کوم :

۱ – د هغه مومن نه تعجب کوم چه په الله ایمان لري او دا مني چه هغه حق دے نو بیا ولے هغه نهٔ تالاش کوي او د هغهٔ په نزدیکت کښې سعي او کوشش نهٔ کوي، ځکه دا ډیره لرے خبره ده چه یو انسان خیر پیژني او په دے یقین لري او بیا هم هغه نهٔ تالاش کوي ؟

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾ [انفال : ۱]

نو د الله او رسول (ﷺ) طاعت د ایمان د غوښتنو نه یوه غوښتنه ده۔

۲ – او د هغه چانه تعجب کوم چه د الله عزتمن کتاب او پاکیزه پیغام ورته راشي او بیا هغه ددے نه هیڅ شے نهٔ زده کوي او تر مرګه پورے په دے باندے د خپل ځان پو هولو هیڅ کوشش نهٔ کوي ؟ ﴿ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِىْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا ﴾ [طه:۱۲٤] (چاچه زما د قرآن نه مخ واړولو نو ددهٔ ژوند به تنګ وي)۔

او فرمائي : ﴿ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا﴾ [یونس:۵۸] (نو په همدے دے دوئ خوشحالي کوي)۔

۳ – او د هغه چانه تعجب کوم چه د الله د دروازے نه مخ اړوي هغه نهٔ ټکوي اونهٔ ورته راځي او یقین پرے نهٔ لري، او د مخلوق دروازو ته راځي چه دوئ فقیران او بخیلان دي ! حالانکه الله سبحانه امر کړے چه مانه ئے غواړئ : ﴿ وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ﴾ [نساء:۳۲] (د الله د فضل نه سوال کوئ)۔

او د خپلے ورکړے وعده ئے کړے : ﴿ يَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ (هغه به ستاسو دعا قبلوي)۔

او هغهٔ د خپل نزدیکت خبر ورکړے : ﴿ فَاِنِّىْ قَرِيْبٌ ﴾ [بقره:۱۸٦] (ځکه زهٔ نزدے یم)۔

او خبر ئے ورکړے چه د هغهٔ دروازه هر وخت او هر چا لپاره پرانستے ده : ﴿ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ ﴾ [بقره:۱۸٦] (د رابلونکي دعا قبلوم هر کله چه ما رابلي)۔

او خبر ئے ورکړے چه مخلوق فقیر دے : ﴿ وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴾ [فرقان:۳] (دوئ د خپلو ځانونو لپاره نهٔ د نفعے مالکان دي نهٔ د ضرر)۔

نو بیا بل چاته څنګه نفع او ضرر ورکولے شي ؟

او د مخلوق دا خوئے دے چه دوئ نه څهٔ غواړے او خپل حاجت ورته پیش کوے نو ستا په غوښتو او حاجت پیش کولو دوئ تنګیږي۔ حالانکه الله په دے خوشحالیږي او رضا کیږي چه بنده هغهٔ طرفته رجوع وکړي۔

سره ددے چه الله ددے مخ اړونکي له هم عام نعمتونه ورکړي نو بیا په دے یو حاجت کښې په هغهٔ باندے ولے بدګماني کوي ؟

٤ – او د هغه چانه تعجب کوم چه د فقیرئ، بیمارئ، دشمنانو او هغه حالاتو نه یریږي چه

Maktaba Tul Ishaat.com

تراوسه لا نهٔ دی راغلی، دا ولے په خپل هغه رب باندے خپل ځان نهٔ سپاری چه د هغهٔ په لاس کښے د هر شئ واگے دے او هغه په هر یو شئ قادر او په هر شئ پو هه دے، او په خپل بنده باندے د خپل مور پلار، ښځے، بچو، دوستانو او ټول مخلوق نه زیات رحم کونکے دے۔ حالانکه په الله توکل کول د ټولو غمونو نه خلاصے او انسان لپاره مزیدار ژوند دے۔

توکل کونکے داسے خوشحاله وی لکه ته به وائے دے په جنت کښے دے۔ خو لیکن مونږ مخکښے ذکر کړل چه توکل هم صرف هغه خلکو ته نصیب کیږی چه هغوئ انابت، عبادت او توبے والا وی: ﴿ وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُه ﴾ [طلاق:۳] (څوك چه په الله ځان وسپاری نو هغه ورله کافی دے)۔

۵ – او د هغه چانه تعجب کوم چه د عمر قدر پیژنی او دا هم پیژنی چه دا لږ دے او دا ډیر قیمتی دے، بیا هم دا په لغویاتو یا گپ شپ یا گناهونو او مخالفتونو کښے ضائع‌کوی، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ ﴾ [فاطر: ۳۷] (آیا مونږ تاسو له دومره اندازه عمر نهٔ وو درکړے چه په هغے کښے څوك نصیحت اخستل وغواړی نو اخستلے ئے شی)۔

او فرمائی: ﴿ وَالْعَصْرِ ۙ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴾ [عصر:۲] (زمانه گواه ده چه انسان خامخا په تاوان کښے پروت دے)۔

★ بیا څهٔ **وخت پس** ماته په نورو پنځو **کارونو** باندے **تعجب** راغے :

۱ – زهٔ د هغه چانه تعجب کوم چه په هغهٔ باندے الله په خپل کتاب کښے خپله سودا پیش کړے او هغهٔ ئے ورته ډولی کړے او په هغے کښے ئے ورله مینه ورکړے، حالانکه دے د هغے نه مخ اړوی او په هغے کښے هیڅ رغبت نهٔ لری او د هغهٔ د آیتونو د آوریدو په وخت دهٔ په زړهٔ کښے د هغے د سرسبزئ، خوشبوئ او د هغے د حورو او غلمانو او نعمتونو په باره کښے په زړهٔ کښے هیڅ حرکت نهٔ راځی ؟ او دا خلك څومره ډیر دی !!

۲ – او د هغه چانه تعجب کوم چه دهٔ رب ورله په اور سره ویره ورکوی، د هغے په زنځیرونو، سختیو او عذابونو، حالانکه دا بیغمه دے هیڅ ویره نهٔ لری او نهٔ دے عذاب ته توجه کوی ته به وائے چه دا بیخوده دے او یا گویا دهٔ ته د الله له خوا امان راغلے !!

او همدے دواړو تعجبونو ته رسول الله ﷺ په خپلے دے وینا سره اشاره کړے : [مَا رَأَيْتُ مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا ، وَلَا مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا]

(ما د جنت پشان نعمت نهٔ دے لیدلے چه د هغے طلب کونکے اودهٔ وی، او نهٔ مے د اور پشان عذاب لیدلے چه د هغے نه تښتیدونکے اودهٔ وی)۔

[سنن الترمذی]

۳ - او زهٔ د هغه طالب العلم نه تعجب کوم چه په خپلو علومو او فنونو کښې کوشش کوی چه دا وسیله او ذریعه ده حالانکه خپل مقصود ته توجه نهٔ کوی چه هغه د نفس د تزکیئے او د ښو صفاتو علم دے، سره ددے چه نور علمونو همدے مقصد لپاره حاصلولے شی !! نو کله چه ددے مقصد نه خالی شی بیا ددے څهٔ فائده ؟ او په دے کښې بیا څهٔ خیر ؟

٤ - او د هغه چانه تعجب کوم چه په حساب کتاب ایمان لری او بیا ددے لپاره عمل نهٔ کوی او نهٔ د حرامو او اسراف نه ځان ساتی، سره ددے چه الله به د ذرے ذرے حساب اخلی : ﴿ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴾ [زلزال:۷]

(نو کوم کس چه دَیو وړوکی میږی په اندازه نیکی کړے وی هغه به ووینی)۔

۵ - او د هغه چانه تعجب کوم چه هغه د رسول الله ﷺ د محبت او په هغهٔ باندے د ایمان لرلو دعوئ لری او بیا سره ددے د هغهٔ سنت د یو داسے شخص د تقلید د وجے پریدی چه نهٔ هغه خپله پیژنی او نهٔ د هغه کتاب، علم او ایمان پیژنی۔ او ددے سره سره د سنت خلاف کوی او د سنت والو سره جنګ جګړے کوی، د هغهٔ د تقلید نه دفاع کوی او په دے باندے مناظرے کوی۔

په تقلید باندے د مناظرے کولو معنیٰ ده : د رسول الله ﷺ په مقابله کښې غیر رسول اوچت ښکاره کول، ((یعنی مُلا په رسول الله اوچتول))، نو ستا محبت څهٔ شو ؟ او ستا ادب څهٔ شو ؟ او په رسول الله ﷺ باندے ستا ایمان څهٔ شو ؟

ځوك چه په دے کښې فکر وکړی نو د هغهٔ تعجب زیاتیږی۔

۳۱ - فائده

کله چه ما (د معهد شرعی) طالب علمانو ته محاضره ورکوله نو الله زما په زړهٔ کښې دوه حکمتونه واچول :

۱ - **اول داچه** : مومن باندے واجب دی چه په هر یو شئ کښې د الله شکر وکړی، خصوصًا اهل علم خلك او دیته ډیر کم خلك توجه کوی۔

یو د هغے نه دادے : چه الله عز وجل دوه قِسمه خلك پیدا کړی : انسانان او پیریان۔ او الله مونږ په دے دواړو کښې چه کوم غوره قِسم دے په هغے کښې یُے پیدا کړو، یعنی انسانان۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ – بيـا ئے انسـانـان دوه قِسـمـه جوړ کړی (۱) نارينه (۲) او زنانه. او مونږه ئے ددے دواړو نه په غوره قِسم کښے پيدا کړو چه نارينه دی.

(۳) بيا ئے خپل مخلوق دوه قِسمه کړو: مومنان او کافران. او مونږه ئے په اولنو کښے وګرځولو چه مومنان دی.

(٤) بيـا ئے مومنان خلك دوه قِسمو ته وېشلي: علماء او اميان. او مونږ ته ئے علم رانصيب کړو او د علماؤ په طبقه کښے ئے وګرځولو: ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ [زمر:۹]

(اے زما نبی! تهٔ ووايه چه آيا پوهيدونکے او ناپوهه برابريدے شي).

﴿ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ اَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ ﴾ [ص:۲۸]

(آيا مـونـږ بـه ايمان او نيك عمل کونکی د هغه خلقو پشان جوړوو چه هغوئ په زمکه کښ فساد خورونکی دی، يا مونږ به د الله نه يريدونکی د فاجرانو پشان جوړوو)

﴿ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ﴾ [قلم: ۳۵] ﴿ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ﴾ [نساء:۳٤] (سـړی پـه ښـځو بانديے حاکمان دی، د هغه فضيلت په وجه کوم چه الله د هغوی نه بعضو لره په بعضو ورکړيدے). ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيْلًا ﴾ [اسراء:۷۰]

(او مـونـږ د آدم اولادو ته عزت ورکړے او دوی ته مو په درياب او اُوچه کښ د سفر کولو دپاره سورلئ ورکړے، او پاك خوراکونه مو ورکړی، او په خپلو ډيرو مخلوقاتو بانديے مو دوئ ته فضيلت ورکړے).

نـو پـه دے ټـولـو نـعـمـتـونو بانديے مونږ لره شکر کول واجب دی. او الله دا نعمتونه مونږ له په غيـر د غـوښتـلـو راکړی، دا خالص د الله رب العزت له خوا مونږ ته بخشش کړے شوی نعمتونه دی چـه مـونـږه ئے د خـلـکـو تـرمينـځه په دے جليل القدر نعمتونو بانديے ونازولو اګرکه د الله د نعمتونو انتهاء نشته.

۲ – **دويم حکمت**: بيـا دے تـه ګـوره چه الله سبحانه په دغه پورتنو نعمتونو کښے چه کوم بهترين نـعـمـتـونـه دی، هـغـه ئے ددے نه د ښکته قِسم سره د مشابهت کولو نه منع کړی، لکه انسانان ئے د پيـريـانـو سـره د مـشـابـهـت کـولـو نه منع کړی چه دوئ په ګس لاس به خوراك څښاك نهٔ کوی، د سر وېښتـهٔ بـه خوارهٔ وارهٔ او شيشك نهٔ پريدی بلکه وېښتان به ګومنځ کوی. لکه حديث کښے دی: (دا ددے نه بهتره ده چه يو کس په تاسو کښے په داسے حالت کښے راشی لکه تهٔ به وائے دا شيطان دے).

[رواه أه السنن كما فى المشكاة]

دارنګ پـه مـانـځـه کښے د شيطـان د کيـناستو پشان ناستے نه ئے منع کړے. په مانځه کښے د

وبښتو غوته کولو نه ئے منع کړے او فرمائي چه دا د شیطان اندے دے۔ [رواه أبوداود]
په دے مضمون ګنړ حدیثونه راغلي۔
او سړي ئے زنانو سره د مشابهت کولو نه منع کړي: [لَعَنَ اللّٰهُ الْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ]
(الله دے په هغه نارینه ؤ لعنت وکړي چه د هغویٔ د زنانو سره ځان مشابه کوی)۔[صحيح بخاری]
او نبی ﷺ هغه سړے بقیع ته وشړلو چه هغهٔ د ښځو سره د مشابهت لپاره خپل لاسونه او خپے رنګ کړے وے۔
او نبی ﷺ مومنان د کافرانو سره د مشابهت نه منع کړي لکه فرمائي: [لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا]
(د هغه چا مونږ سره هیڅ تعلق نشته چاچه زمونږ نه سیوا د اغیارو سره ځان مشابهت کوی)۔
[مسند أحمد]
او فرمائي: [مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ] (چاچه د کوم قوم سرهٔ ځان مشابه کړو، د هغویٔ نه به حسابیږی)۔ [سنن الترمذی]
او د اوچت انسان (مؤمن) لپاره جائز نهٔ دی چه د ښکته انسان (کافر) تقلید وکړی، ځکه کافران خو په ټول مخلوق کښے بدترین خلك دی نو بیا ځنګه غوره انسانانو له په دے باندے غیرت نهٔ ورځی!
او علماء ئے د عوامو فاسقانو سره د مشابهت نه منع کړی، لکه دیته په دے آیتِ کریمه کښے اشاره ده: ﴿ فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ ﴾ [اعراف:۱۷۵] (نو هغه ددے آیتونو نه ووانهٔ نو شیطان هغهٔ پسے ولګیدهٔ)۔
یعنی د علم او د تقویٰ لباس ئے وښکهٔ او د عوامو فاسقانو غوندے ددے نه ووانهٔ۔
دا وجه ده، عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي:
(قرآن والا له پکار دی چه په خپله شپه باندے وپیژندے شی هر کله چه نور خلك اودهٔ وی، او په خپله ورځ باندے وپیژندلے شی هر کله چه خلك کوژه وی، او په خپلے خاموشئ سره وپیژندلے شی هر کله چه خلك ګپ لګوی، او په خپلے خشوع وپیژندے شی هر کله چه خلك کبر کوی۔
او قرآن والا له مناسب نهٔ دی چه د غصے والا سره غصه او د خواهش والا سره خواهش وکړی په داسے حال کښے چه ددهٔ په زړ کښے د الله کلام وی)۔
[ذكره البيهقي في الشعب وغيره]
ځینو حکماؤ ویلی دی: علم حاصلول آسان دی خو ددے لحاظ ساتل ملا ماتوی، مګر د الله په رحمت او فضل وکرم سره۔
[تاريخ المحاضرة في المعهد الشرعي: ۱٤۳۱، ربيع الأول: ۲۵]

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۲ ـ فائده : د نُور اسباب

ما د زیاتره خلکو په مخونو کښې فکر وکړو نو په دوئ کښې ما هغه رڼړا ونهٔ لیده چه هغه د اهلِ ایمان او اهلِ توحید په مخونو کښې وی، نو ما ددې په سبب کښې فکر وکړو، نو یو څو کارونه ما وموندل او هغه مې ولیکل، کیدے شی چه الله ما او نورو مسلمانانو ته په دے سره نفع ورکړی۔

دا خبره یاد لره ! چه کله چه دنیا کښې د انسان سره نور او رڼړا نهٔ وی نو په قیامت کښې به هم دے بے نوره وی، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ ارۡجِعُوۡا وَرَآءَ كُمۡ فَالۡتَمِسُوۡا نُوۡرًا ﴾ [حدید:۱۳]

(چه تاسو شاته واپس شئ، بله کومه رڼړا تالاش کړئ، بیابه د دواړو ډلو ترمینځه یو دیوال ووهلے شی)۔

دے وجے نه عاقل له ضروری دی چه د نور په حاصلولو کښې پوره کوشش او کامل جد وجهد وکړی، کیدے شی چه رحمٰن ذات په خپل رحمت سره ورته رڼړا ورکړی او پوره ئے کامیاب کړی۔

د انسان کمال په دوه شیانو کښې دے : (۱) حیات (۲) نور۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ اَوَ مَنۡ كَانَ مَيۡتًا فَاَحۡيَيۡنٰهُ وَجَعَلۡنَا لَهٗ نُوۡرًا يَّمۡشِىۡ بِهٖ فِى النَّاسِ كَمَنۡ مَّثَلُهٗ فِى الظُّلُمٰتِ لَيۡسَ بِخَارِجٍ مِّنۡهَا ﴾ [انعام: ۱۲۲]

نو د تیارے د راوتو او د لارے موندو لپاره رڼړا ته ضرورت دے، او ددے مثال لکه د گاډی دے چه ددے ژوند ددے سټارټ کول دی، او ددے رڼړا ددے سترگے (بلپونه) دی۔ نو د گاډی نه تهٔ تر هغے پورے فائده نشے اخستے ترڅو چه دے سټارټ کړے نهٔ وی او د شپے دے په هغے کښې بلپونه لړولی نهٔ وی۔

په فوائد اول جلد کښې مونږ د **حیات** (ژوند) اسباب ذکر کړی وو۔ دلته مونږ د رڼړا **اسباب** ذکر کوو۔ او رڼړا ورکونکے الله تعالیٰ دے :

۱ ـ **اول سبب** : صحیح ایمان : ځکه مخ او زړهٔ صرف په همدے سره روښانه کیږی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖۤ اُولٰٓـئِكَ هُمُ الصِّدِّيۡقُوۡنَ وَالشُّهَدَآءُ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ وَنُوۡرُهُمۡ ﴾ [حدید:۱۹]

(او کوم خلق چه په الله او دَ هغهٔ په رسولانو ایمان لری، همدا خلق د خپل رب په نیز صدیقین او شهیدان دی، دوئ ته به د دوئ اجر او رڼړا ملاویږی)۔

او فرمائی : ﴿ يٰۤـاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوۡا بِرَسُوۡلِهٖ يُؤۡتِكُمۡ كِفۡلَيۡنِ مِنۡ رَّحۡمَتِهٖ وَيَجۡعَلۡ لَّكُمۡ نُوۡرًا

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [حديد:۲۸]

(اے ایمان والو ! الله نه یریږئ او دَ هغهٔ په رسول ایمان ولرئ، نو هغه به تاسو له د خپل رحمت دوه برخے درکړی، او تاسو له به یوه رڼرا درکړی، چه ددے په مدد سره به تاسو وړاندے ځئ، او تاسو ته به ښښنه وکړی، او الله ډیر زیات ښښونکے، بیحده رحم کونکے دے)۔

په سورتِ حدید کښے الله تعالیٰ اول خپل معرفت، په هغهٔ باندے ایمان لرل او د هغهٔ د دین لپاره مال لګول ذکر کړی دی، بیائے ددے نه پس فرمایلی دی :

﴿ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ ﴾ [حديد:۱۲] (په کومه ورځ چه ته مومنان سړی او ښځے ووینے چه د دوئ رڼرا به د دوئ مخے ته، او د دوئ ښی طرفته منډے وهی)۔

بیائے د منافقانو نه رڼرا ختمه کړے : ﴿ يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ﴾ [حديد:۱۳]

(په کومه ورځ چه منافقان سړی او ښځے مومنانو ته وائی چه لږ مونږ ته انتظار وکړئ، دے لپاره چه مونږ ستاسو د رڼرا نه څهٔ حاصل کړو)۔

نو الله سبحانه دیته اشاره وکړه چه د نور لپاره سبب صحیح ایمان۔او د هغهٔ په لاره کښے مالونه لګول دی۔

۲ – او دا دویم سبب دے۔

۳ – دریم سبب : اتباع السنة : ځکه سنت نور او رڼرا ده لکه الله تعالیٰ دیته اشاره کوی :

﴿وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ ﴾ [حديد:۲۸]

(او تاسو له به یوه رڼرا درکړی، چه ددے په مدد سره به تاسو وړاندے ځئ)۔

په حدیث کښے دی : [تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْحَنِيْفِيَّةِ السَّمْحَةِ الْبَيْضَاءِ لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا] (ما تاسو د توحید په خالص سپین دین باندے پریښودئ چه ددے شپه هم د ورځ غوندے روښانه ده)۔

[رواه الضياء: في الأحاديث المختارة وغيره بألفاظ قريبة منه]

٤ – څلورم : د رحمٰن ذات اوږد عبادت کول او شپه او ورځ په دے ښائسته کول :

ځینے سلفو ویلی دی : څوك چه د شپے ښائسته مونځ کوی، د ورځے د هغهٔ مخ ښائسته کیږی۔

فضیل بن عیاضؒ ته چا وویل : څهٔ وجه ده چه په عبادت کښے د کوشش کونکو مخونه روښانه وی ؟ وے فرمایل : ځکه دوئ د رحمٰن ذات سره یواځے شوی دی نو هغهٔ دوئ ته د خپلے رڼرا نه رڼرا ورکړے۔ [أين نحن من هؤلاء : ۱]

او دا خبره په تجربه کښے راغلے چه په زمکه او په خاورو باندے د خشوع سره سجده کول مخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیر زیات روښانه کوی، دغه شان زړهٔ منور کوی۔ خو غم دادے چه دا کار نن صبا په ډیرو کمو خلکو کښے لیدل کیږی ځکه خو د دوئ نور هم نهٔ ښکاری، حالانکه الله تعالیٰ په خپل عبادت کښے نور پیدا کړے، نو څوك چه ددے نه اعراض کوی او یا د چرګانو غونته ټونګے وهی نو دهٔ ته به څنګه رڼړا ملاؤ شی ؟

نو اے نیك عمله وروره ! رحمٰن ذات ته ډیرے ډیرے سجدے لګوه !

۵ – **پنځم سبب** : د الله ذکر او د قرآن کریم تلاوت کول : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴾ [نساء: ۱۷٤]

او فرمائی : ﴿ قَدْ جَآءَكُمْ مِنَ اللهِ نُوْرٌ وَّكِتَابٌ مُّبِيْنٌ يَهْدِىْ بِهِ اللهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيْهِمْ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيْمٍ ﴾ [مائده:۱۵ ، ۱٦]

(تاسو ته د الله د طرف نه نُور او ښکاره کتاب راغلے۔ الله ددے په ذریعه د سلامتیا لارو طرف ته د خلقو لارښوونه کوی هغه څوك چه د الله رضا طلب کوی او دوی په خپل توفیق سره د تیارو نه راوباسی او رڼړا طرف ته ئے راولی او دوی نیغے لارے طرف ته رسوی)۔

او فرمائی : ﴿ الٓر كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ ﴾ [ابراهيم:۱]

(آلر، قرآن یو داسے کتاب دے چه دا مونږ په تا باندے نازل کړے، دے لپاره چه ته خلق د دوی د رب په حکم سره دتیارو نه وباسے رڼړا طرفته ئے بوځے)۔

او په سورتِ حدید کښے فرمائی : ﴿ هُوَالَّذِىْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ وَاِنَّ اللهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [حدید:۹]

(هم هغه په خپل بنده باندے ښکاره او په ډاګه آیتونه نازلوی دے لپاره چه تاسو د تیرو نه وباسی او رڼړا ته مو ورسوی، او بیشکه الله ستاسو لپاره ډیر زیات شفقت کونکے مهربان دے)۔

او په حدیث کښے دی : [عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ فَإِنَّهُ نُوْرٌ لَّكَ فِى الْأَرْضِ وَذِكْرٌ لَّكَ فِى السَّمَاءِ]

(د قرآن کریم تلاوت او د الله ذکر راټینګ کړه ځکه چه دا ستا لپاره په زمکه رڼړا او په آسمان کښے د یادیدو سبب دے)۔

[مسند احمد، الصحیحة : ۲/ ۸۷، وتقدم نحوه فی : ۱/ ۵۰]

او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا هُوَ الَّذِىْ يُصَلِّىْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴾ [احزاب:٤١-٤٣]

(اے ایمان والو ! الله ښهٔ یاد کړئ او صبا او بیګاه د هغهٔ تسبیح بیان کړئ هغه حق ذات په تاسو باندے خپل رحمت رالیږی، او د هغهٔ ملائك ستاسو لپاره د رحمت دعاء کوی، دے لپاره چه الله

تاسو د تیارو نه وباسي او د حق رڼا طرفته مو ورسوي، او الله په مومنانو بیحده رحم کوونکے دے)۔
او ددے سبب ذکر دے۔
او الله تعالیٰ په سورتِ نور کښے د رڼا حاصلولو لپاره ګڼړ اسباب ذکر کړي، چه یو په هغے کښے : قرآن او ایمان دے۔
٦ – او په جوماتونو کښے کیناستل۔
٧ – د الله ذکر او تسبیح۔
﴿ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴾ [نور:٣٦، ٣٧]
(هغه چراغ په داسے کورونو کښې دے چه دَ هغے په باره کښې دَ الله حکم دے چه ددے قدر او عزت وکړے شي او په هغے کښې صرف دَ هغهٔ نوم واخستے شي، په دے کورونو (یعنی جوماتونو) کښې صبا بیګاه دَ هغهٔ تسبیح داسے خلق کوي ○ چه هغوئ لره هیڅ تجارت او اخستل او خرڅول د الله د یاد نه نهٔ غافله کوي۔ دوئ د هغه ورځے نه یریږي کله چه (د ډیرے ویرے ترهے په وجه) د خلقو زړونه او د دوئ سترګے اوړي راوړي)۔
٨ – د مانځه پابندي۔
٩ – زکاة ورکول۔
١٠ – خوفِ آخرت۔
لکه چه دا کارونه په دغه آیتِ کریمه کښے ذکر دي۔
خاصکر د آخرت خوف سره خو زړهٔ ډیر زیات روښانه کیږي۔
او ددے برعکس الله فرمائي :
﴿ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ظُلُمٰتٌ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰهَا وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴾ [نور:٤٠]
(یا (د دوئ عملونه) د یو ژور سمندر د دننه تیارو پشان دي چه هغه چپے پټ کړے وي، د هغے دپاسه یوه بله چپه وي چه د هغے دپاسه وریځ وي، ګویا تیارو دپاسه تیارے وي، که انسان خپل لاس را اوکاږي نو نژدے نهٔ دے چه هغه ووینی، او چاله چه الله رڼا ورنهٔ کړي، هغهٔ له د هیڅ ځی نه رڼا نشی ملاویدلے)۔
١١ – د آیتِ کریمه په روستنئ جمله کښے دعاء او الله نه غوښتو ته اشاره ده۔
١٢ – او الله دا خبر ورکړے چه د الله په مخلوقاتو کښے فکر کولو سره د انسان زړهٔ روښانه

Maktaba Tul Ishaat.com

کیږي او ایمان زیاتیږي۔ لکه فرمائي :

﴿ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّیْرُ صٰٓفّٰتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِیْحَهٗ وَ اللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِمَا یَفْعَلُوْنَ ﴾ [نور:٤١]

(اے زما نبي ! آیا تهٔ گورے چه په آسمانونو او زمکه کښې تمام مخلوقات او په فضا کښې الوتونکي مرغۍ، ټول دَ الله تسبیح بیانوي۔ هر مخلوق خپل مونځ او تسبیح پیژني، او الله د دوئ ټولو دَ اعمالو نه ښهٔ خبر دے)۔

۱۳ – بیا الله ذکر کړي چه د الله او د رسول ﷺ طاعت کول، د الله نه خشیت او تقویٰ کول هغه اسباب دي چه دے سره رڼړا مضبوطیږي، لکه فرمائي :

﴿ وَمَنْ یُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَیَخْشَ اللّٰهَ وَیَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴾ [نور:٥٢]

(او کوم خلق دَ الله او دَ هغهٔ د رسول اطاعت کوي، او الله نه یریږي، او دَ هغهٔ خیال ساتلو سره دَ تقوٰی لاره اختیاروي، نو همدا خلق کامیاب کیدونکي دي)۔

۱٤ – او په سورتِ نور کښې دا هم ذکر شوي چه بے حیائي او زنا پرېښودل د رڼړا حاصلولو لوئے سبب دے، ځکه زنا زړهٔ او مخ خیرنوي او توروي ئې۔

۱۵ – دارنگه نظر ښکته ساتل زړهٔ او مخ روښانه کوي، دا وجه ده، الله تعالیٰ د نور او رڼړا والا آیت، دے حیایئ د لارو بندولو نه روستو ذکر کړے، لکه فرمائي :

﴿ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِیْهَا مِصْبَاحٌ ﴾ [نور:٣٥]

(الله دَ آسمانونو او زمکے نُور دے، دَ هغهٔ دَ رڼړا مثال دَ یو طاق دے چه په هغے کښې یوه ډیوه وي)۔

۱٦ – د حلالے جماع ډیروالي سره زړهٔ صفا کیږي خو د مخ رڼړا ختموي۔ لکه چه دا خبره په مشاهده کښې راغلے۔

۱۷ – په حدیث شریف کښې دي : [اِیَّاكَ وَكَثْرَةَ الضِّحْكِ فَاِنَّهٗ یُمِیْتُ الْقَلْبَ وَیَذْهَبُ بِنُوْرِ الْوَجْهِ] (ځان د ډیرے خندا نه ساته چه دا زړهٔ وژني او د مخ رڼړا ختموي)۔

[مسند احمد، سنن ترمذی]

۱۸ – سکینه او خشوع دواړه مخ او زړهٔ روښانه کوي۔ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ﴾ [حدید:١٦]

(آیا ایمان والو لپاره وخت نهٔ دے راغلے چه د دوئ زړونه د الله یاد ته او کوم حق (یعنی قرآن) چه نازل شوے هغے ته نرم شي)۔

په سورتِ حدید کښې د زړهٔ د نور او حیات اسباب ذکر دي، او دا هم د دغه اسبابو نه دے۔

يو شاعر وائي :

وَعَلَى التَّقِيِّ إِذَا تَرَاسَخَ فِي التُّقىٰ تَاجَانِ تَاجُ سَكِيْنَةٍ وَجَمَالِ

(متقي چه كله په خپله تقوىٰ كښې مضبوط شي نو د هغهٔ په سر د سكينې او وقار دوه تاجه وي)۔

د امام مالك رحمه الله په مدح كښې راځي :

يَدَعُ الْجَوَابَ فَلَا يُرَاجَعُ هَيْبَةً وَالسَّائِلُوْنَ نَوَاكِسُ الْأَذْقَانِ

عِزُّ الْوَقَارِ وَنُوْرُ سُلْطَانِ التُّقىٰ فَهُوَ الْمَهِيْبُ وَلَيْسَ ذَا سُلْطَانِ

(جواب پريدي خو څوك ورته مراجعه نشي كولے بلكه پوښتنه كونكو سرونه ښكته كړي وي، دوئ لره يرونكے شے د وقار عزت او د تقوىٰ د بادشاهئ رڼړا ده، نهٔ بادشاهي)۔

[سير أعلام النبلاء في مدح مالك رحمه الله]

١٩ – شرعي حجاب هم د ښځے مخ او زړهٔ روښانه كوي، لكه ديته په سورتِ نور كښې اشاره شوې۔ الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّامَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ﴾ [نور:٣١]

بيا ئے ددے نه پس په آية النور كښې د رڼړا بيان كړے۔

عبد السلام بالي په (الصارم البتار) كښې فرمائي چه : د ښځے د خپل رب عبادت او پرده دا دواړه حلال جادو دے چه خلك متاثره كوي۔

٢٠ – **مسواك** : سره غاښونه او مخ روښانه كيږي :

د ابو درداء ﷺ نه نقل دي فرمائي : تاسو مسواك كوئ ځكه په دے كښې څليرشت فائدے دي چه يوه فائده ئے دا ذكر كړے چه ملائك ورسره مصافحه كوي ځكه ددهٔ مخ روښانه او غاښونه ئے پرقيدونكي وي۔

[التلخيص الحبير : ١/ ٧١، الدين الخالص : ١/ ٥٢٩]

٢١ – د جُمعے په ورځ سورتِ كهف لوستل : ابو سعيد خدري رضى الله عنه د نبي ﷺ دا ارشاد نقل كوي : [مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهٗ مِنَ النُّوْرِ مَا بَيْنَ الْجُمْعَتَيْنِ]

(څوك چه د جُمعے په ورځ سورتِ كهف ولولي نو ددهٔ لپاره به د دواړو جمعو ترمينځه رڼړا وركړے شي)۔

[حاكم، بيهقي، دا صحيح حديث دے، كما في صحيح الجامع : ٦٤٧٠]

د ابو سعيد خدري ﷺ په بل حديث كښې دي : [مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ النُّوْرُ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ الْعَتِيقِ]

(څوك چه د جُمعې په ورځ سورتِ كهف ولولي هغهٔ له به ددهٔ د ځائې نه تر بيت الله شريف پورې رڼا وكړې شي)۔ [روه البيهقي في شعب الإيمان، صحيح الجامع : ٤٦٧١]

۲۲ - ظاهري صفائي او پاكيزگي ځكه چه دا هم مسنون ده او رڼا زياتوي :

﴿ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴾ [بقره:۲۲۲]

(يقيناً الله توبه ويستونكي خوښوي او ښهٔ پاكي كونكي خوښوي)۔

نو مسلمان له پكار دي چه خپل ځان او لباس پاك او صفا ساتي لكه څنگه به چه رسول الله ﷺ ددې اهتمام كولو۔ او الله تعالى فرمائي :

﴿ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾ [مدثر:٤] (او خپلې جامې پاكې ساته)۔

ځينې اهلِ ايمان د ظاهري صفايئ خيال نهٔ ساتي حالانكه دا لويه كوتاهي ده۔

۲۳ - د ټولو غټو او وړو گناهونو نه توبه ويستل : ځكه گناهونه د هرې تيارې او خرابۍ جرړه ده بلكه همدا په خپله هم تيارې دي، ولې چه گناه سره اول په زړهٔ كښې تيارهٔ پيدا كيږي بيا په مخ كښې او بيا اقوالو، اعمالو او احوالو ته سرايت كوي۔ الله تعالىٰ فرمائي :

﴿ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللهُ لَهُ نُوْرًا فَمَا لَهُ مِنْ نُّوْرٍ ﴾ [نور:٤٠]

(او چاله چه الله رڼا ورنهٔ كړي، هغهٔ له د هيڅ ځي نه رڼا نشي ملاويدلې)۔

دا خبره ئې هغه وخت ذكر كړې هر كله ئې چه په دې وينا سره د كافر تيارې ذكر كړې دي :

﴿ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ ﴾ [نور:٤٠]

(او يا د كافرانو عملونه د هغه تيارو پشان دي چه هغه په ډير زيات چپې وهونكي سمندر كښې وي)۔

امام مالكؒ ته چه امام شافعيؒ مخامخ شو نو ورته ئې وفرمايل : اې ځويه ! الله په تا باندې رڼا اچولې نو هغه د خپلې گناه په تيارهٔ سره مهٔ وژنه۔

وكيعؒ فرمائي :

فَإِنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ مِنْ اِلٰهٍ ✱ وَنُوْرُ اللهِ لَا يُعْطٰى لِعَاصٍ

(علم د الله له خوا رڼا ده او د الله رڼا گنهگار ته نهٔ وركړې كيږي)۔

د گناهونو ضررونه مونږ په (اولنى جلد) كښې ذكر كړي او دا ډير زيات دي، چه يو ضرر د هغې دادې چه دا د زړهٔ او مخ رڼا ختموي۔

۲٤ - بل سبب د نور دعاء ده، كومه چه امام بخاريؒ په خپل صحيح كښې ذكر كړې۔ رسول الله ﷺ به دا دعا په تهجدو كښې په سجده كښې او د سهار مونځ لپاره به چه كله جومات ته تللو نو

په دې وخت کښې به ئې غوښتله۔ او هغه داده:

[اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا، وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا، وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا، وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْرًا، وَعَنْ شِمَالِيْ نُوْرًا، وَفَوْقِيْ نُوْرًا، وَتَحْتِيْ نُوْرًا، وَأَمَامِيْ نُوْرًا، وَخَلْفِيْ نُوْرًا، وَفِيْ شَعْرِيْ نُوْرًا، وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا، وَفِيْ بَشَرِيْ نُوْرًا، وَاجْعَلْ لِّيْ نُوْرًا، وَأَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا، وَآتِنِيْ نُوْرًا]

۲۵ - رشتینې تقویٰ اختیارول چه دا هم توله رنړا رنړا ده۔ الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنْ تَتَّقُوا اللهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا ﴾ [انفال:۲۹]

علماء فرمائی: د فرقان نه مراد نور، فراست او نصرت وغیره دی چه دا خامخا کیږی۔

۳۳ - خوشحالونکی فائده او قیمتی حکمت

د بنده کمال په دوه خبرو کښې دے (۱) علم (۲) ایمان او یقین۔

بنده ددے دواړو شیانو نه بغیر کمال نشی حاصلولے، نو څوك چه په تولو خلکو کښې زیات عالم او زیات یقین لرونکے وی نو دا په دوئ کښې د زیات کمال او فضیلت خاوند دے، او په همدے دوه شیانو سره د خلکو ترمینځه فرق او تفاوت واقع دے، بلکه خپله د علماؤ ترمینځه په دے کښې تفاوت دے۔ یو کس په دوئ کښې په یوه مرتبه کښې او بل په بله کښې۔ یو تن صرف خپل کور والا پیژنی او بل تن داسې مشهور وی چه تول عالَم ئې په ښائسته یادونو او ایمان سره پیژنی۔

دا وجه ده، الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللهِ إِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ﴾ [روم:۵٦]

(او چاله چه د ایمان او علم دولت ورکړے شوے وے هغوئ به وائی چه تاسو د الله د کتاب مطابق د حشر ورځې پورے پاتے شوئ)۔

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقّٰهَآ إِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴾ [قصص:۸۰] (او کوم خلق چه علم والا وو، هغوئ وویل: ستاسو په حال باندے افسوس دے، د الله ثواب زیات بهتر دے هغه کس لپاره چه ایمان راوړی او نیك عمل وکړی، او دا شے صرف صبر کونکو ته ملاویږی)۔

﴿ قَالَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ إِنَّ الْخِزْيَ الْيَوْمَ وَالسُّوْءَ عَلَى الْكَافِرِيْنَ ﴾ [نحل:۲۷]

(علم والا به وائی: بیشکه نن ورځ رسوائی او عذاب د کافرانو لپاره دے)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او فرمائي : ﴿ يَرْفَعِ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰت ﴾ [مجادلة:١١]
(الله به تاسو كښې دَ ايمان والو او دَ علم والو درجات پورته كړي)۔
په ډيرو آيتونو كښې الله تعالىٰ علم او ايمان يوځائې ذكر كړے۔ بلكه د سورتِ لقمان موضوع هم همدا دوه شيان دي۔
علماء فرمائي : په ايمان سره علم ډير زيات ښائسته كيږي ! او څوك چه دا دواړه جامے واغوندي نو دهٔ ډيرے ښائسته جامے واغوستے او ښائسته تاجونه ئے په سر كړل۔ او هم ديته رسول الله ﷺ په دے وينا كښې اشاره كړے :
[خَصْلَتَانِ لا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُنَافِقٍ : حُسْنُ سَمْتٍ وَلا فِقْهٌ فِي الدِّيْنِ]
(دوه خويونه په منافق كښې نهٔ راجمع كيږي : ښائسته وضع قطع او په دين كښې پوهه)۔
[رواه الترمذي :٢٦٨٤ ، وصححه الألباني ، المشكاة : ١]
نو ښائسته وضع قطع ايمان دے او په دين كښې پوهه علم دے۔ په علم سره د هر يو شئ حقيقت پيژندے كيږي او په دے سره نفعمن او ضرري شيان معلوميږي۔ او په يقين سره عمل حاصليږي ځكه څوك چه يو شے پيژني نهٔ نو هغه كله ددے تصديق او په دے يقين كولے شي ؟ بيا دا څنگه په دے عمل كولے شي؟
دے وجے نه محترم لوستونكيه ! تهٔ دا دواړه شيان حاصل كړه او ددے په حاصلولو كښې څومره چه كيدے شي د جد وجهد نه كار واخله!
١ – نو څوك چه الله او د هغهٔ اسماءِ حسنىٰ او اوچت صفات وپيژني او په دے يقين وكړي نو دهٔ ته دومره اندازه اطمينان حاصليږي چه هغه به ددهٔ په گمان كښې هم نهٔ وي۔
٢ – او څوك چه دا وپيژني چه الله گوري، آوري او ددهٔ په كارونو او ويناگانو بلكه د زړهٔ په وسوسو خبر دے او ددے يقين ولري او دا رښتينے وگنړي، نو په دهٔ كښې به دومره حياء او د گناهونو او نافرمانيو نه ځان ساتل راشي چه ددهٔ نه سيوا په بل چا كښې به بيا دومره نهٔ وي۔
٣ – او څوك چه دا وپيژني چه حساب حق دے او په ذرے ذرے به حساب كيږي او ددے يقين ولري نو دے به په خپلو ټولو كارونو كښې احتياط كوي او په هيڅ يو شئ كښې به اسراف نهٔ كوي او نهٔ به هيڅ كله د شريعت خلاف خبره وكړي۔
٤ – او څوك چه دا وپيژني چه جنت حق دے، اور حق دے او ددے يقين ولري نو په دهٔ به د دنيا مصيبتونه آسان شي دارنگه ټول نيك عملونه كول به ورته آسان شي او ددے لپاره به ددهٔ كوشش تيز شي۔

٥ – او څوك چه دا وپيژني چه نجات صرف په ايمان او عمل صالح كښې دے او ددے يقين ولري، نو ددهٔ ټول ژوند به په دے لړېږي او ددے كار نه به دے د سترګے د رَپ په اندازه هم صبر ونهٔ كړي، لكه مهي چه د اوبو نه راوبښكلے شي (نو څومره پريشانه وي، دغسې به دے هم دے كار كولو ته پريشانه وي)۔

٦ – او چاته چه معلومه شي چه په اوداسهٔ كښې ډير زيات فوائد دي، دغه شان په مانځه، تهجدو، اذان، امامت، تحية الوضوء، زكاة، صدقه، روژه، حج عمره، جهاد، ښائسته اخلاقو او په ظاهري او باطني اعمالو كښې څومره فائدے دي، او ددے يقين ولري نو ددهٔ مشغولتيا به صرف همدا كارونه وي۔ دا وجه ده نبي ﷺ فرمائي :

[لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَافِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوْا اِلَّا أَنْ يَّسْتَهِمُوْا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوْا عَلَيْهِ، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ وَالْفَجْرِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا، وَلَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِي التَّهْجِيْرِ لَاسْتَبَقُوْا اِلَيْهِ]

(كه چرے خلكو ته د هغه ثواب يقين راشي چه هغه په اذان او په اولني صف كښې دے اوبيا دوئ دا صرف د قرعه اندازئ په صورت كښې حاصلولے شوے نو خامخا به ئے په دے قرعه اندازي كړے وے، اوكه چرے دوئ د ماسخوتن او سهار مونځ د ثواب نه خبر شي نو هغے ته به په خرپوسو سره هم راشي، اوكه چرے دوئ مانځه ته د وختي راتللو د ثواب نه خبر شي نو خامخا به ديته د يو بل نه مخكښے والے وكړي)۔ [رواه البخاري]

په دے حديث كښې د علم نه مراد يقين دے۔

نو د يقين په اندازه به تاته د اعمالو توفيق ملاوېږي۔

او صحابه كرامؓ او تابعينؒ په جنګ قادسيه كښې په اذان كښې په شريكه برخه اخستے وه هر كله چه مؤذن مړ شو، او په دوئ باندے امير سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وو۔ او دغسے ټول اعمال واخله۔

نوكه چرے ستا د نجات او كمال اراده وي او په خپلو همزولو باندے ځان پورته كول غواړے نو د قرآن او سنت نه اعمال زده كړه، بيا يقين ولره چه دا هم دغسے دي څنګه چه زمونږ رب او زمونږ نبي محمد رسول الله ﷺ فرمايلي دي، نو تهٔ به د خپل زړهٔ عجائب وويني او د اعمالو توفيق به درته ملاوېږي بلكه تهٔ به دے طرفته شوق ولرے، او كله چه په دے كښې درنه څهٔ شے پاتے شي نو په هغے به داسے خفه كېږے لكه بوره بورچنده ښځه چه خفه وي او داسے به غمژن كېږے لكه د چا اهل او مال چه لوټ شوے وي۔

دے خبرے ته نبي ﷺ په خپل دے ارشاد كښې اشاره فرمايلے :

Maktaba Tul Ishaat.com

[مَنْ فَاتَهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ]

(چانه چه مازيگر مونځ فوت شی نو گويا ددهٔ مال او اهل لوټ کړے شول)۔

په دے باندے ښهٔ فکر وکړه۔

او دا يوه داسے قيمتی فائده ده چه څوك په دے کښے فكر وكړی نو ددے لاندے به ډير رازونه بياموم. او توفيق ورکونکے او مدد کونکے صرف الله تعالیٰ دے۔

ددے فائدے ليکلو نه پس ما د ابن القيم رحمه الله په كتاب (الفوائد، ص: ۱۷۹) کښے دا فائده په بل طرز وليده، هغه فرمائی: بهترين هغه شے چه نفسونه ئے گټی او زړونه ئے حاصلوی او بنده ددے په وجه په دنيا او آخرت کښے اوچتيږی: علم او ايمان دے، دا وجه ده، الله تعالیٰ دا دواړه په خپل دے ارشاد کښے جمع کړی:

﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ ﴾ [روم:٥٦]

(او چاله چه د ايمان او علم دولت ورکړے شوے وی)۔

او چاته چه دا دواړه شيان ورکړے شو نو دویٔ د کائناتو مغز او خلاصه دی او د اوچتو مرتبو اهليت اوصلاحيت لرونکی دی، خو زياتره خلك د علم او ايمان په حقيقت او معنیٰ کښے غلط شوی دی. بيا ئے په فلاسفه او متكلمينو دواړو باندے رد کړے۔ او د ايمان غلط او صحيح تعريفونه ئے بيان کړی، چه دا مخکښے په اول جلد کښے تير شوی۔

* * * * * *

۳۴ - قیمتي فائده
غفلت او د هغې علاج

دا فائده انسان ته ډیر زیات نصیحت کونکې ده :

په انسان کښې دننه ډیر مرضونه دي چه په هغه ټولو کښې سخته او خطرناکه بیماري ((غفلت)) دې چه دا د ټولو مرضونو جرړه او د تباهۍ بنیاد دې۔

عمر بن عبد العزیزؒ فرمائي : ما عذاب د غفلت سره وموندهٔ۔

[معالم التنزیل ، سورة الزخرف]

د غفلت په وجه الله تعالیٰ د بنده نه اعراض کوي، لکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللّٰهَ فَأَنْسٰهُمْ أَنْفُسَهُمْ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ ﴾ [حشر:۱۹]

(او تاسو د هغه خلقو پشان مهٔ جوړیږئ چه هغوئ الله هیر کړو، نو الله د هغوئ نه خپل ځانونه هیر کړل(دوئ ئے د خپلو ځانونو د طرفه غافل کړل) همدا خلق فاسقان دي)۔

په بعضِ آثارو کښې راغلي چه شیطان په بنده باندې په درې وختونو کښې غلبه مومي : (۱) د غصې په وخت (۲) د شهوت (خواهش) په وخت (۳) د غفلت په وخت۔

[الزواجر عن اقتراف الکبائر]

په حدیث کښې دي : ((شیطان د انسان په زړهٔ باندې ګونټې لړولې وي۔ کله چه د الله ذکر وکړي نو شاته شي او که د الله ذکر ترې هیر شي نو ددهٔ په زړهٔ باندې ګیره واچوي نو همدا هغه وسوسه اچونکې دې چه د الله د ذکر په وخت شاته کیږي))۔

[رواه أبو یعلی کما في ابن کثیر ، وفي إسناده مقال ، کما في الضعیفة : ۳/ ۵۴۷ ، وذکره البخاري موقوفًا علی ابن عباس]

الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې د غفلت او غافلانو بار بار بدي بیان کړې۔ لکه فرمائي :

﴿ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُونَ ﴾ [اعراف:۱۷۹]

(او مونږ ډیر پیریان او انسانان د جهنم لپاره پیدا کړي ، د دوی زړونه داسې دي چه په هغې سره

Maktaba Tul Ishaat.com

پوهېږي نهٔ، او د دوی سترګې داسې دي چه په هغې سره ليدل نهٔ کوي، او د دوی غوږونه داسې دي چه په هغې سره آوريدل نهٔ کوي، دوی د څاروو پشان دي، بلکه د هغوی نه هم زيات ګمراه دي، همدا خلق په حقيقت کښې بې خبره دي).

نو غفلت والا اور والا دي.

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ﴾ [انبياء:۱:۳]

﴿ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴾ [انبياء:۹۷]

(او دَ الله دَ حقې وعدې (قيامت) وخت به نزدې راشي، او په دې وخت کښې به دَ کافرانو خلکو سترګې کُږاغې را ووځي (او وائي به) اې زمونږه بده نصيبه ! مونږ خو ددې ورځې نه بيخي ناخبره وو، بلکه مونږ خو (په خپل حق کښې) ظالمان وو).

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَيَوْمَ يُحْشَرُ اَعْدَآءُ اللهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ حَتّٰى اِذَا مَاجَآءُ وْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ ﴾ [فصلت:۱۹ ۲۰]

﴿ وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ﴾ [فصلت:۲۱]

﴿ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَاجُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴾ [فصلت:۲۲:۲۳]

بيا فرمائي : ﴿ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ ﴾ [فصلت:۲۵] (او مونږ په دنيا کښې څهٔ شيطانان دَ دوئ ملګرې جوړ کړي وو).

نو په غفلت والو باندې شيطان مقررولې شي، لکه الله فرمائي :

﴿ وَمَنْ يَّعْشُ عَنْ ذِكْرِ الرَّحْمٰنِ نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطٰنًا فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ ﴾ [زخرف:۳۶]

او فرمائي : ﴿ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ ﴾ [ق:۲۲]

او فرمائي : ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴾ [كهف:۲۸]

نو د زړهٔ غافله جوړول يو لوئې عذاب دې.

او الله فرمائي : ﴿ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللهَ فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴾ [حشر:۱۹]

او فرمائي : ﴿ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللهِ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴾ [مجادلة:۱۹] (شيطان په دوئ باندې مسلط شوې، او د دوئ د زړونو نه ئې د الله ياد هير کړې، همدا خلق د شيطان د ډلې کسان دي، خبر شئ چه د شيطان ډله همدا تاوان پورته کونکي دي).

او فرمائی: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْخَٰسِرُونَ ﴾ [منافقون:۹]

او فرمائی: ﴿ وَالَّذِينَ عَنْ آيَاتِنَا غَافِلُونَ أُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمُ النَّارُ ﴾ [يونس: ۷، ۸]

او فرمائی: ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ ﴾ [يونس:۹۲]

او فرمائی: ﴿ وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُن مِّنَ الْغَافِلِينَ ﴾ [اعراف:۲۰۵]

او فرمائی: ﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ [مريم: ۳۹]

د غفلت په بدئ او د بيدارئ په صفت کښې ډير آيتونه دي چه هغه معلوم دي۔

او نبی اکرم ﷺ ښځو ته فرمايلی وو: [عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّقْدِيسِ وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسَيْنَ الرَّحْمَةَ] (تاسو تسبيح او د الله پاکی بيانول لازم ونيسئ او د گوتو په بندونو سره شمار کوئ او غفلت مهٔ کوئ گنې د رحمت نه به هيرے شئ)۔

[رواه أبوداود عن يسيرة بإسناد صحيح]

نو غفلت، د الله د رحمت نه د هيريدو سبب دے۔

په يو بل حديث کښې دی:

[مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ - بِاللَّيْلِ - لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ]

(چا چه د شپے په مانځه کښې لس آيتونه ولوستل، د غافلانو نه به ونهٔ ليکل شی)۔

[رواه أبوداود]

په بل حديث کښې دی: [لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ] (څهٔ خلك دے د جُمعو مونځونو پريښودو نه منع شی گنې الله به د دوئ په زړونو مهر ولگوی بيا به دوئ د غافلانو نه جوړ شی)۔ [صحيح مسلم]

نو غفلت يو عذاب دے۔

ابن قيم رحمه الله په (الفوائد) کښې فرمائی: د زړهٔ خرابی د بيغمه کيدو په وجه راځی او ددے آبادی په خشيت او ذکر سره۔

او يو شاعر وائی:

اِجْهَدْ وَلَاتَكُ غَافِلًا * فَنَدَامَةُ الْعُقْبٰى لِمَنْ يَتَغَافَلُ

(کوشش کوه او غافله کيږه مهٔ ولے چه د آخرت خپيمانتيا د غفلت والو په برخه ده)۔

[نفحة العرب]

Maktaba Tul Ishaat.com

* **د غفلت علاج :**

قرآن کریم کښې الله تعالیٰ د غفلت علاج بار بار ذکر کړې او دومره تذکره ئې کړې چه سینو ته شفا ورکوی، غفلت لرې کوی او د الله په توفیق سره زړونه روښانه کوی۔

۱ – یو علاج دادې چه : مؤمن د خپل رب نه د هغهٔ په اسماءِ حسنیٰ سره دعا وغواړی او په هغې سره د هغهٔ ذکر کوی او په هغې کښې سوچ او فکر کوی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَلِلّٰهِ الْأَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ﴾ [اعراف:۱۸۰] (او د الله ډیر ښائسته نومونه دی، نو تاسو هغه پدې نومونو سره رابلئ)۔

دا وینائې هغه وخت ذکر کړه هر کله ئې چه د غفلت بدی بیان کړې، نو په دې کښې د غفلت علاج طرفته اشاره ده۔

او په آیتِ کریمه کښې د ﴿ فَادْعُوْهُ ﴾ نه مراد دادې چه په دې نومونه د هغهٔ ذکر کوئ او په دې سره د هغهٔ بندګی کوئ او په خپلو دعاګانو کښې ورته دا وسیله کوئ۔ دا ټولې معنې حقې دی۔

او دا علاج او شفاء ده خو چه الله ئې چاته ورنصیب کړی، ددې علاج نه غفلت نهٔ دې پکار بلکه د الله په ښائسته نومونو او صفتونو کښې غور او فکر پکار دې ځکه ددې لاندې ناشنا علمونه، انوار او عجیب حقائق پراتهٔ دی۔

۲ – الله او حق طرفته خلك رابلل : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴾ [اعراف:۱۸۱] (او د هغه خلقو نه چه مونږ پیدا کړیدی یوه ډله داسې ده چه په حق دین روانه ده او د هغې مطابق فیصلې کوی)۔

الله طرفته دعوت ورکول ژوندی زړونه رابیداروی ځکه دا قانون دې چه څوك بل چا لپاره خیر خواهی کوی الله هغهٔ لپاره خیر خواهی کوی، او څوك چه په خیر او اخلاص کښې بل چاته ترغیب ورکوی الله دهٔ له هم ددې توفیق ورکوی۔

۳ – د رسول الله ﷺ په ظاهری او باطنی ډول او جمال او د هغوئ په عجیبو معجزاتو کښې فکر کول : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ﴾ [اعراف:۱۸٤] (آیا دوئ فکر نهٔ کوی چه د دوئ په ملګری باندې هیڅ لیونتوب نشته)۔

او دا هم یو ناشنا علاج دې ډیر کم خلك په دې خبرېږی۔

٤ – په ټولو کائناتو کښې فکر کول : ﴿ أَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ﴾ [اعراف:۱۸۵] (آیا دوی د آسمانونو او زمکې د بادشاهئ په تدبیر او د الله په نورو مخلوقاتو سوچ نهٔ دې کړې)۔

۵ – د مرګ او نیتے په نزدے والی کښے فکر کول چه دا به ناګهانه راځی۔ الله تعالیٰ فرمائی:
﴿وَأَنْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ﴾ [اعراف:۱۸۵] (او په دے خبره چه کیدے شی د دوئ د مرګ وخت رانزدے شوے وی، نو ددے قرآن نه روستو دوی په کومه خبرهٔ ایمان راوړی)۔

٦ – د قیامت د ورځے او ددے د درون والی، اوږدوالی او سخت والی استحضار کول۔ الله تعالیٰ ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَاهَا قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً﴾ [اعراف:۱۸۷] (خلق تا نه د قیامت په باره کښ پوښتنه کوی چه دا به کله واقع کیږی، ته ووایه چه ددے علم خو صرف زما د رب سره دے، دا په خپل مقرر وخت د الله نه سیوا هیڅوک نشی راښکاره کولے، دا په آسمانونو او زمکه باندے یوه درنه خبره ده، هغه به ستاسو مخامخ ناڅاپی راځی، خلق تا نه داسے تپوس کوی لکه چه ته هر وخت ددے په تلاش کښ لګیدلے یے، ته ووایه ددے علم صرف الله ته دے، لیکن اکثر خلق نهٔ پو هیږی)۔

او دا ټول شیان په سورهٔ اعراف کښے پرله پسے ذکر شوی ځکه الله تعالیٰ اول د غفلت بدی ذکر کړے بیا ئے ددے د علاج په توګه دا شیان ذکر کړی لکه چه دا د قرآن کریم طریقه ده چه مرضونه ذکر کړی نو د هغے علاج هم ښائی۔ نو په دے عظیم کتاب باندے د الله شکر کول پکار دی! او هلته ئے یو بل شے هم ذکر کړے چه هغه د استدراج نه ویره ده۔

۷ – د الله کتاب ته رجوع کول چه دا تذکره او د یادوونے سبب دے: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿هَٰذَا ذِكْرٌ﴾ [ص: ٤٩]

او فرمائی: ﴿ص وَالْقُرْآنِ ذِي الذِّكْرِ﴾ [ص:۱] (صٓ، په هغه قرآن باندے قسم دے چه هغه شرافت او لویئ والا دے)۔

او فرمائی: ﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾ [اسراء:۹] (بیشکه دا قرآن هغه لارے ته هدایت (رهنمائی) کوی چه د ټولو نه نیغه ده (یعنی اسلام طرف ته)۔

په دے مضمون باندے ډیر آیتونه دی۔

۸ – د مخکنو امتونو په تباهئ کښے فکر کول:
﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ [ق:۳۷] (بیشکه په دے کښ هغه انسان لپاره عبرت او نصیحت دے چه هغهٔ سره زړهٔ وی، یا غوږ کیښودلو سره واوری په داسے حال کښ چه ددهٔ دماغ حاضر وی)۔

او فرمائی: ﴿فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾ [حشر:۲] (نو اے سترګو والو! تاسو عبرت حاصل کړئ)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۹ – د قبرونو زيارت له په شرعي طريقه تللو سره آخرت رايادېږي.

لقمانؑ خپل ځوئے ته فرمايلي وو : ما تاته ډير وصيت وکړو او اوس – د مرګ په وخت – درته د شپږو خبرو وصيت کوم چه په دے کښے د اولنو او آخرنو خلکو علم پروت دے :

(۱) دنيا کښے خپل ځان صرف دومره مشغول کړه څومره چه ستا عمر باقي پاتے دے.

(۲) د خپل رب دومره بندګي کوه څومره چه ستا هغهٔ ته حاجت دے.

(۳) آخرت لپاره دومره عمل کوه څومره چه ستا هلته وسيدل دي.

(٤) د اور نه د خپل ځان په آزادولو کښے تر هغه وخته پورے مشغول اوسه ترڅو چه تاته ددے نه نجات ښکاره شوے نهٔ وي.

(۵) په خپلو ګناهونو کښے دے ستا زړورتيا دومره وي څومره چه تهٔ د الله په عذاب صبر کولے شے.

(٦) کله چه تهٔ د الله نافرماني کول غواړے نو بيا داسے ځائے وګوره چه په هغے کښے دے الله او د هغهٔ ملائك نهٔ ويني.

[تنبيه الغافلين : ۲/ ٥١٤]

* * * * *

٣٥ - فائده

هغه خلك چه رسول الله ﷺ ورته دعا كړے

د رسول الله ﷺ دعـا قبليدونكے ده، الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ﴾ [توبه:١٠٣] (ستا دعا د دوئ لپاره د آرام سبب دے)۔ نو د رسول الله ﷺ په دعا سره مومنانو ته آرام رسي۔

او الله تـعـالىٰ فرمائي : ﴿ لَا تَجْعَلُوا دُعَآءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ﴾ [نور:٦٣] (اے مسلمانانو ! دَ رسول بلنه تاسو خپلو كښې دَ يو بلنے پشان مهٔ گرځوئ)۔

او رسول الله ﷺ هغه چاته دعا كړے چه دا راتلونكي اعمال كوي۔

دے وجے نـه هر هـغـه چاله چه د رسول الله ﷺ په دعا يقين لري او دا رغبت لري چه رسول الله ﷺ دے هـغـهٔ لپاره دعـا وغـواړي، هـغـهٔ له پكار دي چه په دے راتلونكي عملونو باندے راتګ كوي۔ او دا عملونه ډير دي، مونږ د هغے نه يو څو آسان ذكر كوو :

١- ابن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :

[نَضَّرَ اللهُ امْرَءً سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَوَعَاهَا ثُمَّ أَدَّاهَا كَمَا سَمِعَهَا ، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ]

(الله دے هـغـه سړے تـر او تـازه كـړي چـه زما خبره ئے واوريده بيا ئے ياده كړه او ياده ئے وساتله او څـنـګـه ئے چه آوريدلے وه همغه شان ئے بل ته ورسوله، ځكه ډير كرته د علم بارونكے عالم نهٔ وي، او ډير ځله علم بارونكے هغه چاته علم ښائي چه هغه پرے ددهٔ نه ښهٔ پو هه وي)۔

[رواه أبوداود والترمذي وغيرهما]

او دا صحيح او متواتر حديث دے۔

سفيانؒ فـرمـائي : تـهٔ به هيڅ يو اهلِ حديث نهٔ وينے مگر د هغهٔ په مخ كښے به ددے حديث د وجے تازګي وي۔

٢ - ابن عمر - رضي الله عنهما - فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :

[رَحِمَ اللهُ امْرَءً صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا]

(الله دے په هغه سړي رحم وكړي چه مازيګر مونځ نه مخكښے څلور ركعاته (نفل) وكړي)۔

[رواه أبوداود ، بإسناد صحيح]

Maktaba Tul Ishaat.com

٣ – ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :

(الله دې په هغه سړي رحم وکړي چه د شپې پاسيدهٔ مونځ ئې وکړو او خپله ښځه ئې راويښه کړه او هغې مونځ وکړو اوکه چرې هغه انکار کوی نو د هغې په مخ باندې اوبهٔ چنړکاؤ کړي، الله دې په هغه ښځه رحم وکړي چه د شپې پاسي مونځ وکړي او خپل خاوند هم مانځه ته راويښ کړي اوکه هغه انکار کوی نو د هغهٔ په مخ اوبهٔ چنړکاؤ کړي)۔

[رواه أبوداود والنسائي بإسناد صحيح]

٤ – انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :

[رَحِمَ اللّٰهُ امْرَءً تَكَلَّمَ فَغَنِمَ أَوْ سَكَتَ فَسَلِمَ]

(الله دې په هغه سړي رحم وکړي چه که خبرې کوی نو خبرې ئې غنيمت وی اوکه خاموشی اختياروی نو بچ پاتې کيږي)۔

[رواه البيهقي في شعب الإيمان وهو في الصحيحة : ٨٥٥، صحيح الجامع : ٣٤٩٢]

٥ – عائشه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې :

[رَحِمَ اللّٰهُ امْرَءً كَانَتْ عِنْدَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيْهِ فِي أَرْضٍ أَوْ مَالٍ فَلْيَأْتِهِ فَلْيَتَحَلَّلْهُ قَبْلَ أَنْ يُؤْخَذَ مِنْهُ وَلَيْسَ ثَمَّ دِيْنَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ ، فَإِنْ كَانَتْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ حَسَنَاتِهِ لِصَاحِبِهِ ، وَإِلَّا أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَطُرِحَ عَلَيْهِ]

(الله دې په هغه سړي رحم وکړي چه په هغهٔ باندې د يو ورور د زمکې يا د مال څهٔ حق پورې وی او هغه ورته راغې او د هغهٔ ددې حق نه ئې خپل ځان وويستلو مخکښې ددې نه چه ددهٔ نه (په قيامت کښې) واخستلې شي او هلته به نهٔ روپئ وی نهٔ اشرفئ، که چرې ددهٔ څهٔ نيکئ وی نو ددهٔ د نيکو نه به ددهٔ د ملګري لپاره واخستلې شي اوکه نهٔ وی نو د ملګري ګناهونه به راواخستل شي او په دهٔ باندې واچولې شي)۔

[رواه أبو نعيم في الحلية :٦/ ٣٤٣، وهو حديث صحيح]

٦ – عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې :

[اَللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ]

(اې الله ! زما په امت کښې چه چاته د څهٔ کار واک او اختيار ورکړې شو او د خلکو سره ئې سختی وکړه نو تهٔ د هغهٔ سره سختی وکړې، او زما په امت کښې چه چاته څهٔ مشري ورکړې شوه او خلکو سره ئې نرمی وکړه نو تهٔ هم ورسره نرمی وکړې)۔

[صحيح مسلم ، مشکاة : ٢/ ٣٢١]

٧ – ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :
[اَلْإِمَامُ ضَامِنٌ وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمِنٌ ، اللّٰهُمَّ أَرْشِدِ الْاَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِيْنَ]
(امام ذمه وار دے او موذن د وختونو امانتدار، اے الله! امامان په سمه لار راوارووے او اذان کونکی وبښے)۔ [رواه أحمد وأبوداود ، كما في المشكاة : ١/ ٦٥]

٨ – فضاله بن عبيد ﷺ وائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :
[اَللّٰهُمَّ مَنْ آمَنَ بِكَ وَشَهِدَ أَنِّيْ رَسُوْلُكَ فَحَبِّبْ إِلَيْهِ لِقَائَكَ وَسَهِّلْ عَلَيْهِ قَضَائَكَ وَأَقْلِلْ لَهُ مِنَ الدُّنْيَا ، وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ بِكَ وَلَمْ يَشْهَدْ أَنِّيْ رَسُوْلُكَ فَلَا تُحَبِّبْ إِلَيْهِ لِقَائَكَ وَلَا تُسَهِّلْ عَلَيْهِ قَضَائَكَ وَأَكْثِرْ مَالَهُ مِنَ الدُّنْيَا]
(اے الله! څوك چه په تا ايمان لرى او زما د رسالت گواهى وركوى نو هغهٔ ته ستا ملاقات خوښ جوړ كړے او په هغهٔ باندے ستا فيصله آسانه كړے او لږه دنيا وركړے۔ او څوك چه په تا ايمان نهٔ لرى او زما د رسالت گواهى نهٔ وركوى نو هغهٔ ته خپل ملاقات خوښ مهٔ جوړووے او په هغهٔ باندے خپله فيصله مهٔ آسانوے او په دنيا كښے د هغهٔ مال زيات كړه)۔
[رواه الطبراني بإسناد ثقات ، وهو في الكنز : ٦٠٩٥ ، ٦٠٩٦ ، كما في المجمع : ١٠/ ٢٨٦]

٩ – او نبى اكرم ﷺ په حج يا عمره كښے سر خريونكو ته درے ځله دعا وكړه : [رَحِمَ اللّٰهُ الْمُحَلِّقِيْنَ ! (الله دے په سر خريونكو رحم وكړى)۔
صحابه كرامو عرض وكړو : [وَالْمُقَصِّرِيْنَ] (د سر وېښته كمونكو ته هم دعا وكړئ)۔
نو په څلورم ځل ئے وفرمايل : [وَالْمُقَصِّرِيْنَ] (اے الله! د سر وېښته كمونكو باندے هم رحم وكړے)۔ [صحيح مسلم]

١٠ – او نبى اكرم ﷺ وفرمايل : [إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ ، قَالُوْا: وَعَلَى الثَّانِيْ] (الله په اولنى صف والو رحمتونه راليږى او ملائك ورله دعا غواړى، درے ځله ئے وفرمايل او درے واره ځل به ورته صحابه كرامو دا ويل چه دويم صف هم په دعا كښے ياد كړئ۔ نو په څلورم ځل نبى اكرم ﷺ وفرمايل چه په دويم صف والو هم رحمتونه راليږى او ملائك ورله دعا غواړى)۔ [رواه أبوداود]

١١ – او نبى ﷺ فرمائي : [اَللّٰهُمَّ مَنْ لَعَنْتُهُ أَوْ شَتَمْتُهُ وَلَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ فَاجْعَلْهُ لَهُ صَلَاةً وَزَكَاةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهَا إِلَيْكَ] (اے الله! چاته چه زهٔ ښيرے يا كنځل وكړم او هغه ددے لائق نهٔ وى نو تهٔ دا د هغهٔ لپاره رحمت، د گناهونو د پاكوالى او تاته د هغهٔ د نزدے والى ذريعه وگرځولے)۔
[صحيح مسلم]

دے قِسم احاديثو باندے سوچ وكړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۶ ـ فائده : د نفس تزکیه

د خلکو دا عادت دے چه کله چا سره د ملاقات اراده لری او یا د ملګرو یا رشته دارو سره ملاوېږی نو خپل ځان ښائسته کوی، جامے بدلوی، عطر لږوی او خپل بریت اخلی خصوصًا په ډول ډال کولو کښے زیات شوق لری خاصکر په ودونو او پروګرامونو کښے۔ لیکن زیاتره خلك رب العالمین لپاره د خپل ځان پاکولو او طهارت حاصلولو فکر نهٔ کوی او نهٔ ورسره ددے غم وی بلکه د نفس تزکیه ورته هیڅ شے نهٔ ښکاری او نهٔ ددے پرواه کوی۔ سره ددے چه د الله سبحانه ملاقات حق دے، او د هغهٔ مخے ته ودریدل یقینی دی۔

دے وجے نه عاقل بانده واجب دی چه ددے لپاره خپل ځان پاك كړی اوكه چرے ځان ئے د الله د ملاقات لپاره پاك نهٔ كړو نو بیا به په افسوس، خپیمانتیا او خجالت کښے پریوځی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيْدًا وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ وَاللهُ رَؤُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴾ [آل عمران:۳۰]

(هغه ورځ رایاده کړه کله چه به هر شخص خپلے کړے نیکئ خپلے مخے ته وموسی او خپل کړی ګناهونه هم۔ خوښوی به چه ارمان دے ددے بد عملیانو او ددهٔ ترمینځ ډیر لرے والے وے۔ او الله تاسو د خپل ذات نه یروی، او الله په بندګانو مهربان دے)۔

نو انسان به آرزو کوی چه ددهٔ او د ګناه ترمینځه لویه فاصله وے ځکه چه دے به ددے بد اثر او ګنده بوئے وینی او د الله مخے ته به خپل خجالت محسوسوی، داسے مثال لری لکه یو سړے د یو عزتمن بادشاه یا د یو قدرمن عالِم خواله په داسے جامو کښے ورشی چه هغه د انسان په ګندګئ بانده ګنده وی نو ددے انسان به څهٔ حالت وی ؟ نو الله عز وجل خو د هر څانه ډیر عزتمن او اوچت دے !

دے وجے نه د نفسونو تزکیه ضروری ده، سره ددے چه د ظاهری ګندګئ اثر د پټے ګندګئ (ګناهونو او جرمونو) د اثر په مقابله کښے کم دے، نو په دے ځائے بانده ځان پوهه کړه ولے چه دا مهم دے۔

که دے بیان سره ستا شوق پیدا شو چه د خپل ځان تزکیه کول وپیژنے، نو یاد لره چه تزکیه د اهمو واجباتو نه یو واجب دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴾ [اعلی:۱۴] (یقینًا هغه کس کامیاب شو چه هغه (د کفر او شرك نه) پاك شو)۔

او فرمائی : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴾ [شمس:۹:۱۰] (یقینًا هغه کس کامیاب شو چه هغهٔ خپل نفس د ګناهونو نه پاك كړو او یقینًا هغه کس په تاوان کښې پریوتهٔ چاچه دا د ګناهونو لاندے ښخ کړو)۔

او فرمائی : ﴿ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴾ [طه:۷٦] (او څوك چه د ګناهونو نه پاك شو، هغهٔ ته دغسے بدله ملاویږی)۔

نو الله خبر ورکړو چه انسان صرف هغه وخت کامیابیدے شی چه د خپل نفس تزکیه وکړی۔
او دا تزکیه په دوه شیانو سره حاصلیږی :

(۱) د کفر، شرك او نورو ګناهونو نه ځان ساتل۔ (۲) او په ایمان او اعمالِ صالحه ؤ سره خپل ځان ښائسته کول۔ ددے تفصیل دادے : چه څوك په دنیا او آخرت کښے کامیابی غواړی نو هغه به :

۱ – د شرك او كفر د ټولو اقسامو نه ځان ساتی ځکه چه کله یو انسان په دے ګندګئ بانډے ګنده شو نو د هغهٔ صفا کیدل د توبے نه سیوا په بل هیڅ یو شئ سره ممکن نهٔ دی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ نَجَسٌ ﴾ [توبه:۲۸] (بیشکه مشرکان پلیت خلك دی)۔

او هود علیه السلام وفرمایل : ﴿ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ فِيْٓ اَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوْهَا اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ ﴾ [اعراف:۷۱] (هود وویل، په تاسو به ستاسو د رب د طرف نه عذاب او غضب راځی، آیا تاسو ما سره د هغه نومونو په باره کښې جګړے کوئ چه تاسو او ستاسو پلارانو د خپل طرف نه ایښی دی، چه د هغے هیڅ دلیل الله نهٔ دے نازل کړے)۔

او فرمائی : ﴿ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ [انعام : ۱۲۵] (دغسے الله په بے ایمانه خلکو ګندګئ وراچوی)۔

۲ – د منافقت او ددے د ځانګو نه دے ډډه وکړی ولے چه دا غټه ګندګی ده۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ اِنَّهُمْ رِجْسٌ وَّمَاْوٰهُمْ النَّارُ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ [التوبة : ۹۵]

او فرمائی : ﴿ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ﴾ [انفال : ۳۷]

دا ئے د کافرو په باره کښے ذکر کړی۔

۳ – دا رنګ الله سره ئے چه کوم لوظونه او وعدے کړی د هغے د ماتولو نه دے په کلکه سره خپل ځان بچ ساتی۔

٤ – ددے نه دے پوره ځان لرے کړی چه د الله په آیتونو او په ایمان سره رذیله دنیا غوره کړی۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾۔[آل عمران : ۷۷] (یقیناً کوم خلق چه د الله سره د کړی لوظ او د خپلو قسمونو په بدله کښې څه معمولی قیمت اخلی په آخرت کښې به د هغوی هیڅ حصه نۀ وی او الله به د هغوی سره خبرے نۀ کوی او د قیامت په ورځ به هغوی ته نۀ گوری او نۀ به هغوی پاکوی او هغوئ لپاره به دردناك عذاب وی)۔

نو د الله لوظونه ماتول، ایمان ماتول یا د دنیا د حصول لپاره دروغژن قسمونه خوړل، د تزکیه نه د محرومتیا ډیر لوئے سبب دے۔

۵ - د دنیا د وجے دے د حق پټولو نه ځان بچ کړی، الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ [بقره:۱۷٤] (یقیناً هغه خلق چه د الله نازل کړے کتاب پټوی او د هغے په بدله کښې سپك قیمت اخلی، دا کسان په حقیقت کښې په خپلو خیټو کښې د جهنم اور اچوی او د قیامت په ورځ به الله د دوئ سره خبرے نۀ کوی او نۀ به دوئ پاکوی او د دوئ لپاره به درد ناك عذاب وی)۔

۶ - په خپو کښیے دے د پینځو راښکلو نه ډډه وکړی۔

۷ - د الله تعالیٰ په بندگانو دے د احسان زباتنه نۀ کوی۔

۸ - په دروغژن قسمونو سره دے خپله سودا نۀ خرڅوی۔

نبی اکرم ﷺ فرمائی : [ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ، قَالَ أَبُوذَرٍّ: فَقُلْتُ: خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ! قَالَ: الْمُسْبِلُ وَالْمَنَّانُ وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلْفِ الْكَاذِبِ]

(درے کسان دی چه الله به نۀ ورسره خبرے وکړی او نۀ به ئے د گناهونو نه پاك کړی او دوئ له دردناك عذاب دے، ابوذر وائی: ما عرض وکړو: تباه او برباد شو یا رسول الله دا څوك دی ؟ وے فرمایل: خپل لنگ او پینځے په زمکه راښکونکے، زباتنه کونکے او په دروغژن قسَم سره خپله سودا چلونکے)۔ [بخاری، مسلم]

۹ - خپل نظر دے د را ایله کولو نه وساتی ولے چه دا ډیر ضرری شے دے، الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴾ [نور:۳۰] (اے زما نبی ! تۀ ایمان والو ته ووایه چه خپل نظرونه ښکته ساتی او دَ خپلو شرمگاهونو حفاظت کوی، دا کار دوئ لپاره زیات بهتر دے، بیشکه دا خلق چه څۀ کوی الله ددے نه پوره خبر دے)۔

۱۰ - د خپلے ښځے یا وینځے نه علاوه بل چاته دے خپله شرمگاه نۀ ښکاره کوی، لکه پورتنی

آیت کښې ددې بیان راغلې۔ د نظر او د شرمګاه حفاظت د نفس په تزکیه، د زړونو په صفايئ او قوت حاصلولو کښې اهم رول لوبوی۔ او څوك چه خپل نظر را پرانیزی نو خپل زړهٔ به سترې کړی، د چا نظرونه چه ډیر شی د هغهٔ وختونه به برباد شی۔

كُلُّ الْحَوَادِثِ مَبْدَأُهَا مِنَ النَّظَرِ ۞ وَمُعْظَمُ النَّارِ مِنْ مُسْتَصْغَرِ الشَّرَرِ
كَمْ نَظْرَةً فَتَكَتْ فِي قَلْبِ صَاحِبِهَا ۞ فَتْكَ السِّهَامِ بِلَا قَوْسٍ وَلَا وَتَرِ
وَالْمَرْءُ مَادَامَ ذَا عَيْنٍ يُقَلِّبُهَا ۞ فِي أَعْيُنِ الْغِيْدِ مَوْقُوفٌ عَلَى خَطَرِ
يَسُرُّ مُقْلَتَهُ مَا ضَرَّ مُهْجَتَهُ ۞ لَا مَرْحَبًا بِسُرُوْرٍ عَادَ بِالضَّرَرِ

(ټول مصیبتونه د کتلو نه پیدا کیږی لکه څنګه چه د اور بلې لمبې د وړوکو سپرغو نه پیدا کیږی۔ * ډیر نظرونه داسې شته چه په غیر د لیندې او د تارونو نه ئې د هغې د خاوند په زړهٔ باندې لکه د غشو غوندې حمله کړې وی۔ * کله چه انسان ښائسته جینکو ته په کتلو کښې خپل ګاتې اړوی راړوی نو دا د ډیرې خطرې سره مخامخ دې۔ * دې که یو طرفته خپل ګاتی ته خوشحالی رسوی نو بل طرفته خپل زړهٔ ته ضرر رسوی، په داسې خوشحالئ څوك څهٔ کوی چه په نتیجه کښې ضرر راوړی)۔ [الجواب الكافي، ص: ۲۲٤]

وکیعؒ وائی: مونږ د سفیان ثوریؒ سره ووتلو نو وې فرمایل: مونږ په خپله دې ورځ کښې چه د تولو نه اول کوم کارکوو هغه د خپلو نظرونو ښکته ساتل دی۔

[الورع لابن أبي الدنيا: ٦٣]

عیسیٰ علیه السلام فرمائی: تاسو د کتلو نه ځان وساتئ ځکه دا په زړهٔ کښې شهوت کری او همدا فتنه هم کافی ده۔ [إحياء العلوم: ۳/ ۱۱۲]

یو شاعر وائی:

لَيْسَ الشُّجَاعُ الَّذِيْ يَحْمِيْ مَطِيَّتَهُ ۞ يَوْمَ النِّزَالِ وَنَارُ الْحَرْبِ تَشْتَعِلُ
لٰكِنْ فَتًى غَضَّ طَرْفًا أَوْ ثَنٰى بَصَرًا ۞ عَنِ الْحَرَامِ فَذَاكَ الْفَارِسُ الْبَطَلُ

(هغه پوره بهادر نهٔ دې چه د مقابلې په ورځ په داسې حال کښې خپله سورلئ ساتی چه د جنګ اور ګرم شوې وی، ځوان خو هغه دې چه خپل نظر د حرامو نه ښکته وساتی یائې بل طرفته واړوی چه دا اصل کښې شهسوار ځوان دې)۔

[أين نحن من هؤلاء، ص: ۲۹۹]

د نظر ښکته کولو ډیرې فائدې دی چه هغه په (الجواب الكافي) کښې کتلې شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱ – د زنا۔

۱۲ – د دروغو۔

۱۳ – او د کبر نه به ځان ساتی۔

په حدیث کښې دی : ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ :

[ثَلاثَةٌ لايُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلا يُزَكِّيهِمْ وَلا يَنظُرُ اِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ : شَيْخٌ زَانٍ، وَمَلِكٌ كَذَّابٌ، وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ] (درې کسان دی چه الله به ورسره د قیامت په ورځ خبرې ونهٔ کړی، نهٔ بدئې د گناهونو نه پاك کړی او نهٔ به ورته د رحمت په نظر وګوری او دویٔ له دردناك عذاب دے : زنا کار بوډا، دروغژن بادشاه او کبرجن فقیر)۔

[صحیح مسلم : ۱/ ۷۱، احمد : ۲/ ٤۸۰]

١٤ – د دروغو قسم خوړلو نه به په سختئ سره ځان ساتی۔

۱۵ – زیاتی اوبهٔ به د چانه نهٔ منع کوی۔

١٦ – او د دنیا لپاره به چاسره بیعت نهٔ کوی۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې :

[ثَلاثَةٌ لايُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ القِيَامَةِ يَنظُرُ اِلَيْهِمْ وَلا يُزَكِّيهِمْ وَلا وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ: رَجُلٌ عَلٰى فَضْلِ مَاءٍ بِالْفَلَاةِ يَمْنَعُهُ مِنِ ابْنِ السَّبِيْلِ، وَرَجُلٌ بَايَعَ رَجُلًا سِلْعَتَهُ بَعْدَ الْعَصْرِ فَحَلَفَ لَهُ بِاللّٰهِ لَأَخَذَهَا بِكَذَا وَكَذَا، فَصَدَّقَهُ وَهُوَ عَلٰى غَيْرِ ذٰلِكَ، وَرَجُلٌ بَايَعَ إِمَامًا وَلَا يُبَايِعُهُ إِلَّا لِدُنْيَا، فَإِنْ أَعْطَاهُ مِنْهَا وَفىٰ لَهُ، وَإِنْ لَّمْ يُعْطِهِ مِنْهَا لَمْ يَفِ]

(درې کسان دی چه الله به ورسره د قیامت په ورځ خبرې ونهٔ کړی، نهٔ به ورته د رحمت په نظر وګوری او نهٔ به ئې د ګناهونو نه پاك کړی او دویٔ له دردناك عذاب دے : یو هغه تن چه په بیابان کښې ورسره زیاتی اوبهٔ دی او هغه د مسافر نه منع کوی۔ بل هغه تن چه مازیګر نه پس ئې د یو سړی سره سودا وکړه او په الله ئې ورته قسم وکړو چه دا ئې په دومره دومره پیسو اخستې ده نو هغه اخستونکی دې رښتیا وګڼړلو حالانکه دا دروغژن وو۔ او بل هغه تن چه د یو خلیفه سره ئې صرف د دنیا لپاره بیعت وکړو، که هغه ورته څهٔ دنیا ورکړی نو دے وفاداری کوی او که ورئې نهٔ کړی نو وفاداری نهٔ کوی)۔

[صحیح مسلم : ۱/ ۷۱، مسند أحمد : ۲/ ۲۵۳]

۱۷ – زنانه به ډول سنګار ښکاره کولو نه ځان ساتی : الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى ﴾ [احزاب:۳۳] (او په خپلو کورونو کښې

خوګې درنې کېنئ، او د مخکنی جاهليت د زمانې پشان ډول سينګار سره مۀ اوځئ).
بيا فرمائی : ﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴾ [احزاب:۳۳] (الله خو غواړی چه تاسو نه يعنی د نبی کور والو نه ګندګی لرې کړی، او تاسو ښۀ پاك صاف کړی).
۱۸ - په دينی کار کښې به د خپل خواهش موافق کار کولو نه ځان ساتی، چه که دا عمل ددۀ د خواهش موافق نۀ وی نو بيا ترې ډډه کوی اګرکه دا ضروری ولې نۀ وی.
الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ [المائدة : ٤١] (دا هغه خلق دی چه الله اراده نۀ ده کړې چه د دوی زړونه پاك کړی، دا کسان دوی لپاره په دنيا کښې شرمندګی ده او د دوی لپاره په آخرت کښې لوئی عذاب دے).
۱۹ - د خپل نفس تزکيه کونکے به خپلې ښځې سره په حيض او په دُبر کښې د جماع کولو نه ځان ساتی : ځکه دے سره انسان په ظاهر او باطن دواړو کښې ګنده ګيږی. الله تعالیٰ فرمائی :
﴿فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللهُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴾ [بقره:۲۲۲] (ته ووايه : دا ګنده او نقصان رسونکے وينه ده، پدې وجه د حيض په حالت کښې د خپلو ښځو نه جدا شئ، او تر څو چه هغه پاکې نشی نو د هغوی خوا ته نزدې مۀ ورځئ، پس کله چه د وينې نه ښه پاکه شی نو د هغوئ سره په هغه ځائے کښې جماع کوئ د کوم ځائے د جماع کولو چه الله حکم کړے، يقيناً الله توبه ويستونکی خوښوی او ښه پاکی کونکی خوښوی).
په دے آيتِ کريمه کښې اشاره ده چه په حيض او په دُبر کښې ښځې ته راتګ کول داسې پليتی ده چه الله ئې نۀ خوښوی نو ددے نه توبه وښکل واجب دی.
۲۰ - متيازو باندې ځان ګنده کولو نه به ځان ساتی او استنجاء به نۀ پريدی ولې چه دا د پاکيزګئ او صفايئ خلاف کارونه دی، الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ ﴾ [توبه:۱۰۸]
(په هغې کښې داسې خلك دی چه پاك وسيدل خوښوی، او الله پاك وسيدونکی خوښوی).
د قباء والو پاکی دا وه چه هغوئ به په اوبو استنجاء کوله. لکه حديث کښې دی : نبی ﷺ د قباء والو نه پوښتنه وکړه چه ستاسو پاکوالے څنګه دے چه الله ستاسو صفت په پاکوالی سره کړے ؟ نو هغوئ ووئيل : مونږ د جنابت نه غسل کوو او په اوبو استنجاء کوو.
[سنن أبی داود : ۱/ ۱۲]
۲۱ - د هر قِسم نشائی څيز نه به ځان ساتی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ - دارنګه د هر حرام شئ خوړلو نه به ځان ساتي خاصکر د جوارئ نه.

۲۳ - د ځټکو او بوڅلو د عبادت نه به ځان ساتي.

۲٤ - په غشو باندے د قِسمت معلومولو نه به ځان ساتي.

ځکه الله تعالیٰ دے ټولو شیانو ته پلیتي ویلے. لکه فرمائي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ [مائده:۹۰] (اے ایمان والو! بیشکه شراب او جواري، او هغه کاڼړي چه په هغے باندے د بتانو په نوم حیوانات ذبح کیږي او د فال راویستو لپاره غشي ناپاك دي، او د شیطان کار دے. پس تاسو ددے نه ځان وساتئ، دے لپاره چه کامیاب شئ).

او نبي ﷺ د حرامو په باره کښے فرمائي: [كُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنَ السُّحْتِ فَالنَّارُ أَوْلٰى بِهِ، وَإِنَّ الْخَبِيْثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيْثَ] (هر هغه غوښه چه د حرامو نه زرغونه شي نو په هغے باندے اور ډیر لائق دے او بیشکه پلیت شے پلیت شئ لره نهٔ ختموي). [مشكاة: ۱]

۲۵ - د مردارو، خنزیر غوښے، وینو او د غیر الله د منختو نه به په کلکه ځان ساتي، ځکه دا ټول پلیت شیان دي چه انسان ګنده کوي. الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ قُلْ لَّا أَجِدُ فِيْ مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ يَّطْعَمُهٗ إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوْحًا أَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَإِنَّهٗ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ﴾ [انعام:۱٤۵] (ووایه کوم کتاب چه ما ته د وحي په ذریعه راکړے شوے په هغے کښې زهٔ د هیڅ خوړونکي لپاره هیڅ شے حرام نهٔ موندهٔ کوم، سیوا د هغے نه چه یو مردار حیوان وي، یا بهیدونکے وینه یا د خنزیر غوښه وي، ځکه چه دا ناپاکه ده، یا داسے حیوان چه د غیر الله په نوم پریښودے شوے وي).

۲٦ - د قومِ لوط عمل نه به ځان ساتي ځکه چه دا پټ او ښکاره ګندګي ده، او ددے نه به توبه وباسي، لکه قرآن کریم دیته بار بار اشاره کړے.

﴿ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ ﴾ [اعراف:۸۲] (ځکه چه دا خلق ډیره پاکي کوي).

﴿ هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ﴾ [هود:۷۸] (دا زما لونړه دي، دا ستاسو لپاره زیاتے پاکے دي).

۲۷ - پاکیزه مسلمان له ضروري دي چه د دروغو نه بیخي ځان وساتي، ځکه په حدیث کښے دي: [إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ مِنْهُ الْمَلَكُ مِيْلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ]

(کله چه بنده دروغ ووائي نو ددے د بدبوئے په وجه ددهٔ نه ملائك یو میل لرے لاړ شي).

[أخرجه الترمذي بإسناد جيد، وأشار الألباني إلى تضعيفه]

نو هر کله چه ددے پلیتئ بدبوئے یو میل ته رسي نو بیا د انسان د زړهٔ حالت به څنګه وي؟ ښه

فکر وکړه !

۲۸ – مسلمان سړے به خپل ځان همیشه لپاره د غیبت نه او په ژبے سره د مسلمانانو د سپکاوی نه ځان ساتی ولے چه دے سره زړهٔ پلیتیږی۔ لکه حدیث کښې دی : عائشے رضی الله عنها وویل : [حَسْبُكَ يَـا رَسُوْلَ اللهِ ! مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا - تَعْنِىْ قَصِيْرَةً - ! قَالَ: لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرُ لَمَزَجَتْهُ]

(یا رسول الله ! ستا لپاره د صفیئے نه دا کافی ده چه دا لنډئ ده، نبی ﷺ وفرمایل : تا خو یوه داسے (خطرناکه) خبره وکړه چه که دا د سمندر سره ګډه شی نو هغه به هم بدل کړی)۔

[رواه أصحاب السنن وهو فی المشکاة ، وهو حدیث صحیح]

نو هر کله چه یوه خبره په سمندر باندے داسے تاثیر کوی نو بیا ددے په وجه به ستا د زړهٔ حال څهٔ وی ؟ ښهٔ فکر وکړه که چرے تهٔ مومن ئے !

۲۹ – قومی، لسانی او قبائلی وغیره تعصب د انسان زړهٔ اوژبه ګنده کوی۔

نبی ﷺ چه کله د ځینے خلکو نه دا چغے واوریدے چه په یوه موقعه باندے انصارو، انصارو ته چغے کړے او مهاجرینو، مهاجرینو ته، نو نبی ﷺ وفرمایل : دا خبره پریدئ ځکه دا بدبویه کلمه ده)۔ [صحیح بخاری]

نو څوك چه دا قسم تعصبات لری نو دا پلیت دے او هیڅ فائده په کښے نشته۔

او نبی ﷺ په یو بل حدیث کښے فرمائی :

[لِيَدَعَنَّ أَقْوَامٌ الْفَخْرَ بِالآبَاءِ أَوْ لَيَكُوْنُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللهِ مِنَ الْجُعْلَانِ الَّذِیْ يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ]

(څهٔ خلك دے په خپلو پلرونو باندے فخر کول پریدی، اوکه نهٔ وی نو دویٔ به د الله په نیز د هغه ګونګټ نه هم زیات ذلیله وی چه هغه خپلے پوزے سره ګندګی رغړوی)۔

[سنن أبی داود، صحیح الجامع]

نو په دے حدیث کښے ددے کار پلیت والی ته اشاره ده۔

۳۰ – تهول غټ او وړهٔ ګناهونه د پلیتئ، خباثت او ګندګئ سبب دے چه ددے نه الله ته توبه وښکل واجب دی۔ لکه په حدیث کښے دی، نبی ﷺ به دا دعا کوله :

[اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَایَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ]

(یا الله ! زما ګناهونه په اوبو، واورے او ګلئ سره ووینځے)۔

[صحیح بخاری]

نو په دے کښے اشاره ده چه ګناهونه د نجاست، کمزورئ او سستئ سبب دے۔ (او په دے قسم

Maktaba Tul Ishaat.com

دعاګانو کښې امت ته تعليم ورکول مقصد دے۔ ابو سلمانؒ)۔

۳۱ – د بيهوده وينا نه به په خصوصي توګه ځان ساتي :

قرآن کريم کښې د مؤمنانو دا صفت بيان شوے چه دوئ به د لغوياتو نه ځان ساتي۔

﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴾ [مومنون:۳]

(او هغه کسان چه دَ بيکاره او لغوه خبرو نه پرهيز کوي)۔

او فرمائي : ﴿ وَإِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴾ [فرقان:۷۲] (او کله چه يو ناخوښه شے دوئ ته راپيښ شي نو دَ شريفانو پشان تيريږي)۔

په حديث کښې دي : [مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لا يَعْنِيْهِ]

(د سړي ښائسته اسلام دادے چه بيهوده خبرے او کارونه پريدي)۔

[سنن أبي داود، بإسناد صحيح]

او دا د نبي ﷺ د جوامع الکلم نه دي۔

په حديث کښې دي : [فَرَضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زَكَاةَ رَمَضَانَ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَساكِيْنِ]

(رسول الله ﷺ د رمضان سرسايه دے لپاره فرض کړے چه د لغوه او بے حيايئ خبرو نه روژه دار پاك کړي او د مسکينانو خوراکه ده)۔

[سنن أبي د اود : ۱۶۰۹]

۳۲ – خپل زړهٔ د شك او پردو ښځو ته د ميلان نه پاکول پکار دي۔ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ ذٰلِكُمْ أَزْكٰى لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴾ [بقره:۲۳۲] (دا ستاسو لپاره د زيات پاکوالي او د نفس د پاکئ خبره ده او الله پوهيږي او تاسو نهٔ پوهيږئ)۔

*** په تزکيه کے دويم شے** : خپل ځان ښائسته کول :

خکه يواځے ګناهونه پريښودل دلته کافي نهٔ دي بلکه په ښائسته لويو اعمالو باندے خپل ځان ډولي کول هم ضروري دي۔ ګناهونه پريښودل وسيله ده او ځان ښائسته کول فضيلت دے۔

هغه شيان چه انسان ښائسته کوي :

۱ – انسان چه په کومو شيانو ښائسته کيږي په هغے تولو کښے اوچت شے، په الله ايمان لرل دي، او همدا پوره زينت او روښانه زيور دے۔ الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَمَنْ يَّأْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَأُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴾ [طه :۷۵:۷۶] (او څوك چه دَ هغهٔ مخے ته دَ ايمان په حالت

کښې راشي، نيك عمل ئې کړې وي، نو هغهٔ ته به اوچتې مرتبې ملاوېږي ○ هميشه جنتونه به وي چه دَ هغې لاندې به نهرونه بهيږي، په دې کښې به هميشه لپاره وسيږي۔ او څوك چه دَ ګناهونو نه پاك شو، هغهٔ ته دِ دغسې بدله ملاوېږي)۔

ابودرداء ﷺ فرمائي : څهٔ وجه ده چه زهٔ په تاسو کښې د ايمان خوند نهٔ مومم ؟ قسَم په الله ! که چرې د صحراء چينجي ايمان موندلې يا د ايمان خوند څکلې وې نو په هغهٔ به خامخا ددې خوند راښکاره شوې وې۔ [حياة الصحابة : ۳]

او نبي ﷺ دا دعا فرمايله : [أَللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِيْنَةِ الإِيْمَانِ]

(اې الله ! مونږ د ايمان په ډول سره ډولي کړې)۔

معلومه شوه چه د ايمان لپاره رنړا او زينت شته دې۔

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ اَلْمِصْبَاحُ فِىْ زُجَاجَةٍ﴾ [نور:۳۵] (دَ هغهٔ دَ رنړا مثال دَ يو طاق دې چه په هغې کښې يوه ډيوه وي، ډيوه دَ شيشې په يو قنديل (پانوس) کښې وي)۔

۲ – د هر شيئ نه زيات ښائسته شې چه انسان پرې ځان ډولي کوي، دا علم لرل دي چه الله سبحانه وتعالىٰ انسانويني او د هغهٔ په حال او وينا خبر دې۔ په حديث کښې دي :

[ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ طَعْمَ الْإِيْمَانِ: مَنْ عَبَدَ اللهَ وَحْدَهُ، وَأَعْطٰي زَكَاةَ مَالِهٖ طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ، وَزَكّٰى نَفْسَهُ . قِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! وَمَا تَزْكِيَةُ الْمَرْءِ نَفْسَهُ؟ قَالَ: أَنْ يَّعْلَمَ أَنَّ اللهَ مَعَهُ حَيْثُ كَانَ]

(په چا کښې درې شيان وي نو د هغې په وجه به د ايمان خوند وڅکي : (۱) يواځې د الله عبادت کول (۲) د خپل مال زکاة په خوشحالئ سره ورکول۔ (۳) د خپل نفس تزکيه کول۔ چا عرض وکړو: يارسول الله ! د خپل نفس تزکيه څهٔ ده ؟ وې فرمايل: چه دا يقين ولري چه دې هرچرته وي، الله ورسره دې)۔

[أخرجه أبو يعلى كما فى ابن كثير: ٤]

بعضِ سلفو به فرمايل : د زړهٔ لپاره د ټولو نه زيات ډول دادې چه ددهٔ يقين وي چه الله تعالىٰ دېويني۔

۳ – اودس او طهارت، مونځ او د الله ذکر او په غيبو باندې د هغهٔ نه خشيت د انسان لپاره د ښائست عظيم اسباب دي، لکه الله تعالىٰ ديته اشاره کوي فرمائي :

﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى﴾ [اعلىٰ:١٤، ١٥] (يقينًا هغه کس کامياب شو چه هغه (د کفر او شرك نه) پاك شو او د خپل رب نوم ئې واخستهٔ، بيا ئې مونځ وکړو)۔

او فرمائي : ﴿اِنَّمَا تُنْذِرُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَمَنْ تَزَكّٰى فَاِنَّمَا يَتَزَكّٰى لِنَفْسِهٖ وَاِلَى

Maktaba Tul Ishaat.com

اللهِ الْمَصِيْرُ ﴾ [فاطر : ۱۸] (ستا د يرولو نه به صرف هغه خلق فائده پورته كوى چه هغوئ د خپل رب نه په غيبر د ليدلو نه يريږى، او مونځ قائموى، او څوك چه خپل ځان پاك جوړوى، نو ددے فائده هم دهٔ ته ملاويږى، او خاص الله طرفته د ټولو ورگرځيدل دى).

٤ - په پاكيزه وينا گانو او نيكو اعمالو باندے راتگ كول : الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ﴾ [فاطر: ۱۰] (ښے خبرے هغهٔ ته خيژى، او نيك عمل هغه بلندئ طرفته وړى).

٥ - د تزكيئے او ځان پاكولو په اسبابو كښے لوئے سبب د الله كتاب، د توحيد كلمه او شرعى ذكر اذكار دى. الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ وَهُدُوْآ اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوْآ اِلٰى صِرَاطِ الْحَمِيْدِ ﴾ [حج: ۲٤] (او په دنيا كښې دَ دوئ رهنمائى كلمے طيبے طرفته شوے وه، او دَ هر صفت لائق الله لارے طرفته دَ دوئ رهنمائى شوے ده).

٦ - حسد، تېكى او بخل پريښودل : حديث كښے دى : ((په خلكو كښے بهترين كس هغه څوك دے چه پرهيزگاره، پاكيزه، رشتينے ژبے خاوند او عاجزه زړهٔ والا وى)).

* * * * * *

۳۷ - ډيره عمده فائده

خو عمل کونکے پرے کم دی۔

او هغه دا چه ځوك د ځلورو شيانو نه حياء وکړی نو ايمان ئے قوی کيږی، د احسان مرتبے ته رسيږی او د قيامت د ورځے نه مخکښے جنت ته ننوځی، او عظيم حکمتونه او د قران رازونه حاصلوی۔ او هغه دا چه :

۱ - ځوك چه د الله عز وجل نه حياء وکړی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ فِيٓ أَيِّ صُورَةٍ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ﴾ [انفطار:٦-٨] (اے انسانه ! تهٔ د خپل مهربانه رب نه کوم شئ دهوکه کړے ئے چه هغهٔ تهٔ پيدا کړے، بيا ئے تهٔ برابر جوړ کړے، بيائے تهٔ درميانه انسان جوړ کړے هغهٔ چه په کوم شکل کښې وغوښتل ستا بدن ئے جوړ کړو)۔

۲ - د عزتمنو ملائکو نه حياء وکړی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ [انفطار:١٠-١٢] (او بيشکه په تاسو باندے ساتونکی مقرر دی هغه عزتمن ليکونکی دی تاسو چه څهٔ کوئ هغه دوئ پيژنی)۔

آيتِ کريمه کښے الله د خپلو نه صفاتو نه کريم صفت او د ملائکو د صفاتو نه د کرامت صفت ذکر کړے، په دے کښے اشاره ده چه د عزتمنو نه حياء کول پکار دی، او عاقل مؤمن له پکار نهٔ دی چه د عزتمنو په مخکښے بد اعمال او خراب خويونه وکړی ولے چه ديته بے شرمی وائی، او پاکيزه مؤمن لپاره دا مناسب کار نهٔ دے۔

۳ - د زمکے نه حياء کول : الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴾ [زلزال:٤] (په دے ورځ به زمکه خپل خبرونه بيانوی)۔

ځکه چه دا به د قيامت په ورځ د الله په مخکښے په هر نارينه او زنانه بنده باندے گواهی کوی چه دهٔ زما دپاسه دا دا عمل کړے۔

٤ - د خپلو اندامونو نه حياء وکړی : لکه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوٓا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ
ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِیْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴾
[فصلت: ۲۰--۲۳] (تردے چه کله دوئ د هغے خواته راشي نو دَ دوئ غوږونه، د دوئ سترگے او د دوئ څرمنے به د دوئ د بدو عملونو گواهي ورکوي، او دوئ به خپلو څرمنو ته ووائي: تاسو زمونږ په خلاف ولے گواهي ورکړه، هغوئ به ووائي: مونږ له هغه الله گويا کړي يو چاچه هر يو شئ له دَ گويا کيدو طاقت ورکړے، او هم هغهٔ تاسو اول ځل پيدا کړي يئ، او هم هغهٔ طرفته به تاسو واپس کړے شئ او تاسو به د گناه کونو په وخت ددے ويرے نه نهٔ پټيدئ چه ستاسو خلاف به ستاسو غوږونه، او ستاسو سترگے، اوستاسو څرمنے گواهي ورکړي، بلکه تاسو دا گمان کولو چه الله ستاسو ډير کارونه نهٔ پيژني همدا ستاسو هغه بد گماني ده چه تاسو به په خپل رب کوله، ستاسو د هلاکت سبب جوړ شو، نو تاسو دَ تاوان پورته کونکو نه جوړ شوئ)۔

دے وجے نه مؤمن له پکار دي چه ددے شيانو نه د حياء کولو لحاظ وساتي خاصکر د خپل رب عز وجل نه۔ ولے چه په حديث کښے دي:

[فَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ يُسْتَحْيَا مِنْهُ مِنَ النَّاسِ]

(نو د خلکو په نسبت الله ډير لائق دے چه د هغهٔ نه حياء وکړے شي)۔

[سنن الترمذی، المشكاة: ۲]

۵ – بلکه د مخلوق نه هم حياء کول مطلوب دي، لکه حديث کښے دي:

[كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ]

(زما ټول امتيان به وبښلے شي، سيوا د ښکاره گناه کونکو نه)۔

[صحيح بخاری]

ښکاره گناه کونکي بے عقله وي ځکه دوئ نهٔ د الله نه شرميږي او نهٔ د خلکو نه۔

بيا د الله عز وجل نه حياء کول په پنځو شيانو کښے وي:

(۱) د سر حفاظت کول۔

(۲) په سر کښے دننه اندامونو حفاظت کول۔

(۳) د خيټے او شرمگاه حفاظت کول۔

(٤) مرگ او وروستوالے راياد ول۔

(۵) د دنيا ډول ډال پريښودل۔

ځکه د ابن مسعود ﷺ په حديث کښے دي: رسول الله ﷺ فرمائي:

[إستَحيُوا مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الحَيَاءِ، قَالُوا: إِنَّا لَنَستَحيِي مِنَ اللّٰهِ، وَالحَمدُ لِلّٰهِ، قَالَ: لَيسَ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ مَنِ استَحيٰى مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الحَيَاءِ فَليَحفَظِ الرَّأسَ وَمَا وَعٰى، وَليَحفَظِ البَطنَ وَمَا حَوٰى، وَليَذكُرِ المَوتَ وَالبِلٰى، وَمَنْ أَرَادَ الآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنيَا، فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدِ استَحيٰى مِنَ اللّٰهِ حَقَّ الحَيَاءِ]

(الله سبحانه وتعالیٰ نه داسې حيا کوئ څنګه چه د حيا حق وی، صحابو عرض وکړو: مونږ خو الحمد لله د الله نه حياء کوو، وې فرمايل: دا حياء نهٔ ده مراد، بلکه څوك چه د الله نه رښتينې حياء کوی نو انسان دې د سر او څهٔ چه په دې کښې دی، د خيټې او څهٔ چه په دې کښې دی، حفاظت کوی (څهٔ ناجائز کار دې په دې کښې راتلو ته نهٔ پريدی) او مرګ او زړيدل دې ياد لری، او څوك چه د آخرت اراده لری هغه د دنيا ډولونه پريدی، نو څوك چه دا کارونه وکړی، هغهٔ د الله نه رښتينې حياء وکړه)۔

[جامع الترمذی، صفة القيامة، حديث: ۲۴۵۸، الترغيب والترهيب للمنذری: ۳/ ۴۰۰، المعجم الصغير للطبرانی: ۱/ ۲۹۸، حديث: ۴۹۴، واللفظ له، أحمد، وإسناده حسن أو صحيح]

دا ډير مهم حديث دې، عمل پرې ضروری او نفع ئې معلومه ده۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۸ - ځلیدونکی فائده

انسان کمزورے پیدا شوے او دے د فتنو سیلابونو سره مخامخ دے او دشمنان ئے زیات دی، نو ددهٔ لپاره یوه کړئ پکار ده چه هغے ته لاس واچوی او کړئ هم مضبوطه پکار ده که نهٔ وی نو د فتنو سیلابونه، د شیطانانو وسوسے، گناهونه او د دنیا غفلتونه او شهوتونه به انسان یوسی۔ او دنیا ډیر ژور سمندر دے په دے کښے ډیر خلك ډوب شوی، لکه چه دا خبره لقمان رحمه الله خپل ځوئے ته کړے وه۔

دے وجے نه د دغه فتنو او گمراهیو نه نجات صرف په راتلونکو درے ضروری شیانو سره ممکن دے:

۱ - **یوشے** : د رب العالمین ټولو احکامو ته غاړه ایښودل، چه کله هم ددهٔ مخے ته یو حکم راځی نو هغه په منلو، خوشحالئ سره اخستل او هغے ته عملًا غاړه کیښودل برابره خبره ده چه دغه حکم ددهٔ د بدن په باره کښے وی یا ئے د مال یا د عزت یا د خپلوانو او یا د کار کسب وغیره په باره کښے وی۔ چه د الله حکم د خپل خواهش لپاره نهٔ رد کوی او نهٔ ئے د یو مذهب د تقلید د وجے رد کوی، او نهٔ د ملامتکر د ملامتیا د وجے، نهٔ د رسم او بدعت د تابعدارئ د وجے، نهٔ د مشرانو او مشائخو د پیروئ د وجے، نهٔ د دنیا او ددے د فائدو د وجے۔

او دیته د اسلام درجه وائی، ځکه اسلام، الله ته غاړه ایښودو ته وائی۔

﴿ فَمَنْ يُرِدِ اللهُ أَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْإِسْلَامِ ﴾ [انعام:۱۲۵]

(نو چا ته چه الله هدایت کول غواړی، د هغهٔ سینه اسلام لپاره پرانیزی)۔

ډیر خلك دی چه په خُلهٔ باندے د اسلام دعوے کوی او د الله احکامو او شریعت ته غاړه نهٔ ږدی۔ د میراث یو مثال به را واخلو۔ ډیر خلك دی چه د اسلام دعویٰ کوی خو ښځو له میراث نهٔ ورکوی او کله چه ورته وویل شی چه دا د الله حکم دے نو هغه وائی: ((پښتانهٔ ښځو له میراث نهٔ ورکوی)) او یا نور ډیر باطل عذرونه پیش کوی، نو دا ددهٔ اسلام وی!! او دغسے نور احکام واخله۔

۲ - **دویم شے** : کله چه د الله عز وجل یو حکم ادا کوی نو په دے کښے به د خپل رب لحاظ ساتی، دا به په ښائسته طریقے سره سرته رسوی او داسے به ئے کوی گویا دے الله وینی، او که دا مرتبه ئے نهٔ وی نو داسے معامله دے ورسره کوی چه الله خو دهٔ ته گوری۔

د انسان د نجات لپاره دا کار ډیر لوئے اثر لري، په دے سره انسان د ټولو ګمراهیو، فتنو او د تباهئ د کندو نه خلاصے مومي۔ دے وجے نه څوك چه د خپل ځان نجات غواړي هغه به مراقبه او احسان نۀ ضائع کوي۔

۳ – **دریم شے** : د ټولو طواغیتو نه انکار کول، برابره خبره ده که هغه بوتان وي یا قبرونه وي یا غیر اسلامي قوانین وي یا تنظیمونه یا مشائخ او پیران مریدان وي، دا کار ډیر زیات ضروري دے۔ په دے باندے دلیل د الله تعالیٰ دا وینا ده :

﴿ وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللهِ ﴾ [لقمان:۲۲] (او چا چه الله ته غاړه کیښوده)۔

نو دا اولنے شے دے۔

﴿ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ [لقمان:۲۲] (په داسے حال کښې چه دا نیکه عمله وي)۔

دا دویم شے دے۔

او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللهِ ﴾ [بقره:۲۵٦]

(نو څوك چه د طاغوت انکار وکړي او په الله ایمان راوړي)۔

دا دریم شے دے۔

ددے درے شیانو لپاره ډیرے فائدے دي :

۱ – **اوله داچه** : دے انسان مضبوطے کړئ ته لاس واچاوۀ چه دا د فتنو د کندو نه نجات او خلاصے دے۔

۲ – **دویمه** : دا لوئے اجر دے۔ ﴿ وَإِلَى اللهِ عَاقِبَةُ الْأُمُوْرِ ﴾ [لقمان:۲۲] (او د تمامو کارونو انجام د الله په اختیار کښې دے)۔

۳ – **دریمه** : دا د الله ولایت او دوستي ده۔

﴿ اَللهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ ﴾ [بقره:۲۵۷] (الله د ایمان والو دوست دے، هغه دوی لره د کفر د تیارو نه راوباسي او د ایمان رڼا ته ئے رسوي)۔

٤ – **څلورمه** : د تیارو نه راوتل دي، لکه په دغه آیت کښې۔

که تا دا فائده په ذهن کښې حاضره ساتله نو دابه درته د الله په توفیق سره نفع درکړي۔ ماله خپله دے فائده راکړے۔ والحمد لله۔

******

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۹ - فائده

د خير يا شر لپاره د چابي جوړيدو بيان

په يو صحيح حديث كښې راغلي : سهل بن سعد ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي :
[إِنَّ هٰذَا الْخَيْرَ خَزَائِنُ وَلِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ ، فَطُوبٰى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ مِفْتَاحًا لِلْخَيْرِ مِغْلَاقًا لِلشَّرِّ ، وَوَيْلٌ لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ مِغْلَاقًا لِلْخَيْرِ]
(بيشكه دا خير څه خزانې لري او ددې خزانو څۀ چابيانې دي، نو هغه بنده څومره مبارك دې چه الله ئې د خير پرانستو او د شر بندولو چابي وګرځوي، او هغه بنده له تباهي ده چه الله ئې د شر پرانستو او د خير بندولو ذريعه وګرځوي).

په بل روايت كښې دي : انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :
[إِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحُ لِلْخَيْرِ مَغَالِيقُ لِلشَّرِّ ، وَإِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ الشَّرِّ مَغَالِيقَ الْخَيْرِ ، فَطُوبٰى لِمَنْ جَعَلَ اللهُ مَفَاتِيحَ الْخَيْرِ عَلٰى يَدَيْهِ ، وَوَيْلٌ لِمَنْ جَعَلَ اللهُ مَفَاتِيحَ الشَّرِّ عَلٰى يَدَيْهِ]
[رواه ابن ماجه بإسناد حسن ، وحسّن الشيخ فى الصحيحة ۱۳۳۲: الرواية الثانية ، وهو فى الظلال : ۲۹۷]

نو كه ته غواړې چه ددې مبارك حديث مصداق وګرځې، نو يو څو كارونه اختيار كړه :

۱ - اول : څلور علمونه زده كړه :

۱ - د الله تعالىٰ د كتاب تفسير.

۲ - د حديث علم.

۳ - د نبوي سيرت او سلفي آثارو علم، ځكه چه په دې كښې د قرآن او سنت د معنو ژوندي مثالونه دي او دا د شريعتِ مطهره په فهم كښې مددګار ثابتيږي.

٤ - د حلالو او حرامو علم چه ديته د شرعي احكامو علم وائي.

نو كله چه ستا دا پورتني علمونه زده وي نو ځانته به هم فائده وركړې او خلك به هم تانه نفع اخلي ان شاء الله تعالىٰ او ته به مبارك او ډير خير والا ئې، لكه الله تعالىٰ د عيسىٰ عليه السلام نه حكايت كوي فرمائي :

﴿ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ ﴾ [مريم:۳۱] (اوچرته چه زۀ وسيږم نو زۀ ئې بركت والا جوړ كړې يم) مبارك هغه چاته وائي چه خلكو ته نفع رسوي يا د خير تعليم وركوي، د نيكۍ حكم كوي او

د بدئ نه خلك منع كوي. او تهٔ به په حضر او سفر، غياب او حضور كښې د الله په توفيق سره د الله بندګانو ته نفع وركوې.

۲ - **دويم كار**: په تاكښې به د نصيحت او خير خواهئ صفت وي، ځكه دين د نصيحت او خير خواهئ نوم دے. لكه حديث كښې دي: دين توله خير خواهي ده، عرض وشو: يا رسول الله ! د چا لپاره ؟ وې فرمايل: [لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِكِتَابِهٖ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَعَامَّتِهِمْ]

(الله، د هغهٔ د رسول، د هغهٔ دكتاب او د مسلمانانو د مشرانو او عامو خلكو لپاره).

[رواه مسلم عن تميم الداري رضى الله عنه]

۳ - **دريم كار**: الله طرفته د دعوت وركولو مينه او د معاشرے نه د منكراتو ختمول.

٤ - **څلورم كار**: په تا كښې به د تقوىٰ صفت وي، ځكه څوك چه د تقوىٰ صفت اختيار كړي الله د هغهٔ بنده بيړئ روانوي او هغهٔ له د خير او شر ترمينځه د فرق كولو طاقت وركوي، اعمال ترے قبلوي او د خپلے تقوىٰ او پرهيزګارئ مطابق ئے د خير او ښيګړے په تولو كارونو كښې استعمالوي. الله تعالىٰ فرمائي:

﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى ﴾ [ليل:٥-٧] (نو چا چه (الله لپاره خپل مال) وركړو او د پرهيزګارئ لاره ئے اختيار كړه او (دَ الله له اړخه) په ښے بدلے ئے يقين وساتلونو مونږ به ډير زر دهٔ لپاره دَ خير دَ كار لاره آسانه كړو).

يعنى مونږ به ورته د خير توفيق وركړو. (معالم).

۵ - **پنځم كار**: په تا كښې به د ښائسته اخلاقو صفت وي، ځكه ددے په ذريعه انسان د الله په توفيق سره د خير چابي ګرځي.

******

Maktaba Tul Ishaat.com

۴۰ ـ فائده : د ایمان حفاظت

په ټولو شیانو کښې ډیخې اهم او افضل او په ټولو اعمالو کښې بهترین عمل : په الله باندې ایمان لرل دي، لکه دا په صحیح حدیث کښې دي راغلي :
[سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ أَفْضَلِ الْأَعْمَالِ فَقَالَ: إِيْمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ، قِيْلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: بِرُّ الْوَالِدَيْنِ، قِيْلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، قِيْلَ: ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ: الْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ]
(نبي ﷺ نه پوښتنه وشوه : کوم عمل زیات غوره دے ؟ وې فرمایل : په الله او رسول ایمان لرل. عرض وشو: دے نه پس ؟ وې فرمایل: مور پلار سره نیکي کول. عرض وشو: دے نه پس ؟ وې فرمایل: الله په لاره کښې جهاد کول. عرض وشو : دے نه پس ؟ وې فرمایل: قبول شوے حج).
[صحیح بخاري : ۱]
او الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ [مومنون:۱]
(په تحقیق سره مومنان مراد ته ورسیدل).
خو د ایمان حفاظت ډیره لویه خبره ده او الله ئې چه چاته آسانه کړي هغهٔ لپاره آسانه ده، او دا قانون دے چه کوم شے قیمتي وي نو د هغې حفاظت ګران وي.
او ددے راز دادے چه د ایمان لپاره :
۱ – نواقضات (ماتوونکي شیان) دي، او دا مشهور دي، مونږ ددے زیاته برخه په (الدین الخالص دریم جلد) کښې ذکر کړې.
۲ – دارنګه نواقصات یا کمزوري کوونکي شیان لري : او دا هره ګناه او خطاء ده، چه دے سره ایمان کمیږي او کمزورے کیږي، د ګناه د وړوکوالي او غټ والي په اندازه. او ګناهونه معلوم دي او دا مونږ د (اول جلد) په آخر کښې ذکر کړي.
۳ – دارنګه ایمان مکدارات (خړوونکي) لري : او زیاتره خلك ددے نه غافله دي، او دا د الله د ذکر نه غفلت کول دي، او هره لغوه او بیهوده کار او خبره ده چه د انسان ذهن د الله نه اړوي.
او لغوه : (۱) کله په خطراتو کښې وي : یعني په هغه څهٔ کښې فکرونه کول چه انسان ته هیڅ فائده نهٔ ورکوي، او دا خلك څومره زیات دي !
(۲) او کله په لفظاتو (الفاظو) کښې وي : یعني داسې خبرې کوي چه انسان سره مناسب نهٔ وي،

ددې ضررونه په قرآن او سنت او د سلفو په اقوالو کښې معلوم دی۔ ددې لپاره (کتاب الصمت) د ابن ابی الدنیا کتل پکار دی۔

(۳) او کله په **لحظاتو** (کتلو) کښې وی: یعنې هغه شیانو ته په کتلو کښې نظر راپرانستل چه انسان ته فائده نهٔ ورکوی، سلفو به ددې نه ډېره کوله او دا به ئې د ایمان کمے ګنړلو، حالانکه اوس دا خبرې نشته۔

(٤) او کله په لغوه **خطواتو** (مزل) کښې وی: هغه ځایونو ته تګ چه په هغې کښې ورته د اوقاتو اود اعمالو بربادولو او په ګناه کښې د پریوتو نه سیوا بله هیڅ فائده نهٔ وی۔

نبي اکرم ﷺ عقبه ﷺ ته فرمایلی وو:

[أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ ، وَابْكِ عَلٰى خَطِيئَتِكَ]

(خپله ژبه کنټرول کښې ساته، خپل کور دې تاته فراخه وی او په خپله ګناه ژاړه)۔

او دا خبره ئې ورته هغه وخت وکړه، هرکله چه عقبه – رضی الله عنه – ترې پوښتنه وکړه: یا رسول الله ! نجات په څهٔ کښې دے؟ رسول الله ﷺ ورته دغه پورتنے کافي شافي جواب ورکړو۔

[سنن أبی داود]

کور کښې د کیناستو په باره کښې د معاذ ﷺ حدیث مونږ د (دویم جلد) په اول کښې ذکر کړے وو، هغه کتل پکار دی۔

علماء فرمائی: ډیر خوراك څکاك کول، ډیر خوب کول، خلکو سره زیات ملاقات کول، ډیرے خبرے کول او آرزوګانے هم زړهٔ خړوی۔ دے وجے نه په پوره توګه د ایمان حفاظت ډیر ګران کار دے، خو څوك چه د خپل نفس سره مجاهده کوی نو الله تعالیٰ ورته لارے ښائی او الله ورته ددے نه پس داسے منافع او فائدے ورنصیب کوی چه ددهٔ په زړهٔ کښې هم نهٔ وی تیرے شوی۔ والله المستعان.

نو اے ورورو ! د خپل ایمان حفاظت کوه۔

ځینو علماؤ د ایمان د حفاظت مثال داسے ورکړے، لکه په یوه ډاګه کښې یوه ډیوه وی او تیزه سیلئ لړی نو په دے وخت کښې دا انسان څومره کوشش کوی مجاهده کوی، دعاء کوی چه ددهٔ ډیوه چرته مړه نشی؟

د الله تعالیٰ نه غوارم چه زمونږ د ایمانونو حفاظت وکړی تردے چه مونږ د هغهٔ سره ملاقات وکړو۔ آمین !

Maktaba Tul Ishaat.com

٤١ - فائده

د جیلونو اقسام او جیل نه خلاصیدو اسباب

زۀ د بعضِ قیدیانو ملګرو ملاقات له اډیالې جیل ته تلې ووم نو ماته ملګرو ووېل چه څۀ وعظ او توصیه وکړه، او قیدیان سره د ملاقاتیانو نه راجمع شو، نو الله زما په زړۀ کښې دا راتلونکې نصیحتونه وا چول، نو ما ووېل :

د انسان په فطرت کښې الله دا خبره ایښې چه آزادي خوښوي، خوشحالي او امن خوښوي او ددې لپاره هر وخت سرګردانه وي۔ حالانکه ددۀ لپاره یو څو جیلونه تیار شوي :

١ - د ټولو نه غټ جیل د جهنم اور دے چه دا حقیقي جیل دے، او دا هغه جیل دے چه د انسان نه ددۀ ټول خواهشات ختموي او په هره ویره او غم کښې ئے اچوي، په الله پورې پناه ! او ددې جیل تنګ والے هم معلوم دے۔

٢ - **دویم** : د ناپوهۍ او ګمراهۍ جیل : چه ډیر خلك په دې کښې پریوتي دي۔

٣ - **دریم** : دنیا خپله یوه قید خانه ده، لکه د عثمان ﷛ په حدیث کښې دي، رسول الله ﷺ فرمائي : [اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ] (دنیا د مؤمن جیل او د کافر جنت دے)۔

[صحیح بخاری]

٤ - **څلورم** : کله انسان د حکومتونو په جیلونو کښې بندیوان شي نو که دا نیك عمله وي نو جیل ددۀ عبادت خانه ده، او که ضرري وي نو جیل سره سمیږي، لکه حکیم ترمذي وائي :

د پنځو کسانو اصلاح په پنځو شیانو کښې ده :

١ - د ماشوم سمیدل په مکتب کښې دي۔

٢ - د ځوان سمیدل په علم کښې دي۔

٣ - د بوډا سمیدل په جومات کښې دي۔

٤ - د ښځې سمیدل په کور کښې دي۔

٥ - د ضرري سمیدل په جیل کښې دي۔

[ذکره الذهبی فی السیر]

٥ - **پنځم** : د بدو عقائدو او خواهشاتو جیل :

او دا ډیر زور جیل دے چه د اولنی جیل لپاره سبب دے۔
او د الله رحمت ته فکر وکړه چه الله په خپل عظیم کتاب کښے د خپلو بندګانو لپاره ددے تولو جیلونو نه د خلاصی اسباب مقرر کړی، څوك چه دا اسباب اختیار کړی او صحیح ئے استعمال کړی نو ډیر زر به دے ددے قیدونو نه نجات ومومی، ان شاء الله تعالیٰ۔
نو په دے اسبابو کښے یو سبب :
۱ – **حقیقي** ایمان دے چه دا د عقیدے او اقرار نه علاوه شے دے۔ الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ ثُمَّ نُنَجِّىْ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا كَذٰلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنْجِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [یونس:۱۰۳] (بیا به مونږ خپل رسولان او مؤمنان بچ ساتل، دغه شان په مونږ واجب دی چه مونږ به مؤمنانو ته نجات ورکوو)
او فرمائی : ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ [حج:۳۸]
او فرمائی : ﴿ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴾ [نساء:۱٤۱] (او الله د کافرانو لپاره په مسلمانانو هیچرے لاره نۀ ګرځوی)۔
او فرمائی : ﴿ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ﴾ [تین:۵:۶]
په دے مضمون باندے ډیر آیتونه او حدیثونه دی چه هغه مخکښے ذکر شول۔
۲ – دویم سبب : تقویٰ ده : الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [طلاق:۲:۳]
او الله تعالیٰ د قیدیانو په سورت (سورتِ یوسفؑ) کښے فرمائی :
﴿ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَايُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [یوسف:۹۰]
او په حدیث کښے دی، رسول الله ﷺ فرمائی :
[إِنِّىْ لَأَعْلَمُ آيَةً لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ : ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا﴾]
(ماته یو داسے آیت معلوم دے که خلکو هغه ونیولو نو هغه به ورله د هر څۀ نه کافی شی : او هغه دا آیت دے : ﴿ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [یوسف:۲۲] (څوك چه د الله نه ویریدۀ نو هغۀ لپاره به لاره راوباسی)۔ [رواه أهل السنن]
د تقویٰ فائدے د پنځوسو نه زیاتے دی چه مونږ په اول جلد کښے ذکر کړی۔
۳ – **دریم سبب** : احسان دے : یعنی د الله عبادت په توجه او دهیان سره کول، دارنګه په عامو وختونو کښے الله ته توجه کول، او دا ډیر لوئے سبب دے چه په دے سره انسان د تیارو، جهلونو او عامو جیلونو نه وځی، الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ سَلٰمٌ عَلٰى نُوْحٍ فِى الْعَالَمِيْنَ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [صافات:۷۹:۸۰] (په تمام عالَم کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

دے په نوح باندے سلام وی مونږ نیکانو خلقو له دغسے بدله ورکوو)۔
نو دے آیت کښے فکر وکړه۔
او فرمائی : ﴿ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [صافات:۱۰۵] (تا خوب رشتینے وښودهٔ، بیشکه چه مونږ نیکو خلقو ته دغسے بدله ورکوو)۔
او د ابراهیم علیه السلام په حق کښے فرمائی : ﴿قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ﴾ [صافات:۱۰۵]
اوفرمائی : ﴿ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾[آل عمران: ۱۳۴] (او الله د نیك عمله خلکو سره مینه لری)۔
او الله تعالیٰ په سورتِ یوسف کښے صبر، تقویٰ او احسان دارنګه صبر، ایمان او احسان څو ځایه راجمع کړی۔
٤ – څلورم سبب : صبر په خپلو ټولو قِسمونو سره : الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ ﴾ [بقره:۱۵۳] (بیشکه الله د صبر کونکو ملګرے دے)۔
او فرمائی : ﴿ إِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [یوسف:۹۰]
نو په دے سورتِ یوسف کښے ئے د پورتنو درے شیانو ترمینځه یو ځائے والے راوستو۔
او فرمائی : ﴿ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ [زمر:۱۰] (بیشکه صبرناکو ته به د هغوئ اجرونه بے حسابه ورکړے کیږی)۔
او فرمائی : ﴿ وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴾ [آل عمران:۱۸۶] (اوکه چرے تاسو صبر وکړئ او الله نه یریږئ نو دا د پخو کارونو نه دے)۔
٥ – پنځم سبب : د الله نه ډیر زیات امید لری ولے چه الله خپل بنده سره هغه شان معامله کوی څنګه چه بنده په هغهٔ ګمان لری۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَلَا تَيْأَسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ إِنَّهٗ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ ﴾ [یوسف:۸۷] (او د الله د رحمت نه مهٔ نا اُمیده کیږئ، یقیناً د الله د رحمت نه صرف کافران نا امیده کیږی)۔
او فرمائی : ﴿ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖ إِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴾ [حجر:۵۶] (ویل : د ګمراهانو نه سیوا بل هیڅوك د الله د رحمت نه نهٔ امیده کیږی)۔
نو رجاء او امید لرل د ایمان والو صفت دے، الله تعالیٰ د خپل بنده سره په خپل رب باندے د هغهٔ د ګمان موافق معامله کوی۔
٦ – شپږم سبب : ذکر، دعاء او الله نه مدد غوښتل :
الله فرمائی : ﴿ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴾ [یوسف: ۱۸]
او دعاء د راغلو او نا راغلو دواړو مصیبتونو نه نفع ورکوی، او دا د مومن وسله ده خاصکر صبا

بیګاه ذکرونه او د غم او خفګان ذکرونه. د ذکر او دعاء ډیر فضائل راغلي.

۷ – اووم سبب: اخلاص: دا هم د ټولو غمونو نه د نجات حاصلولو لوئے سبب دے. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِينَ ﴾ [یوسف:۲٤] (بیشکه هغه زما د هغه بندګانو نه وو چه د بدیانو نه پاك کړے شوے وو).

په یو قرائت کښې (مخلِصین) د لام په زیر سره راغلے، یعنې دا د اخلاص کونکو بندګانو نه وو. د یو ساعت په اخلاص کښې د همیشه لپاره نجات او خلاصے پروت دے، لکه دا خبره سلفو ویلے.

۸ – اتم سبب: توبه او استغفار: ځکه د ټولو مصیبتونو سبب ګناهونه دي، کوم مصیبت چه راځي نو د ګناه په وجه اوکه لرے کیږي نو د توبے په وجه، لکه چه دا خبره عباس ﷺ ویلے ده. [فتح الباری]

او توبه استغفار یو عظیم عبادت دے چه الله ته ډیر خوښ دے. د یوسف علیه السلام ورونو خپل پلار ته ویلي وو: ﴿ اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا ﴾ [یوسف:۹۷] (مونږ له د الله نه زمونږ د ګناهونو ښښنه وغواړه).

۹ – نهم سبب: د خپل ځان نه تهمت لرے کول:

﴿ قَالَ هِيَ رَاوَدَتْنِي عَنْ نَّفْسِي ﴾ [یوسف: ٢٦] (یوسف وویل، دے ما لره په ګناه مجبوره کول غوښتل).

په حدیث کښې دي: [عَـلَيْكَ بِـالْكَيْسِ فَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَقُلْ قَدَّرَ اللّٰهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ ، وَإِنَّ اللّٰهَ يَلُوْمُ عَلَى الْعَجْزِ] (تا له پکار دي چه هوښیار اوسے بیا که تاته څۀ مصیبت ورسي نو داسے وایه چه دا د الله په تقدیر سره دے او څۀ چه هغه غواړي کوي ئے، او بیشکه چه الله په کمزورئ ښکاره کولو باندے خلك ملامته کوي).

﴿ فَلَمَّا جَاءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ فَاسْئَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِي قَطَّعْنَ أَيْدِيَهُنَّ ﴾ [یوسف:٥٠] (نو کله چه د هغۀ خوا ته قاصد راغلو، نو هغه وویل: خپل بادشاه ته واپس لاړ شه، او د هغه نه تپوس وکړه چه د هغه ښځو په باره کښې د هغه سره څه خبر دے، کومو چه خپل لاسونه پریکړي وو).

۱۰ – لسم سبب: د دعوت، خدمت او تعزیت په ذریعه د الله د بندګانو سره د شفقت او ښیګړے معامله کول: ځکه الله په خپلو بندګانو باندے په هغه چا رحم کوي څوك چه په بل چا رحم کوي، او څوك چه په بل رحم نۀ کوي په هغۀ هم رحم نۀ کیږي. او د یوسف علیه السلام ورونو یوسف ته وویل: ﴿ إِنَّا نَرَاكَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [یوسف:۷۸] (مونږ پو هیږو چه تۀ یو نیك زړۀ والا انسان ئے).

۱۱ – یولسم سبب: الله ته مخ کول او په هغۀ باندے خپل ځان سپارل او بل هیڅ یو ظاهري سبب ته توجه نۀ کول. نو په دے وخت کښې په انسان باندے د الله له خوا کشادګي او فراخي راځي. الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ فَأَنْسَاهُ الشَّيْطَانُ ذِكْرَ رَبِّهِ فَلَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ ﴾ [یوسف:٤٢] (لیکن شیطان د هغۀ د دماغونه دا خبره هیره کړه چه د بادشاه مخے ته د هغه تذکره وکړي، پدے

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه هغه په ډيرو کلونو پورې په جيل کښې ووسيدۀ)۔
نو دا کار مخلوق ته د توجه کولو په سبب وشو۔
په حديث شريف کښې دي: [لَوْ لَمْ يَتَوَجَّهْ يُوْسُفُ إِلٰى غَيْرِهِ لَمَا لَبِثَ فِي السِّجْنِ بِضْعَ سِنِيْنَ] (که چرې يوسف عليه السلام بل چاته توجه نۀ وې کړې نو په جيل کښې به څو کاله نۀ وې ايسار شوې)۔ [السلسلة الصحيحة]
دا د حديث مضمون دې۔او علامه ابن کثيرؒ په دې الفاظو سره ذکر کړې:
[لَوْ لَمْ يَقُلْ يُوْسُفُ - يَعْنِي الْكَلِمَةَ الَّتِيْ قَالَ - مَا لَبِثَ فِي السِّجْنِ طُوْلَ مَا لَبِثَ حَيْثُ يَبْتَغِي الْفَرَجَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ] (که يوسف عليه السلام هغه خبره نۀ وې کړې کومه ئې چه وکړه، نو په جيل کښې به د دومره اوږد وخت لپاره نۀ وې ايسار شوې چه د الله نه سيوا د بل چانه ئې فراخي غوښتله)۔ [تفسير ابن کثيرؒ]
۱۲ – **دولسم سبب**: په راغلي مصيبت کښې په خلکو باندې ملامتيا نۀ اچول: څکه يوسف عليه السلام هغه کس ملامته نۀ کړو چه هغۀ خلاصې مونډلې وو چه تا نه زۀ ولې هير شوې ووم۔
۱۳ – **ديارلسم سبب**: د خيانت نه ځان ساتل:
﴿ وَأَنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ كَيْدَ الْخَائِنِيْنَ ﴾ [يوسف:۵۲] (او بيشکه الله د خيانت کونکو چل نۀ کاميابوي)۔
۱٤ – په تقدير ايمان لرل: ﴿ إِلَّا أَنْ يُحَاطَ بِكُمْ ﴾ [يوسف:٦٦] (مګر که تاسو ټول راګير کړې شئ)۔
۱۵ – جائز اسباب اختيارول څنګه چه يعقوب عليه السلام خپلو ځامنو ته دا توصيه وکړه چه: مصر ته د جدا جدا دروازو نه ننوځئ دې دپاره چه د نظره نشي او خلك پرې بدګماني ونۀ کړي۔
۱٦ – دا خبره پيژندل چه کله مصيبت دروند او پرله پسې شي نو بيا آساني رانزدې وي، لکه يعقوب عليه السلام نه اول يو ځوئې (يوسف عليه السلام) ورك شو بيا ورپسې بل ځوئې ورك شو، نو د دويم د ورك کيدو نه پس آساني او فراخي راغله۔ دارنګه يوسف عليه السلام باندې يو ځل د مور پلار د جدايئ امتحان راغلو او بيا پرې د عزيزِ مصر د ښځې آزمائش او بيا په دريم ځل د جيل آزمائش راغې نو ددې نه پس په هغۀ فراخي راغله۔
د الله تعالىٰ په دې وينا کښې دې طرفته يوه واضحه اشاره پرته ده:
﴿ حَتّٰى إِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَظَنُّوْا أَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا جَاءَهُمْ نَصْرُنَا ﴾ [يوسف:۱۱۰] (تردې پورې چه کله انبياء نا اميدئ ته ورسيدل، او د هغوئ قومونو ګمان وکړو چه د عذاب وعده دروغژنه وه، نو زمونږ مدد هغوئ ته راغلو)۔
۱۷ – صدقه کول: ﴿ إِنَّ اللّٰهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِيْنَ ﴾ [يوسف:۸۸] (بيشکه الله صدقه کونکو ته

جزائے خیر ورکوی)۔
او دا ټول اسباب د سورتِ یوسف نه په مختصره توګه اغستے شوی دی، ګنے ددے نه یوه مفیده رساله جوړیدے شی، خو عاقل له اشاره کافي ده۔

٤٢ - فائده

د رحمت او مغفرت ترمینځه یو ځائے والے

الله تعالیٰ په خپل عزتمن کتاب کښے رحمت او مغفرت یو ځائے ذکر کوی، لکه فرمائی:
﴿ نَبِّئْ عِبَادِیْۤ اَنِّیْۤ اَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ ﴾ [حجر:٤٩] (ته زما بندګانو له خبر ورکړه چه زهٔ ډیره معافی کونکے، بے حده رحم کونکے یم)۔ ﴿ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَیْرُ الرّٰحِمِیْنَ ﴾ [مومنون:١١٨] (او اے زما نبی! ته وایه چه اے زما ربه! ماته بخښنه وکړے او په ما رحم وکړے، او ته د ټولو نه بهتر رحم کونکے یې)۔
﴿ وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ﴾ [بقره:٢٨٦] (او مونږ ته بښنه وکړه او رحم راباندے وکړه)۔
او فرمائی: ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَاۤ اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴾ [اعراف: ٢٣]
په دے کښے راز دادے چه مؤمن همیشه لپاره د دوه شیانو غم او فکر کوی: (١) تیر شوی ګناهونه (٢) په راتلونکی وخت کښے ددے نه بچ کیدل۔ نو دهٔ سره دا غم وی چه آیا الله به دهٔ ته مخکنی ګناهونه معاف کړی او که نه؟ او دا غم ورسره وی چه الله به په راتلونکی وخت کښے دا د ګناهونو نه وساتی او که نه؟ او چاسره چه دا غم او فکر نهٔ وی نو دا تاوانی انسان دے، والعیاذ بالله!
دا وجه ده، ابن کثیرؒ فرمائی: علماؤ ویلی دی چه ګناه درے شیانو ته حاجت لری: (١) چه الله هغه ګناه معاف کړی کومه چه د بنده او د الله ترمینځه ده (٢) چه الله ئے د نورو بندګانو نه په پرده کښے وساتی او په دے ګناه سره ئے د هغوئ ترمینځه ونهٔ شرموی۔ (٣) چه الله ئے ددے ګناه پشان د نورو ګناهونه بچ کړی۔
یحییٰ بن معاذ رازیؒ فرمائی: څلور شیان دی چه مومن ته ئے خوشحالی نهٔ ده پریښے: (١) د آخرت فکر (٢) د ګناهونو غم (٣) د روزئ ګټلو فکر (٤) د مصیبتونو راتلل۔
(لکه دا خبره مخکښے هم تیره شوے: [١/ ٣٩٧]
[سجن ادیاله إسلام آباد، یوم الخمیس :٧ ذی القعدة عام: ١٤٣١ هـ]

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٣ - موثره فائده

د ایمان والو د صفتونو نه یو صفت دادے چه دویٔ د الله د آیتونو نه اثر اخلی، او هم د دویٔ په حقله الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴾ [فرقان:۷۳] (او کله چه په دویٔ باندے دَ دویٔ دَ رب آیتونه ولوستے شی او نصیحت ورته وکړے شی نو کنړو او ړندو پشان حرکتونه نهٔ کوی).

نو اوس زهٔ تاته د سلفو صالحینوّ (مخکنو مشرانو) څهٔ حالات ذکر کوم چه هغویٔ د الله د آیتونو نه څومره تاثر اخستے وو ! کیدے شی چه الله مونږ هم په دے صفت کښے د هغویٔ مشابه کړی او د هغویٔ د حالت پشان حالت زمونږ هم جوړ شی.

۱ - الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِنْ ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴾ [مریم:۵۸] (دا هغه انبیاء دی چه په دوی باندے الله خپل خاص انعام کړے وو، چه د آدم د اولادو او د هغه چا د اولادو نه وو کوم چه مونږ د نوح سره په کشتئ کښې سوارهٔ کړی وو، او کوم چه د ابراهیم او یعقوب اولاد وو، او دا د هغه کسانو نه وو چه مونږ ورته هدایت کړے وو او کوم چه مونږ چونړ کړی وو، کله چه به په دوی باندے د رحمٰن آیتونه تلاوت کیدل نو په سجدے کولو او ژړلو سره به په زمکه پریوتل).

نو وګوره ! انبیاء علیهم السلام څنګه د الله د آیتونو نه تاثر اخلی !

۲ - او الله فرمائی : ﴿ قُلْ آمِنُوا بِهِ أَوْ لَا تُؤْمِنُوا إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِنْ قَبْلِهِ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا وَيَقُولُونَ سُبْحَانَ رَبِّنَا إِنْ كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴾ [اسراء:۱۰۷-۱۰۹] (تهٔ ووایه : تاسو پدے باندے ایمان راوړیٔ او که نهٔ راوړیٔ، بیشکه کومو خلقو ته چه ددے نه مخکښ علم ورکړے شوے وو، کله چه په هغوی ددے تلاوت کیږی نو هغوی په زنو سره په سجده پریوزی. او وائی چه زمونږ رب د هر عیب نه پاك دے، بیشکه زمونږ د رب وعده به خامخا پوره کولے شی. او دوی په زنو باندے په سجده پریوتو سره ژاړی او قرآن د دوی خشوع زیاتوی).

او دا د نیکانو اهلِ کتابو حالت دے.

۳ – او الله فرمائي : ﴿ وَإِذَا سَمِعُوْا مَآ أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰى أَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ ﴾ [مائده : ۸۳]

نو دوئ د الله د آيتونو نه څومره اثر قبول کړو!

٤ – او الله فرمائي : ﴿ اَللّٰهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ إِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴾ [زمر:۲۳] (الله د تهولو نه ښهٔ کلام نازل کړے، يعني يو کتاب چه دَ هغے آيتونه په معنو کښې د يو بل سره يوشان دى، چه دا بار بار لوستلے کيږي، چه ددے په آوريدو سره د هغه خلقو غونے زيګ کيږي چه هغوئ د خپل ربه نه يريږي، بيا د هغوئ څرمنے او د هغوئ زړونه نرم شي او د الله ياد طرفته مائله شي، دا قرآن دَ الله هدايت دے، هغه ددے په ذريعه چاته چه غواړي نيغه لاره ښائي، او چالره چه الله ګمراه کړي هغهٔ ته څوك هدايت نشي کولے)۔

آيتِ کريمه کښې فکر وکړه آيا تهٔ خپل ځان کښې دا صفت وينے ؟ اوکه ځان کښې دا صفت نهٔ وينے نو بيا ولے تهٔ غمژن کيږے نهٔ ؟ او ددے اهتمام ولے نهٔ کوے ؟

٥ – او الله کافرانو له رټنه ورکړے چه دوئ د الله د آيتونو نه اثر نهٔ اخلي :

﴿ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُكَذِّبُوْنَ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوْعُوْنَ ﴾ [انشقاق:۲۰-۲۳]

٦ – او د الله دے وينا ته وګوره : ﴿ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴾ [فرقان:٦٤، ٦٥] (او هغه خلق چه هغوئ دَ خپل رب مخے ته دَ سجدے او قيام په حالت کښې شپه تيروى او هغه خلق چه دعاء غواړي چه اے زمونږ ربه! مونږ نه دَ جهنم عذاب واړوه، بيشکه ددے عذاب هميشه لپاره ځان پورے نښتونکے دے)۔

په دے کښې ئے څنګه قيام الليل او د اور نه ويره يوځائے ذکر کړي ؟ وجه داده چه اور دوئ پريشانه کړي او د اور خوف دوئ خوب ته نهٔ پريدي۔

۷ – او الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّ سَبَّحُوْا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّ طَمَعًا وَّ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴾ [سجده:۱۵، ١٦]

نو وګوره ! څنګه الله تعالىٰ د ايمان لپاره دا شرط لګولے چه د هغهٔ د آيتونو نه به اثر اخلي۔

۸ – کله چه دا آيتونه نازل شو : ﴿ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَاهُمْ بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَذَابَ اللهِ شَدِيدٌ ﴾ [حج:۱:۲] (اے خلقو ! خپل رب نه ووېرېږئ بيشکه دَ قيامت زلزله لوئ شے دے په کومه ورځ چه تاسو دا ووينئ (په دغه ورځ به) هر پئ ورکونکے (دَ ويرے دَ وجے نه) هغه بچے هير کړی چه هغهٔ ته ئے پئ ورکولو او هره حامله ښځه به خپل حمل وارتوی، او (په دغه ورځ) به تهٔ خلق ووينے چه لکه په دوئ باندے نشه ختلے ده، حالانکه هغوئ به دَ نشے په حالت کښې نهٔ وی، بلکه دَ الله عذاب به سخت وی)۔

نو رسول الله ﷺ دا آيتونه په خپلو ملګرو باندے د شپے په وخت ولوستل او هغوئ د بنو المصطلق په غزا کښې وو، نو هغوئ ډير زيات وژړل چه ددے شپے نه زيات په بل ځائے کښې چا دومره ژړا نهٔ وه کړے۔

[ذكره صديق حسن خان رحمه الله فى فتح البيان]

۹ - ابو نضرةؒ وائی : د نبی ﷺ په صحابو کښې يو سړے د ابو عبد الله په نوم بيمار وو، ملګری هغهٔ ته د بيمار پوښتنے لپاره ورغلل، او هغهٔ ژړل، خلکو ويل : ولے ژاړے ؟ آيا تاته رسول الله ﷺ دا نهٔ وو ويلی چه خپل بريت اخله او بيا دا کارتر هغه وخته پورے جاری ساته تردے چه ما سره (په قيامت کښې) ملاؤ شے۔ هغهٔ ويلے : ولے نه۔ خو ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلی دی چه فرمايل ئے : (الله عز وجل په خپل ښی لاس کښې د خلکو نه يو موټے او په بل لاس کښې بل موټے راواغستهٔ او وے فرمايل : دا خلك ددے (جنت) لپاره دی او دا خلك ددے (اور) لپاره دی، او زما هيڅ پرواه نشته)۔ او ماته هيڅ پته نشته چه زهٔ به په کوم يو موټی کښې يم ؟

[رواه الإمام أحمد بإسناد صحيح]

نو فکر وکړه ! ددے حديث شريف نه ئے څومره اثر واغستهٔ !!

۱۰ - امام بخاریؒ په خپل صحيح کښې د اسماء - رضى الله عنها - نه روايت کوی، دا فرمائی : رسول الله ﷺ د (صلاة کسوف نه روستو) خلکو ته خطبه ورکړه او وے فرمايل : [إِنَّهُ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُوْنَ فِي الْقُبُوْرِ قَرِيْبًا مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ] (بيشکه ماته وحی شوے چه تاسو به په قبرونو کښې د دجال فتنے ته نزدے فتنے باندے آزمايلے کيږئ) نو دے سره مسلمانانو چغے کړے، چه دا چغے زما او د رسول الله ﷺ په خبره باندے د پوهيدو په لاره کښې خنډ شوه، نو کله چه د دوئ ژړا په قلاره شوه نو ما خپل خواته ناست سړی ته وويل : اے سړيه ! الله دے په تا کښې برکت واچوی ! رسول الله ﷺ آخرنئ خبره کومه وکړه؟ هغهٔ ويلے : وے فرمايل چه ماته وحی شوے چه تاسو باندے به په قبرونو کښې آزمائش راځی۔

[صحيح بخارى ، مشكاة : ۱/ ۲٦]

فکر وکړه ! صحابه کرامو - رضی الله عنهم - څنګه اثر واغستهٔ ! د نبی اکرم ﷺ په خبره د دویٔ څومره یقین وو ؟ حالانکه په دے - او ددے پشان - حدیث باندے مونږ او تاسو تیریږو او په مونږ څهٔ خاص اثر نهٔ کیږی ؟ !

۱۱ - امام احمدؒ د ابو سلمه بن عبد الرحمنؒ نه روایت کوی، دا وائی : عبد الله بن عمر او عبد الله بن عمرو بن العاص - رضی الله عنهم - په مروهٔ باندے سره ملاؤ شو، او دواړو خبرے اترے وکړے، بیا عبد الله بن عمرو لاړ او ابن عمر ژړل۔ نو یو سړی ورته وویل : ابو عبد الرحمن ! ولے ژاړے ؟ وے فرمایل : دغه سړی - یعنی عبد الله بن عمرو - وویل چه دهٔ د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے : [مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ ، كَبَّهُ اللهُ لِوَجْهِهِ فِي النَّارِ]

(د چا په زړهٔ کښے چه د شرشم د دانے هومره کبر وی، الله به ئے پر مخے اور ته وارتوی)۔

[رواه أحمد ورواته رواة الصحيح ، كذا في الترغيب : ٤/ ٣٤٥]

۱۲ - امام ترمذیؒ - په خپل سند سره - د شُفیؒ اصبحیؒ نه روایت کوی : چه دے مدینے ته ننواتهٔ نو څهٔ ګوری چه د یو سړی نه څهٔ خلك راتاؤ شوی، نو دهٔ پوښتنه وکړه : دا څوك دے ؟ خلکو ویل: ابو هریره ﷺ دا وائی : زهٔ هغهٔ ته ورنزدے شوم تردے چه د هغهٔ مخامخ کیناستم او هغهٔ خلکو ته حدیث بیانولو، نو کله چه خاموشه شو او یواځے شو نو ما ورته وویل: زهٔ تانه د فلانی فلانی حق په وسیله سوال کوم چه تهٔ به خامخا ماته د رسول الله ﷺ نه هغه حدیث بیانوے چه هغه تا آوریدلے او زده کړے وی، بیا ابو هریره بیخوده شو او مونږ لږ ایسار شو بیا هغه په خود کښے راغے او ویلے: زهٔ به تاته یو داسے حدیث بیان کړم چه رسول الله ﷺ ماته په دے کور کښے بیان کړے چه په دے کښے زما او د هغهٔ نه سیوا بل هیڅوك نهٔ وو، بیا ابو هریره د اول ځل نه هم زیات بیخوده شو، بیا راپاسیدهٔ او په سترګو ئے لاسونو مږل، او وے ویل: هو ! زهٔ به تاته یو داسے حدیث بیان کړم چه رسول الله ﷺ ماته بیان کړے، زهٔ او هغه دواړه په دے کښے وو، مونږ سره بل څوك نهٔ وو، بیا ابو هریره ددے نه هم زیات بیخوده شو بیا په مخ باندے راپریواتهٔ او هغه ما په اوګدو باندے ځانته تکیه کړو، بیا هغه په خود کښے راغے او وے فرمایل : رسول الله ﷺ ماته حدیث بیان کړے چه : (الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ خپلو بندګانو ته د فیصلے لپاره راکوز شی او هر امت به په ګوډو پراتهٔ وی، نو اولنے چه د حساب لپاره کوم سړے راغواړی دا به هغه سړے وی چه قرآن ئے جمع کړے، بل هغه سړے چه د الله په لاره کښے وژل شوے، او دریم هغه سړے چه ډیر مال لری۔ نو الله به قرآن لوستونکی ته وفرمائی: آیا ما تاته هغه څهٔ نهٔ وو دربنودلی چه هغه ما په خپل رسول نازل کړی وو ؟ هغه به وائی: ولے نه اے ربه ! الله به وفرمائی :

Maktaba Tul Ishaat.com

ښه نو تا په خپل علم څومره عمل کړے؟ هغه به وائي: ما به د ورځے او شپے په اوقاتو کښے دا لوستلو، نو الله به ورته وفرمائي: ته دروغ وائے او ملائك به هم ووائي: ته دروغ وائے، الله به ورته وفرمائي: بلكه ستا مقصد خو دا وو چه ستا په باره كښے خلك ووائي: فلانے قاري دے، نو دا خبره تاته ويل شوے ده. بيا به مالداره سرے راوغوښتل شي، الله به ورته وفرمائي: آيا ما په تا باندے فراخي نه وه راوستے تردے چه ته ما هيچا ته حاجتمن نه وے جوړ کړے؟ هغه به وائي: ولے نه اے ربه! الله به وائي: نو ما چه تاله څه درکړي وو، په هغے كښے تا څه وكړل؟ هغه به وائي: ما به خپلولي پالله او صدقے به مے كولے، الله به ورته ووائي: ته دروغ وائے او ملائك به هم ووائي: ته دروغ وائے، بلكه ستا اراده دا وه چه خلك ووائي: فلانے څومره سخي سړے دے نو دا خبره (په دنيا كښے تاته) ويل شوے. بيا به هغه تن راوغوښتل شي چه د الله په لاره كښے وژل شوے، الله به ورته وفرمائي: ته په څه كښے ووژل شوے؟ هغه به وائي: تا په خپله لاره كښے د جهاد حكم كړے وو نو ما جهاد كولو تردے چه زه ووژل شوم، الله به ورته ووائي: ته دروغ وائے او ملائك به ورته ووائي: ته دروغ وائے، الله به ووائي: بلكه ستا نيت خو دا وو چه خلك ووائي: فلانے څومره بهادر سړے دے، نو دا خبره تاته ويل شوے. بيا رسول الله ﷺ زما په داړو گوډو لاس ووا هه او وے فرمايل: اے ابو هريره! دا درے تنه اولني هغه خلك دي چه د قيامت په ورځ په دوئ باندے د جهنم اور گرمولے شي). بيا شفيّ معاويه ﷺ ته ورغے او هغه ته ئے دا حديث بيان كړو، نو معاويه وفرمايل: دے خلكو سره دا كار وكړے شو نو د نورو خلكو په باره كښے مو څه خيال دے؟ بيا معاويه - رضي الله عنه - دومره ډير وژړل چه زمونږ گمان راغے چه دے مړ شو، او مونږ وويل: دے سړي (شفيّ) مونږ ته د شر خبره راوړه، بيا معاويه په خود كښے راغے او خپلے سترگے ئے مسح كړے او وے فرمايل: الله او رسول (ﷺ) رشتيا ويلي دي: ﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴾ [هود: ١٥-١٦]

(څوك چه د دنيا ژوند او ددے ډول غواړي نو مونږ به په دنيا كښ د هغه د اعمالو پوره بدله وركړو او پدے كښ به د هغه سره هيڅ كمے نه كيږي. همدا هغه خلق دي چه دوي ته به په آخرت كښ د اور د عذاب نه سوئ بل څه نه ملاويږي، او دوي چه څه په دنيا كښ كړي وي هغه به ضائع شي او هغه څه چه هلته ئے كول (د ايمان نه بغير) بيكاره وو).

[سنن الترمذي: ٢/ ٦١، صحيح ابن خزيمة، ابن حبان، انظر الترغيب: ١/ ٢٨، والحديث حسن صحيح]

نو فكر وكړه! ابو هريره ﷺ او معاويه ﷺ ددے حديث شريف نه څومره اثر واخستۀ!!

۱۳ – سلفو به د نبی ﷺ ددے وینا نه ژړل : [اِنَّ اللّٰهَ لَیُؤَیِّدُ هٰذَا الدِّیْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ]
(بیشکه الله کله د یو بدکاره سړی په ذریعه دا دین مضبوطوی)۔
[صحیح بخاری]
سلف ددے خبرے نه یریدل چه هسے نهٔ مونږ چرته د دویٔ نه حساب نشو۔

۱٤ – حسن بصریؒ فرمائی : چاچه هم په قرآن ایمان راوړے هغه به خامخا غمژن، سترے او مراوے وی۔ [ذکره البیهقی فی شعب الإیمان]

۱۵ – ابو صالحؒ فرمائی : څهٔ وخت چه یمن والا د ابو بکر صدیق رضی الله عنه په دورِ خلافت کښے راغلل او قرآن ئے واوریدهٔ نو په ژړا شو، ابو بکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل : مونږ هم مخکښے دغسے وو خو بیا زړونه سخت شول۔
[رواه أبو نعیم فی الحلیة، کما فی الکنز : ۱/ ۳۲٤]

۱٦ – مسروقؒ فرمائی : د مکی وسیدونکی یو سړی وویل : دا د تمیم داری رضی الله عنه کور دے، ما هغه یوه شپه ولیدهٔ چه تر سهاره یا سهارته نزدے پورے ئے د الله د کتاب یو آیت لوستلو او رکوع او سجده به ئے کوله او ژړل به ئے۔ هغه آیت دادے :
﴿ اَمْ حَسِبَ الَّذِیْنَ اجْتَرَحُوا السَّیِّئَاتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ کَالَّذِیْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ﴾ [جاثیة: ۲۱]
[تفسیر قرطبی : ۱٦/ ۱٦٦]

۱۷ – بشیرؒ فرمائی : ما د ربیع بن خیثمؒ سره یوه شپه تیره کړه نو هغه مانځه ته پاسیدهٔ او په دغه آیت ورتیر شو او خپله توله شپه ئے تر سهاره پورے په همدے باندے په ژړلو ژړلو تیره کړه ددے نه اخوا تیر نشو۔

۱۸ – ابراهیم بن اشعثؒ فرمائی : مابه فضیل بن عیاضؒ زیاتره لیدلو چه د شپے د اول نه تر آخره پورے به ئے د غه پورتنے آیتِ کریمه باربار لوستلو، په دے کښے به ئے غور او فکر کولو او ویل به ئے : آرمان دے چه ماته معلومه وے چه په دے دواړو ډلے کښے به زهٔ په کومه ډله کښے یم؟ او دے آیت ته د عابدانو ژړوونکے آیت ویل کیدهٔ۔ [تفسیر قرطبی]

۱۹ – امام ذهبی رحمه الله د محمد بن منکدرؒ نه نقل کړی چه یو ځل دهٔ د شپے مونځ کولو چه ناګهانه ئے ژړا شروع کړه او ډیر زیات ئے وژړل تردے چه ددهٔ کور والا ګهبراؤ شو او پوښتنه ئے ترے وکړه نو هغوئ ته ئے څهٔ ونهٔ ویل او په مخه ئے ژړل، نو د کور خلکو ابو حازمؒ پسے څوك ولیږل، هغه چه راغے ورته ئے ویل : ولے ژاړے؟ محمدؒ وویل : یو آیت مے مخے ته راغلے۔ ابو حازمؒ ویل : هغه کوم آیت دے؟ ویلے :

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴾ [زمر:٤٧] (د الله د طرف نه به دوئ ته هغه څۀ راښکاره شي چه د هغې ګمان هم دوئ نه کولو).

نو ابو حازمؒ هم هغۀ سره په ژړا شو او دوارو سخت وژړل.

[سير أعلام النبلاء للذهبيؒ : ٥/ ٣٥٥]

۲۰ - محمد بن منکدرؒ د خپل مرینې په وخت بې قابو شو، چا ورته ووېل : ولې بې قابو شوې ؟ ويلې : د الله په کتاب کښې د يو آيت نه يريږم : ﴿ وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ ﴾ [زمر:٤٧] نو زۀ يريږم چه ماته داسې څۀ راښکاره شي چه مابه د هغې ګمان هم نۀ لرلو.

[تفسير قرطبی]

۲۱ - قاسم بن ابی بکرؒ وائي : ابن عمر ﷺ تلاوت کولو او کله چه دې آيت ته ورسيدۀ : ﴿ يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ [مطففين:٦] (په کومه ورځ چه به خلك د رب العالمين مخامخ ودريږي) نو دومره ئې وژړل چه را پريوتۀ او د مخکښې لوستو نه بند شۀ.

[سير أعلام النبلاء : ٣/ ٢٣٥]

بيائې وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي دي چه فرمايل ئې : په کومه ورځ چه خلك د رب العالمين مخامخ ودريږي، نو دا به داسې ورځ وي چه ددې اندازه پنځوس زره کاله ده، په دې کښې به د چا خوله تر پټکو پورې رسيدلې وي، د چا به زنګونانو پورې، د چابه بدې پورې، د چابه سينې او غوږونو پورې رسيدلې وي، تردې چه څوك به په خپله خوله کښې داسې ډوبيږي لکه څنګه چه چيندخان په اوبو کښې ډوبيږي.

[تفسير قرطبی : ١٩/ ٢٥٩]

۲۲ - عبد الله بن عبيد بن عميرؒ د خپل پلار عبيدؒ نه نقل کوی چه دۀ دا آيت ولوستلو : ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ ﴾ [نساء:٤١] (ستا به څۀ حالت وي هر کله چه مونږ د هر امت نه ګواه را حاضر کړو) نو ابن عمر ﷺ په ژړا شو تردې چه د هغۀ ګيره او ګريوان د اوښکو نه لامدۀ شول، نو چا اراده وکړه چه زما پلار ته ووائي : بس کړه تا دې شيخ ته ضرر ورکړو.

[ذکره الذهبی : ٣/ ٢١٤]

۲۳ - نافعؒ وائي : ابن عمر ﷺ به چه کله دا آيت ولوستۀ :

﴿ اَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ ﴾ [حديد:١٦] (آيا ايمان والو لپاره وخت نۀ دې راغلې چه د دوئ زړونه د الله په ياد سره او کوم حق (يعنی قرآن) چه نازل شوې، په هغې سره نرم شي).

نو دومره به ئې ژړل چه ژړا به ونيوۀ. [پاسنئ حواله]

۲٤ – ابو حاتم بستيّ فرمائي : محمد بن منكدرؒ د قاريانو په سردارانو كښې يو سردار وو هغهٔ به چه د رسول الله ﷺ حديث لوستلو نو بے اختياره به ژړيدهٔ او هغهٔ به خپله گيره او سر په نكريزو باندے زيږول۔ [سير أعلام النبلاء : ٥/ ٣٥٤]

۲٥ – عطاء سلميّ به دومره ژړل چه ددے په وجه شبكور شو او كله به د تلاوت او د وعظ په وخت بيخوده هم شو۔ [سير أعلام النبلاء : ٦/ ٨٧]

۲٦ – عبد الرحمن بن مهديّ وائي : ما به د سفيان ثوريّ قرائت د ډيرے ژړا په وجه نهٔ آوريدهٔ۔ [سير : ٧/ ٢٧٧]

۲۷ – نعيم بن حمادؒ نه نقل دى چه كله به عبد الله بن مباركؒ كتاب الرقاق (زړهٔ نرموونكى احاديث) لوستل نو د ډيرے ژړا په وجه به ددهٔ حالت داسے جوړ شو تهٔ به وائے چه دا يو ذبح شوے غوا يا غويے دے، په مونږ كښے به هيچا دا جرأت نشو كولے چه د هغهٔ نه پوښتنه وكړو، پوښتنه به هغهٔ په خپل خوا او خاطر كښے نهٔ راوسته۔ [سير : ٨/ ٣٩٤]

۲۸ – محمد بن ناجيهؒ وائي : ما د فضيل بن عياضؒ پسے مونځ وكړو نو هغهٔ د سهار په مانځه كښے ﴿ٱلْحَآقَّةُ﴾ [حاقه:١] ولوسته او كله چه دے ځائے ته راورسيدهٔ : ﴿خُذُوهُ فَغُلُّوهُ﴾ [حاقه:٣٠] (دے ونيسئ او طوقونه ورواچوئ) نوژړا به ونيوهٔ او د هغهٔ ځوئے به بيخوده شو تردے چه په مابه راوغورزيدهٔ۔ [سير : ٨/ ٤٤]

۲۹ – د فضيل بن عياضؒ ځوئے عليّ به د قرآن په لوستلو نهٔ قادريدهٔ او خپل پلار ته به ئے ويل : اے باباجى ! د الله نه ما لپاره وغواړه كيدے شى چه زهٔ يو ځل قرآن ختم كړے شم۔ [ذكره البيهقي في الشعب : ٢/ ٣٦٦]

۳۰ – ابن جوزيّ وائي : ما به انماطيّ ته احاديث آورول او هغهٔ به ژړل نو د هغهٔ د روايت نه زيات ما د هغهٔ د ژړا نه فائده واغسته او هغهٔ نه ما دومره فائده واغسته چه بل چانه مے دومره نهٔ وه اغستے۔ [پورتنئ حواله : ٢٠/ ١٣٦]

۳۱ – عائشے رضي الله عنها وويل : ابو بكر يو داسے نرم زړے سړے دے چه كله قرآن لولي نو ژړا پرے غالبه شي۔ نبي ﷺ وفرمايل : حكم ورته وكړئ چه خلكو ته مونځ وكړي …… الحديث۔ [صحيح بخاري : ١/ ٩٤]

۳۲ – عطاءؒ وائي : زهٔ او عبيد بن عميرؒ عائشے رضي الله عنها كره ورغلو نو هغے عبيد بن عميرؒ ته وويل : ايله اوس ملاقات له راغلے ؟ نو هغهٔ وويل : اے مورے ! زهٔ هغه خبره كوم چه مخكنو خلكو به ويله : كله كله ملاقات كوه، مينه به زياتيږي۔ نو هغے وفرمايل: دا خپلے

Maktaba Tul Ishaat.com

بیکاره خبرے پریدئ۔

په بل روایت کښې دي، ابن عمر ووېل : دا خپلې بیکاره خبرے پریدئ (لکه په تفسیر ابن کثیرؒ کښې دي) ماته هغه ناشنا خبره وکړه چه تا د رسول الله ﷺ نه لیدلې۔ راوي وائي : هغې اول وژړل او بیا ئې وفرمایل : نبي ﷺ یوه شپه ودریدهٔ او وې فرمایل : اے عائشې ! ما پریده چه د خپل رب بندګي وکړم، ما عرض وکړو : زهٔ ستا نزدے والے خوښوم او هغه شے خوښوم چه تا خوشحالوي، هغه وائي : نو نبي ﷺ پاسیدهٔ اودس ئې وکړو او بیا په مونځ ودریدهٔ، او همیشه وو چه ژړل ئې تردے چه غیږه ئې لمده شوه، هغه وائي : په ناسته ناسته ئې ژړل تردے چه ګیره مبارکه ئې لمده شوه، بیا ئې دومره ډیر وژړل چه زمکه لمده شوه، دے کښې بلال راغے او د مانځه خبر ئې ورته ورکړو او کله چه بلال په ژړا ولیدهٔ نو عرض ئې وکړو : یا رسول الله ! تهٔ ژاړے حالانکه الله خو تاته مخکني او روستني ګناهونه ښښلي ؟ نبي ﷺ وفرمایل : آیا زهٔ به یو شکر ګذار بنده نهٔ جوړیږم۔ بیګاه شپه په ما یو داسے آیت نازل شوے چه څوك هغه ولولي او فکر په کښې ونهٔ کړي نو هغه دے تباه شي : (او هغه آیت دادے) :

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ [آل عمران:١٩٠] (یقیناً په پیدائش د آسمانونو او زمکه کښې او د شپے او ورځے په ګردش کښې د عقل والو لپاره ډیرے نښے دي)۔

[أخرجه ابن حبان، کما في الموارد: ٥٢٣، والصحیحة: ١/ ٢٠٦، ٦٨، وأورده ابن کثیر: ١/ ٥٨٥ بأطول منه]، والحدیث حسن أو صحیح]

نو وګوره ! نبي ﷺ د الله د آیتونو نه څنګه تاثر واغستهٔ ! سره ددے چه هغه معصوم او ښښلے شوے دے !

٣٣ - جعفر بن زید العبديؒ وائي : یو ځل عمر بن خطاب ﷺ د شپے د ګشت کولو لپاره ووتهٔ نو د مسلمانانو د یو سړي په کور باندے په داسے حالت کښې ورتیر شهٔ چه هغه مانځه ته ولاړ وو، نو عمر رضي الله عنه د هغهٔ قرائت ته غوږ کیښودهٔ او هغهٔ ﴿ وَالطُّورِ ﴾ [طور:١] (قسم دے په طور (غرهٔ) باندے) لوستلو او کله چه دے آیت ته ورسیدهٔ : ﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ مَّا لَهُ مِنْ دَافِعٍ ﴾ [طور:٧، ٨] (ستا د رب عذاب یقینًا واقع کیدونکے دے، هغے لپاره څوك لرے کونکے نشته) نو عمر ﷺ ووېل : د کعبے په رب مے دے قسم وي ! دا حق قسم دے، نو د خپل خرهٔ نه راکوز شو او دیوال ته تکیه وهلے کیناستهٔ او ډیر ساعت ایسار شهٔ بیا خپل کور ته واپس شو او میاشت پورے په کور کښې بیمار وو، خلك به ئې پوښتنے له راتلهٔ او هغوئ ته ئې پته نهٔ وه چه ددهٔ څهٔ بیماري ده؟

[أورده ابن أبي الدنيا كما في ابن كثير : ٤/ ٣٠٧٠]

ابو عبیدؒ په خپل سند سره په (فضائل القرآن) کښې د حسن بصریؒ نه نقل کړی چه عمر رضی الله عنه دغه آیت واوریدهٔ نو ددې د وجې داسې بیمار شو چه شلو ورځو پورې خلك د هغهٔ پوښتنې له راتلهٔ۔ [ذكره ابن كثير]

۳۴ - امام بخاریؒ د عبد الله بن شدادؒ نه روایت کوی چه دهٔ وویل : ما د عمر بن خطاب رضی الله عنه ژړا واوریدهٔ او زهٔ د ټولو صفونو نه شاته صف کښې ووم، هغهٔ دا آیت لوستلو : ﴿ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ ﴾ [يوسف:٨٦] (بیشکه زهٔ د خپل غم او خفګان شکایت الله ته کوم)۔

[صحيح بخاري : ١/ ٩٩]

(۳۵ - ابو بکر صدیق رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته وویل : یا رسول الله ! په تا کښې د بوډا والی نښې ښکاره شوې ! وې فرمایل : ((دې سورتونو زهٔ بوډا کړم : هود، واقعه، مرسلات، عم يتساءلون او اذا الشمس كورت))۔

[سنن الترمذي : ٢/ ٢٢٥ ، ابن سعد ، كما في الصحيحة : ٢/ ٦٧٦]

۳۶ - عامرؒ بن عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه د خپل مرګ په وخت ژړل نو دهٔ چا وویل : تهٔ خو داسې او داسې وې ! هغهٔ ویل : زهٔ د الله نه آورم چه فرمائی : ﴿ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ﴾ [مائده:٢٧] (بیشکه الله د متقیانو عمل قبلوی)۔

[ذكره الخطيب الشربيني في السراج : ٢/ ٣٤]

۳۷ - د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه په حدیث کښې دی : دا وائی : ما ته نبی ﷺ وفرمایل : تهٔ ماته قرآن واوروه ! ما عرض وکړو : آیا زهٔ تاته قرآن واوروم حالانکه قرآن خو په تا نازل شوې ؟ وې فرمایل : هو ! زهٔ دا خوښه ګڼړم چه د بل نه ئې واورم۔ نو هغه وائی : ما د هغهٔ مخامخ سورتِ نساء ولوستله تردې چه دې آیت ته راورسیدم : ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ [نساء:٤١] (پس څنګه به وی د دوی حال کله چه مونږ د هر امت نه یو ګواه راولو او تا لره (اې رسوله !) پدې ټولو باندې ګواه راولو)۔ نو وې فرمایل : بس که، نو ناګهانه د هغهٔ سترګې د اوښکو نه ډکې وې۔

[صحيح بخاري ، صحيح مسلم]

۳۸ - عبد الله بن الشخیر رضی الله عنه وائی : زهٔ رسول الله ﷺ ته په داسې حال کښې راغلم چه هغوئ مونځ کولو او سینه ئې د ژړا په وجه لکه د کټوئ غوندې خوټ کیدله۔

[سنن أبي داود ، سنن النسائي]

Maktaba Tul Ishaat.com

٣٩ – عروه بـن الزبيرؓ وائي : ما خپلې نيا اسماء – رضى الله عنها – ته وويل : د رسول الله ﷺ ملګرو چه به قرآن واوريدۀ نو د هغوئ حالت به څنګه وو ؟ هغې وفرمايل : سترګې به ئې د اوښکو نه ډکې شوې او غونې به ئې زيګ شو لکه څنګه چه الله د دوئ دا صفت بيان کړې.
[شعب الإيمان للبيهقي : ٢/ ٣٦٥]

٤٠ – يو ځل عمر فاروق ؓ د يو راهب (عابد) په ګيرجه ورتير شۀ او هغۀ ته ئې آواز وکړو، اې راهبه ! نو هغه راښکاره شو، نو عمر فاروق ورته کتلې او ژړل ئې، نو دۀ ته چا وويل : امير المؤمنين ! ددۀ کومه خبره دې ژړوي ؟ وې فرمايل : ماته د الله دا وينا رايادة شوه چه په خپل کتاب کښې فرمائي : ﴿ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴾ [غاشيه:٣] (ډير خلك دي چه عملونه کوي خو هسې ځان ستړې کوي)، نو همدې خبرې زۀ ژړولې يم.
[تفسير ابن كثير : ٤]

٤١ – قاسمؒ وائي : مابه چه کله صبا کړو نو د تولو نه مخکښې به د عائشې (رضى الله عنها) کور ته ورتلم او هغې ته به مې سلام کولو، نو يو ځل زۀ سهار وخت کښې ورغلم او هغه ولاړه وه چه نفلي مونځ ئې کولو او دا آيت ئې لوستلو : ﴿ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقٰنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴾ [طور:٢٧] (نو الله په مونږ احسان وکړو او مونږه ئې د ګرم اور د عذاب نه بچ کړلو) دعا ئې غوښتله او ژړل ئې او بار بار ئې دا آيت لوستلو، زۀ ورته ودريدم خو د ودريدو په وجه ستړې شوم نو د خپل څۀ کار لپاره بازار ته لاړم، او چه واپس راغلم نو هغه هغسې په مانځه ولاړه وه او ژړل ئې.
[مصنف ابن أبى شيبة ، كما فى الدر المنثور بلفظ قريب منه]

٤٢ – امام بيهقيؒ د ابو بردةؒ نه نقل کړي، دا وائي : ابو موسىٰ اشعري (رضى الله عنه) به چه کله دا آيت لوستلو : ﴿ يَاأَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴾ [انفطار:٦] (اې انسانه ! تۀ په خپل عزتمن رب باندې څۀ شئ دهوکه کړې ئې ؟) نو هغۀ به ويل : ناپوهئ دهوکه کړې يم او ژړل به ئې. او کله به ئې چه دا آيت لوستلو : ﴿ أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِي وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ﴾ [كهف:٥٠] (آيا تاسو دا شيطان او ددۀ اولاد مانه سيوا په دوستئ نيسئ حالانکه دوئ خو ستاسو دشمنان دي) نو ژړل به ئې. [شعب الإيمان : ٢/ ٣٦٥]

٤٣ – ابن عباس ؓ به چه کله دا آيت لوستلو : ﴿ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴾ [ق: ١٩] (او دَ مرګ بيهوشي په حقه سره خبر راوړو راغله، همدا هغه حقيقت دې چه ددې د اقرار نه به تاسو دَ تيښتې لاره اختياروله).
نو په دې کښې به ئې په سلګو سلګو ژړلې.

٤٤ – ثابت بنانيؒ به چه کله د شپے په تهجدو کښے د الله دا وینا لوستله : ﴿ أَكَفَرْتَ بِالَّذِيْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ﴾ [کهف:۳۷] (آیا تا د هغه ذات نه انکار وکړو چه تهٔ ئے د خاورے پیدا کړے).
نو په سلګو سلګو به ئے ژړل او بار بار به ئے لوستهٔ.

٤٥ – د فضیل بن عیاضؒ ځوئے (عليؒ) مړ شو نو د پلار نه ئے ددے په حقله پوښتنه وشوه، نو هغهٔ ووېل : دا د محراب وژل شوے دے ځکه دهٔ د شپے په محراب کښے مونځ کولو نو په خپل محراب کښے مړ شو.

٤٦ – امام ترمذيؒ د زراره بن ابی اوفیؓ نه، چه د بصرے قاضی وو، نقل کړی چه دهٔ خلکو ته د سهار مونځ ورکولو او دا آیتونه ئے ولوستل : ﴿ فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ فَذٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيْرٌ ﴾ [مدثر:۸:۹] (کله چه په شپیلئ کښ پوکے وکړے شی نو دا ورځ به ډیره زیاته سخته وی).
نو یوه کړیکه ئے ووهله او بیا مړ راپریوتهٔ او زهٔ هم په هغه چا کښے ووم چه د هغهٔ جنازه ئے بار کړے وه. [ذكره ابن كثير مختصرًا : ٤/ ٥٦٨]

٤٧ – نافعؒ وائی : ابن عمر ﷺ چه کله هم د سورتِ بقرے دا آخری دوه آیتونه لوستل نو خامخا به ئے ژړل : ﴿ وَإِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ﴾ [بقره:۲۸٤] (او ستاسو په زړونو کښ چه څه دی که دا ښکاره کوئ او که پټوئ الله به په دے باندے تاسو سره حساب کوی).
[مسند أحمد، بيهقي، صفة الصفة لابن الجوزي]

٤٨ – ابو هریره ﷺ وائی : کله چه دا آیت نازل شو : ﴿ أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴾ [نجم:۵۹، ٦۰] (آیا تاسو خلق ددے قرآن په آوریدو سره تعجب کوئ او خاندئ او ژاړئ نهٔ).
نو اصحابِ صُفه دومره وژړل چه اوښکے ئے په اننګو روانے وے.
[شعب الإيمان : ٦/ ۷۷۷، وهو في ضعيف الترغيب]

٤٩ – مطرف بن قدامهؒ د خپل یو آزاد کړی غلام نه نقل کوی چه هر کله منصور بن المعتمرؒ وفات شو نو مور ئے چغے کړے چه اے زما د جهنم وژلے شوے ځویه ! زما ځوئے صرف د جهنم ویرے وژلے.

۵۰ – نقل شوی دی چه د فضیل بن عیاضؒ ځوئے ددے آیتِ کریمه آوریدو په وجه مړ شو : ﴿ وَلَوْ تَرٰى إِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [انعام:۲۷] (او که ته دوی ووینے چه کله به د جهنم په خوا کښ ودرولے شی (نو ته به د دوئ د حالت نه تعجب وکړے) نو دوئ به وائی چه اے ارمان ! چه مونږ بیرته دنیا ته واپس کیدے شوے او د خپل رب د آیتونو تکذیب مو نهٔ کولے او د ایمان والو نه شوی وے).

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۱ - عبد الله بن وهبؒ کتاب الاهوال (یروونکی حدیثونه) ولوستل او د جهنم په صفت باندے ورتیر شۀ نو یوه کړیکه ئے وویسته او بیخوده کور ننه ایستلے شو، څۀ ورځے ژوندے وو بیا مړ شو.

۵۲ - داود طائیؒ څو ورځے بیمار وو، د هغۀ د بیمارئ سبب دا وو چه هغه په یو داسے آیت ورتیر شۀ چه په هغے کښے د اور تذکره وه نو هغه ئے د شپے بار بار څو ځله ولوستۀ نو د بیمارئ په حالت کښے ئے سهار کړو او خلکو په داسے حال کښے وموندۀ چه هغۀ نه ساه وتلے وه او سرئے په یو کچه خخته پروت وو. [خرّجه أبو نعیم]

۵۳ - حسن بصریؒ فرمائی: قسم په الله! هیڅ بنده اور رشتیا نۀ دے ګڼرلے مګر په هغۀ به خامخا زمکه سره د فراخئ نه تنګه شی، او که د منافق شاته اور هم راشی نو هغه رشتینے نۀ ګڼړی تردے چه هغه پرے حمله وکړی.

[التخویف من النار، لابن رجب، ص: ۳٤]

۵٤ - سلیمان بن سحیمؒ وائی: ماته هغه چا خبر راکړے چه هغۀ ابن عمر ﷺ په داسے حال کښے لیدلے چه هغۀ مونځ کولو او یو طرف او بل طرفته آوښتلو او کړیدلو او اُوه، اُوه ئے کولو تردے چه که مونږ نه سیوا بل ناشنا سړی لیدلے وے نو خامخا به ئے ویلے چه دے سړی باندے څۀ چل وشو، او دا کار به هغۀ د اور رایادولو په وجه کولو، هغه په دے آیت باندے ورتیر شوے وو: ﴿ وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴾ [فرقان:۱۳] (او کله چه دوئ لاسونه خپے تړلی دَ جهنم یو تنګ ځائے ته وغورزول شی، نو هلته به دوئ خپله تباهی را اوبلی).

[پاسنئ حواله: ۲۱]

۵۵ - عبد الرحمن بن حارثؒ وائی: عبد الله بن حنظلۃ بیمار وو، زۀ د هغۀ پوښتنے له لاړم، یو سړی د هغۀ خواته دا آیت ولوستۀ: ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾ [اعراف:٤۱] (د دوئ بستره به د جهنم اور وی، او د دوئ دپاسه اغوستل به هم د هغے نه وی).

نو هغۀ دومره وژړل چه زما دا خیال راغے چه ساه ئے ووتله. ویلے: جهنمیان د اور د طبقو ترمینځه راګیر شو، بیا په خپله خپه ودریدۀ، نو یو کس ورته وویل: ابو عبد الرحمن! کینه. ویلے: د جهنم ذکر زۀ د ناستے نه منع کړم او ماته څۀ پته ده کیدے شی چه زۀ د دغه کسانو نه یو کس یم. [پاسنئ حواله: ۲۲]

۵٦ - ابن ابی ذئبؒ وائی: ماته هغه چا خبر راکړو چه هغه عمر بن عبد العزیزؒ ته په هغه وخت ورغلے وو څۀ وخت چه هغه د مدینے امیر وو او یو سړی د هغۀ خواته دا آیت ولوستۀ: ﴿ وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ ﴾ [فرقان:۱۳]

نو عمرؓ دومره وژړل چه ژړا پرې غالبه شوه او آواز ئې اوچت شو او د خپل مجلس نه پاسيدهٔ، کورته ننواتهٔ او خلك يو خوا بل خوا لاړل.

۵۷ – او يو ځل ما يزيد الرقاشيؒ د هغهٔ په ډير ژړيدو ملامته کړو او ما ورته ووېل : که چرې اور صرف تاله پيدا وې نو ددې نه به تا ډير نهٔ ژړلے! نو هغهٔ ووېل : اور خو بس ما او زما ملګرو او زما پيريانو او انسانانو ورونو لپاره پيدا شوې. آيا تا دا آيت نهٔ دې لوستلے : ﴿ سَنَفۡرُغُ لَكُمۡ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴾ [رحمن:۳۱] (زر دې چه مونږ به تاسو دواړو – پيريانو او انسانانو – ته وزګار شو).

آيا تا دا نهٔ دي لوستلي : ﴿ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٌ مِّنۡ نَّارٍ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنۡتَصِرٰنِ ﴾ [رحمن:۳۵] (که چرې تاسو دَ تيښتې کوشش کوئ نو په تاسو به د اور لمبه او دَ لمبې لوګے درپرېښودے شي نو تاسو به غالبه نشئ).

نو دا آيت ئې ولوستهٔ تردې چه ﴿ يَطُوۡفُوۡنَ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَ حَمِيۡمٍ اٰنٍ ﴾ [رحمن:۴۴] (او دوئ به د دغه جهنم او ګرمو اوبو ترمينځه ګرځي را ګرځي) ته ورسيدهٔ. او شروع شو چه په کور کښې ګرځيدهٔ او چغې ئې وهلې ژړلې ئې تردې چه بيخوده شو. [همغه حواله]

۵۸ – ابن ابی الدنيا د رياح القيسيؒ نه نقل کړي چه دې چا کره لاړو او د هغوئ د يو ماشوم د شپې په ژړا شو نو رياحؒ د هغهٔ د ژړا سره د سهاره پورې په ژړا شو. بيا ددهٔ نه پوښتنه وشوه چه ولې دې ژړل؟ وې فرمايل : ددې ماشوم د ژړا سره ماته په دوزخ کښې د دوزخيانو ژړا رايادة شوه چه د دوئ به څوك مددګار نهٔ وي، بيا په ژړا شو.

[التخويف من النار : ۱۴۹]

۵۹ – يو ځل عبد الله بن رواحه ﷺ په ژړا شو نو د هغهٔ ښځه هم په ژړا شوه، ورته ئې ووېل : تهٔ ولې ژاړې؟ هغې وېل : ماتهٔ په ژړا وليدې نو زهٔ هم په ژړا شوم، هغهٔ وېل : ماته خو دا آيت راياد شو : ﴿ وَاِنۡ مِّنۡكُمۡ اِلَّا وَارِدُهَا ﴾ [مريم:۷۱] (په تاسو کښې داسې څوك نشته چه هغه به په اور نهٔ ورځي) ماته خو دا پته ده چه زهٔ به ورته ورځم خو دا پته راته نشته چه آيا زهٔ به ددې نه خلاص شم اوکه نه؟ [همغه حواله : ۷۷۷]

حفصِ بن حميدؒ وائي : عمر ﷺ دغه پورتنے آيت ولوستهٔ او وې وېل : اے ربه! پته نشته چه زهٔ به په هغه چا کښې حساب يم چه تهٔ ورله د اوره نجات ورکوې اوکه نه د هغه چانه به يم چه تهٔ به ئې په هغې کښې پرمخې پرېباسې.

حسن بصريؒ وائي : يو سړي خپل ورور ته ووېل : اے وروره! آيا تاته دا راغلي چه تهٔ به اور ته ورځې؟ هغهٔ وېل : هو! وې فرمايل : دا درته راغلي چه تهٔ به ددې نه ووځې؟ هغهٔ وېل : نه. وې

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمایل: نو بیا ولې خاندې؟ نو دغه کس تر مرګه پورې په خندا ونۀ لیدې شو۔

علامه ابن کثیرؒ د ثابتؓ د لور نه نقل کړی چه هغې ته عطاء الخراسانیؒ راغلې او د هغې نه ئې د زید بن ثابت ﷺ د حدیث پوښتنه کوله، نو هغې ورته وویل: ما د خپل پلار نه آوریدلی چه فرمایل ئې: کله چه په رسول الله ﷺ باندې دا آیت نازل شو چه ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ کُلَّ مُخۡتَالٍ فَخُوۡرٍ ﴾ [لقمان: ۱۸] (الله هیڅ یو کبرجن سره مینه نۀ کوی چه خپلې نیکئ خلکو ته شماری) نو دا آیت په ثابت باندې ډیر ګران ولګیدۀ، هغۀ خپل ځان پسې دروازه بنده کړه او ژړا ته ولګیدۀ، دې کښې چا رسول الله ﷺ ته ددې خبر ورکړو، نو هغۀ د هغۀ نه پوښتنه وکړه، خلکو ویل: چه هغۀ باندې خو دا آیت ډیر ګران لګیدلې، او هغه وائی چه: زۀ یو داسې سړې یم چه ډول مې خوښ دې او زۀ د خپل قوم سرداری کوم۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: تۀ د دوئ نه حساب نۀ ئې، بلکه تۀ به په خیر سره ژوند تیروې او په خیر سره به مرې او الله به دې جنت ته ننباسی۔ او کله چه په رسول الله ﷺ باندې دا آیت نازل شو: ﴿ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَرۡفَعُوۡۤا اَصۡوَاتَکُمۡ فَوۡقَ صَوۡتِ النَّبِیِّ ﴾ [حجرات:۲] (اې ایمان والو! د نبی ﷺ د آواز دپاسه خپل آوازونه مۀ پورته کوئ)۔ نو هغۀ بیا دغه کار وکړو۔ نو نبی ﷺ ته خبر ورکړې شو او هغۀ پسې ئې پیغام ولیږۀ، نو هغۀ نبی ﷺ ته خبر ورکړو چه دا آیت په دۀ ډیر ګران ولګیدۀ او دا اوچت آواز والا دې، او دۀ سره دا ویره ده چه هسې نۀ دې د هغه چانه جوړ شی چه د هغوئ عمل برباد دې، نو نبی ﷺ ورته وفرمایل: تۀ د دغه خلکو نه حساب نۀ ئې، بلکه تۀ به ستائیلې شوې ژوند کوې، شهید به مرې او الله به دې جنت ته داخلوی۔

[البدایة والنهایة: ۳/ ۳۳۹]

حسن بصریؒ فرمائی: قسم په الله! ددې آیت په باره کښې مؤمن د خفګان په حالت کښې صبا کوی او ولې به نۀ غمژن کیږی حالانکه دۀ ته د الله له خوا دا خبره راغلې چه دې به اور ته ورځی او د هغۀ له خوا ورته دا نۀ ده راغلې چه دې به ددې نه واپس راځی۔

[التخویف من النار، ص: ۱۷۸]

یزید بن حوشبؒ وائی: د حسن بصریؒ او عمر بن عبد العزیزؒ نه علاوه بل څوك ما دومره یریدونکی نۀ دی لیدلی، تۀ به وائې چه اور صرف دې دواړو له پیدا شوې وو۔

[حواله سابقه: ۲۱]

ابن ابی الزبابؒ وائی: طلحه او زبیر – رضی الله عنهما – د لوهار په بټئ باندې تیریدل نو دواړه ودریدل، هغې ته ئې کتلې او ژړلې ئې۔

[حواله سابقه : ۲۵]

ابراهیم تیميؒ وائی : ما عبد الله بن مسعود ﷺ شپیتهٔ ملګری په دے جومات کښے لیدلی – او په دوئ کښے حارث بن سویدؒ د ټولو نه وړوکے وو – چه دهٔ : ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ﴾ [زلزال:۱] (کله چه زمکه انتهائی سختئ سره وخوزول شی) تر ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ [زلزال:۷]

(نو کوم کس چه دَ یو وړوکی میږی په اندازه نیکی کړے وی هغه به ووینی) پورے ولوستهٔ نو وے ژړل، ویل : دا خو ډیر سخت حساب دے۔

[الزهد للبیهقی : ۳۲٤]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٤ - د وَرَع فائده

وَرَعُ پـه اصـل کښې حرامو نه ځان ساتلو او ددې نه ځان بندولو ته وائي، بيا د حلالو او د مباحو نه ځان بندولو لپاره استعماليږي۔ [لسان العرب : ۸/ ۳۸۸]

د علماؤ په اصطلاح کښې د وَرَع معنیٰ :

امام مناویؒ وائي : وَرَع، هغه شے پرېښودل چه تا په شك کښې اچوي او هغه شے ختمول چه په تا عيب لگوي، په ډير اعتمادي شئ عمل کول او خپل ځان په گران کار وراچول۔

ځينے وائي : مشتبه شيانو نه ډډه کول او په زړهٔ باندے چه څهٔ تيريږي هغے ته پام لرل۔

[التوقيف على مهمات التعاريف : ۲۳۷]

کـفـویؒ وائـي : ځـان د شبهـاتو نه ساتلو ته ورع وائي برابره خبره ده که دا حاصل شوے وي او که نهٔ، ځـکـه کـلـه يـو انسان د ورع د وجے نه يو کار کوي او کله ئے د ورع د وجے پريدی، او کله ورع د تقویٰ په معنیٰ استعماليږي يعنې قطعي حرام شوي شيان پرېښودل۔

[الکليات للکفوی ص : ۱۸]

او عـلامـه ابـن قيـمؒ فرمائي : ورع هغه شے پرېښودلو ته وائي چه په آخرت کښې ددے د ضرر نه انسان يريږي۔ [الفوائد، ص : ۱۸]

او فرمائي : د ابن تيميه رحمه الله د وينا مطابق پوره ورع داده : چه په دوه ښيگړو کښې بهترينه ښيـگـړه او په دوه شرونو کښې بدترين شر وپيژني، او دا علم ولري چه د شريعت بنياد د ښيگړو په حاصلـولـو او پوره کولو، او د مفاسدو په ختمولو او کمولو باندے دے۔ ورنه که څوك دا موازنه ونهٔ کړي چه په دے کار کښې شرعي مصلحت او مفسدت څهٔ دے ؟ نو کله به دے واجبات پريدی او مـحـرمات به کوي او دا به ورع گڼړي، لکه يو کس د ظالمانو اميرانو سره جهاد کول پريدی، په کـومو امامانو کښې چه بدعت يا فجور وي هغوئ پسے د جُمعے او جماعت مونځونه پريدی، يا د بدعتي راوي روايت آوريدل پريدی۔

جـرجـانـيؒ فرمائي : وَرع، ښائسته اعمال لازم نيولو، يا په حرامو کښې د پريوتو د ويرے په وجه شبهات پرېښودلو ته وائي۔ [التعريفات للجرجاني]

د وَرع قسمونه او درجے :

امـام راغـبؒ فـرمائي : د ورع درے مرتبے دي (۱) واجب : او دا د حرامو نه بچ کيدو ته وائي او دا د

تـولو خلکو لپاره ورع ده۔ (۲) مستحب : او دا د شبهاتو نه بندیدو ته وائی، او دا د درمیانه خلکو مـرتبـه ده۔ (۳) فـضیـلـت : او دا د ډیرو مباحاتو نه بندیدو او کمو ضررتونو باندے اکتفاء کولو ته وائی، او دا د نبیانو، صدیقینو، شهیدانو او صالحینو مرتبه ده۔

[الذریعة، ص : ۲۲۳، للراغب]

ابو اسماعیل الهرویؒ په (المنازل) کښے فرمائی :

د ورع درے درجے دی : (۱) د نـفس د صدق د وجے د قبیح کارونو نه بچ کیدل، نیکئ ډیرول او د ایمان حفاظت کول۔ (۲) کوم شیان چه مباح وی په هغے کښے د تقویٰ او احتیاط د وجے د حدودو حـفاظت کـول، او دے دپاره چه د کمینـه توب نه انسان اوچت شی او په حدونو کښے ورداخل نشـی۔ (۳) د هـر هـغـه رابـلـونـکی نه ځان ساتل چه هغه د وخت پراګندګئ او جدایئ ته دعوت ورکوی ۔ [مدارج السالکین : ۳/ ۲٤]

* د وَرَعْ راښکاره کیدو ځایونه :

د ورع ښـکـاره کـیـدو ډیـر ځـایـونـه دی، دا یـواځـے پـه خـوراك څـکاك کښے نهٔ بلکه په دے ډیرو راتلونکو شیانو کښے ښکاره کیږی :

۱ – په **نظر** کښے وَرَعْ :

عبد الله بن مسعود ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل :

(الله سبحانه وتعالیٰ نه داسے حیا کوئ څنګه چه د حیا حق وی، صحابو عرض وکړو: مونږ خو الـحـمـد لله د الله نه حیاء کوو، وے فرمایل: دا حیاء نهٔ ده مراد، بلکه څوك چه د الله نه رشتینے حیاء کـوی نـو انسـان دے د سر او څـهٔ چـه په دے کښے دی، د خیټے او څهٔ چه په دے کښے دی، حفاظت کـوی (څـهٔ نـاجـائـز کار دے په دے کښے راتلو ته نهٔ پریدی) او مرګ او زړیدل دے یاد لری، او څوك چه د آخرت اراده لـری هـغـه د دنیـا ډولـونـه پـریـدی، نو څوك چه دا کارونه وکړی، هغهٔ د الله نه رشتینے حیاء وکړه)۔

[جـامـع الترمـذی، صـفة الـقیـامة، حـدیـث : ۲٤٥٨، التـرغیـب والترهیب للمنذری : ۳/ ٤۰۰، ابـن ابـی الـدنیا فی الورع : ۱/ ۲۰٤، المعجم الصغیر للطبرانی : ۱/ ۲۹۸، حدیث : ٤۹٤، واللفظ له، أحمد، وإسناده حسن أو صحیح]

داؤد طائیؒ وائی : پخوانو خلکو به فضول نظر کول بدے ګڼړل۔

عبد الله بن مبارکؒ فرمائی : نظر ساتل د ژبے ساتلو نه زیات سخت دی۔

ابو عمرانؒ وائی : تاسو نظر پسے نظر مهٔ کوئ څکه ډیر کرته بنده یو نظر وکړی چه د هغے په وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې زړهٔ داسې خراب شي لکه څنګه چه څرمنه خرابه شي او د هغې نه هيڅ نفع نهٔ اغستل کيږي.

حسان بن ابي سنانؒ چه کله د اختر مانځه له ورواتهٔ نو ښځې ئې وويل : ما نن ډيرې ښائسته ښځې وليدلې، نو خاوند ئې وويل : غرقه نشې زهٔ چه د څهٔ وخت راسې د کوره وتې يم نو تاته د واپسئ پورې مې د خپلې غټې ګوتې نه سيوا بل هيڅ يو شئ ته نهٔ دي کتلي.

سعيد بن المسيبؒ فرمائي : تاسو د ظلم او زياتي اميرانو او د هغوئ د مددګارانو ته په ډکو سترګو مهٔ ګورئ مګر په داسې حال کښې چه ستاسو زړونه په هغوئ رد کونکي وي، دې دپاره چه ستاسو نيک عملونه چرته برباد نشي.

[رواه أبو نعيم في الحلية : ٢/ ١٧٠]

فضيل بن عياضؒ فرمائي : تاسو د دغه اميرانو سورليو ته مهٔ ګورئ څکه دوئ ته د ... سره د هغه انکار رنړا مړه کيږي کوم چه په دوئ باندې کولې شي.

يحيى بن يمانؒ فرمائي : زهٔ د سفيان ثوريؒ سره ووم نو هغهٔ کور وليدهٔ نو ما خپل نظر پورته کړو چه ورته وګورم، نو سفيانؒ وفرمايل : تاسو ديته مهٔ ګورئ څکه دا دې دپاره جوړ شوي دي چه ستا پشان سړي ديته وګوري.

[حلية الأولياء : ٦/ ٣٧]

د حرامو نه د نظر ښکته ساتلو چه کوم دلائل دي هغه د مشهورتيا په وجه مونږ دلته نهٔ ذکر کوو، او هغه ټول په دې باب کښې په ورع باندې دلالت کوي، بلکه زياتي نظر پرېښودو سره په انسان کښې خشوع پيدا کيږي، لکه دا خبره څو ځله تيره شوه.

٢ - په آوريدو کښې ورع :

نافعؒ فرمائي : زهٔ د ابن عمر سره په لاره روان ووم چه هغهٔ د يو شپونکي نه د باجې آواز واوريدهٔ، نو خپلې دواړه ګوتې ئې په غوږونو کښې کيښودې او د لارې نه يو طرفته شو، بيا ئې وويل : نافع آواز آورې ؟ ما ويل : نه. نو ګوتې ئې د غوږونو نه راوويستلې او بيا لارې ته يو طرفته شو او ئې فرمايل: دغسې ما رسول الله ﷺ وليدهٔ چه وې کړل.

[رواه أحمد : ٢/ ٨، والبيهقي : ١٠/ ٢٢٢، وأبو نعيم ٦/ ١٢٩]

ابو هريره ﷺ فرمائي : نبي ﷺ ارشاد وفرمايهٔ : [مَنِ اسْتَمَعَ إِلَى حَدِيثِ قَوْمٍ لَا يُحِبُّونَ أَنْ يُسْتَمَعَ حَدِيثُهُمْ ، أُذِيبَ فِي أُذُنِهِ الآنُكُ] (چا چه دداسې خلکو خبرو ته غوږ کيښودهٔ چه هغوئ دا خبرې آوريدل نهٔ خوښول نو ددهٔ په غوږ کښې به قلعي ويلې کړې شي).

[مسند احمد : ٢/ ٥٠٤]

علماء فرمائي : سور كښ ـ دونكے او ويونكے دواړه شريك دي۔

۳ – د يو شئ په بوئې کو لو کښې ورع :

عمر بن عبد العزيزؒ ته مشك په غنيمت كښې راوړل شول نو هغهٔ خپله پوزه بنده كړه۔ خلكو ويل: اے امير المؤمنين ! تهٔ ولے ددے نه خپله پوزه بندوے ؟ وے فرمايل: ددے شئ نه خو د بوئې په ذريعه نفع ولاړيږي نو زهٔ بده ګنړم چه د مسلمانانو نه سيوا زهٔ يواځې دا بوئې محسوس كړم۔

[أخرجه ابو نعيم : ٥/ ٣٢٦]

ابو موسى اشعري ﷺ فرمائي : كه زما د پوزے دواړه سورى د مردارے د بدبوئې نه ډك شي نو دا ماته ددے نه زياته خوښه ده چه دا د پردئ ښځے د خوشبوئې نه ډك شي۔

عمر بن خطاب ﷺ به خپلے بى بى ته د مسلمانانو خوشبوئې وركوله او هغے به خرخوله او هغه به ئے تلله نو هغه به درنيده او كميده نو په خپلو ګاښونو سره به ئے هغه ماتوله او خلكو ته به ئے وزن پوره كولو، نو ګوتے پورے به ئے د هغے څهٔ برخه ونښته نو هغے به د خُلے نه په خپله ګوته توكانړے پورے كړے او هغه به ئے په خپلے لوپټے باندے راښكلے، يو ځل عمر ﷺ راغے او وے فرمايل : دا خوشبوئې د كوم ځائے نه راغله ؟ نو هغے ورته ددے خبر وركړو، نو هغهٔ وفرمايل : آيا تهٔ د مسلمانانو (مشتركه) خوشبوئې استعمالوے ؟ لوپټه ئے ترے راښكله او هغه ئے په خاورو كښے راښكله او بيا به ئے بوئې كوله بيا به ئے پرے اوبهٔ اچولے او په خاورو كښے به ئے راښكله ترد ے چه دا خيال ئے راغے چه ددے نه خوشبوئې لاړه۔ بيا د هغهٔ بى بى ته هغه عطر اخستونكے ښځه بيا راغله او د هغے نه ئے عطر واغستهٔ، هغے ورته وتلل او ګوتے پورے چه كومه خوشبوئې پورے شوه نو په هغے ئے لاړے واچولے او خپله ګوته ئے خاورو پورے راښكله، نو هغه عطر اغستونكے ښځے ورته وويل : تا خو دا كار هغه مخكښے ځل نهٔ وو كړے ! هغے ويلے : آيا تا ته هغه شے معلوم دے كوم چه ماسره وكړے شو ؟

٤ – په ژبه كښې ورع : ابو سعيد الخدري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : [إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ تَقُوْلُ: اتَّقِ اللّٰهَ فِيْنَا فَإِنَّكَ إِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا]

(كله چه انسان صبا كړى نو تول اندامونه ژبے ته زارى كوى، وائى: زمونږ په باره كښې د الله نه ويريږه كهٔ چرے تهٔ سمه شوے نو مونږ تول سميږو، اوكه تهٔ كږه شوے نو مونږ كږيږو)۔

[مسند احمد : ٢/ ٩٥، حلية الأولياء : ٤/ ٣٠٩]

يو ځل عمر ﷺ ابو بكر صديق ﷺ تـه ورغے او هغهٔ خپله ژبه راښكله، نو ورته ئے وويل : اے د رسول الله خليفه ! دا تهٔ څهٔ كوے ؟ هغهٔ ويل : دے ژبے زهٔ (د هلاكت) ګنړو ځايونو ته بوتلے يم،

Maktaba Tul Ishaat.com

بیشکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: په بدن کښې داسې اندام نشته چه الله ته به د ژبې د تیرهٔ والي نه شکایت نهٔ کوي.

[مسند أبو يعلى: ١/ ١٧، مجمع الزوائد: ١٠/ ٣٠٢، ورجاله رجال الصحيح]

حسن بن حیيّ فرمائي: ما ورع تالاش کړه نو د ټولو شیانو په نسبت مې په ژبه کښې کمه وموندهـ.

فضیل بن عیاضؒ فرمائي: د ټولو نه سخته ورع په ژبه کښې دهـ.

موسیٰ بن عبیدؒ فرمائي: تهٔ به د یو سړي ورع د هغهٔ په خبرو کښې پیژنې.

عبد الله بن مبارکؒ نه پوښتنه وشوه: کومه ورع زیاته سخته وي؟ وې فرمایل: د ژبې.

عمر بن عبد العزیزؒ فرمائي: څوك چه د الله نه یریدونکې وي، ما د هغهٔ خُلهٔ ولیده چه واګې ورته اچول شوې دي.

او د خاموشئ په فضائلو کښې ډیر زیات احادیث راغلي.

٥ – په لاس کښې ورع:

مسلم بن یسارؒ فرمائي: زهٔ دا بده ګنړم چه خپلې شرمګاه له نبې لاس ورو وړم په داسې حال کښې چه زهٔ دا امید لرم چه زهٔ به په دې خپله عملنامه راخلمه.

اسود بن اصرم محاربي ﷺ وائي: ما عرض وکړو، یا رسول الله! ماته وصیت وکړه! وې فرمایل: خپل لاس صرف د خیر کار طرفته اوږده، او په خپلې ژبې سره صرف د نیکئ خبره کوه.

[رواه الطبراني: ١/ ٢٨١، والبخاري في التاريخ: ١/ ٤٤٣]

منصورؒ نه نقل دي چه دا په دفتر کښې وو او په دفتر کښې یوه چاتۍ وه چه په هغې کښې ختهٔ وه نو یو سړي ورته وویل: دا خته راکړه چه په دې خط باندې مهر ولږوم، وې فرمایل: تهٔ ما له خپل خط راکړه چه زهٔ ئې وینم چه په دې کښې څهٔ دي؟

حسن بن علي ﷺ به چه کله روان وو نو ښې لاس به ئې د ګس نه نهٔ مخکښې کیدهٔ.

په حدیث کښې دي: (کله چه زما امت د نخرې مزل شروع کړي او د روم او فارس ځامن د دوئ خدمتونه شروع کړي نو د دوئ بدترین خلك به د دوئ په بهترینو باندې مسلط شي).

[رواه الترمذي بإسناد صحيح]

٦ – په خیټه کښې ورع:

ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې: ((بیشکه الله پاك دې او صرف پاك شې قبلوي، او الله مؤمنانو ته د هغه څه حکم کړې دې د څه حکم ئې چه رسولانو ته کړیدې

نو فرمائيلي ئې دي : ﴿ يَآ أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا إِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴾
[المؤمنون : ٥١]

(اے رسولانو ! پاکيزه خوراکونه کوئ او نيك عمل کوئ بيشکه زه ستاسو په عملونو باندے پوهه يم)۔ او فرمايلي ئې دي : ﴿ يَآ أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ﴾ [البقره : ١٧٢]
(اے ايمان والو : خوراك کوئ د پاکيزه هغه څه نه چه مونږ درکړي دي)۔

بيا رسول الله ﷺ د هغه سړي تذکره وفرمايله چه اوګد سفر کوي او ګډوډ ويښتو والا او ګرد آلود وي، دواړه لاسونه ئې آسمان ته طرفته اوچت کړي وي او وائي : يارب يارب ! خو دده خوراك حرام وي، څښناك ئې حرام وي ، او په حرامو سره لوئې شوے وي، نو دده دُعاء به څنګه قبوله شي))۔
[صحيح مسلم : ٧/ ١٠٠ ، أحمد : ٢/ ٣٢٨]

د شداد بن اوس ﷺ خور، ام عبد الله نبي ﷺ ته د هغهٔ د روژه ماتي په وخت د پيو يوه پياله وليږله او دا داسے وخت وو چه ورځ اوږده او سخته ګرمي وه، نو رسول الله ﷺ ورته بيرته راوليږل چه دا پئ تاته د کوم ځائے نه ملاؤ شو ؟ هغې ويل : زما د خپلے ګډے بزے پئ دي، نو د هغې استاذي هغې ته بيرته وويل چه دا ګډه بزه تا د کومه کړه ؟ هغې وويل : دا ما په خپل مال سره اخستے وه۔ صبا له ام عبد الله نبي ﷺ ته راغله او وے ويل : يا رسول الله ! ما تاته پئ راوليږل ما سره ستا د ورځے د اوږدوالي او د ګرمئ د سخت والي غم وو، او تاسو استاذي له دا واپس ورکړل ! نو نبي ﷺ وفرمايل : په همدے خبره مانه مخکښو رسولانو ته حکم شوے وو چه دوئ به صرف پاکيزه (حلال) خوراك کوي او صرف نيك عمل به کوي۔
[رواه الطبراني : ٢٥/ ١٥٤ ، ١٧٥]

امام بخاريؒ د ابو بکر صديق ﷺ نه نقل کړي چه دوئ هغه خوراك قے کړو کوم چه ورله ددهٔ غلام د خپل خراج نه ورکړے وو، او هغهٔ د جاهليت په زمانه کښے چاله کهانت (تروېتي توب) کړے وو او دهٔ ته کهانت زده هم نهٔ وو خو هغهٔ سره ئې تګي کړے وه نو هغه سړي ورله اجرت ورکړو (او هغه ئې په ابو بکر وخوړلو) او ابو بکر ﷺ به د هغهٔ نه هره ورځ د هغهٔ د خراج په باره کښے پوښتنه کوله چه دا چرته وو، خو په دغه ورځ ئې ترے د سختے لوږے په وجه پوښتنه ونهٔ کړه۔

د ابن ابي الدنيا په کتاب (الورع) کښے دي : نو رسول الله ﷺ وفرمايل : بيشکه ابو بکر دا بده ګڼړي چه ددهٔ خيټے ته دے حلالے (نوړئ) نه سيوا بل څهٔ لاړ شي۔

جندب بن عبد الله ﷺ وائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : [مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَلَّا يَجْعَلَ فِيْ بَطْنِهِ إِلَّا

Maktaba Tul Ishaat.com

طَيِّبًا فَلْيَفْعَلْ فَإِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ مِنَ الْإِنسَانِ بَطْنُه]
(څوك چه دا كولے شي چه په خپله خېټه كښې صرف پاكيزه (حلال) شے واچوي نو دا كار دې وكړي ځكه په انسان كښې د ټولو نه ړومبے خېټه بوئے كوي)۔
[أخرجه الطبراني : ۲/ ۱٦۰ ، وعزاه الهيثمي في المجمع : ۷/ ۲۹۷ ، للأوسط وقال: رجاله رجال الصحيح]
وهيبؒ فرمائي : كه چرې تۀ ددې ستنې پشان كلك مانځه ته ولاړ ئې نو دا مانځه ته ودريدل به تاته تر هغه وخته پورې نفع درنۀ كړي ترڅو چه ددې خبرې خيال ونه ساتې چه ستا خېټې ته كوم شے ننوځي چه هغه حلال دے اوكه حرام ؟
يو سړي عيسىٰ عليه السلام ته وويل : ماته وصيت وكړه ! ورته ئې وفرمايل : [أُنْظُرْ خُبْزَكَ مِنْ أَيْنَ هُوَ] (خپلې روټۍ ته وګوره چه د كوم ځائے نه راځي)۔
يو سړي بشر بن الحارث ته وويل : ماته وصيت وكړه ! ورته ئې وفرمايل : خپل ځان ګمنامے كړه او خوراكه حلاله كړه۔
د خثعم قبيلې د يو سړي نه نقل دي دا وائي: زۀ حسن او حسين ته په داسې حال كښې ورغلم چه هغوئ روټۍ او سركه او تركاري خوړله، ما ورته ووېل : تاسو د امير المؤمنين ځامن يئ او تاسو دا خوراك كوئ، حالانكه په ګودام كښې ډير څۀ پراتۀ دي، هغه دواړو ورته ووېل : تۀ د امير المؤمنين نه څۀ خبرئې ! دا خو د مسلمانانو حق دے۔
الله تعالىٰ د بني اسرائيلو يو نبي ته وحي وكړه چه خپل قوم ته دې ووايه چه زما د دشمنانو د ننوتو ځايونو ته دې نۀ ننوځي او نۀ دې زما د دشمنانو د خوراكونو پشان خوراكونه كوي، او نۀ دې زما د دشمنانو د لباسونو غوندې لباس اغوندي، او نۀ دې زما د دشمنانو د سورليو پشان سورليو باندې سوريږي، كه نۀ وي نو دوئ به هم زما دشمنان شي ځنګه چه هغوئ زما دشمنان شوي دي۔
حسن بصريؒ فرمائي : كله چه تۀ د هغه چانه ئې چه هغه د نيكئ امر كوي نو تۀ د ټولو خلكو نه زيات په هغې عمل كوه ورنه تباه به شے، او كله چه تۀ د هغه چانه ئې چه هغه د بدئ نه خلك منع كوي نو تۀ په سر كښې ددې نه منع كيږه ورنه تباه به شے۔
عيسىٰ عليه السلام فرمائي : خلك چه زياتره اورته ارتوي نو دا دوه ډوه شيان دي : خُلۀ او شرمګاه۔
[أخرجه ابن ماجه وأحمد : ۲/ ۲۹۱]
يزيد بن عبد الله بن الشخيرؒ فرمائي : مونږ به دا خبره كوله چه اور والا هغه څوك دے چه د يو پټ شئ كولو نه ئې د الله ويره بند نۀ كړي۔
يحيى بن ابي كثيرؒ فرمائي : د هيڅ يو سړي ورع تر هغه وخته پورې صحيح نۀ ده ترڅو پورې

چه د يو طمع والا شئ باندے نزدے قادر شي او بيا هغه د الله لپاره پريدی۔
سفيان ثوريؒ فرمائي : په تا باندے ورع (پرهيزگاری) لازم ده الله به ستا حساب آسان کړی، او کوم شے چه دے پريشانه کوی هغه پريده او هغه شے اختيار کړه چه هغه دے نۀ پريشانه کوی او شك په يقين سره وغورزوه نو هله به ستا دين بچ پاتے شي۔
عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمائي : تاسو د يو سړی مونځ او روژے ته مۀ گورئ بلکه د هغۀ د خبرے رشتين والی ته وگورئ کله چه خبره کوی، او د هغۀ ورع (پرهيزگارئ) ته وگورئ کله چه يو کار کوی، او د هغۀ امانت ته وگورئ کله چه ورسره امانت کيښودے شي۔
[أخرجه في الحلية : ۳/ ۲۲۷]
حسن بصريؒ مالك بن دينارؒ ته هغه ووئيل هر کله ئے چه په جومات کښے د خلکو نه کلام واوريدۀ : اے مالکه ! دا خلك په عبادت باندے ستړی والے محسوسوے، د ورَع سره بغض لری او خبرے ورته د عمل نه آسانے ښکاری۔
په حديث کښے دی : [وَلَا وَرَعَ كَالْكَفِّ] (او د حرامو نه بنديدو پشان پرهيزگاری نشته)۔
عمر بن عبد العزيزؒ له به په مطبخ کښے اوبۀ گرميدلے نو مطبخی ته ئے ووئيل: دا اوبۀ چرته گرميږی؟ هغۀ ويل: په مطبخ کښے، وے فرمايل: تۀ وگوره د څو مره مودے راسے دے دا اوبۀ گرمے کړی ؟ نو هغۀ ورته خبر ورکړو چه د دومره دومره مودے راسے۔ وے فرمايل: تۀ حساب ولگوه چه ددے لرگو څو روپئ جوړيږی ؟ هغۀ ويل : دومره دومره۔ نو عمرؒ هغه روپئ واخستے او په بيت المال کښے ئے جمع کړے۔
فاطمه بنت عبد الملك وائی : عمر بن عبد العزيزؒ شاتو ته زړۀ وشو او هغه مونږ کره نۀ وو نو مونږ يو سړے د ډاکخانے په آسونو باندے بعلبك ته وليږۀ۔ نو مونږ عمرؒ ته په دے خبر ورکړو نو هغۀ هغه شات بازار ته وليږل او خرڅ ئے کړل او سرئے خپله واخستۀ او کټه او زيادت ئے د ډاکخانے د آسونو د گياه لپاره کيښودل او وے فرمايل : که چرے مسلمانانو ته قئ فائده ورکولے نو مابه قے کړے وے۔
او عمر بن عبد العزيزؒ به د خلکو ترمينځه منړے (سيوان) ويشل نو د هغۀ يو څوئے راغے او ددغه منړو نه ئے يوه منړه راواخسته نو عمرؒ په هغۀ ورتوپ کړے او د هغۀ لاس ئے ونيوۀ او هغه منړه ئے ترے واخسته او په نورو منړو کښے ئے واچوله۔ هغه ماشوم لاړ او خپلے مور ته ئے شکايت وکړو نو مور ورته ووئيل: ولے بچيه ! نو هغۀ ورته خبر ورکړو نو هغے دوه روپئ بازار ته وليږلے او په هغے ئے ورله منړے واخستے، خپله ئے هم وخوړلے او ماشوم له ئے هم ورکړے او عمرؒ لپاره ئے هم

Maktaba Tul Ishaat.com

پرېښودې. کله چه عمرؓ فارغه شو نو هغې ته ورغې او هغې ورله د منړو تالې راواخستهٔ نو عمرؓ وفرمایل: فاطمې دا چرته وې؟ هغې ورته خبر ورکړو، وې فرمایل: الله دې په تا رحم وکړی! قسَم په الله زما هم ورته زړهٔ شوې وو.

[انظر لهذه الآثار ولغيرها : كتاب الورع لابنْ أبى الدنيا : ١/ ٢٣٧]

د قرآن او سنت نه د ورع (پرهیزګارۍ) دلائل :

اودا ډیر زیات دی، مونږ ددې نه څهٔ برخه ذکر کوو:

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴾ [فجر:١٤] (بیشکه ستا رب په انتظار ګاه کښې دې).

او فرمائی : ﴿ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ يَرٰى ﴾ [علق:١٤] (آیا دهٔ ته معلومه نهٔ ده چه الله ګوری).

او فرمائی : ﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَه ﴾ [زلزال:٧، ٨] (نو کوم کس چه دَ یو وړوکی میږی په اندازه نیکی کړې وی هغه به ووینی او چاچه دَ یو وړوکی میږی برابر بدی کړې وی، هغه به ووینی).

او نبی ﷺ فرمائی : ((حلال هم ښکاره دی، او حرام هم ښکاره دی، اوددې دواړو ترمینځه څه مشتبه څیزونه دی چه ډیر خلق ئې نه پیژنی، نو چاچه خپل ځان د مشتبه څیزونو نه وساته نو هغهٔ د خپل دین او عزت حفاظت وکړو. او څوك چه په مشتبه څیزونو کښې پریواتهٔ نو په حرامو کښې به پریوځی لکه د هغه شپونکی پشان چه د چراګاه نه ګیرچاپیره څناور څروی نزدې ده چه په دې کښې اوڅریږی)).

[بخاری : ١/١٢٦ فتح، ومسلم : ١١/٢٧ ، نووی، ابوداود : ٣/٢٤٣، الترمذی ٢/٣٤٠، النسائی : ٧/٢٤٢، ابن ماجه ٢/١٣١٨]

او په خپله بلیغه خبره کښې فرمائی : [دَعْ مَا يُرِيبُكَ إِلٰى مَا لَا يُرِيبُكَ]

(هغه شے پریده چه پریشانئ کښې دې غورزوی او هغه شے اختیار کړه چه پریشانئ کښې دې نهٔ اچوی). [سنن الترمذی]

او رسول الله ﷺ فرمائی : [فَضْلُ الْعِلْمِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ ، وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ]

(زیاتی علم ماته د زیاتی عبادت نه زیات خوښ دے، او ستاسو بهترین دین ورع دهٔ).

[رواه البزار والحاكم وصححه الألبانى]

عطیه بن عروه السعدی ﷺ وائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے : یو بنده تر هغې پورې د متقیانو نه حسابیدے نشی ترڅوئې چه هغه شیان پرینږی نهٔ وی چه په هغې کښې باك نشته د وجې د ویرې د هغه شئ نه چه په هغې کښې باك شته دے).

[سنن الترمذي : ٢٤٥١ ، ابن ماجه ، وإسناده حسن]

او نبي ﷺ يوه كهجوره وموندله نو وې فرمايل : كه چرې ما سره دا انديښنه نۀ وې چه دا به د صدقې كهجوره وي نو خامخا به مې خوړلې وه.

[صحيح بخاري ، صحيح مسلم]

وهيب بن الوردؒ فرمائي : كله چه تۀ آبادي كول غواړې نو په دې شيانو ئې بنياد كيده : په زهد، ورع او نيت سره، ولې كه ددې نه سيوا په نورو شيانو دې ورله بنياد كېښودۀ نو هغه به ونړيږي.

[الزهد الكبير للبيهقي ، ص : ٣١٠]

ضحاكؒ فرمائي : ما خپل ملګري په داسې حال كښې موندلي دي چه هغوئ به د ورع نه سيوا بل شې نۀ زده كولو.

يحيى بن معاذؒ فرمائي : ورع، د هر شكي شئ نه ډډه كول، هره شبه پريښودل او په غير د تاويل نه د علم په سرحد باندې د الله مخامخ ودريدل دي.

[حواله سابقه]

مطرف بن عبد اللهؒ فرمائي : تۀ به دوه داسې سړي ومومې چه په دوئ كښې به د يو تن ډير مونځونه، روژې او صدقې وي، او هغه بل به ددۀ نه ډير زيات غوره وي. چا ورته ووېل: دا څنګه كيدې شي ؟ وې فرمايل : په دې دواړو كښې به يو تن د الله د حرام كړو شيانو نه ډير زيات بچ كيدونكې وي. [كتاب الزهد للإمام أحمد : ٣٤٣]

نبي اكرم ﷺ ټول ورع په يوه خبره كښې راجمع كړې، او هغه داده :

[مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ]

(د سړي ښائسته اسلام دادې چه بې فائدې كارونه پريدي).

[سنن الترمذي : ٢٣٧١٧ ، سنن ابن ماجه : ٣٩٧٦ ، عن أبي هريرة]

ابراهيم بن ادهمؒ فرمائي : هرې شبهې پريښودو او هر فضول پريښودو ته ورع ويل كيږي.

د ابو هريره رضي الله عنه په حديث كښې راغلي : [كُنْ وَرِعًا تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ]

(تۀ ورع كونكې جوړ شه نو د ټولو خلكو نه به زيات عبادت ګذار شې).

[سنن الترمذي]

اسحاق بن خلفؒ فرمائي : په خبرو كښې ورع كول، په سرو او سپينو زرو كښې د ورع كولو نه زيات سخت دي، او په رياست كښې زهد كول په سرو سپينو كښې د زهد كولو نه زيات سخت دي، ولې چه دا دواړه د رياست په طلب كولو كښې خرچ كيدې شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ځینې صحابو به فرمایل : مونږ به د حلالو اویا کارونه په دې ویره پرېښودل چه هسې نهٔ چرته په حرامو کارونو کښې پرېوځو.

[مدارج السالکین]

عائشه رضی الله عنها فرمائی : تاسو د بهترین عبادت نه غفلت کوئ او هغه ورع دے.

[إحیاء العلوم : ۲/ ۱۰۳]

عیسیٰ علیه السلام فرمائی : که دومره مونځونه وکړئ چه د لیندو پشان (راتاؤ) شئ او دومره روژے ونیسئ چه د لیندو د تارونو پشان (نرې) شئ او ستاسو د سترګو نه لکه د نهرونو هومره اوښکے لاړے شی : نو بیا به هم تاسو هغه شے رالاندے نهٔ کړئ کوم چه د الله سره دے مګر په رشتینې ورع (پرهیزګارئ) سره.

عبد الله بن مبارکؒ په شام کښې حدیثونه لیکل نو قلم ئے مات شو، نو چانه ئے په سوال قلم وغوښتو او کله چه د لیکلو نه وزګار شهٔ نو ترینه هیر شو او قلم ئے دغسې په قلمدان کښې پرېښودهٔ، کله چه مرو علاقې ته ورسیدهٔ او قلم ئے ولیدهٔ نو وې پیژندهٔ نو سفری سامان ئے بیرته تیار کړو دے لپاره چه د قلم د واپسئ لپاره شام ته سفر وکړی.

ابو موسی اشعری ﷺ فرمائی : د هر شئ یو حد وی او د اسلام حدونه ورع، تواضع، شکر او صبر دے. او ورع د ټولو کارونه تسمه ده، او تواضع کبر نه بچ کونکے شے دے، او صبر د اور نه خلاصے دے، او شکر جنت ګټل دی.

[تنبیه الغافلین : ۲/ ۲٤٤]

حسن بصریؒ فرمائی : حلاله روزی طلب کول په جنګ کښې د کافرانو سره د مخامخ کیدو نه زیات سخت دی. [الورع لابن أبی الدنیا، ص : ۱۱۷]

سلیمان علیه السلام فرمائی : مونږ له هغه شے راکړے شوے کوم چه خلکو له ورکړے شوے او هغه شے هم راکړے شوے کوم چه خلکو له نهٔ دے ورکړے شوے، او مونږ ته هغه شے راښودل شوے کوم چه خلکو ته ښودل شوے او هغه شے هم راښودل شوے کوم چه خلکو ته نهٔ دے ښودل شوے. نو په دے هر څهٔ کښې مونږ د درے شیانو نه زیات بهتر بل شے ونهٔ موندهٔ : (۱) په پټه او ښکاره د الله نه یریدل (۲) په غضب او رضا دواړو حالتونو کښې د عدل نه کار اخستل (۳) په غریبئ او مالدارئ دواړو کښې درمیانه روی کول.

[الفوائد، ص : ۷۱]

میمون بن مهرانؒ فرمائی : یو سړے تر هغه وخته پورے پرهیزګار نشی جوړیدے ترڅو چه د

خپل ځان سره ددۀ حساب کول د هغه حساب کولو نه زيات نشي چه يو شريك ئې د بل شريك سره کوي، او تر هغې پورې چه دا پته ورته ونۀ لږي چه ددۀ خوراك څکاك او لباس د کوم ځائې نه راځي ؟ [سير أعلام النبلاء : ٥/ ٧٤]

يحيى بن معاذ فرمائي : هغه څوك څنګه په دنيا کښې بې رغبته جوړيدې شي چه ورع نۀ لري، اول د هغه شئ نه ورع اختيار کړه چه ستا نۀ دې بيا په هغه شئ کښې بې رغبته شه کوم چه ستا دې۔

عمر ﷺ فرمائي : د يو سړي مونځ او روژې ته مۀ ګورئ بلکه د هغۀ د خبرو رشتين والي ته وګورئ هر کله چه هغه خبرې کوي، او د هغۀ وَرع (پرهيزګارئ) ته وګورئ هر کله چه د هغۀ د حرامو سره واسطه راشي، او د هغۀ امانتدارئ ته وګورئ هر کله چه ورسره امانت کيښودې شي۔

او يو سړې عبد الله بن عبد العزيزؒ ته راغې ويلې ماته وعظ وکړه ! نو هغۀ يو سنګريزه (وړوکې کانړې) را واغستۀ او وې فرمايل : دومره اندازه ورع چه ستا زړۀ ته ننوځي، دا ستا لپاره د تولې زمکې والو د مونځ نه بهتر دې۔ هغه سړي عرض وکړو : لږ نور نصيحت وکړه! وې فرمايل : په کوم حالت باندې چه الله صباله خپل ځانته جوړيدل غواړې نو په هم هغې باندې ورله نن جوړ شه۔ [صفة الصفوة : ٢/ ١٨٣]

انس ﷺ فرمائي : بيشکه تاسو څۀ عملونه کوئ چه هغه ستاسو په نظرونو کښې د ويښتۀ نه هم نرې دي ليکن مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هغه د تباه کونکي اعمالو نه ګڼړل۔

[صحيح بخاري]

اعشى بن عبد الله خپل يو ترۀ ته وليکل : د ورع او پرهيزګارئ سره دومره دعاء کافي ده څومره مالګه چه د کټوئ لپاره کافي وي۔

[ابن ابى الدنيا]

امام بخاريؒ د پُل يو ميخ ويستلې وو نو د هغې مالك ته لاړ او د هغۀ نه ئې اجازت وغوښتو چه يا خو ددې پيسئ واخله او يا ئې راته معاف کړه، نو پُل والا ورته ووېل : زما تول ملکيت تانه قربان دې او تۀ ددې نه وتلې ئې۔ نو د امام بخاريؒ مخ وېرقيدۀ، خوشحالي ئې ښکاره کړه او په دغه ورځ ئې ډير زيات مال صدقه کړو۔ [مقدمة فتح البارى]

سلفو به څلور شيان يو بل ته ديکه کول : (١) امامت (٢) وصيت (٣) امانت (٤) فتوئ۔

[إحياء العلوم : ١/ ٨٥]

عمر ﷺ فرمائي : دين دا نۀ دې چه يو سړې د شپې په آخره حصه کښې طنطنه کوي (ولاړ وي د

Maktaba Tul Ishaat.com

ځان سره مونځ وائی)۔ دین خو د ورع (پرهیزګارئ) نوم دے۔
[الزهد للإمام احمد : ١٨٤]

مسروقؒ نه د شعرونو د یو بیت پوښتنه وشوه، وے فرمایل : زۀ ښه نۀ ګنړم چه په خپله عملنامه کښې شعرونه بیاموم۔ [سیر أعلام النبلاء : ٤/ ٦٩]

زید بن اسلمؒ فرمائي : څوك چه د الله نه یرېږي، خلك به هغه سر[illegible] لري [illegible] دوئ ئې نۀ غواړي۔

حماد بن زیدؒ فرمائی : زۀ د خپل پلار سره ووم نو ما د دیوال نه یو بُس راواخستۀ نو ماته ئې وویل : دا دے ولے راواخستۀ ؟ ما ویل : دا خو یو بُس دے ! وے فرمایل : که ټول خلك ددے نه یو یو بُس راخلی نو آیا په دیوال کښې به بُس پاتے شی ؟
[الورع لعبد الله، ص: ١٤٠]

امام احمد بن حنبلؒ به چه کله یو نصرانی ته وکتل نو سترګے به ئې ښکته کړے، چا ترے وجه وپوښتله ؟ وے فرمایل : زۀ دا طاقت نۀ لرم چه هغه چاته وګورم چه هغۀ په الله باندے افتراء او دروغ جوړ کړی۔ [طبقات الحنابلة : ١٤/ ١٢]

امام احمدؒ نه پوښتنه وشوه : یو سړی نه یوه ورقه چه په هغې کښې احادیث لیکلے وی پریوځی نو آیا څوك چه دا بیامومی هغه کولے شی چه ددے نه احادیث ولیکی او بیا ئې ورته بیرته واپس کړی ؟ ویلے : نه۔ اول به ترے اجازه واخلی بیا به لیکل کوی۔

ابو العباس بن عطاءؒ فرمائی : د پرهیزګارئ والو پرهیزګاری د ذرے او شرشم دانے ذکر کولو نه پیدا شوے، هغه داسے چه یو رب چه په یوه لحظه، هُمزه او لمزه باندے خلکو سره حساب کوی دا خو ډیر سخت حساب کونکے دے، او ددے نه زیات سخت حساب دادے چه د ذرے او د شرشم په دانو باندے ورسره حساب وکړی، او د چا حساب چه داسے وی نو هغه ډیر لائق دے چه ویره ترے وکړے شی۔
[الزهد الکبیر للبیهقی، ص: ٣١٥]

یو سړی د چا لپاره حسن بصریؒ ته د نکاح پیغام ولیږۀ او هغه کس د حسنؒ او د نکاح کونکی ترمینځه سفیر وو او دے د حسنؒ خوښ وو، نو هغه سفیر یو ورځ حسنؒ ته ورغے او د هغه کس صفت ئې د هغۀ په مجلس کښې شروع کړو، او وے ویل : ابو سعیده ! بله دا چه هغه کس پنځوس زره روپۍ هم لری۔ حسنؒ ورته وفرمایل : پنځوس زره روپۍ لری؟ دا به د حلالو نه دۀ سره نۀ وی راجمع شوی۔ هغه سفیر وائی : ما عرض وکړو، اے ابو سعیده ! څنګه چه تاته پته ده دغه سړے پرهیزګاره مسلمان دے۔ حسنؒ وفرمایل : که چرے هغه دا د حلالو نه راجمع کړے وی

نو په دې کښې ئې د الله په حق بانديې بخل کړيے دے، نه. قَسَم په الله! زهٔ هيڅ کله دغه سړی سخر جوړيدل نهٔ غواړم.
[حلية الأولياء : ٢/ ١٥١]

معيقيبؓ د عمر ﷺ په بيت المال بانديے مقرر وو، يو ځل ئې بيت المال کنستلو نو په هغے کښې ئې يوه روپۍ وموندله او د عمر ﷺ يو ځوئے ته ئې ورکړه. معيقيبؓ وائی : بيا زهٔ خپل کور ته واپس شوم نو څهٔ گورم چه د عمر ﷺ استاذيے راغيے او ما غواړی، زهٔ چه لاړم نو هغه روپۍ د هغهٔ په لاس کښيے وه نو مونه ئې وفرمايل : تعجب دے په تا بانديے اے معيقيبه! تهٔ مانه د خپل ځان په باره کښيے ناراضه شويے ئې ؟ ما عرض وکړو، دا څنگه يا امير المؤمنين! ويے فرمايل : تهٔ دا غواړيے چه ماسره په دے روپۍ کښيے د محمد ﷺ امت جګړه وکړی ؟
[الورع لابن ابی الدنيا، ص : ١٢٦]

وهيب بن الوردؒ وائی : په چا کښيے چه دريے خبريے نهٔ وی نو د هغهٔ عمل له هيڅ اعتبار نشته :
(١) داسيے پرهيز چه د الله د حرام کړو شيانو نه ئې بند کړی (٢) داسيے بردباری (صبر) چه کم عقل پريے بند کړی (٣) او داسيے خوئے چه خلکو سره پريے د نرمۍ معامله کوی.
[الزهد للبيهقی، ص : ٣١٠]

ابن محيريزؒ د يو کپړيے دکاندار ته ورغيے چه د هغهٔ نه ئې کپړه اغستله، نو يو سړی دکاندار ته ووېل : آيا دا سړيے پيژنے ؟ دا ابن محيريز دے. نو هغه پاسيدهٔ او ويے فرمايل : مونږ دے له راغلی يو چه په خپلو روپو بانديے سودا وکړو، نهٔ په خپل دين بانديے!
[حلية الأولياء : ٥/ ١٣٨]

يوے ښځے امام احمدؒ ته د راتلو د اجازت نه پس پوښتنه وکړه : زهٔ د شپے ډيوے ته څرخکے کوم نو هغه مره شی نو بيا زهٔ د سپوږمۍ په رڼرا څرخکے کوم نو آيا دا ماله ضروری دی چه د ډيوے څرخکے د سپوږمۍ د څرخکی نه جدا کړم ؟ امام احمدؒ ورته وفرمايل : که ستا په نيز په دے دواړو کښيے فرق وی نو بيا تالہ دا جدا کول ضروری دی. بيا هغے وفرمايل : آيا د بيمار ژړل شکايت حسابيږی ؟ ويے فرمايل : زهٔ اميد لرم چه دابه شکايت نهٔ وی، دا خو الله ته شکايت کوی. بيا هغه ښځه واپس شوه نو امام احمدؒ خپل ځوئے ته ووېل : دا څوك وه ؟ دا د بشر بن الحارث خور وه، امام احمدؒ وفرمايل : دا نشی کيدیے چه دا د بشر بن الحارث نه سيوا د بل چا خور وی، ولے چه ما د هيڅ يو انسان نه دا نهٔ دی آوريدلی چه هغهٔ ددے ښځے پشان پوښتنه کړيے وی.
[طبقات الحنابلة : ٤٢٧]

Maktaba Tul Ishaat.com

بعضِ فقهاؤ ویلي دي: د ورع (پرهیزګارئ) نښه داده چه لس شیان به په خپل ځان بانديے فرض ګڼړي:

۱ – خپله ژبه د غیبت نه ساتل، ځکه الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ﴾ [حجرات:۱۲] (او په تاسو کښې دے څوك د چا غیبت نهٔ کوي).

۲ – د بدګمانئ نه ځان ساتل: الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ ﴾ [حجرات:۱۲] (تاسو دَ بدګمانئ دَ ډیرو خبرو نه پرهیز وکړئ، بیشکه ځینے بدګماني ګناه ده).

او نبي ﷺ فرمائي: [اِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَاِنَّ الظَّنَّ اَكْذَبُ الْحَدِيْثِ]

(تاسو بدګمانئ نه ځان وساتئ ځکه بدګماني د ټولو نه زیاته دروغژنه خبره ده).

۳ – د مسخرو نه ځان ساتل:

﴿ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ ﴾ [حجرات:۱۱] (یوه ډله دے بلے ډلے پورے توقے نهٔ کوي).

٤ – د حرامو نه نظر ښکته ساتل: ﴿ قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ ﴾ [نور:۳۰] (اے زما نبي! تهٔ ایمان والو ته ووایه چه خپل نظرونه ښکته ساتي).

٥ – په وینا کښے عدل او انصاف کول: ﴿ وَاِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوْا ﴾ [انعام:۱۵۲] (او کله هم چه کومه خبره کوئ نو انصاف سره ئے کوئ).

٦ – په اعمالو کښے د خود پسندئ (ځانته غاوره کیدو) نه ډډه کول: الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ بَلِ اللهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰكُمْ لِلْاِيْمَانِ ﴾ [حجرات:۱۷] (بانډه چیان په تا احسان کوي چه دوئ اسلام راوړے، تهٔ ووایه چه په ما بانديے د اسلام راوړو احسان مهٔ کوئ، بلکه الله په تاسو احسان کوي چه هغهٔ تاسو ته د ایمان لاره وښودله).

۷ – د مال حفاظت کول: چه په حقو ځایونو کښے خرچ کړے شي نهٔ په باطل کښے:

﴿ وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴾ [فرقان:٦٧] (او هغه خلق چه کله هغوئ خرچ کوي نو اسراف نهٔ کوي او نهٔ تنګي کوي او د دوئ خرچه ددے دواړو ترمینځه وي).

۸ – په خپلو ټولو کارونو کښے د کبر او ځان اوچت ګڼړلو نه ډډه کول:

﴿ تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَافَسَادًا ﴾ [قصص:۸۳] (دَ آخرت دا کور (جنت) مونږ هغه خلقو له ورکوو چه هغوئ په زمکه خپله لوئي او فساد نهٔ غواړي).

۹ – د آدابو او اوقاتو په لحاظ سره د پنځو مونځونو پابندي کول:

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ والصَّلَاةِ الْوُسْطٰى وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ [بقره:۲۳۸] (د خپلو مونځونو حفاظت کوئ او خاصکر مینځنے مونځ او الله ته په آرام او عاجزئ سره ودريږئ).

نو څوك چه د پنځو مونځونو اهتمام نهٔ كوي نو هغه كله ورع جوړيدے شي ؟

۱۰ - په سنت باندے برابر ودريدل او د صحابه كرامو - رضي الله عنهم - د جماعت پيروي كول، او د دوئ نه او د سنت نه نورو مذهبونو، رائے ګانو او د موجوده دور تنظيمونو ته نهٔ وتل، ځكه دے سره ايمان او دين دواړه خرابيږي. (د تجربه كار نه پوښتنه كوه، د حكيم نه پوښتنه مهٔ كوه).

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَاتَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ذٰلِكُمْ وَصّٰاكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [انعام:۱٥۳] (او بيشكه همدا زما نيغه لاره ده، پس تاسو ددے تابعداري وكړئ، او د نورو لارو پسے مهٔ روانيږئ چه تاسو د هغه (نيغے) لارے نه وانهٔ روي، الله تاسو ته ددے خبرو حكم كړے، دے لپاره چه د تقوىٰ لاره اختيار كړئ).

د الله كتاب ډير جامع كتاب دے په دے كښے ټول نصيحتونه او ښيګړے پرتے دي.

[انظر : أين نحن من هؤلاء !! بتصرف كثير : ٥/ ١٠٤]

ابو الحسن زنجانيؒ فرمائي : د چا سرمايه چه تقوىٰ وي، ژبے به د هغهٔ د ګټے بيانولو نه سترے شي.

[الزهد للبيهقي ، ص : ۳۳٥]

حسن بصريؒ فرمائي : څهٔ خلكو په عمل باندے د هميش والي نه انكار وكړو، قسم په الله ! مؤمن ديته نهٔ وائي چه يو مياشت دوه مياشتے يا يو كال دوه كاله عمل كوي، داسے نهٔ ده ! قسم په الله ! د مرګ نه مخكښے د مومن د عمل څهٔ نيته نهٔ ده مقرر.

[الزهد للإمام أحمد ، ص : ۳۸٥]

حذيفه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :[فَضْلُ الْعِلْمِ خَيْرٌ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ ، وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ] (زياتي علم د زياتي عبادت نه غوره دے، او ستاسو بهترين دين پرهيزګاري ده).

[رواه البزار والطبراني في الأوسط : ٤/ ٥٦٩ ، والحاكم : ١/ ٩٢ ، والحديث حسن ، أو صحيح]

جابر ﷺ فرمائي : يو سړے د نبي ﷺ په مجلس كښے په عبادت او كوشش سره ياد كړے شو، او يو بل سړے په پرهيزګارئ سره ياد كړے شو. نبي ﷺ وفرمايل : [لَاتُعْدَلُ الرِّعَةُ] (د پرهيزګارئ سره هيڅ شے برابر نهٔ دے).

[رواه الترمذي وحسنه ، وقال ابن مفلح : إسناده جيد ، الآداب الشرعية]

ابو قتاده او ابو الدهماء وائي : مونږ د باندے يو وسيدونكي ته راغلو او عرض مو وكړو: آيا تا د رسول الله ﷺ نه څهٔ خبره آوريدلے ؟ هغهٔ ويلے : هو ! ما ترے واوريدل چه فرمايل ئے :

[إِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا أَبْدَلَكَ اللّٰهُ بِهٖ مَا هُوَ خَيْرٌ لَّكَ مِنْهُ]

(تهٔ چه كوم شے صرف د الله لپاره پريدے نو الله به خامخا د هغے په عوض كښے تاله ددے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

بهتر شے درکوی)۔

[رواه أحمد والنسائی، الهیثمی فی المجمع : ١٠/ ٢٩٦]

عبد الله بن عمرو ﷺ وائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : څلور کارونه دی چه که هغه په تا کښے وی نو کومه دنیا چه تانه فوت شی د هغے غم مه کوه : (۱) امانت ساتل (۲) رشتیا ویل (۳) ښائسته اخلاق (٤) او پاکیزه خوراکه۔

[رواه أحمد وهو حدیث صحیح، وهو فی المجمع : ١٠/ ٢٩٥]

او په دے باندے دلیل د نعمان بن بشیر ﷺ دا حدیث هم دے :

[اَلْحَلَالُ بَیِّنٌ وَالْحَرَامُ بَیِّنٌ وَبَیْنَهُمَا أُمُوْرٌ مُشْتَبِهَاتٌ فَمَنِ اتَّقَی الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِیْنِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِی الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِی الْحَرَامِ، کَرَاعٍ یَرْعٰی حَوْلَ الْحِمٰی یُوْشِكُ أَنْ یُوَاقِعَهُ، أَلاَ وَإِنَّ لِکُلِّ مَلِكٍ حِمًی، أَلاَ وَإِنَّ حِمَی اللّٰهِ فِی الأَرْضِ مَحَارِمُهُ، أَلاَ وَإِنَّ فِی الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الْجَسَدُ کُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ کُلُّهُ :أَلاَ وَهِیَ الْقَلْبُ]

(حلال هم ښکاره دی، او حرام هم ښکاره دی، اوددے دواړو ترمینځه څه مشتبه څیزونه دی چه ډیر خلق ئے نه پیژنی، نو چاچه خپل ځان د مشتبه څیزونو نه اوساته نو هغه د خپل دین او عزت حفاظت اوکړو۔ او څوك چه په مشتبه څیزونو کښے واقع شو نو په حرامو کښے به واقع شی لکه د هغه شپونکی پشان چه د چراګاه نه ګیرچاپیر څناور څروی نزدے ده چه په دے کښے اوخریږی۔ خبردار ! د هر بادشاه دپاره یو ممنوعه علاقه وی، خبردار ! د الله ممنوعه علاقه د هغه حرام کړی څیزونه دی۔ خبردار ! په بدن کښے یو بوټئ ده چه کله هغه صحیح شی نو ټول بدن صحیح وی، او کله چه هغه خرابه شی نو ټول بدن خرابیږی، خبر شئ چه هغه زړه دے)۔

[بخاری : ١/١٢٦ فتح، ومسلم : ١١/٢٧، نووی، ابوداود : ٣/٢٤٣، الترمذی ٢/٣٤٠، النسائی : ٧/٢٤٢، ابن ماجه ٢/١٣١٨]

او دا ډیر زیات جامع او مفید حدیث دے۔

انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : [طَلَبُ الْحَلَالِ وَاجِبٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ]

(حلاله روزی تالاش کول هر مسلمان لپاره ضروری دی)۔

[رواه الهیثمی فی المجمع : ١٠/ ٢٩١، بإسناد جید، ورواه أحمد]

ابو هریره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : (څوك به مانه دا کلمات واخلی چه خپله پرے عمل اوکړی او یا ئے هغه چاته اوښائی چه هغه پرے عمل اوکړی ؟ ابو هریره ﷺ وائی۔ ما عرض اوکړو، زهٔ یا رسول الله ! نو هغوئ زما لاس ونیوهٔ او پنځه خبرونه ئے وشمارل۔ وے فرمایل : (۱)

حرامو شیانو نه ځان ساته، تهٔ به د ټولو خلقو نه زیات عبادت گذار جوړ شے (۲) او څهٔ چه تاله الله په قِسمت کښے درکړی، په هغے راضی اوسه، تهٔ به په ټولو خلقو کښے مالداره شے۔ (۳) او خپل گاونډی سره احسان کوه تهٔ به مؤمن جوړ شے۔ (٤) او د خلقو لپاره هغه څه خوښوه څه چه ځانله خوښوے، تهٔ به مسلمان جوړ شے۔ (۵) او ډیر مهٔ خانده ځکه ډیره خندا زړهٔ وژنی)۔

(أخرجه الترمذی: ۲۳۰۵، وابن ماجه، وأحمد۲/۳۱۰، وهو فی المشكاة ۲، والصحيحة ۲/٦۳۷، اسناده حسن، حديث جامع، وفيه أن الحرام ينافى العبادة وأفضل العبادة ترك الحرام).

عطية السعدی ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے:

[لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ حَتّٰى يَدَعَ مَالَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا مِمَّا بِهِ بَأْسٌ]

(یو بنده تر هغه وخته پورے پوره متقی کیدے نشی ترڅو چه جائز شیان په ناجائزو شیانو کښے د پریوتو د وجے پرے نهٔ دی)۔

[ترمذی: ۲٤۵۱، ابن ماجه، واسناده حسن]

عائشه – رضی الله عنها – فرمائی: ما نبی ﷺ هیڅ کله په ډکه خُلهٔ خندیدونکی نهٔ دے لیدلے چه د هغے په وجه ئے حلقیٔ ژبه ووینم، هغویٔ خو به صرف مُسکا کوله۔

[بخاری، مسلم]

طاووسؒ فرمائی: د اسلام مثال لکه د وُنے دے چه د کلمے طیبے گواهی ئے ویخ دے، تنه ئے دا شیان دی، میوه ئے پرهیزگاری ده او په هغه وُنه کښے هیڅ خیر نشته چه میوه نهٔ لری، او په هغه انسان کښے هیڅ خیر نشته چه ورع (پرهیزگاری) نهٔ لری۔

[ابن أبی الدنيا: ۱۰۹]

حسن بصریؒ فرمائی: بهترین علم پرهیزگاری او توکل دے۔

[الزهد لأحمد، ص: ۳۲۵]

دارنگه فرمائی: فقیه (عالِم دین) هغه چاته وائی چه پرهیزگاره، په دنیا کښے بے رغبته او د محمد ﷺ په سنت باندے کلك ولاړ وی، د ځان نه ښکته خلکو پورے مسخرے نهٔ کوی او د ځان نه پورته خلکو پورے توقے نهٔ کوی او کوم علم چه ورته الله ورزده کړے په هغے دنیا نهٔ اخلی۔

[الآداب الشرعية: ۲/ ٤۵]

دارنگه فرمائی: د عابدانو د ټولو نه بهترین عبادت دادے چه دویٔ هغه شے پریدی د کوم نه چه الله دویٔ منع کړی۔ [ابن ابی الدنيا، ص: ٤۲]

دارنگه فرمائی: په زمکه باندے د قیام اللیل نه سیوا زهٔ د خلکو لپاره بل هیڅ شے خوښ نهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ګنړم۔ چا ورته وویل : نو پرهیزګاري چرته لاړه؟ وې فرمایل : دا خو څۀ کوې، په دې سره خو د ټولو کارونو سمیدل راځي۔ [ابن ابی الدنیا : ٥٠]

او یو غلام (هلك) ته ئې وفرمایل : د دین د بوریٔ د خُلې ترلو تسمه څۀ شې دې؟ هغۀ وفرمایل : پرهیزګاري۔ ویل : آفت ئې څۀ شې دې؟ هغۀ ویل : طمع۔ نو حسن بصريّ د دغه هلك نه تعجب وکړو۔ [مدارج السالکین :٢/ ١٢٣]

اوزاعيّ فرمائي : مونږ به مزاح کوله او خندل به مو، خو کله چه مونږ داسې مرتبې ته ورسیدو چه خلك مونږ پسې اقتداء کوي نو اوس ما سره ویره ده چه مُسکا به هم مونږ سره مناسب نۀ وي۔ [الآداب الشرعية : ٢/ ٢٣]

صالح المريّ فرمائي : مخکښې به دا خبره کیدله چه : د فتنو په زمانه کښې پرهیزګاري کول داسې دي لکه د فراخیٔ د زمانې د کلونو عبادت۔ [ابن ابی الدنیا]

حبیب بن ابی ثابتؒ فرمائي : د یو سړي ډیر مونځونه او روژې دې تاسو په تعجب کښې نۀ غورزوي، بلکه د هغۀ ورع ته وګوریٔ، که چرې هغه پرهیزګاره وو او دې سره الله ورته عبادت هم نصیب کړې وو نو دا د الله رشتینې بندګي کوي۔ [حواله سابقه]

ضحاك بن عثمانؒ فرمائي : ما خلك موندلي دي چه هغویٔ به ورع زده کوله او نن صبا خلك کلام زده کوي۔ [حواله سابقه]

محمد بن واسعؒ فرمائي : د پرهیزګاریٔ سره لږه دعاء هم کار کوي۔

ابراهیم نخعيّ فرمائي : خلك فضول خبرو او فضول مال تباه کړل۔ [الآداب الشرعية]

امام شافعيّ فرمائي : بردباري او ورع د علم ښکلا ده۔ [الآداب الشرعية : ٢/ ٢٧٠]

ابو محمد بن ابي زیدؒ فرمائي : د خیر ټول آداب او واګې د نبی اکرم ﷺ د څلورو خبرو نه راوځي :

١ – [مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ]

(څوك چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري هغه دې د خیر خبره کوي او یا دې چپ کیني)۔

٢ – [مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ]

٣ – او یوتن ته د نبی ﷺ دا لنډ وصیت : [لَا تَغْضَبْ] (مۀ غصه کیږه)۔

٤ – او د نبی ﷺ دا وینا : [اَلْمُؤْمِنُ يُحِبُّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ]

(مومن د خپل ورور لپاره هغه شې خوښوي کوم چه ځانله خوښوي)۔

[جامع العلوم والحکم، ص: ۱۰۵]

د ورع دلائل او په دے حقله د سلفو اقوال ډیر زیات دی، خوک چه د تقویٰ اراده لری دا ذکرشوی ورله کافی دی۔

او ددے تولو په ځائے د الله تعالیٰ دا وینا کفایت کوی:

﴿ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمٌ ﴾ [نور:۱۵] (او تاسو دا معمولی خبره ګنړله حالانکه دا د الله په نیز لویه خبره ده)۔

او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴾ [فجر:۱٤]

او دا وینا: ﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴾ [زلزال:۷:۸]

او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلَاقٍ حِسَابِيَهْ ﴾ [حاقه:۲۰]

(بیشکه زما دا یقین وو چه زهٔ به د خپل حساب سره مخامخ کیږم)۔

او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ [ق:۱۸] (انسان چه کله هم څهٔ خبره د خپلے ژبے نه وباسی نو دهٔ سره یو نګهبان تیار وی) (چه هغه دا لیکی)۔

او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ [انفطار:۱۰-۱۲] (او بیشکه په تاسو باندے ساتونکی ملائك مقرر دی چه هغوئ عزتمن لیکونکی دی، تاسو چه څهٔ کوئ هغه پیژنی)۔

او دا وینا د الله تعالیٰ: ﴿ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِنْ ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِمَّا تَعْمَلُونَ ﴾ [فصلت:۲۲] (او تاسو به د ګناه کولو په وخت ددے ویرے نه نهٔ پټیدلئ چه ستاسو خلاف به ستاسو غوږونه، او ستاسو سترګے، او ستاسو څرمنے ګواهی ورکړی، بلکه تاسو دا ګمان کولو چه الله ستاسو ډیر کارونه نهٔ پیژنی)۔

او آیتونه په دے مضمون کښے ډیر زیات دی، زمونږ د رب کتاب قرآن کریم څومره ډیر زیات جامع کتاب دے۔

﴿ تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا ﴾ [فرقان: ۱]

******

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٥ - قیمتي فائده

لس شیان برباد دي هیڅ فائده ترې نهٔ اخستل کیږي :

۱ - هغه علم چه عمل پرې نهٔ کیږي.

۲ - هغه عمل چه نهٔ په کښې اخلاص وي او نهٔ د نبي ﷺ پیروي.

۳ - هغه مال چه خرچ ترې نشي کیدې، نهٔ ددې جمع کوونکے ددې نه فائده اخلي او نهٔ ئې خپلې مخې ته آخرت ته لیږي.

٤ - هغه زړهٔ چه د الله د محبت، هغهٔ طرفته د شوق او هغهٔ سره د آموخته کیدو نه خالي دې.

٥ - داسې بدن چه د الله د طاعت او خدمت نه بیکاره دې.

٦ - داسې محبت چه د محبوب رضا او د هغهٔ د خبرې منل په کښې نهٔ وي.

۷ - داسې وخت چه د کوتاهئ پوره کولو یا د نیکئ او ثواب ګټلو نه بیکاره وي.

۸ - داسې فکر چه په بې فائدې شیانو کښې ګرځي.

۹ - د هغه چا خدمت چه د هغهٔ خدمت تا د الله خدمت ته نهٔ نزدې کوي او نهٔ ورسره ستا دنیا سمیږي.

۱۰ - د هغه چانه ستا ویره او امید کول چه د هغهٔ تندې د الله په لاس کښې او هغه د هغهٔ په قبضه کښې قیدي دې، د خپل ځان لپاره د نفع او ضرر، د مرګ او د ژوند او د دوباره پاسیدو مالك نهٔ دې.

بیا ددې ټولو بربادیو نه دوه بربادئ ډیرې غټې دي چه هغه د هرې بربادئ بنیاد دې :

۱ - د زړهٔ بربادي.

۲ - د وخت بربادي.

د زړهٔ بربادي، دنیا لره په آخرت باندې د غوره کولو په وجه وي.

او د وخت بربادي د اوږد امید کولو په وجه وي.

نو فساد ټول د خواهش په تابعدارئ او په اوږد امید کښې راجمع شو. او اصلاح ټوله د هدایت په پیروئ او د آخرت په تیارئ کښې راغونډ شو.

دا ډیره عزتمنه فائده ده، علامه ابن قیم رحمه الله په [الفوائد، ص : ۱۹۳] کښې ذکر کړې.

زهٔ وایم : په یو صحیح حدیث کښې د علي ﷺ دا ارشاد نقل شوې : [إِيَّاكُمْ وَاتِّبَاعَ الْهَوىٰ وَطُوْلَ الأَمَلِ، فَإِنَّ اتِّبَاعَ الْهَوىٰ يَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ، وَطُوْلُ الأَمَلِ يَنْسَى الآخِرَةَ]

(تاسو د خواهش پیروئ او اوږد امید نه ځان وساتئ ځکه د خواهش پیروی د حق نه بندول کوی او اوږدهٔ امیدونه آخرت هیروی).

[أخرجه البيهقي ، كما في المشكاة عن علي موقوفًا ، وهو حديث صحيح]

په دے **مناسبت** زهٔ وایم :

لس شیان دی چه ددے نه نفع نهٔ پورته کیږی مگر په لسو شیانو سره :

۱ – علم په غیر د فهم نه.

۲ – تلاوت کول په غیر د تدبر نه.

۳ – په علمونو باندے مشغولیدل په غیر د علم د قرآن او سنت او په دے سره د زړونو سمولو نه.

٤ – تحقیق په غیر د تقلید پریښودو نه.

۵ – ذکر په غیر د لغو او مشغلے پریښودو نه.

٦ – مطالعه په غیر ددے نه چه هغه په لیکلو سره وساتل شی.

۷ – دعاء غوښتل په غیر د تادئ پریښودلو نه.

۸ – الله ته د رسیدو تالاش کول په غیر د پیروئ د سنت نه په عقیده او عمل کښے.

۹ – عمل په غیر د یقین او د احسان نه.

۱۰ – علمونه ذخیره کول په غیر د دعوت الی الله نه.

عثمان ﷺ فرمائی : **لس شیان** د تولو نه زیات برباد دی :

۱ – داسے عالم چه پوښتنه ترینه نشی کیدے.

۲ – داسے علم چه عمل پرے نهٔ کیږی.

۳ – داسے حقه رائے چه نهٔ قبلیږی.

٤ – داسے وسله چه نهٔ استعمالیږی.

۵ – داسے جومات چه مونځ پکښے نهٔ کیږی.

٦ – داسے مصحف شریف چه تلاوت په کښے نهٔ کیږی.

۷ – داسے مال چه خرچ ترے نشی کیدے.

۸ – داسے اس چه سورلی پرے نهٔ کیږی.

۹ – د زهد علم د هغه چا په خیټه کښے چه د دنیا طلبګاروی.

۱۰ – داسے اوږد عمر چه ددے خاوند په کښے د خپل سفر لپاره تیارے نهٔ کوی.

[فرائد الكلام ، ص : ۲۷۸ ، إرشاد العباد ، سيرة عثمان ، ص : ۲۷]

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٦ ـ جامعه فائده : اصولي قواعد

دا یو څو شرعي اصولي قاعدې دي څوك چه ددې لحاظ ساتي او دا استعمالوي نو الله سبحانه وتعالیٰ ورته هدایت کوي او په خپل توفیق سره ئې د تولو گمراهیو او خرافاتو نه ساتي :

۱ ـ د حق تابعداریٔ سره تله درنیږي : او دیته په دې آیتِ کریمه کښې اشاره ده :

﴿ وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهُ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [اعراف:۸] (او په هغه ورځ د اعمالو وزن کیدل حق دي، پس د چا د اعمالو تله چه درنه شي نو همدا کسان کامیابي موندونکي دي).

ابو بکر صدیق ﷺ عمر فاروق ﷺ ته وصیت کولو، ورته ئې وفرمایل : (بیشکه د چا د عملونو تلې چه درنې شوې دي نو دا په دویٔ وجه چه دویٔ د حق تابعداري کړې، او د هغه تلې لپاره لائق دي په کومه کښې چه حق کیښودلې شي چه درنه شي. او د چا تلې چه سپکې شوې دي نو دَ باطل د اتباع د وجې نه، او هغه تلې لپاره لائق دي په کومه کښې چه باطل کیښودلې شي چه سپکه شي).

[انظر معالم التنزیل للامام فراء البغوی، سورة الأعراف]

۲ ـ علي ﷺ فرمائي : [أُنْظُرْ إِلىٰ مَا قَالَ، وَلَا تَنْظُرْ إِلىٰ مَنْ قَالَ]

(ویونکي ته مهٔ گوره بلکه د هغهٔ خبرې ته گوره).

[ذکره علی المتقی فی الکنز]

نو دا د اهل السنة و الجماعة د قاعدو نه یوه قاعده ده چه دویٔ وینا ته گوري او ویونکي ته نهٔ گوري. ډیر اوچت ویونکي وي چه په خپله خبره او بیان کښې خطاء شي. او ډیر ښکته انسان وي چه ډیره مزیداره خبره وکړي.

﴿ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهُ ﴾ [زمر:۱۸] (هغویٔ قرآن غور سره آوري، بیا د هغې په بهترینو خبرو عمل کوي، همدا خلق دي چه الله دویٔ ته حقه لاره ښودلې ده، او همدا خلق عقل او پوهې والا دي).

او په دې قاعده باندې د ابو هریره ﷺ هغه حدیث هم دلیل دې چه هر کله ورته شیطان د آیة الکرسي فضیلت ور اوښودهٔ، او نبي ﷺ د هغهٔ تصدیق وکړو، او ورته ئې وفرمایل : [صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوْبٌ] (هغه سره ددې چه ډیر دروغژن دې، دا خبره ئې درته رښتیا وویله).

[صحيح بخاري]

۳ - علي ﷺ فرمائي: که چرې د دين بنياد په رائې (او عقل) باندې وې نو د موزې لاندينې طرف به ددې د پورتنې طرف نه په مسح کولو باندې ډير لائق وې (ليکن لاندې طرف ئې په مسح کولو سره لائق نۀ دې څکه) ما رسول الله ﷺ ليدلې دې چه هغوئ د خپلو موزو په پاسنى طرف باندې مسح کوله. [سنن أبى داود، مشكاة]

نو دين يوائې په عقل بنا نۀ دې بلکه په داسې نقل بنا دې چه د صحيح عقل سره موافق دې.

٤ - مجاهدؒ فرمائي: [كُلُّ أَحَدٍ يُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهِ وَيُرَدُّ عَلَيْهِ إِلَّا صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ ﷺ]

(د هر انسان څينې خبرې اخستې کيږي او څينې رد کولې شي، سيوا ددې قبر د خاوند نه).

دا خبره د امام مالكؒ او امام بخاريؒ نه هم نقل شوې، لکه په [جزء القراءة] کښې ئې ذکر کړې.

او دا خبره حافظ ابن عبد البرؒ په [جامع بيان العلم وفضله] کښې د ابن عباس ﷺ نه نقل کړې.

نو دا د ((شخصي تقليدِ جامد)) په رد کښې جامعه قاعده ده.

۵ - شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائي:

په قرآن او سنت او اجماع د امت سره دا خبره ثابته شوې چه الله تعالىٰ په خلکو باندې خپل اطاعت او د خپل رسول الله ﷺ اطاعت فرض کړې، او په دې امت باندِې الله تعالىٰ د بل هيڅ يو شخص د هغه د ټولو خبرو طاعت نۀ دې فرض کړې، سيوا د رسول الله ﷺ نه چه د هغۀ ټولې خبرې په غير د چون وچرانه منل فرض دي. تردې چه ابوبکر الصديقؓ چه د رسول الله ﷺ نه پس ددې امت بهتر انسان دې هغه فرمائي: څما خبره تر هغه وخته پورې منئ ترڅو چه زۀ د الله تعالىٰ په طاعت روان يم او هرکله چه د الله تعالىٰ نافرماني وکړم، نو بيا څما طاعت پتاسو باندې نشته، او د ټولو علماؤ په دې اتفاق دې چه په دې امت کښې هيڅوك معصوم نشته سيوا د رسول الله ﷺ نه چه د هغۀ ټولې خبرې دې صحيح وي او يوه دې هم خطاء نۀ وي. همدا وجه ده چه ډيرو علماء کرامو وئيلي دي چه د هر انسان څۀ خبرې به اخستلې شي کومې چه په دليل سره وي او څۀ به پريښودلې شي کومې چه بې دليله وي. او ائمه اربعه ؒ هم خلقو لره د تقليد نه منع کړې دي چه څمونږ د هرې خبرې تابعداري مکوئ او دا په امامانو باندې واجب ده چه امت ته داسې نصيحت وکړي. بيا ئې د هغوئ اقوال راوړي دي.

[مجموع الفتاوى: ۲۰/ ۲۱۰]

٦ - علماء فرمائي: د عباداتو بنياد په توقيف او اتباع باندې دې، نۀ په ايجاد او بدعت باندې.

[كما في فتاوى شيخ الإسلام رحمه الله]

Maktaba Tul Ishaat.com

۷ - په باب د عباداتو کښې قياس نهٔ جاري کيږي او نهٔ د عقيدې په مسائلو کښې جاري کيږي۔ قياس خو يو داسې شې دې چه ديته مجتهد په مخصوصو حالاتو کښې مجبوره کيږي۔

۸ - هر هغه عبادت چه د رسول الله ﷺ صحابه کرامو - رضى الله عنهم - نهٔ وى کړې، هغه به نشى کولې ځکه هغوئ په برابره لاره روان خلك وو۔

[قاله في الوجيز]

۹ - د اهل السنة والجماعة دا عقيده ده چه : هر هغه قول او فعل چه د صحابه کرامو - رضى الله عنهم - نه ثابت نهٔ وى نو دا بدعت دې، ځکه هغوئ د خير هيڅ يو خوئ خصلت نهٔ دې پريښې مگر خامخا ئې هغې ته په تادئ سره ورتگ کړې۔

[ابن كثير، سورة الأعراف]

۱۰ - قاعده : عدمِ نقل په باب د عباداتو کښې دليل د عدمِ ثبوت دې : ځکه که چرې دا ثابت وې نو مونږ ته به رانقل شوې وې، او دا ځکه چه د صحابه کرامو همت او دعوت ددې غوښتنه کوى چه دا رانقل کړى۔

[الدين الخالص : ۱/ ۱۲، مفصلا]

۱۱ - ((نقل)) به په هر څهٔ کښې په ((عقل)) باندې وړاندې کولې شى، او عقل دا حق هيڅ کله نهٔ لرى چه د ((نقل)) خلاف وکړى۔

[كما في درء تعارض العقل والنقل، لشيخ الإسلام، بالتفصيل]

۱۲ - قيامته پورې چه کومه پيښه، واقعه او مسئله راپيښيږى نو ((شريعتِ مطهره)) کښې د هغې جواب شته، دې وجې نه مؤمن ددې د حل کولو لپاره بل هيڅ يو شئ ته حاجت نهٔ لرى۔

[كما في إعلام الموقعين، بحث القياس]

۱۳ - نبى اکرم ﷺ فرمائى : [مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ]

(چاچه يو داسې کار وکړو چه په هغې باندې مونږ حکم نهٔ وو کړې نو هغه مردود دې)۔

[صحيح مسلم]

امام نوويؒ فرمائى : دا يوه جامعه قاعده ده چه ددې استعمالول او د ټولو بدعاتو په رد کښې ددې نه استدلال کول پکار دى۔

[كما في شرح مسلم، الدين الخالص : ۱/ ۱۲]

۱٤ - او نبى اکرم ﷺ فرمائى : (هيڅ يو شې داسې نشته چه تاسو جنت ته نزدې کوى او د اوره مو لرې کوى مگر ما تاسو ته د هغې حکم کړې، او هيڅ يو داسې شې نشته چه تاسو اور ته

نزدے کوی او جنت نه مو لرے باسی مگر خامخا ما تاسو د هغے نه منع کړی یئ)۔

[رواه البغوی فی شرح السنة ، وهو فی المشکاة]

۱۵ – الله تعالیٰ دا امت نهٔ خو د دوئ خپلو عقلونو او ذوقونو ته سپارلے او نهٔ ئے د دین او په شریعت باندے د عمل کولو په باب کښے د رسول الله ﷺ نه علاوه بل سړی ته سپارلے۔ او په دے خبره د ټولو مسلمانانو اجماع او اتفاق دے۔

[کما ذکره شیخ الإسلام رحمه الله]

۱۶ – استحباب حکمِ شرعی دے، شرعی دلیل غواړی، او شرعی دلیل قرآن او صحیح سنت دے۔

[کما فی رد المحتار]

۱۷ – د یو عمل مستحب والے په ضعیف حدیث سره نهٔ ثابتیږی، ځکه چه ضعیف حدیث شرعی دلیل نهٔ دے۔

۱۸ – مجتهد له خطاء او رسا دواړه شته : او کله چه خطاء شی یو اجر ورله وی۔

[کما فی شرح العقائد للتفتازانی ، ومجموع فتاوی ابن تیمیة رحمه الله]

۱۹ – او نبی ﷺ فرمائی : [إِذَا اجْتَهَدَ الْحَاكِمُ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ ، وَإِذَا أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ]

(کله چه حاکم اجتهاد وکړی او حق ته ورسی نو دوه اجره لری اوکه خطاء شی نو یو اجر لری)۔

[صحیح بخاری ، صحیح مسلم]

۲۰ – په یو شئ باندے د ائمه اربعهؒ اتفاق، داسے اجماع نهٔ ده چه ددے مخالفت جائز نهٔ وی، په شریعت کښے ډیر داسے صحیح مسائل شته چه د ائمه اربعو نه سیوا د نورو علماؤ نه نقل دی۔

[کما فی مجموع فتاوی ابن تیمیة : ۲۰/ ۲۱۰]

۲۱ – اجماع حجت ده، خو په شرطونو سره، او هره اجماع حجت نهٔ ده۔ د اجماع لپاره یو داسے شرعی دلیل پکار دے چه هغه د قرآن او سنت نه ماخوذ وی۔ څوک چه وائی : د اجماع لپاره شرعی ماخذ ته ضرورت نشته، نو ددهٔ دا خبره ښکاره غلطه ده، دهٔ ته د شریعتِ مطهره معامله نهٔ ده معلومه۔ ددے تفصیل په خپل ځائے کیږی۔

۲۲ – صحیح حدیث د قرآن سره تعارض نهٔ راځی، بلکه دا خو یا د قرآن موافق وی، یا د هغهٔ د مجمل تفصیل وی او یا په دے کښے په قرآن باندے یو زائد حکم وی۔

[کما فی إعلام الموقعین]

۲۳ – او نبی ﷺ فرمائی :

[فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ]

Maktaba Tul Ishaat.com

(په دين کښې هر نوې شے بدعت دے او هر بدعت گمراهي ده)۔ [صحيح مسلم]

نو په دين کښې چه هر يو شے د ځانه جوړ شي، هغه بدعت وي، او په بدعت کښې حسنه نشته ځکه چه رسول الله ﷺ هر بدعت ته گمراهي ويلې۔

٢٤ – قاعده : په چا کښې چه دوه خويونه وي هغه هيڅ کله حق طرفته نۀ راځي :

(١) جهل مرکب (يعني ډبله ناپوهي، خردماغي) (٢) او تعصب (ضد)۔

لکه الله تعالیٰ ديته په خپلے دے وينا کښې اشاره کړے :

﴿ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا وَّهُم مُّعْرِضُوْنَ ﴾ [انفال:٢٣] (او که الله پوهيدے چه په دوئ کښې څه خير شته نو دوئ ته به ئے ضرور اورولي وے او که دوی ته ئے اورولي هم وے نو دوی به مخ اړولو سره تختيدلے)۔

يعني که الله ته په دوئ کښې خير معلوم وے نو دوئ به ئے پوهه کړي وے اوکه چرے دوئ ئے پوهه کړي وے نو د دوئ د کبر او غرور د وجے به خامخا دوئ مخ اړولے وے۔

امام ابن قيم رحمه الله فرمائي :

وَتَعَرَّ مِنْ ثَوْبَيْنِ مَنْ يَلْبَسْهُمَا يَلْقَى الرَّدیٰ بِمَذَمَّةٍ وَهَوَانِ
ثَوْبٌ مِنَ الْجَهْلِ الْمُرَكَّبِ فَوْقَهُ ثَوْبُ التَّعَصُّبِ بِئْسَتِ الثَّوْبَانِ

(او د دوو جامو نه ځان بربنډ کړه ځکه دا دواړه چه څوك واغوندي نو د ذلت او سپکاوي او تباهئ سره مخامخ کيږي : يو د جهل مرکب (ډبلے ناپوهئ) جامه او بله ددے دپاسه د تعصب جامه ده چه دا دواړه ډيرے خرابے جامے دي)۔

٢٥ – صحابه کرام – رضي الله عنهم اجمعين – ټول عادلان دي، نو د دوئ نامعلومه کيدل د حديث صحت ته ضرر نۀ ورکوي۔

[کما في الاستيعاب والإصابة في المقدمة]

٢٦ – کتاب او سنت به د سلفو په فهم باندے پيژندلے شي، يواځے په خپل فهم به ئے نۀ فهموے، ځکه الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيْرًا ﴾ [نساء:١١٥] (او څوك چه د هدايت د لارے د ښکاره کيدونه روستو د رسول مخالفت کوي او د مؤمنانو لاره پريښودو سره د بل چا د لارے پسے روانيږي نو دا چه چرته اوړيدل غواړي نو هغه طرف ته به ئے واړوو او جهنم ته به ئے داخل کړو او دا ډير بد ځائے د واپس کيدو دے)۔

نو الله د رسول الله ﷺ د مخالفت سره دا قید هم لرولے : ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [نساء:۱۱۵] او دا قید ډیر زیات مفید دے !

او نبي ﷺ فرمائي : [مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ] (هغه ډله د اور نه خلاصے موندیدونکے ده چه په هغه دین او طریقه روانه وي چه په هغے باندے نن زۀ او زما صحابه روان دي).

[كما فى الصحيحة]

نو دے حديث كښے ئے [أَصْحَابِيْ] هم ذكر كړے چه په دے كښے فهم د سلفو ته اشاره ده.

۲۷ – قاعده : كتاب او سنت به په ظاهر باندے جاري كولے شي دارنګه د عوامو او د اولنو عربو په لغت به جاري كولے شي.

[كما فى الإبانة ، ص : ۲۲ ، وشرح العقائد للتفتازاني]

۲۸ – ابن مسعود ﷺ فرمائي : [اَلْجَمَاعَةُ مَا وَافَقَ الْحَقَّ وَإِنْ كُنْتَ وَحْدَكَ]

(جماعت ديته وائي چه د حق سره موافق وي اګركه ته يواځے ولے نۀ ئے).

[رواه البيهقي ، كما فى الوجيز لعبد الله بن عبد الحميد الأثري حفظه الله]

۲۹ – ابو امامه ﷺ فرمائي : [اَلسَّوَادُ الْأَعْظَمُ هُوَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ، كَمَا فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى : ﴿ وَإِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ﴾ [نور:٥٤] (او كه چرے تاسو ددۀ فرمانبرداري وكړئ نو په سمه لار به شئ).

[كما فى المجمع : ۱ ، للهيثمي]

(سوادِ اعظم – يعني لويه ډله – رسول الله ﷺ ته وائي ، لكه الله تعالىٰ فرمائي : كه تاسو ددے نبي خبره ومنئ نو تاسو به هدايت ومومئ).

۳۰ – كثرت او د سرونو زياتيدل په حق باندے دلالت نۀ كوي :

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ﴾ [انعام:۱۱٦] (او كه ته د هغه خلقو خبره ومنے چه د هغوی په زمكه كښ اكثريت دے نو هغوی به تا لره د الله د نيغے لارے نه واړوي).

۳۱ – د مشركانو دلائل دادي :

(۱) د پلار نيكۀ تابعداري (۲) د اكثريت تابعداري (۳) د ګمانونو او اټكلونو (تاويلي ما ويلي) تابعداري (٤) د خواهش تابعداري.

۳۲ – نبي ﷺ فرمائي : [اِفْتَرَقَتِ الْيَهُوْدُ عَلٰى إِحْدٰى وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً وَافْتَرَقَتِ النَّصَارٰى عَلٰى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ فِرْقَةً وَسَتَفْتَرِقُ أُمَّتِيْ عَلٰى ثَلَاثٍ وَّسَبْعِيْنَ فِرْقَةً ، أَعْظَمُهَا فِتْنَةً الَّذِيْنَ يَقِيْسُوْنَ الْأُمُوْرَ بِآرَائِهِمْ ، فَيُحِلُّوْنَ الْحَرَامَ وَيُحَرِّمُوْنَ الْحَلَالَ]

(يهود يو اويا (۷۱) ډلے ، نصارىٰ دوه اويا (۷۲) ډلے جوړ شوي وو، او زما امت به درے اويا (۷۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

ډلې جوړېږي، په دې تولو کښې به د هغه ډلې فتنه ډېره خطرناکه وي چه هغوئ په ديني مسئلو کښې قياسونه چلوي، چه ددې په وجه د حلالو نه حرام او حرامو نه حلال جوړوي)۔

[رواه الحاكم، وانظر تعظيم السنة]

۳۳ – اجتهاد به قيامته پورې روان وي :

امام سيوطیؒ د اجتهاد جاري کيدو په باره کښې يو کتاب ليکلې، د هغې نوم دې :

[اَلرَّدُّ عَلٰى مَنْ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ، وَجَهِلَ أَنَّ الْاِجْتِهَادَ فِيْ كُلِّ عَصْرٍ فَرْضٌ]

يعنې هغه څوك دنيا پرست دې چه په هره زمانه کښې اجتهاد كول فرض نهٔ گنړي۔

په دې کښې ئې د اجتهاد په جاري کيدو باندې ډېر دلائل او حوالې ذکر کړي، هغې ته رجوع كول پكار دي۔

۳۴ – اجتهاد په شريعت کښې ديته نهٔ وائي چه فرع په اصل باندې قياس کړې شي : بلکه د الله د حکم پيژندلو او په واقع باندې ددې د تطبيقولو لپاره ډېر زيات کوشش کولو ته وائي۔ او دا تجزي قبلوي، کله به يو سړې په يوه مسئله کښې مجتهد وي او په بله کښې به مجتهد نهٔ وي۔

[انظر للتفصيل أحكام الاجتهاد]

۳۵ – قاعده : په مسلمان باندې د اسلامي اعمالو كيفيت او څرنګوالې پيژندل لازم دي، د هغې احكام – لكه وجوب، ندب او استحباب – معلومول ضروري نهٔ دي۔ مثلًا : د مانځه په باره کښې دا معلومات ضروري دې چه په احاديثو کښې د مانځه طريقه څنګه بيان شوې ؟ او په عوامو او خواصو مسلمانانو باندې دا پيژندل واجب نهٔ دي چه په دې کښې فرض څو دي او واجب او مستحب څو دي۔ په دې باندې مونږ په [الحق الصريح] کښې دلائل ذکر کړي، هلته ئې وګورئ۔

امام ذهبيؒ د عمر بن الرماحؒ نه نقل کړي دا فرمائي : يو سړي امام مالكؒ ته وويل : په مانځه کښې فرائض څو دي او نوافل څو دي ؟ هغهٔ وفرمايل : دا د زنديقانو خبرې دي چه هغوئ راويستلې دي۔

[سير أعلام النبلاء : ۸/ ۱۲۴]

او يو سړي د ابن عمر – رضي الله عنهما – نه پوښتنه وكړه : آيا وتر واجب دي ؟ وې فرمايل :

[أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَالْمُسْلِمُوْنَ]

(رسول الله ﷺ او مسلمانانو وتر کړي دي)

هغه سړي بيا دغه پوښتنه وكړه، نو ابن عمر – رضي الله عنهما – بيا همدغه جواب وركړو۔

[موطأ امام مالك، مشكاة : ۱/ ۱۱۲، وانظر الإنصاف للشاه ولي الله الدهلوي، ص : ۳]

۳۶ – علماؤ ته په دین او دنیا دواړو کښې خلك محتاج دی، نو د دوئ سپکاوے کول او فضائل ئے بیکاره کول جائز نهٔ دی، بلکه دوئ سره محبت او دوستی کول واجب دی هر کله چه دوئ د اهل السنت والجماعة علماء وی۔

او یو دی د یو عالِم تقلید کول، او بل د هغهٔ د علم د رڼړا نه فائده اخستل۔ په دے دواړو کښے ښکاره فرق دے۔ ځکه تقلید بے دلیله د چا خبره منلو ته وائی، او د هغهٔ د علم نه رڼړا اغستل دادی چه د هغهٔ د علم په ذریعه سره خپل ځان حق ته ورسوی۔

په تقلید کښے مقصد دغه عالِم مجتهد وی، نهٔ حق۔

او د هغهٔ د علم د رڼړا په ذریعه ځان حق ته رسولو کښے مقصد حق وی نهٔ دغه عالم۔

دا فرق ذکیان پیژنی، نهٔ غبیان خلك۔

۳۷ – قاعده: کله چه د یو شئ په باره کښے دا شك شی چه آیا دا بدعت دے او که مستحب؟ نو ددے شئ پریښودل لازم دی۔

په مسائلو کښے ددے ګڼړ مثالونه دی: (۱) لکه د رکوع نه پس لاسونو تړلو کښے دا تردد دے چه دا به مستحب وی – د بعضِ عمومی دلائلو په وجه – او که دا به بدعت وی، ځکه ددے ظاهرًا ثبوت نهٔ دے راغلے، دے وجے نه ددے پریښودل پکار دی۔

(۲) د تراویحو په آخره کښے د ختم القرآن دعاء په مانځه کښے دننه کول، چه دا د وترو آخر ته نقل کول پکار دی۔

۳۸ – قاعده: په باب د عباداتو کښے په عموماتو باندے استدلال کولو نه بدعات راپیدا کیږی:

لکه یو سړے د هیئتِ اجتماعی دعاء لپاره په دے آیتِ کریمه باندے استدلال کوی:

﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَإِلٰى رَبِّكَ فَارْغَبْ ﴾ [شرح:۷، ۸] (کله چه وزګار شے نو ځان ستړے کړه او خپل رب ته رغبت کوه)۔

یا یو سړے په هر رکعت کښے د [أَعُوْذُ بِاللّٰهِ] ویلو لپاره په دے آیتِ کریمه استدلال کوی:

﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ﴾ [نحل:۹۸] (کله چه تهٔ قرآن لولے نو أَعُوْذُ بِاللّٰهِ وایه)۔

یا لکه څوك د رکوع نه پس د لاسونو تړلو لپاره په هغه عامو حدیثونو استدلال کوی چه په هغے کښے قیام راغلے۔

یا لکه څوك د تقلید ثابتولو لپاره په دے آیت استدلال کوی: ﴿ فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ ﴾ [انبیاء:۷] (که چرے تاسو ته علم نهٔ وی نو د اهلِ کتابو (یهودو او نصاریٰ) نه تپوس وکړئ)۔

بلکه ددے تولو لپاره خاص دلائل پکار دی چه هغه نشته۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[انظر: الدين الخالص]

۳۹ – دامې سرې فقهي مذهب نشي كيدے بلكه ددهٔ مذهب ددهٔ د مفتي مذهب دے، ځكه مذهب خو د هغه چا لپاره وى چه هغه د نظر او استدلال صلاحيت لرى، او امى سړے په دے قدرت نهٔ لرى۔ [كما فى رد المحتار : ۱/ ۲۹]

۴۰ – قاعده : كم نه كمه درجه د عبادت استحباب ده، او په عباداتو كښې مباح نهٔ وى، ځكه مباح ديته وائى چه په هغے كښې نهٔ ثواب وى نهٔ عذاب، حالانكه په عبادت كښې اجر او ثواب ضرور وى۔ الله تعالىٰ فرمائى :

﴿ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴾ [كهف: ۳۰] (مونږ د داسے ښه كار كونكو اجر نهٔ ضائع كوو)

۴۱ – د رشتينے راوى روايت قبلول واجب دى، نهٔ د هغهٔ رائے۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ددے وجه ښائى : د راوى اتباع ځكه واجب ده چه ددهٔ د هغه شئ خبر وركړے چه د هغے علم صرف يواځے دهٔ سره دے، په خلاف د رائے نه ځكه ممكنه ده چه دا د هغه ځائے نه معلومه شى د كوم ځائے نه چه هغهٔ معلومه كړے ده۔ بله دا چه د روايت غلطى لرے ده ځكه ددے معامله آسانه ده، دا وجه ده چه دا د ښځو او عوامو خلكو نه هم نقل كيږى۔ په خلاف د رائے نه چونكه د رائے طرق باريك او ډير وى نو ددے غلطى ډيره ده۔

[مجموع الفتاوى : ۲۰/ ۱۷]

۴۲ – علم ديته نهٔ وائى چه انسان ته په مسئله كښې د علماؤ ډير اختلافونه معلوم وى، علم هغه شے دے چه دليل راجح كړے وى۔ دا وجه ده، تهٔ به زمونږ د زمانے دكتوران، مخرجين او معلقين وينے چه دوئ به په خپلو كتابونو كښې د علماؤ اختلافات ذكر كوى او په دليل سره به يو قول ته ترجيح نهٔ وركوى۔ حالانكه دا علم او تحقيق نهٔ دے۔

دارنګ په تفسير كښې هم كله يو مفسر ګڼ اقوال ذكر كوى او د هغے نه يو قول ته په دليل سره ترجيح نهٔ وركوى۔ نو طالب او آوريدونكے حيران پاتے شى او ددهٔ لاس ته د خلكو د اقوالو نه سيوا بل هيڅ علم رانشى۔

۴۳ – د قرآن او سنت نه سيوا بل خاص مذهب ته منسوب كيدل – لكه حنفيت، مالكيت، شافعيت، حنبليت – او د يو خاص مذهب پيروى كول، دا دواړه د رسول الله ﷺ او د صحابه كرامو او د تابعينو په زمانه كښې نهٔ وو۔ دا كار د ځلورمے صدئ نه پس شروع شو۔ نو دا يو ((بدعت)) دے چه په خلكو كښې رابښكاره شوے۔

[انظر : حجة الله البالغة : ۱/ ۱۵۰ ، لولى الله الدهلويؒ]

زۀ وایم: خصوصًا زمونږ په دې زمانه کښې د بعضِ خلکو مذهبي تعصب دې حده پورې رسیدلې چه د نبوي احادیثو نه انکار کوي او د هغې سره بغض لري او په هغې کښې تحریف کوي. (والعیاذ بالله).

٤٤ – قاعده: د سرې لپاره د الله په نیز مؤمن کیدل صرف په څلورو شیانو سره راځي:

(۱) په ټولو دیني او دنیوي کارونو او اصولو او فروعو کښې رسول الله ﷺ حاکم جوړول.

(۲) د هغۀ د اوامرو نه په هیڅ یو امر باندې سینه نۀ تنګیدل. که چرې سینه ئې تنګه شوه نو دۀ د ایمان رسۍ د خپل زړۀ او څټ نه وښکله.

(۳) په دې فیصله باندې راضي او منقاد وسیدل.

(٤) هر وخت او په هره زمانه کښې په دې راضي وسیدل.

(٥) د رسول الله ﷺ امر خوښ ګڼړل او په دې خوشحالیدل.

الله رب العزت په خپل مقدس کښې کتاب په خپل ځان باندې قسم کړې چه هغه څوك مومن نۀ دې چه دغسې نۀ وي. او دا یو داسې مقام دې چه څوك د الله نه او د ایمان د سلب کیدو نه یریږي د هغوئ غوږ نې زیګوي. الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ [نساء:٦٥] (پس ستا په رب مې دې قسم وي چه دا خلق مؤمنان نشي کیدې ترڅو چه دوي تا لره په خپلو اختلافي کارونو کښې خپل فیصله کونکې ونۀ مني بیا ستا د فیصلې په باره کښې په خپلو زړونو کښې هیڅ تکلیف محسوس نکړي، او په پوره طریقې سره هغه تسلیم کړي)

او دا آیتِ کریمه مؤمن ډیر زیات یروي.

٤٥ – په زړۀ کښې دوه محبتونه نۀ راجمع کیږي: (۱) د رسول الله ﷺ محبت (۲) د هغوئ نه سیوا د نورو انسانانو محبت، مګر یو محبت به هغه بل محبت دیکه کوي.

نو څوك چه د رسول الله ﷺ سره په رشتیا محبت لري نو د هغۀ په زړۀ کښې به د یو مجتهد، مرشد او استاذ سره داسې محبت نۀ وي چه د هغۀ هره خبره مني او د هر کار پیروي ئې کوي. او څوك چه د دوئ سره دغسې مینه کوي او بیا د رسول الله ﷺ د مینې هم دعوئ لري نو دا دروغژن او الله، مومنانو او خپل ځان له دهوکه ورکوونکې (ګنړګپ) دې.

دا څنګه کیدې شي چه ستا په زړۀ کښې د رسول الله ﷺ محبت وي او بیا هم تۀ د هغۀ د حدیثونو او مبارکو اقوالو نه جواب کوې! دې لپاره چه د هغه چا د خبرې لپاره پرتوګ جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com

کړې چه د هغهٔ خبره د سره حجت او دليل نهٔ دے، او الله په تا باندے د هغهٔ اتباع او تقليد واجب کړے نهٔ دے !!

او زهٔ د هغه صوفيانو نه تعجب کوم چه هغوئ د رسول الله ﷺ د محبت دعوے لري او کله چه د هغهٔ يو داسے حديث ورته راشي چه هغه د دوئ د (جوړ کړي) مذهب خلاف ... هغے تاويل، تحريف او رد شروع کړي او هيڅ باك نهٔ لري !!

٤٦ – دين درے شيانو سره خرابيږي : (۱) غُلوّ (۲) د باطل محبت (۳) ناپوهي۔

په يو حسن حديث کښے راغلي :

[يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُوْلُهُ ، يَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِيْنَ وَتَأْوِيْلَ الْجَاهِلِيْنَ] [مشكاة]

٤٧ – قاعده : د گمراه او کږو خلکو يوه نښه دا ده چه دوئ د متشابهاتو پسے لگيدلي وي او واضح محکمات پريدي۔ او ددے علامه داده چه دوئ په نصوصو کښے تعارض راوباسي۔ په خلاف د راسخينو او په دين کښے د مضبوطو خلکو، چه دوئ متشابهات محکماتو ته واپس کوي، نو بيا د دوئ په نيز په نصوصو کښے هيڅ کله تعارض نهٔ راځي۔ ولله الحمد۔ ددے مثالونه زمونږ په تفسير ((حکمة القرآن)) دريم جلد د سورتِ آل عمران په اول کښے ذکر شوي۔

٤٨ – مفتي صرف هغه څوك دے چه مجتهد وي او د دليل تابعداري به کوي۔ او هر چه مقلد مفتي دے نو دا خو د بل چا قول نقل کوي، دے وجے نه په مقلدينو کښے ((مفتي)) نشي کيدے۔ دا خو صرف اهل الحديث والسنت دي چه دوئ خلکو ته د دليل موافق فتوے ورکوي اوکوم شے چه راجح وي هغه بيانوي، نو په اصل کښے همدوئ مفتيان او مجتهدين دي۔ او دا څهٔ دعوئ نهٔ ده بلکه واقعي خبره ده۔

هو ! عوامو لپاره په غير د دليل نه د الله په دين کښے فتوے ورکول جائز نهٔ دي۔

٤٩ – قاعده : په يو فقهي مذهب کښے ټول اسلام نشته، لکه مذهب حنفي مثلًا۔ ځکه ټول حديثونه ددے مذهب امام ته نهٔ دي رسيدلي۔ بله دا چه اجتهاد کښے خطائي هم راځي۔ بله دا که چرے اسلام ټول په يو مذهب کښے راگير شي نو بيا خو به هغه نور – مالکي، شافعي، حنبلي – مذهبونه باطل وي !

دے وجے نه څوك چه د يو فقهي مذهب تقليد کوي نو هغه د الله تعالیٰ ددے قول خلاف کوي : ﴿ ادْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَآفَّةً ﴾ [بقره:۲۰۸] (تاسو په ټول اسلام کښے ننوځئ)۔

٥٠ – عجيبه قاعده : څوك چه د مذهب په حدودو کښے په صحيح حديث عمل کوي او د

دغه مذهب نه متاثره وی: نو دا په حدیث او سنت باندې عمل کول نهٔ حسابیږی، بلکه دا خو په مذهب باندې عمل دے۔

دا وجه ده، احنافو ته ((اهلِ حدیث)) نهٔ ویل کیږی اګرکه څینې رخت دوئ په حدیث عمل هم و ـری۔ او بل طرفته اهلِ حق چه کله په حدیث عمل کوی او صرف د نبی اکرم ﷺ نه متاثره وی نودوئ واقعی ((اهل الحدیث)) دی۔

او دے خبرے ته نبی کریم ﷺ په دے ارشاد کښے هم اشاره کړے:

[لَا تُحْدِثُوْا حِلْفًا فِی الْإِسْلَامِ] (په اسلام کښے – په اسلامی اعمالو – باندے چاسره عقدونه مهٔ ایجادوئ)۔ [رواه الترمذی]

او ددے تفصیل ډیر عجیبه او اوږد دے، ښهٔ غور او فکر وکړه!

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۴۷ ـ ژوره او مومنانو لپاره ډیره نفع ورکونکې فائده

یعنې هغه پلونه پیژندل چه په هغې باندې انسان ودرولې شي او د عملونو حساب ورسره کیدلې شي. مونږ دا سره د دلیل نه ذکر کوو، او هغه څوك هم ذکر کوو چه په دې پلونو باندې ورتیریږي:

نو یاد لره: د **قیامت** په ورځ ډیر پلونه دي:

اولنې پُل: هغه پُل دې چه په دې باندې به د انسان سره د مانځه حساب کیږي، که چرې هغه روغ راوخاتهٔ نو دې کامیاب او کامران شو، ګنې تاوانې او برباد شو.

لکه په صحیح حدیث کښې راغلي:

[أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ مِنْ عَمَلِهِ الصَّلَاةُ ......]

(**اولنې** هغه شے چه د بنده د عملونو نه په کښې د هغهٔ سره حساب کولې شي مونځ دې ...... تر آخره پورې). [رواه الترمذي: ۱، المشكاة: ۱]

دویم پُل: بیابه په دویم ځل بندګان په دې باندې ایسارولې شي او د امانت حساب به ورسره کیږي: که هغه د خالق امانت وي اوکه د مخلوق.

ابو امامه ﷺ فرمائي: په جهنم کښې یو پُل دې چه د هغې اووه برخې دي، د هغې په مینځ کښې به فیصلې وي، نو یو بنده به راوستې شي تردې چه مینځنۍ برخې ته راورسي نو دهٔ ته به ویلې کیږي: تا باندې پردې څومره حق دې؟ او دا آیت ئې ولوستهٔ: ﴿وَلَا يَكْتُمُونَ اللهَ حَدِيثًا﴾ [نساء:۴۲] (او دوئ به د الله نه هیڅ خبره پټه نهٔ کړي). نو بنده به وائي: اے ربه! په ما دومره دومره پردې حق دې، نو هغهٔ ته به وویل شي: خپل قرض دې پوره کړه! هغه به وائي: ما سره خو هیڅ شے نشته او زهٔ نهٔ پو هیږم چه په څهٔ ئې پوره کړم؟ نو وبه ویلې شي: دهٔ د نیکیو نه نیکۍ راواخلئ، نو دغسې به دهٔ د نیکیو نه راخلي تردې چه دهٔ ته به یوه نیکۍ هم پاتې نشي نو کله چه ورسره نیکۍ ختمې شي، نو عرض به وشي: دهٔ نیکۍ ختمې شوې، نو وبه ویلې شي: دهٔ پورې چه کوم حقونو والا نښتي دي د هغوئ ګناهونه راواخلئ او په دهٔ باندې ئې ورسورې کړئ. ابو امامه ﷺ وائي: ماته را راسیدلې ده چه څهٔ سړي به د غتو غتو غرونو هومره نیکۍ راوړي، خو هغه به هغه چاته ورکولې شي چه څوك دهٔ پورې نښتي وي، تردې چه یوه نیکي به هم دهٔ سره پاتې نشي.

[رواه الطبراني في المعجم الكبير : ۷٤۹۳، وهو في المجمع : ۱۰/ ۳٥٤، مسند الشاميين : ۱٥۹۷، ورجاله رجال الصحيح غير كلثوم وبكر بن سهل، و قد وثقا، وللحديث شواهد]

او ددې تائيد د صحيح مسلم هغه حديث هم كوي چه هغه د بريده - رضي الله عنه - نه نقل دې، چه رسول الله ﷺ وفرمايل : [حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ، وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِيْنَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ أَهْلِهِ فَيَخُوْنُهُمْ إِلَّا وَقَفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ فَمَا ظَنُّكُمْ ؟]

(د مجاهدينو د ښځو احترام په ناستو كسانو باندې داسې دې لكه د دوئ د ميندو د احترام پشان، او څوك چه د مجاهدينو د كورونو د حفاظت لپاره د هغوئ نه پس پاتې وي او د هغوئ د ښځو سره خيانت وكړي، نو دغه مجاهد سړې به دغه خيانتګر ته د قيامت په ورځ ودرېږي او د هغهٔ د عملونو نه ئې چه څهٔ خوښه وي اخلي، نو ستاسو څهٔ خيال دې ؟ (چه څومره به ترې اخلي ؟)۔

[صحيح مسلم، مشكاة : ۲/ ۳۲۹]

دريم پُل : بيا په دريم پُل به دوئ ودرولې شي او د صله رحمئ حساب به ورسره كيږي : او صله رحمي به وائي : [اَللّٰهُمَّ مَنْ وَصَلَنِيْ فَصِلْهُ، وَمَنْ قَطَعَنِيْ فَاقْطَعْهُ، فَيَنْجُوْ مَنْ نَجَا وَيَهْلِكُ مَنْ هَلَكَ]

(اې الله ! چا چه زهٔ پاللې يم نو تهٔ هغه وپاله او چا چه زهٔ پريكړې يم تهٔ هغه پريكړه۔ نو خلاصي والا به خلاصې ومومي او تباه كيدونكې به تباه شي)۔

[رواه أبو نعيم في الحلية : ٥/ ۱۳۱]

د شفاعت په حديث كښې - چه حذيفه ﷺ نقل كړې - راغلي :

[وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُوْمَانِ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِيْنًا وَشِمَالًا]

(امانت او خپلولي به راپريښودې شي او دواړه به د پُلِ صراط ښي او ګس اړخ ته ودرېږي)۔

[صحيح مسلم، مشكاة : ۱/ ٤۸۹]

څلورم پُل : بيا به دوئ ودرولې شي او د مور پلار سره د ښيګړې حساب به اخستلې شي۔

[ذكره ابن الجوزي في بستان الواعظين، ص : ٥۰]

پنځم پُل : په دې باندې به د ژبې د حفاظت حساب كولې شي چه د غيبت، چغلئ او دروغژنې ګواهئ نه ئې ساتلې اوكه نه ؟ نو چا چه د ژبې حفاظت كړې هغه به خلاصې ومومي او هغه څوك به تباه شي چه په بې فائدو خبرو باندې ئې خپله ژبه راپريښې وي۔

د ژبې د حفاظت ډير زيات دلائل دي۔

شپږم پُل : په دې باندې به د ګاونډي د خيال ساتلو او د ميلمه د اكرام حساب كولې شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اووم پُل : پـه دے بـانـدے بـه د رشتیاؤ حساب کولے شی : نو چا چه خپله ژبه د دروغو نه ساتلے وی هغه به خلاص شی، گنے نه۔

اتم پُل : په دے باندے به د بندگانو خپلو کښے یو د بل نه قصاص او بدله اخلی :

ابو سعید خدری ﷺ فـرمـائـی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی : (مو منان به د اور نه خلاص شی نـو د جـنـت او جهـنـم تـرمینځه په یو پل به ودرولے شی او په دنیا کښے چه د دوئ ترمینځه د دوئ کـوم وهل شوی حقونه وو، د هغے لپاره به د یو بل نه بدله واغستے شی تردے چه دوئ بنهٔ پاك او صـفـا شـی نو دوئ ته به جنت ته د ننوتو اجازت ورکړے شی۔ نو قسَم دے په هغه الله باندے چه د مـحـمـد (ﷺ) ساه د هغهٔ په لاس کښے ده ! په دوئ کښے به یو تن ته په جنت کښے خپل د وسیدو ځائے په دنیا کښے د خپل ځی نه هم زیات ښهٔ معلوم وی)۔

[صحیح بخاری، مشکاة : ۲/ ٤۹۳]

د ابو سعید خدری ﷺ په یو بل حدیث کښے هم ددے پُل یادوونه شوے، په هغے کښے هغهٔ د نبی ﷺ دا ارشـاد نـقـل کړے : (او په جهنم کښے د سعدان (آزغن) بوتی پشان آزغی دی چه د هغے لوئی والی اندازه الله نه سیوا بل څوك نشی لگولے، هغه به خلك د اعمالو مطابق تښتوی)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ۲/ ٤۹۱]

او الله تـعـالیٰ فرمائی : ﴿ وَقِفُوهُمْ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ ﴾ [صافات:٢٤] (دوئ ودروئ دوئ نـه پوښتنه کولے شی)۔

او هلته نور مواقف (د ودریدو ځایونه) هم دی، یو په کښے داسے موقف دے چه په هغے کښے به د تـوحـیـد پـوښتنه کولے شی۔ بل داسے موقف دے چه په هغے کښے د اتباع الرسول ﷺ پوښتنه کولے شی۔ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ وَيَـوْمَ يُـنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِ يَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴾ [قصص:٦٢] (او پـه کـومه ورځ چه الله دوئ ته آواز وکړی او تـپوس وکړی چه چرته دی زما هغه شریکان چه تاسو به ددے دعویٰ لراله)

﴿ وَيَـوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴾ [قصص:٦٥] (او پـه کـومه ورځ چه الله دوئ ته آواز وکړی او تپوس وکړی چه تاسو (په دنیا کښ) رسولانو له څهٔ جواب ورکړے وو)

ابـو الـعـالیـهٔ فرمائی : دوه شیان دی چه ددے په باره کښے به د اولینو او آخرینو ټولو نه پوښتنه کولے شی : (۱) تاسو د چا عبادت کولو ؟ (۲) تاسو د رسولانو څهٔ قبولتیا کړے ؟

[صحیح بخاری]

بـل داسے موقف دے : چه په هغے کښے به د پنځو مونځونو په باره کښے پوښتنه کولے شی : ابو

برزه اسلمي ﷺ د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کوي :

[لَا تَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ مِنْ بَيْنِ يَدَيِ اللهِ حَتّٰى يُسْئَلَ عَنْ خَمْسٍ: عَنْ عُمُرِهِ فِيْمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيْمَا أَبْلَاهُ، وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيْمَا أَنْفَقَهُ، وَعَنْ عِلْمِهِ مَاذَا عَمِلَ بِهِ]

(د هيڅ يو بنده قدمونه به د الله د مخې نه تر هغې وخته پورې اخوا نشي ترڅو پورې چه د پنځو خبرو پوښتنه ترې ونشي : (۱) عمر دې په څهٔ کښې ختم کړې ؟ (۲) ځواني دې په څهٔ کښې زړه کړې ؟ (۳) مال دې د کوم ځائې نه گټلې ؟ (٤) او په کوم ځائې کښې دې خرچ کړې ؟ (۵) او په علم دې څومره عمل کړې) ؟

[رواه الترمذي وغيره، بإسناد صحيح]

او کوم خلك چه د خپلو عملونو مطابق په پُلِ صراط ورتيريږي، نو په دوئ کښې به (۱) د ټولو نه اول هغه څوك وي چه هغه به لکه د سترگې د رَپ په اندازه زر تير شي (۲) او د بريښنا پشان به تيريږي (۳) او د سيلئ پشان به تيريږي (٤) او د تيز مارغهٔ پشان به تيريږي (۵) او د کره اسونو او اوښانو پشان به تيريږي (٦) او د منډې پشان به تيريږي (۷) او څوك به په خپوسو روان وي (۸) او څوك به پرمخې په خيته روان وي او وائي به : اې ربه ! تاسو زهٔ ولې روستو کړم ؟ الله به ورته وائي : ما روسته کړې نهٔ ئې بلکه خپل عمل روسته کړې ئې۔

[رواه هناد، کما في البدور السافرة، ص : ۳۳۲]

(۹) او په دوئ کښې به د ټولو نه روسته هغه کس وي چه کله به روان وي او کله به لوټ په لوټ آوړي او اور به ئې سوزوي او کله چه د اوره تير شي نو ورته وبه گوري او وبه وائي : هغه ذات د خير او برکت والا دې چه تانه خو ئې ماله خلاصې راکړو، بيشکه الله ماله يو داسې شې راکړو چه مانه سيوا ئې په اولينو او آخرينو کښې بل هيچا له نهٔ دې ورکړې، نو دهٔ ته به يوه وُنه راپورته شي ...... تر آخر د حديث پورې)۔

[صحيح مسلم، مشکاة : ۲/ ٤۹۱]

پُلِ صراط باندې آسانئ سره تيريدو والا عملونه :

پاتې شو هغه اعمال چه د هغې په وجه انسان په پُلِ صراط باندې آسانئ سره ورتيريږي، نو هغه د الله په توفيق سره آسان دي :

۱ – يو په جوماتونو کښې ناسته کول :

ابو درداء ﷺ وائي : ما د رسول الله ﷺ نه دا فرمان آوريدلې :

[اَلْمَسَاجِدُ بُيُوْتُ الْمُتَّقِيْنَ وَقَدْ ضَمِنَ اللهُ تَعَالٰى لِمَنْ كَانَتِ الْمَسَاجِدُ بُيُوْتُهُمْ بِالرَّوْحِ وَالرَّاحَةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْجَوَازِ عَلَى الصِّرَاطِ إِلَى رِضْوَانِ اللّٰهِ تَعَالىٰ]

(جو ماتونه د متقيانو خلکو کورونه دي او الله تعالىٰ د هغه خلکو لپاره - چه جوماتونه د هغوئ کورونه وي - د رحمت او راحت او د الله تعالىٰ رضامندئ ته په پُلِ صراط باندے د ورتيريدو ضمانت اغستے)۔

[رواه الطبراني والبزار، بإسناد حسن، كما في الصحيحة والبدور السافرة، : ۳۳٦]

۲ - ښهٔ شفارس کول: عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے:

[مَنْ كَانَ وُصْلَتُهُ لِأَخِيهِ الْمُسْلِمِ إِلَى ذِي سُلْطَانٍ فِي مَبْلَغِ بِرٍّ وَتَيْسِيرِ عَسِيرٍ: أَعَانَهُ اللّٰهُ عَلَى إِجَازَةِ الصِّرَاطِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ دَحْضِ الْأَقْدَامِ]

(چا چه يو مسلمان ورور د يوے نيکئ په کار کښے او د يو کار په آسانولو کښے يو بادشاه ته ورساوهٔ، نو الله به د قيامت په ورځ څهٔ وخت چه قدمونه خوئيږی په پل صراط باندے د ورتيريدو په وخت ددهٔ مدد وکړی)۔

[رواه ابن حبان: ۱/ ۳۷۳، وله شاهد من حديث ابن عمر في ابن عساكر والبيهقي: ۸/ ۱٦۷، وإسناده صحيح إن شاء الله]

۳ - عبد الله بن محيريز ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچه د يو کمزوری تن حاجت يو داسے بادشاه ته ورساوهٔ چه هغهٔ په خپله نشوه رسولے نو الله به د قيامت په ورځ ددهٔ قدم مضبوط کړی)۔ [رواه الأصبهاني]

٤ - ابن عمر ﷺ وائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی: ((چا چه په دنيا کښے ښائسته صدقه ورکړه، په پُل صراط به د ناز په حالت کښے ورتيريږی))۔

[أخرجه الأصبهاني وابن أبي الدنيا]

٥ - ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: ((خلکو ته زما سنت ورښايه اگرکه دوئ ئے بد گنړی، اوکه تهٔ غواړے چه د سترگے د رپ په اندازه په پلِ صراط ونه درولے شے ترديے چه جنت ته ننباسل شے نو د الله په دين کښے په خپلے رائے سره څهٔ مهٔ وايه))۔

[قال القرطبي: إسناده غريب ومتنه حسن]

٦ - وهبؒ فرمائی: داود عليه السلام وفرمايل: اے ربه! د صراط په پل به څوك زيات په تيزئ سره تيريږی؟ وے فرمايل: هغه خلك چه زما په فيصله راضی وی او ژبے ئے زما په ذکر لمديے وی۔ [رواه أبو نعيم]

ابو ذر ﷺ وائی: زما خوږ دوست (نبی ﷺ) ماته دا وصيت کړے چه د جهنم د پل مخے ته يوه

خوئے او د راپریوتو لاره ده، او بیشکه مونږ به په هغے باندے ورځو اوکه زمونږ په بوجونو کښے طاقت او صبر وی نو دا لائقه ده چه مونږ خلاص شو په نسبت ددے چه مونږ په هغے باندے په داسے حال کښے ورشو چه مونږ خپله بوجونه یو۔

[رواه احمد بإسناد صحيح : ۵/ ۱۵۹]

۷ – معاذ بن انس ﷺ فرمائی : نبی ﷺ وفرمایل : ((چاچه یو مومن د یو منافق نه وساتهٔ، الله به یو ملائك راولیږی چه د قیامت په ورځ به د جهنم د اور نه ددهٔ غوښه وساتی، او چاچه په یو مومن باندے یو داسے تور ولګاوهٔ چه د هغهٔ د عیب جن کیدلو اراده ئے وه نو الله به ئے د جهنم په پل ایسار کړی تردے چه د خپلے دے خبرے نه ووځی)۔

[ابوداود، احمد : ۳/ ٤٤١ ، ابن المبارك وأبو نعيم : ۸/ ۳۸۸، وهو في المشكاة : ۲، وفي إسناده المعافري قيل : إنه مجهول]

(ددے حدیث په سند کښے معافری مجهول راوی دے)۔

۸ – سهل بن عبد الله تستریؔ فرمائی : چا باندے چه په دنیا کښے صراط نرے شو، په آخرت کښے به پرے پلن شی، او په چا باندے چه په دنیا کښے پلن شو، په آخرت کښے به پرے نرے شی۔

[رواه أبو نعيم ، انظر البدور السافرة ، ص : ۳۳۳۸]

۹ – د چاچه درے ماشومان بچی مړهٔ شوی وی او د هغوئ مرینه ئے د اجر او ثواب ذریعه ګنړلے او صبرئے پرے کړے وی نو دا کس به اور ته نهٔ ځی، مګر د ورتیریدو لپاره۔

لنډه دا چه : ټول هغه آیتونه او حدیثونه چه په هغے کښے راغلی چه دا فلانے عمل د اوره خلاصول کوی، نو دا په پل صراط باندے د ورتیریدو عملونه دی، والحمد لله۔ او دا به په خپل ځائے کښے ذکر کړے شی۔

او هر هغه عمل چه د هغے په کولو باندے د اور د همکی راغلے نو دا په صراط باندے د وډریدو او تباه کیدو سبب دے۔

۱۰ – ابو هریره په یو حدیث کښے د نبی ﷺ دا ارشاد نقل شوے : (په ما باندے درود ویل د پلِ صراط د رڼړا سبب دے)۔ [البدور السافرة ، ص : ۳۲۸]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٨ - فائده

هغه اعمال چه د اور سبب ګرځي، يا په هغې کښې د ايساريدو، يا په هغې کښې د کورونو جوړولو سبب ګرځي (والعياذ بالله)

دا ددې لپاره نقل کوو چه مومن ترې ځان وساتي او چرته د اور والو نه جوړ نشي، او دا په مسلمانانو باندې د الله خاصه مهرباني ده چه دوئ ته ئې د اور نه د خلاصيدو اسباب ښودلي۔ الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَآتٰهُمْ تَقْوٰهُمْ﴾ [محمد:١٧] (او دوئ ته ئې د دوئ ويره ورکړې)۔

د ايمان په خويونو کښې يو لوئې خوئې دا هم دې چه انسان سره د اور نه د بچ کيدو غم پيدا شي۔ الله تعالىٰ فرمائي:

﴿وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ﴾ [آل عمران:١٣١] (او د هغه اُور نه وويريږئ چه د کافرانو لپاره تيار شوې)۔

بعض سلفو ويلي: دا زما په نيز په قرآن کښې د تولو نه زيات د ويرې آيت دے۔[قاسمي]

او الله تعالىٰ فرمائي: ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ﴾ [تحريم:٦]

او فرمائي: ﴿اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ [آل عمران:١٦]

نو دوئ په خپلو دعاګانو کښې د اور نه د خلاصي دعاګانې کوي۔

او الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا﴾ [فرقان:٦٥، ٦٦] (او هغه خلق چه دعاء غواړي چه اے زمونږ ربه! مونږ نه دَ جهنم عذاب واړوه، بيشکه ددې عذاب هميشه لپاره ځان پورې نښتونکے دے يقينًا دا ډير خراب ځائے دے دَ اوسيدو او دَ پاتے کيدو)۔

په ډيرو آيتونو او متواترو حديثونو کښې راغلي چه مومن به د اور نه يريږي او د هغې نه به خلاصے تالاش کوي، او هغه اسبابو نه به ځان ساتي چه هغه اور ته د بوتللو سبب ګرځي، والعياذ بالله۔

اوس مونږ هغه عملونه ذکر کوو چه اور ته د تللو سبب ګرځي:

١ - نو د تولو نه اولنے سبب: هر قِسمه کفر دے:

الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِيْنَ ﴾ [بقره:۲٤]

او فرمائي : ﴿ قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ اَلنَّارُ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴾ [حج:۷۲] (ته ووايه آيا زهٔ تاسو ته ددې آيتونو نه هم زيات د تكليف رسونكى شئ خبر دركړم، هغه دَ جهنم اور دې، چه الله دَ هغې وعده د كافرانو سره كړې، او هغه ډير بد ځائې دَ وسيدو دې)۔

او فرمائي : ﴿ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّعُقْبَى الْكَافِرِيْنَ النَّارُ ﴾ [رعد:۳۵] (دا د متقيانو انجام دې او د كافرانو انجام اور دې)۔

۲ – هر قِسمه شرك : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ إِنَّهُ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴾ [المائدة:۷۲]

۳ – د الله تعالىٰ ملاقات دروغژن گنړل : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ﴾ [فرقان: ۱۱]

او فرمائي : ﴿ وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰكُمُ النَّارُ وَمَالَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴾ [الجاثية : ۳٤]

٤ – رسول الله ﷺ دروغژن گنړل (والعياذ بالله) : الله تعالىٰ فرمائي : ﴿ كُلَّمَآ اُلْقِيَ فِيْهَا فَوْجٌ سَاَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَاْتِكُمْ نَذِيْرٌ قَالُوْا بَلٰى قَدْ جَآءَ نَا نَذِيْرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَانَزَّلَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ كَبِيْرٍ ﴾ [ملك:۸، ۹] (كله چه په دې كښې يوه ډله وغورزولې شي، نو د هغې ساتونكي (ملائك) به دوئ نه تپوس وكړي : آيا ستاسو خواته څوك ويرونكې نهٔ وو راغلې هغوئ به وائي : هو ! زمونږ خواته ويرونكې راغلې وو، خو مونږ هغه دروغژن وگنړلو او ومو ويل چه الله هيڅ شے نهٔ دې نازل كړې، تاسو خامخا په لويه گمراهئ كښې پريوتي يئ)۔

۵ – په رسول الله ﷺ قصدًا دروغ تړل :

انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي : [مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ] (چاچه په ما قصدًا دروغ جوړ كړل نو خپل ځان له دې په اور كښې ځائې تيار كړي)۔

[بخاري، مسلم]

٦ – د هغه شئ دعوىٰ كول كوم چه د انسان حق نهٔ وي :

ابو ذر ﷺ وائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې : [مَنِ ادَّعٰى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ] (څوك چه د يو داسې شئ دعوىٰ وكړي چه هغه ددهٔ نهٔ وي نو ددهٔ مونږ سره هيڅ تعلق نشته او ځانله دې په اور كښې ځائې تيار كړي)۔

[صحيح مسلم : ۱۱۲، مسند أحمد : ۵/ ۱٦٦]

۷ – په چا باندې په ناحقه گواهي وركول :

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي : ((چا چه په يو مسلمان باندې په ناحقه ګواهي ورکړه هغه دې خپل ځانله په اور کښې ځائې تيار کړي)).

[مسند أحمد : ۲/ ۵۰۹]

(په دې حديث کښې خداش بن عياش دې، او په دهٔ کښې معمولي کمزوري شته دې).

۸ – معاويه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې :

[مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ]

(څوك چه دا خوښوي چه سړي دې دهٔ ته نيغ ولاړ وي نو هغه دې خپل ځان له په اور کښې ځائې تيار کړي). [ابوداود، ترمذي، بإسناد صحيح]

۹ – حارث ﷺ وائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې : [مَنِ اقْتَطَعَ مَالَ أَخِيْهِ بِيَمِيْنٍ فَاجِرَةٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ] (څوك چه د دروغژن قسم په ذريعه د خپل ورور مال ووهي نو هغه دې خپل ځانله په اور کښې ځائې تيار کړي).

[مستدرك : ٤/ ۲۹۵ ، صحيح ابن حبان : ۷/ ۳۰٤]

۱۰ – ډير ډير لعنتونه ويل (ښيرې کول) او د خاوند ناشکري کول :

عمر ﷺ فرمائي : نبي ﷺ ارشاد فرمايلې :

[يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ ! تَصَدَّقْنَ فَإِنِّيْ أُرِيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ : وَمَالَنَا أَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ ؟ قَالَ: تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ]

(اې د ښځو ټولګيه ! تاسو ډيرې ډيرې صدقه ورکوئ ځکه ماته ستاسو شماره په اور کښې زياته وښودل شوه. نو يوې ښځې عرض وکړو : ددې څهٔ وجه ده چه په اور کښې زمونږه شماره زياته ده ؟ وې فرمايل: تاسو ښيرې ډيرې کوئ او د خاوند ناشکري کوئ).

[رواه الشيخان عن أبي الخدري أيضا]

۱۱ – د حکيم بن حزام ﷺ په روايت کښې داسې الفاظ دي چه نبي ﷺ وفرمايل : [فَإِنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتُسَوِّفْنَ الْخَيْرَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ]

(ځکه تاسو ډيرې ډيرې ښيرې کوئ، د خير په کارونو کښې نن صبا کوئ – يعني د خير په کارونو کښې د يو بل نه مخکښې والې نهٔ کوئ – او د خاوند ناشکري کوئ).

[الطبراني ، وإسناده صحيح ، کما في البدور السافرة، ص : ٤٤۷]

۱۲ – شکر او صبر نهٔ کول :

عبد الرحمن بن شبل ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي :

[إِنَّ الْفُسَّاقَ أَهْلُ النَّارِ ، قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! وَمَا الْفُسَّاقُ ؟ قَالَ: النِّسَاءُ ، قَالُوْا : أَوَلَسْنَ أُمَّهَاتُنَا وَأَخَوَاتُنَا وَأَزْوَاجُنَا ؟ قَالَ: بَلٰى ، وَلٰكِنَّهُنَّ إِذَا أُعْطِيْنَ لَمْ يَشْكُرْنَ وَإِذَا ابْتُلِيْنَ لَمْ يَصْبِرْنَ]

(فاسقان خلك اور والا دي، چا عرض وكړو: يا رسول الله ! فاسقان څوك دي ؟ وے فرمايل : ښځے. هغوئ ويلے : آيا دا ښځے زمونږ خويندے، ميندے او بيبيانے نۀ دي ؟ وے فرمايل : ولے نۀ خو ليكن كله چه دوئ ته څۀ وركړے شي شكر نۀ كوي اوكه مصيبت ورته ورسي نو صبر نۀ كوي).

[رواه أحمد ، وإسناده صحيح ، وهو في الصحيحة]

۱۳ – په انسان كښے پنځه صفتونه راتلل :

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل :

[أَهْلُ النَّارِ كُلُّ جَعْظَرِيٍّ ، جَوَّاظٍ ، مُسْتَكْبِرٍ ، جَمَّاعٍ ، مَنَّاعٍ . وَأَهْلُ الْجَنَّةِ : الضُّعَفَاءُ الْمَغْلُوْبُوْنَ]

(هر بدخويه، كبرجن، جمع كونكے او منع كوونكے انسان اور والا دے. او كمزوري او مغلوبه خلك جنت والا دي).

[مسند أحمد ، بإسناد صحيح : ۲/ ۱۶۹ ، مستدرك : ۳/ ٤۹۹]

١٤ – حارثة بن وهب ﷺ وائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : [أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ كُلُّ ضَعِيْفٍ مُتَضَعَّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ . أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ ؟ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ]

(آيا زۀ تاسو ته جنت والا ونۀ ښايم ؟ هر كمزورے او كمزورے ګڼړل شوے انسان، كه په الله باندے په څۀ معامله كښے قسم وكړي نو خامخا به ورله قسم پوره كړي. آيا زۀ تاسو ته اور والا ونۀ ښايم ؟ هر سخت، بدخويه، كبرجن سړے).

او د مسلم په روايت كښے دي : [كُلُّ جَوَّاظٍ زَنِيْمٍ مُسْتَكْبِرٍ (هر سخت، بدكارے او كبرجن سړے).

۱۵ – په چا كښے چه د راتلونكو پنځو صفتونو نه يو صفت وي :

عياض بن حمار ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :

[أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ : (۱) ذُوْ سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ (۲) وَرَجُلٌ رَحِيْمٌ رَقِيْقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِيْ قُرْبٰى وَمُسْلِمٍ (۳) وَعَفِيْفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُوْ عِيَالٍ] .

وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ : (۱) الضَّعِيْفُ الَّذِيْ لَا زَبْرَ لَهُ (أَيْ لَا عَقْلَ لَهُ) الَّذِيْ هُمْ فِيْكُمْ تَبَعٌ لَا يَبْغُوْنَ أَهْلًا وَلَا مَالًا (۲) وَالْخَائِنُ الَّذِيْ لَا يَخْفٰى لَهُ طَمَعٌ وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ (۳) وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِيْ إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ] (٤) وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ (۵) وَالشِّنْظِيْرُ الْفَحَّاشُ]

(درے كسه جنت والا دي : (۱) انصاف دار مشرئ والا چه صدقه كونكے وي او د هر خير توفيق ورته ملاوېږي (۲) مهربانه او نرم زړے سړے چه د هر خپلوان او مسلمان سره نرمي كوي. (۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه بال بچ دار سړے چه پاکدامن وی او د پاکدامنئ کوشش کونکے وی.

او پنځه کسه اور والا دی: (۱) هغه کمزوری خلك چه عقل نهٔ لری او هغوئ په تاسو کښے یو بل پسے روان وی، نهٔ اهل غواړی او نهٔ مال. (۲) هغه خیانتګر چه طمع پټه نهٔ ساتی بلکه که معمولے شے هم وی نو خیانت په کښے وی. (۳) هغه سړے چه بیګاه صبا تاله د خپل اهل او مال په باره کښے دهوکه درکوی. (٤) او څلورم شے ئے بخل یا دروغ ذکر کړو. (٥) او بدخویه بدکاره سړے.

[صحیح مسلم، مشکاة: ۲/ ٤۲۲]

سبحان الله! په معاشره کښے دا قِسم خلك څومره ډیر دی؟ والعیاذ بالله!

۱٦ - ژبے سره چاته ضرر ورکول:

ابو هریره ﷺ فرمائی: یو سړی وویل: فلانئ ښځه په ډیرو روژو، مونځونو او صدقے سره مشهوره ده، خو دومره ده چه هغه په خپلے ژبے سره خپلو ګاونډیانو له تکلیف ورکوی؟ نبی ﷺ وفرمایل: دا ښځه به په اور کښے وی. هغه سړی بیا وویل: یا رسول الله! یوه بله ښځه ده چه هغه په لږو (نفلی) روژو، مونځونو او صدقے سره یادولے شی او هغه د پنیرو ټکړے خیرات کوی او په خپلے ژبے سره خپلو ګاونډیانو ته ضرر نهٔ ورکوی؟ وے فرمایل: دا به په جنت کښے وی).

[مسند أحمد، بیهقی، بإسناد صحیح، صحیح الأدب المفرد للألبانی]

۱۷ - د مؤمن په باره کښے هغه خبرے کول چه په هغهٔ کښے نهٔ وی:

ابن عمر ﷺ وائی: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے: د چا سفارش چه د الله په حدونو کښے د یو حد مخے ته خنډ واقع شو، نو بیشکه دے کس الله سره د هغهٔ په معامله کښے مقابله وکړه، او څوك چه په داسے حال کښے مړ شو چه قرض پرے وو، نو دا به په روپئ او اشرفئ سره نهٔ پوره کیږی بلکه نیکیو او ګناهونو سره به پوره کولے شی. او څوك چه په یو باطل شئ کښے جګړه کوی او دهٔ پته وی چه دا باطل دے نو دے به همیشه د الله په ناراضګئ کښے وی تردے چه دا پریدی. او چا چه په یو مومن کښے داسے خبرے وکړے چه هغه په هغهٔ کښے نهٔ وے، نو الله به ئے د اور والو نه په راوتونکے وینه زوه کښے ووسوی، تردے چه د خپلے دے خبرے نه ووځی).

[مسند أحمد: ۲/ ۷۰]

۱۸ - شراب څښل: ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: [مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ تُقْبَلْ صَلَاتُهُ أَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَإِنْ عَادَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِيْنَةِ الْخَبَالِ، قَالُوْا: وَمَا طِيْنَةُ الْخَبَالِ؟ قَالَ: صَدِيْدُ أَهْلِ النَّارِ]

(چا چه شراب وڅښل نو څلویښت شپے به ئے مونځ قبول نشی، او که توبه ئے کړه نو الله به ئے

توبه قبوله کړي. اوکه بیائے وښنل نو په الله باندے دا حقه ده چه په دهٔ به خرابه ختهٔ وڅکوی. خلکو عرض وکړو: خرابه خته څهٔ شے دے؟ ورے فرمایل: د دوزخیانو وینے زوے).

[مسند أحمد: ۲/ ۳۵، ٦/ ۱۷٦، ابن ماجه: ۲/ ، بإسناد صحيح، وأخرجه مسلم عن جابر]

۱۹ – جهاد، علم زده کولو، قرآن لوستلو او مال خرچ کولو کښے اخلاص نهٔ کول:

امام مسلمؒ او امام ترمذیؒ په خپل سند سره حدیث نقل کړے چه: اولنی هغه خلك چه د قیامت په ورځ به پرے فیصله کولے شی، درے کسان دی: شهید، عالم او مال خرچ کونکے چه دے کسانو دا کارونه د ریاء او ځان ښودئ لپاره کړی (والعیاذ بالله) نو دوئ به په خپلو مخونو باندے راښکلے شی تردے چه اورته به واچول شی.

[صحيح مسلم، سنن ترمذی، مسند أحمد: ۲/ ۳۲۲، مستدرك: ۱/ ۱۰۷]

نو عاقل له ډیر لائق دی چه د اخلاص اهتمام وکړی.

۲۰ – امام دارمیؒ مرفوعًا نقل کړی، چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی: [أَجْرَؤُكُمْ عَلَى الْفُتْيَا أَجْرَؤُكُمْ عَلَى النَّارِ] (په تاسو کښے په فتویٰ کښے زړور هغه څوك دے چه په اور باندے زړور وی).

[دارمی: ۱/ ۵۷، وهو مرسل صحيح الإسناد]

۲۱ – ابو درداء ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے:

[مَنْ أَخَذَ فِيْ تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ قَوْسًا قَلَّدَهُ اللّٰهُ مَكَانَهَا قَوْسًا مِنْ نَّارٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]

(چا چه د قرآن په ښودلو کښے چانه یوه لینده واغسته، الله به د هغے په ځائے دهٔ په غاړه کښے د قیامت په ورځ د اور یوه لینده واچوی).

[الطبرانی والبخاری فی تاریخه: ۱/ ٤٤٤، بإسناد صحیح]

او دا هم د اخلاص د نهٔ کیدو نتیجه ده او د قرآن کریم نه د کار کسب جوړولو ذریعه ده. حالانکه الله خو دا د تدبر او عمل لپاره نازل کړے.

۲۲ – نارینه لپاره د سرو زرو استعمالول: چه دا د دوئ لپاره حرام دی، او زنانه لپاره هم هغه وخت حرامیږی چه هغوئ په دے سره فخر او مباهات کوی، چه دا د جهنم د اور سبب ګرځی:

د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے دی، رسول الله ﷺ فرمائی: (څوك چه دا خوښه ګڼری چه خپل محبوب ته د اور یوه کړئ واچوی نو هغه دے ورته د سرو زرو یوه کړئ واچوی، او څوك چه دا خوښه ګنړی چه خپل محبوب ته د اور یو طوق واچوی نو هغه دے ورته د سرو زرو طوق واچوی، او څوك چه دا خوښه ګنړی چه خپل محبوب ته د اور بنګړے واچوی نو هغه دے ورته د سرو زرو بنګړے واچوی، البته تاسو سپین زر استعمالوئ).

Maktaba Tul Ishaat.com

[سنن ابی داود، بإسناد صحیح]

٢٣ – نارینه لپاره ریښم استعمالول:

معاذ ﷺ فرمائي: نبي ﷺ یوه داسې چوغه ولیده چه هغې ته د ریښمو غاړه اچول شوې وه، وې فرمایل: ددهٔ لپاره به دا د قیامت په ورځ د اور طوق وي).

[البزار والطبرانی فی الأوسط، بإسناد جید، والبخاری فی تاریخه: ١/ ٤٥٦]

٢٤ – او نبي ﷺ فرمائي: [مَا أَسْفَلَ مِنَ الإِزَارِ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَفِي النَّارِ]

(د لنګ کومه برخه چه د پړکو نه ښکته وي، هغه به په اور کښې وي).

[صحیح بخاری وغیره]

بل حدیث کښې دي: [مَنْ وَطِئَهُ - أَيِ الإِزَارَ - خُيَلاءَ وَطِئَهُ فِي النَّارِ]

(چا چه د کبر د وجې خپل لنګ راښکلو هغه به په اور کښې راکاږي).

[مسند أحمد: ٣/ ٤٣٧، أبو یعلیٰ: ٣/ ١١١، بإسناد صحیح]

٢٥ – د هغه چا خبرو ته غوږ کیښودل چه هغوئ ئې بدې ګڼړي، او تصویر جوړول:

ابن عباس – رضی الله عنهما – فرمائي: (څوك چه یو داسې خوب بیان کړي چه هغه ئې نهٔ وي لیدلې نو د قیامت په ورځ به دې په دې مجبور کړے شي چه دوه وریښو له غوټه ورکړي حالانکه دا کار نشي کولے. او څوك چه د یو داسې قوم خبرو ته غوږ کیدي چه هغوئ ته غوږ کیښودل بدې ګڼړي نو ددهٔ په غوږ کښې به د قیامت په ورځ قلعي واړولے شي، او څوك چه په دنیا کښې یو فتو جوړ کړي نو د قیامت په ورځ به په دې مجبور کړے شي چه په هغې کښې ساه واچوي حالانکه ساه په کښې نشي اچولے).

[بخاری، مسلم، وروی مرفوعًا أیضا]

٢٦ – ابو هریره او عبد الله بن عمرو – رضی الله عنهما – فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائي: [مَنْ كَانَ ذَا لِسَانَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]

(څوك چه په دنیا کښې دوه ژبې وي، د قیامت په ورځ به هغهٔ لپاره د اور دوه ژبې وي).

[البخاری فی الأدب المفرد، أبوداود، الدارمی: ٢/ ٣١، وإسناده حسن]

٢٧ – ابن عمر – رضی الله عنهما – فرمائي: د نبي ﷺ ارشاد دے: (چا چه د یو ساه والا ځناور شکل خراب کړو، او توبه ئې ونهٔ ښکله الله به د قیامت په ورځ ددهٔ شکل خراب کړي).

[مسند أحمد: ٢/ ٩٢]

په دې روایت کښې شریك راوي دے او دا سيئ الحفظ (خراب حافظې والا) دے.

۲۸ – ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي :
[وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ] (د پوندو لپاره د اور د وجې هلاکت دے)۔ [بخاري، مسلم]

۲۹ – واثله ﷺ فرمائي : نبي ﷺ ارشاد فرمايلي : [مَنْ لَمْ يُخَلِّلْ أَصَابِعَهُ بِالْمَاءِ خَلَّلَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى بِالنَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] (چاچه په اوداسهٔ کښې په اوبو سره خپلې ګوتې خلال نهٔ کړے، الله به د قیامت په ورځ دا په اور سره خلال کړي)۔ [الطبراني]

۳۰ – ام سلمه – رضي الله عنها – فرمائي : نبي ﷺ ارشاد فرمايلي :
(څوك چه د سرو او سپينو زرو په لوښو کښې څښل کوي، نو هغه په خپله خيټه کښې د جهنم اور اچوي)۔ [بخاري، مسلم]

۳۱ – ابو هريره ﷺ فرمائي : نبي ﷺ ارشاد فرمايلي: ((څوك چه خپل ځان د غرهٔ نه راوړغروي او ځان ووژني نو دا به د جهنم په اور کښې وي په هغې کښې به ځان رارغړوي، په هغې کښې به هميشه لپاره وي، او چاچه زهر وڅښل او خپل ځان ئې ووژلو نو زهر به ئې په لاس کښې وي او هغه د جهنم په اور کښې څښي او په هغې کښې به هميشه لپاره پاتې وي۔ او چاچه خپل ځان په وسپنه ووژلو نو وسپنه به ئې په لاس کښې وي هغه به خپله خيټه کښې تومبي او د جهنم په اور کښې به هميشه لپاره وي))۔
[البخاري : ۱۰/۲٤۷ فتح، واللفظ له، ومسلم : ۲/۱۱۸ نووي، دارمي : ۳/ ۱۹۲]۔

۳۲ – سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمائي : نبي ﷺ فرمايلي : (څوك چه په مدينې والو باندې خرابه اراده وکړي نو الله به ئې په اور کښې داسې ويلې کړي لکه څنګه چه قلعي ويلې کيږي يا مالګه په اوبو کښې ويلې کيږي)۔
[صحيح مسلم : ٤٦۰]

۳۳ – بريده ﷺ وائي : نبي ﷺ ارشاد فرمائي : (د زناکارو خلکو شرمګاهونه د هغې د بدبوئې په وجه اور والو ته تکليف رسوي)۔ [أخرجه البزار]

۳٤ – ابودرداء ﷺ نه روايت دے، نبي وفرمايل : (کوم سړي چه يو مسلمان سړي ته د يوې داسې خبرې اشاره وکړه چه هغه د هغې نه بيزاره وو نو الله لپاره دا خبره ډيره لائقه ده چه د قيامت په ورځ به دا کس په اور ويلې کوي تردے چه د خپلې خبرې په پوره والي باندې راتګ وکړي)۔
[الطبراني]

۳۵ – ابو هريره ﷺ نه روايت دے، نبي ﷺ وفرمايل : (وير کونکي ښځې به په جهنم کښې ښي او کس طرفته دوه صفونه کړې شي او دوئ به دوزخيانو ته داسې غاپي څنګه چه سپي غاپي)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[الطبراني]

٣٦ – عبد الله بن عمرو ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل :
[اَلْجَلاوِزَةُ وَالشُّرْطُ وَأَعْوَانُ الظَّلَمَةِ ، كِلَابُ النَّارِ]

(پولس، اسپايان او د ظالمانو مددگاران به د جهنم سپي وي)

[حلية الأولياء : ٤/ ٢١ ، الخطيب في تاريخه : ١٠/ ٢٩٨ ، ضعيف: ضعيف الجامع الصغير: ٢٦٥١ ، فيه مجاهيل . دا حديث ضعيف دے]

٣٧ – او نبي ﷺ فرمائي : (دوه قِسمه اور والا دي چه مانۀ دي ليدلي: يو قِسم هغه خلك دي چه د هغوئ په لاسونو كښے به ډنډے وي لكه د غواګانو د لكيو پشان، خلك به پرے وهي۔ او بل قِسم هغه ښځے دي چه په ظاهره كښے به ئے جامے اغوستي وي خو په حقيقت كښے به برېنډے وي، دوئ به خپله هم سړو ته مائله وي او سړي به هم ځانته مائله كوي، سرونه به ئے لكه د بختي اوښانو غونډته يو طرفته كاږۀ وي، دوئ به جنت ته لاړے نشي او نۀ به د هغے خوشبوئے وومومي، حالانكه د هغے خوشبوئے د دومره دومره (لرے ځائے) نه محسوسيږي)۔

[صحيح مسلم]

٣٨ – ابن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : [إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ] (د قيامت په ورځ به د ټولو نه سخت عذاب د فتوانو جوړونكو خلكو وي)۔

[بخاري ، مسلم]

سبحان الله ! د فتوانو مصيبت څومره عام دے ! څومره ډير خلك ئے روا ګنړي !

٣٩ – ابن عباس – رضي الله عنهما – فرمائي : [إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ شَتَمَ الْأَنْبِيَاءَ ثُمَّ أَصْحَابِيْ ثُمَّ الْمُسْلِمِيْنَ]

(د قيامت په ورځ د ټولو نه سخت عذاب والا به هغه څوك وي چه پيغمبرانو – عليهم السلام – ته كنځل كوي، بيا هغه څوك چه زما صحابو ته او بيا هغه څوك چه عامو مسلمانانو ته كنځل كوي)۔

[حلية الأولياء ، كما في البدور السافرة، ص: ٤٥٧ ، ولفظه موقوف وهو مرفوع]

٤٠ – ابن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :
[إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ (وَإِمَامٌ) جَائِرٌ ، وَهٰؤُلَاءِ الْمُصَوِّرُوْنَ]

(د قيامت په ورځ د ټولو نه سخت عذاب والا هغه څوك دے چه نبي ووژني يا نبي دۀ لره ووژني ، دارنګ ظالم بادشاه او فتوان جوړونكي خلك)۔

[الطبراني ، حلية الأولياء]

۴۱ – خالد بن ولید ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې :
[أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَشَدُّهُمْ عَذَابًا لِلنَّاسِ فِي الدُّنْيَا]

(د قیامت په ورځ د ټولو نه سخت عذاب د هغه چا دې چه په دنیا کښې خلکو ته سخت عذاب ورکوي)۔ [مسند أحمد : ۴/ ۹۰ ، البخاري في تاريخه : ۱/ ۱۴۳]

۴۲ – عدي بن حاتم ﷛ نه روایت دې، رسول الله ﷺ وفرمایل : (د قیامت په ورځ به د څهٔ خلکو په باره کښې حکم وشي چه دوئ جنت ته روان کړئ، کله چه دوئ هغې ته نزدې شي او هغې ته وګوري او د هغې خوشبوئې محسوس کړي، نو آواز به وکړې شي چه دوئ راوګرځوئ او د دوئ هیڅ برخه نشته نو دوئ به داسې آفسوس سره واپس شي لکه څنګه چه اولنی ددې پشان آفسوس سره واپس شوي وو، نو دوئ به وائي : اې ربه ! که چرې تا ددې نه مخکښې مونږ اور ته ننباسلې وې او مونږ ته دې هغه شے نهٔ وې راښودلې کوم چه دې راوښودهٔ نو دا به زمونږ لپاره ډیره آسانه وې۔ الله به وفرمائي : دا خو ما غوښتل چه تاسو سره وکړې شي، تاسو به چه کله یواځې شوئ نو ماسره به مو د غټو غټو ګناهونو په ذریعه مقابله کوله، او کله به چه د خلکو سره یوځائے شوئ نو عاجزي به مو کوله، ستاسو په زړونو کښې چه کومې غټې خبرې وې د هغې په خلاف باندې تاسو خلکو ته خپل ځانونه ښکاره کړي وو، تاسو د خلکو نه یریدئ او مانه نهٔ یریدئ، تاسو د خلکو تعظیم کولو او زما تعظیم مو نهٔ کولو، تاسو به د خلکو د غمه ډیر څهٔ پرېښودل او زما لپاره به مو نهٔ پرېښودل، نو نن ورځ زهٔ په تاسو باندې خپل دردناك عذاب څکوومه، او د ثواب نه ستاسو محرومه کول ددې نه سیوا دي۔

[الطبراني ، حلية الأولياء ، كما في البدور ، ص : ۴۵۸]

په دې مناسبت سره اوس مونږ هغه اعمال ذکر کوو چه د هغې کونکے جنت ته د ننوتو نه بندوي۔ **(الله پورې پناه)۔**

*** هغه عملونه چه جنت نه بندول کوي :**

یاد لره : جنت ته صرف پاکیزه خلك ننوځي، دا د متقیانو کور دې، نو څوك چه په دې راتلونکو صفتونو سره متصف شي نو دا طیب او پاکیزه نهٔ دې بلکه په دهٔ کښې پلیتي او خباثت دې او دا د جنت سره منافات لري، نو ددې خاوند به یا همیشه لپاره د جنت نه محروم وي، او یا څو پورې چه د الله خوښه وي هغې پورې به محروم وي، مګر که هغه په رشتینې توبې، ګرمو اوښکو او رژونکو نیکیو سره ووینځي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۱ – نو یو په هغې کښې کبر دے : چه دا د جنت په لار کښې خنډ دے : نبي ﷺ فرمائي :
[لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ ، قَالَ رَجُلٌ : الرَّجُلُ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا ؟ قَالَ: إِنَّ اللّٰهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ ، الْكِبْرُ: بَطَرُ الْحَقِ وَغَمْطُ النَّاسِ]
(هغه څوک به جنت ته لاړنشي چه د هغهٔ په زړهٔ کښې د ذرے برابر کبر وي، يو سړي عرض وکړو: يو تن دا خوښ ګڼړي چه جامه ئے ښائسته وي، پيزارئے ډولي وي (نو آيا دا هم په کبر کښے راځي؟) وے فرمايل: (دا خو ښکلا ده) بيشکه الله ښکلے ذات دے، ښکلا خوښوي. کبر خو حق له ديکے ورکولو او د خلکو سپك ګنړلو ته وائي). [مسلم]
او کبر د ټولو بيماريو جرړه ده، او ددے باوجود په خلکو کښے څومره زيات دے !
۲ – صله رحمي پريکول :
جبير بن مطعم ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ] (صله رحمي پريکونکے به جنت ته نهٔ ځي).
[صحيح مسلم : ۱۷٦٥ ، مختصر ، مسند أحمد ، ابوداود]
۳ – حارثه بن وهب ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل :
[لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ وَلَا الْجَعْظَرِيُّ]
(سخت او بدخويه انسان به جنت ته نهٔ ځي). [ابوداود ، مشكاة : ۵۰۸۰]
٤ – رسول الله ﷺ فرمائي : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ] (چغل خور به جنت ته نهٔ ځي).
[مسند أحمد ، صحيح مسلم]
۵ – عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي : [لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَلَا عَاقٌّ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ]
(احسان زباتونکے، د مور پلار نافرمان او هميشه شراب څښونکے به جنت ته نهٔ ځي).
[سنن النسائي ، بإسناد صحيح]
٦ – ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: [لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ]
(هغه څوك به جنت ته لاړ نشي چه ګاونډی ددهٔ د مصيبت نه په امن نهٔ وي). [مسلم]
۷ – ابو درداء ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ خَمْرٍ] (هميشه شراب څښونکے به جنت ته نهٔ ځي). [بيهقي]
دا ټول صحيح حديثونه دي، او دا ټول په [صحيح الجامع ، من : ۷٦٦۹] کښے ذکر دي.
۸ – په صحيح حديث کښے دي : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ]
(جنت ته به صرف مسلمان نفس ځي). [مسند أحمد ، بإسناد صحيح]

۹ – ابو درداء ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌّ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا مُكَذِّبٌ بِالْقَدَرِ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ]

(د مور پلار نافرمان، زباتونکے، د تقدير منکر او هميشه شراب څښونکے به جنت ته نۀ ځي).

[احمد، طبراني، وإسناده حسن]

۱۱ – ابو سعيد خدري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَلَدُ زِنًا وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ، وَلَا عَاقٌّ وَلَا مَنَّانٌ] وَفِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ: [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَرْبَعَةٌ: مُدْمِنُ خَمْرٍ، وَلَا عَاقٌّ لِوَالِدَيْهِ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا وَلَدُ زَنْيَةٍ]

(حرامي، هميشه شراب څښونکے، د مور پلار نافرمانه او زباتوونکے انسان به جنت ته نۀ ځي). او د احمدؒ په روايت کښے دا الفاظ دي: (څلور کسه به جنت ته داخل نشي: هميشه شراب څښونکے، د مور پلار نافرمانه، احسان زباتوونکے او حرامي).

[عبد الرزاق، ابن جرير، الخرائطي، أحمد وإسناده حسن]

۱۲ – ابو درداء ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ كَاهِنٌ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ، وَلَا مُكَذِّبٌ بِقَدَرٍ وَلَا عَاقٌّ لِوَالِدَيْهِ]

(تروټي، هميشه شراب څښونکے، تقدير نه انکار کونکے او مور پلار نافرماني کونکے به جنت ته نۀ ځي). [الطبراني، وإسناده حسن]

۱۳ – علي ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ ارشاد دے : (تاسو ځان د مور پلار نافرمانئ نه وساتئ ځکه د جنت خوشبوئے د زرو کالو نه وړاندے محسوسيږي او ددے خوشبوئے به د مور پلار نافرمان، خپلولي پريکونکے، زناکار بوډا او د کبر د وجے خپل لنګ د ګيټو نه ښکته کونکے انسان نۀ محسوسوي، کبر خو صرف د الله حق دے).

[كذا في كنز العمال : ۱٦/ ۷۷]

۱٤ – ابو موسیٰ اشعري ﷺ د رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوي :

[لَنْ تُؤْمِنُوْا حَتّٰى تَرَاحَمُوْا قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ! كُلُّنَا رَحِيْمٌ، قَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ بِرَحْمَةِ أَحَدِكُمْ صَاحِبَهُ وَلٰكِنَّهَا رَحْمَةُ النَّاسِ رَحْمَةٌ عَامَّةٌ]

(تاسو هغه وخته پورے مومنان کيدے نشئ ترڅو چه خپلو کښے په يو بل رحم ونۀ کړئ، خلکو عرض وکړو: يا رسول الله! په مونږ کښے هريو تن رحم کونکے دے. وے فرمايل: ددے نه مراد دا نۀ دے چه په تاسو کښے يو تن په خپل ملګري رحم وکړي بلکه ددے نه مراد عام طور سره په هر چا باندے رحم کول دي).

Maktaba Tul Ishaat.com

[الطبراني ، وهو حديث صحيح]

بل روايت کښې دي : (جنت ته به صرف رحم کونکے انسان ځي، خلکو وويل : مونږ ټول رحم کونکي يو، وې فرمايل : نه۔ ترڅو چه تاسو په ټولو خلکو رحم وکړئ)۔

[كنز العمال : ۳/ ۱٦۷ ، رقم : ۵۹۸۹]

او نبي ﷺ فرمائي : [مَنْ لَّا يَرْحَمْ لَا يُرْحَمْ] (څوك چه په بل رحم نهٔ کوي په هغهٔ به هم رحم ونه کړې شي)۔

او فرمائي : [اِرْحَمُوْا مَنْ فِى الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِى السَّمَاءِ]

(تاسو په زمکے والو رحم وکړئ، آسمان والا به په تاسو رحم وکړئ)۔

۱۵ – صهيب ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي :

[لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ قَالَ بِالْمَالِ هٰكَذَا وَهٰكَذَا يَمْنَةً وَيَسْرَةً]

(جنت ته به (مالدار سړے) لاړ نشي مگر چا چه خپل مال داسے او داسے ښي او گس اړخ ته خرچ کړو)۔ [حلية الأولياء ، الخطيب ، كذا فى الكنز : ۱٦۱۷۸]

۱٦ – ابو بکر صديق ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے :

[إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ الْجَنَّةَ جَسَدًا غُذِىَ بِحَرَامٍ]

(بيشکه الله عز وجل هغه بدن په جنت حرام کړے چه هغه په حرامو لوئے شوے وي)۔

[رواه عبد بن حميد ، الكنز : ۹۲٦۱]

حذيفه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي : (داسے يوه غوښه چه په حرامو زرغونه شوے وي، جنت ته نشي تللے)۔

عقبه بن عامر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائي : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ وَدَمٌ نَبَتَا مِنْ نَجَسٍ]

(هغه غوښه او وينه به جنت ته لاړه نشي چه د پليتئ نه زرغونه شوے وي)۔

[البيهقى ، كما فى الكنز : ۹۲۷۳]

په دے مضمون گڼر حديثونه راغلي۔

۱۷ – په يو حديث کښې دي : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ الْجَعْظَرِىُّ وَالْعُتُلُّ الزَّنِيْمُ]

(جنت ته به سخت خويه بد مزاجه، سرکشه او بدکارے انسان لاړ نشي)۔

[مسند أحمد]

او په همدے کښے د جواظ او جعظري داسے تفسير شوے : دا هغه کس دے چه سخت خويه، روغ رمټ، ډير زيات خېټور، په خېټه موړ، په خلکو ظلم زياتے کونکے او فراخه خېټے والا۔

[كذا فى الكنز : ٤٣٧٤٤، ١٦/ ١٧]

۱۸ - ابن عمر - رضی الله عنهما - د نبی ﷺ دا ارشاد نقل کوی : (جنت ته به د مور پلار نافرمانه، احسان زباتونکے، همیشه شراب څښونکے، د هجرت نه کولو نه پس مرتد کیدونکے بانډه چی، د زِنا، نه پیدا شوے ماشوم او هغه څوك لاړ نشی چه خپلے محرمے سره زنا وکړی)۔

[ابن جریر ، الخطیب]

۱۹ - په حدیث کښے دی : (جنت ته به دهوکه باز، کنجوس، رذیل، زباتوونکے، خائن او بدخویه انسان لاړ نشی)۔

[رواه الخطیب فی البخلاء وابن عساکر ، الکنز : ٤٤٠٣٧]

۲۰ - په یو حدیث کښے دی : [لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ دَيُّوْثٌ]

(دووث سړے به جنت ته لاړ نشی)۔

[الطبرانی عن عمار مرفوعًا ، الکنز : ٤٣٧٤٩]

۲۱ - د رسول الله ﷺ د آزاد کړی غلام نافعؓ نه روایت دے چه : (جنت ته به زناکار بوډا، کبرجن مسکین او هغه څوك لاړ نشی چه په خپل عمل سره په الله زباتنه کوی)۔

[الکنز : ٤٣٩٠٦]

۲۲ - انس بن مالك ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : (د هیڅ یو بنده ایمان تر هغه وخته پورے برابریدے نشی تر څو چه د هغهٔ زړهٔ سم شوے نهٔ وی۔ او تر هغه وخته پورے ئے زړهٔ نه سمیږی تر څو چه ژبه ئے سمه شوے نهٔ وی۔ او جنت ته به هغه سړے نه ځی چه ګاونډے د هغهٔ د تکلیفونو نه په امن نهٔ دے)۔

(احمد : ۳/ ۱۹۸، ابن ابی الدنیا فی الصمت ص : ۳۸، بیهقی، باسناد صحیح]

۲۳ - ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائی : (چا چه یو داسے علم زده کړو چه په هغے سره د الله مخ تالاش کیږی (یعنی دینی علم)، او صرف ددے لپاره ئے زده کوی چه د دنیا څهٔ سامان پرے حاصل کړی، نو د قیامت په ورځ به د جنت خوشبوئے ونهٔ مومی)۔

[ابوداود ، احمد ، ابن ماجه ، بإسناد صحیح ، مشکاة : ۱/ ۳۵]

۲٤ - محمد بن جحش ﷺ وائی : موږ د جومات مخے ته ناست وو چرته چه جنازے کیښودل کیږی او رسول الله ﷺ په موږ کښے ناست وو، نو رسول الله ﷺ خپل نظر آسمان طرفته پورته کړهٔ او وے کتل بیائے خپل نظر ښکته کړهٔ او خپل لاس ئے په تندی کیښودهٔ او وے فرمایل : سبحان الله ! څومره سختی نازله شوه، موږ پوره ورځ او شپه خاموشه وو نو تر صبا پورے مو د

Maktaba Tul Ishaat.com

خیر نه سیوا بل څۀ ونه لیدل، محمدؒ وائي : ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه : هغه سختي کومه ده چه نازله شوه ؟ وې فرمايل : د قرض (پردی حق) په باره کښې ـ په هغه ذات مې دې قسم وی چه د محمد (ﷺ) ساه د هغۀ په لاس کښې ده ! که چرې يو سړې د الله په لاره کښې ووژل شي اوبيا را ژوندې شي او بيا د الله په لار کښې ووژل شي او بيا راژوندې شي او بيا د الله په لار کښې ووژل شي او بيا راژوندې شي او په دۀ باندې قرض (يا پردې حق) وی نو دا به جنت ته لاړ نشي ترڅو پورې چه خپل قرض ئې خلاص کړې نۀ وی)ـ

[رواه أحمد بإسناد صحيح ، وهو فی شرح السنة والمشكاة : ۱/ ۲۵٤]

۲۵ - ابو سعيد خدری ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي :

[إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى حَرَّمَ الْجَنَّةَ عَلٰى كُلِّ مُرَاءٍ] (بيشكه الله په هر رياکار باندې جنت حرام کړې)ـ

.[حلية الأولياء ، ديلمی ، كنز : ۳/ ٤٧۳]

۲٦ - ابو سعيد خدری ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي :

[لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خَمْسَةٌ : مُدْمِنُ خَمْرٍ وَقَاطِعُ رَحِمٍ وَمُدْمِنُ سِحْرٍ وَمَنَّانٍ وَكَاهِنٍ]

(جنت ته به پنځه قِسمه کسه نۀ ځي : هميشه شراب څښونکې، خپلولي پريکونکې، هميشه جادو کونکې، زباتوونکې او ترويتي)ـ

[رواه القاضی إسماعيل ، كما فی الفتح : ۱۰/ ۳٦۰ ، وابن حجر فی المطالب العالية : ۲۹۰٤]

۲۷ - په يو حديث کښې راغلي : [صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِيْ لَايَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ : اَلْقَدَرِيَّةُ وَالْمُرْجِئَةُ]

(زما د امت دوه ډلې دی چه جنت ته به نۀ ځي : قدريه او مرجئه)ـ

[رواه ابن حجر فی المطالب : ۲۹۵۸ ، وفيه انقطاع]

۲۸ - په حديث کښې دی : (جنت ته به صرف پاکيزه انسان ځي)ـ

[ذكره ابن الجوزی فی العلل : ۲/ ۲۲٤]

* * * * *

٤٩ - یادوونکی فائده

چاچه شپږ شیان هیر کړل، شپږ غټې سزاګانې به ورکړے شي :

١ - چاچه الله هیر کړو دهٔ ته به دا سزا ورکړے شي چه خپل ځان به ترے هیر شي، چه ددے د اصلاح توفیق به ورته نهٔ ملاویږي او نهٔ به دا خبره ددهٔ په خوا خاطر کښے راځي تردے چه مرګ به ورته راشي او بیا به ورته پته ولږي. الله تعالیٰ فرمائي :

﴿ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾ [حشر:١٩] (او تاسو د هغه خلقو پشان مهٔ جوړیږئ چه هغوئ الله هیر کړو، نو الله د هغوئ نه خپل ځانونه هیر کړل(دوئ ئے د خپلو ځانونو د طرفه غافل کړل) همدا خلق فاسقان دي).

نو د بنده خپل ځان هیرول یو لوئے عذاب دے ځکه عمر تیریږي او دهٔ به خپل ځان نهٔ وي جوړ کړے او نهٔ به ئے هغه آباد کړے وي. او په معاشره کښے دا قِسم خلك څو مره زیات دي!

٢ - څوك چه خپل ګناهونه هیر کړي هغهٔ ته به دا سزا ملاؤ شي چه زړهٔ به ئے سخت شي او د زړهٔ پوهه به نهٔ لري، دارنګه د الله په کتاب کښے به د فهم او پوهے نه محروم شي.

الله تعالیٰ فرمائي : ﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ﴾ [کهف:٥٧] (او د هغه چانه بل څوك لوئے ظالم کیدے شي چه هغهٔ ته د خپل رب په آیتونو سره نصیحت وکړے شي نو دے د هغے نه مخ اړوي او خپل مخکښے لیږلي ګناهونه هیروي. بیشکه مونږ د دوئ په زړونو پردے اچولي دي دے لپاره چه دوئ قرآن باندے پوهه نهٔ شي او د دوئ په غوږونو کښ مونږ بوج اچولے دے).

نو دے آیتِ کریمه کښے ئے د اعراض کولو او ګناهونو هیرولو پسے د زړونو پردے او د الله په کتاب باندے ددے ناپوهي ذکر کړے، ورسره د غوږونو بوجونه ئے هم ذکر کړي.

او د ګناهونو ډیر زیات ضررونه دي چه مونږ ددے (فوائد) په دویم جلد کښے ذکر کړي.

نو کله چه بنده خپل واړهٔ او غټ ګناهونه او جرمونه هیر کړي نو بیا ددے نه توبه هم نهٔ وباسي. نو بیا دهٔ ته د هغے ضرر راځي او دا نهٔ پو هیږي.

بلکه عقبه بن عامر ﷺ د نبي ﷺ نه پوښتنه وکړه چه خلاصے په څهٔ کښے دے؟ نبي ﷺ ورته وفرمایل : [أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلَىٰ خَطِيئَتِكَ]

(خپله ژبه په کنټرول کښے ولره، کور دے تاته فراخه شي او په خپله ګناه ژاړه).

Maktaba Tul Ishaat.com

[سنن أبي داود وغيره، بإسناد صحيح]

نو په ګناهونو ژړا کول نجات او ددې هیرول تباهي ده۔

په حدیث کښې دي: (بنده چه کله اقرار وکړي او بیا توبه کړي نو الله ئې توبه قبلوي)۔

[صحیح بخاري: ۱]

او الله تعالیٰ د کافرانو بدي بیان کړې چه دوئ خپل عملونه هیر کړي۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا أَحْصَاهُ اللهُ وَنَسُوهُ وَاللهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ [المجادلة: ٦] (په کومه ورځ چه الله دا ټول دوباره راپورته کړ بیابه دوئ ته د دوئ د عملونو خبر ورکړي، الله د دوئ عملونه شمارلي وو، او دوئ هیر کړي وو، او الله د هر یو شئ نه خبردار دے)۔

په سلفو صالحینو کښې به ځینې خلکو څلویښتو کالو پورې خپله ګناه یادوله۔ لکه د ابن سیرینؒ نه نقل دي چه دهٔ به خپله ګناه څلویښتو کالو پورې یادوله۔

او د ګناهونو په یادولو کښې ډیرې فائدې دي، یو دا چه ددې نه انسان په تادئ سره توبه وباسي، د الله نه حیاء کوي او شرمیږي، په انسان کښې تواضع او خشوع پیدا کیږي، د ګنهګارانو سره د بغض لرلو باوجود په هغوئ شفقت کوي، زړهٔ ئې نرمیږي او ګرمه اوښکه ئې د سترګو نه بهیږي او داسې نورې فائدې۔

۳ – او څوك چه مرګ هیر کړي نو هغهٔ ته به په درې شیانو سره سزا ورکړې شي:

(۱) د توبې په روسته والی (۲) د ګناهونو نه په محرومتیا (۳) او د عبادت نه د خوند ختمیدو۔

او څوك چه مرګ یادوي نو هغهٔ ته به د درې شیانو توفیق ملاویږي:

(۱) په توبه وښکلو کښې تادي کول (۲) د نیکیو توفیق ملاویدل (۳) د عبادت خوند۔

دا خبره دقاقؒ کړې خو د هغهٔ الفاظ دادي: څوك چه مرګ ډیر یادوي نو په درې شیانو سره به د هغهٔ عزت وکړې شي: (۱) زر توبه وښکل (۲) د زړهٔ قناعت (۳) په عبادت کښې تازګي۔

او څوك چه مرګ هیر کړي نو هغهٔ ته به په درې شیانو سزا ورکړې شي: (۱) د توبې په روستو کولو (۲) په ګذاره باندې نهٔ راضي کیدل (۳) په عبادت کښې ناراستي۔

[کما في التذکرة للقرطبي، ص: ۱۷]

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ﴾ [عمران:۱۸۵] (هر ساه والا مرګ څکونکے دے)۔

او نبي ﷺ فرمائي: [أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ - يَعْنِي الْمَوْتَ -]

(تاسو خوندونه ختمونکے شے – یعني مرګ – ډیر ډیر یادوئ)۔

[ابن ماجه، ترمذي: ۲۳۰۷، احمد: ۲/ ۲۹۳، وإسناده صحیح]

ابن عمر - رضی الله عنهما - فرمائی : یو ځل زۀ د رسول الله ﷺ سره ناست ووم، دے کښې یو انصاری سړے راغے او په نبی ﷺ ئے سلام وکۀ، او عرض ئے وکړو : یا رسول الله ! کوم یو مومن غوره دے ؟ وے فرمایل : [أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا] (د چا اخلاق چه ښۀ وی) هغه ویل: کوم یو مومن ډیر زیات هوښیار دے ؟ وے فرمایل : [أَكْثَرُهُمْ لِلْمَوْتِ ذِكْرًا ، وَأَحْسَنُهُمْ لِمَا بَعْدَهُ اسْتِعْدَادًا ، أُولَئِكَ الْأَكْيَاسُ] (چه په دویٔ کښې مرګ ډیر یادوی، او ددے نه پس ژوند لپاره د هر چانه زیاته تیاری کوی، نو دا خلك هوښیار دی)۔

[ابن ماجه : ٤٢٥٩ ، وحسنه فی المجمع : ١٠/ ٣٠٩ ، وقال : رواه الطبرانی وإسناده حسن ، وحسنه الشیخ الألبانی فی صحیح ابن ماجه والصحیحة : ١٣٨٤]

د طبرانی په روایت کښې دی : [ذَهَبُوْا بِشَرَفِ الدُّنْيَا وَكَرَامَةِ الآخِرَةِ] (دویٔ د دنیا شرافت او د آخرت عزت یوړۀ)۔ [وإسناده حسن ، كما فی المجمع: ١٠/ ٣٠٩]

فضیل بن عیاضؒ فرمائی: مرګ پوره وعظ کونکے، یقین پوره مالداری او عبادت پوره مشغولتیا ده۔

[رواه البیهقی فی الزهد، وروی مرفوعًا باسناد ضعیف ، كما فی المقاصد الحسنة: ٨٠٥ ، ومجمع الزوائد: ١٠/ ٣٠٨]

شداد بن اوس ﷺ فرمائی: رسول الله ارشاد وفرمایهٔ:

[اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ ، وَالْعَاجِزُ مَنِ اتَّبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى اللهِ] (زیرکه هغه څوك دے چه خپل ځان سره حساب وکړی او مرګ نه پس ژوندون لپاره کار وکړی۔ او کمزورے (کم عقل) هغه څوك دے چه خپل ځان ئے د خپل خواهش پسے ولړاوۀ او د الله نه آرزوګانے لری)۔

[ترمذی: ٢٤٥٩ ، واسناده حسن عند الترمذی ، واخرجه احمد: ٤/ ١٢٤ ، وابن ماجه: ٤٢٦٠ ، وفی اسناده ابن ابی مریم ، كمافی الضعیفة: ٥٣١٩]

یزید رقاشیؒ به خپل نفس ته ویل: اے یزیده! مرګ نه پس به څوك ستا له خوا مونځ کوی؟ مرګ نه پس به څوك ستا له طرفه روژه نیسی؟ مرګ نه پس به څوك ستا رب تانه راضی کوی؟ بیا به ئے فرمایل: اے خلقو! آیا تاسو په باقی ژوند کښې په خپلو ځانونو باندے ویر او ژړا نۀ کویٔ؟ د چا تالاش کونکے چه مرګ وی، قبر ئے کور وی، خاورے ئے بستره وی، چینجی ئے ملګری وی او دے سره سره دے د لویٔ ګهبراهټ په انتظار وی نو ددۀ به څۀ حال وی؟ بیا به ئے دومره وژړل چه دے خودیٔ په وجه به راپریواتۀ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

تیمیؒ فرمائي: دوه شیان دي چه مانه ئې د دنیا خوند او مزه ختمه کړې: مرګ یادول، او د الله تعالی مخامخ ودریدل.

سفیان ثوريؒ به چه کله مرګ رایاد کړ نو څو ورځو پورې به ترې هیڅ نۀ کیدل، او کله به چه ترې د یو شي په باره کښې پوښتنه وشوه نو فرمایل به ئې: ماته پته نشته، ماته پته نشته.
[انظر التذکرة، ص: ۱۷]

سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائي: د نبي کریم ﷺ خواته د یو سړي تذکره وشوه او د هغۀ صفت وشو، نو نبي ﷺ وفرمایل: (د هغۀ مرګ رایادول څنګه وو؟ خلکو د هغۀ له طرفه په دې باره کښې څۀ ونۀ ویل. نبي ﷺ وفرمایل: دا خو داسې نۀ دې څنګه ئې چه تاسو وایئ).
[مجمع الزوائد: ۱۰/ ۳۰۸، وقال: رواه الطبراني واسناده حسن، ورواه ابن ابي شيبة والامام احمد في الزهد، كما في شرح الصدور، ص: ۲۰]

لبید رضی الله وائي:

أَلا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلُ ... وَكُلُّ نَعِيمٍ لا مُحَالَةَ زَائِلُ
نَعِيمُكَ فِي الدُّنْيَا غُرُورٌ وَحَسْرَةٌ ... وَعَيْشُكَ فِي الدُّنْيَا مُحَالٌ وَبَاطِلُ

(خبردار! الله نه سیوا هر شې بیکاره دې او هر یو نعمت خامخا ختمیدونکې دې. په دنیا کښې ستا مزې کول دهوکه او آفسوس دې، او په دنیا کښې ستا عیش او عشرت کول بیکاره او نۀ کیدونکې شې دې). [فتح الباری]

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ مَا كُنْتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴾ [ق:۱۹]
(او د مرګ بې هوشئ په رشتیا سره راغلې، دا هغه شې دې چه ددې نه به تۀ تښتیدلې).

الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې د مرګ ډیره ډیره یادوونه کړې. هغه فرمائي:
﴿ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ ﴾ [واقعه:۶۰] (مونږ ستاسو ترمینځ مرګ مقرر کړې).

او فرمائي: ﴿ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ إِلٰى رَبِّكَ يَوْمَئِذِنِ الْمَسَاقُ ﴾ [قیامه: ۳۰] (او یوه پونډۍ به د بلې پونډۍ سره جوخته شي، په دې وخت به ستا رب طرفته چلیدل وي).

او فرمائي: ﴿ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴾ [انعام:۶۱] (زمونږ پیغام وړونکي ملائك ئې وفات کړي او دوئ کمې نۀ کوي).

۴ – او څوك چه د قیامت ورځ هیره کړي، ددۀ سزا به دا وي چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دې هیر کړي. الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ فَالْيَوْمَ نَنْسَاهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ هٰذَا وَمَا كَانُوْا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴾ [اعراف:۵۱]

(نو نن ورځ مونږ دوئ داسے هیروو څنګه چه دوئ زمونږ د خپلے دے ورځے ملاقات هیر کړے وو او هغه څۀ چه دوئ به زمونږ د آیتونو نه انکار کاوۀ)۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾ [سجده:١٤]

(نو تاسو په دے وجه عذاب وڅکئ چه تاسو د خپلے دے ورځے ملاقات هیر کړے وو، بیشکه مونږ تاسو هیروو او تاسو د خپلو کړو په وجه همیشه عذاب وڅکئ)۔

او فرمائی: ﴿ وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰكُمُ النَّارُ وَمَالَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴾ [جاثيه:٣٤، ٣٥]

(او دوئ ته به وئیلے کیږی چه نن به تاسو داسے هیر کړے شئ څنګه چه تاسو د خپلے دے ورځے ملاقات هیر کړے وو، او ستاسو د وسیدو ځائے جهنم دے، او ستاسو به هیڅ مددګار نۀ وی دا سلوك به تاسو سره ځکه کیږی چه تاسو به د الله په آیتونو پورے توقے کولے، او د دنیا ژوند تاسو په دهوکه کښې غورزولی وئ، نو نن به دوئ ددے اور نه نشی وبښکلے، او نۀ به د دوئ عذر قبلیږی)۔

۵ – او چاچه د الله ملاقات هیر کۀ هغۀ ته به د تاوان سزا ورکړے شی:

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ حَتّٰى اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ﴾ الآية [انعام:٣١]

(کومو خلقو چه د الله د ملاقات دروغژن وګڼړلو هغوی یقیناً نقصان پورته کړو، تردے چه کله ناڅاپی د دوئ مخے ته قیامت راشی نو وائی به هائے افسوس دے په هغه کوتاهیانو چه مونږ د قیامت د یقین په باره کښې کړیدی)۔

٦ – او چاچه د الله حساب هیر کۀ هغۀ ته به په ګس لاس کښے د عملنامے ورکولو سزا ورکړے شی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ اِنِّیْ ظَنَنْتُ اَنِّیْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴾ [حاقه:١٩، ٢٠] (کوم کس له چه عملنامه دَ هغۀ په ښی لاس کښې ورکړے شی هغه به (راوړاندے شی او ویه) وائی: راشئ زما عملنامه ولولئ زما یقین وو چه زۀ به خپل حساب سره خامخا مخامخ کیږم)

بیا فرمائی: ﴿ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِیَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِیْ لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴾ [حاقه:٢٥-٢٧] (او دَ چا عملنامه چه دَ هغۀ په ګس لاس کښې ورکړے شی، هغه به وائی: اے کاش! ماته زما عملنامه نۀ راکړے کیدے او ماته نۀ معلومیدلے چه زما حساب څۀ دے)۔

دے وجے نه څومره چه درنه کیدے شی، دا شیان مۀ هیروه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۰ - بې شماره فائدو لره راجمع کوونکې فائده

په دې شرط چه څوك په کښې سوچ وکړي او مناسب استعمال ئې وکړي.

او هغه دا چه: په ټولو شيانو کښې لوئې شې علم دې، او په ټولو علمونو کښې اعلیٰ او افضل شې د الله سبحانه وتعالیٰ معرفت او پيژندل دي چه په کائناتو کښې ددې نه خوږ شې بل نشته.

مالك بن دينارؒ فرمائي: د دنيا مفلسان د دنيا نه ووتل خو په دې کښې ئې خوندور شې ونۀ څکلو. عرض وشو، هغه څۀ شې دې؟ وې فرمايل: د الله عز وجل معرفت.

[ذكره الذهبي في السير]

بلکه د الله معرفت او پيژندګلو د هريو علم جرړه او بنياد دې، او هم ددې نه د الله په توفيق سره علوم، معارف او حکمتونه راوځي.

بيا د الله د معرفت طريقې څلور دي:

(۱) نفس پيژندل (۲) د انسان په نفس کښې چه څۀ دي، د هغې په ضد سره الله پيژندل (۳) الله د الله د کلام نه پيژندل (٤) الله د خپل (الجليل) نوم نه پيژندل.

(۱) هرچه د نفس پيژندل دي: نو ددې معنیٰ داده چه هر هغه کمال چه تۀ ئې د خپل ځان لپاره خوښوې نو په دې ښۀ يقين ولره چه الله تعالیٰ په دې سره ډير زيات لائق او غوره دې.

او کوم کمالات چه انسان د خپل ځان لپاره خوښوي، هغه څلور دي:

(۱) اکرام (۲) عزت کول (۳) محبت کول (٤) ادب او فرمانبرداري کول.

دا کارونه تۀ د خپل ځان لپاره خوښوې چه خلك ئې ستا وکړي، نو په خپله عقيده، عمل او ظاهر او باطن کښې ئې تۀ د الله لپاره هم وکړه، او په دې ښۀ ځان پوهه که چه ستا رب ددې شيانو د هرچانه ډير زيات لائق دې. نو کله چه تۀ دا محسوس کړې نو بيا ان شاء الله تۀ الله رب العزت پيژنې. ددې تفصيل مونږ په روستنۍ فائده کښې ذکر کوو.

(۲) او هر چه الله پيژندل دي په ضد د هغه شيانو سره چه د انسان په نفس کښې دي، نو دا څلور شيان دي:

(۱) فقر (۲) ذلت (۳) فناء (٤) ناپوهي، بې وسي او کمزوري.

نو ستا رب ددې برعکس په څلور صفتونو موصوف دې:

(۱) مالداری (۲) پوره عزت (۳) بقاء او همیش والے (٤) د کامل قدرت سره کامل علم۔
نو کله چه ته دا محسوس کړے او په خپلو صفتونو کښے فکر وکړے، نو یقین وکړه چه ستا رب ددے صفتونو په ضد باندے موصوف دے۔
نو دا د الله د معرفت عجیبه طریقه ده۔
(۳) هر چه د الله د کلام نه د الله پیژندنه ده، نو دا په **څلورو طریقو سره دے**:
(۱) د الله عظیم مخلوقات پیژندل (۲) د هغهٔ علم او حکمت پیژندل (۳) د هغهٔ قدرت او په مخلوقاتو باندے د هغهٔ غلبه او قبضه پیژندل (٤) د هغهٔ انعام او انتقام پیژندل۔
(٤) پاتے شو په (الجمیل) نوم سره هغه پیژندل، نو ددے څلور طریقے دی:
(۱) د ذات جمال پیژندل (۲) د هغهٔ د نومونو جمال پیژندل (۳) د هغهٔ د صفتونو جمال پیژندل (٤) د هغهٔ د افعالو اوکارونو جمال پیژندل۔
نو ستا رب په دے ټولو طریقو سره جمیل او ښائسته ذات دے بلکه ستا د تصور نه هم ډیر زیات ښائسته دے، ولے چه الله باندے پوره علم څوك لرلے شی!
نو دا ټول څلیرشت (۲٤) شیان دی چه دا د الله د کتاب نه اخستے شوی دی، نو دا څومره لوئے اوزور کتاب دے! ته فوائد مطالعه کوے او د خپل رب په کتاب کښے فکر نهٔ کوے! هغه ګوره څکه چه په دے کښے لوئے خیر دے۔
او دا یوه فائده ده چه الله زما په زړهٔ کښے اچولے۔
بیا الله زما په زړهٔ کښے ددے تفصیل په یوه بلے عظیمے فائدے سره اچولے:
او هغه دا چه د الله اکرام او عزت کول په **څلورو طریقو سره دے**:
(۱) د هغهٔ د پاکیزه ذات اکرام (۲) د هغهٔ د نومونو اوصفتونو اکرام (۳) د هغهٔ د کلام او د دین اکرام (٤) د هغهٔ د نبیانو او رسولانو او اولیاؤ – علیهم السلام – اکرام۔
بیا د الله د ذات اکرام په **څلورو طریقو سره دے** :
(۱) په یقین او رشتینے ګنړلو سره ددے اکرام (۲) په عبادت او تعظیم سره ددے اکرام (۳) په ټولو مخلوقاتو باندے د هغهٔ د پورته والی په عقیدے سره د هغهٔ اکرام (٤) په مخلوق کښے د هغهٔ د حلول او اتحاد نه په لرے ګنړلو او د هر عیب نه په پاك ګنړلو سره د هغهٔ اکرام، خاصکر په هغه باندے د بدګمانئ کولو او تهمت لګولو نه د هغهٔ اکرام، لکه حدیث کښے دی : (په الله عز وجل باندے تهمت مهٔ لګوه)۔ (الصحیحة)۔
او الله تعالی فرمائی: [يَظُنُّونَ بِاللهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ] [آل عمران : ١٥٤]

Maktaba Tul Ishaat.com

(په الله باندې د جاهليت والو پشان گمانونه کوی).

او د هغهٔ د نومونو او صفتونو اکرام هم په **څلورو طريقو سره دے**:

(١) په هغې يقين کول (٢) د هغې وِرد او ذکر کول (٣) په ټولو حاجتونو کښې د هغې په ذريعه وسيله نيول (٤) په هغې سره د هغهٔ ثناء صفت او عبادت کول. او په دې کښې دومره خوند دے چه بل هيڅ يو خوند ديته نشي رسيدے خو چاله ئې چه الله ورکړی.

او د هغهٔ د دين او کلام اکرام هم په **څلورو طريقو سره دے**:

(١) په دے ايمان لرل (٢) په دے عمل کول (٢) ددے لوستل او په دے کښې فکر کول (٤) ددے نافذول او ديته فيصلے وړل.

دارنګه (١) په دعوت او نشر او اشاعت سره ددے عزت کول (٢) په دے سره شفا او علاج کول (٣) په دے سره برکت حاصلول (٤) او ددے تعظيم کول او دا نهٔ پريښودل.

او د هغهٔ د رسولانو او نبيانو اکرام هم په **څلورو طريقوسره دے**:

(١) هغوئ رشتينے گنړل (٢) د هغوئ اتباع کول (٣) د هغوئ عزت او مدد کول (٤) او په خپلو خپلو زمانو کښې د هغوئ نصرت کول، خصوصًا زمونږ د نبي محمد ﷺ.

او د څلورو شيانو اکرام هم واجب دے:

(١) د بوډا مسلمان (٢) د هغه قرآن والا عالم او قاری چه په قرآن کښې زياتے نهٔ کوی او نهٔ ترے اعراض کوی (٣) د انصاف دار بادشاه (٤) د مور پلار.

لکه په صحيح حديث کښې راغلی: [إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللّٰهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِيْ فِيْهِ وَلَا الْجَافِيْ عَنْهُ، وَالسُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ]

(معنیٰ ئې هم دغه ده).

[رواه أحمد وغيره، كما في المشكاة: ٢]

او د الله قدر او عزت کول هم په **څلورو طريقو سره دي**:

(١) هغهٔ نه په حياء کولو سره (٢) هغهٔ نه په يريدو او خشيت کولو سره (٣) د هغهٔ دين د نبنو نبنانو په ادب کولو سره (٤) د هغهٔ د نعمتونو په شکر کولو سره.

بيا هغهٔ نه حياء کول په څلورو طريقو سره دي:

(١) سر، او په سر کښې چه څهٔ دی، د هغې حفاظت کول (٢) د خيټې او څهٔ چه ددے خوا او شاته دی، د هغې حفاظت کول (٣) مرگ او زړيدل رايادول (٤) څوك چه د آخرت اراده لری هغه د دنيا ډول ډال پريدی. او څوك چه دا کارونه وکړی، هغهٔ د الله نه رشتينے حياء وکړه.

[كما رواه أحمد، وهو في المشكاة: ١/ ١٤٠]

او د الله محبت په ډيرو طريقوه سره دے، په هغے كښے اهمے طريقے څلور دي:

(۱) د هغهٔ د پاكيزه ذات سره مينه كول (۲) د هغهٔ د اسماء او صفاتو سره مينه كول (۳) د هغهٔ د دين او كلام سره مينه كول (٤) د هغهٔ د ملاقات او د هغهٔ د عزتمن مخ ته كتلو او شوق كولو سره مينه كول۔

او د الله طاعت اوفرمانبرداري هم په **څلورو طريقو سره ده:**

(۱) د هغهٔ د امر طاعت كول (۲) د هغهٔ د منع كړو شيانو نه ځان ساتل (۳) د هغهٔ د رسول (ﷺ) طاعت كول (٤) پټ او ښكاره هرحالت كښے د هغهٔ طاعت كول۔

او د فقر احساس هم په **څلور طريقو سره دے**.

(۱) په دنيا او آخرت او هر حالت كښے هغهٔ طرفته زمونږ د ارواحو فقر (۲) په هره ګهړۍ كښے زمونږ د جسمونو فقر (۳) په دنيا كښے هغهٔ طرفته زمونږ فقر (٤) د مرګ په وخت اومرګ نه پس زمونږ هغهٔ طرفته فقر ....او دا ټول ذاتي فقر دے۔

نو څوك چه د فقر دا قِسمونه محسوس كړي، نو د ايمان خوند به ومومي اوخپل رب به وپيژني۔

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَآءُ إِلَى اللهِ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴾ [فاطر:١٥]

(اے خلقو! تاسو الله ته محتاج يئ او دا صرف الله دے چه بے پرواه او ستائيلے شوے دے)۔

او د ذلت هم څلور مهمے طريقے دي:

(۱) خالق ته د مخلوق ذلت (۲) مالك ته د هغهٔ د مملوك ذلت (۳) كامل غني ذات ته د غوښتونكي ذلت (٤) محبت كړے شوي ته د محبت كونكي ذلت۔

نو ستا رب خالق دے او ته ئے مخلوق ئے، ستا رب مالك دے او ته ئے مملوك ئے، ستا رب غني او غوښتلے شوے دے او ته غوښتونكے محتاج ئے، ته محبت كونكے ئے او ستا رب اعلیٰ محبت كړے شوے دے۔ نو بيا ووايه! چه دا عزتمن رب د څومره قدر او عزت لائق دے چه بنده هغهٔ لپاره خپل ځان ذليله كړي؟

كله چه ته دا خبرے محسوسے كړے نو د عبادت خوند به ومومے او په دے وخت كښے به خپل رب سبحانه وتعالی وپيژنے۔

* **او فناء هم په څلورو طريقو سره ده:**

(۱) هغه مخكنے عدم چه انسان تير كړے دے (۲) د ځوانۍ او قوت فاني كيدل (۳) په مرګ

Maktaba Tul Ishaat.com

سره فاني کيدل (٤) په قبر کښې د بدن او هډوکو فاني کيدل خو دا فاني کيدا نه تر قيامه ...
وی۔

نو کـه تهٔ خپلـه فنـا محسوس کړې او خپل رب ددې برعکس وپيژنې نو بيا تهٔ ان شاء الله د عارفينو نه حساب ئې۔

* **او د عجز او کمزورئ احساس هم په څلورو طريقو سره دے :**

(١) د عقلونو کمزورتيا (٢) د علمونو کمزورتيا (٣) د جسمونو کمزورتيا (٤) د روحونو کمزورتيا۔

واقعي چه مونږ ددې ټولو شيانو په لحاظ سره کمزوري يو۔ ﴿ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴾ [نساء:٢٨] (او انسان کمزورے پيدا شوے) او ستا ربِ قوي او غالبه ذات دے: ﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾ [ذاريات:٥٨] (بيشکه الله روزي رسان دے، زبردست طاقت والا دے)۔

پاتې شوه غِنیٰ، عزتِ کامله، بقاء، دوام او قدرتِ کامله: نو دا د الله ذاتي صفات دي چه د هغهٔ نه هيڅ کله نهٔ جدا کيږي او ددې د جدا کيدو امکان هم نشته۔ نو وګوره چه ستا او د رب ترمينځه څومره لوئے فرق دے! په دې کښې فکر وکړه ددې لاندې به تهٔ څهٔ ناشنا معرفت بيامومې!

* او د الله عظيم مخلوقات پيژندل هم په **څلورو طريقو سره دي** چه ددې نه به تهٔ خپل رب سبحانه وتعالیٰ وپيژنې:

(١) د مخلوقاتو هغه عظمت او لوئي والے چه هغه د خپل خالق په عظمت او لوئي والي باندې دلالت کوي۔ (٢) په مناسبې طريقې سره د هغې جوړول: ﴿ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَيْءٍ مَّوْزُونٍ ﴾ [حجره:١٩]۔ (٣) هر يو شے په خپله اندازه پيدا کول: ﴿ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ ﴾ [رعد:٨] ﴿ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ ﴾ [حجر:٢١] (داسې شے نشته چه مونږ سره به د هغې خزانې نهٔ وي خو مونږه ئې په يوه معلومه اندازه سره نازلوو)۔

(٤) د هر يو شيئ منفعت انسان ته رسول: ﴿ هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ [بقره:٢٩] (الله هغه ذات دے چه ستاسو د فائدې لپاره ئې په زمکه هر څهٔ پيدا کړل)۔ ﴿ وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ﴾ [جاثيه:١٣] (او په زمکه او آسمانونو کښې چه څهٔ شيان دي هغه ټول ئې د خپل طرفه ستاسو لپاره تابع کړي دي)۔

څوك چه په دې څلورو شيانو کښې فکر وکړي نو هغه به دا وپيژني چه ددې شيانو خالق حکيم او عليم دے چه د هر قِسمه حمد او ثناء او د هر قدر او اجلال او د هر قِسمه عبادت، تعظيم او محبت لائق او مستحق دے۔

* او د الله علم هم په څلورو طریقو سره دے :

(۱) په خپل نفسِ کریمه باندے د هغهٔ علم (۲) د مخلوقاتو د پیدا کولو نه مخکښې په هغې علم لرل۔ (۳) د مخلوقاتو پیدا کولو نه پس په هغې علم لرل۔ (٤) ددے د فاني کیدو، خوریدو اوختمیدو نه پس په هغې علم لرل۔

او د هغهٔ علم ذاتي صفت دے چه د هغهٔ نه هیڅ کله نهٔ جدا کیږی او دا د جمال او کمال صفت دے۔

او ددے په احساس لرلو سره په انسان کښې حیاء، تقوىٰ او ورع پیدا کیږی۔

* او د هغهٔ قدرتِ کامله او په مخلوقاتو باندے گرفت او قبضه هم په څلورو طریقو سره ده:

(۱) یے له ستړی والي او ستومانتیا نه د هغې پیدا کول: ﴿ اِئْتِيَا طَوْعًا اَوْ كَرْهًا ﴾ [فصلت:۱۱] (اے آسمان او زمکے! تاسو دواړه پیدا شئ به خوښه یا بے خوښې)۔

(۲) په لوحِ محفوظ کښې ددے محفو[illegible] د لیکلو قدرت: ﴿ كُلٌّ فِيْ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [هود:٦] (هره خبره په ښکاره کتاب (لوحِ محفوظ) کښې لیکلے شویده) (۳) بیا چه کوم شے الله په لوحِ محفوظ کښې لیکلے نو هغه په خپل مقرر وخت کښې د نافذولو قدرت۔ (٤) بیا ددے مخلوقاتو د مرگ او د اجزاؤ د تس نس کیدو نه پس ددے حشر او راجمع کولو قدرت، لکه الله تعالىٰ فرمائی: ﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴾ [انعام:۳۸] (او هر حیوان چه په زمکه موجود وی او هر مارغه چه په دوه وزرو سره الوزی، هغوی ستاسو په شان امتونه دی، مونږ هیڅ شے په لیکلو کښې راوستو نه پریښے نهٔ دے، بیا به دا خلق خپل رب ته ورجمع کړے شی)۔

او دا یو داسے آیت دے چه ډیر کم خلك ددے حقیقت پیژنی۔ والله المستعان۔

* او د الله د انعام پیژندل هم په څلورو طریقو سره دي:

(۱) د هغهٔ د دیني نعمتونو پیژندنه۔ (۲) د دنیوی نعمتونو پیژندنه۔ (۳) د وهبی او کسبی نعمتونو پیژندنه۔ (٤) د اخروی حقیقی نعمتونو پیژندنه: ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴾ [رحمن:۱-٤] تر آخر د سورته پورے۔ (رحمٰن هغه ذات دے چه قرآن ئے وښودهٔ، انسان ئے پیدا کړو او هغهٔ ته ئے بیان وروښودهٔ)۔

* دغه شان د الله سزاگانے پیژندل هم په څلورو طریقو سره دي:

(۱) دیني سزاگانے: هغه دا چه بنده د گناهونو په وجه د خپل دین او طاعت نه محرومه کړی۔ (۲) د گناهونو په وجه بنده رسوا کړی۔ (۳) په دنیا کښې په گناهونو سزا ورکړی۔ (٤) د مرگ نه پس په آخرت کښې ورله د گناهونو سزا ورکړی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې تولو کښې سخته سزا دینې او رسوائی ده. د الله نه سلامتیا او عافیت غواړ.

* او د الله سبحانه وتعالیٰ د ذات جمال مونږ صرف په څلورو طریقو سره پیژنو:

(١) په دې سره چه دا نور دې، لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَاَشْرَقَتِ الْاَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا ﴾ [زمر:٦٩] (او زمکه به د خپل رب په رنړا سره روښانه شی). او فرمائی: ﴿ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَ ـِ ﴾ [نور:٣٥] (الله د زمکې او آسمانونو رنړا کونکے دے).

او نبی کریم ﷺ فرمائی: [نُوْرٌ اَنّٰی اَرَاهُ] (د الله مخے ته د نور پردے دی زهٔ هغه څنګه لیدلے شم!). او فرمائی: [حِجَابُهُ النُّوْرُ، لَوْ كَشَفَهُ لَاَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهٰی اِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ] (د هغهٔ پرده د نور نه ده، که چرے هغه لرے کړی نو د هغهٔ د ښائسته مخ پلوشے به د هغهٔ په مخلوق کښې هغه توله علاقه وسیزی کومے چه ته د هغهٔ نظر رسیږی). [مسلم]. (یعنی تول مخلوق به وسیزی).

(٢) په عظمت او لویۍ سره: ﴿ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴾ (او هغه ډیر زیات لوئ او اوچت دے).

(٣) د هغهٔ د ذاتی صفاتو په سلامتیا سره، لکه مخ، لاسونه، نفس، قدمونه، ذات، ګوتے، ورغوے او په عرش باندے د هغهٔ استواء او پورته والے او داسے نور صفتونه.

د انسان جمال او ډولی کیدل د اندامونو په روغوالی سره وی. الله د انسانی اندامونو نه منزه دے، او دغه مذکوره صفتونه د الله ذاتی صفتونه دی او دیته صفاتِ جمالیه کاشفه وائی. نو څوک چه ددے نه انکار کوی یا په دے کښې تاویل کوی نو دے د خپل رب جمال پیژندل څهٔ چه ددے تصور هم نشی کولے.

(٤) د هغهٔ د تولو نومونو او صفتونو په سلامتیا سره هغه پیژندل: ﴿ اَلْقُدُّوْسُ السَّلَامُ ﴾ (ډیر زیات پاکیزه او روغتیا والا).

ددے نه پورته زیات مونږ د هغهٔ ذاتِ کریمه نشو پیژندے.

* او د اسماء او صفاتو جمال پیژندل هم په څلورو طریقو سره دي:

(١) ددے د الفاظو حُسن او په ژبه او غوږ باندے ددے ښهٔ لګیدل. (٢) ددے د معنو جمال ولے چه ددے معنے یے له شکه پاکیزه او ډولی دی. (٣) ددے نومونو د خپل مسمی سره د مطابقت او موافقت جمال چه دا یے له غلو او د کوتاهۍ نه دے. (٤) د تول عالَم په دے پورے په ښائسته ترون سره ترل کیدل.

* او د افعالو جمال هم په څلورو طریقو سره دے:

(١) عام طور سره په احسان او ښیګړه باندے ددے مشتمل کیدل. (٢) په عدل او انصاف

باندې مشتمل کيدل- (۳) په ناشنا نظام باندې ددې مشتمل کيدل- (٤) په ښائسته مقاصدو او غرضو باندې ددې مشتمل کيدل-او د عبث او باطل نه ددې منزه کيدل-

* او د الله حکمت مونږ په **څلورو شيانو کې وينو**:

(۱) د هغهٔ په مخلوق کښې- (۲) د هغهٔ په شرع کښې- (۳) د هغهٔ د بندګانو نه د ګناهونو په صادريدو کښې، سره ددې چه هغه د دوئ په منع کولو قادر دې- (٤) د ګنهګارانو نه د عذاب په روستو کولو کښې، سره ددې چه دوئ د عذاب لائق دی- دارنګه ماشومانو او نبيانو اور سولانو - عليهم السلام - له په دردونو کښې په مبتلا کولو کښې، سره ددې چه دوئ معصوم دی-

دا ټول يو سلو شپاړس (۱۱٦) رباعيات شول-

په دې کښې ډير زيات علم او د رب العالمين معرفت پروت دې، ځوك چه په دې کښې فکر وکړي او دا استعمال کړي نو ډير خير به په کښې ومومي- ددې دلائل د الله رب العزت په کتاب کښې موجود دی خو مونږ د هغې په ذکر کولو سره کتاب نهٔ اوږدوو-

زه وايم: که ځوك د مشرق نه تر مغربه پورې ددې فائدې حاصلولو لپاره سفر وکړي نو دا هم کم دې- او توفيق ورکونکې الله دې- او د الله عز وجل نه مونږ تواضع او په غير د فخر او غرور نه قبولتيا غواړو-

* * * * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۱ – مهمه عملي فائده

نن صبا خلك د ژوند د تنګيدو په وجه د مزيدار ژوند او د کاميابۍ او د ترقۍ والا ژوند په باره کښې ډيرې خبرې اترې کوي او دا سوچ کوي چه انسان ته به څنګه دا ژوند حاصل شي؟ په دې باره کښې ګڼرې رسالې هم ليکلې شوي او هر يو تن په خپله رساله کښې وائي چه همدا شافي دواء او پوره کاميابي ده. حالانکه دا د دعوې نه سيوا نور هيڅ هم نهٔ وي. رشتيا خبره داده چه دا صرف د يو کتاب صفت کيدې شي چه هغه د الله تعالیٰ کتاب (قرآن کريم) دې، ځکه همدا کافي شافي دوائي، پوره کاميابي او پټه خزانه ده. د دنيا او آخرت هره ښيګړه او هر قِسمه مزه په دې کښې پرته ده خو چه چاله ددې توفيق هم ورکړې شي.

اوس مونږ دا خبره ذکر کوو چه انسان به د الله د کتاب نه څنګه نفع حاصلوي؟ او ددې نه به څنګه نيك بختيا، مزيدار ژوند او کاميابي حاصلوي؟ نو ددې لپاره به يو څو پرله پسې عملي قدمونه اخستل ضروري وي. او دا ټول شل (۲۰) عملونه او قدمونه دي :

اول قدم : دادې چه تهٔ به د الله کتاب لپاره خپل زړهٔ پرانيزې ولې چه زړهٔ د فهم او ادراك ذريعه ده او دا د قرآن کريم د کيښودو ځائے دې: ﴿ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ عَلٰى قَلْبِكَ ﴾ [شعراء:۱۹۳، ۱۹٤] (جبريل عليه السلام دا قرآن ستا په زړهٔ باندې راوړې). ﴿ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا﴾ [محمد:۲٤] (آيا دوئ په قرآن کښې فکر نهٔ کوي اوکه نه د دوئ په زړونو باندې د زړونو تالي لګيدلې دي).

او زړهٔ پرانستل په دوه شيانو سره کيږي:

(يو) هميشه لپاره په خپلو عامو دعاګانو کښې الله تعالیٰ ته په دې باره کښې زاري او عاجزي کول چه تاته د قرآن کريم مينه درنصيب کړي، او خصوصًا دا راتلونکے عظيمه دعاء غوښتل:

ابن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلې: (کوم بنده ته چه کله څهٔ غم اوخفګان ورسيږي او دا دعاء ووائي:

[اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ اَمَتِكَ نَاصِيَتِىْ بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ اَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ اَوْ اَنْزَلْتَهُ فِىْ كِتَابِكَ اَوْعَلَّمْتَهُ اَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ اَوِاسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِىْ عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ : اَنْ تَجْعَلَ الْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ رَبِيْعَ قَلْبِىْ وَنُوْرَ صَدْرِىْ وَجَلَاءَ حُزْنِىْ وَذَهَابَ هَمِّىْ]

نو الله به خامخا ددهٔ غم لرې کړي او د غم په بدله کښې به ورته خوشحالي ورکړي. صحابه

كرامو - رضي الله عنهم - عرض وكړو: اې د الله رسوله! مونږ له پكار دي چه دا كلمات زده كړو. وې فرمايل: هو! څوك چه دا واوري هغهٔ له دده زده كول پكار دي).
[احمد: ۱/ ۳۹۱، ابن حبان: ۳/ ۲۵۳، وهو في الصحيحة: ۱۹۹، ۱/ ۲۳۶]

نو هره ورځ تهٔ دا دعاء پنځه يا اووه ځله تكراروه. او د قبولتيا د وختونو خيال ساته او كوشش كوه چه ستا دا دعاء په صدق، زارئ، كوشش، شفقت او د قبليدو په سخت حرص باندې وي. او د هغه چا پشان خپل ځان مهٔ جوړوه چه كله هغه د دنيا څهٔ شے غواړي نو بنهٔ كوشش كوي او كه د دين څهٔ شے غواړي نو بيا په بے توجهئ سره ئے غواړي.

دا وجه ده چه ددې مقصد لپاره د سورتونو په شروع كښې بسم الله او اعوذ بالله هم راغلے، ولې چه په دې كښې د الله رب العزت نه د قرآن په تدبر او محبت باندې مدد غوښتل دي.

(دويم) : قرآن كريم سره مينه او په زړهٔ كښې ددې عظمت راتلل:

د قرآن كريم سره مينه په دې حاصليږي چه انسان هغه فضائل ولولي كوم چه په قرآن او سنت او د سلفو صالحينوؒ په اقوالو كښې راغلي.

هر هغه مومن چه هغه كاميابي او حياتِ طيبه غواړي نو هغهٔ له ضروري ده چه ځان لپاره يو برنامج (لائحه عمل او ټائم ټيبل) مقرر كړي چه هره ورځ هغې ته ګوري يا كم نه كم كله چه ددهٔ زړهٔ سست شي، دې لپاره چه ددهٔ په زړهٔ كښې د قرآن مينه وخت په وخت تازه كيږي. او دا لائحه عمل دې د قرآني آيتونو، د نبوي حديثونو او د سلفي آثارو نه جوړ شوې وي كوم چه د قرآن د عظمت، محبت او كمال په باره كښې راغلي.

زهٔ اوس ددې نه يوه پوره برخه د خپل ځان او ټولو هغه خويندو ورونو لپاره چه هغوئ دا كتاب لولي، ږدم دې لپاره چه دوئ ددې په [illegible] د خپل رب كتاب ته رجوع وكړي او په پوره كاميابئ سره كامياب شي.

۱ - الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ﴾ [بقره:۲] (دا كامل كتاب دې چه هيڅ قِسمه شك په دې كښې نشته، د پرهيزګارانو لپاره لار ښوونه ده).

او فرمائي: ﴿ هٰذَا هُدًى وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيمٌ ﴾ [جاثيه:۱۱]
(دا هدايت دې او څوك چه د الله په آيتونو كفر كوي نو د دوئ لپاره د رسوايئ د عذاب نه سخت عذاب دې).

۲ - او الله فرمائي: ﴿ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴾ [حشر:۲۱] (كه چرې مونږ دا قرآن په يو غرهٔ باندې راليږلے

Maktaba Tul Ishaat.com

وي، نو تابه دا (د الله په حضور کښې) ښکته، او دَ هغهٔ دَ ویرې نه تق چاودونکې مونډلې وې، او مونږ دا مثالونه انسانانو لپاره ځکه بیانوو چه دویٔ غور او فکر وکړي)۔
او فرمائي: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾ [انفال:۲]
فکر وکړه! دا څومره اهم کتاب دے ! د الله کتاب سراسر هدایت دے، دا د ایمان، خشوع او خوف زیاتیدو سبب دے۔
٤ – او فرمائي: ﴿ الٓر، كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ ﴾ [ابراهيم:۱]
٥ – او فرمائي: ﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾ [قمر:۱۷] (مونږ د نصیحت لپاره قرآن آسان کړے نو آیا څوك نصیحت اغستونکے شته؟)۔
٦ – او فرمائي: ﴿ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴾ [زمر:۲۳] (الله د ټولو نه ښه کلام نازل کړے، یعني یو کتاب چه دَ هغې آیتونه په معنو کښې د یو بل سره یوشان دي، چه دا بار بار لوستلے کیږي، ددے په آوریدو سره د هغه خلقو غونې زیګ کیږي چه هغوی د خپل رب نه یریږي، بیا د هغوی څرمنې او د هغوی زړونه نرم شي او د الله یاد طرفته مائله شي، دا قرآن د الله هدایت دے، هغه ددے په ذریعه چاله چه غواړي نیغه لاره ښائي، او چاله چه الله ګمراه کړي هغهٔ ته څوك هدایت نشي کولے)۔
٧ – او فرمائي: ﴿ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴾ [صٓ:۲۹]
٨ – او فرمائي: ﴿ وَهَٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴾ [انبياء:۵۰]
٩ – او فرمائي: ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴾ [آل عمران:۱٦٤]
١٠ – او فرمائي: ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ [اسراء:۸۲] (او مونږ په قرآن کښې بعض داسے څیزونه نازلوو چه مؤمنانو ته شفاء ورکونکي او د هغوی لپاره سبب د رحمت وي، او د ظالمانو په تاوان کښې زیاتے کوي)۔
١١ – او فرمائي: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴾ [یونس:۵۷:۵۸] (اے خلقو ! تاسو ته ستاسو د رب د طرف نه نصیحت او د هغه بیماریانو علاج راغلو چه په سینو کښې وي،

او د مؤمنانو لپاره هدايت او رحمت راغلو. تهٔ ووايه چه دوی له د الله په فضل او د هغهٔ په رحمت خوشحالی پکار ده، دا د هغه تولو څيزونو نه غوره دے کوم چه دوی راجمع کوی).

۱۲ – او فرمائی: ﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ اٰمَنُوا هُدًى وَّشِفَآءٌ وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِیْ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّ هُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴾ [فصلت:٤٤]

۱۳ – او فرمائی: ﴿ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴾ [ق:٤٥]

۱٤ – او فرمائی: ﴿ طٰهٰ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰۤى اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴾ [طه:۱-٥] (طٰه، مونږ په تا باندے قرآن ددے لپاره نهٔ دے نازل کړے چه تهٔ په مشقت کښې پريوځے بلکه په دے کښې دَ هغه چا لپاره نصيحت دے چه دَ الله نه يريږی او دا دَ هغه (الله) نازل کړے (قرآن) دے چه هغهٔ زمکه او اوچت آسمانونه پيدا کړی دغه نهايت مهربان ذات په عرش باندے مُستوی دے).

۱٥ – او فرمائی: ﴿ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِیْۤ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴾ [طه:۱۲۳-۱۲٦] (نو کوم شخص چه زما په هدايت پسے روان شو، هغه به په دنيا کښې گمراه نشی، اونهٔ به په آخرت کښې تکليف پورته کوی او څوك چه زما دَ ياد نه مخ اړوی هغه به په دنيا کښې تنگ حالے وی، او دَ قيامت په ورځ به ئے مونږ روند راپاسوو هغه به وائی: زما ربه! تا ولے زهٔ روند راپاسولم، حالانکه په دنيا کښې خو زهٔ ښهٔ ليدونکے ووم الله به ووائی: دغه شان ستا خواته زما آيتونه راغلی وو نو تا هغه هير کړی وو، او دغسے تهٔ نن هيرولے شے).

۱٦ – او فرمائی: ﴿ وَقِيْلَ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا مَاذَآ اَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوْا خَيْرًا لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَلَدَارُ الْاٰخِرَةِ خَيْرٌ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ ﴾ [نحل:۳۰]

۱۷ – او فرمائی: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَیْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ ﴾ [نحل:۸۹] (او مونږ په تا باندے کتاب نازل کړے چه هر شے بيانوی او مسلمانانو لپاره هدايت او رحمت او زيرے دے).

په دے آيتونو کښے فکر وکړه او دا آيتونه په سوچ او تدبر سره ولوله ددے په لوستلو کښے تادی مهٔ کوه، ځکه په تدبر سره ددے په لوستلو سره ستا زړهٔ د قرآن د مينے او عظمت نه ډکيږی ان شاء الله.

او دا بحث اوږد نهٔ دی کنړل پکار، ولے چه دا ډير ضروری بحث دے. که ددے نه محرومه شوے نو د ډير لوئے خير نه به محرومه شے، اوکه ددے خيال دے وساتهٔ نو ډيره لويه بے مثاله خزانه به

Maktaba Tul Ishaat.com

حاصله کړے!

په دے باره کښے به نور آيتونه هم راشي ان شاء الله تعالىٰ۔

د قرآن کريم د **فضائلو** په باره کښے نبوی احاديث هم ډير زيات دی، مونږ د هغے نه يوه خوشبويه برخه دلته ذکر کوو:

* امام بخاریؒ د عثمان ﷺ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: [خَيْرُكُمْ مَّنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ] (په تاسو کښے بهترين کس هغه دے چه خپله قرآن زده کړی او بل ته ئے وښائی)۔

[ابوداود: ۱٤٥٢ ، ابن ماجه وغيره]

حديث نه معلومه شوه چه د قرآن مُعلم او استاذ په دے امت کښے بهترين سړے دے۔

ابو عبد الرحمنؒ (ددے حديث يو راوی) فرمائی: همدا حديث دے چه زۀ ئے ددے تعليم په مجلس باندے کينولے يم۔ (بخاری)۔

ابن مسعود ﷺ وائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے:

(څوك چه د الله د کتاب نه يو حرف ولولی نو ددے په عوض به دۀ ته يوه نيکی ملاوېږی او د يوے نيکئ ثواب يو په لس چنده دے، زۀ دا نۀ وايم چه ګنے آلم يو حرف دے، بلکه الف څانله حرف دے، لام څانله حرف دے او ميم څانله حرف دے)۔

[رواه الترمذی باسناد صحيح]

زيد بن ارقم ﷺ وائی: رسول الله ﷺ فرمايلی:

[أَلَا وَإِنِّي تَارِكٌ فِيكُمْ ثَقَلَيْنِ أَحَدُهُمَا: كِتَابُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَهُوَ حَبْلُ اللهِ مَنِ اتَّبَعَهُ كَانَ عَلَى هُدًى وَمَنْ تَرَكَهُ كَانَ عَلَى ضَلَالَةٍ]

(خبردار! زۀ په تاسو کښے دوه درانۀ شيان پريدم، يو د الله کتاب دے چه دا د الله رسئ ده، څوك دے پسے روان شۀ هغه په سمه لار دے، او چاچه پريښودۀ هغه ګمراه دے)۔

[مسلم: ۲٤۰۸]

عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: [اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ لَهُ أَجْرَانِ]

(د قرآن کريم ماهر به د عزتمنو او نيکانو سفيرانو ملائکو سره ملګرے وی، او کوم کس چه قرآن لولی او په دے کښے ئے ژبه نخلی او په مشقت سره ئے لولی نو ددۀ لپاره دوه ثوابه دی)۔

[بخاری، مسلم]

دا ډير ناشنا حديث دے!

ابو امامه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي: [اِقْرَءُوْا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي شَفِيْعًا لِأَصْحَابِهِ]
(تاسو قرآن لولئ ځکه د قيامت په ورځ به دا په داسې حالت کښې راځي چه د خپل ويونکي سفارش به کوي)۔
[مسلم، احمد، ابن حبان، دارمي، او دا صحيح حديث دے]
عبد الله بن عمرو ﷺ وائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي: [اَلصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يَقُوْلُ الصِّيَامُ: أَيْ رَبِّ! مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ، وَيَقُوْلُ الْقُرْآنُ: رَبِّ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَشَفِّعْنِيْ فِيْهِ، قَالَ: فَيُشَفَّعَانِ]
[احمد: ۲/ ۱۷٤، حاكم: ٦/ ٤٧٠، باسناد صحيح]
(روژے او قرآن دواړه به د قيامت په ورځ بنده له شفاعت کوي، روژے به وائي: اے ربه! د ورځے ما دے د خوراك څښاك او خوندونو نه منع کړے وو نو تهٔ ددهٔ په حقله زما شفاعت قبول کړے، او قرآن به وائي: اے ربه! د شپے ما دے د خوبه بند کړے وو نو تهٔ ددهٔ په باره کښے زما شفاعت قبول کړے، نو د دواړو شفاعت به قبول کړے شي)۔
جابر ﷺ فرمائي: نبي کريم ﷺ ارشاد فرمايلي: [اَلْقُرْآنُ شَافِعٌ مُشَفَّعٌ وَمَاحِلٌ مُصَدَّقٌ، مَنْ جَعَلَهُ أَمَامَهُ قَادَهُ إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَنْ جَعَلَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ سَاقَهُ إِلَى النَّارِ]
(قرآن يو داسے شفاعت کونکے دے چه شفاعت ئے قبولے شي، او يو داسے جګړه مار دے چه رشتينے ګڼړلے شي، څوك چه دا خپلے مخے ته کړي جنت ته به ئے راکاږي، او څوك ئے چه شاته کړي اور ته به ئے راکاږي)۔
[ابن حبان: ۱/ ۳۳۱، عبد الرزاق: ۳/ ۳۷۲، باسناد صحيح]
ابن عباس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي:
[إِنَّ الَّذِيْ لَيْسَ فِيْ جَوْفِهِ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ]
(د چا په سينه کښے چه د قرآن څهٔ برخه نهٔ وي پرته نو دا د وران کور پشان دے)۔
[ترمذي، حاكم: ۱/ ۷٤۱، احمد، دارمي، باسناد صحيح]
عمر فاروق ﷺ فرمائي: خبردار! ستاسو نبي ﷺ فرمايلي دي: [إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ]
(بيشکه الله ددے کتاب په ذريعه ډير خلك وچتوي او ددے په وجه ډير خلك ښکته کوي)۔
[مسلم: ۱/ ۵۵۹، ابن ماجه]
الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا ﴾ [اعراف:۱۷٦] (که زمونږ خوښه وے نو مونږ به دا

Maktaba Tul Ishaat.com

بلعام بن عوراء ددے خپلو آیتونو په ذریعه وچت کړے وے)۔

ابو موسی ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ کَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ..... الحدیث] .

(کوم مؤمن چه قرآن لولی د هغهٔ مثال لکه د سنګترے دے)۔

(دا حدیث مخکښے تیر شو)۔

ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے:

[وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِیْ بَیْتٍ مِنْ بُیُوْتِ اللهِ یَتْلُوْنَ کِتَابَ اللهِ وَیَتَدَارَسُوْنَهُ فِیْمَا بَیْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَیْهِمُ السَّکِیْنَةُ وَغَشِیَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِکَةُ وَذَکَرَهُمُ اللهُ فِیْمَنْ عِنْدَهُ]

[مسلم]

(کوم خلك چه د الله د کورونو نه په یو کور کښے راجمع شی، د الله کتاب لولی او په خپل مینځ کښے ددے مذاکره کوی نو په دوئ باندے سکینه (آرام) نازلیږی، رحمت دوئ لره پټوی، ملائك د دوئ نه ګیر چاپیره راتاویږی او الله دوئ د هغه چا په مجلس کښے یادوی څوك چه د الله سره دی)۔ [مسلم]

په دے حدیث کښے چه کوم نعمتونه ذکر شوی، نو ټوله دنیا ددے د یو نعمت سره هم برابره نهٔ ده۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [مَنْ سَرَّهُ أَنْ یُّحِبَّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَلْیَقْرَأْ فِی الْمُصْحَفِ]

(چالره چه دا خبره خوشحالوی چه الله او د هغهٔ رسول (ﷺ) سره مینه ولری نو دهٔ له پکار دی چه په قرآن کښے دننه تلاوت کوی)۔

[رواه ابن شاهین وحسنه الالبانی فی الصحیحة: ۵/ ۴۵۲]

جابر ﷺ فرمائی: (نبی کریم ﷺ به د اُحد غزا شهیدان په یوه جامه کښے راجمع کول او بیا به ئے فرمایل: [أَیُّهُمْ أَکْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ؟] (په دوئ کښے چاته قرآن زیات زده دے؟) نو په دوئ کښے به چه چاته اشاره وشوه، هغه به ئے په لحد کښے مخکښے کړو)۔

[بخاری وغیره]

ابو شریح الخزاعی ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [إِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ سَبَبٌ طَرَفُهُ بِیَدِ اللهِ وَطَرَفُهُ بِأَیْدِیْکُمْ، فَتَمَسَّکُوْا بِهِ فَإِنَّکُمْ لَنْ تَضِلُّوْا وَلَنْ تَهْلِکُوْا بَعْدَهُ أَبَدًا]

(بیشکه دا قرآن یو رسئ ده چه یو طرف ئے د الله په لاس کښے دے او بل طرف ئے ستاسو په لاسونو کښے دے نو تاسو دا راټینګه کړئ څکه ددے د راټینګولو نه پس به تاسو هیڅ کله نهٔ

ګمراه شئ او نهٔ هلاك)۔

[ذكره في صحيح الجامع: ١، رواه البيهقي: ٢/ ٣٢٧]

او د ابو ذر ﷺ په حدیث کښې مرفوعًا راغلي: [إِنَّكُمْ لَا تَرْجِعُوْنَ إِلَى اللّٰهِ بِشَيْءٍ أَفْضَلَ مِمَّا خَرَجَ مِنْهُ، يَعْنِي الْقُرْآنَ]

(بیشکه تاسو الله ته د هغه شئ نه په بهتر شئ سره رجوع نشئ کولے کوم چه د هغهٔ نه راوتے دے یعني قرآن)۔

[كذا في الصحيحة: ٩٦١، وضعفه في الضعيفة: ١٩٥٧، والراجح أنه حديث حسن لشواهده]

ابو سعید الخدری ﷺ ته یو سړے راغے عرض ئے وکړو: ماته څهٔ وصیت وکړه! ورته ئے وفرمایل: تا مانه د هغه شئ په باره کښې پوښتنه وکړه د کوم په باره کښې چه تا نه مخکښې ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه کړے وه، نو هغوئ فرمایلي وو: زهٔ تاته د الله نه د ویرے وصیت کوم ولے چه دا د هر شئ بنیاد دے، او تهٔ جهاد کوه ځکه چه دا د اسلام رهبانیت دے، او تهٔ د الله ذکر او د قرآن تلاوت کوه ځکه دا ستا لپاره په آسمان کښې روح او په زمکه د یاداشت سبب دے)۔

[الصحيحة: ٥٥٥]

ابو سعید الخدری ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [كِتَابُ اللّٰهِ هُوَ الْحَبْلُ الْمَمْدُوْدُ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ]

(د الله کتاب هغه رسئ ده چه د آسمان نه زمکے ته راؤرږده شوے ده)۔

[الصحيحة: ٢٠٢٤]

په یو حدیث کښې دي: [لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ]

(که چرے قرآن په یوه څرمن کښې واچول شي او بیا اور ته ګذار کړے شي نو دا به ونهٔ سوزي)۔

[الصحيحة: ٣٥٦٢]

د عائشے رضي الله عنها په حدیث کښې دي، نبي کریم ﷺ فرمائي: [مَنْ أَخَذَ السَّبْعَ الْأُوَلَ مِنَ الْقُرْآنِ فَهُوَ حَبْرٌ] (چا چه د قرآن اولني اووهٔ سورتونه زده کړل نو دا ښائسته عالِم دے)۔

[الصحيحة: ٢٣٠٥]

طارق بن الشیم ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [مَنْ عَلَّمَ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ كَانَ لَهُ ثَوَابُهَا مَا تُلِيَتْ]

(چا چه د الله د کتاب یو آیت چاته وښودهٔ نو تر څو پورے چه دا لوستے کیږي، د هغے ثواب به ورته رسي)۔ [الصحيحة: ١٣٣٥]

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلي:

(قرآن به د قيامت په ورځ د يو داسې سړي په شكل راشي چه د هغهٔ رنګ به متغيره وي او خپل ويونكي ته به وائي: آيا ما پيژنې؟ زهٔ هغه څوك يم چه ستا شپه به مې بې خوبه كوله او ستا غرمې به مې تګې كولې، او هر يو تاجر د خپل تجارت نه روستو را روان وي او زهٔ ستا لپاره د هر تاجر نه روستو را روان يم، نو دهٔ ته به په ښي لاس كښې بادشاهي وركړې شي او په ګس لاس كښې هميش والې، او ددهٔ په سر به د وقار تاج كيښودې شي، او ددهٔ مور پلار ته به يوه داسې جوړه واغوستې شي چه دنيا او ما فيها به د هغې مقابله نشي كولې، نو مور پلار به ئې وائي: اې ربه! دا له كومې خوا مونږ ته ملاؤ شوه؟ ورته به ووېلې شي: دا په دې وجه چه تاسو دواړو خپل بچي ته قرآن ښودلې وو. او بيشكه قرآن والا ته به د قيامت په ورځ ويلې كيږي چه: لوله او د جنت په درجاتو كښې ورخيږه او په مزه مزه قرآن لوله لكه څنګه چه تا به په دنيا كښې په مزه مزه قرآن لوستلو، ځكه ستا ځائې د هغه آخري آيت سره دې كوم چه تا سره دې).

[رواه الطبراني في الأوسط، كمافي الصحيحة: ۲۸۲۹]

علماء فرمائي: معلومه شوه چه د قرآن والا نه علاوه د بل هيچا دومره اوچته درجه نشته. او داخبره امام منذريؒ په (الترغيب) كښې مرفوعًا هم ذكر كړې.

ابن عمر ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئې:

[لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ: رَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ هٰذَا الْكِتَابَ فَقَامَ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَرَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يَتَصَدَّقُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ]

(چاته پسخيدل صرف په دوه شيانو كښې پكار دي: يو هغه سړي ته چه الله ورته قرآن ښودلې وي چه د ورځې او شپې په اوقاتو كښې ئې لولي، او بل هغه سړې چه الله ورله مال وركړې وي چه د ورځې او د شپې په وختونو كښې ئې صدقه كوي).

[بيهقي: ۲/ ۳۳۸]

په دې كښې راز دادې چه دې دواړو ډيرې بې شماره نيكئ راجمع كړي. نو ځكه نبي كريم ﷺ دوئ ته د پسخيدو ترغيب وركړې.

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل:

[مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَقَدِ اسْتَدْرَجَ النُّبُوَّةَ بَيْنَ جَنْبَيْهِ غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُوحَى إِلَيْهِ، وَلَا يَنْبَغِي لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ أَنْ يَجِدَ مَعَ مَنْ وَجَدَ، وَلَا يَجْهَلَ مَعَ مَنْ جَهِلَ، وَفِي جَوْفِهِ كَلَامُ اللّٰهِ]

(چا چه قرآن ولوستهٔ نو هغهٔ د خپلو دواړو اړخونو ترمينځه نبوت داخل كړو، صرف دومره ده

چه دهٔ ته وحي نهٔ کیږي، او قرآن والا لپاره مناسب نهٔ دي چه غصه کیدونکی ته دے غصه کوي او ناپوهي کونکي سره دے د ناپوهئ معامله کوي، په داسے حال کښې چه ددهٔ په سینه کښې د الله کلام پروت دے)۔

[البیهقي وصححه الحاکم: ۱/ ۵۵۲، والذهبي]

په حدیث کښې دي: [أَهْلُ الْقُرْآنِ أَهْلُ اللّٰهِ وَخَاصَّتِهِ]

(قرآن والا د الله اهل او د هغهٔ خاص خلك دے)۔

[رواه النسائي باسناد حسن]

فضاله بن عبید رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوي:

[لَلّٰهُ أَشَدُّ أُذُنًا إِلَى قَارِئٍ مِنْ صَاحِبِ الْقَيْنَةِ إِلَى قَيْنَتِهِ]

(سندرغاړے وینځے والا چه خپلے سندر غاړے وینځے ته څومره په خوند سره غوږ ږدي نو الله ددے نه هم زیات په خوند سره قرآن والا ته غوږ ږدي)۔

[صحیح ابن حبان باسناد صحیح]

د الله کتاب ته د ترغیب ورکولو، هغے سره د محبت او تعظیم کولو په باره کښې ډیر زیارت آثار راغلي۔ څینے دادي:

عثمان رضی الله عنه فرمائي: [وَاللّٰهِ لَوْ طَهُرَتْ مِنَّا الْقُلُوْبُ مَا شَبِعْنَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ]

(په الله قسَم دے! که زمونږ زړونه پاك وے نو د الله د کتاب نه به ماړه شوی نهٔ وے)۔

[سیرة عثمان]

خالد بن عبد الکریم په [مفاتح تدبّر القرآن، ص: ۱۲] کښې فرمائي:

چا باندے چه د قرآن لوستلو د خوند دروازه راپرانستے شي نود دنیا هیڅ یو خوند او مزه ددے مقابله نشي کولے، خو زیاتره خلك په دے خبره نهٔ پوهیږي۔

زهٔ وایم: ډیره رشتیا خبره ئے کړے، خو چابیانے د الله په لاس کښې دي، چاته چه غواړي په هغهٔ ئے راپرانیزي۔

۲ - ابو عبیدؒ فرمائي: یو سړے دے د خپل ځان په حقله د بل چانه پوښتنه نهٔ کوي۔ د قرآن نه دے پوښتنه وکړي، که چرے دے قرآن سره مینه لري نو ددے نه معلومیږي چه دا د الله او رسول (ﷺ) سره مینه لري۔

[ابن ابي شیبة: ۱۰/ ٤٨٥]

تهٔ په خپل ځان هم ددے تجربه وکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ - خالد بن عبد الکریم په خپله دغه رساله (ص: ۲۳) کښې وائی:

دا خبره د پیژندو وړ ده: مونږ چه د قرآن سره مینه نهٔ کوو او ددے تعظیم نهٔ کوو، ددے سبب دادے چه مونږ ددے قدر او قیمت نهٔ دے پیژندلے۔ لکه یو ماشوم له تهٔ پنځه سوه روپئ ورکړے نو هغه ګذار کړی او یوه روپئ غواړی۔ (ځکه هغه د پنځو سوو نوټ نهٔ پیژنی او یوه روپئ پیژنی) نو دغه شان څوك چه د قرآن قیمت نهٔ پیژنی نو په دے کښې رغبت کم لری او دا پریدی او په هغه شئ ځان مشغولوی چه هغه ددے نه ډیر زیات کم دے۔

٤ - ابن مسعود ﷺ فرمائی: [مَنْ أَرَادَ الْعِلْمَ فَعَلَيْهِ بِالْقُرْآنِ ، فَإِنَّ فِيهِ خَبَرَ الْأَوَّلِيْنَ وَالآخِرِيْنَ] وَفِيْ لَفْظٍ [عِلْمَ الْأَوَّلِيْنَ وَالآخِرِيْنَ]

(څوك چه علم غواړی نو هغهٔ له د قرآن سره تعلق لرل پکار دی ځکه چه په دے کښې د اولینو او آخرینو خبر او علم پروت دے)۔

[البیهقی فی الشعب: ۲/ ۳۳۲]

۵ - ضحاك بن مزاحمؒ فرمائی: یو سړے چه د قرآن زده کولو نه پس هغه هیروی نو دا د یو ے ګناه په وجه چه دهٔ کړے ده، ځکه الله تعالیٰ فرمائی: [وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ] (کوم مصیبت چه تاسو ته در رسی نو هغه ستاسو د کړو په وجه)۔

او قرآن هیرول په ټولو مصیبتونو کښې لوئے مصیبت دے۔

[المصدر نفسه: ۳۳٤]

٦ - ابن مسعود ﷺ فرمائی: څوك چه دا خوښوی چه دهٔ ته دا معلومه شی چه دے الله او رسول سره مینه لری، نو هغهٔ دے وګوری، که قرآن سره مینه لری نو دے د الله او رسول سره مینه لری۔

اوکه قرآن سره بغض لری نو دے د الله او رسول سره بغض لری۔

[البیهقی: ۲/ ۳۵۳ ، الاحیاء: ۱/ ۱۰۸]

۷ - سهل بن عبد الله فرمائی: د الله د محبت نښه د قرآن محبت دے، او د قرآن سره د محبت نښه د نبی کریم ﷺ سره محبت لرل دی، او د نبی کریم ﷺ سره د محبت نښه د هغهٔ د سنت سره محبت لرل دی۔

۸ - ابن عباس ﷺ فرمائی: منافقانو ته د قرآن لوستلو په مقابله کښې کانړی وړل زیات آسان دی۔ [حواله بالا: ۲/ ۳۵٤]

۹ - او فرمائی: څوك چه قرآن ولولی او په دے کښې چه څهٔ دی د هغے تابعداری کوی نو الله به ئے په دنیا کښې د ګمراهئ نه او په آخرت کښې د بد حساب نه وساتی، بیا ئے دا آیتِ کریمه

ولوسته: ﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا یَضِلُّ وَلَا یَشْقٰی﴾ [طه:۱۲۳]
(نو څوك چه زما د هدايت پسے روان شو نو هغه به نۀ گمراه شي او نۀ بدبخته)۔
[پورتنئ حواله: ۲/ ۳۵۷]

۱۰ – په يو اثر كښے زمونږ او ستاسو داسے حالت بيان شوے:
[عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَيَبْلَى الْقُرْآنُ فِيْ صُدُوْرِ أَقْوَامٍ كَمَا يَبْلَى الثَّوْبُ فَيَتَهَافَتُ يَقْرَؤُوْنَهُ لَايَجِدُوْنَ لَهُ شَهْوَةً، وَلَا لَذَّةً، يَلْبَسُوْنَ جُلُوْدَ الضَّأْنِ عَلَى قُلُوْبِ الذِّئَابِ، أَعْمَالُهُمْ طَمَعٌ لَايُخَالِطُهُ خَوْفٌ، إِنْ قَصَرُوْا قَالُوْا: سَنَبْلُغُ وَإِنْ أَسَاؤُوْا قَالُوْا: سَيُغْفَرُ لَنَا، إِنَّا لَا نُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا]
(معاذ بن جبل ﷛ فرمائی: زردے چه قرآن به د څۀ خلكو په سينو كښے داسے زوړ شي څنگه چه جامه زړيږی نو هغه به ختميږی، خلك به قرآن لولی او د هغے څۀ خوند او مزه به نۀ مومی، دا خلك به وړينے څرمنی لباس آغوندی او زړونه به ئے د شرمخانو وی، د دوئ عملونه به طمع او لالچ وی چه هيڅ ويره په كښے نۀ وی، كه چرے دوئ كوتاهی وكړی نو وائی به چه زر دے چه مونږ به ورسيږو، او كه بدی وكړی نو وائی به مونږ ته به خامخا ښښنه كيږی، څكه چه مونږ خو د الله سره هيڅ قِسم شرك نۀ دے كړے)۔
[دارمی: ۳۳٤٦]

۱۱ – ابو سعيد الخدری ﷛ فرمائی: څوك چه د شپے لس آيتونه ولولی نو دا به د ذاكرينو نه وليكل شی، او څوك چه سل آيتونه ولولی نو د قانتينو نه به وليكل شی، او څوك چه پنځه سوه آيتونه تر زرو پورے ولولی نو په داسے حال كښے به صبا كړی چه دۀ به قنطار (لويه خزانه) اجر گټلے وی۔ خلكو عرض وكړو: قنطار څومره وی؟ وے فرمايل: د غوئی د څرمنے نه ډك سرۀ زر۔
[دارمی: ۳٤٥٨]

۱۲ – قتادهٔ فرمائی: په قرآن سره خپل زړونه آباد كړئ او په قرآن سره خپل كورونه آباد كړئ۔ [دارمی: ۳۳٤٥]

۱۳ – ميمون بن مهرانؒ فرمائی: كه قرآن والا سَم شو نو ډير خلك به نيك عمله شی۔
[حلية الاولياء: ٤/ ۸۳]

۱٤ – ابن عباس ﷛ فرمائی: څوك چه قرآن ولولی نو دا به ذليل عُمر ته واپس نشی، لكه د الله تعالیٰ په دے وينا كښے ذكر دی: ﴿ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ﴾ [تين:۵] (بيا مونږ دا انسان د ښكته نه ښكته خلكو ته واپس كړو)۔
[حاكم، منذری فی الترغيب: ۲/ ۳۵۵]

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۵ – وهیب بن الورد فرمائي: مونږ په احادیثو او عظونو کښې وکتل نو مونږ د زړونو نرمولو او د خفګان راښکلو لپاره د قرآن د تلاوت او ددې د تفهم او تدبر نه سیوا بل هیڅ شے ونهٔ موندهٔ.
[احیاء العلوم: ۱]

۱۶ – حسن بصريؒ فرمائي: اے د آدم ځویه! قسَم په الله! که چرے تا قرآن ولوستهٔ او بیا دے پرے ایمان راوړو نو په دنیا کښې به ستا غم خامخا اوږد شي او خفګان به دے په دنیا کښې سخت شي او ژړا به دے په دنیا کښې زیاته شي.
[سیر اعلام النبلاء: ٤/ ٥٧٥]

د الله د کتاب نه د نفع اغستلو لپاره دویم قدم اغستل:

قرآن سره د **محبت** کولو نښې او علامات:

۱ – قرآن راغستو سره خوشحالي محسوسول.

۲ – قرآن سره خپل اوږدهٔ اودهٔ اوقات تیرول او ستوماني نهٔ محسوسول.

۳ – کله چه د څهٔ عذر د وجے نه څهٔ وخت پس قرآن راخلي نو دیته شوق راتلل او دے سره د ملاقات آرزو لرل او ددے په لاره کښې خندونه لرے کول.

٤ – ددے نه ډیرے مشورے اغستل او ددے په توجیهاتو او تعلیماتو باندے اعتماد کول او په ژوند کښې چه څهٔ وارهٔ یا غټ مشکلات راځي نو په هغے کښې ورته رجوع کول.

٥ – ددے د امر او نهي فرمانبرداري کول.

٦ – مرګ صرف په دے وجه بد ګنړل چه د الله د کتاب نه محروم نشم.

قرآن کریم سره د محبت لرلو دا یو څو ضروري نښے دي. کله چه په تا کښے دا راغلے نو د قرآن مینه شته دے اوکه نهٔ وي نو نشته، او کله چه در کښے ځینے وي او ځینے نهٔ وي نو پوهه شه چه په تا کښے د قرآن مینه ددے په اندازه نیمګرے ده.

هر مسلمان له مناسب دي چه د خپل ځان نه دا پوښتنه وکړي چه آیا زهٔ قرآن سره مینه لرم؟ دا ډیر مهم او ضروري سوال دے، او ددے جواب ورکول هم ډیر اهم دي چه په دے کښے ډیرے معنے پرتے دي. او کله چه تهٔ ددے سوال جواب ورکوے نو دغه مخکښو نښو او علاماتو ته رجوع وکړه، دے لپاره چه د جواب ورکولو په وخت تهٔ خطا او رسوا وپیژنے.

د ځینے مسلمانانو نه چه کله دا پوښتنه وشي چه آیا تهٔ قرآن سره مینه لرے؟ هغه جواب ورکوي: هو! زهٔ قرآن سره مینه لرم او ولے به قرآن سره مینه نهٔ لرم!

لیکن دے په خپل دے جواب کښے رشتینے دے؟

دا څنګه د قرآن سره مينه لري حالانکه دا ورته يو څو مينته کيناستل هم نهٔ برداشت کوی، او بل طرفته زړهٔ ئے چه څهٔ غواړی نو هغه شيانو ته په ګينټو ګينټو ناست وی؟

ابـو عبيدؒ فرمائی: يو سړے دے د خپل ځان په حقله د بل چانه پوښتنه نهٔ کوی۔ د قرآن نه دے پوښتنه وکړی، کـه چرے دے قـرآن سره مينه لری نو ددے نه معلوميږی چه دا د الله او رسول (ﷺ) سره مينه لری۔

[ابن ابی شيبة: ۱۰/ ٤٨٥]

دے وجے نه مونږ لـه مناسب دی چه د کوتـاهئ اقرار وکړو، هر کله چه په مونږ کښے دغه مخکښئ نښے او علامات موجود نهٔ وی، بيا پکار دی چه ددے کوتاهئ په لرے کولو کښے په دغه مخکښو او راتلونکو اسبابو اختيارولو سره کوشش وکړو۔

دريم قدم: د قرآن مقصد او غرض پيژندل :

ډيرو خلکو نه چه کله پوښتنه وکړے شی، تهٔ قرآن ولے لولے؟ جواب کښے وائی: ځکه چه ددے لوستل بهترين عمل دے، بله دا چه د يو حرف ثواب په لس چنده دے۔ نو دهٔ خپلے مخے ته صرف يو مقصد نيولے چه دا صرف د ثواب مقصد دے۔ پاتے شو نور مقصدونه نو د هغے نه دے ناخبره دے۔ دارنګه څوك چه په حفظ باندے مشغول دے، قرآن صرف دے لپاره لولی چه په ذهن کښے ئے کينی، دا وجه ده، تهٔ به دے مومے چه په دهٔ باندے به غټ غټ مقاصد تيرېږی خو دے هغے ته توجه نهٔ کوی۔ همدا وجه ده چه حافظِ قرآن به تهٔ مومے چه په دے باندے به عمل نهٔ کوی اونهٔ به خپل اخلاق د قرآن مطابق جوړوی۔

په يو نيك عمل کښے ګنړ نيتونه کول پکار دی، په دے کښے ډير لوئے اجر دے۔ دا د الله د خواصو بندګانو طريقه ده۔

قرآن کريم د پنځو مقاصدو لپاره لوستل پکار دی چه دا تول عظيم مقاصد دی۔ په دے کښے هر يو ددے لپاره کافی دے چه مسلمان قرآن لوستلو او په دے باندے زيات مشغوليدو ته ديکه کړی۔ او ددے مقاصدو اختصار په دے تکو کښے راغلے (ثم شع) ثاء: ثواب۔ ميم: مناجات او مسئله۔ شين: شفاء۔ عين: علم، او دويم عين عمل ته اشاره ده۔

نو کله چه مسلمان ددے پنځو واړو مقاصدو په استحضار سره قرآن لولی نو دابه د قرآن کريم نه ډيره زياته نفعه حاصله کړی او ډير لوئے اجر به وګټی۔

نبی کريم ﷺ فرمائی: [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَّا نَوٰى] [بخاری]

زهٔ وايم: د قرآن لوستلو بعضِ مقاصد دا هم دی: عبادت او مزه، اتباع سنت، حصول الهداية،

Maktaba Tul Ishaat.com

پند او نصيحت حاصلول او غفلت لرے کول، او رب راضی کول۔
نو څوك چه قرآن د علم حاصلولو په نيت لولی الله به ورته علم ورکوی۔ څوك ئے چه د ثواب په نيت لولی الله به ورله ثواب ورکوی۔
شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائی: څوك چه د هدايت تالاش کولو لپاره قرآن لولی نو دهٔ به ته د حق لاره ښکاره شی۔
[الواسطية، ص: ۱۰۳]
او څوك چه قرآن د کاميابئ لپاره لولی، الله به ورته د کاميابئ لاره آسانه کری۔
اول هدف: قرآن د علم لپاره لوستل :
اوله مسئله: ددیے مقصد اهميت:
د قرآن د نازولو، دديے په لوستلو باندیے د امر کولو او دديے په لوستلو کښيے د ثواب ورکولو نه همدا لوئے او مهم مقصد دیے۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴾ [ص:۲۹] (اے زما نبی ! دا يو مبارك کتاب دیے چه مونږ په تا باندیے نازل کړیے، دیے لپاره چه خلق دديے په آيتونو کښ غور او فکر وکړی، او دیے لپاره چه عقل او پوهے والا نصيحت واخلی)۔
او فرمائی: ﴿ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ﴾ [محمد:۲٤] (آيا دویٔ په قرآن کښيے فکر نهٔ کوی)۔
په دیے باره کښيے ډير آيتونه راغلی۔
ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی: کله چه تاسو علم غواړئ نو دا قرآن خور کړئ ولے چه په دیے کښيے د اولينو او آخرينو علم پروت دیے۔
[ابن ابی شيبة: ٦/ ١٢٦ ، البيهقی: ۲/ ۳۳۲ ، الطبرانی: ۹/ ۱۳٦]
حسن بن علی فرمائی: تاسو نه مخکښنو خلکو به قرآن د خپل رب له خوا راغلی پيغامونه گڼړل نو څکه به ئے په دیے کښيے د شپے سوچ کولو او د ورځے به ئے دديے خيال ساتلو۔
[ذکره النووی فی التبيان، ص: ۲۸]
مسروقؒ فرمائی: مونږ چه به د محمد ﷺ د ملگرو نه د څهٔ شئ په باره کښيے پوښتنه وکړه نو د هغے علم به خامخا په قرآن کښيے پروت وو، خو زمونږ علم به د هغے نه کوتاه وو۔
[شعب الايمان: ٥/ ۲۳۱]
ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: مونږ ډيره زمانه په داسے حال کښيے پاتے شو چه په مونږ کښيے به يو تن ته ايمان د قرآن نه مخکښيے راتللو۔ په محمد ﷺ به يو سورت نازل شهٔ نو مونږ به د هغے حلال او حرام، امر او نهی او څهٔ چه د هغے په باره کښيے زده کول ضروری وو هغه به مو زده کړل۔ بيا داسے

وخت راغے چه ما څهٔ سرې وليدل چه په دوئ کښے يو تن ته د ايمان نه مخکښے قرآن راځي، نو دے د سورتِ فاتحے نه واخله تر آخره پورے قرآن لولي او دا پته ورته نهٔ وي چه ددے امر او نهي او څهٔ چه ددے لپاره زده کول پکار دي هغه څهٔ شے دے؟ د ردي کهجورو پشان ئے خور وور غورزوي (په غير د سوچ نه زر زر تلاوت کوي)۔

[حاكم: ۱/ ۹۱، البيهقي في السنن: ۳/ ۱۲۰]

حسن بصريؒ فرمائي: الله چه کوم آيت نازلوي نو ورسره دا هم خوښوي چه انسان دا وپيژني چه دا په څهٔ باره کښے نازل شو او الله ددے نه څهٔ اراده لري؟ [قرطبي: ۱/ ۲۶]

ابن عمرؓ فرمائي: تاسو قرآن را واخلئ دا زدهٔ کړئ او خپلو بچو ته ئے وروښايئ ځکه تاسو نه به ددے په باره کښے پوښتنه کيږي او په همدے به تاسو له بدله درکړے کيږي، او څوك چه عقل لري نو دا قرآن هغهٔ لپاره پوره وعظ کونکے دے۔

[مشكل الآثار: ۱۰/ ۱۷۰، كنز العمال: ۱/ ۲۳]

حسن بصريؒ فرمائي: د قرآن قاريان درے قِسمه دي:

(۱) څهٔ خلکو دا د تجارت سرمايه جوړه کړے په دے باندے خوراکونه کوي۔

(۲) څهٔ خلك ددے حرفونه سَم سَم ادا کوي خو ددے حدود (او پُلے) ئے ضائع کړے۔ په خپل وطن کښے په خلکو باندے په دے فخر کوي، او ددے په ذريعه واليانو سره خپل قدر او مرتبه جوړوي۔ په قاريانو کښے دا قِسم خلك زيات شوي دي، الله دے دا نهٔ زياتوي۔

(۳) بل هغه خلك دي چه د قرآن ذوائي ئے واغسته او د خپلو زړونو په مرض کښے ئے استعمال کړه، په خپلو عبادت خانو کښے پاتے شول او الله ته ئے د عاجزئ سرونه ښکته کړي او د هغهٔ نه ويره او خوف محسوسوي، د غم او خفگان څادرونه ئے په ځانونو راواچول، نو دا هغه خلك دي چه د دوئ (د دعاء) په وجه الله په خلکو بارانونه کوي او د دوئ په وجه الله د دشمنانو په مقابله کښے د خلکو مدد کوي۔ قسَم په الله! د قرآن په باروونکو کښے دا خلك د کبريت احمر (سرو گوگړو) نه هم زيات قيمتي دي۔

[ابن الجوزي في العلل: ۱/ ۱۱۰]

احمد بن ابي الحواريؒ فرمائي: زهٔ قرآن لولم او په يو آيت کښے فکرکوم نو په هغے کښے زما عقل حيران شي او زهٔ د قرآن په حافظانو تعجب کوم چه دوئ له څنګه خوب خوند ورکوي او دوئ څنګه د دنيا په کارونو باندے مشغول شوي حالانکه دوئ د الله کلام لولي۔ خبردار! که چرے دوئ په هغه څهٔ باندے سوچ کړے وے کوم چه دوئ لولي او ددے حق ئے پيژندلے وے او ددے

Maktaba Tul Ishaat.com

نه ئې خوند اخستې وې او مناجات ئې خوړ او مزيدار ګڼلې وې نو د دوئ نه به خوب ختم شوې وې، د هغه شئ په خوشحالئ کښې کوم چه دوئ ته ورکړې شوې.

[لطائف المعارف، ص: ۲۰۳]

دويمه مسئله : دا چه مونږ د قرآن نه کوم علم غواړو؟ هغه علم چه انسان ته په دنيا کښې او آخرت کښې کاميابي، مزيدار ژوند، مطمئن نفس او په دنيا او آخرت کښې امن ورپه برخه کړي.

دارنګه د فراخه حلال رزق سبب وګرځي، دارنګه په دې سره په انسان کښې عزيمت او پخه اراده پيدا شي او ددې په ذريعه د ژوند په هر اړخ کښې کمزوري او نا اميدي ختمه شي، او دا په الله او په ورځ د آخرت باندې علم لرل دي، دارنګه په حلالو او حرامو علم لرل دي، د الله په آسماء او صفاتو باندې علم لرل دي او په دې باندې علم لرل دي چه انسان د يو لوئې مقصد لپاره پيدا شوې.

دارنګه د قرآن نه چه کوم علم مونږ غواړو نو هغه د خشيت او تقوىٰ، خشوع او تواضع علم دې.

ابن مسعود ﷺ فرمائي: [كَفٰى بِخَشْيَةِ اللّٰهِ عِلْمًا ، وَكَفٰى بِالْاغْتِرَارِ بِاللّٰهِ جَهْلًا] (د الله نه يريدل پوره علم دې، او په الله باندې دهوکه خوړل لويه ناپوهي ده).

[مفتاح دار السعادة: ۱/ ۵۱]

ابن عباس ﷺ فرمائي: د الله په بندګانو کښې د الله نه صرف هغه علماء خلك يريږي چه هغوئ دا علم لري چه الله په هر شئ قادر دې.

په الله باندې د علم لرلو نښه داده چه انسان به د خلکو نه استغناء او بې پرواهئ طرفته راکاږي، خپل ځان به هميشه په کوتاهئ کښېويني، لکه د الله تعالىٰ په دې وينا کښې دې طرفته اشاره ده: ﴿ فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ ﴾ [محمد: ۱۹] (بنهٔ ځان پوهه کړه چه د الله نه سيوا بل څوك د عبادت لائق نشته او د خپلو ګناهونو ښښنه غواړه).

نو هغه علم چه انسان استغفار طرفته راکاږي دا هغه علم دې چه کاميابئ ته رسول کوي، او دا د الله د معرفت نه پس پيدا کيږي.

يو شاعر وائي:

وَرَأْسُ الْعِلْمِ تَقْوَى اللّٰهِ حَقًّا ۞ وَلَيْسَ بِأَنْ يُقَالَ لَقَدْ ......

ابن قيم – رحمه الله – فرمائي:

وَالْعِلْمُ أَقْسَامٌ ثَلَاثٌ : مَالَهَا ۞ مِنْ رَابِعٍ وَالْحَقُّ ذُوْتِبْيَانِ

عِلْمٌ بِأَوْصَافِ الْإِلٰهِ وَفِعْلِهِ ۞ وَكَذٰلِكَ الْأَسْمَاءِ لِلرَّحْمٰنِ

وَالْأَمْرِ وَالنَّهْيِ الَّذِيْ هُوَ دِيْنُهُ ۞ وَجَزَائُهُ يَوْمَ الْمَعَادِ الثَّانِيْ

وَالْكُلُّ فِي الْقُرْآنِ وَالسُّنَنِ الَّتِيْ جَائَتْ عَنِ الْمَبْعُوْثِ بِالْقُرْآنِ

(علم درې قِسمه دې چه څلورم قِسم نهٔ لري او حق واضحه دې. یو د الله په اوصافو، افعالو او اسماؤ باندې علم دې. او بل په امر او نهي باندې علم دې کوم چه د الله دین دې او په قیامت کښې په دې باندې جزا او سزا ورکول دي. دا ټول په قرآن او د هغه نبي کریم ﷺ په احادیثو کښې ذکر شوي چه هغه په قرآن سره رالیږل شوې).

دریمه مسئله : دا مقصد به څنګه ثابتیږي؟

نو مونږ وایو: قرآن داسې ولوله لکه څنګه چه یو طالب علم خپل کتاب د امتحان په شپه باندې په ډیر غور او فکر سره لولي، په داسې طریقه سره ئې لولي چه که صبا له په دې کښې پرچه راشي نو چه په ډیر غور او فکر سره په کښې امتحان ورکړي. مونږ انسانانو نه هم د الله په کتاب کښې امتحان اغستل کیږي خو په مونږ کښې څوك دې خبرې ته بیدار دي او څوك لویې توقې کونکي دي.

څلورمه مسئله: د علم د تطبیقولو لپاره طریقه داده چه تهٔ په خپل ذهن کښې ډیر سوالونه کیدې او بیا د الله د کتاب نه ددې جواب راؤباسه او په دې باره کښې د ښهٔ کوشش نه کار اخله څکه چه د الله په کتاب کښې هر شے موجود دے: ﴿ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [نحل: ۸۹] (او مونږ تاته کتاب رالیږلے چه د هر شئ وضاحت په کښې موجود دے) او فرمائي: ﴿ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [انعام:۱۵٤] (او د هر (ضروري) شيء وضاحت په کښې موجود دے).

پنځمه مسئله: ټولو داعیانو، مصلحینو او تربیت کونکو له پکار دي چه دوئ د الله کتاب ته توجهٔ وکړي او ضروري ده چه دعوت هم په قرآن سره وي. ډیر واعظان داسې دي چه دوئ په خپل وعظ او نصیحت کښې قیصې او افسانې ذکر کوي او د الله کتاب پریدي، د رسول الله ﷺ او د هغهٔ د صحابه کرامو - رضي الله عنهم - سیرت ئې هیر کړے چه دوئ به خلکو ته د الله په کتاب سره دعوت ورکولو او د هغې نه به ئې آیتونه په خلکو ولوستل هغوئ به متاثره شول او خبره به ئې ومنله. خو هر کله چه داعیان خپله د الله د کتاب نه کم تاثر اخلي نو د مدعوئینو تاثر هم په دې سره کم شو، دے وجې نه دوئ قیصو او حکایاتو ته محتاج شول. زما په خیال دا د یقین کمزوري او د الله د کتاب د معرفت کمے دے.

نو څوك چه په خلکو باندې تاثیر کول غواړي هغهٔ دے ددې لپاره د الله د کتاب نه کار اخلي، ولې چه په دې کښې په تادئ سره اثر پروت دے.

حقیقت دادے چه څوك د خپلې بیمارئ د علاج او د معنوي قوت حاصلولو لپاره د خلکو په

Maktaba Tul Ishaat.com

کتابونو مشغوله شي او په دے کښے خپل عافیت او جوړښت ويني، نو د دوئ دا کار د هغه سړي سره مشابه دے چه هغه خپل بدن ته په داسے خوراکونو سره غذاء ورکوي چه په خُلهٔ او مزاج کښے ورلهٔ خوند ورکوي خو په دے سره ئے بدن تباه کیږي۔

شپږمه مسئله : قرآن زړونه داسے ژوندي کوي لکه څنګه چه باران مړه زمکه راژوندئ کوي، دا وجه ده، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فٰسِقُونَ﴾ [حديد: ١٦]

نو په دے آيتِ كريمه كښے په ډاګه بيان شو چه د زړونو حيات په دوه شيانو حاصليږي: (۱) د الله په ذكر سره۔ (۲) د الله په كتاب سره۔

مالك بن دينارؒ فرمائي: اے قرآن والو ! ستاسو په زړونو كښے قرآن څهٔ وكرل؟ قرآن خو د مؤمن سپرلے دے لكه څنګه چه باران د زمكے سپرلے دے)۔ [الاحياء: ۱/ ۲۸۵]

او دا يو ليدلے كتلے شے دے، په رمضان كښے تاسو وينئ چه زړونه څومره نرم وي، دا ځكه چه دا قرآن كريم ډير ډير آوري۔ نو څوك چه د خپل زړهٔ حيات او ژوند غواړي نو هغهٔ له پكار دي چه د قرآن د سپرلي په بارانهٔ سره ئے وخت په وخت خړوبه كړي۔

اوومه مسئله : قرآن د انسان په دوه قِسمه تزكيو باندے مشتمل دے: (۱) ددهٔ د افكارو او عقائدو په اصلاح۔ (۲) ددهٔ د اعمالو او چال چلن په اصلاح۔ او ديته په دے قول د الله تعالىٰ كښے اشاره ده : ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴾ [آل عمران: ١٦٤]

(الله په مؤمنانو دا احسان كړے چه د هغوئ لپاره ئے د هغوي نه يو رسول راوليږهٔ چه د هغهٔ آيتونه هغوي ته تلاوت كوي او هغوي پاك كوي، او هغوي ته د كتاب او حكمت تعليم وركوي، او ددهٔ نه مخكښې دا خلق په ښكاره ګمراهئ كښې وو)۔

او دا مسئله د علم د هدف سره متعلق وه۔

دويم هدف: د عمل په اراده قرآن لوستل:

ددے مقصد اهميت:

علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي: اے د عمل بارونكو ! په علم عمل كوئ ځكه علم هغه علم دے چه عمل پرے وكړے شي او د انسان د عمل سره موافق شي، زر دے چه څهٔ خلك به راشي چه علم به زده كوي خو د مريو نه به ئے نهٔ تيريږي، د دوئ علم به د دوئ د عمل نه خلاف وي او د دوئ ظاهر به د دوئ د باطن نه خلاف وي، دوئ به په حلقو كښے كيني او ځينے به په ځينو نورو

باندې فخر کوي، ترڅو چه يو تن به خپل ملګری ته صرف په دې وجه غصه کيږي چه هغه ولې ددۀ نه سيوا بل عالم ته کيني، هغه به په دې ملامته کوي، دا هغه خلك دي چه د دوئ د دغه مجلسونو نه به د دوئ هيڅ عمل الله ته ونۀ خيژي.

[كنز العمال: ١٠/ ١٢٠، التبيان: ١/ ٢٠، في آداب حملة القرآن]

حسن بصريؒ فرمائي: [أُمِرَ النَّاسُ أَنْ يَعْمَلُوْا بِالْقُرْآنِ فَاتَّخَذُوْا تِلَاوَتَهُ عَمَلًا]

(خلکو ته په قرآن باندې د عمل کولو امر شوې وو نو دوئ ددې تلاوت کول عمل ورګرځاوۀ).

[تلبيس ابليس: ١٠٩، مدارج: ١/ ٤٥١]

دارنګه فرمائي: قرآن هغه وخته پورې لوله چه تۀ ئې د ګناه نه منع کولې، او کله ئې چه تۀ د ګناه نه منع نۀ کړې نو دا لوستل نۀ دي.

[كنز العمال: ٢٢٧٦]

ابو عبد الرحمن السلميؒ د عثمان، أبي بن كعب او ابن مسعود – رضي الله عنهم – نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ به دوئ ته لس آيتونه لوستل نو دوئ به نورو لسو آيتونو ته تر هغه وخته پورې نۀ ورتيريدل تر څو پورې چه به دوئ په دغه مخکنو باندې لا عمل کړې نۀ وو، دې وجې نه مونږ قرآن او عمل دواړه زده کړل.

[القرطبي: ١/ ٣٩، الطبري: ٩/ ٦٠]

امام آجريؒ فرمائي: د قرآن ورقې به اړوي راړوي او خپل ځان له به ادب ورکوي او دا همت به جوړوي چه زۀ به کله د متقينو نه جوړيږم؟ زۀ به کله د خاشعينو نه جوړيږم، زۀ به کله د صابرينو نه جوړيږم؟ زۀ به کله په دنيا کښې زهد او بې رغبتي لرم؟ زۀ به کله خپل ځان د خواهشاتو نه ساتم؟

[أخلاق حملة القرآن، ص: ٤٠]

حسن بصريؒ فرمائي: دا قرآن خو غلامان او ماشومان هم لولي چه دوئ ته ددې تفسير معلوم نۀ دې. خو ددې د آيتونو تدبر صرف د پيروئ په صورت کښې راځي، نۀ دا چه ددې حروف حفظ کړې شي او حدود ئې برباد کړې شي، ترڅو چه په دوئ کښې يو تن وائي: ما خو ټول قرآن ولوستۀ او ددې نه مې يو حرف هم ونۀ غورزولو حالانکه په الله قسم دې چه دۀ ټول قرآن غورزولې وي، ځکه نۀ ددۀ په اخلاقو کښې قرآن ښکاري او نۀ ئې په عمل کښې، ترڅو چه په دوئ کښې يو تن وائي: زۀ يو سورت خپل ځان سره لولم. قسم په الله! دا خلك نۀ قاريان دي او نۀ علماء، نۀ حکماء دي او نۀ پرهيزګاره، او هر کله چه قاريان دا قِسم خلك وي نو الله دې په خلکو کښې د دوئ پشان

Maktaba Tul Ishaat.com

خلك زيات نۀ کړی!

[سنن سعيد بن منصور: ۲/ ۴۰۲، البيهقی: ۲/ ۵۴۱، الزهد لابن المبارك: ۱/ ۲۷۴، ابن ماجه، احمد: ۶/ ۲۱۶، وغيرهم]

يو سړے ابو الدرداء ﷺ ته راغے، ويلے: زما دے ځوی ټول قرآن جمع کړے دے. نو هغۀ وفرمايل: يا الله! معافی وکړے! قرآن خو هغه چا جمع کړو چه هغه ددے سمع او طاعت کوی.

[قاعدة فی فضائل القرآن لابن تيمية، ص: ۵۹]

حذيفه ﷺ فرمائی: اے د قاريانو (د قرآن او سنت والو) ډلے! تاسو سَم شئ ځکه تاسو ډير زيات مخکښے تلی يئ (د اسلام اوائل مو رالاندی کړی دی)، اوکه چرے تاسو ښی او ګس طرفته کاږۀ شوئ نو په ښکاره ګمراهئ سره به ګمراه شئ.

[صحيح بخاری، باب الاعتصام]

۲ - ددے مقصد تطبيقولو معنیٰ او طريقه: داده چه قرآن د عمل په نيت ولوستل شی، په دے نيت ئے لولی چه په دے کښے علم تالاش کړی او په هغے عمل وکړی، نو د قرآن د آيتونو سره به ودريږی او ګوری به چه دا آيتونه ددۀ نه څۀ مطالبه کوی؟ آيا دۀ ته د څۀ خبرے امر کوی؟ اوکه د يو شئ نه ئے منع کوی؟ يا يو فضيلت او بهتری ده چه د هغے خپلولو ته ئے رابلی؟ يا يو خطر دے چه په دۀ باندے راروان دے او هغه ئے ترے ويروی؟ او دغسے نور.

ځکه قرآن د نفس د مشغولولو او ددے د حفاظت لپاره رهنما او لاربنود دے، پکار دی چه هر مسلمان ته نزدے وی چه په دے سره د خپل نفس تربيت او تهذيب کوی.

قرآن د هغه چا پشان لوله چه هغه د خپل مشکل حل کولو يا د نقصان د اصلاح کولو په نيت قرآن لولی، اويا د يو مشکل تفسير کوی، او يا د يوے بيمارئ علاج کوی اويا د يو حالت تحليل او تجزيه کوی.

اوس که مونږه د خپلو تربوی مشکلاتو علاج د خلکو په کتابونو کښے يا په مجلاتو او اخبارونو اويا په تی وی چينلونو کښے ګورو، نو ددے معنیٰ به داشی چه مونږ د قرآن د لوستلو دا عظيم او مهم مقصد بيکاره کړو. کوم تربيت چه نيغ په نيغه په قرآن باندے مبنی نۀ وی نو دا ناقص تربيت دے اګرکه ددے ځينے ميوه د ابتلاء او استدراج په توګه ووينی.

دا يو حقيقت دے چه د ماشومانو او ځوانانو تربيت به خامخا په قرآنی بنياد باندے ولاړ وی، ددے بنياد به د قرآن په اسلوب باندے قائم وی. په دے وخت کښے ځينے خلك داسے دی چه د غرب د علمونو نه متاثره دی او د هغے په باره کښے په فتنه کښے غورزيدلی، دوئ دا علمونه د

کامیابئ او سعادت ذریعه ګنړي او په دے باره کښے قِسما قِسم بهانے کوي۔ والله المستعان۔

دریم هدف: قرآن، الله سره د مناجات او سرګوشئ په نیت لوستل:

ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے:

[مَا أَذِنَ اللّٰهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَجْهَرُ بِالْقُرْآنِ]

(الله بل هیڅ یو شئ ته دومره ښائسته غوږ نۀ ږدي څومره چه یو نبي ته چه ښائسته آواز لري او هغه په زوره قرآن لولي، غوږ ږدي)۔ [بخاري، مسلم]

فضاله بن عبید رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [لَلّٰهُ أَشَدُّ أُذُنًا إِلَى الرَّجُلِ الْحَسَنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ مِنْ صَاحِبِ الْقَيْنَةِ إِلَى قَيْنَتِهِ]

(کوم سړے چه په ښائسته آواز سره تلاوت کوي نو الله ئے په دومره شوق سره آوري، په څومره شوق سره چه سندرغاړے وینځې والا سندر غاړے وینځې ته غوږ ږدي، بلکه ددے نه هم زیات)۔

[ابن ماجه: ۱/ ٤۲٥]

عبد الله بن مبارک رحمه الله فرمائي: ما د سفیان رحمه الله نه پوښتنه وکړه: سړے چه کله مانځه ته ودریږي نو خپل قرائت او مونځ به په کوم نیت سره کوي؟ وے فرمایل: دا نیت به کوي چه زۀ د خپل رب سره جرګه کوم۔ [تعظیم قدر الصلاة: ۱/ ۹۲]

بیاضي رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ خلکوته په داسے حال کښے ورووتۀ چه هغوئ مونځ کاوۀ او په زوره ئے قرآن لوستۀ۔ نو وے فرمایل: [إِنَّ الْمُصَلِّي يُنَاجِي رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيهِ، وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ]

(مونځ کونکے د خپل رب سره پټے خبرے کوي نو دا خیال دے کوي چه په کومو خبرو سره د هغۀ سره جرګه کوي، یو بل ته په زوره قرائت مۀ کوئ)۔

[احمد: ٤/ ۳٤٤، واسناده صحیح]

قتادة فرمائي: د څۀ وخت نه چه ما قرآن لوستلے، د هغه وخت راسے ما ګندنه نۀ ده خوړلے۔

[فضائل القرآن لأبی عبید، ص: ٥٥]

ابو مالک رحمه الله فرمائي: بیشکه ستاسو خُلے د قرآن لارے دي نو څومره چه کیدے شي دا پاکے کړئ۔ ابو مالک رحمه الله وائي: د څۀ وخت نه چه ما قرآن لوستلے، پیاز مے نۀ دي خوړلي۔

[حواله بالا: ۱/ ۱۰٦]

نو مسلمان به د قرآن لوستلو په وخت دا لوئے مقصد په ذهن کښے ساتي، دے دپاره چه د قرائت په خوند او مزه پوهه شي هر کله چه ددے خبرے استحضار لري چه دے کله قرآن لولي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

الله دهٔ تـه گـوري او ددهٔ قـرائـت آوري، ددهٔ مدح او صفت كوي او ددهٔ په ذريعه په مقربينو ملائكو فـخـر كـوي۔ په مونږ كښې كه يو تن ته دا پته ولږي چه ددهٔ مشر يا اميريا پلار ددهٔ قرائت ته غوږ ايښې او دا پرے ښهٔ لګي نو خامخا به په دے كښې كوشش كوي۔ حالانكه كوم ذات چه ددهٔ قرائت آوري او ددهٔ صفت كوي هغه د زمكے او آسمانونو او د تحت الثرىٰ د لوئے بادشاهئ مالك دے۔

د مـنـاجات طريقه داده چه په آيت كښې تسبيح راشي نو تسبيح ولولي، كه تعوذ راشي نو پناه وغواړي، اوكه د رحمت آيت راشي نو د خپل رب نه د رحمت سوال وكړي۔

حذيفه ﷺ فـرمـائـي: يـوه شپـه ما د نبي كريم ﷺ سره مونځ وكړو، نو هغهٔ سورتِ بقره شروع كـړه، نو ما ځان سره وويل: چه سل آيتونه ولولي نو ركوع به وكړي، خو هغه ددے نه تير شو، ما ويـل: په يو ركعت كښې به بقره پوره كوي، خو هغه بيا تير شو، ما ويل: اوس به ركوع كوي، خو هغه بيا تير شو او سورتِ نساء ئے شروع كړه او هغه ئے هم ولوستهٔ، بيا ئے آل عمران شروع كړو او هغـه ئے هـم ولـوسـتـهٔ، پـه آرام سره ئے تلاوت كولو، كله به چه په يو آيت ورتير شهٔ چه په هغے كښې بـه تسبيـح وه نـو سبـحـان الله بـه ئے ويـلـه، اوكه په يو آيت به ورتير شهٔ چه په هغے كښې به غوښتنه ذكر وه نو سوال به ئے كولو، اوكه په يو آيت به ورتير شهٔ چه په هغے كښې به د يو شئ نه پناه راغلے وه نو پناه به ئے غوښتله۔

[صحيح مسلم، نسائي]

قـرآن سره مـنـاجـات ديـتـه وائي ! دا ډير ژوندے قرائت دے چه په دے كښې بنده هغه شے پيژني كـوم چـه لـولي، او دا معلوموي چه كوم ذات ته قرآن لولي؟ هغهٔ ته څومره احتياج لري؟ په دے مـقـصـد بـانـدے د خپـل نـفـس تـربيـت كـول د تازګئ په حالت كښې د الله مراقبه قوي كوي او د سستئ په حالت كښې د ګناهونو نه خنډ او ركاوټ واقع كيږي۔

ابـن قيـم - رحـمـه الله - فرمائي: كله چه تهٔ د قرآن نه نفع حاصلول غواړے نو ددے د تلاوت او ددے د آوريـدو پـه وخـت خپـل زړهٔ جمع كړه، خپـل غوږ ونيسه او خپل دماغ داسے حاضر كړه چه الله رب الـعـزت تـاسره په دے خبرے اترے كوي ځكه چه دا د هغهٔ د رسول په ذريعه د هغهٔ د طرفه تاسره خبرے كول دي۔

* **فائده**: دا خبره يـاد سـاتـه چـه كـلـه تـهٔ د قـرآن سره مناجات كوے نو په دے كښې تاته پنځه مـقـصـدونـه راجـمـع كيـږي چه هغه په دے ويـنا كښې راغلي ((حرس مع)) حاء اشاره ده چه كله تهٔ قـرآن لولے نو الله تاسره محبت كوي، راء اشاره ده (رؤيت ته) چه تا ويني، سين اشاره ده (سماع ته) چه ستا خبره آوري، ميم اشاره ده (مدح ته) چه ستا صفت كوي، عين اشاره ده (عطاء ته) چه تاله

درکړه کوی۔ تلاوت په وخت خامخا ددے معنو استحضار کوه، دا فوت کیدو ته مۀ پریده۔

څلورم هدف او غرض: د ثواب په نیت قرآن لوستل:

ددے بحث په اول کښے په دے باره کښے نصوص تیر شول، یو څو نور حدیثونه دادی:

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي: [مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ حَسَنَةٌ ، وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا ، لَا أَقُوْلُ: آلٓمٓ حَرْفٌ ، وَلٰكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ ، وَمِيْمٌ حَرْفٌ]

(چا چه د الله د کتاب نه یو حرف ولوستهٔ هغهٔ لپاره یوه نیکی ده، او یوه نیکی په لس چنده ده، زهٔ دا نهٔ وایم چه آلم یو حرف دے، بلکه الف یو حرف دے، لام بل حرف دے او میم بل حرف دے)۔

[رواه الترمذی وهو حدیث صحیح]

ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: که چرے د قرآن حاملینو دا قرآن په خپل حق او ددے په مناسبے طریقے سره اخستے وے نو دوئ سره به خامخا الله تعالیٰ مینه کړے وے خو دوئ په دے دنیا طلب کړه نو الله دوئ سره کینه ولرله او د خلکو په نیز هم سپك شول۔

[القرطبی: ۱/ ۲۰]

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي: بیشکه دا قرآن د الله یو دعوت (یا ادب) دے نو تاسو ددے نه څهٔ برخه حاصله کړئ ځکه ماته هغه کور د هریو شئ نه زیات حقیر او ذلیله معلومیږی چه په هغے کښے د الله د کتاب څهٔ برخه نهٔ وی، او بیشکه هغه زړهٔ چه په هغے کښے د الله د کتاب څهٔ برخه نهٔ وی پرته، لکه د وران کور پشان دے چه هیڅ وسیدونکے په کښے نهٔ وی۔

[دارمی: ۲/ ۳۱۷۳، ابن ابی شیبة، الطبرانی]

ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي: بیشکه دا زړونه لوښی دی نو تاسو دا په قرآن سره مشغوله کړئ او ددے نه سیوا په بل شئ سره ئے مهٔ مشغولوئ۔

[ابن ابی شیبة: ٦/ ١٢٦ ، احمد: ۲/ ۱۷۷]

أبو هریره رضي الله عنه فرمائي: هغه کور چه په هغے کښے د الله کتاب لوستے کیږی په هغے کښے ډیر خیر وی، ملائك هغے ته حاضریږی او شیطانان تریے وځی۔ او په کوم کور کښے چه د الله کتاب نهٔ لوستل کیږی هغه په وسیدونکو تنګ شی، خیرئے کم وی، شیطانان ورته حاضریږی او ملائك تریے وځی۔ [الزهد لابن المبارك]

ددے مقصد دلائل نور هم ډیر دی، مونږ په دے اکتفاء کښے وو۔

پنځم هدف او غرض: قرآن ددے لپاره لوستل چه ددے نه شفاء حاصله کړے شی:

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴾ [یونس: ۵۷] (اے خلقو ! تاسو ته ستاسو د رب د طرفه نصیحت او د هغه بیماریانو علاج راغلو چه په سینو کښې وی، او د مؤمنانو لپاره هدایت او رحمت راغلو)۔

او فرمائی: ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَلَا يَزِيۡدُ الظّٰلِمِيۡنَ اِلَّا خَسَارًا ﴾ [اسراء: ۸۲] (او مونږ په قرآن کښې بعض داسې څیزونه نازلوو چه مؤمنانو ته شفاء ورکونکی او د هغوی لپاره سبب د رحمت وی، او د ظالمانو په تاوان کښې زیاتې کوی)۔

او فرمائی: ﴿ قُلۡ هُوَ لِلَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا هُدًى وَّشِفَآءٌ ﴾ [فصلت: ٤٤]

(ورته ووایه ! دا د ایمان والو لپاره هدایت او علاج دے)۔

نو قرآن شفاء ده چه د زړونو نه د شبهاتو، خواهشاتو او هر قِسمه وسوسو علاج کوی، دارنګه دا د بیماریو نه د بدن شفاء او علاج دے۔ او مونږ د هغه چا نه تعجب کوو چه د یو مرض لپاره ډیره ډیره دوائی استعمالوی او د خپل ځان علاج د الله په کتاب سره نۀ کوی! خو دا د یقین کمے او د ایمان کمزوری ده۔ والله المستعان۔

نو څوك چه د شفاء او علاج په نیت قرآن لولی، هغۀ ته د الله په حکم سره دوه شفاګانے حاصلیږی: یو د بدن او بله د روح۔

رسول الله ﷺ فرمائی: [خَيۡرُ الدَّوَاءِ الۡقُرۡاٰنُ] (قرآن بهترینه دوائی ده)۔

[الصحیحة للألبانی: ٤/ ۹۳۱، عن علی رضی الله عنه]

عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ دے کره ورغے او ددے سره یوه ښځه ناسته وه چه دے په هغې باندے دَم اچولو، نو ورته ئے وفرمایل: د الله په کتاب سره ددے علاج وکړه۔

[ابن حبان: ۱۳/ ٤٦٤، الموارد: ۱/ ۳٤۳]

په قرآن سره شفاء حاصلول په دوه شیانو سره راځی: (یو) دا چه دا په مانځه کښې ولوستلے شی خصوصًا د شپے په آخره برخه کښې په دے نیت چه شفاء راته حاصله شی۔(دویم): په دے سره دَم اچول، ځکه کومے لارے چه د قرآن کریم د تلاوت کولو په وجه راوځی نو په قوت، تازګئ، صحت او عافیت کښې ددے لوئے اثر دے چه دیته د دواخانے هیڅ یوه دوائی یا معجون نشی رسیدلے، زما په خیال هیڅ یو مسلمان ددے خبرے نه انکار نشی کولے۔

خو مناسبه داده چه مباشرةً (ډارك) مونږ خپله د قرآن کریم نه دا علاج او شفاء حاصله کړو او ددے سره رشتینے سلوك وکړو او په رشتینے زړۀ سره دا ولولو۔ او دا مناسبه نۀ ده چه کله مونږ د قرآن نه علاج او شفاء حاصلول غواړو نو چرته قاریانو، معالجینو او دَمګرو پسے ګرځو لکه دا د ځینے خلکو کار دے چه دوئ ته څۀ مصیبت ورسی نو بیا دَمګرو پسے ګرځی، حالانکه د علاج

حاصلولو دا معامله ډیره آسانه ده.

دارنګه کله چه مصیبتونه راشي نو مونږ له پکار دي چه رب العالمین ته زاري او عاجزي وکړو، او دا د الله په کتاب سره حاصلیږي چه په اوږد قیام او په عاجزئ سره په مانځه کښې تلاوت وکړے شي او د الله نه وغوښتلے شي. الله تعالی فرمائی: ﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنٰهُم بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴾ [مومنون:٧٦] (او مونږ دوئ په عذاب کښې ګرفتار کړل، لیکن دوئ دَ خپل رب مخے ته ښکته نشو اونهٔ زاري کوي).

او فرمائی: ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَىٰ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُم بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴾ [انعام:٤٢] (او مونږ ستا نه مخکښې نورو امتونو ته هم (انبیاء او رسولان) لیږلي، بیا مونږ هغوی په لوږه او تکلیف کښې اخته کړل چه کیدے شي عاجزي او انکساري اختیار کړي).

دے وجے نه په مانځه کښې د الله کتاب لوستل د شفاء او علاج حاصلولو د اسبابو نه لوئے سبب دے. دے سره د نورو بدني ورزشونو حاجت نهٔ پیښیږي.

په دے باره کښې د علامه ابن القیمؒ کتاب [الطب النبوی] عمده کتاب دے.

نو د الله د کتاب لوستلو په وخت دا او هغه مخکښې ذکر شوي اغراض او مقاصد په ذهن کښې ساتل پکار دي.

د الله د کتاب نه د نفع حاصلولو لپاره خلورم **قدم**، یا په قرآن کښې د تدبر او فکر کولو لپاره **خلورمه چابي:** قیام بالقرآن دے. یعنی د شپے په مانځه کښې قرآن لوستل.

د قرآن د تدبر او ددے نه د نفع اغستو په چابیانو کښې دا لویه او عظیم الشان چابی ده. په ګڼړو نصوصو کښې ددے اهمیت راغلے، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴾ [اسراء: ٧٩] (او د شپے په څهٔ برخه کښې د تهجدو په مانځه کښې قرآن لوله، دا به ستا لپاره زیاتي مونځ وي، امید دے چه ستا رب به تا (مقام محمود) ته ورسوي).

او فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا نِّصْفَهُ أَوِ انقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴾ [مزمل:١-٤] (اے څادر اغوستونکیه ته په شپه کښې مانځه لپاره ودریږه، سیوا دَ لږ وخت نه، نیمائی شپه یا ددے نه څهٔ کمه کړه یا ددے نه څهٔ زیاته کړه، او قرآن په مزه مزه لوله، زر دے چه مونږ به په تا باندے یو درونډ کلام نازل کړو).

او فرمائی: ﴿ لَيْسُوا سَوَاءً مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴾ [آل عمران: ١١٣] (دا خلق سره برابر نهٔ دي، د اهل کتابو یوه ډله په حق باندے ده، دا خلق په شپو کښې د الله د آیتونو تلاوت کوي او سجده کوي).

Maktaba Tul Ishaat.com

اوفرمائی: ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴾ [زمر: ۹] (آيا داسے كس بهتر دے) يا هغه چه د شپے د سجدے او قيام په ذريعه د خپل رب په عبادت كښ لګيا وى، د آخرت لـه عـذابه يريږى، او دَ خپل رب نه د هغهٔ د رحمت اميد لرى. اے زما نبى ! تهٔ ووايه چه آيا پوهيدونكے او ناپوهه برابريدے شى، بيشكه صرف عقل والا نصيحت حاصلوى).

او نبى كريم ﷺ فرمائى: [لَا حَسَدَ إِلَّا فِى اثْنَتَيْنِ: رَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُوْمُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ ، وَرَجُلٍ آتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ]

(د دوه كسـانو نـه سيـوا بـل هيـڅ ته پسخيد نهٔ دى پكار : يو هغه سړے چه الله ورته قرآن زده كړے او هغه ئے د شپے او ورځے لولى، او بل هغه سړے چه الله ورله مال وركړے چه هغه ئے د شپے او ورځے خرچ كوى).

[بخارى ، مسلم ، اصحاب السنن]

وګوره: [ينفقه] ئے څنګه د [يقوم به] سره ئے جمع كړے؟ ددے نه معلوميږى چه چاله الله قرآن وركړے وى او د شپے ئے په مانځه كښے نهٔ لولى، نو دا د هغه چا پشان دے چه الله ورله مال وركړے وى او خرچ كوى ئے نهٔ.

ددے حديث تائيد په هغه حديث سره هم كيږى چه هغه په دے الفاظو سره راغلے:

[تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرَؤُوْهُ وَأَقْرِؤُوْهُ، فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَهُ فَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوْحُ رِيْحُهُ فِى كُلِّ مَكَانٍ. وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَرَقَدَ وَهُوَ فِى جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ أُوْكِىَ عَلٰى مِسْكٍ]

(قـرآن زده كـړئ او دا خپـلـه هـم لـولـئ او بـل چاته ئے هم وروزده كوئ څكه د هغه چا مثال چه قـرآن زده كـړى او د شپے ئے په تهجدو كښے لولى د هغه توشه دان پشان دے چه هغه د مشكو نه ډك وى او په هر ځائے كښے د هغے نه خوشبوئے خيژى. او د هغه چا مثال چه قرآن ئے زده كړو او د شپے اوده وى (په مانځه كښے ئے نهٔ لولى) د هغه ګوډى پشان دے چه د مشكو نه ډك وى خو خُلهٔ ئے په تسمه تړل شوى وى).

دے حديث نه معلومه شوه چه چاله الله قرآن وركړے وى او د شپے ئے په مانځه كښے نهٔ لولى نو دا د هغـه كـس پشـان دے چـه خـوشبـوئے واخلى او هغه ئے په بوتـل كښے بنده ساتلے وى او هيڅ فائده ترے نهٔ حاصلوى.

د قرآن د ياد ساتلو سبب دادے چه دا د شپے په مانځه كښے ولوستل شى:

لكه ابن عمر ﷺ فرمائى: نبى كريم ﷺ ارشاد فرمايلے:

[إِذَا قَامَ صَاحِبُ الْقُرْآنِ فَقَرَأَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ذَكَرَهُ وَإِنْ لَمْ يَقُمْ بِهِ نَسِيَهُ]

(کله چه قرآن والا قرآن د شپې او ورځې لولي نو یاد ئې پاتې کیږي او که دا په مانځه کښې نهٔ لولي نو ترې هیر به شي)۔
[مسلم: ۱۷۸۹ ، نسائی: ۵/ ۲۰ ، احمد: ۲/ ۳۵]

دې حدیث نه معلومه شوه چه په قرآن کښې د سوچ او فکر کولو او ددې یاد ساتلو او په ذهن کښې ددې د حاضر لرلو لپاره دا په مانځه کښې لوستل ډیره نفع ورکوي۔ کله چه انسان ته څهٔ مشکل راپیښ شي او یائې سینه تنګه شي او ژوند ئې تنګ شي نو قرآن دهٔ لره ددې مشکلاتو نه ویستلې شي۔

د مصیبت او سختیو په وخت الله تعالیٰ د دوه خبرو حکم کړې: (۱) صبر (۲) صلاۃ۔ الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ ﴾ [بقره:۱۵۳] (اې ایمان والو! په صبر او مانځه سره مدد واخلئ، یقیناً الله د صبر کونکو سره دې)۔

او نبی کریم ﷺ ته به چه کله څهٔ مصیبت راغې نو زر به مانځه ته ودریدهٔ۔ [ابوداود]
په حدیث کښې دي: [وَكَانُوْا اِذَا فَزِعُوْا فَزِعُوْا اِلَى الصَّلَاةِ]
(انبیاء کرامو – علیهم السلام – باندې به چه کله څهٔ ویره راغله نو فورًا به مانځه پورته شول)۔ [الصحيحة]

په دې کښې راز دادې: چه په مانځه کښې د الله کتاب لوستل کیږي او دا د ټولو مشکلاتو حل دې، نو کله چه مؤمن بندهٔ مانځه ته ودریږي او د الله کتاب لولي نو ددې د تلاوت او په دې کښې د فکر کولو په برکت په دهٔ باندې مشکلات آسانیږي او دا ډیره نفعمنه دوائی ده۔ والحمد لله۔

بعضِ علماء فرمائي: قرآن چه کله د مانځه سره راجمع شي نو ممکنه ده چه ددې تشبیه ورکړې شي د هغه آکسیجن سره چه هغه د هائیدروجن سره یوځائې شي چه ددې د ترکیب او یوځائې کیدو په نتیجه کښې هغه اوبهٔ پاتې کیږي چه په هغې پورې د بدنونو ژوند تړلې شوې۔ نو دغه شان چه کله قرآن او مونځ دواړه جمع شي نو ددې په نتیجه کښې د زړهٔ ژوند، صحت او قوت پیدا کیږي۔ دې وجې نه د هغه فضیلت نه تعجب نهٔ دې پکار کوم چه په مانځه کښې د قرآن لوستلو په وجه راځي۔

لکه د عبد الله بن عمرو ﷺ نه روایت دې، رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې:
[مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ ، وَمَنْ قَامَ بِمَائَةِ آيَاتٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ ، وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقْنْطِرِيْنَ]

(چاچه په تهجدو کښې لس آیتونه ولوستل هغه به د غافلینو نه ونه لیکل شي، او چاچه لس

Maktaba Tul Ishaat.com

آیتونه ولوستل هغه به د قانتینو (ډیره عاجزی کونکو) نه شمار شی۔ او چاچه زر آیته ولوستل هغه به د غټې خزانې ګټونکو نه حساب شی)۔

[صحیح ابن حبان: ٦/ ٣١٠، ابن خزیمة: ٢/ ١٨١، دارمی: ٢/ ٥٢٣، ابوداود: ٢/ ٥٧، باسناد صحیح]

ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

[أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ أَنْ يَجِدَ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ]

(آیا په تاسو کښې څوك دا خوښوی چه کله خپل کور ته راشي نو درې غټې او چاقې لنګې اوښې بیامومی؟ مونږ عرض وکړو، ولې نه! وې فرمایل: درې آیتونه چه په تاسو کښې ئې یو کس په مانځه کښې لولی هغه ددهٔ لپاره د درې لویو چاقو اوښو نه زیات بهتر دی)۔

[مسلم: ١/ ٥٥٢، ابن ماجه، دارمی]

او زیاتی دا چه بنده کله په مانځه کښې داخل شی نو الله ته زیات نزدې کیږی او هغه ورته توجه کوی۔ د انس رضی الله عنه په حدیث کښې دی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی: [أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّهُ مُنَاجٍ رَبَّهُ وَرَبُّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ]

(اې خلکو! په تاسو کښې چه یو تن په مانځه کښې دننه وی نو دې د خپل رب سره جرګه کونکې وی، او ددهٔ رب ددهٔ او د قبلې ترمینځه وی)۔

[بخاری: ١/ ٥٢، نسائی، ابن ماجه]

په یو ضعیف حدیث کښې راغلی: اې بنده! تهٔ چا ته ګورې! هغه چاته ګورې چه مانه غوره دې؟ [ذکره المنذری فی الترغیب]

ددې باوجود مونځ په وجه انسان د لوبو او مشغلو نه بند وی، په تدبر او تفکر باندې بنده سره مدد کوی او د خاطر جمعیٔ سبب ګرځی۔ دا وجه ده، الله په مانځه کښې د قرآن لوستلو امر فرمایلې، لکه آیتونه مخکښې تیر شول۔

نو د زړهٔ د ژوند او د نفس د تزکیئې او د الله د کتاب نه د نفع اغستلو لپاره د هر څهٔ نه زیات نفعمن شې په مانځه کښې قرآن لوستل دی، او دا حقیقی نفع ده!

ځکه خو به نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شپې قیام نهٔ پریښودهٔ او کله به چه پرې خوب غلبه وکړه یا به ورته څهٔ درد او تکلیف ورسیدهٔ نو د ورځې به ئې قرآن لوستلو او د ورځې به ئې دولس رکعته مونځ کولو۔ [بخاری]

د مغیره بن شعبه رضی الله عنه په حدیث کښې راغلی: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ورتلو اجازه وغوښته

او هغه د مکې او مدینې ترمینځه وو۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: مانه بیګاه شپه خپله قرآنی وظیفه پاتې شوې، زۀ ددې په مقابله کښې هیڅ شئ له ترجیح نشم ورکولې۔
[کنز العمال: ٢/ ١٤١، ٤١٣٧]

وګوره! نبی کریم ﷺ د تهجدو په مانځه کښې قرآن لوستلو له څومره اهتمام ورکوی!
مونږ او تاسو له هم د خپلو ځانونو سره حساب پکار دې چه مونږ داسې يو اوکه نه؟ که داسې نۀ يو نو زمونږ زړونه به څنګه ژوندی شی؟ زمونږ نفسونه به څنګه تزکیه ومومی؟

څلورم قدم: د الله د کتاب نه د فائدې اغستلو او تدبر کولو لپاره:
هغه دا چه قرآن لوستل دې د شپې وی خصوصًا د پیشمنی په وخت: ځکه چه دا د نزولِ الهی وخت دې، په دې وخت کښې د آسمان دروازې پرانستلې شی او دا چونکه د خاموشئ او سکون وخت وی نو په دې کښې ذهن ډیر قوی او تازه وی۔ بلکه انسان ته چه قوت حاصليږی نو دا د شپې په تهجدو سره ملاويږی۔ لکه د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – صفت به د هغوئ دشمنانو هم په دې سره کولو چه دوئ [رهبان اللیل وفرسان النهار] (د شپې عابدان او د ورځې شهسوران) دی۔

په دې باندې قوی ګواه د الله تعالیٰ دا وینا ده: ﴿ وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ عَسٰى أَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا ﴾ [اسراء: ٧٩]

او فرمائی: ﴿ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْاً وَّاَقْوَمُ قِيْلًا ﴾ [مزمل: ٦] (بیشکه د شپې پاسیدل د نفس په جوتی کولو او د خبرې په برابرولو کښې لوئې سبب دې)۔

ابن عباس ﷛ دا وخت ډیر لائق دې چه په دې کښې د قرآن پوهه حاصله کړې شی۔ او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لَيْسُوْا سَوَآءً مِّنْ اَهْلِ الْكِتَابِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ يَّتْلُوْنَ آيَاتِ اللهِ آنَآءَ الَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُوْنَ ﴾ [آل عمران: ١١٣]

او فرمائی: ﴿ اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيْلِ سَاجِدًا وَّقَائِمًا يَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ﴾ [زمر: ٩]

او فرمائی: ﴿ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴾ [فرقان: ٦٤]

او فرمائی: ﴿ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ ﴾ [سجده: ١٦] (دوئ اړخونه د بسترونه جدا وی)۔

او فرمائی: ﴿ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ [ذاريات: ١٧، ١٨]
(دوئ به په شپو کښې کم اودهٔ کیدل او د صبا په وخت به ئې د خپل رب نه بښنه غوښتله)۔

دا ټول آیتونه په دې دلالت کوی چه د الله د کتاب نه د نفع اغستو لپاره بهترین وخت شپه ده۔

حسن بن علی ﷛ فرمائی: ستاسو نه مخکښې خلکو به قرآن د خپل رب پیغام ګڼرلو، د شپې

Maktaba Tul Ishaat.com

به ئې په کښې سوچ کولو او د ورځې به ئې د هغې خيال ساتلو۔
[التبيان، ص: ۲۹]

ابن عمر ﷺ فرمائي: په عبادت کښې اولنۍ شے چه کمے پکښې راځي تهجد او په دے کښې په زوره قرآن لوستل دی۔
[خلق أفعال العباد، ص: ۱۱۱]

سري سقطيؒ فرمائي: ما فائدے وليدلے چه د شپے په تيارۀ کښې نازليدلے۔
[رهبان الليل: ۱/ ۵۲٦]

امام نوويؒ فرمائي: بنده له پکار دي چه د شپے په قرآن لوستلو او د شپے په مونځ کولو کښې ډدۀ اهتمام ډير زيات وي۔ په دے باره کښې ډير آيتونه او حديثونه راغلي۔ د شپے مونځ کول او قرآن لوستل ځکه غوره دي چه په دے وخت کښې بنده د مشغولونکو شيانو نه او په حاجتونو کښې د تصرف کولو نه خاطر جمع وي او د رياء وغيره بربادوونکو خبرو نه زيات محفوظ وي، بله دا چه د شپے د عبادت په باره کښې نصوص راغلي۔ د رسول الله ﷺ اسراء او معراج هم د شپے شوے وه۔ [التبيان: ۱/ ۳٤]

عمر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلے: [مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ: كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ]

(څوک چه د خپلے تولے يا ځينے وظيفے نه د شپے اودۀ پاتے شۀ او بيا ئے هغه د سهار او د ماسپښين مانځه ترمينځه ولوستۀ، نو ددۀ لپاره به داسے وليکلے شي ګوياکه دۀ د شپے لوستلے دے)۔
[مسلم: ۱/ ۵۱۵، ابوداود، نسائي، ابن حبان: ٦/ ۳٦۹]

حديث نه معلومه شوه چه په مانځه کښې د قرآن د يوے مقررے برخے لوستلو اصل وخت شپه ده، او کله چه د څۀ عذر په وجه پاتے شي نو د ورځے ددے په قضائي راګرځولو سره الله د شپے والا ثواب ورکوي۔

ابوداود حفريؒ فرمائي: زۀ کرزه بن وبرهٔ کره د هغۀ کورته ورغلم نو هغۀ ژړل، ما ويلے: ولے ژاړے؟ وے فرمايل: دروازه مے بنده ده، پرده مے رازوړنده ده او زۀ ددے نه منع کړے شوم چه بيګاه خپله وظيفه ووايم! دا صرف په دے وجه کيدے شي چه مانه څۀ ګناه شوے۔
[حلية الأولياء: ۵/ ۷۹]

قرآن لوستل د زړۀ لپاره داسے مثال لري لکه اوبه خور د فصل لپاره۔ لکه څنګه چه اوبۀ خور د ورځے نۀ وي ځکه چه د ورځے ددے اثر کم وي خاصکر کله چه اوبۀ کمے هم وي، ځکه دا د

بخاراتو په ذريعه ختميږي. نو دغه شان کله چه قرآن لوستل کم وي او هغه دورځے په شور او زوګ وي نو ددیے قرآن لوستلو اثر کمزورے وي.

دا وجه ده، ډیر خلك به تهٔ مومے چه هغویٔ به دورځے قرآن لولي نهٔ د شپے نو ځکه خو دویٔ ددیے نه څهٔ ډیر اثر نشي اغستے او په دے کښے دویٔ ته صرف لږه نفع ملاویدے شي.

بل طرفته د شپے تلاوت کول ډیر اثر لري او په زړهٔ او دماغو باندے ښهٔ ژور اثر کوي. دا به ولے نهٔ وي هر کله چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو لپاره شپے مقرر کړي او د هغهٔ رسول (ﷺ) هم ددیے لپاره شپه غوره کړیے. خو افسوس دادیے چه نن صبا په دے وخت کښے د شپے قرآن لوستل او تهجد کول څومره کم شوي دي! والله المستعان.

د الله د کتاب نه د نفع اغستو لپاره پنځم قدم يا پنځمه چابي :

هغه داچه د قرآن په لوستلو کښے ځانله برخه او وظيفه مقرر کړي او د هغے پابندي کوي چه هغه به هيڅ کله نهٔ پريدي لکه د اوبو غونته چه انسان ورته هر وخت حاجت لري، ځکه په قرآن چه انسان عمل کوي نو دا هله کيږي چه انسان په دے علم ولري او ددیے علم چه حاصليږي نو ددیے په لوستلو او په دے کښے په فکر او تدبر کولو سره حاصليږي او دا په بار بار لوستلو او تکرارولو سره راځي. دا وجه ده، سلفو به په خپل حزب (وِرد او وظيفے) باندے هميش والے کولو او دا به ئے هيڅ کله نهٔ پريښوده بلکه کله به چه ترے پاتے شهٔ نو د هغے قضائي به ئے راګرځوله.

لکه د عمر ﷺ په حديث کښے دي، نبي ﷺ فرمائي: (څوك چه د خپلے وظيفے يا د هغے د څينے برخے نه اودهٔ پاتے شي او بيا هغه د سهار او ماسپخين مانځه ترمينځه ولولي نو ددهٔ لپاره به داسے وليکل شي ګوياکه دائے د شپے لوستلے دے).

عقبه بن عامر جهني ﷺ فرمائي: ما چه د کوم وخت نه قرآن لوستلے نو ما د قرآن د يو سورت وظيفه (چه ما ځانله مقرر کړي وي) نهٔ ده پريښے.

د مغيره بن شعبه ﷺ په حديث کښے راغلي : يو سړي رسول الله ﷺ ته د ورتلو اجازه وغوښته او هغه د مکے او مدينے ترمينځه وو. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: مانه بيګاه شپه خپله قرآني وظيفه پاتے شويے، زهٔ ددیے په مقابله کښے هيڅ شئ له ترجيح نشم ورکولے.

[كنز العمال: ٢/ ١٤١، ٤١٣٧]

خيثمة فرمائي: زهٔ عبد الله بن عمرو ﷺ ته په داسے وخت کښے ورسيدم چه هغهٔ په قرآن کښے دننه تلاوت کولو، نو وے فرمايل: دا زما هغه وِرد او وظيفه ده چه بيګاه له به ئے زهٔ د شپے په مانځه کښے وايم.

Maktaba Tul Ishaat.com

[ابن ابی شیبة: ۲/ ۲٤۰]

قاسمؒ فرمائي: مونږ به عائشې رضی الله عنها تـه د سهار مانځه نه مخکښې ورتللو، نو يو ځل مـونږ ورتـه (د سهار مـانځه نه پس) ورغلو نو هغې مونځ كولو۔ (مونږ ترې پوښتنه وكړه چه دا كـوم مـونـځ دې؟) وې فـرمـايل: بيګاه شپه زۀ د خپلې وظيفې نه اوده پاتې شوې يمه، نو زۀ دا هيڅ كله نۀ پريدم۔ [ابن ابی شیبة: ۱/ ٤۱٦]

ابـو بكر بن عمرو بن حزمؒ فرمائي: يو سړی عمر ﷺ كره د غرمې په وخت د ورتلو اجازه وغوښته نو هغه ئې ډير وخته پورې ايسار كۀ او بيا ئې ورته اجازه وركړه، او وې فرمايل: [إِنِّیْ كُنْتُ نِمْتُ عَنْ حِزْبِیْ فَكُنْتُ أَقْضِيْهِ] (زۀ د خپلې وظيفې نه اودۀ پاتې شوې ووم نو ما د هغې قضائي راوړله)۔ [ابن ابی شیبة: ۱/ ٦...]

ابن الهادؒ وائي: مانه نافع بن جبيرؒ پوښتنه وكړه : تۀ په څو ورځو كښې قرآن لولې؟ ما ويل: زۀ ئې نـۀ مـقـرروومـه۔ نـافـعؒ راتـه وفـرمـايـل: داسې مـۀ وايه چه زۀ ئې نۀ مقرروم ځكه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ما د قرآن يوه برخه ولوستله۔ [ابو داود: ۱/ ۱۳۹۲]

ددې حـديـثـونـو او د سـلـفـي آثـارو نـه مـعـلومـه شـوه چه خپل ځانله د قرآن څۀ برخه او وظيفه مقررول پكار دي چه انسان د هغې پابندي كوي او هر وخت ئې لولي۔

تـاله مناسب دي چه تۀ په دې باندې پوره حرص وكړې او دا په هر كار باندې رامخكښې كړې او ستـا زړۀ دې تـر هـغـه وختـه پـورې نـاقلاره وي تر څو چه تا دا په خپل وخت كښې لوستلې نۀ وي ياكه پاتې شوې وي نو چه ددې قضائي دې راوړې نۀ وي۔ د كوم عمل چه تۀ قضائي نۀ راوړې او د هـغـې كـول اونـۀ كـول ستـا پـه نيز برابر وي نو دا دليل دې چه ستا په نيز د دغه عمل څۀ اهميت نشتـه۔ او كـلـه چـه تـۀ د هـغـې د راګرځـولـو حرص لرې نو دا ستا د كاميابئ چابي ده۔ الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ﴾ [طه: ۱۲۳] (څوك چه زما د هدايت پسې روان شي نو نۀ به (په دنيا كښې) ګمراه شي اونۀ به (په آخرت كښې) بدبخته)۔

او دا ډيره مفيده دوائي ده، او كله چه الله ستا دا رښتينې رغبت او حرص معلوم كړي، نو هغه بيا تاته خپلې دروازې پرانيزي او په دې كښې درته بركت اچوي او ددې اثر بيا ستا د ژوند ټولو اړخونو ته رسيږي۔

زۀ دا نـۀ وايم چه ګنې په دې خبره صرف تجربه ګواه ده بلكه په دې باندې شريعت هم ګواه دې، دا څـۀ دومـره وړوكـې عـمـل نـۀ دې چه ددې نتيجه دې صرف په تجربو سره ثابته شي۔ زمونږ به ژونـد كښې چه كوم نقص او نيمګړتيا راځي نو د هغې سبب دا دې چه مونږ دا آسان عمل پريښې

دے۔ دا عمل چه الله چاته آسان کړی نو آسان خو دے لیکن نفع ئے ډیره زیاته عامه ده چه ددے کونکے خامخا په پوره کامیابئ سره کامیابیږی۔

نو هره شپه چه تهٔ د خپلے وظیفے پابندی کوے نو دا پوره دینی او دنیوی کامیابی ده۔

*** مسئله : د قرآن ویشلو طریقه او د ختم موده :**

قرآن لوستل د علاج پشان مثال لری چه یو معلوم وخت غواړی چه نهٔ د هغے نه زیاتے وکړے شی اونهٔ کمے ترډے چه خپل اثر راښکاره کړی، ځکه که یو دوائی د خپل وخت نه زیات روسته استعمال کړے شی نو اثرئے کمزورے کیږی اوکه د مناسب وخت نه مخکښے استعمال کړے شی نو بدن ته ضرر ورکوی۔ نو دغه شان قرآن لوستل هم دی، ددے لپاره نبی کریم ﷺ اووهٔ ورځے تر میاشت پورے مقرر کړی دی او د درے ورځو نه په کمو کښے ئے د قرآن لوستلو نه منع فرمایلے، او د څلویښتو ورځو نه زیات قرآن پریښودلو نه په حدیثونو کښے منع راغلے۔

اوس بن حذیفه ثقفی رضی الله عنه فرمائی: مونږ رسول الله ﷺ ته د ثقیف قبیلے په وفد کښے راغلو نو خپل مینځ کښے یو څو معاهده کونکے قبیلے مغیره بن شعبه رضی الله عنه کره دیره شوے او رسول الله ﷺ بنی مالك قبیله په خپله یو ګول خیمه کښے دیره کړه، نو نبی کریم ﷺ به هره شپه د ماسخوتن نه روسته مونږ ته راتللو او مونږ ته به ئے په ولاړه ولاړه خبرے کولے ترډے چه یوه خپه به ئے د سترې کیدو په وجه بلے طرفته مائله کړه، مونږ ته به هغوئ زیاتره د سختیو هغه خبرے کولے چه د هغے سره د خپل قوم قریشو له خوا مخامخ شوے وو او فرمایل به ئے: نن وخت او مخکنے وخت سره برابر نهٔ دی، مخکښے مونږ کمزوری او ذلیله ګڼړل شوی وو، او کله چه مونږ مدینے ته لاړو نو جنګ زمونږ او د هغوئ ترمینځه د کوهی د ډولچو پشان (برابر) وو، کله به مونږ په هغوئ غلبه وکړه اوکله به هغوئ په مونږ غلبه وکړه۔ (راوی وائی) یوه شپه د نبی کریم ﷺ د خپل هغه وخت نه روستو راغے په کوم کښے چه به مونږ ته راتللو نو ما عرض وکړو: اے د الله رسوله ! نن شپه تاسو مونږ ته ناوخته راغلئ! وے فرمایل: ماته خپل قرآنی وظیفه پاتے وه نو ما بده وګڼړله چه ددے د ختمولو نه مخکښے زهٔ ووځمه۔

اوس بن حذیفه وائی: ما د رسول الله ﷺ د ملګرو نه پوښتنه وکړه چه تاسو به څنګه قرآن تقسیمولو؟ وے فرمایل: په درے برخو، په پنځو برخو، په اوو برخو، په نهه برخو، په یوولسو برخو، په دیارلسو برخو، او په مفصل والا برخه باندے دے۔

[ابوداود: ۲/ ۵۵، ۱۳۹۳، ابن ماجه، احمد: ٤/ ۹، طیالسی: ۱/ ۱۵۱، واسناده حسن، وذکره شیخ الاسلام: ۱۳/ ٤۰۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

او د عثمان ﷺ نـه ئې ذکر کړی چه دوئ بـه سورتِ بقره د جُمعې په شپه شروع کړه او د زیارت (پنجشنبې) په شپه به ئې ختمو له۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی: بیشکه زهٔ خپله وظیفه لولم او زهٔ په بستره یا په کټ ناسته یم۔
[رواه الطبرانی کما فی المجمع: ۲/ ۲٦۹، ورجاله رجال الصحیح]

ابن مسعود ﷺ فـرمائی: قـرآن بـه د درې ورځـو نه په کمو کښې نشی لوستلې، دا په اوو ورځو کښې لولئ، او انسان له پکار دی چه د خپلې وظیفې پابندی کوی۔
[رواه الطبرانی کما فی المجمع: ۲/ ۲٦۹]

امام نوویؒ فرمائی: په اووهٔ ورځو کښې قرآن ختمول د زیاتو سلفو عادت وو۔ سیوطیؒ وائی: او دا درمیانه او ښه طریقه ده او دا د زیاتره صحابه کرامو او روستنو خلکو طریقه ده۔

د قرآن د ویشلو طریقه داده چه دا په تدریج سره وی، مثلًا: مفصلات سورتونه به اووهٔ تقسیمه کړی، او هر یو قِسم بهِ هره شپه لولی تردې چه مفصلات ختم کړی۔ او دغه شان به نورې اندازه په دې طریـقـه لـولـی نـو دې سره به لوستونکې عادت شی او قرآن به ئې په ذهن کښې مضبوط کیـنی ان شاء الله۔

شپږمه چابي داچه : قرآن لوستل به په حفظ سره وي:

ددې چابی اهـمیت : د حافظِ قرآن او غیر حافظِ قرآن مثال د هغه دوه مسافرو سړو دې چه په دوئ کښې د یـو تـوښـه کـهـجورې وی او د دویم اوړهٔ وی۔ اولنې کس چه کله وغواړی او کوم ځائې وغواړی په خپله سورلئ باندې خوراك کولې شی۔ او دویم کس به د خوراك کولو لپاره کوزیږی، اوړهٔ به اغږی، اور به بلوی او روټئ به پخوی۔

د عـلـم مـثـال هـم لـکـه د دوائی دې چه ترڅو پورې خیټې ته نهٔ وی رسیدلې او د وینې سره نهٔ وی ګډ شوې نو هغې پورې اثر نهٔ کوی او چه داسې نهٔ وی نو اثر ئې وقتی دې۔

یـا ئې مـثـال لـکه د بیټرئ والا مشین او د هغه مشین دې چه بغیر د بیټرئ نه وی، اولنې په هر ځائې کښې سټارټ کیدې شی او د دویم لپاره بجلی پکار ده۔

ابن عباس ﷺ فـرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې: [اِنَّ الَّذِیْ لَیْسَ فِیْ جَوْفِهٖ شَیْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَیْتِ الْخَرِبِ]

(د کوم انسان په سینه کښې چه د قرآن څهٔ برخه نهٔ وی هغه لکه د شاړ کور دې)۔
[ترمذی: ۲۹۱۳، دارمی: ۲/ ۵۲۱، حاکم، وهو حدیث صحیح]

سهـل بـن عبد اللهؒ خپـل یـو شاګرد نـه پـوښتـنـه وکړه: تاته قرآن یاد دې؟ هغهٔ ویل: نه۔ ویلې:

آفسوس دے په هغه مومن باندے چه قرآن ئے یاد نۀ وی نو دا به په څۀ شئ باندے ترنم (خوش آوازی) کوی؟ په څۀ شئ به مزه اخلی؟ په څۀ شئ به د خپل رب سره جرګه کوی؟

ابو عبد الله د قطان بچو ته ووېل: د ابو سهل بن زیاد نه سیوا ما بل داسے کس نۀ دے لیدلے چه هغه کله هم غواړی نو د قرآن آیتونه ډیر په ښائسته طریقه سره راوباسی، دا زمونږ ګاونډی وو او دۀ به همیشه تهجد کولو او قرآن به ئے لوستلو. د ډیر قرآن لوستلو په وجه ورته قرآن داسے ګرځېدلے وو تۀ به وائے چه قرآن ددۀ مخے ته دے او په غیر د سترګی والی نه ترے د خپلے خوښے آیتونه راوباسی.

[سیر أعلام النبلاء: ۱۵/ ۵۲۱، تاریخ بغداد: ۵/ ۴۵]

په دے طریقے سره مومن کولے شی چه قرآن په خپل ژوند باندے تطبیق کړی او ددے نه پوره نفع واخلی. اوکله چه قرآن په ارماریٔ (او طاقچه) کښے پروت دے نو په خپل روز مره ژوند به ئے څنګه تطبیق کړی؟

بلـه دا چه: قرآن مونږ ولے حفظ کوو؟ د قرآن د حفظ کولو نه مقصد دا چه دا د شپے او د ورځے په اوقاتو کښے ولوستلے شی، او په مانځه کښے ددے په لوستلو کښے مقصد دا چه په دے کښے په الله او په ورځ د آخرت باندے چه کوم علم پروت دے هغه زده کړے شی چه دا هغه علم دے چه په دے سره د انسان حقیقی سعادت او مزیدار ژوند ملاوېږی او په تکالیفو کښے ثابت قدمی نصیب کیږی، او دا هغه ضروری مقصد دے چه تربیت کونکو له پکار دی چه په دے باندے ترکیز وکړی او توجه ورکړی.

د قرآن الفاظ حفظ کول او په همدے باندے اکتفاء کول، د قرآن کریم په عظیم حق کښے کوتاهی کول دی. پکار ده چه د الفاظو د حفظ سره سره ددے د معنو لحاظ هم وساتلے شی دے لپاره چه د حاجت په وخت ددے نه نفع واغستے شی.

اوومه چاپي: آيتونه تكراروول:

د بار بار آیتونو تکرارولو نه مقصد ددے معنو ته ایساریدل دی، څومره چه تکرار زیاتیږی نو ددے د الفاظو نه معنیٰ په ښۀ شان سره ذهن ته راځی. او کله تکرار په دے وجه واقع کیږی چه انسان له یو آیت یایوه قیصه خوند ورکړی نو دا د فهم او تدبر نتیجه وی. اوکله د تدبر وسیله او سبب وی او دا د سلفو عادت وو.

لکه د ابو ذر ﷺ په حدیث کښے دی: نبی کریم ﷺ په مانځه باندے ولاړ وو او تر صبا پورے ئے دا آیت لوستلو: ﴿إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [مائده: ۱۱۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

(یا الله ! کـه تـهٔ دې خـلـکـو لـه عـذاب ورکـوې نـو دا سـتـا بندګان دي، اوکه ښښنه ورته کوې نو بیشکه چه تهٔ غالبه حکمتونو والائې)۔

[النسائی: ۱/ ۱۱۷، ابن ماجه: ۱/ ٤٢٩]

ابن مسعود ﷺ فرمائي: [لَاتَهُذُّوا الْقُرْآنَ هَذًّا، وَلَاتَنْثُرُوْهُ نَثْرَ الدَّقَلِ، قِفُوْا عِنْدَ عَجَائِبِهِ وَحَرِّكُوْا بِهِ الْقُلُوْبَ، وَلَا يَكُنْ هَمُّ أَحَدِكُمْ آخِرَ السُّوْرَةِ]

(قـرآن زر زر مـهٔ وایـئ اومهٔ ئې دَ ردي کجورو پشان شیندئ۔ ددې د عجائباتو سره ودرېږئ او په دې سره خپـلو زړونو له حرکت ورکړئ، او په تاسو کښې دې د یو تن سره دا غم نهٔ وي چه سورت به کله ختموم)۔

[البیهقی فی الشعب: ١/ ٣٤٤، أخلاق حملة القرآن، ص: ١٩]

عباد بـن ضمرهٔ وائي: زهٔ اسماء رضی الله عنها تـه پـه داسې وخت ورغلم چه هغې دا آیتِ کریمه لوستلو: ﴿ فَمَنَّ اللهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴾ [۲۷] (جـنـتیـان به جنت ته د ننوتو نه پس وائي: الله په مونږه احسان وکړو او مونږه ئې د ګرم اورر د عذاب نه وساتلو)۔

عبادؒ وائي: زهٔ د هغې پـه خوا کښې ودریدم نو هغې په الله پورې پناه غوښتله او دعاء ئې کوله۔ عبادؒ وائي: زهٔ بـازار تـه لاړم او خپـل حاجت مې پوره کړو بیا چه کله راواپس شوم نو اسماء دغسې په دغه آیت باندې لګیا وه لوستلو ئې او پناه ئې غوښتله او دعاء ئې کوله۔

[ابن ابی شیبة: ۲/ ۲۵، ٦٠٣٧]

دا قِسم واقعه د عائشې رضی الله عنها نه هم نقل شوې۔

قاسم بن ابی ایوبؒ وائي: سعید بن جبیرؒ دا آیت څهٔ دپاسه شل ځله ولوستهٔ :

﴿ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ إِلَى اللهِ ﴾ [بقره: ۲۸۱] (تـاسـو د هغه ورځې نه ویرېږئ چه په هغې کښې به تاسو الله ته واپس کیږئ)۔

[ابن ابی شیبة: ۷/ ۲۰۳]

محـمـد بـن کعب قرظيؒ فرمائي: که زهٔ ﴿ إِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴾ [زلزال:۱] او ﴿ اَلْحَآقَّةُ ﴾ [حاقه: ۱] سـورتونه بار بار ولولم او په دې کښې فکر او سوچ وکړم، نو دا ماته ددې نه زیاته خوښه ده چه زهٔ ټوله شپه زر زر په قرآن لوستلو تیره کړم۔

[الزهد لابن المبارك: ۹۷]

حسـن بـصريؒ دا آیتِ کریمه تر صبا پورې بار بار ولوستلو : ﴿ وَإِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللهِ لَا تُحْصُوْهَا إِنَّ اللهَ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴾ [نحل: ۱۸] (کـه چرې تـاسـو د الله نـعـمـتونه شمارل وغواړئ نو سرته به ئې ونهٔ

رسوئ بیشکه الله ښښونکے مهربان دے)۔

نو چا تـرے نـه ددے پـه باره کښے پوښتنه وکړه۔ نو هغهٔ وفرمایل: په دے کښے ډیر لوئے عبرت پروت دے ځکـه مونږ چه نظر ښکته کوو او یائے پورته کوو نو خامخا دا په یو نعمت باندے پریوځی او د الله کوم نعمتونه چه مونږ نهٔ پیژنو نو هغه خومره ډیر دی !

[مختصر قیام اللیل، ص: ۱۵۱]

تمیم داری ﷺ دا آیت ټوله شپه په مانځـه کښے بار بار لوستلو: ﴿ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴾ [جاثیه: ۲۱] (آیا کوم خلق چه ګناهونه کوی دوئ به مونږ د هغه خلقو غونته جوړ کړو چه هغوئ ایمان راوړے او نیك عملونه ئے کړی، ددے دواړو ډلو ژوند او مرګ به یو شان وی، دا خلق ډیره خرابه فیصله کوی)۔

[منهاج القاصدین، ص: ٦٨]

ابن قیمؒ فرمائی: دا د سلفو صالحینوؒ عادت وو چه دوئ به یو آیت تر صباحوړے لوستهٔ۔

[مفتاح دار السعادة: ۱/ ۲۲۲]

امام نـوویؒ فرمائی: د سلفوؒ د یوے ډلے نه نقل دی چه په دوئ کښے به یو تن یو آیت ټوله یا اکثره شپه لوستلو او د لوستلو په وخت کښے به ئے په دے کښے سوچ او فکر کولو۔

[الأذکار، ص: ۵۰]

ابن قدامـهؒ فرمائی: تلاوت کونکی له پکار دی چه په خپل ذهن کښے دا خبره کینوی چه دے څهٔ لولی نو دا د بشر کلام نهٔ دے او پکار دی چه په ذهن کښے د خبرے کونکی الله سبحانه وتعالیٰ عظمت حاضر کړی، د هغهٔ په کلام کښے سوچ کوی ولے چه د قرآن لوستلو نه مقصد په دے کښے تدبر کول دی، که چرے تدبر او سوچ کولو لپاره یو آیت بار بار لوستل ضروری شی نو دا دے هم کوی۔

[منهاج القاصدین، : ٦٨]

اتمه چابي: الفاظ د معنو سره تړل :

کله چه تهٔ د قرآن تلاوت کوے نو هر یو آیت د واقعے او پیښو او هغه حالاتو سره تړه چه هغه په تا باندے ستا په روزمره ژوند کښے تیریږی، او دیته تذکر او تذکیر بالقرآن وائی (یعنی د قرآن نه پند او نصیحت حاصلول) او دا ربط او تړل کله الله د خپل طرف نه په یو بنده باندے داسے راپرانیزی چه په یو آیت کښے ګڼر رازونه مونږ. او کله دا ربط او تړل د آیتِ کریمه د تکرارولو

Maktaba Tul Ishaat.com

په وجه مومي، څکه تهٔ چه کله یو آیت تکرار کړې نو په دې کښې به یوه نوې معنیٰ او یوه نوې فائده بیاموې چه ددې نه مخکښې به تا دا نهٔ وی موندلې. پکار ده چه په واقعې او پېښو باندې دا تطبیقول تهٔ مضبوط یاد کړې تردې چه تهٔ د خپل ژوند په حالاتو کښې د هر یو وړوکی او غټ حالت لپاره د الله د کتاب نه دلیل بیامومې.

نهمه چابي : ترتیل کول :

ترتیل قرآن په قلاره قلاره لوستلو، د آیت د اول او آخر او د معنې د پوره والی لحاظ ساتلو او په دې شان تلاوت کولو ته وائی چه لوستونکے چه څهٔ لولی په هغې کښې سوچ او فکر هم کوی. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ﴾ [مزمل: ٤] (او قرآن په دمه دمه وایه).

ابن کثیرؒ فرمائی: دا په مزه مزه لوله څکه چه دا به ستا لپاره د قرآن په فهم او تدبر کښې مدد کونکے جوړیږی.

او د نبی کریم ﷺ قرائت هم داسې وو لکه عائشه رضی الله عنها فرمائی: [كَانَ يَقْرَأُ السُّوْرَةَ فَيُرَتِّلُهَا حَتّٰى تَكُوْنَ أَطْوَلَ مِنْ أَطْوَلَ مِنْهَا]

(نبی کریم ﷺ به یو سورت په مزه مزه لوستلو تردې چه هغه به د یو اوږد سورت نه هم زیات اوږد شو). [صحیح مسلم: ٤/ ٥٠٧]

انس ﷺ نه د نبی کریم ﷺ د قرائت په باره کښې پوښتنه وشوه نو وې فرمایل: هغه اوږد قرأت وو، بیا ئې بسم الله الرحمن الرحیم ولوستهٔ، او بسم الله، الرحمن، او الرحیم درې واړه ئې راښکلی راښکلی ولوستل. [فتح الباری: ٨/ ٧٠٩]

ام سلمه رضی الله عنها نه د نبی کریم ﷺ د قرائت په باره کښې پوښتنه وشوه، نو وې فرمایل: نبی کریم ﷺ به هر آیت باندې قرائت بندولو، لکه [بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ، الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ، مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ]

[احمد: ٦/ ٣٠٢ ، ابوداود]

حسن بصریؒ فرمائی: اې د آدم ځویه ! ستا زړهٔ به څنګه نرم شی چه ستا ټول فکر آخر ته د سورت په رسولو کښې وی.

[مختصر قیام اللیل ، ص: ١٥٠]

ابن مسعود ﷺ هغه وخت په سنان بن نهیکؒ باندې رد وکړو هر کله چه هغهٔ تیز تیز قرائت کولو. هغه وائی: ما بېګاه مفصلات (یعنی د سورتِ قاف نه تر آخره پورې) سورتونه ولوستل. نو ابن مسعود ﷺ وفرمایل: [هَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ! إِنَّا قَدْ سَمِعْنَا الْقِرَاءَةَ وَإِنِّيْ لَأَحْفَظُ

الْقُرَنَاءَ الَّتِیْ یَقْرَأُ بِهِنَّ النَّبِیُّ ﷺ]

(آیا د شعرونو پشان زر زر دے ولوستل؟ حالانکه مونږ ته خو د نبی ﷺ قرائت آوریدلے دے او ماته هغه یوشان سورتونه معلوم دی چه هغه به نبی کریم ﷺ لوستل)۔

[بخاری، مسلم، احمد: ۱/ ٤١٧]

ابن مسعود ﷛ خپل شاګرد علقمۃ ته وفرمایل - په داسے حال کښے چه هغهٔ زر زر قرائت کولو - : [فِدَاكَ أَبِیْ وَأُمِّیْ! رَتِّلْ فَإِنَّهٗ زَیْنُ الْقُرْآنِ]

(زما مور پلار درنه قربان شه! په آرام سره قرآن لوله ځکه په دے سره قرآن ښائسته کیږی)۔

[بیهقی: ۲/ ٥٤، ابن ابی شیبة: ۲/ ۲٥٥]

ابن مفلحؒ فرمائی: د ترتیب کمه اندازه داده چه د قرآن په لوستلو کښے تادی ونهٔ کړے شی بلکه الفاظ ئے د یو بل نه جدا جدا وویل شی، او کامله اندازه ئے داده چه په آرام سره قرائت وکړے شی او په هر آیت وقف وکړے شی۔

[الآداب الشرعیة: ۲/ ۲۹۷]

دکتور لاحمؒ فرمائی: د قرآن د تلاوت کومه طریقه چه مونږ ته د نبی کریم ﷺ او د هغهٔ د صحابه کرامو نه رانقل شوے، هغے نه معلومیږی چه په آرام او خوش آوازئ سره قرآن لوستل خومره اهم دی! او دا حقیقت په ډاګیزه توګه هغه خوك معلومولے شی چه خوك د تجوید په کتابونو نظر اچوی، او دا کار صرف د قرآن لپاره رانقل شوے، د احادیثو، خطبو او وعظونو لپاره هیڅ شے نهٔ دے نقل شوے۔

او خوك چه د تجوید د قواعدو په تطبیقولو سره قرآن لولی او خوك ئے چه ددے نه بغیر دغسے زر زر لولی، ددے دواړو ترمینځه په خوند او مزه کښے ډیر زیات فرق دے۔

زهٔ وایم: د الله تعالیٰ دا فرمان: ﴿ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّقْضٰٓی اِلَیْكَ وَحْیُهٗ﴾ [طه: ١١٤] (او تهٔ دَ قرآن یادولو لپاره جلتی مهٔ کوه، مخکښے ددے نه چه تاته ددے وحی پوره شی)۔

دے خبرے ته اشاره کوی ځکه الله تعالیٰ ددے نه مخکښے دا ذکر کړی: ﴿ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِیًّا وَّصَرَّفْنَا فِیْهِ مِنَ الْوَعِیْدِ لَعَلَّهُمْ یَتَّقُوْنَ اَوْیُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴾ [طه: ١١٣] (او دغه شان مونږ قرآن په عربئ ژبه کښې نازل کړے، او په دے کښې مونږ خلقو ته دَ دهمکی ورکولو او دَ ویرولو قِسما قِسم اندازونه اختیار کړی، دے لپاره چه دوئ دَ تقویٰ لاره اختیار کړی، یا (قرآن) دَ دوی په زړونو کښې څهٔ عبرت او نصیحت پیدا کړی)۔

بیا ئے دے نه پس د زر زر قرآن لوستلو نه منع کړے، نو معلومه شوه چه قرآن نه صرف په

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه صورت کښې نفع اغستل ممکن دی چه انسان ئې زر زر ونهٔ لولی۔
دارنګه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ﴾ [قیامه: ١٦]
(خپله ژبه دے په سره ددے لپاره مهٔ خوزوه چه په دے تادی وکړې)۔
او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ ﴾ [اسراء: ١٠٦]
(دے لپاره مے لږ لږ رالیږلے چه تهٔ ئې په مزه مزه خلکو ته ولولے)۔
او دا په تجربه کښې هم راغلے خبره ده چه د انسان زړهٔ هله نرمیږی او د قرآن نه هله نفع پورته کوی چه کله دا په آرام آرام سره ولوستے شی او په دے کښې تدبر وکړے شی۔
حذیفه ﷺ فرمائی: یو ځل ما رسول الله ﷺ سره د شپے مونځ کولو نو هغوئ سورتِ بقره شروع کړه او هغه ئې ولوستهٔ بیائے سورتِ نساء شروع کړه او هغهٔ ئې هم ولوستهٔ او بیا ئې سورتِ آل عمران شروع کړو او هغه ئې هم ولوستهٔ چه په قلار قلار تلاوت ئې کولو۔ کله به چه په یوداسے آیت ورتیر شهٔ چه په هغے کښې به تسبیح وه نو سبحان الله به ئې ویله، او که د غوښتنے په یو آیت به ورتیر شهٔ نو سوال به ئې کولو، او که د پناهئ په آیت به ورتیر شهٔ نو پناه به ئې غوښتله۔
[مسلم: ١/ ٥٣٦، نسائی]
او دا قاعده ده چه کله په دے دوه خبرو کښې تعارض راشی چه قرآن څومره ولولم؟ او قرآن څنګه ولولم؟ نو دویمے خبرے له به ترجیح ورکولے شی۔
زید بن ثابت ﷺ نه چه کله پوښتنه وشوه: ستا څهٔ رائے ده چه قرآن په اووهٔ ورځو کښې ولوستلے شی؟ وے فرمایل ښه خبره ده، خو په خپل ځانی زهٔ چه په پنځلسو یا په لسو ورځو کښې قرآن ولولم، دا ماته ډیره خوښه ده، او مانه پوښتنه وکړه چه دا ولے؟ هغه تن وویل: زهٔ تانه ددے پوښتنه کوم۔ وے فرمایل: دے لپاره چه زهٔ په دے کښې سوچ فکر وکړم او ددے په آیتونو باندے ودریږم۔
[الموطأ: ١/ ٢٠١]
حافظ ابن حجرؒ فرمائی: څوك چه قرآن کریم په مزه مزه لولی او فکر په کښې کوی ددهٔ مثال د هغه چا دے چه هغه یوه قیمتی ملغلره صدقه کړی۔ او څوك چه زر زر تلاوت کوی ددهٔ مثال د هغه چا دے چه هغه څو ملغلرے صدقه کړی خو د هغے قیمت د هغه یوے هومره وی، او کله د هغه یوے قیمت ددے نورو نه زیات وی، او کله برعکس وی۔
[فتح الباری: ٣/ ٨٩، والسیوطی فی الاتقان]
صحیح خبره داده چه څوك زر زر تلاوت کوی نو ددهٔ مخے ته د تلاوت د مقاصدو نه یو مقصد

دے چه هغه د تلاوت ثواب دے۔ او ځوك چه په آرام او سوچ فكر سره تلاوت كوی نو ددهٔ مخے ته كنړ مقصدونه دی، دے به د قرآن نه پوره نفع واخلی او د نبی كريم ﷺ او د صحابه كرامو – رضی الله عنهم – په نقشِ قدم به روان شی۔

لسمه چابي: په زوره قرآن لوستل:

ابو هريره رضی الله عنه فرمائی: [لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ]

(هغه ځوك مونږ نه نهٔ دے چه قرآن ئے په خوش آوازئ سره نهٔ لولی)۔

دارنګه د ابو هريره رضی الله عنه نه د نبی كريم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل شوے: [مَا أَذِنَ اللهُ لِشَیْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِیٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَجْهَرُ بِالْقُرْآنِ]

(الله هيڅ يو شئ ته دومره په شوق سره غوږ نهٔ دی ځومره چه ښائسته آواز والا نبی ته چه هغه قرآن لولی غوږ دی)۔ [بخاری، مسلم]

ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه فرمائی: [إِنِّی لَأَعْرِفُ أَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْأَشْعَرِيِّينَ بِالْقُرْآنِ حِينَ يَخْلُونَ بِاللَّيْلِ وَأَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ أَصْوَاتِهِمْ بِالْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ، وَإِنْ كُنْتُ لَمْ أَرَ مَنَازِلَهُمْ حِينَ نَزَلُوا بِالنَّهَارِ]

(زهٔ د اشعر قبيلے والا ملګرو آوازونه په قرآن سره پيژنم هر كله چه دوئ د شپے يواځے شی او زهٔ د دوئ ځايونه د شپے د قرآن لوستلو د وجے پيژنم اګر كه د ورځے ما د هغوئ هغه ځايونه نهٔ دی ليدلی په كوم كښے چه دوئ پړاؤ اچولے)۔

[بخاری، مسلم]

ام هانیء رضی الله عنها فرمائی: مابه د نبی كريم ﷺ تلاوت آوريدهٔ او زهٔ به د خپل كور په چت باندے ووم۔

[رواه النسائی وحسنه الألبانی: ١٠١٣، احمد: ٦/ ٢٤١، ابن ماجه]

ابو قتاده رضی الله عنه نه روايت دے چه نبی كريم ﷺ ابو بكر صديق ته وفرمايل: خپل آواز معمولی پورته كه۔ او عمر فاروق ته ئے وفرمايل: خپل آواز معمولی شان ښكته كه۔

[رواه ابوداود والترمذی مطولا]

او ابن عباس رضی الله عنه نه پوښتنه وشوه چه نبی كريم ﷺ به د شپے په مانځه كښے څنګه جهر كولو؟ ورے فرمايل: [كَانَ يَقْرَأُ فِی حُجْرَتِهِ قِرَاءَةً لَوْ أَرَادَ حَافِظٌ أَنْ يَحْفَظَهَا فَعَلَ]

(هغوئ به به په خپله حجره كښے داسے په قلاره قرآن لوستهٔ كه چرے يوتن اراده كړے وے چه دا ياد كړی نو يادولے ئے شو)۔

[قيام الليل للمروزی، ص: ١٣٣]

ابن عباس رضی الله عنه هغه سړی ته چه د هغهٔ په حلقه خلكو كښے مشهوره وه چه دا زر زر قرآن لولی،

Maktaba Tul Ishaat.com

وفرمایل: [إِنْ كُنْتَ فَاعِلًا فَاقْرَأْ قِرَاءَةً تَسْمَعُهَا أُذُنُكَ وَيَتْبَعُهَا قَلْبُكَ]
(که ته خامخا دا کار کوې نو بیا داسې تلاوت کوه چه ستا غوږونه ئې آورې او زړهٔ د هغې پیروي کوي)۔ [البیهقي: ۲/ ۱٦۸]

په جهر سره قرائت کول د زړهٔ په سوچ او فکر کښې ښهٔ مدد کوي، دا وجه ده کله انسان دیته هغه وخته مجبوریږي کله چه پرې کارونه سخت شي او فکر کول گران شي۔

ځینې خلك په دې وجه پټ تلاوت کوي چه زر زر ئې ولولي او د قرآن زیاته برخه ولولي، خو دا ښکاره خطائي ده، ولې چه په دې حالت کښې انسان د فکر او تدبر نه محرومیږي۔

او د جهر ادنیٰ اندازه داده چه انسان ئې خپل غوږ ته واوروي او د لوستلو په وخت پرې ژبه اوشوندې وخوزوي۔ او اعلیٰ مرتبه ئې داده چه خپلو نزدې خنکو ته ئې واوروي، ددې نه زیات فائده نهٔ کوي ځکه چه دې قِسم لوستلو سره انسان ستړې کیږي او د سوچ او فکر په لاره کښې خنډ واقع کیږي او آوریدونکي ته تکلیف ملاویږي۔

د جهر کولو فوائد دادي: ملائك ئې آوري او لوستونکي ته حاضریږي او هغهٔ سره مینه کوي، او دا کار د ذکر او قرآن لوستلو دواړو سره کوي۔ دارنگه د لوستونکي نه او په کوم ځائې کښې چه لوستل کوي، شیطانان تښتي۔ په دې سره کور پاکیزه او معطر جوړیږي۔ او دا اودهٔ راویښوي۔

ابو هریره رضی الله عنه فرمائي: په کوم کور کښې چه تلاوت کیږي د هغې خیر ډیر زیات وي، ملائك ورته حاضریږي، شیطانان ترې وځي۔ او په کوم کور کښې چه د الله کتاب نهٔ لوستې کیږي هغه په وسیدونکي تنگ شي، خیرئې کم وي، شیطانان ورته حاضریږي او ملائك ترې تښتي۔
[رواه ابن المبارك: ۱/ ۲۷۳]

یوولسمه چاپي: په خانسته او غمرن آواز سره د الله کتاب لوستل:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي: [زَيِّنُوْا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيْدُ فِي الْقُرْآنِ حُسْنًا]
(تاسو په خپلو آوازونو سره قرآن ښائسته کړئ ځکه ښائسته آواز سره قرآن ښائسته کیږي)۔
[ترمذی، الترغیب والترهیب]

په دې حقله گڼ حدیثونه راغلي۔

او دا معلومه خبره ده چه څوك په ښائسته آواز سره قرآن لولي نو ددهٔ په ایمان کښې خوند او مزه پیدا کیږي۔

عمر رضی الله عنه به ابو موسیٰ اشعري رضی الله عنه ته حکم کولو چه ما او ملگرو ته قرآن ولوله، دې لپاره چه په دې سره زمونږ ایمان زیات شي۔

[كما في حياة الصحابة]

او نبي كريم ﷺ به د هرچانه په ډير زيات ښائسته آواز سره قرآن لوستلو.

دولسمه چاپي: د ټولو ګناهونو نه توبه وښكل:

ځكه قرآن رڼړا ده او ګناهونه تيرے دي نو دواړه سره سمون نۀ خوري. او د ګناه اثر دا وي چه انسان كله د قيام الليل (تهجدو) نه منع كوي.

لكه ابو سليمان داراني ته خپل ځوئے شكايت وكړو چه د صحت او ځوانئ باوجود رانه قيام الليل پاتے شۀ نو هغۀ ورته وفرمايل: [ذنوبك قد قيدتك] (تۀ خپلو ګناهونو تړلے ئے).

او حسن بصري ته يو سړي دغسے د تهجد پاتے كيدو شكايت وكۀ نو هغۀ ورته وفرمايل: [بِذَنْبٍ أَصَبْتَهُ أَوْ بِشَهْوَةٍ أَصَبْتَهَا]

(دا درنه د ګناه يا د خواهش پوره كولو په وجه پاتے شو).

[كما في السير، والدين الخالص: ٥]

او د ګناه دا اثر دے چه ددے په وجه د قرآن كريم او د نورو عباداتو خوند ختموي.

مالك بن دينار فرمائي: كله چه تۀ په خپل زړۀ كښے سختي يا په بدن كښے ناراستي ومومے نو پوهه شه چه تا لغوه خبرے كړي.

ديارلسمه چاپي: د تلاوت او ذكر اذكار كولو په وخت تملق او چاپلوسي كول :

او دا ډير مهم شے دے چه ډير مسلمانان ددے نه غافله دي ځكه خو دوئ د تلاوت او د مناجات خوند او مزه نۀ مومي. تۀ به وينے چه يوتن به د الله كتاب په غفلت سره لولي، نۀ به شوق او رغبت لري او نۀ چاپلوسي نو بيا كله خوند او مزه موندلے شي؟

همدے ته رسول الله ﷺ په خپل بليغ كلام كښے اشارے فرمايلے :

د ابو ذر ﷺ په حديث كښے دي، رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ :

(درے كسانو سره الله مينه لري او درے كسانو سره بغض لري. هغه درے كسان چه الله ورسره مينه لري، (يو) په كښے هغه كس دے چه يو قوم ته راغے او د هغوئ نه ئے خالص د الله په نوم سوال وكړو نۀ د څۀ رشته دارئ په وجه، او هغوئ ورله څۀ ورنۀ كړل. په دے كښے يوتن د دوئ نه روستو پاتے شۀ او هغۀ له ئے پټ پټه څۀ وركړل چه ددۀ په دے وركړے باندے د الله او د سوالګر نه سيوا بل څوك خبر نشو. او (بل) هغه قوم چه هغوئ ټوله شپه مزل وكړي تردے چه دوئ ته خوب د هر شئ نه زيات محبوب شو نو دوئ سرونه كيښودل او په دوئ كښے يو سړے ودريدۀ او په مانځه كښے زما آيتونه لولي او ماته چاپلوسي كوي. او (دريم) هغه سړے دے چه هغه په يوه

Maktaba Tul Ishaat.com

دسته کښې وي او د دشمن سره مخامخ شي او هغوئ ماتې وخوري، نو هغه خپله سينه رامخامخ کړي تردې چه قتل کړې شي او يا فتح ومومي۔

او کومو درې کسانو سره چه الله بغض لري، نو هغه دادي: (يو) زناکار بوډا۔ (دويم) کبرجن فقير۔ (دريم) مالداره ظالم)۔

[ترمذي، نسائي، احمد: ٥/ ٢٥١، حاکم: ١/ ٤٣٢]

(شيخ البانيؒ دې حديث ته د زيد بن ظبيان راوی په وجه ضعيف ويلي، خو دا حديث امام احمدؒ د ربيع بن خراش په واسطه د ابو ذر نه نقل کړې او په دې کښې دغه راوی نشته۔ سره ددې چه دغه راوی د متابعت په وخت مقبول دې۔ (کما في التقريب) او دا حديث ډير شواهد لري چه د هغې په وجه صحيح ګرځي۔ [وانظر المشكاة: ١/ ١٧٠]

که تهٔ سوچ وکړې نو د ښځې خپل خاوند ته او د شاګرد خپل استاذ ته چاپلوسي کول هم ډير خوند او مزه لري! بلکه دا د ښځې او د شاګرد زينت دې، نو دغه شان دا د عابد لپاره هم زينت او ډول دې۔ [وَلَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ] تهٔ هم که سخت زړې نهٔ ئې نو په دې تجربه وکړه!

څوارلسمه چابي: قرآن داسې لوستل لکه تهٔ به وائې چه تهٔ ئې د الله عز وجل نه آورې چه هغه ئې لولي۔ کله چه د انسان دا تصور پيدا شي نو په تلاوت کښې ډير خوند او مزه راځي۔

احمد بن ثعلبهؒ فرمائي: ما د سلم الخواصؒ نه واوريدل، هغه وائي: ما خپل نفس ته وويل: اې نفسه! داسې قرآن لوله ګوياکه تهٔ ئې د الله عز وجل نه آورې چه هغه پرې تکلم کوي، دې وجې نه په تلاوت کښې خوند راغې۔

[کما في السير: ٨/ ١٨٠، الدين الخالص: ٨]

پنځلسمه چابي: څوک چه غواړي چه د الله عز وجل د کتاب نه نفع واخلي نو هغه دې اول په دې باندې د ايمان لرلو استحضار وکړي، بيا دې دا لولي، نو په دې سره به دې د الله په توفيق سره ښکاره فائده حاصله کړي۔ ددې وضاحت دادې چه کله انسان د تلاوت اراده وکړي نو دا تصور دې وکړي چه دې به اوس د الله کلام لولي چه دا د هغهٔ حقيقي کلام دې او دا د هغه الله عز وجل له خوا راغلې چه هغه ډير اوچت بادشاه دې، نو کله چه ددې استحضار وکړي او بيا تلاوت کوي نو دا به ورله ډيره زياته نفع ورکړي۔

او دې ته قرآن اشاره کړې: ﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّ هُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ ﴾ [فصلت: ٤٤] (تهٔ ووايه چه دا قرآن د هدايت او شِفاء باعث دې هغه خلقو لپاره چه هغوئ ايماندار دي، او څوک چه ايماندار نهٔ دي، د هغوئ د

غوږونو لپاره دا کنږېدل، او د هغوئ د سترګو ړرندوالے دے، دا خلق ډَیو ډیر لرے ځائے نه رابلل کیږی)۔

حسن بصریؒ فرمائی: اے انسانه! که چرے ته قرآن ولولے او بیا پرے ایمان راوړے نو خامخا به په دنیا کښے ستا غم اوږد شی، ویره به دے سخته شی او ژړا به دے زیاته شی۔
[کذا فی السیر: ٤/ ٥٧٥]

او نبی کریم ﷺ فرمائی: د هغه مؤمن مثال چه قرآن ئے لوستلے وی، د سینګترے پشان دے۔ (تر آخره پورے)۔

نو په دے کښے اشاره ده چه ددے نه پوره فائده حاصلول، په دے باندے د ایمان لرلو نه روستو راځی۔

شپاړسمه چابي: په آخرت باندے ایمان لرل، ددے استحضار لرل او د الله نه خوف لرل:

قرآن نه صرف هغه څوك نفع اغستلے شی چه د آخرت د حساب او عذاب نه یریږی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَنْ يَفْقَهُوهُ﴾ [اسراء: ٤٥:٤٦] (او کله چه ته قرآن لولے نو مونږ ستا او د هغه خلقو په مینځ کښ چه په آخرت ایمان نهٔ لری یوه پټه پرده خنډ جوړ کړو۔ او د دوی په زړونو باندے پردے اچوو دے لپاره چه دوی په هغے پو هه نهٔ شی)۔

او فرمائی: ﴿فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَخَافُ وَعِيدِ﴾ [ق [illegible] رسو په قرآن سره هغه چاته نصیحت کوه چه هغه زما د عذابه یریږی)۔ او فرمائی: ﴿إِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَخْشَىٰ﴾ [طه: ۳] (مګر دا پند او نصیحت دے د هغه چا لپاره چه یریږی)۔

او فرمائی: ﴿وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴾ [انعام: ۹۲] (اوکوم خلك چه په آخرت ایمان لری، هغوئ په دے قرآن ایمان لری او دوئ د خپلو مونځونو پابندی کوی)۔

او الله تعالیٰ په قرآن کښے د سلو ځایونو نه زیات آخرت او قرآن شریك ذکر کړے۔ لکه په سورتِ واقعه، حاقه، قیامه، عنکبوت، اعراف، انعام او طٰهٰ وغیره سورتونو کښے۔

په دے کښے اشاره ده چه د قرآن نه پوره فائده وچتول صرف په دے باندے په ایمان سره کیدے شی او د الله نه او د هغهٔ د حساب او عذاب نه په خوف سره کیدے شی۔

او دا ایمان د زړهٔ په نرمولو او په عبادت کښے د خوند په پیدا کولو کښے ډیر زیات نفعمن شے دے۔ الله تعالیٰ دے په خپل فضل او کرم سره مونږ ته دا رانصیب کړی۔

ولسمه چابي: د شپے په **تهجدو کښے قرآن لوستل:**

اګرکه د ورځے تلاوت کښے هم نفع شته دے لیکن د شپے په تلاوت کښے زیاته نفع ده، ځکه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

تـعـالىٰ چـه د قرآن لوستلو لپاره شپه ذکر کړې نو په دې کښې به خامخا څۀ فائده وي، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ ﴾ [اسراء: ۷۹] (او د شپې له خوا په دې قرآن سره ځان بے خوبه کړه) او فرمائي: ﴿ وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَّقِيَامًا ﴾ [فرقان: ٦٤] (اومـومنان هغه خلك دي چه دوئ خپل رب ته د شپې په حالت کښې شپه تيروي).

او فرمائي: ﴿ كَانُوْا قَلِيْلًا مِّنَ الَّيْلِ مَا يَهْجَعُوْنَ وَبِالْاَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ [ذاريات: ۱۸] (دوئ به په شپو کښې کم اودۀ کيدل او د صبا په وخت به ئے د خپل رب نه بخښنه غوښتله).

ددې دلائل مخکښې مونږ ذکر کړي.

او شپه د ماښام نه تر صبا راختو پورې وي خو ډير نفعمن اوقات ئے آخرنئ برخه ده.

اتلسمه چابي: روزه نيول :

که تۀ غواړې چه الله خپل کتاب ته ستا سينه پرانيزي اوزړۀ دې نرم او صفا شي نو نفلي روژې نيسـه، ولې چـه د قـرآن او د روژې تـرمينـځه خصوصي او ژور تعلق دې، دا وجه ده چه الله تعالىٰ قرآن کريم د روژې په مياشت کښې نازل کړې.

﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِىْ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْآنُ ﴾ [بقره: ۱۸۵]

(د رمضان مياشت هغه ده چه په هغې کښې قرآن نازل کړې شوې).

د جبريل عليه السلام دا عادت ووچه په هر رمضان کښې به راتلو او نبی کريم ﷺ سره به ئے د قرآن مذاکره کوله.

د روژې ډيـر زيـات فـضائل دي، يو ډير جامع آيت په کښې دادې: ﴿ وَأَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ﴾ [بقره: ۱۸٤] (که چرې تاسو روژه نيسئ نو دا ستاسو لپاره سراسر بهتري ده).

مـعـلـومـه شـوه چـه د روژو او د قرآن ترمينځه ژور تړون دې. د رمضان د روژو د مشروعيت يو عـظـيـم مـقـصد او حکمت دادې چه زړۀ د قرآن تدبر او سوچ کولو ته تيار شي، هرکله چه د شپې په رمضان کښې قرآن لوستلې کيږي.

کـه پـه رشتيـا سره د قـرآن تدبر کول او ددې نه اثر اغستل غواړې نو تاله پکار دي چه دا ناشنا چابـي اختيار کړه خصوصًا په رمضان کښې، او د مقدام بن معديکرب - رضى الله عنه - په دې حديث عمل وکړه، چه دا فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے:

[مَـا مَلأَ آدَمِـيٌّ وِعَـاءً شَـرًّا مِـنْ بَطْنٍ ، بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ لُقَيْمَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ ، فَإِنْ كَانَ لَامَحَالَةَ فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ ، وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ ، وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ]

(د خيټې نه زيات بدترين بل لوښے انسان نۀ دې ډك کړې، انسان له دا کافي ده چه يو څو نوړئ

خوراك وخوري چه په هغې سره ددهٔ ملا ولاړه وي، اوكه خامخا ډيره خوري نو بيا دے داسے وكړي چه يوه برخه دے خوراك له، بله څښناك له او بله ساه اغستو له مقرر كړي).
[احمد، نسائي، ترمذي وقال: حسن صحيح]
په دے حديث كښے د علمِ طب بنيادي اصول پراتهٔ دي. دا وجه ده، كله چه ابن أبي ماسويه طبيب د ابو خيثمهؒ په كتاب كښے دا حديث ولوستهٔ نو وے فرمايل: كه چرے خلك په دے لماتو عمل وكړي نو مرضونو او بيماريو نه به خلاصے ومومي او د پنساريانو او دوايانو دكانونه به خالي پراتهٔ وي.
د روژے معنیٰ دا نهٔ ده چه تهٔ يواځے د خوراك څكاك نه د يو وخته پورے ځان بند كړے او بيا د روژه ماتي په وخت ددے په څو چنده زيات خوراك څښناك كوے، واقعي چه دا نفعمنه روژه نهٔ ده، نفعمنه روژه خو هغه ده چه د روژه ماتي په وخت انسان خپل ځان پوره موړ نهٔ كړي.
د روژے نه مقصد دادے چه بدن خصوصًا زړهٔ د خوراك څښناك د جراثيمو نه محفوظ شي. او همدا د نبي كريم ﷺ ددے وينا مقصد دے چه: [فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ] (روژه د ځوان سړي لپاره د شهوت د كميدو ذريعه ده).
وجه داده چه كله زړهٔ د خوراك څښناك د زهرو نه آرام بيامومي نو نرم او صفا شي.
مروزيؒ فرمائي: ما د امام احمدؒ نه پوښتنه وكړه: سړے چه كله موړ شي نو په زړهٔ كښے ئے نرمي راځي؟ وے فرمايل: زما خيال نهٔ راځي.
ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: د كوم وخت راسے چه ما اسلام قبول كړے، ما ځان نهٔ دے موړ كړے.
محمد بن واسعؒ فرمائي: د چا خوړل چه كم شو نو خپله به هم پوهه شي او بل به هم پوه كړي، زړهٔ به ئے نرم او صفا شي. او زيات خوراك كول انسان د خپلو ډيرو ارادو نه درنوي.
ابو سليمان دارانيؒ فرمائي: څوك چه د دنيا او آخرت د حاجتونو نه څهٔ حاجت غواړي نو د هغے د پوره كولو نه مخكښے دے خوراك نهٔ كوي ځكه چه خوراك عقل بدلوي.
قثم العابدؒ فرمائي: پخوا به ويل كيدهٔ: د بنده خوراك چه كم شي نو خامخا ئے زړهٔ نرميږي او سترګے ئے لمديږي.
ابو عمران الجونيؒ فرمائي: پخوا به خلكو ويلے: څوك چه خپل زړهٔ روښانه كول غواړي نو هغهٔ له پكار دي چه خوراكه كمه كړي.
ابراهيم بن ادهمؒ فرمائي: څوك چه خپله خيټه په قابو كښے كړي، خپل دين به په قابو كښے كړي. او څوك چه د خپلے لوږے مالك شي نو د ښو اخلاقو مالك به جوړ شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعیؒ فرمائی: ما ځان د شپاړسو کالو راسے نۀ دے موړ کړے، موړوالے زۀ غورزوم ځکه موړوالے بدن درنوی، زیرکتیا ختموی، خوب راکاږی او انسان د عبادت نه کمزورے کوی۔
حسن بن یحیی الخشنیؒ فرمائی: څوك چه خپله اوښکه بهیول او خپل زړۀ نرمول غواړی نو هغه دے په نیمه ګیډه خوراك کوی او په نیمه ګیډه څښاك۔
ابن ابی الحواریؒ فرمائی: ما دا خبره ابو سلیمانؒ ته وکړه، هغۀ وفرمایل: زما په خیال دے خلکو د خپلو ځانونو سره د شپږمے برخے حساب کړے، ورنه په حدیث کښے خو راغلی دی: دریمه برخه د طعام او دریمه برخه د څښاك لپاره پکار ده۔
عائشه رضی الله عنها فرمائی: اولنے بدعت چه په اسلام کښے د رسول الله ﷺ نه پس پیدا شۀ : موړ والے دے، ځکه د خلکو خیټے چه کله مړے شوے نو نفسونه ئے دنیا طرفته مائل شول۔
[انظر الاحیاء ومفاتیح تدبر القرآن، ص: ٧٥]

نولسمه چابي: هر قسمه لغوه کارونو نه ځان ساتل :

د الله د کتاب نه د فائدے اغوستلو لپاره لویه چابی داده چه انسان خپل ځان د هر قِسمه لغوه او بیهوده خبرو او کارونو نه وساتی، خاصکر د ماسخوتن مانځه نه روسته۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴾ [مومنون: ٣] (او مومنان هغه خلك دی چه د بیهوده خبرو نه مخ اړوی)۔ او دا ئے د دویٔ د خشوع نه پس ذکر کړے لکه فرمائی: ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَا تِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ١:٢] (بیشکه هغه مومنان مراد ته ورسیدل چه هغویٔ په خپلو مونځونو کښے عاجزی کونکی دی)۔
بیا ئے ددے نه پس لغوه ذکر کړے چه په دے کښے دیته اشاره ده چه خشوع په هغه چا کښے پیدا کیږی چه هغویٔ د لغوے او بیهوده کارونو او خبرو نه ډډه کوی۔
او نبی کریم ﷺ هم د ماسخوتن مانځه نه روسته د قیصه ګوییٔ نه منع فرمایلے، په دے منع کښے ډیر حکمتونه کیدے شی یو د هغے نه دادے چه قیصه ګوئی زړۀ سختوی او د مخ رڼرا ختموی۔
سلمان ﷺ فرمائی: د شپے په اوله برخه کښے مونځ کوه ځکه دا کار به تا د شپے مانځه ته سپك راپاسوی، او خپل ځان د ماسخوتن نه پس د قیصه ګوییٔ نه بچ کړه ولے چه دا به تانه قیام اللیل او یا د سهار مونځ فوت کړی۔ او فرمائی: د شپے په اوله برخه کښے بیهوده خبرے کول ددے آخر خرابوی۔ [حیاة الصحابة: ٣]

شلمه چابي: د خوب او د تهجد کولو په وخت د آدابو خیال ساتل :

د الله د کتاب نه د نفعے حاصلولو لپاره یوه بله اهمه خبره داده چه تلاوت کونکے د هغه آدابو

خيال وساتی چه هغه د خوب او د قيام الليل سره تعلق لري، نو په سنت طريقه او د الله په ذكر سره او په اوداسهٔ كښې به اودهٔ شي. بيا چه كله تهجدو لپاره پاسي نو دا د عاء به ووائي : [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ] او ددې دعاء په معنیٰ كښې به فكر اوسوچ وكړي او دا به په ذهن كښې حاضر كړي چه صبا له د قيامت په ورځ به هم د قبر نه داسې پاسيدل وي او په دې كښې دې رشتينې سوچ وكړي، بيا دې نورې منقولې دعاګانې ولولي مثلًا: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ عَلَیَّ رُوْحِیْ وَعَافَانِیْ فِیْ جَسَدِیْ وَأَذِنَ لِیْ بِذِكْرِهِ] بيا دې د سورت آل عمران آخری لس آيتونه په سوچ سره ولولي او آسمان ته دې په دې وخت كښې ګوري او د خوبه راوبښيدو په وخت دې مسواك وكړي.

بيا دې خفيف مګر پوره اودس وكړي او په ادب، وقار، تعظيم، خشوع او محبت سره دې مانځه ته ودريږي او د قرآن د تلاوت كولو مقاصد دې په خپل ذهن كښې حاضر كړي كوم چه مخكښې تير شو. كله چه دا كار وكړي الله به ورله په قرائت كښې رڼرا، بركت او حلاوت وا چوي. ان شاء الله.

٢١ – په انسان باندې د قرآن د اثر علامات :

او دا ډير دي چه د هغې نه ځينې دادي:

١ – د قرائت په وخت د زړهٔ او فكر راجمع كيدل او ددې نښه داده چه انسان به په تعجب او په تعظيم سره ولاړ وي.

٢ – د الله د ويرې نه ژړيدل.

٣ – ډيره خشوع كول.

٤ – د ايمان زياتيدل او ددې نښه داده چه آيتونه به ډير ډير تكراروي.

٥ – خوشحالي او زړهٔ باغ باغ كيدل.

٦ – د الله د خوف په وجه غوڼې زيګيدل او بيا د اميد او اطمينان غالبه كيدل.

٧ – خالص د الله د تعظيم لپاره سجده كول.

دا خبرې په راتلونكو آيتونو كښې وګوره :

﴿ وَإِذَا سَمِعُوْا مَا أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰى أَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِيْنَ ﴾ [مائده: ٨٣]

﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِرَ اللهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيْمَانًا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴾ [انفال: ٢] (بيشكه مؤمنان هغه خلق دي چه كله د دوی مخكښې د الله ذكر كيږي نو د دوی په زړونو يره راځي او كله چه په دوی د هغه آيتونه لوستلې كيږي نو د دوی ايمان زياتوي،

Maktaba Tul Ishaat.com

او دوی صرف په خپل رب بهروسه کوی)۔

﴿ وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ [توبه: ١٢٤]

او فرمائی: ﴿ وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا ﴾ [اسراء: ١٠٩]

(او دوی په زنو باندے په سجده پريوتو سره ژاړی او قرآن د دوی خشوع زياتوی)۔

اوفرمائی: ﴿ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴾ [مريم: ٥٨]

او فرمائی: ﴿ اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴾ [زمر: ٢٣]

او فرمائی: ﴿ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴾ [انشقاق: ٢٠، ٢١]

زهٔ وايم: ددے بله علامه داده چه زړهٔ ته به يخوالے او شفاء حاصليږی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ ﴾ [فصلت: ٤٤]

او فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ ﴾ [يونس: ٥٧، ٥٨] (اے خلقو! تاسو ته ستاسو د رب له طرفه نصيحت او د هغه بيماريانو علاج راغلو چه په سينو کښ دی، او د مؤمنانو لپاره هدايت او رحمت راغلو۔ تهٔ ووايه چه دوی له د الله په فضل او د هغه په رحمت خوشحالی پکار ده، دا د هغه تولو څيزونو نه غوره دے کوم چه دوی راجمع کوی)۔

بله نښه داده چه قرآن چونکه سراسر خير دے نو ددے د لوستو په وجه مومن ته دومره خيرات او ښيګړے ملاويږی چه ددهٔ په خوا او خاطر کښے به هم نهٔ وی راغلے۔

په دے فائده عمل وکړه ځکه دا ډير زيات مفيد عملی قدمونه دی چه دے سره تاته نيك بخته ژوند، پاکيزه حيات او خوشحالی او سرور نصيب کيدے شی، او دا سره ددے چه مشهور دی خو زياتره خلك ددے نه غافله دی او د حيرانتيا په کندو کښے سرګردانه ژوند تيروی۔ والله المستعان وعليښ التکلان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

٢٢ – دے سره سره دے پيشمنی وخت کښے استغفار غواړی او د ورځے دے د الله په بندګانو شفقت کوی، ځکه چه د الله کتاب د ظلم او فخر کولو سبب نهٔ دے بلکه دا د خشوع، تواضع او وقار سبب دے، دا وجه ده الله سبحانه وتعالیٰ فرمائی: ﴿ كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴾ [ذاريات: ١٧-١٩]

نو د دویٔ لپاره ئے درے نښے راجمع کړے: ډير ډير نفلی مونځونه کول، اوږدهٔ اوږدهٔ استغفارونه

کول، او د الله په بندګانو باندے په پټه اوښکاره خیراتونو سره شفقتونه کول.

نو څوك چه د خپل وس مطابق په دے قدمونو او سببونو باندے همیش والے وکړی نو دا به د الله د هغه اولیاؤ او متقینو نه جوړ شی چه په هغوئ به نهٔ خوف وی او نهٔ غم. او لړه موده پس به په خپل زړهٔ، عمل، درس، مال او رزقِ کښے ددے عبادت آثار ووینی، او د خلکو په زړونو کښے به ددهٔ سره محبت پیدا شی.

او څوك چه د خپل ځان د نجات اراده لری هغهٔ له ضروری ده چه په خپل دے او نورو عملونو کښے اخلاص پیدا کړی، الله ته سره او د هغهٔ د بندګانو سره دے د تواضع رویه اختیار کړی او په خپل عمل دے فخر نهٔ کوی او د الله په بندګانو دے کبر نهٔ کوی بلکه په دهٔ باندے واجب دی چه د الله د نعمت شکر وکړی چه دے ئے ددے عظیم مقام اهل او لائق وګرځاوهٔ، که دا نهٔ وی نو بیا ددهٔ عمل برباد او کوشش ئے بیکاره دے.

الله تعالیٰ نه غواړو چه په خپلے دے وینا او لیکلو باندے راته د عمل توفیق راکړی.

او دا فائده به تهٔ ددے کتاب نه سیوا بل هیچرته په یو ځائے راجمع شوے ونهٔ وینے، دے وجے نه دا راټـیـنګـه کړه او هسے پرے مهٔ ورتیریږه. الله دے دکتور عبد الکریم اللاحمؒ سره ډیر ښهٔ وکړی چه هغهٔ یوه رساله لیکلے چه په هغے کښے ئے دے کار طرفته ترغیب ورکړے او په دے کښے ئے د قرآن د تدبر لپاره لس مفاتیح ذکر کړی. او دا ډیره مؤثره رساله ده چه د مؤلف په اخلاص باندے دلالت کوی، ان شاء الله تعالی.

نو پکار دی چه انسان د نن ورځے نه په خپله په دے عمل وکړی، او بیا دا فائده خپلو طالبانو، خپلو ښځو او بچو ته په کمو زیاتو شلو ورځو کښے، په څو مره ورځو کښے چه دوئ یادولے شی ورزده کړی، کیدے شی چه الله دوئ له ددے نه فائده ورکړی. ډیرو ملګروته چه ما دا بیان کړه نو هغوئ ددے نه فائده واغستله. والحمد لله.

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۳ - علمي او عملي مهمه فائده

امت محمديه ولې غوره امت دے؟

امتِ محمديه (ﷺ) ته **خير امت** (غوره امت) ولے وائي؟ نو ددے دوه وجے دي :

(اول) : د ډيرو وهبي نعمتونو په وجه چه الله دوئ له ورکړي، او الله هغه ذات دے چه هغهٔ باندے څوك اعتراض نشي کولے، هغهٔ ته دا حق حاصل دے چه د خلکو نه تپوس وکړي، او هغه احکم الحاکمين دے.

(دويم) : د کسبي صفاتو د وجے نه چه دا امت ئے کوي، نو څوك چه دا صفتونه وکتي نو دا په (خير امة) کښے داخل دے که نهٔ وي نو عاقل له ضروري ده چه خپل انتهائي ممکن کوشش وکړيٰ او دا صفات اختيار کړي دے لپاره چه غوره امت وګرځي چاته چه الله خپله غوره امت ويلي. او دا ډير لوئے فضيلت دے چه يو انسان ته الله په خپله غوره امت ووائي او ددهٔ صفت وکړي.

د وهبي نعمتونو بيان :

وهبي (په غير د څهٔ کار کسب) نه چه الله کوم نعمتونه دے امت له ورکړي نو هغه الحمد ډير دي، ځينے دادي :

١ - الله دے امت ته نيغ، آسان او بے حرجه دين ورکړے، الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ﴾ [حج: ٧٨] (الله ستاسو د دين په باره کښے په تاسو څهٔ سختي نهٔ ده ايښے).

نو ددے دين احکام آسان دي، په دے کښے ئے ډيرے کفارے او د حل لارے راوښکلي چه په هغے سره انسان د هر قِسم تنګيو او سختيو نه راوځي.

٢ - بله دا چه الله دے امت ته يو داسے عظيم شخصيت والا قدرمن نبي راليږلے چه په تمام انسانيت کښے غوره او بهتر دے، او هغه محمد ﷺ دے، دا رحمة للعالمين دے، ددهٔ په لاس کښے به د قيامت په ورځ د حمد جهنډه وي، آدم عليه السلام او د دوئ نه پس راغلي نور پيغمبران (عليهم السلام) به ددهٔ د جهنډے لاندے وي. د ځينے انبياؤ په باره کښے راځي چه هغوئ په دے امت کښے د پيدا کيدو سوال کړے وو، لکه روستو دا اثر راځي. ان شاء الله.

٣ - بله دا چه : الله دے امت ته يو داسے ناشنا کتاب ورکړے چه هغه د مومنانو خلکو په نفس باندے يو ناشنا اثر کوي، او دا يو داسے عزتمن کتاب دے چه دے ته نهٔ د مخکنے نه باطل راتلے

شي او نهٔ د روستو نه ځکه چه دا يو حکيم او حميد ذات نازل کړے۔ ددے فضائل څوك په يو کتاب کښے نشي راګيرولے۔ دا يو داسے نعمت دے چه چاله ئے الله ورکړی نو ددے سره بل هيڅ يو نعمت نشي برابريدے۔[اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْ أَهْلِ الْقُرْآنِ آمِيْنَ] !

٤ – بله دا چه : ددے امت د خلکو عمرونه کم دی خو اجر او ثواب ئے زيات دے، لکه په صحيح بخاري کښے حديث دے، نبی کريم ﷺ فرمائی: (ستاسو او د يهود او نصاراؤ په دنيا کښے د پاتے کيدو نيته داسے ده لکه د مازيګر نه واخله تر مابنامه پورے وخت۔ تورات والو ته تورات ورکړے شو نو هغوئ د (د ورځے د شروع نه) تر نيمائی ورځے پورے کار وکړ او بيا عاجزه شول نو هغوئ ته يو يو قيراط ورکړے شو۔ بيا نصاراؤ تر مازيګره پورے کار وکړ او عاجزه شول نو هغوئ ته هم يو يو قيراط ورکړے شو، بيا مونږ (مسلمانانو) ته قرآن راکړے شو نو مونږ تر نمر ډوبيدو پورے کار وکړ، نو مونږ ته د دوارو ډلو مزدوری دوه دوه قيراطه راکړے شوه، نو يهود او نصارىٰ غصه شول، ويلے : مونږ کار زيات وکړ او مزدوری راله کمه راکړے شوه، نو الله تعالىٰ وفرمايل: آيا ما تاسو نه ستاسو څهٔ حق ايسار کړے ؟ هغوئ ويل : نه۔ ويلے بس دا خو زما فضل دے چاله ئے چه غواړم ورکوومه ئے) (دے سره ستاسو څهٔ کار؟)۔

[بخاري :۱]

٥ – بله دا چه : الله تعالىٰ په دوئ باندے په شپه او ورځ کښے پنځه مونځونه فرض کړی، او په بنی اسرائيلو ئے څلور مونځونه فرض کړی وو۔

[ابو داود: ۱ ، ابو عوانة : ۱]

په بنی اسرائيلو باندے د ماسخوتن مونځ فرض کړے شوے نهٔ وو، نو زياتی عبادت فرض کول ددے امت فضيلت دے۔

٦ – بله دا چه : دا مونځونه خو په شمار کښے پنځه دی خو اجر او ثواب د پنځوسو مونځونو دے۔ لکه د معراج په حديث کښے راځی چه الله وفرمايل: [هِىَ خَمْسٌ وَّهِىَ خَمْسُوْنَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ] [بخاری: ۱]

او دا يو عجيب نعمت دے چه ډير کم خلق ورته توجه کوی۔

٧ – بله دا چه : الله تعالىٰ د معراج په شپه خپل نبی (ﷺ) ته د سورتِ بقرے آخری آيتونه ورکړل او دا وعده ئے ورسره وکړه چه تهٔ ددے نه يو حرف لولے نو خامخا به تا ته ددے اجر او ثواب درکيدے شی۔

٨ – دارنګه د نبی کريم ﷺ امت ته ئے (په دے شپه) کبيره ګناهونه وبښل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[مسلم: ۱، مشکاة: ۲]

۹ – بله دا چه: د ابو موسی ﷺ په صحیح حدیث کښې راغلی، نبی کریم ﷺ فرمائی: [أُمَّتِیْ هٰذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُوْمَةٌ، لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِی الآخِرَةِ، عَذَابُهَا فِی الدُّنْيَا الْفِتَنُ، وَالزَّلازِلُ وَالْقَتْلُ]

(زما په دې امت باندې رحم کړې شوې، په دوئ باندې په آخرت کښې عذاب نشته، د دوئ عذاب خو په دنیا کښې د آزمائشونو، زلزلو او د وژل کیدو په صورت کښې دې)۔

[ابوداود: ۴۲۸۰، وصححه الألبانی فی صحیح سنن أبی داود]

نو – الحمد لله – دا یو لوئې نعمت دې۔

بله دا چه: د ابو هریره ﷺ په حدیث کښې دی، نبی کریم ﷺ فرمائی: [فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلاثٍ: جُعِلَتْ صُفُوْفُنَا كَصُفُوْفِ الْمَلَائِكَةِ، وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ مَسْجِدًا، وَطَهُوْرًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ]

(د درې شیانو په ذریعه مونږ له په نورو امتونو باندې غوره والې راکړې شوې:

۱۰ – زمونږ صفونه د ملائکو د صفونو پشان جوړ کړې شوی۔

۱۱ – مونږ لپاره زمکه جومات او د سجدې ځائې مقرر شوې۔

۱۲ – او زمونږ لپاره (زمکه) پاکیزه جوړه کړې شوې هر کله چه مونږ اوبۀ نۀ مومو)۔

۱۳ – بله دا چه: الله تعالیٰ دا امت په ګمراهئ باندې نۀ راجمع کوی، لکه په یو صحیح حدیث کښې دی: [إِنَّ اللّٰهَ لا يَجْمَعُ أُمَّتِیْ عَلٰى ضَلَالَةٍ]

۱۴ – بل هغه عظیم نعمت چه الله سبحانه وتعالیٰ دې امت له ورکړې: ((شفاعتِ کبری)) دې، لکه نبی کریم ﷺ فرمائی: [شَفَاعَتِیْ لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِیْ] (زما شفاعت به زما د امت غټو ګنهګارانو لپاره وی)۔ [ابوداود، مشکاة: ۲]

د نبی کریم ﷺ دا شفارس کول یو ډیر لوئې نعمت دې خو کم خلك دی چه دې ته توجه کوی او په دې خوشحالیږی۔ د شفاعت په باره کښې ډیر زیات حدیثونه راغلی، بلکه په ګڼړو آیتونو کښې دا ذکر شوې، لکه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿مَنْ ذَا الَّذِیْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ إِلَّا بِإِذْنِهٖ﴾ [بقره: ۲۵۵]

(څوك دې چه د الله د اجازې نه بغیر د چا شفارس وکړی)۔

۱۵ – بله دا چه: نبی کریم ﷺ فرمایلی: [إِنَّ أُمَّتِیْ يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوْءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يُطِيْلَ غُرَّتَهٗ فَلْيَفْعَلْ]

(زما امت به د قیامت په ورځ د اوداسۀ د اثر په وجه سپین مخی او سپین لاسی اوخپې راغوښتلې شی، نو څوك چه دا طاقت لری چه خپل سپینوالې زیات کړی هغه دې دا کار وکړی)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة: ۱/ ۳۵، عن أبی هریرة]

۱۶ - د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے دی: نبی کریم ﷺ مقبرے ته راغے او وے فرمایل: [اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِیْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِکُمْ لَاحِقُوْنَ وَدِدْتُ اَنَّا قَدْ رَاَیْنَا اِخْوَانَنَا] قَالُوْا: اَوَلَسْنَا اِخْوَانَكَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: [اَنْتُمْ اَصْحَابِیْ وَاِخْوَانُنَا الَّذِیْنَ لَمْ یَاْتُوْا بَعْدُ] فَقَالُوْا: کَیْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ یَاْتِ بَعْدُ مِنْ اُمَّتِكَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ: [اَرَاَیْتَ لَوْ اَنَّ رَجُلًا لَهٗ خَیْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَیْنَ ظَهْرَانَیْ خَیْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ اَلَا یَعْرِفُ خَیْلَهٗ؟ قَالُوْا: بَلٰی، یَارَسُوْلَ اللّٰهِ۔ قَالَ: فَاِنَّهُمْ یَاْتُوْنَ غُرًّا مُحَجَّلِیْنَ مِنَ الْوُضُوْءِ وَاَنَا فَرَطُهُمْ عَلَی الْحَوْضِ] [مسلم]

(اے دمؤمنانو ډلے ! په تاسو دے سلامتی وی، مونږ هم ان شاء الله تاسو سره یو ځائے کیدونکی یو، آرمان دے چه مونږ خپل ورونه لیدلی وے۔ صحابو عرض وکړو، یارسول الله ! آیا مونږ ستاسو ورونه نهٔ یو، نبی ﷺ وفرمایل : تاسو زما ملګری (دوستان) ئے، او زما ورونه هغه دی چه اوس لا (دنیا ته) نهٔ دی راغلی۔ صحابوؓ عرض وکړو یارسول الله ! ستاسو امت کښ چه کوم خلق لانهٔ دی راغلی هغوئ به تاسو (قیامت کښ) څنګه وپیژنئ، نبی کریم ﷺ وفرمایل : ماته ددے خبر راکړئ که یو سړی سره سپین تندی اوسپین لاس او خپو واله آسونه وی او هغه نورو ډیرو تورو آسونو سره یو ځائے شوے وی، نو آیا هغه به خپل آسونه نهٔ پیژنی، صحابو عرض اوکړو، ولے نه یارسول الله (ددے امتیازی اوصافو په وجه به ئے ضرور پیژنی) نبی کریم ﷺ وفرمایل : زما امت به هم (د قیامت په ورځ) داودس د اثر په وجه سپین مخ او سپین لاس او خپو سره راځی (نو دے نښے سره به زه هغوئ پیژنم) اوزه حوض کوثر باندے دهغوئ د پروګرام جوړولو لپاره مخکښ لیږلے شوے یم۔

۱۷ - بله دا چه دے امت له به عمل نامه په ښی لاسونو کښے ورکولے شی۔

۱۸ - د دوئ اولاد به د دوئ مخے ته روان وی۔

[ددے حدیث سند صحیح دے]

۱۹ - بله دا چه : د جابر ﷺ په حدیث کښے دی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (ماته پنځه داسے خصوصی شیان راکړے شوی چه هغه ماته مخکښے بل هیچا له نهٔ دی ورکړے شوی : د رعب په ذریعه زما مدد شوے، د یوے میاشتے په فاصلے سره ماته دشمن یریږی۔

۲۰ - او ما لپاره ټوله زمکه د سجدے لګولو ځائے او پاکونکے جوړه شوے، نو زما په امت کښے چه کوم سړی لره مونځ رالاندے کړی نو هغه دے هلته مونځ وکړی۔ او ما لپاره غنیمتونه حلال شوی حالانکه ماته مخکښے هیچا لپاره حلال نهٔ وو۔

۲۱ - او ماته شفاعت راکړے شوے۔ او ماته مخکښے به هر یو نبی خاص خپل خپل قوم ته

Maktaba Tul Ishaat.com

لیرل کیدۀ او زۀ تولو خلکو ته راولیږل شوم۔

[بخاری: ١/ ٤٦]

٢٢ – حافظ ابن حجرؒ د ابن خزیمه او نسائی په حواله دا حدیث ذکرکړے او په دے کښے ورسره دا الفاظ هم دی: [وَأُعْطِيْتُ هٰذِهِ الآيَاتِ مِنْ آخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ]

(ماله د سورتِ بقرے دا آخری آیتونه د عرش د خزانے لاندے نه راکړے شوی) (یعنی د بوجونو سپکوالے و د خطاء او د نسیان معافی)۔

[فتح الباری: ١/ ٣٤٨]

٢٣ – په یو بل حدیث کښے دی : [إِنَّ اللّٰهَ وَضَعَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوْا عَلَيْهِ] (بیشکه الله زما امت ته خطا، هیره او هغه شے معاف کړے چه په دوئ باندے په زوره وکړے شی)۔ [رواه ابن ماجه باسناد صحیح]

٢٤ – بله دا چه : د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے دی، نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایۀ: (مونږ د زمانے په لحاظ د تولو نه روسته یو لیکن په قیامت کښے به د تولو نه مخکښے یو، صرف دومره ده دوئ (یهودو او نصاراؤ) ته مونږ نه مخکښے کتاب ورکړے شو او مونږ ته د دوئ نه روستو راکړے شو، بیا دا د جُمعے ورځ د دوئ هغه ورځ ده چه په دوئ باندے فرض کړے شوه خو دوئ په کښے اختلاف وکړو۔

٢٥ – نو الله مونږ ته ددے راهنمائی وکړه۔ او خلك مونږ نه په دے کښے روستو دی۔ یهودیان رانه صباله او نصاریٰ رانه بل صبا له روستو دی)۔

[بخاری، مسلم، مشکاة : ١/ ١١٩]

٢٦ – او مونږ به د تولو نه وړاندے جنت ته ځو۔ په یو بل روایت کښے دی:

٢٧ – زما امت لپاره به د تولو نه وړاندے فیصله کیږی او د تولو خلکو نه مخکښے به ورسره حساب کولے شی۔

[مسلم، ابن ماجه، الصحیحة: ٢٣٧٤]

٢٨ – عبد الرحمن بن ابی بکر – رضی الله عنهما – فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: (بیشکه زما رب ماته اویا زره کسان راکړل چه دوئ به په غیر د حساب نه جنت ته ځی۔ نو عمر رضی الله عنه عرض وکړو: یا رسول الله ! نو تاسو درے زیاتی ولے نۀ غوښتل؟ وے فرمایل: ماترے نور زیاتی وغوښتل نو ماله ئے د هرو زرو سره اویا زره راکړل۔ عمر فاروق بیا عرض وکړو: تاسو ترے نور زیات ولے نۀ غوښتل؟ وے فرمایل: ماترے زیاتی وغوښتل نو ماله ئے د هر یو سړی سره

اويا زره كسان راكړل. عمر فاروق بيا وويل: نو تاسو ترې نور زياتې ولې نۀ غوښتل؟ وې فرمايل: ما ترې زياتې وغوښتل نو ماله ئې دومره راكړل: او عبد الرحمن بن ابى بكر خپل دواړه لاسونه فراخه كړل).

۲۹ - عبد الله وائي: او دواړه لاسونه ئې خوارۀ كړل او لپه ئې جوړه كړه. هشامؒ فرمائي: او دا د الله له خوا دومره اندازه ده چه ددې شماره معلومه نۀ ده.

[رواه احمد وهو في ابن كثير: ۱/ ۳۹۲]

ثوبان ﷺ د نبي كريم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل كوي:
[لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ مَعَ كُلِّ أَلْفٍ سَبْعُوْنَ أَلْفًا]

(خامخا زما د امت نه به اويا زره كسان بې حسابه بې عذابه جنت ته ننوځي چه د هر زرو كسانو سره به اويا زره كسان نور ملګرې وي).

[مسند احمد، واسناده صحيح، كما قال ابن كثير]

۳۰ - د طبراني او ترمذي په حديث كښې ورسره دادي: [وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِ رَبِّيْ]

(او دې سره به زما د رب د لپو نه درې لپې نور كسان هم وي).

[اسناده قوي كما في ابن كثير: ۱/ ۳۹٤]

۳۱ - انس ﷺ د نبي كريم ﷺ دا ارشاد نقل كوي: [يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا، قَالُوْا: زِدْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ! قَالَ: لِكُلِّ رَجُلٍ سَبْعُوْنَ أَلْفًا، قَالُوْا: زِدْنَا وَكَانَ عَلٰى كَثِيْبٍ فَقَالُوْا: فَقَالَ هٰكَذَا: وَحَثَا بِيَدَيْهِ. قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَبْعَدَ اللهُ مَنْ دَخَلَ النَّارَ بَعْدَ هٰذَا]

[رواه ابو يعلى واسناده جيد، ابن كثير: ۱/ ۳۹٤]

(زما د امت نه به اويا زره كسان جنت ته ننوځي، صحابو عرض وكړو: مونږ له زياتې راكړه يا رسول الله! وې فرمايل: د هر يو سړي سره به اويا زره كسان وي. هغوئ ويل: نور زياتې راكړه، او نبي كريم ﷺ د يوې ډيركۍ دپاسه وو نو د دواړو لپو اشاره ئې وكړه. صحابو عرض وكړو: يا رسول الله! دې نه پس هم چه څوك اور ته ځي الله دې هغه تباه كړي).

[رواه أبو يعلىٰ واسناده جيد، ابن كثير: ۱/ ۳۹٤]

۳۲ - ابن بريده د خپل پلار نه د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل كوي:
[أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُوْنَ وَمِائَةُ صَفٍّ، هٰذِهِ الْأُمَّةُ مِنْ ذٰلِكَ ثَمَانُوْنَ صَفًّا]

(جنتيان به يو سلو شل (۱۲۰) صفه وي، ددې امت به په كښې اتيا (۸۰) صفه وي).

[رواه احمد باسناد صحيح]

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن مسعود ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ مونږ ته وفرمايل:
[أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ! فَكَبَّرْنَا، ثُمَّ قَالَ: أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ! فَكَبَّرْنَا، ثُمَّ قَالَ: إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ]

(آيا تاسو په دے خوشحاله نۀ يئ چه تاسو څلورمه برخه جنتيان شئ! نو مونږ الله اکبر ووايۀ، بيائے وفرمايل: آيا تاسو نۀ خوشحاليږئ چه تاسو دريمه برخه جنتيان شئ! نو مونږ تکبير وکړو، بيائے وفرمايل: زما دا اميد دے چه تاسو به نيمائی جنتيان يئ)۔

[بخاری، مسلم]

۳۳ – دا امت به د قيامت په ورځ په خلکو گواهي کوی:

د صحيح بخاری په حديث کښے راځی:

(نوح عليه السلام او د هغۀ امت به راشی نو الله به (نوح ته) وفرمائی: آيا تا دوئ ته تبليغ کړے؟ هغه به وائی: هو، اے ربه! بيا به د هغۀ امت ته ووائی: تاسو ته ئے تبليغ کړے؟ هغوئ به وائی: نه! مونږ ته هيڅ نبی نۀ دے راغلے، نو الله به نوح ته وفرمائی: تاله به څوك گواهي وکړی؟ هغه به ووائی: محمد (ﷺ) او د هغۀ امت۔ نو بيا به تاسو دا گواهي ورکوئ چه نوح عليه السلام تبليغ کړے۔ او دا د الله په دے فرمان کښے راغلی: ﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ﴾ [بقره: ۱۴۳]

(او دغه شان مونږ تاسو درميانه (يا غوره) امت گرځولی يئ دے لپاره چه تاسو په خلکو گواهي وکړئ)۔ [صحيح بخاری: ۱]

۳۴ – ددے امت لپاره طاعون شهادت دے:

انس ﷛ فرمائي: نبی کريم ﷺ ارشاد فرمايلے: [اَلطَّاعُوْنُ شَهَادَةٌ لِكُلِّ مُسْلِمٍ]

(طاعون بيماری د هر مسلمان لپاره شهادت دے)۔

[صحيح بخاری: ۱]

۳۵ – د انس ﷛ په حديث کښے دی، نبی کريم ﷺ فرمائي: [مَثَلُ أُمَّتِيْ مَثَلُ الْمَطَرِ لَا يُدْرٰى أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ؟] (زما د امت مثال لکه د باران غونته دے، دا معلومه نۀ ده چه ددے رومبنئ برخه زياته غوره ده اوکه روستنئ)۔

[ترمذی، مشکاة: ۲/ ۵۸۳، حديث حسن صحيح]

۳۶ – ددے امت بل شرافت دادے چه ددے امت د يو ولی (يعنی مهدی عليه السلام) پسے به عيسی عليه السلام مونځ کوی، لکه د جابر ﷛ په حديث کښے دا راغلی۔

[صحيح مسلم، مشكاة: ٢]

٣٧ – ځينے طعامونه الله تعالىٰ ددے امت لپاره په خصوصى توګه حلال کړى: ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى: نبى کريم ﷺ وفرمايل:

[أُحِلَّتْ لَنَا الْمَيْتَتَانِ وَالدَّمَانِ ، فَأَمَّا الْمَيْتَتَانِ فَالسَّمَكُ وَالْجَرَادُ، وَأَمَّا الدَّمَانِ فَالْكَبِدُ وَالطِّحَالُ]

(مونږ لپاره دوه مړهٔ شيان او دوه وينے حلالے شوى، دوه مړو شيانو کښے يو ماهے او بل ملخ دے۔ او دوه وينو کښے يو ځيګر او بل توريے دے)۔

[احمد، ابن ماجه: ١١١٨]

٣٨ – ددے امت يو بل ځانګړے خصوصى دادے چه: ددے نبى ئے ددے امت نه مخکښے قبض کړے۔

ابو موسىٰ ﷺ وائى: نبى کريم ﷺ وفرمايل: [إِنَّ اللّٰهَ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا ، وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ]

(الله تعالىٰ چه کله په خپلو بندګانو کښے په يو امت باندے رحمت کول وغواړى نود هغوئ نبى د هغوئ نه مخکښے وفات کړى او هغه د هغوئ لپاره د پروګرام جوړولو لپاره د هغوئ نه مخکښے وليږى۔ او کله چه د يو امت تباه کول وغواړى نو هغے له د خپل نبى په ژوند کښے عذاب ورکړى نو دغه قوم په داسے حال کښے تباه کړى چه خپل نبى ورته ګورى او د هغوئ په تباهئ سره د هغهٔ سترګے يخے کړى ځکه چه هغوئ هغه دروغژن ګڼړلے او د هغهٔ د حکم خلاف ورزى ئے کړے)۔ [مسلم: ٢٢٨٨]

٣٩ – ددے امت بل خصوصيت دادے چه په دے کښے شهيدان ډير زيات دى، که هغه ظاهرى شهادت وى اوکه حکمى شهادت۔ لکه دا خبره مونږ په [الدين الخالص: ٦، او الفوائد: ١] کښے د حسن الخاتمه په فائده کښے ذکر کړے۔

٤٠ – په يو حديث کښے دى: [أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ]

(په زمکه باندے تاسو د الله ګواهان يئ)۔ [بخارى، مسلم، مشكاة: ١]

٤١ – بل خصوصيت ئے دادے: چه دوئ به د ټولو نه مخکښے په پل صراط تيريږى۔

لکه د ابو هريره ﷺ په حديث کښے دى: [وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ فَأَكُونَ أَنَا أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ بِأُمَّتِهِ...... الحديث]

(د جهنم دپاسه به پُلِ صراط ووهلے شى نو زهٔ به اولنے هغه کس يم چه د خپل امت سره به شريک پرے ورتيريږم)۔ [مسلم، مشكاة: ٢]

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٢ – بل خصوصيت ئے دادے : چه د قيامت په ورځ به د دوئ د هر يو تن په بدل کښے کافر اور ته غورزولے شي۔

ابو موسى ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ: [إِذَا كَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللّٰهُ إِلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُوْدِيًا أَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُوْلُ: هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ]

(کله چه د قيامت ورځ شي نو الله به هر يو مسلمان ته يهودي يا نصراني ورکړي او ورته به ووائي چه په دهٔ سره به تهٔ د اوره آزادېږے)۔ [مسلم، مشكاة: ٢/ ٤٨٥]

په يو روايت کښے د يهودي او نصراني په ځائے (مشرك) لفظ راغلے او په بل کښے د (کافر)۔ [احمد]

٤٣ – بل خصوصيت ئے په سلام سره دے:

٤٤ – او په (آمين) ويلو سره۔

عائشه رضي الله عنها فرمائي: نبي کريم ﷺ وفرمايل:

[مَاحَسَدَتْكُمُ الْيَهُوْدُ عَلٰى شَيْءٍ مَا حَسَدَتْكُمْ عَلَى السَّلَامِ وَالتَّأْمِيْنِ]

(يهود تاسو سره په بل يو شئ باندے دومره حسد نهٔ کوی څومره حسد چه تاسو سره په سلام او په (امام پسے په زوره) آمين ويلو باندے کوی)۔

[ابن ماجه، الصحيحة: ٦٩١]

٤٥ – دا امت د جرړے او بنيادي هلاکت نه محفوظ دے، دارنګه دشمن پرے هم داسے غلبه نشي کولے چه د دوئ هر څهٔ تباه برباد کړي۔

لکه چه دا خبره د ثوبان ﷺ په مرفوع حديث کښے راغلے۔

[صحيح مسلم: ٥١٤٤]

٤٦ – ددے امت بل خصوصيت دادے : چه الله تعالىٰ به د دوئ رسول ﷺ خوشحالوی۔

عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائي: (رسول الله ﷺ وژړل نو الله جبريل عليه السلام ته وفرمايل: لاړ شه او د محمد نه پوښتنه وکړه چه ولے ژاړے؟ جبريل راغے او پوښتنه ئے ترے وکړه نو رسول الله ﷺ ورته خبر ورکړو، او الله ښه پوهه دے، نو الله وفرمايل: اے جبريل! محمد ته لاړ شه او ورته ووايه : مونږ به خامخا تا د خپل امت په باره کښے راضي کوو او تا به نهٔ خفه کوو)۔ [مسلم: ١/ ١١٣]

په دے باندے د الله شکر کول پکار دی۔

٤٧ – ابو هريره ﷺ فرمائي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: [يَبْعَثُ اللّٰهُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِئَةِ سَنَةٍ مَنْ يُّجَدِّدُ لَهَا دِيْنَهَا]

(ددے امت لپاره الله تعالىٰ د هرے صدئ (سلو کالو) په سر باندے داسے څوك راپيدا کوی چه

هغه د دوئ دا دین په خلکو کښې بیرته تازه کړی)۔
[ابوداود، مشكاة: ۱/ ۱۳٦، واسناده صحيح]

نو ددې امت علماء د دین په تازه کولو کښې داسې مثال لری لکه د بنی اسرائیلو انبیاء۔ ولله الحمد والمنة۔

۴۸ – ددې امت په هره پیړئ کښې الله تعالیٰ داسې خلك پیدا کوی چه هغوئ هر قِسمه ښیګړو او نیکیو ته وړاندې والې کونکی دی:
لکه په حدیث کښې دی: [فِیْ کُلِّ قَرْنٍ مِنْ أُمَّتِیْ سَابِقُوْنَ]
(زما د امت په هره پیړئ کښې به خیر طرفته وړاندې کیدونکی خلك وی)۔
[أخرجه أبو نعيم، كما فى الصحيحة]

۴۹ – او نبی کریم ﷺ فرمائی: [إِنَّ اللّٰهَ تَجَاوَزَ لِیْ عَنْ أُمَّتِیْ مَاوَسْوَسَتْ بِهِ صَدْرُهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ أَوْ تَتَكَلَّمْ] (بیشکه الله زما لپاره زما د امت نه د هغه خبرو ګناه ختمه کړې چه د دوئ په سینو کښې راځی تر څو پورې چه دوئ په هغې عمل نهٔ وی کړې یا ئې پرې خُلهٔ نهٔ وی خوزولې)۔
[بخاری، مسلم، مشكاة: ۱]

۵۰ – الله تعالیٰ دې امت ته داسې مبارك آیتونه ورکړی چه په هغې کښې د دوئ لپاره ډیر لوئې زیری او خوشحالئ دی، او دا په سورتِ نساء کښې آتهٔ (۸) آیتونه دی، لکه چه دا خبره عبد الله عباس رضی الله عنهما کړې۔ او دا مونږه د همدې (۳) جلد په یوه فائده کښې بیان کړی۔
[وانظر السراج المنير أول سورة النساء]

۵۱ – او الله تعالیٰ خپل رسول (ﷺ) ته داسې پټ زیری او بشارتونه ورکړی چه هغه ئې امت ته نهٔ دی ښکاره کړی، ولې که دا ورته راښکاره کړی نو بیا به ډیر (ناپوهه خلك) مونځونه هم پریدی۔
لکه نبی کریم ﷺ فرمائی: [دَعَوْتُ لِأُمَّتِیْ، قِیْلَ: فَمَاذَا أُجِبْتَ؟ قَالَ: أُجِبْتُ بِالَّذِیْ لَوِ اطَّلَعَ عَلَیْهِ کَثِیْرٌ مِنَ النَّاسِ مِنْهُمْ طَلْعَةً تَرَکُوْا الصَّلَاةَ]
(ما د خپل امت لپاره دعا وغوښتله، صحابو عرض وکړو: نو تاله څهٔ جواب درکړې شو، وې فرمایل: زما هغه خبرې قبولې شوې که چرې هغه ډیرو خلکو ته معلومې شی نو مونځ به پریدی)۔
[أحمد: ۵/ ۱۷۰، مجمع الزوائد: ۲/ ۱۱۳، ابن ماجه: ۱۳۵۰، ورجاله ثقات]

۵۲ – دا امت به د یهودو او نصاراؤ نه روسته په اور کښې نهٔ پاتې کیږی، بلکه دوئ به په پُلِ صراط ورتیر شی او یهود او نصارا به په اور کښې پاتې شی۔
لکه د ابو هریره ﷺ په حدیث کښې دی: (کله چه خیبر فتح شو نو رسول الله ﷺ ته یوه

Maktaba Tul Ishaat.com

زهرجنه ګډه بزه هدیه کړې شوه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دلته چه څومره یهود دی هغه ماله راجمع کړئ، نو رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمایل: ستاسو پلار (نیکهٔ) څوك دے؟ هغوئ ویل: فلانے۔ وے فرمایل: دروغ وایئ بلکه ستاسو پلار فلانے دے۔ هغوئ ویلے: رشتیا دے وویل او سمه خبره دے وکړه۔ بیا ئے ورته وفرمایل: زهٔ تاسو نه یوه پوښتنه کوم نو آیا تاسو به ماته رشتیا ووایئ؟ هغوئ ویل: هو ! اے ابو القاسم ! اوکه مونږ درته دروغ وویل نو زمونږ دروغ به داسے معلوم کړے لکه زمونږ د نیکهٔ په باره کښے چه دے دروغ معلوم کړل۔نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اور والا څوك دی؟ هغوئ ویلے: مونږ به لږه شان موده په کښے یو، بیابه تاسو په دے کښے زمونږ نه روسته پاتے کیږئ۔ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: کُورے شئ ! قسَم په الله ! مونږ په دے کښے تاسو نه روسته نهٔ پاتے کیږو۔ بیا ورته رسول الله ﷺ وفرمایل: که زهٔ تاسو نه د یو شیء په باره کښے پوښتنه وکړم نو آیا تاسو به ماته رشتیا ووایئ؟ هغوئ ویل: هو، اے ابو القاسم! وے فرمایل: تاسو په دے ګډ کښے زهر اچولی وو؟ هغوئ ویل: هو! وے فرمایل: دا کار مو ولے وکړو؟ ویلے: زمونږ دا اراده وه چه که تهٔ دروغژن ئے نو مونږ به درنه په آرام شو، اوکه چرے تهٔ نبی ئے نو هیڅ ضرر به درنهٔ کړی)۔

[بخاری، احمد، نسائی، ابن مردویه، کما فی ابن کثیر: ۱/ ۱۱۸]

۵۳ – په دے امت کښے جنتی سردارن موجود دی: حدیث کښے دی:

[فَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ]

(فاطمه رضی الله عنها د جنت د ښځو سرداره ده)۔ [مسند أحمد]

[وَالْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ]

(حسن او حسین – رضی الله عنهما – د جنتی ځوانانو سرداران دی)۔ [مسند أحمد]

او ابو بکر او عمر – رضی الله عنهما – د جنتیانو د مشرانو سرداران دی۔

[مسند أحمد]

۵۴ – او ددے امت لپاره به یوه نښه وی چه په هغے سره به خپل رب پیژنی، او هغه ساق (پونډئ) ده، لکه د صحیح بخاری په حدیث کښے راځی: [إِذَا جَاءَ رَبُّنَا عَرَفْنَاهُ فَيَكْشَفُ عَنْ سَاقٍ] (کله چه زمونږ رب راشی مونږه ئے پیژنو نو په دے کښے به د پونډئ نه پرده لرے کړے شی)۔

۵۵ – د جنت په ښی طرفته دروازه به یوائے دوئ ننوځی: لکه د بخاری او مسلم په حدیث کښے دا راغلی دی۔

۵٦ – او یو بل عجیبه لوئے خصوصیت چه عامو علماؤ په خصوصیاتو کښے نهٔ دے ذکر

کړے، دادے : چه د دوئ رب عز وجل به دوئ ته ښاندي۔

لکه ابو موسیٰ ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ ار ماه فرمايلے:

[يَتَجَلّٰى لَنَا رَبُّنَا عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَاحِكًا]

(زمونږ رب عز وجل به د قيامت په ورځ مونږ ته د خندا په حالت کښے راښکاره کيږي)۔

[ابن خزيمة، أحمد: ٤/ ٤٠٧، كما في الصحيحة: ٧٥٥، وأخرج مسلم نحوه]

او دا يو ډير لوئے نعمت دے چه ديته هيڅ يو نعمت نشي رسيدے !!

۵۷ – واثله بن اسقع ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ :

[أُعْطِيْتُ مَكَانَ التَّوْرَاةِ السَّبْعُ الطِّوَالُ، وَمَكَانَ الزَّبُوْرِ الْمِئِيْنَ، وَمَكَانَ الْإِنْجِيْلِ الْمَثَانِيْ، وَفُضِلْتُ بِالْمُفَصَّلِ]

(ماته د تورات په ځائے اووهٔ اوږدهٔ سورتونه راکړے شوي، د زبور په ځائے راته د سلو آيتونو والا سورتونه راکړے شوي، او د انجيل په ځائے راته مثاني (د سلو آيتونو نه اخوا) سورتونه راکړے شوي، او ماته د مفصل سورتونو په ذريعه غوره والے راکړے شوے)۔

[طيالسى: ١/ ١٣٦، أحمد: ٤/ ١٠٧، الطحاوى فى المشكل: ٢/ ١٥٤، الصحيحة: ٤/ ٤٦٩]

* **د کسبي او اختياري اسبابو بيان**

او هرچه ددے امت د غوره والي کسبي (او اختياري) اسباب دي :

نو هغه ډير زيات دي، ځينے په کښے دادي:

۱ – ماسخوتن مونځ:

معاذ بن جبل ﷛ فرمائي: نبي کريم ﷺ ارشاد وفرمايهٔ:

[اِعْتِمُوْا بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ فَإِنَّكُمْ فُضِلْتُمْ بِهَا عَلٰى سَائِرِ الْأُمَمِ وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ]

(د ماسخوتن دا مونځ په تيارهٔ کښے کوئ ځکه ددے په ذريعه تاسو په نورو امتونو غوره شوي يئ او تاسو نه مخکښے هيڅ يو امت دا مونځ نهٔ دے کړے)۔

[ابوداود: ١، حديث صحيح]

۲ – دوئ به د قيامت په ورځ په داسے حال کښے راځي چه د سجدے په وجه به ئے مخونه سپين او د اوداسهٔ په وجه به ئے لاسونه او خپے سپين وي۔

[مسلم: ١، أحمد: ٤/ ١٨٩، ترمذى، الصحيحة: ٢٨٣٦]

۳ – ابودرداء ﷛ فرمائي: ما د ابو القاسم ﷺ نه آوريدلي دي:

[إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ: يَا عِيْسٰى! إِنِّيْ بَاعِثٌ بَعْدَكَ أُمَّةً إِنْ أَصَابَهُمْ مَا يُحِبُّوْنَ حَمِدُوْا وَشَكَرُوْا، وَإِنْ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَصَابَهُمْ مَا يَكْرَهُوْنَ احْتَسَبُوْا وَصَبَرُوْا، وَلَا حِلْمَ وَلاَ عِلْمَ . قَالَ: يَارَبِّ! كَيْفَ هٰذَا لَهُمْ وَلَا حِلْمَ وَلَا عِلْمَ، قَالَ: أُعْطِيْهِمْ مِنْ حِلْمِيْ وَعِلْمِيْ]

(الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته وفرمایل: اے عیسی! زهٔ تا نه روسته یو داسے امت رالیږم چه که دوئ ته خوښ حالت ورسی نو د الله حمد او شکر کوی، او که مکروه حالت ورته ورسی نو صبر کوی او د الله نه اجر غواړی، حالانکه دوئ سره حلم او علم نهٔ وی. هغهٔ عرض وکړو: یا ربه! دا حالت د دوئ څنګه جوړیدے شی حالانکه نهٔ د دوئ حلم شته او نهٔ علم! وے فرمایل: زهٔ به ورله د خپل حلم او علم نه ورکوم).

[احمد، مشکاة: ۱/ ۱۵۳، وقال: رواه البیهقی واسناده صحیح، وهو الذی صححه الحاکم، والظاهر أن اسناده حسن]

نو دا امت د صبر، احتساب او د حمد او د شکر په وجه غوره امت ګرځیدلے.

٤ - امام دارمیؒ په صحیح سند سره روایت کړی چه عبد الله بن عباس - رضی الله عنه - د کعب الاحبارؒ نه پوښتنه وکړه: په تورات کښے د رسول الله ﷺ صفت تا څنګه موندلے؟ کعبؒ وفرمایل: مونږه ئے بیا مو چه دا محمد بن عبد الله دے.- تر آخره پورے. او په دے کښے دا راغلی چه: ددهٔ امت به حمادون وی، د خوشحالئ او خفګان په هر پړاؤ کښے به د الله حمد او ثناء کوی، او په هر اوچت ځائے به الله اکبر وائی، خپل لاسونه اوخپے به په اوداسهٔ کښے وینځی او په خپله مینځنئ برخه به لنګونه تړی، د دوئ د مانځه صفونه به داسے وی لکه د دوئ د جنګ صفونه، په جوماتونو کښے به د دوئ داسے انګازے وی لکه د شاتو مچو د بنګاری پشان. د دوئ د اذان کونکی آواز به د آسمان په فضا کښے آوریدے کیږی. [دارمی: ۱/ ١٤]

او دارمیؒ دا هم د کعب الاحبارؒ نه نقل کړی: محمد (ﷺ) د الله رسول دے، ددهٔ امت حمادون دی چه په خوشحالئ او تکلیف دواړو کښے به د الله حمد او ثناء وائی، په هر یو ښکته ځائے کښے به د الله حمد کوی، او په هر اوچت ځائے به الله اکبر وائی، نمر ته به څاروی څروی او کله چه د مانځه وخت راشی نو مونځ به کوی اګرکه دوئ د خس او خشاك د غورزولو د ځائے خواته وی. په خپلو ملاګانو کښے به لنګونه تړی، خپل لاسونه او خپے به وینځی، او د شپے به د دوئ انګازے په فضاء کښے داسے معلومیږی لکه د شاتو مچو د بنګاری پشان. [دارمی]

۱۵ - امام ابن جریرؒ په خپل صحیح سند سره قتادهٔ پورے دا خبره رسولے چه هغهٔ ددے آیتِ کریمه په تفسیر کښے فرمایلی: ﴿ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ ﴾ [اعراف: ١٥٤] (او موسیٰ علیه السلام د تورات تختے راواغستے)، نو موسیٰ علیه السلام عرض وکړو: اے ربه! زهٔ په دے تختو کښے یو داسے

غوره امت مونده کوم چه د خلکو د فائدے لپاره پیدا شوی، د نیکئ حکم کوی او د بدئ نه خلك منع کوی، دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. موسیٰ علیه السلام عرض وکړو: اے ربه! زۀ په دے تختو کښے داسے امت مونده کوم چه دوئ پیدائښت کښے روسته دی خو جنت ته په ننوتو کښے مخکښے، اے ربه! دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. بیا هغۀ عرض وکړو: اے ربه! زۀ په تختو کښے داسے امت مومم چه د دوئ انجیلونه د دوئ په سینو کښے دی چه دا لولی، او د دوئ نه مخکښو خلکو به کتابونه پکښے لوستل او کله به ئے چه پورته کړل نو د هغے نه به ورته هیڅ په یادو زده نۀ وه او نۀ به ئے پیژندل، او الله تعالیٰ دے امت له د خپل طرفه داسے حفظ ورکړے چه بل هیڅ یو امت له ئے نۀ دے ورکړے، ویلے: اے ربه! دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. هغۀ بیا عرض وکړو: اے ربه! زۀ په تختو کښے یو داسے امت مومم چه دوئ په اولنی او په روستنی کتابونو ایمان لری او دوئ به د ګمراهان خلکو سره جنګ کوی تردے چه دوئ د ډیر دروغژن کانړی (دجال) سره جنګ وکړی، اے الله ربه! دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. هغۀ عرض وکړو: اے ربه! زۀ په تختو کښے یو داسے امت مومم چه د دوئ صدقات به د دوئ په خیټو کښے وی، دا به خپله خوری او ثواب به هم ورته ملاویږی، او د دوئ نه مخکښو خلکو به چه کله یوه صدقه وکړه او دوئ نه به قبوله شوه نو الله به یو اور راولیږۀ او هغه به ئے وخوړ، اوکه صدقه به ئے قبوله نشوه نو هغه به دغسے پرته وه تردے چه درنده ګانو او مارغانو به وخوړه، او بیشکه الله ددے امت د مالدارانو نه د دوئ د فقیرانو لپاره صدقات اخلی. اے ربه! دا خلك زما امت جوړ کړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. ویلے: اے ربه! زۀ په تختو کښے یو داسے امت مومم چه کله په دوئ کښے یو تن د نیکئ اراده وکړی او بیا هغه وهم نۀ کړی نو ددۀ لپاره یوه نیکی لیکل کیږی. اوکه هغه وکړی نو لس چنده نیکئ ورله لیکل کیږی تر اووۀ سوو نیکیو پورے، اے ربه! دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے. هغۀ بیا عرض وکړو: اے ربه! زۀ په تختو کښے یو داسے امت وینم چه دوئ لپاره به شفاعت کولے شی او د دوئ شفاعت به قبولے شی، نو دا امت ماله راکړه! الله وفرمایل: دا د احمد (ﷺ) امت دے.

قتادۃ فرمائی: مونږ ته ذکر شوی دی چه د الله نبی موسیٰ علیه السلام تختے وارتولے او وے فرمایل: [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنْ اُمَّةِ اَحْمَدَ] (اے الله! ما د احمد (ﷺ) په امت کښے وګرځوه).

دا صحیح مقطوع اثر دے (یعنی د تابعی خبره ده) او دا اګرکه د تابعی خبره ده خو په دے کښے چه کوم شیان ذکر شوی دا ټول په نورو دلائلو سره ددے امت لپاره ثابت دی، ولله الحمد والمنة.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۵ – ددے امت ایمان هم څهٔ ناشنا شان دے :

لکه عمرو بن شعیب د خپل پلار په واسطه د خپل نیکهٔ (عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما) نه روایت کوی، رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه : (کوم خلك د ایمان په اعتبار سره تاسو ته ډیر ناشنا ښکاری؟ صحابو عرض وکړو: ملائك. نبی ﷺ وفرمایل: دوئ به ولے ایمان نهٔ لری حالانکه دوئ د خپل رب سره نزدی دی. صحابو عرض وکړو: نو بیا انبیاء (ډیر ناشنا ایمان والا دی) نبی ﷺ وفرمایل: دوئ به ولے ایمان نهٔ لری حالانکه وحی په دوئ نازلیږی. صحابو عرض وکړو: نو بیا مونږه یو. نبی ﷺ وفرمایل: تاسو به ولے ایمان نهٔ لرئ حال دا چه زهٔ ستاسو ترمینځه موجود یم. راوی وائی: نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ماته د هغه خلکو ایمان ډیر زیات ناشنا ښکاری چه هغوئ به ماته روسته راځی، هغوئ به په پاڼړو (ورقو) کښے لیکلے کتاب مومی او په هغے کښے چه څهٔ دی په هغے به ایمان لری).

[رواه البیهقی فی دلائل النبوة، وهو فی الصحیحة، وهو حدیث صحیح عجیب]

۲۶ – دا امت به د خپل نبی نه پس نهٔ گمراه کیږی بلکه دا به د الله په دین باندے تر قیامته پورے ولاړ وی، لکه د صحیح بخاری په هغه مخکنی حدیث کښے دیته اشاره شوے.

معاویه – رضی الله عنه – فرمائی: ما د نبی ﷺ نه آوریدلی دی: [لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِى أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ حَتّٰى يَأْتِىَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ عَلٰى ذٰلِكَ]

(زما په امت کښے به یوه ډله داسے وی چه د الله په حکم سره به په حق باندے مضبوطه ولاړه وی، که دوئ سره څوك خلاف کوی نو دوئ ته به هیڅ ضرر نهٔ وی اونهٔ به دوئ ته دا خبره ضرر ورکوی چه څوك دوئ بے یار ومددگاره پریدی تردے چه د الله حکم راشی اودوئ به په همدے حالت باندے وی). [بخاری، مسلم]

۲۷ – جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: [لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ حَتّٰى تَقُوْمُ السَّاعَةُ]

(دا دین به همیشه لپاره دغسے سَم سَم روان وی په دے به د مسلمانانو یوه ډله جنگ کوی تردے چه قیامت قائم شی). [مسلم، مشكاة: ۲]

عبد الرحمن بن علاء الحضرمیؒ فرمائی: ماته هغه چا حدیث بیان کړے چا چه د نبی کریم ﷺ نه آوریدلے دے چه نبی ﷺ وفرمایل: [إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِى آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ أُجُوْرِ أَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقَاتِلُوْنَ أَهْلَ الْفِتَنِ]

(بیشکه ددے امت په آخر کښے به داسے خلك وی چه دوئ ته به ددے امت د اولنو خلکو پشان

اجرونه ملاویږي، د نیکئ حکم به کوي او د بدئ نه به منع کوي او د فتنې والو سره به جنګیږي)۔
[رواه البیهقی فی الدلائل، مشکاة: ۲]

عمر ﷺ فرمائي: څوك چه دا غواړي چه ددې امت په غوره خلکو کښې ځان شامل کړي نو هغه دې په دې کښې د الله شرط اداء کړي۔ (یعنی د نیکئ حکم او د بدئ نه منع)۔
[ذکره ابن کثیر: ۱]

۲۸ – صیام او قرآن دواړه به بنده لپاره شفاعت کوي، صیام (روژې) به وائي: اې ربه! ما دا د ورځې د خوندونو او مزو نه بند کړې وو۔ قرآن به وائي: ما دا د شپې د خوب نه بند کړې وو نو ددهٔ په باره کښې زما شفاعت قبول کړه۔ نبي ﷺ فرمائي: نو ددې دواړو شفاعت به (ددهٔ په باره کښې قبول کړې شي۔ [مشکاة: ۱]

په حدیث کښې دي: [اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَاِنَّهُ يَأْتِيْ شَفِيْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِأَصْحَابِهِ...... اِقْرَءُوْا الزَّهْرَاوَيْنِ......] (تاسو قرآن لولئ ځکه چه دا به د قیامت په ورځ خپل ویونکو لپاره شفاعت کونکې راځي، تاسو دوه پرقیدونکې سورتونه – بقره او آل عمران – لولئ)۔[صحیح مسلم]

۲۹ – په یو صحیح حدیث کښې راغلي چه: د جنت د ښئ دروازې له خوا به اویا زره کسان ننوځي او د هر زرو کسانو سره به اویا زره کسان وي۔ په یو روایت کښې دي: د هر یو تن سره به اویا زره کسان وي۔ او دا هغه خلك دي چه: په اور داغو نهٔ لړوي، دمونه چانه نهٔ طلب کوي، بلکه په خپل رب ځان سپاري۔
[مسلم، احمد والتفصیل فی ابن کثیر: ۱]

۳۰ – وهب بن منبهٔ فرمائي: الله تعالیٰ په زبور کښې داود علیه السلام ته وحي کړې وه: تا نه پس به یو نبي راځي چه د هغهٔ نوم به احمد او محمد وي، دا به رشتینې سردار وي، زهٔ به هغهٔ ته هیڅ کله غصه کیږم نهٔ، او نهٔ به هغه کله ماته غصه کیږي، او هغهٔ ته ما د نافرمانئ کولو نه وړاندې د هغهٔ مخکنې او روستنې ګناهونه ببنلي، او د هغهٔ په امت باندې رحم شوې۔ ما هغوئ ته دومره زیاتې شیان ورکړي لکه څومره چه ما انبیاؤ ته ورکړي، او په هغوئ باندې ما هغه فرائض مقرر کړي چه هغه ما په انبیاؤ او رسولانو فرض کړي، تردې چه دوئ به د قیامت په ورځ ماته په داسې حال کښې راشي چه د دوئ رڼا به د انبیاؤ پشان وي۔ دې پورې ئې ورته وفرمایل: اې داوده! بیشکه چه ما محمد (ﷺ) او د هغهٔ امت په ټولو امتونو غوره کړې۔
[کذا فی البدایة والنهایة: ۲/ ۲٦/ ۳]

د [تنبیه الغافلین] کتاب په آخر کښې ددې امت څهٔ فضائل بیان شوي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٥٤ ـ نايابه فائده او ناشنا اُعجوبه

څلور خويونه دي چه هغه چاته ورکړے شي نو د هغهٔ زړهٔ رڼرا شو، مالداري ئے زياته شوه، عبادت ئے خوندور شو، عمل ئے زيات او مزيدار شو او په خير کښے به رغبت او انابت لري۔

او هغه دادي: (۱) علم (۲) يقين (۳) اسلام (٤) احسان۔

بيا علم په پنځه ډوله دے: (۱) په الله باندے علم۔ (۲) د هغهٔ په اسماء حسنیٰ باندے علم۔ (۳) د هغهٔ په عالي صفاتو باندے علم۔ (٤) د هغهٔ په اوچت شريعت باندے علم۔ (٥) د هغهٔ په پوره جزاء او بدلے باندے علم۔

او هر چه يقين دے نو ددے بحثونه په دويم جلد فوائد او په دے جلد کښے تير شوی۔

خو دلته مونږ د هغے نه يو شپږ خبرے ذکر کوو:

(۱) د نيکانو خلکو د يقين قيصے چه دویٔ څنګه په الله او د هغهٔ په وعدو باندے يقين کړے، ځکه دا نصيحت دے او نصيحت سره مومنانو ته نفع رسيږی۔ (۲) د يقين د جاري کيدو ځايونه۔ (۳) د الله د ملاقات او د هغهٔ په مخ کښے د ودريدو د ثبوت ډير زيات دلائل۔(٤) ددے اسباب۔ (٥) ددے فضائل۔ (٦) او ددے قِسمونه۔

۱ – د يقين او توکل په باره کښے د نيکانو خلکو قيصے:

دا خو ډيرے زياتے دي خو ددے نه ځينے دادي:

۱ – امام بخاريؒ په خپل سند سره د ابو بکر صديق – رضي الله عنه – نه روايت کوی چه دهٔ عرض وکړو: يا رسول الله ! که په دے مشرکانو کښے څوك خپلو خپو ته وګوري نو خامخا به مونږه (په دے غارِ ثور کښے) ووينی! نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل: [يَا أَبَا بَكْرٍ! مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا؟] (اے ابو بکره! ستا په هغه دوه کسانو څهٔ ګمان دے چه الله ئے دريم ملګرے دے)۔

[صحيح بخاری]

۲ – صحيح بخاری کښے د جابر ﷺ نه د ذات الرقاع په قيصه کښے روايت دے: دا فرمائی: مونږ به چه کله په يوه ګنړه ګوره سورے کونکے وُنه باندے تير شو نو هغه به مو رسول الله ﷺ لپاره پريښوده، نو مونږ خوارهٔ وارهٔ شو چه د وُنو لاندے سوروته کيناستو۔دے کښے يو بانده چې راغے او د رسول الله ﷺ توره زوړنده وه، هغه ئے راواخسته او رسول الله ﷺ ته ئے وويل په داسے حال

کښې چه رسول الله ﷺ راویښ شو : تا به مانه څوك خلاصوې ؟ وې فرمایل: الله۔ نو هغهٔ ته د نبي کریم ﷺ ملګرو دهمکي ورکړه۔ بل روایت کښې دي : د هغهٔ د لاسه توره وغورزیده او نبي ﷺ راواخستـه او وې فـرمایـل: تـابه مانه څوك خلاصوې ؟ هغهٔ ویل: غوره نیونکے جوړ شه۔ نبي ﷺ هغهٔ ته د اسلام دعوت ورکړو خو هغهٔ وویل: زهٔ به ستا په خلاف د خپل قوم ملګرتیا نهٔ کوم۔ [بخاری: ۲]

۳ - مسـنـد احـمد کښې د معراج په قیصه کښې راغلي: د معراج په سهار نبي کریم ﷺ د ډېر غـم او خـفـګـان په حالت په مسجدِ حرام کښې ناست وو۔ دے کښې ابو جهل د هغهٔ خواته تیر شو نـو د توقو په توګه ئے ورته وویل: وراره ! په تا څهٔ وحي راغلې؟ څهٔ وجه ده چه زهٔ تا د غم او خفګان پـه حـالـت کښې وینـم؟ نـو نبي کریم ﷺ وفرمایل: هو ! د شپې زهٔ بیت المقدس پورې او د هغهٔ ځائے نه آسمانونو ته وخیژولے شوم۔ ابو جهل وویل: په یوه شپه کښې؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: هـو! نـو ابـوجهـل نبـي کـریم ﷺ ته خلك راغونډ کړل او ورته ئے وویل: دے خلکو ته ددے واقعے خبـر ورکـړه۔ نبي کریم ﷺ دغه خلکو ته ددے خبر ورکړو، نو زیاتو خلکو ددے نه انکار وکړو، او ځیـنـې مسـلـمـانـان هم په شك کښې پریوتل۔ نو ابو جهل ابو بکر ته ورغے او ورته ئے وویل؛ ستا مـلـګـرے خـو دا دا خبرے کـوي۔ هـغـهٔ ورتـه وفـرمایل: زهٔ ددے نه په ډېر زر وخت کښې هم هغه رشتینے ګنړم۔ نو ابوجهل د هغهٔ د یقین او تصدیق نه تعجب وکړو۔

٤ - سعد بن معاذ ﷺ فـرمائي: درے خبرے دي چه زهٔ په هغے کښې خصوصي سړے یم، او ددے نه سیوا زهٔ د عامو خلکو نه یم : ما چه د رسول الله ﷺ نه کوم حدیث هم آوریدلے نو ددے په باره کښـې خـامـخـا زهٔ دا یـقیـن لـرم چه دا د الله له خوا حق دے۔ (۲) زهٔ چه په مانځه کښې یم نو ددے د پـوره کولو نه مخکښې ما ددے نه سیوا په بل شئ باندے خپل ځان نهٔ دے مشغوله کړے۔ (۳) او زهٔ چه کـله هم په یوه جنازه کښې یم نو زهٔ صرف او صرف په دے سوچ کښې یم چه دا به څهٔ وائي او دیته به څهٔ ویلے کیږي تردے چه زهٔ د جنازے مونځ پوره کړم۔

سعید بن المسیبؒ فرمائي: زما دا ګمان وو چه دا صفتونه صرف په یو نبي کښې کیدے شي۔ [الطبقات: ۳/ ٤٢٠ ، أبطال الاسلام: ۱/ ۷۲]

۵ - د ابو هریره ﷺ پـه حـدیث کښې دي چه نبي کریم ﷺ دهٔ ته د رمضان د سرسایه د حفاظت ذمـه واري ورپه غاړه کړے وه، نو دهٔ ته شیطان راغے چه غلا ئے ترے کوله، نو ابو هریره ورته وویل: زهٔ بـه تـا خـامـخـا رسول الله ﷺ ته بوځم، نو هغهٔ ورته د سخت حاجت شکایت وکهٔ نو ابو هریره هغـه پرېښودهٔ، نو رسول الله ﷺ ابو هریره ته وفرمایل: بیګاه ستا قیدي څهٔ وکړل؟ هغهٔ ویل: د

Maktaba Tul Ishaat.com

حاجت او د بال بچ شکایت ئې کولو، نبي کریم ﷺ وفرمایل: هغهٔ تاته دروغ ویلي او بیا به هم راځي۔ ابو هریره ﷺ وائي: د رسول الله ﷺ ددې خبرې د وجې (چه هغه به بیا هم راځي) ما د هغهٔ انتظار وکړو۔ [صحیح بخاري: ۱]

نو فکر وکړه، ابو هریره ﷺ څنګه د رسول الله ﷺ په دې خبره کلك یقین لرې چه: هغه به خامخا تاته راواپس کیږي۔

۶ – ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه نبي کریم ﷺ ته یو میلمه راغلې او ویلې: زه (د وُلږې په وجه) په تکلیف کښې یم۔ نو نبي ﷺ خپلو ازواجو مطهراتو ته پیغام ولیږهٔ۔ هغوئ جواب ورکړو: قسَم دې په هغه ذات چه تاسو ئې په حقه رالیږلې یئ! ماسره د اوبو نه سیوا هیڅ شے نشته۔ نبي ﷺ بلې بي بي ته پیغام ولیږهٔ۔ هغې هم ددې پشان جواب ورکړو، تردې چه ټولو دا وویل: قسَم دې په هغه ذات چه ته ئې په حق رالیږلې ئې: زما سره د اوبو نه سیوا بل هیڅ شے نشته۔ نو نبي ﷺ اوفرمائیل: نن شپه به ده له څوك میلمستیا ورکړي؟ نو یو انصاري سړي (ابو طلحه) وویل: یا رسول الله! زهٔ۔ نو هغه ئې د خپل ځان سره خپل کور ته بوتلو، او خپلې ښځې ته ئې اووئیل: د رسول الله ﷺ د میلمه عزت وکړه۔ او په یو بل روایت کښې دي چه هغه خپلې ښځې ته وویل: تاسره څه شته؟ هغې ویلې: نه۔ صرف زما د بچو خوراکه شته دې۔ هغه ویلې: دا ماشومان په څهٔ سره قلار کړه او کله چه دوئ د ماښام خوراك وغواړي نو دوئ (په څه چل) اوده کړه، او کله چه زمونږ میلمه کورته را ننوځي نو ډیوه مړه کړه، او هغه ته دا اوښایه چه ګنې مونږ (هم هغه سره) خوراك خورو۔ نو کله چه هغوئ تول (خوراك لپاره) کیناستل او میلمه خوراك وخوړلو او هغې دواړو وږې شپه تیره کړه۔ کله چه صبا شو او هغه د نبي ﷺ خواته حاضر شو نو نبي ﷺ ورته وفرمایل: بیګاه شپه چه تاسو د خپل میلمه سره کوم سلوك وکړو، الله تعالیٰ ددې نه تعجب وکړو (په دې ډیر خوشحاله شو)۔ (بخاري، مسلم)۔

د مسلم په روایت کښې دي: الله په هغه کار تعجب وکړو کوم چه تاسو د خپل میلمه سره وکړو، نو الله دا آیت راولیږهٔ: ﴿ وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ [حشر: ۹] (او دوئ په خپلو ځانونو باندې نورو له ترجیح ورکوي اګرکه دوئ وږې وي)۔

نو وګوره دې یقین او توکل ته! ماشومان چه صبا کړي نو څهٔ به کوي؟

۷ – ابو هریره ﷺ فرمائي: نبي کریم ﷺ وفرمایل: [اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَلَا اِلٰى اَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ] (الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نهٔ ګوري، هغه خو ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري)۔

[صحیح مسلم]

۸ – ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه یو ځل دا نبي کریم ﷺ پسے روسته په یوه سورلۍ باندے ناست وو، نو رسول الله ﷺ هغۀ ته وفرمایل: اے هلکه! زۀ تاته یو څو کلمات درښایم الله به د هغې په ذریعه تاله نفع درکړي: تۀ د الله حفاظت کوه الله به ستا حفاظت کوي، تۀ د الله خیال ساته نو هغه به خپلے مخے ته ومومے۔ اوکله چه تۀ سوال کوے نو د الله نه ئې کوه، اوکله چه مدد غواړے نو الله نه مدد غواړه اوپه دے ښۀ پوهه شه که ټول امت راجمع شي او تاته د څۀ شئ نفع رسول غواړي نو تاته نفع نشي رسولے مگر د هغه شئ چه الله تالپاره لیکلے وي، اوکه چرے دوئ په دے راجمع شي چه تاته ضرر درکړي نو تاله صرف هغه ضرر درکولے شي چه هغه الله تاله لیکلے دے۔ قلمونه د لیکلو نه پورته شوي او صحیفے اوچے شوي۔ بل روایت کښے دي: الله ته په فراخۍ کښے ځان وښایه نو په سختۍ کښے به دے وپیژني، او په دے ښۀ پوهه شه چه تۀ کومه خبره بدے گڼړے په هغې باندے په صبر کولو کښے ډیر زیات خیر دے، او بیشکه چه مدد د صبر سره ملگرے دے، او د مصیبت سره فراخي ده او د سختۍ سره آساني ده۔

[ترمذی، أحمد، فتح الباری: ۱۰/ ۱۲۶]

۹ – حدیث کښے دي: نبي کریم ﷺ د خزیمه بن ثابت ﷺ یواځے گواهي د دوه سړو د گواهۍ برابره گڼړلے وه۔ (ابوداود)۔

۱۰ – ذون النونؒ فرمائي: یقین انسان د امیدونو کوتاه والي ته رابلي، او د امیدونو کوتاه والے انسان زهد ته رابلي، او زهد انسان حکمت ته رابلي، او حکمت په انسان کښے په انجام کښے فکر کولو ته رابلي۔

[بصائر ذوی التمییز: ۵/ ۳۹۷]

۱۱ – جنیدؒ فرمائي: یقین هغه علم دے چه په زړۀ کښے قرارے ومومي، چه نۀ بدلیږي او نۀ اوړي۔ [حوالا بالا]

۱۲ – ابن سعدؒ په خپلو طبقاتو کښے ذکر کړي چه سلمان فارسي ﷺ عبد الله بن سلام ﷺ ته وفرمایل: اے زما وروره! که ما او تا کښے کوم مخکښے مړ شي نو په کوشش سره دے د الله نه غواړي چه په خوب کښے ئې ووینې۔ عبد الله بن سلام ﷺ ورته وفرمایل: آیا داسے کیدے شي؟ هغۀ ویل: هو! د مومن روح ایله شوے وي چرته چه غواړي گرځي، او د کافر روح په جیل کښے وي۔ نو سلمان مړ شۀ نو عبد الله وویل: یوه ورځ زۀ په خپل کټ باندے د غرمے اودۀ ووم چه سترگے مے پټے شوے چه ساپه سلمان په خوب کښے راغے او وے ویل: السلام علیکم ورحمة الله

Maktaba Tul Ishaat.com

وبرکاته ! ما ویل: اے ابو عبد الله : السلام علیك ورحمة الله ! تا خپل ځائے څنګه وموندۀ؟ هغۀ ویل: بهترـ او په تا باندے لازم دي چه توکل کوے ځکه توکل ډیر ښۀ شے دے، ځکه توکل ډیر ښۀ شے دےـ دا ئے درے ځله وویلـ

[طبقات ابن سعد: ٤/ ٩٣، الحلية لأبی نعيم: ١/ ٢٠٥]

۱۳ - کله چه دا سورت نازل شو: ﴿ الٓمٓ غُلِبَتِ الرُّوْمُ﴾ [روم: ۱:۲] (رومیان کمزوری شو) نو ابو بکر صدیق رضی الله عنه د ځینې مشرکانو سره شرط کینبودۀ چه رومیان به یو څو کاله پس غالبه کیږی، نو په فارس باندے د رومیانو د غلبے نه مخکښے هغه نیته راغلهـ نو دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسیده او په دے خبره هغه خفه اوغمژن شو او ابو بکر ته ئے وفرمایل: دا کار دے ولے وکړو؟ هغۀ ویل: د الله او د رسول په خبره د تصدیق لپارهـ نبی ﷺ ورته وفرمایل: تۀ هغوئ ته ورشه او شرط ورسره زیات کړه او دا یو څو کالو پورے مقرر کړهـ بیا رومیانو په فارس والو غلبه وموندہ نو ابو بکر رضی الله عنه د هغوئ نه خپل شرط (کړی اوښان) واغستۀـ نو په دے سره ډیر خلك په اسلام کښے داخل شولـ

[أخرجه الترمذی وقال: حديث حسن صحيح]

د صدیق ﷺ په دے یقین باندے سوچ وکړه !

۱٤ - عائشه رضی الله عنها فرمائی: أُسید بن حُضیر ﷺ غوره صحابی وو، هغۀ به ویلے: که همیشه لپاره زما حالت داسے شی څنګه چه په درے حالتونو کښے زۀ یم، نو زۀ به خامخا جنتی یم او په دے کښے به زۀ هیڅ شك نۀ کومـ (۱) کله چه زۀ قرآن لولم او کله ئے چه آورمـ (۲) کله چه زۀ د رسول الله ﷺ خطبه آورمـ (۳) اوکله چه زۀ جنازے ته حاضر شمـ او کله چه زۀ هم جنازے ته حاضر شوے یم نو په دے وخت کښے ددے نه سیوا زما بل هیڅ فکر نۀ وی چه دے سره به اوس څۀ کیږی او ددے انجام به څنګه ویـ

[منتخب كنز العمال: ٥/ ١٣٨، أخرجه أبو نعيم والبيهقی وابن عساكر، حياة الصحابة: ٢/ ٤١]

۱٥ - ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: خپل ایمانونه تازه کړئـ عرض وشو: یا رسول الله ! مونږ څنګه خپل ایمانونه تازه کړو؟ وے فرمایل: لا اله الا الله ډیره ډیره وایئـ

[أخرجه أحمد والطبرانی وقال الهيثمی: ١/ ٨٣: رجال أحمد ثقات، وحسنه المنذری فی الترغيب: ٢/ ٧٥]

۱٦ - ابو سعید خدری ﷺ فرمائی: (یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے ویل : زما دوږور خیته بهیږی، نبی ﷺ ورته وفرمایل: د شاتو شربت پرے وڅښوه، هغه لاړ او شات ئے پرے وڅښول، بیا راغے او عرض ئے وکړو : یا رسول الله ! د شاتو شربت مے پرے وڅښولو خو د هغۀ خیته نوره هم

وبهیده۔ نبي ﷺ ورته وفرمایل: لاړ شه او شات پرېے وڅښوه، هغه لاړ او شات ئے پرېے وڅښول، بیا راغے او عرض ئے وکړو: یا رسول الله ! د شاتو شربت مے پرېے وڅښولو خو د هغهٔ خیټه نوره هم وبهیده۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: الله رشتیا ویلي دي (چه په شاتو کښے شفاء ده) او ستا د ورور خیټه دروغژنه ده۔ لاړ شه او شات پرېے وڅښوه، هغه لاړ او شات ئے پرېے وڅښول او هغه جوړ شو)۔

[بخاري ، مسلم ، ابن کثیر: ۲/ ۵۷۵]

۱۷ – د عبد الله بن مسعود ؓ په واقعه کښے راځي چه دهٔ د خپلے بي بي نه هغه تار پریکړو چه هغه ورله یو یهودي دَم کړے وو، او هغے ته ئے وفرمایل: شیطان ستا سترګه وهله او کله به چه یهودي دَم کړه نو شیطان به ترے لاړو، تاله خو دا دعاء ویل پکار وو:

[أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ لا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ ذَنْبًا]

[بخاري ، احمد]

۱۸ – د صلح حدیبیه په واقعه کښے راځي: سهل بن حنیف ؓ فرمائي: تاسو خپله رائے تهمتي وګڼړئ، ځکه ما د ابو جندل ؓ په ورځ خپل ځان لیدلے، اوکه زما وسه کیدے چه زهٔ د رسول الله ﷺ خبره رد کړم نو ما به رد کړے وے۔ دے کښے سورتِ فتح نازله شوه او رسول الله ﷺ عمر بن خطاب ؓ را وغوښتهٔ او هغه ئے ورته ولوستهٔ۔ او په دے حدیث کښے دي: عمر فاروق وفرمایل: آیا مونږ په حقه او دوئ په باطل نهٔ دي؟ آیا زمونږ مړي په جنت کښے او د دوئ مړي په اور کښے نهٔ دي؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: ولے نه ! ویل: نو بیا دوئ ته مونږ په دین کښے خپل ځان ښکته راولو او دوباره مدینے ته په داسے حالت کښے واپس کیږو چه لا تراوسه پورے الله زمونږ او د دوئ ترمینځه فیصله نهٔ ده کړے؟ نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: اے د خطاب ځویه ! زهٔ د الله رسول یم، الله هیڅ کله ما نهٔ ضائع کوي۔ نو عمر فاروق د غصے په حالت کښے واپس شهٔ او د صبر کولو نه بغیر ابو بکر صدیق ؓ ته ورغے، او عرض ئے وکړو: اے ابو بکره ! آیا مونږ په حق او دوئ په باطل نهٔ دي؟ هغهٔ ورته وفرمایل: اے د خطاب ځویه ! دا خو د الله رسول دے او هیڅ کله ئے الله نهٔ ضائع کوي۔ نو دے کښے سورتِ فتح نازله شوه۔

[صحیح بخاري]

په دے حدیث کښے ورسره دا هم دي: آیا مونږ ته رسول الله ﷺ دا نهٔ دي ویلي چه مونږ به بیت الله ته راځو او طواف به کوو؟ ابو بکر ورته وفرمایل: هو ! تا ته ئے ویلي دي خو سږ کال ئے درته په کښے یاد کړے؟ هغهٔ ویل: نه ! ویلے: تهٔ به خامخا بیت الله ته راځے او طواف به کوے۔ عمر فاروق – رضي الله عنه – وائي: ددے غصے د تدارك لپاره ما ډیر عملونه وکړل۔ (دا اوږد حدیث دے او په

Maktaba Tul Ishaat.com

دے کښې ډیر فوائد دي)۔
۱۹ – زید بن اسلم وائي: یو ځل ابن عمر ﷺ په یو ګډبه تیریدهٔ او وې فرمایل: آیا څهٔ ګډه بزه شته؟ هغهٔ ویل: ددے ګډو بزو خاوند نشته۔ ابن عمر ورته وویل: تهٔ به ورته ووائے چه شرمخ وخوړله۔ هغهٔ ویل: نو الله به چرته وي؟ زید وائي: ابن عمر دغه شپونکے واغستهٔ، آزاد ئے کړو او هغهٔ ته ئے ورکړو۔
[الاصابة: ۲/ ۳٤۹، للحافظ ابن حجر]
وګوره! یقین څنګه خپل خاوند ته فائده ورکوي۔
۲۰ – او دا قیصه د عمر فاروق ﷺ نه هم نقل ده چه هغهٔ دا کار د یو سړي د غلام سره هم کړے وو او ورته ئے وفرمایل: دے خبرے تهٔ په دنیا کښې آزاد کړے او د الله نه امید لرم چه د قیامت په ورځ به هم دا تا د اوره آزاد کړي۔
[ذکره أبو بکر الجزائري في نداآت الرحمن]
۲۱ – ابو هریره ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي چه فرمایل ئې: ((یو ځل یو شپونکے د خپلو ګډو بزو په مینځ کښې ناست وو چه دے کښې شرمخ راودانګل او د هغے نه ئے یوه ګډه ونیوله، شپونکے هغهٔ پسے شو، نو شرمخ ورته وکتل او وې ویل: د درنده ګانو په ورځ به ددے ذمه وار څوک وي؟ مانه سیوا به ددے بل څوک شپونکے نهٔ وي۔ او یو ځل یو سړي غوا را روانه کړے وه چه په هغے باندے ئے بار اچولے وو نو هغه غوا ورته مخ راواړولو او خبرے ئے ورسره وکړے، ورته ئے وویل: زهٔ خو دے کار لپاره نهٔ یم پیدا شوے، زهٔ خو د ایوے (پټي اړولو) لپاره پیدا شوے یم۔ نو خلکو په تعجب سره وویل: سبحان الله! (ځناور خبرے کوي!) نبي کریم ﷺ وفرمایل: [فَأَنَا أُوْمِنُ بِذٰلِكَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ] وَفِيْ رِوَايَةٍ [وَمَا هُمَا ثَمَّ]
(زهٔ او ابو بکر او عمر بن الخطاب دا منو) په یو روایت کښې دي چه دوئ دواړه په دے وخت کښې دلته حاضر نهٔ وو۔
[صحیح بخاري: ۱/ ۵۱۷]
وګوره! نبي کریم ﷺ څنګه ددے دواړو بزرګانو په ایمان او یقین بهروسه کړے! هم دا یقین د دوئ د درجاتو وچتیدو سبب دے۔
۲۲ – د عمر ﷺ په هغه قیصه کښې چه په هغے کښې ابو بکر صدیق ﷺ ته غصه شوے وو، داسے دي: نبي کریم ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ زهٔ تاسو ته راولیږلم نو تاسو زما تکذیب وکړو او ابو بکر زما تصدیق وکړو او د خپل مال او ځان په ذریعه ئے زما غم خواري وکړه، نو آیا تاسو ماته

زما خپل دوست پریښودونکی یئ؟ دوه ځله ئې داسې وفرمایل. نو ددې نه پس ورته تکلیف نهٔ دې ورکړې شوې. [بخاري: ۱/ ۵۱٦]

۲۳ – ابن عمر ﷺ د نبی کریم ﷺ دا ارشاد نقل کوی: (الله تعالی په انسان باندې صرف هغه څوك مسلط کوی چه د هغې نه انسان یریږی، اوکه چرې بنده د الله نه سیوا د بل چانه نهٔ یریدلے نو الله به په دهٔ باندې د الله نه سیوا بل هیڅوك نهٔ مسلط کولے، او انسان نهٔ دې سپارل شوې مګر هغه چاته چه د هغهٔ نه امید لری، اوکه چرې انسان د الله نه سیوا د بل چانه امید نهٔ لرلے نو د الله نه سیوا بل چاته به ئې نهٔ وې سپارلے.

[رواه الديلمي كما في الكنز: ۳/ ۵۹۰۹، وابن عساكر]

او په (ابن عساکر) کښې دا هم دی: یو ځل ابن عمر ﷺ د ازمری غوږ راونیوهٔ او هغه ئې ومړهٔ او د لارې نه ئې لرې کړو. ویلې: رسول الله ﷺ ستا باره کښې دروغ نهٔ دی ویلی، ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئې: (په انسان باندې صرف هغه څوك مسلط کولے شی چه د هغې نه یریږی، اوکه انسان د الله نه سیوا د بل چانه نهٔ یریدلے نو د الله نه سیوا بل څوك به ئې پرې نهٔ مسلط کولے.

[رواه الحكيم عن ابن عمر، كما في الكنز: ۳/ ۱۳۹، وررواه أيضا في: ۱۳/ ۳۷۲۵۷، ۳۷۲۵۸، عن ابن عساكر]

۲٤ – سهم بن منجابؒ وائی: مونږ د علاء بن الحضرمی ﷺ په ملګرتیا کښې غزا ته لاړو نو مونږ روان وو تردې چه دارین (علاقې) ته ورسیدو او زمونږ او د کافرو ترمینځه سمندر وو، نو علاء ﷺ دا دعاء وکړه: [يَا عَلِيْمُ يَا حَلِيْمُ، يَا عَلِيُّ يَا عَظِيْمُ! اِنَّا عَبِيْدُكَ وَفِيْ سَبِيْلِكَ نُقَاتِلُ عَدُوَّكَ فَاجْعَلْ لَنَا اِلَيْهِمْ سَبِيْلًا] (اې پوهه صبرناکه، اې اوچت او پورته ذاته! مونږ ستا بندیان یو او ستا په لاره کښې یو، ستا د دشمن سره جنګیږو، نو ته مونږ لپاره دوئ طرفته لاره جوړه کړه).

نو مونږ سمندر ته ورودانګل او په کښې ورننوتو خو زمونږ لمخو ته لا اوبهٔ نهٔ وې رسیدلې چه هغوئ ته ور ورسیدو. کله چه د کسرئ بادشاه ګورنر (ابن المكعبر) مونږه ولیدو نو وې ویل: قسَم په الله! مونږ ددې خلکو سره جنګ نهٔ کوو. بیا په یوه کشتئ کښې کیناستهٔ او فارس ته لاړ. [حلية الأولياء لأبي نعيم: ۱/ ۷]

۲۵ – امام ابو نعیمؒ په خپل سند سره ذکر کړی دی چه سعد بن ابی وقاص ﷺ د خپل لښکر سره دَ دجلې په سمندر باندې پورې واتهٔ او وې فرمایل: قسَم په الله! الله به خامخا د خپلو اولیاؤ مدد کوی او خپل دین به غالبه کوی او خپل دشمن له به ماتې ورکوی اوکه په لښکر کښې چرته ظالم یا ګنهګار نهٔ وی نو نیکئ به غالبه کیږی. نو سلمان ﷺ ورته وویل: اسلام نوې دې، قسَم په الله! د

Maktaba Tul Ishaat.com

دوئ لپاره سمندرونه داسې تابع شوی لکه څنګه چه ورله اوچه تابع شوې. خبردار! په هغه ذات مې دې قسم وی چه د سلمان نفس د هغهٔ په لاس کښې دې! خامخا به ددې نه څهٔ ډلې ووځی لکه څنګه چه دوئ په دې کښې ډلې ډلې راننوتی وو. او مسلمانانو به په دریاب کښې دننه د اوچې نه زیاتې خبرې کولې او د دوئ هیڅ یو شې ورك شوې نهٔ وو. حجر بن عدی وویل: کافرو طرفته ستاسو د ورتیریدو په لاره کښې صرف دا لږې شان اویهٔ یعنی د دجلې سمندر خنډ واقع شوې: ﴿ وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَنْ تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ كِتَابًا مُؤَجَّلًا ﴾ [آل عمران: ١٤٥] (هیڅ یو نفس لپاره نشی کیدې چه د الله د حکم نه بغیر مړ شی، لیکلې تړلې خبره ده).

نو کله چه فارسیانو دوئ ولیدل نو وې ویل: دیوان دیوان آمد (یعنی لیونی راغلل، لیونی راغلل) او خپلو کښې ئې یو بل ته وویل: قسم په الله! تاسو خو د انسانانو سره جنګ نهٔ کوئ، بیا وتښتیدل.

[أخرجه أبو نعيم في الدلائل: ٢٠٩، والروايات مفصلة في البداية: ٧/ ٦٤، والطبراني: ٣/ ١١٩]

٢٦ - معاویه بن حرملؒ فرمائی: زهٔ مدینې ته راغلم نو تمیم داری ﷺ زهٔ میلمه کړم نو ما ډیر زیات خوراك وکړو خو د سختې لوږې له کبله زهٔ موړ نشوم څکه چه زهٔ په جومات کښې درې ورځې پاتې شوم او هیڅ شې مې نهٔ وو څکلې. دې کښې یو ورځ مونږ ته په کاڼجنه علاقه کښې اور را وواتهٔ، نو عمر فاروق ﷺ تمیم داری ته راغې او ورته ئې وفرمایل: دې اور ته ورپاسه. هغهٔ ویل: اې امیر المومنین! زهٔ څوك ئې چه دا کار وکړم؟ خپل څان ئې وړوکې وګڼړلو، خو هغهٔ اصرار کولو تردې چه د هغهٔ سره ودریدهٔ. معاویهؒ وائی: زهٔ دې دواړو پسې روان شوم نو مونږ هغه اور ته ورسیدو. نو هغه شروع شو چه دا اور ئې په خپلو لاسونو سره داسې راجمع کولو تردې چه هغه درې ته ننواتهٔ او تمیم داری هغې پسې ورننواتهٔ او عمر فاروق ﷺ ویلې: د لیدو او نا لیدو ډیر فرق دې. او عمر فاروق تمیم داری ته وفرمایل: ابو رقیه! ددې پشان کار لپاره مونږ تا پټ ساتو.

په دې واقعه کښې دی چه تمیم داری ﷺ اور پسې ورننواتهٔ او اور ورته ضرر ورنهٔ کړو.

[دلائل النبوة لأبي نعيم: ٢١٢، كما في الأصابة: ٣/ ٤٩٧، وانظر البداية: ٦/ ١٥٣]

٢٧ - عطاءؒ فرمائی: ابو ریحانهٔ په کشتئ کښې په سمندر کښې سور شو نو هغه په چپو شو نو ورته ئې وفرمایل: په آرام شه څکه چه تهٔ یو حبشی غلام ئې نو هغه داسې په آرام شهٔ لکه د تیلو غونته. راوی وائی: ابو ریحانهٔ ګنډل کول نو په سمندر کښې ترې ستنه پریوته نو وې فرمایل: اې ربه! زهٔ تانه خامخا ددې واپسی غواړم، نو هغه سرته راوخته نو هغه راواغسته.

[أخرجه ابن الأثير في أسد الغابة: ٢/ ٧٩، وابن منده وأبو نعيم ونحوه في الاصابة: ٢]

سبحان الله ! ددے مؤمن سړی په زړهٔ کښے څومره مضبوط یقین پروت دے !!

۲۸ - نبی کریم ﷺ او صحابه کرامو - رضی الله عنهم - چه کله خندق کنستو نو په دے کښے یو سخت گټ راښکاره شو، نبی کریم ﷺ کرندے واغستهٔ او درے گذاره ئے ورکړل او د هر گذار سره ئے بسم الله، الله اکبر وویلو او دائے وفرمایل: د کعبے په رب مے دے قسَم وی چه د فارس بنگلے، د روم بنگلے او د صنعاء بنگلے (به فتح کیږی)۔ نو صحابه کرامو وویل: الحمد لله ! ډیره رشتینے وعده ده۔

او منافقانو وویل: مونږ په خپله خندق کنو او دے مونږ سره دُ روم او فارس د بنگلو وعده کوی! نو دا آیت نازل شهٔ : ﴿ وَإِذْ يَقُولُ الْمُنٰفِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ﴾ [احزاب: ۱۲] (او کله چه منافقانو او هغه خلقو چه د هغویٔ په زړونو کښ بیماری وه وویل چه الله او دَ هغهٔ رسول مونږ سره دروغژنه وعده کړے وه)۔

په یو روایت کښے دی: صحابه کرامو - رضی الله عنهم - عرض وکړو: الله نه دعاء وغواړه چه دا مونږ لپاره فتح کړی او مونږ له د دوئ بچی په غنیمت کښے راکړی او ز مونږ په لاسونو د دوئ ښارونه شاړ کړی! نو نبی کریم ﷺ ورله دا دعاء وغوښته۔

[قال الهيثمي: رجاله رجال الصحيح: ٦/ ١٣٢، وانظر الحديث بطوله في البداية: ٤/ ١٠٢، وحياة الصحابة: ٣/ ٢٠]

۲۹ - خالد بن ولید ﷺ زهر وڅښل او تکلیف ئے ورنهٔ کړو:

محمد بن ابی السفر د ذی الجوشن ضبابی وغیره ﷺ نه نقل کوی چه د ابن بقیله سره یو خادم وو چه د هغهٔ سره په شا باندے یو بیگ وو۔ نو خالد بن ولید رضی الله عنه ترے دغه بیگ واغستهٔ او په هغے کښے چه څهٔ وو نو هغه ئے په خپل ورغوی کښے خوارهٔ کړل او وے فرمایل: اے عمرو ! (او دا یو نصرانی سړے وو) دا څهٔ دی؟ هغهٔ وویل: دا قسَم په الله ! د یو ساعت زهر دی۔ خالد ورته وویل: زهر ولے ساتے؟ هغهٔ ویل: کیدے شی چه زهٔ کوم حالت وینم هغه بدل شی او ما څان سره خپله نیتیه راوړے او مرگ ماته د هغه مکروه کار نه زیات خوښ دے چه په خپل قوم او کلی والو باندے ئے راننه باسم۔ خالد رضی الله عنه وفرمایل: هیڅ یو نفس د خپلے نیتے نه مخکښے نهٔ مری او وے ویل: [بِسْمِ اللهِ خَيْرِ الْأَسْمَاءِ رَبِّ الْأَرْضِ وَرَبِّ السَّمَاءِ الَّذِي لَيْسَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ دَاءٌ، الرَّحْمٰنُ الرَّحِيمُ]

نو خلکو اراده وکړه چه د هغه زهرو څښلو نه ئے منع کړی خو هغهٔ په تادئ سره هغه وڅښل۔ نو عمرو (نصرانی سړی) وویل: قسَم په الله اے د عربو ډلے ! تاسو چه څهٔ ارادے لرئ هغه به خامخا

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو پوره کولے شئ تر څو پورے چه په تاسو کښے په دے پیرئ کښے یو تن هم باقی پاتے وی۔ بیا د عراق خلکو ته متوجه شو او وے ویل: د نن ورځے پشان ښکاره پیش قدمی ما نۀ ده لیدلے۔

[تاریخ ابن جریر: ۲/ ۵٦۷، قال الحافظ فی الاصابة: ۱/ ٤١٤: وله إسنادان آخران فی الطبقات، و هو فی المجمع: ۹/ ۲٥۰]

۳۰ – طارق بن شهاب ﷺ فرمائی: عمر فاروق ﷺ ته یو یهودی راغے او پوښتنه ئے ترے وکړه: تا د الله تعالیٰ په دے وینا کښے فکر کړے چه: ﴿ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ ﴾ [آل عمران: ۱۳۳] (د جنت پلنوالے به د آسمانونو او زمکے په اندازه وی) نو اور به چرته وی؟ نو عمر فاروق د رسول الله ﷺ ملګروته وفرمایل: دۀ له جواب ورکړئ۔ هغوئ نه هیڅ ونشو نو عمر فاروق وفرمایل: په دے مے پوهه کړه چه کله د ورځے پسے شپه راشی او زمکه په تیارۀ ډکه کړی نو ورځ چرته لاړه شی؟ هغۀ ویلے: چرته چه الله غواړی هلته ځی۔ نو عمر فاروق وفرمایل: اور هم هغه ځائے وی چرته چه الله غواړی۔ نو یهودی وویل: په هغه الله قسَم دے چه زما روح د هغۀ په لاس کښے دے! اے امیر المؤمنین! د الله په نازل شوی کتاب کښے هم دا ستا غوندے خبره ذکر ده۔

[أخرجه ابن جریر وعبد بن حمید، کذا فی الکنز: ۷/ ۲۷۷]

۳۱ – ایمان د استحضار نوم دے: لکه د معاذ ﷺ په حدیث کښے دی: چه دے رسول الله ﷺ ته ورغے نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: معاذه! په کوم حالت کښے دے صبا کړو؟ هغۀ ویل: په داسے حال کښے مے صبا کړو چه په الله ایمان لرونکے یم۔ نبی ﷺ وفرمایل: د هرے وینا یو مصداق وی او د هر یو حق یو حقیقت وی نو ستا د وینا مصداق څۀ دے؟ ویلے: اے د الله نبی! په ما باندے هیڅ صبا نۀ دے راغلے مګر زما دا خیال دے چه زۀ به بیګاه ته پاتے نشم، او په ما باندے هیڅ بیګاه نۀ دے راغلے مګر زما دا خیال دے چه زۀ به صبا نۀ کړم۔ او ما هیڅ یو ګام نۀ دے اغستے مګر زما دا خیال دے چه زۀ به پسے قدم وانۀ خلم۔ او ګویا زۀ هر یو امت وینم چه په ګوډو پروت دے او خپلے عمل نامے ته رابلل کیږی، د هغے سره خپل نبی دے او هغه بوتان دی چه د الله نه سیوائے د هغے بندګی کوله۔ او ګویا زۀ د اور والو عذاب او د جنت والو ثواب وینم۔ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل: تۀ پوهه شوے نو دا خبره راټینګه کړه۔

[رواه أبو نعیم فی الحلیة: ۱/ ۲٤۲، وإسناده هکذا: حدثنا جعفر عن دلیل عن عبد العزیز بن منیب۔ وهو غیر حدیث حارثة الضعیف]

۳۲ – یقین محبت پیدا کوی او دا د الله د محبت او د جنت سبب دے:

عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ یو سرے په یو لښکر باندے امیر مقرر کۀ نو هغۀ

به خپلو ملګروته په مانځه کښې قرأت کولو نو په [قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ] به ئې ختمولو، کله چه ملګری واپس شول نو دا خبره ئې رسول الله ﷺ ته وکړه، نبي ﷺ وفرمایل: تاسو د هغهٔ نه پوښتنه وکړئ چه دا کار ئې ولې کولو؟ هغوئ ترې پوښتنه وکړه، نو هغهٔ ووېل: ځکه چه دا د رحمٰن ذات صفت دې نو زهٔ ددې لوستل خوښ ګنړم۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغهٔ له خبر ورکړئ چه الله عز وجل د هغهٔ سره مینه لري۔

[رواه البيهقي في الأسماء، ص: ۲۰۸، وهو حديث صحيح]

د صحيح بخاري په حديث کښې دي: يو سړی به دا کار په مسجدِ قباء کښې کولو۔ او په دې کښې دي: رسول الله ﷺ وفرمایل: ددې سورت محبت تهٔ جنت ته ننه ايستې۔

[بخاري: ۱/ ۱۰۷]

۳۳ – ابو هريره ﷺ فرمائي: يو بانډه چي سړے نبي کريم ﷺ ته راغے او عرض ئې وکړو: د قيامت په ورځ به د خلکو سره حساب څوك کوي؟ نبي کريم ﷺ وفرمایل: الله عز وجل۔ نو بانډه چي ووېل: د کعبې په رب مې دې قسَم وي! مونږ نجات بياموندهٔ۔ نبي کريم ﷺ ورته وفرمایل: اے بانډه چي! دا څنګه؟ هغهٔ ووېل: [إِنَّ الْكَرِيمَ إِذَا قَدَرَ عَفَا] (د عزت او سخاوت خاوند چه کله په چا قدرت ومومي نو معافي کوي)۔

[رواه ابن النجار، كما في الكنز: ۷/ ۲۷۰]

او ددې پشان روايت ابن ماجه په صحيح سند سره نقل کړے چه يو بانډه چي ووېل:
[لَنْ نَعْدِمَ مِنْ رَبٍّ يَضْحَكُ خَيْرًا] (کوم رب چه خاندي نو هغهٔ نه به هيڅ کله مونږ بے ښيګړے پاتې نشو)

۳٤ – سعيد بن المسيبؒ وائي: عمر فاروق ﷺ معاذ ﷺ د زکاتونو راغونډولو لپاره وليږهٔ نو هغهٔ يو تراټ راوړو چه په خپل څټ ئې راروان کړے وو، نو ښځې ئې ورته ووېل: تا د عاملانو (ګورنرانو) پشان مالونه ولې رانهٔ وړل؟ هغهٔ ورته ووېل: ما سره دباؤ اچونکے موجود وو يعني الله عز وجل۔ نو هغه ښځه په خلکو کښې ودريده ويلے: عمر ﷺ زما د خاوند سره دباؤ اچونکے تن ليږلے وو۔ نو عمر رضي الله عنه ته دا خبره ورسيده نو هغهٔ معاذ ته وفرمایل: ما خو تاسره دباؤ اچونکے نهٔ دے ليږلے۔ معاذ ﷺ ووېل: ددې نه سيوا ماته بل عذر نهٔ وو معلوم۔ نو عمر ﷺ وخندل او هغهٔ ته ئې دومره څهٔ ورکړل چه هغه ئې په دې سره خوشحاله کړه۔ [أخرجه عبد الرزاق]

۳۵ – يقين دادې چه تهٔ دا عقيده ولرې چه په خلوت او جلوت دواړو حالتونو کښې تاسره الله دې:

امام بزارؒ د انس ﷺ نه حديث نقل کړے دا وائي: صحابو عرض وکړو: يا رسول الله! مونږ چه کله ستاسو خواته يو نو په يو حالت باندې يو او کله چه درنه جدا شو نو په بل حالت شو۔ نبي

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ وفرمایل: ستاسو د خپل رب سره معامله څنګه وی : هغوئ ویل : په پټه او ښکاره دواړو کښې الله زمونږ رب دے۔ نبی ﷺ وفرمایل: دا بیا منافقت نهٔ دے۔
[ذکره ابن کثیر: ٤/ ۳۹۷]

۳٦ – ابو بکر صدیق ؓ وفرمایل: اے خلکو ! که چرے ستاسو هغه اِله چه تاسو ئے عبادت کوئ محمد (ﷺ) وی نو هغه خو مړ شو۔ اوکه چرے ستاسو اِله په آسمانونو کښې وی نو ستاسو اِله نهٔ دے مړ، بیائے دا آیتِ کریمه ولوسته : ﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُوْلٌ ﴾ [آل عمران: ١٤٤](او محمد ﷺ خو صرف رسول دے)۔ تر آخره پورے۔
[رواه البخاری فی التاریخ]

او په صحیح بخاری کښې ددے الفاظ داسے دی:
[مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ ، وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَإِنَّ اللّٰهَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ]
(څوك چه د محمد (ﷺ) عبادت کوی، نو محمد (ﷺ) خو په رشتیا سره مړ شو، او څوك چه د الله بندګی کوی نو الله همیشه ژوندے دے، مرګ نهٔ لری)۔

بیا چه کله خلك راجمع شول نو ابو بکر صدیق ؓ ورته دا خطبه ورکړه: الله تعالیٰ محمد (ﷺ) له عمر ورکړو او دومره موده ئے وساته چه د الله دین ئے قائم کړو او د الله امرئے راښکاره کړو او د الله پیغام ئے ورساوهٔ تردے چه الله په دے باندے ورله مرګ راوستو۔ او هغهٔ تاسو په نیغه لاره پریښی یئ اوس چه څوك هلاکیږی نو د دلیل او شفاء نه پس به هلاکیږی۔ د چا رب چه الله وی نو دا همیشه ژوندے دے او د چا رب چه محمد (ﷺ) وو او هغه ئے اِله ګنړلو نو د هغهٔ اِله مړ شو۔ اے خلکو ! د الله نه یریږئ، د هغهٔ دین کلك ونیسئ او په خپل رب توکل وکړئ ځکه د الله دین قائم دے او د الله کلمه پوره ده او الله د هغه چا مدد کوی څوك چه د الله مدد کوی او الله خپل دین مضبوطونکے دے او د الله کتاب زمونږ ترمینځه دے او دا نور او شفاء ده، او ددے په وجه الله محمد (ﷺ) ته هدایت کړے وو او په دے کښې د الله حلال او حرام ذکر شوی۔

او د الله په مخلوق کښې چه څوك په مونږ حمله کوی نو د هغهٔ پرواه نهٔ لرو ځکه د الله تورے د تیکی نه راویستل شوی دی او مونږ لا هغه نهٔ دی ایښی، مونږ به خامخا د خپلو مخالفینو سره داسے جنګیږو لکه څنګه چه مونږ د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې جنګیدلو۔
[أخرجه البیهقی]

۳۷ – ولید بن عبادهٔ فرمائی: زهٔ (خپل پلار) عباده بن صامت ؓ ته ورغلم او هغه بیمار وو چه ماته پکښې د مرګ نښے نښانے ښکاره کیدے، نوما عرض وکړو: اے پلاره ماته وصیت وکړه او

ښهٔ کوشش را سره وکړه ! هغهٔ وفرمایل: ما کینوئ، خلکو کینولو- وے فرمایل: اے زما ځویه ! تهٔ د ایمان خوند نشے څکلے اونهٔ په رشتیا سره د الله پیژندو ته رسیدے شے تردے چه تهٔ د خیر او شر په تقدیر باندے ایمان ولرے۔

* د یقین جاري کیدو ځایونه

په دویم جلد فوائد کښے دا مونږ ذکر کړی- دلته دوه درے خبرے ذکر کوو:

(۱) د اعمالو او اقوالو په جزاء باندے یقین لرل : ځکه څوك چه دا یقین لری چه په هر عمل باندے جزاء ملاویږی او په هره وینا جزاء ملاویږی نو په خپل ژوند کښے به محتاط وسیږی او د خپل ځان او دین لپاره به احتیاط کوی، نیك اعمال به خوښ ګڼړی او په دے به خوشحالیږی، او خپل ځان لپاره به ددے نه زغره او ډال جوړوی، دے ته به ډیر زیات شوق لری، ځکه دهٔ به دا یقین وی چه دا د الله په نیز نهٔ ضائع کیږی بلکه خامخا به ددے جزاء په دنیا اوُ آخرت کښے ملاویږی۔ په اعمالو باندے دا علم او یقین انسان له ډیره زیاته فائده ورکوی۔

(۲) دا یقین لرل چه د الله وعده حقه ده او الله به د قیامت په ورځ د قبرونو نه خلك راپاسوی، دا هغه حقه خبره ده چه الله ددے وعده کړے او هغه د خپلے وعدے خلاف ورزی نهٔ کوی۔ که کافر دا یقین ولری او ددے استحضار وکړی نو هغهٔ ته د ایمان توفیق ملاویږی، او مومن چه ددے استحضار وکړی نو دهٔ ته ددے فائده داده چه دے په خپلو ټولو کارونو کښے محتاط او په خوف کښے وسیږی۔

* په دوباره جوندي کیدو دلائل

د الله په کتاب کښے په دوباره ژوندون باندے د سلو (۱۰۰) نه زیات دلائل ذکر شوی، البته دا په یو ځائے ما چرته په کوم کتاب کښے نهٔ دی لیدلی، زهٔ د الله په توفیق سره دا ذکر کوم، ولے چه په دے کښے ډیره نفع او ډیر علم پروت دے- دے سره د الله ملاقات رایادیږی او د انسان په زړهٔ کښے د الله عظمت پریوزی، لکه چه تهٔ به ان شاء الله دا ووینے۔

۱ ـ **اول دلیل**: **د دوباره ژوند په اثبات** باندے :

په دنیوی ژوندون باندے د آخرت ژوندون قیاس کول : لکه الله تعالیٰ په دنیا کښے ځینے مړی په خپل قدرت او حکمت سره راژوندی کړی، او دا یو یقینی ژوندی کول دی چه خلکو لیدلی آوریدلی دی- نو دغسے به الله د قیامت په ورځ مړی هم راژوندی کوی۔

په سورتِ بقره کښے دا قِسم پنځه قیصے ذکر دی: لکه فرمائی: ﴿ ثُمَّ بَعَثْنَاكُم مِّنۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ [بقره: ٥٦] (بيا مونږ تاسو ستاسو د مرګ نه پس راژوندي کړئ دے لپاره چه تاسو شکر وکړئ).

﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا وَاللهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنتُمْ تَكْتُمُونَ فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا كَذٰلِكَ يُحْيِ اللهُ الْمَوْتٰى وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ﴾ [بقره: ٧٢، ٧٣] (او کله چه تاسو يو شخص قتل کړو، بيا د هغے په باره کښې مو خپل مينځ کښې اختلاف وکړو، او الله ښکاره کونکے وو د هغه شي چه تاسو پټ ساتلو، نو مونږ ووئيل چه ددے غوا په يوے برخے سره ددے مړي جسم ووهئ، الله تعالیٰ به دغه شان مړي راژوندي کوي او تاسوته خپلے نښے دربنائي دے لپاره چه تاسو پو هه شئ).

او فرمائي: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ إِنَّ اللهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ﴾ [بقره: ٢٤٣] (آيا تا هغه خلق نهٔ دی ليدلي چه د خپلو کورونو نه په زرګونو شمير کښ د مرګ د ويرے نه وتلي وو نو الله هغوی ته ووئيل: مړهٔ شئ بيا الله هغوی لره راژوندي کړل. يقيناً الله په خلقو باندے فضل او کرم کونکے دے، ليکن اکثر خلق شکر نهٔ کوی).

او فرمائي: ﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتٰى﴾ [بقره: ٢٦٠] (کله چه ابراهيم عليه السلام ووئيل: اے ربه ماته وښايه چه تهٔ به څنګه مړي ژوندي کوے).

او فرمائي: ﴿فَأَمَاتَهُ اللهُ مِئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ﴾ [بقره: ٢٥٩] (نو الله دا سلو کالو پورے ژوندے وساتهٔ اوبيا ئے راژوندے کړو).

٢ – د **عيسیٰ** عليه السلام **معجزه** په دوباره ژوندون دليل دے:

﴿وَأُحْيِي الْمَوْتٰى بِإِذْنِ اللهِ﴾ [آل عمران: ٤٩] (د الله په حکم سره زهٔ مړي ژوندي کوم).

او فرمائي: ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا﴾ [زخرف: ٦١] (او عيسیٰ د قيامت لپاره نښه ده نو تاسو په دے کښے شك مهٔ کوئ).

٣ – د **موسیٰ** عليه السلام د **امسا معجزه**: الله ددے نه مار جوړ کهٔ حالانکه دا يو بے ساه شے وو او مار ساه والا حيوان دے، بيا الله تعالیٰ ددے حيوان نه بے ساه جماد ساز کهٔ. نو دا د الله په قدرت، عظمت او حکمت باندے دليل دے.

٤ – الله تعالیٰ **انسان** د خاورے او نطفے نه پيدا کړو. نو دغه شان به ئے دوباره ترے هم پيدا کوي. او لکه څنګه چه الله انسان د مور د نس نه راوښکهٔ نو دغه شان به ئے د قيامت په ورځ د زمکے د نس نه هم راوباسي. د الله په قدرت او علم کښے په دے دواړو حالتونو کښے هيڅ فرق نشته، بلکه دوباره پيدا کول خو (د انساني ذهن مطابق) لا نور هم آسان وي. او دا وجه ده، د مور د رحم

او د قبر ترمينځه مشابهت دے۔ ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ﴾ [حج: ۵] (اے خلکو! که تاسو د دوباره ژوند نه په شك كښے يئ نو مونږ تاسو اول د خاورے او بيا د اوبو د څڅکی نه پيدا کړی يئ)۔

۵ - حشر د انسان په تغير او بدلون باندے قياس کول:

انسان د يو حالت نه بل حالت ته بدليږی، دے هميشه په انتقال کښے وی تردے چه جنت يا اور کښے قرارے ومومی۔ نو څوك چه دا يقين لری چه دے اول نطفه وه، بيا د وينے ټوټه شوه، بيا کرپنډے شو، بيا اوږد شو، ځوان شو، سړے او بوډا شو، بيا مړ شو، نو دا به دا يقين څنګه نۀ کوی چه د دنيا نه به قبر ته او د قبر نه به حشر ته نقل کيږی؟ دا نقل کيدل د الله په قدرت او علم کښے د دغه مخکنو نقل کيدو پشان ده۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴾ [يٰس: ۶۸] (او چا له چه مونږ عمر ورکړو نو د هغۀ ساخت پشا راروان کړو آيا تاسو دومره د عقل نه کار نۀ اخلئ)۔

او الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِى الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ﴾ [حج: ۵] (اے خلقو! که چرے ستاسو دَ دوباره ژوندی کيدو په باره کښې شك وی، نو تاسو سوچ ولے نۀ کوئ چه مونږ تاسو (اول ځل) دَ خاورے نه پيدا کړی وئ، بيا مو دَ نطفے نه پيدا کړئ، بيا دَ جَم شوے وينے نه، بيا دَ غوښے دَ بوټئ نه، چه کله هغه پوره شکل او صورت والا وی، او کله نيمګړی شکل او صورت والا، دے لپاره چه مونږ تاسو ته دَ خپل قدرت اظهار وکړو، او مونږ چه څوك غواړو يو مقرر وخته پورے ئے په رحِم کښې ساتو، بيا تاسو دَ بچو په شکل کښې بهر را اوباسو)۔

دا ښکاره عقلی او فطری دليل دے چه دوباره ژوندون حق دے۔

۶ - د زمانے په تغير سره الله تعالیٰ دوباره ژوند او حشر ثابتوی:

لکه څنګه چه الله تعالیٰ اول ورځ راولی، بيا مابنام شی، بيا شفق پريوځی او شپه شی نو دغه شان به انسان د نيست نه د مور نس ته نقل کيږی او ددے نه به دنيا ته او د دنيا نه به قبر ته او قبر نه به حشر ته نقل کيږی۔ د الله تعالیٰ په قدرت کښے ددے دواړو تغيرونو ترمينځه هيڅ فرق نشته۔

۷ – د يو حالت نه بل حالت ته د سپوږمئ بدليدل: دا دليل دے چه انسان به هم د ژوند نه مرګ ته او د مرګ نه دوباره ژوندون او حساب طرفته او بيا په جنت يا جهنم کښے قراری موندلو طرفته نقل کيږی۔ الله تعالی فرمائی : ﴿ فَلَآ اُقْسِمُ بِالشَّفَقِ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ وَالْقَمَرِ اِذَا اتَّسَقَ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ وَاِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنُ لَا يَسْجُدُوْنَ ﴾ [انشقاق: ۱۶-۲۱] (زۀ په شفق

Maktaba Tul Ishaat.com

(دَ مابښام په سُرخئ) باندې قسَم خورم، او په شپه، اوپه هغه څيزونو باندې چه هغه پرې راغونډيږي، او په سپوږمۍ باندې قسم خورم كله چه هغه پوره مياشت جوړه شي، تاسو به خامخا دَ مختلفو حالاتو او سختيو نه ورتيريږئ، دوئ له څۀ شوي دي چه دوئ ايمان نۀ راوړي، او كله چه د دوئ مخې ته قرآن لوستلے كيږي نو دوئ سجده نۀ كوي)۔

په دې قَسم او جوابِ قسم كښې فكر وكړه چه دا څنګه د الله په ملاقات او په دوباره ژوندون باندې دليل دے، دے سره سينه يخيږي۔

٨ – **د انسان په خوب او په بيا** راويښيدو باندې دوباره ژوندون **قياس كول**:

لكه څنګه چه انسان د شپې اودۀ شي نو دغه شان به مري هم۔ او لكه څنګه چه دا په خوب كښې عجيب عجيب شيان ويني او نورو خلكو ته د هغې معلومات نۀ وي، دغه شان به په قبر كښې ورته نعمتونه يا عذابونه هم وركولے شي او ناشنا شيان به ويني چه مونږ د هغۀ په حالت نشو خبريدے۔ بيا چه سهار راپاسيږي نو دغه شان به د قيامت په ورځ د الله په حكم سره د قبر نه هم راپاسي: ﴿ يَوْمَ يَدْعُوكُمْ فَتَسْتَجِيبُونَ بِحَمْدِهِ ﴾ [اسراء: ٥٢] (كله چه تاسو راوبلي نو تاسو به د هغۀ په حمد او ثناء ويلو سره د هغۀ قبولوالے كوئ)۔

دا وجه ده، نبي كريم ﷺ په خپلو دعاګانو كښې ددې خبرو استحضار كړے او امت ته ئې ددې خبردارے وركړے۔ هغوئ به چه كله اودۀ كيدل نو دا دعاء به ئې فرمايله: [اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَأَحْيَا] او كله به چه رابيدار شو نو داسې به ئې فرمايل:

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ]

نو د خوبه راويښيدل داسې دي لكه د مړينې نه پس دوباره ژوندي كيدل۔ قرآن كريم دې دليل ته بار بار اشاره كوي، لكه ارشاد دے: ﴿وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيْهِ لِيُقْضٰى أَجَلٌ مُّسَمًّى ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾ [انعام: ٦٠] (او الله هغه ذات دے چه د شپې په وخت تاسو باندې خوب راولي او د ورځې چه څه كتيئ په هغې پوهه دے، بيا تاسو په ورځ كښې دوباره راپورته كوي دې لپاره چه د ژوند مقرره موده پوره شي، بيا به دے الله ته ستاسو وركرځيدل وي، بيا به ستاسو د عملونو تاسو ته خبر دركوي)۔

اوفرمائي: ﴿ اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ الَّتِيْ قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْاُخْرٰى اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴾ [زمر: ٤٢] (الله روحونو لره ددې د مرګ په وخت پوره طور سره اخلي، او دَ چا چه مرګ نۀ وي راغلے د خوب په حالت كښې ئې اخلي، بيا دَ چا د مرګ فيصله چه كوي هغه بندوي، او باقي روحونه دَ هغې مقرره وخته پورې

راپریدی، بیشکه په دے کښې غور او فکر کونکو خلقو لپاره نښے دی)۔

۹ – **د اصحاب کهف** په واقعه باندے د دوباره ژوندون لپاره دلیل نیول:

الله تعالیٰ دوئ نهه دپاسه درے سوه (۳۰۹) کاله اودهٔ پاتے کړل، چه دوئ په دے اوږده موده کښې خوراك څكاك وغيره ته محتاج نشول، او بیا ئے دوباره راويښ کړل، نو دغه شان به د قیامت په ورځ هم دوباره ژوندی کیدل وی او د الله د قدرت په اعتبار سره د خوبه راويښولو او د مرګ نه پس دوباره ژوندی کولو کښې هيڅ فرق نشته۔

دا وجه ده الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَكَذٰلِكَ بَعَثْنَاهُمْ لِيَتَسَاءَلُوا بَيْنَهُمْ ﴾ [کهف: ۱۹] (دغسے مونږ دوئ راپورته کړل دے لپاره چه یو بل نه پوښتنے وکړی)۔

دلته ئے د (بعث) لفظ ذکر کړو او بیا ئے وفرمایل: ﴿ وَكَذٰلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ ﴾ [کهف: ۲۱] (او دغه شان مونږ خلقو لره په دوی باندے خبر کړل دے دپاره چه دوی پو هه شی چه د الله وعده حقه ده، او دا چه د قیامت په راتلو کښې هيڅ شك نشته، د هغه وخت خلقو د دوی په باره کښې خپل مینځ کښې جګړے شروع کړے)۔

۱۰ – **د وريځو نه بارانونه** راوښکل۔

۱۱ – **د زمکے نه** بوټی او زرغونه راوښکل۔

۱۲ – د ونو نه میوے راوښکل۔

۱۳ – او د زمکے نه چينے راوښکل۔

الله تعالیٰ په دے څلور وارو شیانو سره بعث بعد الموت (دوباره ژوندون) ثابتوی او دا تول په دوباره ژوند باندے ښکاره دلائل دی، لکه څنګه چه الله تعالیٰ په دنیا کښې داکارونه کوی، په آخرت کښې به هم مړی راژوندی کوی او تاسو ته به خپلے نښے درښائی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبٰرَكًا فَأَنْبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ وَالنَّخْلَ بٰسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ وَأَحْيَيْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ﴾ [قٓ: ۹-۱۱] (او مونږ د آسمان نه برکتی اوبهٔ راليږلی، چه ددے په ذریعه مونږ باغونه او دَ پټيو دانے رازرغون کړی او دَ کهجورو اوږدے ونے مو را زرغونے کړی، چه دَ هغے غونچکونه دَ لاندے باندے میوو نه ډك وی، دا بندګانو له روزی ده، او د بارانهٔ د اوبو په ذریعه مونږ مړهٔ ښهرونه ژوندی کوو، دَ مړو ژوندی کیدل او د قبرونو نه راوتل به هم دغسے وی)۔

یعنی لکه څنګه چه مونږه د زمکے نه باغونه، د وريځو نه باران او د ونو نه میوے راوښکلے دی، نو دغه شان به تاسو هم دَ قبرونو نه راوځئ۔ لکه څنګه چه الله تعالیٰ په دے کار قادر دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

د قبرونو نه د مړو په راوښکو هم قادر دے۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا ﴾ [زمر: ٢١] (بیا هغه د چینو په شکل کښې په زمکه کښې دننه روانوی، بیا ددے په ذریعه د مختلفو رنګونو زرغونه راوباسی)۔

١٤ – د میوو د رنګونو بدلیدو په ذریعه دوباره ژوند ثابتول :

لکه څنګه چه میوه اول شنه وی، بیا زیړه او بیا سره شی او تغیرات په کښې راځی نو کوم ذات چه دے تغیراتو باندے قادر دے هغه په دے هم قدرت لری چه مړی د یو حالت نه بل حالت ته نقل کړی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ﴾[فاطر: ٢٧] (آیا تهٔ نهٔ ګورے چه الله د آسمان نه باران راوروی، بیا مونږ ددے په ذریعه ډیرے میوے پیدا کوو چه د هغے رنګ جدا جدا وی)۔

١٥ – نباتات او فصلونه د یو حالت نه بل حالت ته بدلیدل : لکه څنګه چه الله په دے باندے قادر دے نو داشان په دے هم قدرت لری چه انسان د یو حالت نه بل حالت ته نقل کړی۔ لکه ارشاد دے: ﴿ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهُ يَنَابِيعَ فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهُ حُطَامًا اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴾ [زمر: ٢١] (آیا تهٔ نهٔ ګورے چه الله د آسمانونو نه باران نازلوی، بیا هغه د چینو په شکل کښې په زمکه کښې دننه روانوی، بیا ددے په ذریعه د مختلفو رنګونو زرغونه راوباسی، بیا هغه پخه شی، نو تهٔ به هغه زیړ وینے، بیا الله هغه ریزه ریزه جوړ کړی، بیشکه په دے کښې د عقل او پوهے والو لپاره نصیحت دے)۔

په دے آیتِ کریمه کښې د دوباره ژوندون په اثبات باندے ګڼړ دلائل دی:

١٦ – یو دا چه اوبهٔ د برے طرف نه وروی او په زمکه کښے ئے ننباسی۔

١٧ – د خاورو سره ئے نهٔ ګډوی۔

١٨ – بیا د زمکے نه اوبهٔ راوښکل او بیا په دے سره بوټی راویستل، بیا د بوټو او فصلونو د رنګونو مختلف والے، بیا د فصلونو بدلیدل او د لوند والی نه اوچ والی طرفته راتلل، او بیا د اوچ والی نه ذره ذره کیدو طرفته منتقل کیدل۔ نو دا ډیر زیات دلائل دی په دے چه دوباره ژوندون حق دے۔ په یو آیت کښے اتهٔ دلائل دی۔

نو ددے په مقابله کښے مړی ژوندی کول الله تعالیٰ لپاره ډیر زیات آسان دی۔

١٩ – د دنیا د هر یو شئ په جوړه جوړه پیدا کولو باندے د آخرت ثابت والے :

په دنیا کښے الله تعالیٰ هر شے جوړه پیدا کړے: آسمان د زمکے جوړه، نارینه د نازنه جوړه، لنده د اوچے، چاق د نری، ښائسته شکل والا د بد شکله، خوږ د تریخ، ورځ د شپے، رڼا د تیارے،

ښائست د بدرنګئ، توروالے د سپين والی، ايمان د کفر او نيکی د ګناه جوړه ده۔
نو دغه شان آخرت د دنيا جوړه ده، دنيا د آخرت مقدمه ده۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴾ [ذاريات: ٤٩] (او مونږ د هريو شئ جوړے پيدا کړی، دے دپاره چه تاسو نصيحت حاصل کړئ)۔

٢٠ – د الله په اسماء حسنیٰ او صفاتِ عليائ سره د حشر او نشر ثابتول:
او دا د الله په کتاب کښے ډير زيات دی۔ کله د الله د وعدے پوره کولو د صفت په ذريعه بعث او نشور ثابتوی، ځکه چه الله ددے وعده کړے او الله چه د کوم شئ وعده وکړی هغه خامخا پوره کوی، هغه هيڅ کله د وعدے خلاف نۀ کوی۔ الله په خپل کتاب کښے او د خپلو رسولانو په ژبه خلکو سره دا وعده کړے چه دوئ به خامخا راپورته کوی۔ لکه فرمائی: ﴿ وَأَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَا يَبْعَثُ اللّٰهُ مَنْ يَّمُوْتُ بَلٰى وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ [نحل: ٣٨] (او کافران په الله ډير سخت قسمونه خوری چه څوك مړ شی الله به هغه نۀ راژوندے کوی، آؤ (دوی به راژوندی کيږی) دا وعده د الله حقه ده، ليکن اکثر خلق نۀ پوهيږی)۔

٢١ – کله د دوباره ژوندون لپاره دا دليل پيش کوی چه الله اختلاف نۀ خوښوی نو ځکه به دا عملی طور سره د قيامت په ورځ ختموی: ﴿ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ ﴾ [نحل: ٣٩] (دے لپاره چه دوئ ته هغه شے واضحه کړی چه دوئ به په هغے کښے اختلاف کولو)۔

٢٢ – الله د خپلو دشمنانو دروغژن کيدل راښکاره کوی چه هغوئ د الله د ملاقات نه منکر وو: ﴿ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا أَنَّهُمْ كَانُوْا كَاذِبِيْنَ ﴾ [نحل: ٣٩] (دے دپاره کافرانو خلکو ته معلومه شی چه دوئ دروغژن وو)۔

٢٣ – الله د خپل کامل قدرت او ارادے په ذريعه دوباره ژوندون ثابتوی: هر کله چه الله تعالیٰ دومره لوئے قدرت لری نو يو عاقل انسان څنګه د دوباره ژوندون نه انکار وکړی؟ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴾ [نحل: ٤٠] (کله چه مونږ د يو شی اراده کوو نو هغے ته صرف دا وايو چه شه، پس هغه شے موجود شی)۔

٤٢ – الله دوه ضدين نۀ جمع کوی او نۀ د يو قِسم دوه شيانو ترمينځه جدا والے کوی:
ځکه چه دا د علم او حکمت او کمال خلاف دی، ځکه څوك چه دوه ضدين جمع کوی نو ددۀ په نيز د ښۀ او خراب، د ښۀ او بد خوئے، د ايمان او د کفر، د نکاح او د زنا، د صفت او د کنځلو، د رشتيا او د دروغو ترمينځه فرق نشته۔ حالانکه يو ادنیٰ انسان ددے نه پاك دے پاتے لا حکيم او خبير رب هغه به ولے دوه ضدين جمع کړی! بلکه هريو لپاره به جدا جدا بدله ورکوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دا نښې کیدے چه الله مؤمن او کافر له یوه مرتبه ورکړی او دا دواړه په جنت یا اور کښے واچوی، دا نښې کیدے چه نیکانو او بدانو دواړو ته په یو نظر وګوری- دے وجے نه دویٔ لپاره یو داسے کور پکار دے چه دویٔ پـه هغے کښے جدا جدا شی او یو د بل نه بیل بیل شی- ارشاد دے: ﴿ وَامۡتَازُوا الۡيَوۡمَ اَيُّهَا الۡمُجۡرِمُوۡنَ ﴾ [يٰس: ٥٩] (اے مجرمانو! تاسو یو طرفته جدا شیٔ)-

او دا قـاعده قرآن بار بار ذکرکړے، په دے کښے لوئے علم پروت دے- اول ددے قاعدے دلائل او بیا ئے حکم وګوره:

ارشاد دے: ﴿ اَمۡ نَـجۡعَلُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَالۡمُفۡسِدِيۡنَ فِى الۡاَرۡضِ اَمۡ نَجۡعَلُ الۡمُتَّقِيۡنَ كَالۡفُجَّارِ ﴾ [صٓ: ٢٨] (آیا مـونږ به ایمان او نیك عمل کونکی د هغه خلقو پشان جوړوو چه هغویٔ په زمکه کښ فساد خورونکی دی، یا مونږ به د الله نه یریدونکی د فاجرانو پشان جوړوو)-

یعنی الله تعالیٰ دویٔ د نعمت یا عذاب، دوستیٔ یا دشمنیٔ په یوه درجه کښے نهٔ ګرځوی- او فرمائی: ﴿ اَمۡ حَسِبَ الَّـذِيۡنَ اجۡتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنۡ نَّجۡعَلَهُمۡ كَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَوَآءً مَّحۡيَاهُمۡ وَمَمَـاتُهُمۡ سَآءَ مَا يَحۡكُمُوۡنَ ﴾ [جاثيه: ٢١] (آیا کـوم خـلـق چه ګناهونه کوی دویٔ به مونږ د هغه خـلـقـو غـونـتـه جوړ کړو چه هغویٔ ایمان راوړے او نیك عملونه ئے کړی، ددے دواړو ژوند او مرګ به یو شان وی، دا خلق ډیره خرابه فیصله کوی)-

او دے آیتِ کریمه ته عابدان ژړونکے آیت وائی- او ارشاد دے: ﴿ اَفَنَجۡعَلُ الۡمُسۡلِمِيۡنَ كَالۡمُجۡرِمِيۡنَ مَالَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ﴾ [قلم: ٣٥، ٣٦]

او فرمائی: ﴿ اَفَـمَـنۡ كَانَ مُؤۡمِنًا كَمَنۡ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسۡتَوٗنَ اَمَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُو الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمۡ جَنّٰتُ الۡـمَـاۡوٰى نُـزُلًا بِـمَـا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ وَاَمَّا الَّذِيۡن فَسَقُوۡا فَمَاۡوٰهُمُ النَّارُ كُلَّمَآ اَرَادُوۡا اَنۡ يَّخۡرُجُوۡا مِنۡهَآ اُعِيۡدُوۡا فِيۡهَا وَقِيۡلَ لَهُمۡ ذُوۡقُوۡا عَذَابَ النَّارِ الَّذِىۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ﴾ [سجده: ١٨-٢٠]

(آیا کـوم کس چه مومن وی دابه د هغه کس غونته وی چه هغه فاسق وی، دواړه قِسمه خلق برابـر نشی کیدے، کـوم خـلـق چـه ایـمـان راوړی او نیك عـمـل وکړی، د دویٔ د وسیدو لپاره بـه جنتونه وی، چه د دویٔ د نیکو اعمالو په سبب به دویٔ ته دَ میلمستیا په توګه ملاویږی، او کوم خـلـق چـه د فسـق او نافرمانیٔ لاره اختیار کړی، د دویٔ د پاتے کیدو ځائے به جهنم وی، کله چه هم دویٔ ددے نه وتل غواړی په دے کښ به واپس کیږی، او دویٔ ته به وئیلے کیږی چه وڅکیٔ د هغه اور عذاب چه تاسو دروغژن ګڼړلو)-

او فرمائی: ﴿ لَايَسۡتَوِىۡ مِنۡكُمۡ مَّنۡ اَنۡفَقَ مِنۡ قَبۡلِ الۡفَتۡحِ وَقٰتَلَ اُولٰٓئِكَ اَعۡظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيۡنَ اَنۡفَقُوۡا مِنۢ بَعۡدُ وَقٰتَلُوۡا وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الۡحُسۡنٰى وَاللّٰهُ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرٌ ﴾ [حديد: ١٠]

او فرمائي: ﴿ أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ لَا يَسْتَوُونَ عِندَ اللهِ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴾ [توبه: ۱۹]

(آيا تاسو حاجيانو ته اوبه ورکونکي او مسجد حرام آبادونکي د هغه سړي برابر کړيدي چه هغه په الله او په ورځ د آخرت ايمان راوړے او د الله په لاره کښې ئے جهاد کړے، دا خلق د الله په نيز برابر نۀ دي او الله ظالمانو ته هدايت نۀ کوي)۔

حسن بصريؒ فرمائي: کوم بنده چه الله ته تادي کوي، الله هغه د هغه بنده پشان نۀ ګرځوي چه روستو روستو کيږي۔

نو دا آيتونه دليل دے چه الله تعالىٰ دوه ضدين سره نۀ راجمع کوي، لکه څنګه چه دوه مثلين سره نۀ جدا کوي۔ لکه ارشاد دے: ﴿ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللهُ الْمُؤْمِنِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ [نساء: ۱۴۶] (دا خلك د مومنانو ملګري دي او زر دے چه الله به مومنانو له لوئے اجر ورکړي)۔

او ارشاد دے: ﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [نحل: ۹۷] (څوك نيك عمل وکړي، نارينه وي که زنانه، په داسے حال کښې چه مومن وي نو خامخا به مونږ هغۀ له پاکيزه ژوند ورکړو)۔

نو د الله په نيز د نارينه او زنانه مؤمنانو ترمينځه په ثواب کښې فرق نشته څکه چه دا دواړه خپلو کښې يو شان دي، لکه ارشاد دے: ﴿ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ﴾ [آل عمران: ۱۹۵] (په تاسو کښې ځينے د ځينو نه دي)۔

* په دے کښې **حکمت**: دادے چه الله تعالىٰ د هر شئ نه لوئے دے او د هغۀ صفت د هر شئ نه کامل دے۔ مونږ نيکي دومره لانۀ خوښوو څومره ئے چه هغه خوښوي، مونږ بدي دومره ناخوښه نۀ ګڼړو څومره ئے چه هغه ناخوښه ګڼړي څکه ذ هغۀ صفات ډير کامل دي۔ دا وجه ده هغه دوه ضدين نۀ يوځائے کوي، حالانکه مونږ کله نيکي خوښوو او بدي ناخوښه ګڼړو، خو کله دا خوښي دغه ناخوښئ ته نزدے نزدے وي، فکر وکړه!

۲۵ – د خپلو **عظيمو مخلوقاتو** په ذريعه دوباره ژوند ثابتول: لکه څنګه چه الله ددے لويو لويو مخلوقاتو په پيدا کولو قادر دے نو هغه د انسان په پيدائښ او په دوباره ژوندي کولو هم قادر دے۔ الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُم بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴾ [يٰس: ۸۱] (آيا هغه ذات چه آسمانونه او زمکه ئے پيدا کړي، په دے قادر نۀ دے چه د دوئ پشان خلك پيدا کړي؟ ولے نۀ هغه خو ډير زيات پيدا کونکے او پوهه ذات دے)۔

۲۶ – د الله په ښائسته **مصنوعاتو** سره دليل نيول: لکه ارشاد دے:

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَالَهَا مِنْ فُرُوْجٍ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيْجٍ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴾ [قٓ: ٦-٨]

٢٧ – د ونې نه د اور راوښکو په ذريعه دوباره ژوندون ثابتول:

ارشاد دے: ﴿ الَّذِىْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴾ [يٰسٓ: ٨٠] (هغه الله چه هغهٔ دَ شنے وُنے نه تاسو له اور پيدا کړے، چه دے سره تاسو خپلے چُولے (نغری) بلوئ).

کله چه الله د شنے وُنے نه د اور په راويستو قدرت لری – حالانکه اور وُنے سيزی – نو همدغه الله په دے هم قادر دے چه مړی دوباره ژوندی کړی او د حساب لپاره ئے د قبرونو نه راپاسوی، دا څهٔ د الله د قدرت نه لرے خبره نهٔ ده.

٢٨ – د انسان په مخکنی نشتوالی سره دليل نيول: انسان د پيدائش نه مخکښے نيست وو نو الله تعالىٰ د نشت نه شتهٔ کړ. نو دغه الله په دے هم قادر دے چه ددهٔ هډوکی او اجزاء د خاورو نه راجمع کړی، ځکه د نشت نه يو شے شتهٔ کول د هډوکو راغونډولو نه لويه خبره ده. ارشاد دے:

﴿ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَ اِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَيًّا اَوَلَا يَذْكُرُ الْاِنْسَانُ اَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴾ [مريم: ٦٦، ٦٧]

او ارشاد دے: ﴿ هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا ﴾ [انسان: ١]

٢٩ – په هر يو شئ کښے د الله د ارادے په نافذوالی سره دليل نيول:

ځکه الله چه څهٔ شئ ته اراده وفرمائی نو د دغه شئ او د الله د ارادے ترمينځه هيڅ يو شے خنډ نشی واقع کيدے، نو کله چه الله دوباره ژوندی کول وغواړی نو ددے نه هيڅ مانع نشته. ارشاد دے: ﴿ اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَيْـًٔا اَنْ يَّقُوْلَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ فَسُبْحٰنَ الَّذِىْ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَىْءٍ وَّاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ﴾ [يٰس: ٨٢، ٨٣]

(دَ هغهٔ شان خو دادے چه کله هغه دَ يو شئ اراده کوی نو هغهٔ ته وائی: شه، نو هغه څيز اوشی، نو هغه ذات د تمامو عيبونو او نقصانونو نه پاك دے چه دَ هغهٔ په لاس کښ دَ هر شئ ملکيت دے، او تاسو ټول به هغهٔ طرفته وروګرځولے شئ).

٣٠ – الله تعالىٰ د هر شئ بادشاه او اختيار من دے، د هغهٔ په لاس کښے د هر يو شئ بادشاهی ده، هغه کولے شی چه دا عالَم په يو بل عالَم بدل کړی، ددے بدلون او تغير نه څهٔ شے رکاوټ واقع کيدے شی؟ دوباره ژوندون هم ددے نوم دے چه دنيوی عالَم په اخروی عالَم سره بدل شی. او مرګ ديته وائی چه انسان د دنيا د فانی ژوندون نه د آخرت ابدی ژوندون ته ورنقل کړے شی.

٣١ – الله تعالىٰ مخکني اقوام په دے وجه هلاك کړل چه هغوئ به دوباره ژوند نهٔ منلو:

نو که چرې دوباره ژوند حق نهٔ وې نو بيا ولې الله ددې دروغژن ګنړونکي تباه کول؟ او دا دليل قرآن کريم بار بار تکرار کړې او دا د فکر والو لپاره ډير ښکاره دليل دې. ارشاد دې:
﴿ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَّجْمُوعٌ لَّهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَّشْهُودٌ ﴾ [هود: ١٠٤]
او فرمائي: ﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّأَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُودُ وَعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ وَّأَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴾ [ق: ١٢-١٤]
(د مکې د کافرانو نه مخکښې د نوح قوم او رَس والو او ثمودیانو رسولان دروغژن ګنړلي وو او قومِ عاد او فرعون او لوط والو دروغژن ګنړلي وو او اَيکه والو او دَتُبّع قوم دروغژن ګنړلي وو، هر يو خپل رسول دروغژن ګنړلے وو، نو زما د عذاب وعده پوره شوه).
نو ددې اقوامو هلاکول دليل دې چه کوم رسولانو د الله توحيد او د قيامت لپاره عمل کولو ته دعوت ورکړې نو هغوئ رشتيا ويلي.
۳۲ - که چرې **توحيد** او بعث بعد الموت حق نهٔ وې نو دغه اقوامِ مکذبه، سره ددې چه هغوئ د مال او اولاد په لحاظ ډير زيات قوي وو، ولې هلاك شول؟ او ايمان والو، سره د نفرۍ او مالي کمزورئ نه، ولې خلاصے وموندهٔ؟ دا جدا دليل دې.
۳۳ - الله تعالیٰ دا **صفتونه** لري: احکم الحاکمين، خير الحاکمين، خير الفاصلين (چه ددې تولو معنیٰ داده چه الله ډير زيات غوره فيصله کونکے دې) نو د الله تعالیٰ دا صفتونه په دې خبره دليل دې چه الله خپل بندګان د بدلے ورکولو نه بغير بيکاره او مهمل نهٔ پريدی، او د جزاء ورکولو نه بغير به ئې څنګه پريدی سره ددې چه د دوئ اعمال او احوال مختلف دی؟ ارشاد دې: ﴿ إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتّٰى ﴾ [ليل: ٤] (بيشکه چه ستاسو کوششونه مختلف دی).
فرض کړه که يو حاکم ته يو مفسد او وران کارې راوستے شي او بل ورته يو نيك عمل او مصلح سړې راوستے شي او هغه بادشاه دا دواړه [illegible] د سزاء او جزاء نه بغير پريدی نو دا حاکم به جاهل او ددهٔ دا کار به غير مناسب وګنړل شي او دې به د فيصلے کولو لائق پاتے نشي. او که دواړو له عذاب ورکړی نو دا به ظلم ګنړل کيږی. او که دواړو له ښهٔ انعام ورکړے شي نو دا به ناپوهي او کم عقلي وګنړل شي. نو بيا په هغه حکيم او عليم او احکم الحاکمين رب باندې دا ګمان څنګه کيدے شي چه هغه به دا کار کوی! هيڅ کله نهٔ!
دا وجه ده، د سورتِ (تين) په مقاصدو کښې يو مقصد (د اعمالو بدله ورکول) دی. ددې سورت په آخره کښې دا جمله ده: ﴿ أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحٰكِمِينَ ﴾ [تين: ٨] (آيا الله د ټولو فيصله کونکو نه ښائسته فيصله کونکے نهٔ دې؟).

Maktaba Tul Ishaat.com

يعنې هغه احكم الحاكمين دے نو بيا څنګه خپل بندګان بے بدلے پريدی ؟
بيا په دنيا كښې هم جزاء شته خو دنيا، دارُ العمل دے، الله تعالىٰ په دے كښې چاته پوره ثواب او عذاب نۀ وركوی، ددے پوره بدله به د قيامت په ورځ ملاويږی۔
﴿ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ﴾ [آل عمران:١٨٥]
د قيامت ورځے تـه يـوم الحساب او يوم الجزاء وائی، هلته به بندګانو سره د ذرے ذرے حساب كيږی۔ دا دليل قرآن كريم د سوچ او فكر لپاره بار بار ذكر كړے۔
الله تعالىٰ فرمائی: ﴿ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴾ [فاتحه: ٤] (اختيارمن دے د ورځے د جزاء)۔
او فرمائی: ﴿ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴾ [ذاريات: ٦] (اويقينًا جزاء خامخا راتلونكے ده)۔ او فرمائی:
﴿وَمَآ اَدْرٰكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ ثُمَّ مَآ اَدْرٰكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا وَالْاَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ﴾ [انفطار: ١٧-١٩]

٣٤ – الله تـعالىٰ په انسانی نفس كښے د **ملامتيا** صفت ايښے او په دے باندے ئے د هغۀ فطرت جوړ كړے، د قبيحو كارونو په كولو سره انسان خپل ځان ملامته كوی، نو دا ولے ملامته كوی؟ دا ځكه چه الله ددۀ په فطرت كښے دا خبره ايښے چه الله د قبيحو اعمالو قبيحه بدله وركوی۔
معلومه شوه چه الله د دوباره ژوند احساس د انسان په فطرت كښے ايښے۔ الله تعالىٰ فرمائی:
﴿ لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ﴾ [قيامه: ١ ، ٢]
(زۀ دَ قيامت په ورځ قسم خورم او زۀ په ملامته كونكی نفس باندے قسم خورم)۔
الله دلته قيامت او نفسِ لوامه يوځائے ذكر كړے چه دا همدے راز ته اشاره ده، اګركه په دے كښے نور فوائد هم شته۔

٣٥ – د الله تعالىٰ د كامل **حمد** او مدح مستحق كيدل :
الله تـعالىٰ د داسے كامل حمد مستحق دے چه په هغے كښے هيڅ نيمګړتيا نۀ وی، او د داسے پوره مدح او صفت لائق دے چه په هغے كښے هيڅ قِسم كمزوری نۀ وی۔ او دا په دنيا كښے نشی كيدے ځكه دنيا كمه، تنګه او فانی ده او انسان په دے كښے فانی دے، نو يوه داسے لويه ورځ پكار ده چه په هغے كښے هميشه لپاره د الله حمد او مدح پوره شی او د هغۀ كمال، جلال او جمال بندګانو ته راښكاره شی، د هغۀ عدل او رحمت ورته راښكاره شی۔
الله تعالىٰ فرمائی: ﴿ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴾ [سبا: ١]
(او پـه آخرت كښې به هم تمام تعريفونه هم هغۀ لپاره وی، او هغه ډير زيات حكمتونو والا، د هر يو شئ خبر لرونكے دے)۔

۳۶ – د الله د رحمت نهایتے فراخي: دے دلیل ته نزدے دلیل دا هم دے چه د الله رحمت ډیر زیات فراخه دے، لکه حدیث کښے دی:

[خَلَقَ اللّٰهُ مِائَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ مِنْهَا وَاحِدَةً وَبِهَا يَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ حَتّٰى إِنَّ الْفَرَسَ لَتَرْفَعُ رِجْلَهَا عَنْ وَلَدِهَا مَخَافَةَ أَنْ تُصِيبَهُ]

(الله سل رحمتونه پیدا کړی د هغے نه ئے یو رحمت دنیا ته رالیږلے، په همدے رحمت سره خلك په یو بل باندے رحم کوی، تردے چه اسپه خپله خپه د خپل بچی نه وچتوی هسے نۀ هغۀ ته څۀ تکلیف ورسی).

او دنیا تنګه ده د الله تول رحمتونه په دے کښے نشی ځائیدے۔ دے وجے نه یوه لویه ورځ پکار ده چه په هغے کښے الله په خپلو بندګانو باندے هر قِسم رحمتونه وکړی، ځکه د الله یو نوم (الرحمن) او بل ئے (ارحم الراحمین) دے۔ دیته په دے آیتِ کریمه کښے اشاره ده: ﴿ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِآيَاتِ اللّٰهِ وَلِقَائِهٖ أُولٰئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِيْ وَأُولٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ﴾ [عنکبوت : ۲۳]

دے وجے نه، د الله د فراخه رحمت لپاره یوه فراخه ورځ ضروری ده۔

څوك چه ددے ورځے نه منکر وی نو دا د الله د رحمت نه نا امیده دے او د الله په رحمانیت ایمان نۀ لری او نۀ هغه رحمت منی چه هغه به ئے په دے ورځ په خپلو بندګانو باندے کوی۔ الله تعالیٰ دے مونږ له په خپل فضل او کرم سره ددے رحمت نه پوره پوره برخه راکړی۔ آمین !

۳۷ – ددے کائناتو د **ناشنا** پیدا کولو په ذریعه دوباره ژوندون ثابتول:

الله تعالیٰ دا کائنات په غیر د څۀ مخکښې مثال نه ناشنا پیدا کړل، نو په اجسامو کښے ارواح اچول خو الله لپاره آسان دی۔ الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ بَدِيْعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ [بقره: ۱۱۷]

(د آسمانونو او زمکے ناشنا پیدا کونکے دے).

او فرمائی: ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ اَهْوَنُ عَلَيْهِ وَلَهُ الْمَثَلُ الْاَعْلٰى فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ [روم: ۲۷]

(او الله هغه ذات دے چه مخلوق په اول ځل پیدا کوی، بیابه هغه دوباره ژوندے کوی، او دا د هغۀ لپاره زیات آسان دے، او په آسمانونو او زمکه کښې همدا د اوچت صفت خاوند دے، او هغه د ډیر زبردست، لوئے حکمتونو خاوند دے).

۳۸ – د الله د امر قوت او مضبوطیا ددے تقاضا کوی چه دوباره ژوندون راتللے شی :

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ الْاَرْضِ اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴾ [روم: ۲۵]

Maktaba Tul Ishaat.com

(او د هغهٔ د ښښو نه داده چه آسمان او زمکه د هغهٔ په حکم سره ولاړ دی، بیا چه کله هغه تاسو د زمکے نه را وبلی، نو تاسو ټول به په یو ځل را ځئ).

هرکله چه الله د دومره قوی او مضبوط امر خاوند دے چه په دے سره ئے زمکه او آسمانونه ودرولی، نو بیا د مړو په دوباره ژوندی کونو به ولے قادر نهٔ وی؟

۳۹ – د الله د علم او کامل حکمت تقاضا :

الله تعالیٰ علیم او حکیم ذات دے هغه د لوبو توقو نه ډیر زیات پاك دے، هغهٔ سره دا مناسب نهٔ ده چه مخلوق پیدا کړی او بیا دے هغوئ له څهٔ جزاء سزا نهٔ ورکوی، سره ددے چه د دوئ عملونه او احوال جدا جدا دی. څوك کافر دے نو څوك مومن. څوك نیك عمله نو څوك بد عمله. څوك د الله نه حیا کوی نو څوك ئے نهٔ کوی. ارشاد دے :

﴿ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴾ [مومنون: ۱۱۵]

او فرمائی: ﴿ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ يُّتْرَكَ سُدًى ﴾ [قیامه: ۳٦]

(آیا د انسان دا خیال دے چه دے به بیکاره پریښودے شی؟).

اوفرمائی: ﴿ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴾ [صٓ: ۲۷] (او مونږ آسمان او زمکه او ددے ترمینځ څیزونه بے مقصده نهٔ دی پیدا کړی، کافران خلق دغسے خیال کوی، نو کافرانو لپاره هلاکت او بربادی یعنی د جهنم اور دے).

او فرمائی: ﴿ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴾ [دخان: ۳۸]

(او مونږ آسمان او زمکه او ددے دواړو ترمینځه څیزونه دَ لهو او لعب (مشغلے او لوبو) په توګه نهٔ دی پیدا کړی).

او فرمائی: ﴿ مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ [دخان: ۳۹]

(مونږ دا په حق او مقصد سره پیدا کړی دی، لیکن په دوئ کښې زیاتره خلق دا خبره نهٔ پیژنی).

نو حکیم او علیم ذات خپل بندګان په غیر د حساب کتاب نه بیکاره نهٔ پریدی، دے وجے نه یوه داسے ورځ پکار ده چه په هغے کښے دوئ سره حساب وکړے شی او دوئ له د دوئ د عملونو بدله ورکړے شی، او هغه څوك نیك بخته وګنړل شی چه په دغه ورځ نیك بخته شو، او هغه څوك بد بخته وګرځول شی چه په دغه ورځ بد بخته شی.

٤۰ – الله خپل رسولان رالیږلی او په هغوئ باندے ئے خپل رشتینے کتابونه نازل کړی، هغوئ تولو ددے ورځے لپاره د تیاری کولو دعوت ورکړے، حالانکه د الله کتابونه نهایتے رشتینے کتابونه دی، هغه د دروغو، مبالغے او خلاف الحقیقت خبرونه پاك او منزه دی، هغه صرف او صرف په

حق بانـدې مشتـمـل دي. د رسولانو او د کتابونو په صدق او رشتينوالي بانديې ګنړ دلائل دي، هغـه په دې خبره ښکاره دليل دې چه دوباره ژوندون او د حساب کتاب لپاره د الله ملاقات حق او حقيقت دے. ارشاد دے:

﴿وَاِذَا الرُّسُلُ اُقِّتَتْ لِاَیِّ یَوْمٍ اُجِّلَتْ لِیَوْمِ الْفَصْلِ وَمَآ اَدْرٰكَ مَا یَوْمُ الْفَصْلِ وَیْلٌ یَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِیْنَ ﴾ [مرسلات: ١١-١٤]

(اوکله چه رسولانو لپاره وخت مقرر کړے شي (نو قيامت به راځي دَ دوئ حاضري کومے ورځے تـه روستـو کړے شوے ده دِ فيصلې ورځے لپاره، او اے زما نبي! تـا تـه څۀ معلومه ده چهٔ د فيصلے ورځ به څنګه وي، په دے ورځ به دروغ ګنړونکو لپاره هلاکت او بربادي وي)

او ارشاد دے: ﴿ وَالَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالآخِرَةِ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰی صَلَاتِهِمْ یُحَافِظُوْنَ ﴾ [انعام: ٩٢]

پـه قـرآن کـريـم کښـے د سلو نه زيات ځله د قرآن د تذکرے سره د قيامت تذکره هم شوے چه په دے کښے همدے معنیٰ طرفته اشاره ده.

٤١ - د **قيامت د اثبات** لپاره قسَم خوړل: د قيامت د تاکيد لپاره الله تعالیٰ ايمان والو لپاره څو ځله قسَم کړے: 'که ارشاد دے: ﴿ فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴾ [ذاريات: ٢٣]

او ارشاد دے: ﴿ زَعَمَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ یُّبْعَثُوْا قُلْ بَلٰی وَرَبِّیْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذٰلِكَ عَلَی اللّٰهِ یَسِیْرٌ ﴾ [تغابن: ٧]

او ارشاد دے: ﴿ وَیَسْتَنْبِئُوْنَكَ اَحَقٌّ هُوَ قُلْ اِیْ وَرَبِّیْٓ اِنَّهٗ لَحَقٌّ وَّمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِیْنَ﴾ [يونس: ٥٣]

(او مشـرکـان تـا نـه تپـوس کـوي چه آيا د آخرت عذاب حق دے؟ تهٔ ووايه هو! قسم دے په رب زما! دا خو بالکل حق دے، او تاسو الله لره نشئ عاجز کولے).

او ارشاد دے: ﴿ وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا لَا تَاْتِیْنَا السَّاعَةُ قُلْ بَلٰی وَرَبِّیْ لَتَاْتِیَنَّكُمْ عٰلِمِ الْغَیْبِ لَا یَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِی السَّمٰوٰتِ وَلَا فِی الْاَرْضِ وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِیْ كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ لِّیَجْزِیَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِیْمٌ وَالَّذِیْنَ سَعَوْ فِیْٓ اٰیٰتِنَا مُعٰجِزِیْنَ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِیْمٌ﴾ [سبا: ٣-٥]

(او کافران خلق وائي چه په مونږ به قيامت نهٔ راځي تهٔ ووايه: هو! زما په رب مے دے قسَم وي چه پټے خبرے پيژني، دابه خامخا په تاسو بانديے راځي، د هغهٔ نه د يوے ذرے هومره هم څهٔ شے په آسمـانـونـو او زمـکـه کښ پټيږي نهٔ، اونهٔ ددے نه ووړکے اونهٔ ددے نه لوئے شے، هر شے او هره خبره پـه يـو روښانـه کتاب کښ ليکلے ده.(او قيامت به ځکه راځي) دے لپاره چه رب العالمين هغه خلقو له ښه بدله ورکړي چـه هغوئ ايمان راوړے او نيک عمل ئے کړے، هم دے خلقو له به

Maktaba Tul Ishaat.com

(په آخرت کښې) د خپل رب ښښنه او بهترینه روزي وي، او کوم خلق چه زمونږ د آیتونو خلاف په دے گمان کوشش کوي چه دوئ به مونږ عاجزه جوړ کړي دوئ له غټ دردناك عذاب دے).

٤٢ - د ورځے او شپے په یو بل کښے د ننه ایستو په ذریعه د قیامت ثابت والے:

لکه څنګه چه الله د زمانے په بدلولو قادر دے، دغه شان به الله دا دنیا په آخرت باندے بدله کړي. لکه ارشاد دے : ﴿ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴾ [یٰس: ٣٧]

(او دوئ لپاره یوه نښنه شپه ده، مونږ ددے نه ورځ جدا کوونو دا خلق په تیارهٔ کښې داخل شي).

او ارشاد دے : ﴿ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ﴾ [فاطر: ١٣]

(شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي).

او دا داسے عقلي دلیل دے چه د غوږ او سترګے سره تعلق لري.

٤٣ - ژوندي نه د مړي او د مړي نه د ژوندي راویستو په ذریعه **قیامت ثابتول** :

او دا کار په دنیا کښے جاري دے لیدلے کتلے کیږي، نو دغسے به الله د قیامت په ورځ مړي هم راوباسي. قرآن دا دلیل بار بار ذکر کړے، لکه ارشاد دے: ﴿ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴾ [روم: ١٩]

(هغه ژوندے د مړي نه راوباسي او مړے د ژوندي نه راوباسي، او زمکه ددے د مرګ نه پس ژوندئ کوي او دغسے به تاسو هم د خپلو قبرونو نه را وبښکلے شئ).

٤٤ - غټے او درنے کشتئ په **سمندر** کښے روانے دی، نهٔ ډوبیږي نو د الله تعالیٰ دا ښکاره قدرت به مړي هم ژوندي کوي، سره ددے چه د اوبو په سطح باندے یوه سنګریزه هم نهٔ ایساریږي نو ددے په شا باندے دا دومره لنګر انداز کشتئ څنګه قرارے مومي؟ ارشاد دے :

﴿ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ اِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا اِلٰى حِيْنٍ ﴾ [یٰس: ٤١-٤٤]

(او دوئ لپاره یوه نښنه داده چه مونږ د دوئ نسل په ډکه کشتئ کښې سوارهٔ کړل او مونږ د دوئ لپاره د کشتئ پشان نور څیزونه پیدا کړي چه په هغے باندے دوئ سوریږي، او که مونږ وغواړو نو دوئ به ډوب کړو نو نهٔ به دَ دوئ فریاد لپاره څوك رسیدونکے وي، او نهٔ به دوئ خلاص کړے شي، سیوا د هغے نه چه زمونږ رحمت د دوئ شاملِ حال شي، او مونږ یو مقرر وخته پورے دوئ له دَ دنیا نه دَ فائدے پورته کولو موقع ورکوو).

فکر وکړه ! دا ډیر ناشنا دلیل دے.

٤٥ - د کمزوري او وړوکي انسان لپاره الله تعالیٰ دا دومره قوي او مضبوط **چارپایان تابع** کړي

چه په دے سورلئ کوی او ددے نه پئ لوښی او ذبح کوی ئے: نو ددے نه معلومیږی چه الله تعالیٰ به مړی هم راژوندی کوی ځکه هر یو شے د الله د قدرت او علم تابع دے۔

٤٦ – د چارپایانو د غولانځو نه دوینے او د سوتو د مینځ نه ډیر مزیدار پئ **راویستل**: نو دغه شان به الله د قیامت په ورځ د خاورو نه غوښے او هډوکی هم راویاسی۔

د الله تعالیٰ په دے وینا کښے دیته اشاره ده:

﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَآ اَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مٰلِكُوْنَ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴾ [يٰس: ٧١-٧٣]

(آیا دا خلق ګوری نۀ چه کوم څیزونه زمونږ لاسونو جوړ کړی، د همدے نه مونږ دوئ لپاره چارپایان پیدا کړی، چه د هغے دوئ مالکان جوړیږی، او مونږ هغه د دوئ په قابو کښ ورکړی، نو د هغے په ځینو باندے دوئ سوریږی، او د ځینو غوښے خوری، او دوئ لپاره په دے چارپایانو کښ نورے فائدے او د څښلو والا څیزونه دی، آیا بیا هم دوئ شکر نۀ کوی)۔

او ارشاد دے: ﴿ وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً نُّسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهٖ مِنْ بَيْنِ فَرْثٍ وَّدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّارِبِيْنَ ﴾ [نحل: ٦٦]

(بیشکه تاسو لپاره په چارپایانو کښ هم عبرت شته، ددے په خیټو کښ د خوشیانو او وینے د مینځ نه خالص پئ راوځی مونږ ئے په تاسو باندے سکوو چه د سکونکو لپاره ډیر ذائقه دار وی)۔

او دا ډیر عجیب دلیل دے!

٤٧ – **انسان** د خاورے نه پیدا کول بیا هغه ژوندے بشر ګرځول چه د خپلو کارونو سنبالوونه کوی او ناشنا کارونه کوی: نو هر کله چه الله دا پیدا کولے شی نو بیا څنګه د قیامت په ورځ د انسان ذرات او اندامونه د خاورو نه نشی پیدا کولے؟ دیته د سورت روم په دے آیتِ کریمه کښے اشاره ده: ﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ﴾ [روم: ٢٠]

(او د هغه د قدرت د نښو نه داده چه هغۀ تاسو د خاورے نه پیدا کړی یئ، بیا تاسو انسانان جوړ شوئ او هر طرفته خوریږئ)۔

د سورتِ روم د مرکزی مسائلو نه یوه مسئله د قیامت اثبات دے۔

د قیامت د منکرینو او په دے کښے د شك کونکو لپاره دا یو قطعی دلیل دے، هغه دا چه د خاورے او د انسان د غوښے او هډوکو ترمینځه هیڅ مناسبت نشته حالانکه ددے نه الله تعالیٰ څنګه یو ښائسته انسان پیدا کوی؟ او هر کله چه په دے قادر دے نو بیا د انسان په دوباره راپورته کولو به ولے قادر نۀ وی حالانکه په خاوره کښے ددۀ اندامونه او ذرات موجود او معلوم او د الله په

Maktaba Tul Ishaat.com

لوحِ محفوظ کښې مکتوب دي! ﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ وَعِنْدَنَا كِتَابٌ حَفِيْظٌ ﴾ [قٓ: ٤]

٤٨ – **الله زنانه** د نارینه نه پیدا کړه سره ددې چه ددې دواړو د صفاتو ترمینځه ډیر فرقونه دي بیائې ددې دواړو ترمینځه محبت او دوستي پیدا کړه حالانکه ددې دواړو طبیعتونه جدا جدا دي، نو بیا به الله د خاورو نه د انسان په غوښه او هډوکو راجمع کولو باندې څنګه قادر نهٔ وي؟ سره ددې چه د نارینه نه د زنانه پیدا کولو نه دا کار ډیر زیات آسان دې! لکه ارشاد دې :

﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴾ [روم: ٢١]

(او د هغهٔ د قدرت د نښو نه دا هم ده چه هغهٔ ستاسو د جنس نه ښځې پیدا کړې دي دپاره چه تاسو د هغوئ سره آرام بیامومئ، او ستاسو ترمینځه ئې محبت او رحمت پیدا کړو، بیشکه په دې کښې هغه خلقو لپاره ډیرې نښې دي چه هغوئ غور او فکر کوي)۔

٤٩ – **د انسانانو** رنګونه جدا جدا دي سره ددې چه اندامونه د ټولو انسانانو یو شان دي۔ بیا دیته وګوره چه الله هر یو انسان له جدا جدا رنګ، شکل، آواز، ژبه او بیان ورکړې۔ ددې نه زیاته آسانه داده چه انسان دوباره پیدا کړي۔

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴾ [روم: ٢٢] (او د هغهٔ د قدرت د نښو نه د آسمانونو او زمکې پیدائش دې، او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف دې، بیشکه په دې کښې علم والو دپاره ډیرې نښې دي)۔

٥٠ – هر یو شے د الله د **حکم منقاد** او تابع دې او هغه چه څهٔ وغواړي کوي ئې، هیڅ یو شے د هغهٔ د ارادې نه روستو پاتې کیدې نشي، نو بیا هغهٔ ته دا ولې سخته ده چه د انسان غوښه او هډوکي سره یو ځائې کړي او په بدن کښې ورله ساه واچوي؟ لکه ارشاد دې :

﴿وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴾ [روم: ٢٦]

(او په آسمانونو او زمکه کښې چه هر څوک دي ټول د هغهٔ مملوك دي، هر یو د هغهٔ فرمانبردار دې)۔ ﴿ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ ﴾ [بروج:١٦] (هغه چه څهٔ غواړي کوي ئې)

٥١ – ټول مخلوقات په دې **اقرار** کوي چه الله د دوئ خالق، رازق او ژوند ورکونکے دے او کله چه وغواړي دوئ به وژني، هغه په دې ټولو کارونو قادر دے، نو بیا په دې ولې قادر نهٔ دے چه د مړینې نه روسته دوئ دوباره راژوندي کړي؟ ارشاد دې :

﴿ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ﴾ [روم: ٤٠]

(الله هغه ذات دے چه هغهٔ تاسو پیدا کړئ، بیائې تاسو له روزي درکړه، بیا هغه تاسو مړهٔ کوي

بیا به تاسو ژوندي کوي).

او ارشاد دے: ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴾ [بقره: ٢٨] (تاسو څنګه د الله نه انکار کوئ، حال دا چه تاسو بے ساه وئ نو هغه تاسو ژوندي کړئ، بیا به په تاسو مرګ راولي، بیا به تاسو (دويم ځلی) ژوندي کوي، بیا به هغهٔ طرف ته واپس کولے شئ).

په دے آيتونو کښے د قيامت اثبات دے.

٥٢ - الله تعالیٰ هواګانے د ډیرو فائدو لپاره راليږي، لکه: وريځے راپورته کول، کشتئ روانول او په بندګانو رحمت کول. دغه شان به الله ارواح هم راوليږي او په اجسامو کښے به ننوځي لکه څنګه چه هواګانے په وريځو او نورو شيانو کښے ننوځي.

ارشاد دے: ﴿ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّ لِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴾ [روم: ٤٦] (او د هغهٔ د نښو نه يوه نښه داده چه هغه هواګانے د بارانهٔ د زيرى وركولو نه وړاندے راليږي، او دے دپاره چه هغه په تاسو باندے د خپل رحمت خوند وڅکی، او دے دپاره چه کشتئ (په سمندر کښں) د هغهٔ په حکم سره روانے وی، او دے دپاره چه تاسو د هغهٔ فضل تالاش کړئ، او شايد چه تاسو د هغهٔ شکر اداء کړئ).

٥٣ - انسان د کمزوری شئ نه پيدا شوے، بيا په کښے طاقت وا چولے شهٔ او دے نه پس به بيا کمزورے او بوډا کيږي. نو هر کله چه د کمزورئ نه د طاقت په پيدا کولو او د طاقت نه پس په کمزورئ پيدا کولو قدرت لري، نو بيا ولے د خاورے نه او په خاوره کښے د تس نس شوو اجزاؤ نه دهٔ په پيدا کولو هغه قادر نشي؟ ارشاد دے: ﴿ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّ شَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْقَدِيْرُ ﴾ [روم: ٥٤]

(الله هغه ذات دے چه هغهٔ تاسو تول کمزوری پيدا کړئ، بيا د کمزورئ نه پس ئے قوت ورکړو، بيا د قوت نه پس ئے کمزورے او بوډا جوړ کړو، هغه چه څهٔ غواړی پيدا کوی ئے، او هغه خو ډير زيات پو هه، ډير لوئے قدرت والا دے).

٥٤ - الله تعالیٰ د داود عليه السلام لپاره غرونه تابع کړل او وُسپنه ئے ورله نرمه کړه، دا دليل دے چه دوباره ژوندون حق دے څکه قبرونو نه د خلکو پورته کول او په دوئ کښے روحونه دوباره اچول، د غرونو د تابع کولو او د وُسپنو د نرمولو نه زيات آسان کار دے. ارشاد دے: ﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا يٰجِبَالُ اَوِّبِيْ مَعَهٗ وَالطَّيْرَ وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ ﴾ [سبا: ١٠]

(او مونږ داؤد له خپل خاص فضل ورکړے وو (مونږ حکم کړے وو) چه اے غرونو ! هغهٔ سره تاسو هم تسبيح لولئ، او مارغانو ته مو هم دا حکم کړے وو، او مونږ دهٔ لپاره اوسپنه نرمه جوړه

Maktaba Tul Ishaat.com

کړې وه).

٥٥ – دے ته نزدے دليل دا هم دے چه الله تعالىٰ سليمان عليه السلام ته د تانبے چينه رابهيولے وه، نو آيا دا عجيبه قدرت نښې کولے چه په خلکو کښې ساه واچوي او د قبرونو نه ئې راپاسوي؟ قَسَم په الله ولے نه !

٥٦ – د دوباره ژوندي کولو يو دليل دا هم دے چه الله د بندګانو نه خپل معرفت او پيژندګلو غواړي، او دا خو ښکاره ده چه دوئ دے د هغهٔ کمال او جمال په دنيا کښې په پوره توګه حاصل کړي، دے وجے نه يوه ورځ ضروري ده چه په هغې کښې رب خپل بندګانو ته خپل ځان راښکاره کړي او بندګان د هغهٔ کمال او جمال وپيژني او د هغهٔ لائق او کامل حمد او ثناء ووائي.

ارشاد دے : ﴿ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴾ [نور: ٢٥] (په دغه ورځ به الله د دوئ (د دغه عملونو) پوره بدله دوئ له ورکوي، او دوئ ته به پته ولګي چه بيشکه الله حق او ښکاره دے).

او ارشاد دے : ﴿ وَيَرَى الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِيْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴾ [سبا: ٦] (او کوم خلق چه علم والا دي هغوئ ښهٔ پيژني چه په تا باندے چه ستا د رب د طرفه کوم قرآن نازل شوے هغه حق دے، او هغه الله طرفته لارښوونه کوي چه هغه ډير زورور، ډير صفتونو والا دے).

او ارشاد دے : ﴿ لِيُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِيْ يَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنَّهُمْ كَانُوْا كَاذِبِيْنَ ﴾ [نحل: ٣٩] (دے دپاره چه د کومے خبرے په رشتينوالي کښې دوي اختلاف کولو، هغه دوي ته ښکاره کړي، او دے دپاره چه کافرانو ته معلومه شي چه دوي (په خپلو قسمونو کښې) دروغجن وو).

او ارشاد دے : ﴿ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَ قِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ [زمر: ٧٥] (او د خلقو ترمينځه به د انصاف مطابق فيصله وکړے شي، او هر طرفته به همدا ويلے کيږي چه تمام تعريفونه هغه الله لره دي چه دَ ټول جهان پالونکے دے).

٥٧ – قيامت ددے لپاره قائميږي چه بندګان د الله کامل عدل، کامل علم، کامل قدرت او پوره حکمت ووينى، ځکه خو الله انسانان، ځناور او مارغان هر څهٔ دوباره راژوندي کوي، لکه ارشاد دے: ﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَاطَائِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّا اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴾ [انعام: ٣٨]

(او هر حيوان چه په زمکه موجود وي او هر مارغه چه په دوه وزرو آلوزي، هغوي ستاسو په شان امتونه دي، مونږ هيڅ شے په ليکلو کښں راوستو نه پريښے نهٔ دے، بيا به دا خلق خپل رب ته

ورجمع کړے شي)۔
د حيواناتو په دوباره ژوندی کولو کښے هم ډير زيات حکمتونه دي، يو دا چه: بندګانو ته د الله علم او قدرت راښکاره شي۔

۵۸ – د دوباره ژوندون لپاره دا **دليل** هم الله ذکر کړے چه: الله تعالیٰ توپ وهونکے اوبۀ د ملا او د سينو د مينځ نه راوباسي او په رحم کښے ئے په ډيره ناشنا طريقه سره اچوی۔ دا اوبۀ په رحم کښے دننه بيضے ته په يوه داسے ناشنا طريقه سره ورسوی چه د هغے نه انسان عاجز دے چه دا طريقه په دے نوی طب او ساينس کښے بيان شوے۔ نو دغه شان يو ورځ به انسان هم د خاورے او د زمکے د نس نه راوباسي۔ دا دليل په بله طريقه مخکښے تير شو۔ ارشاد دے: ﴿ فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ يَّخْرُجُ مِنْ م بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَآئِبِ اِنَّهٗ عَلٰى رَجْعِهٖ لَقَادِرٌ ﴾ [طارق: ۵-۸]
(نو انسان دے غور وکړی چه دا د کوم شيئ نه پيدا شوے، دا د يو توپ وهونکو اوبو نه پيدا شوے، چه هغه د پلار د شا او د مور د سينے د هډوکو د مينځ نه راوځي، هغه يقيناً دا په دوباره واپس کولو باندے قادر دے)۔

۵۹ – په دنيا کښے الله تعالیٰ **انسان** پيدا کړی او بيا ئے مړ کړی: نو دا ژوندی کول او مړ کول ښکاره دليل دے چه دوباره ژوندون حق دے۔ ارشاد دے: ﴿ وَاِنَّا لَنَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُوْنَ ﴾ [حجر: ۲۳] (او يقيناً مونږ ژوندی کول کوو او مونږ مړۀ کول کوو، او مونږ د ټولو وارثان يو)۔

۶۰ – دوباره ژوندون او **قيامت** راتلل ددے نه سيوا بل هيڅ نۀ دی چه دا عالَم په يو بل عالَم باندے بدل شي، لکۀ يوتن کور ونړوی او ددے په ځائے بل کور جوړ کړی۔ د قيامت دا معنیٰ نۀ ده چه دا ټول مخلوقات به ګنے بيخي معدوم او ورك کيږی، ولے چه دا د جهميه ؤ عقيده ده۔ د اهل السنت والجماعة عقيده داده چه قيامت ددے عالَم په بل عالَم باندے بدلولو ته وائی، چه په دے کښے هيڅ ګران والے او لرے والے نشته! الله تعالیٰ وعده کړے او هغه په دے قادر دے او د هغۀ په دے کښے ډير حکمتونه دی۔ لکه بندګانو له د هغویٔ د اعمالو جزاء ورکول چه الله به هر نفس ته د هغۀ د کړو بدله ورکوی، که نيکي وی نو نيکه بدله او که بدی وی نو بده بدله، نو په قيامت راتلو کښے ګرانے د کومے خبرے شو؟ دا هر څۀ الله تعالیٰ ته آسان او د ډيرو رازونو نه ډك دی۔

دا خبره هر مسلمان ته معلومه ده چه د قيامت ورځ حق ده، ددے په راتلو کښے هيڅ شك شبه نشته۔ دا په عقلي، نقلي او فطري دلائلو سره ثابته ده۔ مونږ يو څو دلائلو ته اشاره قدرے وکړه۔ تۀ په دے کښے فکر وکړه کيدے شي چه يقين درله پيدا کړی۔

[اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنَا فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ الْعَظِيْمِ حِيْنَ نَقُوْمُ بَيْنَ يَدَيْكَ دَاخِرِيْنَ، وَارْحَمْ ضَعْفَنَا وَسَكِّرْ

Maktaba Tul Ishaat.com

رُغْبَنَا فِيْ ذٰلِكَ الْحَشَدِ الْهَائِلِ]، آمين !

ددې کتاب نه علاوه په بل هيڅ يو کتاب کښې به دا فائده ونهٔ مومې، سيوا د الله د کتاب نه ـ

* (٤) او هرچه د **يقين اسباب** (٥) فضائل (٦) او اقسام دی:

نو هغه په دويم جلد کښې ذکر شوی دی۔

(٣) او هرچه **اسلام** دے : نو دا د الله تهولو اوامرو ته د غاړه کيښودو نوم دے چه بنده به ددے نه هيڅ کله سرغړونه نهٔ کوی برابره خبره ده که ددهٔ د خواهش او مذهب موافق وی او که ددے خلاف وی، ددهٔ د ذوق يا عقل سره موافق وی او که ددے خلاف وی۔ په ټول حالاتو کښې خوشحالی وی که خفګان، د الله حکم ته غاړه کيښودل اسلام دے۔

(٤) او هر چه **احسان** دے : نو هغه دا چه د الله داسے بندګی وکړے شی ګويا انسان الله ته ګوری او که داسے تصور د چا نشی جوړيدے نو بيا کم از کم دا تصور کول پکار دی چه الله دهٔ ته ګوری۔

نو کله چه تهٔ د اسلام او د احسان خصلتونه جمع کړے نو واقعی چه تهٔ په پوره کاميابئ سره کامياب شوے۔ او تسليم (غاړه کيښودل) ديته وائی چه د څلورو شيانو نه خلاصے ومومی:

١ - د داسے شبهے نه چه د خبر سره ټکراؤ شی۔

٢ - د داسے شهوت نه چه د امر سره ټکراؤ شی۔

٣ - د داسے ارادے نه چه د اخلاص سره ټکراؤ شی۔

٤ - د داسے اعتراض نه چه د شريعت او تقدير سره ټکراؤ شی۔

څوک چه ددے څلورو شيانو نه خلاص شو، دے د هر آفت نه خلاص شو۔

اے الله ! د علم، يقين، اسلام او احسان څلور واړه خويونو نه پوره پوره برخه زمونږه نصيب کړے۔ آمين !

الرياض - السعودية - ١٤٣٤ هـ شوال : ١١

يوم الاثنين ، والحمد لله رب العالمين .

* * * * * *

٥٥ - فائده

پـه چا باندې چه څلور قِسمه **محبتونه** راکـهـلاؤ شـول هغه پوره کامياب شۀ او ژوند ئې مزيدار شۀ او ددې په نتيجه کښې به دۀ ته څلور قِسمه نورې خزانې ملاؤ شي :

١ - د قـرآن مـيـنـه، تدبر، شپه او ورځ لوستل، داسې رشتيني مينه چه د هغې خوند په زړۀ کښې بيامومي۔

٢ - د الله د ذکر او عبادت سره محبت او دې ته ليواله کيدل او په دې سره خپل وختونه آبادول۔

٣ - د سنت سره مينه، دا په ځان کښې راوستل او دې ته دعوت ورکول۔

٤ - د الله د اسـمـاء او صـفـاتـو سره مينه، ددې د زده کړې، په دې کښې د بحث کولو او ددې په ذريعه الله ته د تقرب حاصلولو نۀ ستړې کيدونکې مينه۔ او په دې کښې علمونه او خوندونه لټول۔

او هغه نورې څلور خزانې دا دي:

(١) دعـاء۔ (٢) د الله ذکـر۔ (٣) په قرآن کښې فکر او تدبر کول۔ (٤) د الله رب العالمين د نومونو او صفتونو علم۔

ځـوك چـه دې خـزانـو تـه ورنـنـوځـي نـو دې نـه بـه بې شـماره جواهر راوباسي او نۀ زړيدونکې نعمتونه به حاصل کړي۔ او توفيق ورکونکې صرف الله دے۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۷ - فائده
د خشوع خضوع نه ډك مونځ

د سلفو صالحينو دا عادت وو چه په دوئ کښې به ...ونن د يو صفت حاصلولو لپاره كال دوه كاله سفر كولو او د يو عالم سره به څۀ زمانې پورې د ښۀ وضع رفع او د ښۀ خوئې خصلت زده كولو لپاره پاتې كيدل. حسن بصريؒ فرمائي: مونږ به د يو خصلت حاصلولو لپاره كال دوه كاله سفر كولو. [الجامع فى طلب العلم الشريف].

مونږ دلته يو مهم صفت ذكر كوو چه هغې ته قرآن د اتيا (۸۰) ځلو نه زيات ترغيب وركړے، يعنى په خشوع خضوع باندې آباد مونځ، او الله تعالىٰ دا د ايمان د ځانګو نه يوه ځانګه ګرځولې لكه ارشاد دے: ﴿ وَالَّذِيْنَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ ﴾ [رعد: ۲۲]

ابراهيم عليه السلام ددے لپاره دعاء غوښتلې:

﴿ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴾ [ابراهيم: ۴۰] (اے ربه ! ما د مانځه پابندى كونكے وګرځوه او زما د اولاد نه هم، اے ربه ! او زما دعا قبوله كړې).

معلوميږى چه دا يو ډير مهم صفت دے. هر مسلمان ديته حاجت لرى چه دا زده كړى او دا عملى كړى او ددے لپاره د الله نه دعاء وغواړى.

څوك چه د مانځه اهتمام كوى نو دا د الله په كتاب او د آخرت په ورځ ايمان لرى، لكه ارشاد دے : ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴾ [انعام: ۹۲]

(او كوم خلق چه په آخرت ايمان لرى، هغوى پدے قرآن ايمان لرى، او هغوى د خپلو مونځونو حفاظت كوى).

خشوع والا مونځ كاميابى ده، لكه ارشاد دے: ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴾ [مومنون: ۱:۲] (هغه مومنان كامياب شو چه په خپلو مونځونو كښې عاجزى كونكى دى).

دے سره انسان د بدو خويونو نه نجات مومى، لكه ارشاد دے : ﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا اِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا وَّاِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا اِلَّا الْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دَآئِمُوْنَ ﴾ [معارج: ۱۹-۲۲]

(بيشكه انسان جزع فزع كونكے او حرصناك پيدا شوے، كله چه دۀ ته څۀ تكليف رسيږى نو

سمدست گهبراوېږي، اوکله چه دهٔ ته څهٔ نعمت ملاوېږي نو ډېر بخيل جوړېږي، سيوا د هغه مونځ کونکو نه چه هغوئ په خپلو مونځونو هميش والے کوي)۔

انسان سره به په ټولو اعمالو کښے د ټولو نه اول ددے حساب کيږي، که چرے دا سَم راووتهٔ نو دے کامياب شو او مراد ته ورسيدهٔ، اوکه دا خراب شو نو دے نامراده او ناکام شو۔ او حديث شريف کښے دي: [وَالصَّلَاةُ نُورٌ] (مونځ سراسر رڼرا ده) [مسلم، اصحاب السنن]۔

او دا برهان دے [ترمذي وغيره]

يعني د مسلمان په ايمان باندے ښکاره دليل دے۔

څوك چه ددے پابندي کوي هغه د خپل ټول دين حفاظت کوي او څوك چه دا برباد کړي نو هغه به ددے نه سيوا نور عملونه خامخا بربادوي۔ لکه دا خبره عمر فاروق رضی الله عنه کړے۔

او آخرنے وصيت چه رسول الله ﷺ امت ته کړے هغه د مونځ په باره کښے دے:

[اَلصَّلَاةَ وَمَامَلَکَتْ أَيْمَانُكُمْ] (د مانځه او د لاس لاندے غلامانو خيال ساتئ)۔

ددے پابندي کول جنت ته د ننوتو سبب دے او دا د الله له خوا شوے وعده ده، لکه چه دا د عباده بن صامت رضی الله عنه په حديث کښے راغلي۔ [ابوداود، مشكاة: ١/ ٥٢]

دا د مغفرت او بښنے سبب دے۔ ددے نور ګنړ فضائل دي۔

مونځ د رسول الله ﷺ د سترګو يخوالے وو: [وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ]

(زما د سترګو يخوالے په مانځه کښے پروت دے)۔

[احمد: ٤/ ٢٠١]

او فرمائي: [أَرِحْنَا بِهَا يَا بِلَالُ] (اے بلاله! مونږ له په مانځه سره آرام راکړه)۔

خو په کوم مونځ سره چه سترګے يخېږي او زړهٔ آرام مومي، د هغے لپاره شپږ مَشاهِد (تصورات) ضروري دي:

١ - **اول مشهد : اخلاص**: هغه دا چه په مونځ کولو باندے باعث به داوي چه بنده به د الله په محبت کښے مينه لري، د هغهٔ رضا او هغهٔ ته نزدے والے به غواړي، هغهٔ سره به خپله مينه ښکاروه کول او د هغهٔ خبره به عملي کول غواړي او په دے باره کښے دے د دنيوي برخونو نه د هيڅ شئ طمع نهٔ لري بلکه دا به خالص د هغهٔ د مخ غوښتلو او د هغهٔ د عذاب نه د وېرے او د هغهٔ د مغفرت او ثواب په اميد سره کولے شي۔

٢ - **دويم مشهد : صدق او نصيحت** : او هغه دا چه خپل زړهٔ به په دے کښے الله ته فارغوي او خپل ټول کوشش به خرچ کوي چه په دے کښے الله ته توجه وکړي او خپل زړهٔ په هغهٔ راجمع کړي او

Maktaba Tul Ishaat.com

دا مونځ د ظاهر او باطن دواړو په لحاظ په احسنه طریقه سره سرته ورسوی۔

۳ – **دریم مشهد : متابعت او اقتداء :** هغه دا چه پوره کوشش او حرص به کوی چه د رسول الله ﷺ د مانځه پشان مونځ وکړی او د هغه تولو خبرو او کارونو نه به مخ اړوی چه خلکو نوے نوے پیدا کړی۔

د اتباعِ سُنت فوائد او اهمیت په دے کتاب کښے په خپل ځائے ذکر شوی۔

٤ – **څلورم مشهد : احسان :** او دیته مراقبه هم وائی هغه دا چه د الله داسے بندګی کول چه ګویا الله زهٔ وینم اوکه دا تصور نشی لرلے نو بیا کم از کم دا خیال دے ساتی چه الله ما وینی۔ او دا په تولو قلبی اِعمالو کښے بنیادی خبره ده، دے سره په انسان کښے حیاء، اجلال، تعظیم، خشیت، محبت، انابت، توکل او الله ته خضوع او ذلت پیدا کیږی۔ دے سره وسوسے او ځان سره خبرے کول ختمیږی، دے سره د انسان زړهٔ په الله راجمع کیږی۔ په دے سره بنده الله ته نزدے کیږی او په همدے سره د خلکو د مونځونو مختلف والے ښکاره کیږی، تردے چه د دوه سړو د مونځونو ترمینځه به دومره لوئے فرق وی لکه د زمکے او آسمان ترمینځه، حالانکه د دواړو قیام، رکوع او سجده به یوه وی۔

٥ – **پنځم مشهد : منت :** او هغه دا چه دا خیال به کوی چه دا د الله خالص فضل او کرم دے په ما بانده چه زهٔ ئے په دے مقام کښے ودرولم او ددے ئے اهل جوړ کړم او د هغهٔ مخے ته د ودریدو او د هغهٔ په خدمت کښے په خپل زړهٔ او بدن سره د ودریدو توفیق ئے راکړو، که چرے د الله فضل نهٔ وی نو دا هیڅ کار به نهٔ وے شوے۔ دا وجه ده، حدیث کښے راځی: [وَاللّٰهِ لَوْلَا اللّٰهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا] (قسم په الله ! که چرے د الله توفیق شاملِ حال نهٔ وے نو مونږ به نهٔ هدایت موندلے وے او نهٔ به مو مونځ او صدقه کړے وے)۔ [بخاری]۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴾ [حجرات: ۱۷]

(بلکه الله په تاسو احسان کوی چه هغهٔ تاسو ته د ایمان لاره وښودله، که چرے تاسو په خپل اسلام کښې رشتینی یئ)۔

دا خو هغه ذات دے چه مسلمان ئے مسلمان ګرځولے او مونځ ګذارئے مونځ ګذار، لکه خلیل علیه السلام فرمائی: ﴿ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ﴾ [بقرة : ۱۲۸]

او فرمائی: ﴿ رَبِّ اجْعَلْنِيْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ﴾ [ابراهیم: ٤٠]

په بنده بانده د الله په نعمتونو کښے لوئے نعمت دادے چه هغه په خپلے بندګئ کښے ځانته ودروی۔ ﴿ وَمَا بِكُمْ مِّنْ نِّعْمَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ﴾ [نحل: ۵۳] (او تاسو بانده چه کوم نعمتونه شوی نو دا د

الله له طرفه دی)۔

﴿ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ [حجرات: ۷] (ليکن الله ستاسو لپاره ايمان محبوب جوړ کړے، او ستاسو په زړونو کښې ئے ددے ډول او ښائست کينولے)۔

دا تصور د بنده لپاره ډير زيات نفعمن دے او د بنده توحيد چه څومره لوئے وی نو هغومره به ئے دا تصور پوره وی۔

په دے کښے يوه فائده دا هم ده چه بنده به په خپل عمل ليدو سره په کبر کښے نۀ راځی، بلکه دا چه د حمد او ثناء نسبت به ددے حقدار ته کوی نۀ خپل ځانته، ولے چه د تمامو حمدونو مستحق صرف د هغۀ ذات دے، او دے سره توحيد پوره کيږی، د انسان توحيد تر هغه وخته پورے پوره کيدے نشی ترڅو چه د هغۀ دا حالت پيدا نشی۔ دارنګه په دے کښے نورے فائدے هم شته۔ دے سره محبت، اُنس او د هغۀ ملاقات ته شوق پيدا کيږی، او دے سره انسان د هغۀ په ذکر او طاعت سره خوند مومی۔ د کوم انسان زړۀ چه ددے خبرو نه منع شوے وی او ديته نشی رسيدے نو د هغۀ په ژوند کښے هيڅ خير نشته۔ ارشاد دے: ﴿ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْاَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴾ [حجر: ۳] (اے زما نبی!) ته دوئ د دوئ په حال پريده چه خوراك وکړی او مزے وکړی او آرزوګانو دوئ په غفلت کښې اچولی دی، نو زر دے چه دوئ ته به خپل انجام معلوم شی)۔

٦ – **شپږم مشهد : د کوتاهئ تصور**: بنده که په قيام کښے هر څومره کوشش وکړی او خپل طاقت په داؤ ولګوی نو دا بهر حال کوتاه دے او د الله سبحانه وتعالیٰ حق ډير زيات لوئے دے او په دے لاره کښے چه بنده هر څومره طاعت، عبوديت او خدمت وکړی نو د الله حق ددے نه زيات دے او د الله د عظمت او عبوديت حق څوك نشی ادا کولے۔

د بادشاهانو غلامان او خادمان په خپل پوره کوشش او محنت سره خدمتونه کوی خو ددے باوجود ترے يريږی او شرميږی، حالانکه د بادشاهانو بادشاه او د کائناتو رب خو ددے ډير زيات لائق دے۔

کله چه بنده دا مقام حاصل کړی نو ددۀ لپاره صرف استغفار او د خپلے کوتاهئ نه عذر کول پکار دی او دا ګنړل پکار دی چه په دے بندګئ سره که دۀ ته ببښنه وشی نو غنيمت دے ځکه چه په دے بانديے اجر او ثواب هم ورکړے شی۔ ځکه پوره بندګی کول په بنده بانديے د الله تعالیٰ حق دے، بنده په دے بانديے د ثواب حقدار نۀ دے بلکه ثواب د الله تعالیٰ خالص فضل او مهربانی ده۔ دے ځائے نه د نبی کريم ﷺ ددے خبرے ښۀ وضاحت کيږی چه:

[لَنْ يَّدْخُلَ اَحَدٌ مِّنكُمُ الْجَنَّةَ بِعَمَلِهٖ، قَالُوْا: وَلَا اَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ: وَلَا اَنَا اِلَّا اَنْ يَّتَغَمَّدَنِیَ

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ]

(هيڅوك په تاسو كښې په خپل عمل سره جنت ته نشي تلے، صحابو عرض وكړو: يا رسول الله !تاسو هم۔ وې فرمايل: زهٔ هم نشم تلے البته كه الله ما په خپل فضل او كرم كښې پټ كړى)
[بخاري، مسلم]۔

ددې حالت بنياد ځلور خبرې دى: (١) صحيح نيت۔ (٢) غالب قوت چه ددې سره (٣) رغبت او (٤) رهبت (ويره) ملګرې وى۔ دا ځلور خبرې په دې باره كښې بنيادى حيثيت لرى، او بنده كښې چه كومه نيمګړتيا راځى نو ددې شيانو يا ددې نه د بعضو شيانو د نيمګړتيا په وجه راځى۔عاقل له پكار دى چه په دې ځلورو شيانو كښې فكر وكړى او په دې سره خپل سيرت او سلوك برابر كړى او په دې باندې د خپلو علمونو، عملونو، اقوالو او احوالو بنياد كيږى۔ او مدد صرف د الله نه غوښتل كيږى۔

[انظر : رسالة ابن القيم الى أحد اخوانه، كما في رسائله: ٣٥، الى آخر الرسالة]

بيا د مانځه په باره كښې خلك په يو ځو ډوله دى : (١) كافر۔ (٢) هغه كس چه حساب ورسره كيږى۔ (٣) معاف كړې شوې۔ (٤) هغه كس چه اجر او ثواب ورته وركړې شى۔ (٥) هغه كس چه عذاب ورته وركړې شى۔ (٦) الله ته نزدې كړې شوې كس۔ (٧) هغه كس چه د الله د پرهيزګاره اولياؤ نه دې۔

(١) نو كافر هغه كس دې چه يا خو هميشه لپاره مونځ پريدى او يا يو مونځ پريدى، بنا بر اختلاف علماء۔ بهر حال ددهٔ په باره كښې نبى كريم ﷺ فرمائى:

[مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ] (څوك چه قصدًا مونځ پريدى، كافر كيږى)۔

(٢) او چاسره چه حساب كيږى، دا هغه څوك دې چه كله مونځ ته ودريږى نو زړهٔ ئې په دنيا كښې مشغوله شى او الله ته رجوع نهٔ كوى مګر لږ شان۔

(٣) او معاف كړې شوې هغه څوك دې چه مونځ ته ودريږى نو د وسوسو په لرې كولو كښې كوشش كوى خو زړهٔ ئې بيا دې طرفته ځى او بيا ئې راړوى، نو دا د مانځه په خوند او په كوشش كښې وى، نو د الله تعالىٰ نه ددهٔ په حقله دا اميد دې چه دهٔ ته به ګناهونه معاف كړى۔

(٤) او ثواب وركړې شوې كس هغه دې چه د خپل مانځه په زياتره برخه كښې الله عز وجل ته توجه كوى، نو الله ددهٔ عمل نهٔ ضائع كوى بلكه دهٔ له ان شاء الله ثواب وركوى۔ او دا په بندګانو باندې د الله خصوصى فضل دې۔

(٥) او عذاب وركړې شوې هغه څوك دې چه د مانځه غم ورسره نهٔ وى، كله د جماعت مونځ

پریدی او کله مونځ د خپل وخت نه اړوی او کله ئے ډیر زیات روستو کوی.

٦ – او الله تـه نـزدیـکت حاصلونکے هغه څوك دے چه د خپل مانځه ډیر زیات اهتمام کوی، مونځ ته چه ودریږی نو الله طرفته ئے زړهٔ لاړ شی او د مانځه په معنو کښے فکر کوی او زړهٔ ئے په دے خوشحالیږی او ډیر په شوق سره ئے ادا کوی، نو ددے سړی په حق کښے مونځ نعمت او خوشحالی ده او ددهٔ حالت ډیر مبارك دے.

۷ – او د الله پرهیزګاره متقیان اولیاء هغه څوك دی چه مونځ د دوئ د سترګو یخوالے دے په دے سره دوئ ته خوشحالی نصیب کیږی لکه نبی کریم ﷺ بلال رضی الله عنه ته وفرمایل:
[أَرِحْنَا بِهَا يَا بِلَالُ] او [وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ]

دے ددے نه نهٔ صبریږی او ددے نه بغیر دهٔ له ژوند خوند نهٔ ورکوی او کوم خوند چه دهٔ ته په مانځه سره ملاویږی هغه په بل هیڅ یو شئ کښے نهٔ وینی، دے صرف په همدے وجه د ژوند سره مینه کوی او وائی: مومن به په جنت کښے د مانځه نه بغیر څنګه ژوند تیروی! دے مانځه ته داسے شوق لری څنګه چه د اولے شپے ډولی او ښائسته ناوے ته وادهٔ کړے ځلمے شوق لری. نو فکر وکړه! دا ځوان د نورو خلکو او د هر څهٔ نه غافل دے، دے صرف خپله ناوے وینی او دا خوښه ګڼړی چه شپه اوږده شی او په دهٔ باندے تو له شپه د یوے ګینټے پشان تیره شی.

الله تعالیٰ دے مونږ له داسے نرم زړونه راکړی چه د خپل رب او مالك سره مینه لری او هغهٔ ته شوق کوی. او الله نه غواړو چه مونږ ته د خشوع والا مونځ رانصیب کړی کوم چه د مومنانو د سترګو د یخوالی سبب دے. اللهم آمین!

دا فائده به تاته معمولی ښکاری خو دا ډیره زیاته نفعمنه فائده ده! او په عامو جوماتونو کښے د مونځونو حالت ته وګوره!

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٥٨ - د لوئ مصيبت نه امن ورکوونکي فائده

يوځل مانه پوښتنه وشوه چه د قبر نه پاسيدل حق دى نو دا کوم اسباب دى چه انسان له د قبر نه د پاسيدو په وخت او د لوئے گهبراهټ نه امن ورکوي، ځکه عاقل له پکار دى چه ددے ډير زيات اهتمام وکړي، نو ما داسے جواب ورکړو:

الله تعالىٰ د هر مقصد حاصلولو لپاره اسباب او د هر مطلب لپاره دروازه مقرر کړے. او څوك چه کوشش کوى هغه خپل مقصد مومى. الله تعالىٰ فرمائى: ﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴾ [عنكبوت: ٦٩] (او کوم خلق چه زمونږ د دين په خاطر کوشش کوى، مونږ به خامخا دوئ په خپله نيغه لاره روان کړو، او بيشکه الله د نيك عمله خلقو سره وى).

د لوئے گهبراهټ نه امن ورکوونکي اسباب:

دا **اسباب** دوه قِسمه دى:

١ - عام اسباب چه مومن له په هر څهٔ کښے فائده ورکوى.

٢ - خاص اسباب چه مومن له په دغه ورځ وغيره کښے پکار راځى. عام اسباب دادى:

١ - په خپلو ټولو کارونو کښے په ادب او په مينه او محبت او عاجزئ سره د کتاب او سنت اتباع کول. ارشاد دے: ﴿ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّيْ هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَهُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ [بقره: ٣٨] (نو څوك چه زما د هدايت تابعدارى وکړى، نو په هغوى به نهٔ څه يره وى او نهٔ به هغوى په غم اخته کيږى).

نو ددے مومنانو نه ئے غم او خفگان لرے کړو، او داسے ئے ونهٔ فرمايل چه: دوئ لپاره امن او خوشحالى ده، ځکه اولنى الفاظو کښے عموم او شمول دے، او دويم داسے نهٔ دى.

٢ - په الله او په ورځ د آخرت باندے صحيح ايمان لرل او عمل صالح کول:

دا دواړه ډير لوئے امن ورکوونکي شيان دى، ارشاد دے:

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصَارٰى وَالصَّابِئِيْنَ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَهُمْ يَحْزَنُوْنَ﴾ [بقره: ٦٢]

(بيشکه هغه کسان چه ايمان ئے راوړو او هغه کسان چه يهوديان شو او نصارىٰ او بے دينه (د دوئ نه) چه چا په الله او په ورځ د آخرت ايمان راوړو او نيك عمل ئے وکړو، نو دوئ لپاره به د دوئ

د رب سره اجر ملاویږي او په دوی باندے به هیڅ یره نهٔ وي او نهٔ به دوی غمژن کیږي)۔

٣ – اسلام او احسان: اسلام غاړه ایښودو ته وائي او احسان په هر عمل کښې د الله لحاظ ساتلو ته وائي۔ ارشاد دے: ﴿ وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَى تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِنْدَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [بقره: ١١١، ١١٢]

(او وائي دوی چه هیڅوك به جنت ته نهٔ داخلیږي مګر صرف هغه څوك چه یهودي وي یا نصراني وي، دا ددوی آرزوګانے دي، ته ووایه: که تاسو رشتیني يئ نو دلیل راوړئ۔ هو! هر هغه څوك چه د الله لپاره مخ تابع کړي او هغه نیك عمل کونکے وي، نو د هغه اجر د الله په نیز ثابت دے، او په هغوی به هیڅ خوف او غم نهٔ وي)۔

نو څوك چه خپل ځان د الله تعالیٰ تولو اوامرو ته تابع کړي، په دے باندے خپل عادت، رواج، مذهب او خواهش رامخکښې نهٔ کړي، او بیا د الله په بندګئ کښې د احسان نه کار واخلي نو ان شاء الله د قیامت په ورځ به دهٔ ته خامخا امن ملاویږي۔

٤ – خپل حلال مالونه د الله رب العزت لپاره خرچ کول: ارشاد دے:

﴿ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [بقره: ٢٦٢]

(کوم خلق چه خپل مالونه د الله په لاره کښې خرچ کوي، بیا د خرچ کولو نه پس نهٔ احسان زباتوي او نهٔ ضرر ورکوي، د هغوی اجر د هغوی د رب سره ثابت دے، او په هغوی به نهٔ څه یره وي او نهٔ به دوی غمژن کیږي)۔

٥ – د کثرتِ انفاق په حقله ارشاد دے: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [بقره: ٢٧٧]

(یقیناً هغه خلق چه ایمان ئے راوړو او نیك عمل ئے وکړو او مونځ ئے قائم کړو او زکاة ئے ادا کړو، د هغوی اجر د هغوی د رب سره ثابت دے او په هغوی به هیڅ یره نهٔ وي او نهٔ به هغوی غمژن کیږي)۔

٦ – ایمان، عمل صالح، په خپل وخت مونځ ادا کول او د خپلو شرطونو سره زکاة ادا کول: څوك چه دا څلور شیان راجمع کړي نو دهٔ ته به خامخا امن ملاویږي۔ ارشاد دے:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾ [بقره: ٢٧٧]

Maktaba Tul Ishaat.com

اے د ایمان والو ډلے ! ستاسو دے مبارك وی !

٧ – شهادت فی سبیـل الله : (الله دے زمونږ دا نصیب کړی) ولے چه دا سراسر امن امن دے، تردے چه ددے په ذریعه د قبر د آزمائش نه هم امن ملاویږی، لکه د نسائی په صحیح حدیث کښے دی:

[قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا بَالُ الشَّهِيْدِ لا فِتْنَةَ عَلَيْهِ فِي الْقَبْرِ ؟ قَالَ: كَفٰى بِبَارِقَةِ السُّيُوْفِ عَلَيْهِ فِتْنَةً]

(رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه : دا څۀ وجه ده، شهید باندے د قبر عذاب نشته؟ وے فرمايل: په هغۀ باندے دا امتحان بس دے کنه چه په سرئے تورے وپرقیدے)۔

او الله تعالیٰ ارشاد فرمائی : ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ فَرِحِيْنَ بِمَا آتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَيَسْتَبْشِرُوْنَ بِالَّذِيْنَ لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ يَسْتَبْشِرُوْنَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ وَّأَنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيْعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [آل عمران: ١٦٩]

(او کوم خلق چه د الله په لاره کښې قتل شول تۀ په هغوی باندے د مړو گمان مۀ کوه بلکه هغوی خو د خپل رب سره ژوندی دی، او هغوی ته روزی ورکړے کیږی۔ پداسے حال کښې چه الله هغوی ته د خپل فضل او کرم نه څه ورکړیدی په هغے خوشحاله دی، او د هغه خلقو په باره کښې خوشحالیږی چه لا تر اوسه د هغوی نه روستو هغوی سره ملاؤ شوی نۀ دی۔ چه په هغوی به یره نۀ وی او نۀ به غمژن کیږی۔ د الله په فضل او نعمت سره خوشحالیږی او یقیناً الله د مؤمنانو اجر نۀ ضائع کوی)۔

حدیث کښے دی : [لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللّٰهِ سِتُّ خِصَالٍ – وَفِيْهِ – : وَيُؤْمَنُ الْفَزَعَ الْأَكْبَرَ]

(شهید لپاره شپږ خصوصیات دی، په دے کښے یو خصوصیت دادے چه دا د لوی خوف نه په امن کولے شی)۔

[ابوداود، باسناد صحیح]

٨ – ایمان او تقویٰ : دا دواړه په دنیا او آخرت کښے د هر خیر او امن سببونه دی، او دا دواړه د الله د ولایت، چه ډیر لوئے نعمت دے، سببونه دی۔ ارشاد دے :

﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمَاتِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ [یونس: ٦٢–٦٤]

نو په ایمان او تقویٰ کښے ټول زیری او بشارتونه دی۔

٩ – الله خپل رب او پالونکے گڼړل او استقامت اختیارول، یعنی د الله لپاره په اخلاص او همیش والی سره بندگی کول۔ دے سره د الله امن حاصلیږی۔ ارشاد دے :

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَأَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ

كُنتُمْ تُوعَدُونَ نَحْنُ أَوْلِيَآؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴾ [فصلت: ۳۰-۳۲]

استقامت عمل كولو ته وائي لكه د سورتِ احقاف په آيت كښې دي:

﴿ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [احقاف: ۱٤] (د دوئ د عمل په وجه)۔

۱۰ – د الله په آيتونو ايمان لرل او اسلام او تقوىٰ حاصلول: ارشاد دے: ﴿ اَلْاَخِلَّآءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ يٰعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَآ أَنتُمْ تَحْزَنُونَ الَّذِينَ اٰمَنُوا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوا مُسْلِمِينَ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنتُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ تُحْبَرُونَ﴾ [زخرف: ٦٧-۷۰]

معلومه شوه چه تقوىٰ د امن او سلامتئ رسئ ده، يعنى د الله په آيتونو ايمان لرل او ديته غاړه كيښودل او تابع كيدل، الله دے زمونږ دا نصيب كړى۔

۱۱ – هميشه د الله تعالىٰ ذكر كول: دا ډير نفعمن شے دے، ارشاد دے: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَّسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَّأَصِيلًا هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلٰمٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴾ [احزاب: ٤١-٤٤]

(اے ايمان والو! الله ښۀ يادوئ او بيګاه صبا د هغۀ تسبيح بيانوئ هغه حق ذات په تاسو باندے خپل رحمت راليږى، او د هغۀ ملائك ستاسو لپاره د رحمت دعاء كوى، دے لپاره چه الله تاسو د تيارو نه وباسى او د حق رڼا طرفته مو ورسوى، او الله په مومنانو بيحده رحم كونكے دے په كومه ورځ چه دوئ د خپل رب سره ملاؤ شى په دغه ورځ به د دوئ استقبال په سلام سره وى، او الله دوئ لپاره عُمده اجر تيار ساتلے)۔

نو د دوئ د ذكر او خوف په وجه الله دوئ له د سلام تحفه وركړه۔ رب چه كله په بنده سلام ووائى نو بيا غم او خفګان څۀ كوى؟

۱۲ – ايمان سره سره د الله ښائسته عبادت او بندګى كول: ارشاد دے: ﴿ وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ وَنَجَّيْنٰهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبٰقِينَ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِينَ سَلٰمٌ عَلٰى نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ﴾ [صافات: ۷۵-۷۹]

(او بيشكه نوح مونږ ته آواز وكړو، نو مونږ ډير ښۀ فرياد آوريدونكى يو، او مونږ دا او دده كور والا د لوئے مصيبت نه بچ كړل او مونږ د دوئ اولاد باقى وساتل، او مونږ په روستو راتلونكو نسلونو كښې د هغۀ ذكرِ خير باقى وساتۀ، په تمام عالَم كښې دے په نوح باندے سلام وى)۔

نو د ﴿ إِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴾ [صافات: ۸۰] معنى داده: لكه څنګه چه مونږ هغۀ له د لوئے مصيبت نه نجات وركړو او دعاء مو ورله قبوله كړه او سلام او ښائسته ثناء صفت مو پرے

Maktaba Tul Ishaat.com

په خلکو کښې پرېښودۀ، نو دغسې بدله مونږ هر هغه چا له ورکوو څوك چه د الله ښائسته عبادت کوی او ايمان پرې لرى.

بيا ئې بار بار د احسان صفت بيان کړو، ارشاد دے: ﴿ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِى الْاٰخِرِيْنَ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ [صافات: ١١٤-١٢٢]

(اومونږ موسىٰ او هارون باندے هم احسان وکړو (چه دوئ له مو نبوت ورکړو) او مونږ دے دواړو له د دوئ قوم (بنى اسرائيلو) له د سخت مصيبت نه نجات ورکړو او مو نږ د دوئ مدد وکړو نو همدا خلق غالبه شول، او مونږ دوئ له واضح او روښانه کتاب (تورات) ورکړو، او مونږ دوئ په نيغه لاره روان کړل، او مونږ په آينده راتلونکو نسلونو کښې د دوئ د خير ذکر باقى وساتۀ، په موسىٰ اوهارون دے سلام وى، مونږ نيکانو خلقو له دغسې ښه بدله ورکوو، بيشکه هغه دواړه زمونږ د مومنانو بندګانو نه وو).

بيا ئې دا د الياس او دے نه مخکښې د ابراهيم عليه السلام په قيصه کښې ذکر کړو.

١٣ – په الله داسې ايمان لرل چه دے سره هيڅ قِسم شرك ونۀ کړے شى، او د شرك د تمامو اقسامو نه ډډه وکړے شى: ارشاد دے: ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴾ [انعام: ٨٢] (هغه کسان چه ايمان ئې راوړو او خپل ايمان ئې د شرك سره ګډوډ نۀ کړو، دوى لپاره امن دے او دوى په نيغه لار دى).

نو امن والا ئې صرف دا خلك وګرځول.

١٤ – په تولو نيکيو باندے راتګ کول سراسر امن دے: ارشاد دے:

﴿ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴾ [نمل: ٨٩]

(څوك چه نيك عمل کوى هغوئ له به ددے بهترينه بدله ورکولے شى او داسې خلك به په دغه ورځ د ګهبراويدو نه محفوظ وى).

١٥ – د الله په کتاب ايمان لرل، ديته توجه کول او ددے نه مخ نۀ اړول او نۀ په کښې کږ روى کول: ارشاد دے: ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِىْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِى النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِىْٓ اٰمِنًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴾ [فصلت: ٤٠]

(بيشکه کوم خلك چه زمونږ د آيتونو غلطه معنىٰ بيانوى، هغوئ زمونږ نه پټ نۀ دى، آيا هغه کس چه په اور کښې وغورزولے شى هغه بهتر دے، يا کوم کس چه د قيامت په ورځ په امن

سره راځي. اے خلقو! تاسو چه څهٔ خوښه وی هغه کوئ، بیشکه هغه ستاسو تمام عملونه وینی).
نو امن والا هغه څوك دے چه د ملحد په ضد صفت لري.
د سورتِ سجدے د موضوعاتو نه یوه موضوع ده: د الله د کتاب نه په اعراض کولو باندے زجر او رټنه ورکول، نو د همدے مناسبت په وجه ئے دا لفظ راوړے.
١٦ – د الله د عذاب نه خوف: څکه د الله عادت دے چه په خپل بنده باندے دوه امنه او دوه خوفه نهٔ راجمع کوی. په یو حدیث کښے ثابت دی، نبی کریم ﷺ فرمائی: الله تعالیٰ ارشاد فرمائی:
[وَعِزَّتِي وَجَلَالِي! لَا أَجْمَعُ عَلَى عَبْدِي أَمْنَيْنِ وَلَا خَوْفَيْنِ، إِنْ أَمِنَنِي فِي الدُّنْيَا خَوَّفْتُهُ فِي الْآخِرَةِ، وَإِذَا خَافَنِي فِي الدُّنْيَا أَمِنْتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ]
(په خپل عزت او لوئی مے دے قسَم وی! زهٔ په خپل بنده دوه امنه او دوه خوفه نهٔ راجمع کوم، که چرے مانه په دنیا کښے بے غمه دے په آخرت کښے به ئے ویروم، اوکه په دنیا کښے رانه خوف کوی، د قیامت په ورځ به ئے بے غمه کړم).
[رواه ابن المبارك وهو حديث حسن، كما في صحيح الجامع: ٤٣٣٢]
١٧ – کوم مومن بنده چه د اهلِ ایمان په مجالسو کښے کینی او دے سره مینه لری نو دهٔ لپاره خامخا د امن حاصلولو زیرے دے.
ابو مالك اشعری رضي الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (د الله داسے بندګان شته چه نهٔ انبیاء دی او نهٔ شهیدان خو د دوئ چه د الله په نیز کوم قرب او مرتبه ده، انبیاء او شهیدان ورته پسخیږی.
عرض وشو: یا رسول الله! دا څوك دی؟ وے فرمایل: داسے خلك دی چه د مختلفو ښارونو سره تعلق لری، د دوئ خپلو کښے څهٔ نزدے رشته داری نشته خو دوئ یو د بل سره د الله لپاره خالصه او رشتینے مینه کوی، الله به د قیامت په ورځ دوئ لپاره خپل مخامخ د نور منبرونه کیدی او په دے به ئے کینوی، د نورو خلکو د ویریدو په وخت به دوئ نه یریږی).
[أخرجه أحمد والطبراني]
په بل روایت کښے دی: [لَا يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلَا يَحْزَنُونَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ] (د نورو خلکو د ویرے په وخت به دوئ نهٔ یریږی او د نورو خلکو د غم په وخت به دوئ نه غمژن کیږی).
[كما في الترغيب وهو حديث صحيح]
١٨ – د مسلمانانو نه مصیبتونه سپکول: الله به ددے په بدله کښے ددهٔ نه د قیامت په ورځ مصیبت لرے کړی، ارشاد دے:
[مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ]

(څوك چه د مومن نه د دنيا د سختيو نه يوه سختي لرے كړي، الله به د قيامت د سختيو نه يوه سختي ددهٔ نه لرے كړي، او څوك چه يو تنګدسته سره د آسانئ معامله وكړي الله به په دنيا او آخرت كښے ددهٔ سره د آسانئ معامله وكړي، او الله د بنده په مدد كښے وي ترڅو پورے چه بنده د خپل ورور په مدد كښے وي).

[مسلم، مشكاة: ١]

١٩ – ابن عمر ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل: (درے قِسمه خلك به د عرش په سوري كښے بے غمه ولاړ وي د الله سره به خبرے كوي، او نور خلك به په حساب كښے وي: يو هغه سړے چه د الله په باره كښے د هيڅ ملامتګر د ملامتيا پرواه نهٔ لري، بل هغه سړے چه حرام شئ ته خپل لاس نه اوږدهٔ نهٔ كړي. دريم هغه سړے چه د الله حرام كړي شئ ته نهٔ ګوري).

[رواه الأصبهاني في ترغيبه، كمافي البدور السافرة، ص: ١٣٠]

٢٠ – ابو سعيد الخدري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (مهاجرينو لپاره به د سروزرو منبرونه وي چه په هغے به د قيامت په ورځ كيني، د سختے ويرے نه به په امن وي).

[رواه البزار، كما في البدور السافرة، ص: ١٣٥]

٢١ – حديث كښے دي: (كوم خلك چه په تيارهٔ كښے (جوماتونو ته) ځي هغوئ له زيرے وركړه چه د قيامت په ورځ به دوئ لپاره د نور منبرونه وي، دوئ به په امن وي او خلك به په غم كښے).

[رواه الطبراني في الكبير: ٨/ ١٦٨، عن أبي امامة باسناد صحيح، ونحوه في أبي داود باسناد صحيح]

٢٢ – ابن عمر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (درے كسان دي چه د مشكو په ډيركو به ناست وي، د قيامت لويه ويروه به دوئ نهٔ يروي: يو هغه سړے دے چه خلكو ته امامتي كوي او هغوئ پرے خوشحاله وي، بل هغه سړے دے چه د ورځے او شپے آذانونه كوي، بل هغه غلام دے چه د الله او د خپلو بالدارانو حقونه اداء كوي).

[احمد، ترمذي وحسنه وهو حديث حسن لكثرة شواهده في أحمد: ٢/ ٢٦، وأبي نعيم: ٣/ ٣١٨، والخطيب: ٣/ ٣٥٥]

او دا درے كسان په يو بل حديث كښے هم ذكر شوي، او ددے سره دا هم دي: (بل هغه سړے دے چه صرف د الله د مخ تالاش كولو لپاره ئے قرآن ولوستهٔ او داسے خلكو ته ئے امامتي وكړه چه هغوئ پرے خوشحاله وو).

[رواه البيهقي في الشعب والطبراني باسناد قوي]

٢٣ – ابن عمر ﷺ روايت دے، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائي: (د الله څۀ بندګان دي چه خپل ځان لپاره ئے د خلکو د حاجتونو پوره کولو لپاره خاص کړي دي، او الله په خپل ځان قسَم کړے چه دوئ له به په اور عذاب نۀ ورکوي، کله چه د قيامت ورځ شي، دوئ به د نور په منبرونو کينولے شي او د الله سره به خبرے کوي، نور خلك به په حساب کښے وي).

[أخرجه الطبراني وأبو نعيم]

٢٤ – ابو قتاده ﷺ وائي: ما د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد واوريدۀ :

[مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ]

(څوك چه په دے خوشحاليږي چه الله ئے د قيامت د مصيبتونو نه خلاص کړي نو هغۀ له پکار دي چه لاس تنګی سره د آسانئ معامله وکړي او يا دے ورته قرض معاف کړي).

[مسلم: ٣٢، باب المساقاة، والبيهقي: ٥/ ٣٥٧]

٢٥ – استغفار کول: په صحيح حديث کښے راغلي:

[طُوْبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِيْ صَحِيْفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا]

(هغه چا لپاره خوشحالي ده چه د هغۀ په عمل نامه کښے ډير ډير استغفار موندے شي).

مخکښے د (عذاب نه د خلاصي) فائده تيره شوه، په هغے کښے راغلي چه د رسول الله ﷺ وجود او استغفار دا دواړه د الله د عذاب نه منع کونکي شيانَ دي، او دا دواړه د امن او سلامتيا اسباب دي.

٢٦ – په (اول جلد) کښے د عرش د سوري لاندے ودروونکي ډير صفات بيان شوي، هغه د امن او سلامتيا اسباب دي. رزقنا الله العمل بها وفائدتها بمنه و كرمه.

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٥٩ - نفع منه فائده

په دريے شيانو کښے **حقيقي کاميابي** ده چه په يو کامياب انسان کښے ددے صفاتو راجمع کيدل ضروري دي، په دے کښے يو صفت حاصلول او بيا د کاميابئ تصور کول مناسب نۀ دي :

(١) د الله او رسول طاعت او فرمانبرداري کول : او ديته عبادت او عمل صالح هم وائي۔

(٢) په خلوت او جلوت دواړو کښے د الله ويره لرل، او ديته د انسان په زړۀ کښے د رب العزت تعظيم وائي۔

(٣) ددے سره سره تقوىٰ اختيارول : او دا د عبادت نه سيوا بل حالت دے بلکه دا هغه حالت دے چه د عبادت کولو نه انسان ته حاصل شي۔

الله تعالىٰ دا دريے واړه صفات په خپلے دے وينا کښے راجمع کړي:

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴾ (نور: ٥٢)

(او کوم خلك چه دَ الله او دَ هغۀ د رسول اطاعت کوي، او الله نه يريږي، او دَ هغۀ خيال ساتلو سره دَ تقوىٰ لاره اختياروي، نو همدا خلق کاميابيدونکي دي)۔

نو طاعت د اوامرو وي، خشيت د ذات او تقوىٰ د منع شوو شيانو نه وي۔

مثال : يو لوئے استاذ او قدرمن عالم د خپل څۀ کار لپاره خپلو شاګردانو ته آواز وکړو، نو په دوئ کښے يو شاګرد د حياء، محبت او خوف نه بغير ددۀ خبره ومنله، او بيا چه کله ددۀ نه جدا شۀ نو هيڅ توجه ورته نۀ کوي۔ دويم شاګرد د خپل استاذ نه وشرميدۀ، مصافحه ئے ورسره وکړه او د حکم امتثال ئے ورله وکړو، خو بيا چه کله ترے جدا شۀ نو هيڅ پرواه ئے پرے ونۀ کړه اونۀ ئے ورته څۀ توجه وکړه۔ او دريم شاګرد د استاذ خبره ومنله او په هغه طريقه ئے پرے عمل وکړو چه هغه پرے خوشحاليږي، اخلاص ئے وکړو او د خپل استاذ ادب او احترام ئے وکړو، د هغۀ نه وشرميدۀ، هغۀ سره ئے مصافحه وکړه، هغۀ سره ئے مينه وکړه او د هغۀ د غصے او ناراضګئ نه ويريدۀ۔

بيا چه کله د هغۀ نه جدا شۀ نو په همدغه مينه محبت باندے ولاړ دے او نورو خلکو ته ئے د دغه استاذ رغبت ورکړو۔ نو دا شاګرد کامياب دے، ددۀ لړ شان خدمت د نورو شاګردانو د ډيرو خدمتونو په ځائے کار ورکوي۔ په دے مثال کښے فکر وکړه۔

دغسے ځينے خلك دي چه د شريعت ښکاره حکمونه سرته رسوي مثلاً ګيره ئے پريښے او په مانځه کښے د رفع اليدين په سنت طريقه عمل کوي او دا ګمان کوي چه دۀ خپل تول واجبات

سرته رسولی، دے په دے ډیر فخر کوی او خپل ځان د جنت تهیکه دار ګنړی او خپل ځان د اولیاؤ نه حسابوی۔

او یو بل تن دے چه د شریعت اوامر سرته رسوی او دے سره سره د الله نه خوف کوی او په عمل کښیے د الله د ویرے ژړا کوی خو په عامو اوقاتو کښیے دا خالی زړهٔ والا دے۔

او نور خلك دی چه هغوئ د الله او د رسول د حکم تابع داری کوی، د الله نه یریږی او د خپل تول ژوند په تولو کارونو کښیے احتیاط کوی، او کله چه ځهٔ غیر مناسب کار وکړی نو توبه او استغفار کوی او رجوع کوی او همیشه لپاره د الله سبحانه وتعالیٰ نه یریږی، نو همدا خلك حقیقی کامیاب دی۔ او دا ډیره ضروری خبره ده!

الله تعالیٰ دے مونږ په دے کسانو کښیے وګرځوی۔

نو په قرآن کښیے چه کوم لفظ الله ذکر کړیے هغه خپل مستقل مقام لری، او د هر یو کیفیت لپاره مستعمل لفظ شته دے۔ الله لره حمد او ثناء ده د هغهٔ په انعام او تعلیم باندے۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٠ - فائده : قیمتي حکمتونه

ابن ابی الحواریؒ فرمائي: ابو سلیمان دارانيؒ نه پوښتنه وشوه او زهٔ حاضر ووم : کوم یو شئ باندې بنده الله ته ډیر زیات نزدې کیږي ؟ هغهٔ په ژړا شو، بیا ئې وفرمایل: زما غوندې سړی نه ددې خبرې پوښتنه کیږي؟ ډیر نزدې شې چه الله ته پرې انسان ځان نزدې کوي دادې چه الله ستا په زړهٔ باندې داسې خبر وي چه تهٔ په دنیا کښې او آخرت کښې د هغهٔ نه سیوا د بل هیڅ شئ اراده نهٔ لرې. [روضة المحبين: ٤٣٩]

یحیی بن معاذ رازيؒ فرمائي: عبادت دیته وائي چه د رازونو خیال وساتلې شي او د زړهٔ نه ماسوی الله وبنکلې شي.

سهل بن عبد الله تستريؒ فرمائي : په هر ساعت کښې الله د بندګانو زړونو ته راښکاره کیږي نو په کوم زړهٔ کښې چه غیر الله ویني نو په هغې باندې ابلیس مسلط کړي.

او فرمائي: څوك چه الله عز وجل خپل ځانته نزدې وګڼري، هغه د خپل زړهٔ نه د الله نه سیوا بل هر یو شې لرې کوي. او څوك چه د الله رضا لټوي، الله تعالیٰ ئې راضي کوي. او چاچه الله ته خپل زړهٔ وسپارهٔ، الله به ددهٔ د اندامونو ذمه وار شي.

اوفرمائي: په هغه زړهٔ باندې د یقین بوئې هم حرام دې چه په هغې کښې غیر الله ته آرام حاصلیږي. او په هغه زړهٔ کښې رنړا داخلیدل حرام دي چه په هغې کښې د الله د ناخوښه شیانو نه یو شې هم موجود وي.

د ځینې علماؤ نه پوښتنه وشوه چه غوره عمل کوم یو دې ؟ وې فرمایل: ددې خبرې لحاظ ساتل چه په پټه باندې هم غیر الله ته توجه ونهٔ کړې شي.

سالم بن میمون الخواصؒ فرمائي: تاسو هغه پرېښودهٔ او ځینې ستاسو ځینو نورو ته توجه وکړه، که چرې تاسو هغهٔ ته توجه کړې وې نو عجائب به مو لیدلې وې.
[انظر روضة المحبين، ص: ٤٣٩]

انسان له پکار دي چه ددهٔ لپاره څلور منزلونه وي چه هیڅ کله ددې نه نهٔ جدا کیږي، ورنه دا د اور لپاره پیدا شوې : (١) چه په الله کښې، هغهٔ ته په نزدیکت او د هغهٔ په ملاقات کښې ډیره زیاته مینه لري. (٢) که ډیر زیات اوچت همت نهٔ لري نو د هغهٔ په جنت او نعمتونو کښې دې رغبت لرونکې وي. (٣) که ددهٔ همت کوتاه دې نو د خپل خواهش خلاف دې کوي. که دا نهٔ وي

نو دا د اور والو نه دي. [روضة المحبين، ص: ٤٠١]

خلك دري قِسمه دي: (١) په الله كښې رغبت او مينه لرونكې. (٢) د هغهٔ په نعمتونو كښې رغبت لرونكې. (٣) د هغهٔ نه رغبت كونكې. اولنې كس محبت كونكې دي، دويم كس مزدور دي او دريم كس بدكاره دي.

الله تعالىٰ فرمائي: [وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ] (او خپل رب ته رغبت كوه).

نو د چا رغبت چه په الله كښې وي نو الله به ددهٔ د هر يو غم ذمه وار شي او دهٔ ته به وركړه وكړي.

ابو بكر صديق ﷺ فرمائي: هيڅ يو تن دي په مسلمانانو كښې څوك سپك نهٔ ګڼړي څكه وړوكې مسلمان د الله په نيز لوئې دي. [من أصول الدعوة، ص: ٣٦٢]

ابراهيم الخواصّ نه د عافيت په باره كښې پوښتنه وشوه، وې فرمايل: عافيت څلور شيان دي: (١) د بدعت نه بغير دين. (٢) د آفت نه بغير عمل. (٣) د مشغولتيا نه بغير زړهٔ. (٤) د خواهش نه بغير نفس. [نضرة النعيم: ٩/ ٣٧٤٩]

دا ډير مهم كلام دي!

ذوالنون مصريؒ فرمائي: خلكو كښې فساد د شپږو شيانو نه راغلې:

١ – آخرت لپاره په عمل كولو كښې كمزوري نيت.

٢ – د دوئ جسمونه د دوئ خواهشاتو لپاره تيار شوي.

٣ – د عمرونو د لنډوالي باوجود په دوئ باندې اوږدو اميدونو غلبه كړې.

٤ – د الله په رضا باندې د مخلوق رضا له ترجيح وركول.

٥ – د خپلو خواهشاتو پيروي كوي او د خپل نبي ﷺ سنت پريدي.

٦ – د سلفوؒ وړې وړې خطايئ ئې د خپل ځان لپاره دليل ګرځولې او د هغوئ اكثر فضائل ئې خخ كړي دي. [الاعتصام: ١/ ٩٢، نضرة النعيم: ٩/ ٣٧٤٩]

عمر ﷺ فرمائي: تاسو د سړي د پس پس نه تعجب مهٔ كوئ. سړې هغه دې چه امانت ادا كوي او د مسلمانانو د عزتونو خيال ساتي. [سيرة عمر، ص: ١٤٠]

او فرمائي: د سړي مونځ او روژې ته مهٔ ګورئ، د هغهٔ عقل او صدق ته ګورئ. [حواله سابقه]

او فرمائي: يو انسان تر هغه وخته پورې نه هلاكيږي تر څو چه په خپل دين باندې خپل خواهش غوره نهٔ كړي. [حواله سابقه]

او فرمائي: تاسو فرمانبردارو خلكو ته نزدې شئ او د دوئ خبرې آورئ څكه دوئ ته رشتينې شيان راښكاره كيږي. [ص: ١٤٧]

Maktaba Tul Ishaat.com

حارث محاسبیؒ فرمائی: علم ویره پیدا کوی او زهد راحت او آرام پیدا کوی او معرفت انابت پیدا کوی ..... او فرمائی: څوك چه د مراقبے او اخلاص په ذریعه خپل باطن صحیح کړی، په مجاهده او د سنتو په اتباع سره به د هغهٔ ظاهر ښائسته شی۔ ځکه الله تعالیٰ فرمائی: [وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا] (څوك چه زمونږ په باره کښے کوشش کوی مونږ به خامخا هغوئ ته لاره ښايو)۔ [الحلية : ۱۰/ ۷۵]

او فرمائی : د طاعت بنیاد په ورع باندے ولاړ دے، او د ورع بنیاد په تقویٰ دے، او د تقویٰ بنیاد د نفس په محاسبه دے، او د نفس د محاسبے بنیاد په خوف او رجاء دے، او ددے دواړو بنیاد په وعد او وعید دے، او ددے دواړو بنیاد د جزاء په عظمت پیژندلو دے، او ددے بنیاد په فکر او عبرت باندے ولاړ دے۔ [الحلية: ۱۰/ ۷۶]

دا ډیره د حکمت خبره ده۔

شقیق بلخیؒ فرمائی: خلك درے خبرے کوی خو په خپلو افعالو سره ددے خلاف کوی:

خلك وائی: مونږ د الله بندګان يو حالانکه دوئ د آزادو پشان عمل کوی۔ نو دا خو د دوئ د خبرے خلاف ده۔

خلك وائی : الله زمونږ د رزقونو ذمه اخستے حالانکه د دوئ زړونه صرف په دنیا او ددے په راجمع کولو مطمئن کیږی، دا هم د دوئ د خبرے خلاف ده۔

خلك وائی : مرګ خامخا راځی حالانکه دوئ د هغه چا پشان کارونه کوی چه هغه نهٔ مری، دا هم د دوئ د خبرے خلاف دی۔ [مكاشفة القلوب للغزالى]

حدیث شریف کښے دی : په چا کښے چه په درے خبرو کښے يوه خبره هم نهٔ وی نو د هغهٔ هیڅ عمل له اعتبار نشته: (۱) داسے تقویٰ چه د حرامو شیانو نه ئے بند کړی۔ (۲) یا داسے صبر چه په دے سره بے وقوفه سړے کنټرول کړی۔ (۳) یا داسے اخلاق چه په دے سره په خلکو کښے ژوند تیر کړی۔

[رواه الطبرانى كما فى المجمع : ۱۰/ ۲۸۳ ، ورجاله ثقات غير عبد الله بن مسلم بن هرمز يكتب حديثه]

عثمان رضی الله عنه فرمائی: څلور خبرے دی چه ظاهر ئے فضیلت او باطن ئے فریضه ده : (۱) نیکانو سره ملګرتیا فضیلت دے او د دوئ اقتداء کول فرض دی۔ (۲) د قرآن تلاوت کول فضیلت او په دے عمل کول فرض۔ (۳) د قبرونو زیارت فضیلت دے او مرګ له تیاری فرض ده۔ (٤) بیمار پوښتنه کول فضیلت او د هغهٔ نه وصیت اغستل فرض دی۔ [سيرة عثمان ، ص: ۲۷]

او فرمائی: هر يو عمل کونکے چه کوم عمل کوی، الله به ورته د خپل عمل څادر ورآغوندوی۔ [الزهد للامام أحمد: ۸۵]

او فرمائي: مؤمن په پنځه قِسمه خوفونو کښې دے: (۱) يو د الله له خوا چه هسے نهٔ ايمان ترې واخلي۔ (۲) د حفظه ملائکو له خوا چه هسے نهٔ دوئ پرے داسے شے وليکي چه هغه د قيامت په ورځ دهٔ د شرمندګئ سبب وګرځي۔ (۳) د شيطان نه خوف چه هسے نهٔ دهٔ عمل برباد کړي۔ (٤) د ملك الموت له خوا چه هسے نهٔ ناګهانه ئے راونيسي۔(۵) هسے نه چه دنيا دهٔ لره مشغوله کړي او په دے دهوکه وخوري۔ [سيرة عثمان، ص: ۹۳]

علي ﷺ فرمائي: زهد (د درے خبرو نوم دے) (۱) اميدونه لنډول۔ (۲) په نعمتونو شکر کول۔ (۳) او د حرامو شيانو نه ځان ساتل۔

[سيرة علي للصلابي، ص: ۲۰۹]

او فرمائي: اے خلکو! مانه دا کلمات واخلئ که چرے تاسو د ډيرو سفرونو کولو په وجه خپلے سورلئ تپے کړئ نو هم به ددے پشان خبرے پيدا نهٔ کړئ: (۱) يو انسان دے صرف د خپل رب نه اميد لري۔ (۲) او صرف د خپلو ګناهونو نه دے خوف کوي۔ (۳) او کله چه ورته يوه خبره معلومه نهٔ وي نو په زړه کړه کښې دے شرم نهٔ کوي۔ (٤) که د يو داسے خبرے نه ترے پوښتنه وشي چه هغه ورته معلومه نهٔ وي نو ((زهٔ نهٔ پوهيږم)) ويلو نه دے شرم نهٔ کوي۔ او ياد لرئ! چه صبر په ايمان کښې داسے مرتبه لري لکه سر په بدن کښې۔

[سيرة علي، ص: ۲۱۶]

شکر ديته وائي چه الله په انسان باندے کوم نعمتونه کړي، هغه په هغه کارونو کښې ولګوي د کومو لپاره چه دا پيدا شوي۔ [سيرة علي، ص: ۲۱۸]

عمر ﷺ فرمائي: زهٔ دا بده ګنړم چه يو سړے داسے ووينم چه نهٔ د دنيا په کار کښې لګيا وي او نهٔ د آخرت په کار کښې۔ [الآداب لابن مفلح: ۲/ ٦٤٠]

څلور شيان دي چه انسان خوشحالئ ته نهٔ پريدي: (۱) د اور خوف۔ (۲) د ګناهونو خوف چه الله به ببښلے وي او که نهٔ؟ (۳) د خرابے خاتمے ويره۔ (٤) د عملونو د نهٔ قبليدو خوف۔

او دا څلور واړه خبرے د سورتِ آل عمران په آخر کښې ذکر دي:

﴿ سُبۡحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ رَبَّنَا إِنَّكَ مَنۡ تُدۡخِلِ النَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنۡ أَنۡصَارٍ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلۡإِيمَانِ أَنۡ آمِنُوا بِرَبِّكُمۡ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الۡأَبۡرَارِ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدۡتَنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ الۡمِيعَادَ ﴾ [آل عمران: ۱۹۱-۱۹٤] (ته د هر عيب نه پاك ئے، نو ته مونږ د اور د عذابه بچ کړے، اے زمونږه ربه! ته چه څوك ته جهنم داخل کړے نو هغه تا ذليله او رسوا کړو او د ظالمانو به هيڅ مددګار نهٔ وي ○۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اے ربه زمونږ ! مونږ د يو آواز کونکی نه واوريدل چه د ايمان راوړلو لپاره ئے آواز کولو او ويل ئے چه اے خلقو ! تاسو په خپل رب باندے ايمان راوړئ نو مونږ ايمان راوړو، اے ربه زمونږه ! ته زمونږ گناهونه معاف کړه، او زمونږ خطاگانے لرے کړه، او د دنيا نه مونږ د نيکانو خلقو سره راپورته کړه ○۔ اے ربه زمونږه ! تا چه د خپلو رسولانو په ژبه مونږ سره کومه وعده کړے وه هغه مونږ ته راکړه، او د قيامت په ورځ مونږ مهٔ شرموه، يقينا ته د وعدے خلاف نهٔ کوے)۔

فکر وکړه ! مومنان څنگه ددے خبرو اهتمام کوی او په دے باره کښے څنگه خپل رب ته زاری کوی، حالانکه تهٔ ددے نه غافل ئے !

امام شعبیؒ فرمائی: د مراد قبيلے يوتن په اويس قرنیؒ باندے تير شو او د اويسؒ نه ئے پوښتنه وکړه : په کوم حال کښے دے صبا کړو؟ وے فرمايل: په داسے حال کښے چه زهٔ د الله حمد او ثناء وايم۔ هغهٔ ويل: وخت درباندے څنگه تيريږی؟ وے فرمايل: په هغه سړی به څنگه وخت تير شی چه که هغه صبا کړی نو دا گمان لری چه بيگاه ته به پاتے نشی، او که بيگاه کړی نو د صبا کيدو گمان نهٔ لری، يابه ورته د جنت زيرے حاصل وی او يا به ورته د اور زيرے۔ او اے د مراد قبيلے عزيزه:

١ – مرگ او ددے تذکرے مومن لپاره خوشحالی نهٔ ده پريښے۔

٢ – او د الله په حقونو باندے ددهٔ علم ددهٔ په مال کښے سرهٔ او سپين زر نهٔ دی پريښی۔

٣ – او د الله لپاره په حق باندے ودريدلو ددهٔ لپاره دوست نهٔ دے پريښے۔ [السير: ٤/ ٣٠]

يحيی بن معاذ رازیؒ فرمائی : درے خويونه دے په تا کښے د مومن برخه جوړه شی، دے لپاره چه تهٔ د نيك عمله خلکو نه جوړ شوے :

١ – که هغهٔ ته نفع نشے ورکولے نو ضرر مهٔ ورکوه۔

٢ – که هغه نشے خوشحالولے نو خفه کوه ئے مهٔ۔

٣ – که صفت ئے نشے کولے نو بدی ئے مهٔ بيانوه۔

[تنبيه الغافلين: ١/ ١٧٩]

د ځينے هوښيارانو وينا ده : که درے کاره نشے کولے نو درے نور کارونه کوه :

١ – که د خير کولو نه عاجزه ئے نو د شر نه بند شه۔

٢ – که خلکو ته فائده نشے رسولے نو ضرر ورته مهٔ ورکوه، يا خپل ضرر ترے بند کړه۔

٣ – که د روژے نيولو نه کمزورے ئے نو د خلکو غوښے مهٔ خوره (غيبتونه مهٔ کوه)۔

[تنبيه الغافلين]

٦١ - فائده

کامل خیر ته رسیدل او په دی همیش والی اختیارول

مانه پوښتنه وشوه چه څوك پوره خیر ته ځان رسول او په دے همیش والے کول غواړی نو ددے طریقه څۀ ده؟

ما جواب ورکۀ :

په څلورو شیانو سره :

خو دا پیژندل ضروری دی چه کامل خیر صرف د الله په رضا مندئ، جنت او په دے کښے دے چه بنده د الله رب العزت محبوب جوړ شی. لکه حدیث کښے دی : ((د نعمت پوره والے جنت دے)).

او دا څلور کارونه چه انسان پوره کړی نو د دنیا او آخرت خیرونه به تړے فوت نشی، او څوك چه په دے کښے کوتاهی کوی نو ددے په اندازه به خیرونه کمیږی :

١ - کامل ایمان : او ددے فائدے په اولنی جلد(١٧٩/١) کښے تیر شوی.

٢ - تقویٰ: او ددے فائدے په (١٦٤/١) کښے تیرے شوی.

٣ - د ګناه نه پس نیکی کول.

٤ - خلکو سره د ښائسته اخلاقو سلوك کول.

دا وجه ده، علماء فرمائی: د رسول الله ﷺ په نفع منو وصیتونو کښے یو وصیت هغه دے چه هغه ئے معاذ او ابو ذر - رضی الله عنهما - ته کړے وو:

[اِتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا ، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ]

(چرته چه ئے د الله نه یریږه، د ګناه نه پس نیکی کوه هغه به ختموی، او خلکو سره په ښائسته اخلاقو ژوند تیروه).

[ابوداود ، احمد باسناد صحیح]

او کله چه تۀ په دے کارونو باندے همیش والے غواړے نو راتلونکے فائده مضبوطه ونیسه، دارنګه د تقویٰ لس اسباب کوم چه په (١٧١/١) کښے تیر شوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٢ - فائده : تقوىٰ به څنګه حاصلیږی ؟

یو سړی د تقوىٰ په باره کښې وعظ واوریدۀ نو ددې د حاصلولو اراده ئې وکړه او ښې او ګس طرفته ئې کتل شروع کړل نو یو هوښیار سړی نه ئې ددې په حقله پوښتنه وکړه، هغۀ ورته وویل: زۀ به ئې درته وښایم. نو هغه کس ډیر خوشحاله شو او عرض ئې وکړو چه دا به راته خامخا بیانوې. نو هغه هوښیار سړی ورته وفرمایل: که چرې تۀ تقوىٰ دار جوړیدل غواړې نو دا کارونه مضبوط ونیسه :

(١) خپل امیدونه رالنډ کړه. (٢) خپل خفګان اوږد کړه. (٣) په خپلو کارونو کښې فراخی مۀ پیدا کوه. (٤) په خلکو رحم کوه. (٥) په ګونځ تندی د خلکو سره مۀ ملاویږه.

بیا د یو بل هوښیار سړی سره مخامخ شو او هغۀ ته ئې خپله دا خبره وکړه، نو هغۀ ورته وفرمایل: زۀ تاته داسې کارونه ښایم چه په تا کښې تقوىٰ پیدا کړی :

١ - د خپل رب عبادت په ښائسته طریقې سره کوه، الله تعالىٰ فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ ﴾ [بقره: ٢١] (اې خلکو د خپل رب بندګی کوئ) په دې کښې دی : ﴿ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴾ [بقره: ١٨٣] (دې لپاره چه په تاسو کښې تقوىٰ پیدا شی).

نو دلته ئې د عبادت مقصد تقوىٰ ګرځولې، او فرمائی: ﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [بقره: ١٨٣] (په تاسو روژې فرض کړې شویدی لکه څنګه چه ستاسو نه په مخکنو خلقو فرض کړې شوې وې، دې لپاره چه تاسو د تقوىٰ لاره اختیار کړئ).

او فرمائی: ﴿وَأَنْ أَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوْهُ﴾ [انعام: ٧٢] (او دا چه تاسو د مونځ پابندی کوئ او هغۀ نه یریږئ).

٢ - د خپل مالك ذکر ډیر ډیر کوه : موسىٰ علیه السلام عرض وکړو : اې الله ! ستا په بندګانو کښې کوم یو بنده لوئې متقی دې ؟ وې فرمایل: هغه څوك چه الله ئې همیشه یادوی او هیروی ئې نۀ. [صحیح ابن حبان]

٣ - د خپلې ژبې حفاظت کوه : انس رضی الله عنه فرمائی: د تقوىٰ حق دادې چه تۀ خپله ژبه وساتې.

٤ - او اور د خپلو سترګو مخامخ لره.

ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ﴾ [آل عمران: ١٠٢] (اې خلکو! الله نه داسې یریږئ څنګه چه د یریدو حق وی) که چرې د زقوم یو

څاڅکې په زمکه باندې پریوځي نو په دنیا والو به د دوئ ژوند تریخ کړي، نو د هغه چا به څهٔ حال چه دا ئې خوراکه وي)۔ [ترمذی: ۲۵۸۵، احمد: ۲۳۷۰، واسناده صحیح علی شرط الشیخین]

۵ – ګناهونو نه ځان ساته۔

٦ – همیشه استغفار کوه۔

هغه تن وائي: ما په دې کارونو تجربه وکړه نو په عبادت کښې مې خوند ومونده، دغه شان د تقویٰ منافع مې ولیدل کوم چه د الله په کتاب ذکر شوي، او په الفوائد (۱/۱٦٤) کښې راجمع شوي۔

بیا زهٔ یو دریم تن سره مخامخ شوم نو هغهٔ ماته دغه مذکوره خبرې وکړې۔ او هغهٔ ورسره دا خبره هم وکړه چه: عیسیٰ علیه السلام ته چا عرض وکړو: بنده به څنګه واقعي متقي جوړ شي؟ وې فرمایل: په ډیر معمولي شئ سره: (۱) الله سره د زړهٔ دا خلاصه رشتینې مینه ولره۔ (۲) او د خپل وس مطابق څومره چه کولې شي هغهٔ لپاره عمل کوه۔ (۳) او د خپل جنس په خلکو رحم کوه۔ (٤) او څهٔ چه د نورو خلکو نه د خپل ځان لپاره نهٔ خوښوې نو هغه د بل چا سره هم مهٔ کوه۔ نو تهٔ به واقعي د الله نه یریدونکې جوړ شې۔

[رواه أحمد فی الزهد: ۷۷، وتقدم فی: ۱/ ۲۲۳]

او هغه تن وفرمایل: زهٔ ورسره تاته نورې درې خبرې هم کوم: (۱) غیر مشتبه شې د مشتبه شئ د وجې پریده۔ لکه ابن عمر ﷺ فرمائي: (یو بنده تر هغه وخته پورې د متقینو نه نشي جوړیدې ترڅو چه بیباکه شیان د باك والا شیانو نه د یریدو په وجه پرې نهٔ دي) او دا حدیث مرفوعًا هم په حسن یا صحیح سند سره روایت شوې۔ (مشکوٰة)۔

(۲) د عمل نهٔ قبلیدو نه یریږه، لکه ارشاد دې: ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ اُولٰٓـئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴾ [مومنون: ٦٠، ٦١] (او کوم خلق چه الله دپاره څهٔ ورکوي، هغه ورکوي، دَ دوئ زړونه ددې نه یریږي چه بیشکه دوئ خپل رب طرفته واپس کیدونکي دي، داسې خلق دَ نیکئ په کارونو کښې تیزي کوي، او دوئ هغې طرفته دَ نورو نه وړاندې کیدونکي دي)۔

نو دا خوف د ډیرو نیکیو سبب ګرځي۔

(۳) په قرآن کښې فکر او سوچ کوه ولې چه دا د تقویٰ سرچشمه ده۔ ارشاد دې: ﴿ وَاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴾ [بقره: ٦٣]

دغه کس وائي: کله چه ما دا واوریدل نو زړهٔ مې یخ شو او په دې فائده ډیر زیات خوشحاله شوم۔ (ددې فائدې سائل او مجیب دواړه یو دي چه هغه راقم الحروف دې، غفر الله له)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٣ - فائده : د جسم او روح لپاره ضروري شيان

د جسم د صحت لپاره درې شيان ضروري دي :

(١) بدن نه فاسد مواد ويستل. (٢) په مفيدو دوايانو سره علاج كول. (٣) بدن ته د ضرر رسوونكو شيانو نه پرهيز كول.

او دا د علمِ طب خلاصه ده. او دا ټولې خبرې د الله په كتاب كښې موجودې دي.

دغسې **د روح د صحت** لپاره – په بل تعبير سره د نفس د اصلاح او تزكيئې لپاره – هم څلور كارونه ضروري دي :

(١) ټول ګناهونه پرېښودل او ددې نه توبه ويښكل. (٢) په ايمان او اعمالو صالحه ؤ مفيده ؤ سره ځان ښائسته كول او ددې قصد او اراده كول. (٣) په آينده كښې تقوىٰ او پرهيزګاري اختيارول، دې دپاره چه علاج هميشه وي او بيماري راواپس نشي.

او ددې كارونو خلاصه : (١) توبة النصوح. (٢) طاعت. (٣) او تقوىٰ ده.

په دې كارونو سره به د الله په مشيت سره پوره تزكيه حاصله شي خو چه څوك په دې علاج باندې هميش والې اختيار كړي. او دا د ټولو خلكو ذمه واري ده.

دلته درې نورې ذمه وارئ هم دي : (١) الله عز وجل او د هغهٔ دين ته دعوت وركول. (٢) خلكو چه كوم سنت طريقې خرابې كړي د هغې اصلاح كول. (٣) او د الله په لاره كښې په نفس او مال سره جهاد كول.

او دا د واك او اختيار والو ذمه واري ده. والله الموفق لارب سواه.

[هذه خلاصة محاضرة ألقيتها فى سعيد آباد: ١٤٣٢هـ محرم الحرام: ١/ ٢٥، يوم الاثنين بعد المغرب]

* * * * * *

٦٤ - فائده

عالم اوفقيه څوك دى ؟

زمونږ په دے زمانه کښے د علم دعويدار زيات شوى دى، نو هغه څوك دے چه د الله او د هغۀ د رسول (ﷺ) په نيز ورته عالم او فقيه وويلے شى؟ دے دپاره چه تاته خپل ځان معلوم شى چه آيا تۀ د راسخينو علماؤ نه ئے اوکه صرف د علم د دعويدارو نه ؟

نو مونږ وايو : عالم هغه څوك دے چه په هغۀ کښے شپږ خويونه وى :

(۱) هميشه لپاره په خشوع اوخضوع سره د الله بندگى کول۔ او ديته قنوت هم وائى۔ (۲) د شپے په مانځه کښے د الله کتاب لوستل۔ (۳) هغۀ ته اوږدے اوږدے سجدے کول۔ (٤) د آخرت او د الله په مخ کښے د ودريدو نه يريدل۔ (٥) ددے سره سره د خپل رب د رحمت اميد لرل۔ (٦) په هر حال کښے د الله نه يريدل۔ (۷) او د هغۀ لحاظ ساتل۔ (۸) او دا ټول کارونه د صبر نه بغير نۀ کيږى۔

نو څوك چه دا كارونه وكړى، هغۀ ته داسے درے ډالۍ وركړے كيږى چه هره يوه د دنيا او ما فيها نه غوره ده :

۱ - دۀ ته د الله په نيز عالم ويلے كيږى۔

۲ - الله ورته په دے دنيا کښے مزيدار ژوند وركوى۔

۳ - په غير د حساب نه ورله اجر ذخيره كوى۔

او دا ټولے خبرے د سورتِ زمر نه اغستل شوى : ﴿ اَمَّنۡ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّيۡلِ سَاجِدًا وَّقَآئِمًا يَّحۡذَرُ الۡاٰخِرَةَ وَيَرۡجُوۡا رَحۡمَةَ رَبِّهٖ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِى الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُوۡنَ وَالَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ﴾ [زمر: ۹] (آيا داسے كس بهتر دے) يا هغه چه د شپے د سجدے او قيام په ذريعه د خپل رب عبادت کښې لگيا وى، د آخرت د عذاب نه يريږى، او دَ خپل رب نه د هغۀ د رحمت اميد لرى۔ اے زما نبى ! تۀ ووايه : آيا پوهيدونكے او ناپوهه برابريدے شى، بيشكه صرف عقل والا نصيحت حاصلوى)۔

﴿ قُلۡ يٰعِبَادِ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ لِلَّذِيۡنَ اَحۡسَنُوۡا فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا حَسَنَةٌ وَاَرۡضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوۡنَ اَجۡرَهُمۡ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴾ [زمر: ۱۰] (اے زما نبى ! تۀ ووايه : اے زما ايمان والو بندگانو ! د خپل رب نه يريږئ كوم خلق چه په دے دنيا کښې ښۀ كارونه كوى، دوئ له به په آخرت کښې ښه بدله ملاويږى، او د الله زمكه فراخه ده، بيشكه (دَ الله په لاره کښې) صبر كونكو ته به د هغوئ د

Maktaba Tul Ishaat.com

صبر یې حسابه بدله ورکړې کیږي)۔

او دا خلك په رشتیا سره عقلمند دي او هم دوئ د الله قدر او مرتبه پیژندلې۔

خلاصه دا چه: اول الله پیژندل او بیا په هغۀ کښې رغبت کول، هم دیته علم ویلې شي۔

٢ - ابن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ماته وفرمایل:

(اې ابن مسعود! ما ویل: لبیك یا رسول الله! وې فرمایل: تاته پته شته د تولو نه افضل څوك دې؟ ما ویل: الله او د هغۀ رسول ښۀ پو هیږي۔ وې فرمایل: بهترین هغه څوك دې چه د خلکو نه د عمل په لحاظ ښۀ وي هر کله چه په خپل دین پو هه وي۔ بیا ئې پوښتنه وکړه: اې عبد الله! د تولو خلکو نه زیات پوهه څوك دې؟ ما ویل: الله او د هغۀ رسول ښۀ پو هیږي۔ وې فرمایل: د تولو خلکو نه زیات پوهه هغه څوك دې چه حق ډیر ښۀ پیژني هرکله چه په خلکوکښې اختلاف جوړ شي، اگرکه دا کس د عمل په لحاظ کوتاه وي او اگرکه په خپل کناتي باندې خرپوسې کوي۔

بل روایت کښې دي: ماته ئې وفرمایل: اې عبد الله! ماویل: حاضر یم یا رسول الله! درې ځله ئې دا آواز وکړو۔ وې وفرمایل: پیژنې د ایمان کومه کړئ ډیره مضبوطه ده؟ ما ویل: الله او د هغۀ رسول ښۀ پو هیږي۔ وې فرمایل: د الله لپاره چاسره دوستي او د هغۀ لپاره چاسره دشمني کول۔ بیا ئې باقي حدیث بیان کړو۔

[اخرجه الحاكم في آخر تفسير سورة الحديد وصححه ووافقه الذهبي، وقال معلق المستدرك بعد أن ذكر التفصيل والقول بحسنه الصواب: ولبعضه شواهد، ورواه ابن عبد البر في الجامع: ٢/ ٤٣، وضعفه أبو الاشبال فلم يصب]

ام الدرداء ﷺ فرمائي: بهترین علم الله پیژندل دي، او ددې نه شاعر خپله دا وینا هم راغستې:

خَيْرُنَا أَفْضَلُ مَعْرِفَةً ❊ وَإِذَا مَا عَرَفَ اللّٰهَ عَبَدَ

حسان بن عطيہؒ فرمائي: څوك چه الله ډیر پیژني هغومره خلك دۀ ته رانزدې کیږي۔

حسن بصريؒ به زیاتره دا شعر لوستۀ:

يَسُرُّ الْفَتٰى مَا كَانَ قَدَّمَ مِنْ تُقًى ❊ إِذَا عَرَفَ الدَّاءَ الَّذِىْ هُوَ قَاتِلُهٗ

(ځوان چه کوم پرهیز مخکښې کړې په هغې خوشحالیږي هر کله چه هغه بیماري وپیژني چه هغه ددۀ وژونکې ده)۔

علي بن ابي طالب ﷺ فرمائي: آیا زۀ تاسو ته کامل فقیه ونۀ ښایم؟ خلکو ویل: ولې نه۔ وې فرمایل: هغه څوك دې چه خلك د الله د رحمت نه نا امیده نۀ کړي او نۀ ئې د الله د راحت نه زړۀ

ماتې کړي او نهٔ ئې د الله د مکر او تدبير نه بيغمه کړي. او قرآن په دې وجه نهٔ پريدي چه ددې نه په بل شئ کښې رغبت لري. خبردار! په هغه عبادت کښې خير نشته چه په هغې کښې علم نهٔ وي، او په هغه علم کښې خير نشته چه په هغې کښې پوهه نهٔ وي، او په هغه قرائت کښې خير نشته چه په هغې کښې تدبر نهٔ وي.

موسىٰ عليه السلام عرض وکړو: اې ربه! ستا کوم بنده ډير زيات پوهه دې؟ وې فرمايل: هغه عالم چه د علم نه نهٔ مړيږي چه د خپل علم سره د خلکو علم هم راجمع کوي.

[صحيح ابن حبان: ۸/ ۳۸، باسناد صحيح]

ابن مسعود ﷺ فرمائي: [كَفٰى بِخَشْيَةِ اللهِ عِلْمًا وَكَفٰى بِالْاِغْتِرَارِ بِهِ جَهْلًا]

(د الله نه ويره پوره علم دې او په الله دهوکه خوړل پوره جهل دې).

ابودرداء ﷺ فرمائي: يو سړې تر هغه وخته پوره فقيه کيدې نشي ترڅو چه د الله د ذات په باره کښې خلك بدې وګنړي او بيا خپل نفس ته متوجه شي او هغه د ټولو نه زيات بدې وګنړي. او يو تن ترهغې کامل فقيه کيدې نشي ترڅو چه د قرآن لپاره ګنړې معنې ونهٔ پيژني.

قتادهؒ او سعيد بن ابي عروبهؒ فرمائي: څوك چه اختلاف نهٔ پيژني هغهٔ د فقهې بوئې قدرې هم نهٔ دې محسوس کړې.

حارث بن يعقوبؒ فرمائي: پوره فقيه هغه څوك دې چه په قرآن کښې پوهيږي او د شيطان چالونه پيژني.

خليل بن احمدؒ فرمائي: سړي څلور قِسمه دي: (۱) يو هغه سړې چه په دې پوهه دې چه نهٔ پوهيږي نو دا ناپوهه دې، دهٔ له تعليم ورکړئ. (۲) دويم هغه سړې دې چه پوهيږي او په دې نهٔ پوهيږي چه زهٔ پوهه يم، نو دا غافله دې راويښول غواړي. (۳) دريم هغه سړې چه نهٔ پوهيږي او نهٔ په دې پوهيږي چه دې نهٔ پوهيږي. نو دا فاسق دې ځان ترې وساتئ. او څلورم ئې نهٔ دې ذکر کړې.

زهٔ وايم: (٤) څلورم هغه سړې دې: چه پوهيږي او په دې هم پوهيږي چه دا پوهه دې، نو دا عالم دې نفع ترې اخستل غواړي.

[انظر: جامع بيان العلم: ۲/ ٤۷]

ابو حيان تيميؒ او سفيان ثوريؒ فرمائي: علماء درې قِسمه دي: (۱) چه الله او د هغهٔ اوامر دواړه پيژني. (۲) چه الله پيژني، خو د هغهٔ اوامر نهٔ پيژني. (۳) چه د الله اوامر پيژني خو الله نهٔ پيژني.

[ابن کثير، فاطر، جامع: ۲/ ٤۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٥ - فائده : حکمت نه ډك شعرونه

د تهجدو د مانځه په باره کښې :

قحطانیؒ فرمائی:

قُمْ فِي الدُّجَى وَاتْلُ الْكِتَابَ ... وَلَا تَنَمْ إِلَّا كَنَوْمَةِ حَائِرٍ وَلَهَانَ
فَلَرُبَّمَا تَأْتِي الْمَنِيَّةُ بَغْتَةً ... فَتُسَاقُ مِنْ فَرْشٍ إِلَى الأَكْفَانِ
يَاحَبَّذَا عَيْنَانِ فِيْ غَسَقِ الدُّجَى ... مِنْ خَشْيَةِ الرَّحْمٰنِ بَاكِيَتَانِ

(د شپې په تیارو کښې ودریږه او د الله کتاب لوله او خوب مهٔ کوه مګر د یو داسې حیران سړی پشان چه هغه لیواله وی. څکه ډیر ځله داسې وشی چه ناګهانه مرګ راشی نو بیا به تهٔ د بسترې نه کفنونو ته ورنقل شې. هغه دوه سترګې څومره مبارکې دی چه د شپې په تیارهٔ کښې خپل رحمن ذات ته ژړیږی). [انظر: أين نحن من هؤلاء : ١]

متقي څوك دے؟

وَإِذَا بَحَثْتَ عَنِ التَّقِيِّ وَجَدْتَّهُ ... رَجُلًا يُصَدِّقُ قَوْلَهُ بِفِعَالِ
وَإِذَا اتَّقَى اللهَ امْرُءٌ وَأَطَاعَهُ ... فَيَدَاهُ بَيْنَ مَكَارِمٍ وَمَعَالِ
وَعَلَى التَّقِيِّ إِذَا تَرَاسَخَ فِي التُّقٰى ... تَاجَانِ تَاجُ سَكِيْنَةٍ وَجَمَالِ
وَإِذَا تَنَاسَبْتَ الرِّجَالَ فَلَمْ أَرٰى ... نَسَبًا يَكُوْنُ كَصَالِحِ الأَعْمَالِ

(کله چه تهٔ د متقی په حقله بحث کوے نو دا به داسې یو سړے ومومې چه د هغهٔ وینا د عمل سره برابره وی. او کله چه یو سړے د الله نه یریږی او د هغهٔ بندګی کوی نو هغه د عزتونو او وچتو مرتبو ترمینځه وسیږی. متقی سړے چه کله په تقویٰ کښې پوخ شی ددهٔ په سر د سکینې او جمال دوه تاجونه وی. کله چه سړی خپل مینځ کښې نسبونه بیانوی نو ما د نیك اعمالو پشان نسب نهٔ دے لیدلے). [أين نحن من هؤلاء: ٣]

مجاهده :

يَا مَنْ يُجَاهِدُ غَازِيًا أَعْدَاءَ دِيْنِ اللهِ ... يَرْجُوْ أَنْ يُعَانَ وَيُنْصَرَا
هَلَّا غَشَيْتَ النَّفْسَ غَزْوًا إِنَّهَا ... أَعْدٰى عَدُوِّكَ كَيْ تَفُوْزَ وَتَظْفِرَا
مَهْمَا عَنَيْتَ جِهَادَهَا وَعِنَادَهَا ... فَلَقَدْ تَعَاطَيْتَ الْجِهَادَ الأَكْبَرَا

(اے هغه غازی مجاهده چه د الله د دشمنانو سره جنګیږے او دا امید لرے چه هغهٔ به ستا

نصرت او مدد کوي! ته ولې د خپل نفس سره غزا نه کوې ځکه چه دا خو ستا لوئې دشمن دې، دې سره جنګ وکړه چه کامیاب او کامران شې۔ کله چه ته ددې سره جهاد وکړې او ددې عناد ختم کړې نو تا ډیر لوئې جهاد وکړو۔ [بصائر ذوی التمیز ٢/ ٤٠٢، والنضرة]

په الله باندې ښائسته ګمان کول:

محمود وراقؒ فرمائي:

مَـازِلْـتُ أَغْـرِقُ فِـى الإِسَـاءَـةِ دَائِبًـا — وَتَـنَـالُـنِـىْ بِـالْـعَـفْـوِ وَالْـغُـفْـرَانِ
لَـمْ تَـنْـتَـقِـصْـنِىْ إِذْ أَسَـأْتُ وَزِدْتَّـنِىْ — حَتّٰـى كَـأَنَّ إِسَـاءَتِـىْ إِحْسَـانُ
تُـوْلِـى الْـجَـمِـيْـلَ عَـلَـى الْقَبِيْحِ كَـأَنَّمَـا — يُـرْضِيْكَ مِـنِّـى الـزُّوْرُ وَالْبُهْتَـانُ

(زۀ همیشه لپاره په ګناه کښې ډوب یم او ته ما سره د معافۍ او بښنې معامله کوې! کله چه زۀ ګناه وکړم نو ته مې هیڅ نه کموې بلکه نور زیات راکوې، ته به وائې چه زما بدی کول نیکی ده۔ ته د خراب کار کولو باوجود ماسره ښیګړه کوې، ګویاکه زما دروغ او بهتان تا مانه خوشحالوی!) [حسن الظن لابن أبي الدنيا، ص: ١١٦، ونضرة النعيم: ٥/ ١٦٠٨]

ابو عمران السلمیؒ فرمائي:

وَإِنِّـىْ لَآتِـى الـذَّنْـبَ أَعْـرِفُ قَـدْرَهُ — وَأَعْـلَـمُ أَنَّ اللهَ يَـعْـفُـوْ وَيَـغْـفِـرُ
وَلَـئِـنْ عَـظَّـمَ الـنَّـاسُ الـذُّنُوْبَ فَإِنَّهَـا — وَإِنْ عَـظُـمَـتْ فِـىْ رَحْـمَةِ اللهِ تَـصْغُرُ

(بیشکه زۀ چه ګناه کوم نو ددې مرتبه پیژنم او په دې هم پوهیږم چه الله عفو او مغفرت کوي۔ که چرې خلك ګناهونه هر څومره غټ وګنړي خو دا د الله د رحمت په مقابله کښې واړۀ دي)۔ [حواله بالا]

یو شاعر وائي:

أَلَيْـسَ بِـكَـافٍ لِـذِىْ هِـمَّةٍ — حَيَـاءُ الْـمُسِيْـئِ مِـنَ الْـمُحْسِنِ

(آیا یو همت والا لپاره دا کافي نۀ ده چه ګنهکار د نیك عمله نه شرمیږي؟)
[السراج :٦/ ١٢٥]

په خپل ځان باندې افسوس کول:

وَتَهْـدِمُ مَـا تَبْنِىْ بِـكَـفِّكَ جَـاهِـدًا — فَـأَنْـتَ مَدَى الْأَيَّـامِ تَبْنِـىْ وَتَـهْـدِمُ
وَعِـنْـدَ مُـرَادِ اللهِ تَـنْـفِـىْ كَـمَيِّـتٍ — وَعِـنْـدَ مُـرَادِ الـنَّـفْـسِ تُسْـدِىْ وَتَلْحَمُ
مُـطِيْـعٌ لِـدَاعِـى الْـغَيِّ عَـاصٍ لِـرُشْدِهِ — إِلَـى رَبِّـهِ يَـوْمًـا يَـرُدُّ وَيَـعْـلَـمُ
مُـضِيْـعٌ لِأَمْـرِ اللهِ قَـدْ غَـشَّ نَـفْسَـهُ — مُهِيْـنٌ لَهَـا أَنّٰـى يُـحَـبُّ وَيُـكْـرَمُ

Maktaba Tul Ishaat.com

بَطِیْءٍ إِلَى الطَّاعَاتِ أَسْرَعَ لِلْخَنَا مِنَ السَّيْلِ فِي مَجْرَاهُ لَا يَتَقَسَّمُ
وَتَزْعَمُ مَعْ هٰذَا بِأَنَّكَ عَارِفٌ كَذَبْتَ يَقِيْنًا فِي الَّذِيْ أَنْتَ تَزْعَمُ
وَمَا أَنْتَ إِلَّا جَاهِلٌ ثُمَّ ظَالِمٌ وَأَنَّكَ بَيْنَ الْجَاهِلِيْنَ مُقَدَّمُ
إِذَا كَانَ هٰذَا نُصْحُ عَبْدٍ لِنَفْسِهِ فَمَنِ الَّذِيْ مِنْهُ الْهُدٰى يُتَعَلَّمُ
وَفِيْ مِثْلِ هٰذَا الْحَالِ قَدْ قَالَ مَنْ مَضٰى وَأَحْسَنُ فِيْمَا قَالَهُ الْمُتَكَلِّمُ
فَإِنْ كُنْتَ لَا تَدْرِيْ فَتِلْكَ مُصِيْبَةٌ وَإِنْ كُنْتَ تَدْرِيْ فَالْمُصِيْبَةُ أَعْظَمُ

(کوم شے چه تا په خپل لاس جوړ کړے هغه تۀ په کوشش سره نړوے نو تۀ همیشه لپاره جوړول او ورانول کوے ! * تۀ د الله په نیز د مړی په صورت کښے ختمیږے او د خپل نفس په مراد کښے تۀ آبادی جوړوے * تۀ د سرکشئ داعی ته لبیك وائے او د هدایت د داعی نافرمانی کوے، تۀ به یو ورځ خپل رب ته واپس او پو هه شے * تۀ د الله د حکم ضائع کونکے او د خپل ځان سره خیانت کونکے او ددے سپکونکے ئے، دابه څنګه محبوب او عزتمن وګنړل شی؟ * تۀ نیکیو طرفته سست او خرابئ طرفته منډه وهونکے ئے لکه سیلاب چه ښکته روان وی او نۀ تقسمیږی * ددے باوجود تۀ دا ګمان لرے چه تۀ ډیر پو هه ئے ! واقعی چه تۀ په خپل دے ګمان کښے دروغژن ئے * تۀ خو جاهل او بیا ظالم ئے او د جاهلانو خلکو نه وړاندے تلے ئے * کله چه د یو بنده د خپل نفس لپاره دا خیر خواهی وی نو دا څوك دے چه د هغۀ نه هدایت یاد کړی؟ * په دے حال کښے مخکنو خلکو ډیره ښه خبره کړے : که چرے تۀ نۀ پو هیږے نو دا مصیبت دے اوکه پو هیږے نو مصیبت نور هم لوئے دے)۔

[النونية والميمية لابن القيم بالتفصيل :٣١٤]

لبید رضی الله عنه فرمائی:

مَضَى الدَّهْرُ وَالأَيَّامُ وَالذَّنْبُ حَاصِلٌ وَجَاءَ رَسُوْلُ الْمَوْتِ وَالْقَلْبُ غَافِلُ
نَعِيْمُكَ فِي الدُّنْيَا غُرُوْرٌ وَحَسْرَةٌ وَعَيْشُكَ فِي الدُّنْيَا مُحَالٌ وَبَاطِلُ
أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلُ وَكُلُّ نَعِيْمٍ لَا مُحَالَةَ زَائِلُ

(زمانه او ورځے شپے په داسے حال کښے تیرے ی چه ګناه موجوده ده او د مرګ استاذے په داسے حال کښے راغے چه زړۀ غافل دے۔ په دنیا کښے ستا مزے کول دهوکه او آفسوس دے او ژوند ستا په دنیا کښے ګران او بیکاره دے۔ یاد لره ! د الله نه سیوا هر شے بیکاره او هره مزه ختمیدونکے ده)۔

٦٦ – فائده : د ایمان حفاظت

انسان ته چه څومره شیان ملاؤ شوی، په هغې کښې د ټولو نه افضل او بهترین شے په الله ایمان لرل دی، د هغهٔ ملاقات رشتینے ګڼړل او د هغهٔ د رسول (ﷺ) تصدیق کول دی۔ دے درے واړو ته توحید یا معرفت، معاد او رسالت هم وائی۔ اوکه ژور فکر وکړے شی نو دا د قرآن کریم موضوع هم ده۔

ددے ایمان ساتل ډیر زیات ګران کار دے، دا صرف د الله په معرفت او د هغهٔ په خصوصی مدد سره کیدے شی او بیا د بنده په بیدارئ او په خپل ایمان باندے د سخت حرص په وجه۔

د ایمان د ساتلو د سختوالی او ګران والی وجه داده چه :

ددے لپاره (١) ماتوونکی۔ (٢) کموونکی۔ (٣) او خړوونکی شیان موجود دی۔

١ – **ایمان ماتوونکي** شیان ډیر دی چه هغه د عقیدے په کتابونو کښے بیانیږی، یو څلویښت (٤٠) ماتوونکی شیان مونږ په خپله فتاویٰ [الدین الخالص: ٣/ ، ٢/ ، ٩] جلدونو کښے ذکر کړی: مثلاً : الله سره شرك کول۔ د هغهٔ په آیتونو پورے توقے کول۔ جادو کول۔ د الله د قانون نه علاوه په بل قانون فیصلے کول۔ حلال، حرام ګڼړل او حرام، حلال ګڼړل۔ کافرانو سره مینه او مدد کول او داسے نور۔

مؤمن بنده به همیشه لپاره ددے کارونو نه ډډه کوی۔

٢ – **ایمان کموونکي** شیان : د شرك نه سیتوا نور کبیره ګناهونه او دغه شان واړهٔ ګناهونه۔ چه دے سره ایمان کمیږی، کمزورے کیږی او زخمی کیږی: هغه ګناهونه لکه غلا، زنا، قتل کول، لوټ مار کول، خیانت کول، حرام خوری، سود خوری، په خلکو ظلم کول۔ د یتیمانو مالونه خوړل، پاکدامنو ښځو باندے تور لږول۔ میدانِ جنګ نه تیښته۔ ریاکاری۔ ځان ښودنه، غیبت، چغلی، حسد، تکی کول۔ څینے فرائض پریښودل (څکه ټول فرائض پریښودل کفر دے)۔ سلام پریښودل۔ د نیکئ حکم او د بدئ نه منع پریښودل۔ بے حیا کارونه کول۔ تصاویر جوړول۔ وعده ماتول۔ غداری او بد اخلاقی کول او داسے نور ګناهونه۔

د [الفوائد] په اول جلد (١/ ٧٧) کښے مونږ ددے زیاتره برخه ذکر کړے، د هغے کتل ضروری دی۔

نو مؤمن لپاره ضروری ده چه د ایمان ددے کموونکو شیانو نه پرهیز وکړی څکه چه کله دا د

Maktaba Tul Ishaat.com

ایمان ختمیدو ذریعه هم ګرځوي (په الله پورې پناه)۔ د ایمان کمې په انسان کښې ډیر لوئې کمې دې۔

٣ - ایمان خرابونکې شیان : د اهم ډیر دي لکه : مباحې خبرې ډیرې کول۔ بې ضرورته ډیر ډیر خوبونه کول۔ ډیر خوري۔ عوامو او خواصو سره ډیر ډیر اختلاط کول۔ غفلت اختیارول۔ د دنیا په جمع کولو کښې ډیر فکرونه او سوچونه کول۔ د ګناه ځایونو ته چکرې او سیاحت کول۔ بې فائدې کتابونه مطالعه کول۔ په غیر د ضرورت او حاجت نه په کمپیوټر او انټرنټ باندې ځان مشغولول۔ او داسې نور۔ لکه په اولني جلد [الفوائد] کښې مونږ ددې ځینې برخه راجمع کړې۔

نو دا شیان ایمان خړوي او ددې رنړا او رونق بوځي۔

نبي کریم ﷺ د ایمان ډیره لویه خبره کړې : [مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيْهِ]

(د بنده ښائسته اسلام دادې چه نا مناسبه شیان پریدي)۔

[أخرجه الترمذي وأبوداود باسناد صحيح]

دې کښې ښکاره اشاره ده چه ایمان او اسلام په نامناسبه کارونو پرېښودو سره ښائسته کیږي او بې فائدې کارونو سره خرابیږي۔ د الله نه سلامتیا غواړو۔

[وهذه فائدة عزيزة وخلاصة محاضرة ألقيتها، ولله الحمد والمنة]

[مكة المكرمة، المسجد الحرام: رجب: ١٩/ ١٤٣١ هـ يوم الخميس]

* * * * * *

٦٧ - بيداروونکي فائده

دلته دوه شيان دي :

١ - د الله په وجود ايمان لرل.

٢ - د الله د امر طاعت او فرمانبرداري کول.

اول فطري شے دے چه ددے پرېښودو کښے هيڅوك معذوره نهٔ ګڼرل کيږي، او زياتره عالَم په دے قائل دے خو د نجات لپاره يواځے دا کافي نهٔ دے.

دويم : داسے شے چه په دے کښے زياتره عالَم سستي او ناراستي کونکے دے، ددے په ذريعه رشتيځنے او دروغژن، کامل او ناقص سره جدا کيږي، او دا هغه شے دے چه الله ئے د بنده نه خوښوي. ددے نه داسے تعبير هم کيدے شي چه : (يو د الله منل دي) او بل (د الله خبره منل دي).

نو عام يهوديان، نصرانيان، شيعه ګان، قاديانان، بريلويان، هندوان، سيکهان او د دنيا عام کافران الله مني، په دے اقرار کوي خو د هغهٔ امر، نهي، شريعت او کتاب او هغه شيان نهٔ مني چه الله ئے د بندګانو نه غواړي. بلکه دوئ د خواهشاتو پسے روان دي او د خپلو ګمراه مشرانو پيروي کوي. لکه الله د دوئ په حقله فرمائي:

﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴾ [مائده: ٧٧]

(نه ووايه چه اے اهل کتابو! تاسو په خپل دين کښ ناحقه غلو مهٔ کوئ او د هغه خلقو د خواهشاتو تابعداري مهٔ کوئ چه ددے نه مخکښ خپله ګمراه شو او ډير ئے ګمراه کړل او د نيغے لارے نه واوړيدل).

او فرمائي: ﴿ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُمْ بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴾ [بقره: ١١٩]

او فرمائي: ﴿ إِنْ يَّتَّبِعُوْنَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ ﴾ [نجم: ٢٣]

او فرمائي: ﴿ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ أَهْوَآءَهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ﴾ [قصص: ٥٠]

الله تعالىٰ د يهوديانو، نصرانيانو، مشرکانو او د ټولو بدعتيانو او ګمراهانو دين ته خواهش ويلے دے چه دوئ د خواهش پسے روان دي.

معلومه شوه چه نجات، کمال، صحيح بندګي او هغه ايمان چه الله ئے د بنده نه غواړي هغه :

Maktaba Tul Ishaat.com

د هغهٔ خبره او شریعت منل اوپه دے عمل کول او دیته پټ اوښکاره تابع کیدل دی۔

دے وجے نه کافران او بدعتیان ددے ایمان نه ډیر لرے دی، نهٔ دا پیژنی او نهٔ ئے ددے خوند څکلے۔ دغـه شان فاسقانو د هغه ایمان خوند نهٔ دے څکلے چه هغه د الله خبره منل او د هغے فرمانبرداری کول دی۔ ددے خـونـد خـو صـرف هـغــه خـلـکـو وڅاکـهٔ چـه هغویٔ الله او رسول (ﷺ) رشتینے وګنړلو، او په ظاهر او باطن، په خوشحالیٔ او خفګان او هر حالت کښے ئے د هغهٔ د امر او شریعت پیروی وکړه۔

او کـلـه چـه تـرے د الله د حـکـم خلاف ورزی وشی نو فوراً رشتینے توبه کړی او ګرم استغفار او ګـرمـه اوښـکـه وبهیوی نو ددے په وجه خپل اولنی حالت ته واپس شی۔ او دا د الله فضل دے چه چاته ئے خوښه شی ورکوی ئے۔

محترم لوستونکیه ! په تا لازم دی چه د خپل رب خبره منه ولے چه په دے کښے خیر، کامیابی او کامرانی ده۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَاَطِيْعُوا اللهَ وَرَسُوْلَهٗ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴾ [انفال: ۳]

او فـرمـائی: ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓـئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِم مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾ [نساء: ٦٩]

(او کوم خلق چه د الله او د رسول اطاعت کوی نو دوی به (په جنت کښ) د هغه خلقو سره وی چه هـغـوی بـانـدے الله انـعام کړے، یعنی انبیاء او صدیقین او شهیدان او صالحینو سره، او دا خلق ډیر ښائسته ملګری دی)۔

او فرمائی: ﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا﴾ [احزاب: ۷۱]

(او څـوك چـه د الله او د هـغـهٔ د رسول خبره مـنـی، هغه یقیناً په لویه کامیابیٔ باندے کامیاب شو)۔

او فرمائی: ﴿ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا ﴾ [نور: ٥٤]

(او که چرے تاسو ددهٔ خبره ومنیٔ نو په نیغه لار به روان شیٔ)۔

او فرمائی: ﴿ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ﴾ [انفال: ٢٤]

(اے ایـمـان والـو ! کله چه الله او د هغه رسول تاسو یو داسے کار طرف ته راوبلی چه ستاسو دپاره د ژوند سبب وی، نو د هغوی په آواز لبیك وایئ)۔

حافظ ابن کثیرؒ د سورتِ فاطر ددے آیت : ﴿ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ﴾ [فاطر: ١٦]

(کـه الله وغـواړی تـاسـو بـه ختـم کـړی او نوے مخلوق به راولی) په تفسیر کښے فرمائی: ځینے

علماؤ فرمايلي: بندګان چه کله د الله نافرماني وکړي نو دوئ په الله باندے څومره ډير زيات سپك دي!

په دے حقله آيتونه او نبوي حديثونه ډير زيات دي، کيدے شي چه مونږ دا په مستقله فائده کښے ذکر کړو۔ان شاء الله۔

بهر حال، د الله خبره منل يو داسے شے دے چه ددے ډير زيات اهتمام کول پکار دي۔

پاتے شوه دا خبره، چه انسان د خپل خواهش موافق عبادت کوي، او د خپل حاجت او فقر په وخت خپل مولیٰ نه دعا غواړي: نو دا د بنده د ايمان نښه نهٔ ده۔ د بنده په ايمان باندے واضح دليل دادے چه د خپل مولیٰ اطاعت او فرمانبرداري کوي۔ او توفيق ورکونکے صرف الله دے۔

[المسجد الحرام: ٧/ ١٩/ ١٤٣١ هـ رجب]

******

Maktaba Tul Ishaat.com

٦٨ - فائده

په نیك عمل همیش والی کول

څوك چه په دے فائده عمل وکړی هغهٔ ته به د الله په دین باندے د همیشه عمل کولو توفیق ملاؤ شی ان شاء الله - اگرکه فتنے او آزمائشونه هر څومره زیات شی -.

که چرے تهٔ په دین باندے همیش والے غواړے، او دا خو به خامخا کوے، نو یو څو کارونه وکړه :

١ - **اول کار**: خپل ځان په امتحانی هال کښے وګڼړه او دا فکر وکړه چه د نتیجے وخت رانزدے دے چه یا به کامیابی وی یا ناکامی. ارشاد دے : ﴿ إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيْعًام بَصِيْرًا ﴾ [دهر: ٢]

او ارشاد دے : ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ [کهف: ٧]

او ارشاد دے : ﴿ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴾ [ملك: ٢]

او ارشاد دے : ﴿ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴾ [انبیاء: ٣٥]

نو څوك چه دا یقین او احساس لری چه زهٔ د امتحان په ساحه کښے یم نو دے به خامخا د خپلے کامیابئ فکر کوی. او دا آیتونه دے مقصد ته اشاره کوی.

٢ - **دویم کار**: په ژوند کښے چه درته کوم حالات راځی هغے نه مهٔ متاثر کیږه بلکه په الله توکل کوه، په هغهٔ اعتماد کوه، هغهٔ ته زاری او التجاء کوه. د الله د عظمت، کمال او جمال نه خپل ځان متاثره کړه، نو ان شاء الله چه دا به تا د هغه تولو حالاتو نه خلاص کړی کوم چه ستا خوښ نهٔ وی او یا تا غمژن کوی.

٣ - **دریم کار**: دا یقین لره چه الله تا وینی او تهٔ د هغهٔ په قبضه کښے ئے. ارشاد دے : ﴿ أَلَمْ يَعْلَمْ بِأَنَّ اللهَ يَرٰى ﴾ [علق: ١٤] (آیا دے نهٔ پو هیږی چه بیشکه الله دے وینی).

﴿ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴾ [حدید: ٤]

او ارشاد دے : ﴿ وَمَا تَكُوْنُ فِيْ شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوْ مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلَا تَعْمَلُوْنَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوْدًا إِذْ تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا أَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَا أَكْبَرَ إِلَّا فِيْ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [یونس: ٦١] (او تهٔ چه په کوم حال کښ ئے، او د قرآن چه کومه حصه تلاوت کوے، او خلقو ! تاسو چه هر کار کوئ، کله چه تاسو د هغے ابتداء کوئ نو مونږ تاسو نه خبر یو،

او ستا د رب نه په زمکه او آسمان کښې د يوې ذرې برابر هم هيڅ شے پټ نۀ دے، او نۀ د هغې نه وړوکے او نۀ لوئی شے شته چه هغه په محفوظ کښې ليکلے شوے نۀ وی)۔

نو دے وخت کښې به په تا کښې د حياء خوئې پيدا شی اګرکه دا لړ ولے نۀ وی۔ او دے سره دا يقين لره چه کرامًا کاتبين ملائك ستا هر قول او فعل ليکی۔ ارشاد دے: ﴿ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴾ [ق: ۱۸] (انسان چه کله هم څۀ خبره د خپلے ژبے نه وياسی نو دۀ سره يو نګهبان تيار وی) (چه هغه دا ليکی)۔

﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴾ [انفطار: ۱۰-۱۲]

۴ – **څلورم کار:** لږ شان صبر وکړه ځکه دنيا د لږ ساعت د صبر نوم دے، او دا فکر کوه چه زۀ په کوم ساعت کښې يم دا خامخا تيريږی او بيا به د ګناه ضرر او درد باقی پاتے وی او ددے خوند او مزه به ډير زر روسته ختمه شی۔

څوك چه په دے تجربه وکړی نو ددے لاندے به ډيرے فائدے ومومی۔

او خپل ځانته دا وايه ! اے نفسه ! لږ شان ساعت صبر وکړه، تۀ به د خپل صبر په خوند باندے لږ وخت پس پوهه شے۔

۵ – **پنځم کار:** هميشه الله ته توبه کوه او استغفار غواړه ځکه بنده د استغفار او توبے سره هيڅ کله نۀ هلاکيږی ان شاء الله۔ ارشاد دے : ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ [انفال: ۳۳] (او ترڅو پورے چه دوی د بښنے دعا کوی نو الله به دوی ته عذاب نۀ ورکوی)۔

او نبی کريم ﷺ فرمائی: [مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَلَوْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً]

(څوك چه استغفار کوی هغه په ګناه باندے هميش والے کونکے نۀ حسابيږی اګرکه د ورځے اويا ځله ګناه وکړی)۔

[رواه أحمد وحسنه الحافظ في الفتح: ۱]

او الله تعالىٰ د خپل بنده په توبه او استغفار باندے ډير زيات خوشحاليږی نو تۀ مۀ نااميده کيږه ولے چه تاسره کاميابی او د کاميابئ چابی دواړه موجود دی، دے وجے نه چابی استعمال کړه او هغه د خپل وخت نه مۀ روسته کوه۔

۶ – **شپږم کار:** د [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ] يا [الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ] کلمه مۀ هيروه، ولے چه دا د عرش نه لاندے خزانے نه راوتے ده۔

[رواه البخاري في صحيحه عن أبي موسى الأشعري رضى الله عنه]

فکر وکړه ! څوك په هغه خزانه کښے ننواتۀ چه هغه د الله خزانه وی او هغه ئے د خپل عرش

Maktaba Tul Ishaat.com

لاندې ساتلې وي نو هغهٔ ته به څومره جواهرات ملاويږي، څومره فائدې به ورته رسي، څومره حاجتونه به ئې پوره کيږي، څومره مصيبتونه به ترې لرې کيږي؟ تردې پورې چه په يو روايت کښې راغلي: دا کلمه د نهه نوي (٩٩) مصيبتونو شفاء او علاج دې.
[مشكاة المصابيح: ١]

او دا د تفويض (سپارښتنې) کلمه ده نو څوك چه خپل رب ته خپل ځان وسپاري نو آيا دا به ضائع شي؟ قسَم په الله هيڅ کله نه!

او دا خزانه ډيرو خلکو ليدلې او آوريدلې خو دوئ ځانونه ړاندهٔ کړل او غوږونه ئې کاڼهٔ کړل، ځکه چه د الله او د هغهٔ د رسول (ﷺ) په خبرو باندې ئې يقين کمزورې دې. نو زما وروره! آيا تهٔ ما سره دې عظيمې خزانې ته ننوځې؟
[وَمَا تَوْفِيْقِيْ اِلَّا بِاللّٰهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ]

٧ – **اووم کار**: او دا ددغه ټولو کارونو نه لوئې او جامع کار دې: او هغه د الله عز وجل کتاب ته توجه او رامخامخ کيدل دي، ولې چه په دې کښې شفاء ده، په دې کښې تذکره ده، په دې کښې هدايت دې، په دې کښې رحمت دې. دا د الله هغه رسئ ده چه څوك ئې ونيسي نو د ټولو شرونو او آزمائشونو نه خلاصې مومي. دې وجې نه تهٔ په دې کتاب کښې فکر کوه، شپه او ورځ ددې تلاوت کوه. او توفيق ورکونکې صرف الله تعالىٰ دې.

* * * * * *

٦٩ - قابلِ غور فائده

په عبادت کښې کوشش کول

په کنړو حدیثونو کښې راغلي چه الله د انسان په عبادت سره په ملائکو فخر کوی، لکه حدیث شریف کښې دی : [اِنَّ اللّٰهَ یَنْزِلُ یَوْمَ عَرَفَةَ فَیُبَاهِیْ بِهِمُ الْمَلَائِکَةَ وَیَقُوْلُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ؟]
[صحیح مسلم ، ابوداود]

او حدیث کښې دی : صحابه کرامو - رضی الله عنهم - د ماښام او ماسخوتن ترمینځه مونځونه کول، نو نبی کریم ﷺ دوئ ته راووانه او وې فرمايل:
[اِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ اِلَیَّ مَلَکًا أَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی یُبَاهِیْ بِکُمُ الْمَلَائِکَةَ]
(الله ماته یو ملائك راولیږهٔ چه الله په ملائکو باندې ددې خلکو په ذریعه فخر کوی)۔
[صحیح الجامع]

نو په دې کښې راز څهٔ دې ؟ سره ددې چه ملائك زمونږ نه د الله ډیر زیات بندګی کونکی دی! شپه او ورځ د هغهٔ نهٔ ستړې کیدونکې تسبیح وائی۔ همیشه د الله طاعت او بندګی کوی، د الله هیڅ خلاف ورزی نهٔ کوی !

نو په دې کښې درې **حکمته** دی :

١ - **اول** : دا چه د انسان عبادت او عمل صالح ددهٔ د خواهش خلاف دې، او د ملائکو عبادت داسې نهٔ دې۔ او د الله د ذات لپاره د خواهش خلاف کول هغهٔ ته ډیر زیات خوښ دی۔

حدیث کښې دی : [أَفْضَلُ الْجِهَادِ أَنْ تُخَالِفَ نَفْسَكَ وَهَوَاكَ فِیْ ذَاتِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ]
(بهترین جهاد دادې چه ته د خپل نفس او خواهش خلاف د الله د ذات د وجې وکړې)۔
[ذکره الألبانی فی الصحیحة]

دا وجه ده، الله په لار کښې جهاد کول، تهجد کول، د ځوان سړی عبادت، د ماسخوتن او د سهار مونځونه الله ډیر خوښ دی ځکه چه دا د انسان د خواهش خلاف دی۔ نو کله چه عمل د نفس د خواهش خلاف وی نو ددې اثر ډیر وی او الله ته دا ډیر خوښ وی۔ نو همدا د فخر کولو سبب دې۔

٢ - **دویم** : دا چه انسان د الله په لاس سره پیدا شوې، او ددې په خلاف ملائك او باقی مخلوقات د الله د (کُن) په کلمه سره پیدا شوی۔ او کوم شې چه د الله په برکتی لاسونو سره پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com

شی هغه به خامخا د هغه شیانو نه غوره وی چه هغه د (کُن) په کلمه سره پیدا شوی وی۔ ارشاد دے : ﴿قَالَ يٰۤـاِبْلِيْسُ مَامَنَعَكَ اَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدِيَّ﴾ [صٓ: ۷۵] (الله وویل : اے ابلیس ! ما چه څوك په خپلو دواړو لاسونو سره پیدا کړو، هغهٔ ته د سجدے کولو نه تهٔ کومے خبرے منع کړے)۔

نو ابلیس له الله رټنه په دے ورکړه چه د الله په لاس پیدا شوی مخلوق ته ئے ولے سجده ونهٔ کړه۔ په دے کښے د انسان عزت او کرامت ته اشاره ده۔ دے وجے نه ددهٔ عمل الله ته د ملائکو د عمل نه دیر خوښ دے ۔

۳ - دریم : داچه انسان په صورة الرحمن پیدا شوے : په حدیث شریف کښے دی، رسول الله ﷺ فرمائی:

[إِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ عَلٰى صُوْرَتِهٖ]

(بیشکه الله آدم علیه السلام په خپل صورت پیدا کړے)۔

[صحیح بخاری، وغیره]

ددے حدیث شریف حقیقت دیر کم خلك پیژنی۔ علماؤ ددے څلور تفسیرونه بیان کړی :

۱ - اول تفسیر : الله آدم علیه السلام د وهلی شوی سړی په صورت پیدا کړے :

حدیث کښے دی : نبی کریم ﷺ یو ځل په یو سړی تیر شهٔ چه هغهٔ یو سړے په مخ وهلو نو دغه پورتنے ارشاد ئے ورته وفرمایهٔ۔ نو دغه سړے په مخ وهل په دے کښے یو قِسم د آدم علیه السلام د صورت سپکاوے راتهٔ نو ځکه ئے منع کړو۔ او دا د انبیاء کرامو – علیهم السلام – عادت دے چه دویٔ د لرے لرے آدابو او تعلق هم لحاظ ساتی۔ دا وجه ده، نبی کریم ﷺ د مصریانو په حقله فرمایلی:

[أَحْسِنُوْا اِلٰى أَهْلِ مِصْرَ فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا]

(تاسو مصریانو سره ښیګړه کوی، ځکه د دویٔ ماسره ذمه او خپلولی ده)۔

وجه داده چه هاجره رضی الله عنها مصریٔ وه۔ (دارنګه ماریه قبطیه رضی الله عنها د مصر سره تعلق لرلو)۔

خو دا تفسیر بعید معلومیږی۔

۲ - دویم تفسیر : داچه آدم علیه السلام په همدغه خپل او شکل او صورت سره پیدا شوے، یعنی په دهٔ باندے د وړوکوالی، هلکوانے او ځوانیٔ زمانه نهٔ ده راغلے بلکه د سړی په شکل او صورت پیدا شوے، او تر مرګه پورے همدغسے وو تردے چه وفات شو۔

خو ددے تفسیر څهٔ صحیح وجه او ښکاره حکمت نهٔ څرګندیږی اګرکه ځینو غټو علماؤ دا

غوره کړې۔

٣ – دريم تفسير: صورت دلته په معنیٰ د صفت سره دے: او معنیٰ داده چه د انسان عام صفات (سرسري لحاظ سره) د الله د صفاتو په شکل دي اګرکه ددے دواړو ترمينځه د مشرق او مغرب او د عرش او د زمکے او د خالق او مخلوق نه هم زيات لرے والے او جدائي ده۔ او معنیٰ داده چه انسان علم او حکمت والا دے نو الله هم علم او حکمت والا دے۔ انسان ژوندے، شفقت او رحم والا دے، او الله هم دغسے دے۔

انسان مدح او علُو خوښوي، او الله هم مدح او عُلُو خوښوي۔ انسان دا خوښوي چه دهٔ سره دے د مينے محبت، ادب او خدمت سلوك وکړے شي، او الله هم دغسے د بندګانو نه محبت، ادب، خدمت او عبادت غواړي۔ او دغسے نور صفات واخله۔

او په دے اسمي او لفظي مشابهت کښے حکمت دادے چه د انسان لپاره د الله تصور ددے نه بغير نشي کيدے ځکه چه انسان به د خپلو صفاتو نه د الله صفاتو ته ګوري۔ او دا معنیٰ په قرآن او سنت کښے ډيره راغلے۔ ارشاد دے:

﴿هَلْ لَّكُمْ مِّنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ شُرَكَآءَ فِيْ مَا رَزَقْنٰكُم﴾ [روم: ٢٨]

(څوك داسے شته دے چه زمونږ په ورکړے روزئ کښ تاسو سره شريك وي)۔

او نبي کرې ﷺ فرمائي: [اِنَّ اللّٰهَ حَيِيٌّ سِتِّيْرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالتَّسَتُّرَ] [نسائي]

(الله ډير زيات حياناك اوپرده کونکے دے، حياء او پرده خوښوي)۔

٤ – څلورم: دا چه (صورت) په خپله معنیٰ سره دے: او معنیٰ داده چه الله هم عزتمن مخ لري او انسان هم مخ لري۔ الله هم نفس، لاسونه، قدمونه، پنځه ګوتے، ورغوے، سترګے، غوږونه، ذات، استواء، په مخلوقاتو باندے وچت والے، کلام، راتلل، نزول او ددے پشان نور پاکيزه او معطر صفات لري۔ او انسان هم په دے صفاتو موصوف دے۔ اګرکه د الله او د انسان د صفاتو ترمينځ داسے فرق دے څنګه چه د الله د ذات او د انسان د ذات ترمينځه فرق دے۔ انسان مړ کيدونکے، فنا کيدونکے او قيامته پورے قبر ته رسيدونکے، کمزورے او تغير قبلونکے مخلوق دے۔ او رب عز وجل داسے نهٔ دے۔

نو دا د [خَلَقَ آدَمَ عَلٰى صُوْرَتِهٖ] معنیٰ ده۔ دا وجه ده په بل حديث کښے راغلي:

[اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ عَلٰى صُوْرَةِ الرَّحْمٰنِ]

امام تويجريؒ په همدے نوم کتاب ليکلے، هغه وګوره۔

په دے معنیٰ او ددے نه په مخکښۍ معنیٰ کښے ډير خوند دے چه په دے سره قوي مؤمن خوند

Maktaba Tul Ishaat.com

اخلي.

سوال : د الله تعالیٰ ددې وینا څهٔ معنیٰ شوه ؟ ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴾ [شوری: ۱۱] (هیڅ شې د هغهٔ پشان نشته، او هغه ښهٔ آوریدونکې، لیدونکې دې).

دې نه خو معلومیږی چه هیڅوك – نهٔ انسان او نهٔ بل شې – د الله پشان جوړیدې شي.

جواب : آیت حق دې او په خپل ظاهر باندې حمل دې، او حدیث هم حق دې او په خپل ظاهر باندې حمل دې او په دې دواړو کښې هیڅ تناقض او تضاد نشته، ځکه آدم علیه السلام د رحمٰن ذات په صورت پیدا شوې او د هغهٔ پشان نهٔ دې. ځکه د رحمٰن ذات د مخ دومره جلال او اکرام دې چه هغه د انسان د مخ نشي کیدې. د هغهٔ دواړه لاسونه فراخه دي ځنګه چه غواړی خرچه کوی، په دې کښې دا ټول عالَم پورته کولې شي. او د انسان لاس بیا داسې نهٔ دې. ښهٔ فکر وکړه!

ددې حدیث شریف نه بعضِ جاهلان خلق انکار کوی، ولې چه د هغویٔ زړهٔ د الله د معرفت نه کوړ شوې او آؤښتې وی. والله المستعان.

١١/ ٢٤/ ١٤٣٢هـ ذو القعدة

* * * * * *

۷۰ - عجیبه فائده

عیسیٰ علیه السلام نه نقل دی چه هغوی وفرمایل: تاسو لپاره د آسمانونو بادشاهئ ته ننوتل تر هغه وخته پورے ممکن نهٔ دی ترڅو چه تاسو ماشومانو سره د هغویٔ په ښائسته صفاتو کښې مشابهت اختیار نهٔ کړئ. د ماشومانو ښهٔ اخلاق اووهٔ دی نو څوك چه د آسمانونو بادشاهی غواړی هغهٔ له پکار دی چه په خپل ځان کښې دا راولی:

۱ - د ماشوم په زړهٔ کښې حسد او کینه نهٔ وی.

۲ - ماشوم په خپل مور پلار پوره ځان سپاری او څوك چه ورته ضرر ورکوی هغهٔ ته وائی: پلار ته وایم ګورے چه راشی او تا برابر کړی او ما درنه خلاص کړی.

۳ - ماشوم کښې ډیره زیاته چاپلوسی او زاری وی نو د مور پلار نه خپل حاجت په زاریٔ او عاجزیٔ او ژړا سره حاصلوی، د هغویٔ پرے رحم راشی او حاجت ئے پوره کړی.

٤ - خپلے مور ته ډیر زر راګرځی، که مور ئے ووهی یا ئے ورتی نو بهر ووځی او لږ ساعت پس بیرته واپس راشی او د خپلے مور غیږے ته ځان وولی نو د هغے پرے رحم راشی او ښکل ئے کړی.

٥ - هغه چا سره سخته مینه کوی چه هغهٔ پرے نعمت کوی، خدمت ئے کوی او مهربانی پرے کوی.

٦ - مور ئے بیخی بے صبره وی، که هغه ترے لږ ساعت غیبه شی نو هغے ته په شوق سره ورځی او ترڅو پورے ئے چه مور لیدلے نهٔ وی نو په هیڅ یو شیٔ نهٔ قلاریږی.

۷ - د خلکو د عیبونو نه بیخی بے پرواه وی، خپل غم ورسره وی.

دا وجه ده، بعضِ علماؤ - لکه ایوب سختیانیؒ - فرمائی: هیڅ یو بنده تر هغے نشی سردار کیدے ترڅو پورے چه دوه صفته ونهٔ لری: د خلکو د لاسونو نه نا امیدی. او د هغویٔ د خویدو نه غفلت اختیارول.

[حلیة الأولیاء: ۳/ ٥]

۸ - څوك چه ورسره ښیګړه کوی هغهٔ سره ډیر زیات آموخته او عادت وی تردے چه هغه نهٔ وی نو ورپسے بیماریږی.

۹ - ماشوم سره د صبا غم نهٔ وی چه څهٔ به خورم بلکه څهٔ چه ورسره وی هغه خوری او د صبا غم نهٔ کوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۰ – ماشوم ډیر نرم زړے وی تردے چه په نهٔ خبره ئے د سترګو نه اوښکے روانے وی. په معمولی تکلیف یا معمولی شئ فوت کیدو سره ژاړی.

۱۱ – د مور پلار نه ډیر زیات ویریدونکے وی.

نو دغه شان کوم مومن چه د آسمانونو بادشاهئ ته داخلیدل او د آسمان والو نه خپل ځان جوړول غواړی نهٔ د زمکے والو (ځکه د حدیث مطابق اهلِ ذمه کافرو ته زمکے والا خلك ویلے کیږی. مشکاة: ۱) نو هغهٔ له د خپل رب سره دا ډولی صفات اختیارول پکار دی، حالانکه الله هیڅ مثال نهٔ لری خو دا خبره د پوهے لپاره ذکر کیږی، ځکه دا قاعده ده چه [مَنْ عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْ عَرَفَ رَبَّهُ] (چاچه خپل ځان وپیژندهٔ هغهٔ خپل رب وپیژندهٔ).

نو مومن به په خپل زړهٔ کښے د الله په بندګانو کښے د هیچا سره کینه او حسد نهٔ ساتی.

او مومن به په خپل رب باندے قوی توکل کونکے وی د هغه ماشوم نه هم زیات چه هغه په خپل مور پلار توکل کوی.

او دغه شان د دعاء غوښتو په وخت به خپل رب ته ډیره زیاته عاجزی کونکے او چاپلوسی کونکے وی، ځکه الله تعالیٰ هغه چاسره مینه کوی چه هغه په دعاء کښے ډیره زیاته زاری او کوشش کوی. او دغسے باقی صفتونه هم واخله.

۷۱ – فائده

د علماؤ ښکاره فضیلت

ثعلبه بن الحکم ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: (الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ – کله چه په کرسئ باندے د خپلو بندګانو ترمینځه فیصله کوی– علماؤ ته وفرمائی: ما په تاسو کښے خپل علم او حکم – او په یو روایت کښے دی – خپل حکمت صرف ددے لپاره ایښے وو چه زهٔ غواړم چه تاسو ته ستاسو د ګناهونو مغفرت وکړم او زهٔ هیڅ باك نهٔ کوم).

[معرفة الصحابة لأبی نعیم: ۳/ ۲۵۸، رقم: ۱۳۵۸، واسناده حسن، وقال الهیثمی: ۱/ ۱۲۶: رجاله موثقون. وقال المنذری: رجاله ثقات، وقال ابن کثیر: اسناده جید: ۳/ ۱٤۱]

ابو موسیٰ ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: [يَبْعَثُ اللّٰهُ الْعِبَادَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يُمَيِّزُ بَيْنَ الْعُلَمَاءِ فَيَقُوْلُ: يَا مَعْشَرَ الْعُلَمَاءِ! إِنِّيْ لَمْ أَضَعْ عِلْمِيْ فِيْكُمْ لِأُعَذِّبَكُمْ اذْهَبُوْا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ]

(الله بـه د قيـامـت پـه ورځ بندګان راپورته کړي بيا به علماء جدا کړي او وبه فرمائي: اے د علماؤ ټولګيـه ! ما خپـل عـلـم په تاسو کښې دے لپاره نۀ وو ايښے چه زۀ تاسو له عذاب درکړم۔ ځئ ما تاسو ته بښنه وکړه)۔

[أخرجه الروياني في مسنده: ١/ ٣٥٣، وهذا اسناد رجاله كلهم ثقات]

دا حـديـث صحيح يا حسن دے۔ شيخ الباني په [الضعيفة ٨٦٨] کښې او ابو الاشبال په [تعليق جامع بيان العلم وفضله لابن عبد البر: ١/ ٢١٧، رقم: ٢٣٣] کښې ديته ضعيف ويلي، خو دوئ د ابو نعيمؒ په سند باندے خبر شوی نۀ دی۔

زۀ وايـم : ددے حـديث تائيد د مسند دارمي حديث هم کوی، عقبه بن عامر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ : [لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ]

(که چرے قرآن په يوه څرمنه کښے واچول شي او بيا اور ته واچول شي نو وبه نۀ سوزي)۔

[الصحيحة: ٣٥٦٢، مشكاة: ١]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٧٢ ـ فائده : د الله رضا مندی تالاش کول

د هر انسان یو خواهش، یوه جذبه او یو طرفته میلان وی. څوك مال سره مینه لری او خپل ټوله توجه دے طرفته لری او ټول استعدادات په دے باندے لږوی. او څوك د ریاست او مشرئ خواهش لری. څوك په ښځو کښے میلان لری او همیشه د جینکو تذکرے کوی.
د چا میلان لغوے او بیهوده خبرو او کارونو طرفته وی.
او د چا خواهش ځانته د خلکو مخونو راړولو طرفته وی، بناوتی کارونه کوی او څومره ئے چه وس وی خلکو ته ځان ښائی.
د چا خواهش علم زده کول وی (او دا په ټولو کښے غوره دے).
د چا خواهش جهاد، حق طرفته دعوت او په سنت خورولو کښے وی. دا خلك د وچتو همتونو والا خلك دی.
لیکن لږ خلك داسے دی چه د هغهٔ خواهش داوی چه مانه زما رب راضی شی. د خپل رب رضائے د سترګو مخامخ وی، خپل ټول اقوال، قوتونه او صلاحیتونه په دے باندے لږوی چه الله به رانه څنګه راضی شی. نو په خپلو تمامو احوالو کښے دا کوشش کوی چه د خپل رب رضا ته به څنګه ورسیږی.
زما په زړهٔ کښے الله واچوله چه زهٔ بعضِ هغه اعمال راجمع کړم چه بنده د الله سبحانه وتعالیٰ رضامندئ طرفته ورسوی.
کیدے شی چه زهٔ هم د دوئ سره کامیاب شم او دا په الله باندے څهٔ ګرانه خبره نهٔ ده !
نو زهٔ وایم : مخکښے په فائده (نمبر: ٥٨) کښے څوارلس (١٤) داسے عملونه ذکر شول چه بنده د الله تعالیٰ رضامندئ ته رسوی. دلته زیاتی خبره داکوو :
١ – څوك چه د خپل رب رضامندی تالاش کوی مؤمن دے او څوك ئے چه نهٔ تالاش کوی بلکه بدے ئے ګنړی نو دا منافق دے. ارشاد دے : ﴿ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴾ [توبه : ٦٢]
او ارشاد دے : ﴿ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَاۤ اَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴾ [محمد: ٢٨]
د الله رضا ته رسونکی ځینے اعمال دادی :

١ – د الله تعالىٰ ذكر كول۔ او دا مخكښې تير شو۔

٢ – د الله شكر كول: ارشاد دے: ﴿ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ وَاِنْ تَشْكُرُوْا يَرْضَهُ لَكُمْ ﴾ [زمر: ٧] (او هغه د خپلو بندګانو لپاره ناشكرى نهٔ خوښوى، او كه چرے تاسو شكر ګذار جوړيږئ نو هغه ستاسو د طرفه دا خوښوى)۔

او نبى كريم ﷺ ارشاد فرمائى: [اِنَّ اللّٰهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا ، أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا] (بيشكه الله تعالىٰ د خپل بنده نه په دے خوشحاليږى چه كله دا څهٔ خوراك وكړى نو د الله حمد پرے ووائى اوكه څهٔ وڅښى نو د الله حمد پرے وكړى)۔

[صحيح مسلم]

٣ – جهاد في سبيل الله كول۔

٤ – هجرت كول۔

٥ – امر بالمعروف او نهى عن المنكر كول۔ ارشاد دے: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِىْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌ بِالْعِبَادِ ﴾ [بقره: ٢٠٧]

دا آيت د صهيب رضى الله عنه په باره كښې نازل شوے وو هر كله چه هغهٔ هجرت او جهاد وكړو۔ امام ابن كثيرؒ فرمائى: دا د هغه چا په حقله نازل شوے چه امر بالمعروف او نهى عن المنكر كوى۔ ارشاد دے:

﴿ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴾ [توبه: ٢١]

٦ – د الله كتاب لوستل: ولے چه دا د الله د رضامندئ لوئے سبب دے۔ ارشاد دے: ﴿ يَهْدِىْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهِ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ [مائده: ١٦]

٧ – پاكيزه مالونه خرچ كول: ارشاد دے: ﴿ وَسَيُجَنَّبُهَا الْاَتْقَى الَّذِىْ يُؤْتِىْ مَالَهُ يَتَزَكّٰى وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهُ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰى اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰى وَلَسَوْفَ يَرْضٰى ﴾ [ليل: ١٧-٢١] (او دَ هغے نه به هغه كس بچ كړے شى چه هغه دَ الله نه ډير يريدونكے وى چه هغه خپل مال (دَ الله په لاره كښ) وركوى دے دپاره چه خپل نفس پاك كړى، او دَ هيڅ يو انسان په دهٔ باندے څهٔ احسان نهٔ وى چه دَ هغے بدله وركړے شى، مګر هغه دَ خپل ډير اوچت رب مخ غواړى، او هغه به ډير زر راضى كړے شى)۔

او ارشاد دے: ﴿ وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ﴾ [بقره: ٢٦٥]

په دے آيت كښې واضحه اشاره ده چه د الله په لاره كښې حلال مالونه خرچ كول د الله سبحانه

Maktaba Tul Ishaat.com

وتعالیٰ د رضا حاصلولو لپاره لوئے سبب دے۔

٨ – درے کارونو لپاره جرګے کول: ارشاد دے:

﴿ لَاخَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِنْ نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوْفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ أَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ [نساء: ١١٤]

٩ – په مونځونو باندے د مومن بنده همیش والے کول: ارشاد دے: ﴿ تَرٰهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ ﴾ [فتح: ٢٩]

١٠ – تهولو نیکیو طرفته وړاندے والے کول: ارشاد دے: ﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴾ [طه: ٨٤] (او ما تاته تادی وکړه اے ربه چه ته رانه خوشحاله شے)۔

او ارشاد دے: ﴿ وَالسّٰبِقُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ﴾ [توبه: ١٠٠]

١١ – د رسول الله ﷺ د ملګرو صحابه کرامو – رضی الله عنهم – تابعداری کول د الله د رضا سبب دے۔

١٢ – د الله دشمنانو نه د مومن بیزاری اختیارول اګرکه هغه ددهٔ خپلوان رشته داران ولے نهٔ وی۔ دا کار زمونږ په دے زمانه کښے ډیر کم شوے۔ ارشاد دے: ﴿ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيْرَتَهُمْ أُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْإِيْمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ أُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللهِ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [مجادله: ٢٢]

(کوم خلق چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لری، هغوئ به تهٔ د هغه خلقو سره محبت کونکی ونهٔ مومے کوم چه د الله او د هغهٔ د رسول مخالفت کوی، اګرکه هغوئ د دوئ پلرونه وی، یا ځامن وی، یا ئے ورونه وی، یائے خاندان والا وی، د همدے خلقو په زړونو کښې الله ایمان مضبوط کړے، او دوئ ئے په خپل خاص مدد سره مضبوط کړی دی، او الله به دوئ داسے جنتونو ته ننباسی چه د هغے لاندے به نهرونه بهیږی، په هغے کښې به دوئ همیشه لپاره اوسی، الله دوئ نه راضی شو، او دوئ د الله نه راضی شول، همدا خلق د الله ډلے خلق دی، خبر شئ چه د الله ډلے خلق همدا کامیابیدونکی دی)۔

ابن عقیلؒ فرمائی: که تهٔ د خپلے زمانے والو اسلام پیژندل غواړے نو جوماتونو ته د دوئ بار بار تلل راتلل او په عرفات کښے د دوئ شور او زوګ ته مهٔ ګوره بلکه دیته وګوره چه دوئ د الله د دشمنانو سره دشمنی کوی او که نهٔ؟

[الآداب الشرعية : ١/ ٢٣٦]

١٣ - د حج او عمرې لپاره د بيت الله شريف قصد کول، او عبادت او محبت کول:
ولې چه دا د الله د رضامندئ سبب دے۔ ارشاد دے :
﴿ وَلَا آمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ﴾ [مائده: ٢]

الله به د هغه بنده نه ولې نۀ راضي کيږي چه هغه د کوره ووځي، سختې تنګې او د سفر مشقتونه برداشت کوي او د الله کور ته روان وي، د دے نه سيوا دده څۀ دنيوي حاجت او چکر مقصد نۀ وي، صرف د الله د کور زيارت له روان وي !

١٤ - د الله نه داسې خوف او خشيت کول چه انسان د ګناهونو نه منع کړي او په زړۀ کښې د رب تعظيم او لوئي پيدا کړي۔ ارشاد دے : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴾ [بينه: ٧، ٨]

نو څوك چه د رب نه يريږي هغۀ نه الله راضي کيږي، هغۀ لپاره جنت دے او هغه د ټولو نه غوره انسان دے۔ الله دے زمونږ دا نصيب کړي !

١٥ - څوك چه راتلونکي خويونه په ځان کښې راجمع کړي، الله د هغۀ نه خامخا راضي کيږي ان شاء الله : (١) ايمان۔ (٢) مومنانو سره مينه۔ (٣) امر بالمعروف، نهي عن المنكر۔ (٤) د مونځونو پابندي کول۔ (٥) زکاة ورکول۔ (٦) د الله او رسول (ﷺ) خبره منل۔

په دے آيتِ کريمه کښې فکر وکړه : ﴿ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكَاةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ أُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللهُ إِنَّ اللهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ وَعَدَ اللهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خَالِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ أَكْبَرُ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ [توبه: ٧٢]

دے آيتِ کريمه کښې الله په مخکنو اعمالو باندے خپله رضامندي ورکړے، دے وجے نه دد ے پابندي کول لازم دي او الله ئے چه چاته آسان کړي نو دا آسان دي۔

١٦ - په اخلاص سره د الله جوماتونه جوړول : الله دد ے کس نه خوشحاليږي۔ ارشاد دے:
﴿أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى تَقْوٰى مِنَ اللهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهٗ عَلٰى شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِيْنَ ﴾ [توبه: ١٠٩]

په جومات جوړولو به ولې الله نۀ خوشحاليږي چه يو مومن مخلص بنده د الله کور دد ے لپاره جوړوي چه الله ته په کښې خلك سجده لګوي او د هغۀ عبادت په کښې کوي ! او الله خو ډير زيات

Maktaba Tul Ishaat.com

قدردان دي.

۱۷ – څوك چه د فسق او فجور نه ډډه کوي، الله ترې راضي کيږي : ارشاد دے: ﴿ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴾ [توبه: ۹۶]

۱۸ – د الله ذکر ډير ډير کول، دا هم د رضوان اکبر سبب دے: ارشاد دے : ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَّسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَّأَصِيلًا هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَٰٓئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلٰمٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا ﴾ [احزاب: ٤١-٤٤] (اے ايمان والو ! الله ښهٔ يادوئ، او صبا او بيګاه د هغهٔ تسبيح بيانوئ هغه حق ذات په تاسو باندے خپل رحمت راليږي، او د هغهٔ ملائك ستاسو لپاره د رحمت دعاء کوي، دے لپاره چه الله تاسو د تيارو نه وباسي او د حق رنړا طرفته مو ورسوي، او الله په مومنانو بيحده رحم کونکے دے، په کومه ورځ چه دوئ د خپل رب سره ملاؤ شي په دغه ورځ به د دوئ استقبال په سلام سره وي، او الله دوئ لپاره عُمده اجر تيار ساتلے).

نو څوك چه د الله ډير ډير ذکر کوي، الله د هغهٔ صفت او مدح کوي نو آيا د هغهٔ نه به راضي نهٔ وي؟

۱۹ – هر هغه شے چه الله ئے خوښوي او د هغهٔ د محبت سبب ګرځي نو الله په هغے سره د بنده نه راضي کيږي، لکه مونږ ددے اسباب په اولني جلد فوائد (۱/ ۳۹۰) کښے ذکر کړي. او ان شاء الله د (محبوب الرب عز وجل) په عنوان سره به يوه فائده ليکو.

* * * * * *

۷۳ – فائده : د اسلامي دين خلاصه او نچوړ

ددې په يادولو سره مومن ته په دين کښې فائده ملاوېږي، او هغه دا چه :

۱ – د الله په دين کښې د داخليدو لپاره د شهادتينو اقرار شرط دے :
[أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ]

۲ – ددې کلمې لپاره شروط دی : (۱) ددې الفاظ پيژندل او په خُلهٔ ويل۔ (۲) ددې معنیٰ پيژندل۔ (۳) داسې يقين پرې لرل چه د شك منافي وي۔ (٤) داسې اخلاص چه د شرك او رياء ضد وي۔ (٥) داسې صدق چه د دروغو منافي وي۔ (٦) داسې محبت لرل چه د بغض او کراهت منافي وي۔ (۷) داسې قبلول چه د رد کولو منافي وي۔ (۸) ددې په تقاضا عمل کول او ددې په وجه د الله د حرام کړو شيانو نه ځان ساتل۔ (۹) د طاغوت نه انکار کول۔

۳ – د کوم آلهو عبادت چه الله نفي کړے هغه : (۱) بتان (۲) شريکان (۳) بوخلي (٤) طاغوت (٥) کوډے منترے (٦) هر هغه شے چه د الله نه سيوائے بندگي کولے شي (۷) ارباب او آلهه۔

٤ – ايمان بالله په پنځه ډول دی: (۱) د الله په ذات او وجود تصديق کول (۲) د هغهٔ په اسماؤ (۳) د هغهٔ په پاکيزه صفاتو (٤) د هغهٔ د حکمت نه په ډکو افعالو تصديق کول (٥) او هغه د هر قِسمه نامناسبه شيانو نه پاك گنړل۔

٥ – ايمان بالرسول (ﷺ) په يو څو ډوله دے: (۱) تولو انسانانو او پيريانو ته د هغهٔ په راليږلو ايمان لرل (۲) د هغهٔ په بشر کيدو ايمان (۳) عربي کيدو (٤) واجب الطاعة کيدو (٥) او په دے خبره ايمان لرل چه الله ته صرف د هغهٔ په لاره رسيدنه کيږي (٦) هغه د الله بنده گنړل (۷) هغه خاتم النبيين گنړل چه د هغهٔ نه پس بل نبي نهٔ راځي (۸) هغه روغ عقل او فطرت والا گنړل (۹) سړے ئے گنړل (۱۰) د کفر او دروغو او کبيره او صغيره گناهونو نه ئے پاك گنړل (۱۱) هغه امي گنړل۔

٦ – حقوق النبي ﷺ : (۱) په هغهٔ ايمان لرل (۲) د هغهٔ خبره منل (۳) د هغهٔ د کارونو پيروي کول (٤) هغه د هر چانه زيات محبوب گنړل (٥) په ژوند او مرگ دواړو کښې د هغهٔ نصرت کول (٦) د هغهٔ د سنت نه دفاع کول (۷) د هغهٔ تائيد او عزت کول (۸) په هغهٔ درود اوسلام ويل او دعا ورته کول (۹) د هغهٔ د مخالفينو سره بغض لرل (۱۰) د هغهٔ سنت او دعوت خورول۔

۷ – بيا دين درې مراتب لري: (۱) اسلام (۲) ايمان (۳) احسان۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اسلام، په توحید سره الله ته منقاد کیدل او په ډیره عاجزئ سره د هغهٔ طاعت کول او د شرك او مشرکانو نه بیزاری اختیارول۔

٨ – د اسلام پنځه ستنے دی : (١) د کلمے توحید او کلمے شهادت اقرار کول (٢) د مونځ پابندی کول (٣) زکاة ورکول (٤) حج کول (٥) رمضان روژے نیول۔
[بخاری، مسلم]

٩ – د اسلام درے مراتب دی : (١) دغه پورتنئ پنځه ستنے (٢) بهترین اسلام دادے چه د انسان د ژبے او لاسونو د شر نه خلك محفوظ شی، خوراك خورول او چه څوك پیژنی او که نهٔ په هغهٔ سلام کول (٣) مطلقِ اسلام : چه دا د ایمان او احسان سره مرادف (هَم معنیٰ) دے، لکه ارشاد دے: ﴿ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُم مُّسْلِمُونَ ﴾ [آل عمران: ١٠٢] (تاسو ... د اسلام په حالت کښے مرئ)۔

١٠ – ایمان د درے خبرو نه جوړ دے : (١) په زړهٔ تصدیق (٢) په ژبه اقرار (٣) او په اندامونو عمل کول۔

١١ – د ایمان شپږ ارکان دی : (١) په الله (٢) د هغهٔ په ملائکو (٣) د هغهٔ په کتابونو (٤) د هغهٔ په رسولانو (٥) د آخرت په ورځ (٦) او په ښهٔ او بد تقدیر ایمان لرل۔

١٢ – د اخلاص یعنی د توحید کلمه په څلور قِسمه ده :

(١) ربوبیت (٢) الوهیت (٣) اسماء او صفات (٤) حاکمیت او تشریع (قانون سازی)۔

١٣ – د اسلام نواقض (ماتوونکی) ډیر دی، د هغے نه لس دادی :

(١) لوئے شرك كول او ددے ډیر اقسام دی (٢) په عبادت کښے د خپل ځان او د الله ترمینځه واسطے لټول (٣) کافر ته کافر نهٔ ویل یا په کښے شك كول (٤) بشری قانون ته صحیح ویل او د الله د قانون په مقابله کښے ددے مطابق فیصلے کول (٥) دا خبره کول چه د نبی کریم ﷺ نه سیوا د غیرو طریقه ښهٔ ده (٦) سره د پوهے نه د رسول الله ﷺ یو راوړے شے بد ګڼړل (٧) د الله د دین په یوه خبره پورے توقے کول (٨) جادوګری او ترویتی توب کول او ددے تصدیق کول (٩) د اسلام او مسلمانانو په مقابله کښے مشرکانو سره مدد کول (١٠) دا عقیده لرل چه د ځینے خلکو لپاره د اسلامی شریعت او یا ددے د بعضو احکامو نه وتل جائز دی، په غیر د دلیل نه۔

١٤ – د احسان دوه مرتبے دی : (١) د الله داسے بندګی کول چه زهٔ الله وینم (٢) که دا نهٔ وی نو کم از کم دا تصور کول چه الله ما وینی۔

١٥ – بیا د الله دین اسلام په شپږو خبرو ولاړ دے : (١) ایمان (٢) عمل صالح (٣) اخلاق او

آداب۔ او دا درې شخصي او فردي شيان دي چه هر چالپاره ئې لحاظ ساتل ضروري دي (٤) معاشرات (٥) معاملات (٦) نظام او خلافت۔ او دا درې واړه اجتماعي امور دي چه ديته د ضرورت او قدرت په وخت حاجت پيښيږي۔

١٦ – او د الله دين په دريو شيانو قائم دې : (١) د نفس تزکيه (٢) دعوت الی الله (٣) جهاد في سبيل الله۔

١٧ – او د الله کامياب بندګان درې دي : (١) سابقون بالخيرات (٢) مقتصدون (٣) ظالمين چه په ځينو ګناهونو کښې پريوتي۔

١٨ – د مؤمن کمال په درې شيانو کښې دې : علم۔ عمل۔ دعوت الی الله۔

١٩ – او کاميابي ئې په درې شيانو کښې ده : صبر۔ يقين۔ اتباع سنت۔

٢٠ – او د عمل د قبوليت لپاره ئې درې شيانو دي : (١) الله لپاره اخلاص (٢) د رسول الله ﷺ د سنت پيروي (٣) په دې کښې احسان او ښۀ والې۔

٢١ – او نجات په دوه شيانو کښې دې: شکر او ايمان۔

٢٢ – حياتِ طيبه په پنځو شيانو کښې دې : ايمان۔ عمل صالح۔ قرآن او ددې لوستل او تدبر کول۔ په الله سبحانه وتعالیٰ توکل او ذکر کول، او په دې سره اطمينان حاصلول۔

٢٣ – د ايمان څانګې (٧٧) دي او په دوېم جلد فائده نمبر (٤٢) کښې ذکر دي۔

٢٤ – د ايمان ضد شيان (٧٨) دي، په اولنې جلد (١/ ٤٥٠)، فائده : (٦٨) کښې ذکر دي۔

٢٥ – د ايمان ماتوونکي، کموونکي او خړوونکي شيان هم شته چه دا په همدې جلد کښې څو فائدې مخکښې ذکر شول۔

٢٦ – اسلام د ايمان په امورو او عقائدو (٢) او په عباداتو او عمالو (٣) او په اخلاقو او آدابو (٤) او په حدودو او زواجرو (٥) او د منکراتو او ګناهونو په پريښودلو (٦) او د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو په سيرت باندې ولاړ دې۔

[المسجد النبوی الشريف بالمدينة ، يوم الجمعة: ٣/ ١٤٣٤ هـ شوال]



Maktaba Tul Ishaat.com

٧٤ - فائده : د انسان تعريف

مناطقه ؤ د انسان تعريف په (حيوان ناطق) سره کړے خو په دے تعريف سره د انسان معرفت نۀ حاصليږي بلکه په دے اعتراضات دي. صحيح داده چه الله تعالیٰ انسان پيدا کړے او هغهٔ ددهٔ په حقيقت ډير ښهٔ خبر دے. الله ددهٔ تعريف داسے کړے : ﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ [ابراهيم: ٣٤] ﴿ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ﴾ [احزاب: ٧٢] ﴿ خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ ﴾ [انبياء: ٣٧] ﴿ وَكَانَ الْإِنسَانُ عَجُولًا ﴾ [اسراء: ١١] ﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴾ [معارج: ١٩] ﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴾ [عاديات: ٦-٨]

او دا هغه څوك دے چه مصيبتونه يادوي او احسانات هيروي، يا هغه څوك دے چه د يوے بدئ په وجه ډيرے ښيګړے هيروي.

او ارشاد دے: ﴿ إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ ﴾ [يوسف: ٥٣] (بيشکه د انسان نفس په بدئ باندے ډير زيات امر کوي) او ارشاد دے: ﴿ لَا يَسْأَمُ الْإِنسَانُ مِن دُعَاءِ الْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ ﴾ [فصلت: ٤٩] (انسان د خپل ځان لپاره د ښيګړے دعاء کولو نه نۀ ستومانه کيږي، او که دهٔ ته څۀ مصيبت ورسي، نو دے (د الله دَ فراخئ او رحمت نه) ډير زيات نا اميده وي).

او په انسان کښے بدو صفاتو طرفته قرآن کريم اشاره کړے، او هغه دا چه دا په دنيا ډير حرصناك دے : ﴿ لَا يَسْأَمُ الْإِنسَانُ مِن دُعَاءِ الْخَيْرِ ﴾ [فصلت: ٤٩] (انسان د خپل ځان لپاره د ښيګړے دعاء کولو نه نۀ ستومانه کيږي) او دا په خپل رب بدګمان کوي : ﴿ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ ﴾ [فصلت: ٤٩] نو دے (د الله دَ فراخئ او رحمت نه) ډير زيات نا اميده وي). او دا کبر او غاورتيا والا دے او خپل عيبونه نۀ وي : ﴿ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِن بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي ﴾ [فصلت: ٥٠] (اوکه د څۀ تکليف نه روستو کوم چه دهٔ ته رسيږي مونږ د خپل طرفه دهٔ ته څۀ نعمت ورکړو نو وائي چه زهٔ خو ددے حقدار ووم).او ددهٔ بصيرت نشته : ﴿ وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً ﴾ [فصلت: ٥٠] (او زهٔ ګمان نۀ کوم چه قيامت به راځي). دے په الله کفر کوي : ﴿ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا ﴾ [فصلت: ٥٠] (نو دغه وخت به مونږ کفر کونکو خلقو ته يقينًا د دوئ د بدعملونو خبر ورکړو).

او دے د الله نه اعراض کوي، بے وفائي او ناشکري کوي : ﴿ وَإِذَا أَنْعَمْنَا عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ ﴾ [فصلت: ٥١] (او کله چه مونږ په انسانان باندے خپل نعمت وکړو، نو هغه مخ اړوي او خپل اړخ لـ ـ‌ـه کړي). او دے بے صبره دے، په تادئ عافيت غواړي او حکمت کښے فکر نۀ کوي:

﴿ وَاِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْدُعَآءٍ عَرِيْضٍ ﴾ [فصلت: ٥١] (اوكله چه دهٔ ته تكليف ورسى نو هغه پلنے پلنے دعاګانے شروع كړى)۔

او دهٔ په الله دهوكه خوړلے : ﴿ يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِ ﴾ [انفطار: ٦] او ﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ مُّبِيْنٌ ﴾ [زخرف: ١٥]۔

او دے قيامته پورے خپله نافرمانى كونكے دے : ﴿ بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ﴾ [قيامه: ٥] او دے سخت زړے دے د الله د آيتونو نه تاثر نهٔ اخلى : ﴿ لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ﴾ [حشر: ٢١] ﴿ اِنَّهٗ كَانَ فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ﴾ [انشقاق: ١٣] ﴿اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ﴾ [انشقاق: ١٤]

او دهٔ دنيا مخے ته نيولے او د دنيا په مالونو سره خپل ځان عزتمن او فقيرى سپكاوے ګنړى : ﴿فَاَمَّا الْاِنْسَانُ اِذَا مَا ابْتَلٰهُ رَبُّهٗ فَاَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَكْرَمَنِ وَاَمَّآ اِذَا مَا ابْتَلٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ اَهَانَنِ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ﴾ [فجر: ١٥-١٧]

يعنى عزت او ذلت په مال سره نهٔ دے بلكه په طاعت او عصيان سره دے، د طاعت والا عزتمن او د ګناه والا بے عزته دے۔

چه نعمت ترے لاړ شى نا اميده او چه نعمت راشى نو خوشحاله فخر كونكے دے او خپل رب هيروى : ﴿ وَلَئِنْ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنَّا رَحْمَةً ثُمَّ نَزَعْنَاهَا مِنْهُ اِنَّهٗ لَيَئُوْسٌ كَفُوْرٌ وَلَئِنْ اَذَقْنَاهُ نَعْمَآءَ بَعْدَ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ ذَهَبَ السَّيِّاٰتُ عَنِّيْ اِنَّهٗ لَفَرِحٌ فَخُوْرٌ ﴾ [هود: ٩، ١٠] (او كه مونږ انسان ته د خپل رحمت مزه وڅكوو، بيا هغه د هغهٔ نه راكاږو نو دا نا اُميده كيږى، او ناشكرى كوى۔ او كه مونږ د رزق د تنګئ نه روستو كومه چه هغه ته رسيدلى وى، د رزق فراخى وركړو نو وائى چه اوس زما د تكليفونو زمانه ختمه شوه، بيشكه دا ډير فخر كونكے، خپل صفتونه كونكے وى)۔

د الله په ملاقات ايمان نهٔ لرى : ﴿ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَ اِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَيًّا ﴾ [مريم: ٦٦]

دنيا په آخرت غوره كوى : ﴿ كَلَّا بَلْ تُحِبُّوْنَ الْعَاجِلَةَ وَتَذَرُوْنَ الْاٰخِرَةَ ﴾ [قيامه: ٢١:٢٢]

﴿ بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّ اَبْقٰى ﴾ [اعلى: ١٦:١٧]

كَلَّآ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَيَطْغٰى اَنْ رَّاٰهُ اسْتَغْنٰى اِنَّ اِلٰى رَبِّكَ الرُّجْعٰى ﴾ [علق: ٦-٨]

اسفل سافلين ته به ځى : ﴿ لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ثُمَّ رَدَدْنٰهُ اَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ﴾ [تين: ٤:٥]

او فرمائى: ﴿ وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴾ [عصر: ١:٢] ﴿ قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ مِنْ نُّطْفَةٍ خَلَقَهٗ فَقَدَّرَهٗ ثُمَّ السَّبِيْلَ يَسَّرَهٗ ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ ثُمَّ اِذَا شَآءَ اَنْشَرَهٗ كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ اَمَرَهٗ ﴾ [عبس: ١٧-٢٣]

Maktaba Tul Ishaat.com

او ارشاد دے : ﴿ أَنتُمُ الْفُقَرَآءُ إِلَى اللهِ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴾ [فاطر: ١٥]

او ارشاد دے : ﴿ مَالَكُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا شَفِيْعٍ ﴾ [سجده: ٤]

او انسان په دے مكلف دے چه ددے رذيله صفاتو نه خپل ځان پاك كړى او ددے خبائثو نه د خپل نفس تزكيه وكړى چه بيا به په دے وخت كښے دا د الله ولى او دوست جوړ شى: ﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَآءَ اللهِ لَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ لَهُمُ الْبُشْرٰى فِى الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِى الْآخِرَةِ لَا تَبْدِيْلَ لِكَلِمَاتِ اللهِ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ [يونس: ٦٢-٦٤]

او ارشاد دے : ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴾ [شمس: ٩] او فرمائى: ﴿ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهٖ فَصَلّٰى ﴾ [اعلى: ١٤، ١٥]

او ارشاد دے: ﴿ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ يَقُوْلُوْنَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ﴾ [نحل: ٣٢]

نو بيا دنيا او آخرت ددهٔ لپاره ده : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ [رحمٰن: ٤٦]

﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴾ [نازعات: ٤٠، ٤١]

امام ابن قيم رحمه الله په [الفوائد] كښے فرمائى : په انسان كښے د شادو لوبے، د سپى حرص، د خنزيرے شرمى، د عاديانو تمرّد، د ثموديانو غوندے د دنيا محبت، د فرعون سركشى، د ابو جهل ناپوهى او د وليد رذالت پروت دے، البته د الله په توفيق او مدد سره رياضت او محنت دا هرڅهٔ ختمولے شى۔

[١٠/ شوال : ١٤٣٣ هـ المسجد الحرام]

* * * * * *

٧٥ - فائده

د عزت، حفاظت او ښکلا نسخه

څوك چه خپل ځان د ټولو خلکو نه زيات ښائسته، ډولي، عزتمن او محفوظ غواړي، هغه دے يو څو قِسمه جامے واغوندي، او دے ته هر عاقل ضرورت لري:

١ - خپل ځان دے د علم په **لباس** او ددے په تقاضا ښائسته کړي، ارشاد دے: ﴿فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ﴾ [اعراف: ١٧٥] (نو هغه د هغے نه بهر ووتلو بيا شيطان د هغه پسے ولګيدو پس هغه د ګمراهانو نه شو).

علم يو ښائسته لباس دے څوك چه ددے د اصولو لحاظ نۀ ساتي بربنډيږي.

عمر - رضي الله عنه - فرمائي: علم زده کوئ او علم سره سکينه او وقار هم زده کوئ او د خپلو استاذانو او شاګردانو سره د تواضع معامله کوئ.

[أخرجه الخطيب في الجامع]

ابو عاصمؒ فرمائي: څوك چه علمِ حديث طلب کوي هغه د دنيا اعلىٰ ترين کارونه طلب کوي، نو دا ضروري ده چه دا د ټولو نه غوره کس وي.

[الجامع: ١/ ٧٨]

ابن سيرينؒ فرمائي: پخوانو علماؤ به وضع رفع داسے زده کوله لکه څنګه چه به دوئ علم يادولو.

ابن سيرينؒ يو سړے قاسمؒ ته ورولیږۀ او د هغۀ حال او ناستۀ پاسته ئے معلومه وله.

[حواله سابقه]

ابن المبارکؒ فرمائي: ماته مخلد بن حسينؒ وفرمايل: مونږ د ډير حديث طلب کولو په ځائے ډير ادب طلب کولو ته زيات محتاج يو.

[الجامع: ١/ ٨٠]

معلومه شوه چه علم يو ښائسته لباس دے، ددے لحاظ ساتل ضروري دي.

٢ - دويم قِسم: **د تـقـوٰي لباس**: ارشاد دے: ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ﴾ [اعراف: ٢٦] (او د پرهيزګارئ لباس ډير غوره دے).

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن عباس ﷺ فرمائي: د تقوىٰ د لباس نه مراد د نيك عمل جامه ده. عروةؒ فرمائي: دے نه مراد د الله د خشيت لباس دے. عثمان بن عفان ﷺ فرمائي: دا ښائسته ناسته پاسته ده.

شربينيؒ فرمائي: د تقوىٰ لباس غوره لباس دے، ځكه ددے په ويستو سره ظاهري او باطني عورت ښكاره كيږي، كه چرے انسان ښائسته جامے واغوندي خو تقوىٰ پكښے نۀ وي نو دا به ټول عورت عورت وي.

[السراج المنير: ۲/ ۱۸۸]

اوكه انسان تقوىٰ دار وي او هغۀ سره صرف دومره جامه وي چه ايله عورت ئے پرے پټ كړے وي نو دا به ډير جمال او كمال والا انسان وي. يو شاعر وائي:

إِذَا أَنْتَ لَمْ تَلْبَسْ ثِيَابًا مِنَ التُّقٰى * عَرِيْتَ وَإِنْ وَارَى الْقَمِيْصُ قَمِيْصُ

(كله چه تۀ د تقوىٰ جامے وانۀ غوندے نو اګركه تۀ د قميص دپاسه قميص واچوے بربنډ ئے).

ابو العتاهيةؒ فرمائي:

إِذَا الْمَرْءُ لَمْ يَلْبَسْ ثِيَابًا مِنَ التُّقٰى * تَقَلَّبَ عُرْيَانًا وَإِنْ كَانَ كَاسِيَا

وَخَيْرُ لِبَاسِ الْمَرْءِ طَاعَةُ رَبِّهِ * وَلَاخَيْرَ فِيْمَنْ كَانَ لِلّٰهِ عَاصِيَا

[تفسير القرطبي: ۷/ ۱۸٤]

نو دا هغه ډولي لباس دے چه انسان ورسره ښائسته كيږي.

۳ – دريم قِسم: د ايمان لباس : دا ډير غوره، كامل او ډولي لباس دے.

عبد الله بن عمرو – رضي الله عنه – فرمائي: نبي كريم ﷺ وفرمايل: [إِنَّ الْإِيْمَانَ لَيَخْلُقُ فِيْ جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلُقُ الثَّوْبُ فَاسْأَلُوا اللهَ أَنْ يُجَدِّدَ الْإِيْمَانَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ]

(ستاسو په سينو كښے ايمان داسے زړيږي لكه څنګه چه جامه زړيږي نو تاسو د الله نه وغواړئ چه ستاسو په زړونو كښے ايمان تازه كړي). [الصحيحة: ۱۵۸۵]

او نبي كريم ﷺ فرمائي: (د ايمان مثال د قميص پشان دے، قميص تا وويستۀ نو بيا دے واغوستۀ او وادے غوستۀ نو ودے ويستۀ). [مجمع الزوائد، كما تقدم في المجلد الأول]

نو ايمان ټول ډول ډول دے.

٤ – څلورم: دے سره حلم هم ضروري دے چه ددے په ډولي كيدو كښے هډو خبره نشته.

رجاء بن حيوةؒ فرمائي: هغه اسلام څومره ښائسته دے چه ايمان ډولے كړے وي! او هغه ايمان څومره ښائسته دے چه تقوىٰ ډولے كړے وي، او هغه تقوىٰ څومره ښائسته ده چه علم ډولي كړے وي، او هغه علم څومره ښائسته دے چه حِلم ډولي كړے وي، او هغه حلم څومره ښائسته

دے چه نرمئ ډولی کړے وی۔
[جامع بیان العلم وفضله: ۱/ ۱۲۶]

۵ - او نبی کریم ﷺ فرمائی: [لَایَکُوْنُ الرِّفْقُ فِیْ شَیْءٍ اِلَّا زَانَهُ، وَلَا یَنْزِعُ عَنْ شَیْءٍ اِلَّا شَانَهُ]
(نرمی چه کوم شئ ته ننوتے، ښائسته کړے ئے دے، او د کوم شئ نه چه وتے عیبژن کړے ئے دے)۔ [مسلم]

زهٔ وایم: که الله تاته د عافیت لباس واغوستولو او په دنیا او آخرت کښے ئے په خپل ښائسته پرده باندے پرده پوښ کړے نو دا ډیر ناشنا لباس دے۔

صحیح مسلم کښے دی: [مَا مِنْ عَبْدٍ سَتَرَهُ اللّٰهُ فِی الدُّنْیَا اِلَّا سَتَرَهُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ]
(په کوم بنده چه الله په دنیا کښے پرده واچوله، په آخرت کښے به ئے پرے خامخا اچوی)۔

د عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے دی: [ثَلَاثٌ أَحْلِفُ عَلَیْهِنَّ: لَایَجْعَلُ اللّٰهُ مَنْ لَهُ سَهْمٌ فِی الْاِسْلَامِ کَمَنْ لَّا سَهْمَ لَهُ. وَسِهَامُ الْاِسْلَامِ ثَلَاثَةٌ: اَلصَّوْمُ، وَالصَّلَاةُ، وَالصَّدَقَةُ. وَلَا یَتَوَلَّی اللّٰهُ عَبْدًا فَیُوَلِّیْهِ غَیْرُهُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. وَلَا یُحِبُّ رَجُلٌ قَوْمًا اِلَّا جَاءَ مَعَهُمْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. وَالرَّابِعَةُ: لَوْ حَلَفْتُ عَلَیْهَا لَمْ أَخَفْ أَنْ آثِمَ: لَا یَسْتُرُ اللّٰهُ عَبْدَهُ فِی الدُّنْیَا اِلَّا سَتَرَ عَلَیْهِ فِی الْآخِرَةِ]

(په درے شیانو زهٔ قسم کوم: (۱) چاته چه د اسلام برخه ملاؤ شوه هغه به الله د هغه چا پشان نهٔ جوړوی چه هغه ددے نه بے برخی وی۔ او د اسلام برخے درے دی: مونځ، روژه، صدقه۔ (۲) د کوم بنده ذمه چه الله واخسته، د قیامت په ورځ ئے بل چاته نهٔ حواله کوی۔ (۳) کوم سړے چه د یو قوم سره مینه لری، د قیامت په ورځ به خامخا د هغوئ سره راپاسی۔ او که زهٔ په څلورم شئ قسم وکړم نو ګنهګاره به نشم: الله چه په کوم بنده باندے په دنیا کښے پرده واچوی، په آخرت کښے به ئے خامخا پرے اچوی)۔ [الصحیحة: ۱۳۸۷]

په یو مرفوع حدیث کښے ډیره ښائسته دعاء راغلے:
[اَللّٰهُمَّ أَغْنِنِیْ بِالْعِلْمِ وَزَیِّنِّیْ بِالْحِلْمِ وَأَکْرِمْنِیْ بِالتَّقْوٰی وَجَمِّلْنِیْ بِالْعَافِیَةِ]
(اے الله! ما په علم سره مالداره، په بردبارئ سره ښائسته، په تقوئ سره عزتمن او په جوړښت سره ډولی کړی)۔ [ذکره المتقی فی الکنز: ۲/ ۱۸۵]

که دا دعاء دے قبوله شوه نو په دنیا او آخرت کښے به کامیاب او عزتمن شے۔

نو دا لباسونه اختیارول پکار دی ولے چه زینت، حفاظت، پرده پوشی او په دنیا او آخرت کښے کامیابی ده۔ [اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْأَلُكَ هٰذِهِ الْأَلْبِسَةَ کُلَّهَا وَمِثْلَهَا. آمِیْنَ!]

Maktaba Tul Ishaat.com

٧٦ - فائده : د عدل بيان

دا فائده واعظ، غافل، عاقل بلکه هر مؤمن ته نفع ورکوي.

عمر فاروق ﷺ فرمائي : په قرآن کښې يو جامع آيت دے. او عمر بن عبد العزيزؒ به د جُمعے په خطبه کښې ددے آيت لوستلو حکم فرمايلو، هغه دادے :

﴿ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيْتَاءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴾ [نحل: ٩٠] (بيشکه الله د انصاف او احسان او خپلوانو سره (د مالي) تعاون حکم کوي او د بے حيايئ او ناخوښه کارونو او سرکشئ نه منع کوي، هغه تاسو ته نصيحت کوي دے دپاره چه تاسو دا قبول کړئ).

په دے آيت کښے الله د درے خبرو حکم فرمايلے: (١) عدل (٢) احسان (٣) او خپل خپلوانو ته ورکړه. او د درے شيانو نه ئے منع فرمايلے: (١) فحشاء (٢) منکر (٣) او ظلم.

او دا آيت د ﴿ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ [نحل: ٨٩] نه پس راغلے.

دا آيتِ کريمه ډير جامع دے دا وجه ده مشرکانو هم ددے د کمال اقرار کړے.

وليد ووېل: [إِنَّ لَهُ لَحَلَاوَةً، وَإِنَّ لَهُ لَطَلَاوَةً، وَإِنَّ أَعْلَاهُ لَمُثْمِرٌ، وَإِنَّ أَسْفَلَهُ لَمُغْدِقٌ، وَإِنَّهُ لَيَعْلُوْ وَلَا يُعْلٰى عَلَيْهِ، وَمَا هُوَ بِقَوْلِ الْبَشَرِ] (بيشکه ددے لپاره يو خوند دے، او ددے لپاره يو حُسن او رونق دے، او ددے پورتنے طرف ميوه دار او لاندينے طرف ئے غونچکونو والا دے، او بيشکه دا پورته کيږي او هيڅ يو شے په دے پورته کولے نشي، او دا د انسان کلام نهٔ دے).

[ذکره البغوي في معالم التنزيل وغيره]

نو دلته الله تعالىٰ خپل اولنے امر عدل ذکر کړے، عدل څومره لوئے شے دے ! په دے آسمانونه او زمکه ولاړه ده، په دے سره د اهلِ حق او اهلِ باطل جداوالے راځي. په راتلونکي فائده کښے به معلومه شي چه د عدل نه مخ اړونکي څومره ډير خلك دي !

دے وجے نه، مومن له پکار دي چه په خپلو تمامو کارونو کښے د عدل نه کار واخلي او پوره کاميابي حاصله کړي. ان شاء الله تعالى.

٧٧ - ناشنا فائده

د عدل فضائل، اقسام او د عدل نه د اعراض کونکو اقسام

١ - الله تعالىٰ فرمائي: ﴿ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ ﴾ [نحل: ٩٠] (بيشکه الله د انصاف او احسان امر کوي).

او ارشاد دے: ﴿ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ﴾ [مائده: ٨]

او ارشاد دے: ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلٰى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ﴾ [مائده: ٨]

او الله تعالىٰ د عادلانو خلکو صفت کوي: ﴿ وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ ﴾ [اعراف: ١٨١] (او د هغه خلقو نه چه مونږ پيدا کړيدي يوه ډله داسے ده چه په حق دين روانه ده او د هغے مطابق فيصلے کوي).

او ارشاد دے: ﴿ وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى ﴾ [مائدة: ٦]

او ارشاد دے: ﴿ فَإِنْ فَآءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴾ [حجرات: ٩]

عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ: (انصاف کونکي خلك به د الله سره د هغهٔ ښي اړخ ته د نور په منبرونو وي او د الله دواړه لاسه ښي دي، او دا هغه خلك دي چه په خپلو فيصلو، خپل اهل وعيال او څهٔ چه دوئ ته سپارل شوي په هغے کښے عدل او انصاف کوي).

[صحيح مسلم، مشكاة: ٢/ ٣٢١]

ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (څوك چه په لسو کسانو هم امير مقرر شوے وي هغه به د قيامت په ورځ د مرئ نه تړل شوے وي تردے چه عدل به ئے خلاص کړي او يا ظلم به ئے تباه کړي).

[مسند دارمي، مشكاة: ٢/ ٣٢١، واسناده صحيح]

ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ:

[إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا: إِمَامٌ عَادِلٌ، وَإِنَّ أَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدَّهُمْ عَذَابًا - وَفِي رِوَايَةٍ: وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا - إِمَامٌ جَائِرٌ]

(د قيامت په ورځ الله ته ډير خوښ او الله ته په مجلس کښے د ټولو نه زيات نزدے عادل بادشاه

Maktaba Tul Ishaat.com

دي، او الله تـه د قيامت پـه ورځ ډير ناخوښه او سخت عذاب والا – او د يو روايت مطابق – د الله د مجلس نه ډير لرې – ظالم بادشاه دي)۔

[سنن الترمذی]

معاويه ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (اې معاويه ! كه تهٔ د يو كار واكدار او اختيارمن جوړ كړې شي نو الله نه يرېږه او عدل كوه۔ معاويه فرمائي: د رسول الله ﷺ ددې ارشاد له وجې به ما هميشه دا ګمان كولو چه زهٔ به په دې قِسم يو كار مبتلا كيږم تردې چه زهٔ پرې مبتلا شوم)۔

[مسند أحمد]

انس بن مالك ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (كله چه تاسو فيصلې كوئ نو د انصاف نه كار اخلئ اوكله چه وينا كوئ د احسان نه كار اخلئ ځكه الله عز وجل احسان كونكې دې احسان كوونكي خوښوي)۔

[رواه الطبرانی كما فی المجمع : ٥/ ١٩٧ ، وحسن الألبانی فی الصحيحة: ٤٦٩]

نعمان بن بشير ﷺ فرمائي: ماته مې پلار يوه ډالۍ راكړه نو زما مور عَمره بنت رواحه وويل: زهٔ تـر هغه وختـه پورې په دې كار راضي نهٔ يم ترڅو چه رسول الله ﷺ په دې كار ګواه شوې نهٔ وي، نـو زما پـلار رسول الله ﷺ ته راغې او عرض ئې وكړو: ما خپـل هغه ځوئې له چه د عمرې نه پيدا دې يـوه ډالۍ وركړې نو هغې ماته حكم وكړو چه زهٔ تاسو په دې كار ګواه جوړ كړم ! وې فرمايل: تـا خپـلـو ټولـو بـچـو لـه ددې پشان عطيه وركړې؟ هغهٔ ويل: نه۔ وې فرمايل: الله نه ويرېږئ او د خپل اولاد ترمينځه عدل كوئ۔ نو زما پلار واپس شو او خپله عطيه ئې واپس واغسته)۔

[بخاری ، مسلم]

ابو هريره ﷺ فـرمـائـي: رسـول الله ﷺ وفـرمايل: (يو سړې به اويا كاله نيك عمل كوي خو په خپـل وصيت كښې به د ظلم نه كار واخلي نو ددهٔ آخره خاتمه به په بد عمل سره وشي او اور ته به ننوځي۔ اويو سړې به اويا كاله بد عمل كوي او په خپل وصيت كښې به د عدل نه كار واخلي نو ددهٔ خاتمه به په نيك عمل سره وشي او جنت ته به داخل شي۔ ابو هريره ﷺ فرمائي: كه زړهٔ مو غـواړي نو دا آيت ولولئ: ﴿ تِلْكَ حُدُودُ اللهِ ﴾ [نساء: ١٣] (دا د الله (مـقرر كړي) حدونه دي)۔ تر ﴿عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ [نساء: ١٤] (پورې)۔ (او د هغهٔ لپاره به رسوا كونكې عذاب وي)۔

[ابوداود ، حديث صحيح]

عبـاده بن صامت ﷺ فـرمـائـي: مـونږ رسول الله ﷺ سره په سمع او طاعت باندې بيعت كړې سختـي وي كـه آسـانـي، زمونږ زړهٔ ئې غواړي اوكه نه، او په دې خبره مو ورسره هم بيعت كړې

چه مونږ به د هغه چا سره اختلاف نهٔ کوو چه هغه د واك او اختيار لائق دے او بله داكه مونږ هر چرته يو د عدل او انصاف خبره به کوو او د الله په باره کښے به د ملامتګر د ملامتيا پرواه نهٔ لرو.

[النسائي باسناد صحيح]

بريده ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: [اَلْقُضَاةُ ثَلاثَةٌ ، وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَان فِي النَّارِ: فَأَمَّا الَّذِىْ فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَىٰ بِهِ . وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ ، فَهُوَ فِي النَّارِ . وَرَجُلٌ قَضَىٰ لِلنَّاسِ عَلَىٰ جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ]

(قاضيان درے قسمه دی، يو په جنت کښے او دوه په اور کښے. کوم چه په جنت کښے دے نو دا هغه سړے دے چه حق ئے وپيژندهٔ او فيصله ئے پرے وکړه. او کوم دوه چه په اور کښے دی په هغوئ کښے يو تن هغه دے چه حق ئے وپيژندهٔ خو په فيصله کښے ئے ظلم وکړو، او بل هغه تن دے چه په ناپوهئ سره خلکو لپاره فيصلے کوي، دا دواړه په اور کښے دی).

[ابوداود، ابن ماجه، باسناد صحيح، مشكاة: ۲/ ۳۳۵]

عائشه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ : (د قيامت په ورځ به په قاضی باندے داسے حالت راشی چه په هغے کښے به هغه دا آرمان کوی چه کاش ! ما د يوے کهجورے په باره کښے د دوه کسانو ترمينځه فيصله نهٔ وے کړے).

[مسند احمد]

عبد الله بن ابی اوفی ﷺ فرمائي: (الله د قاضی ملګرے وی ترڅو چه ظلم ونهٔ کړی اوکله چه ظلم شروع کړی نو الله ترے لرے شي او شيطان ورسره ولړی) په يو روايت کښے دی: (کله چه ظلم وکړی نو الله ئے خپل ځانته وسپاری).

[سنن الترمذي وابن ماجه]

بيا د عدل او احسان ګڼړ مصداقونه دی :

۱ – عدل توحيد دے : يعنی د كلمهٔ توحيد ګواهي ده. (ابن عباس، طبری).

او احسان د الله په امر او نهي صبر کول او په پټه او ښکاره د الله طاعت کول دی.

۲ – عدل حقے فيصلے کولو ته وائی، او احسان چا باندے د انعام مهربانی کولو ته وائی.

۳ – عدل الله لپاره په عمل کولو کښے د خلوت او جلوت برابرئ ته وائی. او احسان ديته وائی چه د بنده پټ حالت د ښکاره نه ښهٔ وی. (سفيان بن عيينهٔ).

٤ – عدل توحيد دے، او احسان اخلاص دے.

٥ – عدل توحيد دے، او احسان فرائض ادا کول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

٦ – عدل توحيد دے، او احسان د الله داسے بندگي كول دي گويا هغه اللهويني۔
۷ – عدل توحيد دے، او احسان خلكو ته معافي كول دي۔ (مقاتل)۔
۸ – عدل توحيد دے، او احسان په خبرو كښے وي۔
۹ – عدل انصاف دے او احسان خلكو سره ښيگړه ده۔
۱۰ – قشيريؒ په خپل تفسير كښے وائي: الله انسان ته حكم كړے چه د خپل ځان سره، د بندگانو سره او د الله سره د عدل معامله وكړي۔
د ځان سره عدل دادے چه دا د تباهئ د سامان نه بچ كړي۔ ارشاد دے: ﴿وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى﴾ [نازعات: ٤٠] (او خپل نفس ئے دَ خواهش دَ تابعدارئ نه منع كړوي)۔ او ځان سره پوره عدل دادے چه ددے نه د طمعے رگونه وداغي۔
د خپل رب سره عدل دادے چه د خپل رب حق د خپل ځان په برخے غوره كړي او د خپل رب رضا د خپل مولىٰ نه سيوا د هر چا په رضا مخكښے كړي، د ټولو منع شوو كارونو نه لاس واخلي او تمام اوامر په خپل ځان لازم كړي۔
ۀ او د خلكو ترمينځ عدل دادے چه هغوئ سره د خير خواهئ معامله وكړي او په لږ او ډير شئ كښے د خيانت كولو نه ځان وساتي۔ او پوره انصاف دادے چه په خپل قول، فعل او نيت او ارادے سره هيچا له تكليف ورنۀ كړي۔ او احسان دادے: چه ستا په ذمه ټول حقونه ادا كړے تردے چه د خپل لاس لاندے مارغۀ په حق كښے هم كوتاهي ونۀ كړے۔ يا احسان دادے چه تۀ خپل ټول حقونه پريدے۔ ددے نه سيوا بل شئ احسان نۀ دے۔
۱۱ – سهلؒ فرمائي: عدل د: لا اله الا الله گواهي او د رسول الله ﷺ د سنتو پيروي ده۔ او احسان يو بل سره ښيگړه كول دي۔
۱۲ – محمد بن كعب قرظيؒ فرمائي: زۀ عمر بن عبد العزيزؒ راوغوښتم او وے فرمايل: ماته عدل بيان كړه۔ ما ويل: ډيره لويه خبره دے وپوښتله: د ماشوم لپاره پلار، د مشر لپاره ځوئے، د همزولي لپاره ورور جوړ شه او دغسے د ښځو لپاره هم۔ او خلكو له د هغوئ د جرمونو مطابق سزا وركوه، او په خپله غصه كښے په ناحقه يو چابك هم چاله مۀ وركوه گنے تۀ به د ظالمانو نه حساب شے۔
عيسىٰ عليه السلام فرمائي: احسان دادے چه څوك تاسره بدي وكړي تۀ ورسره نيكي وكړه۔
۱۳ – ابن عطيهؒ فرمائي: عدل هر فرض شوي شئ ته وائي كه هغه عقيده وي، كه احكام او كه معاملات وي لكه امانتونه ادا كول، ظلم او زياتے پريښودل او انصاف او حق وركول۔ او احسان:

هر مستحب شے کول دی، ځینے شیان تول مستحب وی او ځینے فرض وی خو دومره ده چه ددے نه د کفایت اندازه په عدل کښے داخله ده او د کفایت نه زیاتی تکمیل په احسان کښے داخل دے۔

١٤ - عدل حق یا حقه فیصله ده۔ (زاد المسیر)۔

١٥ - ابو سلیمانؒ فرمائی: د عربو په کلام کښے عدل انصاف دے او لوئے انصاف دادے چه د انعام کونکی په انعام اعتراف وکړے شی۔

یا عدل: شریکان ختمول او احسان د الله داسے بندګی کول چه ګویا تاته ښکاری، او د خلکو لپاره هغه شے خوښول کوم چه د ځان لپاره خوښوی۔ یا عدل: دادے چه انسان په عقائدو او اعمالو کښے د افراط او تفریط ترمینځه وی۔ یا عدل: فرضو ته او احسان نفلو ته وائی۔ (قرطبیؒ)۔

محاسبیؒ فرمائی: انسان صرف په درے خویونو عادل جوړیږی: (١) په علم سره چه دا وپیژنی چه زما په بل او د بل په ما کوم کوم حقونه دی۔ (٢) په کار سره (٣) په صبر سره۔ [أدب النفوس]

ظالمان څوك دی؟ یا په چا کښے عدل او انصاف نشته؟

نو مونږ وایو: د جهان زیاتره برخه - انسانان وی که پیریان - دغسے دی۔

١ - آیا څوك چه د خپل رب او خالق او د زمکو او آسمانونو پیدا کونکی نه منکر وی او دا عقیده لری چه دا کائنات په غیر د رب نه موجود شوی، حالانکه دے دا عقیده لری چه ددهٔ کور او دکان دیو فاعل او کونکی نه بغیر نشی موجودیدے۔ نو آیا دا انسان به ظالم او بے عدله بے انصافه نهٔ وی؟

ارشاد دے: ﴿ وَالْكَافِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ [بقره: ٢٥٤] (او کافران همدوئ ظالمان دی)۔

٢ - آیا څوك چه د بُت، قبر او ژوندی یا مړ شخص عبادت کوی، هغهٔ ته سجدے او عاجزئ کوی، په هغهٔ ځان سپاری او د خپل رب، منعم او پیدا کونکی نه مخ اړوی نو آیا دا به ظالم او بے انصافه نه وی؟ ارشاد دے: ﴿ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾ [لقمان: ١٣] (بیشکه شرك لوئے ظلم دے)۔

او ارشاد دے: ﴿ اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا إِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ أُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴾ [انعام: ٨٢] (هغه کسان چه ایمان ئے راوړو او دوی خپل ایمان د شرك سره ګډوډ نهٔ کړو، دوی لپاره امن دے او دوی په نیغه لار دی)۔

٣ - آیا څوك چه د الله رسول (ﷺ) پریدی او ایمان پرے نهٔ لری او خبره ئے نهٔ منی حالانکه هغهٔ ښکاره معجزے راوړی او د پخوانو انبیاؤ - علیهم السلام - د کتابونو نه ثابته شوے چه دا

Maktaba Tul Ishaat.com

حق نبي دے ؟ نو آيا دا به بے انصافه ظالم نهٔ وي؟ او دا يهود او نصارىٰ دي. ځينے خلك دوئ ته د عدل او انصاف والا وائي ! عجيبه خبره ده !

الله د دوئ په حقله فرمائي: ﴿ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ [بقره: ٢٥٨] (او الله ظالم قوم ته هدايت نهٔ كوي).

٤ – آيا څوك چه دا عقيده لري چه په قرآن او سنت كښے د دين او دنيا ټولے مسئلے نهٔ دي حل شوي، او ددے په ځائے نور وضعي قوانين او دستورونه لټوي او دا ګمان لري چه په دے كښے ترقي او خوشحالي ده، آيا دا به ظالم نهٔ وي؟ ارشاد دے: ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ [مائده: ٤٥] (او څوك چه د الله د طرفه د نازل شوي حكم مطابق فيصله نهٔ كوي نو همدا خالق ظالمان دي).

٥ – آيا څوك چه د الله په كتاب او د رسول الله ﷺ په سنت دا ګمان لري چه دا دواړه ناقص دي، او ټول خلك د څلورو امامانو قياسونو او پريشانه رائے ګانو ته محتاج دي، او كله په قرآن او حديث باندے سوالونه كوي چه د فلاني شئ حل په قرآن او حديث كښے وښايئ او د فلاني شئ ذكر په قرآن او سنت كښے وښايئ ! آيا دا كس به ظالم نهٔ وي چه د الله په كلام باندے د نقص او نيمګړتيا ګمان كوي؟ حالانكه قرآن خو د هريو شئ واضحه بيان كړے او د رسول الله ﷺ سنت كښے شپه نشته بلكه ورځ ورځ ده.

ارشاد دے: ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ﴾ [مائده: ٣] (نن ما تاسو له تاسو دين پوره كړو). او ارشاد دے : ﴿ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾ [انعام: ٢١] (او د هغه چا نه بل لوئي ظالم به څوك وي چه د الله په باره كښ ئے دروغ خبره وكړه (يعني څوك ئے شريك جوړ كړو) يا د هغه آيتونه ئے دروغجن وګڼړل، بيشكه ظلم كونكي به نهٔ كاميابيږي).

٦ – آيا څوك چه د رسول الله ﷺ نه زيات د خپل فقهي مذهب د مجتهد امام سره محبت لري نو دا به ظالم او بے انصافه نه وي؟ ددے نښه داده چه په حديث كښے به شل باطل تاويلات كوي خو د خپل امام خبره به پرے سموي.

٧ – آيا څوك چه د الله په بندګانو د الله پاكيزه شيان حراموي او دا ګمان لري چه په دے باندے الله خوشحاليږي دا به ظالم نهٔ وي ؟ لكه مانويه، هندوان، مشركان. ارشاد دے ﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ﴾ [اعراف: ٣٢] (ووايه چه د الله زينت چا حرام كړے كوم ئے چه خپلو بندګانو لپاره پيدا كړے، او پاكه روزي).

او غالي (سرتيزه) صوفيان هم دا كار كوي.

۸ - آیا څوك چه د وحدة الوجود عقيده لري او دا تول كائنات، تردے چه خپل ځان او خپله ښځه، خپل معبود ګنړی نو آیا دا به ظالم او خبيث مشرك نهٔ وی؟ حالانكه په زرونو دلائل پريدى چه هغه دلالت كوى چه الله د خپلو مخلوقاتو نه جدا او په عرش باندے استواء كونكے دے۔

۹ - څوك چه دا عقيده لرى چه الله بذاتِ خود په جهان كښے دننه په هر ځائے كښے دے، آیا دا به ظالم نهٔ وی چه الله په دنيا كښے دننه راګيروى؟ حالانكه الله خو ډير زيات لوئے دے او مخلوق د هغهٔ په نسبت سپك او وړوكے دے ! او د عالَم دپاسه د الله په پورته والى باندے د زرو نه زيات دلائل دى !

۱۰ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وی چه د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو - رضى الله عنهم - بدى بيانوى او د هغوئ تنقيص كوى ؟ حالانكه د انبياء كرامو - عليهم السلام - نه روستو په تمامو انسانانو كښے صحابه كرام غوره خلك دى۔ او الله په خپله په خپل كتاب كښے د دوئ مدح او صفت كړے او دوئ ته ئے خپل دوستان ويلى۔ او نبى كريم ﷺ د دوئ ډير زيات فضائل ذكر كړى۔

۱۱ - آیا هغه څوك به ظالمان نهٔ وی چه هغوئ د مسلمانانو حاكمانو او عوامو تولو ته كافر وائى حالانكه په دوئ كښے اسلام ماتوونكى شيان نهٔ وى موجود شوى! ددے خوارجو نښه رسول الله ﷺ دا ښودلے : [يُقَاتِلُوْنَ أَهْلَ الإِيْمَانِ ، وَيَدَعُوْنَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ] (دوئ به مشركان پريدى او د اهلِ ايمان سره به جنګونه كوى)۔

دا وجه ده، زمونږ د زمانے ((خوارج)) د اهلِ بدعت، اهلِ تقليد او د يهودو او نصاراؤ نه دفاع كوى او د اهلِ حقو په كتابونو باندے رد كوى۔

خوارجو اسلام او مسلمانانو ته په هر وخت كښے ډير زيات ضرر رسولے، دعوت او جهاد ته ئے ضرر رسولے، د مسلمانانو اتفاق ئے خراب كړے، په دوئ كښے ئے بد ګمانئ پيدا كړى او په غير د علم نه په ډيره بيباكئ سره فتوے وركوى۔ د دوئ مثال لكه د ليونو سپو دے چه د خپل كور په خلكو چكونه لړوى۔

۱۲ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وی چه هغه دا عقيده لرى چه صرف توحيد كافى دے او نورو نيكو اعمالو ته حاجت نشته ؟ سره ددے چه قرآن او سنت كښے نيكو اعمالو طرفته څومره ترغيب وركړے شوے ؟

۱۳ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وی چه صرف په خوراك څښاك او شهواتو پوره كولو كښے

Maktaba Tul Ishaat.com

لګیا دے او د خپل رب بندګي نهٔ کوي، د هغهٔ د ذکر او محبت، قرب او وصول او تعلق نه ناخبره دے، د هغے هیڅ پرواه نهٔ لري !

۱۴ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه په ناحقه د خلکو مللونه خوري ؟ سره ددے چه الله د خپلو بندګانو لپاره حلال پیدا کړي او پاکیزه رزقونه ئے رالیږلي !

۱۵ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه دوه او درے ښځے کوي او بیا ترے په سفرونو باندے څو څو کاله غائب وي؟ په اولنو ورځو کښے ترے خوند واخلي او بیائے دغسے بیکاره پریښې وي !

۱۶ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه په لونړو باندے ځامنو له ترجیح ورکوي ؟

۱۷ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه ځینے بچي په ځینو نورو باندے غوره کوي؟ حالانکه نبي کریم ﷺ نعمان بن بشیر - رضي الله عنه - ته فرمایلي وو: (زهٔ په ظالمانه فیصله باندے ګواه نهٔ جوړیږم)۔

۱۸ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه توله ورځ بکواس خبرے کوي او د خپل رب د ذکر نه غافله دے ؟

۱۹ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه اول نه آخره پورے اخبار ګوري او د الله د کتاب تلاوت ته وزګار نهٔ دے ؟ حالانکه په دے کښے خو د زړونو شفاء ده۔

۲۰ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه توله ورځ کمپیوټر او انټرنټ ته ناست وي او د الله ذکر، تلاوت او د هغے درس او تدریس او تدبر له وخت نهٔ ورکوي ؟

۲۱ -آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه خپله ښځه ئے وي او ددے باوجود نورو پردو ښځو طرفته توجه کوي او خپله ښځه پریدي ؟

۲۲ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه ځوانے لوریانے په کور کښے لري او د هغے د نکاح فکر نهٔ کوي او د هغے درد او غم نهٔ محسوسوي ؟

۲۳ - آیا هغه څوك به غټ ظالم نهٔ وي چه د مسلمانانو په خلاف د کافرو دفاع کوي او هغوئ لپاره د مسلمانانو جاسوسي کوي ؟

۲۴ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه د خپلے ښځے نه تاویږي او د خپل مور پلار خدمت نهٔ کوي؟

۲۵ -آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه خپله ښځه او بچي په کور کښے وساتي او خپل بوډاګان مور پلار د کوره وشړي؟

۲۶ - آیا هغه څوك به ظالم نهٔ وي چه په ناپ تول کښے کمے کوي ؟ ددے نه زیات ظالم به

هغه څوك وی چه د الله په دين کښې کمې زياتې کوی، حق ته باطل او باطل ته حق وائی، لکه چه دا د اهلِ بدعت او کټاس مقلدينو دين دے !

لنډه دا چه که فکر وکړے نو اکثر خلك او خپل ځان به هم د ظالمانو او د عدل اوانصاف پرېښودونکو نه وشمارے۔

دا وجه ده، الله تعالیٰ د عدل حکم فرمايلے: ﴿ إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ ﴾ [نحل: ۹۰] (بيشکه الله د انصاف او احسان حکم کوی)۔

[اَللّٰهمَّ إنا نسألك بإسمك الأعظم الأحب إليك أن تجعلنا من العادلين المحسنين ومن عبادك المخلصين الصادقين، آمين !]

[جمادی الثانية: ١٦/ ١٤٣٤ هـ يوم الجمعة]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۷۸ - بیداروونکي فائده

زمونږ په دې زمانه کښې د ایمان کمزوري ډیره زیاته شوې. مونږ دلته درې شیان ذکر کوو:
(۱) د ایمان د کمزورۍ راښکاره کیدو ځایونه. (۲) ددې اسباب او (۳) علاج.
کیدې شي چه الله تاله په دې فائدې سره نفع درکړي.
عام مسلمانان د زړهٔ سختیدو شکایت کوي او ځینې وائي: زهٔ په عبادت کښې خوند نهٔ مومم. ځینې وائي: د قرآن د تلاوت اثر نهٔ مومم. کله وائي: گناه ته په آسانۍ باندې ورځم. او ډیر خلك د ایمان د کمزورۍ شکایت کوي. او په ډیرو خلکو باندې ددې بیمارۍ آثار راښکاره کیږي. چه دا د ټولو مرضونو او مصیبتونو جرړه ده.
د زړهٔ دا خبره ډیره حساسه او مهمه موضوع ده، زړهٔ ته (قلب) ځکه وائي چه دا ډیر زر بدلیږي. نبی کریم ﷺ فرمائي: [اِنَّـمَا الْقَلْبُ مِنْ تَقَلُّبِهِ، اِنَّمَا مَثَلُ الْقَلْبِ كَمَثَلِ رِيْشَةٍ مُعَلَّقَةٍ فِيْ أَصْلِ شَجَرَةٍ يُقَلِّبُهَا الرِّيْحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ] (زړهٔ ته قلب د بدلیدو په وجه وائي، د زړهٔ مثال لکه د هغه بنړکې دې چه د وُنې په بیخ پورې نښتې وي او هواگانې ئې په مخ او شا اړوي راړوي).
[احمد: ٤/ ٤٠٨، صحيح الجامع: ٢٣٦]
د یقین په فائده (۲۵) کښې په اولنې جلد کښې حدیثونه تیر شول. (١/ ٢٤٧).
دلته مونږ د ایمان کمزوري، اسباب او علاج ذکر کول غواړو:
(۱) د ایمان د کمزورۍ راڅکاره کیدو ځایونه:
۱ -په گناهونو کښې پریوتل او حرام کړي کارونه کول:
ځینې خلك گناهونه کوي او په هغې همیش والې کوي. ځینې خلك قِسما قِسم گناهونه کوي او په دې باندې د همیش والي کولو په وجه دا ئې عادت وگرځي او دې سره آموخته شي، بیا په قلار قلار ددې قباحت ئې د زړهٔ نه وځي تردې چه بیا دا گناهونه ښهٔ ښکاره کوي او د نبی کریم ﷺ په دې وینا کښې خپل ځان شامل کړي: [كُلُّ أُمَّتِيْ مُعَافَى اِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ، وَاِنَّ مِنَ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَّعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحُ وَقَدْ سَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَيَقُوْلُ: يَا فُلَانُ! اِنِّيْ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللّٰهِ مِنْهُ]
(ښکاره گناهونه کونکو نه سیوا زما ټول امتیان به وبښلې شي. او دا هم په ښکاره گناه کښې راځي چه یو سړې د شپې یو عمل وکړي او بیا په داسې حال کښې صبا کړي چه الله پرې پرده

اچولے وي او دے خلکو ته وائي: اے فلانیه ! بیګاه ما دا ګناه وکړه، حالانکه د شپے ددۀ رب په دۀ پرده اچولے وي او صبا له دے په خپله د الله پرده د ځانه لرے کړي)۔
[بخاري]

۲ – د زړۀ سختي او زیګوالے محسوس تر دے چه انسان ته خپل زړۀ د کانړي پشان محسوسیږي چه د هغے نه هیڅ شے نۀ راوځي او د هیڅ شئ نه تاثر نۀ اخلي۔ الله تعالیٰ فرمائي:
﴿ ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوۡبُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالۡحِجَارَةِ اَوۡ اَشَدُّ قَسۡوَةً ﴾ [بقرة : ۷۴]
سخت زړي شخص باندے د مرګ یادولو یا د مړو لیدلو هیڅ اثر نۀ کیږي، که دے چرته په خپله هم په اوګو باندے جنازه یوسي او خاوروته ئے وسپاري مګر د قبرونو او کانړو ترمینځه تیریدل ددۀ په نیز یو برابر وي۔

۳ – عبادات په کامله توګه نۀ ادا کول: په مانځه، تلاوت، ذکر او دعاء کښے فکر او سوچ نۀ کول او دا بطور عادت لوستل، حالانکه الله د غافله زړۀ دعا نۀ قبلوي۔

۴ – په طاعات او عباداتو کښے سستي او ناراستي اختیارول او دا ضائع کول: او دا په داسے طریقه ادا کول چه صرف کالبوت ئے وي او روح په کښے نۀ وي۔ الله تعالیٰ د منافقانو صفت داسے کړے: ﴿ وَاِذَا قَامُوۡۤا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوۡا كُسَالٰى ﴾ [نساء: ۱۴۲]
(او کله چه مانځه ته پاځي نو سست پاځیږي)۔
په دے کښے دا هم داخل دي چه انسان د عباداتو د موسمونو او د عباداتو د وختونو اهتمام نۀ کوي، حج ترے فوت شي، غزا د لاسه وځي او دے ناست وي، د جماعت او جُمعے مونځونو نه ناخبره وي۔ حالانکه نبي کریم ﷺ فرمائي: [لَایَزَالُ قَوۡمٌ یَتَأَخَّرُوۡنَ عَنِ الصَّلَاةِ – وَفِیۡ رِوَایَةٍ : عَنِ الصَّفِّ الۡأَوَّلِ – حَتّٰی یُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِی النَّارِ]
(څۀ خلك به د مانځه نه – په یو روایت کښے دي: د اول صف نه – روستو روستو کیږي تر دے چه الله ئے په اور کښے هم روستو کړي)۔ [ابو داود: ۶۷۹]
او دا کس چه کله د فرض مانځه نه اودۀ پاتے شي او یا ترے سنت یا یو ورد او وظیفه پاتے شي نو ضمیر ئے نۀ ملامته کوي بلکه کله قصدًا سنت یا فرض کفائي حکمونه هم پریدي او ددے په قضائي راوړو کښے رغبت نۀ لري. کله د اختر او د کسوف مونځونو ته نۀ حاضریږي او د جنازے د مانځه هم پرواه نۀ لري، دے په اجر او ثواب کښے بے رغبته دے او د الله تعالیٰ ددے وینا برعکس روان وي چه د مومنانو په حقله فرمائي: ﴿ اِنَّهُمۡ كَانُوۡا يُسٰرِعُوۡنَ فِى الۡخَيۡرٰتِ وَيَدۡعُوۡنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ؕ وَكَانُوۡا لَنَا خٰشِعِيۡنَ ﴾ [انبیاء: ۹۰] (بیشکه چه دے خلقو به د خیر کارونو طرفته وړاندے والے کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

او مونږه به ئې دَ امید او ویرې په حالت کښې رابللو، او مونږ ته به ئې خشوع او خضوع کوله)۔

دغه شان د مقرره سنتونو، تهجدو او جوماتونو ته د وختې تللو او نفل کولو نه هم سستي او ناراستي کوي، د ثابت مونځ خو ددهٔ په وهم اوگمان کښې هم نهٔ راځي پاتې لا د توبې او استخارې مونځونه۔

۵ – سینه تنګیدل، مزاج بدلیدل او طبیعت رابنکل کیدل گویا په انسان باندې یو دروند بوج پروت دې، د معمولي کار په وجه زر تنګیدل او اُف اُف کول او ددهٔ خواته چه څهٔ وکړې شي په هغې تنګیدل او د نفس سَخا ختمیدل۔ حالانکه نبي کریم ﷺ د ایمان صفت داسې کړې : [اَلْاِیْمَانُ الصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ] (ایمان د صبر او سَخا نوم دې)۔ [الصحیحة: ۲/ ۸۶]

او د مومن صفت ئې دا کړې چه : دې به د خلکو سره مینه لري او په هغه چا کښې هیڅ خیر نشته چه نهٔ بل سره مینه کوي او نهٔ بل ددهٔ سره مینه کوي۔

[الصحیحة : ٤٢٧]

٦ – د الله د آیتونو نه، د هغې د وعد او وعید، امر او نهي نه او د قیامت د بیان نه هیڅ تاثر نهٔ اغستل۔ ضعیف الایمان شخص د قرآن آوریدو نه تنګیږي او ددې د پرله پسې لوستلو طاقت نهٔ لري، کله چه مصحف پرانیزي نو ډیر زر ئې بندوي۔

۷ – د الله په ذکر او دعا کښې غفلت کوي او کله چه د دعاء لپاره لاس پورته کړي نو ډیر زر ئې رابنند کړي او روان شي۔ الله تعالیٰ د منافقان صفت کړې : ﴿ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴾ [نساء: ١٤٢] (او الله معمولي شان (برائے نام) یادوي)۔

۸ – د الله د حرام کړو شیانو ارتکاب چه وکړې شي نو په هغې ورله غصه نهٔ ورځي ځکه ددهٔ په زړهٔ کښې د غیرت لمبه مړه شوې نو اندامونه ئې د رد کولو نه بیکاره شوي۔ د نیکۍ حکم او د بدۍ نه منع نهٔ کوي او د الله په باره کښې ئې هیڅ کله مخ بدلیږي نهٔ۔

ددهٔ زړهٔ د کُوزې غونته پرمخې شوې، نیکۍ ته نیکي او بدۍ ته بدي نهٔ وائي مګر که ددهٔ د خواهش برابره وي۔ [کما فی حدیث مسلم]۔

بلکه کله په یو ځائې کښې منکر واوري او په هغې راضي وي او د نبي ﷺ په دې وینا کښې داخل شي: (کله چه په زمکه کښې ګناه وشي نو څوك چه دیته حاضر شي او دا بده وګنړي نو داسې دې لکه څوك چه ددې نه غائب وي۔ او څوك چه ددې نه غائب وي او په دې خوشحاله وي نو داسې دې لکه څوك چه دیته حاضر شوې وي)۔

[ابوداود: ٤٣٤٥ ، صحیح الجامع: ٦٨٩]

دا حديث ډير قابلِ غور دے!

۹ – د شهرت سره مينه لرل. ددے څو شکله دي: يو دا چه د رياست او مشرئ سره مينه لري او د ذمه وارئ نه نهٔ يريږي، حالانکه نبي ﷺ ددے نه خلك ويرولي دي، فرمائي:
[إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُوْنَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُوْنُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَ الْفَاطِمَةُ]
[احمد، بخاري، نسائي] (تاسو د مشرئ ډير شوق لرئ خو دا به د قيامت په ورځ د افسوس سبب وي، په دنيا کښے مشري خو خوندوره وي مگر په آخرت کښے ددے حساب ډير گران دے).

بل شکل: د مجلس صدر مقام خوښول او د خبرو کښے شروع کولو سره مينه لرل. ديته په دے حديث کښے إشاره ده: [اِتَّقُوْا هٰذِهِ الْمَذَابِحَ – يَعْنِي الْمَحَارِيْبَ –] (تاسو ددے محرابونو نه ځان وساتئ) د محرابونو نه مراد صدرِ مجالس دي.
[رواه البيهقي وهو في صحيح الجامع]

بل شکل: کله چه چرته لاړ شي نو دا خوښوي چه خلك دے ورته ودريږي ځکه ددهٔ په ناجوړه نفس کښے د لويئ مينه پرته ده. حديث کښے دي: [مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ] (څوك چه دے خبرے سره مينه لري چه خلك دے ورته نيغ ولاړ وي نو دے دے خپل ځان له په اور کښے ځائے تيار کړي).
[رواه البخاري وغيره في الأدب المفرد]

۱۰ – شُحّ او بخل اختيارول: الله تعالىٰ د انصارو صفت په خپل کتاب کښے داسے کړے: ﴿ وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ [حشر: ۹] (دوئ په خپلو ځانونو باندے بل څوك غوره کوي اگرکه دوئ وږي وي). او الله بيان کړي دي چه څوك د خپل نفس د بخل نه بچ شو نو همدا کامياب دے.

او نبي کريم ﷺ فرمائي: [لَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيْمَانُ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا]
(سخت بخل او ايمان دواړه د يو بنده په زړهٔ کښے هيڅ کله نهٔ راجمع کيږي).
[صحيح بخاري: ۱۱/ ٦٢]

او د کمزوري ايمان خاوند د الله لپاره هيڅ شے نهٔ خرچ کوي اگرکه څوك ترے څهٔ وغواړي او يا په مسلمانانو ورونو کښے لوږه ښکاره شي او په دوئ مصيبت راشي.

ارشاد دے: ﴿ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ وَمَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ﴾ [محمد: ۳۸]

۱۱ – څهٔ چه وائي په هغے خپله عمل نهٔ کوي: او دا کار زمونږ پشان خلکو کښے ډير دے: ارشاد دے: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ﴾ [صف: ۲] (اے ايمان والو! تاسو داسے خبره

Maktaba Tul Ishaat.com

ولې کوئ چه په هغې خپله عمل نهٔ کوئ)۔

دا ډیر زیات ویروونکې آیت دے !

واقعي چه دا یو قِسم منافقت دے، د چا وینا چه د عمل سره خلاف وي دے د الله په نیز خراب او د خلکو په نیز مکروه انسان دے۔ د قیامت په ورځ به اور والا د هغه کس حقیقت وپیژني چه هغهٔ د نیکۍ امر کولو خو خپله ئے نهٔ کولو او د بدۍ نه ئے خلك منع کول او خپله ترې نهٔ بچ کیدهٔ۔

۱۲ – ددهٔ مسلمانانو ورونو ته چه څهٔ تاوان، شکست، مصیبت یا نعمت ختمیدل ورسی نو دے خوشحالي محسوسوي، او دا صفت په بدعتیانو او منافقانو کښې ډیر دے چه دوئ د اهل السنت په مصیبتونو خوشحالیږي: ﴿ قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ [توبه: ۵۱] (ته ووایه چه مونږ ته به هغه څهٔ رارسي کوم چه الله زمونږ په قسمت کښې لیکلي دي، هغه زمونږ مالك دے، او مؤمنانو له صرف په الله بهروسه کول پکار دي)۔

۱۳ – یو کار ته د گنهگاریدو او نهٔ گنهگاریدو په نظر کتل : د ایمان د کمزورۍ بل نښه داده : چه د ځینو خلکو عادت دا وي چه کله دوئ د یو عمل په باره کښې پوښتنه کوي نو د نیکۍ د اعمالو پوښتنه نهٔ کوي بلکه دا پوښتنه کوي چه آیا په دے عمل څوك گنهگاریږي اوکه نهٔ ؟ او دا د شبهاتو او مکروهاتو په جال کښې نښتے وي او ددے نه د لرے کیدو خیال نهٔ ساتي، دے صرف د حرامو پوښتنه کوي۔ بلکه ځینې خلك چه کله د یو کار په حقله پوښتنه وکړي او ورته وویل شي چه دا کار حرام دے نو بیا دا پوښتنه کوي چه آیا ددے حراموالے سخت دے اوکه نهٔ ؟ او په دے کار کښې څومره گناه ده ؟ دے په وړو گناهونو کښې بیباکه وي۔ حالانکه نبي کریم ﷺ فرمائي: [إِيَّاكُمْ وَ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوْبِ فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللّٰهِ طَالِبًا] (تاسو د وړو گناهونو نه ځان بچ کړئ ځکه د الله له خوا ددے حساب کونکے شته دے)۔

او د ثوبان ﷺ حدیث مخکښې مونږ ذکر کړے وو چه : د نبي ﷺ په امت کښې به داسې خلك وي چه د غرونو هومره اعمال به راوړي او الله به ئے ورله نیست او نابود کړي، او دا هغه خلك دي چه مونځونه او تهجدونه کوي خو کله چه یواځې شي نو د الله حرام کړي شیان لوټ کوي۔

دا وجه ده، عبد الله بن مسعود ﷺ د مومن او منافق حالت بیانوي:

[إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرٰى ذُنُوْبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَّقَعَ عَلَيْهِ . وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرٰى ذُنُوْبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلٰى أَنْفِهِ فَقَالَ بِهِ هٰكَذَا]

(مومن خپل گناهونه داسې خطري گنړي گویا دے د یو غرهٔ لاندې ناست دے او د هغې د

راپرېوتو نه يريږي، او بدكاره انسان خپل گناهونه لكه د مچ غونته گڼري چه ددهٔ په پوزه كيني او دے ئے د لاس په اشارے سره والوزوي)۔ [صحيح بخاري]

۱٤ – وړے وړے نيكئ سپكے گڼړل: رسول الله ﷺ مونږ ددے نه منع كړي يو۔ ابن جري الهجمي – رضي الله عنه – فرمائي: زهٔ رسول الله ﷺ ته راغلم او عرض مے وكړو: يا رسول الله! مونږ كليوال خلك يو، مونږ ته څهٔ داسے خبره راوښايه چه الله رالـه په دے نفع راكړي۔ ومے فرمايل: هيڅ يوه نيكي سپكه مهٔ گڼره اگركه د خړوبه كونكي په لوښي كښے د خپلے بوقے نه اوبهٔ راړول ولے نهٔ وي، يا د خپل ورور سره د فراخ تندئ په حالت كښے خبرے كول ولے نهٔ وي)۔
[مسند احمد]

دا كارونه اگركه په ظاهره كښے واړهٔ دي ليكن د الله په نيز ددے قدر دے۔ د رسول الله ﷺ هغه خبره به د چا هيره شي چه هغه فرمائي: [مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلٰى ظَهْرِ طَرِيْقٍ فَقَالَ: وَاللّٰهِ لَأُنَحِّيَنَّ هٰذَا عَنْ طَرِيْقِ الْمُسْلِمِيْنَ لَا يُؤْذِيْهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ]
(يو سړے د يوے ونے په څانگه باندے چه د لارے دپاسه وه ورتير شهٔ، ويل: قسم په الله! دابه خامخا د لارے نه اخوا كوم هسے نهٔ چه مسلمانانو ته ضرر وركړي، نو په دے خبره هغه جنت ته داخل شو)۔ [صحيح مسلم]

دا قانون دے چه څوك واړهٔ اعمال سپك گڼري هغهٔ ته د غټو اعمالو توفيق نهٔ ملاويږي۔
نبي كريم ﷺ فرمائي: [مَنْ أَمَاطَ أَذًى عَنْ طَرِيْقِ الْمُسْلِمِيْنَ كُتِبَ لَهُ حَسَنَةٌ، وَمَنْ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ دَخَلَ الْجَنَّةَ] (څوك چه د مسلمانانو د لارے نه ضرري شے لرے كړي يوه نيكي به ورلـه وليكل شي، او چالپاره چه يوه نيكي وليكل شوه جنت ته به ځي)۔
[رواه البخاري في الأدب المفرد، وهو في الصحيحة: ٥/ ٣٨٧]

۱۵ – د مسلمانانو د مسائلو اهتمام نهٔ كول او په هغے كښے په دعاء، صدقه يا نصرت كولو سره شركت نهٔ كول: لكه په مسلمانانو ورونو باندے دشمن تسلط او غلبه وكړي يا پرے بله څهٔ پريشاني او مصيبت راشي نو دهٔ سره هيڅ غم نهٔ وي هركله چه دے په خپله روغ دے۔ دا د ايمان د كمزورئ نتيجه ده ولے چه دا د ايمان د تقاضا خلاف ده۔ نبي كريم ﷺ فرمائي: [إِنَّ الْمُؤْمِنَ مِنْ أَهْلِ الْإِيْمَانِ بِمَنْزِلِ الرَّأْسِ مِنَ الْجَسَدِ يَأْلَمُ الْمُؤْمِنُ لِأَهْلِ الْإِيْمَانِ كَمَا يَأْلَمُ الْجَسَدُ لِمَا فِي الرَّأْسِ]
(د مومن مثال د نورو مومنانو په نسبت لكه د بدن په نسبت د سر پشان دے، مؤمن به د نورو مومنانو لپاره داسے درد مند كيږي لكه څنگه چه نور بدن د سر لپاره درد مند كيږي)۔
[احمد، الصحيحة: ۱۱۳۷]

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۶ – د دوه محبت کونکو کسانو خپلو کښې محبت ختميدل : حديث کښې دي:
[مَاتَوَادَّ اثْنَانِ فِي اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَوْ فِي الْاِسْلَامِ فَيُفَرِّقُ بَيْنَهُمَا أَوَّلُ ذَنْبٍ -.وَفِيْ رِوَايَةٍ: فَفُرِّقَ بَيْنَهُمَا - اِلَّا بِذَنْبٍ يُحْدِثُهُ أَحَدُهُمَا]

(کوم دوه کسان چه خپلو کښې د الله لپاره يو بل سره مينه محبت لري او بيا په دوئ کښې جدائي راغله نو دا د هغه گناه په وجه راغله چه په دے دواړو کښې د يو تن نه صادره شوے).
[الأدب المفرد، احمد: ۲/ ٦٨، الصحيحة: ٦٥٧]

دے نه د گناه سپيرۀ توب معلوم شو. نو دا کوم وحشت چه انسان د خپل ځان او د خپلو ورونو ترمينځه محسوسوی نو دا د گناهونو په وجه د ايمان د خيرن کيدو نښه ده، ولے چه الله د گناه په وجه انسان د خپلو بندگانو د زړونو نه غورزوی چه بيا ددۀ ژوند ډير خراب وی.

۱۷ – د دين لپاره په کار کولو کښې خپل ځان ذمه وار نۀ گڼل : ددے د خورولو او خدمت کولو کوشش نۀ کول : حالانکه صحابه کرامو – رضی الله عنهم – به چه کله ايمان راوړو نو فوراً به ئے ذمه واری محسوسه کړه او د دين لپاره به ئے خپله فريضه ادا کړه، لکه په دے حقله د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – قيصے مشهورے دی.

۱۸ – د مصيبت يا پريشانئ راتلو په وخت جزع فزع کول :
کله چه څۀ مصيبت او پريشانی راشی نو ددۀ د ملا رگونه ريږی، توازن ئے خراب او ذهن ئے گډوډ شی او ددۀ په سترگو کښې تولے لارے بندے شی غمونه پرے سوارۀ شی. په قوی زړۀ سره د مصائبو مقابله نشی کولے، دا هر څۀ د ايمان د کمزورئ سبب دے. که چرے ددۀ ايمان مضبوط وے نو دے بـه ثابت قدم او غـټ نـه غټ مصيبت پـه وخت قوی عـزم او ارادے والا وے. والله المستعان.

۱۹ – ډيرے او زړۀ سختوونکے جگړے کول : نبی کريم ﷺ ارشاد فرمائی: [مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى اِلَّا أُوْتُوا الْجَدَلَ]

(د هدايت نه پس چه کوم قوم گمراه کيږی نو هغوئ ته جگړے ورکړے شی). [مسند احمد]
بـل حديث کښې دی: (زۀ د هغـه چا لپاره د جنت غاړے ته د کور ذمه واريم څوك چه جگړه پريږدی اگرکه په حقه ولے نۀ وی). [ابو داود]

۲۰ – دنيا سره ډيره مينه لرل او ددے په حصول باندے آرام موندل: په داسے طريقه سره زړۀ د دنيا سره لړول چه کله ددے څۀ برخه د انسان نه فوت شی لکه مال، جاه، منصب، کور وغيره نو ډير ناقلاره کيدل او درد محسوسول، خصوصًا کله چه خپل يو مسلمان ورور ووينی چه د دنيا

څهٔ برخه ئے حاصله کړے وی نو دے د هغهٔ په ليدو ډير درد او خفگان محسوسوی ځکه چه ددهٔ نه دا برخه فوت شوے ده۔ او کله ورسره حسد شروع کړی او د هغهٔ نه د نعمت لرے کيدو آرزو لری۔ او دا د ايمان د کمال سره منافي خبره ده۔ د نبی کريم ﷺ ارشاد دے :

[لَايَجْتَمِعَانِ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ: اَلْإِيْمَانُ وَالْحَسَدُ]

(دَيو بنده په زړهٔ کښے ايمان او حسد دواړه نهٔ راجمع کيږی)۔

[ابوداود، صحيح الجامع: ١٤٦٤]

۲۱ – د خپل نفس او د خوراك څښاك، لباس، كور او سورلئ د حد نه زيات اهتمام كول او د زياتی شيانو ډير زيات غم كول، خپل كور ډير زيات ښائسته كول، نرمے لباس اغوستل او په دے ډولونو كښے خپل مالونه او وختونه لړول۔ حالانكه ديته څهٔ ضرورت او حاجت نشته۔ بل طرفته ددهٔ مسلمانان وروڼه دے مالونو ته سخت حاجت او ضرورت لری او دے دا مالونه په مزو او چرچو كښے آلوزوی۔

معاذ رضی الله عنه نه روايت دے، رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ :

[إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللّٰهِ لَيْسُوْا بِالْمُتَنَعِّمِيْنَ]

(د مزے كونكو نه ځان وساته ځكه د الله خاص بندگان مزے كونكی نهٔ وی)۔

[ابونعيم: ٥/ ١٥٥ ، الصحيحة: ٣٥٣]

۲۲ – د ايمان بله كمزوری داده چه انسان مومنانو سره د مينے او فراخ تندئ نه كار نهٔ اخلی بلكه تندے ئے هر وخت تريو كړے وی، حالانكه نبی كريم ﷺ به ډيره مُسكا كوله۔

(۲) دويم : د ايمان د كمزورئ اسباب :

څهٔ خو مخكښے تير شو او څهٔ دادی :

۱ – د ايمانی فضاگانو او ماحولونو نه ډير وخت لپاره لرے وسيدل چه دا د ايمان د كمزورئ سبب گرځی۔ د الله ارشاد دے: ﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴾ [حديد: ١٦] (آيا ايمان والو لپاره وخت نهٔ دے راغلے چه د دوئ زړونه د الله په ياد سره او كوم حق (يعنی قرآن) چه نازل شوے، په هغے سره نرم شی، او د هغه خلقو غوندے نشی چه هغوئ ته ددے نه مخكښے كتاب وركړے شو، بيا په هغوئ باندے يوه اوږده موده تيره شوه، دے وجے نه د هغوئ زړونه سخت شول، او (نن) په دوئ كښں زياتره نافرمان دی)۔

آيت نه معلومه شوه چه د ايمانی فضا نه لرے والے د ايمان د كمزورئ باعث دے۔ مومن اگر كه

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله کم وي خو د خپلو ورونو په وجه ډير وي.

حسن بصريؒ فرمائي: زمونږ ورونه زمونږ د بال بچ نه زمونږ په نيز ډير زيات قيمتي دي ځکه زمونږ بال بچ مونږ ته دنيا رايادوي، او زمونږ ورونه آخرت رايادوي.

او دا چه کله ډير شي نو په زړهٔ کښې وحشت پيدا کوي او د دغه ماحولونو نه انسان متنفر کوي.

٢ – د نيك قيادت نه لرے والے: کوم شخص چه د يو نيك عمله استاذ نه علم زده کوي چه هغه علمِ نافع او عمل صالح جمع کړے وي او د قوي ايمان خاوند وي، هغه د خپل دغه شاګرد خيال ساتي او په هغهٔ کښې چه کوم علم، اخلاق او فضائل وي هغه ورله وخت په وخت ورکوي. نو کله دے د هغهٔ نه څهٔ وخته پورے لرے ووسيږي نو بيا شاګرد په خپل زړهٔ کښې سختي محسوسوي. دا وجه ده، کله چه رسول الله ﷺ وفات شو او خاورو ته وسپارل شو، صحابه کرامو – رضي الله عنهم – په خپلو زړونو کښې ناشنا والے محسوس کړو. نن صبا نيك قيادت ته ډير زيات ضرورت دے.

٣ – د شرعي علم طلب کولو او د ايماني کتابونو د مطالعے نه لرے والے:

د الله رب العزت کتاب او د حديثو کتابونه او بيا د با عمله علماؤ د وعظ او رقت کتابونه لکه د علامه ابن قيمؒ، علامه ابن رجبؒ وغيره کتابونو مطالعه کولو سره زړهٔ ژوندے کيږي. ددے کتابونو نه لاس اغستل او يواځے فکري کتابونو کښې يا د هغه احکامو په کتابونو مشغوليدل چه هغه د دليل نه خالي وي يا د لغت، نحو او صَرف او اصولو په کتابونو مشغوليدل، نو دا کله د انسان په زړهٔ کښې سختي پيدا کوي. د ايماني کتابونو نه لرے والے په انسان باندے ښکاره اثر کوي لکه څوك چه د فلسفے، منطق، مجلات او دنيوي علمونو کتابونه مطالعه کوي نو دا په هغوئ کښې ښکاره ده.

٤ – په داسے معاشره کښې وسيدل چه هلته ګناه ګناه وي، دا يوتن په ګناه فخر کوي، دا بل په ګانو بجانو خوش آوازي کوي، دا يو نشائي دے، دا بل فوټوګرافر، دے بل سره فحش لټريچر دے، او هغه بل خپله خُلهٔ په بدو ردو، کنځلو، ګپ شپ، غيبت، چغلئ وغيره باندے ګنده کړے. او داسے نور ګناهونه.

او مجلسونه هم د دنيا په تذکرو، د کارونو او تنخواګانو په مشکلاتو، او د حکومتي اخبارو اوانتخاباتو په ذکر باندے ډك دي. کورونه په ګپ شپ، لغوياتو، د نارينه او زنانه په ګډون او د خوراك څښاك په تذکرو باندے آباد وي. نو دا قِسم فضا د مسلمان زړهٔ سختوي او په دے کښې

ايماني رڼړا ختميږي۔ والله المستعان۔

۵ – په دنيا کښې دومره زيات مشغوليدل چه انسان ددې بنده وګرځي : نبي کريم ﷺ فرمائي: [تَعِسَ عَبْدُ الدِّيْنَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ]

(د روپۍ او اشرفۍ بنده خو دې الله تباه کړي)۔

او فرمائي: [إِنَّمَا يَكْفِيْ أَحَدُكُمْ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ]

(تاسو له دومره دنيا حاصلول کافي دي لکه د سور مسافر توښه)۔ [رواه الطبراني]

دا مصيبت زمونږ په دې دور کښې ډير عام دې۔ هر طرفته خلك په دنيا کښې ورننوتي دي نو ايمان به چرته حاصليږي ؟

٦ – مال دولت، ښځې او بچو سره ډير وخت تيرول : د الله تعالىٰ ارشاد دې : ﴿ إِنَّمَآ أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ﴾ [تغابن: ١٥] (ياد لرئ چه ستاسو دولت او ستاسو اولاد يو آزمائش دې)۔

او ارشاد دې: ﴿ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ﴾ [آل عمران: ١٤]

(خلقو ته د خواهشاتو محبت ښائسته کړې شوې، يعنى د ښځو محبت، د ځامنو محبت، د سرو او سپينو د خزانو محبت، پاللې شوى اسونو، چارپايانو او فصلونو محبت، دا ټول څيزونه د دنياوى ژوند سامان دې۔ او ښائسته ځائې د وسيدو خو د الله سره دې)۔

په دې آيت کښې د فکر والو لپاره ډير غټ اشارات دي۔

۷ – اوږدۀ اميدونه لرل : د الله تعالىٰ ارشاد دې: ﴿ ذَرْهُمْ يَأْكُلُوْا وَيَتَمَتَّعُوْا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴾ [حجر: ٣] (اې زما نبى!) تۀ دوى د دوى په حال پريده چه خوراك وکړى او مزې وکړى او آرزوګانو دوى لره په غفلت کښې اچولي، نو زردې چه دوى ته به خپل انجام معلوم شي)۔

علي ﷺ فرمائي: [إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ اِتِّبَاعَ الْهَوٰى ، وَطُوْلَ الْأَمَلِ . فَأَمَّا اتِّبَاعَ الْهَوٰى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ . وَأَمَّا طُوْلُ الْأَمَلِ فَيُنْسَى الْآخِرَةَ]

(زۀ په تاسو باندې د ټولونه زيات په دوه شيانو ډير يريږم۔ يو د خواهش تابعدارى او بل اوږدۀ اميدونه۔ د خواهش تابعدارى د حق نه انسان بندوى، او اوږدۀ اميدونه آخرت هيروى)۔

د اوږدۀ اميدونو په وجه په عبادت کښې سستي، په توبه کښې نن صبا کول، په دنيا کښې رغبت، د آخرت هيروالې او په زړۀ کښې سختي پيدا کيږي، ځکه زړۀ د مرګ، قبر، ثواب او عذاب او د قيامت د سختيو په رايادولو سره نرميږي۔

بعضې سلفو نه نقل دي : د چا اميدونه چه کم شول غم به ئې کم او زړۀ به ئې روښانه شي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۸ – د ایمان د کمزورئ بل سبب : ډیر خوراك څښناك، ډیر خوبونه او ډیر اختلاط کول دي لکه چه دا خبره مخکښې هم تیره شوه. دارنګه ډیره ډیره خندا کول، لغویاتو کښې ننوتل وغیره هم ایمانی کمزوری پیدا کوی، او دا شیان نن صبا څومره زیات دي !

د ایماني کمزورئ علاج :

۱ – الله نه په کوشش او زارئ سره د ایمان د تازګئ دعاء غوښتل : نبی کریم ﷺ فرمائی: [إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَخْلُقُ فِيْ جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلُقُ الثَّوْبُ فَاسْأَلُوا اللهَ أَنْ يُجَدِّدَ الْإِيمَانَ فِيْ قُلُوبِكُمْ]

(ایمان ستاسو په ډدونو کښې داسې زړیږی څنګه چه جامه زړیږی نو تاسو د الله نه غوارئ چه ستاسو په زړونو کښې ایمان تازه ساتی).

[الحاكم، الصحيحة: ١٥٨٥]

۲ – د ایمان زیاتیدو لپاره کوشش کول : ولې که کوشش ونۀ کړے شی نو د انسان زړۀ خامخا خرابیږی، دے وجے نه د ایمان صفائی کوشش غواړی او خیرنتیا خپله راځی.

حدیث کښې دی : [مَا مِنَ الْقُلُوبِ قَلْبٌ إِلَّا وَلَهُ سَحَابَةٌ كَسَحَابَةِ الْقَمَرِ بَيْنَمَا الْقَمَرُ مُضِيءٌ إِذْ عَلَتْهُ سَحَابَةٌ فَأَظْلَمَ إِذْ تَجَلَّتْ عَنْهُ فَأَضَاءَ]

(د هر یو زړۀ لپاره د سپوږمۍ د وریځې پشان یوه وریځ ده، سپوږمۍ روښانه وی چه وریځ پرے دپاسه شی نو تیارۀ شی، او کله چه ترے اخوا شی نو رڼا شی).

[ابو نعيم، الصحيحة: ٢٢٦٨]

دے کښې اشاره ده چه د ایمان حفاظت لپاره کوشش کول ضروری دی.

۳ – دا خبره پیژندل چه په ایمان کښې زیاتے کمے راځی : لکه چه دا د اهل السنت والجماعت عقیده ده چه ایمان په نیکئ کولو زیاتیږی او په ګناه او غفلت کولو کمیږی. کله چه په دے پوهه وی نو د خپل ایمان د حفاظت او زیاتولو کوشش به کوی.

ځینے سلف فرمائی: د انسان فقه (اوپوهه) داده چه د خپل ایمان خیال او ددے د کمی خیال ساتی. او د بنده فقه داده چه د خپل ایمان په کمی زیاتی پوهه شی. او د سری فقه داده چه د شیطان په وسوسو پوهه شی چه د کومه خوا ورته راځی ؟

٤ – په قرآن کښې فکر کول : ولې چه دا ددے لپاره کامیابه دوائی ده، لکه ددے تفصیل مخکښې تیر شو.

٥ – د قرآن په مثالونو کښې فکر کول : په دے کښې عجیب ایمان دے. که ژوند وو نو په دے باندے زما د یو عجیب تفسیر لیکلو اراده ده. ان شاء الله.

٦ – د الله د عظمت شعور لرل او د هغهٔ اسماء او صفات پیژندل او په هغې کښې فکر کول، د هغې معنې پیژندل، په زړهٔ کښې دا شعور ننه ایستل او اندامونو ته ددې سرایت کول:

قرآن او سنت کښې ډیر نصوص دی چه هغه د الله په عظمت اولویئ باندې دلالت کوی، په هغې کښې فکر کول پکار دی۔

٧ – د ذکر په حلقو کښې کیناستل، چه دې سره ایمان زیاتیږی: په نبوی احادیثو کښې ددې ګنړ اسباب ذکر شوی، لکه یو حدیث کښې دی: [لَا یَقْعُدُ قَوْمٌ یَذْکُرُوْنَ اللهَ اِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِکَةُ وَغَشِیَتْهُمُ الرَّحْمَةَ وَنَزَلَتْ عَلَیْهِمُ السَّکِیْنَةُ وَذَکَرَهُمُ اللهُ فِیْمَنْ عِنْدَهُ]

(کوم قوم چه د الله ذکر ته کیناستل نو ملائك د دوئ نه خامخا ګیره اچوی، رحمت ئې پټوی، سکینه پرې نازلیږی او الله د دوئ تذکره په خپل مجلس کښې وی)۔ [مسلم: ٢١٨٠]

بل حدیث کښې دی: [مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ عَلٰی ذِکْرٍ فَتَفَرَّقُوْا اِلَّا قِیْلَ لَهُمْ قُوْمُوْا مَغْفُوْرًا لَّکُمْ]

(کوم خلك چه د الله په ذکر راجمع شول او بیا جدا شول نو دوئ ته ویلې کیږی: تاسو ښښلې شوی پاسیږئ)۔ [صحیح الجامع: ٥٥٠]

حافظ ابن حجرؒ فرمائی: د (ذکر) نه مراد په واجب یا مستحب اعمالو باندې همیش والې کول دی لکه د قرآن تلاوت، حدیث لوستل او د علم مذاکره (درس او تدریس) کول۔

[فتح الباری: ١١/ ٢٠٩]

په دې باندې د حنظلة الاسیدی ﷺ حدیث دلالت کوی، دا وائی: (ماسره ابو بکر ﷺ مخامخ شو، حنظلهؓ وائی: ماویل: حنظله خو منافق شوې۔ ابو بکر صدیق ﷺ ویل: سبحان الله! دا څهٔ وائې؟ هغه وائی: ما وویل: مونږ چه کله د رسول الله ﷺ سره یُو، هغه مونږ ته د جنت او اور تذکره کوی، نو زمونږ کیفیت داسې وی ګویا مونږ دا هرڅه مخامخ وینو، او کله چه مونږ د هغه د مجلس نه پاڅیږو، او د خپلو بیبیانو او بال بچ او زمکو سره اختلاط اوکړو، نو مونږ نه ډیرې هغه خبرې هیرې شی کومې چه مونږ ته رسول الله ﷺ کوی۔ ابو بکر صدیق ﷺ وفرمایل: مونږ هم دا کیفیت بیامومو۔ لاړل او د رسول الله ﷺ نه ئې پوښتنه وکړه۔ رسول الله ﷺ وفرمایل: (که چرې تاسو په هغه حالت باندې کوم چه زما په مجلس کښې ستاسو وی، باقی پاتې شئ، نو ملائك به تاسو سره ستاسو په بسترو او ستاسو په لارو کښې ملاقات وکړی۔ خو حنظله! یو ساعت دا، او یو ساعت دا۔ دا خبره ئې درې ځله وفرمایله)۔

[مسلم: ٢٧٥٠، مشکاة: ١/ ١٩٧]

صحابه کرامو به د ذکر د مجلسونو ډیر اهتمام کولو او دیته به ئې ایمان ویلو۔ معاذ رضی الله

Maktaba Tul Ishaat.com

عنه یو سړي ته وفرمایل: [اِجْلِسْ بِنَا نُؤْمِنُ سَاعَةً] (مونږ سره لږ ساعت کینه چه ایمان تازه کړو).
[بخاریٰ]

۸ – هغه شرعي علم طلب کول چه انسان د الله خشیت ته ورسوي: د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ﴾ [فاطر: ۲۸] (بیشکه د الله نه د هغهٔ په بندګانو کښې صرف علماء یریږي).

او فرمائی: ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴾ [زمر: ۹]
(اے زما نبی! ته ووایه: آیا پوهه او ناپوهه برابریدے شي، بیشکه صرف عقل والا نصیحت حاصلوي).

دا څنګه کیدے شي چه یو سړے د شریعت په احکامو، رازونو، تقاضو، د مرګ نه پس د قبر په فتنے، د محشر په سختیو، د قیامت په مواقفو، د جنتیانو او دوزخیانو په نعمتونو او عذابونو او په شریعت کښې د الله په حکمت او د هغهٔ په خلق او امر باندے عالم وي، دادے د هغه چا سره برابر وي چه هغه په دے شیانو جاهل دے، هغهٔ په خپل دین کښې صرف په تقلید باندے اکتفاء کړے او د دیني علم پنګه ئے بیخي کمه ده!!

دا واضحه خبره ده! خو د علم نه مراد هم ډیرے خبرے نهٔ دي. علم خو یوه رنړا ده چه الله ئے د خپل مومن بنده په زړهٔ کښې اچوي، په دے سره الله، د هغهٔ ولایت او د هغهٔ احکامو ته رسیږي.
[اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُم]!

۹ – نیك اعمال ډیر ډیر کول او خپل وخت په دے ډکول: دا د ایمان د کمزورئ ډیر لوئے علاج دے، ددے اثر د ایمان په قوي کیدو کښې ډیر زیات دے. ددے لویه عملي نمونه د صدیق ﷺ مثال دے، هر کله چه ددهٔ نه نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه: نن چا دَ روژے په حالت کښې صبا کړو؟ ابو بکر ﷺ ویل: ما. نبی ﷺ وفرمایل: نن ورځ څوك جنازے پسے تلے؟ ابو بکر ﷺ وویل: زهٔ. وے فرمایل: نن ورځ په تاسو کښې چا مسکین له خوراك ورکړے؟ ابو بکر ﷺ وویل: ما. وے فرمایل: نن ورځ چا بیمار پوښتنه کړے؟ ابو بکر ﷺ ویلے: ما. رسول الله ﷺ وفرمایل: دا کارونه چه په کوم مسلمان بنده کښې راجمع شي نو خامخا به جنت ته ځي).
[رواه مسلم: ۱۰۲۸]

فکر وکړه! صدیق ﷺ د اعمالو څومره پابندي کوي! بیا د رسول الله ﷺ دے تربیت ته وګوره چه عمل کونکو ته ئے ورکوي!

عبد الرحمن بن مهديّ فرمائی: که حماد بن سلمةؓ ته وویل شي چه: تهٔ به صبا له مرے نو دے

دا طاقت نهٔ لري چه په خپلو عملونو کښې زياتے پيدا کړي۔

[سير أعلام النبلاء ۱۷/ ٤٤٧]

○ بيا پکار دي چه مسلمان په خپلو نيکو اعمالو کښې ددې کارونو خيال وساتي :

○ جلتي کول : الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَسَارِعُوْا إِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ [آل عمران: ۱۳۳]

(او جلتي وکړئ د خپل رب ښښنے ته)۔

د عمير بن الحمام رضي الله عنه حديث هم په دې باب کښې راغلے۔

﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴾ [طه: ٨٤] (او زما ربه ! ما تاته په راتلو کښې جلتي دے لپاره وکړه چه تهٔ خوشحاله شے)۔

﴿ إِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴾ [انبياء: ۹۰] (نو مونږ د هغهٔ دعاء قبوله کړه او هغهٔ له مو يحيیٰ (ځوئے) ورکړو، او د هغهٔ ښځه مو د اولاد زيګولو قابله جوړه کړه، بيشکه چه دے خلقو به د خير کارونو طرفته وړاندے والے کولو او مونږه به ئے د اميد او ويرے په حالت کښې رابللو، او مونږ ته به ئے خشوع او خضوع کوله)۔

★ په دے باندے هميشه والے کول : حديث قدسي کښې الله فرمائي: [لَا يَزَالُ عَبْدِيْ يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰى أُحِبَّهٗ] (زما بنده هميشه ماته د نفلو په ذريعه ځان رانزدے کوي تردے چه زهٔ ئے خپل محبوب جوړ کړم)۔ [بخاري]۔

او د نبي کريم ﷺ دا عادت وو چه کله به ئے يو عمل شروع کړو نو هميشه به ئے کولو۔

★ ددے په اصلاح او دوام کښې کوشش کول: ځکه علاج تر يو خته پورے نهٔ وي بلکه مومن بنده به د خپل ځان علاج ترمرګه پورے کوي۔

دے باره کښې د سلفو احوال مشهور دي، خو په دے کښې به د آسانئ نه کار اخلي، ځکه نبي کريم ﷺ فرمائي: [اَلدِّيْنُ يُسْرٌ] (دين آسان دے)۔ او نبي کريم ﷺ د زينب رضي الله عنها هغه رسئ شلولے وه چه د دوه ستنو ترمينځه ئے تړلے وه، کله به چه په عبادت ستړے شوه نو هغے پورے به ئے ځان تړلو۔

★ د اعمالو قضائي راوړل : حديث کښې دي: [مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهٖ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهٗ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ: كُتِبَ لَهٗ كَأَنَّمَا قَرَأَهٗ مِنَ اللَّيْلِ]

(څوک چه د خپلے تهولے يا خپنے وظيفے نه د شپے اودهٔ پاتے شهٔ او بيا ئے هغه د سهار او د ماسپښين مانځه ترمينځه ولوستهٔ، نو ددهٔ لپاره به داسے وليکلے شي ګوياکه دهٔ د شپے لوستلے دے)۔ [مسلم: ۱/ ٥١٥، ابوداود، نسائي، ابن حبان: ٦/ ٣٦٩]۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نبي کريم ﷺ به د رواتبو (مقررو) سنتو قضائي راوړله، د ماسپخين د سنتو قضائي ئې د ماښځه نه پس راوړه، او د دوه رکعتو قضائي ئې د مازيګر نه پس راوړه، او کله به چه ترې تهجد پاتې شو نو د هغې قضائي به ئې هم راوړله.

۱۰ – کله يو عبادت کول او کله بل عبادت: لکه مونځ، روژه، زکاة، ذکر، دعاء، صدقه او جهاد: ځکه چه په دې کښې نفس ته راحت ملاوېږي او د هر عبادت لپاره يو خاصيت وي چه په بل کښې هغه نهٔ وي. او الله تعالیٰ د جنت دروازې د عباداتو په ډولونو مقرر کړې دي، ځوك چه د ماښځه والا وي هغهٔ به ته به د ماښځه د دروازې نه آواز کولې شي. ځوك چه جهاد والا وي هغهٔ ته به د جهاد د دروازې نه آواز کولې شي. ځوك چه د صدقې والا وي هغهٔ ته به د صدقې د دروازې نه آواز کولې شي، او ځوك چه د روژو والا وي هغه به د ريان دروازې نه رابللې شي. (لکه دا تفصيل د بخاري په حديث کښې راغلې).

د عباداتو په بدليدو سره ايمان زياتيږي، د زړهٔ سختي ورسره ختميږي او وخت ورسره آباديږي. والحمد لله.

دې سره به د بندګانو حقونه هم ادا کوي لکه مور پلار سره ښيګړه کول، خپلولي پالل، په يتيمانو او مسکينانو رحم کول، بيمار پوښتنه کول او جنازې پسې تلل او داسې نور.

۱۱ – نبي کريم ﷺ ته يو سړې راغې او د خپل زړهٔ د سختئ شکايت ئې وکړو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: (آيا تهٔ غواړې چه ستا زړهٔ نرم شي او خپل حاجت ومومې؟ په يتيم رحم کوه، د هغهٔ په سر لاس راکاږه او د خپل خوراك نه په هغهٔ خوراك خوروه، زړهٔ به دې نرم شي او خپل حاجت به ومومې).

نو دا د ايمان د کمزورئ نيغه په نيغه علاج دې.

۱۲ – د خرابې خاتمې نه يريدل: دا هم د نيکيو د زياتوالي او د ګناهونو نه د منع کيدو سبب دې.

۱۳ – مرګ ډير ډير يادول: نبي کريم ﷺ فرمائي: [أَكْثِرُوْا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ: الْمَوْتِ] (تاسو خوندونه ختمونکے يعنې مرګ ډير يادوئ).

ددې مقصد لپاره زيارة القبور هم مناسب دې لکه نبي کريم ﷺ په دې امر فرمايلې.

ځوك چه مرګ ډير ډير يادوي، په درې شيانو سره ددهٔ عزت کيږي: (۱) په تادئ سره توبه کول. (۲) د زړهٔ قناعت. (۳) او په عبادت کښې تازګي.

او ځوك چه مرګ هيروي، هغهٔ له په درې شيانو سره سزا ملاوېږي: (۱) توبه کښې نن صبا کول. (۲) په ګذاره باندې ناراضه کيدل. (۳) او په عبادت کښې سستي کول.

۱٤ - د ایمان د تازګئ بل سبب: د آخرت منازل او پړاوونه رایادول: لکه حشر نشر، پُل صراط، جنت، جهنم او هغه نعمتونه او سزاګانې چه الله د خپلو اولیاؤ او دشمنانو لپاره تیارې کړی۔ دا فکر کول زړهٔ روښانه، نرم او ژوندے ساتی۔

۱۵ - د قدرتی نښو نښانو نه اثر اغستل: لکه نبی کریم ﷺ به چه کله وریځ ولیده نو مخ به ئے بدل شو، د نمر د تندر نیولو په وخت په ویره پاسیدهٔ، او کله چه د تباه شوو خلکو په ځایونو ورتیریدهٔ نو مزل ئے تیز کړو۔

۱٦ - د تهولو نه زیات قوی علاج: همیشه د الله په ذکر کښے وسیدل، خو په خوف، خشوع او ادب سره۔ ارشاد دے: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱذْكُرُوا ٱللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴾ [احزاب: ٤١، ٤٢] (اے ایمان والو! الله بنهٔ یادِ کړئ او صبا او بیګاه د هغهٔ تسبیح بیانوئ)۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: [لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ]

(ستا ژبه دے همیشه د الله په ذکر لونده وی)۔

د ذکر فوائد او فضائل ډیر زیات دی۔

۱۷ - الله سره مناجات کول او د هغهٔ په مخ کښے ډیره زیاته عاجزی اختیارول:

بنده چه څومره زیات عاجزی او ذلت اختیارونکے وی هغومره الله ته زیات نزدے وی، حدیث کښے دی: [أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ] (بنده دُ سجدے په حالت کښے الله ته ډیر زیات نزدے وی)۔

انکسار او خشوع د ایمان د تازګئ د غټو اسبابو نه یو سبب دے۔

۱۸ - امیدونه لنډول: د ایمان په تازګئ کښے دا هم ضروری دی، په دے باره کښے دا آیت هم کافی دے: ﴿ أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَـٰهُمْ سِنِينَ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴾ [شعراء: ۲۰۵-۲۰۷] (آیا تا فکر کړے چه که مونږ ډیرو کلونو پورے دوئ له په دنیا کښ عیش ورکړو بیا دوئ ته هغه عذاب راشی چه د هغې وعده ورسره سره کیږی نو دَ دوئ عیش پرستی به دوئ د عذاب نه خلاص نهٔ کړی)۔

۱۹ - د دنیا په سپکوالی کښے سوچ کول دے لپاره چه دے سره ئے د زړهٔ تعلق ختم شی۔ ارشاد دے: ﴿ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلْغُرُورِ ﴾ [آل عمران: ۱۸۵]

(او د دنیا ژوند صرف د دهوکے سامان دے)۔

۲۰ - د الله د دین د نښو نښانو ادب او احترام کول: ارشاد دے: ﴿ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَـٰٓئِرَ ٱللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ ﴾ [حج: ۳۲] (پورتنئ خبرے دَ اهمیت لائقے دی، او څوك چه دَ الله دَ شعائرو (نښو)

Maktaba Tul Ishaat.com

تعظیم کوی، نو دا کار دَ زړونو دَ پرهیزګارئ دلیل دے)۔

۲۱ – وَلاء، براء (دوستی، دشمنی) د ایمان زیاتولو لپاره ضروری ده۔

۲۲ – د زړونو د اعمالو خیال ساتل: لکه د الله محبت، د هغهٔ نه خوف، امید، توکل، حسنِ ظن، په هغهٔ او د هغهٔ په فیصله راضی کیدل، د هغهٔ شکر کول، هغهٔ سره په رشتیاؤ سره چلیدل، په هغهٔ یقین کول، اعتماد کول، هغهٔ ته توبه وښکل او دے سره زهد او ورع کول او په هر څهٔ کښے د هغهٔ لحاظ ساتل۔او د کتاب او سنت په ظاهر او باطن دواړو کښے پیروی کول۔ دا ټول شیان د ایمان په تازګئ کښے لوئے رول لوبوی۔

۲۳ – خپل نفس سره حساب کول: دا هم ضروری دی، ارشاد دے: ﴿وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ [حشر: ۱۸] (اے ایمان والو! الله نه یریږئ او هر یو انسان دے وګوری چه دهٔ دَ صبا (یعنی قیامت ورځے) لپاره څهٔ تیاری کړے)۔

عمر فاروق ﷛ فرمائی: تاسو سره د حساب کیدو نه مخکښے خپل ځان سره حساب وکړئ۔

۲۴ – د قوی علاجونو نه یو علاج دعاء هم ده: لکه نبی کریم ﷺ فرمائی: [إِنَّ الْإِيْمَانَ لَيَخْلَقُ فِيْ جَوْفِ أَحَدِكُمْ كَمَا يَخْلَقُ الثَّوْبُ فَاسْأَلُوا اللهَ أَنْ يُّجَدِّدَ الْإِيْمَانَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ]

(ایمان ستاسو په ډونو کښے داسے زړیږی څنګه چه جامه زړیږی نو تاسو د الله نه غواړئ چه ستاسو په زړونو کښے ایمان تازه ساتی)۔ [الحاکم، الصحیحة: ۱۵۸۵]

نو د لوئے الله نه غواړو چه زمونږ په زړونو کښے ایمان تازه کړی او مونږ په خپل طاعت، ذکر، شکر او د خپل دین په خدمت کښے استعمال کړی۔ آمین!

دا شیان ما مختصر ذکر کړل ځکه ددے زیاتره برخه مخکښے تیره شوے، او دا ډیره مهمه فائده ده، بعض علماؤ دا ددے عنوان لاندے ذکر کړے: [ظاهرة ضعف الایمان: أسبابها وعلاجها] فجزاه الله خیرا.

* * * * * *

۷۹ - فائده : د الله د اولیاؤ صفات

(دا په اولنی جلد کښې تیر شوی)

ابن عباس ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایهٔ : (درے شیان چه څوك اختیار کړی، د الله د ولایت او طاعت حقدار جوړیږی : (۱) بنیادی حلم، چه په دے سره د خپل ځان نه د کم عقل کم عقلتیا لرے کړی. (۲) رشتینے ورع، چه د الله د نافرمانیو نه ئے بچ کړی. (۳) ښهٔ خوئے چه په دے سره د خلکو سره سلوك کوی.

[ابن أبی الدنیا فی کتاب الأولیاء: ۱۰]

عمرو بن الجموح ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: (بنده لپاره صریح ایمان تر هغه وخته پورے لائق کیدے نشی تر څو چه هغه د الله لپاره محبت او د الله لپاره بغض ونهٔ کړی. کله چه د الله لپاره محبت او د الله لپاره بغض ولری نو دے د الله د ولایت مستحق شو. الله فرمائی: زما په بندګانو کښې زما اولیاء او دوستان هغه څوك دی چه هغوئ زما په ذکر سره یادولے شی او زهٔ د هغوئ په ذکر سره یادولے شم).

[ابن أبی الدنیا، فی کتاب الأولیاء: ۱۹]

ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ : (آیا زهٔ تاسو ته ستاسو د غوره مجلس والو خبر درنهٔ کړم : د چا لیدل چه تاسو ته الله رایاد کړی او د هغهٔ خبرے ستاسو په علم کښې زیاتے پیدا کړی او د هغهٔ عمل تاسو ته آخرت رایاد کړی).

بل روایت کښې دی : (د هغهٔ عمل تاسو له په آخرت کښې رغبت درکړی). [ابن أبی الدنیا: ۳۳]

ابو سعید الخدری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ : (آیا تاسو ته هغه څوك ونهٔ ښایم چه په تاسو کښې الله ته ډیر زیات خوښ دے ؟ هغوئ عرض وکړو: ولے نه یا رسول الله ! او مونږ ګمان راغے چه د یو خاص سری نوم به اخلی. وے فرمایل: په تاسو کښے الله ته ډیر زیات خوښ هغه څوك دے چه خلکو ته ډیر زیات خوښ وی. بیائے وفرمایل: آیا تاسو ته هغه څوك ونهٔ ښایم چه هغه په تاسو کښے الله ته ډیر زیات ناخوښه وی ؟ مونږ ویل: ولے نه ! او زمونږ ګمان راغے چه د یو سری نوم به اخلی. وے فرمایل: په تاسو کښے الله ته ډیر ناخوښه هغه څوك دے چه خلکو ته ډیر ناخوښه وی).

[ابن أبی الدنیا: ۳٤]

Maktaba Tul Ishaat.com

۸۰- فائده : د متقي بنده نهه خوفونه

کوم بنده چه د تقویٰ اراده لري هغهٔ له د نهه خوفونو ترمينځه وسيدل پکار دي، کيدے شي چه الله ئې په آخرت کښې د امن او سلامتيا کور ته او په دنيا کښې د متقيانو درجې ته ورسوي۔ او هغه دادي :

۱ - اول خوف: دا ويره لرل او دعا او زاري کول چه هسے نهٔ الله ئې خپلو هغه نيکيو ته ونهٔ سپاري د کومو په ذريعه چه د الله په بندگانو کښې خپل ځان عزتمن گڼري۔

۲ - د خپلو هغه نعمتونو د ناشکرئ نه خوف کول چه د هغې په سبب د خپل مولیٰ او مُنعم، الله عز وجل د شکر کولو نه غافله شوے دے۔ د عبادت په وخت هر وخت د خپل رب د حمد او ثناء او شکر استحضار لرل پکار دي۔

۳ - د نعمتونو د استدراج او پرله پسے والي نه خوف کول : ځکه حديث کښې دي:
[إِذَا رَأَيْتَ اللّٰهَ يُعْطِي الْعَبْدَ عَلٰى مَعَاصِيْهِ فَاعْلَمْ أَنَّهُ اسْتِدْرَاجٌ]
(کله چه تهٔ ووينې چه الله بنده له سره د نافرمانئ نه ورکړه کوي نو پو هه شه چه دا په قلار قلار رانيول دي)۔ [أصحاب السنن]

٤ - د خپلو نيکيو نه يريدل چه د هغې د ثواب اراده لري او د خپلو گناهونو نه يريدل چه هسے نهٔ ماته معلوم نهٔ وي او صباله ماته رابنکاره کړے شي۔

٥ - د خپلو هغه گناهونو نه يريدل چه هغه ئې خامخا کړي چه آيا ددے مغفرت به ورته شوے وي اوکه نه ؟

٦ - د خپل ځان په باره کښې د خلکو د جرمونو نه او تاوانونو نه يريدل، لکه غيبت، خيانت، تېگي او ناحقه مالونه خوړل وغيره او د دوئ حقونه نهٔ ادا کول۔

٧ - په راتلونکي عمر کښې د راپيښيدونکو خبرو نه يريدل، ولے چه په نفس کښې عجيب پټ صفات پراتهٔ دي۔

۸ - د مرگ نه مخکښې او د توبے نه مخکښې په دنيا کښې د فوري عذاب ورکړے کيدو نه يريدل، ځکه ډير خلك په خپلو گناهونو راونيول شول، ووژل شول، وشړل شول، په جيلونو او عذابونو اخته شول۔

۹ - د خپل ځان په باره کښې د الله د مخکني علم نه يريدل چه په لوح محفوظ کښې د دوه

کورونو نه په کومو یو کور کښې به ددهٔ نوم ثبت شوے وی۔

نو د ګناهونو نه یرېږه ځکه چه ددے سپیرهٔ توب رانزدے او تیارهٔ ئے سخته ده، او د نیکیو د مصیبتونو نه یره کوه، ددے په ذریعه د الله په بندګانو کبر مهٔ کوه او مهٔ زباتنه کوه، بلکه ددے نه یره کوه۔ کله چه دا خبره تا په خپل زړهٔ کښې ومونده نو دے وخت کښې به د الله له خوا ناشنا خیرونه ووینې۔ [اللهم استر عوراتنا وآمن روعاتنا يوم نلقاك]

[۲۷، جمادی الثانية: ١٤٣٤هـ]

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

٨١ - ډېره زياته نفعمنه فائده

په الله باندے د بد ګمانئ کولو قبائح او د ښهٔ ګمان فضائل :

د هر شر، کفر، شرك، منافقت، بدعت، تقليد، ګناه او غفلت جرړه :

په الله باندے بدګمانی کول دی۔ او د ايمان، يقين، محبت، توكل، اُنس، په الله اعتماد او د هر يو نيك عمل بنياد، په الله باندے ښهٔ ګمان كول دی۔ څومره چه د بنده ګمان په الله باندے ښهٔ وی د هغے په اندازه به عمل كوی او د عبادت او ايمان خوند به مومی۔ او څومره چه دا ښهٔ ګمان كمزورے كيږی نو خوند به كمزورے كيږی۔ او دا ډيره مهمه خبره ده او دا پيژندل او په ځان كښے راوستل ضروری دی۔

دے وجے نه، مونږ اوس په الله باندے د بدګمانئ قبائح، بيا د حُسنِ ظن فضائل، او بيا هغه اسباب ذكر كوو چه هغه په الله باندے په ښهٔ ګمان لرلو كښے مدد كوی :

١ - د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿ وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللهِ ظَنَّ السَّوْءِ عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾ [فتح: ٦] (او دے لپاره چه منافقانو سړو او ښځو له، او مشركانو سړو او ښځو له عذاب وركړی، كوم چه په الله بدګمانی كوی، مصيبت په دوئ باندے واپس راتلونكے دے، او الله دوئ ته غصه شوے، او په دوئ باندے ئے لعنت كړے، او دوئ له ئے جهنم تيار كړے، او دا ډيره زياته خرابه استوګنه ده)۔

معلومه شوه چه په الله بدګمانی كول د منافقانو او مشركانو فعل دے۔

او ارشاد دے: ﴿ وَتَظُنُّوْنَ بِاللهِ الظُّنُوْنَا ﴾ [احزاب: ١٠] (او تاسو په الله قِسما قِسم ګمانونه كول)۔

او ارشاد دے: ﴿ وَطَآئِفَةٌ قَدْ اَهَمَّتْهُمْ اَنْفُسُهُمْ يَظُنُّوْنَ بِاللهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ﴾ [آل عمران: ١٥٤] (او يوه بله ډله وه چه هغوی ته صرف خپل فكر لګيدے وو چه د الله په باره كښ ناحقه د جاهليت د دور په بدګمانيانو كښ اخته وو)۔

او ارشاد دے: ﴿ اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللهِ تُرِيْدُوْنَ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ [صافات: ٨٦، ٨٧] (آيا تاسو دروغ تړئ او د الله نه سيوا معبودان غواړئ نو د تمام جهان د رب په باره كښ ستاسو څهٔ خيال دے)

او فرمائي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا ﴾ [حجرات: ۱۲] (اے ایمان والو! تاسو دَ بدګمانئ دَ ډیرو خبرو نه پرهیز وکړئ، بیشکه بعضِ بدګماني ګناه ده، او بل چا پسے سوے مهٔ رنړا کوی).

او فرمائي: ﴿ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن يَنصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴾ [حج: ۱۵] (څوك چه دا ګمان كوی چه الله دَ خپل رسول (محمد) په دنیا او آخرت کښې مدد نهٔ کوی، نو هغهٔ له پکار دی چه چَته پورے یوه رسئ زوړنده کړی بیا خپله مرئ خفه کړی، بیا وګوری چه آیا دَ دهٔ دا کار هغه شے ختموی چه دے ئے غصه کړے دے).

او نبی کریم ﷺ فرمائي: [إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ]

(د بدګمانئ نه ځان وساتئ ځکه بدګماني تولو نه زیاته دروغژنه خبره ده). [صحيح بخاری]

جابر رضي الله عنه فرمائي: نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: (په تاسو کښے دے هیڅوك نهٔ مری مګر په داسے حال کښے چه په الله بانـدے ښهٔ ګمان لری، ولے څهٔ خلك صرف په دے خبره تباه شول چه هغوئ په الله بدګماني کوله، هغهٔ ورته وفرمایل: دا خو ستاسو هغه ګمان وو چه تاسو ئے برباد کړئ او تاسو د تاوانیانو نه جوړ شوئ).

[ابن أبي الدنيا: ٤]

۲ - په الله باندے د حُسنِ ظن کولو فضائل او فوائد:

جابر رضي الله عنه نه روایت دے، ما د نبی کریم ﷺ نه د هغوئ د وفات کیدو نه درے ورځے مخکښے واوریدل: (په تاسو کښے دے هیڅوك نهٔ مری مګر په داسے حال کښے چه په الله ښهٔ ګمان لری).

[صحيح مسلم]

واثله رضي الله عنه د یزید بن اسودؔ خواته په داسے حال کښے ورغے چه هغه بیمار وو، نو هغه شروع شو چه د واثله ورغوے به ئے راغستهٔ او په خپل مخ او تندی او کله په خپلے ځلے باندے به ئے کینښودهٔ، ځکه چه د هغهٔ دا لاس د رسول الله ﷺ د بدن مبارك سره لګیدلے وو، نو واثله وفرمایل: آیا ته ما دیو شئ نه چه زهٔ ئے درنه تپوسم نهٔ خبروے؟ هغه دا چه تهٔ په الله څنګه ګمان لرے؟ هغهٔ ویل: زهٔ په خپلو ګناهونو کښے ډوب یم او ددے په وجه د تباهئ سره مخامخ یم خو زهٔ ددے باوجود د الله د رحمت امیدوار یم. نو واثله رضي الله عنه الله اکبر ووایهٔ او دهٔ د تکبیر په آوریدو سره کور والو هم تکبیر ووایهٔ. واثله ویل: الله اکبر، ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے : الله عز وجل فرمائي: [أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ فَلْيَظُنَّ ظَانٌّ مَاشَاءَ]

(زهٔ د خپل بنده د ګمان مطابق چلیږم نو بنده چه څهٔ غواړی هغه ګمان دے په ما وکړی).

Maktaba Tul Ishaat.com

[ابن أبی الدنیا: ۲]

ابو هریره ﷺ فرمائي: نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: (الله عز وجل فرمائي: زهٔ د خپل بنده د گمان مطابق د هغهٔ سره چلیږم او زهٔ ددهٔ سره یم چرته چه ما یادوی).

[مسلم، ابن ابی الدنیا: ۳]

او ابو هریره ﷺ دا حدیث هم روایت کوی، چه نبی کریم ﷺ وفرمایل: [حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ]

(ښائسته گمان کول د ښائسته عبادت یوه برخه ده).

[حدیث صحیح، رواه ابن أبی الدنیا: ٦]

نو ښائسته گمان کول د ښائسته عبادت په وجه وی.

سلیم بن عامرؒ وائي: ما ابو هریره ﷺ نه په داسې حال کښې واوریدهٔ چه هغه د رسول الله ﷺ د منبر په خوا کښې وو، فرمایل ئې: رسول الله ﷺ ددې ورځې پشان ورځ او ددې میاشتې پشان میاشت کښې زمونږ ترمینځه ودریدهٔ او وې فرمایل: (اې خلکو! په رب العالمین باندې ښائسته گمان کوئ ځکه الله خپل بنده سره د هغهٔ د گمان مطابق چلیږی).

[ابن أبی الدنیا: ۵۷]

ابن مسعود ﷺ فرمائي: زما دې په هغه ذات قسَم وی چه هغهٔ نه سیوا بل هیڅوك د بندگۍ لائق نشته! هیڅ یو مومن بنده ته، په الله باندې د ښهٔ گمان کولو نه زیات ښائسته بل هیڅ یو شے نهٔ دے ورکړے شوے. او په هغه الله قسم دے چه د هغهٔ نه سیوا بل هیڅوك د عبادت لائق نشته! په الله باندې هیڅ یو بنده ښائسته گمان نهٔ کوی مگر خامخا ورله الله خپل دا گمان ورکوی، وجه داده چه هره ښیگړه د هغهٔ په لاس کښې ده.

[ابن أبی الدنیا: ۸۳]

احمد بن العباس النمری وائي:

وَإِنِّيْ لَأَرْجُو اللهَ حَتّٰى كَأَنَّنِيْ　　أَرىٰ بِجَمِيْلِ الظَّنِّ مَا اللهُ صَانِعُ

ابو عمران السلمی وائي:

وَإِنِّيْ لَآتِي الذَّنْبَ أَعْرِفُ قَدْرَهُ　　وَأَعْلَمُ أَنَّ اللهَ يَعْفُوْ وَيَغْفِرُ

وَلَئِنْ عَظَّمَ النَّاسُ الذُّنُوْبَ فَإِنَّهَا　　وَإِنْ عَظُمَتْ فِيْ رَحْمَةِ اللهِ تَصْغُرُ

محمود الوراق وائي:

مَازِلْتُ أَغْرِقُ فِي الإِسَاءَةِ دَائِبًا　　وَتَنَالُنِيْ بِالْعَفْوِ وَالْغُفْرَانِ

لَـمْ تَـنْتَـقِـصْـنِـيْ إِذْ أَسَـأْتُ وَزِدْتَّـنِـيْ حَتّٰـى كَـأَنَّ إِسَـاءَ تِـىْ إِحْسَـانُ
تُـوْلِـى الْـجَـمِـيْـلَ عَـلَـى الْقَبِيْحِ كَـأَنَّـمَـا يُـرْضِيْكَ مِـنِّـى الـزُّوْرُ وَالْبُهْتَـانُ
وَكَـأَنَّـنِـيْ بِـالـذَّنْـبِ أَلْتَمِسُ الـرِّضَـا إِذْ لَـمْ يَـضُـرْبِـىْ عِـنْـدَكَ الْعِصْيَـانُ

[حسن الظن لابن أبى الدنيا، ص: ١١٦، ونضرة النعيم: ٥/ ١٦٠٨]

(ترجمه ئے مخکښې تیره شوه)۔

٣ – هغه اسباب چه په حُسنِ ظن کښې فائده ورکوی:

١ – سورتِ حجر کښې الله خوف او رجاء بیان کړې، په دې آیت کښې ئے فکر وکړه: ﴿ قَالُوْا بَشَّرْنَاكَ بِالْحَقِّ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْقَانِطِيْنَ قَالَ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖٓ إِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴾ [حجر: ٥٥، ٥٦] (هغوی وویل، مونږ تا ته رشتینی زیرې درکوو، پدې وجه ته د نا امیده کیدونکو نه مۀ کیږه۔ ابراهیم ووېل، د گمراهانو نه سیوا د خپل رب د رحمت نه څوك نا امیده کیدے شی)۔

نو څوك چه د الله د رحمت نه نا امیدی کوی نو دۀ سمه لار خطا کړې ځکه د الله نه سیوا بل چا نه دې امید لری؟ په دې آیت کښې د الله نه د نا امیدئ او په هغۀ باندې د بدگمانئ د بیمارئ علاج دے۔

٢ – په دې آیت کښې فکر وکړه: ﴿ يٰبَنِيَّ اذْهَبُوْا فَتَحَسَّسُوْا مِنْ يُّوْسُفَ وَأَخِيْهِ وَلَا تَايْـَٔسُوْا مِنْ رَّوْحِ اللهِ إِنَّهٗ لَا يَايْـَٔسُ مِنْ رَّوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴾ [یوسف: ٨٧] (اے زما ځامنو! لاړشئ، د یوسف او د هغۀ د ورور معلومات وکړئ، او د الله د رحمت نه مۀ نا اُمیده کیږئ، یقیناً د الله د رحمت نه صرف کافران نا امیده کیږی)۔

د الله دا قانون دے چه خوشحالی او راحت د لږ مشقت نه پس راولی۔

٣ – او په دې آیت کښې فکر وکړه: ﴿ إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ [شرح: ٦]

(بیشکه سختئ نه پس آسانی وی)۔

او دا شرعی او کونی قاعده ده چه الله د سختئ نه پس آسانی راولی: ﴿ سَيَجْعَلُ اللهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ﴾ [طلاق: ٧] (زر دے چه الله به د تنگئ نه پس آسانی پیدا کړی)۔

٤ – او د الله دا وینا مۀ هیروه: ﴿ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلٰٓى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ﴾ [زمر: ٥٣] (اے زما نبی! ته ووایه، اے زما هغه بندگانو چه هغوئ په خپلو ځانونو باندې (د گناهونو په کولو سره) زیاتے کړې، تاسو د الله د رحمت نه مۀ نا امیده کیږئ، بیشکه الله تمام گناهونه بخښونکے دے)۔

نبی کریم ﷺ به ددې آیت په آخر کښې فرمایل: (او هغه هیڅ باك نۀ کوی)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۵ - او د الله په دې ارشاد کښې فکر وکړه: ﴿ مَا يَفْعَلُ اللهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ وَكَانَ اللهُ شَاكِرًا عَلِيمًا ﴾ [نساء: ١٤٧] (که تاسو شکر ادا کوئ او ایمان راوړئ نو الله تاسو له په عذاب در کولو څه کوي، او الله ډير قدردان او ډير علم والا دے).

الله خپلو بندګانو له عذاب نۀ ورکوي او نۀ ديته څۀ حاجت لري، هر کله چه دوئ په هغۀ ايمان لري او شکرئے کوي.

٦ - او د الله په دې ارشاد کښې فکر وکړه: ﴿ لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللهِ إِنَّ اللهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ ﴾ [رعد: ١١] (د هر يو لپاره يو بل پسے راتلونکی ملائك مقرر دي چه ددۀ نه مخکښې او روستو لګيا وي، او د الله د حکم مطابق د هغۀ حفاظت کوي، بيشکه الله تعالیٰ د هيڅ قوم نعمتونه تر هغه وخت پورے نۀ اخلي ترڅو چه هغوی خپلے نيکئ په ګناهونو سره بدلے نۀ کړي).

٧ - او په دے ارشاد کښې ښۀ فکر وکړه: ﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ ﴾ [شوری: ٣٠] (او تاسو ته چه څۀ مصيبت هم رسی، نو هغه ستاسو د کړو نتيجه وي، او هغه (ستاسو) ډير ګناهونه معاف کوي).

او په دے ارشاد کښې: ﴿ مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللهِ وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ ﴾ [نساء: ٧٩] (تا ته چه کوم خير هم در رسيږي نو دا د الله د طرف نه دے او کومه بدی چه رسيږي نو ستا د کړو نتيجه وي).

٨ - او په دے کښې: ﴿ وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ﴾ [شوریٰ: ٢٣] (او څوك چه کومه نيکی وکړي، مونږ په دے کښې د خپل طرفه يوه نيکی زياتوو).

٩ - او په دے کښې: ﴿ مَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴾ [شوریٰ: ٢٠] (څوك چه د آخرت د پټي (يعنی د اجر او ثواب) غوښتونکے وي، مونږ د هغۀ په پټی کښې اضافه کوو، او څوك چه د دنيا پټے (يعنی فائده) غواړي نو مونږ هغۀ له ددے څۀ برخه ورکوو، او په آخرت کښې به دۀ ته د اجر او ثواب هيڅ برخه نۀ ملاويږي).

١٠ - او په دے کښې: ﴿ وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ وَلَئِنْ مُتُّمْ أَوْ قُتِلْتُمْ لَإِلَى اللهِ تُحْشَرُونَ ﴾ [آل عمران: ١٥٧، ١٥٨] (او که تاسو د الله په لاره کښې قتل کړے شئ يا مرګ راشي نو د الله ښښنه او رحمت، د هغه مال او دولت نه زيات بهتر دے کوم چه دا خلق ئے راجمع کوي).

په دې مبارکو آيتونو کښې ډير لوئې اميد پروت دے، په دې کښې چه څوك فکر وکړي نو په الله ئے ښهٔ گمان پيدا کيږي۔

١١ – او فکر وکړه چه الله په خپله سراسر خير خير دے، حديث کښې دي: [وَاللّٰهُ خَيْرٌ] او الله تعالىٰ فرمائى: ﴿ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ﴾ [آل عمران: ٢٦] (ټول خيرونه ستا په لاس کښې دي)۔ او نبي کريم ﷺ فرمائى: [وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ] (او د شر نسبت تاته نهٔ کيږي)۔ او د الله تعالىٰ ارشاد دے:
﴿ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴾ [غافر: ٣١] ﴿ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعَالَمِيْنَ ﴾ [آل عمران: ١٠٨]

او فرمائى: ﴿ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴾ [حم سجده: ٤٦] (او ستا رب په خپلو بندگانو ظلم نهٔ کوي)۔

او فرمائى: ﴿ وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا ﴾ [کهف: ٤٩]

نو الله ټول خير خير دے، هيڅ شر په کښې نشته۔

امام رازيؒ فرمائى: **موجوده ذوات** په درے قِسمه دي:

(١) **اول قسم**: ټول خير چه هيڅ شر په کښې نهٔ وي: نو دا الله او ملائك دي۔

(٢) **دويم قسم**: ټول شر چه هيڅ خير په کښې نهٔ وي: او دا شيطانان او د جناتو نه د ابليس لښکرے۔

(٣) **دريم قسم**: چه خير او شر دواړه په کښې وي: او دا انسان دے۔

[ذکره الرازى فى تفسيره والترمذى فى نوادره]

نو د الله له خوا چه تاته څهٔ راځي هغه ټول خير دے او څهٔ تکليف چه تاته رسي نو دا د نفس له خوا دے۔

انسان چه کله فکر وکړي چه خير ټول د الله په لاس کښې دے، هغه ټول خيرونه ورکوي او هغه خير خوښوي او شر ناخوښه گنړي، نو په خپل رب ئے ښهٔ گمان پيدا شي چه بيا د هغهٔ سره مينه لري او هغهٔ ته نزدے والے تالاش کوي۔

١٢ – او د الله په اسماء حسنیٰ کښې په (الرؤف) نوم کښې فکر وکړه او دا هغه ذات ته وائي چه ډير زيات رحم والا وي (زجاجؒ) او دا د (الرحيم) دپاسه دے۔ بعضِ وائي: (رأفت) ضرر او سختي لرے کولو او (رحمت) نفعے او فائدے راښکلو ته وائي۔

١٣ – دارنگه په (اللطيف) نوم باندے سوچ وکړه، يعني هغه ذات چه په پټه سره په بندگانو احسان کونکے دے چه هغوئ ته پته هم نهٔ وي۔ [شرح اسماء الله الحسنى للزجاج]

١٤ – او په (الرحمن)، (ارحم الراحمين)، (نعم المولى)، (نعم النصير)، المحسن،

Maktaba Tul Ishaat.com

الجميل، الكريم، أكرم الأكرمين، المعطى، الجواد، ربّ العالمين او نورو نومونو كښې فكر وكړه چه دا نومونه الله د بنده زړۀ ته محبوب جوړوي او په الله باندې ورله ښۀ گمان پيدا كوي. د الله په نومونو كښې ټول خيرونه او بركتونه پراتۀ دي.

۱۵ – او په دې حديث كښې فكر وكړه: (الله تعالىٰ سل رحمتونه پيدا كړل، د هغې نه ئې يو راوليږۀ چه د هغې په وجه مخلوق په يو بل رحم كوي، تردې چه اسپه خپله خپره د خپل بچي نه وچتوي هسې نۀ چه هغې له تكليف وركړي. او نهه نوي رحمتونه ئې قيامت ته روستو كړي، كله چه د قيامت ورځ شي نو ددې رحمت سره به ئې پوره كړي).

[بخاري، مسلم]

نو آيا الله نه سيوا بل څوك ددې رحمت اندازه لږولې شي؟

۱۶ – او د الله په دې ارشاد كښې فكر وكړه: ﴿ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾ [انعام: ۱۲]

(هغۀ رحمت په خپل ځان لازم كړې).

بيا فرمائي: ﴿ كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾ [انعام: ۱۲]

او نبي كريم ﷺ فرمائي: [لَمَّا قَضَى اللّٰهُ الْخَلْقَ كَتَبَ كِتَابًا فَوْقَ الْعَرْشِ: سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ غَضَبِيْ] وَفِيْ رِوَايَةٍ: [إِنَّ رَحْمَتِيْ سَبَقَتْ أَوْ غَلَبَتْ غَضَبِيْ] [بخاري وغيره]

(الله چه كله مخلوق پيدا كۀ نو د عرش دپاسه ئې يو خط وليكۀ چه: زما رحمت زما په غضب باندې زورور او غالبه دې).

كه په دې كښې فكر وكړې نو په الله به دې حُسنِ ظن پيدا شي.

۱۷ – او مخكښې ((په اور كښې د ماشوم د نۀ غورزولو)) حديث تير شۀ.

عامر الرام وائي: يو ځل زۀ رسول الله ﷺ سره په داسې حالت كښې مخامخ شوم چه هغوئ د يوې وُنې لاندې د څادر دپاسه ناست وو او گير چاپيره ترې ملگرو حلقه جوړه كړې وه، په دې كښې يو سړې رامخامخ شو چه يو شے ئې په لاس كښې په څادر كښې رانغښتے وو، عرض ئې وكړو: يا رسول الله! كله چه ما تۀ وليدې نو زۀ ستا خواله راتلم، د يوې گڼې گورې وُنې نه ما د مرغو د بچو آوازونه واوريدل، ما هغه راواغستل او په خپل څادر كښې مې واچول، د هغوئ مور راغله او زما په سر گرځيدله، ما چه ورته د څادر نه بچي ښكاره كړل نو هغه هم په كښې راپريوته او هغه ټول مې راونغښتل او دادي ماسره په دې څادر كښې دي. نبي كريم ﷺ وفرمايل: دا واچوه، ما چه د څادر دپاسه واچول نو مورئې ورسره كلكه ناسته وه. رسول الله ﷺ وفرمايل: آيا تاسو ددې بچو د مور په رحم باندې تعجب كوئ، په هغه ذات مې دې قسم وي چه زۀ ئې په حقه نبي

راليږلے يم! الله تعالىٰ ددے بچو د مور نه هم ډير زيات په خپلو بندګانو مهربانه دے۔ دا بچي يوسه او د کوم ځائے نه چه دے راغستى دى هلته ئے کيده۔ نو هغه ئے يوړل او هم هلته ئے کيښودل۔
[ابوداود، ابن أبى الدنيا: ٢٠]

١٨ – او د هغه حديث نه هم حُسنِ ظن پيدا کيږى چه په هغے کښے راغلى: ((زمونږ رب به د خندا په حالت کښے تجلى فرمائى))۔ [حديث صحيح أخرجه ابن خزيمة]

دارنګه د ابو رزين رضى الله عنه د حديث نه چه دا فرمائى: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ: (زمونږ رب د بندګانو د نا اميدئ نه او د هغۀ د زر بدلون (يا خير) راوستو نه خاندى۔ ما عرض وکړو: يا رسول الله! آيا رب خاندى؟ وے فرمايل: هو! ما وويل: مونږ به هيڅ کله د هغه رب نه ے ښيګړے نشو چه هغه خاندى)۔
[ابن ماجه: ١٨١، والحديث صحيح]

دارنګه د حسن رضى الله عنه د حديث نه، دا وائى: يو بانډه چى نبى کريم ﷺ ته راغے ويلے يا رسول الله! د قيامت په ورځ به خلکو سره څوك حساب کوى؟ وے فرمايل: الله عز وجل. هغۀ ويل: د کعبے په رب مے دے قسَم وى! زۀ کامياب شوم، ځکه بيا خو به هغه خپل حق پريدى۔ يائے داسے وويل: بيا خو به هغه خپل حق نۀ اخلى۔

په بل روايت کښے دى: (د کعبے په رب مے دے قسَم وى! مونږ خلاص شو۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: دا څنګه؟ هغۀ ويل: ځکه عزتمن ذات چه زوروړ شى نو معافى کوى)۔

بعضِ بندګانو به ويل: ماته چه کله معلومه شوه چه زما رب عز وجل به زما حساب کوى نو مانه خفګان ختم شو، ځکه عزتمن ذات چه کله د خپل غلام سره حساب کوى نو احسان کوى۔ [ابن ابى الدنيا: ٢٦]

١٩ – په دے روايتونو کښے فکر وکړه، د الله تعالىٰ ارشاد دے: (اے د آدم ځويه! که ستا ګناهونه د آسمان بره فضا ته ورسى او بيا تۀ مانه ښښنه وغواړے او مانه اميد ولرے زۀ به تاته ښښنه وکړم او زۀ هيڅ پرواه نۀ لرم)۔ [مشكاة، باب الاستغفار]

په يو حديث کښے دى: ((که چرے بندګان ګناهونه نۀ کوى نو خامخا به الله داسے بندګان پيدا کړى چه هغوئ به ګناهونه کوى او ښښنه به ورته کوى ځکه چه هغه غفور رحيم دے))۔
[ابن أبى الدنيا: ٢٤]

د صحيح مسلم په حديث کښے دى: (که چرے تاسو ګناه نۀ کوئ نو الله به خامخا داسے قوم

Maktaba Tul Ishaat.com

پیدا کړي چه هغوئ به گناهونه کوي او الله به هغوئ ته به ښښنه کوي)۔

یو حدیث کښې دي: (الله هغه بنده خوښوي چه هغه په فتنه کښې پریوځي او ډیره زیاته توبه وېښکونکې وي)۔ [مشکاة : ۱]

واضحه دې وي چه په دې حدیثونو کښې گناه کولو طرفته ترغیب ورکول مقصد نهٔ دې، بلکه په دې کښې توبې او استغفار ته ترغیب ورکول مقصد دې، ځکه د الله عز وجل ښکلې نومونه او صفتونه دي۔ (الغفور)، الغفار، التواب، العفو نومونه هم په دې کښې دي۔ او دا نومونه مصداق غواړي نو که په دنیا کښې گناه نهٔ وي نو الله به چاته ښښنه او معافي کوي؟ دارنگه عفو او مغفرت یو ځائے غواړي او هغه گنهگار بنده دې چه ډیره زیاته توبه او استغفار غوښتونکې وي چه هغه د استغفار نه نهٔ ستړې کیږي۔ نو دا کس د دغه انعام مستحق دې۔ الله دې مونږ هم په دوئ کښې حساب کړي۔ دې وجې نه تهٔ د استغفار نه ستومانه کیږه مهٔ۔

۲۰ – په الله باندې په ښهٔ گمان لرلو کښې یو ناشنا سبب دادې چه انسان د الله رخصتونه او د هغهٔ عفوه او مغفرت او په معمولي عمل راضي کیدل رایاد کړي۔ لکه په حدیث کښې دي، نبي کریم ﷺ فرمائي: (الله ما سره زما په امت کښې د داسې شئ وعده کړې که چرې په هغې ډیر خلك خبر شي نو مونځ به پریدي)۔

[ذکره الألباني في الصحیحة]

د الله تعالی ارشاد دې: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا ﴾ [کهف: ۳۰] (بیشکه څوك چه ایمان راوړي او نیك عمل کوي مونږ د داسې ښه کارکونکو اجر نهٔ ضائع کوو)۔

او ارشاد دې : ﴿ فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ﴾ [آل عمران: ۱۹۵] (نو د دوي رب د دوي دعا قبوله کړه چه زهٔ ستاسو نه د هیچا نیك عمل نهٔ ضائع کوم که هغه سړې وي او که ښځه، تاسو ټول خپل مینځ کښې برابر یئ)۔

په حدیث کښې دي : [مَنْ شَهِدَ لَهُ أَرْبَعَةٌ بِخَيْرٍ أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ ، قُلْنَا: وَثَلَاثَةٌ؟قَالَ: وَثَلَاثَةٌ، قُلْنَا: وَاثْنَانِ؟ قَالَ: وَاثْنَانِ. ثُمَّ لَمْ نَسْأَلْهُ عَنِ الْوَاحِدِ، الْمُؤْمِنُوْنَ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ]

(چا لپاره چه څلور کسان د نیکئ گواهي ورکړي الله به ئې جنت ته بوځي۔ مونږ عرض وکړو: که درې کسان ورله گواهي ورکړي؟ وې فرمایل: د درې کسانو هم دا حکم دې۔ مونږ عرض وکړو: که دوه کسان وي؟ وې فرمایل: د دوه کسانو هم دا حکم دې۔ بیا ترې مونږ د یو کس پوښتنه ونهٔ کړه۔ مومنان په زمکه کښې د الله گواهان دي)۔

[صحيح بخاري]

او د ابن عباس رضی الله عنه په حديث کښې دي: [مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلٰى جَنَازَتِهِ أَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُوْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا إِلَّا شَفَّعَهُمُ اللّٰهُ فِيْهِ]

(کوم مسلمان سړے چه مړ شي اود هغهٔ په جنازه څلويښت داسے سړي ودرېږي چه هغوئ الله سره هيڅ شرك نهٔ وي کړے، نو خامخا به الله د هغهٔ په باره کښې د هغوئ شفاعت قبول کړي).

[صحيح مسلم]

عائشه رضي الله عنها فرمائي: نبي کريم ﷺ وفرمايل:

[مَا مِنْ مَيِّتٍ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَبْلُغُوْنَ مِائَةً كُلُّهُمْ يَشْفَعُوْنَ لَهُ: إِلَّا شُفِّعُوْا فِيْهِ]

(کوم مړي باندے چه د مسلمانانو نه د سلو کسانو يو ټولگے د جنازے مونځ وکړي او ټول ورله دعا غواړي نو الله به خامخا د هغهٔ په حقله د دوئ دعا قبوله کړي).

[صحيح مسلم]

په يو صحيح حديث کښې دي: (چاچه د مسلمانانو د لارے نه تکليف ورکونکے شے لرے کړو نو خامخا به هغهٔ لپاره يوه نيکي وليکل شي، او چا لپاره چه الله سره يوه نيکي وليکل شي الله به ئے د هغے په وجه جنت ته بوځي).

[الصحيحة]

او مخکښے د ابو ذر رضی الله عنه په حديث کښې هغه اعمال تير شول چه په هغے کښې هر يو جنت ته د ننوتو سبب دے، لکه مال ورکول، د مظلوم مدد کول، بے تجربے کس له کار جوړول، امر بالمعروف کول، يا چانه خپل شر بندول. والحمد لله.

دارنگه په دويم جلد (۲/ ۲۵۸) فائده: (۲۷) کښې څلويښت آسان خويونه تير شول چه هر يو جنت ته د ننوتو سبب دے.

دارنگه د نبي کريم ﷺ، شهيدانو، صالحينو شفاعت هم قابلِ اُميد شے دے د ارحم الراحمين د رحمت سره.

په يو حديث کښې دي: [أَخْرِجُوْا مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَكَانَ فِيْ قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ] (تاسو هر هغه څوك د اوره راوباسئ چه هغهٔ کلمه طيبه ويلې وي او د هغهٔ په زړهٔ کښې د ذرے هومره خير وي) [بخاري]

او مخکښے تير شو چه (اووهٔ کسان به الله د قيامت په ورځ د خپل سوري لاندے ووسوي. په هغے کښې يو هغه سړے وو چه هغهٔ په يواځے ځائے کښې الله رایاد کهٔ او د سترګو نه ئے وښکے

Maktaba Tul Ishaat.com

وبهيدے، بل هغه تن چه هغهٔ په ښی لاس صدقه ورکړه او کس ته پته ونهٔ لږيده۔
[صحيح بخاری]

د مسلم په حديث کښے دی: (په کوم بنده باندے چه الله په دنيا کښے پرده واچوله، په قيامت کښے به ئے پرے خامخا اچوی)۔

نو دا ډيره لويه وعده ده ! بلکه يو حديث کښے دی، نبی کريم ﷺ فرمائی: (په درے شيانو زهٔ قَسَم خورم۔ او يو څلورم شے هم دے که زهٔ په هغے قَسَم وخورم نو ګنهګار به نشم: کوم بنده باندے چه الله په دنيا کښے پرده واچوی، په قيامت کښے به ئے پرے خامخا اچوی)۔
[الصحيحة للألبانی]

په يو صحيح حديث کښے دی: (الله تعالیٰ به يو سړے راوغواړی او ورته به وفرمائی: خپل وزن ته دے حاضر شه او يوه بطاقه (وړوکے کاغذ) به راوړلے شی په هغے کښے به لا اله الا الله ليکلے وی، هغه کس به ووائی: دا ولے تلئ؟ الله به وفرمائی: نن ورځ به په تا ظلم نهٔ کيږی، نو دغه بطاقه به د تلے په يو چاېړی کښے او نهه نوی (٩٩) کتابونه به په بل چاېړی کښے واچول شی، نو دا کتابونه به سپك شی، او د الله د نوم په مقابله کښے هيڅ يو شے درنيدے نشی)۔
[انظر المشكاة، باب الحساب والميزان]

د الله نه د اميد، عفو، مغفرت او رحمت دلائل ډير زيات دی چه د هغے نه په الله باندے ښهٔ ګمان پيدا کيږی۔ هغه مونږ ذکر کوو:

٢١ – ابراهيمؒ فرمائی: سلفوؒ به دا خبره ښه ګڼړله چه کله بنده مری نو هغهٔ ته دے د هغهٔ نيك عملونه ورمخے ته کړے شی، دے دپاره چه په خپل رب ئے ښهٔ ګمان پيدا شی۔

٢٢ – انس ﷺ فرمائی: نبی کريم ﷺ يو ځوان کره ورغے او هغه مړ کيدهٔ نو وے فرمايل: تهٔ خپل ځان څنګه مومے؟ هغهٔ ويل: يا رسول الله ! زهٔ د الله نه اميد لرم او د خپلو ګناهونو نه يريږم، رسول الله ﷺ وفرمايل:

[لَا يَجْتَمِعَانِ فِىْ قَلْبِ عَبْدٍ فِىْ مِثْلِ هٰذَا الْمَوْطِنِ اِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ مَا يَرْجُوْ وَأَمِنَهُ مِمَّا يَخَافُ]

(دا دوه خويونه چه د کوم بنده په زړهٔ کښے راجمع شی نو الله به خامخا دهٔ ته ددهٔ اميد ورکړی او د څهٔ نه چه يريږی د هغے نه به ئے په امن کړی)۔

٢٣ – سفيان ثوریؒ فرمائی: زهٔ دا نهٔ خوښوم چه زما حساب کتاب دے زما مور پلار ته حواله کړے شی، زما رب ماله د خپل مور پلار نه ډير غوره دے۔

٢٤ – ادريس بن عبد الله مروزیؒ فرمائی: يو بانډه چی ناجوړه شهٔ او هغهٔ ته وويل شو چه تهٔ به

مرې۔ هغهٔ ویل: زهٔ به کوم طرفته ځم؟ خلکو ویل: الله رب العزت طرفته۔ هغهٔ ویل: نو بیا زهٔ ولې دا خبره بده ګنړم چه زهٔ هغه ذات طرفته لاړ شم چه زهٔ خیر او ښیګړه صرف د هغهٔ نه خوا وینم۔ [ابن أبی الدنیا : ٤٠]

۲۵ – غسانؒ فرمائی: نضر بن عبد الله بن حازمؒ ته د مرګ آثار رامخې ته شو نو هغهٔ ته وویل شو: خوشحاله شه! هغهٔ ویل: قسم په الله! زهٔ دا باك نهٔ کوم چه زهٔ مرم یا زهٔ ابل مقام ته ورلے شم، قسم په الله! زهٔ د خپل رب د بادشاهئ نه بل خوا نشم تلے، او د کوم حال نه چه ما بل حال ته نقل کوی نو خامخا به زما دپاره دا روستنے حالت د مخکنی نه غوره وی۔

[ابن أبی الدنیا: ٤١]

او رشتیا خبره ئے کړے ځکه الله مونږ ټولو سره همدا کار کړے۔ ولله الحمد والمنة۔

۲۶ – علی رضی الله عنه فرمائی: په قرآن کریم کښے ماته ډیر زیات خوښ دا آیتِ کریمه دے: ﴿ إِنَّ اللهَ لَايَغْفِرُأَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ [نساء: ٤٨] (بیشکه الله دا خبره نهٔ معاف کوی چه د هغهٔ سره څوك شریك جوړ شی، او ددے نه سیوا ګناهونه چا لره چه غواړی معاف کوی)

[ابن أبی الدنیا: ٥١]

۲۷ – علی رضی الله عنه دا هم فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے:

[مَنْ أَصَابَ فِي الدُّنْيَا ذَنْبًا فَعُوْقِبَ بِهٖ فَاللهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يَّثْنِيَ عُقُوْبَتَهٗ عَلٰى عَبْدِهٖ، وَمَنْ أَذْنَبَ فِي الدُّنْيَا ذَنْبًا فَسَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ، فَاللهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَّعُوْدَ فِيْ شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ]

(چا چه په دنیا کښے یوه ګناه وکړی او د هغے سزا ورته ملاؤ شوه نو دا خبره د الله د عدل خلاف ده چه خپل بنده له دوباره سزا ورکړی۔ او چا چه په دنیا کښے یوه ګناه وکړه او الله پرے پرده واچوله نو د الله د کریمی شان سره دا خبره خلاف ده چه هغه دے په داسے یو شئ کښے بیرته رجوع وکړی کوم ئے چه معاف کړے)۔

[البیهقی، المشکاة :۲، وابن أبی الدنیا: ۵۲، وهذا المعنی ورد فی أحادیث کثیرة]

که فکر وکړے نو مصیبتونه، دردونه او مرضونه هم یو قِسم نعمت دے، دے وجے نه د مصیبتونو په وخت په خپل رب باندے بدګمانی مهٔ کوه، ځکه ددے په وجه الله ستا ښنه کوی یا ستا درجه وچتوی او تانه ددے نه لوئے مصیبت لرے کوی۔

۲۸ – په راتلونکو دوه حدیثونو کښے فکر وکړه، په دے کښے ډیر لوئے امید پروت دے:

ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلے: (انبیاء کرامو علیهم السلام لپاره به د سرو زرو منبرونه کیښودے شی او هغوئ به پرے کینی او زما منبر به داسے پروت وی زهٔ به په هغے نهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

کینم بلکه د خپل رب مخامخ به د خپل امت په غم کښې ولاړیم چه هسې نهٔ ما جنت ته ولیږی او زما امت مانه روستو پاتې شي. زهٔ به ووایم: اې ربه ! د دویٔ نه زر حساب واخله نو دویٔ به راوبلل شي او حساب به ورسره وشي. نو ځینې به په کښې د الله په رحمت سره جنت ته لاړ شي، او ځینې به زما په شفاعت جنت ته ننوځی، زهٔ به همیشه دغسې شفاعت کوم تردې چه ماته به د هغه خلکو لپاره یو چیك راکړې شي چه هغوئ اور ته لیږل شوی دی، تردې چه د اور دربانچی مالك به ووائی: اې محمد ! تا د خپل رب د غصې لپاره د خپل امت نه په اور کښې څهٔ بدله پرې نښودله).

[ابن أبی الدنیا: ٦١]

عبد الله بن عمرو – رضی الله عنهما – فرمائی: نبی کریم ﷺ د ابراهیم علیه السلام دا وینا ولوستله: ﴿ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي وَمَنْ عَصَانِي فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ [ابراهیم: ٣٦] (اې زما ربه ! دې بتانو ډیر خلق گمراه کړیدی، نو څوك چه زما تابعداری کوی نو هغه به بیشکه زما نه وی، او څوك چه زما نافرمانی کوی نو بیشکه تهٔ ډیره ښښنه کونکې، بیحده رحم کونکې ئې) او د عیسیٰ علیه السلام دا وینا: ﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾ [مائده: ١١٨] (که تهٔ دوی له عذاب ورکوې نو بیشکه دوی ستا بندګان دی او که معاف کوې ئې نو بیشکه تهٔ زورور، لویٔ حکمتونو والا ئې) او دواړه لاسونه ئې پورته کړل او په ژړا شو، بیا ئې وفرمایل: اللهم أمتی ! أمتی ! او په ژړا شو. نو الله عز وجل وفرمایل: اې جبریل! محمد ته ورشه – او ستا رب خو ډیر ښهٔ پوهه دې – او پوښتنه ترې وکړه چه ولې ژاړې ؟ نو جبریل ورته راغې او پوښتنه ئې ترې وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته د خپلې خبرې خبر ورکړو، او الله خو ښهٔ پوهه دې. نو الله عز وجل وفرمایل: اې جبریل ! محمد ته ورشه او ورته ووایه: [إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِيْ أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوْؤُكَ] (مونږ به خامخا تا د خپل امت په باره کښې خوشحاله کوو او خفه کوو به دې نهٔ). [صحیح مسلم]

٢٩ – حذیفه ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایهٔ : (په هغه ذات قسَم دې چه د محمد (ﷺ) ساه د هغهٔ په لاس کښې ده ! د قیامت په ورځ به الله خامخا داسې ښښنه کوی چه د هیڅ یو بنده په خوا خاطر کښې هم نهٔ ده راغلې، په هغه ذات قسَم دې چه د محمد (ﷺ) ساه د هغهٔ په لاس کښې ده ! د قیامت په ورځ به الله خامخا داسې ښښنه کوی چه د هغې په وجه به ابلیس هم سر راپورته کړی او دا امید به ولری چه کیدې شي هغهٔ ته هم دا ورسی).

[ابن أبی الدنیا: ٩٤]

۳۰ – شيبة الزبيدیؒ وائی: زۀ د خپل نفس نه وویریدم نو د خپل رب نه مے امید ولرلو، نو زۀ غواړم چه د هغه چانه جدا شم چه د چانه یریږم او هغه چاته ورشم چانه چه امید لرم۔

۳۱ – بشر بن منصور سلمیؒ ته چه کله مرګ حاضر شو نو په خندا شو، او وے ویل: زۀ د هغه خلکو د مینځ نه وځم چه د هغوئ د فتنے نه یریږم، او هغه چاته ور روان یم چه د هغۀ په رحمت کښے هیڅ شك نۀ کووم۔

۳۲ – ابن عونؒ دا آیت ولوستۀ: ﴿ وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴾ [انبياء: ۱۰۷] (او مونږ تا لره دَ ټول جهان والو دپاره رحمت جوړولو سره را ولیږلو) ابن عونؒ وویل: زما دا امید دے چه الله به تاسو له عذاب درنۀ کړی۔

۳۳ – او ابن عونؒ دا آیت ولوستۀ: ﴿ وَكُنۡتُمۡ عَلٰى شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنۡقَذَكُمۡ مِّنۡهَا ﴾ [آل عمران: ۱۰۳] (او تاسو د اور د کندے په غاړه ولاړ وئ نو تاسو ئے ددے نه خلاص کړئ) او وے ویل: زۀ دا امید لرم چه ددے کندے نه د خلاصولو نه روستو به تاسو بیرته دیته ونۀ غورزوی۔

دا خبره یو بانډه چی کړے او ابن عباس رضی الله عنهما ئے تصدیق کړے۔ [کما فی کتب التفسیر سفیانؒ څۀ خلکو ته وفرمایل: ﴿ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴾ [بقره: ۱۹۵] په الله باندے ښۀ ګمان کوئ۔

عباده بن صامت ؓ فرمائی: یو سړے نبی کریم ﷺ ته راغے ویلے: اے د الله نبی! کوم یو عمل زیات غوره دے؟ ورته ئے وفرمایل: په الله باندے ایمان لرل او هغه رښتینے ګڼړل، او د هغۀ په لاره کښے جهاد کول۔ هغه کس وویل: یارسول الله! ددے نه آسانه غواړم! وے فرمایل: سخا او صبر۔ هغۀ وویل: یا رسول الله! دے نه هم آسان غواړم۔ وے فرمایل: الله چه تاله د کوم شئ په باره کښے فیصله کړے وی نو په هغے کښے په الله باندے تور مۀ لږوه۔

[أخرجه أحمد: ٥/ ٣١٨، الصحيحة: ٣٣٣٤]

حسن بصریؒ فرمائی: مؤمن په خپل رب ښۀ ګمان لری نو ځکه ښۀ عمل کوی، او منافق په خپل رب بدګمان لری نو ځکه بد عمل کوی۔

[القرطبی فی سورة الحاقة: ٢٦٩]

Maktaba Tul Ishaat.com

۸۲ - فائده : د الله په تقدیر راضي کیدل

دا فائده د مخکنۍ فائدې تکمیل کوي او دا خپله عظیم الشانه فائده ده۔

هغه دا چه مومن له مناسب دي چه د الله په قضاء او قدر او په هغه څۀ باندې راضي او خوشحاله وسي چه الله خپل بنده لپاره غوره کړې وي، ځکه چه هغه د خپل بنده لپاره صرف هغه شې غوره کوي چه په هغې کښې دده د دنیا او آخرت نفع وي۔ د رضا په حکم کښې د علماؤ اختلاف دې چه دا واجب ده اوکه مستحب؟ علامه ابن قیمؒ په [المدارج] کښې دا تفصیل کړې چه د الله د فعل په نسبت دا واجب ده، او د هغه مکروه او نابرداشته شئ په نسبت چه انسان په کښې واقع شوې – چه هغه درد او تکلیف دې – مستحب ده۔

زمونږ مقصد بعضِ هغه دلائل ذکر کول دي چه هغه د الله په تقدیر باندې راضي کیدل پیدا کوي او په دې باره کښې مدد کوي:

الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَمَنْ يُّؤْمِنْ م بِاللهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ﴾ [تغابن: ۱۱] (او څوك چه په الله ایمان ولري، الله دده زړۀ ته دَ صبر او استقامت لاره ښائي)۔

علقمهٓ فرمائي: دې نه مراد مصیبت دې چه بنده ته ورسي او په دې پو هه شي چه دا د الله له خوا دې نو تسلیم او رضا اختیار کړي۔ او ارشاد دې: ﴿ وَعَسٰٓى اَنْ تُحِبُّوْا شَيْـًٔا وَّهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ ﴾ [بقره: ۲۱۶] (او ډیر کرته تاسو ته به یو شې خوښ نۀ وي حال دا چه هغه به ستاسو لپاره ښۀ وي او ډیر کرته تاسو ته به یو شې خوښ وي حال دا چه هغه به ستاسو لپاره بد وي او الله پو هیږي او تاسو نه پو هیږئ)۔

صهیب ﷺ د رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوي: (د مؤمن معامله ناشنا ده او دده هر کار ښیګړه ده، او دا د مومن نه علاوه د بل هیچا لپاره نشته: که دۀ ته څۀ خوشحالي ورسي شکر کوي نو دا ورله غوره ده، اوکه څۀ تکلیف ورته ورسي صبر کوي نو دا ورله غوره ده)۔
[صحیح مسلم: ۲۹۹۹]

ثعلبه بصريؒ وائي: مونږ ته انس بن مالك ﷺ وفرمایل: زۀ تاسو ته یو داسې حدیث بیانوم چه مانه سیوا به هغه تاسو ته بل هیڅوك بیان نۀ کړي: مونږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو نو هغوئ وخاندل او وې فرمایل: پو هیږئ ما ولې وخاندل؟ خلکو ویل: الله او رسول ښۀ پو هه دي! وې فرمایل: زۀ په مومن باندې تعجب کوم الله تعالیٰ دده لپاره هیڅ یوه فیصله نۀ کوي مګر دده

په حق کښې هغه غوره وي.

[ابن أبي الدنيا، واسناده صحيح، كما في المجمع: ١١٩٠٦]

انس ﷺ فرمائي: زۀ د اتو کالو ووم چه ما د رسول الله ﷺ خدمت کړے او ما د هغهٔ لس کاله خدمت وکړو خو زۀ د هغهٔ په کور والو کښې هيڅ يو تن ملامته کړے نۀ يم، هغوئ به ويل: دا پريدئ ځکه که د يو شئ فيصله شوے وي نو هغه به خامخا کيږي.

[أبن أبي الدنيا: ٤]

سليمان بن مغيرهٔ فرمائي: داود عليه السلام ته چه الله کومه وحي کړے وه، په هغې کښې يوه خبره دا هم وه: اے داود! تـۀ ماسره هيڅ کله په يو داسے عمل سره نشے مخامخ کيدلے چه هغه مالره ستا نه ډير راضي کونکے وي او ستا د بوجونو ډير سپکونکے وي، ددے نه چه تۀ زما په تقدير راضي شے، او تۀ چه ما سره په يو داسے عمل سره مخامخ کيږے چه هغه ستا د بوج غټونکے وي او زما د ناراضتيا زياتونکے وي، نو هغه کبر دے نو اے داود! د کبر نه ځان ساته.

[ابن أبي الدنيا]

عبد الواحد بن زيدؒ فرمائي: رضا، د الله ډيره لويه دروازه، د دنيا جنت او د عابدانو راحت دے.

[حوالهٔ بالا]

قادم ديلميؒ وائي: ما فضيل بن عياضؒ ته وويل: د الله نه څوك راضي دے؟ وے فرمايل: څوك چه په کوم حالت دے چه د هغې نه سيوا په بل حالت باندے خپل ځان نۀ غواړي.

ابو سليمان دارانيؒ فرمائي: کله چه بنده د شهواتو (خوندونو) نه ووځي حاصل نو دا راضي دے.

ابو مجلزؒ وائي: عمر بن خطاب ﷺ فرمائي: ما سره دا هيڅ غم نۀ وي چه په کوم حالت زۀ صبا کوم، کوم حالت چه زما خوښ دے يا کوم چه زما ناخوښه دے، ماته دا معلومات نشته چه آيا خير به زما په خوښ حالت کښې وي او که په ناخوښه.

حسن بصريؒ فرمائي: څوك چه د الله نه په لږه روزئ راضي وي، الله به ترے په لږ عمل راضي شي.

ځينے حکماؤ ويلي: د الله څۀ بندگان شته دے چه د مصيبتونو استقبال په فراخ تندئ سره کوي، دا هغه خلك دے چه د دنيا د خيرې نه د دوئ زړونه صفا شوي دي.

وهب بن منبهٔ فرمائي: ما د داود عليه السلام په زبور کښې موندلي دي: اے داود! پيژنے چه څوك په پُلِ صراط تيز تلونکے دے؟ هغه خلك چه هغوئ زما په فيصله راضي وي او د هغوئ ژبے زما په ذکر لوندے وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابو معاويهٔ د ﴿ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ﴾ [نحل: ۹۷] (نو هغه ته به مونږ پاك او غوره ژوند ورکړو) په باره کښې فرمائي: دا رضا او قناعت دے۔

موسى بن كعبؒ فرمائي: موسىٰ عليه السلام عرض وکړو: اے ربه! ستا کوم مخلوق ډير لوئے ګنهګار دے؟ وے فرمایل: هغه څوك چه په ما تهمت لږوی۔ ویلے: په تا هم څوك تهمت لږولے شی؟ وے فرمایل: هو! هغه کس چه مانه خير وغواړی او بيا زما په تقدير راضي نهٔ وی۔

زيد بن اسلمؒ فرمائي: موسىٰ عليه السلام عرض وکړو: اے ربه! امتِ مرحومه څوك دی؟ وے فرمایل: د احمد (ﷺ) امت۔ دوئ مانه په کمه ورکړه راضي کيږی او زهٔ د دوئ نه په کم عمل راضي کيږم۔ او دوئ به جنت ته په دے ننباسم چه دوئ وائي: لا اله الا الله۔

ابو هريره – رضي الله عنه – د نبی کريم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی: (قوی مومن الله ته د کمزوری مومن نه غوره او زيات محبوب دے او په دواړو کښې خير دے۔ څهٔ چه تاته نفع درکوی په هغے کښې کوشش کوه او د الله نه مدد غواړه او ځان عاجز مهٔ جوړوه بيا که تاته څهٔ مصيبت ورسی نو داسے مهٔ وايه: که چرته ما دا کار کړے وے (نو دا به راته نهٔ وے رسيدلے) بلکه ذاسے وايه: دا د الله تقدير دے او څهٔ چه هغه غواړی کوی ئے، ځکه چه (لَوْ) کلمه (که چرته لفظ ويل) د شيطان عمل پرانيزی)۔ [صحيح مسلم]

په يو حديث کښې دی: نبی کريم ﷺ فرمائي: (کله چه الله يو بنده ته خير رسول وغواړی نو هغه په خپل قِسمت باندے راضي کړی او په هغے کښے ورله برکت واچوی، او کله چه ورته د خير اراده نهٔ لری نو په خپل قِسمت ئے راضي نهٔ کړی او په هغے کښے ورله برکت نهٔ اچوی)۔
[ابن أبي الدنيا: ٥٥]

ابو هريره ﷺ فرمائي: نبی کريم ﷺ زما لاس ونيوهٔ او پنځه خبرونه ئے وشمارل۔ وے فرمايل: (۱) حرامو شيانو نه ځان ساته، تهٔ به د ټولو خلقو نه زيات عبادت ګذار جوړ شے (۲) او څهٔ چه تاله الله په قِسمت کښے درکړی، په هغے راضي اوسه، تهٔ به په ټولو خلقو کښے مالداره شے۔ (۳) او خپل ګاونډی سره احسان کوه تهٔ به مؤمن جوړ شے۔ (٤) او د خلقو لپاره هغه څه خوښوه څه چه ځانله خوښوے، تهٔ به مسلمان جوړ شے۔ (٥) او ډير مهٔ خانده ځکه ډيره خندا زړهٔ وژنی)۔
[أخرجه أبوداود، والترمذی: ۲۳۰٥، وابن ماجه، وأحمد۲/ ۳۱۰، وهو فی المشكاة ۲، والصحيحة ۲/ ٦۳۷، اسناده حسن، حديث جامع].

په حديث کښے دی: (څوك چه د الله نه په لږ رزق خوشحاله شی، الله به ترے په لږ عمل راضي شی)۔ [شعب الايمان للبيهقی، مشكاة: ٥۲٦۳، عن علی مرفوعا، وضعفه الألبانی فی

ضعیف الجامع الصغیر]

ابو درداء ﷺ فرمائی: د ایمان کوپے څلور خبرے دی: د الله په فیصله صبر کول۔ په تقدیر راضی کیدل۔ د توکل د وجے اخلاص کول۔ او الله ته پوره تسلیمیدل۔

ابن مسعود ﷺ فرمائی: کله چه زهٔ خپل کور ته واپس لاړ شم نو زهٔ دا باك نهٔ کوم چه په کوم حال باندے دوئ وینم، په خوشحالئ کښے یا په تکلیف کښے۔ او ما هیڅ کله صبا کړے نهٔ دے چه زما دا آرزو وی چه کاش زهٔ ددے نه سیوا په بل حالت باندے وے۔

عامر بن عبد قیسؒ فرمائی: د الله تعالیٰ ددے آیتونو نه پس که مانه د دنیا څهٔ شے فوت شی نو هیڅ باك پرے نهٔ کوم: ﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [هود: ٦] (او په زمکه کښې چه کوم حیوانات دی، د هغوی روزی د الله په ذمه ده، هغه د هر یو دنیاوی (عارضی) او اُخروی (همیشه) ځایونه پیژنی۔ هره خبره په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلے شویده)۔

او دا وینا: ﴿ مَا يَفْتَحِ اللهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾ [فاطر: ٢] (الله چه خلقو لپاره کوم رحمت راپرانیزی هغے لره څوك بندونکے نشته، او د چانه ئے چه بند کړی ددے نه پس دے لره څوك جاری کونکے نشته، او هغه ډیر زیات زورور، ډیر زیات حکمتونو والا دے)۔

او دا وینا: ﴿ وَإِنْ يَّمْسَسْكَ اللهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾ [انعام: ١٧] (او که تا ته څه تکلیف ورسی نو د الله نه سیوا هیڅوك د هغے لرے کونکے نشته او که هغه تا ته کوم خیر رسول غواړی نو هغه په هر شی پوره قدرت لرونکے دے)۔

ابن عونؒ فرمائی: د الله په تقدیر راضی اوسه سختئ وی که آسانی، ځکه چه دے سره ستا غم کمیږی او د آخرت په طلب کولو کښے ستا زیات مددگار دے، او یاد لره چه بنده هیڅ کله د رضا حقیقت ته تر هغے نشی رسیدے ترڅو چه د فقر او مصیبت په وخت دے داسے راضی اوخوشحاله وی څنګه چه د مالدارئ او ښهٔ حالت په وخت دے راضی او خوشحاله وی۔ تهٔ څنګه په خپله معامله کښے د الله فیصله غواړے او بیا چه کله د هغهٔ فیصله د خپل خواهش مخالف ووینے نو ناراضه ئے۔ کیدے شی چه تهٔ کوم شے غواړے، هغه تاله درکړے شی او په هغے کښے ستا د تباهئ سامان پروت وی۔ او تهٔ د هغهٔ په هغه فیصله راضی کیږے کومه چه ستا د خواهش موافق وی حالانکه تهٔ په غیبو نهٔ پو هیږے، که تهٔ داسے ئے نو تا د خپل ځان سره انصاف ونهٔ کړو او نهٔ د رضا دروازے ته ورسیدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

حسن بصريؒ فرمائي: عيسىٰ عليه السلامَ ته وحي وشوه: بني اسرائيلو ته ووايه : مانه دوه خبرې زده كړئ : دوئ د دين د سلامتيا سره په معمولي دنيا خوشحاله شي، لكه څنګه چه دنيا والا په معمولي ديندارئ باندې د دنيا د سلامتئ سره خوشحاله دي.

سفيانؒ د ﴿ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ﴾ [حج: ۳٤] په تفسير كښې فرمائي: دې نه مراد هغه خلك دي چه د الله په قضاء راضي او دې ته تابع دي.

حسن بصريؒ فرمائي: ﴿ ابْتَلٰى إِبْرَاهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمَاتٍ ﴾ ابراهيم عليه السلام باندې الله د ستوري امتحان وكړو نو هغه راضي شو، د څوئې په حلالولو ئې پرې امتحان وكړو نو هغه راضي شو، په هجرت باندې ئې وازمايلو نو هغه راضي شو، په اور باندې ئې وازمايلو نو هغه راضي شو، او سُنت كړئ باندې ئې وازمايلو نو هغه راضي شو.

حسنؒ فرمائي: د الله نه راضي شه الله به تانه راضي شي، او د خپل نفس نه بل له حق وركوه. آيا تا د الله دا وينا نۀ ده آوريدلې چه فرمائي: ﴿ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ﴾

ابن مسعود ﷺ فرمائي : الله تعالىٰ په خپل صبر او انصاف سره راحت او خوشحالي په يقين او رضا كښې ايښې ده، او غم او خفګان ئې په شك او ناراضتيا كښې ايښې.

غيلان بن جريرؒ فرمائي: چاته چه رضا، توكل او تفويض وركړې شو نو د هغۀ د هر څۀ كفايت وشو.

ځينې علماؤ ته چا وويل: د رضا والا خلك به په څۀ شئ سره رضا ته رسي؟ هغۀ ويل: په معرفت سره ځكه رضا د معرفت د ځانګو نه يوه ځانګه ده.

بعضِ علماء فرمائي: لس شيان دي چه كامل خلك ئې په خپلو ځانونو لازموي. كه تۀ كمال غواړې نو دا په ځان لازم كړه، او دا ټول د الله په كتاب كښې موجود دي :

اول : د شيطان دشمني په خپل ځان واجبه ګڼړي، ځكه الله فرمائي: ﴿ إِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوْهُ عَدُوًّا ﴾ [فاطر: ٦] (بيشكه شيطان ستاسو دشمن دې، نو تاسو هم هغۀ سره دشمني وساتئ).

دويم : هيڅ يو عمل په غير د دليل نه نۀ كوي : ځكه الله فرمائي: ﴿ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ ﴾ [بقره: ۱۱۱] (ته ووايه : كه تاسو رشتيني يئ نو دليل راوړئ).

دريم: مرګ له تيارې كوي: ځكه الله فرمائي: ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ﴾ [آل عمران: ۱۸۵] (هر نفس د مرګ مزه څكونكې دې) او فرمائي: ﴿ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ ﴾ [واقعه: ٦٠] (مونږ ستا ترمينځ مرګ مقرر كړې).

څلورم : صرف د الله لپاره مينه کوی او د الله لپاره بغض کوی، الله فرمائی: ﴿ لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ ﴾ [مجادله: ۲۲]

پنځم : د نيکئ حکم او د بدئ نه منع کوی، څکه الله فرمائی: ﴿ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَآ اَصَابَكَ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴾ [لقمان: ۱۷]

شپږم: دوئ د الله په امر کښے د فکر او عبرت نه کار اخلی، څکه الله فرمائی: ﴿وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ﴾ [آل عمران: ۱۹۱] (او د آسمانونو او زمکے په پيدائش کښې فکر کوی) او فرمائی: ﴿ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ﴾ [حشر: ۲]

اووم : د خپلو زړونو څوکئ کوی، هسے نۀ چه دوئ په هغه شئ کښے فکر وکړی چه په هغے کښے د الله رضا نۀ وی، څکه الله فرمائی: ﴿ اِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا ﴾ [اسراء: ۳٦]

اتم : دوئ د الله د مکر او تدبير نه په امن کښے نۀ دی : څکه الله فرمائی: ﴿ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴾ [اعراف: ۹۹]

نهم : دوئ د الله د رحمت نه نۀ نااميده کيږی، څکه ارشاد دے: ﴿ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ﴾ [زمر: ۵۳] (تاسو د الله د رحمت نه مۀ نا اميده کيږئ، بيشکه الله تمام گناهونه ببښی)۔

لسم: الله چه دوئ له د دنيا نه څۀ شے ورکړی په هغے فخر نۀ کوی او که ددے څۀ شے د دوئ نه فوت شی نو په هغے خفگان نۀ کوی، څکه ارشاد دے: ﴿ لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰكُمْ ﴾ [حديد: ۲۳]

اے نيك عمله وروره ! تۀ هم دا کارونه اختيار کړه !

ځينے علماء فرمائی: په بنده باندے د الله تعالیٰ ناراضتيا په درے شيانو کښے راځی :

(۱) د الله په حکم کښے کوتاهی وکړی۔ (۲) الله چه کومه برخه ورله ورکړے په هغے ناراضه وی۔ (۳) يو شے طلب کوی او هغه موندۀ نۀ کړی نو د الله نه خفه وی۔

[تنبيه الغافلين]

زۀ وايم : دا ټولے خبرے په کتاب او سنت کښے شته۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٨٣ - فائده : د مصيبتونو علاج

کله چه بنده په يو دنيوي يا ديني دعوتي آزمائش کښې پريوزي نو دهٔ له يو څو کارونه کول پکار دي چه هغې سره به الله ددهٔ غم او خفګان لرې کړي او دشمنان به ئې مغلوبه کړي، او دا ټول کارونه د الله په کتاب کښې ذکر دي:

اول: صبر کول. **دويم**: تقوىٰ اختيارول:

ارشاد دې: ﴿ لَتُبْلَوُنَّ فِيْ أَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا أَذًى كَثِيْرًا وَإِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَإِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ ﴾ [آل عمران: ١٨٦]

(په تاسو به يقيناً ستاسو په مالونو او نفسونو کښې ازميښت کيږي او تاسو به يقيناً د هغه خلقو د طرفه چه هغوی ته تاسو نه مخکښې کتاب ورکړې شوې، او د مشرکانو د طرفه ډير تکليف رسونکې خبرې آورئ، او که تاسو صبر کوئ او د الله نه يره کوئ نو بيشکه چه دا د همت او عزيمت کار دې).

که فکر وکړې نو په همدې آيت کښې ستا علاج پروت دې.

دريم کار: د الله مخامخ ودريدو نه خوف کول:

څلورم کار: د الله د عذاب نه ويره کول: ارشاد دې: ﴿ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُمْ مِّنْ أَرْضِنَا أَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا فَأَوْحٰى إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ الظَّالِمِيْنَ وَلَنُسْكِنَنَّكُمُ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِهِمْ ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴾ [ابراهيم: ١٣، ١٤]

پنځم کار: رب العالمين ته تضرع کول، ځکه همدا د آزمائش مقصد هم دې. ارشاد دې: ﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلٰى أُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَأَخَذْنَاهُمْ بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوْا وَلٰكِنْ قَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ [انعام: ٤٢، ٤٣]

او ارشاد دې: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ إِلَّا أَخَذْنَا أَهْلَهَا بِالْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ﴾ [اعراف: ٩٤]

شپږم کار: الله ته خضوع، ذلت او استکانت (سکون تالاش) کول: ارشاد دې: ﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴾ [مومنون: ٧٦]

اووم کار: هميشه استغفار کول: ځکه تمام مصيبتونه په دې سره ختميږي. ارشاد دې: ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ [انفال: ٣٣]

د استغفار بې شماره فضائل معلوم دي، الله تعالىٰ د استغفار په وجه بنده له لار وباسي او د هرې تنګۍ نه ئې فراخۍ ته راوباسي او د هغه ځائې نه بې حسابه رزق ورله ورکوي چه ګمان به ئې هم نۀ وي.

اتم کار: څومره چه کيدې شي د يونس عليه السلام والا دعاء غوښتل: ﴿ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾ [انبياء: ۸۷]

څکه الله مومنانو سره ددې دعا د قبليدو وعده فرمايلې، ارشاد دې: ﴿ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَٰلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ ﴾ [انبياء: ۸۸] (نو مونږ دَ هغه دعاء قبوله کړه او هغه مو دَ غم نه خلاص کړو، او دغسې مونږ مومنانو له نجات ورکوو).

او نبي کريم ﷺ فرمائي: (کوم مسلمان چه د يونس عليه السلام دعاء وغواړي، الله ئې خامخا قبلوي). [أصحاب السنن]

او د ټولو عارفينو په دې اتفاق دې.

نهم کار: عفو او درګذر.

لسم کار: د مانځه پابندي.

يولسم کار: زکاة ورکول.

دولسم کار: ټولو نيکيو طرفته په کوشش سره تلل: څکه اعمال د جنت سبب دې نو بيا د فتنو او مصيبتونو نه د خلاصي سبب به ولې نۀ وي. نبي کريم ﷺ فرمائي: [بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا] [مسلم] (تاسو د نيکو اعمالو په کولو کښې د داسې فتنو راتلو نه مخکښې تادي کوئ چه هغه به لکه د تورې شپې د ټکرو پشان تورې وي، سړې به په هغې کښې د سهار په وخت مومن او د بيګاه په وخت کافر شي، او د بيګاه په وخت به مومن او د سهار په وخت به کافر شي).

او د الله ارشاد دې: ﴿ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ ﴾ [بقره: ۱۰۹] او ارشاد دې: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ [مزمل: ۲۰] (او دَ مانځه پابندي کوئ، او زکاة ورکوئ، او الله له ښۀ قرض ورکوئ، او تاسو چه کومه نيکي خپل ځان لپاره وړاندې ليږئ، هغه به د الله خواته زياته بهتره او دَ اجر په لحاظ زياته لويه بيامومئ، او الله نه ښښنه غواړئ، بيشکه الله ډير زيات معاف کونکې، بې حده رحم کونکې دې).

نن صبا ډير د حق داعيان او خصوصًا ځوانان، بدعتيانو اوباطل پرستو ته عفو او درګذر کول نۀ پيژني، حالانکه د الله په کتاب کښې بار بار عفو او درګذر راغلې.

Maktaba Tul Ishaat.com

دیارلسم کار: د تنګ لاسي پریشاني ختمول: ابن عمر – رضي الله عنهما – فرمائي: نبي کریم ﷺ ارشاد فرمایلي: (څوك چه خپله دعاء قبلول او خپل مصیبت لرې کول غواړي نو هغهٔ له پکار دي چه د پریشان حالی کس پریشاني دې لرې کړي)۔

[احمد: ۲/ ۳۲، واسناده صحیح]

صحیح مسلم کښې دي: [مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَاكَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ]

خدیجې ﷺ د وحی په شروع کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړې وه: (هیڅ کله داسې نهٔ ده! الله به هیڅ کله تا رسوا نهٔ کړي! تهٔ خو خپلولي پالې، بوجونه په ځان پورته کوې، نیستمن له کار جوړوې او په قدرتي آفاتو کښې د خلکو مدد کوې)۔

[صحیح بخاري]

دې نه د خدیجې ﷺ ژوره پوهه معلومه شوه چه دغه پورتني کارونه د مشکلاتو په حل کښې څومره مؤثر دي! حالانکه هغه لا د جاهلیت په زمانه کښې وه۔

څوارلسم کار: صدقه ده: دا هم د مصیبتونو لرې کولو سبب دې۔ (صدقه د الله غصه داسې وژني لکه څنګه چه اوبهٔ اور وژني)۔ (د صدقې په ورکولو تادي کوئ ځکه مصیبتونه په دې باندې نشي راختلې)۔

[رواه رزین، مشکاة: ۱/ ۱٦۷]

*** د حکمت خبرې**:

ابودرداء ﷺ فرمائي: د تعجب خبره ده! ډیر کرته یو خواهش وي خو خپل خاوند د اوږد خفګان سره مخامخ کړي، او ډیر کرته یو تن خپل ځانته د عزت ورکولو کوشش کوي حالانکه په حقیقت کښې هغه سپکوي۔

[أخرجه المعافى في الزهد، ص: ۱۸۷]

یزید بن میسرهٔ فرمائي: ژړا د اوو شیانو په وجه وي: د خوشحالئ په وجه، د غم په وجه، د ریا په وجه، د درد په وجه، د شکر په وجه او د الله د ویرې په وجه، هم ددې ژړا یو څاڅکې اوښکه د غرونو برابر اور وژني۔ [رواه الهناد: ٤٦٤]

ابودرداء ﷺ مسلمه بن مخلدٌ ته ولیکل: اما بعد: کله چه بنده د الله په طاعت عمل کوي نو الله ورسره مینه شروع کړي او کله چه ورسره الله مینه وکړي نو خپل مخلوق ته ئې محبوب وګرځوي۔ او کله چه بنده د الله نافرماني کوي الله ئې مبغوض وګرځوي اوکله ئې چه الله مبغوض

وګرځوی نو خپل مخلوق ته ئې هم مبغوض وګرځوی.

[ذکره الهناد بن السری فی الزهد]

عونؒ بن عبد الله فرمائی: اهلِ خیر به یو بل ته دا خبرې لیکلې او د یو بل نه به ئې رده نوئې: څوك چه خپل آخرت لپاره عمل کوی الله ئې د دنیا کفایت کوی، او څوك چه د الله او د خپل ځان ترمینځه معامله درسته کړی، الله دده او د خلکو ترمینځه معامله درسته کوی، او چاچه خپل باطن درست کړو الله به ئې ظاهر درست کړی.

ابو عبد الله وائی: زهٔ طاووسؒ ته د څهٔ پوښتنې لپاره راغلم، ما هغهٔ ته د ورتلو اجازه وغوښته نو ماته یو ډیر بوډا سړے راووتهٔ، ما ویل: تهٔ طاووسؒ ئې هغهٔ ویل: زهٔ ئې ځوئے یم. ماویل: که تهٔ ئې ځوی ئې نو بیا خو به ستا پلار بیهوده خبرې کوی. هغهٔ ویل: عالِم بیهوده خبرې نهٔ کوی. بیا ئې راته وویل چه کله دننه راشې نو د اختصار نه کار واخله. هغه وائی: زهٔ طاووسؒ ته ورغلم. ویلے: کله چه سوال کوے نو مختصر. ماویل: که تهٔ ماته مختصر جواب راکوے زهٔ د اختصار نه کار اخلم. هغهٔ ویل: زهٔ تاته په دے مجلس کښے تورات، انجیل او قرآن دربنایم. ما ویل: که تهٔ ماته تورات، انجیل او قرآن راښائے نو د بل هیڅ یو شئ په حقله تانه پوښتنه نهٔ کوم. هغهٔ وفرمایل: د الله نه داسے یریږه چه د بل هیڅ یو شئ نه دومره ویره نهٔ کوے. او د الله نه داسے امید ساته چه هغه ستا د ویرے نه زیات وی. او خلکو لپاره هغه څهٔ خوښوه کوم چه ځانله خوښوے.

[رواه الهناد بن سری فی الزهد]

منذرؒ وائی: ابن مسعود ؓ ته د کافرو زمیندارانو یوه ډله راغله، نو خلکو د هغوئ د څټونو د پیروالی او د صحت نه تعجب وکړو. نو ابن مسعود وفرمایل: تاسو به کافر ووینئ چه په تولو خلکو کښے به د بدن په لحاظ ډیر صحتمن او د زړونو په لحاظ ډیر ناجوړه وی، او تاسو به مومن وینئ چه د زړهٔ په لحاظ به ډیر زیات روغ او د بدن په لحاظ به ډیر زیات ناجوړه وی. او قسم په الله! که چرے ستاسو زړونه بیمار شی او بدنونه مو روغ شی نو تاسو به د الله په نیز د ګونګټانو نه هم سپك شئ. [رواه الهناد: ٤٢٧]

انس بن مالك ؓ فرمائی: یو سړی د نبی ﷺ نه پوښتنه وکړه: د تولو نه زیاته بهتره دعاء کومه ده؟ وے فرمایل: د الله نه په دنیا او آخرت کښے د عفوے او جوړښت سوال کول، ولے که دا تاله درکړے شی نو پوره کامیاب شوے.

[رواه الهناد: ٤٤٦]

عبد الله بن عمرو ؓ د نبی کریم ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی: (که چرے تاسو هغه شے

Maktaba Tul Ishaat.com

پیژندلے کوم چه زهٔ پیژنم نو ډیر به مو ژړلی او کم به مو خندلی وے، اوکه چرے تاسو ته هغه شے معلوم وے کوم چه ماته معلوم دے نو په تاسو کښے به یو کس خامخا دومره اوږده سجده کولے چه ملا به ئے ماته شوے وے او داسے کریکے به ئے وهلے وے چه آواز به ئے ناست وے۔ تاسو الله ته ژاړئ اوکه ژړا نهٔ درځی نو ژړغونی شئ۔ [رواه هناد: ٤٦٩]

عروةؒ فرمائی: موسیٰ علیه السلام د خپل رب نه پوښتنه وکړه: ستا په بندګانو کښے کوم یو بنده تاته زیات خوښ دے؟ وے فرمایل: هغه څوك چه زما خوښے ته داسے تادی کوی څنګه چه نسر مارغهٔ د خپلے خوښے شئ ته تادی کوی او هغه کس چه هغه زما نیکانو بندګانو باندے داسے لیواله دے څنګه چه ماشوم په خلکو لیواله وی۔ او هغه کس چه زما د حرام کړو شیانو کولو په وجه داسے غصه کیږی لکه څنګه چه پړانګ د خپل ځان لپاره غصه کوی، ځکه پړانګ چه کله غصه شی نو بیا دا فکر نهٔ کوی چه خلك لږ دی اوکه ډیر۔
[رواه هناد: ٤٨٨]

او دا په اولنی جلد کښے د الله د اولیاؤ په فائده کښے تیر شوی دی۔

ابو هریره ﷺ د نبی کریم ﷺ دا ارشاد مبارك روایت کوی: (موسیٰ علیه السلام د خپل رب نه شپږ خویونه وپوښتل د هغهٔ دا ګمان وو چه دا صرف هغهٔ لپاره دی۔ اوومه خبره موسیٰ علیه السلام نهٔ خوښوله۔ هغهٔ عرض وکړو: اے ربه! ستا کوم بنده زیات متقی دے؟ وے فرمایل: هغه څوك چه همیشه ذکر کوی او غفلت نهٔ کوی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده زیات هدایت والا دے؟ وے فرمایل: هغه کس چه د هدایت پیروی کوی۔ بل روایت کښے دی: هغه کس چه د خواهش پیروی نهٔ کوی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده ډیر ښهٔ فیصله کونکے دے؟ وے فرمایل: هغه څوك چه خلکو لپاره داسے فیصله کوی څنګه چه خپل ځان لپاره کوی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده زیات عالم دے؟ وے فرمایل: هغه عالم چه د علم نه نهٔ مړیږی، د خلکو علمونه خپل علم ته رایوځائے کوی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده زیات عزتمن دے؟ وے فرمایل: هغه کس چه کله قدرت حاصل کړی نو معافی کوی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده زیات مالداره دے؟ وے فرمایل: هغه کس چه په خپل قِسمت راضی وی۔ عرض ئے وکړو: ستا کوم بنده زیات فقیر دے؟ وے فرمایل: هغه کس چه حالت ئے نیمګړے وی، خپل قِسمت کم ګنړی او زیاتی غواړی۔

رسول الله ﷺ وفرمایل: مالداری په مال سره نهٔ حاصلیږی بلکه اصل مالداری د نفس ده۔ کله چه الله خپل یو بنده ته د خیر اراده وکړی د هغهٔ په نفس کښے مالداری او د هغهٔ په زړهٔ کښے

تقویٰ واچوی۔ او کله چه بنده ته د شر اراده وکړی نو فقر د هغهٔ د سترګو مخامخ وګرځوی۔
[صحیح ابن حبان: ٨/ ٣٨، وحسن اسناده شعیب الأرناؤوط]

ابن مسعود ﷺ فرمائی: حق درند دے خو ښهٔ انجام والا، او باطل سپك دے خو خراب انجام والا، او کله د لږ ساعت خوند اوږد خفګان رامنځته کړی۔ [الهناد: ٤٩٩]

ابودرداء ﷺ فرمائی: یاد لرئ! نیکی نهٔ زړیږی او ګناه نهٔ هیریږی۔ [رواه الهناد]

په حدیث کښے دی: د بنده لپاره د حکمت خبره څومره ښه نفعمنه او ښه ډالئ ده چه سړے ئے واوری او هغه یاده کړی او بل مسلمان ورور ته ئے ور وربښی کړی۔ [رواه الهناد: ٥٢٩]

د لقمانؒ نه پوښتنه وشوه: کوم خلك ډیر غوره دی؟ وے فرمایل: مسلمان غنی عالم۔ خلکو ویل: مالداره یادوے؟ وے فرمایل: نه۔ بلکه هغه کس چه کله ورته حاجت پیدا شی نو نفع ورکوی۔ هغهٔ ته بیا وویل شو: څوك ډیر شری دے؟ وے فرمایل: هغه کس چه حیاء نهٔ کوی او دا باك نهٔ لری چه څوك ئے په ګناه ووینی۔ [رواه الهناد]

ابن قیمؒ فرمائی: حنیف دیته وائی چه الله ته توجه او مخلوق نه مخ اړونکے وی۔

رابعه بصریهؒ فرمائی: د الله د پیژندو ثمره هغهٔ ته توجه کول دی۔
[کما فی کتاب مشاهیر المتعبدات]

صدیق حسنؒ فرمائی: د نیك بختیا عنوان الله ته توجه کول دی، او د نافرمانیو او ګمراهیو بنیاد الله نه مخ اړول دی۔ [فتح البیان، سورة الفاتحة]

عمر فاروق ﷺ فرمائی: په عمل کښے قوت دادے چه د نن کار به سباته نهٔ پریدے، او امانتګری داده چه هیڅ پټ حالت د ښکاره نه خلاف نشی۔ د الله نه یریږئ ځکه تقویٰ په ځان ساتلو سره حاصلیږی او څوك چه الله نه یریږی نو الله ورته تقویٰ نصیب کوی۔
[سیر أعلام النبلاء: ٢/ ٥٧٢]

عثمان ﷺ فرمائی: کوم کس چه څهٔ پټ کار کوی نو الله به دا ددهٔ د مخ په کاسه او ددهٔ د ژبے په خبرو کښے خامخا راښکاره کوی۔
[الآداب الشرعیة: ١/ ١٢٧]

ابن مسعود ﷺ فرمائی: ستاسو مونځونه او کوششونه د رسول الله ﷺ د ملګرو نه اوږدهٔ اوږدهٔ دی خو هغوئ تاسو نه غوره وو۔ عرض وشو: دا ولے؟ وے فرمایل: هغوئ تاسو نه په دنیا کښے ډیرے رغبته او په آخرت کښے ډیر رغبت والا وو۔
[صفة الصفوة: ١/ ٤٢٠]

Maktaba Tul Ishaat.com

۸٤ - فائده : د بیگاه صبا آداب

پرهیزګاره مومن له پکار دی چه بیګاه صبا راتلونکی آداب استعمال کړی، دے دپاره چه د الله رشتینے بنده او واقعی متقی جوړ شی، ان شاء الله۔

اول: ددے استحضار کول چه الله ددهٔ توبه قبلوی او دهٔ له ددے لپاره عمر اوږدوی چه کیدے شی چه دے هغهٔ ته رجوع او توجه وکړی، دا وجه ده، نبی کریم ﷺ به چه کله د خوبه راویښ شو نو د الله حمد به ئے کولو چه هغهٔ ماته زما روح راواپس کړو، بدن ئے راله روغ وساتهٔ او د خپل ذکر اجازت ئے راکړو۔

او نبی کریم ﷺ فرمائی: (د هغه مومن نه هیڅوك غوره کیدے نشی چه هغهٔ له الله په اسلام کښے د خپلے تسبیح، تکبیر او تهلیل لپاره عمر وکړے وی)۔

ابن مسعود – رضی الله عنه – ته وینځے خبر ورکړو چه نمر راختلے دے، هغهٔ وفرمایل: الله لره ثناء ده چه مونږ له ئے دا ورځ راکړه او په دے کښے ئے زمونږ د لغزشونو معافی راته وکړه او په اور باندے ئے عذاب رانهٔ کړو۔

دویم: استغفار لازم نیول او د ټولو ګناهونو نه توبه کول، د هغے نه بندیدل او په هغے خپیمانه کیدل او د دوباره نهٔ کولو کله اراده کول او حقدارانو ته خپل حقونه واپس کول۔

یو سړی حاتم اصمّ ته وویل: ته څهٔ غواړے؟ هغهٔ ویل زهٔ شپے پورے عافیت غواړم، هغهٔ ویل: آیا دا ټولے ورځے شپے علفیت نهٔ دے؟ وے فرمایل: زما د ورځے عافیت دادے چه په دے کښے د الله نافرمانی ونهٔ کړم۔

دریم: د هغه خلکو نه ځان جوړول چه د آخرت غم ورسره وی۔ نبی کریم ﷺ فرمائی: [مَنْ كَانَتِ الآخِرَةُ هَمَّهُ جَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ وَجَعَلَ غِنَاهُ فِيْ قَلْبِهِ وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ ، وَمَنْ كَانَتْ هَمَّهُ الدُّنْيَا فَرَّقَ اللّٰهُ عَلَيْهِ أَمْرَهُ وَجَعَلَ فَقْرَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَلَمْ يَأْتِهِ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ مِنْهَا]

(چا چه آخرت سره غم وی، الله به ورله خوارهٔ کارونه راټول کړی او په زړهٔ کښے به ورله مالداری واچوی او دنیا به ورته ذلیله راروانه وی۔ او د چا چه دنیا سره غم وی، الله به ددهٔ راجمع شوی کارونه خوارهٔ کړی، فقیری به ددهٔ د دواړو سترګو ترمینځه کړی، او دنیا به ورته صرف دومره راځی څومره چه ورله مقرر وی)۔

ددے تقاضا داده چه د خپلو اوقاتو په آبادولو کښے کوشش کوی او خپل زړهٔ په هر هغه نیك

عمل کښې مشغول کړي چه الله رضا کوي۔

څلورم: خلکو نه د خپل شر بندولو کلکه اراده کول او مسلمانانو سره د کینې ساتلو نه خپل زړهٔ صفا کول۔ لکه یو صحابي ته نبي کریم ﷺ د جنت زیرے ورکړو، عبد الله بن عمرو – رضی الله عنه – ددے زېرې وجه معلومولو لپاره د هغهٔ سره درې ورځې پاتے شو او د هغهٔ عمل ئے معمولي وګڼړلو، او د هغهٔ نه ئے پوښتنه وکړه چه دے مرتبے ته په کوم عمل رسیدلے ئے؟ هغهٔ ویل: زما عمل خو تا ولیدهٔ، دومره ده چه هیڅ یو مسلمان سره په هغه خیر باندے په خپل زړهٔ کښې هیڅ کینه او حسد نهٔ لرم، چه هغهٔ له الله ورکړے وي۔ عبد الله وائي: ماورته وویل: همدا هغه شے چه ته ئے دے مرتبے ته رسولے او مونږ ددے طاقت نهٔ لرو۔

پنځم: د رسول الله ﷺ ددے ارشاد مبارك استحضار لرل: (کله چه بنیادم صبا کړي نو ټول اندامونه ژبے ته عاجزي کوي ورته وائي: زمونږ په باره کښې د الله نه یره وکړه، ځکه مونږ په تا رانیول کیږو، که ته سمه شوے مونږ سمیږو، اوکه ته کږه شوے مونږ کږیږو)۔

او نبي کریم ﷺ فرمائي: (د بنیادمانو زیاتره ګناهونه د دوئ په ژبه کښې دي)۔

شپږم: د سهار مونځ نه پس په مصلیٰ باندے ذکر اذکار کولو سره تر نمر خاتهٔ پورے کیناستل، بیا دوه رکعته کول۔ او دغسے د ماز یګر مانځه نه پس کیناستل ځکه دا دواړه د ذکر اذکار ډیر قیمتي اوقات دي۔

د سلفوؒ دا عادت وو چه دوئ به د سهار د دوه رکعته سنتو نه پس تر نمر خاتهٔ پورے په جومات کښې خبرے کول بدے ګڼړل، نو بیا په دے مبارك وخت کښې د خوب په باره کښې به څهٔ وائے؟

عطاءؒ فرمائي: ابن مسعود رضی الله عنه په څهٔ خلکو راوواتهٔ چه د سهار دوه رکعته سنتو نه پس ئے خبرے کولے، نو هغوئ ئے د خبرو نه منع کړل او وے فرمایل: تاسو مانځه له راغلي یئ یا خو مونځ وکړئ او یا غلي شئ۔

ابو عبیدهؒ فرمائي: ابن مسعود ﷺ ته به د صبا راختلو نه پس د ذکر نه علاوه نورے خبرے کول ډیر ګران ښکاره کیدل۔ [أخرجه عبد الرزاق]

حصیفؒ فرمائي: ما د سعید بن جبیرؒ نه د سهار دوه رکعته سنتو نه پس د یو آیت په حقله پوښتنه وکړه نو هغهٔ ماته جواب رانهٔ کړو۔ او کله ئے چه مونځ وکړو وے فرمایل: د سهار د دوه رکعته سنتو نه پس خبرے کول مکروه دي۔ ما ویل: که څوك خپل کور والو ته ووائي: مونځ وکړئ؟ هغهٔ ویل: په دے کښې باك نشته۔

عثمان بن ابي سلیمانؒ فرمائي: چه صبا راوخیژي خاموشي پکار ده اګرکه دوئ په اوښانو

Maktaba Tul Ishaat.com

سوارهٔ وی۔

سعید بن المسیبؒ به فرمایل: بیا خو به زهٔ د هغه کس نه هم زیات کم عقل یم چه هغه د صبا راختو نه پس خبرے سوی۔

اوزاعیؒ فرمائی: د سلفوؒ دا عادت وو چه کله به صبا راوختهٔ نو داسے به غلی وو گویا د دویٔ په سرونو مارغان دی، خپلو ځانونو ته به ئے توجه وه تردے چه که یو خوږ دوست به د دویٔ د سفر نه راغلے وو نو هم به دویٔ هغهٔ ته نهٔ کتل، دویٔ به په همدے حالت کښے وو چه نمر به راوختهٔ۔

ولید بن مسلمؒ فرمائی : اوزاعیؒ به په خپله مصلیٰ ناست وو تردے چه نمر به راوختهٔ او مونږ ته به ئے د سلفوؒ نه خبر راکولو چه دا ددویٔ عادت وو۔

ابراهیمؒ فرمائی: سلفوؒ به سهار سنتو نه پس خبرے کول بدے گڼړلے۔

امام مالکؒ فرمائی: سعید بن ابی هندؒ، نافع مولیٰ ابن عمر، موسیٰ بن میسرۃؒ به د سهار مونځ نه پس تر ځابنته پورے په خپلو مصلو ناست وو۔ بیا به په داسے حال کښے جدا شول چه یو بل سره به ئے خبرے نهٔ کولے۔ مونږ عرض وکړو: د الله په ذکر کښے د مشغولیدو په وجه؟ وے فرمایل: هو !

مجاهدؒ فرمائی: ما ابن عمر ﷺ ولیدهٔ چه د سهار سنت ئے وکړل بیا کیناستهٔ تردے چه د سهار فرض ئے وکړل۔

امام ابن قیمؒ فرمائی: ما شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ ولیدهٔ چه د سهار مانځه نه پس به تر ځابنته پورے د الله په ذکر کښے مشغول ناست وو، یو ځل زهٔ ملاقات له ورغلم نو وے فرمایل: دا زما سمنارے دے (د سهار خوراکه ده) که زهٔ په دے سمنارے ونهٔ کړم نو زما قوت ختمیږی۔

[الوابل الصیب]

دارنگه په [المدارج] کښے فرمائی: پنځم خرابوونکے شے : ډیر خوب دے چه دے سره زړهٔ مری، بدن درنیږی، وخت ضائع کیږی، غفلت او سستی پیدا کیږی۔ ځینے خوب ډیر زیات مکروه وی او ځینے بدن ته نفع رسونکے نهٔ وی۔ نفعمن خوب هغه دے چه بدن ورته سخت ضرورت لری۔ د شپے په رومبیٔ برخه کښے د آخرنیٔ برخے د خوب نه زیات ښهٔ او بدن ته نفع ورکونکے وی۔ او د ورځے په مینځ کښے خوب کول د شروع او آخر د خوب په نسبت زیات نفعمن دے۔ او څومره چه خوب شروع یا آخر ته نزدے کیږی نو نفع ئے کمیږی او ضرر ئے زیاتیږی خاصکر د مازیگر په وخت خوب او د شپے دے خوبه شوی نه سیوا د ورځے په شروع کښے خوب کول۔ او د صبا راختو نه تر نمر ختهٔ پورے خوب مکروه دے ځکه چه دا د غنیمت وخت دے او مزل کونکو په نیز ددے

ډیر فضلیت دے تردے پورے که دویٔ تولہ شپہ هم مزل کړے وی خو بیا هم په دے وخت کښے د مزل کولو نه کوتاهی نهٔ کوی تر نمر خاتهٔ پورے، ځکه دا د ورځے شروع او چابی ده او د رزقونو نازلیدو او د برخو حاصلولو او د برکت راتلو وخت دے، د همدے وخت نه ورځ شروع کیږی او د تولے ورځے حکم په دے برخه باندے راخوریږی، دے وجے نه ددے خوب د اضطراری خوب پشان جوړیدل پکار دی۔

خلاصه داچه : ډیر معتدل او نفعمن خوب د اولنیٔ نیمائی شپے خوب دے او ددے شپږمه برخه ده چه د اتو ساعتونو په اندازه وی۔ دا د طبیبانو په نیز ډیر معتدل خوب دے او کوم چه ددے نه زیات یا کم شی نو ددے موافق د دویٔ په نیز په طبیعت کښے انحراف پیدا کوی۔

د ورځے په شروع کښے، او د نمر ډوبیدو سره د ماسخوتن نه مخکښے اودهٔ کیدل بے فائدے خوب دے، رسول الله ﷺ به دا بد گنړلو نو دا شرعًا او طبعًا دواړه مکروه دے، او لکه څنګه چه ډیر خوبی دا آفتونه پیدا کوی نو دغه شان بے خوبی هم د لویو آفتونو سبب گرځی لکه د مزاج خرابی او وچ والے، د نفس انحراف او د هغے رطوباتو وچوالے چه په علم او عمل دواړو کښے مدد کوی، دارنګه داسے تباه کوونکی بیماریٔ پیدا کوی چه د هغے په وجه انسان د خپل زړهٔ او بدن نه نفع نشی اخستے۔ دے وجے نه دا کائنات هم په اعتدال باندے روان دے څوك چه اعتدال خپل کړی نو هغهٔ د خیر لمنه ونیوله۔ والله المستعان۔ آه۔

شپږم : کوشش دے وکړی چه په یوه ورځ کښے دا خویونه راجمع کړی : نفلی روژه، بیمار پوښتنه، جنازے پسے تلل، په مسکین خوراك خوړول۔ نبی کریم ﷺ فرمائی: (په کوم سړی کښے چه دا کارونه راجمع شی نو خامخا به جنت ته ځی)۔

اووم : د نبی کریم ﷺ ددے ارشاد استحضار کول : (څوك چه په تاسو کښے په خپل قوم کښے په امن وی، د یوے ورځے خوراکه ورسره وی نو گویا تولہ دنیا دهٔ ته راجمع شوه)۔

اتم : که مالداره وی او د خپل مال نه د څهٔ برخے وصیت کول غواړی نو هغه دے فورًا وکړی خو د هغه خپلوانو لپاره چه هغه وارثان نهٔ وی، اوکه قرض ورپورے وی یا ورسره د چا امانت یا نور داسے حقونه وی چه ددهٔ په مرگ سره د ضائع کیدو خطره وی نو په دهٔ باندے واجب دی چه ددے وصیت وکړی، دے دپاره چه الله ئے چرته راونهٔ نیسی، دارنګه که وړوکے اولاد ئے وی نو تر بلوغه پورے د هغے د خیال ساتلو لپاره دے وصیت وکړی۔

نهم : دا استحضار دے وکړی چه ننننیٔ ورځ یا شپه ددهٔ د ژوند آخری ورځ یا شپه ده۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿ وَأَنْ عَسَىٰ أَنْ يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴾ [اعراف: ۱۸۵]

Maktaba Tul Ishaat.com

(کیدے شي چه د دوی د مرگ وخت رانزدے شوے وی، نو ددے قرآن نه روستو دوی په کومه خبره ایمان راوړی)۔

او نبي کریم ﷺ فرمائي : خوندونه ختمونکے شے مرگ ډیر ډیر یادوئ، ځکه څوك چه دا د ژوند په تنگئ کښے رایاد کړی نو هغه پرے فراخیږی او چه څوك ئے په فراخئ کښے ذکر کړی نو هغه پرے تنگیږی)۔

او نبي کریم ﷺ فرمائي: (ماته جبریل راغے او وے فرمایل: څومره چه غواړے ژوند تیر کړه، ته مړ کیدونکے ئے۔ او چا سره چه مینه کول غواړے مینه کوه ته به د هغهٔ نه جدا کیږے، او څهٔ عمل چه کوے کوه تاته به ئے بدله درکړے کیږی)۔

ابن عمر – رضي الله عنه – فرمائي: رسول الله ﷺ زما اوگه راونیوه او وے فرمایل: په دنیا کښے لکه د مسافر یا لاروی پشان وخت تیروه، او خپل ځان په مړو کښے شماره۔ ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: کله چه ته صبا کړے نو د بیگاه، او که بیگاه کړے نو د صبا انتظار مهٔ کوه او د خپل صحت د زمانے نه د خپلے بیمارئ لپاره او د ژوند نه د خپل مرگ لپاره توښه اخله۔

ځینے نیکانو نه پوښتنه وشوه : تا په کوم حالت کښے صبا کړو؟ وے فرمایل: ما په داسے حال کښے صبا کړو چه په مونږه باندے زمونږ د بے شماره گناهونو باوجود د الله بے شماره نعمتونه دی، مونږ ته پته نشته چه آیا د الله په نعمتونو شکر وکړو او که د هغهٔ په پرده اچولو شکر وکړو۔

یو، بل فرمائي : ما د دوه نعمتونو ترمینځه صبا کړو، ماته معلومه نهٔ ده چه په دے دواړو کښے کوم یو ډیر لوئے دے ؟ زما داسے گناهونه چه الله پټ کړی دی، هیڅوك دا طاقت نهٔ لری چه ماله پرے پیغور راکړی۔ او داسے محبت چه الله د خلکو په زړونو کښے ماسره اچولے چه هغے ته زما عمل نشي رسیدے۔

یو، بل فرمائي: مونږ په داسے حال کښے صبا کړو چه میلمانهٔ یو او د مسافرئ په زمکه مو اوښان چو کړی دی، ددے انتظار کوو چه کله به مونږ رابللے شو چه جواب ورکړو۔

مزنيؒ فرمائي : زهٔ امام شافعيؒ ته په هغه بیمارئ کښے ورغلم چه په هغے کښے وفات شو، ما عرض وکړو : په څهٔ حال دے صبا کړو ؟ وے فرمایل: په داسے حال کښے مے صبا کړو چه د دنیا نه تلونکے یم، د ورونو نه جدا کیدونکے یم، د مرگ ډك گلاس څښونکے یم، د بدو عملونو سره مخامخ کیدونکے یم او په الله باندے ورتلونکے یم، معلومه نهٔ ده چه زما روح به جنت ته ځی چه زهٔ ورته هرکلے ووایم او که اور ته به ځی چه زهٔ ورته تعزیت وکړم؟

[انظر آداب الصباح والمساء، للشیخ محمد احمد اسماعیل المقدم]

٨٥ - عظيم الشان فائده
روز مره نبوي سنتونه

دا هر هغه چاته نفع ورکوي چه الله او رسول (ﷺ) سره مينه لري او غواړي چه الله ورسره مينه ولري او ښښنه ورته وکړي او نجات ورله ورکړي. او دا د علم او عمل دواړو فائده ده. په دے باندے عمل کول بيداري او قوي اراده غواړي چه په هغے کښے سستي او بيباکي نۀ وي.
زمونږ يو ديني ورور ((په شواروز کښے د زرو سنتو)) په نوم يوه رساله ليکلے.
مونږ د الله په توفيق سره په شواروز کښے د دوه زرو نه زيات سنتونه ذکر کوو، چه دا به د ټول ژوند د سنتونو نه علاوه وي ولے چه د هغے تفصيل اوږد دے، دا په [الدين الخالص] فتاوىٰ او او د حديثونو په کتابونو کښے لکه: بخاري، مسلم، سنن اربعه، مسانيد وغيره کښے موجود دي. دلته مونږ صرف روز مره سنت ذکر وو.
ياد لره: د سنت مثال د نوح عليه السلام د کشتئ دے څوك چه په دے کښے سور شۀ نجات به ومومي او څوك چه ددے نه پاتے شۀ غرق به شي. (امام مالكؒ).
په يو سنت باندے عمل کول جنت ته د ننوتو مضبوط سبب دے لکه په دے خبره ډير حديثونه دلالت کوي.
په يو حديث کښے دي: (چا چه د مسلمانانو د لارے نه يو داسے شے لرے کړو چه هغوئ له ئے تکليف ورکولو الله به ورله ددے په وجه يوه نيکي وليکي، او چاله چه الله د خپل ځان سره نيکي وليکي، ددے په وجه به ئے جنت ته ننباسي).
[رواه الطبراني وغيره کما في الصحيحة]
فکر وکړه ! يوه سنت طريقه دومره طاقت لري، پاتے لا دوه زره يا زيات سنت طريقے. دے وجے نه مونږ دے کس لپاره ډير لوئے اميد لرو چه دا به د جنتيانو او د الله د پرهيزګاره محبوبو او ښنيلے شوو انسانانو نه شمار وي، ان شاء الله.
دا فائده زۀ د خپل ځان او د نورو نارينه او زنانه مومنانو او مسلمانانو د عملي ژوند جوړولو لپاره ليکم. الله دے په دے سره مونږ ټولو له نفع راکړي. آمين !
د ((اتباع السنة)) فوائد او ددے مرتبه مونږ په مستقله فائده کښے ذکر کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا کوم سنت طريقې چه مونږ ذکر کوو، کله به دا د وجوب په درجه کښې وي چه پرېښودونکې به ئې د سزا لائق وي، او کله به دا سنتِ مؤکد په درجه کښې وي، او کله به د مستحب په درجه کښې.

نو څوك چه دا وائي چه په دې سنتونو باندې عمل کونکی ته ثواب ملاويږي او پرېښودونکي ته ئې سزا نۀ ملاويږي: دا بې دليله بلکه د نصوصو خلاف خبره ده، ځکه نبي کريم ﷺ فرمائي: [وَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ] (څوك چه زما د سنتو نه اعراض کوي د هغۀ ماسره هيڅ تعلق نشته). او فرمائي: [سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَكُلُّ نَبِيٍّ مُجَابٍ ...... وَفِيْهِ: وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ] (شپږ کسان دي چه ما، او هر هغه نبي چه د هغۀ دعا قبليږي، په هغۀ لعنت ويلې، يو په کښې هغه تن دې چه زما سنت طريقې پريدي). [مشكاة ، باب القدر]

نو دلته د (سنت) نه مراد د واجباتو او فرائضو مقابل نۀ دې بلکه هر يو سنت مراد دې.

هر مسلمان له پکار دي چه ددې سنتونو اهتمام وکړي او خپل ځان په مفلحينو کښې وګرځوي. عقلمن مسلمان نه چه کله په دې سنتونو کښې يو سنت پاتې شي نو هغه به خامخا خفه کيږي، څنګه چه د روپو او اشرفو په فوت کيدو سره انسان افسوس کوي، که چرې په هغې نۀ خفه کيږي او په دې خفه کيږي نو بيا دا څنګه ايمان شو ؟ دا څنګه د اسلام دعوىٰ شوه ؟ دا څنګه د رسول الله ﷺ سره محبت شو ؟ اَللّٰهُمَّ غَفْرًا !

*** د خوبه راويښيدو سنتونه :**

١ – لاس سره د سترګو نه د خوب اثر ختمول : صحيح مسلم کښې دي: (رسول الله ﷺ رابيدار شو او په داسې حال کښې کيناستۀ چه په خپل لاس سره ئې د سترګو نه خوب لرې کولو). اوددې کار په استحباب باندې نوويؒ او ابن حجرؒ تصريح کړې.

٢ – د خوب دعاء ويل: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ] [بخاري]

٣ – [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَدَّ عَلَيَّ رُوْحِيْ وَعَافَانِيْ فِيْ جَسَدِيْ وَأَذِنَ لِيْ بِذِكْرِهٖ] [ابن السنی]

٤ – [لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ]

حديث کښې دي : (څوك چه د شپې راويښ شو او دا دعاء ئې وويله : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ...... الخ بيا ئې اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وويلو، او يائې دعا وکړه نو دعاء به ئې قبوله شي، اوکه اودس ئې وکړو او مونځ ئې وکړو نو مونځ به ئې قبول شي). [بخاري]

٥ – دې وجې نه ددې ذکر کولو نه پس دعاء غوښتل مسنون دي او دا قبليدونکې دعاء ده، لکه

په دې باندې د خوب والا حديثونه دلالت كوي. روستو به راشي، ان شاء الله.

٦ – د راويښيدو په وخت شپږ دعاګانې دي لكه زمونږ په كتاب ((مسنون ذكر او دعاء، ص: ٣٦)) كښې وګوره.

٧ – د حديثونو نه ظاهره داده چه د خوب نه راويښيدو په وخت د اذكارو نه مخكښې مسواك كول مسنون دي، لكه د حذيفه رضي الله عنه په حديث كښې دي: (نبي ﷺ به كله د شپې راويښ شو يا د ورځې نو خامخا به ئې مسواك كولو). [ابن ابی شیبه]

د علي رضي الله عنه په حديث كښې دي: (څوك چه په تاسو كښې د شپې پاسي نو مسواك دې وكړي څكه كله چه سړے د شپې راپاسي او مسواك وكړي او بيا اودس وكړي او مونځ ته ودريږي نو ملائك ورته راشي او دهٔ شاته ودريږي قرآن آوري او رو رو ورته رانزدے كيږي تردے چه په خُلهٔ ورله خُلهٔ كيدي، نو كوم آيت چه لولي د ملائك په ډډ كښې ورننوځي).

[ابن ابی شیبه: ١٧٩٩]

ابن دقيق العيدؒ فرمائي: دے نه معلومه شوه چه خوب نه پاسيدو په وخت مسواك كول مستحب دي څكه خوب سره د معدے نه د بخاراتو راپورته كيدو په وجه د خُلے خوند متغير شوے وي او مسواك د پاكولو ذريعه ده نو په دے وخت كښے دا مستحب دے.

[كما فی فتح الباري: ١]

څينو سلفوؒ به دا بده ګڼړله چه د مضمضے او خُلے پاكولو نه مخكښے د الله ذكر وكړے شي.
[حلية الأولياء]

نو دا دوه سنته شول: (١) خوب پاسيدو په وخت مسواك. (٢) دے نه پس ذكر كول.

٩ – بيا به د سورتِ آل عمران لس آخري آيتونه ولولي.

١٠ – په بنهٔ فكر او سوچ سره.

١١ – په داسے حال كښے چه آسمان طرفته به ګوري. نو دا درے سنتونه شول. [بخاري، مسلم]

١٢ – سنت داده چه د خپل څان خدمت په خپله وكړي، څكه نبي كريم ﷺ د زوړندے مشكيزے نه په خپله څانله اوبهٔ راخستے دي.

[بخاري، عن ابن عباس]

* **بيت الخلاء ته د ننوتو او راوتو په وخت سنتونه :**

١ – په ګسه خپه ننوتل او په ښئ خپه راوتل، په دے كښے صريح حديث نشته، البته د نبي كريم ﷺ دا حديث ورته شامل دے: [كَانَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ] (نبي ﷺ به په هر ښهٔ كار

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې په ښی اړخ شروع کول خوښ ګنړل)۔ [بخاری]

او (د نبی ﷺ ښی لاس د هغوئ د اودس او خوراك لپاره وو، او ګس لاس ئې د بیت الخلاء او نور تکلیف ډه شیانو لپاره)۔

[ابوداود، مشکاة : ١/ ٤٠ ، عن عائشة]

علماؤ د ښی او ګس لاس په باره کښې قاعده ذکر کړې نو دا ئې هم په کښې ذکر کړی۔

[کما فی ریاض الصالحین، وفتح الباری وشروح الحدیث]

٢ – بیت الخلاء ته د ننوتو دعاء : [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ] [بخاری، مسلم]

٣ – بسم الله ویل: حدیث کښې دی : (بیت الخلاء ته چه څوك ننوځی نو د جناتو د سترګو او انسانانو د عورتونو ترمینځه پرده په دې وینا سره راځی : بسم الله)۔

[ابوداود، مشکاة: ١/ ٤١ ، باسناد حسن]

٤ – وړو او غټو بولو په وخت قبلې ته د مخ کولو او شاکولو نه ډډه کول۔

٥ – زمکې ته د رسیدو نه مخکښې خپله جامه نهٔ وښکل۔

٦ – د قضائې حاجت په وخت، صحراء وی که بیت الخلاء، خلکو نه لرې تلل۔

٧ – ښی لاس خپل خاص اندام له نهٔ وروړل او په ښی لاس استنجاء نهٔ کول۔

٨ – درې کانړو سره استنجاء کول واجب دی، البته که اوبو سره استنجاء کوی نو بیا شماره واجب نهٔ ده۔

٩ – اوبو سره استنجاء کول۔

١٠ – په خاصه طریقه اودس ماتی ته کیناستل، یعنی قدمونه ودرول او په پونډو تکیه لکول۔ [کما فی حدیث أبی هریرة، السلسلة: ٦]

١١ – اودس ماتی په وخت خبرې نهٔ کول۔

١٢ – په سوړه کښې متیازې نهٔ کول۔

١٣ – د اوداسهٔ په ځائې کښې متیازې نهٔ کول۔

بلکه د متیازو او د اودس ځایونه به جدا جدا وی۔

١٤ – په هډوکی، خاشنهٔ او سکرو استنجاء نهٔ کول۔

١٥ – د استنجاء لوټه، کوزه دې د اوداسهٔ د لوټې کوزې نه جدا وی۔

[ابوداود: ١/ ٣٠ ، عن أبی هریرة]

١٦ – د بیت الخلاء نه راوتو په وخت: [غفرانك] ویل۔ [اصحاب السنن]

۱۷ – دارنګه: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَذْهَبَ عَنِّیْ الْأَذٰی وَعَافَانِیْ] ویل۔
[ابن ماجه، ابن السنی، وحسنه ابن حجر فی الفتوحات الربانیة]
نور آداب هم شته چه هغه مونږ په [الدین الخالص] کښې ذکر کړی۔

* د اوداسهٔ په وخت سنتونه :

۱ – د اوداسهٔ لوښے دے د استنجاء د لوښی نه بدل وی۔ لکه مخکښے تیر شو۔
۲ – د شروع په وخت [بِسْمِ اللّٰهِ] ویل۔ (ترمذی)۔
۳ – لوښی کښے د لاس ننه ایستو نه مخکښے درے ځله وینځل۔ حدیث کښے دی: (کله چه په تاسو کښے څوك د خوبه راویښ شی نو خپل لاسونه دے په لوښی کښے د درے کرته وینځلو نه مخکښے نهٔ غوپه کوی، ځکه دهٔ ته معلومه نهٔ ده چه ددهٔ لاس چرته شپه تیره کړے)۔ [مسلم، ترمذی]
٤ – د مخ وینځلو نه مخکښے خُلهٔ او پوزه کښے اوبهٔ اچول۔
٥ – درے ځله د پوزے نه اوبهٔ راوښکل، حدیث کښے دی: (کله چه په تاسو کښے څوك د خوبه راویښ شی نو درے ځله دے د پوزے نه اوبهٔ وباسی، ځکه شیطان ددهٔ په تندونړی باندے شپه تیروی)۔
[صحیح مسلم]
او پوزے ته اوبهٔ اچول او بیا راویستل د اوداسهٔ نه مخکښے نهٔ دی لکه بعضو ویلی دی۔
٦ – په ګس لاس سره پوزه سونړل۔ [بخاری، مسلم، دارمی، مشکاة]
۷ – پوزے او خُلے ته په ښی لاس سره اوبهٔ اچول۔
[کما یعلم من حدیث ابن عباس عند البخاری]
۸ – مضمضه او استنشاق کښے وصل کول۔ [کما فی البخاری : من کف واحد]
۹ – که روژه دار نهٔ وی نو په استنشاق کښے ښهٔ کوشش کول۔ حدیث کښے دی: [وَبَالِغْ فِی الْاِسْتِنْشَاقِ اِلَّا أَنْ تَکُوْنَ صَائِمًا] [سنن اربعه]
۱۰ – د مضمضے په وخت مسواك کول: حدیث کښے دی: (که ماسره په خپل امت باندے د تنګسیا راوستو ویره نهٔ وے نو مابه دویٔ ته هر اودس سره د مسواك کولو حکم کړے وے)۔ (احمد، نسائی)۔
۱۱ – نبی ﷺ به په اوداسهٔ کښے ګیره خلالوله۔ (ترمذی)۔
۱۲ – د سر مسح کولو طریقه داده : چه د سر په ابتدائی حصه دواړه لاسونه کیدی او څته

Maktaba Tul Ishaat.com

پورې ئے راکاږی، بیا بیرته واپس د سر ابتدائی حصے ته راشی۔ [بخاری وغیره]

۱۳ – ټول سر یو ځل مسح کول۔

١٤ – کله نا کله درے ځله مسح کول۔[ابن ابی شیبة ، فتح الباری]

١٥ – د غوږونو ظاهری او باطنی طرفونه مسح کول۔ [مشكاة: ١]

١٦ – د لاسونو او خپو ګوتے خلالول۔ لکه حدیث کښے دی:

[وَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعِ رِجْلَيْكَ وَيَدَيْكَ]

او د خپو ګوتے د ګس لاس په کچے ګوتے سره خلالول۔

[كما فی حديث الترمذی وغيره: أنه ﷺ خلل أصابع رجليه بخنصره]

١٧ – په ښی اړخ شروع کول: حدیث کښے دی:

[كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ فِيْ تَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَطُهُوْرِهِ وَشَأْنِهِ كُلِّهِ] [متفق علیه]

١٨ – درے ځلو پورے مخ، لاسونه او خپے وینځل۔

١٩ – په یو چونګ سره اوبهٔ راخستل۔ [كما قال البخاری: باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة ، ثم يضم معها اليد الأخرى]

٢٠ – سنت داده چه په ښی لاس سره اوبهٔ راواخلی او په ښیٔ خپه باندے ئے درے کرته چنړکاؤ کړی، بیا دغسے په ګسه خپه باندے۔ لکه د بخاری په حدیث کښے راغلی۔

٢١ – مومن له پکار دی چه د اودس کولو په وخت کله د اوداسهٔ اندامونه یویو ځل ووینځی، کله دوه دوه ځل، او زیاتره درے درے ځل۔دارنګه کله ځینے اندامونه دوه دوه ځله، ځینے درے درے ځله۔ لاسونه دے دوه ځله ووینځی او په سر دے مسحه یو ځل وکړی۔ دارنګه څنګلو پورے دے لاسونه دوه دوه ځله ووینځی او باقی درے درے ځله۔

٢٢ – پوره اودس کولو باندے امر راغلے۔ نبی کریم ﷺ فرمائی:

[أَسْبِغِ الْوُضُوْءَ وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ] [ابوداود، ترمذی ، باسناد صحیح]

٢٣ – د اوبو یو چونګ دے را واخلی او د خپلے زنے لاندے دے واچوی او ګیره دے پرے خلال کړی۔ [ابوداود]

٢٤ – د اودس نه پاتے شوے اوبو څښل: لکه دا د علی رضی الله عنه په حدیث کښے راغلی چه نبی کریم ﷺ به داسے کول۔ [الترمذی والنسائی باسناد صحیح]

او دا سنت طریقه د عامو خلکو د مینځ نه ختمه شوے ده۔

٢٥ – د سر مسح کولو په وخت د غوږونو پورتنی اړخونه مسح کول: لکه دا د ربیع بنت

معوذ رضی الله عنها په حدیث کښې راغلی.
[ابوداود، ترمذی، مشکاة: ١/ ٤١]
٢٦ - د سترګو ګوتونه مسح کول. [ابن ماجه، ابوداود، ترمذی، مشکاة]
٢٧ - د حد نه تجاوز او زياتې کولو نۀ کول: حديث کښې دی: يو بانده چې راغې، نبی کريم ﷺ نه ئې د اودس پوښتنه کوله، نو هغوئ ورته د اوداسۀ اندامونه درې درې ځله وينځل وښودل او بيا ئې وفرمايل: اودس دغسې وی نو څوك چه ددې نه زياتې وکړی نو هغۀ ګناه وکړه او ظلم او زياتې ئې وکړو. [نسائی، ابن ماجه]
په حديث کښې دی: (په دې امت کښې به داسې خلك پيدا شی چه په اوداسۀ او دعا کښې به د حد نه تجاوز کوی). [احمد، ابوداود]
٢٨ - په يو مُد اوبو باندې اودس کول: حديث کښې دی: (نبی ﷺ به د صاع (څلورو مُدو) نه واخله تر پنځو مُدو اوبو پورې غسل کولو او په يو مُد به ئې اودس کولو).
[بخاری، مسلم، عن عائشة]
٢٩ - استنجاء نه پس او اودس کولو نه مخکښې خپل ګس لاس په خاورو يا ديوال يا زمکه پورې راښکل سنت دی: لکه د ابن عباس ﷛ په حديث کښې د نبی کريم ﷺ دا عمل ذکر شوې. [بخاری].
٣٠ - د غسل او اودس نه پس سنت داده چه خپل اندامونه اوچ نۀ کری. لکه دا خبره په ډيرو صحيحو حديثونو کښې ذکر شوې. په يو حسن حديث کښې دا هم دی چه (د نبی ﷺ لپاره يوه توليه وه چه په هغې به ئې ځان وچولو).
[حسنه الألبانی فی الصحيحة: ٥]
٣١ - هر مانځه ته اودس کول: انس ﷛ عنه فرمائی: (نبی ﷺ به هر مانځه ته اودس کولو. او زمونږ لپاره يې اودسه کيدو پورې يو اودس کول هم کافی دی).[دارمی]
ابن عمر ﷛ به هم هر مانځه ته اودس کولو.
٣٢ - که په ګوتمه باندې ئې د الله نوم وغيره وی نو د اودس ماتی په وخت ئې وباسل:
(نبی ﷺ به چه کله بيت الخلاء ته ننواتۀ نو ګوتمه به ئې وباسله). [حديث صحيح]
٣٣ - سنت طريقه داده چه د لوښی نه اودس وکړې شی.
٣٤ - د استنجاء په وخت لوښې خپل ښی اړخ ته کيښودل، دې دپاره چه په ګس لاس ترې اوبۀ راواړوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۵ – او د اودس په وخت ئې گس اړخ ته کينبودل: لکه چه دا د عائشي رضي الله عنها د حديث نه معلوميږي۔ [مسلم] په هغې کښې الفاظ داسې دي: (بيا به نبي ﷺ خپل ښي لاس سره په گس لاس اوبهٔ راړولې او خپل عورت به ئې ووينځهٔ بيا به ئې اودس کولو)۔

۳۶ – او د نبي ﷺ دا طريقه وه چه کله به ئې خپل لاس درې ځله ووينځهٔ نو بيا به ئې په لوښي کښې ننه ايستهٔ، دا په ډيرو حديثونو کښې راغلي: [ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ] ځينې خلك دا بدې گنړي! حالانکه ددې فائده داه چه په اوبو کښې اسراف نهٔ کيږي۔

۳۷ – او د نبي ﷺ طريقه دا وه چه په ناسته به ئې اودس کولو، لکه دا د هغوئ د سيرت نه معلومه شوې خبره ده۔

۳۸ – د اندامونو وينځلو په وخت هغه مړل: لکه مستورد بن شداد ﷺ وائي: (ما رسول الله ﷺ وليدهٔ چه کله به ئې اودس کولو نو د خپو گوتې به ئې په کچه گوته مړلې۔ [ترمذی]۔ په دې باندې د اسباغ الوضوء والا حديثونه هم دلالت کوي، ځکه دا د مړلو نه بغير ممکن نهٔ دې۔

۳۹ – په کور کښې اودس کول: نبي ﷺ فرمائي: (څوك چه په کور کښې اودس وکړي بيا د الله د کورونو نه يو کور ته د الله د فريضې اداء کولو لپاره پياده لاړ شي، نو په يو قدم سره به ئې گناه معاف کيږي او په بل سره به ئې درجه وچتيږي)۔[مسلم]

۴۰ – کله نا کله د فرضو د محل نه زيات وينځل مسنون دي: لکه د ابو هريره ﷺ په حديث کښې دي چه دهٔ اودس وکړو او خپل لاسونه ئې د مټ د څهٔ برخې سره ووينځل او خپلې خپې ئې د پونډو د څهٔ برخې سره ووينځلې بيا ئې وفرمايل: ما رسول الله ﷺ وليدهٔ چه دغسې اودس ئې کولو۔ [صحيح مسلم]

۴۱ – اودس نه پس دا دعاء لوستل:

[سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ اِلَيْكَ]

حديث کښې دي: (چا چه پوره اودس وکړو او بيا ئې د هغې نه پس دا دعا وويله نو په دې به ورله يوه ټاپه ولږول شي، د عرش لاندې به کيښودې شي او تر قيامته پورې به دا نهٔ ماتې کيږي)۔

[نسائی فی عمل اليوم والليلة: ۳۰، باسناد صحيح، کما فی الارواء]

په دې کښې ناسته شرط نهٔ ده بلکه اودس نه وزگاريدل شرط دي۔

۴۲ – او دا دعاء به لولي: [أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ]

دې دعاء ويلو سره د جنت اتهٔ واړه دروازې پرانستې کيږي۔ [مسلم، ترمذی]

په دې کښې راز دادې چه دې سره انسان ظاهري اوباطني دواړه پاك شو نو ځکه د جنت حقدار شو.

۴۳ – ددې کلمې ویلو په وخت به ګوته پورته کوي. او په دې وخت کښې آسمان ته کتل په یو ضعیف روایت کښې راغلي. [ارواء الغلیل: ۹٦]

۴۴ – هر اوداسهٔ نه پس دوه رکعته کول: په دې کار سره بلال ﷺ جنت ګټلې.

د عثمان رضی الله عنه په حدیث کښې دي چه دهٔ په یو چوك کښې اودس وکړو بیا ئې وفرمایل: ما رسول الله ﷺ په اودس کولو ولیدهٔ بیا ئې دا ارشاد وفرمایهٔ: (چا چه زما ددې اودس پشان اودس وکړو، بیا ئې دوه رکعته مونځ وکړو چه په دې کښې ئې ځان سره هیڅ سوچ نهٔ کولو نو خامخا به ورته مخکنی ګناهونه وبښل شي). د مسلم په روایت کښې دي: چه (په زړهٔ او مخ دواړو سره ورته متوجه وي نو جنت ورله واجب کیږي).

سبحان الله! څومره لوئې مګر آسان عمل! او څومره ډیر لږ خلك پرې عمل کوي!

۴۵ – د اودس کولو نه پس خپل خختک ته اوبهٔ چنړکاوول سنت دي: (رسول الله ﷺ به چه کله اودس وکړو نو خپل شرمګاه ته به ئې اوبهٔ چنړکاؤ کولې).

[ابوداود، باسناد صحیح]

۴٦ – په مسواك کښې د لسو نه زیات سنت طریقې دي، لکه په ښي لاس نیول: (نبي ﷺ به په هر شئ کښې په ښي اړخ شروع کول خوښول، په اودس، په سر ګمنزولو، په څپلئ خپو کولو او په مسواك کولو کښې).

[ابوداود، کتاب اللباس]

۴۷ – مسواك به په پلنو وهلې شي نهٔ په اوږدو.

۴۸ – په ژبه به راښکلې شي.

۴۹ – مسواك کولو کښې کوشش کول.

۵۰ – په اول او آخر کښې وینځل.

۵۱ – هر وخت ددې اهتمام کول.

۵۲ – که خپل نهٔ وي نو بل نه غوښتل. او نور داسې سنتونه چه په [الدین الخالص] فتاویٰ کښې په تفصیل سره ذکر شوي.

۵۳ – په اور باندې پخ شوي شئ خوړلو نه پس اودس کول، لکه دا په ګڼرو حدیثونو کښې راغلي او ددې صرف وجوب منسوخ شوې.

Maktaba Tul Ishaat.com

او همدے قِسم اودس سره گناهونه رژيږي او درجات وچتيږي۔ د حديثو په کتابونو کښے ددے ډير فضائل ذکر شوي۔

۵٤ – او نبي ﷺ به د تهجدو د هر دوه رکعتو نه پس مسواك کولو۔ [ابن ابی شيبه]

۵۵ – مونځ ته ودريدو په وخت به ئے هم مسواك کولو۔

۵٦ – او کور ته ننوتو او په عامو وختونو کښے به ئے مسواك کولو۔

مسواك سره خُلهٔ صفا کيږي او رب خوشحاليږي۔ [رواه البخاری تعليقا]

۵۷ – مسواك د خپل بالخ لاندے کيښودل: حديث کښے دي: (بينا رسول الله ﷺ خپلے بسترے ته لاس وراوړد کړو او د هغے نه ئے مسواك راواخستهٔ)۔ [سنن النسائی]

* **قيام الليل (تهجدو) کښے سنت طريقے :**

۱ – د خوب کولو نه پس د شپے په آخره کښے مونځ کول۔

۲ – يوولس او کله ديارلس رکعته مونځ کول۔

۳ – په مانځه کښے اوږد قيام او سجده کول۔

٤ – اولني دوه رکعته لنډ او بيا اوږد مونځ کول۔

۵ – هر دوه رکعته روسته سلام اړول۔

٦ – اولنو دوه رکعتونو کښے د تکبيرِ اولیٰ نه پس دا دعا لوستل:
[اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَاِسْرَافِيْلَ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ ......الحديث]

۷ – او کله دا دعا لوستل: [اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ ...... تر آخره]

۸ – او دا دعاء لوستل: [اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ ......]

۹ – او دا دعا لوستل: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا ......] او داسے نورے دعاگانے۔

۱۰ – د عذاب د آيت لوستلو په وخت اعوذ بالله ويل او د رحمت د آيت لوستلو په وخت رحمت غوښتل، او د الله د تنزيه (پاکئ) په وخت تسبيح ويل، لکه همدا د مسلم په حديث کښے ذکر شوي۔

۱۱ – په ترتيل سره (په قلاره قلاره) تلاوت کول۔

۱۲ – بار بار آيت لوستل۔ د ((قرآن نه د نفعے اغستو)) په عنوان سره مخکښے مستقله فائده کښے نور آداب هم تير شول۔

۱۳ – د تهجدو د مانځه د څليرشتو (۲٤) نه زياتے طريقے دي۔ تفصيل ئے په [الدين الخالص] کښے وگورئ۔

۱۴ – په سجده کښې دعا غوښتل۔ او د تهجدو د مانځه په آخر کښې، هر کله چه د مانځه نه فارغ شي، نو دا دعا دې وائي: [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا ......]

ابن عباس – رضي الله عنه – فرمائي: رسول الله ﷺ به چه کله مانځه نه فارغ شو نو دا دعاء به ئے لوستله: [اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَسْأَلُكَ الرَّحْمَةَ مِنْ عِنْدِكَ، اللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا ......]

۱۵ – د تهجدو په مانځه کښې ډيرې دعاګانې راغلي، ځينې د مانځه نه مخکښې، ځينې په مانځه کښې دننه او ځينې د مانځه نه روستو۔ ددې لپاره زمونږ کتاب ((د ذکر او دعا مستند کتاب))، دارنګه [الدين الخالص: ۵] وګوره۔

۱۶ – قرآن په جهر سره لوستل: نبي کريم ﷺ ابو بکر صديق رضي الله عنه ته وفرمايل: خپل آواز دې لږ پورته کړه۔ او عمر رضي الله عنه ته ئے وفرمايل: خپل آواز دې لږ ښکته کړه۔ [ابوداود]

۱۷ – په قيام الليل باندې هميش والے کول، او کله چه پاتې شي نو د ورځې په دولس رکعته کولو سره د هغې قضائي راوړل۔ [صحيح مسلم]

۱۸ – هره مياشت کښې يو ځل قرآن ختمول مسنون دي، خو په قيام الليل کښې۔ لکه د عبد الله بن عمرو ﷺ په حديث کښې دي: (هره مياشت کښې قرآن ختموه) [بخاري، مسلم]

* **په وترو کښې سنت طريقې :**

۱ – د شپې آخري برخې ته ئې روستو کول: خو دا د هغه چا لپاره چه د پاسيدو اميد لري، ورنه بيا به ئې د شپې په اولنۍ برخه کښې کوي۔ (کوم کس چه د خوب نه مخکښې وتر کوئ، پخته کار دې)۔ [الصحيحة]

۲ – د وترو په رکعتونو کښې (سورتِ اعلیٰ)، (سورتِ کافرون) او (سورتِ اخلاص) لوستل۔ [کما في السنن]

۳ – که درې رکعته کوي نو په دوه رکعتونو سلام ګرځول۔ دا په ګڼرو حديثونو کښې راغلي، يو حديث په کښې د ابن عمر ﷺ دے۔[بخاري، الدين الخالص بالتفصيل]

۴ – رکوع نه مخکښې دا دعائے قنوت لوستل: [اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ ......] تر آخره۔
[ابوداود، ترمذي عن الحسن بن علي]

۵ – وترو نه پس: [سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ] درې ځله لوستل، او په دريم ځل پرې آواز اوږدول۔

۶ – دارنګه دا دعا لوستل: [اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ] [سنن نسائي]

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دعاء به د وترو نه پس کوی۔ (نسائی)۔ نهٔ د دعائے قنوت په ځائے۔

۷ – کله نا کله به د وترو نه پس دوه لږوی۔ لکه په درے حدیثونو کښے دا ثابته ده۔
[الدین الخالص]

۸ – په دے وخت کښے ډیر ډیر استغفار کول، د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ [ذاریات: ۱۸] (او د صبا په وخت به ئے د خپل رب نه بښنه غوښتله) او دغسے د نبی کریم ﷺ عادت مبارك وو۔

۹ – د وترو لپاره خپل کور والا راویښول۔ لکه د عائشے رضی الله عنها په حدیث کښے دی: (زهٔ به ئے راویښه کړم نو مابه وتر وکړل)۔ (بخاری) او فرمائی: (الله دے په هغه سړی رحم وکړی چه خپله ئے مونځ وکړو او خپله بی بی ئے راویښه کړه)۔ [مشکاة: ۱]

۱۰ – د وترو نه پس په ناسته دوه رکعته مستحب دی، اوکه په سفر کښے وی نو دا د تهجدو په ځائے کار ورکوی۔ نبی ﷺ فرمائی: (دا سفر مشقت دے نو کله چه په تاسو کښے څوك وتر وکړی، هغه دے دوه رکعته وکړی، که د شپے پاسیدهٔ (نو ښه ده) گنے دا د هغے په ځائے کار ورکوی)۔ (دارمی)۔

۱۱ – په دے دوه رکعاتو کښے به ﴿ إِذَا زُلْزِلَتْ ﴾ او ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ﴾ او کله سورتِ واقعه او رحمٰن لولی۔ (طحاوی)۔

* په څپلو چپلو خپو کولو کښے سنت طریقے :

۱ – د خپو کولو په وخت ښیٔ پخپو کول او د ویستو په وخت گسه مخکښے کول: نبی ﷺ فرمائی: (کله چه په تاسو کښے څوك څپلیٔ پخپو کوی نو په ښیٔ دے شروع وکړی او د وښکلو په وخت دے گسه اول ویاسی او دواړه دے پخپو کوی او یا دے دواړه ویاسی)۔
[صحیح مسلم]

او دا سنت طریقه هره ورځ څو ځله بار بار کیږی۔

۲ – په ناسته څپلیٔ پخپو کول، هر کله چه ناستے ته ضرورت وی: ځکه نبی ﷺ په ولاړه د څپلو پخپو کولو نه منع فرمایلے۔ (ابن ماجه)۔

خو د انس ﷺ په حدیث کښے ثابت دی، رسول الله ﷺ به په ناسته او ولاړه دواړو حالتونو کښے څپلیٔ پخپو کولے۔

[شعب الایمان، طبقات ابن سعد، وانظر الصحیحة للألبانی]

٤ – د وښکلو نه پس به ئے خپل گس اړخ ته یا د دواړو خپو ترمینځه او یا نستونړی کښے

ګدی، لکه چه دا کار علی ﷜ کړے وو۔

[طحاوی، بیهقی، وانظر الحدیث فی الدین الخالص، باب مسح النعال]

اویابه په کښې مونځ کوی، یابه ئے په بل مناسب ځائے کښې ګدی، لکه دا کار به ابن مسعود ﷜ د رسول الله ﷺ د څپلو سره کولو۔

* **په جامه اغوستو کښې سنت طریقے :**

۱ – په ښی اړخ شروع کول: نبی ﷺ فرمائی: (کله چه تاسو جامه اغوندئ نو په ښی اړخ شروع کوئ)۔ (ترمذی)۔

۲ – د وښکلو په وخت په ګس اړخ شروع کول۔ دا خبره خو په څپلو او د مسجد نه په راوتو کښې راغلې۔ پاتے شو په جامو کښې نو ظاهره داده چه په دے باره کښې په ډاګه حدیث نشته، امام نوویؒ دیته په (ریاض الصالحین) کښې مستحب ویلی، او دلائل ئے ذکر کړی خو هغه په دے دلالت نهٔ کوی۔ [ریاض الصالحین، باب: ۹۹، حدیث: ۷۲۰]

۳ – بسم الله ویل: حدیث کښې دی: (هر هغه کار چه شان والا وی او د الله په نوم سره شروع نشی نو هغه لنډے بو چے وی)۔

۳ – اغوستو په وخت مسنونے دعاګانے ویل: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ کَسَانِیْ هٰذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ] (ابوداود)۔

٤ – [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ خَیْرَهٗ وَخَیْرَ مَا هُوَ لَهٗ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَا هُوَ لَهٗ] [ابوداود، ترمذی، احمد]

۵ – د جامے زوړندولو نه ځان ساتل: ځکه دا په هره جامه کښې حرام دے، نبی ﷺ فرمائی: (جامه زوړندول په لنګ، قمیص او پټکی تولو کښې وی)۔ (ابن ماجه)۔

افسوس خبره داده چه نن صبا مسلمانان په دے کښې ډیره بیباکی کوی۔

٦ – الله تعالیٰ لپاره ځان ډولی کول مسنونه طریقه ده : ارشاد دے: ﴿ خُذُوْا زِیْنَتَکُمْ عِنْدَ کُلِّ مَسْجِدٍ﴾ [اعراف: ۳۱] او نبی کریم ﷺ فرمائی: (الله ډیر حقدار دے چه هغهٔ ته ډول وکړے شی)۔ (بیهقی)۔ او نبی ﷺ به چه کله د کوره راوتو، خپل ځان به ئے ډولی کړو او جامے به ئے برابرے کړے۔

۷ – د شهرت جامه نهٔ اغوستل : حدیث کښې دی: (چاچه په دنیا کښې د شهرت جامه واغوستله الله به ورته د قیامت په ورځ د ذلت جامه واغوندوی)۔ [احمد، ابوداود]

۸ – خپله جامه صفا کول : نبی کریم ﷺ یو سړے په خیرنو جامو کښې ولیدهٔ، وے فرمایل: (آیا دا سړے څهٔ داسے شے نهٔ مومی چه خپله جامے پرے صفا کړی؟)۔ [احمد، نسائی]

Maktaba Tul Ishaat.com

۹ - کله چه مالداره وی نو په دهٔ دے د الله د نعمت نښے نښانے راښکاره شی۔ [احمد، نسائی]

۱۰ - سپینے جامے اغوستل : نبی ﷺ فرمائی: (تاسو سپینے جامے اغوندئ او په دے کښے مړو له کفن ورکوئ)۔

[ابن ماجه وغیره]

پاتے شو د لباس احکام نو دا په [الدین الخالص] کښے ذکر شوی۔

*** کورته ننوتو او راوتو کښے سنت طریقے :**

۱ - څوك چه دا دعا ووائی: [بِسْمِ اللّٰهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ] نو هغهٔ ته ویل کیږی: ستا کفایت وشو، تهٔ د شر نه وساتل شوے او هدایت درته وشو۔ او شیطان ترے جدا شی۔ [ترمذی، ابوداود]

۲ - دارنگه دا دعا ویل: [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَضِلَّ اَوْ اُضَلَّ اَوْ اَزِلَّ اَوْ اُزَلَّ اَوْ اَظْلِمَ اَوْ اُظْلَمَ، اَوْ اَجْهَلَ اَوْ یُجْهَلَ عَلَیَّ]

۳ - او آسمان طرفته سر پورته کول۔

[ابوداود، ابن ماجه، ترمذی، مشکاة: ۱/ ۲۵۱]

٤ - څوك چه ورسره مخامخ شی هغهٔ ته سلام کول۔

٥ - د هر کانړی بوټی خواته د الله ذکر کول۔

٦ - لارے نه ضرری شے لرے کول۔

۷ - څومره چه کیدے شی مسلمانانو ته نفع رسول۔

۸ - په ښو نیتونو د کوره وتل، لکه علم، حلال مال، خدمت او دعوت۔

۹ - خپل نظر ښکته ساتل۔

۱۰ - خبرے کمے کول او خاموشی ډیره اختیارول۔ دا هر څهٔ د نبی ﷺ طریقه وه او په دے ئے حکم هم فرمایلے۔

*** کورته ننوتو په وخت :**

۱ - د الله ذکر کول۔ رسول الله ﷺ فرمائی: ((کله چه سړے خپل کور ته ننوځی او د ننوتلو په وخت او د خپل خوراك په وخت د الله ذکر وکړی نو شیطان - خپلو ملگروته - وائی : تاسو لپاره دلته نهٔ د شپے تیرولو ځائے شته او نهٔ د ماښامی خوراکه۔ اوکله چه کورته ننوځی او ننوتو په وخت د الله ذکر ونه کړی نو شیطان وائی : تاسو د شپے تیرولو ځائے بیاموند۔ او بیا چه کله د خوراك په وخت د الله ذکر ونه کړی نو شیطان وائی : تاسو د شپے تیرولو ځائے او ماښامی خوراکه

دواړه وموندل))۔

[مسلم : ۱۳/ ۱۹۰ - نووی]

۲ - دا دعا هم باك نلري : [أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيرَ الْمَوْلَجِ وَخَيرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللّٰهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا] ځکه ددې ذکر په باره کښې منقطع حديث راغلې۔

۳ - په کور والو سلام کول: الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ فَسَلِّمُوْا عَلٰى أَهْلِهَا ﴾ [نور: ٦١]

٤ - په مسواك سره شروع کول۔ لکه د مسلم په حديث کښې راغلي۔

۵ - کور کښې دننه د خپل کور والو سره خدمت کول، څنګه چه د نبی ﷺ طريقه وه۔

٦ - هيچاله تکليف نۀ ورکول۔

۷ - د خپل ځان خدمت کول، څنګه به چه نبی ﷺ د خپل ځان خدمت کولو۔ اوکه کور والا ددۀ خدمت کوی نو صحيح ده۔

*** جومات ته تلو کښې سنت طريقې :**

۱ - وختې جومات ته تلل، نبی ﷺ فرمائي: (که چرې خلکو ته هغه ثواب معلوم شی کوم چه په اذان او په اولنی صف کښې دې او بيا دوئ دا صرف د قرعه اندازئ په ذريعه موندلې شوې نو خامخا به ئې پرې قرعه اندازي کړې وې۔ اوکه چرې دوئ ته هغه ثواب معلوم شی کوم چه ماښځه ته په وختې تللو کښې دې نو خامخا به دوئ ديته يو د بل نه مخکښې والې وکړی۔ اوکه چرې دوئ ته هغه ثواب معلوم شی کوم چه په ماسخوتن او سهار ماښځه کښې دې نو خامخا به ورته راځی اګرکه په خرپوسو سره راتلل ولې نۀ وی)۔

[بخاری ، مسلم]

۲ - د نور دعا غوښتل: [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا ، وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا ......]

علامه قحطانیؒ دا دعا جومات ته د تللو په وخت ښودلې، خو ظاهره داده چه دا د سهار سنتو نه پس دعاء ده، لکه روستو راځی۔

۳ - په آرام او وقار سره تلل: حديث کښې دی: (کله چه تاسو اقامت واورئ نو ماښځه ته د سکينې او وقار په حالت کښې ځئ)۔ (بخاری، مسلم)۔

٤ - جوماتونو طرفته ډير ډير قدمونه اغستل: نبی ﷺ فرمائي: (آيا زۀ تاسو ته هغه څۀ ونۀ ښايم چه د هغې په وجه الله ګناهونه ښنی او درجې وچتوی ! په دې کښې يو شے دادې : جوماتونو ته ډير ډير قدمونه اغستل)۔ (بخاری)۔

ددې دا مطلب نۀ دې، چه د ناجوړه پشان نزدې نزدې قدمونه اغستل، اګرکه دا د ځينې سلفوؒ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

نقل دي، بلکه سنت طريقه داده چه انسان په تادئ مزل کوی لکه نبی ﷺ به داسې مزل کولو ته به وائې چه هغه ښکته ځائې ته کوزیږی.
[رواه الترمذی فی الشمائل]

۵ – جومات ته ننوتو په وخت [اَلصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ] ویل، او بسم الله ویل او بیا دا دعا ویل: [اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ]

٦ – ښئ خپه مخکښې کول: لکه انس رضی الله عنه فرمائي: (سنت طريقه داده چه کله جومات ته ننوځې نو ښئ خپه مخکښې کړه اوکله چه راوځې نو گسه خپه رامخکښې کړه). [حاکم]

۷ – مخکښې صف ته ځان رسول، لکه مخکښې حديث تير شو.

۸ – که ممکنه وی نو د صف ښی اړخ ته ودريدل.

۹ – تحية المسجد کول، چه دا د مسلمانانو په اتفاق سره سنت ده. [فتاوی الدين الخالص]

۱۰ – مونځ نه مخکښې او روستو په جومات کښې کيناستل.

۱۱ – جومات نه راوتو په وخت [بِسْمِ اللّٰهِ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ] او بيا : [اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ] ويل. [ترمذی، نسائی]

۱۲ – گسه خپه مخکښې کول.

۱۳ – او د څپلو خپو کولو په وخت ښئ مخکښې کول.

۱٤ – افضله داده چه په جومات کښې دې اودسئ په حالت کښې کينۀ نی. (ځکه ملائك په تاسو کښې يو کس لپاره دعا غواړی ترڅو چه يې اودسه شوې نۀ وی). (بخاری).

* **د سهار په سنتو کښې سنت طريقې :**

۱ – که ممکن وی نو په کور کښې ادا کول.

۲ – د آذان نه دستي روسته ادا کول، لکه د ابن عمر رضی الله عنه په حديث کښې دی: (گوياً اذان به د هغوئ په غوږونو باندې وو).

۳ – په دې کښې لنډ قرائت کول. لکه د نبی ﷺ دا عادت وو. (بخاری).

٤ – په دې کښې سورتِ کافرون او سورتِ اخلاص لوستل. او کله ﴿ قُولُوْا آمَنَّا بِاللّٰهِ ﴾ [بقره: ۱۳٦] (اې مسلمانانو ! تاسو ووايئ چه مونږ په الله ايمان راوړې) او ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلٰی كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا ﴾ [آل عمران: ٦٤]

(تۀ ووايه : اې اهل كتابو ! راشئ په يوه كلمه راجمع شئ چه په هغې كښې مونږ او تاسو برابر يو) لوستل ...... يا ﴿ قُولُوْا آمَنَّا بِاللّٰهِ ﴾ [بقره: ۱۳٦] او ﴿ رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ

الشَّاهِدِيْنَ﴾ [آل عمران: ۵۳] لوستل.

۵ – دے نه پس دوه لړول. (نبي ﷺ به چه د سهار سنت وکړل، په ګس اړخ به ئے دده ولړوله). (بخاري). او سنت داده چه دا کار په کور کښې وکړي.

مبارکفورئ د ډير تفصيل نه پس ليکي: زما په نيز راجحه داده چه د هر يو کس لپاره دا دوه لړول مستحب دي، برابره خبره ده که تهجد ئے کړے وي او که نه، سنت ئے په کور کښې کړے وي او که په جومات کښې، ځکه د نبي ﷺ دا وينا عامه ده: (کله چه په تاسو کښې څوك د سهار دوه رکعته سنت وکړي نو هغه دے په ښي اړخ دده ولړوي).

[ترمذي، ابوداود] او دا صحيح حديث دے، چاچه ضعيف ګرځولے هغه درست نهٔ دهٔ. [مرعاة المفاتيح: ۴/ ۱۸۴، ۴/ ۱۹۴، اعلام أهل العصر، ص: ۱۴، ۲۰]

۶ – د سهار سنتو نه پس دا ويل: [اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ وَإِسْرَافِيْلَ وَمُحَمَّدٍ النَّبِيِّ ﷺ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ] [اسناده حسن، كما في الصحيحة]

۷ – او دا دعا ويل: [اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا، وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا ......]

۸ – دے وخت کښې سل ځله استغفار، سل ځله: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ راغلي.

[الدين الخالص: ۲، أصول الرفق في الحصول على الرزق]

۹ – اقامت کيدو په وخت به سنت نهٔ کوي.

۱۰ – د فرض مونځ يا نمر ختهٔ نه پس به ددے قضائي راوړي.

د سهار د دوه رکعته سنتو احکام مونږ په [الدين الخالص] کښې تفصيلًا ذکر کړي.

* **د آذان سنت طريقے:**

۱ – آوريدونکي له اذان کونکي پشان کلمات ويل پکار دي سيوا د [حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ] او [حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ] چه ددے په ځائے به [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ] وائي.

[بخاري، مسلم] ددے په وجه جنت واجب کيږي.

۲ – دارنګه: [وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا] به وائي. ددے په وجه مخکني ګناهونه ښښل کيږي. (مسلم).

او دا ذکر به د تشهد کلمے په وخت وائي.

[كما في رواية ابن خزيمة والطحاوي، والتفصيل في الدين الخالص]

۳ – د مؤذن د جواب نه فارغيدو سره به درود وائي.

Maktaba Tul Ishaat.com

لکه حدیث کښې دي : (بیا په ما درود ووایئ ځکه چا چه په ما یو ځل درود ووایهٔ الله به ددے په بدله کښې په هغهٔ لس رحمتونه نازل کړي)۔ (مسلم)۔

٤ – بیا د وسیلے دعا غوښتل : چه په دے سره د انسان لپاره شفاعت واجب کیږي۔

٥ – خپل ځان او مومنانو لپاره دعا غوښتل: دے وخت کښې دعا قبلیږي۔ حدیث کښې دي: (د مؤذن پشان کلمات وایه او کله چه دے ختم کړل نو غواړه درکړے کیږي به)۔
[ابوداود، ابن حبان]

٦ – مؤذن او جواب ورکونکي دواړو لپاره مسنون دي چه [اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اللّٰهُ اَكْبَرُ] د راء په پیښ سره ووائي، لکه همداسے د صحیح مسلم په روایت کښې راغلي۔ [الدین الخالص]

٧ – په اذان کښې د ضرورت نه بغیر خبرے نهٔ کول۔

٨ – د اذان کیدو په وخت دعا غوښتل۔ لکه چه دا په حدیث کښې راغلي۔

٩ – د زړهٔ په صدق سره د اذان جواب ورکول، چه دا جنت ته د ننوتو سبب دے۔ (مسلم)۔

*** په اقامت کے سنت طریقے :**

١ – د اقامت شروع کیدو په وخت د مقتدیانو پاسیدل، او د [قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ] ویلو په وخت د امام پاسیدل۔ [کما فی روایة انس عند عبد الرزاق، وانظر صحیح مسلم والدین الخالص]

٢ – اقامت کیدو په وخت دعا قبلیږي، حدیث کښې دي : (دوه دعاگانے نهٔ رد کیږي (خامخا قبلیږي) : اذان په وخت دعا او میدانِ جنگ کښې چه کله خلك یو بل کښې ننوځي)۔
[ابوداود]

دارنگه د اقامت په وخت دا دعا لوستل: [اَللّٰهُمَّ آتِنِيْ اَفْضَلَ مَا تُؤْتِيْ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ]
[النسائی فی عمل الیوم واللیلة]

حدیث کښې دي: (کله چه مونځ لپاره اقامت وشي نو د آسمان دروازے پرانستے شي او دعا قبوله کړے شي)۔
[النسائی فی عمل الیوم واللیلة]

٣ – د اقامت جواب ورکول، ددے نه پس درود ویل، د وسیلے دعا ویل، او : [رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا ......] دعا ویل څنگه چه د اذان نه پس ویل کیږي، دا هر څهٔ د اقامت نه پس ویل ثابت نهٔ دي، په دے باره کښې هیڅ صحیح او صریح حدیث نشته۔

پاتے شو د [اِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ] نه استدلال کول، نو دا په عموماتو استدلال کول دي او په باب د عباداتو کښې په عموماتو استدلال کول صحیح نهٔ دي۔ دے وجے نه

په دې باندې د خالد حسنان او فتاوی اللجنه والو فتویٰ ورکوي قابلِ غور خبره ده.

*** سترې ته مونځ کول :**

۱ – نبی ﷺ فرمائي: [لَا تُصَلِّ إِلَّا إِلَى سُتْرَةٍ] (سترې نه بغير مونځ مه كوه). [ابن خزيمه]

دې نه معلومه شوه چه ستره د هر مونځ گذار لپاره – نارينه وي كه زنانه، په كور كښې مونځ كوي اوكه په جومات يا صحراء كښې، هر چا لپاره – واجب ده، بلكه په هيڅ حديث كښې د نبي ﷺ نه ستره پريښودل نۀ دي ثابت. صحابه كرامو به په مسجدِ حرام كښې د سترې اهتمام كولو. [انظر أحكام السترة للقحطاني ، والدين الخالص]

۲ – سترې ته نزدې ودريدل.

۳ – سترې مخې ته تيريدونكې نۀ پريښودل: حديث كښې دي: (كله چه په تاسو كښې څوك مونځ كوي هغۀ له ضروري دي چه سترې ته مونځ وكړي او ورته نزدې ودريږي او هيڅوك پرې نۀ ږدي چه ددۀ او د سترې ترمينځه تير شي).

[ابوداود ، ابن ماجه ، ابن خزيمة]

د افسوس خبره ده ! نن صبا زياتره مونځ كوونكو د سترې دا محكمه سنت طريقه په غير د څۀ وجې نه پريښې ده !

د سترې ډير **فوائد** دي: سنت باندې عمل كول، شيطان نه خپل مونځ محفوظ ساتل، تيريدونكو سره آساني كول، او داسې نور. او هر يو شے چه خپلې مخې ته ئې ودروي ستره جوړيدې شي، لكه ديوال، ستنه، كټ، امسا، سورلۍ او داسې نور. او د مونځ كونكي د قدم او سترې ترمينځه به درې گزه فاصله وي، او ددۀ او د سجدې د ځائے ترمينځه به د گډې بزې تيريدو برابر ځائے وي. ستره به يو شرعي گز هومره اوچته وي. ستره د امام، او مقتديانو ټولو لپاره مشروع ده، سيوا د مسبوق نه. څوك چه په سورلۍ مونځ كوي هغۀ له ستره ودرول ضروري نۀ دي. د امام ستره د مقتدي لپاره كافي ده.

ددې پوره تفصيل په [الدين الخالص] فتاوىٰ كښې ذكر شوې.

*** د مانځه قولي سنت طريقې :**

۱ – ثناء ويل: [سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ......] (سنن اربعه) يا [اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ ......] (بخاري). يا [وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ ......] (مسلم).

يا : [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ] (مسلم).

يا : [إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي......] (نسائي).

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا ټول زمونږ د ذکر او دعا په رساله او په [حصن المسلم ، مشکاة : ١/ ٧٨] کښې شته دے۔

٢ – قرائت نه مخکښې دا تعوذ ویل : [أَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ : مِنْ نَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ وَهَمْزِهٖ]

او : [أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ] ویل هم جائز دی۔ [مصنف عبد الرزاق]

٣ – بسم الله ویل۔

٤ – هر مونځ کونکی لپاره د فاتحے نه پس آمین ویل۔

٥ – په جهری مانځه کښې دا په جهر ویل۔

٦ – هر مونځ کونکی لپاره فاتحه ویل، برابره خبره ده که امام په زوره قرائت لولی او که په پټه، ځکه ددے قول والو سره قوی دلائل دی۔ امام بخاریؒ دا قول په خپل صحیح کښې غوره کړے۔

او د چا چه دا رائے ده چه مقتدی به نۀ په جهری مونځ کښې قرائت کوی او نۀ په سری کښې، نو دۀ سره هیڅ دلیل نشته۔ مسلمان له پکار دی چه په دے حقله د خپل ځان خیر خواهی ولټوی او تعصب ونۀ کړی، ځکه په هیڅ صحیح حدیث کښې مقتدی د سورتِ فاتحے ویلو نه نۀ دے منع شوے۔ ښۀ فکر وکړه !

٧ – امام لپاره د فاتحے سره سورت هم لوستل، او مقتدی به دا په سری مونځونو کښې لولی نۀ په جهری کښې۔ نبی ﷺ فرمائی: [فَلَا تَقْرَؤُوْا بِشَيْءٍ إِذَا جَهَرْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ]

(زۀ چه په زوره قرائت کوم نو د سورتِ فاتحے نه سیوا ماپسے نور څۀ مۀ لولئ)۔ (ابوداود)۔

٨ – په قرائت کښې د سنت لحاظ ساتل او په هر آیت باندے وقف کول۔

٩ – د سهار په مانځه کښې طوالِ مفصل (اوږدۀ سورتونه) لوستل، او دغسے په ماسپخین کښې هم، او یا په کښې اوساط مفصل لوستل۔ او په مازیگر مانځه کښې اوساطِ مفصل لوستل، او په ماښام کښې کله اوږد قرائت کول او کله لنډ۔ او په ماسخوتن کښې اوساطِ مفصل لوستل۔

د عربو په بعضِ ملکونو کښې ما په یو جومات کښې مونځ کولو نو ځینے امامانو د سهار په مانځه کښې درے یا یو آیت ولوستۀ، زۀ په دے سستئ او نا راستئ ډیر خفه شوم۔

١٠ – د جُمعے د ورځے د سهار په مانځه کښې (آلم سجده) او (سورتِ دهر) لوستل۔

١١ – د جُمعے او اخترونو په مونځونو کښې (اعلیٰ) او (غاشیه) سورتونه لوستل۔

١٢ – [سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ] ویل، او دا به هر مونځ کونکے وائی، امام وی که مقتدی او که منفرد وی۔ ددے تفصیل په [الدین الخالص] کښې شوے۔ نبی ﷺ فرمائی: [إِنَّهٗ لَا تَتِمُّ صَلَاةٌ لِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ حَتّٰى يَقُوْلَ : سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ] (د هیڅ یو کس مونځ تر هغه وخته پورے نۀ

پوره کیږي چه سمع الله لمن حمده ونهٔ وائي).
[ابو داود].
١٣ – [رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ] یا [اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ] ویل.
١٤ – [مِلْءَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْءَ الْاَرْضِ ......] ویل. یا [حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ] ویل.
[بخاري، مسلم]
١٥ – د رکوع ذکرونه لوستل: او دا د پنځو نه هم زیات دي.
١٦ – د سجدے دعاګانے لوستل: او دا د لسو نه زیات دي.
١٧ – د دوارو سجدو ترمینځه: [رَبِّ اغْفِرْ لِيْ] لوستل.
١٨ – تشهد (التحیات) لوستل.
١٩ – په نبي ﷺ درود لوستل.
٢٠ – په آخیري قعده کښے دعاء لوستل، خصوصًا: [اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ] (مسلم).
٢١ – په سجده او آخري قعده کښے ډیرے ډیرے دعاګانے لوستل.
افسوس خبره داده! چه ډیرو مونځ کونکو دا د ناراستئ د وجے حذف کړي دي.
فکر وکړه! دا څومره عظیم سنتونه دي! او کله چه دا په فرائضو، نوافلو او سنتو کښے بار بار لوستل کیږي نو ددے شماره د حسابه وځي.

*** فعلي سنتونه :**

١ – د تکبیرِ تحریمے په وخت رفع الیدین کول.
٢ – دارنګه د رکوع کولو په وخت:
٣ – د رکوع نه سر پورته کولو په وخت رفع الیدین کول.
٤ – او په درے رکعتي او څلور رکعتي مونځونو کښے دریم رکعت ته پاسیدو په وخت رفع الیدین کول. ((آلِ تقلید)) ددے سنتونو نه خپل ځان هسے چتي محرومه کړے بلکه دے سره بغض لري او تحریف په کښے کوي. (والعیاذ بالله)!
٥ – د غوږونو نرمیو پورے او کله اوګو پورے لاسونه پورته کول، او په ژمي کښے سینے پورے پورته کول. [ثبت ذلك في مسلم، وأبي داود عن وائل بن حجر]
ځینے خلکو ته دے الله هدایت وکړي، داسے رفع الیدین کوي ته به وائے دا ناجوړه، ناراسته دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

د سنت طاقت نهٔ لري۔

٦ – نبي ﷺ به خورې ګوتې لاسونه پورته کول، په دې کښې به ئې ګوتې نهٔ جوختولې، بلکه لاس به ئې په خپل حال ساتلو، خو د ترمذي او ابوداود د حديث مطابق دا به خورې وې۔

٧ – خپل دواړه لاسونه به ئې قبلې ته مخامخ کړي وو : (کله چه تهٔ مونځ ته ودرېږې نو قبلې ته مخ کړه)۔ [بخاري]۔ ابن عمر رضي الله عنه به خپل ټول بدن قبلې ته مخامخ کولو۔

٨ – خپل دواړه لاسونه به په سينه کيدي : [احمد باسناد حسن] ۔ او يا د نامهٔ دپاسه او د سينې نه لږ لاندې۔ سهل بن سعد – رضي الله عنه – فرمائي: (خلکو ته حکم شوې وو چه په مانځه کښې دې سړې خپله ښئ لېچه د خپلې ګسې لېچې دپاسه کيدي)۔ نو دا هم دلته راځي ! [فتح الغفور على وضع اليدين على الصدور]

٩ – سنت داده چه کله لاس دپاسه لاس کيدي، او کله ئې ونيسي۔ په دې دواړو کښې حديث راغلې۔ او نيول او کيښودل دواړه به نهٔ جمع کوي – څنګه چه بعضِ متاخرين وائي – ځکه دا بدعت دې۔

١٠ – د خپلې سجدې ځائې ته به ګوري۔ (بيهقي)۔ اوکله خپلې مخې ته۔ (بخاري)۔

١١ – د دواړو قدمونو ترمينځه فاصله دې د اوګو په اندازه وي، يا د څپلو کيښودو په اندازه۔ لکه د سننو په حديث کښې دي: [يابه دواړه ښپلئ د خپو ترمينځه کيدي)۔

١٢ – په قلاره قلاره تلاوت کول او په تدبر سره لوستل۔

١٣ – يا ورته غوږ کيښودل۔

١٤ – د خشوع کوشش کول، اخوا ديخوا نهٔ کتل او ډير نهٔ خوزيدل۔

په رکوع کښې سنت طريقې :

١ – په رکوع کښې دواړه زنګونان د پرانستو ګوتو په لاسونو سره نيول۔

٢ – خپله ملا برابره او اوږده ساتل۔

٣ – خپل سر د خپلې ملا سره برابرول، چه نهٔ ښکته وي اونهٔ پورته۔

٤ – خپل دواړه متې د اړخونو نه جدا لرل۔

٥ – د ابو حميد ساعدي رضي الله عنه په حديث کښې دي : (د خپلو دواړو لاسونو نه ئې لينده جوړه کړه او هغه ئې په خپلو ګوډو کيښودل ګويا هغه رانيونکې دې)۔

*** په سجده کې سنت طريقې** :

١ – سجدې ته تللو په وخت دواړه لاسونه مخکښې لګول سنت دي۔ حديث کښې دي: (د اوښ

پشان دے نۀ کیني بلکه دواړه لاسونه دے د ګوډو نه مخکښے کیدی).
[ابوداود، ترمذی، باسناد صحیح]

٢ – دواړه لاسونه د اړخونو نه جدا ساتل. [ابن خزیمه، تمام المنة]

٣ – په سجده کښے دواړه متے د دواړو اړخونو نه جدا ساتل.

٤ – خیټه د پتونانو نه جدا ساتل.

٥ – پتونان د دواړو پونډو نه جدا ساتل.

٦ – په سجده کښے دواړه ګوډے او پتونان یوځائے کول. او ددے ترمینځه جدائی سنت نۀ ده لکه چه بعضو ویلی. ځکه د ابو هریره ﷺ په حدیث کښے دی: نبی کریم ﷺ فرمائی: (کله چه په تاسو کښے څوك سجده کوی نو د سپی پشان دے نۀ کیني او دواړه پتونان دے یوځائے کړی).
[ابن حبان، واسناده حسن، ابن خزیمة: ٦٥٣، ابوداود: ٩٠١]

٧ – دواړه قدمونه ودرول.

٨ – خپلے ګوتے قبلے ته مخامخ کول. [کما فی حدیث أبی حمید]

٩ – دواړه قدمونه یوځائے کول: د عائشے رضی الله عنه په حدیث کښے دی: (زما لاس د نبی ﷺ د دواړو قدمونو په دننه طرف ولګیدۀ او هغه دواړه ولاړ وو).
[مسلم] د حاکم په روایت کښے دی: (دواړه خپے ئے یوځائے کړے وے). [الدین الخالص]

١٠ – دواړه لاسونه د اوګو یا د غوږونو برابر کیښودل. اول د ابو حمید او دویم د وائل بن حجر په حدیث کښے راغلی.

١١ – دواړه لاسونه خورول.

١٢ – ګوتے ئے پیوسته کول.

١٣ – قبلے طرفته مخامخ کول.

١٤ – په سجده کښے اندامونه ولاړ ساتل او د درنده ګانو پشان لاسونه نۀ غوړول.

١٥ – په زمکه یا پوزی (بزګی) باندے سجده کول سنت دی نۀ په فرشونو او جانمازونو باندے، البته دا صرف جائز قدرے دی.

* **د دواړوسجدو ترمینځه سنت طریقے :**

١ – ښئ خپه ودرول اوګسه غوړول او په هغے کیناستل.

٢ – اقعاء کول یعنی دواړه خپے ودرول او په پونډو کیناستل.
[کما فی حدیث ابن عباسؓ عند مسلم: تلك السنة]

Maktaba Tul Ishaat.com

٣ – د دواړو سجدو ترمينځه دومره ناسته چه څوك گمان وكړي چه ددۀ نه هير شو. [مسلم عن انس]

٤ – د اولنى او دويم ركعت نه پس جلسۀ استراحت كول. په دوه صحيح حديثونو كښې راغلے او د ديارلسو صحابو نه ثابته ده، او دا مستحبه ده، په دے كښې هيڅ ذكر نشته، په دے كښې به نيغ كينى. [كما فى حديث أبى حميد]

٥ – په اولنى تشهد (التحيات) كښې ښۍ خپه ودرول او گسه خورول.

*** په اخيري تشهد كے سنت طريقے :**

١ – التحيات لوستل.

٢ – تورك سنت دے او ددے درے طريقے په [الدين الخالص] كښې ذكر شوى.

٣ – دواړه لاسونه په پتونانو كيښودل.

٤ – يا ښے لاس په ښى پتون كيښودل او د گس زنگون ستركه په گس لاس كښې وركول. دواړه طريقے په مسلم كښې ذكر شوى.

٥ – د تشهد د شروع نه تر آخره پورے په مسواكۍ گوته اشاره كول.

٦ – يا كله نا كله مسواكۍ گوته خوزول. [كما فى حديث وائل]

٧ – په اشاره كښې د گوتو حلقه جوړول مسنون دى، يا د درے پنځوسو نښه جوړول، يا غټه گوته په مينځنۍ گوته كيښودل.

٨ – د اشارے په وخت مسواكۍ گوتے ته كتل.

٩ – گسه ليچه په پتون كيښودل. لكه چه دا د ابوداود په روايت كښې راغلى.

١٠ – د سلام اړولو په وخت ښى اوگس طرفته كتل، او كله نا كله يو سلام اړول، لكه دا په درے حديثونو كښې ثابت دى.

١١ – دومره مخ اړول چه د روستو نه ئے اننگے ښكاره شى. [مسلم]

١٢ – د سلام اړولو په وخت ښى طرفته ناست خلكو اوگس طرفته سلام اړولو په وخت د گس طرفته ناستو خلكو نيت كول. [صحيح مسلم]

مسلمان له پكار دى چه په دے سنتونو باندے په كلكه عمل وكړى، دے دپاره چه د عابدانو او نيكه عمله خلكو نه حساب شى.

ابن قيمؒ فرمائى: د الله مخے ته د بنده دوه موقفه دى: يو موقف د هغۀ مخے ته په مانځه كښے ودريدل. او بل موقف د هغۀ مخے ته د ملاقات په ورځ ودريدل، نو څوك چه د اولنى موقف حق

ادا کړي، هغهٔ ته به په دويم موقف کښې ودريدل آسان شي. او څوك چه اولنے موقف معمولي ګڼړي او ددے حق نهٔ ادا کوي، هغهٔ ته به دويم موقف سخت کړے شي. (مګر که الله ئے آسانول وغواړي).

* **مونځ نه پس سنت طريقے :**

۱ – سهار مونځ نه پس تر نمر خاتهٔ کيناستل: لکه دا د نبي کريم ﷺ عادت وو. [صحيح مسلم] او فرمائي: څوك چه نمر خاتهٔ پورے کيني او بيا دوه رکعته مونځ وکړي نو دهٔ لپاره به د پوره حج او عمرے ثواب وليکل شي. [ترمذی] زيات خلك تنبتي.

۲ – د امام مخ راړولو پورے په خپل هيئت کيناستل: حديث کښے دي: (نبي ﷺ مونږ د امام د مخ راړولو نه مخکښے د واپس کيدو نه منع کړي يو).

[ابوداود]

او دا سنت طريقه زياتره خلك نهٔ پيژني.

۳ – د خشوع په حالت کښے خپلو ګوتو ته کتل، نهٔ بني اوګس اړخ ته او نهٔ تکيه وهل لکه څنګه چه د ناراسته او نازکه خلکو کار دے. حديث کښے دي: (نبي ﷺ عمر ﷺ ته سراپورته کړو او وے فرمايل: الله ستا په وجه دے حق ته ورسولو).

[ابوداود، الصحيحة] معلومه شوه چه په دے وخت کښے سر ښکته لړل پکار دي.

٤ – لاس سره تسبيح کول، لکه نبي ﷺ به لاس سره تسبيح شمارلے. (ابوداود).

٥ – په دے وخت کښے جهري ذکر کول او دا سنت زياتره خلکو پريښے دے. ابن عباس ﷺ فرمائي: (مابه د رسول الله ﷺ مونځ ختميدنه په تکبير سره پيژندله).

[بخاري، مسلم]

٦ – که امام وي نو د [اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ] په اندازه مخ په قبله ناست پاتے کيدل. [مسلم]

۷ – بيا خلکو ته مخ راوړول.

۸ – او درے ځله [أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ] ويل.

۹ – او هغه اذکار ويل چه دلته راغلي. (د ذکر او دعا مسنون کتاب، حصن المسلم).

۱۰ – د سهار او ماسختن مونځونو نه پس مخ په قبله په خپل هيئت کيناستل او د قبلے نه د خپو راړولو نه مخکښے: [لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ] لوستل.

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ نه پس د لسو نه زيات ذكرونه او دعاګانے راغلي، ددے اهتمام پكار دے۔

١١ - ﴿ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ﴾ او آخري دوه سورتونه لوستل۔

او سهار ماښام درے ځله دا لوستل د مانځه سره تعلق نۀ لري بلكه دا د بيګاه صبا اذكار دي۔ بعضِ خلك چه دا د مانځه سره متعلق ګڼري نو دا صحيح نۀ ده۔احاديث وګوره۔

١٢ - په خپله مصلى كيناستل او دا ذكرونه ويل، ځكه نبي ﷺ دا قيد لګولے چه بيا په هغه مصلى كيني په كوم باندے ئے چه مونځ كړے۔

د صبا بيګاه ذكرونه او مسنون اعمال

او دا پنځه ويشتو (٢٥) نه زيات ذكرونه او دعاګانے دي۔ دا سره د فوائدو نه زمونږ (د ذكر او دعاء، حصن المسلم، او د ذكر اودعا په نورو صحيح كتابونو كښے راغلي)۔

دا اذكار ډير ايماني، صِحّي، اخلاقي، ديني او دنيوي فائدے لري، مسلمان له پكار دي چه په خشوع او يقين سره ددے اهتمام كوي۔

* **په نفلي مونځونو كے سنت طريقے** :

١ - د اشراق په وخت څلور ركعته كول يا دوه ركعته كول چه په دے سره ورله د پوره حج او عمرے ثواب ملاويږي۔ [الترمذي باسناد صحيح]

كه څلور ركعته وكړي نو ماښام پورے به ئے حاجتونه پوره كړے شي۔ (حديث نبوي)۔

٢ - د څاښت مونځ : كمه اندازه ئے دوه ركعته او زياته اندازه ئے دولس ركعته ده۔ او دا دوه ركعته د درے سوه شپيتۀ جوړونو د صدقے نه كافي كيږي او په دے ورځ انسان د اوره بچ كيږي۔ (مسلم)۔

٣ - د دولسو رواتبو سننو اهتمام كول : نبي ﷺ فرمائي: (څوك چه په دولس ركعته نفلو هميش والے كوي الله به ورله په جنت كښے كور جوړ كړي : ماسپښين نه مخكښے څلور ركعته او دوه ترے روستو، ماښام نه پس دوه ركعته، ماسخوتن نه پس دوه ركعته، سهار نه مخكښے دوه ركعته)۔ [ترمذي ، ومسلم مختصرًا]

دا به كوم يو مسلمان وي چه جنت كښے كور جوړول نۀ خوښوي !

٤ - څوك چه د ماسپښين مانځه نه پس څلور ركعته وكړي، الله به ئے په اور باندے حرام كړي۔ [ابوداود]

٥ - مازيګر نه مخكښے څلور ركعته كول : نبي ﷺ فرمائي: (الله دے په هغه چا رحم كړي چه د مازيګر نه مخكښے څلور ركعته وكړي)۔ [أصحاب السنن]

٦ - هر اذان او اقامت ترمينځه دوه ركعته كول۔ [بخاري ، مسلم]

۷ – مازیګر نه پس دوه رکعته نفل کول، هر کله چه نمر جګ ولاړ وی. او دا سنت خلکو پریښی. د علی رضی الله عنه په حدیث کښی دی: (مازیګر نه پس مونځ نشته مګر که نمر جګ ولاړ وی). [ابوداود، والتفصیل فی الدین الخالص: ۳]

۸ – ماښام نه پس بغیر د معلومی شماری نه نفل کول. ددی فضیلت په څو صحیح حدیثونو کښی راغلی.

۹ – رواتب (مقرر) سنت په کور کښی ادا کول مسنون دی.

۱۰ – د ماښام په دوه رکعته سنتو کښی افضله داده چه لنډ وکړی شی اوکله نا کله اوږدهٔ.

۱۱ – دارنګه دا فرض مانځه ته نزدی کول. ډیره فاصله په کښی نهٔ کول.

۱۲ – سنت طریقه داده چه د فرائضو او سنتونو ترمینځه فاصله ورکړی شی: ځکه د اهلِ کتابو د تباهئ یوه وجه داوه چه د دوئ د مونځونو ترمینځه جدائی نهٔ وه.

[ابوداود، مشکاة، عن عمر ﷺ]

اهلِ تقلید ددی سنت طریقی مخالفت او یهودو سره مشابهت غوره کړی !!

۱۳ – نبی ﷺ به د ماسخوتن مانځه نه پس څلور رکعته کول. (بخاری). او په [ابوداود] کښی شپږ رکعته دی، او ددی سند حسن دی.

۱٤ – کور ته ننوتو او راوتو په وخت دوه رکعته کول پکار دی. حدیث کښی دی: (کله چه کور ته ننوځی نو دوه رکعته وکړه، دابه دی د بدو ننوتو او راوتو نه وساتی).

[الصحیحة للألبانی]

۱۵ – ماښام مانځه نه مخکښی دوه رکعته نفل کول: ((آلِ تقلید)) دا سنت پریښی. حالانکه نبی ﷺ فرمائی: (ماښام مانځه نه مخکښی دوه رکعته کوئ، ماښام مانځه نه مخکښی دوه رکعته کوئ، بیا ئے په دریم ځل وفرمایل: د چاچه زړهٔ غواړی، دی دپاره چه خلك ئے یوه لازمی طریقه جوړه نهٔ کړی). [بخاری، مسلم]

په دی دوه رکعته نفلو کښی د (۲۷) نه زیات حدیثونه راغلی.

۱٦ – مسلمان له مناسب دی چه د خپلو حاجتونو لپاره دوه رکعته مونځ کوی، ځکه الله تعالیٰ په دی وخت کښی د مونځ کولو حکم فرمایلی.

۱۷ – او مسلمان له پکار دی چه د توبی لپاره دوه رکعته کوی: ځکه مونږ کښی هر یو کس ګنهګار دی. د علی ﷺ په صحیح حدیث کښی راغلی: (کوم سړی چه ګناه وکړی بیا پاسی اودس وکړی او بیا مونځ وکړی او الله نه بښنه وغواړی، الله به ئے خامخا وبښی. بیائے دا آیتِ

Maktaba Tul Ishaat.com

کریمه ولوستله: ﴿ وَالَّذِيْنَ إِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً ﴾ [آل عمران: ١٣٥] (او کله چه دوی نه بد کاری کیږی) تر آخره).

[ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

*** خلکو سره ملاقات په وخت سنت طریقے :**

١ - سلام کول: (رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه، د اسلام کوم خوئے زیات غوره دے؟ وے فرمایل: خوراك خورول، او په پیژندلی او ناپیژندلی سلام کول).

[بخاری، مسلم]

٢ - د سلام په کلماتو کښے زیاتے کول: (یو سړے رسول الله ﷺ ته راغے او: [اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ] ئے ووایه. نبی ﷺ هغهٔ ته جواب ورکړو، هغه سړے کیناستهٔ. نبی ﷺ وفرمایل: لس نیکئ شوے. بیا بل یو تن راغے او: [اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ] ئے ووایهٔ. جواب ئے ورته ورکړو، هغه سړے کیناستهٔ نبی ﷺ وفرمایل: شل نیکئ شوے. بیا دریم سړے راغے او: [[اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ] ئے ووایهٔ. نبی ﷺ هغهٔ ته جواب ورکړو، هغه کیناستهٔ. نبی ﷺ وفرمایل: دیرش نیکئ شوے). [ابوداود، وحسنه الترمذی]

امام بخاریؒ په خپل [التاریخ] کښے په سلام کښے [ومغفرته] پورے نقل کړے.

[کما فی الصحیحة]

په دے لوئے اجر کښے فکر وکړه چه هر مسلمان ئے په هره ورځ او شپه کښے تکراروی!

٣ - مجلس پریښودو په وخت سلام کول: حدیث کښے دی : (کله چه په تاسو کښے څوك مجلس ته ورسیدهٔ نو سلام دے وکړی اوکله چه د مجلس پریښودو اراده وکړی نو سلام دے وکړی ځکه اولنے سلام د دویم نه زیات مناسب نهٔ دے). [ابوداود، ترمذی]

٤ - مُسکا کول : نبی ﷺ فرمائی: (هیڅ یوه نیکی سپکه مهٔ ګڼړه اګرکه تهٔ خپل ورور سره په فراخه تندی ملاو شے). [صحیح مسلم]

او نبی ﷺ به ډیره مُسکا کوله. [مشکاة]

٥ - مصافحه کول : نبی ﷺ فرمائی: (کوم دوه مسلمانان چه د یوځائے کیدو په وخت مصافحه وکړی نو د لاسونو جدا کولو نه مخکښے دوئ ته ښښنه کیږی). [ابوداود، ترمذی]

او دا مصافحه د هر ملاقات په وخت مسنون ده. (امام نوویؒ).

٦ - پاکیزه خبره : الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَقُلْ لِّعِبَادِيْ يَقُوْلُوا الَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ ﴾ [اسراء: ٥٣] (اوزما بندګانو ته ووایه چه ښه خبره کوی). او ارشاد دے : ﴿ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا ﴾ [بقره: ٨٣] (او خلکو

ته ښه خبره کوئ)۔ او نبی ﷺ فرمائی: (ښه خبره کول صدقه ده)۔ [بخاری، مسلم]

ښه خبره ذکر، دعاء، سلام، په حق سره د چا تعریف کول یا ورته دعا کول او تول ښۀ اخلاق دی، دا په انسان کښې د جادو پشان اثر لری، ددۀ نفس له آرام ورکوی او زړۀ ورله خوشحالوی۔ او دا د انسان د زړۀ د سلامتیا، روښانتیا او هدایت نښه ده۔

زما وروره! تۀ ددې فکر کوې چه خپله ټوله زندگی سهار نه واخله تر بیګاه پورې د خپلې ښځې، بچو، خادم، کاریګر او ټولو تعلق دارانو سره په ښې خبرې سره آباده کړې! بیا خو تۀ د محسنینو نه ئې!

* **په خوراك کې سنت طریقې :**

۱ – په شروع کښې بسم الله ویل۔

۲ – ښی لاس سره خوړل۔

۳ – خپلې مخې نه خوړل۔ حدیث کښې دی: (اې هلکه! د الله نوم واخله، خپل ښی لاس سره خوره او خپلې مخې نه خوره)۔ [صحیح مسلم]

٤ – غورزیدلې نوړئ راغستل او خوړل: نبی ﷺ فرمائی: (کله چه په تاسو کښې د یو تن نوړئ وغورزیږی نو هغې نه دې خس وخشاك لرې کړی او بیا دې ئې وخوری)۔ [صحیح مسلم]

۵ – درې ګوتو سره خوراك کول: نبی ﷺ به درې ګوتو سره خوراك کولو۔ [مسلم]

٦ – په ناسته خوړل سنت دی: څکه د ولاړې خوراك نه منع راغلې۔ [ترمذی]

۷ – د التحیات په شکل کیناستل: حدیث کښې دی: نبی ﷺ داسې کیناستۀ نو یو بانډه چی وویل: دا څنګه ناسته ده؟ نبی ﷺ وفرمایل: زۀ خو یو شریف بنده یم۔

۸ – یا دواړه ګودې خیټې سره لګول او کیناستل۔ [مسلم]

یا به داسې کینی چه ښئ خپه به ودروی او په ګسه به کینی او تکیه به نۀ لګوی۔ [فتح الباری]

۹ – خوراك ته به تکیه نۀ لګوی: نبی ﷺ دې نه منع فرمایلې، هغه فرمائی: (تکیه لګولو سره خوراك مۀ کوه او مۀ په چاتړ باندې)۔ [الصحیحة]

د تکیه څو صورته دی: (۱) بالښت یا متکې ته تکیه لګول۔ (۲) یو لاس په زمکه لګول او په بل خوراك کول۔ (۳) پرلتئ سره کیناستل۔ ابن قیمؒ فرمائی: درې واړه طریقې بدې دی۔ [زاد المعاد: ۱/ ۱٤٤]

په پستو بسترو او فرشونو کیناستل تکیه کښې داخل دی که نه؟ ظاهره داده چه دا هم داخل

Maktaba Tul Ishaat.com

دی۔ امام خطابیؒ فرمائی: د عامو خلکو دا گمان دے چه تکیه لرونکے دیته وائی چه یو اړخ ئے لرولے وی حالانکه داسے نۀ ده، بلکه په کومه بستره چه ناست وی هغے ته تکیه لرونکی ته وائی۔ او د [لَا آكُلُ مُتَّكِأً] (زۀ په تکیه سره خوراك نۀ کوم) حدیث معنیٰ داده: زۀ د خوراك په وخت په بستره باندے تکیه لرولو سره نۀ کینم، دا کار هغه څوك کوی چه د ډیر خوړلو اراده لری۔[فتح الباری: ۹/ ۵٤۲]

۱۰ – گوتے او کاسه څټل: نبی ﷺ په دے امر کړے او فرمائی: (تاسو ته پته نشته چه ستاسو د خوراك په کومه برخه کښے برکت دے؟)۔ [مسلم]

۱۱ – خوراك څښاك نه پس [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] ویل: (بیشکه الله د بنده نه راضی کیږی چه کله څۀ شے وخوری نو د الله حمد وائی اوکه څۀ شے وڅښی نو د الله حمد کوی)۔ [صحیح مسلم]

۱۲ – یا دا دعا ویل: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَطْعَمَنِیْ هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ] څوك چه دا دعا ووائی، مخکنی گناهونه به ئے وبښل شی۔

[ابوداود، ترمذی، باسناد صحیح]

۱۳ – خوراك نه پس دواړه لاسونه وینځل یا څۀ پورے راښکل: حدیث کښے دی: نبی ﷺ به د لاسونو مسح کولو نه مخکښے گوتے څټلے۔ [مسلم]

حدیث کښے دی: (کله چه په تاسو کښے څوك خوراك وخوری نو لاس دے خپله وڅټی یا دے ئے په بل چا وڅټی)۔ [بخاری، مسلم]

او حدیث کښے د خوراك نه پس لاسونه وینځل راغلی، نبی ﷺ فرمائی: (څوك چه په داسے حال کښے شپه تیره کړی چه په لاس کښے ئے غوړځی وه او هغه ئے نۀ وه وینځلے او دۀ ته څۀ مصیبت ورسیدۀ نو صرف خپل ځان دے ملامته کړی)۔

[ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

او د خوراك نه مخکښے لاسونه وینځل په ضعیف حدیث کښے راغلی۔

[ترمذی، عن سلمان رضی الله عنه]

۱٤ – خوراك کښے پرهیزگاریٔ نه کار اخستل: انسان له پکار دی چه هرشے ونۀ خوری بلکه ددے پوښتنه وکړی چه دا حلال دے اوکه حرام؟ خصوصًا زمونږ په دے زمانه کښے خوراکی موادو او څښلو په شیانو کښے حرام شیان هم گډ شوی دی۔ د نبی ﷺ عادت دا وو چه پوښتنه به ئے کوله۔ [بخاری]

۱۵ – په خوراك کښے اسراف نۀ کول: څکه مومن په یوه کولمه کښے خوراك کوی او کافر په

اوو کولمو کښې۔ (بخاري)۔ او الله تعالیٰ فرمائي: ﴿ وَلَا تُسۡرِفُوۡا اِنَّهٗ لَايُحِبُّ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴾ [الأنعام:١٤١]

١٦ – د کاسې د غاړې نه خوراك کول نهٔ د مینځ نه: نبي ﷺ فرمائي: (د کاسې د غاړو نه خوراك کوئ او د مینځ نه خوراك مهٔ کوئ ځکه په مینځ کښې برکت نازلیږي)۔
[الترمذي وحسنه، وابن ماجه]

١٧ – د خوراك په شروع کښې که بسم الله هیره شي نو : [بِسۡمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَآخِرَهٗ] دې ووائي۔
[ابوداود، ترمذي]

١٨ – غوښه او هډوکې په خُلهٔ سره راشوکول، لکه چه دا د نبي ﷺ عادت وو۔ [ترمذي، ابن ماجه]

١٩ – کـه بیمار وي نو پرهیز کول : نبي ﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمایل: (دا کچه کهجورې مهٔ خوره ځکه تهٔ رنځور ئې) بیائې ورته د چقندر او وریشو خوړلو حکم وکړو چه دا تاله ښهٔ دي۔ [احمد، ترمذي]

٢٠ – ثرید کول : نبي ﷺ ته په ټولو خوراکونو کښې د ډوډۍ ثرید او د حلوا ثرید ډیر خوښ وو۔ [ابوداود]

٢١ – نبي ﷺ به په ټیبل (میز) باندې او وړو پلیټونو کښې خوراك نهٔ کولو۔ [بخاري، مسلم]

٢٢ – سنت داده چه په زمکه پروت دستر خوان خوراك وشي۔ [زاد المعاد]

٢٣ – د خوراك او میوو نه سپګۍ وښکل : انس رضی الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ ته زړې کهجورې راوړل شوې نو هغه ئې کتلې او چینجي (سپګۍ) ئې ترې وښکل۔ [ابوداود]

٢٤ – د خوراك خوړلو په وخت ګټلۍ وښکل په یو ضعیف حدیث کښې راغلي۔
[الدین الخالص: ١]

٢٥ – ګرم خوراك نهٔ خوړل: اسماء رضي الله عنها ته به چه کله ثرید راوړې شو نو هغې به حکم وکړو چه سر پرې کیدئ چه ددې بړاس کیني او فرمایل به ئې: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي چه فرمایل ئې : دا د ډیر برکت سبب دې۔ [دارمي]

٢٦ – خوراك نه فوراً روسته اوبهٔ څښل نهٔ دي پکار، ځکه دا د نبي ﷺ عادت نهٔ وو۔ [زاد المعاد] البته کهجورو پسې اوبهٔ څښلې شي۔ عروة عائشې رضي الله عنها ته عرض وکړو: تاسو به په څهٔ ګذاره کوله ؟ وې فرمایل: په دوه تورو شیانو یعني چواره او اوبهٔ۔ [بخاري]۔

٢٧ – او نبي ﷺ بـه پـه خوراك کښې عیب نهٔ راوښکلو، که زړهٔ به ئې ورته کیدهٔ خوړلو به ئې اوکه نهٔ به کیدهٔ پرېښودلو به ئې۔ [بخاري، مسلم]

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۸ – نبی ﷺ به د خوراك په دوران كښې خبرې كولې او اول نه آخره پورې به نۀ خاموش كيدۀ، لكه عمر بن سلمه ته ئې وفرمايل: (اے هلكه ! د الله نوم واخله، ښى لاس سره خوراك كوه او د خپلې مخې نه خوره)۔ [بخارى]۔

د خوراك آداب د سلو نه زيات دى، په [الدين الخالص] كښې ذكر شوى۔

*** په سكلو كې سنت طريقې :**

۱ – د حلالو حرامو فرق كول او د مشتبه شئ نه ځان ساتل۔

۲ – بسم الله ويل۔

۳ – ښى لاس سره څښل : نبى ﷺ فرمائى: (په ښى لاس خوراك كوه)۔ او فرمائى: (په تاسو كښې دے څوك په گس لاس سره خوراك څښاك نۀ كوى ځكه شيطان په گس لاس خوراك څښاك كوى)۔ [مسلم]

٤ – څښلو په وخت په لوښى كښې ساه نۀ اغستل: نبى ﷺ به په درے ساه گانو سره اوبۀ څښلے۔ [مسلم] اوكله چه لړے اوبۀ څښكى نو په يو ساه سره هم جائز دى۔ [ترمذى عن على رضى الله عنه] او په دوه ساه گانو سره څښلو كښې حديث ضعيف دے۔

۵ – په ناسته څښل : (په تاسو كښې دے څوك په ولاړه څښل نۀ كوى)۔ [مسلم]

٦ – څښلو نه پس [الحمد لله] ويل: (الله تعالىٰ د بنده نه په دے خوشحاليږى چه كله څۀ خوراك وكړى نو په هغې د هغۀ حمد وائى اوكه څۀ شے وڅښى نو په هغې د هغۀ حمد وائى)۔ [مسلم]

۷ – د مشكيزے د خُلے نه اوبۀ نۀ څښل : ددے نه منع راغلے۔ [مسلم] دا حكم د منگى، كوزے، او غټ لوښى هم دے۔

۸ – په خوراك څښاك كښې د پوكى كولو نه راغلے : (نبى ﷺ په لوښى كښې د ساه اغستو او پوكى كولو نه منع فرمايلے)۔ [صحيح الجامع ، ابن أبى شيبه: ۵/ ۱۸۷]

۹ – د جام په چاؤدلى (مات ځائے) باندے خُلۀ كيښودل منع دى : [ترمذى، باسناد صحيح الصحيحة]

۱۰ – اوبۀ څښوونكے به په آخره كښې اوبۀ څښى۔

۱۱ – كله چه اوبۀ يا بل يو مشروب وڅښى نو خپل ښى اړخ ته ناست كس له به ئې وركړى۔ [بخارى]۔

۱۲ – څښلو كښې بهٔاسراف نۀ كوى: ﴿ وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ﴾ [اعراف: ۳۱]

(او خورئ او څښئ او حد نه تجاوز مۀ كوئ، بيشكه الله د حد نه تجاوز كونكى نۀ خوښوى)

او دا ضروري ده۔

١٣ – د پیو څښلو په وخت به دا دعا وائي: [اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ] (ترمذی)۔

١٤ – رسول الله ﷺ به یخ خوږ شے د تولو نه زیات خوښولو۔ [ابن ابی شیبه: ٥/ ١٠٧٨]

١٥ – د سرو او سپینو زرو په لوښو کښې د څښلو نه منع راغلې۔ [بخاری، مسلم]

کور کښې د نفلي مونځ ادا کولو سنت طریقے :

١ – فرض مونځ نه سیوا غوره مونځ هغه دے چه په کور کښې ئے کوی۔ [بخاری، مسلم]

٢ – هغه نفلي مونځ چه د کولو په وخت ئے خلك نۀ وینی په هغه مونځ باندے چه د خلکو مخامخ ئے کوی، پنځیشت درجے غوره دے۔ [ابو یعلیٰ، وصححه الألبانی]

بل حدیث کښې دی: (هغه مونځ چه سړے ئے په خپل کور کښې کوی، په هغه مونځ باندے چه د هغې د کولو په وخت ئے خلك وینی، داسے غوره دے لکه فرض چه په نفلو غوره دی)۔ [الطبرانی فی الکبیر وحسنه الألبانی]

کور کښې مونځ د برکت، اخلاص او کور نه د شیطان د وښکلو سبب او د اولاد د تربیت او د اجر دوچنده کیدو ذریعه ده۔

*** مجلس کې د ناستے او هغې نه د پاسیدو په وخت سنت طریقے :**

١ – صرف د حاجت لپاره کیناستل، ځکه بهتره داده چه انسان په کور کښې کینی۔ لکه د دویم جلد په شروع کښې د معاذ ﷺ حدیث کښې راغلی۔

٢ – په مجلس کښې ناست ملګری ته خپلے خپے او ګوډے نۀ اوږدول۔ [شمائل ترمذی]

٣ – دغه مجلس به د ګناه او بدعت مجلس نۀ وی۔ ارشاد دے: ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْ آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ﴾ [انعام: ٦٨] (او کله چه تۀ دا خلق ووینے چه زمونږ د آیتونو خلاف خبرے جوړوی نو تۀ د دوی نه اعراض وکړه تردے چه دوی ددے نه سِویٰ په بله خبره کښې شروع شی) او ارشاد دے: ﴿ إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ ﴾ [مجادله: ٩] (کله چه تاسو خپلو کښې جرګے کوئ، نو د ګناه او ظلم او زیاتی او د رسول الله دَ نافرمانئ جرګے مۀ کوئ) او د نبی ﷺ په مجلس کښې به د چا عزت نۀ اغستل کیدۀ۔ [شمائل]

٤ – په مجلس کښې د الله ذکر یا په نبی ﷺ درود ویل، که ددے نه بغیر پاسی نو داسے به وی لکه د مړ خر د مجلس نه د پاسیدو پشان۔ [الترغیب والترهیب]

٥ – د مجلس د کفارے دعاء ویل:

[سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ]

Maktaba Tul Ishaat.com

نو که دا د خیر مجلس وی نو یوه تاپه به پرې ولږی، اوکه بد مجلس وی نو دا دعا به ورله کفاره جوړه شی۔ [اصحاب السنن، باسناد صحیح]

مومن خو ګنړ مجلسونه کوی، نو کله چه دا دعا لولی نو څومره خیر به جمع کوی!

او هر چه په لاره کښې یا د لارې په دکان کښې د ناستې آداب دی، نو دا څوارلس آداب دی:

نظر ښکته ساتل، سلام جواب ورکول، چاله ضرر نهٔ ورکول، د مظلوم مدد کول، امر بالمعروف، نهی عن المنکر کول، لاره ښودل، پرنجی کونکی ته جواب ورکول کله چه هغهٔ الحمد لله ویلی وی، د مجبوره مدد کول، ښائسته خبرې کول، لار ورکی ته لاره ښودل، سلام خورول، چاته بار وچتول، د الله ذکر ډیر ډیر کول او غبی ته ښودنه کول۔

[الدین الخالص : ۱۱، دلیل الفالحین، فتح الباری: ۱۱/ ٤]

*** هر وخت د ښهٔ نیت استحضار کول :**

دا خبره یاد لرل پکار دی: که انسان وغواړی نو د ټولو مباحو اعمالو – لکه خوراك، څښاك، خوب، رزق تلاش کول وغیره – نه طاعت او ثواب جوړولے شی چه ددې په وجه انسان په زرونو نیکئ حاصلولے شی، په دې شرط چه ددې د کولو په وخت مسلمان الله ته د ځان نزدې کولو نیت وکړی۔ نبی ﷺ فرمائی: [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِىءٍ مَّا نَوٰى] (بخاری، مسلم)۔

مثال په توګه: وختی اودهٔ کیدل چه د تهجدو یا سهار جَمعې ته پاسی نو ددهٔ دا خوب عبادت دې، خو د شپې د قیصه ګوئ نه دې ځان ساتی، بلکه دا د نبی کریم ﷺ پیروی ده ځکه چه هغه به وختی اودهٔ کیدهٔ، د شپې په اوله برخه کښې به اودهٔ کیدهٔ او آخره برخه به ئې رونړوله۔ [بخاری]۔

یا لکه یو سړې ددې لپاره ښهٔ خوراك کوی چه عبادت ته ځان مضبوط کړی او یا د خپل کور والا حاجت پوره کړی۔ ښائسته جامې ددې لپاره اغوندی چه د الله د نعمت اثر پرې ولیدې شی۔ سفر ددې لپاره کوی چه د زمکې او آسمانونو د عظیمې بادشاهئ مشاهده وکړی۔ دغسې مسلمان له پکار دی چه په خپلو ټولو دینی او مباحو اعمالو کښې نیت وکړی۔ پاتې شو ګناهونه نو په ښهٔ نیت سره ددې نه عبادات نهٔ جوړیږی، لکه د اخلاص په فائده کښې ددې بیان تیر شوې۔

بلکه پکار دی چه په یو عمل کښې بے شماره نیتونه وکړی، لکه چه مونځ لپاره وځی نو د عالم ملاقات، د هغهٔ درس آوریدل، د خلکو خدمت کول، لارې نه ضرری شے لرې کول وغیره نیت دې وکړی۔

*** په یو وخت ډیر عبادتونه کول :**

دا کار صرف هغه څوك پیژنی چه د خپل اوقاتو اهتمام کوی۔

زمونږ په ژوند کښې ددې ګڼې تطبیقات دي:

۱ - مسلمان سړے چه پیدل یا په سورلۍ کښې جومات ته ځي نو دا په خپله بذاتِ خود یو عبادت دے چه ددے اجر ورته ملاوېږي لیکن دے د موقعے نه فائده اغستلے شي او دا وخت د الله په ذکر او تلاوت کښې هم لړولے شي، په دے طریقه دے په یو وخت کښې ګڼ عبادتونه کولے شي۔

۲ - مسلمان سړے چه داسے ولیمے ته حاضر شي چه په هغې کښې څۀ منکرات نۀ وي نو ددۀ دا حضور عبادت دے، خو دے دا وخت په دعوت او په کثرتِ ذکر کښې هم لړولے شي۔

۳ - ښځے لپاره د کور کار کول بذاتِ خود عبادت دے، خو ښځه کولے شي چه ددے سره سره یو اسلامي کیسټ ته غوږ کیدي او یا د الله ډیر ډیر ذکر وکړي۔

ابن عمر رضی الله عنه فرمائي: مونږ به د رسول الله ﷺ لپاره په یو مجلس کښې سل ځله دا کلمات شمارل: [رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ]

[ابوداود، ترمذی وصححه]

فکر وکړه! په یو وخت کښې ئے درے عبادتونه جمع کړل: (۱) ملګرو سره ناسته۔ (۲) دوئ ته په عملي توګه دیني کار ورښودل۔ (۳) د الله ډیر ذکر کول او استغفار غوښتل۔

په دے تعلیم کښې ډیر فوائد دي۔

* **هر حالت کښے د الله ذکر کول:**

د الله ذکر د بندګۍ بنیاد دے ځکه دا د الله سره په ټولو اوقاتو کښې د تعلق لرلو نښه ده۔

عائشه رضی الله عنها فرمائي: [كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَذْكُرُ اللهَ عَلٰى كُلِّ أَحْيَانِهِ]

(رسول الله ﷺ به هر وخت الله یادولو)۔ [مسلم]۔

الله سره تعلق ژوند دے او هغۀ ته په زارۍ کښې نجات دے، هغۀ ته په نزدے کیدو کښې رڼا او رضا ده او هغۀ نه په لرے والي کښې ګمراهي او تاوان دے۔

ذکر د مومنانو او منافقانو ترمینځه د جدائي نښه ده، منافقان الله ډیر کم یادوي۔

شیطان په انسان باندے هله غلبه کوي چه د الله د ذکر نه غافله شي۔ نو د الله ذکر هغه مضبوطه قلعه ده چه انسان د شیطان د چالونو نه محفوظ ساتي او شیطان غفلت خوښوي۔

ذکر د نیك بختیا لاره ده۔ ارشاد دے: ﴿ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللهِ أَلَا بِذِكْرِ اللهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ [رعد: ۲۸] (کوم خلق چه ایمان والا وي او د هغوي زړونو ته د الله په یاد سره اطمینان حاصلیږي، خبر شئ چه د الله په یاد سره زړونو ته اطمینان ملاوېږي)۔

همیشه د الله ذکر کول بکار دي ځکه جنتیان به صرف په هغه وخت افسوس کوي چه دوئ نه

Maktaba Tul Ishaat.com

د الله د ذکر نه بغیر تیر شوي وي.

څوك چه الله یادوي، الله هغه یادوي: ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴾ [بقره: ۱۵۲]

(تاسو ما یادوئ زۀ به تاسو یادووم او تاسو زما شکر کوئ او ناشکري مۀ کوئ).

انسان څومره خوشحالیږي چه کله دۀ ته پته ولګي چه یو بادشاه په یو مجلس کښې ددۀ د خیر تذکره وکړه، نو کله چه د بادشاهانو بادشاه انسان لره د ځان سره یا په یو مجلس کښې یاد کړي نو ددۀ به څۀ حالت وي !

بیا ذکر دې ته نۀ وائي چه انسان صرف ژبه خوزوي او زړۀ ئې د الله د تعظیم او طاعت نه خالي وي، بلکه د ژبې د ذکر سره ضروري ده چه فکر وي او د معنې نه اثر اخلي. ارشاد دې : ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيفَةً وَّدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغَافِلِينَ ﴾ [اعراف: ۲۰۵] (او خپل رب صبا بیګاه په عاجزئ سره او په یره سره او بغیر د وچت آواز نه په خپل زړۀ کښې یادوه او د غافلانو نه مۀ کیږه).

دې وجې نه ذاکر لپاره ضروري دي چه دې د خپل ذکر په الفاظو پوهیږي، دې دپاره چه زړۀ او ژبه ئې سره موافق وي او د خپل رب سره ظاهرًا او باطنًا رابطه ولري.

په [الوابل الصیب] د ابن قیمؒ کښې د ذکر فوائد تفصیلًا وګوره.

* **د الله په نعمتونو کښې فکر کول :**

نبي ﷺ فرمائي: [تَفَكَّرُوْا فِيْ آلَاءِ اللّٰهِ وَلَا تَفَكَّرُوْا فِي اللّٰهِ]

(د الله په نعمتونو کښې فکر کوئ، د هغۀ په ذات کښې فکر مۀ کوئ).

[الطبراني والبيهقي والأصبهاني في العظمة وحسنه الألباني]

شپه او ورځ په مسلمان باندې د الله څومره بې شماره نعمتونه دي، که په دې ټولو کښې فکر نشي کولې نو په بعضو کښې دې فکر وکړي.

آیا تا دا فکر کړې چه کله تۀ جومات ته د مانځه لپاره ځې نو تا نه ګیر چاپیره خلك دي چه هغوئ ددې نعمت نه محرومه دي؟

* تا دا فکر کړې چه تۀ یو سلفي العقیده او متبع سنت مسلمان ئې، او تا نه ګیر چاپیره بدعتیان، مشرکان، مقلدین او د سنتو دشمنان دي !

* تا دا فکر کړې چه تۀ علم طلب کوې او علم او علماؤ سره مینه لرې، او تا نه سیوا نور خلك علم نۀ طلب کوي او نۀ ددې باك لري؟

* آیا تا دا فکر کړې چه تۀ په مانځه کښې خشوع خوښوې او ډیر خلك دا پیژني هم نۀ !

* ته روغ ئې او ډیر خلك ناجوړه دي!
* ته بینا ئې او ډیر خلك ړانده دي
* ته مالداره ئې او ډیر خلك فقیران دي!
* ته آزاد ئې او ډیر خلك د خلكو مزدوران دي! او داسې نورې بې شماره نعمتونه۔
* ته آزاد ئې او ډیر خلك په جیلونو كښې پراته دي۔
* ته واده والا ئې او ډیر خلك بې واده دي۔
* تا باندې قرض نشته او په ډیرو خلكو د قرضونو بوجونه پراته دي۔
* ته په صحت كښې ئې او ډیر خلك په مشكلاتو او تكلیفونو او د كفارو له خوا په محنتونو كښې پراته دي۔

دې وجې نه مسلمان باندې واجب دي چه د الله نعمت په خپل ځان رایاد كړي: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ ﴾ [فاطر: ۳] (اې خلقو! تاسو په خپلو ځانونو باندې د الله نعمت رایاد كړئ) ...... بیا د الله حمد او ثناء ووائې او شكر وكړي، د هغهٔ په طاعت كښې ولړي او د هغهٔ خفګان او ناراضتیا نه ډډه وكړي او همیشه د الله نه بښنه غواړي۔

دې ته نبي كريم ﷺ په خپل دې ارشاد كښې اشاره كړې: (چا چه یو مصیبت وهلې انسان ولیدهٔ او دا دعاء ئې ووېله: [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ عَافَانِيْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِيْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلًا] نو دغه مصیبت به ورته ونهٔ رسیږي)۔ [رواه الترمذي وهو حديث صحيح]

او د الله ارشاد دې: ﴿ وَاذْكُرُوا اللهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ [جمعة: ۱۰] (الله یادوئ چه كامیاب شئ) ...... نو د الله په نعمتونو كښې فكر كول واقعي كامیابي ده۔

* **د اودهٔ كیدو په وخت سنت طریقې:**

۱ – ماښام نه پس نهٔ اودهٔ كیدل، ځكه نبي ﷺ ددې نه منع فرمایلې۔

۲ – ماسخوتن نه پس قیصې نهٔ كول: ځكه نبي ﷺ د ماسخوتن نه پس خبرې كول بدې ګڼړل او د قیصه ګوئي نه ئې منع فرمایلې۔

۳ – وختي اودهٔ كیدل۔

٤ – كله چه خوب لپاره بسترې ته راشي نو هغه په څادر وغیره سره څنډل۔

۵ – په اوداسهٔ كښې اودهٔ كیدل۔ (بخاري)۔

٦ – په ښي اړخ اودهٔ كیدل۔ (بخاري)۔

۷ – قبلې ته مخ كول لازم نهٔ دي، ځكه په دې باره كښې درې ضعیف روایتونه راغلي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۸ – دواړه ورغوی راجمع کول او په دے کښے ﴿قل هو الله احد﴾ او آخری دوه سورتونه لوستل، بیا په دے کښے تُف تُف کول او په بدن کښے ئے چه کومو ځایونو ته لاس رسی هغے باندے درے ځله راښکل۔

په بعضِ روایتونو کښے تُف تُف مخکښے راغلے او لوستل روسته راغلی نو دا روایت بالمعنیٰ ده، او اصل روایت هغه دے چه په هغے کښے لوستل مخکښے راغلی او تُف تُف کول روسته راغلی، همدا سنت طریقه ده۔ ان شاء الله۔

۹ – او دا دعا لوستل : [اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَأَحْيَا] (بخاری)۔

۱۰ – او دا دعا [اَللّٰهُمَّ قِنِیْ عَذَابَكَ یَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ] (مسلم)۔

۱۱ – او دا دعا : [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ كَفَانِیْ وَآوَانِیْ ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَطْعَمَنِیْ وَسَقَانِیْ ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ مَنَّ عَلَیَّ وَأَفْضَلَ ، اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَسْأَلُكَ بِعِزَّتِكَ أَنْ تُنْجِیَنِیْ مِنَ النَّارِ ، مَنْ قَالَهُ فَقَدْ حَمِدَ الرَّبَّ بِجَمِیْعِ مَحَامِدِ الْخَلْقِ] [الصحیحة]

۱۲ – آیة الکرسی لوستلو سره د شیطان نه حفاظت کیږی۔ (بخاری)۔

۱۳ – د تهجدو نیت به کوی: بیا که پاسی نو ښه ده ورنه د نیت په وجه به ئے د تهجدو ثواب وشی۔ (نسائی)۔

۱٤ – درے دیرش ځله سبحان الله، درے دیرش ځله الحمد لله، او څلور دیرش ځله الله اکبر۔

۱۵ – دا دعا ویل: [اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِیْ إِلَیْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِیْ إِلَیْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِیْ إِلَیْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِیْ إِلَیْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَیْكَ . لا مَلْجَا وَلامَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَیْكَ ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِیْ أَنْزَلْتَ وَنَبِیِّكَ الَّذِیْ أَرْسَلْتَ] [بخاری]

که د شپے مړ شوے نو په اسلام به مړ شے، او که صبا دے کړو نو خیر به موندۀ کړے۔

۱٦ – د سورتِ بقرے آخری دوه آیتونه لوستل، ددے لوستل د هر شیٔ نه کفایت کوی۔ (بخاری، مسلم)۔

۱۷ – خپل ښے لاس اننګی لاندے کیښودل۔ (ابوداود)۔

۱۸ – ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ ﴾ [سورة کافرون:۱] لوستل، دا د شرك نه بیزاری ده۔ (ابوداود)۔

۱۹ – ماسخوتن نه پس (آلم سجده، تبارك الذی) لوستل۔ (سنن)۔

۲۰ – افضله داده چه (تبارك الذی) سورت په مانځه کښے ولولی۔ [صحیح الجامع]

۲۱ – اودۀ کیدو پورے د الله ذکر کول: حدیث کښے دی: (د شپے چه په کوم ساعت کښے ړده بدلوی او د الله نه په دے وخت کښے څۀ خیر وغواړی نو خامخا ئے ورکوی)۔

۲۲ – د تولو خبرو په آخر کښې : [اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِیْ اِلَیْكَ ......] لوستل، ددې نه پس دنیوی خبرې نهٔ کول، ورنه بیا به دا دعا لولی۔ لکه صحیح بخاری کښې دی: (دا د تولو په آخر کښې وایه)۔

۲۳ – په داسې چت نهٔ اودهٔ کیدل چه هغې نه گیر چاپیره چار دیواری نهٔ وی۔ (ترغیب)۔

۲٤ – په خیټه نهٔ څملاستل ځکه دا د اور والو ملاسته ده۔ (ابوداود)۔

۲۵ – کورولا سره اودهٔ کیدل سنت دی، امام نوویؒ فرمائی: رسول الله ﷺ به د خپل کور والو سره اودهٔ کیدهٔ۔ امام ابن قیمؒ فرمائی: د اودهٔ کیدو په وخت څلویښت ذکرونه راغلی، که څوك په تولو عمل کول غواړی اوکه ددې نه مهم مهم لولی۔

* د شپې په وخت د خوبه راویښیدو ذکرونه :

ذکر او دعا خاصکر دا الفاظ لوستل : [لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ] (بخاری)

۲ – د اودهٔ کیدو په وخت یا د شپې په آخر کښې غسل کول۔

۳ – اودس یا تیمم کول هر کله چه جنب وی او غسل روستو کول غواړی۔

[بخاری ، مجمع الزوائد]

* د ناستې ، ملاستې او تللو په وخت سنت طریقې :

۱ – نبی کریم ﷺ به د احتباء په شکل کیناستهٔ او د خطبې په وخت ئې د احتباء نه منع فرمایلې هر کله چه د عورت ښکاره کیدو خطره وی۔ [موطأ ، بخاری]

احتباء دیته وائی چه د کناتو په سر کینی، پونډئ ودروئ او د ملا او پونډو نه څادر راتاو کړی۔

۲ – او نبی کریم ﷺ به په قرفصاء طریقه هم کیناستهٔ : (قرفصاء د احتباء پشان تفسیر لری خو دلته د څادر راتاوولو په ځائې دواړه لاسونه د پونډو نه راتاو کړی)۔ قیله بنت مخرمه رضی الله عنها وائی: (ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چه د قرفصاء په طریقه ناست وو نو زهٔ وویریدم)۔ [ابوداود]

۳ – او نبی کریم ﷺ به یوه خپه په بله باندې واړوله او ستونی ستغ به څملاستهٔ۔

[صحیح مسلم]

او د بخاری او مسلم په کوم حدیث کښې چه په دې طریقه ملاستې نه منع راغلې نو د هغې مطلب دادې چه خپله ښئ خپه د کسې خپې په زنگون کیدی او لنگ یا پرتوگ ئې اچولې وی نو په دې کښې د عورت ښکاره کیدو خطره وی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۴ - د مطیطاء نه هم منع راغلې، او هغه داچه سینه وباسي او لاسونه خوزولو سره روان وي.

۵ - په نخرې سره مزل نه هم منع راغلې. (چاته چه ځان لوئي ښکاري او په مزل کښې کبر کوي، الله سره به په داسې حال کښې ملاؤ شي چه هغه به ورته غصه وي). [صحیح مسلم]

٦ - او نبي کریم ﷺ به تُند مزل کولو.

۷ - ګویاکه ښکته کوزیږي. [شمائل].

۸ - او نبي ﷺ به ښي او ګس اړخ ته نۀ کتل. [الشمائل]

۹ - او نبي ﷺ نه به مخکښې خپل ملګري روان وو. [ترمذی]

۱۰ - او نبي ﷺ په ښي او ګس اړخ تکیه لګولې. [بخاري، ترمذی]

۱۱ - او د سهار مانځه نه به پس چار زانو کیناستۀ. [ابو داود]

۱۲ - او چه کله به ئې د شپې په آخر کښې دیره اچوله نو په خپل ښي اړخ به ئې دده واچوله. او کله به ئې چه د سهار نه لږ مخکښې دده اچوله نو خپله لیچه به ئې ودروله او په خپل ورغوی کښې به ئې سر کیښودۀ. [شرح السنة]

۱۳ - د حلقې په مینځ کښې ناستې نه منع راغلې : (هغه څوك د محمد ﷺ په ژبه لعنتي دې چه د حلقې په مینځ کښې کیني). [ترمذی، ابو داود عن حذیفة]

(ددې حدیث سند ضعیف دې، خو معنیٰ ئې صحیح ده).

۱۴ - حدیث کښې دي: (کله چه په تاسو کښې څوك سوري ته ناست وو او سورې ترې لاړ نو خپله دغه ناسته دې بدله کړي). [احمد باسناد حسن لغیره]

۱۵ - نبي کریم ﷺ به په مجلس کښې د خپل ملګري مخامخ خپې نۀ غزولې. [شمائل]

۱٦ - او نبي ﷺ به صرف د شپې اودۀ کیدۀ او د قیلولې اهتمام به ئې کولو.

۱۷ - او په سفر کښې د خپلو ملګرو سره د نمر خاتۀ نه پس په خپله سورلۍ اودۀ شوې دې.
[احمد، مع الفتح الرباني: ۱]

۱۸ - او نبي ﷺ به اوږده خاموشي کوله، ډیر ذکر به ئې کولو او بې فائدې خبرې به ئې نۀ کولې. [البغوی فی شرح السنة] او د خپل کور والو سره به ئې خندا کوله.

او نبي ﷺ ډیر زیات عبادت ګذار وو، او د هر چا نه زیات ښائسته ښودنې والا وو.[صحیح مسلم]

او نبي ﷺ به د عامو خلکو پشان زر زر خبرې نۀ کولې. [مسلم]

او نۀ به ئې هره ورځ سر او ویښتۀ کومنزول، او ددې نه ئې منع فرمایلې چه هره ورځ څوك سر کومنز کړي. [ابو داود، نسائی]

او په خپل سر به ئے ډیر زیات تیل مږل، او د ویښتو د عزت کولو امر به ئے فرمایلو۔
او د نبی ﷺ ویښتهٔ کله د غوږونو د نرمیو برابر، کله ددے نه ښکته او کله د اوږو برابر وو۔
او نبی ﷺ به صرف په حج یا عمره کښے یا د ضرورت په وجه سر خریلو۔ او د سر په مینځ کښے به ئے لاره اړوله، او شاته به ئے نهٔ اړول ځکه دا د یهودو کار وو۔
او نبی ﷺ به خپل بریت کمول او د برېتو اوږدولو نه ئے منع فرمایلے۔
او د نبی ﷺ گنړه گیره وه او د گیرے په غټولو ئے حکم فرمایلے۔ او هغوئ به د نکریزو یا د نکریزو او وسمے پورے کولو امر فرمایلو۔ [کما فی السنن] او د گیرے قینچی کولو نه ئے منع فرمایلے۔ [الصحیحة: ۳]
او هغوئ به پاکی او عطر ډیر زیات خوښول۔
او فرمائی: (ماته ستاسو په دنیا کښے درے شیان خوښ دی : ښځے، عطر او زما د سترگو یخوالے په مانځه کښے گرځول شوے)۔
[المروزی فی تعظیم الصلاة، وأحمد فی المسند باسناد حسن]
روستو په (ورك شوو سنتونو) والا فائده کښے راځی۔
نیك عمله وروره ! په هر څهٔ کښے د سنت د اتباع خیال ساته چه کامیاب شے ! او ددے لپاره د حدیثو کتابونه لکه : بخاری، مسلم، سنن اربعه د عمل په نیت مطالعه کوه۔
ایوب سختیانیؒ فرمائی: د سنتو په ختمیدو سره به اسلام ختمیږی لکه څنگه چه د رسئ نه یو یو ویښتو تللو سره رسئ ختمیږی دغسے به اسلام د یو یو سنت په ختمیدو سره ختمیږی۔ [دارمی]
او په ټول ژوند کښے چه کوم سنت دی د هغے لپاره [زاد المعاد فی هدی خیر العباد] مطالعه کول ضروری دی، ځکه چه دا ډیر مهم کتاب دے، بار بار ئے مطالعه کره۔
او دا کوم **سنتونه** چه مونږ ذکر کړل، نو دا په هره ورځ کښے تکراریدو سره د دوه زرو (۲۰۰۰) نه زیات دی او دا د مسلمان لویه گټه ده۔
الله نه غواړو چه مونږ د سنتو محبان او په دے عاملین او دیته دعوت کونکی جوړ کړی او مونږ له په همدے سنتو باندے وفات راولی او په همدے باندے زمونږ حشر وکړی۔ آمین !
کتبه ابو محمد امین الله : ۱۱/ ۱۱/ ۱٤۳٤هـ

(**تنبیه**) : د [الفوائد عربی] (۸۵) نمبر فائده چونکه خالصه د عربی لغت سره تعلق لری، نو ځکه مونږ د کتاب د اوږدیدو د خطرے په وجه د هغے ترجمه مناسب ونهٔ گڼړله۔ څوك چه شوق لری، عربی کتاب ته دے رجوع وکړی۔ [مترجم ابو سلمان حفظه الله]

Maktaba Tul Ishaat.com

٨٦ - فائده

د لقمان حکیمؒ حکمت او نصیحتونه

الله تعالىٰ په قرآن کریم کښې د لقمان حکیمؒ درے قِسمه حکمتونه ذکر کړی :

١ - ایمانیات.

٢ - اعمالِ صالحه.

٣ - ښهٔ اخلاق.

او ددے تفصیل په سورتِ لقمان کښې راغلے.

خو په قرآن کریم کښې د ذکرشوو حکمتونو نه علاوه چه د هغهٔ نه کوم رانقل شوی نو هغه اتهٔ ویشت (٢٨) دی، علامه ابن طاهر بن عاشورؒ په [التنویر] کښې او علامه آلوسی په خپل [تفسیر] کښې ذکر کړی. زهٔ هغه د علم او عمل لپاره ذکر کووم :

١ - لقمان حکیمؒ فرمائی: اے ځویه ! دنیا ژور سمندر دے په دے کښې ډیر خلك ډوب شوی نو تهٔ خپله کشتئ په دے کښې د الله تقویٰ، ددے ډکون ایمان، او ددے رسئ د الله توکل وګرځوه کیدے شے چه تهٔ خلاصے ومومی خو ګمان مے نهٔ راځی چه تهٔ به خلاص شے.

٢ - څوك چه خپل ځان ته نصیحت کوی، د الله له خوا به ددهٔ حفاظت کولے شی. او څوك چه خلکو له د خپل ځان نه انصاف ورکوی، الله به ددے په وجه ددهٔ عزت زیات کړی. او څوك چه د الله په طاعت کښې لګیا وی هغه په دے سره د ګناه نه زیات خپل ځان عزتمن ګنړی.

٣ - خپل بچے وصل داسے نفعمن دی لکه پتی له سره ورکول.

٤ - اے ځویه ! قرض نه ځان ساته ځکه دا د ورځے ذلت او د شپے غم دے.

٥ - اے ځویه ! الله نه داسے امید لره چه په ګناه دے زړور نهٔ کړی، او الله نه داسے خوف کوه چه د هغهٔ د رحمت نه دے نا امیده نهٔ کړی.

٦ - څوك چه دروغ وائی د هغهٔ د مخ اوبهٔ ختمیږی. او څوك چه بد اخلاقه شی نو غمونه ئے ډیر شی. او د یو ځائے نه بل ځائے ته ګټان وړل د داسے کس پو هولو نه زیات آسان دی چه هغه نهٔ پو هیږی.

۷ – اے ځویه! ما غټ ګټان او وُسپنے او هر شے بار کړے دے خو د خراب ګاونډی نه مے زیات بل درونډ بار نهٔ دے وړے، او ما ډیر تراخهٔ شیان څکلی دی خو د فقیرئ نه مے زیات تریخ بل شے نهٔ دے څکلے۔

۸ – اے ځویه! ناپوهه انسان خپل استاذے مهٔ لیږه، که هوښیار درته نهٔ ملاویږی نو بیا د خپل ځان استاذے شه۔

۹ – اے ځویه! دروغو نه ځان ساته ځکه دا د چنچڼے د غوښے نه زیات خواږهٔ دی خو ډیر زر خپل خاوند خُوټکوی۔

۱۰ – اے ځویه! جنازو ته حاضریږه او ودونو ته مهٔ حاضریږه ځکه جنازے به درته آخرت یادوی او ودونه به درته دنیا خوندوره جوړوی۔

۱۱ – اے ځویه! د موړوالی په حالت کښے خوراك مهٔ کوه ځکه د دغه خوراك خوړلو نه ښه داده چه سپی ته ئے واچوے۔

۱۲ – اے ځویه! دومره مهٔ خوږیږه چه خلك دے ښوے تیر کړی اومهٔ تریخ جوړیږه چه خلك به دے وارتوی۔

۱۳ – اے ځویه! ستا خوراك دے صرف متقیان خوری، او په خپل کار کښے علماؤ سره مشوره کوه۔

۱٤ – په هغه شئ زده کولو کښے ستا لپاره هیڅ خیر نشته چه هغه تاته نفع نهٔ درکوی۔ څهٔ چه دے زده کړل په هغے عمل کوه ځکه ددے مثال د هغه سړی پشان دے چه خشاك راجمع کړی او ګیډے ترے وتړی او هغے ته ارم شی خو پورته کولے ئے نشی نو هغے سره بل ګیډے هم پیوسته کړی۔

۱۵ – اے ځویه! کله چه تهٔ یو سړی سره د ورورولئ اراده وکړے نو هغه ددے نه مخکښے غصه کړه، که هغهٔ د غصے په وخت تاسره انصاف وکړو نو ښه ده ګنے ځان ترے وساته۔

۱٦ – ستا خبره دے خوږه وی، ستا تندے دے فراخه وی نو تهٔ به خلکو ته د هغه چانه زیات خوښ شے چه هغوئ ورته څهٔ ورکړه کوی۔

۱۷ – اے ځویه! خپل ملګری ته ځان د هغه چا غونتته جوړ کړه چه هغه تاته هیڅ حاجت نهٔ لری او ستا د هغهٔ نه بغیر چاره نهٔ وی۔

۱۸ – اے ځویه! د هغه چا پشان جوړ شه چه هغه د خلکو صفت نهٔ غواړی اونهٔ د هغوئ بدی غواړی، ددهٔ نفس په دے سره په مشقت کښے پریوځی او خلك ددهٔ نه په راحت کښے وی۔

۱۹ – اے ځویه! څهٔ چه ستا د خُلے نه وځی هغه بند کړه ځکه ستا خاموشی سلامتیا ده اوتا لپاره صرف نفع منه خبره مناسب ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۰ - لقمان حکیمؒ خپل ځوئې ته وصیت وکړو: اې ځویه! علماؤ سره کینه او دوئ ته خپلې ګوډې مخامخ کوه ځکه الله تعالیٰ د علم په رڼړا سره زړونه داسې ژوندي کوي لکه څنګه چه مړه زمکه په شیبو شیبو باران سره ژوندئ کیږي.
[موطأ امام مالك]

۲۱ - لقمان ته ووېل شو: دې درجې ته څنګه ورسیدې؟ وې فرمایل: په رشتینې خبرې، په امانت ادا کولو او په لغوه کارونو پریښودو. [موطأ مالك]

۲۲ - امام مالك فرمائي: ماته رارسیدلې ده چه لقمان خپل ځوئې ته ووېل: اې ځویه! د نیك ملګرې نه پس چه په دنیا کښې تهٔ کوم شې حاصلوې هغه دې نیکه ښځه وي.
[الجامع المستخرج]

۲۳ - او امام مالكؒ فرمائي: لقمان خپل ځوئې ته ووېل: اې ځویه! خلکو باندې هغه خبرې اوړدې شوې چه دوئ سره ئې وعده کیږي، او دوئ په تادئ سره آخرت ته روان دي او تهٔ چه د څهٔ وخت راسې پیدا شوې ئې دنیا ته دې شا کړې او آخرت ته دې مخ کړې، او کوم کور ته چه روان ئې هغه د هغه کور نه زیات نزدې دې د کوم نه چه تهٔ روان ئې.
[أحكام القرآن، لابن العربي]

۲۵ - اې ځویه! فاجرانو سره مهٔ کینه او مهٔ ورسره شریك څه، هسې نهٔ په دوئ به د آسمان نه عذاب نازل شي نو تاته به هم ورسي.

او فرمائي: اې ځویه! علماؤ سره کینه او شریك ورسره څه کیدې شي چه په دوئ رحمت نازلیږي نو تاته به هم ورسي.

۲۶ - او یو سړي لقمان ته کتل نو هغهٔ ورته وفرمایل: که تهٔ ما غټو شونډو والا وینې نو ددې دواړو د مینځ نه نرمې خبرې راوځي، او که تهٔ ما تور وینې نو زما زړهٔ سپین دې. او لقمان ته ددهٔ مولیٰ د ګډې بزې ذبح کولو او د هغې نه د دوه مزیدارو تکړو راوړو امر وکړو، نو لقمان ورته ژبه او زړهٔ راوړل. بیا ئې ورته د بلې ګډې بزې ذبح کولو او د هغې نه د دوه خرابو تکړو غورزولو حکم وکړو، نو هغهٔ ترې ژبه او زړهٔ وارتول، نو مولیٰ ترې ددې پوښتنه وکړه، وې فرمایل: کله چه دا دواړه مزیدارې وي نو په دې کښې د تولو نه زیاتې مزیدارې دي او که دا دواړه خرابې شي نو بیا په تولو کښې دا خبیثې دي.

او یو ځل لقمان داود - علیه السلام - ته ورغې، هغوئ زغرې جوړولې نو لقمان اراده وکړه چه ددې د جوړولو حکمت وتپوسي، خو حکمت د پوښتنې نه منع کړو، نو کله چه هغوئ زغره

جوړه کړه نو هغه ئې واغوستـه او وې فرمايل: د جنګ په وخت ډيره ښه زغره ئې۔ نو لقمان ووېل: خاموشي حکمت دے خو کونکي ئې کم دي۔ [کشاف]

۲۷ – لقمان ته ووېل شو: کوم سړے د تولو خلکو نه زيات شري دے؟ وې فرمايل: هغه څوك چه ددے نه نۀ يريږي چه خلك ئې په ګناه ووينې۔ [تفسير ابن عطيه]

۲۸ – لقمان به د داود عليه السلام نبي کيدو نه مخکښے فتوے ورکولے خو کله چه داود نبي جوړ شو نو فتوے ئې بندے کړے، چا ورنه ددے پوښتنه وکړه۔ وې فرمايل: کله چه زما له خوا کفايت وکړے شو نو آيا زۀ به اکتفاء نۀ کوم۔ [تفسير القرطبي]

۲۹ – د حاکم مرتبه ډيره زياته سخته او خيرنه ده، د هرے خوانه ورته مظلوم راځي نو که حق ته ورسي نو مناسبه ده چه خلاصے وموميي اوکه خطا شو نو د جنت دروازه به خطا کړي۔ او څوك چه په دنيا کښے ذليل وي هغه د شريف کيدو نه غوره دے، او څوك چه په آخرت باندے دنيا غوره کړي، دنيا به ترے فوت شي او آخرت به حاصل نۀ کړي۔

۳۰ – داود عليه السلام د لقمان نه پوښتنه وکړه: په څۀ حال کښے دے صبا کړو؟ وې فرمايل: ما : بل چا په لاس کښے صبا کړو۔ [تفسير بيضاوي]

۳۱ – لقمان خپل ځوئے ته ووېل: کله چه معده ډکه شي نو فکر اوده شي، حکمت چاړا شي او اندامونه د عبادت نه کيني۔ [الشفاء لعياض]

۳۲ – اے ځويه! د نيکے ښځے مثال لکه د سر تيل دي چه رګونه نرموي او ويښتۀ ښائسته کوي، او د بادشاه د تاج پشان ده، او د ملغلرے او جوهر پشان ده چه چاته ددے قيمت معلوم نۀ دے۔ او د خرابے ښځے مثال لکه د نۀ ختميدونکي سيلاب دے تردے چه خپل آخر سرته ورسوي، کله چه خبرے کوي نو آورول کوي او کله چه روانه وي نو تادي کوي، او کله چه ناسته وي نو ګنډل کوي او کله چه غصه شي نو آورول کوي او هره بيماري رغيږي خو د خرابے ښځے بيماري نۀ رغيږي۔[كتاب النكاح لقاسم بن يأمون التليدي الأخماسي]

۳۴ – اے ځويه! سفر کښے ځان سره خپله توره، موزه، پټکے، خيمه، مشکيزه، ستنه او تار او هغه دوائي واخله چه تا او ستا ملګرو ته نفع درکوي، او د خپلو ملګرو سره د الله د نافرمانئ نه بغير کارونو کښے موافقت کوه۔ اے ځويه! کله چه د يو قوم سره سفر کوے نو د هغوئ سره د هغوئ او د خپل کار په حقله ډيره ډيره مشوره کوه، د هغوئ په مخ کښے ډيره ډيره مُسکا کوه او د هغوئ ترمينځه عزتمن وسيږه۔ که هغوئ دعوت درکړي نو قبلوه ئې اوکه مدد وغواړي نو مدد ئې کوه، او اوږده خاموشي اختياروه۔ کله چه هغوئ په يو حق باندے تا ګواه جوړوي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

ګواهي ورله کوه اوکله چه درنه مشوره وغواړي نو په ښهٔ کوشش سره مشوره ورکوه او په خپله اراده کښې پخلے پیدا کړه اوپه یوه مشوره کښې تر هغه وخته پورې خپله رائے مهٔ ورکوه ترڅو چه تهٔ په خپله ناسته، ولاړه، خوب او خوراك او مانځه کښې په دے کښې خپل فکر استعمال نهٔ کړے، ځکه څوك چه مشوره اغوستونکی لپاره خالصه مشوره ورنهٔ کړي الله به ترے رائے واخلی۔ کله چه تهٔ خپل ملګري ووينې چه روان دی نو تهٔ هم ورسره روان شه، کله چه هغوئ په يو کار ووينې نو تهٔ هم ورسره هغه کوه۔ څوك چه تاته مشر وی هغهٔ ته غوږ ږده، او کله چه تاته د څهٔ خبرے حکم وکړي او څهٔ درنه وغواړي نو هَو ورته وايه او (نه) ورته مهٔ وايه ځکه (نه) چاړاتوب او رذالت دے۔ او کله چه درنه لاره ورکه شي نو پړاؤ اچوئ او کله چه په مقصد کښې شکي شئ نو ودريږئ او مشوره کوئ۔ او کله چه يو تن ووينئ نو هغهٔ نه د خپلے لارے پوښتنه مهٔ کوئ ځکه په شاړه کښې يواځے تن پريشان کُن وی کيدے شی هغه د غلو جاسوس وی او يا هغه شيطان وی چه تاسو ئے حيران کړی يئ. او د دوه کسانو نه هم ويريږئ البته که هغه شے ووينئ کوم چه زهٔ نهٔ وينم ځکه عاقل چه کله په سترګو څهٔ شے ووينی نو د هغے نه حق معلوموی، او حاضر هغه شے ليدے شی کوم چه غائب نشی ليدے۔

[مجمع البيان للطبرسی]

۳۵ – اے ځويه ! کله چه د مانځه وخت شی نو هغه د هيڅ کار لپاره مهٔ روستو کوه، د هغے په کولو خپل ځان ته راحت ورکړه ځکه دا قرض دے۔ او په جماعت سره مونځ کوه اګرکه د نيزے په سر باندے وی۔ اوکله چه تاسو د ډيرے اچولو اراده وکړئ نو د زمکے د مزيدارے برخے انتخاب کوئ چه د هغے خاوره نرمه وی او واښهٔ پکښے ډير وی۔ او کله چه تهٔ کوز شے نو ناستے نه مخکښے دوه رکعته کوه۔ کله چه د قضائے حاجت اراده لرے نو لرے ځه۔ او کله چه تهٔ روانيږے نو دوه رکعته کوه بيا هغه زمکه پريده او د هغے په اهل سلام کوه ځکه د هغے زمکے لپاره وسيدونکی ملائك وی۔ اوکه وس دے رسی چه د خوراك خوړلو نه مخکښے د هغے نه صدقه ورکړے نو دا کار وکړه، او تر څو پورے چه تهٔ سورئے د الله کتاب لوله – ددے نه زبور مراد کيدے شی – او په کوم کار کښے چه مصروفه ئے نو تسبيح وايه او ترڅو پورے چه يواځے ئے نو دعا غواړه۔ او د شپے د اول نه واخله تر آخرے پورے د مزل کولو نه ځان وساته۔ او د مزل په وخت د چغو وهلو نه ډډه کوه۔

د لقمان حکيمؒ دا قِسم نصيحتونه تقريبًا اوياؤ (۷۰) ته نزدے دی۔

۸۷ - نایابه فائده

د نبي کريم ﷺ رحمة للعالمين کيدل، د هغهٔ د محبت اسباب او راښکونکی شيان او **د نبي ﷺ سره د سلفو د محبت کولو مثالونه :**

دا حقيقت دے چه الله تعالىٰ نبی کريم ﷺ د مومنانو بلکه د ټول جهان والو لپاره رحمت ګرځولے۔ لکه ارشاد دے: ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴾ [انبياء: ۱۰۷] (او مونږ تالره د ټول جهان والو دپاره رحمت جوړولو سره را ولیږهٔ) او ارشاد دے: ﴿ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ ﴾ [توبه: ٦١]

نو نبی کريم ﷺ د ډيرو وجونه رحمت دے چه ډير خلك دے طرفته توجه نهٔ کوی۔

زهٔ دغه وجو او د **رحمت اقسامو** ته اشاره کوم او عاقل له اشاره کافی ده۔

۱ - **خلك** په تيارهٔ کښے پراتهٔ وو نو نبی کريم ﷺ د الله په توفيق سره رڼا ته راوښکل، نو هره هغه څوك چه د نبی ﷺ خبره منی هغه د خبرے منلو په اندازه په رڼا کښے دے۔

ارشاد دے: ﴿ الٓر كِتَابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ اللهِ الَّذِىْ لَهٗ مَا فِى السَّمَاوَاتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَوَيْلٌ لِّلْكَافِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴾ [ابراهيم: ۱، ۲] (الٓر، قرآن يو داسے کتاب دے چه دا مونږ په تا باندے نازل کړے، دے لپاره چه تهٔ خلق د دوی د رب په حکم سره د تيارو نه وباسے رڼا طرفته ئے بوځے، دوی د هغه الله په لاره روان کړے چه زورور، ډير صفتونو والا دے هغه الله چه د آسمانونو او زمکے د هر شی مالك دے او د کافرانو دپاره د سخت عذاب په وجه بربادی او هلاکت دے)

او نبی کريم ﷺ خلك په خپل عزتمنه وينا، په خپل ډولی کار او په خپله شفيقانه تقرير سره د ✱ کفر د تيارو نه د ايمان رڼا طرفته ✱ د شرك د تيارو نه د توحيد رڼا طرفته ✱ د شك د تيارو نه د يقين رڼا طرفته ✱ د بدعت د تيارو نه د سنت رڼا طرفته ✱ د ګناه د تيارو نه د طاعت رڼا طرفته ✱ د غفلت د تيارو نه د ذکر رڼا طرفته ✱ د غير الله سره د تعلق لرلو او په هغهٔ د توکل کولو نه د الله د تعلق او په هغهٔ باندے د توکل کولو رڼا طرفته ✱ د دنيا تنګو تيارو نه د آخرت فراخئ طرفته ✱ د غير الله د عبادت د تيارو نه د رب العباد عبادت طرفته ✱ د جهالت د تيارو نه د علم او معرفت رڼا طرفته ✱ د خواهش د تيارو نه د اخلاص او هدايت رڼا طرفته ✱ د نفسونو د تيارو نه تزکيئے طرفته ✱ د خرافاتو د تيارو نه د وحی او يقين رڼا طرفته ✱ د ظلم او

Maktaba Tul Ishaat.com

کبر د تیارونـه د شفقت او عاجزئ رڼا طرفته * د بې حیایئ د تیارو نه پاکدامنئ طرفته * د دشمنـئ د تیـارو نـه محبت او الفت طرفته * د تـعـصـب د تیـارو نـه د الله په دین کښې د تصلب (مضبوطیا) طرفته * او د اور نه جنت ته طرفته راوښکل۔

﴿ وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ﴾ [آل عمران: ۱۰۳] (او تـاسـو د جهنم د کنډې غاړې ته رسیدلی وئ نو الله تاسو د هغې نه بچ کړئ)

* او د ټولو شرونو نه نیکیو او ښیګړو طرفته۔

نـو دا څـومره لوئې رحمت دې ! خو دا ټول رحمتونه د هغه چا نصیب کیدې شي چه هغه دې نبي کریم ﷺ ته په عقیده، عمل او محبت او عاجزئ هر څۀ کښې منقاد شي۔

۲ – الله ته رسیدل ددې نبی ﷺ د لارې نـه سیـوا په بله طریقه ممکن نۀ دی۔ او الله ته رسیدل یـو داسـې رحـمـت دې چـه ددې سره هیـڅ یـو شـې نشي برابریدې۔ او د نبي کریم ﷺ لاره د هغۀ پیروي کول دي۔ دا وجه ده ابن قیم رحمه الله فرمائي: الله ته د ټولو نه زیاته نزدې لارې درې دي :

پـه قـول او عـمـل کښې سنت لازم نیول۔ د خواهش خلاف کول، او الله ته فقیري ښکاره کول۔ [کـمـا في الفوائد] ...... او الله تـه د رسیـدو طریـقـه مونږ ته دې نبي راښودلې نو آیا دا به رحمت او نعمت نۀ وي؟ حالانکه الله خپله هغوئ ته رحمت ویلې۔

۳ – امت د جهـالـت په تیارو کښې پروت وو، ددې سره د جهان او انسانیت هیڅ یو تاریخ موجود نـۀ وو، سیـوا د لږ شان څۀ تاریخ نه، نو دا رحمت راغې او امت ئې د ټول جهان د صحیح او رشتینې یـقـینـي تاریخ نه خبر کړو: ﴿ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَا أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ [هود: ٤٩] (تـا او سـتـا قـوم ددې نـه مخکښې پدې خبرونو نۀ پوهیدۀ پس ته (د دعوت الی الله په لاره کښې) د صبر نه کار اخله، آخر ښه انجام د متقیانو دپاره دې) نو دا علم سراسر رحمت دې !

٤ – امت د تباهئ په کنده ولاړ وو نو الله ددې نبي کریم ﷺ په وجه نجات ورکړو۔ ارشاد دې: ﴿ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا ﴾ [آل عمران: ۱۰۳] (د الله نـعـمـت رایاد کـړئ، چه تاسو خپل مینځ کښې دشمنـان وئ نو الله ستاسو زړونه یو ځائې کړل او د هغه په فضل او کرم سره ورونه ورونه شوئ او تاسو د جهنم د کنډې غاړې ته رسیدلی وئ نو الله تاسو د هغې نه بچ کړئ)

یو بانده چې وویل : د الله د شانِ کریمي نه دا خبره لرې ده چه د خلاصون نه پس ئې بیا ورته ګذار کړي۔ ابن عباس ﷺ فـرمـائي: دا د حکمت خبره ده خو د غیر حکیم نه راوتې ده۔ [روح المعاني]

...... نو نبي کریم ﷺ د اور نه د نجات ذریعه ده !

۵ – ټول امت د مشرق نه تر مغربه پورې ددې نبي په وجه راجمع شوی، د دوئ يو اِله، يو نبي، يوه قبله، يو كتاب او يو دين دې۔ او اتفاق يو عظيم رحمت دې !

بلكه نبي ﷺ فرمائي: [اَلْجَمَاعَةُ رَحْمَةٌ وَالْفُرْقَةُ عَذَابٌ] [الصحيحة] (اتفاق رحمت دې او اختلاف عذاب دې)۔

او كوم حديث چه څينې خلك ذكر كوي چه: [اِخْتِلَافُ أُمَّتِيْ رَحْمَةٌ] (زما د امت اختلاف رحمت دې) نو دا چا د ځانه جوړ كړې او باطل حديث دې۔

٦ – امت خپل قيمتي اوقات او عمرونه په لغوياتو او ګناهونو كښې ضائع كول، نو نبي اكرم ﷺ راغې او په عبادت سره ئې د خلكو عمرونه د ضائع كيدو نه بچ كړل، د لغوې په ځائې ئې په ذكر مشغوله كړل، د خوب په ځائې ئې په قيام الليل او الله سره په مناجات او د هغۀ په كتاب لوستلو مشغوله كړل۔

۷ – دا لوئې قرآن عظيم الشان چه سراسر رحمت او خير دې، دا ددې نبي كريم ﷺ په وجه نازل شوې، نو څوك چه د قرآن قدر پيژني هغه به ددې نبي كريم ﷺ قدر پيژني۔

۸ – دې امت د الله د رضا شيان او صحيح دين نۀ پيژندۀ۔ زيد بن عمرو بن نفيل، عبيد الله بن جحش او ورقه بن نوفل به د صحيح دين زده كولو لپاره سفرونه كول خو هغوئ دا نۀ په عربي جزيره كښې وموندۀ، نۀ په شام كښې وموندۀ۔ البته دوئ ته يهودو وويل چه د ابراهيم عليه السلام دين حق دې، خو هغوئ دا دين نۀ پيژندۀ۔ زيد بن عمرو به الله ته صرف سجده لړوله۔

نو دا نبي ﷺ راغې او دې امت ته ئې د الله رضامندي او صحيح لاره وښوده ؟ او الحمد دا صحيح دين اوس زمونږ او ستاسو ترمينځه موجود دې۔ نو دا څومره لوئې د قدر وړ نعمت دې!

۹ – نبي كريم ﷺ ددې امت لپاره ګڼړې قبولې شوې دعاګانې غوښتلې چه دې امت ته ئې ډيره نفع ورکړې، لكه په صحيح حديث كښې دي، نبي ﷺ دا دعا وكړه: چه (الله دې زما دا امت په عذاب سره نۀ تباه كوي، نو دا دعا قبوله شوه۔ او په دوئ دې بهرنې دشمن نۀ مسلط كوي چه د دوئ بيخ او بنياد وباسي نو دا دعا هم قبوله شوه۔ او نبي ﷺ به د قيامت په ورځ امت لپاره شفاعت كوي او په دې كښې به د هر هغه چا برخه وي چه څوك الله سره هيڅ قِسم شرك نۀ كوي)۔

او فرمائي: (ما خپل امت له دومره دعا وكړه كه چرې زياتره خلكو ته ددې پته ولږي نو مونځ به پريدي) [الصحيحة]

په بل حديث كښې دي: [شَفَاعَتِيْ لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِيْ] (زما شفاعت به ددې امت د كبيره

Maktaba Tul Ishaat.com

گناهونو والو لپاره وي)۔ [الترمذي وغيره، مشكاة: ۲]

معلومه شوه چه نبي كريم ﷺ د كبيره گناهونو والو لپاره رحمت دے نو د متقينو په باره كښے دے څۀ خيال دے!

او نبي كريم ﷺ د نيك عمله خلكو لپاره ډيرے زياتے دعاگانے كړي، مثلًا: (الله دے هغه څوك تروتازه كړي چه زما خبره واوري) او فرمائي: (الله دے په هغه چا رحم وكړي چه مازيگر مانځه نه مخكښے څلور ركعتـه وكړي)۔ او فرمائي: (اے الله! امامانو ته سمه لار وښائے او اذان كونكي وبښه)۔ او دا په مستقله فائده كښے تيره شوے۔

فكر وكړه! دا نبي ﷺ څنګه د خپل امت لپاره په دنيا او آخرت كښے رحمت دے! كه عاقل ته دا معلومه شي نو هغۀ سره به څومره تازه مينه ولري!

۱۰ - بله دا چه: دا امت لكه د ماشومانو غونتـه وو، هيڅ اخلاق او آداب ئے نۀ پيژندل، او رسول اكرم ﷺ د دوئ د والد پشان دے، دوئ تـه ئے د ښائستـه اخلاقو او لوئے آدابو او خوبيو ښودنه وكړه۔

نبي ﷺ فرمائي: (زۀ ستاسو لپاره لكه د پلار پشان يم، هر څۀ تاسو ته درښايم، نو كله چه تاسو اودس ماتے كوئ نو مۀ قبلے ته مخ كوئ او مۀ ورتـه شاكوئ)۔ [الصحيحة]

نو څوك چه غواړي چه د خلكو ترمينځه عزتمن شي او د همزولو ترمينځه ډولي شي نو هغه دے د نبي كريم ﷺ پيروي كوي، دا به عزتمن، ډولي او خلكو كښے محبوب شي، او دا ډيره مجربه نسخه ده۔

۱۱ - بله دا چه: **نبي كريم** ﷺ امت تـه د هغه فتنو خبر وركړے كومے چه دوئ تـه په دين او دنيا كښے راپيښيدونكے دي او ددے علاج ئے هم ورله ذكر كړے۔ لكه دا مونږه په يوه مستقله فائده كښے ذكر كړي، (۱۲/۱)۔ نو آيا دا رسول به رحمت نۀ وي!

څوك چه تاتـه د ضرري شي خبر دركوي، او د نفعمن شي خبر دركوي او د هغے علاج درتـه ښائي، هغه به ولے رحمت او نعمت نۀ وي، هغه خو د محبت او د تعظيم ډير زيات لائق دے!

۱۲ - د **نبي كريم** ﷺ د وجود په وجه عذاب دفع كيږي: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: الله ددے امت لپاره دوه امانـه راليږلي: يـو د رسول الله ﷺ وجود دے، او بل استغفار۔ نو يو امان لاړ او بل به قيامتـه پورے پاتے وي۔

[الترمذي وغيره]

امام ابن قيمؒ فرمائي: هر كله چه د كافرانو په مينځ كښے د نبي كريم ﷺ وجود د عذاب نه

مانع دے نو د مومن په زړهٔ کښے چه د هغهٔ محبت وی نو آیا دا به د الله د عذاب نه مانع نهٔ وی؟ [بدائع التفسیر: ۲]

د صحیح مسلم په حدیث کښے دی: نبی ﷺ وژړل نو جبریل راکوز شو ویلے: اے محمد! ولے ژاړے! وے فرمایل: د امت په وجه. هغه الله ته ورغے او بیا راغے وے فرمایل: الله تعالیٰ تاته وائی: بیشکه چه مونږ به تا د خپل امت په حقله خوشحالوو، تابه نهٔ خفه کوو.

نو دا ډیر لوئے رحمت دے!

۱۳ – بله دا چه: الله تعالیٰ ته د نبی کریم ﷺ مسنونے طریقے خوښے دی په دے کښے ئے بے اندازے رحمتونه ایښے دی. قاضی عیاضؒ فرمائی: علماؤ د الله تعالیٰ ددے وینا: ﴿ وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡنَ ﴾ [انبیاء: ۱۰۷] (او مونږ تا لره د ټول جهان والو دپاره رحمت جوړولو سره را ولیږهٔ) په حقله فرمایلی دی چه دا رحمت به تر هغه وخته پورے باقی وی ترڅو پورے چه د هغهٔ مسنونے طریقے باقی وی. [الشفاء: ۱]

د اتباع سنت په فوائدو کښے دا خبره تیره شوے چه الله تعالیٰ په دے کښے هدایت، عزت، کامیابی، جنت، محبت، مغفرت او طاعت ایښے او ددے په مخالفت کښے ئے عذاب، ذلت، گمراهی، دشمنی، مخالفت او اور ایښے. ددے تفصیل مخکښے تیر شو.

۱۴ – بله دا چه: الله تعالیٰ به په ټولو امتونو کښے د نبی کریم ﷺ د امت زیاته برخه جنت ته بوځی، دوئ سره به د ټولو امتونو نه مخکښے حساب کوی او دوئ ته به په مخونو، لاسونو او خپو کښے د اوداسهٔ د اثر او د سجدے د اثر په وجه رڼرا ورکوی.

د نبی کریم ﷺ په وجه دے امت ته دومره خصوصیات ورکړے شوی چه بل امت ته نهٔ دی ورکړے شوی. لکه ددے تفصیل په مستقله فائده کښے تیر شوے.

۱۵ – بله دا چه: نبی کریم ﷺ مومنانو ته په فائدے رسولو ډیر زیات حرص کونکے مهربانه وو. ارشاد دے: ﴿لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلٌ مِّنۡ اَنۡفُسِكُمۡ عَزِيۡزٌ عَلَيۡهِ مَا عَنِتُّمۡ حَرِيۡصٌ عَلَيۡكُمۡ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴾ [توبه: ۱۲۸] (مسلمانانو! ستاسو دپاره ستاسو نه یو رسول راغلے چه په هغه باندے هر هغه خبره گرانه پریوزی چه په هغے سره تاسو ته تکلیف وی، ستاسو د هدایت ډیر خواهشمند دے، د مؤمنانو دپاره انتهائی شفقت کونکے او مهربان دے).

دا وجه ده، نبی کریم ﷺ به په ډیر مستحب اعمالو باندے همیشه والے صرف ددے لپاره پریښودهٔ چه هسے نهٔ چرته په امت باندے فرض شی چه بیا به ئے طاقت نهٔ لری.

دا د نبی کریم ﷺ د رحمت او شفقت ښکاره نښه ده!

Maktaba Tul Ishaat.com

او نبي كريم ﷺ به زياتره د الله نه دا دعا غوښتله چه ددې امت نه بوجونه او طوقونه پورته كړي- نبي كريم ﷺ او د هغهٔ ملګرو به دا دعا غوښتله : ﴿ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِيْنَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِيْنَ ﴾ [بقره: ۲۸٦] (الله هيڅ انسان لره د هغه د طاقت نه زيات نهٔ مكلف كوي، څه نيكي چه كوي د هغې اجربه ورته ملاويږي او څوك چه ګناه كوي نو د هغې بوج به پورته كوي- اې ربه زمونږ ! په يره او خطائي باندې مونږ مه زانيسه، اې زمونږ ربه ! او په مونږ داسې بوج مهٔ اچوه لكه څنګه چه تا زمونږ نه په مخكنو خلقو اچولې وو، اې ربه زمونږ ! او مونږ باندې دومره بوج مهٔ اچوه چه د هغې مونږه طاقت نهٔ لرو، او مونږ معاف كړه او مونږ ته ښښنه وكړه او په مونږ رحم وكړه، ته زمونږ مالك او مولىٰ ئې، نو مونږ له تهٔ د كافر قوم په مقابله كښې غلبه راكړه)-

او خپل امت لپاره ئې دعا وغوښتله چه دوئ په يو قرائت سره قرآن نشي لوستلې نو الله د اووهٔ حرفونو اجازت وركړو- [بخاري، مسلم]

۱٦ - بله دا چه : ټول انبياء كرام - عليهم السلام - به نفسي نفسي وائي- او نبي اكرم ﷺ به : [اَللّٰهُمَّ أُمَّتِيْ، أُمَّتِيْ] وائي او دعا به كوي چه اې ربه ! امت بچ كړې امت بچ كړې- د ميزان د درونډ والي، د عذاب د سپكوالي، په پُلِ صراط باندې د پورې وتلو او د حساب د آسانوالي دعا به كوي-

حافظ ابن حجرؒ ذكر كړي چه نبي كريم ﷺ به اووهٔ (۷) قِسمه شفاعتونه كوي- يو شفاعت په دې كښې د كبيره ګناهونو والو لپاره دې، بل د درجاتو پورته والي، جنت ته د زر ننوتو، د ميزان د درونډ والي او اور نه د خلكو راوښكلو شفاعت-

په دې رحمت باندې فكر وكړه ! نو په هغه چا افسوس دې چه په دوئ ايمان نهٔ لري او د دوئ مخالفت كوي، او په هغه چا افسوس دې بل څوك په دوئ رامخكښې كوي او يا د چا د خبرې پيوند كارئ لپاره د دوئ خبره ماتوي او يا د بل چا د كلام لپاره د دوئ د كلام نه خلك په نفرت كښې اچوي !

په هغه چا باندې ډير تعجب دې چه په دې نبي كريم ﷺ باندې د ايمان لرلو دعوىٰ لري او تابعداري يا تقليد د بل چا كوي! دا خو دوه متضاد شيان جمع كول دي !!

۱۷ - بله دا چه : د ابو هريره رضي الله عنه په حديث كښې راغلي، نبي كريم ﷺ فرمائي: (ما د الله نه د خپل امت لپاره شفاعت وغوښتهٔ نو ماته ئې وفرمايل: تاله مې اويا زره بې حسابه خلك دركړل چه

جنت ته به داخلیږي۔ ما عرض وکړو: یا الله! نور زیات راکړئ! ویے فرمایل: ستا لپاره دومره نور خلك شو، او خپل مخے او ښي او ګس طرفته ئے لپه جوړه کړه)۔ [الصحيحة : ١٨٧٩]

١٨ – بلـه داچـه: پـه دے امت کښے د الله پاك دومره ډیر اولیاء دی چه د هغوئ د شمارے نه الله خبر دے، دوئ ته کرامتونه، دعاګانے قبلیدل او اوچتے درجے ملاؤ شوی۔دا هرڅهٔ د نبی کریم ﷺ د رالیږلو په وجه۔اے مومنه! تاته چه هم څهٔ خیر، کرامت، عزت، دعا قبلیدل حاصل شوی نو دا د الله فضل دے او د نبی کریم ﷺ د نبوت په وجه حاصل شوی۔

١٩ – بلـه داچـه: کـافـرانو، وحشی ځناورو او چارپایانو هم ددے رحمت نه فائده اغستے، هغه داچه الله د دوئ نه عذاب روستو کړے او د دنیا مزے ئے ورته ورکړی۔

٢٠ – بلـه داچـه: نبی کـریـم ﷺ به همیشه خپل امت ته د نفعے او ښیګړے رسولو په سوچ کښے وو او الله د دوئ امت ته د دوئ په وجه ډیر زیات خیر ښیګړه نصیب کړے۔

ابو بکر صدیق ﷺ فرمائی: نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایهٔ: (ماته اویا زره کسان راکړے شول چه بے حسابه به جنت ته ځی، د دوئ مخونه به لکه د څوارلسمے سپوږمۍ سپین وی، زړونه به ئے د یـو سړی د زړهٔ پشان وی۔ نو ما د خپل رب نه نور زیاتی وغوښتل نو ماته ئے د هر یو تن سره اویا زره کسـان نور راکړل) ابو بکر صدیق ﷺ فـرمائی: زما په خیال دا په کلی والو راتلونکے دے او د میدانونو غاړو مورګو ته رسیدونکے دے۔

[وهو حديث صحيح ، ذكره الحافظ في الفتح]

فـکـر وکړه دے لـوئے نعمت ته! دا خلك بے حسابه جنت ته ځی او باقی امت به ئے هم جنت ته ځی۔ لکه حدیث کښے دی:

[أُمَّتِي أُمَّةٌ مَّرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الآخِرَةِ ، عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ ، وَالْبَرَاكِيْنُ وَالْمِحَنُ]

(زمـا امـت بښـل شوے امت دے، په آخرت کښے به په دوئ عذاب نهٔ وی۔ د دوئ عذاب په دنیا کښے آزمائشونه، چاؤدنے او محنتونه دی)۔

(بـراکـیـن: جمع د بُرکان ده: کهکشان، په غرهٔ کښے دننه ګیس چه د هغے د چاؤدو په وجه د غرهٔ نه اور او لوګے راوځی – مترجم)۔

د ام حبیبه رضی الله عنها پـه حدیث کښے دی، نبی کریم ﷺ فرمائی: (زما امت چه مانه پس د کـومـو شیانو او د یو بل وینو تویولو سره سره مخامخ کیږی هغه ماته راوښودے شول، دا د الله له خـوا مـخکښے فیصله شوے خبره ده لکه څنګه چه په مخکنو امتونو کښے راغلے وه، نو ما د الله نـه وغوښتل چه د قیامت په ورځ ماته په دوئ کښے شفاعت رانصیب کړی نو هغهٔ دا کار وکړو)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[الصحيحة : ١٤٤٠]

۲۱ – بله دا چه : مسلمان کله په رسول الله ﷺ یو ځل درود ووائي، الله ورله څلويښت ښيګړے ورکوي، هره يوه ښيګړه د دنيا او ما فيها نه غوره ده۔ دا ښيګړے مونږ په [الدين الخالص : ٤] کښے ذکر کړی۔

د مثال په توګه : د ابو هريره ؓ په حديث کښے دی، نبی کريم ﷺ فرمائی: [مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً، صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا]

(څوك چه يو ځل په ما درود ووائي، الله پرے لس رحمتونه رالیږی)۔ [صحيح مسلم]

انس رضی الله عنه فرمائی: نبی کريم ﷺ ارشاد فرمايلے: (چا چه په ما يو ځل درود ولیږۀ الله په دهٔ لس رحمتونه رالیږی، لس ګناهونه به ئے ورژیړی او لس درجے به ئے وچتے شی)۔

[النسائی، مشکاة : ١/ ٨٧]

نو نبی اکرم ﷺ د ټولو برکتونو او خيرونو او ګناهونو رژولو سبب دے، نو دا د امت لپاره څومره د نفعے خبره ده !

۲۲ – بله دا چه : د نبی کريم ﷺ سره محبت ساتل زمونږ د ايمان د پوره والی سبب دے:

انس رضی الله عنه فرمائی: نبی کريم ﷺ ارشاد فرمايلے: (په تاسو کښے يو تن تر هغه پورے پوره مومن کيدے نشی ترڅو چه زهٔ ورته د خپل پلار، بچی او ټولو خلکو نه زيات محبوب جوړ نشم)۔ [بخاری، مسلم]

نو د چا په وجه چه زمونږ ايمان پوره کيږی او هغه زمونږ او د الله ترمينځه د دين او وحی په رارسولو کښے واسطه ده، هغه به ولے رحمت نهٔ وی !

۲۳ – بله دا چه : نبی کريم ﷺ د امت خير خواهی لټولے او ښوئ ته ئے د هرے ښيګړے حکم کړے او د هر يو شر نه ئے منع کړی۔ لکه ارشاد دے: (داسے هيڅ يو شے نشته چه تاسو جنت ته نزدے کوی او اور نه مو لرے کوی مګر ما تاسو ته د هغے حکم کړے۔ او داسے هيڅ يو شے نشته چه تاسو اور ته نزدے کوی او جنت نه مو لرے کوی مګر ما د هغے نه تاسو منع کړی يئ)۔

[البغوی فی شرح السنة، المشکاة: ٢، وسنده صحيح]

د مسلم په حديث کښے دی: (الله هيڅ يو نبی نهٔ دے رالیږلے مګر هغهٔ خپل امت ته هغه خير ښودلے کوم چه هغهٔ ته معلوم وی)۔

نو څوك چه مونږ ته هره ښيګړه او د جنت لاره ښائی او د اور د لارے نه مو ساتی نو هغه به رحمت نهٔ وی !

۲۴ – بله دا چه: نبی اکرم ﷺ په خپل دے ارشاد کښے خپل رحمت کیدو ته اشاره کوی لکه انصارو ته فرمائی: (آیا تاسو بے لارے نهٔ وی چه زما په وجه درته الله لاره وښوده ؟ آیا تاسو تس نس نهٔ ویٔ چه زما په وجه الله رایو ځائے کړیٔ ؟ آیا تاسو فقیران نهٔ ویٔ چه زما په وجه الله مالداره کړیٔ؟)۔ [بخاری، وغیره]

دغه شان دا امت په ښکاره ګمراهیٔ کښے پروت وو نو هغه ئے ددے نه راوښکلو۔

۲۵ – بله دا چه: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْعَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ ﴾ [آل عمران: ۱٦٤] (الله په مؤمنانو احسان کړے چه د هغویٔ لپاره ئے د هغوی نه یو رسول راولیږهٔ چه د هغهٔ آیتونه هغویٔ ته تلاوت کوی او هغوی پاکوی، او هغوی ته د کتاب او حکمت تعلیم ورکوی، او ددهٔ نه مخکښں دا خلق په ښکاره ګمراهیٔ کښں وو)۔

په دے آیتِ کریمه کښے د رسول الله ﷺ شپږ خویونه ذکر شوی:

(۱) رسول دے۔ (۲) عربی دے۔ (۳) عظیم انسان دے۔ پیرے نهٔ دے۔ (٤) په امت باندے د خپل رب کتاب او د توحید دلائل لولی۔ (۵) امت ئے د ظاهری او باطنی ګندګیو نه پاك کړو۔ (٦) دویٔ ته ئے د کتاب او سنت تعلیم ورکړو، او په دویٔ کښے ئے په خپل فعل او شرعے سره علماء او حکماء جوړ کړل، حالانکه دویٔ مخکښے په ښکاره ګمراهیٔ کښے پراتهٔ وو۔

نو دا څومره لوئے اوعظیم الشان انسان دے ! صلوات الله وسلامه ورحماته علیه !

دے رحمت ته ئے په دے آیت کښے هم اشاره کړے: ﴿ هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ وَّاٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴾ [جمعه: ۲-٤] (هغه ذات دے چه نالوستو خلقو کښں ئے د همدویٔ نه یو رسول را ولیږهٔ، چه هغویٔ ته د هغهٔ آیتونه لولوی، او هغویٔ (د کفر او شرك دَ خِیرو نه) پاکوی، او هغویٔ له د قرآن اوسنت تعلیم ورکوی، بیشکه دا خلق د هغهٔ د رالیږلو نه مخکښے په ښکاره ګمراهیٔ کښں پراتهٔ وو، او الله نبی لره دَ دویٔ نه هغه نورو خلقو لپاره هم رالیږلے کوم چه لا تراوسه پورے عربو مسلمانانو سره نهٔ دی ملاؤ شوی، او هغه زورور، ډیر زیات حکمتونو والا دے، دا (پیغمبری، یا اسلامی دین) د الله فضل دے، هغه چه چاله غواړی دا نعمت ورکوی، او الله دَ لوئے فضل خاوند دے)۔

۲٦ – بله دا چه: نبی کریم ﷺ هغه ټول ښائسته اخلاق او ډولی خویونه راجمع کړی کوم چه په نورو انبیاء کرامو کښے موجود وو، او دا ټول د امت لپاره رحمت او نعمت دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

* **د نبي کريم ﷺ د محبت اسباب او راخکونکي شيان :**

دا ډير زيات دي، **يو څو دادي :**

(اول): د نبي کريم ﷺ ظاهري او باطني جمال او ښکلا : خکه نبی کريم ﷺ پوره بدن والا وو، د پوره لاسونو او خپو والا او د ډولي او روښانه او ځليدونکی مخ خاوند وو ـ کله به چه هغوئ روان وونو داسے به معلوميدهٔ لکه ښکته کوزيږی. ښائسته خوشبويه بدن ئے لرلو، د هغوئ د بدن خوله به په عطرونو کښے اچولے شوه، ډير زيات پاکيزه او معطر بدن والا وو. ډيره مسکا به ئے کوله، ښائسته اخلاق ئے لرل. چابه چه ناساپه وليدهٔ يريدهٔ به او کله به چه ورسره کيناستهٔ نو خوښيدهٔ به ئے. ډير زيات ذکر کونکے وو. بيکاره خبره به ئے بيخي نهٔ کوله. د اوږدے خاموشئ والا وو، صرف د ضرورت مطابق خبرے به ئے کولے. غوږونو نه ښکته پورے ئے ويښتهٔ پريښے وو او ويښتهٔ ئے کوږئ کوږئ وو. ويښتان ئے تور وو، صرف يو څو ويښتهٔ په کښے په آخر عمر کښے سپين شوی وو. سپين غنم رنګے او پئ مخے نمکين ښکلے انسان وو. د سپوږمئ نه ښائسته وو.

وَأَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِیْ * وَأَحْسَنُ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ

(تانه ښائسته زما سترګو هيڅوك نهٔ دے ليدلے، او تانه ښائسته څوك ښځو نهٔ دے زيږولے).

او هغوئ اوچتے پوزے والا وو، د پوزے هډوکے ئے اوچت وو. هډور وو. د غټ سر او نرئ خيټے خاوند وو. د خير ټول خويونه په کښے راجمع شوی وو. د ټولو خلکو نه ښائسته مخ والا، د هرچانه ښائسته خوئے والا. علم او حکمت ئے ګرهار وو، تقویٰ ئے شعار وو، وقار ئے لباس وو، د الله په بندګانو رحمت او شفقت ئے قلبی صفت وو. ډير زيات تواضع، حياء او عبادت ګذار وو، او د هر چانه زيات د الله په حقونو او د بندګانو په حقونو پوهه وو.

لنډه دا چه : په يو کامل انسان کښے چه کوم انسانی کمالات کيدے شی هغه ټول په پوره توګه په هغهٔ کښے موجود وو.

[شمائل النبی المختار]

فصلی الله عليه وسلم، ورزقنا حبه علی وجه الکمال واتباع السنة علی وجه التمام .

(دويم) : محبت د پنځو شيانو پيژندو نه پيدا کيږی :

(۱) علم. (۲) بهادری. (۳) ښکلا. (٤) تاسره احسان کول. (۵) بل چا سره احسان کول.

نو نبی کريم ﷺ له الله ډير زيات علم ورکړے وو، ټول علمونه د هغهٔ د علمونو نه اغستل شوی، د علم چينے د هغهٔ له خوا راخوټ کيږی او هغهٔ ته ئے جوامع الکلم ورکړی وو، او هغوئ د

هر چانه زيات بهادر وو چه په هيڅ يو جنګي ميدان کښې چرته تښتيدلے نهٔ وو، بلکه د هغوئ ملګرو به په هغهٔ باندې په سختيو کښې ځان مضبوطولو۔

او هغه د هر چانه زيات ښائسته وو۔ او هغهٔ د خپل ټول امت سره احسان او ښيګړه کړے، بلکه د قيامت په ورځ به د ټولو سره د شفاعتِ کبریٰ په ذريعه احسان کوی۔ دغه شان هغوئ امت سره ښيګړے کړی، د هغوئ لپاره ئے دعاګانے غوښتلي او هغوئ ته ئے ښودنے کړی او هغوئ ته په خير رسيدو کښې ئے حرص کړے۔ دا ټولے خبرے چه څوك رايادے کړی نو په خپل زړهٔ کښې به ددے خوږ نبی ﷺ لپاره مينه محبت او يخوالے او اطمينان بيامومی۔ ځکه په زړونو کښې د هغه چا محبت راځی چه هغه خلکو سره احسان کوی۔ [کما رواه ابو نعيم في الحلية : ٤/ ١٢١ ، وابو الشيخ]

نو فکر وکړه ! نبی کريم ﷺ مونږ سره څومره ښيګړے کړی !

(دريم) : په هغهٔ باندے ډير ډير درود او سلام ويل: ځکه څوك چه يو شي سره مينه لري د هغے ډيره تذکره کوی۔ او نبی ﷺ فرمائی: (د قيامت په ورځ به ماته د ټولو خلکو نه زيات نزدے هغه څوك وی چه په ما ډير ډير درود وائی)۔ دا حديث امام ترمذیؒ د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه په دے الفاظو نقل کړے : [إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً]

[واسناده حسن أو صحيح]

په نبی ﷺ باندے د درود ويلو ډير زيات فضائل دی او دا د نبی کريم ﷺ د محبت او انسان سره د الله د محبت سبب دے۔

(څلورم) : هغه فضائل او ترغيبات پيژندل چه هغه د نبی کريم ﷺ د محبت په باره کښې راغلی، ځکه دا د انسان په زړهٔ کښې کور کوی او په دے سره د هغوئ محبت پيدا کيږی، لکه د الله تعالیٰ ارشاد دے: ﴿ قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا ﴾ [توبه: ٢٤] (تهٔ ووايه چه که ستاسو پلاران او ستاسو ځامن او ستاسو ورونه او ستاسو ښځے او ستاسو خاندان او هغه مالونه چه تاسو ګټلی دی او هغه تجارت چه د هغے د کوته والی نه تاسو يريږئ او هغه مکانات چه تاسو ئے خوښوئ، تاسو ته د الله او د هغهٔ د رسول او د الله په لاره کښې د جهاد کولو نه زيات محبوب وی نو انتظار کوئ)۔

علامه قرطبیؒ فرمائی: آيت نه معلومه شوه چه الله او رسول (ﷺ) سره مينه لرل واجب او د هر يو محبوب شئ نه به دا مخکښے کولے شی۔ او نبی کريم ﷺ فرمائی: [لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ

Maktaba Tul Ishaat.com

حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ]
(په تاسو کښې يوتن تر هغه وخته پورې مومن کيدې نشي ترڅو چه زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د (مور) پلار، بچو او ټولو خلکو نه زيات محبوب جوړ نشم).
په يو روايت کښې د [وَمِنْ نَفْسِهٖ] الفاظ هم راغلي. [بخاري، مسلم]
اونبي کريم ﷺ فرمائي : (درې څيزونه دي، په چا کښې چه دا وي نو په دې سره به د ايمان خوند وڅکي : ٥ الله او د هغهٔ رسول سره د هر چانه زياته مينه کول. ٥ يَو بنده سره صرف د الله دپاره مينه کول. ٥ او کفر ته تلل داسې بد ګنړل لکه څنګه چه په اور کښې غورزيدل بد ګنړي).
[بخاري، مسلم، عن أنس]
عباس ﷺ فرمائي: نبي ﷺ وفرمايل: (څوك چه د الله په ربوبيت، د اسلام په دين کيدو، د محمد (ﷺ) په رسالت خوشحاله شو، هغهٔ د ايمان خوند وڅاکهٔ). [صحيح مسلم]
انس ﷺ فرمائي: يو سړي عرض وکړو: قيامت به کله راځي ؟ نبي ﷺ وفرمايل: خوارشې تا ددې لپاره څهٔ تيار کړي ؟ ويلې : ما ورله څهٔ ډير مونځونه او روژې تيارې کړې نهٔ دي خو د الله او رسول سره مينه لرم. نبي ﷺ ورته وفرمايل: تهٔ به هغه چا سره ئې چاسره چه مينه لرې.) انس رضي الله عنه فرمائي: اسلام نه پس چه مسلمانان په دې حديث څومره خوشحاله شو، په بل شئ دومره نهٔ دي خوشحاله شوي. انس وائي: نو زهٔ د نبي ﷺ او د ابو بکر او عمر سره مينه لرم اګرکه د هغوئ هومره عملونه نشم کولې. ثابتؒ وائي: زهٔ د دغه خلکو سره او د انس سره مينه لرم اګرکه د دوئ پشان عمل نشم کولې.
[بخاري: ١/ ١٤، مشكاة: ٥٠٠٩]

مونږ وايو: مونږ د الله او رسول او د هغهٔ د ملګرو، او ټولو اهلِ علمو او اهلِ ايمان سره مينه لرو او اميد لرو چه دوئ سره به راپاسو اګرکه د هغوئ معمولي شان عملونو ته هم نشو رسيدې.
(**پنځم**) : څوك چه په دې کښې فکر وکړي چه که دهٔ ته د يو غرض حاصليدو او د نبي کريم ﷺ د ديدار حاصليدو ترمينځه اختيار ورکړې شي نو دې د نبي ﷺ ليدو ته ترجيح ورکوي او ددې فوت کيدل ورته زياته صدمه رسوي نو معلوميږي چه دې د نبي کريم ﷺ سره صحيح محبت لري. په صحيح مسلم کښې حديث دې : (ماسره سخت محبت کونکې هغه څوك دې چه دا آرزو لري چه آرمان دې دهٔ زهٔ د خپل مال او اهل په خرچ کولو سره ليدلې وې).
(**شپږم**) : د سنتو سره مينه لرل : انس رضي الله عنه نه روايت دې، نبي کريم ﷺ وفرمايل : (اې ځويه ! که وس لرې چه په داسې حال کښې بيګاه صبا کړې چه ستا په زړهٔ کښې د هيچا سره

څۀ کینه نۀ وي نو دا کار وکړه ځکه دا زما سنت دے او څوك چه زما سنت سره مینه لري هغۀ ما سره مینه لري، او څوك چه ماسره مینه لري هغه به ما سره په جنت کښے وي).

[سنن الترمذي، واسناده فيه كلام، مشكاة]

دا حدیث لږ شان ضعیف دے.

ابن عطاء وائي: چاچه په خپل ځان باندے د سنت ادب لازم کړو، الله به ئے زړۀ د معرفت د رنړا نه ډك کړي.

ځینے علماء فرمائي: په هیچا باندے د ایمان رنړا نۀ ښکاره کیږي مګر د سنتو په اتباع او د بدعاتو نه په پرهیز سره. د سنتو محبت بنده د الله او رسول (ﷺ) محبت ته راکاږي. ارشاد دے: ﴿ قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ [آل عمران: ٣١] (ته ووایه: که تاسو الله سره محبت کوئ نو زما اتباع وکړئ، الله به تاسو سره محبت وکړي، او ستاسو ګناهونه به معاف کړي او الله ډیر معاف کونکے او رحم کونکے دے).

(اووم): دا خبره رایادول چه الله د خپل نبي ﷺ سره څومره محبت لري: په دے سره هم د انسان په زړۀ کښے د رسول الله ﷺ سره مینه پیدا کیږي. الله فرمائي: ﴿ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى ﴾ [ضحى: ٥] (او خامخا به تاته ستا رب داسے څۀ درکړي چه تۀ به خوشحاله شے). او موسىٰ علیه السلام فرمایلي وو: ﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَى ﴾ [طه: ٨٤] (او اے ربه! زۀ ددے لپاره تاته په تادئ سره راغلم چه تۀ رانه خوشحاله شے).

په حدیث کښے دي، الله نبي کریم ﷺ ته وفرمایل: [إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ] (مونږ به خامخا تا د خپل امت په حقله خوشحالوو او خفه کوو به دے نۀ).

او الله فرمائي: ﴿ أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ الَّذِي أَنْقَضَ ظَهْرَكَ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ [شرح: ١-٤] (آیا مونږ تا لپاره ستا سینه نۀ وه فراخه کړے او تانه مو ستا هغه بوج نۀ وو کوز کړے چه هغے ستا ملا ماته کړے وه او آیا تا لپاره مونږ ستا ذکر نۀ وو پورته کړے؟).

نو الله چه کوم ځائے یادیږي - په خطبو، تشهد، اذان او په اسلام کښے د داخلیدو په وخت - نبي کریم ﷺ هم ورسره یادیږي.

او الله تعالىٰ د سلو نه زیاتو ځایونو کښے د خپل نوم سره د نبي کریم ﷺ نوم یو ځائے کړے. ارشاد دے: ﴿ قُلْ أَطِيعُوا اللهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴾ [آل عمران: ٣٢]

او فرمائي: ﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ ﴾ [نساء: ٨٠]

او فرمائي: ﴿ وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴾ [انفال: ١]

Maktaba Tul Ishaat.com

او فرمائی: ﴿ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَإِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴾ [انفال: ۱۳]

او فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا أَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴾ [انفال: ۲۰]

او فرمائی: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ﴾ [انفال: ۲۴]

او فرمائی : ﴿ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيْهِمْ ﴾ [انفال: ۳۳]

او فرمائی: ﴿ وَأَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَاتَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ ﴾ [انفال: ۴۶]

اوفرمائی: ﴿ كَيْفَ يَكُوْنُ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖ ﴾ [توبه: ۷]

او فرمائی: ﴿ فَآمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ أَنْزَلْنَا ﴾ [تغابن: ۸]

او فرمائی: ﴿أَلَمْ يَعْلَمُوْا أَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ [توبه: ۶۳]

اوفرمائی: ﴿ فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ ﴾ [توبه: ۱۰۵]

بیا فرمائی: ﴿ فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ [توبه: ۱۰۵]

او فرمائی: ﴿ قُلْ أَبِاللّٰهِ وَآيَاتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُوْنَ ﴾ [توبه: ۶۵]

او فرمائی: ﴿ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ [احزاب: ۳۶]

او فرمائی: ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴾ [احزاب: ۷۱]

او فرمائی: ﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا لِّتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ وَتُسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّأَصِيْلًا ﴾ [فتح: ۸، ۹]

او فرمائی: ﴿ فَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ أُنْزِلَ مَعَهٗٓ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [اعراف: ۱۵۷]

او فرمائی: ﴿ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴾ [حجرات: ۲]

او فرمائی: ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّأَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾ [حجرات: ۳]

په دے مضمون باندے ګڼړ آيتونه راغلی۔

دے نه معلوميږی چه الله د خپل نبی (ﷺ) سره ډيره مينه لری!

مونږ له هم ضروری دی چه د الله تعالیٰ ددے آدابو لحاظ وساتو۔

(اتم): په دے خبره سوچ کول چه خپله نبی کريم ﷺ د خپل رب سره څومره مينه لری او هغه ته څومره شوق لری، دے سره هم نبی کريم ﷺ سره مينه پيدا کيږی۔ نبی کريم ﷺ فرمائی: (که چرے ما د خپل رب نه علاوه بل څوك د زړهٔ ملګرے نيولے، نو خامخا به مے ابو بکر

خپل دوست جوړ کړے وے، خو ستاسو ملګری لره (خپل ځان یادوی) الله تعالیٰ دوست جوړ کړے دے)۔ [بخاری]

حدیث کښے دی: (نبی ﷺ د خپل ځان لپاره هیڅ بدله نهٔ ده اغستے تردے چه د الله د یو عزتمن شی عزت به مات شو نو بیا به ئے د الله لپاره بدله اغستله)۔ [الصحیحة : ۵۰۷]

عمرو بن قیس رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ وفرمایل: (مونږ د زمانے په لحاظ روستنی خو د قیامت په ورځ به اولنی خلك یو، او زهٔ یوه خبره د فخر نه بغیر وایم: ابراهیم خلیل الله دے، موسیٰ صفی الله دے او زهٔ حبیب الله یم۔ ماسره به د قیامت په ورځ د حمد جنډه وی۔ او الله ماسره زما د امت په باره کښے وعده کړے۔ دویٔ له ئے د درے شیانو نه پناه ورکړے: (۱) دویٔ ټول به په یو ځل په قحط سره نهٔ هلاکوی۔ (۲) دشمن به د دویٔ بیخکنی نهٔ کوی۔ (۳) او الله به دویٔ په ګمراهئ نهٔ راجمع کوی)۔ [دارمی، مشکاة: ۵۷۶۳]

او نبی ﷺ به خپل رب سره د ډیر محبت له وجے په حج کښے د مِنیٰ په شپو کښے هره شپه د کعبے زیارت له تللو، هغویٔ به د هغهٔ سره د مینے او خشیت له خاطره ژړلے، هغویٔ به د الله په ذکر همیش والے کولو او د هغهٔ په طاعت او عبادت کښے به ئے کوشش کولو او د هغهٔ د عبادت د حق ادا کولو کوشش به ئے کولو۔ دے ټولو خبرو نه معلومیږی چه د الله سره ئے ډیره مینه وه۔ دے وجے نه هر مومن باندے واجب دی چه نبی کریم ﷺ سره مینه ولری ځکه الله هغهٔ سره مینه لری او هغه خپله الله سره مینه لری۔

(نهم): نبی ﷺ سره د محبت پیدا کیدو یوه ذریعه، د هغهٔ په معجزاتو کښے فکر کول دی چه الله هغهٔ لپاره خپل ډیر کائنات تابع کړی وو، ونو او حیواناتو ورته سجده کړے، ونے او میوے ئے تابع شوی او ټولو کائناتو پیژندلے دے چه دا د الله رسول دے، سیوا د نافرمانه اِنس او جن نه۔ د هغویٔ په لاس ناشنا کرامتونه رابښکاره شوی۔ ددے شیانو لوستلو او په دے کښے فکر کولو سره د نبی کریم ﷺ سره مینه پیدا کیږی۔

(لسم): د هغهٔ سیرت لوستل او بیانول او هغے ته د عبادت او محبت په نظر کتل، دے سره هم د نبی کریم ﷺ سره ډیر زیات محبت پیدا کیږی۔

مونږ هم د نبی کریم ﷺ سیرت په خپلو خطبو کښے بیان کړے، په هغے سره ډیرو خلکو د نبی ﷺ شان او د هغهٔ د سنتو مرتبه وپیژنده۔ او ډیرو ته پرے هدایت وشو۔ والحمد لله۔

(یولسم): د نبی کریم ﷺ هغه نومونه او صفتونه پیژندل چه هغه په کتاب او سنت کښے په صحیح توګه ثابت دی، دے سره هم نبی کریم ﷺ سره مینه پیدا کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

امام ابن قیمؒ فرمائي: د نبي کریم ﷺ نومونه د دوه سوو نه زیات دي، ځینو علماؤ د پنځو سوو دعویٰ کړې. ابو الخطاب بن دحیهؒ فرمائي: د الله زر نومونه دي او د نبي ﷺ هم زر نومونه دي. [زاد المعاد : ۱/ ۸۵]

دې نه معلومیږي چه نبي ﷺ ډیره لویه مرتبه لري، هغه ددې لائق دې چه ایمان پرې ولرل شي او د هغهٔ نصرت او تائید، محبت او اطاعت کړې شي. [رزقنا الله ذلك بمنه وكرمه]

﴿ فَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْ أُنْزِلَ مَعَهٗ أُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴾ [اعراف: ۱۵۷]

(**دولسم**) : نبي کریم ﷺ ته ضرورت او حاجت محسوسول :

دې نه معلومه شوه چه نبي کریم ﷺ پیژندلو ته دارنګه د هغهٔ راوړی دین ته او هغهٔ چه په څهٔ باندې راتګ کړې د هغې تصدیق ته او د هغهٔ حکم منلو ته د خلکو ډیر زیارت ضرورت او حاجت دې، ځکه په دنیا او آخرت کښې کامیابي ددې نبي د لارې نه بغیر په بله لاره کښې نشته. په پوره توګه خبیث او طیب پیژندل صرف د رسولانو له خوا کیدې شي. د الله رضا صرف د دوئ په لاسونو حاصلیدې شي. پاکیزه اعمال او اقوال او اخلاق صرف د دوئ دي، او کوم دین چه دوئ راوړې په هغې سره تمام اقوال او اعمال او اخلاق تلل کیدې شي، د دوئ په متابعت سره هدایت او ګمراهئ والا پیژندل کیږي، دې وجې نه دوئ ته ضرورت روح ته د بدن د ضرورت نه، سترګو ته د رڼا د ضرورت نه او روح ته د ژوند د ضرورت نه هم زیات دې.

بلکه کوم یو ضرورت او حاجت چه فرض کړې شي د هغې هر څهٔ نه رسولانو ته ضرورت زیات دې. په هغه چا ستا څهٔ خیال دې چه د هغهٔ طریقه تانه د سترګې د رَپ په اندازه غائبه شي نو زړهٔ دې خرابیږي او لکه د ماهي غونتنه جوړ شي چه د اوبو نه ووځي او سیخانو باندې کینښودې شي. د بنده حال هم داسې دې هر کله چهٔ د رسولانو د راوړې وحي نه غائب شي بلکه ددې نه هم سخت دې خو په دې هغه څوك پو هیږي چه زړهٔ ئې ژوندې وي، مړې کله په درد پو هیږي! نو هر کله چه د دواړو جهانو سعادت د نبي کریم ﷺ په طریقه کښې دې نو هر هغه څوك چه د خپل ځان خیر خواهي، سعادت او نجات غواړي هغهٔ له ضروري دي چه ددې نبي د وضع رفع، طور طریقې او سیرت نه دومره اندازه وپیژني چه په هغې سره د ناپو هانو د صف نه ووځي، او د هغهٔ د تابعدارو او جماعت په شماره کښې راشي. په دې باره کښې څوك ډیر څهٔ حاصلوونکي دي، څوك کم او څوك محروم دي. او مهرباني د الله په لاس کښې ده، چاته ئې چه وغواړي ورکوي ئې.

[زاد المعاد: ۱/ ٦٨]

نو دے احساس لرلو سره د نبی کریم ﷺ سره مینه پیدا کیږی۔
[اللهم ارزقنا حُبه وطاعته واتباع سنته ، آمين]

(دیارلسم) : د دے نه هم غافله کیدل نۀ دی پکار، ولے چه دا د دنیا او آخرت د ښیګړے سبب دے، د الله نه په ډیره عاجزیٔ او زاریٔ سره دعا غوښتل پکار دی چه دده خوږ نبی ﷺ سره درله مینه او محبت پیدا کړی او د هغۀ د سنتو اتباع درنصیب کړی چه دا د کامیابیٔ راز دے۔ او الله ته هیڅ ګران نۀ دی۔
[اللهم ارزقنا منه أوفر الحظ والنصيب برحمتك ومنّك يا كريم]

څوك چه دده اسبابو استحضار کوی، د الله نه امید دے چه د نبی کریم ﷺ په محبینو کښے به حساب شی۔
[اللهم صل على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين]

* **نبي کريم** ﷺ سره د **سلفو د محبت مثالونه**، د هغویٔ په زړونو کښے د هغۀ **قدراو احترام** :
په دے باره کښے ګڼړے قیصے دی، مونږ د عبرت لپاره یو څو ذکر کوو:

ابن اسحقؒ روایت کوی چه د انصارو د یوے ښځے پلار، وررور او خاوند د اُحد په غزا کښے د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښے ووژل شول، نو هغے پوښتنه وکړه : رسول الله ﷺ څنګه دے؟ خلکو ویل: هغه الحمد لله روغ دے څنګه چه تۀ خوښوے، نو هغۀ وویل: ماته ئے راوښایئ چه ورته وګورم، نو کله ئے چه ولیدۀ نو وے ویل: تانه پس هر یو مصیبت ووړکے دے۔ [دلائل النبوة للبيهقى]

په یو روایت کښے دی: کله چه د اُحد په ورځ وویل شو: محمد (ﷺ) ووژل شو او په مدینه کښے چغے سورے زیاتے شوے، نو د انصارو یوه ښځه راووته نو هغه د خپل وژل شوی وررور، خاوند او پلار سره مخامخ شوه، هغے ته پته نۀ وه چه کوم یو سره اول مخامخ شوه، کله به چه په هغے باندے د دویٔ نه یوتن ورتیر کړے شو نو هغے به پوښتنه وکړه : دا څوك دے؟ خلکو به ویل: دا ستا وررور، پلار او خاوند دے۔ هغے پوښتنه وکړه : رسول الله ﷺ څنګه دے ؟ خلکو وویل: هغه ستا مخے ته دے تردے چه هغه رسول الله ﷺ ته ورمخکښے شوه او د هغویٔ د جامے یوه برخه ئے ونیوله او وے ویل: زما مور پلار درنه قربان شه ! چه تۀ روغ ئے نو د نورو د هلاکت هیڅ پرواه نۀ لرم۔ [ابن ابى الدنيا مختصرا]

عمرو بن العاص رضی الله عنه وائی: ماته د رسول الله ﷺ نه سیوا بل هیڅوك دومره زیات نۀ وو ګران۔
[صحيح مسلم]

د جابر رضی الله عنه پلار عبد الله رضی الله عنه جابر ته وویل: د رسول الله ﷺ د نفس نه سیوا بل څوك

Maktaba Tul Ishaat.com

تانه زۀ زیات عزتمن نۀ پریدم، نو تۀ د خپلو خویندو سره ښۀ سلوك كوه۔
[كذا فی الرحيق والبخاری]

علی رضی الله عنه وفرمايل: رسول الله ﷺ مونږ ته زمونږ د مالونو، بچو، میندو او د تندے په وخت د یخو اوبو نه هم زیات گران وو۔ [كذا فی المواهب: ٦١٨]

مکے والو چه کله خبیب ﷺ د حرم نه د وژلو لپاره وویستۀ نو ابو سفیان ورته وویل: اے خبیبه! زۀ تاته په الله قسَم درکوم! آیا تۀ دا خوښوے چه محمد ستا په ځائے وے او مونږ د هغۀ څټ وهلے وے او تۀ په خپل کور کښے وے؟ هغۀ وویل: قسَم په الله! زۀ دا نۀ خوښوم چه محمد (ﷺ) دے اوس په خپل کور کښے وی او په هغۀ کښے دے ازغے لاړ شی او زۀ دے په خپل کور کښے ناست یم۔ ابو سفیان وویل: ما په خلکو کښے هیڅوك نۀ دے لیدے چه هغه د یو چا سره دومره مینه لری، څومره مینه چه د محمد (ﷺ) ملگری د محمد (ﷺ) سره لری۔

د صلحے حدیبیه په قیصه کښے راځی چه کله علقمه ثقفی د حدیبیه نه واپس شو نو مشرکانو ته ئے وویل: قسَم په الله! زۀ بادشاهانو ته ورغلے یم، کسری او قیصر ته ورغلے یم، خو ما هیڅوك داسے نۀ دی لیدلی چه هغویٔ د محمد (ﷺ) د ملگرو پشان د محمد (ﷺ) تعظیم او ادب کوی۔ قسَم په الله! هغۀ به چه څۀ خراچکے ارتولو نو هغه به د هغویٔ د یو تن په ورغوی کښے غورزیدۀ او په خپل مخ به ئے راښکۀ، او کله به ئے چه اودس وکړو نو نزدے وو چه په هغویٔ به ئے یو د بل سره [illegible] اوداسۀ په اوبو جگړه کوله، او هغۀ [illegible] به۔ ډیر ادب د وجے هغۀ ته مخامخ نۀ کتل۔ او کله به ئے چه خبرے کولے نو ملگرو به ئے سرونه ښکته کړل او هغۀ طرفته به ئے د ادب له خاطره مخامخ نۀ کتل۔ [صحیح بخاری]

ابن عباس ﷺ فرمائی: [illegible] ﷺ ته راغے او عرض ئے وکړو: یا رسول الله! تۀ ماته د خپل بال بچ او مال هم نه زیات [illegible] او زما چه تۀ رایاد شے نو تر څو پورے چه مے لیدلے نۀ ئے ساعت راباندے نۀ تیریږی، او ما خپل او ستا مرگ رایاد کړو نو ماته پته ولگیده چه تۀ کله جنت ته ننوځے نو د انبیاؤ درجے ته به پورته کړے شے، اوکه زۀ جنت ته ننوتم نو بیا خو زۀ تا نشم لیدلے۔ نو الله دا آیت نازل کړو. ﴿ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا ﴾ [نساء: ٦٩] (او کوم خلق چه د الله او د رسول اطاعت کوی نو دوی به (په جنت کښ) د هغه خلقو سره وی چه هغوی باندے الله انعام کړے، یعنی انبیاء او صدیقین او شهیدان او صالحینو سره، او دا خلق به ډیر ښائسته ملگری وی)۔
نو هغه کس ئے راوغوښتۀ او دا ئے ورته ولوستل۔

امام بغويؒ فرمائي: دا آيت د رسول الله ﷺ د آزاد کړی غلام ثوبان په باره کښې نازل شو، هغه به د رسول الله ﷺ سره سخته مينه کوله، د هغهٔ نه بغير به ئې ساعت نهٔ تيريدهٔ، هغه نبي کريم ﷺ ته يو ورځ راغې چه رنګ ئې بدل شوې وو او په مخ باندې ئې د غم آثار ښکاره وو، نبي ﷺ ترې پوښتنه وکړه: رنګ دې ولې بدل شوې؟ هغهٔ وېل: اې د الله رسوله! زهٔ څهٔ بيمار يا دردمن نهٔ يم، خو زهٔ چه تا ونهٔ وينم نو په سخت تنګيدو سره تنګيږم تردې چه درسره ملاؤ شم، بيا ما آخرت راياد کړو نو ما سره دا انديښنه ده چه زهٔ به تا نهٔ وينم ولې چه تهٔ به د انبياؤ مرتبې ته وچت شوې ئې. اوکه زهٔ جنت ته داخل شم نو ستا د درجې نه ښکته په بله درجه کښې به يم، اوکه جنت ته داخل نشم نو هيڅ کله به دې ونهٔ وينم، نو دا آيتِ کريمه نازل شو. [معالم التنزيل]

دا شان واقعه د عبد الله بن زيد بن عبد ربه – رضی الله عنه – آذان والا صحابي نه هم نقل شوې.

روايت کښې دي چه عبد الله بن زيد به په خپل باغ کښې کار کولو نو يو څل ورته خوئې راغې او خبر ئې ورته ورکړو چه نبي کريم ﷺ وفات شو. نو هغهٔ دعا وغوښته: اې الله! زما نظر ختم که چه د خپل حبيب محمد (ﷺ) نه پس بل څوك ونهٔ وينم. نو هغه ړوند شو. [المواهب]

د ابو سعيد الخرازؒ نه نقل دي دا وائي: ما نبي ﷺ په خوب کښې وليدهٔ، ما وېل: يا رسول الله! زهٔ د الله په محبت کښې ستا د محبت نه مشغوله شوم! نو هغهٔ ماته وفرمايل: اې مبارکه! څوك چه الله سره مينه وکړي هغهٔ ماسره مينه وکړه. [ذكره القشيري في رسالته]

بعضِ وائي: دا واقعه د نبي ﷺ سره د انصارو د يوې ښځې له خوا په وينه راغلې وه. [كما في المواهب]

ابو ابراهيم تجيبيؒ فرمائي: هر هغه مومن چه هغه نبي ﷺ د يم ﷺ راياد کړي يا د هغهٔ په وړاندې نبي کريم راياد کړې شي نو په هغهٔ واجب دي چه خشوع، خضوع، وقار او سکون اختيار کړي او د قدر او هيبت داسې کيفيت ئې جوړ شي څنګه چه په ژوندينې د هغهٔ په وړاندې د هغهٔ د نفس جوړيدې شي او هغه ادب اختيار کړي کوم چه مونږ ته الله راښودلې.

ايوب سختيانيؒ به چه کله نبي اکرم ﷺ راياد کړو نو د هغهٔ رنګ به داسې معلوميدهٔ لکه د هغهٔ نه چه وينه روانه وي او د رسول الله ﷺ د هيبت له وجې به ئې په خُلهٔ کښې ژبه وچه شوه.

عبد الله بن زبير ﷺ خواته به چه د نبي کريم ﷺ تذکره وشوه نو دومره به ئې وژړل چه په سترګو کښې به ئې اوښکې پاتې نشوې.

امام زهريؒ د ټولو خلکو نه زيات ښهٔ ژوند تيرولو خو چه د هغهٔ په مخکښې به کله د نبي کريم ﷺ تذکره وشوه نو ګويا تا به نهٔ هغه پيژندهٔ او نهٔ به ئې تهٔ پيژندې.

Maktaba Tul Ishaat.com

صفوان بن سليمؒ ډیر زیات عبادت گذار، تهجد گذار وو، ددهٔ په مخکښې به چه کله د نبی کریم ﷺ تذکره وشوه نو ژړا به ئې شروع کړه تردې چه خلك به ترې پاسيدل او هغه به ئې پريښودهٔ۔

قتادهٔ به چه حديث واوريدهٔ نو اوږده ژړا به ئې شروع کړه۔

حسن بصریؒ به چه کله د کهجورې د تنې د ژړا والا واقعه بیان کړه نو ویلې به ئې : اې سخت زړو ! يو جماد رسول الله ﷺ ته دومره شوق کوی، حالانکه تاسو سره ډيره مناسبه ده چه هغهٔ ته شوق وکړئ۔

عبده بنت خالد وائي: خالد به چه کله بسترې ته د اودهٔ کیدو لپاره راغې نو رسول الله ﷺ او د هغهٔ د مهاجرينو او انصارو ملگرو ته شوق کول به ئې ذکر کول، د هغوئ نومونه به ئې اغستل او ويل به ئې : دوئ زما اصل او فصل دې او دوئ ته زما زړهٔ شوق کوی، اې ربه ! ما هم هغوئ طرفته زر ورولیږه، تردې چه خوب به پرې غلبه وکړه۔

بلال - رضی الله عنه - چه کله مړ کيدهٔ نو ښځه ئې په ژړا شوه : هائې مصيبته ! نو هغهٔ وويل: هائې خوندونو او مزو ! سبا له به زهٔ دوستانو محمد (ﷺ) او د هغهٔ ملگرو سره ملاويږم۔

زيد بن اسلمؒ وائي: يو ځل عمر رضی الله عنه د څوکئ لپاره ووتهٔ نو په يو کور کښې ئې ډيوه وليده، څهٔ گوری چه يوه بوډئ وړئ ويشنی او وائي :

عَلٰى مُحَمَّدٍ صَلَاةُ الْأَبْرَارِ ✱ صَلّٰى عَلَيْهِ الطَّيِّبُوْنَ الْأَخْيَارُ ✱ قَدْ كُنْتَ قَوَّامًا بَكَّاءً بِالْأَسْحَارِ
✱ يَا لَيْتَ شِعْرِيْ وَالْمَنَايَا أَطْوَارُ ✱ هَلْ تَجْمَعُنِيْ وَحَبِيْبِيْ الدَّارُ ✱

(په محمد ﷺ دې د نيکانو خلکو درود وی، په هغهٔ دې پاکيزه خلك درود وليږی، بيشکه چه تهٔ ډير زيات تهجد کونکې او په سهار کښې ژړيدونکې وې، هائې ارمان ! مرگونه قِسما قِسم دی، آيا مرگ به ما او زما حبيب (ﷺ) په آخرت کښې راجمع کړی)۔

نو عمر رضی الله عنه کيناستهٔ ژړل ئې بيا د هغې د خيمې دروازې ته ورپاسيدهٔ او درې ځله ئې: السلام عليکم ووايهٔ، او ورته ئې وفرمايل: تا چه څهٔ وويل هغه بيا ووايه، نو هغې په غمژن آواز سره بيا دغه شعرونه وويل، نو عمر رضی الله عنه په ژړا شو او هغې ته ئې وفرمايل: الله دې په تا رحم وکړی، عمر هم په خپلې دعا کښې مهٔ هيروه، نو هغې وويل: اې ښښونکيه ذاته ! عمر ته هم ښښنه وکړه۔

عبد الرحمن بن قاسمؒ به چه کله نبی ﷺ راياد کړو نو د هغهٔ رنگ به داسې معلوميدهٔ لکه چه وينه ترې وتلې وی او د رسول الله ﷺ د هيبت د وجې به ئې په خُلهٔ کښې ژبه وچه شوه۔

نبی کريم ﷺ سره د محبت لرلو يوه نښه داده چه قرآن سره به مينه لری ځکه چه دا په هغهٔ

نازل شوے او هغهٔ ددے مطابق خپل ژوند او اخلاق جوړ کړی۔ او کله چه تهٔ د خپل ځان یا بل چا سره د الله او د رسول (ﷺ) محبت معلوم مول غواړے نو وګوره چه ستا په زړهٔ کښے د قرآن او د هغے د آوریدو مینه او ددینه خوند اغستل، د هغه خلکو نه زیات دے چه هغوئ په تهنګ تکور او ګانو بجانو باندے خوندونه اخلی ! ځکه دا معلومه خبره ده چه څوك چاسره مینه لری نو د هغهٔ خبرے پرے هم ښے لګی۔

دا وجه ده، عثمان ﷺ فرمائی: قسم په الله ! که زمونږ زړونه پاك وے، د الله د کلام نه به مارهٔ شوی نهٔ وے۔

د نبی ﷺ د محبت بله نښه : د هغهٔ د سنتو او د هغهٔ د حدیث لوستو سره مینه لرل دی، ځکه د چا په زړهٔ کښے چه د ایمان خوند راشی نو کله چه دے د الله د کلام یا د رسول الله ﷺ د کلام نیږځهٔ کلمه واوری نو د هغهٔ د روح او زړهٔ سره ګډه شی او بیا په ټول بدن کښے خوره شی تردے چه هر ویښتهٔ نه ئے غوږ او د هرے ذرے نه ئے سترګه جوړه شی، چه ټول بدن ددهٔ آوری او ټول بدن ئے لیدل کوی۔ په دے وخت کښے ددهٔ زړهٔ روښانه شی، او د دلائلو ښکاره کیدو په وجه ددهٔ تحقیق په چپو شی۔

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۸۸ - فائده

د الله مخامخ ودريدو نه يريدل او د خواهش خلاف كول

دوه **خويونه** دى چه په چا كښې په پوره توګه راشى نو الله عز وجل ورته قوى ايمان، عزت او په دنيا او آخرت كښې نجات وركوى، جنت ورته نصيب كوى، په شيطان باندے غلبه مومى او رحمٰن ته رسيږى او داسے نعمتونه مومى چه د هغے سوچ ئے هم نۀ وى كړے، ددے بيان راتلونكے دے۔ ان شاء الله۔

(**اول خوئے**) : د حساب په ورځ د الله مخے ته د ودريدو ويره، دارنګه دا ايمان لرل چه په هر حالت كښې په دۀ باندے الله قائم دے، دے وينى ګورى، ددۀ خبرے آورى، ددۀ په كارونو او د زړۀ په وسوسو پوهه دے۔

نو په چا كښې چه دا استحضار او احساس راشى نو د ايمان اوچتے مرتبے ته رسى۔

(**دويم خوئے**) : د خواهش خلاف كول۔ **او خواهش** دوه قِسمه دے :

(۱) د عقل او رائے خواهش : او دا ډير خطرناك دے او دا په بدعتيانو او رائے والو كښې پروت وى ځكه چه دوئ واقعى د خواهش والا دى۔

(۲) د نفس او مزو كولو خواهش : اولنى ته شبهات وائى او دويم ته شهوات۔

اوس دلته مونږ د خواهش د پيروئ ضررونه ذكر كوو، كيدے شى چه الله پرے مونږ او تاسو له نفع راكړى۔

۱ - د خواهش تابعدارى كول يو خطرى خوئے دے۔ (بعضِ سلف ؒ)۔

۲ - دا د ذلت او خوارئ سَبب دے۔ يو شاعر وائى :

اِنَّ الْهَوىٰ لَهُوَ الْهَوَانُ قُلِبَ اسْمُهُ * فَاِذَا هَوِيْتَ فَقَدْ لَقِيْتَ هَوَانًا

(هوىٰ (خواهش) د هوان (ذلت) نه په بدليدو سره وتے دے، نو كله چه تۀ خواهش پسے شوے نو ذلت سره مخامخ شوے)۔

۳ - دا د قوى ارادے خلاف دے ځكه د خواهش تابعدارى دے همته خلكو او پريوتو نفسونو خاوندانو كار دے۔

٤ – دا د هغه صبر خلاف دے چه په هغے باندے د صبر حکم شوے۔ د صبر یو ګوټ د خواهش د تابعدارئ د همیشه ذلت نه غوره دے۔

٥ – څوك چه د خواهش پیروی کوی، د الله او د خلکو ترمینځه د هغهٔ مرتبه پریوتے ده۔

٦ – دا د نفس د پاکدامنئ او عزت خلاف دے۔ د پاکدامنئ خوند د ګناه د خوند نه ډیر زیات دے۔

٧ – دا خپل نفس کمزورے کول او د ظالم دشمن مخے ته ئے غورزول دی، او د خواهش خلاف کولو کښے په شیطان غلبه موندل او هغه ذلیل کول دی، او الله تعالیٰ د شیطان ذلت خوښوی، ارشاد دے: ﴿ وَلَايَنَالُوْنَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ ﴾ [توبه: ١٢٠] (یا د دشمن نه یو شے واخلی نو د دے نه د هر یو په بدله کښ د دوی لپاره یو نیك عمل لیکلے شی)۔

او ارشاد دے: ﴿ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيْرًا وَسَعَةً ﴾ [نساء: ١٠٠]

(هغه به په زمکه ډیر ځایونه د پناه او فراخئ ومومی)۔

٨ – دا فکر کول چه دے د یو لوئے کار لپاره پیدا شوے، نهٔ د خواهش پیروئ لپاره، په دے کښے د پیدائش مقصد فوت کول دی۔ یو شاعر وائی:

قَدْ هَيَّأُوْكَ لِأَمْرٍ لَوْ فُطِنْتَ لَهَا * فَارْبَأْ بِنَفْسِكَ أَنْ تَرْعٰى مَعَ الْهَمَلِ

(تهٔ خلکو د یو مقصد لپاره – که پو هیږے – تیار کړے ئے نو خپل ځان د بیکارتیا په ورشو کښے څرولو نه پورته که)۔

٩ – د خواهش پیروی کونکی نه ځناور هم ښهٔ دے ځکه هغه د عقل نهٔ لرلو باوجود د نفع او نقصان تمییز کولے شی او د خواهش پیروی کونکے سره د عقل نه د نفعمن او ضرری شئ ترمینځه فرق نهٔ کوی۔ دا وجه ده، په قرآن کریم کښے دا انسان کله د سپی سره مشابه شوے: ﴿فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ﴾ [اعراف: ١٧٦] (نو د هغه مثال د سپی پشان دے) او کله د خرهٔ او کله د بدترین ځناور سره۔

١٠ – د خواهش پرستئ انجام ډیر خراب دے، څومره فضیلتونه د دے په وجه فوت کیږی، په رذیل کارونو کښے انسان پریباسی، عزت ئے ختمیږی، خوند نه محرومیږی، سر ښکته کوی، د خرابے تذکرے سبب ګرځی، بدی رامینځته کوی، ذلت راولی او په داسے شرم کښے غورزول کوی چه په اوبو سره هم نهٔ پاکیږی خو د خواهش پرست سترګه ړنده وی۔

١١ – د خواهش حاصلیدو په قبائحو فکر کول، لکه ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی: کله چه ستاسو یوه ښځه خوښه شی نو د هغے فتنے رایادے کړئ. یو شاعر وائی:

لَوْ فَكَّرَ الْعَاشِقُ فِيْ مُنْتَهٰى حُسْنِ الَّذِيْ يَسْبِهِ لَمْ يُسْبِهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

(که عاشق د هغه تن د حُسن په انجام کښې فکر وکړي چه دے ئے قیدي کړے نو دا به قید نهٔ کړي).

۱۳ – د خواهش پیروي کول بے وقوفتیا ده، نو بنده دے د دین، مال، عزت او جاه د سلامتیا او د مطلوبه ذلت حاصلیدو ترمینځه موازنه وکړي. ددے دواړو ترمینځه ډیر تفاوت دے. او دهٔ ددے اعلیٰ شئ په خرڅولو دغه ادنیٰ شے واغستهٔ نو دا څومره لوئے بے وقوف دے!

۱٤ – دا پیژندل چه کوم شئ سره خواهش ګډ شي هغه خرابوي. که په علم کښې راشي نو بدعت او ګمراهئ ته ئے راوباسي او خپل خاوند د بدعتیانو په صف کښې ودروي. اوکه په زهد کښې راشي نو خپل خاوند ریاء او د سنتو مخالفت ته راوباسي. اوکه په فیصله کښې راشي نو خپل خاوند ظلم او حق نه بندیدو ته راوباسي. اوکه په تقسیم کښې راشي نو تقسیم د عدل نه ظلم ته ووځي. اوکه په والي جوړولو یا معزولولو کښې راشي نو خپل خاوند د الله او د مسلمانانو خیانتګر وګرځوي چه د خپل خواهش مطابق څوك مقرروي او په خپل خواهش خبرے کوي. اوکه په عبادت کښې راشي دا د طاعت او ثواب کیدو نه وباسي، نو کوم شئ سره چه پیوسته شي هغه خرابوي.

۱۵ – د انسان ګمراه کولو لپاره شیطان دهٔ ته صرف ددهٔ د خواهش دروازے نه راځي نو ددهٔ نه ګیر چاپیره وګرځي او ددهٔ د زړهٔ او اعمالو خرابولو لپاره ددهٔ د خواهش نه سیوا بل سورے ونهٔ مومي. نو ددهٔ په اندامونو کښې داسے سرایت کوي څنګه چه زهر په اندامونو کښې سرایت کوي.

۱٦ – د خواهش پیروي کول د وحي د پیروئ خلاف دي. الله تعالیٰ خلك دوه برخو ته ویشلي: (۱) د خواهش پیرویان. (۲) د وحي پیرویان. ارشاد دے: ﴿ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَائَهُمْ ﴾ [قصص: ٥٠]

او ارشاد دے: ﴿ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَ هُمْ بَعْدَ الَّذِىْ جَآئَكَ مِنَ الْعِلْمِ ﴾ [بقره: ۱۲۰] (او که ته د هغه علم نه پس چه تا ته راغلے، د هغوي د خواهشاتو پسے روان شوے).

۱۷ – د خواهش پیروي کونکے به نهٔ امام او پیشوا جوړیږي او نهٔ سردار.

ارشاد دے: ﴿ لَايَنَالُ عَهْدِىْ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ [بقره: ۱۲٤] (زما د امامت وعده ظالمانو ته نهٔ رسي).

او ارشاد دے: ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ﴾ [کهف: ۲۸] (او تهٔ د هغه چا تابعداري مهٔ کوه چه د هغهٔ زړهٔ مونږ د خپل یاد نه غافله کړے، او هغه د خپل خواهش تابعداري کوي).

۱۸ – د خواهش تابعداري کونکے د بُت او خټکي د عابد سره مشابه دے. ارشاد دے: ﴿ اَرَاَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوَاهُ ﴾ [فرقان: ٤٣]

حسن بصريؒ فرمائي: دا منافق دے چه کله هم څۀ شے په خپل خواهش سره ووینی په هغے سوریږی .... او فرمائي: منافق د خواهش بنده وی، ځۀ ئے چه زړۀ غواړی هغه کوی۔

۱۹ – خواهش د جهنم نه گیر چاپیره شپول دے، څوك چه په دے کښے پریوځی هغه به جهنم کښے پریوځی، لکه د بخاری او مسلم په حدیث کښے نبی کریم ﷺ فرمائي: [حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ] (جنت په سختیو او اور په خواهشاتو پرده پوښ شوے)۔

سنن ترمذي کښے د ابو هریره رضی الله عنه حدیث دے، نبی کریم ﷺ فرمائي: (الله چه کله جنت پیدا کۀ جبریل علیه السلام ئے ورته ورولیږۀ او ورته ئے وفرمایل: لاړ شه هغے ته او په هغے کښے د خلکو لپاره تیار شوی نعمتونه وگوره. هغه لاړ او هغه او په هغے کښے تیار شوی نعمتونه ئے ولیدل، نو واپس راغے ویلے: ستا په عزت مے دے قسَم وی ! ستا کوم بنده چه ددے په باره کښے واوری هغه به دیته خامخا ننوځی. نو حکم وکړے شو چه دا په سختیو سره پرده پوښ کړئ او وے فرمایل: بیا لاړ شه او هغے ته وگوره، هغه چه لاړ نو هغه په سختیو پرده پوښ شوے وو، ویلے: ستا په عزت مے دے قسَم وی ! ما سره خطره پیدا شوه چه دیته به هیڅوك داخل نشی. الله وفرمایل: اور ته لاړ شه هغے ته وگوره او هغه عذابونه وگوره چه ددے وسیدونکو لپاره تیار شوی. هغه لاړ او هغے ته او د هغے هغه عذابونو ته ئے وکتل چه الله د هغے وسیدونکو لپاره تیار کړی. نو ناگهانه د هغے ځینے برخه په ځینو برخو باندے سوریدله. ویلے : ستا په عزت مے دے قسَم وی ! څوك چه ددے په باره کښے واوری نو دیته به لاړ نشی. نو د الله په حکم د هغے نه گیر چاپیره مزے پیدا کړے شوے، الله وفرمایل: واپس لاړ شه او هغے ته وگوره، هغۀ چه ورته وکتل نو د هغے نه گیر چاپیره خوندونه او مزے لړیدلے وے. هغه راغے او عرض ئے وکړو: ستا په عزت مے دے قسَم وی ! ما سره خطره شوه چه ددے نه به هیڅوك خلاصے ونۀ مومی)۔

[قال الترمذی: هذا حدیث حسن صحیح]

۲۰ – څوك چه د خواهشاتو پیروی کوی د هغۀ په حقله دا خطره ده چه هسے نۀ ایمان ترے واغستل شی – والعیاذ بالله – او دۀ ته به پته هم نۀ وی. ارشاد دے: ﴿ فَانسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ﴾ [اعراف: ۱۷۵ ، ۱۷٦]

حدیث کښے دی: (تر هغه وخته پورے په تاسو کښے څوك مومن کیدے نشی ترڅو چه د هغۀ خواهش زما د راوړی دین تابع نشی)۔

او نبی ﷺ فرمائي: (د ټولونه زیات د ویرے شے چه زۀ ستاسو په حقله د هغے نه یریږم هغه، ستاسو په خیټو او شرمگاهونو کښے د سرکشئ خواهشات او گمراه کونکی خواهشات دی)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[احـ...]

۲۱ – د خواهش تابعداری انسان تباه کوی. حدیث کښې دی: [ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ، وَ ثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ، فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ: فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالْغَضَبِ، وَالْقَصْدُ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ. وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ: فَهَوًى مُتَّبَعٌ، وَشُحٌّ مُطَاعٌ، وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ] (درې شیان نجات ورکونکی او درې شیان تباه کونکی دی. نجات ورکونکی درې شیان دادی: (۱) په پټ او ښکاره د الله نه ویره. (۲) په رضا او غضب دواړو کښې حقه وینا کول. (۳) په فقیرئ او مالدارئ کښې درمیانه روی کول. او تباه کونکی شیان دادی: (۱) هغه خواهش چه پیروی ئې کیږی. (۲) هغه کنجوسی چه فرمانبرداری ئې کیږی. (۳) او د سړی خپل ځانته غاوره کیدل). [حديث حسن، كما في الصحيحة]

۲۲ – د خواهش د خلاف کولو په وجه د بنده په بدن، زړهٔ او ژبه کښې قوت پیدا کیږی. ځینې سلف فرمائی: په خپل خواهش باندې غلبه کوونکې د هغه کس نه زیات مضبوط دې چه هغه په یواځې تن ښاریه فتح کوی. په صحیح حدیث کښې راغلی: [لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرَعَةِ وَإِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِيْ يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ] (هغه کس پهلوان نهٔ دې چه خلك راپرزوی، پهلوان خو هغه کس دې چه د غصې په وخت خپل ځان قابو کړی).

څومره چه بنده خپل نفس د خواهش په خلاف کولو آموخته کړی هغومره به پکښې قوت او طاقت زیاتیږی.

۲۳ – د ټولو نه زیات ځوانمرد هغه دې چه د ټولو نه زیات د خواهش خلاف کونکی وی. معاویه ﷺ فرمائی: ځوانمردی، خواهشات پرېښودلو او د خواهش خلاف کولو ته وائی ځکه د خواهش پیروی ځوانمردی بو ډئ کوی او ددې مخالفت ئې ځوانوی.

۲٤ – ابو درداء ﷺ فرمائی: هره ورځ د خواهش او عقل جنګ وی. بل روایت کښې دی: کله چه سړې صبا کړی نو ددهٔ عمل او خواهش راجمع شی، نوکه عمل ئې د خواهش تابع وی نو ددهٔ دا ورځ خرابه ورځ ده. اوکه خواهش ئې د عمل تابع وی نو ددهٔ دا ورځ ښه ورځ ده.

۲۵ – الله تعالیٰ خطائی او خواهش دواړه ملګری ګرځولی او حق ته رسیدل او د خواهش مخالفت کول ئې دواړه ملګری ګرځولی. بعضِ سلفو ویلی: کله چه په تا څهٔ خبره مشتبه شوه او تهٔ نه پوهیدې چه کومه یوه خبره زیاته سخته ده، نو په دې دواړو کښې چه کومه خبره خواهش ته زیاته نزدې وه، د هغې خلاف وکړه ځکه غلطی خواهش ته ډیره نزدې وی.

۲٦ – خواهش بیماری او مخالفت ئې دوائی ده. بعضِ سلفو ویلی: که غواړې نو زهٔ به تاته

ستا بیماري او دوائي دواړه ذکر کړم. ستا بیماري ستا خواهش دے او ددے خلاف ستا دوائي ده.
بشر حافيؒ فرمائي: ټول مصیبتونه ستا په خواهش کښے پراته دي، او ټوله شفا د هغے په خلاف کښے پرته ده.

۲۷ – خواهش سره جهاد کول غوره جهاد دے. نبي ﷺ فرمائي: (بهترین جهاد دادے چه ته د الله د ذات په باره کښے د خپل نفس او خواهش سره جهاد وکړے). [رواه البیهقي]
[وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ طَاعَةِ اللّٰهِ] (اصل مجاهد دادے چه د الله په طاعت کښے د خپل ځان سره جهاد وکړي). [مشکاة: ١/ ٣١]
شیخ الاسلامؒ فرمائي : نفس او خواهش سره جهاد کول، کافرانو سره د جهاد کولو بنیاد دے، ځکه که دے د خپل خواهش خلاف نهٔ کوي نو دوئ پسے نهٔ ورونځي.

۲۸ – خواهش ګډوډي ده او ددے خلاف کول غیرت دے. یو بانده چي وائي: د اور والو خواهشات د دوئ په غیرت باندے غالبه شول نو تباه شول.

۲۹ – د خواهش پیروي کول په بنده باندے د توفیق دروازے بندوي او د رسوایئ دروازے پرے پرانیزي. ځکه ته به دے وینے چه ځان سره به لګیا وي چه که الله توفیق راکړے وے نو دا کار به شوے وے. په خپل ځان باندے ئے د خواهش د پیروئ په وجه د توفیق دروازے بندے کړے وي.
فضیل بن عیاضؒ فرمائي: چا باندے چه خواهش او د خواهشاتو پیروئ غلبه وکړه، د هغهٔ نه د توفیق دروازے بندے شوے.
ځینے علماؤ ویلي : کفر په څلورو شیانو کښے دے : په غصه، خواهش، رغبت او ویره کښے. بیا فرمائي: ما ددے نه دوه شیان لیدلي. یو سړے غصه شو او خپله مور ئے ووژله. او یو بل سړے عاشق شو او نصراني شو. بعضِ سلفو د بیت الله طواف کولو نو یوه ښائسته ښځه ئے ولیده او هغے طرفته ورغے او وے ویل:

أَهْوٰى هَوَى الدِّيْنِ وَاللَّذَّاتُ تُعْجِبُنِيْ ✱ فَكَيْفَ بِهَوى اللَّذَّاتِ وَالدِّيْنِ

(زهٔ د دین خواهش هم لرم او خوندونه مے هم خوښ دي نو دا دواړه به څنګه حاصل شي؟)
نو هغه ښځے ورته وویل: په دے دواړو کښے یو پریده، هغه بل به حاصل کړے.

۳۰ – څوك چه د خپل خواهش مدد کوي د هغهٔ عقل او رائے به خرابیږي، ځکه دهٔ په خپل عقل کښے د الله خیانت وکړو نو هغهٔ ورله دا خراب کړو. او همدا د الله عادت دے چه څوك په یو کار کښے د هغهٔ سره خیانت وکړي نو هغه ئے ورله خرابوي.
یو ځل مقسمؒ خپلو ملګرو ته وویل: کله چه د خواهش مدد کیږي نو عقل ختمیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

یو سړي شیخ الاسلامؒ ته وویل: کله چه یو سړے د دراهمو په کهره کوټه کښې خیانت کوی الله تړے د کهره کوټه پیژندنه اخلی یا ئے تړے هیروی. نو شیخ الاسلامؒ وفرمایل: دغسے چه څوك په علمي مسئلو کښې د الله او رسول سره خیانت کوی.

۳۱ – څوك چه د خپلو خواهشاتو په پیرویٔ کښې فراخي پیدا کوی نو قبر او حشر کښې په هغهٔ تنګی کولے شی. او څوك چه د خواهش په پیرویٔ کښې په خپل نفس تنګی راولی، په قبر او حشر کښې پرے آسانی راځی. الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَجَزٰهُمْ بِمَا صَبَرُوْا جَنَّةً وَّحَرِيْرًا ﴾ [دهر: ۱۲] (او الله دویٔ له د ټینګیدو په بدله کښې جنت او ریښم ورکړل).

ابوسلیمانؒ فرمائی: یعنی د خواهشاتو نه ئے صبر کړے.

۳۲ – یحیی بن معاذؒ ته چا وویل: کوم سړے د قوی ارادے خاوند دے؟ وے فرمایل: په خپل خواهش زورور.

۳۳ – بعضِ سلفؒ فرمائی: جنت ته په تادیٔ سره تلونکے سورلیٔ په دنیا کښې بے رغبتی ده، او اور ته په تادیٔ سره تلونکے سورلیٔ خواهشاتو سره مینه ده. او څوك چه د خپل خواهش د سورلیٔ په شا برابر کیناستهٔ، ډیر زر به ئے تباهیو ته بوځی.

عطاءؒ فرمائی: د چا په عقل چه خواهش او په صبر باندے جزع فزع غالبه شوه، هغه رسوا کیږی.

بعضِ علماؤ ویلی: په علماؤ کښې شریف هغه څوك دے چه خپل دین ئے د دنیا نه وتښتاوهٔ، او د هغے تابعداری کول ئے د خواهش په مقابله کښې ګران وګڼړل.

۳٤ – توحید او خواهش پیروی دواړه ضدین دی، ځکه د خواهش پیروی کول د هر انسان په زړهٔ کښې بُت دے، دے وجے نه اول د خپل زړهٔ نه بُتان ماتول ضروری دی.

۳۵ – د خواهش مخالفت کول د خپل زړهٔ او بدن نه بیماری لرے کول دی، او ددے پیروی کول زړهٔ او بدن ته بیماری رابنکل دی ځکه د زړهٔ ټول مرضونه د خواهش د پیرویٔ نه پیدا شوی، اوکه د بدن د مرضونو تالاش وکړے نو د هغے زیاتره برخه هم ددے نه پیدا شوے چه انسان خپل خواهش په هغه شیٔ غوره کړے چه د هغے پرینبودل مناسب دی.

۳٦ – د دشمنیٔ، شر او د خلکو ترمینځه حسد راتلل هم د خواهش د پیرویٔ په وجه دی، څوك چه د خواهش خلاف وکړی، د هغهٔ زړهٔ، بدن او اندامونه په آرام شی او بل به هم په آرام کړی.

ابو بکر وراقؒ فرمائی: کله چه خواهش غالبه شی زړهٔ تیارهٔ شی، او کله چه زړهٔ تیارهٔ شی سینه تنګه شی، اوکله چه سینه تنګه شی اخلاق خراب شی. او کله چه اخلاق خراب شی نو دے د خلکو سره او خلك ددهٔ سره بغض شروع کړی. نو بیا وګورئ چه د خپل مینځی کینے او

دشمنۍ نه څومره اندازه شر او حقونه ضائع کول وغیره پیدا کیږي.

۳۷ - ابو علی ثقفیؒ فرمائي: چا باندې چه خواهش غالبه شي، د هغهٔ نه عقل پټ شي. علي بن سهلؒ فرمائي: عقل او خواهش دواړه په جګړه وي نو توفیق د عقل ملګرې او رسوائي د خواهش ملګرې وي، او نفس ددې دواړو ترمینځه ولاړ وي نو کوم یو چه غالبه شي، نفس د هغهٔ سره وي.

۳۸ - زړهٔ د اندامونو بادشاه او د الله د معرفت ځائې دې، ددې حفاظت په زهد، رشتیا او د خواهش په مخالفت سره دې، او ددې شکست او خرابي د خواهش په پیروۍ سره ده.

۳۹ - د انسان لوئې دشمن ددهٔ شیطان او خواهش دې، او ددهٔ لوئې دوست ددهٔ عقل او ددهٔ خیر خواه ملائك دي. نو کله چه دې د خپل خواهش پیروي وکړي نو خپل ځان په خپل لاس خپل دشمن ته حواله کړي، د هغهٔ په قید کښې ځان ورکړي، او په خپل ځان باندې ئې خوشحاله کړي، او خپل دوست او ملګرې خفه کړي، او همدا بعینه بدبختیا، سخت مصیبت، بده فیصله او دشمنان خوشحالول دي.

٤۰ - د هر بنده لپاره ابتداء او انتهاء شته، نو د چا ابتداء چه د خواهش پیروي وي نو د پیروۍ د اندازې مطابق به ددهٔ انتهاء ذلت، سپکیدل او محرومتیا وي، بلکه دا به ددهٔ لپاره په آخره کښې یو عذاب وګرځي چه ددهٔ زړهٔ له به په دې سره عذاب ورکولې شي. لکه یو شاعر وائي:

مَآرِبُ كَانَتْ فِي الشَّبَابِ لِأَهْلِهَا ❋ عَذَابًا فَصَارَتْ فِي الْمَشِيْبِ عَذَابًا

(څهٔ حاجتونه په ځوانۍ کښې د ځوانانو لپاره خوندونه وو، خو هغه په بوډاوالي کښې عذاب وګرځیدل).

که تهٔ د هر مصیبت او حادثې خاوند باندې سوچ وکړې نو دا به ووینې چه ددهٔ ابتداء د خواهش پوره کول او په خپل عقل باندې دا غوره کول وو.

او د چا ابتداء چه د خواهش مخالفت او د هدایت د لاربنود خبره منل وو نو د هغهٔ انتهاء به عزت، شرافت، مالداري او د الله او د خلکو په نیز مرتبه وي.

ابو علی دقاقؒ فرمائي: څوك چه د ځوانۍ په حالت کښې د خپل خواهش مالك شو، الله به ئې د بوډا والي په حالت کښې عزتمن کړي.

مهلب بن ابی صفرةؒ ته چا وویل: تا دا مرتبه په څهٔ حاصله کړه؟ وې فرمايل: د پخته کارۍ په طاعت او د خواهش په نافرمانۍ. دا په دنیا کښې. او هرچه آخرت دې نو هغه الله تعالیٰ د هغه چا د وسیدو ځائې جوړ کړې چه د خواهش خلاف کوي. او ور د هغه چا ځائې دې چه د خواهش

Maktaba Tul Ishaat.com

پیروي کوي۔

٤١ – خواهش د زړهٔ غلامي، د ښپ طوق او د خپو زولنې دي، او ددې پیروي کونکے د هر بد اخلاقه کس غلام دے، نو څوك چه ددے خلاف وکړي هغه د خپلے غلامۍ نه آزادیږي او اصیل ګرځي او د ښپ نه طوق او د خپے نه زولنے لرے کړي او د هغه سړي پشان وګرځي چه هغه د یو سړي غلام وي، روستو ددے نه چه هغه د ګنړو بد اخلاقه شریکانو غلام وو۔

ابن المبارکؒ فرمائي:

وَمِـــنَ الْبَلَاءِ وَلِـــلْبَلَاءِ عَلَامَةٌ ❊ أَنْ لَا يَــرٰى لَكَ عَــنْ هَـوَاكَ نَـزَاعُ

وَالْعَبْـدُ عَبْدُ النَّفْسِ فِيْ شَهَوَاتِهَا ❊ . وَالْــحُــرُّ يَشْبَـعُ تَــارَـةً وَيَـجُـوْعُ

(دا مصیبت دے، او د مصیبت لپاره یوه علامه وي، هغه دا چه تهٔ د خواهش نه لاس نهٔ اخلې۔ غلام خو هغه دے چه د نفس د خواهشاتو غلام وي۔او اصیل سړے کله موړ اوکله اوږے وي)۔

٤٢ – د خواهش خلاف کول بنده له یوه داسے مرتبه ورکوي چه که هغه په الله قسَم وکړي نو خامخا ئے ورله پوره کوي او ددهٔ دومره حاجتونه پوره کیږي چه هغه ددهٔ د فوت شوي خواهش نه څو چنده زیات وي۔ ددهٔ مثال لکه د هغه کس پشان دے چه هغه د پچے نه اعراض وکړي او هغهٔ ته ددے په بدل کښے ملغلره ورکړے شي۔ او کوم کس چه د خواهش پیروي کوي نو ددهٔ نه د دنیا او آخرت دومره بنیګړے او مزیدار ژوند فوت شي چه ددے په مقابله کښے ددهٔ حاصل کړے خواهش هیڅ حیثیت نهٔ لري۔

فکر وکړه! یوسف علیه السلام چه هر کله د حرامو نه خپل ځان راښکهٔ نو د جیل نه راوتو نه پس د هغهٔ لاس، ژبه، قدم او نفس څومره فراخه شو؟

عبد الرزاقؒ فرمائي: ابو جعفر المنصور بادشاه چه کله د مکے منه بهر شو نو لرګو والو ته ئے امر وکړو چه که تاسو سفیان ولیدهٔ نو په سولۍ ئے کړئ، هغوئ راغلل لرګي ئے ولړول او تالاش ئے شروع کړو، او د سفیانؒ سر د فضیل بن عیاضؒ په غیږه کښے وو، نو ملګرو ورته ووېل: الله نه وویریږه او دشمنان راباندے مهٔ خوشحالوه۔ نو هغه د کعبے پردو ته رامخکښے شو او هغه ئے په خپل لاس کښے رانیولے او وے ویل: زهٔ به ددے نه بیزاره یم که ابو جعفر دیته راننواتهٔ۔ نو مکے ته د راتلو نه مخکښے ابو جعفر وفات شو۔

فکر وکړه! د خواهش خلاف کولو څنګه هغهٔ له دا مرتبه ورکړه!

٤٣ – د خواهش خلاف کول په دنیا او آخرت کښے د شرافت او د ظاهر او باطن د عزت سبب ګرځي۔ او د خواهش پیروي کول بنده په ظاهر او باطن دواړو کښے خواروي۔

او الله تعالیٰ چه کله په یو میدان کښې خلك راجمع کړی نو کومو خلکو چه د خواهش خلاف کړے هغوئ به د عرش سوری ته منډے وهی، او خواهش پیروی کونکی به په ګرمئ او همیشه خولو او عذاب کښې وی۔

٤٤ – د هغه اوو کسانو په حال کښې فکر وکړه چه د قیامت په ورځ به د عرش سوری لاندے ولاړ وی: ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: ((اووه کسان دی چه الله به ئے په هغه ورځ د خپل سوری لاندے ودروی په کومه ورځ چه به د هغهٔ د سوری نه علاوه بل هیڅ یو سورے نهٔ وی:

١ – انصاف دار بادشاه۔

٢ – هغه ځوان چه د الله په عبادت کښے لوئے شوے وی۔

٣ – هغه سړے چه د هغهٔ زړهٔ جومات سره لګیدلے وی۔

٤ – هغه دوه سړی چه خاص د الله لپاره یو بل سره مینه کوی، په هغهٔ باندے راجمع کیږی او په هغهٔ باندے جدا کیږی۔

٥ – هغه سړے چه هغهٔ ته یو ښکلے نسب داره ښځه د ګناه دعوت ورکړی، نو هغهٔ ووائی: زهٔ د الله نه یریږم۔

٦ – هغه سړے چه صدقه ئے وکړه او داسے ئے پټه کړه چه ددهٔ ګس لاس ته هم پته ونه لګیده چه ددهٔ ښی لاس څهٔ خرچ کړل۔

٧ – هغه سړے چه ځانله ځائے کښے الله رایاد کړی او د سترګو نه ئے اوښکے وبهیږی)۔ [بخاری، مسلم]

دے تولو خلکو د خواهش خلاف کولو په وجه د عرش سورے حاصل کړے وو))۔

[انظر: روضة المحبین، للامام ابن القیم رحمه الله]

[أللهم انی أسالك بأسمائك الحسنی کلها أن تقینا من شرور انفسنا الأمارة بالسوء، وأن تجعل هوانا تبعا لما تحبه وترضاه، انك علی کل شیء قدیر، و بالاجابة جدیر].

١٥/ ١٠/ ١٤٣٤هـ یوم الخمیس

الدمام – الخبر – السعودیة.

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

۸۹ - قیمتي فائده
د اخلاص ضد او خرابوونکي شیان

۱ - الله سره هر قِسمه شرك كول.
۲ - په اقوال، اعمالو کښې هر قِسمه رياء كول.
۳ - خلکو ته خپل عمل آورول غوښتل، په هر شکل چه وي.
٤ - د خلکو له خوا خپل صفت او په خپل نیك عمل ستاینه غوښتل.
دا په نفس کښې پټ خوئې دے، ددے نه ځان ساتل پکار دي.
٥ - په عباداتِ محضه ؤ باندے اجرت اغستل، او يا صرف د اجرت لپاره تعليم وغيره كول. او ددے علامه داده چه كه څوك څۀ وركوي نو ښودنه كوي اوكه نۀ وركوي نو كار پريدى.
او د مخلص نښه داده چه كه څوك څۀ وركوي اوكه نه، اوكه څوك ئې صفت كوي اوكه نۀ، خپل كار جاري ساتي، ولے چه ددۀ نظر په الله دے.
٦ - شهرت غوښتل چه فلانے ډير داعي دے، مجاهد دے، معلم، خطيب، مفسر، كاتب او مؤلف دے، د اسلام او مسلمانانو خدمت كوي !!
۷ - د عادت په توګه عبادت كول، ددے نښه داده چه د الله د رضامندئ او ثواب نه بغير عمل كوي بلكه دا خبره ئې په زړۀ هم نۀ تيريږي سره ددے چه رياكاري هم نۀ كوي. دا خلك ځومره ډير دي ! دا وجه ده، په قرآني آيتونو او نبوي احاديثو کښې د اعمالو لپاره يو شرط احتساب هم ټاكل شوے چه ددے معنیٰ ده، د الله نه اجر او ثواب غوښتل: ﴿ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللهِ ﴾ [هود: ۲۹] (زما اجر او ثواب خو به صرف الله وركوي). او نبي ﷺ فرمائي: (چاچه د رمضان روژه د ايمان او ثواب ګنړلو په وجه ونيوله، مخكني ګناهونه به ورته معاف شي. او چاچه د ايمان او ثواب د وجے قيام وكړو، مخكني ګناهونه به ئې معاف شي. او چاچه په ليلة القدر کښې د ايمان او ثواب ګنړلو په وجه عبادت وكړو، مخكني ګناهونه به ئې وبښل شي). (چانه چه زۀ دوه محبوب شيان – سترګے – واخلم او بيا صبر وكړي او ثواب ئې وګنړي نو ددے په بدله کښې به ورته جنت وركوم). او فرمائي: (د چاچه درے بچي مړۀ شي او بيا د دوئ په مرګ کښې د الله نه د ثواب اراده ولري)
ددے كارونو نه ځان وساته، الله تعالیٰ به تاته اخلاص در نصيب كړي، چه ددے په وجه به د هر قِسمه آفت نه خلاصے ومومے.

۹۰ - فائده

د خلکو د ماحول نه ورکې شوې مسنونې طريقې

زۀ په مسجدِ حرام کښې ناست ووم، يوتن پوښتنه وکړه: هغه کوم مسنون عملونه دی چه د خلکو د ماحول نه ختم شوی دی، نو ما دا جواب ورکړوچه:

دلته يو څو اهمې خبرې دي:

١ - اول: نبي کريم ﷺ فرمائی: [بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ غَرِيبًا كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ] (اسلام ناشنا شروع شوې وو او بيرته به هم ناشنا جوړ شي، نو غرباؤ لره خوشحالي ده).

[مسلم، عن ابن مسعود رضی الله عنه]

بيا نبي ﷺ د غرباؤ (ناشنا خلکو) وضاحت داسې کړې: (دا هغه خلك دي چه د خلکو خرابئ په وخت نيکئ والا دی). [رواه الترمذی]

٢ - او فرمائی: (دا هغه خلك دي چه مانه پس چه خلکو زما سنت خراب کړې، دوئ د هغې اصلاح کوی). [رواه الترمذی]

٣ - دارنګه فرمائی: (دا هغه لږ نيك عمله خلك دي چه په ډيرو خرابو خلکو کښې وی۔ د دوئ مخالف خلك د دوئ د موافقو خلکو نه زيات وی).

[رواه الهروی فی ذم الکلام کذا فی الصحيحة]

٤ - دارنګه داسې وضاحت فرمائی: (دا هغه خلك دي چه خپل دين تښتوی، دوئ به عيسیٰ عليه السلام ته راغونډيږی).

[الزهد للامام احمد: ١٩٧]

٥ - دارنګه فرمائی: (دا هغه خلك دي چه د يوې قبيلې او بلې قبيلې نه په غير د رشته دارئ نه صرف د الله په رحمت سره راجمع شوی دی).

(ددې وضاحت په: الحق الصريح اول جلد کښې وګوره).

٦ - زياتره علماؤ ددې تفسير په ((اهل حديثو)) سره کړې، ولله الحمد !!

نو هر هغه عاقل، چه د خپل ځان نجات غواړی، هغهٔ له پکار دی چه خپل ځان دې قافلې والو سره ملګرې کړی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ – دویم کار : د سنتو د تابعدارئ ګنړ فضائل دی چه په دے جلد کښے مخکښے تیر شو۔

۳ – دریم کار : د سنت نه مراد د رسول الله ﷺ طریقه ده، که هغه د هغوئ وینا وی، که عمل اوکه تقریر۔ برابره خبره ده که هغه واجبه وی اوکه د استحباب په درجه کښے وی۔ لکه د صحابه کرامو – رضی الله عنهم – دا عادت وو چه هغوئ به دا پوښتنه نهٔ کوله چه آیا دا عمل واجب دے اوکه نه ؟ څنګه چه زمونږ د زمانے د خلکو عادت دے ! چه دوئ ته سنت وړوکے شے ښکاری حالانکه سنت وړوکے شے نهٔ دے !

٤ – څلورم کار : مونږ د ((د اتباع سنت د فضائلو)) د عنوان لاندے د سنتو د پریښودو اووهٔ (۷) اسباب ذکر کړی، هغے ته رجوع پکار ده۔

یو سبب په کښے: بیباکی ده، نن صبا دا سبب په اهل السنت والحدیث کښے هم راغلے، نو بل چانه به څهٔ ګیله کوے !

۵ – پنځم کار : سنت ختمول د بدعاتو ژوندی کول دی : ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: (په خلکو باندے هیڅ یو کال نهٔ راځی مګر دوئ په دے کښے بدعت راپیدا کړے وی او سنت ئے ختم کړے وی، تردے چه بدعات ژوندی شو او سنتونه مړهٔ شول)۔

حالانکه نبی ﷺ مونږ ته حکم کړے چه مونږ سنت طریقے د ژامے په غاښونو سره مضبوطے ونیسو، ځکه په دے کښے دیته اشاره ده چه د سنتو دشمنان به ډیر وی۔

٦ – شپږم کار : سهل بن عبد الله تستریؒ فرمائی: په دنیا کښے د سنت مثال، په آخرت کښے د جنت پشان دے۔ څوك چه جنت ته ننوائهٔ هغه بچ شو۔ دغه شان چاچه سنت لازم ونیوهٔ هغه د آفتونو نه بچ شو۔

[تفسیر التستری، سورة الکهف: ۳۰]

په صحیح ابن حبان کښے حدیث دے، نبی کریم ﷺ فرمائی: [يَنْقُضُ الْإِسْلَامُ عُرْوَةً عُرْوَةً، فَإِذَا انْقَضَتْ تَشَبَّثَ النَّاسُ بِالَّتِيْ تَلِيْهَا وَأَوَّلُهُنَّ نَقْضًا الْحُكْمُ، وَآخِرُهُنَّ الصَّلَاةُ]

(اسلام به یوه یوه کړئ ختمیدو سره ختمیږی، کله چه یوه کړئ ختمه شی، خلك به دے پسے بله کړئ راټینګه کړی، او په دے کړیو کښے اولنئ ختمیدونکے کړئ فیصلے دی او آخرنئ مونځ دے)۔

★ اوس مونږ ځینے پریښودل شوی سنتونه ذکر کوو۔ ددے راتلونکو سنتونو اهتمام پکار دے، ګنے اسلام به کړئ په کړئ ختم شی۔

*** پریخودل شوي یا ختم شوي سنتونه :**

۱ – د نبي کريم ﷺ بربنډه (خالصه) تابعداري پريښودل : زياتره خلك خو بې دينه دي، او ډير خلك ديندراه دي خو په سنت باندې د ((مذهبونو په قالب)) کښې عمل کوي، د نبي کريم ﷺ د ((خالصې تابعدارئ)) په چوکاټ کښې پرې عمل نۀ کوي. حالانکه د نبي کريم ﷺ خالصه تابعداري کول فرض دي. لکه څنګه چه د الله او د هغۀ د بندګانو ترمينځه په عبادت کښې واسطه نشته، دغه شان د امت او د رسول الله ﷺ ترمينځه په طاعت او خبره منلو کښې هم واسطه جوړول جائز نۀ دي.

نو څوك چه يو داسې عمل کوي چه د نبي ﷺ نه په کښې تاثر نۀ اخلي بلکه د يو عالم د مخصوص ((فقهي مذهب)) موافق پرې عمل کوي، نو دا د رسول الله ﷺ تابعدار نۀ شمارل کيږي.

د مثال په توګه : يو سړې په مانځه کښې رفع اليدين او آمين بالجهر په دې وجه کوي چه دا د رسول الله ﷺ عملونه دي، نو دۀ ته خلك ((اهل حديث)) وائي. او څوك چه رفع اليدين نۀ کوي او خپل لاسونه د نامۀ لاندې ګدي او دۀ دا خيال دې چه دې په حديث عمل کوي، حالانکه خلك دۀ ته ((اهل حديث)) نۀ وائي، او نۀ خپله دې د حديث خوند محسوسوي !!

په دې کښې راز دادې چه ددې کس دا عمل د يو مخصوص ((فقهي مذهب)) موافق دې، نۀ د ((حديث)) موافق. ددۀ په ذهن کښې په حديث باندې د عمل کولو هډو خيال هم نۀ راځي، نو ځکه ددۀ نه دا عزتمن نوم اغستل شوې !! ښۀ فکر وکړه !

۲ – اوږد قيام الليل کول او په دې کښې د الله کتاب لوستل زمونږ په دې زمانه کښې بيخي کم شوي دي. حالانکه د رسول الله ﷺ سيرت مبارك وګوره چه هغوئ به دومره اوږد قيام کولو چه خپې به ئې وپړسيدې، هغوئ ته په دې حقله عرض وشو، نو وې فرمايل: آيا زۀ يو شکر ګذار بنده جوړ نشم؟ (بخاري).

۳ – په مونځونو کښې خشوع پريښودل : زمونږ په دې زمانه کښې د خشوع علم ورك شوې، ځکه نبي ﷺ ددې زمانې پشين ګوئي فرمايلې وه چه : (تاسو به د تولو نه مخکښې د خپل دين نه خشوع ورك کوئ). [صحيح الجامع]

عباده بن صامت ﷺ فرمائي: نزدې ده چه تۀ به جامع مسجد ته ننوځې نو په هغې کښې به خشوع کونکې سړې ونۀ ومومې. [سنن الترمذي]

زمونږ د مونځونو وغيره نه خشوع وتلې ده حالانکه دا څومره مهم شې دې !

٤ – د الله لرې ذکر کول : ډير خلك به تۀ وينې چه تهوله ورځ به تيره شي خو د خُلې نه به ئې

تسبیح، تکبیر، تحمید او د الله ذکر وانهٔ وړے۔ الله تعالیٰ د منافقانو په حقله فرمائی:
﴿ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴾ [نساء: ١٤٢] (د الله ډیر کم ذکر کوی)۔
حالانکه رسول الله ﷺ به ډیر ډیر ذکر کولو، لغوه به ئے نهٔ کوله او اوږده خاموشی به ئے کوله۔
[البغوی فی شرح السنة، مشکاة: ٣٣٣]

الفاظ ئے دادے: (رسول الله ﷺ به ډیر ډیر ذکر کولو، بے فائدے خبرے به ئے نهٔ کولے، اوږد مونځ به ئے کولو، لنډه خطبه به ئے فرمایله، او د کونډو رنډو او مسکین سره د تللو او د هغهٔ د حاجت پوره کولو نه به ئے انکار نهٔ کولو)۔ [نسائی، دارمی]

٥ – د الله د دین د شعائرو (او علاماتو) ادب نهٔ کول: لکه قرآن طرفته خپے اوږدول، هغه په زمکه کیښودل او داسے راغستل لکه د یو اخبار پشان، سره ددے چه الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ أَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ خُذُوْا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ ﴾ [بقره: ٩٣] (مونږ تاسو نه پوخ لوظ واخستهٔ او په تاسو مو طور غر وچت کړو (او ومو ویل) چه مونږ تاسو ته څه درکړی هغه پوره قوت سره واخلئ)۔ او فرمائی: ﴿ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴾ [حج: ٣٣]
(او څوك چه دَ الله دَ شعائرو (نښو) تعظیم کوی، نو دا کار دَ زړونو دَ پرهیزګارئ دلیل دے)۔
یو ځل عائشه مکیّة محدثه په ابو زکریا باندے په داسے حال کښے ورتیره شوه چه هغهٔ کعبے طرفته خپے غزولے وے او دواړه لاسونه ئے شاته غورزولی وو، ورته ئے وفرمایل: بادشاهانو مخامخ څوك داسے کینی؟ نو هغه سم کیناستهٔ۔
په یو حدیث کښے دی چه: یهودو تورات په زمکه کیښودهٔ، نبی کریم ﷺ هغه پورته کړو او په بالښت ئے کیښودهٔ، او وے فرمایل: ما په تا او ستا په نازلونکی ایمان راوړے۔
[سنن أبی داود: ٤٤٤٩، باسناد حسن، الارواء: ٥/ ٩٤]

دا د منسوخ شوی تورات واقعه ده، نو د قرآن په باره کښے دے څهٔ خیال دے! ځینے خلك مونږ لیدلی چه ستونی ستغ پروت وی او خپے ئے کعبے طرفته غزولی وی او قرآن ئے نیولے وی تلاوت کوی تهٔ به وائے چه دا یوه ورځ پانړه ده۔ آیا دا قِسم لوستل به په بنده اثر وکړی! هیڅ کله نه!
د نبی کریم ﷺ خو دا حال وو چه په مجلس کښے ناست ملګری ته به ئے خپے هم نهٔ غزولے۔
[مشکاة]

ابن مفلحؒ په [الآداب الشرعية] کښے فرمائی: قرآن ته تکیه وهل مکروه دی۔
سعیب بن المسیبؒ نه د یو حدیث په حقله پوښتنه وشوه هغهٔ تکیه وهلے وه نو نیغ کیناستهٔ او وے فرمایل: زهٔ دا بده ګنړم چه د رسول الله ﷺ له طرفه دے تکیه وهلے حدیث بیان کړم۔

نو قرآن خو ددے ډیر زیات لائق دے۔
[الآداب الشرعية لابن مفلح: ٢/ ٤٠٠]

د جوماتونو ډیر امامان صاحبان دی چه د تکبیراتو په وخت د (الله) نوم ډك نهٔ اخلی بلکه په غیر مناسب انداز سره ئے وائی۔ دغسے د قرآن کریم داسے تلاوت کَوی تهٔ به وائے دا د خلکو خبرے دی، په دے کښے فکر نهٔ کوی چه دا د رب العالمین کلام دے، په ډیره ښائسته طریقے سره ددے تلاوت کول پکار دی۔ د ټولو خلکو نه زیات ښائسته تلاوت والا هغه څوك دے چه کله تهٔ د هغهٔ تلاوت واورے نو د الله ویره ترے معلومه وے۔ لکه دا خبره په حدیث کښے راغلے۔

لنډه دا چه په دے وخت، کښے په خلکو کښے ادب ختم شوے۔ والعیاذ بالله۔

٦ – مسلمانانو سره د تواضع معامله نهٔ کول، هغوئ سپك ګنړل، هغوئ ته ((اجانب)) (پردی) خلك ویل ! سره ددے چه ټول مسلمانان لکه د یو بدن غونته دی، هیڅ یو عربی له په عجمی او هیڅ یو عجمی له په عربی باندے غوره والے نشته، مګر په تقویٰ سره۔

نبی ﷺ د ټولو خلکو نه زیاته عاجزی کونکے انسان وو، سره ددے چه د لوئے شان والا شخصیت وو۔ هغوئ به په خرهٔ سورلئ کوله، پیزار به ئے خپله ګانډهٔ او په خپله جامه کښے به ئے سپرے کتلے۔ د مرئی او وینځے دعوت به ئے قبلولو او مسکینانو سره د تللو نه به ئے انکار نهٔ کولو۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی: تاسو د بهترین عبادت نه غافله یئ او هغه تواضع ده۔ [ذکره عبد الملك القاسم فی کتابه : أین نحن من هؤلاء]

٧ – نبی ﷺ ډیر زیات مینه کونکے انسان وو۔ په دے وخت کښے ډیر خلك مومنانو سره مینه نهٔ کوی، دوئ سره په فراخه تندی نهٔ ملاویږی۔ حالانکه نبی کریم ﷺ فرمائی: [اَلْمُؤْمِنُ مَـأْلَفٌ وَلَا خَیرَ فِیمَنْ لَا یَأْلِفُ وَلَا یُؤْلَفُ] (مومن د مینے ځائے دے او په هغه چا کښے هیڅ خیر نشته چه نهٔ خپله چاسره مینه کوی اونهٔ ددهٔ سره څوك مینه کوی)۔
[حدیث صحیح مذکور فی الصحیحة]

٨ – بیت الخلاء کښے مخ په قبله کیناستل : مناسبه داده چه قبلے طرفته مخ نهٔ کړی اګرکه په آبادئ کښے دننه وی، ځکه د ابو ایوب انصاری رضی الله عنه دا حدیث عام دے : (تاسو د وړوکی او غټ قضائے حاجت په وخت قبلے ته مهٔ مخ کوئ)۔

٩ – مسنونه داده چه قضائے حاجت لپاره په دواړو پونډو باندے کینی، لکه حدیث کښے دی: [إِذَا ذَهَبْتُمْ إِلَى الْغَائِطِ فَاتَّقُوا الْمَجَالِسَ عَلَى الظِّلِّ وَالطَّرِيْقِ، خُذُوا النَّبْلَ، وَاسْتَنْشِبُوْا عَلَى

Maktaba Tul Ishaat.com

سُوْقِکُمْ، وَ اسْتَجْمِرُوْا وِتْرًا]

(کله چه تاسو قضائے حاجت لپاره ځئ نو د ناستے ځايونو او سورو او لارو کښے د کيناستو نه ځان وساتئ۔ ځان سره غشي وړئ۔ په خپلو پونډو باندے راغونډ کينئ او قدمونه پوره طور سره په زمکه جوخت مهٔ لګوئ، او په تاکو کاڼړو استنجاء کوئ)۔

[الصحيحة : ٦/ ٥٦٥، واسناده حسن]

(قضائے حاجت دپاره، او درے کاڼړو سره استنجاء کوئ)۔

نو ځينے علماء چه وائي: په احاديثو کښے قضائے حاجت ته د ناستے طريقه ثابته نهٔ ده: نو دا خبره خطاء ده۔ دے وجے نه کوم کموډونه چه اوچت جوړ شوی چه په هغے باندے سړے لکه د ماشومانو غونته کينی، دا مسنونه طريقه د ناستے نهٔ ده۔ دا صرف د پتلون والو او معذورو خلکو لپاره جوړيږی۔

١٠ – د استنجاء او د اودس کولو لوښے جدا جدا ساتل: د ابو هريره رضی الله عنه په حديث کښے دی چه دهٔ نبی ﷺ ته د اوداسهٔ لپاره جدا لوښے راوړو۔ [سنن أبی داود]

ډير خلك دا نهٔ پيژنی او د ناراستئ د وجے ډيرو خلکو په کوزو لوټو باندے اودس پريښے۔

١١ – د اوبو په استعمالولو کښے اسراف کول: حالانکه رسول الله ﷺ به په يو مُد (نيمه کيلو) اوبو اودس کولو او په څهٔ دپاسه دوه کيلو اوبو به ئے غسل کولو۔

[صحيح بخاری]

١٢ – او سنت داده چه په اوداسهٔ کښے دواړو خپو باندے چنړګاؤ وکړے شی، لکه د ابن عباس ﷺ په حديث کښے دی: دهٔ اودس وکړو او مخ ئے ووينځهٔ۔ د اوبو يو چونګ ئے راواخستهٔ او هغه ئے خُلے او پوزے ته واچولو، بيا ئے د اوبو يو چونګ راواخستهٔ او هغے سره ئے بل لاس يوځائے کړو او هغے سره ئے خپل مخ ووينځه، بيا ئے د اوبو يو چونګ راواخستهٔ او هغے سره ئے خپل ښے لاس ووينځه، بيا ئے د اوبو يو چونګ راواخستهٔ او هغے سره ئے خپل ګس لاس ووينځه، بيائے په سر مسح وکړه۔ بيا ئے د اوبو يو چونګ راواخستهٔ او په خپله ښئ خپے باندے ئے چنړګاؤ وکړو تردے چه هغه ئے ووينځله، بيا ئے د اوبو يو بل چونګ راواخستهٔ او هغے سره ئے خپله ګسه خپه ووينځله، بيا ئے وفرمايل: رسول الله ﷺ ما وليدهٔ چه داسے اودس ئے وکړو۔

[بخاری]

١٣ – ډير لنډ مونځ کول: تردے چه زياتره جوماتونو امامانو په مونځونو کښے مسنون قرائت پريښے دے۔ ما يو چاق ځوان وليدهٔ چه د سهار په مانځه کښے ئے د سورتِ انفطار آخری درے

آیتونه ولوستل، سره ددے چه په جوماتونو کښے ګڼره ګونړه هم نۀ وه او نۀ بل څۀ عذر وو۔ فانا لله وانا الیه راجعون۔

حالانکه رسول الله ﷺ به پوره رکوع اوسجده کوله او د مانځه د تخفیف حکم ئے کړے خو د تخفیف نه مراد هغه تخفیف دے چه د سنت موافق وی نۀ د خلکو د خواهشاتو!

۱۴ – د صفونو د برابروالی اهتمام نۀ کول: حالانکه نبی ﷺ په ګڼرو حدیثونو کښے په دے حکم فرمایلے: (خپل صفونه جوخت کړئ) (مسلم)۔

(شیطان لپاره چاودونه مۀ پریدئ)۔ او فرمائی: (سوری بندوئ)۔ (ابوداود)۔

او عجیبه خبره داده چه ځینے علماء وائی: ددے نه مراد صرف برابرے دے، حالانکه دا د ظاهرو نصوصو په خلاف خواهش چلول دی۔ امام بخاریؒ باب تړلے: (اوګے سره اوګه او قدم سره قدم لړول)۔ په بل روایت کښے: (زنګون سره زنګون لړول) ذکر دی۔

انس ﷺ فرمائی: (که تۀ په دوئ کښے یو تن ته خپه وراوړده کړے نو داسے نفرت به وکړی لکه مست قچر)۔ [فتح الباری، الدین الخالص: ۵]

اے الله! د خپل نبی سنت ژوندے کړے!

۱۵ – نبی ﷺ به د صفونو په مینځ کښے د هغے د برابرولو لپاره ګرځیدلو۔ عمر او عثمان رضی الله عنهما به د صفونو برابرولو لپاره یو کس مقررولو، اوکله به چه برابر شو نو هغۀ به خبر ورکړو نو بیا به هغوئ تکبیر کولو۔ [سنن الترمذی]

آیا زمونږ د جوماتونو امامان دا کار کوی!

۱۶ – نبی کریم ﷺ به په زمکه یا په بزکی (پوړ) سجده لږوله او همدا مسنونه طریقه ده۔ په دے کښے الله ته تواضع او عاجزی ده۔ پاتے شو په جامو او فرشونو سجده لږول نو دا جائز دی مګر اصل سنت طریقه همغه په زمکه او پوړ سجده لږول دی۔ امام بخاریؒ باب تړلے: (په بزکی سجده لږول)۔ (په جانماز سجده لږول)۔

زمونږ په دے زمانه کښے خلك د جانمازونو او نرمو قالینونو سره آموخته شوی!

۱۷ – مونځ ته د ودریدو – بلکه د اودس کولو په وخت – خلکو مسواك پریښے دے: حالانکه نبی کریم ﷺ به په عامو وختونو کښے همیشه مسواك کولو او په دے کښے ئے ترغیب ورکړے۔ ارشاد دے: [لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ] (ما تاسو ته د مسواك په حقله ډیر څۀ ویلی دی)۔[ابوداود] ....اوفرمائی: (که ما سره دا خطره نۀ وے چه زۀ به په خپل امت باندے تنګی راولم نو مابه دوئ ته د هر مانځه په وخت د مسواك کولو حکم کړے وے)۔ [مسلم]

Maktaba Tul Ishaat.com

ډيرو خلكو د مسواك په حقله د ناراستئ نه كار اغستے، بلكه ځينے خلك مانځه ته د ودريدو په وخت د مسواك كولو نه تعجب كوى-دا ځكه چه د دوئ په فقهى مسلك كښے دا خبره نشته، اګركه په حديث كښے شته دے !

١٨ - فرض مونځونو نه پس په جهر سره ذكر اذكار نهٔ كول : حالانكه جهر سنت دے۔ ابن عباس ﷺ فرمائى: (ما به د رسول الله ﷺ مونځ ختميدل په تكبير سره پيژندل)۔ (بخارى)۔ په بل روايت كښے دى: (د رسول الله ﷺ په زمانه كښے به ما د فرض مونځ ختميدل په دے سره پيژندل چه خلكو به په اوچت آواز سره ذكر كولو)۔ [بخارى، مسلم]

اوچاچه دا ويلى چه دا جهر د تعليم لپاره وو، نو دا خبره صحيح نهٔ ده، ځنګه چه د حديث د الفاظو نه معلوميږى۔ حالانكه آمين او مونځ نه پس اذكار په جهر سره لوستل پكار دى، دے دپاره چه مونځ ئے مړے نشى بلكه ژوندے وى۔

١٩ - د تكبير تحريمه او ركوع ته ښكته كيدو او را پورته كيدو په وخت دواړه لاسونه اوګو يا غوږونو پورے اوچتول : ځينے خلك رفع اليدين نهٔ كوى، ځكه ددهٔ په فقهى مسلك كښے نشته او دا پرواه ورسره نهٔ وى چه حديث مے پريښودهٔ۔ ځينے خلك رفع اليدين كوى خو نامهٔ پورے لاسونه پورته كوى يا د ناجوړه كس پشان رفع اليدين كوى ځكه دے د مانځه د آدابو لحاظ نهٔ ساتى۔

٢٠ - سنت طريقه داده چه فرض مونځونو نه پس مسنون اذكار وويل شى او مونځ ګذار دے د سهار او ماښام مونځونو په وخت د تشهد په هيئت ناست وى او لس ځله دے:

[لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْـدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِىْ وَيُمِيْتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ] ووائى۔ [مشكاة : ١/ ٨٣]

او خپلے غيرے ته به ګورى، ښى او كس اړخ ته دے نهٔ ګورى۔ ځينے خلك مونځ نه پس داسے خوزيږى راخوزيږى تهٔ به وائے چه دا ځناور دے چه د وندر نه را ايله شو۔

حالانكه رسول الله ﷺ به سر ښكته كړے وو او د الله ذكر به ئے كولو۔ د ابوداود په حديث كښے دى : يو سړے فرض مانځه نه فورًا روسته سنتو ته ودريدهٔ، نو عمر ﷺ رانښكهٔ او ورته ئے وفرمايل: تاسو نه مخكنى خلك په همدے كار تباه شوى وو چه د دوئ د مونځونو ترمينځه جدا والے نهٔ وو۔

په دے حديث كښے دا الفاظ دى : [رَفَعَ اِلَيْهِ النَّبِىُّ ﷺ رَأْسَهٗ] (نبى ﷺ ورته سر راپورته كړو) دے نه معلوميږى چه په دے اذكارو كښے د خشوع اهتمام كول پكار دى۔

٢١ - د كور په ځائے په جومات كښے اودس كول : حالانكه نبى كريم ﷺ فرمائى: (چاچه كور

کښې اودس وکړو بيا جومات ته ورائځ نو دے چه کوم قدم اخلی نو ددے په وجه ئې يوه درجه پورته کيږی او يوه ګناه ئې معاف کيږی). [بخاری]

۲۲ – سنت او نوافل په کور کښې نهٔ کول: حالانکه نبی کريم ﷺ تقريبًا په ټول ژوند کښې سنت او نوافل په کور کښې کول. صرف فرض مانځه لپاره به جومات ته وتلو. [صحيح مسلم]

۲۳ – په مانځه کښې جامه زوړندول: حالانکه ددے نه منع راغلے: (نبی ﷺ ددے نه منع کړے چه څوك جامه زوړنده کړی او يا خُلهٔ پټه کړی). [سنن أبی داود ، باسناد حسن]

جامه زوړندول دادی چه په سر يا دواړو اوګو ئې واچوی او دواړه طرفونه ئې رازوړند کړی، يا څوك چوغه اچوی او په دواړو نستونړو کښې لاسونه ورنهٔ کړی دغسے ئې زوړند پريدی، او يا څادر اويا رومال په سر واچوی او د څټ نه ئې راتاؤ نهٔ کړی. دے ټولو ته جامه زوړندول وائی، د صحيح فطرت والو په تجربے سره ثابته ده چه دا خشوع خرابوی.

[انظر : نيل الأوطار ، و ۲۳ سببًا للخشوع ، للشيخ صالح المنجد]

۲۴ – لنګ يا پرتوګ د پينځو نه ښکته ساتل: لکه په دے ګناه کښې زياتره مسلمانان اخته دی. او حديث کښې دی چه (جامه زوړندول په لنګ، قميص او پټکی ټولو کښې راځی).

(ابن ماجه) او زمونږ په زمانه کښې په پتلون کښې هم راځی.

حالانکه نبی کريم ﷺ فرمائی: (د پړکو نه ښکته برخه د لنګ به په اور کښې وی).

[بخاری]

آيا مومن سړے به ددے حديث نه نهٔ يريږی!

حديث کښې دی: (درے کسانو سره به الله د قيامت په ورځ خبرے ونهٔ کړی، نهٔ به ئې د ګناهونو نه پاك کړی، نهٔ به ورته د رحمت په نظر وګوری، بلکه دردناك عذاب به ورکړی: (۱) يو هغه کس چه پينځے راکاږی. (۲) احسان زباتوونکے. (۳) خپله سودا په دروغژن قسَم وښکونکے).

[صحيح مسلم]

وګوره چه څومره سخت عذاب بيان شو! او مسلمانان په دے کښې څومره د نا راستئ نه کار اخلی!

۲۵ – خوراك تهِ پرلتئ سره کيناستل: دارنګه په بستره او نرم قالين کيناستل هم په تکيه وهلو کښې داخل دی. او نبی ﷺ د تکيه وهلو نه منع فرمايلے: حديث کښې دی: (تکيه وهلو په حالت خوراك مهٔ کوه).

[الصحيحة]

Maktaba Tul Ishaat.com

او نبي ﷺ به د تکیه وهلو په حالت خوراك نهٔ کولو- (بخاري)- او فرمائي: (زهٔ داسې خوراك کوم څنګه چه مرئې خوراك کوي او داسې کینم څنګه چه مرئې کیني ځکه زهٔ بنده یم)-

[البغوي في شرح السنة، مشكاة: ٢، باب فضائل سيد المرسلين ﷺ]

تهٔ به ډیر خلك وینې چه خوراك لپاره به په تکلف سره بسترې غوړوي- (زاد المعاد)-

٢٦ - په میز (ټیبل) خوراك کول: حالانکه سنت داده چه په زمکه خوراك وکړي- حدیث کښې دي، انس ﷺ فرمائي: (نبي ﷺ په ټیبل باندې خوراك نهٔ دې کړې اونهٔ ئې په وړو وړو پلیټونو کښې)- [بخاري، ترمذي]

حالانکه زیاتره هوټلو کښې ټیبل لګیدلي وي په هغې خلك خوراك کوي-

٢٧ - په خوراك، څښاك، ورکړه راکړه کښې د ښي لاس اهتمام نهٔ کول: سره ددې چه شریعت مطهره ددې ډیر زیات اهتمام کړې-

او نبي ﷺ به په هر شئ کښې په ښي اړخ شروع کول خوښول تردې پورې چه په پیزار پخپو کولو، سر ګومنزولو، په اودس کولو او په خپلو ټولو کارونو کښې به ئې دا خوښ ګڼړلو-

[بخاري]

٢٨ - په خوراك څښاك کښې د پرهیزګارئ نه کار نهٔ اغستل: بعضِ خلك څهٔ چه مومي خوري ئې او څهٔ چه مومي څښکي ئې او دا پوښتنه نهٔ کوي چه آیا دا حلال دې که حرام؟ په دې کښې شبهه شته اوکه نه؟ زمونږ په دې دور کښې خو حرام او مشتبهات ډیر زیات شوي دي!

حالانکه رسول الله ﷺ به د خوراك په حقله پوښتنه کوله چه دا د کوم ځایه راغې؟ او چا راوړې؟ او دا تحفه ده اوکه صدقه؟ لکه (باب الورع) کښې ګڼړ حدیثونه په دې حقله تیر شوي-

٢٩ - ګیره خریل یا لنډول: خریل ئې د مجوسو او لنډول ئې د یهودو عمل دې، لکه دا په حدیث کښې راغلي، صحابه کرامو عرض وکړو: (یا رسول الله! یهود خپلې ګیرې لنډوي او بریتان غټ پریدي- وې فرمایل: تاسو خپل بریت لنډوئ او خپلې ګیرې غټې وساتئ)-

او نبي کریم ﷺ هغه دوه سړو نه مخ واړولو چه د (باذان) بادشاه له خوا نبي کریم ﷺ ته راغلي وو او ګیرې ئې خریلې وې، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل:

(تباه شئ دا کار دریاندې چا کړې؟) [البداية والنهاية لابن كثير]

زمونږ په دې زمانه کښې دا ناروا څومره عامه شوې!!

٣٠ - د خپل سر وینښتهٔ نهٔ غتول: حالانکه نبي کریم ﷺ او د هغوئ صحابه کرامو - رضي الله عنهم - به په دې کار همیش والې کولو، صرف په حج یا عمره کښې به ئې خریل- او بل طرفته

سرخېل د خوارجو علامه او نښه ده.

هو ! د ضرورت لپاره ئے خرېل جائز دی، تفصیل لپاره [الدین الخالص] وګوره.

۳۱ - استنجاء کولو نه پس په زمکه لاس نهٔ راښکل: ډیر خلك ددے سنت نه ناخبره دی، سره ددے چه په صحیح بخاری کښے د ابن عباس ﷺ نه په دے باره کښے حدیثونه راغلی چه نبی ﷺ به د استنجاء نه پس خپل لاس په زمکه راښکهٔ. په یو روایت کښے دی: (په دیوال ئے راښکهٔ).

۳۲ - د تصویر په معامله کښے بیباکی کول: سره ددے چه نبی ﷺ به هغه کورته نهٔ داخلیدهٔ چه په هغے کښے به فتو وو. او په کوم شئ کښے چه به هغوئ تصویر ولیدهٔ هغه به ئے ختمولو. (بخاری).

اوس د سړو او ښځو او ماشومانو تصویرونه څومره ډیر شوی دی ! بلکه د زنانو بربنډ تصاویر په بازارونو کښے رازورند وی. ډیره خرابه خبره خو داده چه ځینے خلك د تصاویرو یا د فوټوګرافئ د تصاویرو په جواز باندے فتویٰ ورکوی. حالانکه نبی کریم ﷺ ددے نه مطلقاً منع فرمایلے. حالانکه دا کس د تصویرونو په ضررونو فکر نهٔ کوی چه دا د الله د توحید او د الله د محبت خلاف دی او په دے سره زړهٔ د الله د محبت نه مشغولیږی. خو مرے په درد څهٔ پو هیږی !

۳۳ - مسنونه داده چه په سجده کښے دواړه خپے یو ځائے کړے شی: د ابن حبان په صحیح یا حسن حدیث کښے د سجدے په حالت کښے د دواړو پتونانو یو ځائے والے راغلے. حالانکه ډیر مونځ ګذار خلك ددے نه ناخبره دی !

۳۴ - همیشه لپاره جلسه د استراحت پریښودل: سره ددے چه نبی کریم ﷺ ددے لپاره کیناستهٔ دارنګه دا د دیارلسو (۱۳) صحابه کرامو - رضی الله عنهم - نه ثابته ده.

[کما فی حدیث أبی حمید الساعدی، وحدیث عمرو بن سلمة ومالك بن الحویرث رضی الله عنهم] او په دے باره کښے دوه صحیح حدیثونه په بخاری او ابوداود کښے ثابت دی.

او ځینے علماء چه وائی: دا د عذر د وجے شوے وه: نو دا خبره خطاء ده ځکه د نبی کریم ﷺ افعال په عذر، نسیان او په عادت باندے حملول جائز نهٔ دی، مګر په دلیل سره او هغه دلته نشته، بلکه د نبی کریم ﷺ ټول افعال د شریعت برخه ده تر څو پورے چه ددے نه اړوونکے دلیل موجود شوے نهٔ وی. ځینے خلك صرف په دے وجه دا نهٔ کوی چه د دوئ په فقهی مسلك کښے نشته، او ځینے نور په دے کښے خطا تاویل کوی. که تهٔ د حق اراده لرے نو په دے عمل کوه.

هو ! کله نا کله ددے پریښودل جائز دی د صحابه کرامو رضی الله عنهم د عمل د وجے.

[ابن أبی شیبه]

Maktaba Tul Ishaat.com

٣٥ - د امام لپاره اذان، اقامت او امامت درے واړه راجمع کول : لکه چه دا کار په عربی ملکونو کښے بعض خلك کوی، دا خلافِ سنت دے، سنت دادی چه مؤذن او امام دے جدا جدا وی۔ نبی کریم ﷺ فرمائی: (داسے مؤذن ونیسه چه په اذان باندے اجرت نهٔ اخلی)۔
[اصحاب السنن]

نو دے نه معلومه شوه چه امام به د مؤذن نه جدا وی۔

دا وجه ده، د نبی کریم ﷺ او د هغهٔ د خلفاء راشدینو - رضی الله عنهم - نه ثابت نهٔ دی چه هغویٔ خپله اذان کړے وی، ولے چه هغویٔ به امامان وو۔ عمر رضی الله عنه فرمائی: (که چرے د خلافت کارونه نهٔ وے نو مابه اذانونه کولے)۔
[المطالب العالية، لابن حجر، الدين الخالص: ٣، بالتفصيل]

٣٦ - زیاتره خلکو د درے رکعتی او څلور رکعتی مونځونو په آخری تشهد کښے تورك پریښے، سره ددے چه دا د نارینه او زنانه دواړو لپاره په صحیح حدیثونو کښے راغلے، لکه د ابو حمید الساعدی، ابن الزبیر او ابن عمر - رضی الله عنهم - په حدیثونو کښے۔
[کما فی الصحاح والسنن]

ځینے خلك د فقهی مسلك د وجے تورك نهٔ کوی او د سنت هیڅ باك نهٔ لری، ځینے خلك ئے په جماعت کښے په دے خیال پریدی چه په دے سره ځائے تنګیږی، ځینے خلك ئے د سستیٔ او ناراستیٔ له کبله پریدی۔ نو تاله پکار دی چه دا سنت ژوندے ساتے !

٣٧ - د غسل کولو په وخت اول اودس کول : عائشه رضی الله عنها فرمائی : (نبی ﷺ به چه کله د جنابت د غسل کولو اراده وکړه نو اول به ئے دواړه لاسونه ووینځل اوبیا به ئے د مانځه د اودس پشان اودس وکړو، بیا به ئے په اوبو کښے ګوتے ننه ایستے او په هغے سره به ئے د خپلو ویښتانو خلال وکړو، بیا به ئے په سر باندے درے لپے واچولے، بیا به ئے په ټول بدن اوبهٔ وبهیولے)۔
[بخاری : ٨٤٣، مسلم: ٦١٣]

٣٨ - سنت داده چه د جنابت په غسل کښے درے ځله سر ووینځل شی او یو ځل ټول بدن : لکه امام بخاریؒ باب تړلے : (یو ځل غسل کول)۔ زیاتره خلك څهٔ چه زیاتره طالب علمان ددے نه غافله دی او مقلدین خو دا نهٔ پیژنی۔

٣٩ - په پاکو څپلو کښے مونځ کول : اوکه پاکے نهٔ وی نو په زمکه دے ئے صحیح راکاږی، دا د هغے پاکوالے دے۔ انس بن مالك ﷺ نه پوښتنه وشوه : آیا رسول الله ﷺ به په خپل پیزار کښے مونځ کولو ؟ هغهٔ وفرمایل: هو ! [النسائی]

د ابو سعید خدری ﷺ په حدیث کښې دي : (کله چه په تاسو کښې يو تن جومات ته راشي نو خپلو څپلو ته دې وګوري که په هغې کښې څهٔ ګندګي يا پليتي ووينې نو هغه دې زمکه پورې راکاږي او په هغې کښې دې مونځ وکړي)۔
[ابوداود باسناد صحيح]

٤٠ – ښئ خپه په پیزار کښې مخکښې ننه ایستل او ګسه خپه مخکښې راوښکل :
ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد فرمایلې: (کله چه په تاسو کښې څوك څپلئ اغوندي نو په ښئ دې شروع وکړي، اوکله ئې چه وباسي نو په ګسه دې شروع وکړي، دې دپاره چه په اغوستو کښې ښئ ړومبئ او په ویستو کښې روستئ شي)۔
[بخاري، مسلم]

٤١ – د څښلو په وخت کیناستل : انس ﷺ فرمائي: (نبي ﷺ په ولاړه اوبو څښلو نه منع فرمایلې) قتادة فرمائي: مونږ انس نه پوښتنه وکړه : (په ولاړه) د خوراك حکم څهٔ دې؟ وې فرمایل: دا خو ډیر سخت او خبیث کار دې۔
[صحیح مسلم: ٤٢٠٢]

بل حدیث کښې دي: (په تاسو کښې دې څوك په ولاړه څښل نهٔ کوي او چانه چه هیر شو نو هغه دې دا بیرته قې کړي)۔ [صحیح مسلم: ٦٢٠٢]

انس ﷺ فرمائي: (نبي ﷺ د ولاړې څښلو نه منع فرمایلې)۔ [صحیح مسلم]

بل حدیث کښې دي: (تاسره هغه چا څښل وکړل چه هغه ددې (پیشو) نه هم زیات شري دې – یعني شیطان –)۔ [دارمي، احمد: ٣٤٩٧]

او د سننو په حدیث کښې د ولاړې څښلو اجازت راغلې، خو دا په ضرورت باندې حمل دې، او یا دا کار کله نا کله کول جائز دي۔

٤٢ – لوښي نه بهر، او درې ځله ساه اغستل : ابو قتاده ﷺ نه روایت دې، رسول الله ﷺ وفرمایل: (کله چه په تاسو کښې يو تن څښل کوي نو په لوښي کښې دې ساه نهٔ اخلي، او کله چه قضائې حاجت لپاره لاړ شي نو خپل ښي لاس دې د خپل خاص اندام سره نهٔ لږوي او نهٔ دې په ښي لاس استنجاء کوي)۔ [بخاري، مسلم]

٤٣ – سفر نه راتلو په وخت په جومات کښې دوه رکعته کول : کعب بن مالك – رضي الله عنه – نه روایت دې، رسول الله ﷺ به چه کله د سفر نه راغې نو شروع به ئې په جومات کوله او هلته به ئې دوه رکعته کول بیا به خلکو سره کیناستهٔ۔ [بخاري : ٤٤١٨]

Maktaba Tul Ishaat.com

٤٤ – په ډېرو ملکونو کښې خلکو زيارة القبور پرېښې دے: نبی ﷺ فرمائی: (ما تاسو د زيارة القبور نه منع کړی وئ، خو اوس تاسو ددے زيارت کوئ ځکه ددے په زيارت کښے عبرت پروت دے)۔ [ابوداود : ۵۳۲۳]

عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله ددے په نمبر کښے ددے سره وو نو د شپے په آخره برخه کښے به بقيع ته وتلو او دا دعاء به ئے ويله :

[اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ وَاَتَاكُمْ مَا تُوْعَدُوْنَ ، غَدًا مُّؤَجَّلُوْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ] [مسلم: ٤٧٩]

٤٥ – په مانځه کښے د سلام ګرځولو نه مخکښے ډيرے ډيرے دعاګانے لوستل: ځکه نبی ﷺ په دے حکم فرمايلے، فرمائی: (د څلورو شيانو نه دے په الله سره پناه وغواړی، بيا چه کومه دعائے خوښه وی هغه دے وکړی)۔ [مسلم]

نبی ﷺ به په دے وخت کښے ډيرے ډيرے دعاګانے کولے۔

او فرمائی چه فرض مونځونو پسے دعا ښه قبليږی۔ يعنی د سلام ګرځولو نه مخکښے دعاګانے غوښتل، لکه چه دا معنیٰ شيخ الاسلام ابن تيمية فرمايلے۔

د افسوس خبره ده چه ځينے خلك بلكه د جوماتونو زياتره امامان سلام ګرځولو ته ډيره تادی کوی، ته به وائے چه جهاز ترے آلوزی !

دا لا څهٔ کوے ! ځينے امامانو د استفتاح دعاء (ثناء) او د تشهد دعاګانے د مانځه نه حذف کړی او په قرائت باندے اکتفاء کوی، لکه دا کار مونږ په حرم مکی او نورو جوماتونو کښے وليدهٔ ! حالانکه پکار دا وه چه دویٔ د تراويحو رکعتونه کم کړی وے او قرائت ئے په کښے اوږد کړے وے نو دا به سنت ته زيات قريب وے !

٤٦ – پيژندونکو او نا پيژندونکو باندے سلام اچول : عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی: يو سړی عرض وکړو: يا رسول الله ! د اسلام کوم يو خوئے زيات بهتر دے ؟ وے فرمايل: خوراك خورول اوکه څوك پيژنے اوکه نهٔ په هغهٔ سلام اچول)۔ [بخاری]

د قيامت د نښو نه يوه نښه داده چه سلام به صرف په پيژندونکو خلکو اچولے شی۔

٤٧ – د چرګ او خرهٔ د آواز په وخت دعاء ويل: ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: (کله چه تاسو د چرګ آواز واورئ نو الله نه د هغهٔ فضل غواړئ ځکه هغهٔ ملائك ليدلے وی، اوکله چه د خرئ اينګيدل واورئ نو الله پورے د شيطان نه پناه غواړئ ولے چه هغهٔ شيطان ليدلے وی)۔ [بخاری ، مسلم]

٤٨ – په ځوماتونو وغيره کښې د سترې ودرولو اهتمام نۀ کول: په دې حقله يې شماره حديثونه راغلي، يو په کښې دا دې: سبره بن معبد ﷺ وائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ: (د سترې نه بغير مونځ مۀ کوه).

[ابن خزيمة باسناد صحيح]

دې حديث نه د سترې واجب والې معلوم شو، حالانکه څومره خلك ددې مسنونې طريقې نه ناخبره دي! د نبي ﷺ نه په هيڅ يو صحيح حديث کښې ثابته نۀ ده چه هغوئ يې سترې مونځ کړې وي.

٤٩ – د څاښت مونځ خلکو پرېښې: ابو هريره ﷺ فرمائي: ماته مې خپل خصوصي دوست د درې خبرو وصيت کړې چه زۀ ترمرګه پورې دا نۀ پرېدم: (۱) د هرې مياشتې نه درې ورځې روژه نيول (۲) د څاښت مونځ. (۳) او په وترو اودۀ کيدل).

[بخاري، مسلم]

٥٠ – سنن رواتب (د فرضو نه مخکښې او روسته مؤکد سنت) کول: ابن عمر ﷺ فرمائي: ما رسول الله ﷺ د ماسپخين مانځه نه مخکښې دوه رکعته او روسته دوه رکعته، د ماښام مونځ نه پس دوه رکعته، د ماسخوتن مونځ نه پس دوه رکعته، او د سهار مونځ نه مخکښې دوه رکعته سنت زده کړي دي).[بخاري]

ام حبيبه – رضي الله عنها – فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل يې: (چاچه په شپه او ورځ کښې دولس رکعته نفل مونځ وکړو، نو الله به ورله ددې په بدله کښې په جنت کښې کور جوړ کړي). [مسلم]

او د ترمذي په حديث کښې ددې وضاحت داسې راغلې: ماسپخين نه مخکښې څلور رکعته او روسته دوه رکعته، ماښام نه پس دوه رکعته، ماسخوتن نه پس دوه رکعته او سهار نه مخکښې دوه رکعته.

٥١ – د اودۀ کيدو په وخت بستره څنډل: ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايۀ: (کله چه په تاسو کښې څوك بسترې ته راشي نو هغه دې د لنګ په دننه طرف باندې وڅنډي، ځکه دۀ ته پته نشته چه دۀ پسې په دې باندې څۀ پرېښې دي، بيا به يې دا دعا کوله:

[بِـاسْمِكَ اللّٰهُمَّ وَضَعْتُ جَنْبِيْ وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِيْ فَارْحَمْهَا ، وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ]

[بخاري، مسلم]

Maktaba Tul Ishaat.com

۵۲ – ماسخوتن مانځه نه پس قيصے كول او ناوخته اودهٔ كيدل : لكه چه دا زمونږ په دے زمانه كښے د خلكو عادت ګرځيدلے ـ دے نه په يے شماره حديثونو كښے منع راغلے : (رسول الله ﷺ د ماسخوتن نه پس د قيصه ګويئ نه منع فرمايلے)۔
[بخاری] د قيصه ګويئ ډير زيات نقصانات دی۔ څومره چه كيدے شی، مسلمان له ددے نه ځان ساتل پكار دی۔

۵۳ – رانجهٔ لږول : ابن عباس ﷜ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : (ستاسو په رانجو كښے بهترين رانجهٔ اِثمد دی، نظر روښانه كوی او بانړهٔ راتو كوی)۔
[نسائی : ۵۱۱۵، ۳، ابوداود: ۸۷۸۳]

۵۴ – د هرے مياشتے نه درے روژے نيول : لكه د ابو هريره ﷜ په حديث كښے تير شو۔ دے كښے څو حديثونه نور هم شته۔

۵۵ – په عامو كارونو كښے خلكو استخاره كول پريښی دی : جابر ﷜ فرمائی: رسول الله ﷺ به مونږ ته په ټولو كارونو كښے استخاره داسے (په اهتمام سره) راښودله څنګه چه به ئے راته د قرآن يو سورت راښودلو، فرمايل به ئے : كله چه په تاسو كښے څوك د يو كار اراده وكړی نو د فرضو نه علاوه دے دوه ركعته وكړی او بيا دے ووائی:
[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ ...... الحديث] [بخاری]

۵۶ – د اذان جواب وركول : زياتره خلك په دے وخت كښے خبرے كوی : ابو سعيد خدری ﷜ فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ : (كله چه تاسو د مؤذن نه واوريئ نو د هغهٔ پشان كلمات وايئ)۔ [مسلم، بخاری]

د مسلم په روايت كښے دی: (بيا په ما درود ووايئ څكه څوك چه په ما يو ځل درود ووائی الله به ددے په بدله كښے پرے لس رحمتونه راوليږی، بيا ما لپاره د الله نه وسيله (اوچته مرتبه) وغواړئ څكه دا په جنت كښے يوه مرتبه ده چه د الله په بندګانو كښے صرف د يو بنده لپاره مناسب ده او زما اميد دے چه هغه به زهٔ يم، نو څوك چه مالپاره د وسيلے دعا وغواړی هغهٔ لپاره زما شفاعت حلال شو)۔

د عمر ﷜ په حديث كښے دی: (څوك چه د مؤذن د الفاظو پشان الفاظ د زړهٔ د اخلاصه ووائی، جنت ته به ځی)۔ [مسلم فی حديث طويل]

۵۷ – په سورلئ باندے د سوريدو په وخت دعاګانے پريښودل : حالانكه د رسول الله ﷺ صحابه كرامو – رضی الله عنهم – به ددے ډير اهتمام كولو۔ علی بن ربيعهٔ وائی: (زهٔ علی

رضی الله عنه ته حاضر شوم چه هغهٔ ته یوه سورلئ راوستے شوه چه په هغے باندے سور شی نو کله ئے چه د هغے په رکاب کښے خپه کیښوده نو درے ځله ئے (بسم الله) وویله، او کله چه د هغے دپاسه برابر کیناستهٔ نو (الحمد لله) ئے وویله، بیا ئے دا دعا وویله: [سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ] بیا ئے درے ځله [اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] درے ځله [اَللّٰهُ اَكْبَرُ] او دا دعا وویله: [سُبْحَانَكَ اِنِّیْ قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَاِنَّهٗ لَایَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ] بیا ئے وخاندل۔ ما عرض وکړو: اے امیر المؤمنین! د خندا وجه څهٔ ده؟ وے فرمایل: ما رسول الله ﷺ ولیدهٔ چه هغه کار ئے وکړو کوم چه ما وکړو، بیا ئے وخاندل نو ما عرض وکړو: یا رسول الله! ولے دے وخاندل؟ وے فرمایل: ستا رب د خپل بنده نه تعجب کوی چه هر کله بنده ووائی: اے ربه! ماته مے خپل ګناهونه وبښے ځکه چه تا نه سیوا بل هیڅوك ګناهونه نشی بښلے)۔

[ترمذی: ٣٤٤٦، ابوداود: ٢٦٠٢، باسناد صحیح]

د سنتو دے اتباع ته فکر وکړه!

٥٨ – د الله لپاره د چا ملاقات له تلل، چه ددے اجر معلوم دے: حدیث کښے دی: ابو ادریس خولانیؒ معاذ رضی الله عنه ته وویل: زما تهٔ خوښ ئے! هغهٔ ورته وفرمایل: ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمایل ئے: (الله فرمائی: زما محبت د هغه خلکو لپاره واجب شو څوك چه خپلو کښے زما د وجے یو بل سره مینه کوی، زما د وجے یو بل سره کینی، زما د وجے یو بل سره ملاقات کوی او زما د وجے یو بل باندے خرچه کوی)۔

[احمد: ٧٩١٢، مشکاة: ٢]

٥٩ – د سفر کولو په وخت د سفر د دعاء اهتمام کول: ابن عمر رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله سفر ته د وتو په وخت په خپل اوښ باندے برابر شو نو درے ځله به ئے الله اکبر ووایهٔ، بیا به ئے دا دعاء وویله: [سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِیْنَ وَاِنَّا اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ]. اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْأَلُكَ فِیْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰی ...... الحدیث]

او کله به چه واپس شهٔ نو همدا دعاء به ئے ویله او دا الفاظ به ئے په کښے زیاتی ویل: [آئِبُوْنَ، تَائِبُوْنَ، عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ] [مسلم: ٢٤٣١]

٦٠ – په خوراك څښاك او خرچه کښے درمیانه روی نهٔ کول او په هر شئ کښے اسراف کول: الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِیْنَ ﴾ [الأنعام: ١٤١]

او نبی ﷺ چه کله معاذ رضی الله عنه یمن ته لیږلو نو دا ئے ورته وفرمایل: (تهٔ خپل ځان د مزو کولو نه ساته ځکه د الله بندګان مزے کونکی نهٔ وی)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[احمد، ابو نعيم فى الحلية : ٥/ ٥٥١]

او نبي ﷺ فرمائي: (يوه بستره د سړي، بله ئې د ښځې، دريمه د ميلمه او څلورمه د شيطان).
[مسلم، عن جابر ﷺ مرفوعًا]

عمرو بن شعيب د خپل پلار په واسطه د خپل نيکهٔ نه روايت کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل : (خورئ، صدقه کوئ، او اغوندئ خو چه اسراف او کبر نهٔ وي).
[نسائى، ابن ماجه]

او فرمائي: (انسان د خيټې نه سيوا بل هيڅ يو بدترين لوښے نهٔ دے ډك کړے، انسان له يو څو نوړئ کافي دي چه په هغې سره ددهٔ شا ولاړه وي، که خامخا پرے نفس غلبه کوي نو بيا دے يوه برخه خوراك له، يوه اوبو له او يوه ساه اخستو له پريدي).
[ترمذى، ابن ماجه]

حديث کښے دي: (قسم په الله ! زهٔ په تاسو باندے د فقر نه نهٔ يريږم بلکه په دے يريږم چه په تاسو به دنيا داسے را فراخه شي څنګه چه تاسو نه په مخکنو خلکو رافراخه شوے وه او تاسو به په دے کښے داسے رغبت وکړئ څنګه چه هغوئ رغبت کړے وو او تاسو به داسے تباه کړي څنګه ئې چه هغوئ تباه کړي وو). [بخاري، مسلم]

٦١ – خپل ځان سره حساب نهٔ کول : عمر ﷺ فرمائي: ځان سره حساب وکړئ مخکښے ددے نه چه تاسو سره حساب وشي، او خپل عملونه وتلئ مخکښے ددے نه چه ستاسو عملونه وتلل شي، ځکه دے کار سره صبا له په تاسو باندے د خپل ځان سره حساب آسانيږي، او تاسو خپل ځانونه لوئے پيشئ لپاره ښائسته کړئ، په دغه ورځ به تاسو – د الله مخے ته پيش کولے شئ – تاسو نه به هيڅ يو نفس پټيدونکے نهٔ وي).
[محاسبة النفس، لابن أبى الدنيا: ٢٢]

ميمون بن مهرانؒ فرمائي: تر هغه وخته پورے سړے متقي نشي جوړيدے ترڅو چه د خپل ځان سره داسے حساب ونهٔ کړي څنګه چه د خپل شريك سره حساب کوي، او ترڅو چه دا معلومه نهٔ کړي چه ددهٔ خوراك څښناك او لباس د کوم ځائے نه دے؟
[أخرجه وكيع فى الزهد : ٢/ ١٠٥]

٦٢ – فرض مونځونو نه پس مسنون اذکار پريښودل : ددے نه خلك څو مره غافل دي ! حالانکه ددے څو مره ډيره فائده ده ! دے دپاره د حديثو کتابونه او زمونږ کتاب (ذکر او دعاء) وګوره.

٦٣ – فرض مونځ نه فورًا سنتو ته پاسيدل د يهودو بدعت دے :

عمر ﷺ يو کس ته وفرمايل: کينه! ځکه اهل کتاب صرف په دے وجه تباه شوی وو چه دهغوئ د مونځونو ترمينځه جدا والے نۀ وو. نو رسول الله ﷺ وفرمايل: (اے د خطاب ځويه! الله تۀ حق ته ورسولے).

[ابوداود، مشكاة : ١/ ٨٢]

٦٤ - نمر ختاۀ پورے په خپله مصله باندے نۀ کيناستل: جابر بن سمره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به چه د سهار مونځ وکړو نو تر نمر ختاۀ پورے به د خپلے مصلے نه نۀ پاسيدۀ، او کله به چه نمر وختاۀ نو پابه سيدۀ. صحابو - رضى الله عنهم - به خپلو کښے د جاهليت د کارونو په باره کښے خبرے کولے او خندلے به ئے او نبى کريم ﷺ به مُسکا کوله.

[مسلم: ٧٦٠]

او نبى ﷺ فرمائي: (څوك چه د خپل مانځه په ځائے کيناستۀ بيا ئے دوه رکعته وکړل نو دۀ لپاره به د پوره، پوره، پوره حج او عمرے برابر ثواب وی).

[ترمذی ، باسناد صحيح]

٦٥ - د بيګاه صبا ذکرونه اهتمام سره نۀ ويل: او دا معلوم دی.

٦٦ - د خوب په وخت ذکرونه نۀ ويل او د اوبښ پشان اودۀ کيدل: رسول الله ﷺ به په دے وخت کښے تقريبًا څلويښت قِسمه دعاګانے ويلے.

٦٧ - خوشبوئے سره تعلق کم لرل: حالانکه نبى کريم ﷺ به په ګيره او سر کښے ډيره خوشبوئے لږوله. او فرمائي: (ماته ستاسو په دنيا کښے درے شيان خوښ دی: ښځے، خوشبوئے، او زما د سترګو يخوالے په مونځ کښے ګرځول شوے).

[نسائی، احمد]

٦٨ - د نوے او زړے جامے اغوستو په وخت دعا نۀ ويل.

٦٩ - د سپورېدو په وخت دعا نۀ ويل.

٧٠ - د کور او اخلی پخلی په کارونو کښے د ښځے او کور والو سره مدد نۀ کول:

اسودؒ فرمائي: ما د عائشے رضى الله عنها نه پوښتنه وکړه: رسول الله ﷺ به په خپل کور کښے کوم کارونه کول؟ وے فرمايل: د خپل کور والو په خدمت کښے به مشغول وو، او کله به چه د مونځ وخت شۀ نو مانځه ته به ووتۀ. [بخاری]

٧١ - کله ناکله خپيبله خپے ګرځيدل: عبد الله بن بريده وائي: د نبى ﷺ په صحابو کښے يو سړے فضاله بن عبيد ﷺ ته مصر ته ورغے او ورته ئے وويل: خبردار! زۀ تاله د ملاقات لپاره نۀ يم

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلي، بلکه ما او تا د رسول الله ﷺ نه يو حديث آوريدلے وو، زما اميد دے چه د هغے په باره کښے به تاسره علم وی، نو هغه کوم حديث دے؟ هغهٔ ورته وفرمايل: فلانے فلانے حديث دے۔ ورته ئے وويل: څهٔ وجه ده چه زهٔ دے ګډوډو ويښتو والا وينم حالانکه تهٔ ددے ملك اميرئے؟ وے فرمايل: رسول الله ﷺ به مونږه د ډيرو مزو نه منع کولو۔ هغه ميلمه ورته وويل: څهٔ وجه ده چه زهٔ ستا په خپو کښے څپلئ نهٔ وينم؟ وے فرمايل: نبی ﷺ به مونږ ته حکم کولو چه کله نا کله مونږ خپيبله خپے ګرځو۔

[ابو داود، احمد]

۷۲ – د قبرونو ترمينځه د ګرځيدو په وخت څپلئ وښکل: نبی ﷺ يو سړی ته چه په هديره کښے څپلو سره ګرځيدهٔ وفرمايل: (اے د يے ويښتو څرمنے دوه پيزارو والا! دواړه څپلئ دے وارتوه) هغه سړی چه وکتل او رسول الله ﷺ ئے وپيژندهٔ نو هغه ئے وښکلے او وے غورزولے)۔

[ابو داود، نسائی]

۷۳ – د وريځے يا سيلئ په وخت ويره او دعا کول، دارنګه د باران شروع کيدو په وخت د بدن د ځينے برخے نه جامه لرے کول۔

حديث کښے دی: (نبی ﷺ به چه کله وريځ يا سيلئ وليده نو د هغهٔ په مخ به اثر وشو)۔ بل حديث کښے دی: (نبی ﷺ به چه کله د آسمان په کنارو کښے وريځ وليده نو کار به ئے پريښودهٔ) او چه کله به باران شروع شو نو نبی ﷺ به خوشحاله شو او دا به ئے فرمايلے چه دا د الله له خوا تازه راغے او دا دعا به ئے ويله: [اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَّافِعًا]

[سنن أبی داود: ۹۹۰، ابن ماجه: ۹۸۸۳]

۷۴ – د سهار سنتو نه پس په ښی اړخ ډډه نهٔ لړول: حديث کښے دی: (بيا به نبی ﷺ په ښی اړخ ډډه لړوله تردے چه مؤذن به ورته د مونځ ودريدو لپاره راغے)۔ [بخاری]

او نبی ﷺ فرمائی: (کله چه په تاسو کښے څوك د سهار دوه رکعته (سنت) وکړی نو هغهٔ له پکار دی چه په خپل ښی اړخ ډډه ولړوی)۔ [ترمذی، ابو داود، باسناد حسن]

ځينے خلك د خپل فقهی مذهب جوړولو لپاره دا حديثونه ورانوی، څوك ئے مقيد کوی او څوك په دے باك نهٔ لری۔

۷۵ – جنت ته بوتلونکو څلورو شيانو پرواه نهٔ لرل:

○ **ابوهريره** رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايهٔ: (نن چا دَ روژے په حالت کښے صبا کړو؟ ابو بکر رضی الله عنه وويل: ما۔ نبی ﷺ وفرمايل: نن ورځ څوك جنازے پسے تلے؟ ابو بکرؓ

وويل : زهٔ۔ وې فرمايل : نن ورځ په تاسو کښې چا مسکين له خوراك ورکړے ؟ ابو بکرؓ وويل : ما۔ وې فرمايل : نن ورځ چا دَ مريض تپوس کړے ؟ ابو بکرؓ ويلې : ما۔رسول الله ﷺ وفرمايل : دا کارونه چه په کوم مسلمان بنده کښې راجمع شي نو خامخا به جنت ته ځي) [رواه مسلم : ١٠٢٨، ٨٢١١].

٧٦ – د حاجي نه علاوه د نورو خلکو لپاره د عرفې د ورځې روژه پرېښودل :
په دې حقله څو صحيح حديثونه راغلي۔ [الدين الخالص]

٧٧ – د عاشورې په ورځ او يوه ورځ مخکښې او يوه ورځ روستو روژه نهٔ نيول : په دې حقله ګڼر حديثونه راغلي۔

٧٨ – د ذي الحجې په اول کښې اعمال صالحه زيات نهٔ کول :

* **ابن عباس** ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ وفرمايل: (ددې لسو ورځو نه علاوه په بل هيڅ ورځ کښې الله تعالىٰ ته نيك عملونه دومره زيات خوښ نهٔ دي څومره چه په دې کښې الله ته خوښ دي، خلکو عرض وکړو: جهاد هم۔ وې فرمايل: جهاد هم، مګر هغه سړے چه خپل ځان او مال سره ووتهٔ او هيڅ يو شے ئے راواپس نهٔ کړو)۔ [بخاري]

٧٩ – پيو څښلو نه پس مضمضه کول : نبي ﷺ پئ وڅښل او مضمضه ئے وکړه او وې فرمايل: (دا غوړزي لري)۔ [بخاري]

او فرمائي: (چاته چه الله څهٔ خوراك ورکړو نو هغه دې دا دعا ووائي:
[اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ] او چا باندې چه الله پئ وڅښول، نو هغه دې دا دعا ووائي: [اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ] [ترمذي ، ابن ماجه]

٨٠ – په سفر کښې اوچت ځائے ته د ختلو په وخت تکبير ويل او ښکته کوزيدو په وخت تسبيح ويل : جابر ﷺ فرمائي: مونږ به چه کله ختلو نو تکبير به مو ويلو او کله به چه ښکته کوزيدو نو تسبيح به مو ويله۔ [بخاري]

٨١ – د اختر شپې نه تر اختر مانځه ورديدو پورې تکبيرات نهٔ ويل: الله تعالىٰ فرمائي: ﴿وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ [بقره: ١٨٥] (او د روژو پوره کولو په توفيق او هدايت باندې تکبير ووايئ او د الله شکر ادا کړئ)۔

او د رسول الله ﷺ ملګري به چه کله د اختر په ورځ عيدګاه ته ووتل نو د امام راوتو پورې به ئے تکبيرونه ويل۔ [انظر: الدين الخالص ، أحكام العيدين للفريابي]

٨٢ – د حج او عمرې په احرام کښې تلبيه نهٔ ويل : لکه زمونږ په دې زمانه کښې خلکو دا

Maktaba Tul Ishaat.com

پریښي. حالانکه رسول الله ﷺ او صحابه کرامو - رضی الله عنهم - به حرم شریف ته ننوتو پورې یا د مکې کورونو لیدو پورې تلبیه ویله. [بخاری]

٨٣ - د شیطان د وسوسې په وخت په مانځه کښې کس اړخ ته لاړې نهٔ تو کل :

عثمان بن أبی العاص ﷺ عرض وکړو: یا رسول الله ! شیطان زما او زما د مانځه او قرائت ترمینځه خنډ واقع شهٔ په ما ئې قرائت ګډوډ کړو. نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (دا شیطان دې چه دهٔ ته خنزب وائی، کله چه تهٔ په دې پوهه شې نو دهٔ نه په الله سره پناه وغواړه او خپل ګس اړخ ته لاړې توکړه. هغه وائی: ما دا کار وکړو نو الله مانه شیطان لرې کړو).

[مسلم: ۲۰۲۲]

٨٤ - د اخترونو مونځونو لپاره په یوه لاره تلل او په بله واپس کیدل :

جابر ﷺ فرمائی : نبی ﷺ به چه کله د اختر ورځ شوه نو لاره به ئې بدله کړه. [بخاری]

٨٥ - د سهار مانځه نه پس عیدګاه ته د وتلو نه مخکښې سرسایه ادا کول:

ابن عمر ﷺ فرمائی: (رسول الله ﷺ سرسایه فرض کړې ده ...... الحدیث).

په دې کښې دی : (او حکم ئې کړې چه دا به عیدګاه ته د وتلو نه مخکښې ادا کیږی).

[بخاری]

څینې خلك ئې د رمضان په شروع کښې او څوك ئې په شلم ادا کوی، حالانکه دا جائز نهٔ دې، بلکه عیدګاه ته د وتلو نه مخکښې به ادا کولې شی.

٨٦ - د ماشوم تحنیك کول : ابو موسیٰ ﷺ فرمائی: زما یو ماشوم وشو، ما هغه نبی ﷺ ته راوستو نو هغهٔ له ئې ابراهیم نوم کیښودهٔ او کهجوره ئې لونده کړه او په تالو کښې ئې ورله کیښوده او د برکت دعا ئې ورته وکړه او ماته ئې راکړو، او دا د ابو موسی ﷺ مشر څوئې وو.

[بخاری]

او دا کار ئې د ابو طلحه ﷺ د بچی سره وکړو او هغهٔ له ئې عبد الله نوم کیښودهٔ. [بخاری]

٨٧ - عقیقه سنت ده، د هلك له خوا دوه ګډان او د جینۍ له خوا یو ګډ دې : زیاتره خلکو دا کار پریښې.

٨٨ - د ماشوم د سر وینښتهٔ په اوومه ورځ خریل او ددې په اندازه سپین زر خیرات کول:

نبی ﷺ فرمائی: (هر غلام د خپلې عقیقې سره ګانړه دې، د هغهٔ نه به په اوومه ورځ ذبح کولې شی او د هغهٔ سر به خریلې شی او نوم به ورله کیښودلې شی).

د **فاطمې** - رضی الله عنها - په حدیث کښې دی: (ددهٔ د وینښتانو په اندازه سپین زر مسکینانو

ته صدقه کړه)۔ [احمد: ٢٤٦٦٢]

٨٩ – په اوومه ورځ ماشوم له نوم کېښودل، که په اوله ورځ ئې نهٔ وي ايښې، لکه په دې مخکنی حديثونه دلالت کوي۔

٩٠ – د فطرت خويونه پنځه دي: (١) سنتګري (٢) زير ناف ويښتهٔ خريل (٣) د ترخونو ويښتهٔ وښکل (٤) نوکان پريکول (٥) بريت لنډول۔ [بخاري]

٩١ – د جنازې ليدو په وخت پاسيدل: نبي ﷺ فرمائي: (کله چه تاسو جنازه وليده نو پاسئ)۔ [بخاري]

٩٢ – استنثار (پوزې نه اوبهٔ وښکل) په اوداسهٔ کښې واجب دي، زياتره خلك دا نهٔ کوي۔ نبي ﷺ فرمائي: [مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ]

(څوك چه اودس کوي هغه دې استنثار کوي او څوك چه په کانړو استنجاء کوي نو هغه دې تاك استعمالوي)۔ [بخاري، مسلم]

٩٣ – مرګ نه مخکښې د غير ورثه ؤ لپاره وصيت کول: حديث کښې دي: (کوم مسلمان سړه چه داسې څهٔ شې وي چه په هغې کښې وصيت کول پکار وي او په دهٔ باندې دوه شپې تيرېږي نو دهٔ له مناسب نهٔ دي چه د وصيت ليکلو نه بغير په دهٔ تيرې شي)۔ [بخاري]

٩٤ – د فطرت د لسو خويونو اهتمام نهٔ کول: عائشه رضی الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ: [عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ: قَصُّ الشَّارِبِ، وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ، وَالسِّوَاكُ، وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ، وَقَصُّ الأَظْفَارِ، وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ، وَنَتْفُ الإِبِطِ، وَحَلْقُ الْعَانَةِ، وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ. قَالَ مُصْعَبٌ: وَنَسِيْتُ الْعَاشِرَةَ إِلَّا أَنْ تَكُوْنَ الْمَضْمَضَةُ]

(لس شيان فطري خويونه دي: بريت اخستل، ګيره غټول، مسواك کول، پوزې ته اوبهٔ اچول، نوکونه پريکول، ګرتونه وينځل، ترخ ويښتهٔ اخستل، نامهٔ لاندې ويښتهٔ خريل، استنجاء کول، مصعبؒ راوي فرمائي: مانه لسم خوئې هير شو، مګر که خُلې ته اوبهٔ اچول وي)۔

[مسلم: ١/ ١٦٢]

٩٥ – جلت مزل کول: رسول الله ﷺ به چه روان وو نو تابه ويل چه ښکته کوزېږي۔

[ابوداود، شمائل ترمذی]

٩٦ – قرفصاء ناسته نهٔ کول:

[ابوداود، واسناده حسن، صحيح الأدب المفرد: ٤٩٠٢]

٩٧ – ډيره ډيره مُسکا کول: رسول الله ﷺ به ډيره مسکا کوله۔ (شمائل)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۹۸ – او نبي ﷺ به په سلام کښې شروع کوله۔

۹۹ – د الله د ويرې ژړا کول زياتره خلکو پرېښې، حالانکه دا د مومنانو په صفاتو کښې اهم صفت دې۔

۱۰۰ – د متروکو سنتونو نه يو سنت: ښائسته وضع رفع، ادب پرېښودل او د يهودو او فرنګيانو پشان عادات جوړول دي۔ حالانکه مونږ ته د سکينې او وقار حکم شوې، تردې چه نبي ﷺ فرمائي: (کله چه مونځ ودرېږي نو تاسو هغې ته په منډه مهٔ ورځئ بلکه سکينه او وقار اختيار کړئ)۔ [بخاري]

او د عرفات نه راکوزيدو په وخت ئې وفرمايل: (اې خلکو! په آرام سره ځئ ځکه منډې وهل نيکي نهٔ ده)۔

عمر ﷺ فرمائي: علم زده کوئ او علم لپاره سکينه او وقار زده کوئ۔
[البغوی فی الجامع]

دې نه سيوا نور سنتونه هم شته چه مسلمان له د هغې اهتمام کول پکار دي، د طوالت په وجه مو پرېښودل۔

نو اې خطيبه او دعوت کونکيه وروره! په خپلو خطبو او تقريرونو کښې خلکو ته ددې وضاحت کوه او په دې عمل کوه، دې لپاره چه کامياب شې، او نيکي سپکه مهٔ ګڼړه، دې لپاره چه تاته د عمل توفيق ملاؤ شي۔

والله تعالىٰ الموفق لارب سواه

[اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا حُبَّكَ وَحُبَّ نَبِيِّكَ وَكِتَابِكَ وَسُنَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ] آمين!

******

۹۱ - فائده

بنده به کله واقعي مسلمان او د الله تابعدار جوړيږي ؟

نو دا په يو څو کارونو سره :

(١) په ظاهر او باطن دواړو کښې الله رب العالمين ته تن ايښودل۔

(٢) ددۀ خواهش د الله د امر سره نۀ ټکراويدل، او ددۀ شبهه د الله د خبر سره نۀ ټکراويدل۔

(٣) ددۀ وسوسه د الله د شريعت او تقدير سره نۀ ټکراويدل۔

په بل تعبير سره : پوره تابع مسلمان هغه دے چه الله ته ظاهرًا او باطنًا غاړه کيدی، او د خپلو خواهشاتو د تابعدارئ په وجه د هغۀ د امر خلاف نۀ کوی، او الله او د هغۀ رسول (ﷺ) چه د کومو شيانو خبر ورکړے، په هغے کښے شك او تردد نۀ کوی بلکه ددے په حق کيدو يقين لری او دا په خپل حقيقت باندے ګڼری۔

او د الله په شرع، د هغۀ په تقدير، د هغۀ په افعالو او د هغۀ په کلماتو هيڅ اعتراض نۀ لری، بلکه دا يقين لری چه دا هر څۀ د هغۀ د حکمت، رحمت او کمال موافق روان دی او په دے کښے د بندګانو نفع ده۔

او ددے باوجود خپل عقل، ذوق او سياست د الله په حکمونو او شرع باندے نۀ مخکښے کوی، بلکه په دے هرڅۀ باندے شريعت مخکښے ګڼری۔

او د خپل رب په ذکر او عبادت کښے رغبت لری، د هغۀ شريعت نافذوی او باطل عذرونه نۀ پيش کوی۔ والله المستعان۔

او کله چه دے د الله پوره تابع شی نو الله ددۀ دعاګانے قبلوی، د خپلو اولياؤ نه ئے جوړوی، د هغۀ عزت کوی او د هغۀ حاجتونه پوره کوی او معاملات ئے آسانوی۔

الله نه غواړو چه مونږ تول خپل صحيح بندګان جوړ کړی۔ آمين يا رب العالمين !

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

******

فوائد دريم جلد ختم شو

ليلة الثلاثاء - الدمام - الخبر - ١٨ شوال - ١٤٣٤هـ
ابو محمد أمين الله
د ترجمې نه د فراغت تاريخ
١/ ذو القعدة : ١٤٣٦هـ مطابق : ١٦/ ٨/ ٢٠١٥ء
وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله و صحبه أجمعين
ابو سلمان حضرت محمد غفر به له

******

ذ الفوائد دریم جلد فهرست

صفحه	عنوان

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست ختم شو

* * * * * *

Maktaba Tul Ishaat.com

خبردارے

مونږ د خپل وسه پورے دا کوشش کړے چه په دے کتاب کښې
څۀ علمي، کتابتي، یا طباعتي غلطي پاتے نشي، خو بیا هم انسان
کمزورے دے، ددۀ په هر کار کښې څۀ نا څۀ کوتاهي خامخا راتلے شي،
نو مونږ ټولو مسلمانانو خویندو وررونو ته درخواست کوو
چه کله تاسو ددے کتاب لوستلو په وخت په څۀ قِسم
غلطئ باندے پوهه شئ نو د خیر خواهئ او اصلاح په بنیاد باندے
مونږ ته خبر راکړئ، ستاسو په دے خبر راکولو سره به یو خو
د نصیحت او خیر خواهئ حق ادا شي، او بل په دے کار سره
به نورو مسلمانانو ته هم فائده ورسي، په آینده ایډیشن
کښې به ددے اصلاح وکړے شي۔ اومونږ به ستاسو ډیر شکر گذار یو۔

ستاسو وررور: ابو سلمان حضرت محمد "غفرله"

1436هـ 22 ذی الحجه موافق 2015/ 10 /6

مکتبه محمدیه

د مؤلف نور کتابونه

١ - فتاوی الدين الخالص (عربی ١٢ جلد، پښتو ٥ جلد)
٢ - حکمة القرآن (پښتو، ٥ جلد)
٣ - فهم القرآن (مختصر تفسير، پښتو)
٤ - الحق الصريح (پښتو، ٧ جلد)
٥ - امين الفتاوىٰ (پښتو، ٢ جلد)
٦ - د تقليد حقيقت (پښتو، اردو)
٧ - اصول التفسيروعلوم القرآن الكريم (پښتو)
٨ - تحفة المناظر وتناقضات المقلدين (پښتو، اُردو)
٩ - د قيامت علامات (پښتو، اردو)
١٠ - مسنون ذکرونه او دعاګانې (پښتو، اردو)
١١ - د جنازې مسنونه طريقه (پښتو)
١٢ - د لفظِ (خدا) شرعي حيثيت (پښتو)
١٣ - د جادو او بد نظر مسنون علاج (پښتو، اردو)
١٤ - مصيبتونو علاج (پښتو، اردو)
١٥ - موضوعي حديثونه (پښتو، اردو)
١٦ - د طلاقو احکام او مسائل (پښتو)
١٧ - د چرسو او افيونو او نورو نشائي شيانو حکم (پښتو)
١٨ - تحريم نکاح الشغار (د بدل د نکاح حراموالے) (پښتو)
١٩ - د ((يا رسول الله)) آواز حکم (پښتو)
٢٠ - خلفائے راشدين (رضی الله عنهم) او احناف (پښتو، اردو)
٢١ - د جُمعې د مانځه نه مخکښې د سنتو حيثيت (پښتو)
٢٢ - تصحيح العقائد حاشية شرح العقائد (عربی)
٢٣ - الآيات البينات فی مسئلة الصفات (عربی)

Maktaba Tul Ishaat.com

فقه الاحکام

شرح بلوغ المرام

خصوصیات

(۱) د ټولو نه اول د هر حدیث په سر کښې د مسئلې عنوان

(۲) د حدیث عربی متن سره د اعرابه لیکلی شوی

(۳) د حدیث عام فهم روانه پښتو ترجمه

(٤) د حدث د لغت وضاحت (٥) د حدیث شان ورورد او تشریح

(٦) د حدیث فوائد او مسائل (٧) د حدیثونو ترمینځه

تعارضات ختمول (۱۰) د حدیث درجه او مختصر تخریج او په

حدیث باندې د صحت یا ضعف حکم (۱۱) د حدیث د راوی

مختصر تعارف (۱۲) د حدیث تشریح په حدیث سره شوی

(۱۳) :ا کوشش شوی چه د حدیث په تشریح

کښې څۀ اړخ مبهم پاتې نشی۔

(١٤) په دې شرح کښې په ضعیف یا موضوعی

حدیث باندې د استدلال نه دډه شوی۔

مؤلف: ابو سلمان حضرت محمد حفظه الله

تفسير حكمة القرآن

خصوصيات

(١) پدے کښې تفسير القرآن بالقرآن دے۔ (٢) تفسير القرآن بالاحاديث النبويه دے۔
(٣) تفسير القرآن بآثار الصحابه رضى الله عنهم دے۔
(٤) تفسير القرآن بآثار السلفؒ دے۔(٥) دارنګه تفسير القرآن بتحقيق
اللغات دے (٦) د محاوراتو عربيه او محاورات عاديه ؤ بيان
(٧) تاريخ د اهل جاهليت پيژندل په کښې دی۔
(٨) توضيح د بعض آيتونو په امثالو سره چه ذهن کښې بالکل کيني۔
(٩) بيان د صحت او ضعف د احاديثو
(١٠) حواله او مرجع د هغے بيانول چه عند الضرورة رجوع هغے ته آسانه شي۔
(١١) د اصولو د شريعت پابندی کول او د هغے نه د قرآن تفسير راويستل
(١٢) د هر سورت مقصد کوم چه زمونږ مشائخ بيانوی سره د خپل تدبر نه
(١٣) مناسبات د آيتونو خپل مينځ کښې دارنګه د سورت سره بيان شوی۔
(١٤) د آيتونو عناوين په طرز جديد سره
بيان شويدی۔ (١٥) حاصل او خلاصه د يو يو درس بيانه شويده
(١٦) د سورت مناسبات د مخکښې سورت سره۔ (١٧) او د امتيازاتو
بيان هم شويدے۔(١٨) فقهي مسائل هم راوړل شويدی۔
(٢٠) فقه التفسير بيان شويده نۀ دے۔
(٢٣) دا تفسير د منګړتو اسرائيلياتو دارنګه د مذهبی تعصب
او ډله بازئ نه خالی دے۔ صرف او صرف کتاب او سنت طرف ته دعوت دے۔
(٢٥) د صحابه کرامؓ او ائمه کرامؒ د طرف نه پکښې دفاع شوے۔

اونور ډيرے شماره خصوصيات

Maktaba Tul Ishaat.com

الحق الصريح

پښتو شرح

مشکوة المصابیح

افادات : الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

خصوصیات

١- په پښتو ژبه کښې اول ځل دپاره د مشکاة المصابیح
یوه عمده او نایابه شرح

٢ - د حدیث پښتو ترجمه

٣ - د حدیث د الفاظو لغوی تحقیق

٤ - د حدیث د سند ضعف او صحت معلومول

٥ - اختلاف العلماء او قول راجح مع الدلیل بیانول

٦ - په حدیث کښې فوائد ، حکم او اسرار معلومول

٧ - د راوی الحدیث تعارف

٨ - د مشکوة المصابیح په مطالعه کولو
او درس کولو کښې د نورو ټولو شرحو نه استغناء راوستل۔

چه ددې اووه (٧) جلده چاپ شوی دی او باقی جلدونه را روان دی ان شاء الله

فتاوی
الدین الخالص

(پښتو پنځه جلده)

خصوصیات

★ دا یوه علمی موسوعه ده.

★ په دې کښې عقائد، احکام شرعیه او اخلاق اسلامیه ذکر شوی

★ په هره مسئله کښې د قرآن او سنت رڼړا او رهنمائی ملاوېږی

★ دا فتوی په عربیٔ ژبه کښې ده۔ د پښتنو ورونو او خویندو د فائدې لپاره ددې د ترجمې سلسله روانه ده چه پنځو جلدونو ته ورسیده۔ او ان شاء الله نور هم را روان دی

مکتبه محمدیه

ارشد سلمان وَهاب پرنٹرز
0323 4602916

Maktaba Tul Ishaat.com

